

# د کابل سلطنت بیان

لومړی او دویم ټوک


لیکوال:

مونټ سټوارټ الفنسټن

ژباړه:

پوهاند محمد حسن کاکړ

نصرالله سوبمن


Property of ACKU

# د کابل سلطنت بیان

## لومړی او دویم ټوک

(بشپړ متن)

لیکوال:

مونټ سټو ارټ الفنسټن

ژباړن:

پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ

نصرالله سوبمن

دانش خپرندویه ټولنه

Property of ACKU

a02

## ځانګړنې


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | : **د کابل سلطنت بیان** (لومړی او دویم ټوک) |
| لیکوال | : مونټ سټوارټ الفنسټن |
| ژباړونکي | : پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ او نصرالله سوبمن |
| خپرندوی | : دانش خپرندویه ټولنه |
| دویم چاپ | ۱۳۸۷ ل ۲۰۰۸ م |
| دریم چاپ | ۱۳۹۰ ل ۲۰۱۲ م |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ ټوکه |
| کمپوزر | ذبیح شفق |

**چاپ او کمپیوټر ځای**

د دانش خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه

WWW.danishpress.com


Property of ACKU

a03

# د خپرندويې ټولنې يادښت

(د کابل سلطنت بيان) د انګرېز څېړونکي او تاريخپوه مونټ سټوارټ الفنسټن اثر دی، چې د افغانستان د تاريخ او سياسي پېښو په اړه کره او ژوره څېړنه ده.

الفنسټن له هغو انګرېزي څېړونکيو څخه يو دی، چې د افغانستان په اړه يې ژورې څېړنې کړې دي؛ خو د الفنسټن توپير له نورو سره په دې کې دی، چې له هر ډول شخصي او هېوادني تعصب څخه يې د خپلې ليکنې لمن پاکه ساتلې ده او د حقايقو په روښانولو کې يې له پوره رښتينولۍ څخه کار اخيستی دی، چې دده د څېړنې په علمي او کره کېدو کې يې مرسته کړې ده.

(د کابل سلطنت بيان) د هغو څېړونکيو او تاريخپوهانو لپاره لا هم يو منلی او کره ماخذ دی، چې د افغانستان په اړه څېړنې کوي.

دانش خپرندويه ټولنه، چې له ډېرو کلونو راپدېخوا د هېواد د فرهنګي او ادبي مانۍ د ورانې شوې برخې په بيا رغونه بوخته ده، وياړي، چې دا مهم تاريخي اثر په نوې بڼه له سره چاپوي.

خدای جل جلاله دې وکړي، چې ددې ارزښتناک تاريخي اثر نوی چاپ د نويو او ځوانو څېړونکيو لپاره د نويو علمي لارو په پرانستلو کې مرسته وکړي.

موږ يې په همدې هيله خپروو!

درنښت

دانش خپرندويه ټولنه



Property of ACKU

بسم الله الرحمن الرحیم

Property of ACKU

# فهرست

د خپرندويې ټولنې يادښت ........................................ ۰
د ژباړن سريزه ........................................ الف
سريزه ........................................ ۱

## لومړی کتاب

**لومړی څپرکی**
د افغانستان موقعيت او بريدونه ........................................ ۸۹
**دويم څپرکی**
د افغانستان غرونه ........................................ ۱۰۱
**درېيم څپرکی**
د افغانستان سيندونه ........................................ ۱۱۵
**څلورم څپرکی**
د افغانستان طبيعي او سياسي وېش ........................................ ۱۲۸
**پينځم څپرکی**
د افغانستان اقليم- باران ........................................ ۱۳۶
**شپږم څپرکی**
د افغانستان ژوي، نباتات او کانونه ........................................ ۱۵۶

## دويم کتاب

**لومړی څپرکی**
د پښتنو نسب او پخوانی تاريخ ........................................ ۱۵۹
**دويم څپرکی**
د پښتون ملت ځانګې او حکومت ........................................ ۱۷۰
**درېيم څپرکی**
ودونه، د ښځو حال، جنازې او نور ........................................ ۱۸۹
**څلورم څپرکی**
د پښتنو معارف، ژبه او ادب ........................................ ۱۹۸
**پينځم څپرکی**
دين، مذهبي فرقې، ملايان، او هام او نور ........................................ ۲۰۸
**شپږم څپرکی**
مېلمه پالنه، د داړه ماري، عادتونه او نور ........................................ ۲۳۱
**اووم څپرکی**
د پښتنو خويونه، عادتونه او کرکټر ........................................ ۲۳۶
**اتم څپرکی**

Property of ACKU

د ښارونو د اوسېدونکیو شخصیت. عادتونه او اخلاق ........ ۲۵۹
نهم څپرکی
د اشرافو سلوکونه. عادتونه او کرکټر ........ ۲۷۱
لسم څپرکی
کاروانونه ........ ۲۹۴
یوولسم څپرکی
د کابل کروندګري ........ ۳۰۲
دولسم څپرکی
تاجک. هندکیان او د افغانستان نور اوسېدونکي ........ ۳۱۳

## دویم ټوک

لومړی څپرکی
د برو درانیانو ځانګړنه ........ ۳۲۷
دویم څپرکی
ختیځ قومونه ........ ۳۶۶
درېیم څپرکی
غرني قومونه ........ ۳۷۹
څلورم څپرکی
لویدیځ پښتانه. درانیان د کندهار ښار تیرین او برېڅ ........ ۳۸۶
پینځم څپرکی
غلزیان. د غزني او کابل ښارونه. وردګ او کاکړ ........ ۴۲۵
شپږم څپرکی
ناصر ........ ۴۵۱

## څلورم کتاب

لومړی څپرکی
ولایتونه ........ ۴۵۶
دویم څپرکی
ایماق او هزاره ګان ........ ۴۷۰
درېیم څپرکی
هرات ........ ۴۷۹
څلورم څپرکی
سیستان ........ ۴۸۲
پینځم څپرکی
بلوچستان او کوز سند ........ ۴۸۵
شپږم څپرکی
برسند. ملتان. لیه او نور ........ ۴۹۱

Property of ACKU

**اووم څپرکی**
کشمیر ........................................ ۴۹۶

## پینځم کتاب

**لومړی څپرکی**
د پاچا اختیارات ........................................ ۵۰۰
**دویم څپرکی**
دحکومت اداره ........................................ ۵۰۶
**درییم څپرکی**
ولایتي وېش ........................................ ۵۰۹
**څلورم څپرکی**
عواید ........................................ ۵۱۱
**پینځم څپرکی**
قضا او څارندوی ........................................ ۵۱۴
**شپږم څپرکی**
نظامي تاسیسات ........................................ ۵۱۷
**اووم څپرکی**
مذهبي تاسیسات ........................................ ۵۲۵

**لومړی ضمیمه**
د کابل د سلطنت تاریخ د درانیو د پاچایي له پیل راهیسې ........................................ ۵۲۷

**دویمه ضمیمه**
د ښاغلي دوري بیان ........................................ ۵۹۶

**درییمه ضمیمه**
د ځینو گاونډیو ملکونو بیان ........................................ ۶۱۵

**څلورمه ضمیمه**
غرونه او سیندونه ........................................ ۶۳۲
**د خراسان سیندونه**
هیرمند یا هیلمند ........................................ ۶۶۴
خاشرود ........................................ ۶۶۵
ترنگ ........................................ ===
فراه رود ........................................ ===
د پل مالان یا د هرات سیند ........................................ ۶۶۶

Property of ACKU

# د ژباړن سریزه

په دغه سریزې کې لومړی پخپله د مونټ سټوراټ الفنسټن Mountstuart Elphinstone او ددغه کتاب او د هغه د څرنګوالي په اړه یو څه ویل کېږي، وروسته د هغو تکیو یادونه کېږي، چې ژباړونکیو یې په ژباړه کې د هغو رعایت کړی دی.

الفنسټن پر ۱۷۷۹ کال د سکات لینډ په کمبر لینډ کې زېږېدلی و، څنګه چې دده پلار د څه وخت لپاره د ایډنبره د ښار د رئیس مرستیال و، الفنسټن د خپلې لومړۍ ځوانۍ شپې ورځې په سکاټ لینډ کې تیرې کړې، یو څو کاله یې د ایډنبره د ښار په یوه لومړني ښوونځي کې لیک لوست وکړ، وروسته په کن سنګټن کې په یوه ښوونځي کې شامل شو، خو مخکې له دې چې زده کړه یې سرته رسولې وي د خپل پلار له مړینې وروسته له خپل مشر ورور سره د ختیځ هند د شرکت مامور مقرر شو او پر ۱۷۹۶ کال کلکتې ته ورسېد. په هندوستان کې الفنسټن یوځای بل ځای رسمي وظیفې لرلې، خو د ماموریت ډېره موده یې د مرهټه هندوانو د واک په لویو ښارونو لکه بمبیي او پونه کې تېره کړه. په پونه کې یې د څه وخت لپاره د مرهټیانو د واکمن یا پیشوا په دربار کې د هستوګن نماینده په حیث دنده ترسره کوله او د پیشوا په ضد یې په یوه جنګ کې عملاً برخه واخیسته او په ډېرو لږو سوررو عسکرو سره یې د مرهټیانو د واکمن شیواجي راو لښکرو ته چې دده د لښکر په پرتله څو واره زیات وو، ماتې ورکړه. د مرهټه و ملي نهضت که څه هم دغه وخت مخ په ځوړ و او دغه انحطاط هغه وخت پیل شوی و، چې احمد شاه دراني پر ۱۷۶۱ کال د پاني پت په میدان کې هغوی ته ډېره سخته ماتې ورکړې وه او د دوی هیلې یې د ټول هندوستان د نیولو لپاره شنډې کړې وې. دوی په هندوستان کې سره له دې هم د یوه ستر ځواک حیثیت لاره او په دې ډول د الفنسټن له خوا د دوی ماتې په ټول هندوستان کې د انګرېزانو د پرمختګ لپاره لاره هواره کړه او له هغه وروسته د دوی پرمختګ چټک شو.



Property of ACKU

الفنسټن په ۱۸۰۸ کې په دې مامور شو، چې د افغانستان له واکمن شجاع الملک سره داسې یو تړون لاسلیک کړي، چې مقصد یې د فرانسې د ناپلیون بونا پارت د هغو خطرونو شنډول وو، چې د افغانستان له لارې هند ته متوجه وو.

نو الفنسټن د یوه لوی هیئت په مشرۍ د ۱۸۰۹ کال په پسرلي کې پېښور ته، چې هغه وخت د درانیو پاچایانو یو مرکز و، ورسېد او له شه شجاع سره یې په همدغه غرض یو تړون هم لاسلیک کړ، چې وروسته به یې یادونه وشي. وروسته له هغه الفنسټن تر ۱۸۱۹ پورې خپله وظیفه په پونه کې اجرا کوله، چې په هغه کال کې د بمبۍ ګورنر مقرر شو او تر ۱۸۲۶ پورې یې دغه وظیفه اجرا کړه. په دغې مودې کې ده یو لړ قوانین وایستل او په بمبۍ کې یې د عصري معارف بنسټ کېښود. دا هغه مهال و، چې په افغانستان کې کورنۍ شخړې په توندۍ روانې وې، پاینده خیلي سردارانو د خپل مشر وروروزیر فتح خان له مړینې وروسته د سدوزیو د پاچایۍ د ړنګولو لپاره هلې ځلې کولې او همدا چې دغه مقصد یې ترسره شو، په خپلو منځو کې یې د تاج او تخت په سر خېړې ولګولې او افغانستان په دې ډول د عمومي انحطاط او سیاسي تجزیې په لور روان و. په هر حال الفنسټن له ۱۸۲۷ څخه تر تر ۱۸۲۹ پورې په ځینو اروپایي هېوادونو لکه یونان، ایټالیې او فرانسې کې وګرځېد، بیا له ۳۳ کالو مسافرۍ نه وروسته خپل هېواد ته ستون شو. هلته یې د عمر پاتې موده په کلو او بانډو کې تېره کړه، چې په ۱۸۵۹ کې د اتیا کالو په عمر مړ شو.

لکه چې مخکې وویل شول، الفنسټن له منظم تحصیل څخه محروم و، خو ده دغه نیمګړتیا د نورو وتلیو کسانو په څېر په خصوصي مطالعې او لوست سره بشپړه کړه، دی په څو ساحو کې ښه مشغول و، د نورو ارستو کراتو په شان یې تل ښکار کاوه، خو د هغوی او د استعماري ماموراتو پرخلاف د خپلې رسمي وظیفې په څنګ کې یې د مرګ تر ورځې خصوصي مطالعې ته دوام ورکړ. د لرغوني یونان او روم له اثارو سره یې خاصه مینه لرله، د فرانسې د انقلاب په باب یې لوستنې کولې او د هغه له عمومي اصولو سره علاقمن و. عربي او فارسي یې تر دې حده زده کړې وه، چې له هندي او دري ادبیاتو (د حافظ او خیام اشعارو) څخه استفادې وکړي او خپله ذهني او فکري غذا د هوراس، فرانسس بیکن، ډیوډ هیوم، شیلي، حافظ، خیام، تیمور او بابر په اثارو کې ولټوي او په دې ډول خپل نظر ښه وسیع کړي او د یوه استعماري مامور د برلاسۍ له احساس نه ځان ازاد کړي او نور ولسونه تر زیاتې اندازې د هغوی د ثقافت له لارې وپېژني.



Property of ACKU

د برتانیې د استعماري مامورانو په قطار کې بنایي الفنستن لومړنی کس وي، چې هم یې د استعمار د مانۍ په جوړولو او ټینګولو کې عملاً غټه برخه لرلې وي او هم یې د نورو ولسونو د ښې پېژندنې لپاره د دوی په فکري نړۍ کې، لکه څنګه چې د دوی په ادبي شاهکارو کې یې انعکاس کړی دی، ننوتلی وي او بیا یې هغه نړۍ ته معرفي کړې وي.

الفنستن ورو ورو په خپلو مطالعاتو کې دومره ډوب شو، چې په پای کې یې لکه څنګه چې مو ولیده، خپل ماموریت پرېښود ان د ټول هندوستان ګورنر جنرالي یې هم ونه منله، که څه هم څو ځله له ده څخه د هغه د منلو غوښتنه وشوه. داسې یې هم د اشرافي القابو له منلو نه چې په انګلستان کې تراوسه هم معمول دي، ډډه وکړه البته داسې مثالونه ډېر دي، چې واکمنو په عین واکمنۍ کې په ځان کې د جاه طلبۍ احساس وژلی او له حاکمیت نه یې لاس اخیستی دی، خو د الفنستن دغه کار په داسې حال کې چې د برتانیې امپراتوري په ټوله نړۍ کې خپره وه، خاص اهمیت لري. ویل کېږي چې له پېښور څخه دده ناکام سفر په ده کې د جاه طلبۍ احساس وزېښه. دا هغه وخت و، چې په افغانستان کې د کورنیو شخړو او دسیسو په نتیجه کې د ملک سیاست وچ د توري او زور په قوت ټاکل کېده، یوه واکمن بایلله او بل وګټله او بایېللی له یوه پخوانۍ او ړانده واکمن زمان شاه سره پردېس شو. د الفنستن د شخصیت ډېر ښه معرف ممکن هغه وینا وي، چې ده په ۱۸۱۶ کې کړې ده، دا هغه وخت و، چې دی د خپلو درو زرو سورو سره د مرهټه وو د پیشوا په شپږ ویشت زرو عسکرو په یوه جنګ کې بریالی شو. وینا یې دا ده: «ما پخپله داسې ګڼله چې موږ ته د جنګ بالکل چانس ډېر دی، خو په پای کې موږ د جنګ په میدان کې یواځې پاتې شو او لمر په غرغرو شو.[1]» د افغان داخلي سیاست په الفنستن کې ممکن ددغسې یوه پیاوړي احساس په تولید کې برخه لرلې وي، خو دده د ژوند له پېښو څخه څرګندېږي، چې هغه افکار او خیالات چې ده د شرقي او غربي ادبیاتو له لارې جذب کړي وو، په ده باندې یې غوڅه اغېزه لرلې وي.

هغه څه چې موږ افغانانو لپاره د خاص اهمیت وړ دي، هغه پېښور ته دده په مشرۍ د یوه لوی دیپلوماتیک هیئت سفر دی، چې د هغه ډېره غټه دایمي نتیجه دغه کتاب دی.

د نولسمې پېړۍ له پیله د نړۍ تر لومړۍ نړیوالې عمومي جګړې پورې، چې اروپا د سیاسي قدرت له نظره نږدې د نړۍ مرکز ګرځېدلی و، افغانستان او نور

[1] د الفنستن د ژوند پېښو د تفصیل لپاره وګورئ د ملي بیوګرافۍ قاموس، د اکسفورډ پوهنتون خپرونه، ۱۹۶۴ کال، شپږم ټوک

Property of ACKU

ملکونه له هغو پېښو څخه نېغ په نېغه یا غیر مستقیم ډول اغېزمن کېدل، چې په اروپا کې پېښېدلې. یو له هغو پېښو څخه چې اروپایي دولتونه یې په یوه یا بل ډول سره وېشورول، د فرانسې انقلاب و، چې د هغه په اثر په فرانسې کې پخوانی نظام په یوه نوي نظام بدل شو. یوې طبقې واکمني باېلله او بلې یې ځای ونیو او ددغه لوی اوښتون یو لوی محصول په داسې حال کې چې نوی نظام لا پوره ټینګ شوی نه و، چې د ناپلیون بوناپارت استبداد او مطلقیت د فرانسې د انقلاب په ایډیالوجۍ کې دومره ونغښت، چې د انقلاب ایډیالونه یعنې برابري، ورور ولي یې له یاده واېستله او د نورو ولسونو په لاندې کولو پسې شو. دده یوه پروژه دا شوه، چې د عثماني ترکیې، قاجاري فارس په مرسته هندوستان ونیسي او انګرېزان ترې وباسي. د همدغه مقصد لپاره یې د مې په لسمه په ۱۸۰۷ کې جنرال ګارډن (General Gardane) د فارس پاچا ته له دغه هدایت سره واستاوه.

((هندوستان ته د فرانسې د شلو زرو لښکر اېستلو په حال کې به دا مرسته وکړي، چې مونږ د فارس د مرستیالو لښکرو په اصلي شمېر خبر شو، چې له دغسې یوه لښکر سره به ملګري شي او په خاص ډول لکه څنګه چې پاس یې یادونه شوې، د هغو د ځای په ځای کولو او د وړاندې تګ د لارو او لښکر اېستلو لپاره د ضروري حیاتي موادو او د اوبو ځایونو په باب پوره معلومات حاصل شي. البته دا هم لازمه ده، چې د ځمکې د پاسه وړاندې تګ لپاره د پر مناسبه موسم معلوم کړی شي.))

((مګر ښایي چې جنرال ګارډن یواځې دغسې ټکو ته ځان منحصر نه کړي، بلکې ښایي چې هرومرو له مرهټه وو سره هم لاره ولري او څومره چې په مثبت او واضح ډول کېدای شي، دی ښایي د ملاتړ او تشویق هغه درجه خانته معلومه کړي، چې دغه هیئت به یې په هندوستان کې د ځان کړي.))

((په پای کې ښایي جنرال ګارډن دغه حقیقت هېر نه کړي، چې زموږ لوی مقصد د فرانسې، عثماني ترکیې او فارس ترمېنځ د یوې درې ګوني اتحادیې قایمول او د هندوستان په لور د ځان لپاره د یوې لارې ایستل او د روسیې پر ضد د مرستیالو لښکرو غونډول دي.[1]))

ددغې پروژې عملي کېدل که څه هم ناشوني و، خو څنګه چې انګرېزان په هندوستان کې پردېسي فاتحان او له هندوستاني خلکو څخه په وېره کې وو، د هغې په ضد یې په متقابلو دفاعي ترتیباتو لاس پورې کړ. له دغو جملې څخه یو هم ډیپلوماتیک فعالیتونه وو، چې د هغو پر بنسټ سیاسي پلاوي د پنجاب د سکانو پاچا رنجیت سنګ، د افغانستان واکمن شاه شجاع الملک او د فارس قاجاري دربار

a12

[1] د الفنسټن د کتاب د ۱۹۷۲ چاپ لپاره د اولاف که رو مقدمه، د اکسفورډ د پوهنتون خپرونه، ۱۹۷۲ مخ



Property of ACKU

تهران ته واستول. د هیئتونو مقصد یو او هغه دا چې ددغو ملکونو د واکمنو په مرسته او اتحاد د فرانسې د احتمالي خطر مخه ونیول شي.(۱)

د افغانستان دربار ته د پلاوی مشر الفنستن وټاکل شو. دی له ډېرو مرستیالو او ډېرو اروپايي سوغاتونو او روپیو سره د ۱۸۰۹ په فبرورۍ کې پېښور ته ورسېد او د مارچ په پینځلسمه (د حوت په شپاړسمه) له شاه شجاع سره یې په دربار کې ولیدل.

جان کی لیکي: «د شرفیابۍ د اشکالو په باب د نظر اختلاف د انګلیس د سفیرانو هرکلي یو څه وځنډاوه، خو په یو څو ورځو کې په دې موافقه وشوه، چې شاندار مراسم دې د مارچ په پینځمه په ځای شي. څه وخت چې دغه ورځ راورسېده، دوی (انګرېزانو) هغه پاچا ولید، چې تر وروستۍ ورځې پورې یې له ظاهري عظمت سره مینه لرله. دی په دغسې یوه تخت ناست و، چې په نازکو طلايي ورقو پوښل شوی و، تاج یې په سر و، د مرغانو ښکلې بڼې یې په تاج تومبلې وې او ډېرې قیمتي جامې یې په ځان وې، جواهرات یې له ورایه ځلېدل او په هغو کې د کوه نور الماس ښه ښکاره و.[۲]»

دا هغه وخت و، چې شاه شجاع له خپل رقیب ورور محمود میرزا او وزیر فتح خان څخه د هېواد په لویدیځ کې په سخته اندېښنه کې و او د بهرني سیاست پروا یې چندان نه ساتله. سره له دې هم ده په یوه خاص ملاقات کې الفنستن ته وویل، چې دی شخصاً دې ته حاضر دی، چې د دوی پیشنهاد ومني او ښکاره یې کړه، چې د خدای رضا په دې کې ده، چې انګلستان او کابل په یوه دایمي اتحاد کې سره یو شي.(۳) په دغه وخت کې هندوستان ته د فرانسې خطر له مینځه تللی و او د الفنستن پلاوی خپل لومړنی اهمیت له لاسه ورکړی و او الفنستن ته د هندوستان د ګورنر جنرال لارډ منتو په نوي هدایت کې ویل شوي وو، چې په هغه حال کې چې د شاه شجاع له خوا د مشخصو تعهداتو غوښتل ضروري شي، کوم هغه کومک چې «زموږ له خوا ده ته د هغه وعده ورکوله کېږي باید وسلو، نظامي ذخیرو او توپونو ته منحصرې شي نه د لښکرو استولو ته»(۴) سره له دې هم له ښاپسته خبرو اترو وروسته د الفنستن او شاه شجاع ترمینځ یو تړون لاسلیک شو. دا لومړی تړون و، چې د افغانستان او یوه اروپايي هېواد ترمنځ لاسلیک شوی، خو په دغه تړون کې

[1] فارس، لومړی جنګ ۱۸۳۸ ۱۸۴۲، د کیمبرج د پوهنتون خپرونه. کال ۱۹۶۷، مخونه ۱۰ ۱۱

[2] جان کی. د افغان د جنګ تاریخ. لندن ۱۸۵۱ لومړی ټوک، ۸۷۰ مخ

[3] پورتنی ماخذ. ۸۷ مخ

[4] د جان کي یاد شوی کتاب. ۸۵ مخ

a13



Property of ACKU

هم لکه په ځینو وروستیو معاهدو کې چې د برتانیې او افغاني واکمنو ترمنځ امضا شوې وې، افغاني واکمن تېر اېستل شو. دغه تړون په دغسې یوې غلطې جملې سره پیل شوی، چې ګواکې فرانسه او فارس د افغانستان پر ضد سره یو شوي دي، خو حقیقت دغه نه و. په دغه تړون کې برتانیې له افغانستان سره تعهد وکړ، چې ددغسې اتحاد د خنثی کولو لپاره په کلکو اقداماتو لاس پورې کړي. برتانیې ژمنه وکړه، چې ددغه کار د ترسره کولو لپاره مالي لګښت تر خپلې وسې پورې په خپله غاړه واخلي. د تړون په نورو مادو کې د دواړو دولتونو ترمنځ د دوستۍ ذکر وشو او ولیکل شول، چې «ښایي د بېلتون دیوال د دوی ترمنځ لرې شي او دوی ښایي په هېڅ شان د یو بل په چارو کې ګوتې ونه وهي او ښایي د کابل پاچا هېڅ فرانسوي ته اجازه ورنکړي، چې دده په قلمرو کې ننوځي.[1]» په عین حال کې شاه شجاع د خپلو لویو دورانیو سردارانو په ذریعه هڅه وکړه، چې د خپل رقیب ورور په مقابل کې مالي مرسته ترلاسه کړي، خو په دې کې موفق نه شو، سره له دې هم د هئیت په مقابل کې دده په سلوک او تګلاره کې کوم تغییر رانغی. ترڅو هیئت د جون په میاشتې کې بېرته رواں شو. درې ورځې وروسته له هغه دغه تړون په کلکته کې د ګورنر جنرال له خوا هم لاسلیک شو، خو د چا خبره د هغه د قلم رنګ لا وچ شوی نه و، چې شاه شجاع په نمله کې ماتې وخوړه او واکمني یې د شاه محمود په نفع بایلله. له دې پېښې سره د پېښور تړون هم د تل لپاره له اعتباره ولوېد، خو د هئیت یوه دایمي نتیجه همدغه کتاب دی، چې دلته یوڅه بحث پرې کېږي.

د الفنسټن په هیئت کې ملکي مأموران، انجنیران، د سروې متخصصان او نظامي منصبداران شامل وو او بیا ده او سورو عسکرو سره یې ټول شمېر څلور سوو تنو ته رسېده. دا هیئت په دوو لحاظو سره دومره لوی رااستول شوی و. یو دا چې انګرېزانو غوښتل، چې د افغانستان پاچا چې د هغه نفوذ په هندوستان کې ښه خپور و، تر تاثیر لاندې راولي. هیئت د همدغه منظور لپاره په پېښور کې دومره پیسې ولګولې، چې په کلکته کې یې انګرېزان حیران کړل.

بله دا چې انګرېزانو وغوښتل د همدغه هیئت په ذریعه د افغانستان د حکومت او ولسونو په باب اطلاعات ترلاسه کړي. هیئت د خپل توقف په شپږ میاشتنۍ موده کې په دې کار بریالی شو. د الفنسټن د اطلاعاتو منابع مختلف وو. ده پخپله دقیقې مشاهدې وکړې، البته دی په ټول افغانستان کې ونه ګرځېد او یوازې په پېښور کې یې شپږ میاشتې تېرې کړې، خو پېښور د درانیو پاچایانو د دویم مرکز په حیث دغسې یو لوی ښار ګرځېدلی و، چې هلته د هر قوم او ولس عادي او ممتاز

[1] جان کی. د افغان د جنګ تاریخ. لندن. لومړی ټوک، ۸۹ مخ

Property of ACKU

خلک اوسېدل او الفنستن ددغو ډلو له افرادو سره اوږدې لیدنې کتنې وکړې، چې د هغو په نتیجه کې تر دې حده له پښتنو سره علاقمن شو، چې یوه ډله پښتانه یې له ځان سره کلکتې ته بوتلل او په هغو کې کسبګر، ملایان او شاطران هم شامل وو. دده د معلوماتو بله منبع دراني سرداران وو، ده له دوی په تېره له ملایانو سره په رسمي او خصوصي ډول ډېرې مرکې او مجلسونه وکړل، مېلمستیاوې یې ورته ورکړې او مېلمستیاوو ته یې لاړ او په دې ډول یې هم په خپله د دوی تګلارې مطالعه کړل او هم یې معلومات ترېنه حاصل کړل.

د الفنستن بله اطلاعاتي منبع مخبران وو. ده د افغانستان لرې او نږدې سیمو ته رپورټ چیان واستول، د هغه وخت کافرستان او هزاره جات چې د نورو په مخ خلاص نه و، هم دده له پامه ونه غورځېدل. لیکلي شوي اثار دده د کتاب بله منبع تشکیلوي، چې په هغو کې یې آیین اکبري، بابرنامه، ملفوظات تیموري، د فرشته تاریخ، د ابن حوقل او کروشنسکي اثار، انګرېزي او فرانسوي سیاحتنامې، برهان قاطع، فرهنګ ابراهیم شاهي، تاریخ مرصع، د خوشال ختک ځینې اثار او داسې نور ډېر مهم دي. هغه لیکنې چې تر هغه وخته د بنګال په اسیایي جورنال کې د افغانستان په باب شوې وې، هم دده له نظره تېرې شوي دي، خو دا نه ده معلومه چې ده به له هغو رپورټونو نه استفاده کړې وي، چې د ختیځ هند د شرکت له خوا د افغانستان په باب شوې وې، او د فارسي د تقویم په نامه په یو لړ مجلداتو کې جمع شوي او د درانیو د دورې په باب تراوسه هم یوه ډېره مهمه منبع ګڼله کېږي.

له راغونډ شویو اطلاعاتو نه الفنستن د دوو هدفونو لپاره استفاده وکړه، یو یې د خپل حکومت لپاره یو مفصل راپور برابر کړ او بل یې هغه کتاب دی، چې د لوستونکیو مخې ته پروت دی. له بده مرغه تراوسه پورې چا دده له رپورټ څخه علمي استفاده نه ده کړې. په دغه رپورټ کې احتمال لري هغسې اطلاعات او موضوعات وي، چې په کتاب کې نه وي، ممکن رپورټ یې تر کتاب ند لا مفصل او جامع وي او د یوه تحقیقي مونوګراف د لیکلو لپاره یوه ښه موضوع شي.

په کتاب کې له منابعو او اطلاعاتو څخه د الفنستن د استفادې طرز ماده او محیطي نه دی. هسې نه ده چې ده د یوې موضوع په باب تش اطلاعات سره نښلولي او د انګلستان د یوه مورخ کالنګ ووډ په الفاظو «د بیاتي او سریښ» تاریخ یې کښلی وي او یا یې د یوه ژورنالیست او جذباتي لیکوال په حیث هنګامه جوړوونکې لیکنې کړې وي.

په دغه کتاب کې الفنستن د یوه مدقق عالم په شان ځان اوچت کړی دی، په دې چې دی د خپلو اطلاعاتو ثقه توب ته ځیر شوی، ټول یې چاڼ کړي او هغه یې ترېنه



Property of ACKU

غوره کړي دي، چې دده په نظر سم او مهم ښکاره شوي دي. د کومو په باب چې دی پوره متیقن نه و او ورته مهم برېښېدل هغه یې له منبع، راوي او خپلې تبصرې سره ذکر کړي دي. په دې ډول ده هغه څه ته چې د هر علمي اثر بنسټ تشکیلوي، توجه کړې او په دې ډول یې خپل اثر باوري او مستند کړی دی. خو دی د علمي اثر په دوهم پړاو کې چې هغه له اومو موادو او معلوماتو څخه د یوه منطقي ترکیب او طرح جوړول دي، پوره بریالی نه دی راوتلی. په ځینو برخو کې دده اطلاعات په مربوطو ځایونو کې په دغسې ډول نه دي ځای شوي، چې یوه پوره منطقي طرح او واحد ترینه جوړ شوی اوسي، مواد په ډېرو برخو کې اومه او د رپوټ په شکل ښکاري، خو دغه نیمګړتیا په هغه څه سره جبیره شوې، چې افاقي توب ورته وایه شي. په بشري علومو کې په تېره په تاریخ کې پوره افاقي توب تراوسه لیدل شوی نه دی. ممکن یوه ورځ دغسې وشي خو هغه اوس یو ایډیال دی، سره له دې هم انسان اوس ددغسې بصیرتونو خاوند ګرځېدلی او د پلټنې دغسې لارې یې ایستلي دي. چې په هغو سره علم له پروپاګند، تلقین او عندي لیکنو څخه په واضح ډول بېلېدلی شي، البته د الفنسټن په وخت کې انسان د پوهې دغسې سطحې ته جګ شوی نه و، خو هغه شرایط چې د هغو په رڼا کې الفنسټن خپل دغه کتاب لیکلی، دده د لیکنو له افاقي توب سره یې مرسته کړې ده. په هغه وخت کې د افغانانو او انګرېزانو ترمنځ تصادمات پېښ شوي نه وو، دواړه ولسونه له یو بل نه لرې پراته وو او د دوی حکومتونو د بېلو بېلو دلایلو له مخې د یو بل دوستي غوښتله او د انګرېز حکومتي عمالو ځان دېته اړ لیده، چې د افغانستان جامعه، ولسونه، دولتي تشکیلات، تاریخ او ثقافت څنګه چې وو، هغسې وپېژني، چې په راتلونکي کې له افغانانو سره موفق برخورد وکولای شي. الفنسټن د یوه شخص په توګه دغه مقصد لپاره شاید تر نورو ښه غوره و، لکه څنګه چې دده په ژوند لیک کې ښکاره شوه، الفنسټن تر یوه استعماري مامور نه زیات عالم و، ده په ۴۷ کلنۍ کې چې د پخې ځوانۍ او قدرت او جاه طلبۍ وخت دی، دولتي قدرت پرېښود او خپلو مطالعاتو ته یې د مرګ تر ورځې دوام ورکړ. په بل عبارت د الفنسټن ددغه علمي میلان په سبب دده لیکنې د افغانستان په باب له شخصي رجحاناتو څخه خلاصې دي او ده زیار ایستلی دی، چې خپلې لیکنې د تجربي مکتب یا امپرسیزم (Empiricism) په بنا وکړي، چې علم له انساني ذهن څخه دباندې د موادو او حقایقو په استناد یو منطقي ترکیب او طرح ګڼي او مشاهد او د مشاهدې موضوع یو له بل نه بېل بولي، سره له دې هم داسې باید ونه ګڼل شي، چې د الفنسټن ټولې لیکنې به هرومرو د افغانانو په خوښه او ذوق وي، ده خپل کتاب په اصل کې د کره کتونکیو اروپایي



Property of ACKU

لوستونکیو لپاره کښلی، له دې املـه انتقادي، مګر متوازن دی. انګرېزان په عمومي ډول د خپل ولس په باب هم همدغسې انتقادي لیکنې کوي، دا د دوی د کولتور یوه ځانګړتیا ده، خو هغه انتباه چې په عمومي ډول د افغانستان په باب د الفنستن له کتاب څخه حاصلېږي، مساعده ده.

د الفنستن د کتاب یو بل خصوصیت جامعیت دی. په دغه اثر کې هم حکومتي تشکیلات څېړل شوي او هم د جامعې ټولې ډلې لکه درباري اشراف او سرداران، خانان، ځمکوال، دهقانان، زراعتي بزګران، اجوره کاران، شپانه، ښځې، کسبګر، د دوی له سلوکونو، لوبو، کورونو، ژبو، ثقافتونو او تاریخ سره بیان شوي دي. د افغانستان ولسونه په قومي لحاظ هم شرح شوي دي.

انسان په دغه اثر کې د خپل چاپېریال په ارتباط مطالعه شوی. په عین حال کې څنګه چې پخپله الفنستن په یوې قوي طبقاتي ټولنې کې پیدا شوی و او له طبقاتي مفکورو سره اشنا وو، په خپل دغه اثر کې یې د افغاني جامعې طبقات هم لږ و ډېر شرح کړل، نو په دغه اثر کې د افغانستان د سدوزیو د دورې سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او کلتوري تصویر کښل شوی دی. دا تصویر البته عمومي دی، خو دا هغه تصویر دی، چې په هیڅ ژبې کې د معاصر افغانستان په باب په دغسې جامعیت سره نه دی کښل شوی. تر الفنستن نه دمخه یو څو نورو اروپایانو لکه کروشنسکي، جان هان وي، جارج فوستر، دورن او د وري هم لیکنې کړې، خو دغه لیکنې یا سیاحتنامې دي یا په خاصو موضوعاتو پورې اړه لري، خو دا باید وویل شي، چې په دغه کتاب کې څومره چې د شرقي افغانستان په باب معلومات ثقه او ډېر دي، د نورو سیمو په باب هومره نه دي.

د الفنستن کتاب لومړی اثر دی، چې افغانستان یې لویدیځې نړۍ ته وروپېژندلی دی. په خاص ډول دغه اثر، په تېره د الفنستن یوروټ لکه څنګه چې رومبی یې یادونه وشوه، د افغانانو او انګرېزانو ترمنځ د لومړي ځل لپاره دبېلتون دېوال له مینځه یووړ. الفنستن شاید لومړنی انګرېز وي، چې له اباسین څخه دې خوا سیمو کې یې د انګرېزانو د فعال کېدو سپارښتنه کړې وي او په شعوري یا غیر شعوري ډول یې له معاصر غربي تمدن، په تېره د هغه له نظامي او استعماري اړخ سره، د افغانانو د اشنا کېدو لاره خلاصه کړې وي، خو دلته دا هم باید وویل شي چې همدغه الفنستن د ګورنر جنرال لارډ ولسلې هغه سیاست سخت محکوم کړی و، چې په ۱۸۳۸ کې په افغانستان باندې د انګرېزانو په تېري منتهي شوی و.

د الفنستن کتاب د افاقي توب، ثقه توب او جامع توب په وجه ددې سبب شوی، چې په افغانستان باندې د وروستیو غربي لیکوالو، په تېره انګرېزي لیکوالو له



Property of ACKU

تعصب نه ډکې لیکنې تر زیات حده بې تاثیره شي. افغانستان په نولسمې پېړۍ کې انګلیسانو ته دغسې حیثیت لاره، لکه چې ویتنام په حاضرې پېړۍ کې امریکایانو ته لرلی دی، نو د حېرانی ځای نه دی، چې په افغانستان باندې زښت ډېر کتابونه او رپورټونه تهیه شوي دي او د مولفانو په قطار کې هنري رالنسن، والټر بیلیو او چارلز مک ګریګر د تعصبي او عندي لیکنو په سبب ډېر مشهور دي. ددغو ټولو لیکنو په مقابل کې د الفنسټن کتاب د یوه کلاسیک اثر په شان تل د هندوکش د غره په څېر درونددرېدلی دی.

الفنستن په درې کلونو کې خپل نوټونه په پوره کې تنظیم او تصنیف کړل. کتاب لومړی پر ۱۸۱۵ کال، وروسته بیا پر ۱۸۱۸ کال په یوه ځانګړي جلد کې چاپ شو. دغه چاپونه ډېرې ښکلې او منقوشې تابلوګانې هم لري او له دې امله یې د یوې تاریخي ټوټې په حیث ارزښت هم پیدا کړی دی. په ۱۹۶۵ کې کله چې زه د لندن په پوهنتون کې په زده کړه بوخت وم، د افغانستان په باب مې کتابونه لټول، یوه ورځ په یوه پلورنځي کې د الفنستن د ۱۸۱۸ په یوه جلدي کتاب پېښ شوم، د هغه بیه شپېته انګرېزي پونډه ښودل شوې وه (هغه وخت یو پونډ دوه سوه او شل افغانۍ و، چې د کتاب ټوله بیه څه د باندې دیارلس زره افغانۍ کېده.) چې هغه د وروستیو دوه جلده کتابونو د بیې په نسبت ډېر شپاړس کرته ډېره وه.

د پلورنځي له مدیر نه مې په ډېر تعصب سره ددغې لوړې بیې پوښتنه وکړه، هغه راته په ډاډه زړه وویل، چې: "د کتاب دغه چاپ له متن نه سوا یو تاریخي څیز ګرځېدلی او ډېر شوقین لري." په رښتیا هم په بله ورځ هغه کتاب هلته پاتې نه و.

په هر حال، د افغان او انګلیس له لومړي جنګ وروسته چې د خپلې خاورې د ساتنې په برخه کې د افغانانو قهرماني نړیوالو ته ثابته شوه او د هغه وخت یو ډېر قوي استعماري طاقت یانې برتانیې ته په ډراماتیک او بې سارې ډول ماتې ورکړه، د الفنستن د کتاب لپاره هم تقاضا شدیده شوه. وروسته له هغه دغه کتاب څو ځلې په دوو ټوکو کې راووت او زموږ د پېړۍ په دغو څو وروستیو کلونو کې دغه اثر دوه ځله د دوو بېلو خپرونکیو له خوا خپور شو او ښایي ټولې نسخې یې زرګونو ته رسېدلې وي.

دغه کتاب باید ډېر دمخه تر دې په پښتو او دري اړول شوی وای، څه وخت چې څو کاله دمخه په کابل کې د پښتو څېړنو بین المللي مرکز پرانېستل شو، د هغه آمر ډاکتر عبدالحکیم هلالي له ما څخه د دغه کتاب د پښتو کولو غوښتنه وکړه. له بده مرغه د افغانستان د علومو اکاډمي په تاسیس سره د هغه د ترجمې کار جدي ونګېل شو، هغه و چې له مقدمې سره د کتاب لومړۍ برخه د ښاغلي پوهیالي نصرالله

Property of ACKU

سوبمن له خوا په پښتو واړول شوه او دويمه او درېمه برخه يې ما ترجمه کړه. موږ دواړو کوښښ کړی دی، چې په ترجمې کې امين اوسو او مفهوم له روانی نه قربان نه کړو. سره له دې هم يوځای بل ځای په تېره په مذهبي برخې کې ځينې ټکي او جملې او يو دوه وړې برخې حذفې شوي دي، مګر هېڅ برخه يې تحريف يا مسخ شوې نه ده. سربېره پردې د مولف د ځينو ټکو په باب موږ په پای ليکونو کې تبصرې هم اضافه کړي دي. هيله ده چې د کتاب دويم ټوک هم ژر ترجمه او چاپ شي. د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز له رييس ښاغلي ډاکتر دولت محمد لودين نه مننه کوم، چې د کتاب ترجمه يې سر ته پايه لوستلې او د ځينو برخو او ټکو په باب يې ګټورې نظريې راکړي، چې ځينې يې په تشکر سره منل شوي دي.

**ډاکتر محـــمد حسن کاکړ**

شېر شاه مېنه ـ کابل

د تلې ۳۰مه، ۱۳۵۸

Property of ACKU

# ســــــریزه

## د هیئت د تیاري په باب:

په ۱۸۰۸م کال کې د بریتانیا حکومت پارس ته د جنرال گاردون له سفارت او نورو څرگندونو دا ښکاره شوه، چې که فرانسه په آسیا کې د جگړې کولو لټه وکړي، په هند کې برتانوي حکومت دا غوره بولي، چې د کابل پاچا ته یو هیئت واستوي او دغه کار ماته وسپارل شو.

څنگه چې جوته ده، د کابل واکمن ډېر مغرور دی او داسې گڼل کېده، چې د اروپایي ملتونو په باب نیک نظر لري، پرېکړه وشوه چې دا هیئت پوره پرتمین وي او په ډیلي کې دې د هغه د لوازمو لپاره وړ ترتیبات ونیول شي. ددغه هیئت د برابرولو لپاره تکړه افسران او پوه کسان انتخاب شول. دغه لاندیني کسان د سفارت په هیئت کې وو:

ریچارد ستراچي (سکرتر)

فریرز.او.آر. تي الکزاندر د ختیځ هند د کمپنۍ له ملکي مامورینو څخه (مرستیالان)

میک ورتر د بنگال د موسسې څخه (جراح)

بدرگه کوونکی قوماندان دا وو:

د بنگال د بومي پلیو عسکرو د شپږم کنډک له دویم ټولي څخه کپتان پیټمن.

سروې کوونکی دا وو:

د بنگال د بومي کمپنۍ له پینځم کنډک څخه دویم بریدمن مکارتني د سپرو بدرگه والو عسکرو قوماندان او د بنگال د انجینرانو له ټولگي څخه دویم بریدمن ټیگل.

له بدرگه والو سره دغه افسران هم یوځای وو.

د لسم کنډک له لومړي ټولي څخه کپتان راپېراو، دویم بریدمن هاریس توپچي. د ۲۷ کنډک له دویم ټولي څخه دویم بریدمن کنگهم، د شپږم کنډک له دویم ټولي



Property of ACKU

څخه دویم بریدمن راس، د یوولسم کنډک له لومړي ټولي څخه دویم بریدمن ایروین، د بومي کمپنۍ له شپږم کنډک څخه دویم بریدمن فترگیرالد، د ۲۳ کنډک له دویم ټولي څخه دویم بریدمن جه کوب.

له هیئت سره یو شمېر بدرگه وال افراد چې د بومي سپرو عسکرو له پینځم کنډک او یوه ډله نور یې له شپږم کنډک څخه (سل تنه افراد) چې ټول دوه سوه تنه پلي او سل تنه غیر منظم سپاره کېدل، د یوه ټولي په څېر ملگري شول.

ترتیبات چې پای ته ورسېدل، هیئت د ۱۸۰۸م کال د اکتوبر د میاشتې په دیارلسمه له ډیلي څخه وخوځېد. له ډیلي څخه تر کانوند پورې چې نېږدې سل میله واټن لري، د یادونې وړ ځکه نه ده، چې تر نوموړې سیمې د بریتانیا واکمنۍ پراخه شوې وه. که څه هم دلته کرنه بده نه وه، خو دومره بس ده چې ووېل شي دغه سیمه شگلنه ده. کانوند ته په رسېدلو سره موږ د بیدیا لومړۍ نښې ولیدې او هغو ته موږ د پلټنې د احساس په هیله وو. له دغه ځای څخه درې میله وړاندې موږ شگلنو غونډیو ته ورسېدو، دا غونډۍ لومړی په بوټو پټې ښکاري، وروسته د برېنډو او لوڅو شگو ځانگړې (خالصې) څرې یا دلې وي چې یو په بل پسې د سمندر د څپو په څېر ښکارېدې. په مخ باندې یې یادونو داسې نښې پرې ایښې وې لکه واوره چې ښوریېدلې وي. د هغو دپاسه د سرکونو کرښې لیدل کېدې، چې د ژړیو په تگ سره جوړې شوې ړي، خو له دغو لارو پرته زموږ آسونه تر ځنگانه په شگو کې خښېدل.

له کانوند څخه زموږ لېږدېدل د اکتوبر د میاشتې په ۱۲ نېټه پیل شول او ورو ورو د خپلې پولې (برید) له سیمې څخه ووتو او د شیخاووټي سیمې ته داخل شو (د شیخاووټي نوم د راجپوتانو د یوې لوټمارې قبیلې له نامه څخه چې دا ځای یې استوگنځی دی، په دا سیمه ایښودل شوی دی.) هر څومره چې موږ وړاندې تللو، دا سیمه هم بیدیا کېدله. د اکتوبر په ۲۲ نېټه د سینگانا (Singauna) ښکلي ښار ته ننوتلو. دغه ښایسته ښار له ډېرو جوړ او د یوې غونډۍ په لمن کې شپږ سوه فوټه لوړ پروت دی.

په دغه ښار کې موږ د شیخاووټي د قبیلې له مشر راجا او بې سنگ سره د پېژند گلوۍ کتنه وکړه. روږې سنگ په ځان ورکوټی او سترگې یې غټې وې، چې د تریاکو د کارولو له امله سرې ښکارېدې. ده خپله ږیره پورته خوا ته کړه او تر دواړو غوږیو یې اړولې وه، چې د ده څېره یې ویروونکې گرځولې وه، کالي یې ساده، غړېدل او کړه وړه یې د خپلو وطنوالو په څېر زیږه او شډل وو، خو دی ډېر مودب و او برتانویانو ته یې درناوی څرگنداوه.

ما څو ځله دی ولید، خو هر وار د تریاکو او برنډي د کارولو له امله بې ځنځه او نشه ښکارېده. په حقیقت کې د ټولو شیخاووټي سردارانو هم همدغه حال و او ټول



Property of ACKU

له تریاکو سره نشه او روږدي وو، په نتیجه کې دوی یوازې د مطلقې نشې او په حال کېدو (له نشې څخه خلاصېدل) وقفې ترمنځ د معاملې لپاره وړ دي. له سینګانا نه تر جونجوانا پورې په دوو مزلو (دمو) کې راورسېدو. جویخوانا ډېر ښکلی او سمسور ښار و، په هر ځای کې یې باغونه او ونې وې، چې په بیدیا کې ډېرې ښې ښکارېدې. ددغه ځای د مشرانو شمېر پنځه تنه او هر یو یې ځانته کلا لري او کله چې په ولسي کارو کې د مرکې اړتیا وي، دوی دلته راټولېږي. په دغه ځای کې ما څلور شیخاووتي مشران ولیدل او دوی ټول ساده خلک وو. په دوی کې یو تن شام سنګ نومېده، چې نرم سړی و او ښه سلوک یې لاره، خو د ځینو نورو په سترګو کې د تریاکو نښې نښانې څرګندېدلې. ددغه ځای ټول مشران سره د تره زامن وو او داسې ښکارېدل، چې له یو بل سره په ډېر صمیمیت ژوند کوي، خو موږ لا له دغې سیمې پوره نه و ووتلي، چې واورېدل شام سنګ درې تنه نور راجاګان په یوه مېلمستیا کې ووژل، داسې چې له هغو یې لومړی په خپل لاس په چاړه وواهه*.

په شګو کې تر یوه نیم مزله وروسته له جونجوانا څخه د جورو د سیمې په لور روان شوو. د شیخاووتي سیمه مو تر له شاته پرېښوده، د چورو سیمه له شمال څخه تر سوېل پورې اتیا میله اوږده ده. سور یې تر اوږدوالي لږ څه کم دی. ددغې سیمې سوېل ته د جیپور د راجا دومنیون پروت دی او ختیځ ته یې د بریتانیا د حکومت له خوا ښکیل شوې ځمکې (مقبوضات) لوېدیځ ته یې د بیکانیر ځمکې او شمال لوېدیځ ته یې د باتییانو په نامه لوټمار خلک وو، چې په پیاده تلو سره به یې لوټماري ترسره کوله. دوی د پیاده لوټمارۍ او د لیږې او چټکو یرغلونو له لامله ډېر زیات مشهور وو. ددغه ځای شمال ته د هریانا سیمه پرته ده، چې جارج توماس پکې سختې شخړې کړي دي. که څه هم دا ځای د بیدیا په څنډه کې پروت دی، خو بیا هم ډېر سمسور دی، چې نوم یې هم له شین والي (هریانا ـ شنه ځمکه) څخه اخیستل شوی دی.

دغه راز دا ځای د څارویو په لرلو، چې په وښو پټو سیمو کې روزل کېږي، د زمریو په درلودلو چې پکې پیدا کېږي او د خلکو د مېړانې او آزادۍ خوښولو له لامله ډېر مشهور دی. دا سیمه اوس د برتانویانو لاس ته ورغلې ده. په خپله شیخاووتي نومې سیمه شګلن میدان دی، چې دلته او هلته ډبرینې غونډۍ پکې لیدلې کېږي، لږې اوبه لري او په ناوړه ډول خړوب کېږي، سره له دې هم دا سیمه څو لوی ښارګوټي لري، لکه سیکور، فتح پور، کهاتري او ګوده.

* ښایي دغه راپور باید مبالغه امیز وي، څکه د کلونل ټوډز له څرګندونو په ډاګه کېږي، چې اوبې سنګه په ۱۸۱۴ام کال کې ال ژوندی و



Property of ACKU

په دغو شګلنو ځمکو کې د بابل (Baubol)، کوریل (Kureel) او پوک (Phoke[1]) لوی بوټي په تېره بیا درشولو او شینشوبي ته ورته بوټي هم لږ و ډېر لیدل کېږي. دغو بوټو او وښو بیدیا ته بل ډول ښه ورکړې وه.

شیکاوتیان د جیپور راجا ته نظامي مرسته او باج ورکوي، د همدغه حکومت د مرستې په برکت و، چې لږ څه پخوا دوی خپله اوسنۍ سیمه د کیامخانیو څخه چې اوښتي هندي قوم دي، په زور ونیوله. د شیکاووتي سیمې نه څو میله هغې خوا ته موږ د بیکانیرو د راجا سیمې ته ننوتلو. دغه راجا ښایي د راجپوتانو د نورو پېنځو تنو شهزادګانو څخه ډېر بې ارزښته وي. د جیپور او جادپور راجاګان د ښایسته او پخو دولتو مشران دي. د اندیپور د راجا کم شوی قدرت ښایي د ده د لوړ شان او هغه درناوي له امله چې ده ته ښوول کېږي، له کم ارزښتي څخه ژغورل شوی وي، خو د بیکانیر او جیسل میر د راجاګانو سیمې یوائې د اوسېدو وړ دي، نو ځکه د وګړیو او طبیعي شتمنۍ له پلوه کمزوري دي. د بیګانیر د راجا بودیجه یوائې پنځوس زرو (۵۰۰۰۰) پونډو ته رسېږي، مګر څرنګه چې دغه راجا خپلو لښکرو ته د معاش په ځای ځمکې ورکوي، ده وکولای شول، چې دوه زره سواره او اته زره پلي عسکر ولري. دغه راز پېنځه دېرش (۳۵) توپونه یې په توپخانه کې ساتلي وو. سره له دې، چې زما له راتګ نه دمخه یې ماتې خوړلې وه او تاوانونه یې ګاللي وو، خو بیا هم ده د دربار ډول ښودله، چې د ده حکومت ډېر کمزوری ته دی. د شیکاووتي په لور دده سرحدي سیمه او په پای کې د ده سیمو په لومړۍ برخه کې چې موږ ورته ورسېدو، د چورو ښار پروت و، چې ښایي د ده په قلمرو کې دویم ښار اوسي. ددغه ښار چاپېریال له پراخه او خوار شاوخوا څخه پرته یو نیم میل ته رسېده، سره له دې چې د برښډو غونډیو په منځ کې پروت و، بیا هم ښایسته ښکارېده. کورونه یې چوترې لري، ټول کورونه او د ښار دېوالونه دواړه له سپینو او سوچه خټو او یا چونې څخه ښکلي جوړ شوي وو. دا خاوره ډېره پسته او د سپین پوډر په څېر ټوټه ټوټه کېږي او ځای په ځای ورسره چونه شیل (Shell) ګډوي.

[1] پوک یو ډېر شین بوټی دی، چې څلور یا پېنځه فوټه لوړېږي، پاڼې نه لي، ښاخونه یې تنکۍ وړې لښتې لري، چې په دغه وروستۍ برخه کې وړي یا واښکي هم لري دغه وړي تر لښتو پاسته او له شیرې څخه ډک دي دغه بوټي کلان هم کوي، چې بومیان یې خوري د دانو د پټوکي په منځ کې یې مغز او تخم هم شته، دا بوټی د اوښانو لپاره ښه خواړه دي، ځکه په بیدیا کې د اوبو د کموالي او اوږدې تندې سره مقاومت کولای شي دا بوټی لومړی د ګانوند په لویدیځ کې ولیدل شول او د شګلنو ځمکو په ټوله تګلاره کې مو تر سترګو کېدل

دا ډول خاوره د بیدیا په ځینو برخو کې د سترو ټوټو په څېر پیدا کېږي. د چورو مشر د بیکانیر راجا ته د یوه بشپړ رعیت په ځای ورسره تړلی یا باج ورکوونکی مرستندوی ګڼل کېږي.

که د شیکاووتي سیمه له هغې منطقې سره، چې د شیکاووتي د لویدیزې سرحدي کرښې او بهاولپور ترمنځ د ۱۸۰ میلو په اوږدوال پرته ده، پرتله کړو، نو شیکاووتي د هغې په وړاندې داسې برېښي، چې د بیدیا نوم به ترې ایسته شي (یانې هغه سیمه چې د ۱۸۰ میلو په اوږدوالي د شیکاووتي په لویدیز کې پرته ده، تر شیکاووتي ډېره صحرایي او شګلنه ده. ژباړن) ان یوازې وروستۍ سل میله ځمکه یې د خلکو، اوبو او بوټو څخه خواره برېښي. له شیکاووتي څخه تر پوګول (Poogul) پورې منزل، چې ټول ۱۸۰ میله واټن کېږي، د ډېرو شګلنو غونډیو او ناوو په منځ کې ترسره شو. ددغه ځای غونډۍ کټ مټ د سمندرګي په غاړه په بادو سره جوړ شویو غونډیو ته ورته دي. یوازې په دې توپیر چې ددغه ځای د غونډیو لوړوالی ډېر او له شلو څخه تر سلو فوټو پورې دی. ویل کېږي چې دوی د بادو د اغېزې له امله خپلې بڼې او موقعیتونه (ځای) بدلوي. داسې څرګندېږي، چې په اوړي کې له هغو نه اوښتل په زیاتو برخو کې د شګو د ښویېدو د توپان له امله خطرناک دي، خو کله چې ما دغه غونډۍ ولیدې (د ژمي په وخت کې) داسې برېښېدلې، چې ډېر ثابت او زیات پایښت لري. ځکه پوک (Phoke)، بابل (Baubol) بیر (Bair) او جوجوب (Jujub) اغزنو بوټو ترڅنګ یو ډول نور واښه وریاندې شنه شوي وو، چې ټولو داسې ښه ورکړې وه، چې کله کله شنې او زرغونې لیدل کېدلې. ددغو ډېرو شګلنو او پرنده غونډیو په منځ کې کله کله سړی له کلي سره هم مخامخ کېږي، کورونه یې ګردې بوسې څپرې دي او ټیټ دیوالونه او مخروطي ډوله بامونه لري او د جوارو د وړې دلۍ په شان برېښي. دغو کلیو کورونه د بوټو له ډنډرو او اغزیو څخه جوړ شوي دي، ددغو کورونو په شاوخوا کې د اغزیو احاطې جوړې شوي دي، چې یو کور له بل څخه جلا کوي او دا اغزي دومره وچ دي، چې که په یوه خونه کې اور ولګېږي، نو ټول کلی به په پینځو دقیقو کې ایره کړي.

ددغو خوارو کلیو په شاوخوا کې د کروندو څو وړې ټوټې شته، چې د باران او پرخې څاڅکو ته اړې دي. په دغو کروندو کې د باقلي بابوخوار ډولونه او باجرا (Bajra) یا (Holcaspicatas) چې ډېر لږ حاصل کوي، کرل کېږي. سره له دې، چې وروستني واښه په زیاترو شنډو ځمکو کې په ښه شان لوییږي، خو دلته په ډېر کراو سره هر بوټی یې له بل څخه څو فوټه لیرې وده کوي. څاګان زیاتره ژور او درې سوه فوټو ته رسیږي ان ما یو ولید، چې ۳۴۵ فوټه ژوروالی یې درلود. ددغه

زیات ژوروالي سره سره د ځینو څاګانو قطر یوائې دریو فوټو ته رسیږي، هرې یوې څا ډېرې لږې اوبه درلودې. د دوو غوایانو په پکار اچولو سره کېدای شول چې د یوه څاه ټولې اوبه په یوه شېبه کې وایستل شي. اوبه یې مالګینې او څښاک یې زیانښونکی دی. د څاه اوبه له رااېستلو وروسته په داسې ډنډو او ذخیره ځایو کې تشوي، چې تر شاوخوا یې ټې تاو دي. کله چې زمونږ ډله (هیئت) یوه کلي ته ورسېده، نو سملاسي یې دا ډول یو ډنډ له څښلو وروسته وچ کړ. څاګانې په تیږو ګرد چاپېره سنکاري دي، بومي خلک خپل څاګان په تختو سره پوښي او ددغه تختو په سر شګې کوته کوي، څو په دې توګه د دښمن له سترګو پټ شي. په دغه سیمه کې هندوانې ډېرې اوبه لري. دا ډېره د هیښتیا خبره ده، چې په دغه ډېره وچه او بیدیایي سیمه کې د هندوانې له عادي ډنډر او تانګ څخه داسې هندوانې پیدا کېږي، چې درې یا څلور فوټه محیط لري.

هندوانې کرل کېږي او ښایي چې یو کرنیز (زراعتي) زیار هم وغواړي، خو د دوی بوټي تیت و پرک دي او داسې بریښي لکه چې وحشي شنې شوې وي.

ټول اوسېدونکي یې جټان او پاسنۍ پارکي (طبقه) یې د راتهور راجپوتان دي. جټان په ونه ټیټ او تور پوستکي لري، له څېرو څخه یې خواري او بې وزلي بریښي، په داسې حال کې چې راجپوتان غښتلي، پوزې یې بوڅې او یهودي ډوله څېرې لري. دوی ډېر کبرجن او لټ دي او زیاتره یې د تریاکو د استعمال له امله نشه وي.

غوږي او اوښان ددغې سیمې غوره څاروي دي، چې د ګلو په څېر ساتل کېږي او د سپرلۍ او بار وړلو لپاره یې کاروي ان په یوي کې هم تری کار اخلي. صحرایي موږکان په پوګول کې خورا بې شمېره او د یادونې وړ دي. دا ډول موږکان د خپل شمېر له پلوه د یادونې وړ دي، نه د تنې له امله. په دغه کلکه ځمکه کې بې شمېره غارونه جوړوي. دا په حقیقت کې د سپرو لپاره تر شګو هم زیانمن دي. دغه موږک د لکۍ په پای کې د وېښتانو یوه غوټه (ګېډۍ) لري او ډېر ځله د (Squirel) کانګارو (Kangaroo) په څېر نېغ کېني، چې د مخ پښې یې یو په بل راتېرې شوي دي. دا موږک د جربوا (یو ډول موږک ډوله حیوان) سره توپیر نه لري، خو لږ وړوکی او په تګ کې ټولې پښې په کار اچوي. دا حیوان نه یوائې په بیدیایي سیمو کې شته، بلکې د جمنا لویدیځ خوا ته په ټولو شګلنو ځمکو کې لیدل کېدای شي. ښکرور غرڅه (ګوزن) ګوره خر یا وحشي خره هم په دغه بیدیا کې لیدل کېږي،



Property of ACKU

چې د جاب (Job[1]) په کتاب کې ډېر ښه بیان شوي دي. دا خره زیاتره وخت یوائې وي، خو په گلو کې هم لیدل کېږي. دا حیوان تر خره کچر ته زیات ورته دي، مگر د ښې له مخې خر گڼل کېدای شي. دا خره نه یوائې ډېر ډارن او بې زړه دي، بلکې د چابکۍ له پلوه ډېر غوره برېښي. په چابکه ځغاسته، چې د هغه ځانگړتیا ده، کولای شي خورا تیز آس هم شاته پرېږدي.

گیدړې هم په دغه سیمه کې پیدا کېږي، که څه هم دغه گیدړې زموږ له گیدړو څخه وړې دي، خو د هند تر گیدړو اوږدې دي. د شا رنگ یې نسواري وزمه او زموږ د گیدړو په څېر دي، خو د پښو او گیډې رنگ یې تور او کله کله سپین وي. ددغو رنگونو او نسواري ترمنځ بېلوونکې کرښه خورا څرگنده ده او داسې برېښي لکه چې یو ډول یې تر خېټې پورې په تور رنگ کې ننه ایستل شوی وي او بل ډول یې داسې، چې په سپین رنگ کې تر خېټې رنگ شوی وي.

له پوگول څخه تر بهاولپور پورې د سلو میلو په اوږدوالي یوه صحرایي سیمه خوره شوې ده، چې د منځ خاوره یې ډېره کلکه او د لاندینۍ ځمکې په نسبت مټینه (کلکه) ښکاره کېدله. کله چې زموږ آسونه له دغې ځمکې څخه تېرېدل، نو له ځمکې څخه به داسې یو غږ پورته کېده لکه چې آسونه په تختو باندې روان وي. ددغې سیمې په ځینو ځایونو کې وړې غونډۍ د ریگونو د ښوییدلو او لیږدېدلو له امله منځ ته راغلې وې. ددغو غونډیو پر سر ځینې بوټي لکه سپانده، پوک (Phok) او لانا (Laana) (داسې یو بوټی دی، چې له سوځېدو وروسته الکل ترې لاس ته راځي.) لیدل کېدل. دغه بیدیا له زیاتو بوټو څخه بې برخې وه ان له دوو څاگانو او د موجگور له ډنډ څخه پرته دلته نه اوبه وې او نه د استوگنې ځایونه لیدل کېدای شوای، په دې ډول د باولپور تر شپاړس میلۍ پورې بې د کاروان له لارې بلې خوا ته موږ ونه کړای شول، چې لاړ شو، ځکه همدا لار چې موږ پرې روان وو، د سفر د اسانتیا یوائېنۍ لاره وه.

دا هم جوته ده، چې له داسې وچې او بیدیا څخه چې ما یاده کړه تېرېدل څه اسان کار نه و، موږ له لومړي سر څخه د بیدیا د تېرېدو لپاره ترتیبات نیولي وو او له دې ترتیباتو سره په کنوند کې اوښان په کرا ونیول شول، چې اوبه او نورې اړتیاوې یوسي او په دې ډول زموږ د اوښانو شمېر شپېږ سوو ته ورسېد. او له دوی سره دولس

[1] وحشي خره چا ازاد واستول یا چا د وحشي خرو وندرې سستې کړې بیدیا مې د دوی کور او شنډ او بې کښې ډاگې مې د هغو استوگنځی وگرځول. د ښار له گڼې گوڼې څخه کرکه کوي او د چلوونکي چیغې ته هېڅکله پاملرنه، نه کوي، د غرو لمنې یې څړ ځای او په هره یوه شنه ځای پسې هڅه او پلټنه کوي
جاب ۳۹، فصل ۵_۶_۷ او ۸

Property of ACKU

یا دیارلس پیلان هم وو. د اوبو د لېږدولو لپاره موږ د ژبو او غرکو څخه استفاده وکړه، دغه راز مو ځینې سترژې، چې د غوایانو له څرمنو څخه جوړ شوي وو له ځان سره واخیستل. دا ډول ۲۴ ستر مسین لوښي چې یواځې له دوو څخه یې د اوښ بار بشپړ کېده هم د سفر د تجهیزاتو په لړ کې زموږ سره وو. په دغو لوښو کې د ژبو په نسبت اوبه ښې خوندي کېدلې، له بلې خوا په هغو کې د اوبو خوند هم نه خرابېده، دا ډول لوښي ډېر د هندي سپاهیانو لپاره جوړ شوي وو، د څارویو د اوبو کولو په برخه کې موږ اوښانو ته ډېره پاملرنه، نه کوله ځکه دا لوی حیوان د تندې په مقابل کې بې ساری مقاومت او حوصله لري.

هغه ښځې چې زموږ سره په هیئت کې شاملې وې، د لویدیځ هند د راجستان د بیدیاوو د ناوړو شرایطو له امله په چورو کې تم او بېرته له ساتندویانو سره واستول شولې او زموږ زیات شمېر نوکرانو ته هماغه وخت اجازه وشوه، چې بېرته لاړ شي، خو دا کار زموږ د پاتې نوکرانو په خدمت کې موږ ته زیاتوالی راته وړ، ځکه له دوی سره د بیابانونو دومره وېره پیدا شوې وه، چې د هرې ډلې سرې د شلو او دېرشو تنو په شمېر هغه وخت تښتېدل، چې موږ دومره لیرې شوي وو، چې دوی ته بېرته تلل به ناممکنه وګرځېدل.

دغه راز د بوټي د قبیلې د لوټمارۍ او د بیکانیر په سیمه کې د شخړو پیل کېدل هغه عوامل وو، چې د هیئت ستونزې یې لا پسې زیاتې کړې. په دې ډول دې ته اړ شو، چې د شیخاووټي په سیمه کې سل تنه سپاره او پنځوس تنه پلي پېش خدمتان له ځان سره ملګري کړو. دغو خدمتګارانو د کاروان اوږده لیکه څارله.

دا ټول تیاري چې بشپړ شول، د اکتوبر د میاشتې په دېرشمه نېټه د چورو له سیمې څخه وخوځېدو او شیخاووټي ته تر رسېدلو پورې به د شپې له مخې مو مزل کاوه. په اکثر ډول مو د ورځې په دوو یا درېو بجو وري بارول، خو زموږ مزل ډېر وخت نیوه او زموږ د اوږده کاروان وروستۍ برخه د شپې تر دولسو او یا یوې بجې پورې د خېمو ځای ته رسېدله. په ډېرو وختو کې موږ خپل ټاکلی منزل ته ناوخته رسېدلو، یو یا دوه واره موږ مخکې له دې چې خپل پړاو ته ورسېږو، د ورځې رڼا خپره شوې وه. زموږ مزلونه به ډېر اوږده وو، ډېر اوږد مزل مو شپږ ویشت میله او لنډ مزل به مو پینځلس میله و. سره له دې هم زما ملګري له اوږده مزل څخه دومره ستومانه، نه بریښېدل.

کله چې به کاروان سره نږدې شو او د اوښانو کړۍ به سره ونښتله، نو اوږد والی یې دو میلو ته رسېده. هغه لاره چې موږ وربانديې تلو، د غونډیو له امله ډېره کږه وږه وه، د تنګ لاره دومره نرۍ وه، چې که دوه اوښان به څنګ په څنګ سره ودرېدل، نو لار به بشپړه پټېدله، خو که یو اوښ به ګرځند په لار کې ودرېد، نو پښې یې

Property of ACKU

هرومرو په ریګونو کې د واورو په څېر ننوتلې، یانې د لارې پلنوالی ډېر لږ وو او کاروان د یوې لیکې په څیر وړاندې تګ کاوه. که د کاروان په سر کې به لږه ګډوډي راغله، د کاروان تر پایه پورې دا حالت اوړېدېده، یانې که د کاروان د سر اوښ به ودرېد، نو د کاروان لیکه تر پایه‌پورې درېدله، له بلې خوا د کاروان د سر اوښ له پاتې اوښانو څخه دومره ګړندی تلای نشو، ځکه د سر اوښ حرکت د شا د اوښ د تګ تابع و. که داسې نه وای، نو د کاروان لیکه شلېدله او یوځای کول یې ګران وو.

ددې لپاره چې د کاروان کړی له یو بل څخه ونه شلېږي، نو یو ډول علامه د (ډول) په وهلو سره خپرېدله، چې د هغې په اورېدلو سره به کاروان خپل تنظیم ساته یانې کله چې به د ودرېدلو نښه په ډول کې وغږول شوه، نو ټول کاروان به په یو ځل ودرېد. له بلې خوا د کاروان په سر کې وخت په وخت یوه شپېلۍ غږول کېدله، څو د کاروان د شا کسان د کاروان جهت او طرف تعقیب کړای شي. د شګو د زیاتوالي له لامله زما ملګري او عمله ډېر ستړي شول او موږ دې ته اړ شو، چې د پلیو لپاره په نوبت او وار سره اوښان د سپرلۍ لپاره وټاکو. هر اوښ د دوو تنو پلیو د سپرېدو لپاره شو. دغه راز موږ د ناروغو کسانو لپاره د اوښانو کجاوې درلودې. د لارې په اوږدو کې یو ډول بې ګټې اغزي شنه شوي وو، چې د تګ په وخت کې یې کاروان ته زیان رساوه، خو سره له دې هم ددغو اغزیو تخم د هیئت د خوراکي شیانو په څېر او واښه یې د څارویو د خوراک لپاره ګټور وو. د اوبو لږوالی زموږ ستر کړاو ګڼل کېده، خو سره له دې هم د هندوانو شته والی په دغه دښتي سیمه کې زموږ لپاره د تندې د ماتېدو غوره نعمت و. د هندوانو خوړل نه یوازې د تندې د ماتېدو سبب ګرځېده، بلکې د هیئت شاملو کسانو روغتیا ته یې هم ګټه رسوله. سره له دې، چې پرله پسې ستړتیاوې د ناوړه اوبو څښاک او د هندوانو زیات خوراک ددې سبب شو، چې زیات کسان په یو ډول کمزورو تبو او اسهال اخته شي، دغه ډول ناروغۍ په ځینو کې دومره زیان بښونکې شوې، چې موږ د مجبوریت له مخې په رنځ اخته دېرش تنه په ناتوسر (په بیکانیر کې یو وړوکی کلي) کې پرېښودو، په نتیجه کې د بیکانیر په هېواد کې د یوې اوونۍ په تېرېدو سره موږ څلوېښت تنه له لاسه ورکړل. دغه راز د شپې او ورځې د تودوخې توپیر په دغه سیمه کې د مړینې د زیاتوالي لپاره ناوړه شرایط برابر کړل ان انګرېزي ځوانان د شپې د یخنۍ څخه په عذاب وو. کله چې به شپه شوه، دوی خوښ و چې اور بل کړي او ځانونه ورته تاوده کړي.

د ورځې تودوخه دومره زیاته وه، چې ان موږ به په سهار کې لمر د لومړۍ شغلې په خپرېدو او راختلو سره راویښېدلو او تر لمر پرېوتلو پورې په تناره کې

Property of ACKU

ایشیدلو.

دا هم باید ووایو، چې اروپایان د بیدیا د ناوړه ناروغیو سره مخامخ نه شول، زموږ یوائینی شکایت د سترګو پړسوب و.

بیکانیر ته موږ په راتلو کې له لږو پېښو سره مخامخ شو، دوه واره مو د یرغلګرو او لوټمارو ډلې ولیدلې، خو زموږ په مال باندې یې حمله ونه کړه. دغه راز ځینو خلکو خپله لاره ورکه کړه او د یوې یا دوو ورځو لپاره په بیدیا کې سرګردانه وو، دوی ته ددې خطر و چې کې د شاوخوا نړدې کلیو او استوګنځیو ته د کومک او رهنمایی لپاره ورشي، چې کلیوال دوی ته لار وښيي په مقابل کې به د بیدیا اوسېدونکې د خپل ځان له ویرې هغوی وپشتل او یا یې شړل. په دې ډول د بیکانیر په لاره کې موږ له یو شمېر ستونزو سره مخامخ وو.

بالاخره د نوامبر د میاشتې په پینځمه نېټه موږ د یوې ویجاړې لارې په منځ کې د بیکانیر د یوه ښار دېوالونه او برجونه ولیدل. دغه ښار په صحرایي سیمه کې یو ډېر باعظمته او ستر ښار و، چې د بیدیا ښه یې بل ډول اړولې وه. کله چې موږ خپل ټاکلي تم ځای ته ورسېدلو، نو په کمپ کې دا مباحثه پیل شوه، چې ایا ډیلي ستر ښار دی او که بیکانیر؟ په هر صورت له یوې څه آشنایی او بلدی وروسته دا سوال حل شو. دا ښار د یوه ښکلي پاخه برجداره دېوال په واسطه چاپېر (احاطه) شو و، د دېوال په اوږدو کې هندي کنګرې هم ځای شوې وې. په دغه ښار کې ځینې لوړې ماڼۍ چې یوې یې جګ برج او په یوه کنج کې یې خم کلا درلوده، ودانې شوې وې. ددغه ښار ښاېسته کورونه په شنو ونو کې پټ وو. د بیکانیر د ښار ښاېست نه یوائې د ښار په دننه کې و، بلکې د ښار څخه بهر ښاېسته کورونه ودان شوي وو.

په دغه وخت کې بیکانیر د پینځو بېلو لښکرو تر یرغل لاندې راغی. ددغو لښکرو په لړ کې یو هم د جود پورد راجا لښکر و، چې شمېر یې ۱۵۰۰۰ تنه تکړه سپاهیان وو او ددغه ښار څو میلو ته یې ځانونه رارسولي وو. یوه بله ورته نظامي قوه هم د ښار څو میلو ته رانږدې شوې وه. نور لښکرو هڅه کوله، چې د بېلو بېلو لارو څخه د بیکانیرد ښار د نیولو لپاره ځانونه راورسوي[1] یوه ډله مست او داړونکي اسان خوشې شوي وو، چې ددغه ښار د شاوخوا سیمو چې پکې د بیکانیر غونډې یو ښار پروت و، فصل، کښت او کریې لوټ کړي. له بلې خوا د بیکانیر راجا د خپل پایتخت په لس میلۍ کې ټولې ځاګانې د خاورو نه ډکې کړلې، څو دښمن د اوبو له پلوه تنګ شي.

[1] دا یرغل په هغه وخت کې وشو، چې د بیکانیر راجا په هغه جګړه کې مداخله وکړه، چې د جودپور او جیپور د راجاګانو ترمنځ د اوندې پور د شهزادګۍ د واده کولو لپاره روانه وه



Property of ACKU

دغه حالت زموږ د هیئت لپاره ناوړه شرایط برابر کړل او موږ په دې فکر کې وو، چې که په یوولسو ورځو کې له دغه ځای څخه ځانونه وباسو، بختور به وو.

په دغه وخت کې د دښمنو ډلو ترمنځ شخړې پیل شوې. د بیکانیر سره نږدې د یرغلګرو عسکرو یو کوچنی لښکر د بیکانیر د راجا د لښکرو له خوا د ماتې سره مخامخ شو. یوه ډله یرغلګر د ختیځ له لوري څخه د ښار په خوا رادمخه شول او غوښتل یې، چې له یوې بلې ډلې سره د دښمن په مقابل کې ځان یو کړي، خو د راجا لښکرو مات کړل. په دغو جګړو کې زیات خلک ووژل شول او یو زیات شمېر نور یرغلګر په بریالیتوب سره ونیول شول. ددغې جګړې ننداره زموږ له کمپ څخه ښه کېدله او زما یوه تن ملګري دا حالت په ښه شان داسې بیان کړ:

په یوه ځای کې یوې ډلې یو غوړیی دمخه کړی و او ځغلاوه یې، په بل ځای کې ځینو کسانو بار کړي کراچۍ روانې کړې وې، دلته په آس یوه سپاره یو نیول شوي اوښ د نېزې په سر چوخو، په هغه بل ځای کې پېنځلسو یا شلو غوایانو یو توپ په شګو کې په کراره کشولو. د راجا یوې ډلې عسکرو په بېلو بېلو برخو کې له خپل ځان سره لوټمار یرغمل نیول او په خوښۍ او د بریالیتوب په روحیې سره یې د ځان سره روانول.

په عین وخت کې دواړو دښمنو ډلو پرله پسې زما څخه غوښتنه کوله، چې د دوی په ګټه په جګړه کې برخه واخلم. د جودپور جنرال پر ما ټینګار کاوه، چې د ده خېمې ته لاړ شم او له ده سره د راجا په ضد په میدان کې ورودانګم. دغه جنرال یوازې دا راته ښودلای شول، چې که هرومرو دده ملاتړ ونه کړم او له دغه کار څخه سر وغړوم، نو دا عمل به زما په زیان تمام شي، خو له بلې خوا راجا دا توان درلود، چې زموږ د څارویو خوراکي شیان چمتو او یا یې معطل کړي او د کوهي پر سر یې د یوه کتونکي په ګومارلو سره، چې هغه څاه زموږ په واک کې راکړي، یوازې یوه ورځ موږ ته لږه نا ارامي هم ونه ښودله. په داسې ترڅ کې چې زموږ واک په بشپړه توګه دده په لاس کې و، خو دغه ډول څارنه د یوه اعتراض په ترڅ کې له منځه ولاړه او اوبه هر چیرې په نوبت سره ترلاسه کېدلې، څنګه چې موږ د سفر لپاره اوبه زېرمه کولې، نو مجبوراً یې یو تن څارونکی زموږ پر سر ودراوه، څو د هیئت د دوو یا درېیو ورځو د تم کېدلو په وخت کې دلته اوښان د اوبو له څنګلو څخه منعه کړي.

په بیکانیر کې زموږ د استوګنې وخت په بېلو بېلو شیانو تېر شو. په لوړي سر کې یو زیات شمېر محلي خلک زموږ د کمپونو خواته راغلل او راتوتل او زموږ ننداره یې په هیښتیا سره کوله. په کمپ کې ګڼه ګوڼه زیاته وه، دوی ته له هر څه نه زموږ څیرې او زموږ حالت د حیرانتیا وړ و. دغو محلي خلکو سپینې سپینې جامې اغوستې وې، خو رنګونه یې د نورو هندیانو څخه یو څه بېل وو. دوی په راجپوتي



Property of ACKU

بنه خپلې غټې غټې لونګۍ پر سر وې. زموږ له ډلې څخه یو شمېر د ښار لوري ته ولاړل، دلته په دوی باندې زیات خلک راټول شول او دوی ته یې په حېرانتیا کتل. یوه ډله نور له ښار څخه بهر ووتل، خو ډېر ژر ستړي شول، ځکه له ښار څخه لېڅه بهر شاړه بیدیا د عربستان د بیدیا په څېر لیدل کېدله. د ښار شمالي خوا ته داسې یو څه ښکاره کېدل لکه یوه دره چې ځنګل په کې ولاړ وي. د بېکانیر په ښار کې ډېر په زړه پورې شی د خوړو اوبو یو کوهی و، چې د راجا د کلا په تل کې اېستل شوی و. دغه کوهی (څاه) درې سوه فوټه ژوروالی او له پینځلسو څخه تر شلو فوټو پورې یې ارت والی (د قطر اوږدوالی) درلود. څلور بوکې په یوه وار وراچول کېدلې او هره یوه یې یوې جوړې غوایانو راایستله. کله چې به بوکې په یوه وار اوبو ته وراچول شوې، نو د اوبو سره د لګېدو په وخت کې به یې د ټوپک په څېر غږ کاوه. زموږ زیات وخت له راجا سره په کتنه تېر شو او دده د ماڼۍ په دننه کې مو سره خبرې اترې کولې. راجا زما خېمې ته په داسې ډول راغی، چې د عسکري قواوو ټولګي د لارې په دواړو غاړو کې ولاړ وو او د کمپ له لمنې څخه زما د خېمې تر لمنې پورې یې دده درناوی او ساتنه په ځای کړه. دی د خلکو په اوږو د یوه تخت پر سر زما کمپ ته راورسېد. دده تخت یوې پخې ښکلې څوکۍ ته ورته و، د نوموړي راجا په مخکې یوه ډله ډانګچیان چې په لاسو کې یې د سپینو زرو امساوې نیولې وې، روان وو. ددغې ډلې د امساوو په سر کې یوه ګردۍ غوټه وه او ټولو خپلې امساوې له سرو څخه اوچتې په هوا کې چورلولې. دغه راز په راجا پسې زیات شمېر راروان وو، دی پر مسند (یو ډول تخت چې د بالښتونو څخه جوړ وو) باندې کېناست. دده پر سر یوه چترې او یا داسې ستر سایه وان (چترۍ) وه، چې سور رنګ یې درلود او له بخمل نه جوړ شوې وه. دغه چترۍ په څلورو نقره یي ستنو باندې دده پر سر درول شوې وه. راجا یوه ګړۍ زموږ سره په بېلو بېلو موضوعاتو باندې خبرې اترې وکړې. د نورو خبرو په ضمن کې د بریتانیا د پاچا د عمر او زموږ د هېواد د آب او هوا په هکله پوښتنې وکړې. دغه راز ده زموږ د هېواد د وګړیو سیاسي ژوندون وپوښته. ده د انګلستان او فرانسې ترمنځ د اړیکو په باب خپل معلومات او پوهه ځرګنده کړه، دده له ملګرو نه یوه زما څخه پوښتنه وکړه، چې آیا د هیئت راتګ به زموږ د جګړې په هکله له مقابل ملت سره نه وي؟ د راجا او دده درباریانو سوغاتونه کېښودل شول، خو له هندي رسم سره سم وروسته دغه سوغاتونه ځای پر ځای پرېښودل شو.

راجا صورت سینګ یا هغه سړی، چې موږ یې پورته بیان وکړ په ونه ښه جګ او څېره یې یوه ښکلې هندي ته پاتې کېدله. دی توري وروزې او توره بریره (د زنې له منځنۍ برخې څخه پرته) او اوږده پزه لري. دی راجپوت ښکاره کېده او د ښکلي مخ

Property of ACKU

او د خوشحال او خندان حالت خاوند و. دی په حقیقت کې یو ډېر زورور او ظالم شهزاده ګڼل کېږي. راجا په دې تورن دی، چې ده خپل یو مشر ورور زنداني کړی او د هغه پرځای پر تخت ناست دی. دا هم ریښتیا ده، چې ده هغه استاذۍ چې د هندوستان د وزیر له خوا د کابل پاچا ته استول شوی و، وواژه. سربېره پردې څرنګه چې دی په خپلو مذهبي چارو ډېر ټینګ دی او خپل خوراک په هغه ډول کوي، چې د مذهب له خوا یې سپارښتنه شوې ده، نو خپل پیروان یې د یوه ولي او بزرګ په ډول ګڼي.

بله ورځ زه دده لیدنې ته د یوائیني ځل لپاره هلته لاړم. په دغه وخت کې زه دده دویم زوی له خوا چې که څه هم ماشوم و، دعوت شوی وم او هغه دده مقصد لپاره د ګڼو خلکو سره استول شوی و. د راجا کلا ډېره ښکلې وه، دده کلا پر سر ډېر کوروته وو، چې موږ ته یې د کلا د برجونو او مورچلونو ترمنځ د توپیر په برخه کې شک پیدا کړی و. د هغې پلن والی د یوه مربع میل څلورمې برخې ته رسېده، د کلا ګردچاپېره د ډېرشو فوټو په جګ والي یو دېوال او یوه ښایسته وچه ویاله راګرځېدلې وه. دا ماڼۍ په پخوانۍ ښه یو ډېر حیرانوونکی تعمیر و، چې په هغې کې له څو درپایو (زینو) څخه د پورته کېدلو وروسته دربار ته ورسېدلو.

دربار د خونو په منځ کې ځای درلود. وروسته له سلو ګامو موږ داسې یوه ځای ته ورسېدلو، چې هلته یو ډېرین سالون جوړ شوی و. د سالون چت د ښکلو ستنو په واسطه ولاړ و. دغه سالون په منځ کې راجا تر چترۍ لاندې پر تخت ناست و. دا دربار له هرڅه نه چې ما پخوا لیدلی و، توپیر درلوده، هغه کسان چې د دربار شاوخوا ته ولاړ وو، له نورو هندوستانیانو څخه یې توپیر درلود او زیاترو یهودي څېرې درلودې او غټې لونګۍ یې پر سر وې. د راجا او دده درباریانو لونګۍ په ښایسته رنګونو ښکلې شوې او په بشپړه توګه د جواهراتو نه ډکې وې.

راجا په داسې حالت کې ناست و، چې لاسونه یې د فولادي ډال پر سر ایښي و، دغه ډال ګرد چاپېره په الماسو او یاقوتو سینګار شوی و. وروسته له یوې مودې راجا وړاندیز وکړ، چې له دغه سالون څخه بلې خونې ته د تودوخې له لامله ولاړ شو او په خلوت کې وغږېږو. د سالون ترڅنګ یوې ښایسته خونې ته ننوتلو، چې دېوالونه یې ښایسته پلستر شوي او د ګچ په شان ځلېدل. د دېوالونو پرمخ زینتي شیان لیدل کېدل، دروازې د چیني اطلس (ساټن) د پردو په واسطه پټې شوې وې. په دغه خونه کې موږ د هندیانو په څېر کېناستلو او راجا په وینا پیل وکړ. هغه وویل، چې موږ د ډیلي د پاچا ترلاس لاندې وو (ډیلي اوس زموږ په لاس کې دی) ما غوښتل چې هلته لاړ شم او د خپلې خپلواکۍ غوښتنه ترې وکړم، خو دی په دې وخت کې ونیول شو او زما راتګ ته موقع پاتې نه شوه. راجا په دغه وینا پسې د کلا

Property of ACKU

د کلیو (کونجیو) راوړلو غږ وکړ، کلي راوړل شوي او ماته یې ټینګار وکړ، چې کلي له ځان سره واخلم، خو ما ونه منل، په دې چې دغه واک موږ نه درلود. وروسته له زیاتې لانجې او خبرو کلي بېرته راجا واخیستل، له څو شیېبو وروسته یوه ډله نڅېدونکې ښځې راننوتلې او په نڅا یې پیل وکړ او تر هغه وخته، چې موږ هلته ناست وو، د نڅاوو او سندرو محفل تود و.

په پای کې موږ د نوامبر په شپاړسمه شپه له بیکانیر څخه وخوځېدو. په لومړیو دوو شپو کې موږ له یوې داسې سیمې څخه تېر شو، چې په طبیعي جوړښت کې یې له لیدل شویو ځمکو څخه توپیرونه درلودل او زموږ سړي له دویم مزل وروسته دومره ستړي شوي وو، چې موږ غوښته چې یوه ورځ تم شو، چې د دوی ستړتیا ووځي، خو په دغه وخت کې د بیکانیر د راجا بدرګه وال موږ د یرغلګرو له څو ځرګندو حرکتونو څخه خبر کړو، د بیدیا څو یرغلګرو او لوټمارو قبیلو دې ته اړ کړو، چې د شپې په ځای د ورځې له خوا سفر جاري وساتو، نو په دې ډول د کالیو او مالونو ساتنه په ښه شان ترسره کېدای شوه.

د حرکت د وخت د دغه بدلون په نتیجه کې د نوامبر په نولسمه نېټه د سهار په دوو بجو د تګ نغاره وډنګول شوه، خو مخکې له دې چې زموږ اوبه او نور ټول شیان برابر او چمتو شي، د ورځې رڼا خپره شوې وه او له څلور ویشت میله مزله څخه وروسته چې په پوګل کې خپل ټاکلي ځای ته ورسېدو، تیاره وه. دا ټوله سیمه له موج لرونکیو ریګي غونډیو څخه جوړه شوې وه، چې ځینې غونډۍ یې ډېرې جګې وې. زموږ سړي په ټوله ورځ کې د اوبو لپاره په کړاوو کې وو. په پوګل موږ په بیې ډېرې ښې اوبه پیدا کړې. دغه اوبه له باران څخه لاس ته راغلې وې او په پاکو ډنډو کې داسې خوندي وې، چې پر سر یې ګونبزې وهلې او ډېوالونه یې له پخو خښتو او چونې څخه جوړ شوي وو. په دغه ځای کې څاګانې (کوهیان) هم وو، چې اوبه یې مالګینې وې. خو د روغتیا لپاره زیانمنې نه برېښېدلې. د پوګل څاګانې دومره ژورې نه وې او هر یوه عمق د بیکانیر د څاګانو تر نیمایي پورې رسېدل.

د نومبر په شلمه ورځ مو په دغه ځای کې د اوبو د چمتو کولو لپاره تېره کړه، زما لپاره دا ورځ یو ښه فرصت و، څو د دغې سیمې په هکله معلومات راغونډ کړم. که زه وکولای شم، چې خپل لوستونکیو ته د شګو د لوړو غونډیو مخامخ ځمکې، د کلي له ډکو او خځلو څخه جوړې شوې کوډۍ او کوډلې، د کلا د ختو هغه دېوالونه چې ځمکه یې بادونو وړې وه او مخ په نړېدو وو او د شګو سمندر د شینلي له کوم اثر نه پرته چې ددې سیمې پاتې برخه یې تشکیلوله، تمثیل او وړاندې کړم. ښایي چې هغه به هم لکه ما غونډې د هغو خلکو په اړه، چې یوه داسې غم لړلي بیابان کې استوګنې لري او هغې ویرې ته، چې په ژوندانه کې دوی ته ور په برخه ده، حیران

Property of ACKU

پاتې شي.

د نومبر په یوویشتمه نېټه د ورځې په اوږدو کې مو مزل وکړ او زموږ مزل لومړی لس یا دولس میله په هغو شګو کې و، چې پاس یادې شوې. له دې مزل نه وروسته موږ سختې میداني سیمې ته ورسېدو، له هغې سره سم چې د شګو له غونډیو څخه پورې وتو، د لارې په سور او ارتوالي کې زموږ اوښان د دولسو یا پینځلسو په شمېر په یوه لیکه په حرکت کې وو او زموږ بهیر په زیاتې چټکتیا سره په تللو پیل وکړ. کاروان په ډېره چټکۍ سره د کلکې ځمکې پرمخ روان و. دا ځای تر شګلنو ځایونو په غوره توګه حېرانوونکی و. ددغې لارې په اوږدو کې موږ د بهاول خان له افرادو څخه یو تن ولید، چې خپله لار یې ورکه کړې وه. نوموړي سړي په هغو اوښانو پسې، چې د راجپوت لوټمارو خلکو تښتولي و، دوه ورځې تېرې کړې وې، چې د اوښانو د پله په پیدا کولو سره د اوښانو ځای ووینې، خو بې له نتیجې په بیدیا کې سرګردان و او د دوو ورځو راهیسې یې اوبه او ډوډۍ هم نه درلودل. ډېر ستړی او ناتوانه شوی و. موږ دی په اوښ سپور کړ او یو څه اوبه او ډوډۍ مو ورکړه، له تیارغونې څخه مخکې موږ د بهاول خان یو سلو پنځوس تنه عسکر، چې په اوښانو سپاره وو، ولیدل. بهاول خان د کابل د سلطنت د یوه ختیځ ایالت مشر او حکمران ګڼل کېده. په هر یوه اوښ باندې دوه تنه ټوپکوال (فتیله لرونکي ټوپک) سپاره وو. دوی راوړاندې شول او په دریو یا څلورو کرښو باندې د سلامۍ لپاره ودرېدل. د دوی اوښان د اسونو په څېر تر اداري لاندې راتلای شول. دا ډول اوښان ډېر ښکلي او حېرانوونکي وو او غوره بڼه یې درلوده. ددغه ټولي مشر یو پېر ور چې ارت کالي یې اغوستي وو، په کالیو کې یې د سروزرو تنۍ پورې او یوه لنډه ټوپۍ، چې تاج ته ورته وه، پر سر وه. نوموړي په یوه ښکلي، چابک، وړوکی او پاسته اوښ چې ځلېدونکی زین یې درلود او د جلب دواړه مزې یې له پزې سره وصل کېدل، سپور و. دده په خبرو باندې زما ملګري په ډېره سختۍ سره پوهېدل. ده موږ ته د اوبو د لېږدولو لپاره سل اوښان چمتو کړل، چې څلور سوه ژي یې له موجګور څخه بار کړي وو. دغه راز زموږ د څښاک لپاره ده څلور د ژېړو مرتبانونه له اوبو ډک کړي وو. په مرتبانو کې د خان مهر هم وهل شوی و. موږ له پوګول څخه شپږ ویشت میله لرې کمپونه ژرونه درول. موږ د هیپاسیس د مرتبانونو اوبه په ډېر خوند وڅښلې او له نورو خلکو سره مو په ډېره مینه لیدنه کتنه وکړه، نه یوازې له نورو خلکو سره یوځای کېدل، خوند ور وو، بلکې د نوې ځمکې لیدل هم ډېر په زړه پورې و.

د نومبر په دوه ویشتمه نېټه موږ د موجګور په لور دېرش میله واټن وواهه. له غرمې وروسته تودوخه ډېره زیاته وه، خو موږ په عادي ډول په لوڅ برېنډ میدان



Property of ACKU

بانديې واړول، څو خپلو ملګرو ته يو څه د څښاک اوبه او يو څه استراحت ورکړو. د ورځې په تېرېدو سره موږ ته له موجګور څخه د اوبو په سل ګونو ژي راورسېدل. په موجګور کې بهاول خان زموږ د استقبال لپاره يو شمېر افسران چمتو کړي وو. د مازيګر خوا ته زياتره کسان د يوه اوږده جهيل په ښکاره کېدو سره چې څو څو ټاپوګان هم پکې ښکاره کېدل، حيران شول خو څنګه چې ددغې سيمې له طبيعي بڼې سره زما ملګري اشنا نه وو، نو زياترو وويل، چې هغه جهيل دی. يواځې يوه ملګري دا حالت نه مانه، ځکه دا يواځې يوه غولوونکې اويا سترګې پټوونکې پديده وه، چې په فرانسوي کې ورته ميراژ او په پښتو کې ورته سراب وايي. ما داسې تصور وکړ، چې دا د اوبو بخار يوه نرۍ پرده ده، چې د هند په زياترو تودو سيمو کې ليدل کېدای شي، خو کله چې موږ ځمکې ته وکتل، نو ځمکه ډېره متينه، کلکه او وچه وه او د بخار د پيدا کېدو سبب نه ښکاره کېده. ددغه ميدان پرمخ بوټي شنه وو، چې په ټيټ او پوړک ډول په يوه او بل ځای کې په ګڼه توګه شنه شوي وو، ددغو بوټو په لړ کې سيانده يوه ښه نمونه ګڼل کېږي. په هغه برخه کې، چې دا وابښه او بوټي شنه دي، داسې معلومېږي چې ښايي اوبه وي. که دا منظره له منځني حد څخه تر پايه وکتل شي، د سراب بڼه په ټرليسې توګه ليدل کېږي.

زه ددې هڅه نه کوم، چې ددغې منظرې په هکله څه محاسبه وکړم او پوه شم، خو يواځې دا يادوم چې دا ډول منظرې په پرتو، وچو او خوارو او اوارو ځمکو کې ليدل کېدای شي. د لمر موقعيت او د کتونکي ترپيدل دغه غولوونکې بڼه (د مادي موجوديت نشتوالی) ښکاره کوي. په لومړي سر کې ما دا فکر وکړ، چې دلته به زياته تودوخه له دغې بڼې سره مله وي، خو وروسته مې هغه په دامان کې هم وليدله، چې د تودوخې اندازه تر انګلستان اوچته نه وه.

د لمر پرېوتو خوا ته موږ د موجګور لوړ دېوال او برجونه وليدل. د ښار د دروازې په مخ کې يوه ښايسته او لوړ جومات او يوه ګونبزه لرونکې مقبره ودان شوې وو. د مقبرې ګونبزه په رنګينو او ښکليو کاشيو سره جوړه او ماته وويل شول، چې د فارس د امام زاده ګانو ګونبزو ته ورته ده. له تيارغونې لږ څه وروسته دلته راورسېدلو او له کلا سره نږدې مو کمپونه ودرول. دا کلا ډېره کوچنۍ او کمزورې ښکاره کېدله. دلته د اوبو د اخيستلو لپاره دوه ورځې پاتې شو، د بهاول خان ديوان (ښايي نماينده وي. ژباړن) او يو بل افسر دواړه هندوان وو. دريم سړی د ملتان له ملايانو څخه و، چې ژبه، کالي او کړه وړه يې د فارسيانو په څېر وو او هندوانو هم په خپلو خبرو کې د فارسي اصطلاحات کارول او ديوان زياتره د يوه هندي په فارسي ملا په څېر په ځای ښکاره کېده. د نوامبر په پينځه ويشتمه نېټه له دغه ځای څخه وخوځېدلو او د بيا يا دوو څاګانو ته د رسېدو لپاره مو اووه ويشت



Property of ACKU

میله واټن وواهه. د لارې په اوږدو کې مو یو ستر میراژ (سراب) چې یوه جهیل او یا دریاب ته ورته و، ولید. په دغه لار کې مو یو ښکلی او کوچنی برج هم ولید، داسې وویل شول چ دا ځای د پناه وړونکیو لپاره جوړ شوی و، په تېره بیا هغه لاروي او مساپر خلک، چې له صحرايي لوتمارو څخه په ویره کې وي، نو هرومرو به دلته راتلل. په دغه سیمه کې ځینې وچ شوي بوټي د میموسا ارابیکا په نوم هم لیدل کېدل. د لارې په اوږدو کې ځینې شیان، چې ښايي ونې وي، هم کتل کېدای شول.

د نومبر په شپږ ویشتمه نېټه د ورځې له خوا وخوځېدو او د دولس میله واټن په اوږدو کې مو بیا هم د بیدیا وچ غولی، شګلنې او وچې غونډۍ تر شا پرېښودې، خو له دغه واټن وروسته داسې ځای ته ورسېدلو، چې په هغه کې د ونو په څېر ځینې شیان تر سترګو کېدل. کله چې لږ څه نږدې شو، د ونو په موجودیت باندې مو باور پیدا کړ. ورپسې موږ په ډېره چاپکۍ داسې ځای ته ځانونه ورسول، چې هلته بیدیا پای ته رسېدلې او کروندې پیل شوې. د شګو د خلاصېدو د کرښې په اوږدو کې قطارو ونې ولاړې وې، شاته یې سمسور پټي او باغونه ښکاره کېدل، د تازه اوبو ځاګانې او ځای په ځای کورونه تر شا وخوا راتاو شوي وو. دلته زراعتي ښه پرمختللې او خاورې ډېرې څرېې وې. له ټولو شیانو څخه مخکې مو یوه څا ولیدله، چې د پارسي څرخ په واسطه یې اوبه راایستلې. د راپورته شویو اوبو اندازه په هره ګړۍ کې ډېره زیاته وه. ددغه ځای ونې په تېره د ګز (یو ډول اوبښته) ونې ډېرې ښکلې او زړه وړونکې برېښېدلې. د پینځو اوونیو تر سفر وروسته موږ دغې ښاپسته او ابادې سیمې ته راغلو او ټول شیان موږ ته غوره ښکارېدل. په بهاولپور کې مو یو نیم میل تر ډېوالونو لاندې مزل وواهه او د لارو په اوږدو کې ګڼ شمېر خلک زموږ د ننداري لپاره په حیرانتیا ولاړ وو، له بلې خوا دوی ته موږ هم په تعجب سره کتل.

د بیدیا اوسېدونکیو او ددغو خلکو ترمنځ په عادت کې ډېر توپیر و، دا خلک په تنه قوي او تورېخن وېښتان یې درلودل. د دوی ږیرې اوږدې او د سر وېښتان یې لوی وو. په دې ډول دوی د بیدیا تر وګړیو ځیرږه معلومېدل. د لونګیو په ځای یې خولۍ په سر کړې وې. د دوی ژبه په بشپړه توګه د پوهېدلو لپاره چمتو نه و، آن زما هندوستاني ملګري هم وریاندې نه شول پوهېدای.

جامې یې ښکلې او د عاداتو له مخې پارسیانو ته ورته وو. له څو کوچنیو ویالو څخه تېر شو او د ورو کروندو په شاته پرېښېدلو سره د هیاسین غاړو ته ورسېدلو. ددغه دریاب سور او غاړو زه مایوس کړم، خو یوې ویالې ته چې د سکندر بېړۍ یې لېږدولې وې، بې له دلچسپۍ څخه کتل کېدلای نشوای.

یوه ورځ وروسته د هیئت د ښه راغلاست او درناوي لپاره بهاول خان له څلوېښت



Property of ACKU

میله لري ځای څخه راورسېد. په حقیقت کې له هغه ځایه چې موږ دده سرحد ته ورننوتلو، دده مینه او مهربانۍ له موږ څخه ونه سپمېدله او تر هغه وخته، چې دده له هېواد څخه بهر وتلو، په لطف کې یې بې حده ډېروالی هم رانغلو. دغه شان له پاملرنې څخه یې بې برخې هم نشو. دده مېلمه پالنه د هیبش والي ورو او د سند د دریاب تر غاړو پورې د هغه له خوا پرله پسې د مینې او پاملرنې څېر رارسېده، په نتیجه کې، ویلای شو چې دی د یوه ډېر خواخوږي، پوه او مدبر شخص په څېر له موږ سره په خپله سیمه کې وچلېد. په دې ډول، تر پایه یې خوشحاله وساتلو. په لومړي سر کې موږ هغه ته د سوغاتونو په برابرولو او ټاکلو پیل وکړ، په دې هیله چې دده د حرص په مقابل کې پرله پسې مبارزه وکړای شو او هغه ته ځواب ورکړو. دا کار موږ د هند په زیاترو برخو کې له شرایطو سره سم کړی و، خو په دې ژر پوه شو چې له یوه کړاو سره به هرومرو مخامخ شو. هغه دا چې بهاول خان له مذاکرې پرته د هیڅ شي اخیستلو ته تیار نه دی. دغه راز دی تر هغه سرحده په خپله خپلواکۍ او استقلال جدي ولاړ و، چې زموږ لپاره د تللو ور نه و. هغه ورځ چې دی راورسېد اتیا پسونه، سل بوجۍ اوړه او داسې نور خوراکي شیان یې موږ ته راواستول. بله ورځ نوموړي خان سل کاسې خوږې غوښې، د نارنجو یو زیات شمېر ټوکرۍ، لس کڅوړې بادام او ممیز او پینځه کڅوړې (امیانۍ) چې په هر یوه کې یې زر روپۍ (یو سلو شلو پونډو معادل) وې، چې پر خپلو مزدورانو یې ووېشم، راولېږل. د پالنې په دې وروستي عمل یې زه لږ تللای غوندې شوم، خو مجبور وم چې ویې منم، په دې شرط چې د خان نوکران له ما نه هم دغه رنګه یوه ډالۍ ومني.

د نوامبر په نهه ویشتمه نېټه مستر ستراچي او کپتان راپر له خان سره کتنه وکړه. دوی په ډېره خوښۍ له خان څخه راستانه شول او ښکاره یې کړه، چې له دوی څخه یې ښه استقبال وکړ. دغه شان زما دغو دوو تنو استازیو د خان له مېلمه پالنې او مودبانه وضعې څخه بې حده ستاینې کولې. دده په خبرو اترو کې تر ټولو غوره ټکی دا و، چې هغه د کابل د پاچا ډېر صفت او تعریف کاوه، خو ده ووېل چې هغه یې هیڅکله لیدلی نه دی. هغه د کابل له واورو څخه ډېره ښکاره کره او همدارنګه د بیابان د یوه اوسېدونکي په څېر یې خان دومره بې ارزښته ګاڼه، چې د هغه لوی واکمن (د کابل پاچا) سره د کتنې ورتیا نه لري.

د دسمبر په لومړۍ نېټه بهاول خان زما خېمې ته راغی. دی ډېر نرم مزاجه، د ورین تندي خاوند او مهربانه سړی و، عمر یې له پینځه څلوېښتو څخه تر پنځوسو کلو پورې اټکل کېده. هغه سپین کمیس، چې د سرو زرو غوټې (ټنې یا تورمې) یې درلودلې، اغوستی وو. د کمیس پرمخ یې څادر و، چې ګڼه ګلدوزي او زري بافت شوی و. دده پر سر د زرتاره ځولۍ وه، چې پر شا رخوا یې ورېښمینه لونګۍ



Property of ACKU

په کراری سره پېچل شوې وه. دده شپږ تنه سرې کېناستل او نور یې ولاړ وو. دغه ټوله ډله په ښاېسته جامو ښکلې شوې وه. زموږ خبرې د هند او انګلستان په شاوخوا کې وې او تر هغه وخته اوږدې شوې، چې خان وویل: ناوخته شوی دی.

د دسمبر په دویمه ورځ زه دده لیدنې ته لاړم. کوڅې او لارې په انتهایي درجه له خلکو ډکې وې، د خونو پر بامونو هم زیات شمېر نندارچیان زموږ لیدلو ته ولاړ وو. موږ د خلکو له منځه داسې تېر شو، چې لاره یې موږ ته خوشې کړې وه، د ډېرو خلکو د تعجب نښې مو ولیدلې، زیاترو په ډېره چوپتیا سره د هیښتیا په حال کې زموږ ننداره کوله. خان په ډېره ښکلې کوټه کې چې کمان ډوله کړکۍ یې درلودلې، په داسې حال کې موږ ومنلو چې یوه ډله خلک یې ګردچاپېره په پاکه پارسي غالۍ باندې په ښه ترتیب ناست وو. هغه له ټولو رعایاوو سره په آزاده توګه خبرې کولې. هغه وویل چې: «ما تراوسه پاچا لیدلی نه دی او که خدای کول هېڅکله به داسې ونه شي، زه صحرايي سړی یم او خوښ یم، چې تر پایه په دغه سیمه کې د هوسۍ ښکار وکړم او هیله من یم، چې په دریارو پسې ونه ګرځم.» خان ماته یو داسې عجیبه دیوالي ساعت وښود، چې ډېر ښه ښکلی جوړ شوی و، دا دده یوه تن رعیت جوړ کړی و. د ساعت د ماشین او ستنو لاندې زنګ لیدل کېده، دغه راز ساعت په یوه طلایي صندوق کې چې دواړه مخونه یې له پنډې شیشې څخه جوړ شوي وو، ایښودل شوی و او پکې ساتل کېده. همدا شان خان یو ښکلی ټوپک چې په بهاولپور کې جوړ شوی و، ماته وښود او ورپسې یې دوه ښکلي بازان، څو تازیان، دوه آسونه (یوه یې طلایي او بل یې جلا لرونکې کېزه درلودله) یوه ډېر ښکلی فتیله (پلته) لرونکی ټوپک، چې مینا لرونکی و او د باروتو (دارو) یو ګوډی هم ورسره و او څو د کالیو او ټوکرانو ډک پتنوسونه یې راکړل. دغه ټول سوغاتونه د بهاول خان د مېلمه پالنې په لړ کې شمېرل کېږي.

د دسمبر په څلورمه ورځ مو حرکت وکړ. بهاول خان د خدای پامانۍ د کتنې لپاره زموږ اړخ ته یوه خېمه راواستوله، په داسې ترڅ کې چې د کاروان وروستۍ برخه د هیپاسیس له دریاب څخه د تېرېدلو په حال کې وه. هغه یو تن میخانیک چې ساعت یې جوړ کړی و، هم ماته راوښود. دغه راز بهاول خان زه یو شمېر دیني پوهانو او علماوو (د محمدي مدرسې ښوونکیو) ته وروپېژندلم. وروسته له هغه دی له مستر ستراچي او ما سره له خیمې بهر په یوه غالۍ کېناست او هلته مو په بشپړه توګه پر زیاترو موضوعاتو خبرې وکړې. ده له خپل وس سره سم ماته ډېر معلومات او مشورې راکړلې. ده خپلې خبرې په دې پای ته ورسولې، چې هغه د خراسان لومړی فرد دی، چې له موږ سره یې ملاقات وکړ. بهاول خان هیله څرګنده کړه، چې د ده یادګار به د اشنایی د اوږدولو لپاره ساتو. موږ په ډېره خواشینۍ سره له ده څخه



Property of ACKU

بیل شو. دی یو ډېر آزاد طبیعته او مهربانه سړی و، چې زموږ د اقامت په وخت کې یې له رسمیاتو او مراسمو پرته ډېر نیک سلوک کاوه. ده مهربانه څېره درلوده او په هره وینا او څرګندونه کې یې د مینې او ملګرتیا نښې لیدل کېدلې. لنډه دا چې دده شخصیت ډېر اوچت و. د استوګنې په وخت کې موږ د بهاولپور د ښار شاوخوا ځایونه له نږدې ولیدل او د طبیعت د مناظرو ننداره مو کوله. د ښار محیط څلور میله او د دېوالونو په دننه کې د امو ګڼ باغونه لیدل کېدل. کورونه له اومو خښتو جوړ او خاورینې چوترې یې درلودلې. د ښار دېوالونه ډېر نري او له ختو جوړ شوي وو. بهاولپور د لونګیو، وریښمینو، کمربندونو او پټکیو د جوړولو له پلوه د یادونې وړ دی. ددغه ښار او شاوخوا ټول اوسېدونکي جتهان او بلوڅان دي، چې د محمدي دین پیروان ګڼل کېږي. په بهاولپور کې تر نورو ولایتونو زیات شمېر هندوان و، دا حال هیئت د خپلو تېرېدو په وخت کې ولید. افغانان دلته د خارجیانو په څېر مېشت وو. د هیپاسیس دریاب شاوخوا څلور یا پینځه میله ځمکه له خړو او ختو څخه جوړه شوې وه. له دې کبله ډېره څربه او پسته وه او په سپرلي سره له هغې نه تېرېدل ګران وو. ددغې ځمکې ځینې برخې ډېرې ښې کروندې درلودې، خو ځینې نورې برخې یې د ګز په ګڼو ونو پټې وې، چې په هغو کې نرخوګ، غرڅه، وحشي بتې (قاز)، جنګي مرغان لکه مړز، زرکې، فلوریکن او داسې نور ښکاري مرغان هم د سیند په غاړو کې ډېر دي. د هیپاسیس دریاب غاړې دلته ډېرې کږې وږې او د دریاب اوبه خړې دي، کله چې اوبه چاڼ او صافې شي، نو خوند یې ډېر شي. په دغه ځای کې دا دریاب ګارا بلل کېږي او د دوو ښاخو (یعنې هیپاسیس یا بیاس او هیسودریوس یا ستلج) له ګډېدو څخه منځ ته راغلی دی.

هیئت د دسمبر په پینځمه نېټه د هیپاسیس دریاب له ښۍ غاړې څخه وخوځېد او ددغې میاشتې په یوولسمه نېټه د اویا میله واټن تر وهلو وروسته ملتان ته ورسېدو. ددغې لارې په لومړیو پینځو یا شپږو میلو کې بیا هم ځمکې وچې، شګلنې او خوارې برېښېدلې. بوټي لږ او په تیټ او پرک ډول ښکاره کېدل. وروسته سملاسي د غونډیو په لمنو او شاوخوا کې بې شمېره ښایسته پټي ولیدل شول، چې غنم، پنبه او تیپر (منګرېټې) په ډېره مستۍ پکې شنه شوي وو. دلته یو زیات شمېر لویې او ژورې ویالې په پرله پسې توګه زموږ مخې ته راتللې او ددغه سفر په ټول واټن کې له دغه شان کروندو او لویو ویالو سره مخامخ کېدلو. له دې امله داسې ویل کېدای شي، چې دا سیمه ډېره پخه زراعتي بڼه لري. مخکې له دې، چې ملتان ته ورسېږو، د بهاول خان له خوا پینځه ویشت اوښان زموږ د مرستې لپاره راواستول شول. دغه مشر د خپلو اوښانو له لامله ډېر نامتو و، ځینې یې د خپلې استفادې لپاره ساتل او تل به یې په ښکار کې له ځان سره دغه اوښان درلودل. اوښان په

Property of ACKU

صحرایي سیمو کې په عمومي توګه ډېر په کارېږي. په تېره بیا په اوږدو سفرونو کې د ښې یادونې وړ شمېرل کېدای شي. د بیکانیر د راجا یو مشر وزیر، چې ما ورسره سینګانا کې وکتل، همدغه وخت کې له بیکانیر څخه (د یو سل و پنځه اویا میلو په یوه واټن) په اوښ باندې په درېو ورځو کې راغلی و. زما ملګرو د اوښانو له سورلۍ سره ډېره مینه درلودله، په تېره بیا له اندوس څخه د اوښتلو په وخت کې د هیئت ملګري د ساعت تېرې لپاره هم په اوښانو سپرېدل. د اوښانو سپرلۍ او څغاسته هېڅکله رېړوونکې او ناوړه نه برېښېدله. د ملتان ښار یا آسیسسن سیند په کینه غاړه کې څلور میله لیرې پروت دی. ددغه ښار محیط له څلور نیمو میلو څخه زیات اندازه کېدای شو. له ښار څخه ګرد چاپېره یو ښکلی دېوال، چې څلوېښت او پنځوس فوټه جګوالی یې درلود، راتاو شوی و او د یوې ټاکلې فاصلې نه وروسته یې برجونه درلودل. په دغه ښار کې په یوه جګ ځای باندې یوه نظامي کلا (چونۍ) او څو ښکلې مقبرې جوړې وې، په تېره بیا دوه مقبرې یې چې د جګو ګونبزو لرونکې او ښایسته مزین شوې وې، د یادونې وړ دي. د ګونبزو خښتې هم ډېرې ښکلې او ځلانده برېښېدلې، له دې امله له لیرې څخه یې یوه برېښنده ښه تیولې وه. ملتان د خپلو وربښمو او غالیو له پلوه ډېر نامتو دی، خو که غالۍ یې له فارسي غالیو سره پرتله کړو، نو کیفیت یې دویمې درجې ته راټیټېږي. د ملتان تر شاوخوا سیمه او هېواد ډېره سمسوره وه او ډېرې خاورې یې لرلې. کروندې د ځاګانو په وسیله ښې اوبه کېدلې. د ملتان خلک د بهاولپور وګړیو ته ورته وو، یوازې دومره توپیر موجود و، چې په دغه ځای کې زیاتره داوینه داسې برېښېدل لکه چې له فارسیانو سره یې اختلاط کړی وي، سره له دې هم جلاوالی یې په منځ کې موجود او زیاتره د اسانو سوارکاران وو. هیئت نولس ورځې په ملتان کې پاتې شو. زما ملګري به هره ورځ د ملتان په شاوخوا کې د ښکار لپاره له اوو یا اتو بجو څخه تر درېو یا څلورو بجو پورې په ویشتلو. ښکار یا د بازونو د ښکار لپاره وتل. نو په دې ډول موږ ته ددغې سیمې د کتلو او مشاهدې ډېر ښه چانس په لاس راغلی و. د ملتان ځمکه هواره او خاوره یې ډېره ښه وه، خو زیاتره کلي او یا د کلیو ډېره برخه ویجاړه او د کنډوالو په څېر وه. دغه راز ددغې سمسورې او پراخې زراعتي سیمې د خرابېدو ځینې نورې نښې هم لیدل کېدلې. سره له دې هم ددغې ځمکې نیمایي برخه تراوسه پورې کرل کېدله او د اوبو لګولو غوره وسیله یې فارسي څرخونه (ارټ) ګڼل کېدل. د ملتان زراعتي تولیدات غنم، ارزن (ږدن)، پنبه (مالوچ)، تیپر، ګازرې او نیل وو (یو ډول بوټی چې نیلي رنګ ځینې باسي. ژباړن) دغه راز دلته نیم

Property of ACKU

(Neem[1]) او خرما ونې د پیپل (Peepul[2]) له ونو سره هغې او دغې خوا ته لیدل کېدلې.

د دریاب د غاړې غیر زراعتي ځمکه د تامارسک Tamarisk (غز) په ګڼو ونو پټه شوې وه. ددغو ونو په منځ کې ولې (د شلو فوټو په جګوالي) هم ځای په ځای ولاړې وې. د دریاب له غاړې څخه لږ څه لیرې لوڅه ځمکه نظر ته راتله، چې په تیټ او پرک ډول بوټي په تېره بیا اوږده غوټه غوټه (ګېډۍ ګېډۍ) واښه او یو څه د خرما ونې خورې شوې وې. د جنګي مرغانو بېل بېل ډولونه پیدا کېدل. زموږ د استوګنې په وخت کې د ملتان هوا ډېره په زړه پورې وه، د لمر ختلو پر مهال د تودوخې ډېره کښته درجه ۲۸ وه، د شپې به پرخه اورېدله، خو د ورځې هم څه ناڅه توده وه.

موږ په دې ډول په ملتان کې د اوږدې مودې لپاره د اوښانو د پېرودلو او کراکولو د ضرورت له کبله او .... دغه راز مو دلته د کابل د پاچا مېلمه پال[3] په هیله او هم د پاچا په هکله د معلوماتو د پیدا کولو لپاره زیاتې ورځې تېرې کړې. مېلمه پال ددې لپاره استول کېده، چې موږ د افغاني قبیلو سیمو ته تر ننوتلو وروسته بدرګه کړي. همدا شان په ملتان کې مو له هندوستان څخه راوستلي اوښان له ملتاني اوښانو سره بدل کړل. د سپاهیانو لپاره د تودو جامو چمتو کول او د هیئت د زیات شمېر ملګرو لپاره د اسانو رانیول بل فعالیت و، چې ددغې سیمې له عادت سره سم مو ترسره کړ.

زموږ د تم کېدو د وخت لویه پېښه ددې ولایت له ګورنر سره زموږ کتنه وه. ددغه نامتو حکمران نوم سرفراز خان و، څرنګه چې د هند په سیمه کې یې حکومت و، د نواب لقب یې درلود. دی په خټه د سدوزیو د شاهي قبیلې په افغاني کورنۍ پورې تړلی و، خو پلرونه یې ډېر پخوا په ملتان کې مېشت او خپل آري مشخصات یې په زیاته اندازه له لاسه ورکړي وو. دی د هیئت په رسېدو سره زښت زیات اندېښمن شو او ددغه خبر په اورېدو یې د بې باورۍ او بدګومانۍ حالت غوره کړ. له دې امله یې د ښار دروازې زموږ په مخ وتړلې او هیڅ یوه سړي او یا زما بدرګه والو ته د ننوتلو اجازه نه وه، خو په هغه صورت کې چې چا به اجازه نامه ښکاره کړه، نو ښار ته یې د ننوتلو امکان درلود. دغه راز هغه د خپل ګارډ یا محافظینو شمېر دوه واره زیات کړ او موږ له یوې کره منبع څخه واورېدل، چې دده په دربار کې جرګه والو په دې ټکي

Property of ACKU

[1] Melia Azadarchta
[2] Ficus Religiosa
[3] هغه افسر او منصبدار چې پاچا به له خپلې خوا نه د مېلمه د ښه راغلاست لپاره لېږه، په تېره د هغه مېلمه لپاره چې شاه به د زیاتې پاملرنې غوښتنه ورته کوله

بانـدې چې هیئت بـه بـښار د ګـڼوړی لـور تـه وهڅوي او یـا بـه لـه پاچـا نـه ددې ځـای پرېښودل خپـل ځـان تـه وغـواړو. ډېرې خبرې اترې وکړې. سره لـه دې هـم سرفراز خـان موافقـه وکړه، چې د دسمبر پـه پېنځلسمه نېټـه لـه مـا سره وګوري. لـه دې املـه مـا یـوه ستره خېمـه دده د بدرګۍ لپـاره ودرولـه. د خیمې یـو لوری خـلاص و او د تنوتلو لـه ځـای څخـه د شلو ګـزو پـه اوږدوالـي دوه نرې ټوکران د خیمې پـه مخ کـې وغـوړول شـول او پـه دواړو غـاړو یـې یـو شـمېر چپړاسیـان، چـې ځـانګړې کـالي یـې اغوستـي وو، ودرېـدل. ددغـې ډلـې د لیکـې تـر شـا نـور کـارکوونکـي هـم ولاړ وو. پـه دې ډول د مېلمنـو ننوتلو لپـاره د خیمې تـر خولـې پـورې یـو شـل متـرې دالان جوړ شـو. د خیمې پـه لـور غځېدلي سـړک بانـدې هـم د عـسکرو لیکـه ولاړه وه. مـسټر سټـراچي د ملتـان والـي (سـرفراز خـان) د ښـه راغـلاسـت لپـاره لاړ او ویـې لیـدل، چـې نوموړی پـه یـو سـپین آس بانـدې چې د سرو زرو لومونې (یراق) یـې درلـودل، سپـور او افـسران او درباریـان یـې پـه اړخ کـې لـه سـترو بېرغـونـو سره لیـدل کېـدل. لـه ده سـره دوه سـوه سـواره او درې زره پلـي عـسکر هـم بدرګـه وو، د ښـه راغـلاسـت او ملاقـات ګڼې ګـوڼې او د کتنې بې نظمـۍ د مـسټر سټـراچي لـه خـوا لـه هرڅـه څخـه د زیـاتې یـادونې وړ دي. ګـورنر سټـراچي تـه لـه فـارسي دستـور سره سـم هرکلی ووایـه. دوی دواړه یوځـای د خیمې لـور تـه راروان شـول. کلـه چـې دوی خیمـې تـه نـږدې راورسېـدل، نـو ګڼـه ګـوڼـه، فـشار او بـې نظمـي زیـاتـه شـوه. پـه ځینـو برخـو کـې د افـرادو تـرمنځ اخ و ډب وشـو او د یـوه بـل مخـې تـه ودرېـدل. پـه بـل ځـای کـې سپـاره لانـدې ولوېـدل. مـسټر سټـراچي هـم نـږدې و، چـې ځمکـې تـه ګـوزار شـي، خـو پـه ربړ او خـوارۍ یـې ځـان ټینـګ کـړ. کلـه چـې دوی د خیمې شـاوخوا تـه ورانـدې راغـلـل، نـو لاره یـې ورکـه کـړه او د سپـرو د کرښـې منـځ تـه یـې پـه داسـې ګـړنـدیتـوب ورودانګـل، چـې د بېرتـه ستـنېـدلـو تـوان یـې نـه درلـود، ځکـه چـې د تیـارېـدو لاره ورکـه شـوه، نـو پـه دې ډول د خیمې د پـه لـور د خلکـو څپـه وخوځېـدلـه او د چپـړاسیـانـو ډلـه تیـت او پـرک شـوه، پـښـې پـاکـوونکـي غوړېـدلـي ټوکران څیـرې او تـر پـښو لانـدې شـول. د خېمې پـرې د زیـات شـدت لـه مخـې بـې ځـایـه شـول او نـږدې وو، چـې ټولـه خېمـه زمـوږ پـه سر راولوېږي.

د خیمې پـه دننـه کـې ازدحـام دومره زیـات شـو، چـې سملاسـي یـې تیـاره جوړه کـړه. والـي او دده لـس تنـه ملګري کېناسـتل، پـاتې کسـان وسلـه وال افـراد وو، ګـورنر دا ډلـه د خپـل ګـارډ پـه څېـر ټـاکلي وه او بـل هـدف یـې نـه درلـود. والـي د لنـډې مـودې لپـاره کېناسـت، خـو پـه دغـه وخـت کـې یـې پـه ډېره بیړه تـسبیح (تـسپې) اړولې او مـاتـه یـو یـې څـو ځلـه د (ښـه راغـلاسـت، ډېر ښـه راغـلاسـت) کلمې تـر هغـه حده تکرار کړلې، چې څو یـې کولای شـول. پـه پـای کـې یـې دا ووېـل، چـې ګڼې ګـوڼې دا ویـره پیـدا کـوله، چـې زحمت او کړاو رامنـځ تـه کـړي. لـه دغـې څرګنـدونې وروسـتـه هغـه بېرتـه ستـون شـو.



Property of ACKU

سرفراز خان ډېر ښاپسته ځوان سړی و، هغه فارسي ډوله کالي اغوستي وو، پر سر یې خولۍ او د خولۍ په شاوخوا یې د شال لونګۍ تاو کړې وه، ده په روانه فارسي خبرې کولې.

دده ملګري تندرست، ښکلي او د کتنې وړ افغانان وو، چې اکثرو یې ښې جامې اغوستې وې، خو د دوی په لباس کې کوم تنظیم او ترتیب نه لیدل کېده. په همدغه مازیګر زه هم د والي کتنې ته ورغلم، دی په خپل یوه باغ کې د سترې چترۍ لاندې په یوه چوتره (تیراس) کې ناست وو.

دده شاوخوا کې یوه ستره ډله په ښه نظم سره ناسته وه، د دوی په ځیرو کې تر هندي آري اوسېدونکیو بېل ځرګندېدل، خو د فارسیانو په شان په فاخره جامو پټ نه وو، سینګاري یې نه درلود. نوباب Nobab (ښایي نواب وي. ژباړن) (سرفراز خان) اوس له هر ډول خطري ځخه خلاص او اجتماعي و او په زیاترو برخو کې منونکی برېښېده. کوم وخت چې موږ په ملتان او د ملتان په ګاونډیو سیمو کې وو، له ما سره پاچا د هرکاره، باشي، مرستیال ملا جعفر سیستاني یا خبریال او نورو زیاتو کسانو کتنې کولې. له یوه تن سره زما معامله د ملتان د دربار د مشخصاتو د ځرګندولو لپاره غوره ده، چې یاده شي. د نواب تره سکندر خان یوه ورځ زما له کمپ سره نږدې ښکار کاوه، احوال یې راولېږه، چې ده درې نرخوګان په لومه کې بند کړي او هیله یې ځرګنده کړه، چې زه هم په دغه ښکار کې برخه واخلم. ما دا غوره وګڼله، چې معذرت وړاندې کړم. خو یو محلي ځوان (آري اوسېدونکي) مې له یوه مودبانه پیغام یو ځه باروتو (د ټوپک دارو) او یو دوربین سره هغه ته واستاوه. په بدل کې سکندر خان یو بې ساری آس او یو ښکار شوی نرخوګ زما په ویاړ راولېږل. له دې امله هر ځه سم وو، خو دوه ورځې وروسته سکندر خان زما سوغات بېرته راواستاوه او هیله یې وکړه، چې دده آس بېرته ولېږم چې ده ته له انګرېزانو سره د معاملې د تور له کبله د بند یا د اعدام خطر و.

د دسمبر په شپاړسمه نېټه موږ د آسیسین چې دلته چناب بلل کېده، غاړو ته وخوځېدلو (مخکې له دې چې دا دریاب دلته راورسېږي، د هایداسیس او هایدراوتس اوبه له ځان سره راوړي) موږ د دسمبر په یوویشتمه نېټه له دریاب ځخه واوښتو (زموږ بارونه څو ورځې له موږ ځخه مخکې واړول شول). له دغه میدان ځخه موږ لومړی ځل د افغانستان غرونه ولیدل، دا غرونه لویدیځ خوا ته په ډېره فاصله سره لیدل کېدل او هرومرو د سلیمان د غرونو یوه برخه یې جوړوله، چې د غرونو دا لړۍ د ډیره غازي خان په شمال لویدیځ کې له ملتان ځخه اویا اویا اتیا میله لرې پراته وو. بالاخره موږ خپل د اړتیا وړ وسایل بشپړ کړل، د کندهار په لور د سفر د کړاوو په هکله مو یو شمېر پلانونه جوړ کړل، خو په دغه وخت کې مو

Property of ACKU

واوریدل، چې شاه د کابل په لور روان شوی دی. له دې امله موږ خپل مزل او تګ لاره د دسمبر په ۲۹ نېټه بیا ونیول او له یوې ورځې بیدیا ځخه په تېرېدلو پیل وکړ. دغه بیدیا له شماله تر سویل پورې ۲۵ میله اوږده وه، خو سور یې په دغه ځای کې دومره لږ و، چې په دوو مزلو کې ترې پورې وتو. له بلې خوا له شمال ځخه د سویل خوا ته یې پېچومی درلود. دا هم باید ووایو، چې دغې بیدیا د اندس او هایداسیس دریاب ترمنځ هېواد هغه برخې ټولې پټې کړې وې، چې ددغو سیندو اوبو خړوبولای نه شوې. دا بیدیا د اوچ (Ooch*) له عرض البلد ځخه چې پکې د دواړو دریابونو خړوبې شوې ځمکې سره یوځای کېږي، پیل او د مالګې تر غرو پورې خوره شوې ده. د خړوبې شوې ځمکې خاوره داسې برېښېدله، چې له بیدیا ځخه د سیندو او د هغو د ځریو غاړو په وسیله رابېله شوې وي، موږ دغې سیمې ته چې د آسیسین دریاب لوېدیځ خوا ته په ځو میلې کې پرته وه، ورننوتلو، د بیدیا او زراعتي ځمکې ترمنځ پېلوونکې کرښه په ښکاره توګه لیدل کېدله. زموږ په شاوخوا کې شګلنې غونډۍ او کوچني بوټي (Burs او Phoke) خواره وو. دا ډول نباتات هم په زیاته اندازه نه وو ان زموږ د څارویو د اړتیا خوراک یې هم چمتو کولای نشو.

ددغه ځای غونډۍ د بیدیا تر غونډیو ټیټې وې، خو رنګ یې خړ وو. داسې چې صحرايي غونډۍ سور وزمه ژیړې برېښېدلې، ددغې سیمې اوبه هم مالګینې غونډې وې، په دویم مارش کې موږ د سیند دریاب (اندس) خړوب شویو ځمکو ته ورسېدو او د دسمبر د یو دېرشمې ورځې په سهار مهال، مستر ستراچې او بریډمن مکارتنې درې واړو ددغه نامتو سیند د غاړو لیدل پیل کړ. له موږ سره په اوښ سپور یو لارښود (ژباړن)، ځو تنه سپاهیان او درې یا ځلور تنه مزدوران، چې په اوښانو او آسانو سپاره وو، مل شول.

موږ له یوې ځړې ځمکې او خاورې تېر شو، چې په هغې کې اوږده واښه او یو ډول ونې چې ولو (بید) ته ورته وې، په ښه شان لیدل کېدلې. دغه راز دلته ځای په ځای کروندې او پټې معلومېدل، چې د سیمې سمسورتیا یې لا پسې زیاتوله. ورځ خړه پړه او آسمان له وریځو ډک و، کله کله د باران ځاځکي ورېدل، تر غرمې وروسته شېبو پورې یو تند او سوړ باد چلېده. د ټولې لارې په اوږدو کې غونډۍ په ښکاره توګه لیدل کېدلې، طبیعت ښکلې بڼه نیولې وه، له لیرې ځخه مو درې لړۍ غرونه ستر ګو ته راتلل، وروستۍ لړۍ چې ډېره جګه وه، ډېر ځله د وریځې له لامله

* اوچ Ooch یوځای دی او هغه عرض البلد چې له دغه ځای ځخه تېرېږي، د اوچ عرض البلد په نامه یادېږي. ژباړن



Property of ACKU

په دې شک کې ولوېدو، چې آیا دا جګوالی په رښتیا غرونه دي او که وریځې؟ کله مو چې غونډیو ته کتل د وریځو غتې غونډارې یې پرمخ راغلې او شمالي خواوې یې زموږ له سترګو پټې کړې. لویدیځ خوا ته د غونډیو منځنۍ برخې وریځو نیولې وې، په دې ډول څوکې او تل یې په ښه شان لیدل کېدل. بله ورځ وریځې تېرې شوې او هوا صافه وه، د غرونو او غونډیو سرونه سپینو واورو پټ کړي وو. کله چې سیند ته نږدې راورسېدو، نو ډېر خوشحاله شو، خو چې غاړو ته یې نږدې شو، دومره زیاته اغېزه یې راباندې ونه کړه.

اندس د خپل مشهور نوم او د هغه زړه راښکون په څنګ کې، چې له دې کبله یې پیدا کوي، چې د هند سرحدي کرښه یې جوړه کړې ده، په ځانګړي ډول او هم د هغو لوړو غونډیو له کبله، چې ددې ځای د شا انځور یې جوړاوه، ډېر پرتمین و. سره له دې هم ددغه انځور په لیدلو سره یو څه خواشیني شو، هغه دا چې د سیند په منځ کې یوه غونډۍ داسې پرته وه، چې اوبه یې په دوو برخو وېشلې، نو له دې لامله د اوبو د جریان اغېزه یې خرابه کړې وه. زموږ د درېدو له ځای سره نږدې په سیند کې نورې غونډۍ او د شګو موړې هم ځرګندېدلې. د سیند اوبه تر څوکو او ژېو رسېدلې وې او په ډېر ژوروالي او مستۍ سره روانې وې. د سیند په غاړه مو له یوه آري وګړي (د سیمې اصلي اوسېدونکي) سره خبرې اترې وکړې. زموږ ژباړن له دغه سړي سره مفاهمه پیل کړه. د دوی خبرې موږ ته ډېرې عجیبه وې او په ډېره دلچسپۍ سره مو واورېدلې. د سیند پورې غاړې ځمکې بلوڅي خلکو د استوګنې لپاره غوره کړې وې. په داسې حال کې چې نږدې غرونه د یوې زړورې قبیلې، چې شیرواني نومېدل، د استوګنې لپاره ټاکلي وو. د غرونو په یوه بله څنډه کې ځینې خلک او کلي وو، چې موږ یې له نامه سره بلد نه وو او یوازې د نقشې له مخې مو ورسره اشنایي درلوده. ترجمان هم په دې اړه کومه پېژند ګلوي نه درلودله. هغه څه چې موږ درک کړل دا وو چې له غرو څخه هغې خوا ته ځینې عجیبه وحشي او نوي شیان شته، هیله مو وکړه چې یوه ورځ یې لیدنې ته لاړ شو او په هغو کې پلټنه وکړو او خپل معلومات بشپړ کړو.

د لومړي ځل لپاره موږ اندس له اودو داکوت (Oodoo da Kote) څخه ولید. له دغه ځای څخه د کاهیري Kaheree تر ګودره پېنځه او یا میله واټن و، چې د سیند او بیدیا ترمنځ یې بېلوونکې کرښه جوړوله. د ښکار په وخت کې به کله چې د سړک لویدیځ لور ته ولاړ وو، نو د سیند څنډو، ښاخونو او لندو شګو د غزونو او یا ډیلو (نیزاریانې) په ګډون تګ لږ څه له خنډ سره مخامخ کاوه. کله چې به ښي خوا ته ولاړ و، نو شګلنو غونډیو وار په وار زموږ وېره له بیدیا څخه زیاتوله، نو فکر مو کاوه چې بیا بیدیا ته ننوتلو، سره له دې هم په دغه برخه کې په ډېر زیار سره زراعتي



Property of ACKU

ځمکې چمتو شوې وې، چې په هغو کې ډېر ښه غنم، اوریشې، منګړیتې (شلغم) او پنبه (مالوچ) لیدل کېدل. د پټیو په ګردچاپېر کې د بوټو او یا د ولو (بید) د ښاخونو یوه کتاره تاوه شوې وه. دغه راز کله کله د کلکو پوزیو په واسطه پټي چارچاپېره بند بدل. ددغې سیمې کورونه له پورتنیو موادو څخه جوړ شوي تر نظر راتلل. د کروندو تر اړخ موږ د کرنې د ځایونو د پاکوالي په لیدلو چې د هندوستان پرخلاف ډېر پاک وو، هک پک او اریان پاتې شو. دغه ځایونه په ډېره منظمه توګه چاپېره (احاطه) شوي او په هر یوه کې داسې دروازې کېنول شوې وې، چې هره یوه یې له دریو څلورو لرګو یا میلو څخه جوړه شوې وه. په دغه راز محوطه کې د سرو ډېران (انبار)، د څارویو لپاره یې سیوري او داسې نور شیان موجود وو. د لاسي زمبیلونو لیدل او څارویو ته منګریتې ورکول زموږ لپاره نوي شیان وو، چې مو ولیدل. د سیند د غاړې ودانیو زموږ پاملرنه ځانته واړوله. دا ډول کورونه د کلکو ستنو (متهو) یا (پایو) پر سر له ځمکې دوولس یا پېنځلس فوټه جګ جوړ شوي وو، داسې راته وویل شول چې دا کورونه ددې لپاره جګ اباد شوي، چې د سیند د اوبو د لوړېدو (طغیان) له لامله خلکو ته په هغه وخت کې پناه ورکړي، چې اوبه په دواړو غاړو کې لس یا دولس کاسه (Coss) (کروه) (شل یا څلورویشت میله) ځمکه لاندې کوي.

ددغې سیمې خلک ډېر مدني او د ښو کړو وړو خښتن وو، د دوی څېرې د ملتان او بهاولپور تر خلکو ډېرې ښکلې او ارامې برېښېدلې، هر څومره چې د شمال خوا ته تلو، نو په هماغه اندازه د وګړو بڼې او طبیعي جوړښت د اصلاح خوا ته نږدې کېده، څو چې ګودز ته ورسېدو. د وګړیو کالي ډېر سم او ښکلي وو ان د سهیل خوا ته هم خلکو سپین او یا شنه نخي او زده کالي اغوستي وو. د بلوڅ قومه برخه یې لوڅه نه برېښېدله، دوی د ږیرې او د ښه عادت او درنښت له پلوه د هغه د مولویانو په څېر څرګندېدل. دلته خلکو نسواري خړ وزمه کرتی، چې له وړیو جوړې او ښه جنسیت یې نه درلود، اغوستي وې او شمالي لوري کې دا ډول جامې ډېر عمومیت لري. هلته ټولو خلکو رنګ لرونکې جامې، نیلي، سرې او یا چارخانه جامې اغوستلې. د لونګیو په ځای یې وریښمینې خولۍ په سر وې، چې دا ډول خولۍ د ویلزي ټوپیو څخه لیرې نه وې او دومره ښایسته نه معلومېدلې. زموږ تم ځایونه زیاتره په سترو کلیو کې وو، ددغو کلیو په لړ کې یو هم د لیا Leia په نامه بلل کېده، چې دا نوم یوه ولایت ته هم ورکړل شوی و. دا کلی په خواره ځمکه کې آباد شوی او پېنځه سوه کورونه یې درلودل. په هر یوه کلي کې زیارتونه د هماغو زیارتونو غوندې وو، چې پخوا مو لیدلي وو. په دغه لړ کې تر ټولو ښکلی زیارت د محمد راجان زیارت د یادونې وړ دی. دا زیارت په هغه کلي کې دی، چې په همدغه نامه یادېږي. دا زیات

Property of ACKU

په اته څنډیزه توګه څلور پوړیز ودان شوی او په مخ یې ښکلې او رنګینې خښتې لګول شوې دي.

د لومړي پوړ په هره یوه څنډه او کونج کې یو برج او په سر یې منار جوړ شوی او ډېره په زړه پورې بڼه یې نیولې ده. دغه زیارت ډېر نامتو او د کتنې وړ شیان لري، چې په پرله پسې توګه لیدل کېږي.

دغه راز زه باید هغه جګه غاړه یاده کړم، چې د لیا له شمالي پړاو نه تر ګودره پورې زموږ د لارې په ښي لوري غځېدلې وه. داسې ویل کېدل، چې دا غاړه یو وخت د سیند ختیزه غاړه وه او ددې ځای څرګنده بڼه له دې څرګندونې سره سمون ښيي. په لیا کې له ما سره دوه دراني سپاره مل شول او دا لومړی وار و، چې ما ته ددغې کتنې موقع په لاس راغله. دوی دواړه د سیمې د ګورنر (والي) له خوا رااستول شوي وو، څو ما خپلې منطقې ته بدرګه کړي. دغو کسانو اوږدې بې لستونو کرتۍ چې څنډې یې چرمي وې، اغوستې وې، یو تن یې ډېر ښاپسته او جګه پوزه یې درلوده، ځیره یې په عمومي توګه ډېره په زړه پورې وه. دویم ملګری یې په رنګ تور او ځیږه بڼه یې درلوده، ددغه سړي پر سر د قره قلۍ خولۍ. د فارسیانو په دود لیدل کېدله، خو د فارسیانو په پرتله لږه ټیټه وه. په داسې حال کې چې لومړي تن د یوې خولۍ په سر وریښمینه لونګۍ پېچلې وه. دواړه سړي ډېر مدني او د جدي پاملرنې خاوندان وو. دغه راز ما په لیا کې د شاه یو فارسي ملګری او یو ځوان هندو، چې د مدد خان دیوان وروړ و، ولیده. دغه هندو سره له دې چې د افغانانو په څېر کالي یې اغوستي وو، خو خپل اصلي علایم یې هم ساتلي وو. د دغو خبرو په لړ کې ما ته دا ډېره په زړه پورې وه، چې دغو خلکو د حکومت او داخلي شخړو په هکله ډېرې ازادې او ښکاره خبرې کولې. ددغو خلکو په څنګ کې چې په ښار کې مو ورسره لیدنه وکړه، ځینې نور خلک زموږ کتنې لپاره ډېر لېوال وو او موږ ته دا موقع په لاس راغله، چې له دغو وګړیو سره وګورو او د دوی په هکله څو ټکي څرګند کړو. ځینې وخت زموږ سره د تګ په لار کې یو شمېر خلک په تېره بیا ځینې سپاره مله کېدل. یا دا چې له کلي څخه به دوه یا درې تنه زموږ د لیدنې لپاره راځوځېدل. دا کسان زیاتره په اسپه سپاره او بیهانې په یې تر شاه ځغاست، اوږدې نیزې به هم ورسره وې.

دوی ډېر مدني برېښېدل، زموږ د لیدلو نه خلکو ته په ذهن کې عجیبه خیالات پیدا کېدل، دوی زموږ د دین او ملت په هکله معلومات نه درلودل، موږ یې کله سیدان، کله مغول او ان هندوان ګڼلو.

ځینو خلکو داسې باور درلود، چې له موږ سره په بکسونو کې ستر ټوپک شته او یا دا چې دوی تصور کاوه، چې موږ یو ډول ځانګړي کوچني صندوقونه لرو، چې

Property of ACKU

کولای شو دغه صندوقونه منفلق او د هر یوه په وسیله نیمایي ډله خلک بې له دې، چې موږ ژوبل شو، ووژنو. ځینو نورو فکر کاوه، چې موږ مړه شیان ژوندي کولای شو. په بله وینا بې سا موجوداتو ته سا پوکولای شو. په ولس کې داسې کیسې جاري وې، چې موږ په ملتان کې د لرګي یو پسه ته سا ورکړې او ژوندی کړی مو دی، وریسې دغه پسه مو په یو سړي خرڅ او پېړودونکی تر هغه وخته، چې د پسه خوړلو ته یې اقدام کړی نه و، نه پوهېده چې ربښتیا پسه له لرګیو جوړ دی او که له غوښې څخه؟ خو کله چې د غوښې خوړلو ته یې رجوع وکړه، نو پوه شو چې د پسه اصلي مواد څه شي دي؟.

د اندس له ګودر سره مو د سکانو یوه ډله سوداګر ولیدل، چې دامان ته د یو ډول طبي بوټو مدر (Madder) د رانیولو لپاره تللي وو. دغو سکانو د افغاني قبایلو په اړه وویل، چې دا خلک په مسافرو باندې مهربان دي او په خپلو کړو وړو کې ډېر پاک او سپېڅلي دي، خو ددغو قبیلو په لړ کې وزیر یو څه ساده او بې رحمه وګړي دي او له نورو څخه توپیر لري.

د جنوري په اوومه نېټه د کاهیري په ګودر کې له اندس څخه واوښتلو. د اندس اصلي بهیر او اوبه یو زر اولس ګزه پلنې بهېدلې، خو له دغه اصلي جریان څخه څو ښاخونه بېل او له هغو څخه یو یې په دوه سوه پنځوس ګزه پلنه ځمکې کې بهېده. له دریاب څخه په یوه پلنه او سورووره بېړۍ کې، چې د نښتر له لرګیو څخه جوړه وه، تېر شو. ددغې بېړۍ ظرفیت له دېرش څخه تر څلوېښتو ټنو (Tons) پورې رسېدلای شو. زموږ اوښان ګونډه کړی شول (څلور واړه پښې یې کټ وتړل) او د نورو مالو په څېر مو بېړۍ ته وغورځول. آسونه مو هم په بېړۍ کې پورې وېستل، یوائې هاتیان پخپله په اوبو کې لاهو او د لامبو په وسیله یې خپل ځانونه پورې غاړې ته ورسول، چې د دوی ګډېدل په اوبو کې مې د سند د خلکو د هیښتیا سبب شول، ځکه امکان لري، چې ددغه ځای خلکو دمخه فیلان په ستر ګو لیدلي نه وي. له ګودر څخه تر ډېره اسماعیل خان پورې پینځه دېرش میله واټن و، ددغې فاصلې اوږدو کې جګ ګڼ بوټي او اغزي شنه شوي وو، چې په منځ کې یې هر ډول جنګي مرغان او حیوانات له زرکو څخه نیولې تر خوګانو او پړانګانو پورې لیدل کېدل.

دلته کرنه ډېره پرمختللې او ښه وده یې کړې وه، خو سره له دې هم د ساحې له مخې یې دومره پراختیا نه درلوده. اوبه پړېمانه او خاورې ډېرې څربې او حاصل خیزې برېښېدلې، له دې پلوه د سیندونو په وسیله خړوبې شوې ځمکې او هېوادونه ډېر نامتو او غوره ګڼل کېږي.

د جنورۍ په یوولسمه نېټه د اسماعیل خان دیرې ته ورسېدلو او ددغه ایالت له حکمران فتح خان نومي سړي سره، چې په ختېه بلوڅ و، وغږېدو او د پېژند ګلوۍ،

Property of ACKU

کتنـه مـو ورسره وکړه. نومـوړي حکمران د محمد خـان مرستيال ګڼل کېده. محمد خـان د پاچا لـه خوا د (ليـا) د سيمې غونـدې د ډېره اسماعيل خـان اداره کولو لپـاره ګومارل شوی و. فـتح خـان لـه برمـه ډک کـالي اغوستي وو او د يـوې ډلې پليـو افرادو، چې خواري جامې يې اغوستې وې او يـو شمېر سپرو کسانو چې هغوی هم پـه خوارو اسانو سپاره او پـه اوږدو نېزو مسلح وو، لـه خوا بدرګـه کېده. ده او د هغـه بدرګـه والو د خپـل ښښتن د ستروالي ستاينه وکړه. دغـه راز دوی د خپـل واکمـن د شلو څوښيـو، يـو شمېر توپونو او ځلوښښتو پښانو چې شپه ورځ د توپونو د مردکيو پـه جوړولو لګيـا وو او داسې نـور موضـوعاتو يادونـه او تعريـف وکړ. فـتح خـان د ورځې پـه اوږدو کې شپږ بوتلـه کـابلي وايـن (يـو ډول شراب) او دوه د عطرو ډوګلـي (بوتلونـه)، چې پـه ختيځ کې ډېر نامتو او لـه ګلابو څخه جوړ شوي وو او د بيـدي مشکو پـه نوم يادېدل، د سوغات پـه توګـه راولېږل. پـه اسماعيل خـان ډېـره کـې تقريبـاً يـوه مياشـت د مېلمه پال لپاره تېر شو.

د ډېره اسماعيل خـان وړوکـی ښار لـه اُنـدس څخـه د سلو مترو پـه لېرې والـي د کجورې (خرمـا) پـه يـوه ګـڼ ځنګل کې پروت دی. د ښار محيط يـو نيـم ميـل او تـرې تـاو شوی دېوال لـه اومـو خښتو څخه جوړ شوی و، نـو پـه زيـاترو برخـو کې رنګ او زيـانمن برېښېده. د ښار اوسېدونکي زيـاتره بلوڅ ګڼـل کېدل، سره لـه دې يـو شمېر افغانـان او هنـدوان هـم دلتـه مېشت وو، وروستي ډلې پـه ښار کې يـو عبادتځی درلود.

د سيمې ولـس بلوڅـان او جټـان وو، چې د دريـابـ د مخامخ غـاړې اوسېدونکيو سره يـو شـان برېښېدل. مـوږ دلتـه د دامـان زيـات شمېر افغانـان وليـدل، چې ګـډوډ ويـښتان يې لـرل. دوی لـويې لـونګۍ پـر سر او د پـسونو د پوستکي چپنې (شـايد پوستين وي. ژبـاړن) يې اغوستې وې، ځيـرې او عـادي بڼې يې درلودې، خو پـه کړو وړو او عـاداتو کې ډېر پاسته او مهربـان وو، زمـوږ د کمـپ پـه شـاوخوا کې به زيـاتره وخت دسپرو ډلې چې لـه ليرې ځـايونو څخـه زمـوږ د ليـدنې لپـاره راغلـي وو، ولاړې او پـه ډېره هيښتيا به يې زموږ پېژند ګلوي ترلاسه کوله.

دلتـه زمـوږ د کمـپ پـه شـاوخوا کې د ګرځنـد شپنو کېږدۍ او زيـاتې رمې پـه يـوه پراخـه نـاوه کې خـورې شوې وې. لـه رسېدو يـوه ورځ وروسـتـه ددغـو شپنو خـوا تـه ولاړ و، څو لـه يـوه سره خبرې اترې وکړو. پـه دوی کې مـوږ يـو تـن چې پـه ټـام خروټـی و، زمـوږ د کتنې لانـدې راغـی. خروټـی د ټولـو پوونـده قبيلـو پـه لړ کې ډېر تـروه او شـډل برېښي. د دوی د کېږديـو او کمـپ پـه لـوړ مـو لـس ميلـه واټـن پـه سپـرلـي سـره وواهـه. دلتـه دوی د يـوې داسـې کلکـې او متينـې ځمکـې پـه مـخ، چې د بوټـو د Jaund او Kureal پـه نامـه بوټي پـه واسطه پټـه وه، مېشت وو. پـه ښکاره توګـه ددغې ځمکې



Property of ACKU

خاورې څرېې وې، خو ورته پاملرنه شوې نه وه. د لارې په اوږدو کې مو یو شمېر افغانان ولیدل، چې د پنځوسو په شاوخوا کې د اوښانو یوه ګله یې د ډېرې خوا ته روانه کړې وه. د اوښانو په لړ کې یوه یې سپین رنګ درلود او سترګې یې شنې (آسماني رنګه) وې[1] دغو افغانانو په فارسي او هندوستاني خبرې کولای نشوې، دوی ډېر مدني خلک وو. سپین اوښ یې تر هغه پورې چې زموږ آزموینه بشپړه نه وه، درولی و. دوی موږ ته خپلې تورې راوښوولې، په ډېره مینه مو ورته وکتل، ځکه ددغو تورو موټې له هندي او فارسي تورو څخه جلا برېښېدل. دا خلک د هغه هېواد او سیمې له وګړیو سره چې لږ څه مخکې مو ولیده، ورته وو. یوائې په دومره توپیر چې یو څه ماهر او ښکلي ښکاره کېدل. بالاخره د لس میله واټن تر وهلو وروسته کمپ ته ورسېدو. کمپ په داېروي توګه درول شوی و او خیمه یې له نسواري شړۍ څخه جوړه وه، چې د دوو نېغو ستنو په وسیله جګه درول شوې وه. د کېږدۍ د دوو نېغو (عمودي) ستنو په سر یوه افقي (پرته) ستن کلکه شوې وه، د کېږدۍ دېوالونه د اغزیو په واسطه احاطه شوي وو، زموږ په لیدو د دوی هیښتیا وپارول شوه او د دوی له لږ څخه یوه سړي، چې په هندوستان کې یې شپې ورځې تېرې کړې وې، په هندوستاني ژبه له مانه پوښتنه وکړه، چې تاسو څه شي دې خوا ته راوستلئ؟ په خپلو ملکونو، کانپور (Kawnpore) او لکنهو Luknow او نورو ښایسته ځایونو باندې بسیا (قانع) نه شوئ؟ ما په ځواب کې ورته وویل: موږ د ملګرو په څېر دلته راغلي یو او د پاچا لیدو ته روان یو. تر دې خبرې وروسته سملاسي دوی ته ګران شولو او د دوی صمیمیت مو تر لاسه کړ.

د کېږدیو زیات شمېر خلک زموږ په شاوخوا راغونډ شول. د ماشومانو شمېر زیات او ټول یې ښکلي او تندرست وو. نجونو بوڅې پوزې درلودې او تر هغه ځایه، چې ما ولیدې، یهودي ډوله بڼې یې درلودلې، نارینه په عمومي توګه تور وو، خو ځینې یې ډېر ښکلي او روغ رمټ ښکارېدل. یو ځوان سړی په خاص ډول زموږ مخ کې ودرېد او په چوپه خوله او هیښتیا سره یې ځیر ځیر کتلو. دده بڼه او څېره یوه آیرلنډي کروندګر ته ورته وه. دغو سړیو په اکثر ډول جګې پوزې او تیټې ونې درلودې، ځینو یې نسواري وړینې غټې کرتۍ اغوستې وې، خو زیاترو یې سپین نخي ټوکران لرل، دوی ټولو سپین پټکي پر سر و، خو داسې برېښېدل چې ډېره موده یې پرېمینځلي نه وي. ددغه پوونده خلکو نارینه د ښځو په هکله ډېر زیات کینه ګر نه معلومېدل، نارینه، ښځې او ماشومان زموږ په شاوخوا کې راغونډ شوي

[1] دغه اوښ زموږ د هیئت یوه زلمي راونیو او تر هندوستان پورې یې له خان سره بوت، هلته یې چاته سوغات ورکړ په پای کې زه خبر شوم، چې په لندن کې یې د ننداري لپاره ننداړتون ته راوستلی و



Property of ACKU

وو.

په کرتیو یې لاسونه راتېرول، د اسونو رکابونه یې د ازمویني لپاره کتل او په ډېره هیښتیا یې د آس په زین باندې د توپانچو ځړېدلې کڅوړې خلاصولې، خو دوی هېڅکله د اذیت لپاره کوم کار نه کاوه. دوی له پښتو څخه پرته په بله هېڅ یوه ژبه ګړېدلی نه شول، د دوی عادات ډېر مدني او په ډېره خپلواکه او آزاده توګه یې د ټوکو او صمیمیت ښه څرګندوله. ما ته دا معلومه شوه، چې دلته دوی درې میاشتې تېرې کړې وې او دوه نورې میاشتې یې هم دلته مالونه پوول، خو ددغې مودې له تېرېدو وروسته اوری غزني ته رسوي. دوی وویل هغه ځای د دامان په نسبت ډېره لوړه او باندې سیمه ده. سره له دې، چې له ما سره زیات شمېر افغانان او انګرېزان د دوی د محاورې په هره خبره اوارونه پوهېدل، خو زه پخپله ډېر لږ وریاندې پوه شوم. په بله وینا سره له دې چې زما ملګري هر ډول خبرې را ته ترجمه کولې، خو بیا هم زه ډېر لږ پوهېدم.

مخکې له دې چې له ډېرې څخه روان شو، زما له ملګرو څخه دوه تنه یانې مستر فریزر او لفټننټ (دویم بریدمن) هاریس له کړاو څخه په یوه ډک سفر ووتل. د دوی مقصد دا و، چې یوې څوکې ته چې تخت سلیمان نومېږي، وخېژي. تخت سلیمان یا د سلیمان تخت یوه څوکه ده، چې د سیمې د خلکو د عقایدو په اساس د نوح[٤] بېړۍ له توپان څخه وروسته هلته درېدلې ده. دوی په یوه لوړ میدان کې تر دوو ورځو سفر وروسته پیچومي ته ورسېدل. په دغه ځای کې له څلور میله پیچومو وهلو وروسته د دیر او بند په نامه کلي ته ورسېدل، دا ځای د یوې وړې قبیلې میانخېلو (Meeaunkhals) ستر مرکز بلل کېږي. دا یو ښایسته وړوکی ښار او د یوې سړې ویالې په غاړه له غره څخه شپږ میله لیرې پروت دی. دوی ته ددغه ځای د مشر د ورور له خوا، چې نوی له ښکار څخه راغلی و، ښه راغلاست وویل شو. یو تندرست او ښایسته ځوان سړی و، چې لږ څه مښلې (یو څه زړې) جامې یې اغوستې وې، خو کالي یې په ځان کې جوړ او ښه معلومېدل، لینډۍ او د غشیو کڅوړه یې په شا او د سوی ډوله حیوان نېغه لکۍ یې په لنګی سرېږه ټومبلې وه. دوه ښکلي تازیان هم ورپسې روان وو. هغه له مېلمنو او نا اشنا خلکو سره ښه سټرې مشي کوله، ده زموږ د خیمې ملګرو ته د غرمې د ډوډۍ حواله ورکړه. ده دا هم ښکاره کړه، چې ده ورور به د دوی ډېره پالنه او هرکلی وکړي، خو د خپل ورور له دلو ته یې د دوی د تګ په اړه ډېر تېنګار ونه کړ. د غرمې په شاوخوا کې ډېر ښهٔ پلو او د پسه د لم یوه ټوټه په قابو کې راوړل شول، چې خپله ډوډۍ ورسره لنده کړي. بله ورځ سهار عمر خان ددغه ځای مشر د خیمې خوا ته راغی، څو شپې دباندې ولاړ و، ځکه د هیئت ډلې کالي اغوستل، نو وروسته له دې چې، دوی ملبس شول، دې خیمې ته ورننوت. دی یو ډېر



Property of ACKU

ښاپسته، روغ رمټ، څه کم دپرش کلن ځوان و، چې توره غټه لونګۍ یې په سر او سپکه شنه چپنه یې اغوستې وه، د چپنې له لستوڼو سره نږدې د وریښمو کرښې د ټټر پر مخ لیدل کېدلې، دده خوی ډېر پوست او د ډېر ښه نورمال عادت څښتن و.

وروسته له دې، چې دوی سره معرفي شول، ده هیئت ته ووېل، چې د دوی د راتګ په وخت کې د قوم په منځ کې له یوې ډلې سره په لانجه اخته وو. نوموړي مشر له هیئت څخه وغوښتل، چې هغه ته په دغه کشاله کې سلا ورکړي ان له دوی نه یې هیله وکړه، چې دده د بریالیتوب لپاره یو تاویز هم ورکړي. په دغه وخت کې چې دیر او بند کې * وو، دوه تنه سواره زلمیان له دوو درېو تنو هندوستانیانو سره، چې دوی هم ورپسې په آسونو سپاره وو او په لاره تلل، ناڅاپه د سلیمانخېلو د قوم یوه ناآشنا او نامعلومې سړي یو هندوستاني د لوڅې چړې په پڅه خوا درې چړې وواهه. ددغې پېښې لامل معلوم نه شو، ځکه افغانانو یوازې په پښتو خبرې کولې. په بله ژبه نه پوهېدل. عمر خان پخپله په کابل کې ښه فارسي زده کړې وه، خینې ملایان هم د فارسي په یو شمېر لغتونو پوهېدل. عمر خان هڅه کوله چې زموږ ډله له دې سفر څخه منع کړي، ځکه چې دا ډېر خطرناک سفر و، چې په دې هڅه کې بریالی نه شو. داسې لارې چارې یې پیدا کړې، چې دوی دده له خپلو دښمنانو څخه یانې شیروانیانو څخه چې د دوی په سیمه کې د سلیمان تخت څوکه پرته وه، په امن کې وساتي. عمر خان د هیئت ملګري په داسې کالیو کې پټ کړل، چې د سیمې له خلکو سره یې توپیر نه درلود او دا سلا یې ورکړه، چې ټول هندوستانیان شاته پرېږدي او بیا نو دوی د غرو لوري ته وخوځېدل. هیئت د غره داسې ځای ته ورسېد، چې هلته د نښتر ګڼې ونې (په شمالي لمنو کې) ولاړې وې. دغه راز دلته د پودین په ډول (ښایي د ګرانیت ډبرې وي) ډبرې پرېمانه پرتې وې. په شاوخوا کې زیات شمېر کوچنۍ خوړې (درې) خورې شوې او هره یوه له بلې څخه د یوې نرۍ ژۍ (پوله، موړه او یا غونډۍ) په واسطه بېلېدله. په دغو خوړو کې روڼې او پاکې اوبه جاري وې. هغه لار او پېچومې چې هیئت وریاندې روان و، ډېر کوږ، کیږ او مارپېچي و ان په غره کې د لس میله واټن له وهلو وروسته بیا هم څوکې ته ختل درې ورځې نور سفر هم غوښته. له بلې خوا دوی په دې پوه شول، چې د غره څوکې ته تلل د واورې له لاله امکان نه لري. ددغو ټکو په نظر کې نیولو سره هیئت دې ته اړ شو، چې بېرته راوګرځي، څو له خپل اصلي ستر هیئت سره ژر یوځای شي. دوی یوه شپه د شیروانیو په کلي کې پاتې شول، شپه یې په یوه ټیټه جونګړه (ښایي دا ډول خونې د اورې د موسم د تېرولو لپاره په غره کې جوړې شوې وي. ژباړن) کې چې د

* دیر او بند یوه سیمه ده ژباړن

Property of ACKU

غـولي یـوه برخـه یـې ژوره شـوې وه، تېـره کـړه. د کلـي اوسـېدونکیو دوی تـه ډوډۍ او غوښـه ورکـړه، خـو د غوښـې خونـد دومـره خـراب و، چـې دوی څکـه وریانـدې ونـه کـړه، غوښـې یـې پـه وړو دیگـو کـې ایـشولې وې (ښـایي پخـې شـوي نـه وي. ژبـاړن) د خـولې د رڼـا کولـو لپـاره دوی د سـبر د ونـې غـوړ لرگـي (ایـژې) لگـول، چـې رڼـا یـې لـړه او د ډیوې پـه څېـر لگېدلـه او زیـات غـوړ یـې شـاوخوا تـه تـوی وو (ددغـو لرگـو لـه غـوړو څخـه رنځـړه یـا زرنـه جـوړوي. ژبـاړن) دوی د دیـر او بنـد نـه بېرتـه سـتانه شـول او ددغـه ځـای د مـشر لـه کتنـې او هغـه تـه لـه سـوغاتونو ورکولـو وروسـته د خپـل اصلـي کمـپ پـه لـور وخوځېـدل. دوی د عمـر خـان د مهربـانیو سـتاینه وکـړه، دغـه راز دوی د عمـر خـان د مخالف گوند د یوه مشر د پاملرنې له کبله خوښ شول.

د سـتنېدلو پـه وخـت کـې کلـه چـې دوی د یـوه زاړه کلـي لـه کنډوالـو څخـه اوښـتل، نـو پـه دغـه وخـت کـې دوی د مـسکي نیـزې ولیـدلې او اوه تنـه سـپاره د دوی مخـې تـه وړانـدې راغلـل. ددغـو زلمیـانو نـه مـخ کـې یـو تـن و او لـه نیکـه مرغـه دی د عمـر خـان لـه خـوا اسـتول شـوی لاربـښوونکی و. دا دلـه د مـشر د وراره پـه مـشرۍ د لارې څـارلو لپـاره پـه مورچـل کـې ناسـت وو، د ډلـې مـشر هـم د نـورو زلمیـانو پـه گـډون مېلمـه پـالونکی برېښېده، خـو دا ځـوان ټـولگی د مـشر د وراره مېلمانـه وو، نـو څنگـه چـې خپـل ځانونـه یـې بـشپړ خپلـواک تـصور کـړل، داسـې تـصمیم یـې ونیـو، چـې د قـوم لـه سـیمې څخـه د وتلو پـه وخت کـې د هیئـت مالونـه لـوټ کـړي. سره لـه دې چـې د مـشر لـه خـوا اسـتول شـوي لاربـښوونکي ډلـه دې تـه وهڅولـه، چـې هیئـت تـه کـوم زیـان ونـه رسـوي، سملاسـي ورسـته د هیئـت پـه غـړو بانـدې د یـوه تـن پـلي لـه خـوا غـږ وشـو، چـې ودرېـږي، خـو هیئـت پـرتـه لـه کومې پـاملرنې خپـل تـگ تـه دوام ورکـړ. دا سـړی ځـای پـه ځـای پـه ځمکـه ولوېـد او خپـل ټوپـک یـې د هیئـت پـه لـور پـه څخـه (نـښه. نـشاني) کـړ. پـه تېـره ده د ټوپـک نـشان پـه مـستر هـاریس برابـر شـو. دلتـه بیـا هـم لاربـښوونکي منځگړتـوب وکـړ او هیئـت بـې لـه کومې نـاوړه پېـښې څخـه اصلـي کمـپ تـه راورسـېد. د دیـر او بنـد ځینـې خلـک څـه وخـت وروسـته کمـپ تـه راغلـل او د هیئـت د هغـو غـړیـو لـه خـوا یـې، چـې ورسـره کتنـه یـې کـړې وه، تـود هرکلـی وشـو.

د جنـوري پـه پـای کـې د محمـد خـان لـه خـوا دا خبـر راورسـېد، چـې پـه یقینـي تـوگـه پاچـا د پېښور پـه لـور خوځېـدلی دی. دغـه راز ده دا هـم مـوږ تـه جوتـه کـړه، چـې د رتبـې والا یـو سـړی تـر رسـېدو پـورې مـلا جعفـر سیـستاني داه لـه خـوا مـوږ تـه موظـف شـو دی، چـې لـه هیئـت سـره یوځـای شـي. د دربـار څـو تنـو اسـتازیو او ځریـو لـه تـگ راتـگ څخـه وروسـته مـلا جعفـر راورسـېد او د حرکـت د پیـل لپـاره مـو ځانونـه چمتـو کـړل. مـلا جعفـر پـه خپلـه آرې سـیمه کـې د ښـوونځي سرښـوونکی و، چـې څـه مـوده وروسـته دربـار تـه د خپلـې شـتمنۍ د ښـه کولـو لپـاره راغـی. ده د سـوداگرۍ پـه برخـه کـې یـو څـه مهـارت

Property of ACKU

درلود او زیاتې پیسې یې په لاس کې درلودې. له موټمي شخص په استفاده کولو سره یې د پاچا خوښه داسې حاصله کړه، چې د پاچا د بدمرغۍ او غرو ته د تېښتې په وخت کې یو څه جواهرات له هغه شخصه وپېرودل او په دې ډول یې پاچا خوشحاله او ځان یې شتمن کړ. په دغه وخت کې دی سره له دې، چې د یو عادي سوداګر چارچلند یې لاره، بیا هم ډېر امتیازات یې درلودل. دی یو غټ پوخ سړی، هوښیار، چالاک او ټوکي و، خو یو څه اندازه قهرجن او تند خویه هم برېښېده. دده په لارښودنه موږ د فبرورۍ په اوومه نېټه له ډېره اسماعیل خان څخه وخوځېدلو، ددغې لارې په اوږدو کې د دریاب مخکښې غاړې په څیر ګڼې ونې شنې شوې وې، کله چې موږ د طارش (تګ) د پای ته رسېدو ځای ته نږدې شو، د فارسي یا دراتي آسانو یوه ګله موږ د لارې په سر ولیدله. ډېر ژر وپوهېدو، چې سل اسان د شاه له خوا له یوه مکتوب سره موږ ته رااستول شوي دي. له دغو آسانو سره ټول عسکري افراد په فارسي ډوله کالیو پټ، جامې او بوټونه یې رنګینه او د پسه له پوستکي ټېټې خولۍ یې (ښايي قره قلي وې. ژباړن) پر سر وې. د دوی د آسونو زینونه د پړانګ په پوستکي او نورو موادو پوښل شوي وو. دغه راز دغو افرادو یو ډول ځانګړي ټوپک (Matchlock) او داسې توري درلودې، چې موټي یې فارسي ډوله برېښېدل. ددغو عسکرو له لړ څخه ځینو یې غربي ډوله ټوپکې غټ خولې ټوپک، چې کنداغونه یې کوچني وو، هم له ځان سره درلودل. ددغو ټوپکو میلې نرۍ او سپینې وې، چې په کمربند پورې یې تړلې وې. په عمومي توګه دا ډله ډېر منظمه او ښایسته لیدل کېدله. کله چې د خپل تم ځای ساحې ته ورسېدو، نو موږ د کچرو شل باره میوه، د کابل انګور او مڼې موږ ته راولېږل. مازدیګر د هغې خیمې لور ته، چې زما له کمپ څخه نږدې سل ګزه وړاندې درول شوې وه، ولاړم څو د پاچا له خوا رااستول شوي اعزازي کالي لاس ته راوړم، خیمه له مهمو کسانو څخه ډکه وه او داسې په درناوي ولاړ وو لکه چې په خپله اعلیحضرت هلته حاضر واوسي. ما ته لارښوونه وشوه، چې کالیو ته په درناوي خپل ځان ټیټ کړم، ورپسې یو زري ډوله ځلېدونکې قبا (چپنه) چې د ساټن (د اطلس ټوکر) لیکې یې درلودې، راکړله او راته وویل شو، چې پاچا پخپله دا جامې اغوستې دي. یو شال زما د ټوپۍ په شاوخوا راتاو او د پاچا لیک په هغه کې وتړمبل شو، یو بل دسمال د کمربند لپاره راته تقدیم شو، ټولو حاضرینو یوه لنډه دعا وکړه. دغه کالي او شالونه ډېر باارزښته او قیمتي وو.

بله ورځ له یوې داسې سیمې څخه چې د تیرې ورځې په شان وه، واوښتو او شګلنې ځمکې ته ورسېدو. له دغه ځای څخه له تېرېدو وروسته د بهارپور Baharpoor کلي ته راغلو. دا کلی له ډیرې څخه ډېر لږ کوچنی و، په دغه شپه ډېر سخت باران وورېد، پښې ورځ شوه نو سلیمان غرونه زموږ اطرنه وارولـه. ځکه تر



Property of ACKU

یوې اوونۍ پورې دغه غرونه په لړو پټ او زموږ له سترګو نه پناه وو، خو په دغه ورځ په ځلانده توګه زموږ په مخ کې لیدل کېدل. د هوا صاف والي او د زیاتې واورې اورېدلو دوی نېږدې او تر پخوا جګ څرګندول، موږ په ښګلنه ځمکه کې روان وو، څو د خپل تم ځای دمخه تیت و پرک غونډیو ته ورسېدو.

زموږ کمپ د پونیالا Puneealla کلي ته نېږدې په یوه سمسوره او ښکلې ځمکه باندې چې د عربي فیکلس Felix منظره یې انځورولای شوه، ودرول شو. دغه ځای یوه ښګلنه ناوه وه، چې له شاوخوا یې پاڼ لرونکې غونډۍ چاپېره شوې وې او د یوې کوچنۍ ویالې په واسطه خړوبېدله. هرې خوا ته تیت و پرک د خرما ګڼې ونې او د جوارو شنه پټي برېښېدل، پخپله کلی هم د خرما ونو د ګڼ ځنګل په منځ کې د یوې غونډۍ تر اړخ پروت و. له دغه ځای څخه کوچنۍ ویالې راوتلې او د ګڼو ونو په مغارو (سمڅو) کې یې جریان درلود. ددغه کلي اوسېدونکي بلوچ او شیخان وو، چې دا وروستي ځله د عربو له اولادې څخه ګڼل کېدله. دوی زموږ ځینې ملګري او خلک ولوټل او ځینې نور یې بندیان کړل. سره له دې، چې له دوی سره د آشنایي وروسته دا لانجه او لوټماري ختم شوه او موږ د خپلو مالو د ساتنې په هکله یوه ساتونکې ډله د دوی له منځ څخه جوړه کړه، خو بیا هم دوی زموږ اوښان غلا کړل او له دغه ځای څخه د وتلو وروسته یې د هیئت ځینې بې درکه شوي کسان یې هم لوټ کړل.

د سفر نور څلوېښت میله واټن مو د لارګي Largee ناوې د پاسه، چې که څه هم له اندس څخه یوازې د یو لړ غونډیو په وسیله جلا کېږي، خو داسې ښګلنه او وچه ځمکه وه، چې موږ دې ته اړ وو، چې د بیدیا په څېر اوبه له ځان سره ولېږدوو. تر دغه ځایه پورې هم د افغاني شپنو خیمې چې د مروتو په قوم پورې مربوطې وې، لیدل کېدلې. دغه ځای هم په دغه قبیله پورې تړلی ګڼل کېده. له دوو سترو کوونکیو خوځېدنو (مارشونو) وروسته له دغې ناوې څخه ووتلو او یوې څرېړې او سمسورې سیمې ته، چې قطر یې پینځه دېرش میله اټکل کېده، ننوتو. دغه سیمه یو داسې میدان و، چې تر شاوخوا یې غرونه راتاو شوي او د اندس دریاب یې په منځ وېشلی و. په دغه ورځ موږ د کورم Korrum (کورمه) د سیند د پاسه خپل کمپ ودراوه. دا سیند پراخه، خو اوبه یې ژورې نه وې. د اورې په موسم کې په ډېره چټکۍ سره بهېږي. له دغه ځای څخه موږ د کله باغ یا قره باغ د میدان په اوږدو کې درې خوځېدنې (مارشونه) ترسره کړل. دغه سیمه د عیسی خېلو په قبیلې پورې تړلې وه. ددغه ځای خاورې څرېړې او په ډېره پراخه اندازه تر کرنې لاندې راغلي دي. د اوبو لګولو لپاره دلته داسې ویالې وې، چې څلور فوټه یې سور او په همدغه کچه ژورې بهیدلې. ددې سیمې خلک تور رنګه وو، نو ځکه موږ د دوی د ملت د نورو خلکو



Property of ACKU

گومان وربانديې ونه کړ. په داسې حال کې، چې هغه سو درلوده، چې هماغه ډول وګڼي به وي. دوی د فارسيانو پرخلاف هندیانو ته ورته وو، سره له دې هم دا خلک د سر د اوږدو او ګڼو وېښتانو، ږیرو او د لونګیو د سستو ولونو له امله د وروستي ډلې (هندوانو) نه بېلېدای شول او د خپلو اکه سپېڅلو عقايدو او زړور توب له پلوه د افغاني بڼې ښکارندوی وو. دوی ډېر ناوړه لوټماران وو، چې زموږ ځینې اوښان او د پاچا له خوا استول شوي آسان يې وتښتول، خو د دوی طبيعي او عادي خوی ډېر مدني او پوست و، زه د دوی سادګۍ او برابرۍ ته حېران شوم. سره له دې چې دغې قبیلې خلک، شتمن او پرمختللي دي، بیا هم دومره ښکلا خوښې نه دي. د دوی یوه مشر چې زموږ یې بدرګه کوله، ډېرې ساده جامې اغوستې وې او په خوی کې دومره ساده و، چې د قبیلې له عادي وګړیو څخه یې توپیر نه درلود.

د عیسی خېلو په سیمه کې مو د درانیو سردار موسی خان الکوزي، چې د پاچا له خوا رااستول شوی و، ولید او ورسره مو خبرې اترې وکړې. دی زموږ دلارښوونې او بدرګې لپاره راغلی. په ونه جګ او څورب سړی و، خو ډېره ښکلې بڼه یې درلودله، ږیره یې ښایسته او زرین کالي یې د ښو شالو سره اغوستي وو، توره او نور شیان یې دسرو زرو په اوبو جوړ شوي وو. آسان یې ښه او لوموني (آس ګانه) یې ښکلې او ځلېدونکې برېښېده. ښکلې تومانچې یې د اسونو په زینونو کې تومبلې وې، د تومانچو د لاستي په مخ باندې د زمريانو د سر څېره په سرو زرو جوړه شوې وه، سره له دې چې د بڼې له مخې ځلوېښت کلن سړی نه برېښېده، خو شپېتو کلو ته نږدې و. ده په دننیو او بهرنیو شخړو کې ګډون کړی او د خپل ګرند او ټولګي له خوا د سرداري مقام ته د یوه اغتشاش په ترڅ کې رسېدلی و. موسی خان په خپل ټول هېواد کې ګرځېدلی او د زیاتې مودې لپاره په کشمیر کې اوسېدلی دی. ده د کشمیر ډېره ستاینه کوله، په تېره د دغه ځای د جنسي خوندونو په اړه یې مبالغې کولې. ماته یو ډېر ژوندی او سرمست سړی وبرېښېد او په کړو وړو کې ډېر ښاغلی و. له ده سره څلور یا پینځه سوه په آسانو سپاره وو، چې په کالموک دست Calmuk Dasteh یا کنډک پورې مربوط و، بدرګه کېدل. سره له دې هم په عسکري یونیفورم ملبس پلټن او کنډک په دوی کې نه لیدل کېده. دغه راز له موسی خان الکوزي سره د بنګښو او ختکو د قبیلو مشران، د قره باغ د ښار د مشر په ګډون ملګري وو. دغه وروستی مشر ساده او د عربو په څېر بې ډوله ښوندې برېښېده. دغو هر یوه مشر ځای او سیمې ته به چې ورسېدلو، نو زیات شمېر ولسي پوځ (ملېشه) به زموږ مخې ته راوستل کېده او د پېښور تر ناوې پورې په دغه ډول بدرګه شو.

کله باغ یا عقبه ځای، چې موږ له هوارې او میداني سیمې څخه دلته راغلو، یوه لږ تشریح غواړي. د اندس دریاب دلته د غرونو د ... لړۍ له لاملـه په یوه تنګه مجرا



Property of ACKU

کې چې اوبه یې ډېرې ژورې دي، سره غونډېږي او سور یې درې سوه پنځوسو مترو ته راکښته او په یوه ژوره تنګنا کې جریان مومي. د دریاب دواړو غاړو غرونه په ناڅاپي ډول (تقریباً عمودي. ژباړن) راټیټ (ځوړ) خو بیا هم ډېر نرۍ او ریوند‌ه (ګړنګ لرونکې او یا د ځوړ خوا ته مایله. ژباړن) وه، نو له دې امله درانده بار شوي اوښان وربانډې تلای نشول. ددې لپاره چې له دغه کړاو څخه بچ شو، نو اته ویشت بېړۍ مو د بارونو د وړلو لپاره وګومارلې. ددغه غاښي په لومړۍ برخه باندې د کله باغ کلی سر ځوړند برېښېده. کله باغ د یوې غونډۍ یا غره په مخ ودان شوی او هره کوڅه د ګاونډۍ کوڅې څخه هسکه شوې ده، ما داسې تصور وکړ، چې د ننوتلو لپاره به یې هوار باموته وسیله وي، یانې له لاندې خونې څخه پاس ته ختل به د بامو له لارې وي (له لاندې څخه کوڅې نه معلومېدلې) کله چې ددغه کلي په تل کې تېرېدو، ډېر مخ پورته مو د خونو کړکۍ او برنډې ولیدلې، چې زیات شمېر کلیوال د ننداري لپاره ولاړ وو.

د کله باغ د کلي تر شا سرک د جامدې مالګې د کان له لامله پرې شوی او د همدې معدن د ګړنګ او یا نښوونده لاندې پای ته رسېدلی و. ددغه کان مالګه ډېره سوچه، روښه او کلکه وه. په ځینو برخو کې که چېرې رګ، پټ او یا سره کرښه نه وای، نو د بلور په شان به لیدل کېده. د مالګې تړه له سیند څخه په ځینو ځایونو کې سل فوټه هسکه وه، په هغو برخو کې چې د ډبرو له بیخ څخه د مالګې چینې راوځي او د ځمکې په مخ له سپین او ډېر ځلانده قشر څخه، چې د یوې پردې په څېر خور شوې دی، تېرېږي. ټوله سیمه په تېره بیا د کلي شا خوا برخه د وینې په شان سره طبقه پټوي. دغه طبیعي پدیده، د مالګې د ډبرو ننداره، د اندس څپانده سیند، چې په دغه ځای کې د کلي له مخ څخه د جګو غرونو په منځ کې روان او مست بهېږي، ټول داسې په زړه پورې منظرې جوړوي، چې ساری یې ډېر لږ پیدا کېږي. موږ د کنډو (غاښي) تر شا خپل کمپ د یوې نرۍ درې په خوړ کې ودراوه. دلته نږدې د مالګې ستر ګټونه د غټو بلاکو په څېر داسې پراته وو، لکه چې په کان کې د ننه پراته وي. د مالګې دغه ټوټې هند او یا خراسان ته د لېږدولو لپاره تیارې وې. د کله باغ کتنې تر یوې اوونۍ پورې موږ ځانته راکاږلي شو، خو د باران او د سېلاب له وېرې څخه پاتې نه شو، ځکه ښايي په دغه ځای کې به زموږ ټول کمپ د سیلاو د راتلو له لامله له منځه تللی او سیند ته توی شوی وای.

د فبرورۍ په شپاړسمه نېټه په دره کې مخ پورته وخوځېدو، هر څومره چې پورته ختلو هومره دره تنګېدله. له اووه میله مزله وروسته یوه کاږه کینږ پېچومي ته ورسېدو، چې لاره ډېره نرۍ او په یوه داسې تنګۍ کې ختله، چې په ډېرو ځایونو کې زموږ اوښان په ډېر کړاو سره تېرېدلای شول. دلته د دواړو خواوو تېږې نږدې سل



Property of ACKU

فوټه لوړې شوې وې. دغه لاره د درېو یا څلورو میلو په اوږدوالي په تدریجي ډول لوړېده، خو د دواړو خواوو د ډېرو او اسمان څخه پرته مو بل هېڅ شی لیدلای نه شول. بالاخره سم په سمه سر لوړی (پېچومی) زیات شو او د دواړو غاړو غونډۍ په تدریج سره ټیټې او مایلې شوې. د یوه ربونده سړک او لارې له تېرېدو وروسته د کنډو سرته وختلو. ددغه ځای تنداره اوس موږ ته داسې ښکاره شوه، چې په بشپړه او بېساري توګه وحشي، شډله او له استوګنې څخه وتلې وه. موږ د غره په ډېره لوړه برخه باندې ولاړ او لاندې زیات شمېر لوځې او پرې شوې څوکې ددغه غره د لړۍ په نورو برخو کې لیدل کېدلې. دغه راز موږ له ورایه هغسې درې ولیدې، چې مخکې مو پکې خپل تګ ترسره کړ. دلته د شمال خوا ته نور جګ غرونه هم معلومېدل، چې په واورو پټ وو. موږ ته اندس سیند وښودل شو، چې د یوې ورې ویالې په څېر ددغه جګ غره له سر څخه برېښېده. په دواړو غاړو یې لوګی هم ښکارېده او راته وویل شول، چې دا د مکد Muckud د ښار د ځمکې نښه ده. نور ځایونه هم راته په ګوته شول، خو د شاوخوا د غونډیو او ناوو د ګډوډتیا له لامله مو کوم څرګند اثر او فکر په ذهن کې پاتې نه شو. له دغې نقطې څخه مو په سر ځوړ خپل مزل پیل کړ، خو لاره ډېره ربونده او ټیټه جګه وه. دلته مو د لومړي ځل لپاره غرنی او وحشي زیتون (ښوون) ولیدل. موږ په داسې یوه ګوګ کې خپل کمپ ودراوه، چې غرونو ته مخامخ او له مخکې تم ځای څخه یې اتلس میله واټن درلود. دغه ځای یې چشمه (چینه) باله، چې د ځینو ناڅرګندو او نادرو شرایطو له لامله یې تازه او پاکې اوبه لرلې. دغه راز دلته ډېرې ښې ګټورې خاورې وې، چې بارکیانو Bautiks (یوه شډله قبیلې) د کرنې لپاره ټاکلې وې. دا سیمه او غرونه هم په دوی پورې تړلي وو. مخکې له دې چې تم ځای ته ورسېږو، ډېر سخت باران ورېده. د باران د اورېدلو په وخت کې مې ملا جعفر ولید، چې د یو کلک لمڅي چپنه یې په ځان اچولې او تر سر پورې یې ځان پکې پټ وان د آس تر لکۍ پورې خوره شوې او د یوې خیمې په څېر معلومېدله. دده تر شا پېش خدمت و، چې قلیان یا چلم یې په ښکسونو پورې ټینګ تړلی او بیا یې د آس په زین پورې لکه د توپانچې کڅوړه تړلې وه. دغه راز د خدمتګار د آس د خېټې لاندې د تودولو لوښي ځوړند او د باران د اورېدو سره سره یې سپرغۍ کولې.

باران ټوله شپه دوام وکړ او تر بل سهاره پورې ددې امکان لږ و، چې مزل وکړای شو. سره له دې د خوراکي او ضروري شیانو د کموالي له لامله دا ضروري برېښېده، چې وخوځېږو، نو ددې مجبوریت له مخې بیا په سفر روان شو. د لارې په منځ کې د غرو مخ ورېځو پټ او سختو اورښتو او د خوړو سیلاوونو غمجنه تنداره پیل کړه. زموږ لاره د ربوده غاښې له منځ څخه تېرېدله. دلته مخ په ځوړ د مالګې د سیلابي



Property of ACKU

خوړ د تنګي لور ته ولاړ و، سلاب په ډېر قوت سره روان و، سره له دې چې موږ خپل څاروي تر غرمې پورې بارولو ته چمتو کړل، خو د شپې تر ناوخته پورې مو دومره وکړای شول، چې د سیلاب او د ډبرو ترمنځ پراته ځای ته هر یو خپل ځان ورسوو، یانې له لومړي تم ځای څخه مو یو نیم میل مزل کړی و. زموږ زیات شمېر ملګري ټوله شپه او د بلې ورځې تر غرمې وروسته تر دوو بجو پورې باران او سړو کې لالهانده او سرګردانه ګرځېدلي او بالاخره راورسېدل. ددغه مزله په اوږدو کې ځینې اوښان مړه شول او بارکیانو* ته ددغې ګډوډۍ او د هیئت له ویجاړۍ څخه دا موقع پیدا شوه، چې زموږ په مالونو یرغل وکړي. د بلې ورځې په اوږدو کې هم دروند باران له اوږدو څخه ونه درېد.

د فبرورۍ په نولسمه نېټه سهار د لمر ختو په وخت هوا مناسبه وبرېښېده او په اوو بجو مو خپل سفر پیل کړ. دغه شپه سیلاب درېدلی او د خوړ تل (هغه ځای چې سیلاب بهېږي) د یوه ښه سړک په څېر څرګندېده، هوا صافه او د غره تنداره زړه راښکونکې او دلچسپه وه. د مزله د لارې په اوږدو کې له یوه وار څخه زیات تیز بهېدونکی سیلاب په خوړ باندې، چې ژوروالی یې د تېرېدو لپاره سم و، تېر شو. د خوړ په غاړه مو موسی خان ولید، چې له موږ څخه مخکې د فبرورۍ په شپاړسمه دې خوا ته راخوځېدلی و. خوراکي او ضروري شیان خلاصېدو ته نږدې وو، نو ځکه نه وړاندې او نه شاته تلای شو. دغه راز ده په خیمه کې د غړیو ترمنځ شخړه وشوه او څو تنه ژوبل شول. ځینې ملګري لاندې بېځول شوي وو، څو د سیلاب د لامبو په وسیله پورې وځي، خو دوی بېرته خپلې غاړې ته بېله کومو تلفاتو راورسېدل، ورپسې موږ په غرو او غونډیو کې په مخ ولاړو. دوه ریونده غابښي مو ووهل، چې له وروستي کنډو څخه په تېرېدو سره مالګین Malgeen ته ورښکته شو. دغه په زړه پورې او سمسوره دره دوولس میله اوږده او پینځه میله پراخه او سوروره وه، د شاوخوا غوونه په تېره بیا د شمالي او لوید یځه لړۍ په واورو پټه وه، عسکري افراد او د بارونو یو برخه تر لمر پرېوتو پورې راورسېدل. په دغه وخت کې خبر راغی، چې زموږ د کاروان په شا باندې برید شوی دی، له دې امله خپل ځینې سپاره او یو څه د شاله خوا استول شوی کنډک مو ساتنې لپاره هغې خوا ته ولېږل او مخکې له دې، چې کومه ناوړه پېښه او یا زیان ورسېږي، هلته ورسېدل. سره له دې ډېر ناوخته و او یوه ډله سپاهیان د غابښي لوري ته لاړل، چې د بارونو تېرېدل له کنډو څخه وڅاري. بل سهار موږ ټول سره راغونډ شو او دا توان مو پیدا کړ، چې یوه ورځ له ډېر سخت او غمجن سفر څخه وروسته هرومرو استراحت وکړو. سپاهیان او بدرګه وال د هوا له

* یوه قبیله ده



Property of ACKU

خرابوالي سره سره درې ورځې له منظمو او سمو خوړو څخه بې برخې وو. دا هم ډېره عجیبه وه، چې دغو سپاهیانو د داسې سختو سړو (سره له دې چې یخ نه و درېدلی) زغم وکړ، چې ان اروپایان هم دې ته اړ شول، چې د باران د اورېدو په وخت کې شپه او ورځ په خوشحالۍ سره پټ لرونکي پوستینونه واغوندي.

د فبرورۍ په یوویشتمه نېټه بیا وخوځېدو او د یوه ټیټ ډېرین غاښي له اوښتو وروسته د شادي خېلو سیمې ته ورکښته شو او د دوی له یوه مهم کلي څخه واوښتو. دا کلی په یوه ډېره ښکلې ځمکه باندې د ونو په منځ کې پروت دی. د توسیند، چې د یوې ښکلې کورې په منځ کې ګرندی جریان لري، د کلي له اړخ څخه تېرېږي. دا دره مخ پورته د یوې لنډې فاصلې وروسته په واورو پټو غرو باندې پای ته رسیدلې ده دلته د لارې په سر زیات شمېر افغانان ولاړ وو او ځینو یې موږ ته ښه راغلاست ووېل. دوی ټول د مدني عادت څښتنان وو، موږ د ډوډۍ په نامه ستر کلي سره نږدې کمپ ودراوه او په همدې ځای کې مو د بنګښو د قبیلې مشر له زوی سره چې عمر خان نومېده، ولیدل او ورسره مو خبرې وکړې. له ده سره اوه یا اته سوه ټوپک لرونکي وسله وال کسان، چې ډېلي جامې یې اغوستې وې، هم مله وو. دغه ځای د کوهاټ په میدان کې چې یوه ګردي سیمه ده او قطر یې شل میله کېږي، پروت دی. کوهاټ د میداني سیمې شاوخوا غرونه ډېر ښکلي او د لیدلو وړ ګڼل کېدای شي، له بلې خوا د غرونو هغه برخه چې د کوهاټ له ښارګي څخه پورته لوړوالی لري، په واورو پټه ده. دغه پرته او میداني سیمه ډېره سمسوره او په ښه شان اوبه کېږي. ددغې سیمې د ځمکې په مخ لاندې او باندې ګڼې ونې شنې شوي دي، اوبه او هوا یې په زړه پورې او د کوهاټ د ښار په ارتفاع برابر غرونه او غونډۍ له واورو څخه بې برخې دي. په بله وینا د کوهاټ په ټیټه او هواره برخه کې کله کله په کلو کې هم څوک واوره نه ویني. د کوهاټ له ښار څخه لږ څه پورته لمنې هم د واورې د دوام مخه نیسي او ژر پکې ویلې کېږي. د کوهاټ ښارګي ته بله ورځ ورسېدو. دا ښار ډېر ښکلی او پاک و، یوه چونۍ هم دلته په یوه مصنوعي غونډۍ باندې برېښېده، چې ددغې سیمې د واکمنۍ ګټلو په شخړو کې ورانه شوې وه. زموږ د تم کېدو په وخت کې ډېر په ندرت سره پکې استوګنه لیدل کېدای شوه. د ښار له اړخ څخه د روڼو او پاکو اوبو یوه ویاله تېرېدله، چې له ډېرو چینو څخه یې اوبه راتللې. دغه اوبه لومړی پلا په یوه ډنډ کې چې د ذخیرې لپاره جوړ شوي و، ټولیدې او بیا له دغه حوض څخه کښته بهېدلې. ډنډ دومره زیات ټیټ نه برېښېده، ددغو چینو اوبه په اوړي سړې او په ژمي تودې وې. د سیمې مشر موږ د چینو د کتلو لپاره هغې خوا ته بوتلو، ورپسې یې د سباناري لپاره ډېر ښه کوچ، شیدې، هګۍ او شات په پریمانه اندازه راته کېښودل. دغه راز نوموړي مشر د مومیا یوه قطۍ سوغات راکړ. دا ډول

Property of ACKU

مومیا (موسلایي) هغه ډول موسلایي وه، چې (مومیایي معدني) یا کاني مومیلایي ګڼل کېږي. دا له یو ډول ډبرې څخه، چې په اوبو کې ایښودل کېږي، جوړېږي. کوم وخت چې د ایستلو په نتیجه کې د پوډر په شکل واوړي، په سر یې غوړ راټولېږي او د سکرو غونډې تور او وچ کېږي. په ختیځ کې دا یوه نامتو دوا ده، چې د پرهارو او د بدن د چاودو یا ماتو برخو د رغولو لپاره په عجیبه او سحر امېزه توګه پکارېږي. دلته مو یو باغ ولید، چې زیاته خوشحالتیا یې راوبخښله. بیا هم ښایي ددغه باغ د زړه راښکوونکیو نباتاتو او جذابیت یوه برخه په باغ کې د انګرېزي او نورو بوټو لیدل وو، چې له هغو څخه د اوږدو مودو راهیسې د هند په اقلیم کې لېرې پراته وو. د باغ ښکلا تر هغې هم زیاته وه، چې موږ سملاسي لیدله، ځکه ونو پاڼې نه درلودې او نوې یې غوټۍ کړې وې. دغه ښایسته باغ د هغې ویالې په غاړه چې پورته بیان شوه، واقع شوی و. باغ د بوټو په جارګي احاطه شوی او ددغو بوټو په لړ کې په خپل سرشنه شوي نباتات لکه د تورو دانو لرونکي بوټي (دا ډول بوټي توري وړې دانې لري) (سپنګور) واښه او د توت د کورنۍ یو ډول بوټي، چې د توت په څېر مېوه لري، هم شمېرل کېدای شول. ددغو ونو په منځ کې د شفتالو او آلو ونو غوټۍ. سپېلي او ګلانو یې کړي وو. دغه راز د زېړو ولو (مجنون بید) او (چنار) پاڼې شنې شوې وې، ږنې او داسې زیاتې نورې ونې هم په باغ کې لیدل کېدلې، خو د پاڼو او ښاخونو شنه کېدو څخه یې لا راغلې نه و، نو له دې امله پېژندل یې آسانه، نه برېښېده.

په دغه باغ کې بې شمېره تاکونه وو، چې د بوټي پېدوالی یې د سړي د لینګیو (لنګیو) سره یو شان او په ونو کې تاو شوي او ختلي وو، له دې لامله داسې معلومېدل چې په خپل سر شنه شوي او وحشي وي. د پلېو لارې او روونه په یو ډول شنو وښو، چې انګرېزي وښو ته ورته وو، پټې شوې وې. د نوي کال په دغو شنو پستو وښو او مرغه کې ځینې وچ واښه هم لیدل کېدل، نو له دې لامله له انګرېزي ډوله بوټو سره اړیکې لري. دغه راز دلته شوتلې یو ډول هرزه بوټي، چې دانې یې مرغان خوښوي (Chickweed)، پرهار پاڼې (زوب یا زانده) (Rib-grass) ژېړ ګلان (Dandelion) (ښايي د خوړو بوټي وي. ژېاړن)، (Commondock) او ځینې نور انګرېزي ډوله بوټي برېښېدل. موږ دلته یو ډول مرغه ولید، چې سایرې ته ورته و، دا شان یو بل د ساري مرغۍ په غټوالي سره هم ښکاره شو، چې ډېرې ښکلې بڼکې یې لرلې، د سر او وزرو څخه پرته چې تور رنګ یې درلود، نورې برخې یې ډېرې ښکلې او سرې وې.

ځینو ملګریو فکر وکړ، چې دوی یو ډول مرغۍ (Thrush) او تور بڼکي مرغان لیدلي دي. نامتو بیدي مشکو هم په باغ کې یو ډول ونه درلوده، چې هغه یو ډول ولې ته



Property of ACKU

ورته وه، زه په دې حېران شوم چې بیدي مشک به له دغې ولې څخه لاس ته راځي. د ولې ګلان ژېړ او ډېر خوشبویه وو. مچۍ له دغو ګلونو سره ډېره مینه لري، دا ونه په بریتانیا کې د پام په نامه یادېږي.

د فبرورۍ په درویشتمه نېټه له کوهاټ څخه وخوځېدو او د درېو میلو واټن وروسته د یوه لوی غره غاښې ته راورسېدو. پېچومې یا هغې لارې چې په کوتل یا غاښي کې پورته ختله، یو نیم میل اوږدوالی درلود، سره له دې چې دغه لار ډېره کږه، کینه او کږلېچې یې زیات وو، خو بیا هم ډېره ریونده او پرله پسې په غټو ډبرو ختلو او ښتې مو وریاندې لګېدې، د څارویو لپاره په دغو ډبرو باندې سرېږه تګ کول هم د حېرانی وړ ګڼل کېده. موږ له موسی خان سره یوځای پورته ولاړو. کله چې د غاښي سرته وختلو، ټول د اوښانو د راتېرېدو په هیله او انتظار دلته کېناستو. د بنګښو ځینې مشران او د موسی خان د ولې یو شمېر درانیان هم له موږ سره یوځای شول. وروسته خانانو د غرمې د ډوډۍ پیشنهاد وکړ، چې زموږ له خوا تایید شو. دوی د ډوډۍ دسترخوان وغوړاوه او د ګرګانو سرې غوښې او وچې ډوډۍ وریاندې کېښودل شوې. ټولو په ډېره مینه ونډه واخیستله او په داېروي توګه ګرد چاپېر کېناستو. په لاسو مو ډوډۍ خوړل پیل کړل. د ډوډۍ له خوړلو وروسته مو چیلم داسې وڅکولو، چې د حلقې یا کړۍ ملګرو په لاس یو بل ته سره تېر کړ. په دغه کار پسې مو بیا خپل مزل پیل او د درې په لور ورښکته شو. دا ناوه یا دره پینځه سوه متره پراخه وه او د خیبر په قوم پورې مربوطه وه. خیبریان هم د لوټمارۍ عادي دي[1] او د دوی دا خوی د مستر فوستر Mr. Foster[2] له خوا ډېر ښه بیان شوی دی. موږ د خپلې لارې په اوږدو کې د دغو لوټمارو خلکو یو شمېر کسان ولیدل. خو زموږ مالونه په ډېره ښه توګه وساتل شول او دوی ته د یرغل لار خلاصه نه شوه. دغه ورځ مو د زرغون خېلو په کلي کې توقف وکړ، دلته غوره ټکی دا دی، چې غرونه او غونډۍ ډېر جګ او درې ډېرې ژورې دي. تر دې اندازې چې سروې کوونکیو د ټکنده غرمې په وخت کې هم ونه کړای شول، چې لمر ووینې او د سیمې کتنه وکړي.

بله ورځ سهار د وختنه موږ خپل مزل بیا پیل کړ او د څو ښکلیو منظرو له لیدو او

[1] خیبریانو ته د لوټمارۍ نسبت ورکول، معمولاً د باندنیو مولفینو له خوا شوی، ښایي دا له هغه معمول څخه مراد وي خیبریان له خیبر څخه د نورو خلکو د تېرولو په غرض د بدرګې په نامه یو څه اخلي (ژباړن)

[2] هغه کرکه او وېره، چې له خیبریانو څخه په زړونو او یا فکرونو کې پیدا شوې وه، د مستر فوستر په هغه څرګندونه کې چې د یوه ارمني په هکله یې ښکاره کړې، ښهٔ تمثیل کېدای شي. یو ارمنی چې کابل ته د تګ په لار کې پېښور ته رسېدلی و، داسې یې وویل چې هغه د خیبریانو له ډاره د ملتان له خوا نه تاو شو او سفر یې نه اوږد کړ یانې ددې په ځای چې په یوولسو ورځو کې د دوی په سیمه کې له خطر څخه ډک تګ وکړي، دا یې ښه وګڼله چې د ملتان له لارې په نهه هفتو کې لاړ شي

تېرېدلو وروسته د درې خولې ته ورسېدو. په دغه وخت کې مو له لیرې څخه د غرونو یوه پراخه لړۍ ولیدله، چې په واورو پټه وه. وروسته ډېر ژر د دغو غرونو بېساری برم او د جګوالي تنداره څرګنده شوه. موږ له لارښوونکي څخه دا معلومات لاس ته راوړل، چې دا د هندوکش د غرونو یوه لړۍ ده. دا یې هم ووېل، چې د دغو غرونو تر شا سملاسي کاشغر، بدخشان او تار تاري پراته دي. په دغه وخت کې موږ د درې په خوله کې له یوه کوچني زاړه برج سره یو زیات شمېر وسله وال خیبریان بیاموندل، چې په یوه غونډۍ باندې ناست وو او د اوښانو تېرېدو ته یې لېواله کتل. موسی خان له خپل ځان سره یو شمېر آسان ودرول او له موږ څخه یې وغوښتل، چې له برج څخه د مالونو د تېرېدو پورې په برج کې ودرېږو. هلته لاړو، په دغه شېبه کې ټول خیبریان له موږ سره یو ځای او یو موټي غونډې ګډ شول، مشران یې په یوائېنۍ توګه پورته راغلل او د سوغات غوښتنه یې وکړه. موسی خان ورته په ځواب کې ووېل، چې د ټولو مالونو او هر شي له تېرېدو وروسته کمپ ته راشي او هلته به مو غوښتنې بشپړې کړو. په دغه ترتیب باندې دوی داسې برېښېدل، چې موافقه به ونه کړي. دغه حالت ما ته په کابل کې د یوه عجیب سیستم او کړو وړو او عاداتو فکر راکړ یانې چې دغه ښکاره لوټمار د سوغات لپاره څنګه پورته راغلل او غوښتنه یې وکړه. بله دا چې څنګه موسی خان د زرینو وسلو او قیمتي کالیو سره به یې له کوم ملاتړ څخه د دوی په منځ کې چې ټول وسلې او ټوپک لري، کېناست او سملاسي یې د دوی غوښتنه ونه منله.

اوس موږ د پېښور هوار میدان ته ورننوتو او دلته مو درې میله نور مزل له غرمې وروسته وکړ، چې د بده بیرې کلي ته نږدې تم شو او خپل کمپ مو ودراوه، دا ځای له ښار څخه شپږ میله لرې دی.

تر دې شېبې ما ونه غوښتل چې د خپلو مذاکراتو په هکله له چا سره تماس ونیسم، ځکه دا کار د پېښور له وګړیو سره زما ناسته ولاړه څرګندوي، چې په نتیجه کې به د هیئت په هکله د دربار نظریات واوړي. په بله وینا له خلکو سره د هیئت ځانګړی تماس او راشه درشه به د مذاکراتو اسرار ښکاره کړي او دربار ته به دا وښيي، چې هیئت په پټه له خلکو سره اړیکې پیدا کړي، نو ښايي چې درنښت یې په دربار کې کم شي.

له کندهار څخه د پېښور په لور تر حرکت وروسته د هیئت په اړه معلومات حاصل کړل. په لومړي سر کې د سفارت په سویه دغه هیئت په ډېره زیاته بې باوري او تعصب سره تلقي شو. د کابل پاچا په هند کې تل د ټولو ناراضو خلکو مرجع او منبع ګڼل کېده. ده ته د ټیپو سلطان د وزیرو اتحادیې او نورو مسلمانانو له خوا چې هغوی به زیاتره له مرهټیانو او موږ سره جنګ درلود، پرله پسې شکایتونه

Property of ACKU

ورلېږل کېدل، په وروستیو وختونو کې پخپله هولکار هم چې یو مرهتې و، زموږ په ضد د قوي مرستې د غوښتلو لپاره هغه ته یو سفارش واستاوه.

د پنجاب راجا رنجیت سنګ، چې خپل ځان یې د پنجاب پاچا باله، د دوو سترو قدرتونو (انګرېز او د کابل سلطنت) ترمنځ د خبرو اترو او مذاکرو پیل کېدلو څخه خورا په وېره کې ولوېد، ځکه دواړه یې د خپل ځان اصلي او طبیعي دښمنان شمېرل. رنجیت سنګ هڅه وکړه، چې د کابل پاچا په هره ممکنه وسیله، چې وي په دې قانع او راضي کړي، چې د انګرېزانو پلانونه په دې سیمه کې د زیانونو او دسیسو اچولو وړ وبولي. په بله وینا دده خبرې به له موږ (انګرېزانو) سره د دواړو ډلو په زیان تمامې شي. د ملتان او سند حاکمانو ټولو د هیئت په اړه د پاچا په زړه کې شک اچولی و. دغه حاکمان په دې وېره او تصور کې وو، چې انګرېزان به د دوی تر واک لاندې سیمې او ولایت امتیاز (مالیه او نور) د خپل دولت او امپراتورۍ په ګټه ترلاسه کړي، نو تر هغه اندازې چې دوی یې امکان درلود، د هیئت ناکامي یې غوښتله. په همدې وخت کې دراني سردارانو هم له هیئت سره د یووالي او تړون په هکله مخالفت درلود، ځکه په دې ترتیب د پاچا قدرت لا پسې پیاوړی کېده او د دوی درباري نفوذ او اریستوکراسۍ ته زیان اوښت. پاچا پخپله هم په دې فکر او شک کې و، چې موږ (هیئت) به د دوی له تنیو اختلافاتو څخه ګټه واخلو. په بله وینا انګرېزان به د کابل سلطنت له کشالو څخه پخپله ګټه ناوړه استفاده وکړي او د هغه یوه برخه به پخپله امپراتورۍ پورې وتړي. پاچا ته د هیئت د بې ساري برم او شوکت په هکله ځینې مبالغه آمیز خبرونه لا دمخه رسېدلي وو. دغه راز ده ته د ډېرو قیمتي سوغاتونو په اړه، چې هیئت درلودل یو څه ویل شوي وو. دغو اوازو د ټولو شیانو دمخه پاچا دې ته راضي کړی و، چې هیئت په دربار کې ومني او په ډېر درناوي سره ورته ښه راغلاست ووایي. کله چې د هیئت او یا سفارت ماموریت پاچا ته جوت شو، نو له خپلې بې باورۍ سره سره یې په زړه کې دا هیله روزله، چې ګوندې له هیئت څخه به زیاته ګټه واخلي یانې د هغه څه نه چې یې پخوا فکر کاوه، یو څه ورته خوشبین و. سره له دې هم خپله بې اعتمادي یې له ځان څخه لیرې نه کړه. د پاچا د نسبي خوشبینۍ په ترڅ کې د دربار هر یوه وزیر ته دا هدف او موضوع پیدا شوه، چې په مذاکرو کې د تنظیم او لارښوونې واک حاصل کړي.

په دربار کې دوه ګوندونه او ډلې وې، د یوې ډلې مشر اکرم خان و، چې دی یو لوی دراني سردار او رښتینی صدراعظم و. بله ډله د پارسي ژبو وزیرانو ډله وه او له پاچا سره یې د خپل ګوند په ګډون ډېرې ځانګړې او نږدې اړیکې درلودې او د پاچا په التفات یې تکیه لرله. دوی یو پټ نفوذ او اقتدار درلود، چې دا اقتدار به یې کله کله د اکرم خان پر ضد کاراوه. د دوی مشر میر ابوالحسن و، دغې وروستۍ ډلې



Property of ACKU

د هیئت په هکله له مخکې نه معلومات لاس ته راوړل، نو یې وغوښتل چې د مهمانداری (مېلمه پالنې) په برخه کې ترتیب او تنظیم د دوی په واک کې وي، خو سره له دې هم تراوسه دا معلومه نه وه، چې په مذاکرو کې به په چا باندې اعتماد وشي. پارسي ژبو وزیرانو زیار وېست، چې ما ته دا وښيي چې پاچا له اکرم خان او نورو دراني لویانو سره حسد لري او هیله یې لرله، چې د خپلو خاصو استازیو په واسطه له موږ سره وغږېږي. اکرم خان راته د خپلو سړیو د یوه تن په لاس پیغام راولېږه، چې دی د هیئت ښه غواړي، دا یې راته ښکاره کړه چې له موږ سره په خبرو کې مامور شي، خو ویلي یې و چې که چېرې ده ته برخه ورنه کړل شي، نو بیا به هرڅه چې دلاسه یې وشي، د هیئت په برخه کې به یې ونه سپموي. له دغه وخت راهیسې اکرم خان په ډېره صمیمانه او طبیعي توګه له موږ سره چلند کاوه او هېڅکله یې په موږ دا ټینګار نه کاوه چې د مقابلې ډلې څخه دده په برخه کې څه پټ کړم، بلکې په داګه یې ویل چې له ده سره هېڅ یوه خبره د پارسیانو له ډلې څخه پټه ونه ساتم. ددغې هیلې او نیکې روېې له مخې چې اکرم خان ښکاره کړه د هیئت بېړه او وارخطایي یې ورکه کړه. د سفارت د وسېدو په وخت کې اکرم خان د کشمیر په لور وخوځېد. زما زیاتره مشکلات او خنډونه دده په مرسته مخکې له منځه وړل شوي وو.

موږ له یوې ګډوډۍ او وارخطایۍ وروسته چې د خپل هرکلي د ډول له کبله مو درلوده، د فبرورۍ د میاشتې په پېنځه ویشتمه نېټه د پېښور ښار ته ورننوتلو. ښار ته د ننوتو په وخت کې زیات شمېر خلک ټول شوي او ګڼه ګوڼه یې جوړه کړې وه. د سړک دواړه غاړې ګڼ شمېر خلکو نیولې او یو شمېر نور ونو ته ختلي وو، چې زموږ د تېرېدو ننداره وکړي. کله چې ښار ته نږدې شو، نو د خلکو ازدحام نور هم زیات شو، خو هېڅکله موږ ته خنډ نه ګرځېدل او کړاو یې راته نه پېښولو. په بله وینا له خلکو څخه دومره زیات په عذاب نه شو، ځکه د پاچا له خوا راستول شوي سپاره هرې خوا ته په فعالیت لګیا او وګړي یې د لارې له مخ څخه شړل. دغو سپرو په ډېره چټکۍ سره خلک له ګڼې ګوڼې څخه منع کول او ډېر ځله یې د متروکو په وهلو سره وګړي شاته تمبول. یوه سړي زموږ پاملرنه په ځانګړې توګه ځان ته راکښله، هغه یوه جګه مخروطي ډوله خولۍ، چې سور رنګ یې درلود، په سر کړې وه. د خولۍ په لاندې څنډه باندې یې ګردچاپېره یوه ګونځې لرونکۍ ټوکر تاو شوی او پکې د ښکې سپینه جوغه ټومبل شوې وه. ده د پوستکي لنډه کرتۍ یا جاکټ، تور پتلون او تسواري بوټونه درلودل، په ونه جګ نری او غیر عادي ځېره یې لرله. دغه راز پوزه یې جګه، غړې یې ډډه او ښه یې ژوندۍ او پارونکې برېښېدله. دا سړی پر یوه ښاپسته خر وزمه آس سپور او د اوږد ور کابو او ناز سره

Property of ACKU

یې په ډېره ښه توګه ځغاسته کوله. له ده سره په لاس کې یوه اوږده نېزه، چې څوکه یا سر یې نه درلود، لیدل کېدله او په یوه جګ او تېز غږ سره یې په خلکو چیغې وهلې او له لارې څخه د ګوښه کېدو امر یې ورکولو. ده نه یوازې د سړک له مخ څخه خلک شړل، بلکې هغې خوا ته د غونډۍ او موږ په سر ناستو وګړو باندې، چې په ډېره غوسه کې برېښېدل هم آس وروځغلولو، هرې خوا ته چې به ځغاست، نو هغه لوری به له خلکو څخه خالي کېده. دی رسول دېوانه (لېونی رسول) نومېده. دی د یوه زړور او تکړه عسکر په څېر نامتو و، خو یو څه ګډوډ سودايي او غیر عادي خوی یې درلود. ورپسې دی د هیئت له زیاتو ملګریو سره اشنا او مینه یې ورسره درلوده او خوشحاله و. ده به انګرېزي خول (تاج) په سر او د سواره نظام په یونیفورم به یې ځان چمتو کړ او ډېر ورسره ښه برېښېده. دا وخت د ښار منځ ته ننوتلو او سړکونه ډېر تنګ شول، تر دې حده چې د نندارچیانو تبصرې مو اورېدلې. د دوی څرګندونې د هیئت د تېرېدو او دلته پیښ تنګ په هکله د دوی د هیښتیا ښکارندوی وې. موږ په کراره تګ کولو او کتونکیو را ته ستړې مشې کولې او ښه راغلاست یې ویل، خو سره له دې جمعیت او ګڼه ګوڼه ډېره زیاته وه موږ نشو کولای چې په جوت ډول د ټولو کتنه او ننداره وکړو، بالاخره هغې خونې ته چې منوږ ته چمتو شوې وه، ورسېدلو. دلته د یوه اپارتمان لورې ته رهنمايي شو، چې غالی او لمڅې پکې غوړول شوي وو. موږ ددغه فرش په سر په پارسي دود کېناستلو او سملاسي مو مخې ته د شیرینیو (د شلمې او نور خوارږه) پتنوسونه کېښودل شول. په دغه خوږو او شیرینیو کې نقل او د شربت لپاره قند یوه ټوټه د پتنوس په منځ کې ایښودل شوې وه. سملاسي وروسته زموږ مېلمه پال لاړشوونکي دا حس کړه، چې زموږ استراحت ته اړتیا لرو، نو له خونې بهر شو.

اوس موږ دې ته وزګار شو، چې خپل استوګنځی له نږدې څخه تر کتنې او آزموینې لاندې ونیسو. دغه خونې د پاچا د ابداریاشي (سترخانه سامان) له خوا په داسې وخت کې جوړې شوې وې، چې دی لږ څه وخت وروسته د اغتشاش او اړ و دوړ خوا ته ولاړ. دغه خونه سره له دې، چې په پوره ډول جوړه شوې نه وه، ډېره مناسبه او غوره ګڼل کېدله. له بلې خوا په ممتازو کسانو باندې د دوی د استوګنې په وخت کې دلته په زور کورونه اباد شوي وو. ددغو شرايطو په نظر کې نیولو سره هغه خونه، چې زموږ د استوګنې لپاره ټاکل شوې وه، بده نه وه.

زموږ ټول استوګنځی او خونې د اومو خښتو یوې څلور کونجه احاطه چاپېره کړې وه. ددغې مربع ډوله احاطې په منځ کې یو بل څلور ضلعي جګ دېوال له خونو څخه تاو شوی و. د احاطې او دغه دېوال ترمنځ ساحه په څو پټیو او انګړو وېشل شوې وه، چې په یوه انګړ کې یې یو وړوکی باغ و. په دغه بڼ کې کوچنی ونې، د



Property of ACKU

ګلابو بوټي، د شبو ګل او نور ګلان برېښېدل. د منحني مربع یا څلور ضلعي جګ دېوال په منځ کې ساحه د یوه جګ دېوال په واسطه په دوو انګړو وېشل شوې وه، چې د هر یوه انګړ یوې وروستۍ څنډې ته یو کور ودان شوی و. هر کور دوه غټ دهلېزونه، چې جګوالی یې د کور له جګوالي سره یو شان و، درلودل. د دهلیزو دواړو غاړو ته زیات شمېر کوچنۍ کوټې په دوه پوړیزه توګه داسې جوړې وې، چې د څېنو مخ د دهلېز لور ته و. یو انګړ یوازې یوه خونه په دغه بڼه درلودله. په داسې حال کې چې د بل انګړ درې نور اړخونه هم دا شان اپارتمانونو نیولي ول. ددغه دریم انګړه خونو ټولې کړکۍ په ورسیو باندې چې له ساده لرګیو څخه جوړې شوې وې، مجهزې لیدل کېدلې، له دغو ورسیو څخه هوا او رڼا کوټو ته ننوتله، په داسې حال کې چې له بهر څخه د کوټې دننۍ برخه ورڅخه نه معلومېدله. د دواړو انګړو د خونو په زیاترو کوټو کې ننغرې او یا د اور ځایونه موجود وو، تر ټولو څخه زموږ زیاته پاملرنه ددغو کورونو زیرخانو ځانته واړوله، چې د اوړي له تودوخې څخه د ژغورلو لپاره جوړې شوې وې. د هر کور لاندې یوه زیرخانه وه، چې یوه یې ډېره پراخه او ښاپسته برېښېدله او له پخو خښتو او ګچو څخه جوړه شوې وه، بلکه یې هم په دغه شان د خونې د تعمیر په څېر لویه او دوه دهلېزونه یې درل او د هر یوه دهلېز په اوږدو کې دوه پوړیزه اپارتمانونه او کوټې داسې لیدل کېدلې لکه چې د ځمکې له مخ څخه پورته ودانې شوې وي. د ځمکې لاندې دا ټوله ماڼۍ او زیر زمیني په ډېره ښه توګه د سفو پراخو سکرو ټیټو ترکیبو په واسطه، چې د ځمکې له مخ څخه د ځمکې لاندې ماڼۍ په پاسنۍ برخه کې جوړې شوې وې، روښانه کېدله. د هغې زیر زمینۍ چې زه یې بیان کوم کار نیمګړی و، خو کله چې جوړه شوې وای نو رنګ امیزي او تجهیزات یې د خونې د پاسنۍ برخې په څېر وای، نو د دهلېز په منځ کې به یې یوه فواره د اوبو ډنډولو لپاره لرله. دغه اپارتمانونه د زیر زمینۍ او یا (ته خانې) په نامه بلل کېدل، د پېښور خوار او نېستمن خلک هم دا ډول زیر زمینۍ ځانونو ته جوړوي، خو دا ډول (ته خانې) لرې شمال لوېدیځ ته د هوا د معتدل والي له لامله نه لیدل کېږي. په توده هوا کې زه پخپله په زېرزمینۍ کې کېناستم، چې د روغتیا او طبیعي برابرولو لپاره یو شان برېښېده، په بله وینا سم د خو بکې طبیعت سم و او هم د روغتیا لپاره ور ګټل کېدله.

د رسېدو په ورځ پاچا ماښام ډېر ښه خواړه موږ ته راولېږل، چې د ټولنې ډېر خوښ شول. ورپسې مو انګرېزي خوراکونه په زیاترو وختونو کې لګول. خو سره له دې هم پاچا د ډوډۍ استولو ته دوام ورکړ او د سهار، غرمې او د شپې له خوا یې د دوو زرو تنو لپاره (دا شمېر د سفارت د ګډون کوونکیو تر شمېر اوښتی) خوراکي شیان چمتو کول. دغه راز د فیلانو او نورو څاروېو ترڅنګ یې د دې سویو آسونو د اړتیا ور



Property of ACKU

خوراکي مواد رالېږل. ما چې د پاچا په اړه د یوې میاشتې په پای کې دا شیان اندازه کړل، نو بې له تکلیفه نه برېښي. ددغو جلا جلا لګښتونو او مصارفو توزیع دده د مېلمه پالنې ښکارندوی ده. تر رسېدو وروسته مې د رتبې والا یو شمېر کسانو سره چې پخپله او یا د پاچا له لوري څخه راغلي وو، خبرې اترې او ملاقات وکړ. ما زیاتره وخت د اکرم خان له ورور شېر محمد خان او د همدغه وزیر له دیوان میرزایي خان سره د زړه خوالې درلودلې. دوی دواړه د هیئت او سفارت د ښه راغلاست لپاره راغلي وو. دغه راز زموږ مېلمه پال یاني میر ابو الحسن خان زما زیاته مېلمه پالنه وکړه. نوموړی پارسي نژاده او دده کورنۍ د زیات وخت راهیسې په کابل کې مېشته شوې وه. دی پخپله د یوه عسکر له رتبې نه (رپوټونو ښودل چې ان د یوه درزي یا خیاط له رتبې نه) د صندوق دار باشي (یا د کالیو ساتونکي او قولر آغاسي (د ګارد قوماندان) ته په سلسله راجګ شوی او یو وخت د پېښور ګورنر هم و. میر ابو الحسن خان ډېره ښکلې څېره او سره غمبوري (بارخوګان) لرل، خو ونه یې ټیټه، غږ یې کمزوری او خوی یې ډېر پوست او مطیع برېښېده، نو ځکه په لومړي سر کتنه کې ډېر تکړه راته معلوم نه شو، خو وروسته په دې پوه شوم، چې دی د خپل ملت ډېر نامتو او عالي سړی او دده په څېر په ساده ګۍ کې هیڅ یو پارسي نژاده موندل کېدای نه شو.

پېښور ته له رسېدو وروسته تر یوې اونۍ پورې له پاچا سره مو د پېژند ګلوۍ کتنه ونه کړای شوه، ځکه په دغه وخت کې زموږ د ورپېژندنې یا معرفۍ د بڼې په هکله یو څه کشاله پېښه شوې وه. د سفیرانو منل په دربار کې د دغه هیواد ځینې چې ځینو وزیرانو وکړ، تر یوې اندازې بې دلیله ورته ښېدل، په تېره ځینو وزیرانو د دربار وضع د فارس او د ازبک تارتاري د پاچاهانو له خوا استول شوي سفیرانو او ان د پاچا د ورور په اړه څرګنده کړه. دوی وویل، چې کوم سفیر چې پاچا ته ورپېژندل کېږي، لومړی پلا یې دوه منصبداران په دواړو مټو او غړیو کې ټینګ نیسي او د پاچا مخامخ ځای ته یې بیایي، هلته پاچا له یوې جګې کړکۍ څخه خپل مخ ښکاره کوي، سفیر په دې وخت کې زیاته فاصله وړاندې ځغلي، په ټاکلي ځای کې یوه شېبه تم او د پاچا لپاره دعا کوي. ورپسې بله منډه اخلي او دا پلا هم پاچا ته د خیر لاس پورته کوي. د یوې بلې ځغاستې وروسته پاچا غږ کوي، چې خلعت (یو ډول کالی)، په دغه کلمه پسې د (جتشین getsheen) ترکي کلمه د دولت د یوه منصبدار نه چې (لیرې شه یا ځه) مانا ورکوي، اورېدل کېږي یانې په دې ډول یو جلعت (ښکلې جامه) د شاه له خوا هغه سفیر ته، چې کتنه ورسره نه غواړي، ورکول کېږي او د دربار نه یې باسي. په دې ډول سفیر تر هغه وخته پورې چې پاچا د خصوصي کتنې لپاره په رسمي توګه خپلې خلوت ګاه ته ونه غواړي، نه شي کولای

Property of ACKU

چې پاچا وویني.

ټول شیان په پای کې برابر او موږ د مارچ په پینځمه نېټه په ډله ییزه او رسمي توګه د پاچا د ماڼۍ په لور وخوځېدو. موږ د یوه میل درې په څلور برخې واټن د کوڅو په منځ کې وواهه او ورځخه تېر شو. په دغه لار کې د خونو په کړکیو او بامونو کې زیات شمېر خلک، او تندارچیان د لیدنې لپاره سره ټول شوي او زموږ سیل یې کاوه. بالاخره د کلا پاساني لاندې، خالي ځمکې ته ورسېدو، چې هلته پاچا استوګنه درلودله. دلته د هغې غونډۍ چې د پاچا کلا پرې پرته وه، په خوا کې زیات شمېر خلک سره راغونډ او دا ځای یې داسې ډک کړی و، لکه چې په تیاتر کې د تنداري لپاره خلک ناست وي. کله چې موږ هغې دروازې ته، چې پاچا د موزیک باندې سرود غږاوه، ورسېدو نو رانه وغوښتل شول چې خپل زیات شمېر ساتونکي تر څنګ پرېږدو او دلته پکار وو، چې موږ د خپلو ډولونو او ترمپټونو غږونه بس کړو. کله چې دغه مدخل ته ورننوتلو، نو له اسانو کښته او د سل ګامه واټن تر وهلو وروسته په یوه پوړیو لرونکې زینه باندې پورته وختلو او یوې نرۍ اوږدې کوټې ته ننوتو، چې دلته یو سل و پنځوس کسه په لیکه سره د دېوال په اوږدو کې په یوه سم ترتیب او خاص نظم سره ناست وو. دغه کوټه کشیک خانه یا د ګارډ خونه بلل کېده، دا دومره ښایسته کوټه نه برېښېدله او اوس له ترمیم څخه وتلې وه، په مخ باندې یې د غالیو او لمڅیو فرش غوړول شوی و. موږ د کوټې پورته خوا ته رهنمایي شو او دلته یې شمېر سړي، چې ښې جامې یې اغوستې وې، سملاسي زموږ په نېږدې کېدو سره پاڅېدل. په دغه وخت کې یوه تن چې لوړ عالي شخصیت او د لوړ خاوند و، موږ ته ښه راغلاست ووایه. دا سړی وروسته وپېژندل شو، چې د پاچا امام او یا د دیني مؤسسو مشر و. ده په ډېر درناوي له ما سره روغبړ وکړ او په عادي توګه له ښه راغلاست او پوښتنې وروسته یې زه کېنولم. ما ته مخامخ د دربار اشراف او ستر شخصیتونه، چې ځینو یې په جواهراتو سره مزین شوې خولۍ په سر او چوغې یې د خولۍ دپاسه ټومبلې وې، ناست وو. یو څه لاندې نور کسان چې ځینې پارسیان او ځینې نور یې درانیان برېښېدل، ځای پر ځای وو او لږ څه نور کښته له ښېښو سره نږدې غرنیو سیمو قبیلوي مشران لیدل کېدل. بیغي لاندې یو شمېر داسې خلک وو، چې عجیبه خولۍ یې په سر او دا ډله په دربار کې د کهول د منصبدارانو په څېر استخدام او جلا ډول لباسونه یې درلودل.

دوی په عمومي توګه تور او سره وو، خو د دوی د ښېلو ښېلو وسوسې، کوونکیو خبرو بشپړه تشریح مناسبه نه برېښي. په دوی کې سلیقه لږه وه او ښه اغېزه یې نه شوه شیندلای.

Property of ACKU

امام یا مذهبي مشر یو ډېر خوش طبیعته سور سپین سړی و، چې بې لستوڼو شال ډوله کالي یې اغوستي وو. د جامو ځوکو یې د پوستکي لیکې لرلې او د عادي او عام سړي په څېر برېښېده، عمر یې د څلوېښتو کالو په حدودو کې و، ده د دیني مباحثو په پیل کولو سره موږ ته خپل ځان نور هم ښه وپېژاند. ده د عیسوي دین د بېلو بېلو مذاهبو په باب پوښتنې وکړې، دغه راز د خپل دین فرقې یې هم بیان کړې. موږ ته مخامخ لږ څه لیرې د کوټې په هغه غاړه باندې یو ښایسته سړی په ښکلیو جامو کې ناست او په انګلستان کې د تعلیماتو د څرنګوالي، د پوهنتونونو شمېر او په هغو کې د دیني علومو د تدریس په اړه یې پوښتنې وکړې. له ځواب اورېدلو وروسته یې بیا هیله وکړه، چې د نجومي سیستم په اړه یو څه توضیحات ورکړو، خو په دغه وخت کې چاوش باشي (Chauos-Baushee) راننوت او څو کلمې یې وویلې، چې په هغو سره د امیر ابوالحسن خان او دده زوی څخه پرته نور ټول ناست کسان پاڅېدل او په ده پسې ولاړل. له دې نه مخکې مو هم نه یواځې یو وار، بلکې څو واره د سپرو د کړیا په څېر اوازونه واورېدل، چې په حقیقت کې د ګارد عسکرو د بوټونو د اوسپنو پوندو له وهلو نه پیدا شول. دا ډله افراد د پاچا د راتګ په مناسبت دده د سلامۍ لپاره، د چاوش باشي په واسطه چمتو شوي وو. کله چې ده دا مراسم بشپړ کړل، نو په ځغاسته سره موږ ته بېرته راغی. موږ د څو شیبو لپاره په کیشیک خانه کې پاتې شو، دا وخت میر ابوالحسن خان په خبرو اترو بوخت وساتلو. ده زموږ په اړه ډېر غوره حقایق چې د مخه وربانده نه پوهېده، لاس ته راوړل. دی په دې فکر کې و، چې کلکته په انګلستان کې ده او اوس دا ورته جوته شوه، چې د هیئت ښاغلي په هندوستان کې له انګرېزي والدینو څخه پیدا شوي دي. بالاخره چاوش باشي زموږ خوا ته راغی او په ډېر غور سره یې زموږ نومونه لست کړل، خو د نومونو په لیکلو کې دومره ستړی او اندېښمن شو، چې لست یې په ډېره مایوسۍ پرېښود او په دغسې عجیبه نومونو پوهېدل یې ګران وشمېرل. په دې وخت کې یې د مراسمو په هکله موږ ته توضیحات راکړل او ویې ویل، چې په ډېره مودبانه توګه باید مراسم ترسره شي. څو ځله یې په دې ټینګار وکړ، چې له پاچا سره د معرفي په وخت کې خپل نومونه راته په غوږ کې ورو ورو تکرار کړي. وروسته هغه موږ مخ پورته رهنمایي کړو، له یوې دروازې څخه تېر شو او یو ډول پښو پاکوونکیو ټوکرانو په مخ پاس خوا ته وختلو، چې ناڅاپه د دربار سترې خونې ته ورننوتلو. ددغه انګړه پورتني لور ته مو پاچا په یوه هسکه ماڼۍ کې ولید.

د پاچا ماڼۍ او دربار اوږد مستطیل شکله وه او ْجګ دېوالونه یې لرل، چې په



Property of ACKU

مخ یې د سبرونو انځورونه رسم او رنګ آمیزي شوي وو. د دېوالونو په منځ کې یو حوض او فوارې برېښېدلې، د هر یوه دېوال په اوږدو کې د پاچا ساتونکي افراد (ګارد) درې قطاره ولاړ وو او د شاهي ماڼۍ او انګړ په بېلو بېلو ځایونو کې د دولت درباري منصبداران له پاچا څخه د خپل مقام او رتبې په اساس نږدې او لرې درېدلي وو. د انګړ په وروستۍ څنډه کې یوه جګه ماڼۍ ولاړه وه، چې لاندینۍ پوړ یې یوازې یو پوخ دېوال و، چې د طاقونو په څېر یې مخ ښکلې شوی، کړکۍ او دروازې یې نه درلودلې، ددغه لاندې پوړ پر سر یو بل پوړ داسې جوړ شوی و، چې چت یې د ستنو او مراکشي ډوله طاقونو په واسطه ټینګ ساتل کېده. دغه پوړ ډېر زیات ښکلی کړل شوی و، په منځني طاق کې پاچا د سرو زرو او مرصع ستر تخت باندې کېناست. د پاچا څېره له برمه ډکه او شاهانه لیدل کېدله. دده ټول کالي او تاج د جواهراتو د برېښ له لامله ډېر ځلانده ښکارېدل... او شغلې ترې ختلې. پاچا د تخت له اړخ سره ولاړ و. کسانو (مریي ملکان غلام بچه) له سرو څخه پورته ناست وو. دده تر شاوخوا سړي (مریي هلکان، چې د خانانو زامن او په دربار کې د زده کړې عملي تعلیم لپاره ساتل کېدل. ژباړن) ټول غلي او ارامه ولاړ وو او دا ډله دده د کېناستلو په سالون کې یوازېنۍ خلک وو. د پاچا په ښکاره کېدو سره موږ ټولو ټوپۍ له سره اېستې او په ډېر تعظیم سره مو سرونه ورته ټيټ کړل. ورپسې مو خپل لاسونه ده ته د دعا کولو په هیله پورته ونیول. پسې د فوارې خوا ته وړاندې شو. دلته خاص باشي زموږ نومونه له کوم لقب او درناوي څخه پرته قرائت کړل او په دې جمله، چې «دوی له اروپا څخه د سفیرانو په څېر تاسو اعلیحضرت لپاره راغلي دي، ستا بلادې په ما ولګېږي[1]» خپلې خبرې پای ته ورسولې. پاچا په ځواب کې په ډېر لوړ او کړنګېدونکي اواز وویل: «په خیر راغلئ؟» په ښه راغلاست پسې مو بیا ده ته د خیر دعا وکړه. دا مراسم بیا تکرار شول، چې ده موږ ته د افتخاري کالیو هدایت ورکړ او په دې توګه زموږ درناوی وشو. تر دې وروسته د دربار منصبدارانو په ترکي ژبه یو څه وویل، چې په هغې سره د هر لوري څخه یوه ډله عسکر قطار شول او سملاسي له دربار څخه بهر ته ووتل. د لار په کلک او ډبرین مخ باندې د دوی د بوټونو کړپا د دوی د زغرو له شرنګهار سره یوځای غوږېو ته راتله.

په افرادو باندې ناره یا غږ نور دوه واره تکرارشو او له هرې یوې نارې سره یوه ډله افراد له دربار څخه ووتل. په څلورم غږ باندې خانان هم ووتل او په ترتیب سره ودرېدل. یوازې یو محدود شمېر کسان دلته پاتې او هغو ته امر وشو، چې وړاندې

[1] دغه ډول دعاګانې معمولاً د پاچاهانو لپاره کېدلې. دغه راز لرغونو پارسیانو هم په دې څېر "ای پاچا د تل لپاره ژوندی اوسې" دعاګانې درلودې



Property of ACKU

راشي. پاچا هم په دغه وخت کې په ډېر شاهانه پرتم له تختته پورته شو، په داسې حال کې چې په دوو تنو (مريي هلكانو يا غلام بچه ګانو) باندې يې تکيه درلوده، دباندې خوا ته يې ګامونه کېښودل او زموږ له سترګو څخه پنا شو. غوښتل شوي خانان هم په هصدې توګه ولاړل، په داسې حال کې چې موږ د ژينې بېخ ته، چې په قيمتي غاليو فرش وه، ورانده شو. دلته موږ د خانانو تر کتار پېدلو پورې تم شو، وروسته سملاسي پورته او هغه سالون ته ورننوتلو، چې پاچا اوس هلته په يوه نسبتاً کوچني تخت باندې دروازې ته مخامخ ناست و.

موږ د کتار په ډول ودرېدو او د کابل پاچا زموږ د پاچا په اړه پوښتنه وکړه او بيا يې د ګورنر جنرال د روغتيا پوښتنه وکړه. بيا يې په مفصل ډول زموږ د سفر په اړه پوښتنې وکړې او هيله يې وکړه، چې د دواړو خواوو ملتو ترمنځ دوستي او ملګرتيا دې پياوړې او زياته شي. دغو ټولو پوښتنو ته ما لنډ ځوابونه ورکړل. د سفارت غړيو او بناغليو زه او مستر ستړاچي دې ته پرېښودلو، چې له پاچا سره نږدې کېنو، نو ځکه دوی لږ څه شاته شول. امام او منشي باشي (مشر او لومړي سکرتر) موږ ته څيرمه ودرېدل، نو خانان د سالون د يوې غاړې په اوږدو کې ولاړ ليکه شول. دا وخت د ګورنر جنرال فارسي مکتوب د منشي باشي له خوا په ډېره خوږه ژبه او څرګنده توګه ولوستل شو. پاچا ډېر روغ ځواب ورکړ او له انګليسي ملت سره يې دوستي اعلان کړه. ده زما هر ډول خبرو اترو ته تياري وښودله او د يو کلک تړون هيله يې وکړه. وروسته له دې، چې ما هغه ته ځواب ورکړ، نو سملاسي يې خبرې او موضوع واړولې او زموږ د سفر په اړه يې ځينې پوښتنې پيل کړې. دغه راز زموږ د آري هېواد په اړه يې سوالونه طرحه کړل. کله چې دې په دې پوه شو، چې د انګلېنډ او کابل اقليم يو شان او سره ورته دي، نو يې ووېل چې طبيعت هم دواړې پاچاهۍ سره يو کړې دي. د دوستۍ په اړه يې خپل باور بيا څرګند کړ. وروسته ما پوښتنه وکړه، چې د اعليحضرت خوښه ده، چې په دغه موضوع او معامله باندې دا وخت رسيدګي وکړو. د وخت په اړه هغه په ځواب کې ماته ووېل، چې ته پخپله د مساعد وخت په اړه سلا وکړه او د هغې پر بنسټ به له ما او يا ستا له خوا انتخاب شويو وزيرانو سره مفاهمه وکړو. وروسته ما د هيئت او سفارت د اهدافو په اړه پرله پسې توضيحات ورکړل، چې اعليحضرت ورته په ډېره عاقلانه او صميمانه توګه ځواب ورکړ. له دې وروسته زه له پاچا څخه رخصت او له دربار څخه راستون شوم.

د کابل پاچا ډېر ښاېسته سړی او ګڼه توره ږيره يې درلودله. څيره يې غنم رنګه او عمر يې د دېرشو کلو په شاوخوا کې و. دده د څيرې تشريح ډېره په زړه پورې او له امتياز څخه ډکه وه. دده غږ ډېر صاف او خطاب يې شاهزاده غوندې و. په لومړي سر



Property of ACKU

کې موږ دا تصور وکړ، چې ده د جواهراتو زغره اغوستې ده، خو کله چې مو له نږدې ورته وکتل، دا فکر غلط او ده ښتیانی لباس و، چې شین رنګ یې درلود او د اوږدې کرتۍ یا شړۍ په څیر یې په مخ د سرو زرو او کریمه ډبرو ستر ګلان برېښېدل. په دغو ګلانو سربېره ده په ټټر د الماسو داسې یوه زغره وه، چې د واورو په څیر یې شکل درلود. د همدې ګانې په شان یې د هر ورانه په سر یو پسول (ګانه) لیدل کېده. د څنګلو دپاسه یې په مټ باندې د زمرو دوه وښي تړلي وو. دغه راز د بدن په بېلو بېلو برخو کې یې نور جواهرات برېښېدل. د یوه وښي (لاس بند) په مخ یې د کوه نور نامتو الماس، چې د نړۍ ډېر ستر الماس دی[1] لیدل کېده. ده د مرغلرو ستر امیل، چې یو په بل پرې شویو تسمو په څېر برېښېده، په غاړه کړی و. داشی (امېل) شست او ځړېدونکی اچول شوی و، تاج یې نهه انچه جګ و، د اروپايي پاچایانو په شان مزین شوی نه و، خو په ظاهري توګه ټول داسې لیدل کېده، چې له قیمتي او کریمه موادو څخه منځ ته راغلی دی. دا تاج د پخوانیو او لرغونو تاجونو په څېر ځلېده، چې د وړانګو ترشا یې د ارغواني بخمل څوکې برېښېدلې. د لښتیو یا ځوړندیو (ګواشواره، پوپک) کوچنۍ څانګې داسې برېښېدلې چې له تاج څخه غځول شوې دي. د تاج ټول خصوصیات ډېر پېچلي او سترګې برېښوونکي وو، چې په ټولو باندې پوهېدل او تشریح کول له امکان څخه لیرې وو. تخت په یو ډول ټوکر باندې، چې په مرغلرو سره ښکلی شوی و پوښل شوی او په هغه باندې یوه توره راځوړنده او د جواهراتو یوه وړه امسا هم پکې لیدل کېدله. د پاچا د کېناستلو کوټه هرې خوا ته خلاصه او د څلورو جګو ستنو په واسطه ټینګه شوې وه، په منځ کې یې د مرمرو د ډبرو یوه فواره هم وه. د کوټې غولی په ډېره عالي عالي باندې فرش و، چې د څنډو ګردچاپېره یې د ورېښمینو او زرتارو د ټوکر نرۍ ګلداره څېره (ټوټه) د خانانو د درېدو لپاره تاو شوې وه، له سالون څخه ننداره کول ډېر په زړه پورې ګڼل کېدل.

لاندې خوا ته یو ستر بڼ و، چې پکې هر ډول ونې په تېره د سبزو ونې ولاړې وې. د ونو ترشا یو شین چمن او ځلېدونکې ویالې لیدلې کېدلې. دا ټول باغ او چمنونه د تورو غرونو په منځ کې، چې ځینې یې په واورو پټ وو، محدود شوي وو. کله چې له پاچا څخه راستون شوم، نو د کیشیک خانې خوا ته یې بوتلم. دلته د هیئت ټولو ملګرو د ویاړنې شتمن او قیمتي کالي اغوستي وو.

په پورتني بیان کې زه زیاتره هغه لور ته متوجه وم، چې په مراسمو کې غوره او ځلېدونکې برېښېده. مخ کې له دې، چې دا خبرې پای ته ورسوم، ښایي ښکاره کړم،

[1] د تاور نیر سفرونو په کتاب کې Taver, Travels د هغه انځور وګورئ



Property of ACKU

چې ځینو شیانو (په تېره د پاچا بڼې او څېرې) زما هیله مندي او پاملرنه زیاته کړه، چې نور شیان ورځخه شاته ځای لري. دا ټول شیان د دولت د بریالیتوب د ښکاره کولو نښه نه شمېرل کېږي، بلکې په بدل کې دا پراخه پاچاهي وراندونکې څرګندوي.(۱)

د کابل د دربار عمومي تشریفات هغسې، چې وو بیان شول. وروسته ما فرصت درلود چې له پاچا سره په نږدې لیدنو کتنو کې د دربار د مراسمو نور ډولونه، چې پاچا ترسره کول، وګورم. پاچا هیله کړې وه، چې له ما او مستر ستراچي سره په ځانګړې توګه په یو اپارتمان کې وګوري، چې په سراګلنیو پوړې یې اړه درلوده او څرنګه چې دا هغسې ځای نه و، چې پردیو ته ورته په معمول ډول د تللو اجازه وي، نو موږ ته وویل شول، چې د شپې له خوا دغه ځای ته له لرو کسانو سره راشئ. له دې لامله موږ د مېلمانه ارزوی د بالاحصار خوا ته رهنمایي کړو. بالاحصار د هغه ځای (دربار) مخامخ لوري ته پروت دی، چې زموږ تشریفات پکې په ځای شول. کله چې د غونډۍ تل ته ورسېدو، هغه کم شمېر کسان چې تر دغه ځایه له موږ سره ملګري وو، همدلته پاتې شول او موږ په یوه نرۍ ړکې (پته) لرونکې زینه (پړه) باندې پورته وختلو. د شپې د تیارې له لامله زموږ رهنما په ډېره سختۍ سره د زینې لاره موندله. ددغو ړکیو په سر یوه کوچنۍ کوټه د ماڼۍ لور ته خلاصه شوه، دلته موږ یو شمېر هندي ساتونکي (ګارد) ولیدل، چې د انګرېزي سپاهیانو په څېر جامې یې اغوستې وې، دا ډول ننداره او منظره بیا بیا هېڅکله ونه لیدله. وروسته له بېلو بېلو انګړونو څخه چې ساتونکي پکې ولاړ وو، تېر شو. دغه راز پورته خوا ته له څو زینو (پړو) څخه، چې لږه اندازه رڼاوې واوښتلو، چې د یوې نرۍ او اوږدې کټاره لرونکې زینې لاندې یوې تیارې کوټې ته، چې د انتظار لپاره وه، راورسېدو. دلته مو یو شمېر کسان د میر ابوالحسن خان په ګډون ولیدل، چې ځینې یې ناست او ځینې د

۱ کله چې موږ په کیشیک خانه کې ووا و پاچا ته زموږ سوغاتونه د ماڼۍ په لور یووړل شول، د هغو افسرانو چې د هغوی په امر دا سوغاتونه وړل کېدل، حرص دومره زیات و چې هېڅ شی ورته رسېدلی نشي دوی هغه اوښان چې د ا سوغاتونه ورباندې استول شوي وو، له خان سره وساتل ان د سورلی هغه څلور اوښان چې په غلطۍ سره ماڼۍ ته ننوتلي وو، ونیول دوی د پیلوانان د دوی په تبېله کې لوټ کړل او په جدي توګه یې ټینګار وکړ، چې هغه دوه تنه انګرېزي مزدوران چې د پالکي د ساتلو لپاره استولی شوي وو. ددغو سوغاتونو په یوه برخه کې وګڼل شي د هغو ټولو سوغاتونو په لړ کې چې پاچا ته واستول شول، یوې جوړې عالي توپانچو (دا توپانچې د ګرینډ سېنیر Graind Signior (لوی مشر) لپاره جوړې شوې وې) او ورسره موسیقي سامان نه ډېر خوشحاله شو، دغه راز ده زموږ وریښمینو جرابو (سمیو) ته پاملرنه واوښتله او د یو څه نورو لپاره یې پېغام راولېږه، چې په هغو سره دی ډېر خوښ شو



Property of ACKU

پیشخدمتانو په څېر د خپل بادار په دالان کې ولاړ وو. یو څه وخت وروسته یو ښکلی ملبس شوی سړی راغی او موږ یې د پاچا لور ته وبللو. په یوې کم سورې کټاره لرونکې زینې پورته وختلو او یوې وړې کوټې ته ننوتو. دا کوټه په یوه ډېره ښکلې وریښمینه غالۍ فرش وه او شاوخوا یې په عالي توګه رنګ آمیزي شوې وه. وریسې د همدې کوټې په څېر له نورو کوټو او لارو څخه تېر شو. د ټولو کوټو دروازې په ګلداره او ښایسته پردو پټې وې.

دا پردې له داسې وریښمینو ټوکرانو څخه جوړې شوې وې، چې په مخ یې انځورونه او ګلان کښل شوي وو. ټولې کوټې لږې روښانې او خالي وې، یوازې په یوه کوټه کې د پاچا قلیانچي (چلم دار) د دېوال په یوه تاقچه کې ناست و. بالاخره د یوې پردې په جګولو سره مو یوه داسې کوټه بیاموندله، چې ډېره رڼا وه او دلته پاچا پکې ناست و. د پاچا کوټه ډېره ښایسته او مستریح کوچنی استوګنځی (اپارتمان) و، چې یوه محراب لرونکې او د لیندۍ په څېر کړکۍ یې درلودله. دا کړکۍ د کوټې له پاتې غولي څخه څو انچه جګه او له همدې ځای څخه کوټه په دوو او یا درېو متهو (ستنو) وېشل شوې وه. پاچا د کړکۍ منځنۍ برخې ته برابر داسې ناست وو، چې ددغه ځای په شپږو کونجونو کې یو یو تن مړیی هلک پاچا ته مخامخ لاس په نامه ولاړ و. موږ د کوټې لاندینۍ خواکې ستنو ته نږدې کېناستلو. امام موږ ته څېرمه میر ابوالحسن او درې تنه نور زموږ شا ته دېوال ته مخامخ ودرېدل. د پاچا بې لستوڼي شال په زر تارو ګلدوزي شوی او ختلی یې په ډېره ښایسته توګه په جواهراتو سینګار شوې وې. دده تاج له هغه څخه چې مو لومړی ځل ولید، ډېر توپیر درلود. دا وار یې یوه جګه ټوپۍ وه، چې د لاندینۍ خوا ګردچاپېره د تور بخمل په یوه ټوټه باندې د جواهراتو پراخه څنډه راګرځېدلې وه. په داسې حال کې چې د مخکینۍ برخې په مخ یې یو له برمه ډک پسول برېښېده. له دغې برخې څخه د سرو زرو او جواهراتو دوې نرۍ لیندۍ ډوله شیان د اروپایي تاجونو په څېر راوتلي او نېغ جګ شوي وو. د پاچا کوټې ته د ننوتلو په وخت کې موږ خپل سرونه پاچا ته د درناوي لپاره ټیټ کړل، پاچا تر ښه راغلاست ویلو وروسته وویل، چې تاسو ته مې خبر لېږلی و، چې په خپلو منځو کې به په ډېره ازاده او ښکاره توګه خبرې اترې سره کوو. وریسې یې هیله څرګنده کړه، چې په پېښور کې به د استوګنې په وخت کې خپه شوي نه یاست؟. ده په خواشینۍ سره دا هم زیاته کړه، چې دی د هیئت د رسېدو په وخت کې دلته نه و. پاچا د خپل هېواد د برترۍ او پراخوالي په اړه ځینې شیان بیان کړل، خو دده خبرې امام تعقیب کړې او د ښکلاوو په اړه یې څه وړاندې زیات کړل. وروسته امام د پاچا تر واکمنۍ لاندې هر ولایت دده په



Property of ACKU

مستعمرو (دومنیونو) کې یاد او د هر یوه ستاینه او لمانځنه یې وکړه. د امام په لوړ غږ او وینا باندې پاچا موسکی شو او ویې ویل، چې دا خبرې له خپل هېواد سره دده مینه او لورینه څرګندوي. وروسته هغه دا هیله ښکاره کړه او ویې ویل، چې موږ (هیئت) به د کابل او د هغه مربوطې سیمې، چې اوس دده خپلې ګڼل کېږي، وګورو. ده وروسته د هغو ځایونو په اړه، چې ما لیدلي وو، ځینې پوښتنې وکړې او وروسته یې مستر ستراچي ته وویل، چې زه په دې پوه شوم، چې ته پارس ته تللی یې، نو یې له هغه څخه د پارس په اړه څو سوالونه وکړل. ددغو خبرو اترو په ترڅ کې دده مریي هلک د اعلیحضرت چلم راتنه اېست، ما هېڅکله داسې مجلل او ښکلی شی نه و لیدلی. دا د سرو زرو ځلنده چلم و، چې زیات جواهرات پکې لګول شوي وو.

د تمباکو ځای د کوترې په غټوالي سره د تاووس څېره درلوده، چې بڼکې یې د جواهراتو او مینا لرونکې وې. شپه ډېره ناوخته شوه، چې په دغه وخت کې امام موږ ته د تللو او بېرته ستنېدلو اشاره وکړه. په راغلې لاره بېرته وګرځېدو او رخصت شو. په شپه کې ښار ډېر آرام او هر لور ته چوپه چوپتیا خوره وه. له پاچا سره زموږ خبرواترو راباندې ډېره ښه او خوندوره اغېزه وکړه. د ختیزې نړۍ په پاچاهانو کې داسې یو پاچا ډېر کم پیدا کېږي، چې څومره د یوه ښاغلي عادات درلودل او څومره زیات یې خپل برم ساته، په داسې حال کې چې دی یوازې په مهمانۍ او لطف مین و او په ډېره ډېره ښه توګه یې زموږ عزت کاوه.

له پاچا سره د پېژند ګلوۍ د کتنې تر سرته رسېدو پورې د هیئت ښاغلي له یوه وار څخه پرته، چې د تفریح لپاره یوې خوا ته لاړل، په نورو وختونو کې ځای په ځای و او کوم چېرې په سیل ونه وتل. خو کله به چې له پاچا سره د کتنې موده خلاصه شوه، نو له هغې وروسته به د پېښور د سیمې د لیدلو لپاره څو ساعته په سهار او مازدیګر کې ګرځېدلو. دغه راز موږ د ښار بېلو بېلو برخو ته د ورسره معرفي شویو لویو کسانو د غوښتنې د ترسره کېدو لپاره لاړو. په دې ډول د پېښور او د هغه له شاوخوا سیمې سره ډېر ژر بلد شو.

د پېښور ښار تقریباً په یوه دایروي میدان کې، چې قطر یې پېنځه دېرش میله کېږي، پروت دی. له ختیزې وړې برخې څخه پرته له دې ښار نه غرونه چاپېره شوي دي، شمال خوا ته یې هندي قفقاز او د سویل لویدیز لور ته یې د سفید کوه غرونه او څوکې په څرګنده توګه برېښي. شمالي برخې د کابل سیند د درېو څانګو په واسطه وېشل کېږي، خو د دریاب دا ښاخونه له میدان څخه د وتلو په وخت کې بیا سره یوځای کېږي. دغه ډول دا ځای د باړې او بدېنې د رودونو په واسطه اوبه کېږي. دا دواړه رودونه له غرونو څخه راوتلي او د کابل دریاب ته ورګډېږي.

Property of ACKU

کله چې موږ د مارچ په میاشت کې د پېښور سیمې ته ننوتلو، نو په دغه وخت کې د غرو سرونه په واورو پټ وو، په داسې حال کې چې د لاندې میداني سیمو مخ شنو مرغو او ګڼو وابښو نیولی او هوا ډېره په زړه پورې وه.

زیاترو ونو پاڼې کړې وې او له سرو څخه خلاصې وې، په دې ډول د لیدنې لپاره یې رنګارنګه او په زړه پورې ننداره برابره کړې وه. د دوو اونیو په تېرېدو سره بې شمېره باغونه او تیت او پرک ونې په پاڼو پټې شوې. دغه حالت داسې تازه ګي او ځلا پیدا کړه، چې د هندي موسم په پرله پسې اوړي کې هېڅکله لیدل کېدای نشي. د پېښور په پرته سیمه او میدان کې ډېرې ویالې بهېږي، غاړې یې د غزاوولو په ګڼو ونو پټې دي. په دغه سیمه کې باغونه هرې خوا ته خواره شوي، چې په هغو کې ګیلاس، شفتالو، مڼې، ناک، بهي او د آنارو ونې پرېمانه وې. د غرونو تر هغې اندازې نه، چې زه مخکې شاهد وم، زیاتې غوټۍ غوړولې او ګلان یې کړي وو. په غېر زراعتي برخو کې ګڼ پاسته شینلي، چې له انګلېنډ څخه پرته مو په نورو ځایونو کې ساري ونه ولید، دځمکې په مخ څرګندېدای شول. د پېښور هواره او میداني سیمه په ډېره بشپړه توګه تر کرنې لاندې وه او زیات شمېر ویالو او کانالونو یې اوبه برابرولې. ددغه ځای د ارت والي په اندازه په بله یوه سیمه کې دومره زیات شمېر وګړي نه لیدل کېدل لفټننټ مکارتني له یوه لوړ ځای څخه د دوه ډېرشو کلیو اندازه واخیستله، چې ټول محیط یې څلور میلو ته رسېده، کلي ډېر ستر، پاک او ښکلي وې او ټول په ونو پټ برېښېدې. ددغو ویالو دپاسه د لرګیو او خښتو پلونه جوړ شوي وو، چې د هر یوه په دواړو وروستیو څنډو کې کوچني برجونه د تزیین او ښکلا لپاره اباد شوي وو. د پېښور د پرتې میداني سیمې زیاتره ونې توت او یا نورې میوه لرونکې ونې وې. د خرما له څو ښکلیو باغونو څخه پرته نورې جګې ونې د پیپل او غز ونې ګڼل کېږي، چې دا وروستۍ ډول ونې تر ډېرشو یا څلوېښتو فوټو پورې دلته جګوالی درلود. ددغو ونو پاڼې د سبر د ونې په څېر وې او ډېرې پنډې برېښېدلې. ځنګلونه یې ډېر ګڼ او ونې دومره پکې سره نږدې وې، چې تپه توره تیاره یې جوړه کړې وه. پخپله د پېښور ښار په یوه ناهمواره ځمکه باندې ودان و. محیط یې له پنځو میلو څخه زیات او د وګړو شمېر یې یو لک تنو ته رسېږي. کورونه یې له خښتو (اکثراً اومې خښتې) څخه د لرګو په چوکاټونو (سنجونو) جوړ شوي دي. دا کورونه په عام ډول په درې پوړیزه توګه جوړ شوي وو، ددغو کورونو د لاندیني پوړ په زیاته برخه کې هټۍ وې، سړکونه او کوڅې معمولاً تنګې وې، ځکه په دغو ځایونو کې عرابه لرونکې ګاډي نه تلل، نو کوڅې ډېرې نرۍ وې. سړکونه او کوڅې تر یوې اندازې پاخه او مخ باندې یې ډېرې هوارې خو دغه

Property of ACKU

پخه شوې برخه له دواړو غاړو څخه د منځ خوا ته ژوره شوې، ربونده او ښویه وه. په دې توگه سړکونه هم ښوی او غیرّ مستریح برېښېدل. په ښار کې دوه یا درې ویالې بېلو بېلو برخو ته بهېدلې او اوّان دلته هم ولې او توتان یې په غاړو کې ولاړ وو. د ویالو په مخ پلونه تړل شوي وو، خو هېڅ یو یې د لږې یادونې وړ هم نه گڼل کېږي.

د پېښور په ښار کې ډېر جوماتونه جوړ شوي وو، خو دا جوماتونه او نورې عامه ودانۍ د یادونې وړ نه دي، یوازې بالاحصار او یو ښکلی کاروانسرای پکې استثنايي گڼل کېدای شي. بالاحصار په یوه غونډۍ باندې د ښار شمالي خوا ته پروت او دومره زیاته کلکه او پخه مانۍ نه ده، خو یو څو ښکلي سالونونه لري، چې د شاوخوا په زړه پورې او غټو باغونو ورته رومانتیکه بڼه ورکړ شوې ده، په بله وینا دغه دالانونه په دغو رومانتیکو منظرو باندې ښکلي او ښایسته برېښېدل. څنگه چې بالاحصار د پاچا یوازې موقتي استوگنځی و، نو له دې لامله اوس زیات له پامه لوېدلی و. شمال خوا یې ډېره غوره بڼه ښکاره کوي، خو که د ښار له ډېر نږدې ځای څخه ورته وکتل شي، نو د خرابوالي او زمولتیا غوره نښې څرگندوي. د ځینو لویانو خونې ډېرې ښکلې او له برمه ډکې وې، خو ډېرو کمو اشرافو دلته کورونه درلودل.

د پېښور اوسېدونکي هندي منښا لري، خو په پښتو او همدغسې هینکۍ (هینکو) خبرې کوي. دغه راز دلته نور ډېر قومونه مېشت دي. د پاچا د راتگ په وخت کې پېښور ته زیات خلک راټولېږي. له سهارنۍ سپرلۍ او گرځېدو څخه د ستنېدو په وخت کې موږ ته ډېره ښه موقع وه، چې د خلکو غونډېدل او گڼه گوڼه وگورو. د سهار د لومړیو ساعتونو په وخت کې، چې موږ خپل گرځېدل پیل کول، سړکونه او کوڅې خالي او پکې چوپه چوپتیا وه، خو د راستنېدو په وخت کې د خلکو ټولېدلو او ازدحام دغه چوپتیا ماتوله او چاپېریال کې په شور ماشور پیل کېده. له لمر ختو څخه لږ مخکې خلک د سهار د لمانځه لپاره په جوماتونو کې غونډېدل. کله چې به لمونځ وشو، نو وروسته به یو کم شمېر په کوڅو کې د جارو کولو او د خونو د مخ د پاکولو لپاره جوتېدل. دغه راز په همدې شېبه کې ځینې لویان د دربار په لور په آس سپاره او له خپلو لسو یا دولسو تنو نوکرانو سره هغې خوا ته تلل. مزدوران په ډېره چټکۍ په پښو منظم، غلي او چوپ روان وو، یوازې د دوی پښو له کړپا څخه پرته نور څه غږ ترې نه خوت. کله چې موږ د ښار په لور ستانه شو، نو د خلکو گڼه گوڼه زیاته او د هر یوه قوم نارینه له بېلو بېلو کالیو سره څرگندېدل. په دغه وخت کې دوکانونه ټول خلاص وو، وچې مېوې، چارمغز او نور مغز باب، ډوډۍ، غوښې، ساقداره بوټي، نور بوټونه، زینونه، د لوښو او ټوکرانو

Property of ACKU

بنډلونه، فلزي سامانونه، تیاري جامې، پوستینونه، کتابونه او داسې نور شیان د دوکانونو په مخ کې لیکه ایښودل شوي او یا د هټیو په چت پورې په چنگکونو کې راځوړند وو. د ښار د ډېرو ښکلیو دوکانونو په لړ کې د میو د خرڅولو دکانونه وو (په دې دکانونو کې مڼې، ختکې، آلوچې او ان نارنجان سره له دې چې په پېښور کې کم دي، لیدل کېږي او دا مېوې په زیاتو اندازو له هندي مېوو سره یوځای او ګډې ایښودل شوې وې) او په هوټلونو کې هرځه په خاورینو لوښو کې خوړل کېدل او دا لوښي داسې رنګ شوي وو، چې د چیني لوښو غوندې ښکارېدل. په کوڅو کې داسې خلک وو، چې د سبو او مستو د خرڅولو نارې به یې وهلې، یو شمېر نورو خلکو چرمي کڅوړې (ژی یا غړکې) له اوبو څخه ډکې په شا ګرځولې او د خپلې متاع اعلان یې د یوه برنجي ګیلاس او پیالې په کړنګولو سره کاوه. دوی یو ګیلاس یا پیاله اوبه په یوې ډبرې او ادنی روپۍ سره لارویو ته ورکولې. له دې سره یوځای د ښار وګړیو سپینې لونګۍ، غټې توري، سپینې او یا آبي چپنې او د ځینو نورو د پسه د پوستکي چپنې لیدل کېدلې. پارسیانو او افغانانو وړینې نسواري اوږدې کرتۍ یا شړۍ او یا بې لستوڼي اوږدې چپنې د پسه د پوستکي او د رنګه وړینو خولۍ استعمالولې. خیبریانو مزرینې خولۍ او ساده کالي، چې د دوی د غرونو فضایي څرګندوله، درلودل. هندوانو د خپل ملت ځانګړي مشخصات او دودونه او د هېواد د خلکو له اوږدو ږیرو او جامو سره یو راز ګرځولي و. هزاره ګان نه یوازې د پوستکي او یا وړیو د مخروطي ټوپیو، چې د څنډې شاوخوا یې حاشیه او چرمه درلودله، له دې لامله غوره وو، بلکې د غټو مخونو، کوچنیو سترګو او د ږیرې د لږو ویښتانو له پلوه ځانګړي برېښېدل، چې په مقابل کې د ږیرې ویښته په ښار کې د هر یوه بل په مخ لیدل کېدای شول او د سینګار نښه وه. د خلکو په منځ کې لږ شمېر سپینې بوکره لرونکې ښځې، چې بوکرې یې اوږدې او تر پښو یې رسېدلې، هم څرګندېدلې. دغه راز د پاچا عمله د عجیبه خولیو او جلا خوی سره، چې د دوی د طبقې ښکارندوی وه، د خلکو په منځ کې جوتېدله. کله به د وسله والو سپرو یوه ډله افراد په لاره تېرېدل. د دوی د آسانو د نعلونو لګېدل د پاخه سړک په منځ او د ملونو شرنګهار داسې غږونه او کړپا پیدا کوله، چې هرې خوا ته یې د دوی د څرګندېدو اوازه خپروله. ځینې وخت، چې به پاچا بهر ته وت، نو کوڅې به د پلیو او سپرو افرادو او د یو بوکان (کاوه، کو) لرونکیو اوښانو چې سره او شنه رپېدونکې بیرغونه یې وړل، بندېدلې او په ټولو وختونو کې بارشویو کاوه او کوهان لرونکیو اوښانو (غټ دروند وزنه باختري بېر اوښان، چې اوږدې وړې لري.) خپل تګ په کراره سره د کوڅو په منځ کې ترسره کاوه. دغه راز د سړک په منځ کې اته او یا لس

Property of ACKU

کچرې په یوه کړی، کې یو په بل پورې تړلې لیدل کېدلې، چې له کاره وروسته د ستړیا د کمولو او خولو وچولو لپاره په کراره اړخ په اړخ تلې. په داسې حال کې چې د دوی څښتن او ساتونکي به د کوڅې په غاړه د خوراک او یا اجوره یې چلم څکولو په خاطر یو څه تم کېدل، ددغې گڼې گونې په منځ کې موږ بې له کومې ځرگندونې او پام څخه تېرېدو، یوازې موږ ته د لارو یو سلام اچول او د درناوي په نامه سر کښته کول د یادونې وړ دي او یا دا چې د سوالگرو مرسته غوښتل، چې موږ ته به یې د فرنگي خانانو خطاب کاوه او موږ به یې دې ته رابللو، چې ژوند فاني دی او خیرات ورکول ابدي پکارېږي، دا به یې هم را په یادول، چې زموږ لپره مرسته دوی ته ډېر شې دی.

ډېر ځله دا پېښه شوې دي کله به چې ماشوم له کړکۍ څخه ولیدلو، نو ناري به یې کړې، چې اې، فیرنگی! ورسره به د کور ټول کوچنیان او ښځې د کړکیو مخې ته ودرېدل او تر هغو به یې ځیر کتلو، چې څو به ورڅخه غایب شو.

ددغې سیمې په سړکونو باندې په ندرت سره زیات شمېر خلک لیدل کېدل، خو کله کله د هغو سپرو له لامله چې د وښو لپاره په ډله ییزه توگه وتل او پکې یوه تن به فارسي یا پښتو نورو ملگرو ته سندرې ویلې، په سړکونو کې به گڼه گوڼه پیدا کېده. په دغه سیمه کې دا ښه ډېره رواج وه، چې د ټیټې طبقې له یوه سړي سره د کتنې په وخت کې به هغه باز په لاس کې نیولی او ښکاري سپی به ورپسې روان و. ډېر ځله مو ښکاریان ولیدل، چې په لویو او سترو غنمو کې یې مړزان (بټېران) نیول، دوی به د پټي په یوه څنډه کې جال ټینگ کړ او د پټي له بلې خوا به دوو تنو د یوه پړي سرونه ونیول او ورو ورو به یې د جال خوا ته د غنمو په مخ کش کاوه، په نتیجه کې د غنمو د ښورېدو له لامله مړزانو د جال په لور ځغاستل، جال ته به چې ورسېدل، نو به پکې بند شول. دا وخت به ښکاریان سملاسي ورته ورسېدل.

هغو ښکاریانو، چې دا ډول ښکار یې کاوه، شمېر یې ډېر زیات و.*

د سیمې د وگړیو ښه سلوک او تهذیب تر هر څه زیات و. موږ زیات وخت باغونو ته بلل کېدو او په هر کلي کې به هر سړي، چې ولیدو، نو ښه راغلاست یې راته وایه. ډېر ځله د هیئت له ښاغلیو څخه دوی غوښتل، چې د یوه کوربه په څېر هغوی ته د ورتگ افتخار وروبخښي. ځینې وخت به دغو مېلمه پالونکیو خلکو د سفارت د غړیو د آسونو ملونه تر هغو ټینگ نیولي وو، چې له دوی څخه به یې د

* افغانان له باز او ښکار سره ډېره زیاته مینه لري. پاچا پخپله د نورو عامه وگړیو په څېر له باز سره علاقه درلوده او په دې منظور به بهر ته ووت. معمولاً له ده سره به په دغه وخت کې باز په لاس او یو تن ملگری به ورپسې روان و



Property of ACKU

راتلونکې ورځې د سباناري وعده ترلاسه کړه او ان د وعدې د ټینګار لپاره به دوی د هیئت له غړیو سره لاس په لاس کې ورکړ (یانې قول به یې ورسره وکړ.[1])

د سیمې له طبیعت څخه، چې راکاږونې او ننداري یې په زړه پورې او بې ساري توګه زیاتې شوې، دا امیدواري حاصلېده، چې پکې به هرومرو له ساده او خاصو (ځانګړو) خلکو سره مخامخ شو او د دوی ترمنځ به کره وره ووینو، نو داسې تصور کېدای شو، چې سهارني ډله ییز سفرونه او لنډې ګرځېدنې ډېرې په زړه پورې او خوشحاله وګڼل شي. زموږ مازیګرنی سپرلی او ګرځېدل هم له دې څخه لږ په زړه پورې نه برېښېدل. دا وخت به موږ د ښار د شاوخوا باغونو خوا ته ولاړ و، د طبیعت آرامولی او ښکلاینو ته به مو په ډېر په زړه پورې توګه او اریانتیا کتل. په داسې حال کې چې موږ د هوار میدان له لمر څخه خوند اخیستۀ. په مقابل کې د شاوخوا جګو، ښکلیو او توریخنیو غرونو په سر باران او واورې او توفاني وریځې څرګندېدلې. باغونه د ماڼیو او تعمیرونو په واسطه لا زیات سینګار شوي او ښایسته شوي وو، په تېره بیا د مسلمانانو د زیارتونو ګومبزو ورته ځانګړې او غوره ځېره ورکړې وه. ددغه طبیعت په غوره شیانو کې یو لوړ او پراخه تعمیر و،

---

[1] لاندینۍ څرګندونه ددغه ډول مېلمستیا وو او سرګرمیو په لړ کې ده، چې د هیئت ځینو ښاغلیو د یوه سند په څېر لیکلې او د کلکتې په اخبارونو کې یې نشر کړې ده:

))ټاکل شوې ورځ راورسېدله او موږ د خپلې وعدې ترسره کولو لپاره کلي ته ولاړو. ددغه ځای د وګړیو مشر په ډېره دوستانه توګه زموږ هرکلی وکړ او د توت د ونو په یوه په زړه پورې باغ کې، چې تر لاندې یې ویاله روانه وه، ومنل شوو او د یو شمېر کټونو په مخ چې ساده پوزې وربانديې هوار وو، کېناستلو د کلي زیات شمېر خلک هم راسره ګردچاپېر په کټونو کېناستل

موږ یو ساعت د پاچا په اړه سره خبرې وکړې، دغه راز د هېواد حاصلاتو او نورو موضوعاتو په هکله سره وغږېدو دوی له موږ څخه وغوښتل، چې د ښکار لپاره بهر ته ولاړ شو، خو د زیاتې تودوخې له امله دغسې سرګرمۍ ته حاضر نه شو. کله چې د ببرغ په اړه خبرې پیل شوې، نو د کلي سرښوونکي او ملا یو په بل پسې د حافظ شعرونه او بوللې د سندرې په څېر وویل دا منظره په عمومي توګه ډېره په زړه پورې، عجیبه او خوشحالوونکې وه، د کلي سرښوونکی ډېر ځیرک اوهوښیار و، ملا به یواځې په اهانت سره ټوکې کولې، بلکې دوی پرله پسې د یو او بل په خبرو کې سره لوېدل او یو بل ته یې وار نه ورکاوه کله چې سباناری تیار شو، نو د ډوډۍ خونې ته لاړو، دلته ډېر عالي پلو او ښې شیدې برابرې او په ډېره خوندوره توګه مو ډوډۍ وخوړله موږ ښار ته په ډېره خوښۍ سره له دغه ځای او وګړیو څخه راستانه شو، وخت مو خوښي تېر شو، دوی سره مو وعده وکړه چې بیا به کوم سهار دلته راشو او له تاسو سره به ښکار وکړو. دغه راز دوی ته به د مرغانو د ښکار کولو طریقه ورزده کړو. د لارې په اوږدو کې ما یو سپین ږیری سړی ولید، چې هغه د پاني پت په جګړه کې له احمد شاه بابا سره برخه اخیستې وه. نوموړي سړي د ډیلي، متر او اګرې د ښارونو په یرغلونو باندې ویاړ کاوه. دی پېنځه نوي کلن و، په سترګو یې ښه لیدل کولای شول او تراوسه پورې یې حافظه او یادښت ښه وو "



Property of ACKU

چې ځنډي یې په یو شمېر برجو باندې پای ته رسېدلې وې. ما تصور نه کاوه، چې له نېږدې ځخه د لرې په څېر به دا ماڼۍ ستره ښکاره شي، خو له نېږدې ځخه هم په هماغه شان له برمه ډکه ځرگندېدله. دغه باغ لرونکې ماڼۍ یو وخت ډېره ځلانده او د تنداري وړ وه او د یوه پارسي نجیب سړي په واسطه، چې علیمردان خان نومېده، جوړه شوې وه. نوموړي سړي له ډیلي ځخه تر مشهده پورې ملک بشپړ کړی (فتحه کړی) و او دده په ویاړ او یادگار دغه ځای منځ ته راغلی و. ځینې نور د یادونې وړ مذهبي ځایونه او زیارتونه ددې لپاره جوړ شوي وو، چې تر یوې مودې پورې قبرونه پکې وساتل شي. په بله وینا دا ډول ساختمانونه د مړو شویو کسانو د غوره توب له لامله اباد شوي نه وو، بلکې د دوی د قبرونو د خوندي ساتلو په هیله آباد وو.

نامتو امپراتور بابر د پېښور د شاوخوا سیمې له طبیعي ښکلاوو او رنگونو ځخه په ډېره خوشۍ او مستۍ گرېږي او داسې یادونه یې کوي، چې پکې د غاټول او نورو وحشي گلان د مرغو په شاوخوا کې شنه شوي او دا گلان برېښوونکي رنگونه او ښکلا لري. ددغه نامتو او پیاوړي مؤلف (بابر) یادونې ډېرې سمې او ورته په درنه سترگه گورم. دا اعتراف باید وکړم، چې دده په تشریحاتو کې مې د بدلولو هېڅ شی ونه لید، خو ددغو شتمنیو او عالي منظرو د یادونو نیمگړتیا د زیړو گلانو (Dandelion) او نورو هرزه بوټو په زیاتولو سره زما په نظر بشپړه او جبران کېدای شي. دا ډول وانښه او گلان په انگلستان کې زیات دي، د گلاب د گلانو پرېماني هم د یادونې وړ او په ما باندې یې ښه اغېزه وکړه. په دغه وخت کې مې داسې یو سوالگر او د غریبې ځیرې او کالیو لرونکی هلک ونه لید، چې لاسونه یې په دغو گلانو ډک نه وو. په بڼونو کې رښتیا هم هر ډول گلان پرېمانه او په یوه ډېره عالي سلیقه سره تنظیم شوي وو. ددغو باغونو په لړ کې یو هم، چې په پاچا پورې یې اړه درلوده او د پېښور ډېر ښکلی بڼ و، د نمونې په توگه شرحه کېږي، چې د پاتې بڼونو په اړه ددغې ځرگندونې پر بنسټ قیاس وشي.

دغه باغ، چې اوږد مستطیل شکله دی، د شاه زمان د بڼ په نامه یادېږي. د بالاحصار د سویلي خوا ځینې ښکلي تعمیرونه او غونډۍ یو برخه، چې د بالاحصار ماڼۍ وریاندې ولاړه ده، په دغه بڼ کې شاملېدای شي. ددغه باغ شاوخوا د دېوال په واسطه چاپېره شوې ده. د شمال لوري یې چې له ونو ډک دی له پاتې برخې ځخه جلا او په غېر منظمه توگه پروت دی، نور پاتې باغ داېروي بڼه لري او د سړکونو او لارو په واسطه جلا شوي دي، چې دا سړکونه د باغ په منځ کې یو بل سره قطع کوي. هغه سړک، چې له ختیځ ځخه د لویدیځ پورې ایستل شوی دی، د سبر او چنار ونې په متناوبه توگه له برمه ډکو قطارو په څېر ولاړې دي. دا سړک د پلیو درې لارې او د

Property of ACKU

ګلانو دوه اوږده پټي (کوره ګي یا کیاري) لري. په دغو کوره ګیو کې د کوکنار بوټي کرل شوي وو. ددغې پلې لارې ختیځ لوري د ننوتلو دروازې سره پای ته رسېږي. په داسې حال کې چې په لویدیزه وروستۍ څنډه کې یې یوه بڼکلې ماڼۍ ده، چې یو دالان او دوه اپارتمانونه لري. د هغې په اوږدو کې چې له شمال څخه سویل ته ځي، هم د سبز او چنار ونې ولاړې دي، چې تر ې لاندې د سرو، سپینو او ژیړو چیني ډوله د ګلابو بوټي په ډېره ګڼه توګه کرل شوي دي. دغه راز دلته سپین او ژیړ یا سپین ګل لرونکي سیستوس (Sistus) او نور ګل لرونکي بوټي، چې ځینې یې ما په انګلستان او یا هند کې لیدلي او ځینې نور یې را ته نوي وو، څرګندېدل. ددغه سړک په وروستۍ شمالي څنډه کې هم هغسې بڼکلې ماڼۍ، چې ما پورته بیان کړه، ولاړه وه. ددغې لارې او سړک پلیو لارو ترمنځ شپږ اوږده یو په بل پورې تړلي ډنډونه داسې جوړ شوي وو، چې په پرله پسې توګه یې اویه د ځوږې په څېر یوه او بل ته تویېدلې. دا ډنډونه د باغ په منځنۍ نقطه کې په یوه ډنډوکي کې پای ته رسېږي. ددغه ډنډوکي په منځ کې یوه دوه پوړیزه بڼکلې د اوړي ودانۍ ولاړه او ګردچاپېره یې فوارې تاو شوې وې. دغه راز په یوه لیکه سره پورته د ټولو ډنډو په منځ کې فوارې لیدل کېدلې. د ټولو فوارو شمېر شپږ نوي ته رسېده، چې په باغ کې د تم کېدو په ورځ ټولې فعالې وې. دغه فوارې د اوړي د تودوخې په زیاتوالي سره ډېرې په زړه پورې ګڼل کېدای شي. له ډنډو او د سړکو د غاړو له ونو څخه پرته د باغ په نور ټل کې پرېمانه مېوه دارې ونې ولاړې وې، چې ډولونه یې هغسې چې ما یو څه مخکې یاد کړل، د پېښور د نورو مېوه لرونکیو ونو په څېر وو. ځینې مېوه دار ونې ډېرې ګڼې وې، چې په غرمه کې یې د لمر وړانګې نه پرېښودلې، چې ځمکې ته تېرې شي. له دې امله په زړه پورې سوړ سیوری او بڼاېسته ګوښه یې برابروله. موږ بریځر (سهار او غرمې ترمنځ وخت) په دغه ګوښه او یو څه په اوړنۍ ماڼۍ کې تېر کړ. د غرمې ډوډۍ مو په دغه ودانۍ کې له پرېمانه کباب شویو غوښو سره وخوړه. تر ډوډۍ وروسته یوې کوټې ته د دمې کولو لپاره ولاړ، دلته غالۍ او لمڅي غوړول شوي او له کېناستلو وروسته یو څه مېوه راته راوړل شوه. په دغه کوټه کې مو د دېوالونو په مخ د اشعارو په لوستلو ځانونه بوخت کړل. دغه پارسي شعرونه ځینې د پاچا په اوسنیو رښتینو حالاتو باندې تطبیق کېدل او ځینې نور یې په غیر مستقیمه توګه د بخت په بې ثباتۍ پورې وېل شوي وو. تر غرمې وروسته په درېو بجو د چکر لپاره بهر ته ووتلو، هغه سړک او واټ، چې له لمر ختیځ څخه لویدیځ ته کښل شوی و او دواړه څنډې یې جګو غرو ته نږدې وې، ډېره په زړه پورې ننداره یې درلودله. په داسې حال کې چې د شمالي او سویلي



Property of ACKU

نقطو ترمنځ سړک د آسیایي هغو باغو په نسبت، چې ما لیدلي وو، هرڅه زیات درلودل. د بالاحصار لاندې ودرېدو، دا خوا یې ډېره ښکلې وه، فوارو د لمر د لګېدو په واسطه پړک کاوه. د لمر وړانګې د ونو بوټو او ګلانو په مخ ځلېدلې، په داسې حال کې چې بلې خوا ددغه ځای په نسبت تور سیوری غوره کړی و (یانې د بالاحصار هغه خوا چې د باغ لوري ته مخامخ نه وه) ودانۍ او تعمیرونه له باغ سره ډېر شتمن، روښانه او مناسب برېښېدل، تر شا سیمه ډېره شنه، سمسوره او ځای په ځای پکې موتي موتي او یا جلا جلا ونې لیدل کېدلې (وروسته جګو غرونو دغې منظرې ته ډېر ښکلی انجام ورکړی و) دا غرونه په څو ځایونو کې په یو لړ ښاخو وېشل شوي او په زیاته اندازه بېل بېل تت رنګونه او شکل بندي یې ښکاره کوله. په باغ کې له څکر او ګرځېدو وروسته له هغه کسانو سره یوځای شو، چې زموږ د تفریح پر مهال زموږ د خاطر لپاره ګومارل شوي وو.

دوی د یوه ډنډ سره نږدې ناست او د خپلو لاسو په خښتولو سره یې ځانونه ساړه کول. له دوی سره له یو څه خبرو اترو وروسته د لمر لوېدو نه لږ مخکې له باغ څخه ستانه شو.

د هغو لیدنو کتنو په اړه، چې له موږ سره وشول او یا موږ د نورو د لیدلو لپاره لاړو، توضیحات یې بې شمېره او یادول یې خوا وهونکي دي. په دغو وختونو کې زما د مشاهداتو نتایج به په بل ځای کې ښکاره شي، زما دوه تنه غوره ملاقات کوونکي میرزا ګرامي خان او ملا بهرمند وو. لومړی تن د یوې ستر ې رتبې والا شریف سړي زوی او په هندوستان کې یې وخت تېر کړی و. له دې لامله زموږ له رواج او دود سره په ډېره ځیرکۍ او پاملرنه اشنا و. دی هندوستان ته له دې لامله شړل شوی و، چې ده له شاه محمود سره په ځانګړې او فامیلي توګه اړیکې درلودې. ګرامي خان د اکرم خان په مرسته له هندوستان څخه راستون او په دې مکلف شو، چې په خپلو کړو وړو کې محتاط وي، ځکه تر دغه وخته دی له پخوانۍ ګوند سره، چې په رښتیانۍ توګه ورپورې تړلی و، په ارتباط تورن و. ده په هندوستان کې د استوګنې په وخت کې د اروپایي ملتونو د وېش په اړه داسې عجیبه معلومات لاس ته راوړي وو، چې ډېر لږ شمېر افغانان ورباندې پوهېدل ان د نوموړي میرزا د اروپایي تاریخ داسې پېښې په یاد وې، چې چا په هندوستان کې هم اورېدلې نه وې. یوه ورځ ما د خپل هېواد دسمندري واکمنۍ او تفوق په اړه د ځینو مېلمنو او ملاقات ته راغلیو کسانو د هیښتیا لپاره وویل، چې له ۱۷۴۵ کال راهیسې زموږ په ملت کې کوم اړ و دوړ او اغتاشاش نه دی شوی، نو مېرزا په موسبکا سره راته وویل، چې تا د امریکا جګړه هېره کړه. وروسته یې په ډېر جدیت پوښتنه وکړه، چې



Property of ACKU

د فرانسوي جنګي بېړيو په مقابل کې ولې تاسې د بېړيو بيه لوړ بوتله او ددې کار علت څه و؟ په داسې حال کې چې تاسې د سمندري واکمنۍ په اړه د لوړتيا څرګندونه وکړه؟.

دغه شاغلی دا وخت په کابل کې د دولت منشي باشي يا سکرتر و. ملا بهرمند د زده کړې په برخه کې ډېر زيار کښ سړی او په رښتيا سره د نبوغ خاوند و. د علم لاس ته راوړلو ته يې نه ماتېدونکې تنده درلودله. دی د ميتافزيک او د هېواد په اخلاقي پوهنو کې د ډېر برلاس خاوند او متبحر سړی و. ملا بهرمند د رياضياتو زده کړې ته ډېر لېواله او زياته مينه يې ورسره لرله. دغه راز ده سانسکريت (يوه ژبه ده، چې دده هېوادوالو يې نوم هم نه و اورېدلی) ددې لپاره مطالعه کوله، چې د هندي زده کړې او پوهې خزانې برڅېره کړي. زموږ د ملاقات کوونکيو په لړ کې نور ملايان هم وو، چې ځينې پير، ځينې يې تش په نامه ملايان، ځينې د پيستان (هغه خلک چې خدای مني، خو په پيغمبرانو او نورو ديني مسايلو باور نه لري. ژباړن)، ځينې نور کلک مسلمانان او يو شمېر داسې ملايان هم وو، چې د صوفيانو په روحاني طريقه کې ډوب وو. دغه راز زموږ د خوشحالۍ لپاره يو شمېر شاعران هم راتلل، له دوی سره د ايلچي (سفير) او يا د نورو فرنګي خوانينو (اروپايي خانانو) په اړه يادونې موجودې او دا ډول خطابې به په پرله پسې توګه دوی له يوې او بلې څخه نقلولې، چې دا په حقيقت کې د دوی د ځانګړيو کارو نښې ګڼل کېږي. زموږ د ملاقات کوونکيو په لړ کې د پېښور د شاوخوا سيمو قبيلوي مشران د درناوي وړ، ځينې دراني يا پارسي سوداګران، ټيټ رتبه درباريان او د لويو خانانو استازي هم شامل وو. په دغو خلکو کې ډېر د منتې او خبرو وړ کسان پيدا کېدل، چې ما له هغو سره د خبرو په ترڅ کې ډېر سيمه ييز معلومات لاس ته راوړلای شول. هغه سمه وضع او امتيار، چې موږ له خلکو سره د کتلو په وخت کې درلوده زموږ په اړه د عمومي تعجب د شتون په اړه د خلکو لېواله هڅې زموږ د ليدنې لپاره او بالاخره زموږ له ازادۍ څخه د ګټې اخيستلو په هيله زيات شمېر خلک له هرې خوا څخه د کتنې لپاره راتلل، چې ډېر ځله موږ د هغوی د شمېر د زياتوالي له لامله دا توان نه درلود، چې ورسره وګورو. زموږ دروازې د عامه او ټيټې طبقې د زيات شمېر خلکو له خوا ډکې او دې ته اړ شو، چې د پاچا دوه تنه کاپوچيان (ساتونکي) هلته ودرېږي، چې خلک دروازې ته ډېر رانږدې نه شي.

د هغو کسانو په لړ کې، چې زه يې ملاقات او ليدنې ته ورغلم، يو هم د ډېرې يادونې وړ نامتو پير (ولي) و، چې شيخ عوض نومېږي. پاچا او صدراعظم به په ډېر ځله د نومړي پير ليدنې ته ورتلل، تر هغو چې ده به په تکرار سره دوی ته د

Property of ACKU

کېناستلو امر ونه کړ، دوی هېڅکله نه کېناستل. زه د دغه پیر د لیدنې لپاره د هغه کوچني باغ ته ولاړم. کله چې نږدې فاصلې ته ورسېدو، نو یوه ډله د ښاپسته کالیو درلودونکي خلک مې ولیدل. دوی ته د سلام لپاره هغې خوا ته تلم، چې په دغه وخت کې یوه سړي راته ښه راغلاست ووایه، چې په هغې سره زما پاملرنه واوښته او یو سپین ږیری سړی مې ولید، چې د کاریګرانو په څېر یې زړې جامې اغوستې وې، داسې برېښېده چې په باغ کې یې کوم ځای کیندلی وي، دا هماغه پیر و، پاتې کسان د جګو رتبو والا سړي وو، چې د درناوي له لامله په یوه لیرې واټن کې ولاړ وو. ددغو کسانو له لړ څخه د پخواني وزیر وفادار خان زوی او د ملکې ورور هم و. شیخ مونږ په داسې لوټو باندې کېنولو، چې نوې اړول شوې وې. ده له مذهب څخه پرته نورو ډېرو موضوعاتو باندې په زړه پورې او مناسبې خبرې وکړې. نوموړي شیخ ماته وویل، چې د پېښور له خلکو څخه مې واورېدل، چې له تا څخه په ډېر ټینګار او پستۍ سره سوغاتونه غوښتل شوي دي[1]. سره له دې هم ده د پاچا ډېره ستاینه وکړه، ده پرته له دې چې ځانته د یوه پیر او مقدس سړي څېره ورکړي، ډېرې روانې او په مینه یې خبرې کولې، ده هېڅ ریا ښکاره نه کړه، یوازې دومره یې وویل، چې له بده مرغه په کور کې څه نه لرم، چې د غرمې لپاره یې تاسو ته درکړم. پیشنهاد یې وکړ، چې مونږ کوم هوټل ته ولېږي، چې هلته د غرمې ډوډۍ لپاره له ده سره مېلمانه شو. یو بل ډېر نامتو ملنګ هم و، خو ده په لیدنه بریالی نه شوم. ځکه داسې ویل کېدل، چې هغه دنیا پرېښودلې او په بشپړه توګه په عبادت او تفکر لګیا دی. ماده ته د پیسو یوه غټه تحفه ورولېږله، هیله مې ورڅخه وکړه چې دا پیسې د سخاوت له مخې ده ته استول شوي دي او هم د دې لپاره، چې پاچا ته دوعا وکړي، خو ده دا پیسې په بشپړه توګه ټولې مستردې کړې، پرته له پیسو یې پاچا او ماته دوعا وکړه. دغه راز زما د پاملرنې له لامله یې د منني یو پیغام رااستاوه.

زه اوس دې ټکي ته راځم، چې د دولت کره وړه په دربار کې تر کتنې لاندې ونیسم، چې هغه زما د کار جریان وښېي.

شاه شجاع الملک په خپل میرنې ورور شاه محمود باندې هغه وخت بریالی شوی و، چې شاه محمود د یوه عامه اړودوړ او اغتشاش په نتیجه کې معزول شو. زما د راتګ په وخت کې دده د سلطنت شپږ کاله تېر شوي وو، د سفارت له رسېدو یو کال مخکې هغه د خپل یوه وزیر ناځاپي اغتشاش مات او له هغې وروسته داسې معلومېده، چې ده خپل سلطنت ډېر پیاوړی کړی و. زما له راتلو نه لږ مخکې شاه

[1] د افغانستان د راتګ په وخت کې دربار ته ځینو مشرانو او درباریانو دده سوغاتونه لوټ او یو څه یې په زور د هغه له مزدورانو څخه واخیستل. دلته شیخ هم دغو حالاتو ته اشاره کوي (ژباړن)



Property of ACKU

محمود د بارکزیو قوم مشر فتح خان په مرسته د خپل تاج او تخت د نیولو لپاره یوه کمزورې هڅه کړې وه، پاچا په لویدیز کې د اړو دوړ د ماتولو لپاره په خپله لومړنی لټه کې بریالی شو او له خپلو طرحو څخه ډېر مطمین بریښېده، خو د هغه سوقیات د پېښور ختیځ لور ته د اکرم خان په ناڅاپي لېږلو سره بله بڼه درلودله. په کشمیر کې دده د یوه یاغي وزیر زوی د لښکرو په مقابل کې اکرم خان د زیاتو قواوو مشر هغه لور ته ولېږه، خو کشمیر د یاغي وزیر د زوی له خوا ونیول شو.

د اکرم خان له روانېدو څخه لږ څه وروسته داسې اوازې خپرې شوې، چې قندهار د شاه محمود له خوا ونیول شو. دغه خبر په لومړي سر کې ډېره اندېښنه پیدا کړه، خو وروسته د لویدیځ له لوري د سمو راپورونو په رارسېدو سره دغه تشویش له منځه ولاړ. په همدې وخت کې له اکرم خان څخه هره ورځ پېښور ته د هغه د پرمختګ او بریالیتوب خبرونه رارسېدل. په پېښور کې ټولو داسې ګومان کاوه، چې کشمیر به د شورشیانو له لاسه ووځي او شاهي لښکر به بېرته راوګرځي یا دا چې په لویدیځ کې د اړودوړ او شورشیانو د تیت و پرک کېدو سره سم به د کشمیر لښکر هم پېښور ته حاضر شي، خو دغه ټولې هیلې شنډې او د اپریل په ۲۳مه نېټه د اکرم خان د لښکرو د بیخي ماتې او له منځه تللو خبرو راورسېد.

دغه وزیر (اکرم خان) د مظفرآباد د غرونو په مشر (متوالي) باندې د زیات باور او ډاډ اتکا درلودله او د تجهیزاتو او لارښوونې برخه یې هغه پورې تړلې وه، خو په عین وخت کې د نوموړي مشر (متوالي) سرکښ غرور او حرص ددې لامل شو، چې د اکرم خان غوندې ډېر زیات مېړه سړی خپه او سپک کړي. د اکرم خان د ټول پوځ امنیت ددغه مشر په لاسو کې ورکړل شوی و.

ددغو اشتباهاتو اغېزې ډېر ژر د خوراکي موادو او تجهیزاتو په لېږدوالي کې حس شوې، خو اکرم خان اوس وروستی معبر ته رسېدلی و او یوازې د دېوالو او برجو په واسطه یې له ځان څخه دفاع کوله، چې احتمالاً له هغو څخه هم ژر وشړل شو. په دې ډول لویدیځ نیازمند پوځ د خپلې بقا لپاره د سمسورې درې په مدخل باندې زور واچاوه، چې دغې روحیې یرغلګر افراد لا پسې ژوندي کړل. سره له دې هم اکرم خان د متوالي تشویق ته غوږ کېښود، هغه دا چې د غرونو نوموړی خان به اکرم خان ته داسې یو معبر او د تېرېدو لاره وښيي، چې د دښمن پوځ په اړخ کې وي او دښمن وریاندې پوه نه شي.

له دې لامله لښکر د یوې کندې له مخ څخه د درې لور ته واوښت او مخ پورته حرکت یې وکړ. غلجایي او خیبري پلیو افرادو د غرونو د دواړو خواوو څارنه او امنیت ترسره کولو. سره له دې دښمن د دوی په خوځېدو خبر او لېږدېدنه یې کشف

Property of ACKU

شوه، د دوی پلي زیات وو او دننه خوا ته تر فشار لاندې راغلل. له بلې خوا داسې رښتیاني خبر او یا افواه هم وه، چې د درې پاسنۍ برخه د سختې واورې له لامله بنده شوې ده. اکرم خان اوس خپل باور له لاسه ورکړی او یوه ورځ په دره کې بې له خوراکي موادو او تجهیزاتو پاتې شول. دغه راز د دښمن تر ضربې او ډزو لاندې و، خو د فاصلې د لیرې والي له امله دده لښکر ژوبل نه شو. خو په څنګ کې یې دده د قواوو د روحي کمزورۍ او د مانویاتو د بایللو لار اواروله. ددغو شرایطو له لامله زیات شمېر افراد له لښکر څخه وتښتېدل او ددې په څنګ کې د متوالي خیانت اکرم خان زښت زیات وېراوه. سره له دې، چې دی په لښکر کې ډېر محبوب و، بیا هم په دې ودار شو چې وبه نیول شي او د کشمیر مشر ته به یې لاس تړلی وسپاري. له بلې خوا د کشمیر د مشر د پلار وژنه او رسوایي هم دده له لاسه شوې وه، نو ډېر زیات د وهم او ډار لاندې راغی. په نتیجه کې یې فیصله وکړه، چې له میدان څخه وتښتي. له دې لامله د لښکر ټولو مشرانو د شپې په اوږدو کې پوځ پرېښود او جلا جلا هر یوه د تېښتې او خلاصون د لارې خوا ته مخه وکړه. د غرونو او کندوونو له لارې یې تېښته غوره کړه. د مظفراباد نه د تېښتې مخکې د اکرم خان ډېر مشران ملګري د متوالي د غرنیو لوټمارو خلکو له خوا لوټ شول. اکرم خان پخپله هم محاصره شو، خو د لوټمارو په منځ کې یې د سروزرو د سکو په وېشلو سره ځان خلاص او د دوی په تیټ و پرک کېدو سره یې فرار وکړ. بالاخره دی له اندوس څخه واوښت او اکوړې کلي ته راورسېد، دلته یې د پخواني جلال او غرور په څېر پرته له کوم لېوالي ښه هرکلی وشو. د اکرم خان په ګډون د لښکر د مشرانو په تېښته سره د لښکر یو شمېر افرادو خپلې وسلې کېښودلې او تسلیم شول او یوې ډلې د غرونو له لارې د خپلو مشرانو په څېر د تېښتې لاره ونیوله. خو زیاتره د خپلو بادارانو په سرنوشت اخته شول.

د اکرم خان د ټول لښکر له جملې څخه یوازې دوه زره تنه بې وسلې، پلي او تقریباً لوڅ پېښور ته راورسېدل. سره له دې چې ددغې ماتې مصیبت زیات و، خو په پېښور کې د هغې د لومړي ځل اوازې خپرېدنه مبالغه امېزه وه. داسې ویل شوي وو، چې ټول لښکر له منځه تللی، اکرم خان ورک او مدد خان تښتېدلی دی. په دغه وخت کې د کابل نیول کېدل او د شاه محمود د پرمختګ رښتیاني خبر راورسېد، له دغه خبر سره دغه راپور هم علاوه شو، چې د شاه محمود ځینې طرفدار قبایل، چې له پېښور سره ګاونډي اوسېدل، هم دې ته چمتو شوي دي، چې په مجرد د خبرولو سره دوی د شاه محمود په ملاتړ حرکت کوي. د یوې الې ګولې د پیل په څېر لښکرې راغونډې شوې. داسې افواه وه، چې پاچا خپل قیمتي جواهرات لېږلي او له

Property of ACKU

ښار ځخه د تښتېدو په حال کې دی. حقیقت دا دی، چې په دغه وخت کې داسې یوه شپه نه وه، چې په هغې کې یو سړی د سهار نه مخکې په اړو دوړ او د اغتشاش په نه پیل کېدو باور وکړي. زموږ وېره د مهماندار په ځرګند اعتراف او لیک سره په دغه وخت کې لا زیاته شوه. مېلمه پال موږ ته خبر راکړ، چې د عمومي ګډوډتیا د پېښېدو په وخت کې به په موږ باندې خیبریان او نور لوټماران پرته له کومې معطلۍ یرغل وکړي. خلکو د موضوعاتو په حالت باندې په ښکاره توګه خبرې کولې، خو هېڅوک داسې نه ښکاره کېدل، چې په رښتیا اغتشاش او انقلاب پېښ شوی وي. بالاخره دا وېره او ګډوډتیا له منځه ولاړه او معلومه شوه، چې دښمن په کابل کې پاتې شوی دی. دا هم جوته شوه، چې دوی په خپل منځ کې په اخ و ډب لګیا دي. اکرم خان هم راګرځېدلی و او د کشمیر ټوټې ټوټې شوی لښکر یې بیا سره راغونډ کړ. دغه راز ځینې دغه افراد، چې د کشمیر له جګړې ځخه په پېښور کې پاتې وو، د یو شمېر نورو افرادو په ګډون یې خپل پوځ پیاوړی کړ. د پاچا بڼه او حالت تراوسه پورې امید بښوونکې نه برېښېده، ځکه هر څه په پېسو پورې تړلي و او پاچا له دې پلوه کمزوری ګڼل کېده. زیاترو مشرانو ددغه نیمګړتیا او زیان سملاسي جبران وکړ، خو لږ شمېر لویانو ددغه کار سره پوره مینه درلودله ان اکرم خان چې د پاچا په ډېرو سختیو کې یې مرسته کوله او په دې پوهېده، چې جګېدل او لوېدل یې له خپل بادار (پاچا) سره تړلي دي، هم دا وخت د خپل حرص له لامله بیخي ړوند شو او د خپلو زیاتو خزانو او شتمنیو له ورکولو ځخه یې، چې له پلار ځخه ورته پاتې وې، ډډه وکړه او له پاچا ځخه یې ځان یو څه ګوښه کړ. ددغه نامي مشر وزیر کرکتر او دا شان خاصیت د پاچا د کمزورۍ لوی عامل و. سره له دې، چې اکرم خان په سیاسي هڅو کې یو څه نیمګړی و، خو ان دده دښمنانو هم دا منله، چې دی د زیاتې زړورتیا خښتن دی. دی په علایقو کې ډېر مهربان او صادق، په ژبه ریښتونی، د عدالت کلک ځارونکی او په کړو وړو کې په بشپړه توګه صاف او سم و، خو له بلې خوا فوق العاده حریص کېږجن، نیولی (تریو تندی) او د بدګومانۍ خوی یې درلود. دغه راز خان ستایونکی، په خپلو ملګریو باندې قهرجن، احترام کلک غوښتونکی او د نورو د برې او نفوذ په مقابل کې سخت ګیر و.

له اکرم خان سره د خبرو اترو په وخت کې دا راته جوته شوه، چې ده ته منسوب ټول ښه صفات په رښتیا سره پکې موجود وو. نوموړی ډېر غټ او قوي هیکله سړی و، چې په ونه له شپږو پوټو ځخه زیات لیدل کېده. بڼه یې نیولې او په ظاهره توګه یې چوپتیا ته طبیعي میلان درلود، سره له دې دا حالت یې واوښت او په ډاګه سره یې د خپلې ماتې په اړه خبرې وکړې. دغه راز ده د خپل شکست عامل د لښکر په

Property of ACKU

منځ کې تګې وښودله. په همدې شان د ځينو نورو په زړه پورې موضوعاتو په اړه يې توضيحات ورکړل، ده عادي کالي اغوستل او د ساده خوی څښتن و. له اکرم خان سره په لښکر کې ټول دراني مشران راستانه شوي وو او ما له دوی سره ليدنې کتنې ترسره کړې. د دوی ډله ډېره په زړه پورې او خوندوره وه. دوی په عمومي توګه د ښکار، بازنيولو، اسانو او وسلو په باب خبرې وکړې. دغه راز د هندو انګلينډ اوبه او هوا او توليداتو په اړه يې له مانه وپوښتل، په بدل کې يې د خپل هېواد د هوا حالات او توليدات راته بيان کړل. ځينې وخت دوی لنډې کيسې کولې او يا د هغو وقايعو او پېښو په اړه، چې دوی پخپله پکې شامل وو، حکايتونه کول. د ليدنو کتنو په وخت کې زموږ او د دوی ترمنځ سوغاتونه هم تبادله شول. ما دراني خانانو ته د هندي او اروپايي مصنوعاتو شيان واستول، په بدل کې دوی آسان، سپي او بازان ماته وښل.

ددغو مشرانو او خانانو له رسېدو مخکې او د ناوړه خبر اورېدو وروسته کابل ته د تګ په لار کې يو هندو په پوره غابنې کې ونيول شو، چې ورسره جوخت يوراپور په پېښور کې خپور شو، په راپور کې ويل شوي وو، چې هغه زما له خدمتګارانو څخه دی او د شاه محمود په عنوان يې ده ته مکتوبونه ورکړي دي، چې هغه کابل ته يوسي، نو په دې وسيله مې شاه محمود په پېښور باندې د يرغل لپاره تشويق کړی دی، چې د بالاحصار د تصرف او د شاه شجاع د نيولو لپاره اقدام وکړي. له دغې کيسې سره داسې آوازه هم خپره شوې وه، چې پاچا په دغه تګې باندې زموږ شتمنی لوټوي. په نتيجه کې د ښار ټول وګړي پارېدلي او په ښار کې ښکته، پورته ګرځېدل، وسلې يې اخيستلې او خپل ټوپک يې پاکول. زموږ له دروازو سره زيات شمېر خلک ډېر ژر راغونډ شول. د سفارت ټول ښاغلي په سالون کې دا وخت د مېلمنو د ښه راغلاست لپاره ولاړ وو، خو کپتان پيتمان د ساتونکو شمېر دوه چنده زيات او د دفاع لپاره يې نور تدابير ونيول. په عين زمان کې ملا جعفر او زما نور ملګري په وېره راورسېدل، زيات تحريک او ګنګوسې په شاوخوا کې حس کېده. دغه موضوعات په خپل اوج کې وو، چې اکرم خان زما د ليدنې لپاره راننوت او داسې اټکل شوه، چې لمسېدلي خلک به نور زيات هلته راغونډ نه شي.

نور داسې د يادونې کومه پېښه ونه شوه، چې په دغه ځای کې يې راوړو. يوازې د جون په څلورمه نېټه له هيئت او سفارت سره اړوندو عسکرو د پاچا د زېږېدنې د کليزې په وياړ تمرين وکړ. په دغه وخت کې اکرم خان او د نورو ټولو ستر رتبو والا کسان حاضر وو. هغه ځای چې دا تمرينونه پکې ترسره کېدل، د کوچنيو غونډيو په منځ کې يو وړوکی شين چمن و، چې د لږ شمېر کسانو لپاره پکې ځای برېښېده.

Property of ACKU

په دغه وخت کې پاچا په دې لگیا و، چې یو لښکر سره راغونډ کړي. د هغو عسکرو له جملې څخه چې په کشمیر کې نیول شوي وو، زیاته برخه خوشې کړی شول او بېرته پېښور ته راستانه شول. ددغو بېرته راغلیو کسانو له لږ څخه نیمايي یې بې وسلې او پلی وو، په داسې حال کې چې پاتې برخه یې د کشمیر له حکمران څخه ډېر خوښ او داسې معلومېدله، چې د پاچا په نسبت هغه ته ډېر مایل دي. لښکر زیاتره ناراضه وو، مشران له اکرم خان څخه متنفر وو، ټول افراد د رسوایی او بدمرغی له امله غمجن وو او د خپلو استحقاقونو د لږې رسېدنې له امله خواشیني وو. دوی خپله قهرجنه بڼه او طبیعت ډېر لږ بدلولو او په کوڅو کې د هیڅ له غږیو سره په ډاگه پوځای کېدل او د اکرم خان غندنه یې کوله او ان په په دغه سپکونه کې یې له پاچا څخه هم ډده نه کوله.

په رښتیا سره د اکرم خان درنښت کم شوی ان د پاچا په نظر کې هم ده خپل موقف بایللی و. میر ابوالحسین خان کله کله دا هیله ښکاره کوله. چې د اکرم خان د لیرې کولو توان به پیدا کړي او د چارو لاربښوونه به مددخان ته وسپارل شي. دغه تغییر د پاچا پر جرگې هم بې اغېزې پاتې نه شو. په دغه جرگه کې د جرگه والو قبیلوي مشرانو نظریات د ډېرې پاملرنې وړ وو، خو په دغه وخت کې هېچا ډېر زیات نفوذ نه درلود. په نتیجه کې د دوی مباحثې په کومې پریکړې نه ختمېدلې او اکثره وخت به په یوه او بل باندې په تور لگولو سره پای ته رسېدلې. بالاخره تصمیم ونیول شو، چې د کابل په لور حرکت وشي او د پاچا د خېمو د ایستلو لپاره امر ورکړل شوی و. هغه وخت چې د امام له خوا وتاکل شوه د ټوپک یو ډز شوی و، چې له هغې سره سم د پاچا منزلنما هم درول شوې وه. منزل نما یوه څلور کنجه ستن وه، چې جگوالی یې دېرش فوټه او تر شاوخوا یې له ټاټ سره ټوټه په ځانگړې توگه تاو شوې وه. په پاسنۍ څوکه یې د سپینو زرو غټه پنډوسکه برېښېده. منزل نما د کمپ وهلو د میدان د څرگندولو لپاره یوه نښه گڼل کېدله، ورپسې د پاچا خېمه دباندې راوتلې او درول شوې وه، چې په هغو کې ډېره ښاېسته زیاته اوږده او دېرش فوټه پراخوالی یې درلود. دا خېمه د لرگینو چوکاټونو په واسطه جوړه شوې او په منځ کې یې په بېلو بېلو رنگونو د ټاټ ټوټې پکار شوې وې. چت یې گلابي رنگه او د څلورو ستنو په واسطه ټینگ شوی و. د هرې ستنې په سر کې د سپینو زرو یو پنډوسکی برابر شوی و. ددغې خیمې تر شا نورې وړې خېمې هم وې، چې د مالوچو دېوال ترې تاو شوی و.

ددغې خیمې په شان دوه خېمې تل له پاچا سره لېږدول کېدلې. په دغه خېمه کې د لرگیو یوه دوه پوړیزه خونه وه. چې سلو تنو کاریگرانو په یوه ساعت کې دروله.



Property of ACKU

ښار کې شورماشور ګډ و او د بالاحصار د ماڼۍ لاندې یو شمېر عسکر په کمپونو کې ځای په ځای شوي وو. په کوڅو کې سوارو زیاته ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه، که نه نو دښار آرامي دومره زیاته د اخلال سره مخامخ کېدلای نه شوه. بالاخره پاچا د خپل کمپ خوا ته وخوځېد. د بریتانیا د حکومت پالیسي دا نه وه، چې د چا په کورنیو شخړو کې برخه واخلي، نو له دې لامله دا پکار و، چې یوځای وټاکو او له هغې نه هیئت بېرته ستون شي. ټولو وزیرانو هم دا غوره وبلله، چې په داسې بحراني او له کړاو څخه ډکو وختونو کې په پېښور کې پاتې نه شو. اکرم خان هغه پلان، چې موږ د یوسفزیو غرونو ته په شا شو، رد کړ او تر مطالعې وروسته یې امر وکړ، چې موږ دا ټک په چونۍ کې ځای ونیسو، ځکه دا ځای په هر ډول خطرناک وخت کې خوندي ګڼل کېده. دا هم زموږ منل شو او داسې وټاکل شوه، چې د ختیځو سرحدي کرښو خوا ته چېرې، چې د پاچا کهول هم استول کېده، لاړ شو. دا پلان ترتیب شو او موږ د جون په دولسمه نېټه د پاچا د کمپ خوا ته د خدای پامانۍ لپاره ولاړو کوڅې ډېرې ډکې او ګڼه ګوڼه له هر وخت څخه پکې زیاته وه، دلته موږ یو شمېر ښه سپاره او اعلی اسان ولیدل.

د پاچا خېمې په یوه باغ کې د ونو تر غاړو ودرېدې، چې ګردچاپېره له ختو جوړه شوې سوپه تړې تاوه وه. د ونو زیاته برخه غټې ختې ونیوله، په داسې حال کې چې د دربار د لویو خانانو خیمې د ونو په دوو لویو برخو باندې په دې ترتیب ودرول شوې، چې د پاچا ښي لاس ته د لویو درباریانو او کیڼ لاس ته د کوچنیو ځای و. څلورمه غاړه د پاچا خېمې ته مخامخ خلاصه وه، چې پاچا هغه سړک ووینې، چې په دواړو غاړو یې د ساتونکیو (ګارډ) ډله ولاړه وه. دا سړک د باغ له عمومي دروازې د حوض تر څنډې پورې غځېدلی و، موږ د یوې فرعي دروازې له لارې بڼ ته راننوتلو او د ونو په ښۍ غاړه د لویو خانانو په ګډون د پاچا په وړاندې ودرېدلو. کله چې موږ دلته وو، د دښمن څو ډلې راغلې او په پرله پسې توګه پاچا ته وروپېژندل شوې. دغه کسان پاچا ته د دوعا کولو نه وروسته بېرته په څټ کېدل، د هرې یوې دوعا په پای کې ساتونکیو (ګارډ) امین ویل. کله چې ددغو کسانو کار خلاص شو، نو له موږ څخه وغوښتل شول، چې پاچا ته نږدې ورشو. له موږ سره یوځای اکرم خان او مدد خان هم ملګري شول. وروسته پاچا ماته په خطاب کې وویل، چې موږ به هرومرو له داسې یو ناارام حکومت سره اشنا نه وو لکه چې دی یې اوس لري. سره له دې، چې ده په ډېره سړه وضعه له موږ سره په خبرو کې برخه واخیستله، خو بیا هم هیله یې نه لرله چې په داسې نامساعد او ناارام وخت کې موږ له ځان سره مله کړي، نو یې له موږ څخه وغوښتل، چې د سرحد کوم ځای ته ستانه شو او بیا هلته دا

Property of ACKU

فیصله وکړو، چې آیا له ده سره یوځای شو او که هندوستان ته لاړ شو؟ هره یوه لار چې موږ ته مناسبه وي، هغه غوره کړو. د خبرو اترو په لړ کې پاچا د برتانوي ملت په اړه ښه ټکي څرگند کړل او هیله یې څرگنده کړه، چې دی به موږ کندهار او هرات ته کوم وخت له ځان سره بوځي. کله چې پاچا خپلې خبرې بشپړې کړې، نو وروسته اکرم خان، مدد خان او د پاچا امام پاچا ته په خطاب کې څو ویناوې وکړې او د هغه د څرگندونو په تایید یې ځینې مطالب بیان کړل. دغه راز دوی د برتانوي حکومت د نظامي برلاسي، عدالت او وفادارۍ په اړه خپلې خبرې اوږدې کړې او دغسې خلکو سره ترون او پیوالی یې د دواړو خواوو په گټه وباله. په دغه غونډه کې د پاچا د یوې سرې ساده ټوټې جگه ټوپۍ په سر وه، چې پر لاندینۍ څنډه یې د تور بخمل یو ټوکر راتاو شوی و او په دغه خولۍ باندې جواهرات نه لیدل کېدل. مخې ته یې په یوه بالښت باندې امسا، توره او لنډ ټوپک (کارابین) ایښودل شوي وو. له ده سره په خېمه کې زیات کسان وو او هر یوه په وار سره په ده باندې بیوزی (پکې) واهه. د دوی په لړ کې میر ابوالحسن خان هم لیدل کېده. پاچا ښایي د دماغي تشویش او تودوخې له لامله خوار او رنځور برېښېده.

دوه نورې ورځې مو هم له اکرم خان او نورو کسانو سره د خدای پامانۍ کتنې درلودې، چې بالاخره مو د جون په څوارلسمه نېټه مازیگر د اندس لوري ته خپل تگ اعلان کړ. اوس د پاچا کارونه ډېر ښه برېښېدل. هغه یو ډېر ښه لښکر چمتو کړ او دې ته تیار و، چې په دښمن باندې ورودانگي. دده د دښمنانو په منځ کې اختلاف پېښ شوی و، فتح خان د دربار په منځ کې خپل شیال (شاه محمود. ژباړن) تر تاثیر لاندې نیولی او دا کار ددې لامل شو، چې د درانیانو د دوو سترو قبیلو ترمنځ بې باوري او ناکامي منځ ته راولي. له دې لامله ټولو گوندونو د شاه شجاع د بریالیتوب اټکل یقیني شمېره او په خپله دعوا کې یې دی موفق وگاڼه. د خلکو له دوعا هم دا نتیجه اخیستل کېدله، ځکه د شاه شجاع عدالت او نرمي په خلکو کې ډېره مینه پیدا کړې او دی ورته گران و.

موږ لومړی د چمکني کلي خوا ته، چې د پېښور په څلور میلۍ کې پروت دی، حرکت وکړ. دا سیمه ورو ورو غیر مسکوني شوه او ځای پر ځای د پلیو کوچنۍ ډلې لیدل کېدلې. دغو خلکو به چې یو سړی یواځې ولید، نو به یې لوټ کاوه. داسې برخې ته دلته ورسېدو، چې د لوټمارو ډلې زیاتې او دوی زیات شمېر بار کړي اوښان له هغه ځای څخه تښتول، چې به کمپ ته یې له څښتن او ساتونکي څخه روان وو. د هیئت محاسب خپل یو کچر، چې یو ښه شال او د زرو پونډو په ارزښت افغاني روپۍ پرې بار وې، شاته پرېښود. کچر خپل کچر والا ناڅاپه پر ځمکه

Property of ACKU

وغورځاوه او بې سده شو . وروسته دغه کچر د نندارچیانو د ټولنې خوا ته وروځغاست او خپل بارازښته بار یې واچاوه، چې سملاسي د تماشگرو له خوا ولوټل شو.

د جون په پينځلسمه نېټه مو خپل تګ پيل کړ، زموږ د کاروان ليکې د يو شمېر زياتو باروړونکيو کچرو او يابوګانو له لامله بل ډول ښه ونيوله. دغه راز يو څو ښه آسان چې ځينې تش او ځينو يې سواره درلودل، له موږ سره بيول کېدل. د پارسي، اوزبکي ملونو او زينونو پکارول، د هندي ملګرو په لوړو طبقو کې د شالونو او بوټونو استعمال او يو شمېر هغو خلکو، چې په بېلو بېلو مهارتونو يې موږ بدرګه کولو (دوی ځينې پېښوريان او يا ځينې نور پارسيان وو) د کاروان ښه اړولې وه. هغه خلک، چې له ښار څخه زموږ د مرستې لپاره راوتلي وو او د همدې ورځې په اوږدو کې يې هم خپله ملګرتيا له موږ سره وساتله. زياترو يې دا څرګندوله، چې موږ ته پاملرنه لري، خو ددې په څنګ کې دوی له موږ نه د سوغاتونو د غوښتلو ټينګار کاوه، چې په دې ډول د پېښور د لوړې طبقې له خلکو پرته نور ټول ډېر زيات حريص ګڼل کېدای شي. ددغې ورځې سفر مو د غز په ګڼو ونو کې تېر کړ.

د جون په شپاړسمه نېټه له ځنګل څخه ووتلو او د مرغو په يوه پراخه ميدان کې مو خپل تګ ته دوام ورکړ.

په دغه جلګه ( فرشي وانښو) کې يو ځای يو ډول ټيټ بوټي، چې افغانانو ورته ځوز او پارسيانو ورته خارشتري ويل، ځای په ځای ليدل کېده. دغه بوټي په انګليسي ښوونو کې په وښو کې د ويل (ظالم. شرير زيان) په نامه يادېږي.

موږ خپل کمپ په يوه داسې په زړه پورې ځای کې ودراوه، چې د کابل سيند يې څنګ ته بهېده. د ځمکې مخ په شنو وښو پټ او د ونو څانګو ورباندې سيوری کړی و. دغه راز د ونو ښاخونه د درياب خوا ته ځوړند برېښېدل. د کابل درياب په دغه ځای کې څلور سوه متره سورور دی. په دغه ځای کې زموږ پر مخامخ غاړې باندې د نوښهره Noushehra کلی ليدل کېده. يو زيات شمېر يوسفزيان زموږ د ليدنې لپاره له سينده راپورې وتل. ددغې ورځې سپيده چاوده ډېره اوږده او زما جدي پاملرنه يې ځان ته راواړوله. له دغې اوږدې سپيده چاودې سره د ورځې اوږدوالی يوه هندي مسافر ته ډېر عجيبه غوندې څرګندېده. د شپې په درېو بجو او پينځلس دقيقو سپيدې وچاودې (د جون شپاړسمه نېټه) خو د پينځو بجو او لسو دقيقو پورې لمر راونه خوت.

د کابل درياب په اوږدو کې دريم کوچ مو د اکوړې کلي پر لور پيل شو. دا کلی د خټکو د قوم يو غوره ځای او اصف خان يې مشر بلل کېده. اصف خان او د قوم نورو



Property of ACKU

سترو کسانو له موږ سره وکتل.

اصف خان د ډېر احترام وړ سړی و، ښایسته کالي یې اغوستي وو او د زیات شمېر کسانو له خوا یې بدرګه کېدله.

دده نور ملګري سپینږیري کسان وو، چې زیاتې شنې رنګې او یا تورې جامې یې اغوستې وې. دوی ښکلې څیرې، اوږدې ږیرې او د درنښت وړ بڼې درلودې.

د پورتني کلي وروسته زموږ لاره په داسې ځای کې وه، چې د کابل دریاب یې شمال او غرونه یې سویل ته پراته وو. غرونه او دریابونه د نوشهره په برخه کې دومره سره نږدې شوي وو، چې یوازې زموږ د کمپ درولو لپاره یې یوه ټوټه ځمکه درلودله.

د جون د اتلسمې ورځې په اوږدو کې د اندس دریاب ته ورسېدو. غونډۍ د کابل سیند ته ډېرې نږدې شوې. له دې لامله موږ مجبور شو چې له هغو څخه واوړو. د غونډیو او غرو دا لړۍ له هغو غرو سره اړیکه لري، چې موږ د کوهاټ تر اړخ له هغو څخه تېر شو.

زموږ د مالونو د ساتلو لپاره په کنډو کې د خټکو د قوم څارونکیو مرسته وکړه، چې د خیبریانو له لوټمارۍ وژغورل شو. د خټکو دغه څارونکي په کنډو کې تانه دار او د کوهاټ له خټکو سره یو شان وو. له څوکې څخه مو د شمال خوا ته د اندس دریاب د بخار د کلکې طبقې او ټوټې (وریځ) په منځ کې ولید، چې د څو ښاخو (چینل) په څېر بهېده او موږ هغه غرونه، چې دریاب پکې روان و، په سختۍ سره ددغو وریځو له شا څخه لیدلای شول. د هغې غونډۍ په تل کې، چې موږ وریاندې ولاړ وو، د کابل دریاب د هغه له دوو ښاخونو سره یوځای کېده. د دریابونو د یوځای کېدو په نقطه کې زیاتې ډبرې وې. چې د دواړو دریابونو اوبه په ډېره تندۍ سره وریاندې لګېدلې او له هغو څخه ډېر په زړه پورې غږونه پورته کېدل. له دې وروسته دریابونه سره یوځای کېدل او د یوې ژورې او نرۍ ویالې په شان د غرونو په منځ کې بهېده. د اټک کلا هم له دغه ځایه لیدل کېده. له غونډۍ څخه د کښته کېدو وروسته مو دغه ځای ته مخامخ خېل کمپ ودراوه.

د اندس دریاب دلته دوه سوه شپېته متره پلن لیدل کېده. خو د زښت ژوروالي او زیات ګړندیتوب له لامله یې د پلن والي دا عدد دومره زیات سم نه برېښي. د دواړو غاړو ډبرې یې تورې او د اوبو د لګېدو د فشار په واسطه ښویې شوې وې، نو ځکه د تور مرمر په شان ځلېدلې او تل داسې برېښېدلې لکه چې لندې وي. د ډبرو تر اړخ سپینه شګه هم لېدوله کېده، د سیند په منځ کې د جلالیه او کمالیه په نامه نامتو ډبرې هم وې. خو هغه ګرداب چې د هغه په اړه مو زیات څه اورېدلي وو، په

Property of ACKU

دغه موسم کې دومره ډېر د غضب وړ نه لیدل کېده.

د اټک کلا د اندس دریاب په کیڼه غاړه باندې د یوې غونډۍ په سر ولاړه وه، دا چونې د متوازي الاضلاع په څېر بنا شوې، چې کوچنۍ ضلعه (هغه چې له سیند سره موازي برېښي) څلور سوه متره اوږدوالی لري، په داسې حال کې چې نورې یې دوه واره له دغې څنډې څخه اوږدې ګڼل کېږي. ددغې دېوالونه له تراشل شوې ډبرې څخه جوړ او سره له دې، چې ځای یې ډېر ښکلې انځور جوړوي، خو په سر یې یوه شډله غونډۍ حاکمیت لري، چې یواځې یو خوړ د دوی دواړو ترمنځ بېلوونکې کرښه منځ ته راوړي، په دې ډول کلا د غونډۍ په لمن کې ځای نیسي. د کلا منځنۍ برخه او د دېوالونو دېوالو تر څنګ برخې د مخامخ غاړې څخه لیدل کېدای شي. د اټک کلی چې یو وخت یې ډېر نوم لاره، اوس وران شوی څرګندېده.

په هغه کلي کې چې موږ کمپ وډراوه، ډېر وړوکی و. چې د یوې چونې له لاملـه ځانګړی معلومېده، داسې ویل کېدل، چې دا کلا د نادر شاه په واسطه جوړه شوې ده. دغه کلي ته د ختکو د څو پخوانیو مشرانو له خوا یوه ناوه (سیفون) جوړه شوې وه، چې د شاوخوا ځمکو په خړوبولو کې یې مرسته کوله.

د دریاب د اوبو له تېز بهیر سره سره دلته بېړۍ په دومره چټکۍ سره پورې وتلې، چې تراوسه پورې موږ له نورو سیندونو څخه په دغه شان تېر شوي نه وو. دغه راز موږ یو شمېر خلک ولیدل، چې له سیند څخه تېرېدل او یا د غویي په پړسول شویو ژیو (خیګانو) باندې په اوبو کې لاهو او بلې خوا ته پورې وتل. په خیګانو باندې داسې کېناستل، چې دواړه پښې یې تړې تاو او دبدن نیمایي برخه به یې هم په اوبو کې ډوبه وه او په دې ډول دوی د سیند نه پورې وتل. دغه ډول الات د امو دریاب په برخه کې د سکندر له زمانې راهیسې استعمالیږي.

موږ له سیند څخه د جون په شلمه نېټه پورې وتلو او له کلا څخه تېر شو. هند ته دننه وتلو په اړه موږ ته د راسره ملګرو افغانانو له خوا هرکلی وشو. موږ په اټک کې دوه ورځې تم شو او د شاوخوا مشرانو له موږ سره وکتل.

ددغه ولایت حکمران یو ښاغلی او د درنښت وړ درانی وو، چې (خراساني کالي او څېره یې لرله، خو ددغې سیمې اوسېدونکي درانیان او یوسفزایان ددغو قبیلو زیاتره اوسېدونکي اووه نسله پخوا دلته مېشت شوي وو) چې د هندیانو په څېر برېښېدل او هماغه شان کالي یې اغوستي وو. یوه هندي سړي زما زیاته پاملرنه واړوله، دی د اټک د سویل ختیزو غرنیو سیمو کې د کاتریانو (Kautris) په هندي قبیلې پورې مربوط و. دی ډېر تور او اوږده ږیره یې لرله. دده څېره بې له دې، چې ږیره وي، ډېره حیاناکه او ساده ښه څرګندوله. کالي یې خیرن. لونګۍ یې لنډه او

په عجیبه توګه یې پېچلې وه، کله چې کښاست ډېره یې داسې ونیوله لکه په لاواتیر (Lavater) کې د اسکاریوت نومي یهود (Iscaroit) انځور، چې ښکاره شي.

په اټک کې د دویمې شپې د تم کېدو په دوران کې تودوخه ډېره زیاته وه. زموږ د کمپ سوېلي خوا ته د غونډیو په سر ګرم او تند باد چلېده او سهار د درېو او څلورو بجو ترمنځ ترمامیټر د تودوخې درجه د فارنهایټ ۹۶ وښودله.

له اټک نه تر حسن ابداله مو درې پړله پسې مزلونه وکړل. لومړی خوځېدنه د چچ د میدان په اوږدو کې ترسره شوه. دلته ځمکه هواره او یوازې هغې خوا ته کوچنۍ غونډۍ، چې کلي یې په سر پراته وو، لیدل کېدلې. ددغې سیمې ټولې ځمکې د غنمو کروندو نیولې وې. دوه نورې خوځېدنې د موج لرونکې لوړې ژورې ځمکې په امتداد وشوې، چې په ژورو ځمکو او کندو کې معمولاً ژور خوړونه منځ ته راغلي وو. دا سیمه په عمومي توګه وچه او له کروندو څخه تشه وه. دغه ځای ورو ورو د هندوستان سیمو ته ورته کېده، چې هغې او دې خوا ځای ځای ولې څرګندېدلې. وګړي سملاسي بدل شول، په سلو کې یوه کلیوال هم په پارسي خبرې کولای نه شوې. افغانانو ورو ورو د پښتو ژبې استعمال له لاسه ورکړی و. دا خلک ډېر ساده او دومره ناپوه وو، چې ما تراوسه هیڅ لیدلي نه وو، زه یې په لیدلو ډېر حیران شوم. له اټک نه زما سره دبوران او حسن ابدال د سیمې مشر ملګرتیا وکړه. نوموړی شمر حبیب خان نومېده. له ده سره سل تنه په آسانو سپاره بدرګه وال سړي وو، چې په هندي ډوله کالیو پټ وو، سپینې لونګۍ او د مالوچو تلتک (برستن) ډوله کرتۍ یې اغوستې وې. د تورو موټې او د اسانو اسباب او لوازم یې هندي وو. بوټونه یې نه لرل. خو دوی ټولو څرمینه زغرې او د زغرو کمیسونه اغوستي او اوږدې نیزې یې له ځان سره وړلې. له هندوستانیانو څخه دوی په خپلو ساده عقایدو او ډېرو زړورو سره بېلېدل. د دوی ځیرې په عمومي توګه ځانګړې برېښېدلې. ددغو ټولو هندي علامو په منځ کې د حسن ابدال درې موږ ته د شاته پاتې شوې سیمې خاطره بیا راپه یادوله.

دا سیمه په ټولو دورو کې د خپل ښایست له لامله ډېر نامتو او کشمیر ته د سترو مغولو د کلنۍ لېږدېدنې په وخت کې د استراحت ډېر مناسب ځای ګڼل کېده. په دغه سیمه کې بل داسې هوسا او د عیاشۍ لپاره د شوکت نه ډک مناسب ځای لیدل کېدای نه شو. د هندوستان بارانونو اغېزې اوس دلته رارسېدلې وې او دغه ځای ته یې په زړه پورې، پسته او ځانګړې هوا ورکړې وه. دغې سړې شوې هوا موږ ددغې سیمې له ښکلاوو څخه خوند اخیستلو ته نور هم مایل کړو. دغه راز دلته



Property of ACKU

داسې یو باغ و، چې په بشپړه توگه د کوهاټ بڼ سره یو شان گڼل کېدای شي. ددغه باغ تر اړخ د حسن ابدال زیارت و، چې د سیمې نوم هم له هغه ځخه نیول شوی دی. دغه زیارت د یوې څلور څنډیزې احاطې په منځ کې جوړ شوی او د تعمیر یوه برخه یې د مرمر ډبرو پوښلې وه. دا شان د احاطې په غولي کې د سبر دوه ډېرې جگې زړې ونې هم لیدل کېدلې. ابدال، چې د حسن لقب و، په پښتو کې په ساده لېوني او مست مانا کېږي. نوموړی د کندهار نامتو پیر او هلته د بابا ولي په نوم شهرت لري. دوه میله وړاندې سلطنتي باغ برېښېده، چې دا وخت د ویجاړېدو خوا ته تللی و. ددغه باغ په هرڅه کې د خواشینۍ نښې څرگندېدلې. ځکه د هغه پخوانی برم او ځلا اوس ډېره لږه پاتې وه او دومره اغېزناکه نه برېښېدله. په دغه بڼ کې ځینې ستر ډنډوکي هم وو، چې دغونډویو له پاکو اوبو ځخه ډکېدل. دغه راز ځینې زاړه تعمیرونه هم لیدل کېدای شول (د هغو په لړ کې یو یې ډېر ظریف او غوره گڼل کېږي). دلته موږ د وروستي ځل لپاره داسې چنار ونه ولیدل، چې د لویدیزو بڼونو د ښکلا یوه په زړه پورې نښه شمېرل کېږي.

داسې برېښېدله چې د کابل پاچاهي د سرنوشت تر معلومېدو پورې به هیئت هرومرو په حسن ابدال کې پاتې کېږي، خو مخکې له دې ماته داسې اوامر راورسېدل، چې برتانوي ولایاتو ته په شا ستانه شو. په دې اړه موږ پاچا ته هم خبر لېږلی و، سره له دې هم دا ضروري وه، چې د اعلیحضرت ځواب ته انتظار وباسو. له بلې خوا دې ته هم اړ وو، چې له سکانو سره د خپلو تېرېدو په اړه لانجه حل و فصل کړو، ځکه په لومړي وار سکانو زموږ تېرېدل د دوی د سیمې له منځ نه ونه منل. دغو مسایلو ته لس ورځې ځنډېدل پکار وو، په دغه موده کې ما د شاوخوا له زیاتو مشرانو سره وکتل. دغه راز د کاکړیانود سلطان له خوا یو لیکه او یوه زیاته اندازه انگور، چې دده په سیمه کې په طبیعي توگه پیدا کېږي، راورسېدل. کاکړیان له دې لامله زیات نامتو دي، چې دوی د سترو مغولو په مخ کې زیات خنډونه او کړاوونه پېښ کړل. دوی یو وخت د اندس او هیداسپس ترمنځ سیمه په لاس کې لرله، خو وروسته د سکانو له خوا مغلوب او واکمني یې له منځه ولاړه. دوی تراوسه پورې لوړ نظامي برم او حیثیت درلود.

دغه راز ملا جعفر، چې د پاچا له حرم سره اټک ته راغلی و، له ما سره یې وکتل. ملا جعفر ته امر شوی و، چې د پاچا د عملیاتو او چارو د ویجاړېدو په وخت کې حرم د سکانو سیمې ته وتښتوي.

لږه موده وروسته د پاچا ځواب ژر راورسېد، له سکانو سره هم لانجه حل شوه او زه دې ته چمتو شوم، چې خپل تگ اعلان کړم، چې یوه شپه مې په هیښتیا سره د



Property of ACKU

پاچا د حرم د ړومبنیو خیمو یا پیش خانې په اړه واورېدل. چې زموږ کمپ خوا ته رانږدې شوي دي. دا ښه نښه ونه گڼل شوه، ډېر ژر وروسته دا خبر خپور شو، چې پاچا ماتې خوړلې ده.

بله ورځ د دولتي چارو په اړه لوی بدلون ښکاره شو او په دغه خبر باندې په یقیني توگه باور کېدای شو. د پاچا ټوله ډله او جگړن تیت و پرک او ونیول شول. له بلې خوا دده هغه دښمنان، چې ورځخه د قیام هیله نه کېدله، دا وخت ټول وپارېدل او دده په ضد یې بلوا جوړه کړه.

ملا جعفر د همدغې ورځې په اوږدو کې راورسېد او د پاچا له خوا یو مکتوب یې راوایستلو. په دغه مکتوب کې ویل شوي وو. د پاچا لښکرو په ډېره وفاداری په جگړه کې عمل وکړ. خو ده بیا هم ماتې وخوړه. بل دا چې فلانی او فلانی مشر روغ رمټ خلاص شوي دي. نو ځکه خوندي ځای ته د حرم د سپارلو او رسولو په لټه کې باید وسه ونه سپمول شي. دا سې چې د پاچا لښکرې هغه وخت، چې په غرونو کې یې اوږد مزل او جگړه کوله. د فتح خان د یوې وړې قوې له خوا وریاندې یرغل وشو. د پاچا له دغه پوځ سره مالونه هم لېږدېدل. پاچا او اکرم خان د لښکر شاته روان وو، خو اکرم خان سملاسي زغره په ځان کړه او له سلو یا دوو سوو څخه لږو کسانو په حدودو کې ورسره د جگړې مخامخ ځای ته وخوځېدل، خو ده له همدغو کسانو څخه ځان وړاندې کړ او دوی یې شاته پرېښودل. دده له رسېدو نه وړاندې غلیم بریالی شوی و، خو اکرم خان سره ددې هم د فتح خان لوري ته وړاندې ولاړ، خو دغه نامي شخصیت له سخت مقاومت وروسته ډېر ژر مغلوب او هملته ووژل شو. پاچا غرونو ته وتښتېد او له هغه ځایه د کندهار په خوا ولاړ. چې هغه ښار ونیسي، خو په دغه هڅه کې هم ناکام شو. دوه ځله وروسته یې هم دا لټه وکړه او دوه وارې یې پېښور ونیو. خو اوس بیا د تبعید په حال کې اوسېږي.

د جولای د څلورمې نېټې د ناوړه خبر له اورېدو وروسته سهار مو خپل مزل بیا پیل کړ. د پخواني ترتیب شوي پلان له مخې د حرم کمپ لور ته ولاړو. چې له میر ابوالحسن خان څخه خدای پاماني واخلو. دغه کمپ زیات شمېر احاطې درلودې، چې د ټاټ له ټوټو څخه جوړې شوې وې. دغه راز د اوښانو یو زیات شمېر کجاوې یا لویې ټکرۍ مو ولیدلې. چې د ښځو د سفر لپاره یې چمتو کړې وې. د خان تر ځای پورې مو زیات واټن د هغو له منځه وواهه. تر هغه اندازې، چې ما فکر کاوه، حسن خان هغومره غمگین نه برېښېده. ده د پاچا د خواشینیو او سکانو له خوا: د حرم د منلو بې باورۍ په اړه په ډاگه موضوعات څرگند کړل. موږ له هغو سره په ډېره غمگیني خدای پاماني وکړه او تري راستانه شو. خپل مزل مو پیل کړ او د ناوې له



Property of ACKU

سویلي غونډیو څخه واوښتلو. په دې ډول د کابل پاچا له دومینونو (مستعمرو) څخه مو ځانونه تېر او یوې نوې ځمکې ته ورننوتلو. دا سیمې په حقیقت کې په سکانو پورې تړلې وې.

کله چې د سکانو له کرښې څخه د دوی سیمې ته ننوتو، نو د دوی له خوا سملاسي راته ښه راغلاست وویل شو. له دغې شېبې وروسته بیا موږ د درانیانو ژبه او کړه وړه د خلکو په منځ کې ونه لیدل. سره له دې، چې په سرحدي کرښه باندې د سکانو په لیدلو باندې خوښ شو او لیدل یې په زړه پورې وو، خو وروسته د دوی له هغو خلکو سره مخامخ شو، چې ژبه یې په بشپړه توګه ناآشنا وه او د هغوی ساده او نارسېدلو کړو وړو غمجن کړو. دوی لوڅ لغړ برېښېدل. چې د عاداتو له مخې له هغو هندوستانیانو سره چې موږ لیدلي وو، ورته نه معلومېدل. په بله وینا سره له دې، چې موږ ته د هندوستانیانو په څېر ښکاره شول، خو هغوی ته ورته شمېرل کېدای نه شول. د درېو پړله پسې خوځېدنو او مزلو وروسته راولپنډۍ ته راورسېدو. دغه مزلو په اوږدو کې موږ له یوې داسې غېر زراعتي او شاړې ځمکې څخه تېر شو، چې پراخه او ژورې ناوې پکې ځای شوې وې. د دویم مزل په دوران کې موږ د غرونو او غونډیو له داسې برخې څخه تېر شو، چې که په لومړي سر کې شوکت غوښتونکیو او په جلال مینو امپراتورانو د دغو غونډیو په سختو ډبرو کې یوه لاره جوړه کړې نه وای، نو اوښتل به ورڅخه ګران وو. دغه سړک د یوه میل درې په څلور برخې اوږدوالی درلود او د شنو کلکو ډبرو په واسطه یې مخ پوښل شوی و. دا لار تراوسه پورې په ډېره ښه توګه ترمیم شوې ګڼل کېدای شوه او د تنګلپاره مناسبه وه.

د راولپنډۍ ښار پر یوه ښایسته ځای ودان شوی او یو ستر پرنفوسه ښار ګڼل کېږي. ددغه ښار کورونه زیاتره جګ چوتره (برنډه) لرونکي جوړ شوي دي. دا ښار د لویدیځ اندس له ښارونو سره ډېر ورته و. د شاوخوا سیمې یې ډېرې زیاتې زراعتي او ارتې برېښېدلې، چې پکې تیت و پرک غونډۍ پرتې وې. دلته شپږ ورځې پاتې شو، چې د خپل وړاندې تګ په اړه له رنجیت سنګ څخه اجازه واخلو. په دغه ښار کې مو زیات شمېر سکان ولیدل، چې د مدنیت خوا ته نږدې او هېڅکله ډېر ځیرېږه او بې خونده نه معلومېدل. دوی جګ او نري وو، خو بیا هم قوي لیدل کېدای شول. د دوی څېرې هم ډېرې جنګیالۍ او زړورې برېښېدلې، دوی ډېر لږ کالي په ځان وو، لینګي، نیمایي ورنونه، متې او بدنونه یې (ښایي پورته تنه یې په بدن کې لوڅه وې. ژباړن) لوڅ برېښېدل. په اوږو باندې یې ستر څادرونه په زنګېدونکي او سست ډول اچولي وو، لونګۍ یې دومره غټې نه وې، خو جګې یې تومبلې او په مخکې برخه کې یې ولونه تاوراتاو شوي وو. د دوی ږیرو، سر او بدن ویښتانو هېڅکله د بیاتي



Property of ACKU

مخ لیدلی نه دی یا دا چې قیچې وړاندې لګېدلې نه ده.

دوی په عادي توګه ماشه یې ټوپک او غشې له ځان سره درلودل. خو له غشو سره یې مینه زیاته او ښه وسله ګڼل کېده، چې د دوی په لاس یو ښه غشی او د غشیو ګلداره کڅوړه په اوږه نه وای، له چا سره یې ملاقات کول نه غوښتل. د دوی خبرې زیاتره په پنجابي ژبه وې، خو کله کله به هندوستاني هم ګړېدل. خو زه پرته له یوه ترجمان څخه د دوی په خبرو هېڅکله نه پوهېدم. له فارسي سره په بشپړه توګه اشنا نه وو، سره له دې چې درانیانو د دوی سیمه څو ځلې نیولې وه. بیا هم دوی له دغه نامه سره بلدیت نه درلود. دوی په عمومي توګه ځانونه خراساني بلل، خو کله به یې په غلطۍ سره ځانونو ته د غلجیانو نوم ورکاوه. د راولپنډۍ مشر جیوان سنګ نومېده، چې د پنجاب له سترو کسانو څخه شمېرل کېدای شو. نوموړی زما لیدنې ته راغی، دی ډېر پوست سړی و، له نورو ملګریو څخه په ښه خوی او حمیده صفت بېلېده. له ده سره مل ملګري ټول په غیر منظمه داړوي توګه کېناستل.

دوی ټول د موقف له مخې پرېشان برېښېدل. یوه ورځ زما یوه خدمتګار له دغه سردار (جیوان سنګ) سره د ماښام په ډوډۍ حاضر شو. دغه خدمتګار د ډوډۍ په سر دوه نیم سوه تنه نور مېلمانه هم ولیدل. چې زیاتره دده له خوا مستقیماً د افرادو په څېر استخدام او هره ورځ یې له ده سره په ډوډۍ خوړلو کې برخه اخیستله. کله چې ما له ده سره د کتنې غوښتنه وکړه، نو دا وخت دی او دده ټول ملګري بې سده او نیشه وو، خو د غرمې وروسته په څلور بجو د دوی له خوا احوال راغی، چې له نیشې خلاص شوي دي او موږ یې په یوه وړه لوګې لرونکې خونه کې، چې د باغ په منځ کې ودانه وه، ځان ته ومنلو. دده ملګري کسان د پخوا په شان ګرد ناست وو ان په هغه شپه کې چې جیوان سنګ زموږ د روغبړ لپاره لا ولاړ و، چې ملګریو یې په کېناستلو پیل وکړ. موږ په راولپنډۍ کې وو، چې د شاه حرم د شاه زمان سره یو ځای په موږ پسې راورسېد. د جولای په لسمه نېټه مو له شاه زمان سره وکتل. دده لیدنه موږ ته د پاچا له کتنې څخه لږه په زړه پورې نه وه. دی یو وخت په هند او پارس کې ډېر نامتو او د غټ اعتبار خاوند پاچا و. دی په یوه وړه خېمه کې، چې غالۍ او لمڅې پکې هوار وو، په یوه ښکلي ارت کوچ باندې ناست و. موږ دده په وړاندې تر هغه وخته ودرېدو، چې ده له موږ څخه د کېناستلو هیله وکړه. دده جامې ساده او بې لستوڼي ارت کوټ یې په ځان و، چې په مخ یې پارسي ډوله ګلدار وریښمین ټوکر ایښودل شوی و. په سر یې ارته توره لنګۍ او څیره یې ډېره شاهانه وه. کله چې دی موږ ولیده، څلوېښت کلن معلومېده. دده غږ او حرکت په کره توګه شاه شجاع ته ورته وو، خو تر هغه جګ او منظم اوږد مخ او ښکلې ږیره یې درلودله.

Property of ACKU

دده ځېره به هېڅ ډول یو ړانده سړي ته نه پاتې کېدله. سره له دې چې سترګې یې ډېرې ژوبلې وې، خو بیا هم توري برېښېدلې او دده ځیرې ته یې تازه ګي ببنله. کله چې به چا ورسره خبرې کولې، نو خپلې توري سترګې به یې هغې خوا ته وروګرځولې. سره له دې هم دده ځیره غمجنه او له خپګان څخه ډکه وه. کله چې موږ کېناستلو، نو زیاته چوپتیا به خېمه کې خوره شوه. خو ده پخپله دا چوپتیا ماته کړه او د خپل وروړ د بدمرغیو په اړه یې خبرې پیل کړې. دا یې وویل، چې دی هغه زموږ سره د کتنې او پاملرنې په اړه وژغوره، که نه نو ده دا کار غوښته. ده وروسته د حالاتو په اړه یو څه وویل او ددغو شرایطو د بدلون هیله یې ښکاره کړه. ده څرګنده کړه، چې دا ډول ماتې د ټولو پاچاهانو په برخه دي، ده د ځینو شاهزادګانو په برخه حېرانوونکې تاریخي انقلابونه بیان کړل. په تېره بیا د ګوډ تیمور په اړه یې یو څه ښکاره کړل. که ده د اسیا ټول تاریخ بیان کړی وای. نو بیا به یې هم پکې د خپل ځان په څېر بې بخته څوک نه وای ښودلای. دی په داسې ملک کې، چې دوه واره یې نیولی و، ړوند، له تخته غورځېدلی او شړل شوی و.

د جولای په دولسمه نېټه موږ له راولپنډۍ څخه خپل مزل پیل کړ او له لسو مزلو وروسته د هایداسپس غاړې ته ورسېدو. لومړي شپږ مزلونه او خوځېدنې په هغه ډول ځمکه کې ترسره شوې، چې موږ پورته څرګنده کړه یانې زیاتره شنډه او د سیلاب د بهېدو او خوړو د شتون له لامله ځای په ځای ژوره پرې شوې وه. دغه راز دا سیمه د اندس او هایداسپس ترمنځ د ټولې ځمکې په څېر د ډېر ښه نسل د اسانو پوونده ګانو وربانده د آسانو ګلې پوولې. ختیځ خوا ته پرته برخه یې تر نورې پاتې ځمکې ډېره زراعتي برېښېدله. په لومړي مزل کې د سوان په نامه ویالې څخه واوښتلو. د ویالې اوبه د اس تر ګېډې پورې رسېدلې، چې ډېر ځله د زیات تېزوالي له لامله وربانده پورې وتل له خنډ سره مخامخ کېدل. زموږ زیات شمېر اوښان اوبو یوړل، پاتې څلور مزلونه په داسې سیمه کې ترسره شول، چې زیاتره غرنۍ او غونډۍ پکې د هغه ځای په څېر خورې وې، چې مو وړاندې بیان کړ. شمالي جګ غرونه او غونډۍ ډېر ځله د وریځو له لامله زموږ له سترګو نه پټېدل، خو کله کله چې به ښکاره شول، نو به له وریځو څخه ډېر پورته معلومېدل. د اندس او هایداسپس ترمنځ ټول مزل یو سل شپېته میلو ته رسېده، چې دا برخه ددغې سیمې ډېره سخته ځمکه ګڼل کېږي. زموږ د تېرېدو په لار کې سختو بارانونو کړاونه لا هم زیات کړل. یو وخت د هیئت د ځینو ښاغلیو (د وروستي ګارډ په ګډون) اړیکې د ویالې نه د تېرېدو په وخت سملاسي له موږ څخه وشکیدې. په لومړي سر کې ویالې ته د ګډېدو په وخت کې یو فوټ ژورې اوبه هم د دوی په مخ کې نه وې، خو د تېرېدو په



Property of ACKU

حال کې د ویالې اوبه ناڅاپه زیاتې شوې، چې د دوی د تېرېدو په مخ کې خنډ او له موږ څخه یې اړیکې پرې شوې. په دغه وخت کې زه په بېړه کښته راغلم، خو کله مې چې ویالې ته وکتل، نو اوبه یې په یوه دقیقه کې لس فوټه جګې شوې او بار کړي اوښان یې له ځان سره اخیستي او ډوب کړي وو. له دغه سېلاب څخه هیڅ شی زورور نه و، په داسې قوت سره روان و، چې د سمندرګي په څېر یې څپې وهلې او د ویالې په دواړو غاړو باندې د موږ په شان جګ شوی او د کرومندل د ساحلي څپې په دود برېښېده.

په غرنیو سیمو کې زموږ لارې او له داسې سیلاب لرونکیو ځایونو او خوړو څخه تېرېدل، چې پورته بیان شول، په لوړو غرنیو برخو کې هم د افغانستان د غرنیو ځایونو او غابنیو په شان زموږ کړاوونه همدغسې وو او هېڅکله له هغو څخه کم نه ښکارېدل. په یوه تنګه دره کې یوې ډلې سکانو، چې غرونه یې نیولي وو، هیئت ودراوه او په موږ باندې یې د حملې کولو خبرداری ورکړ. دغو لوټمارو سکانو یرغل دا شان وښود، چې لومړی به په هیئت باندې ډبرې ورغورځوي او پسې به په ټوپکو حمله وکړي. د دوی د ګواښ په مقابل کې هماغسې ځواب ورکړل شو، په بله وینا د هیئت او ددغو لوټمارو ترمنځ نښته پیل شوه، خو دا جګړه د هغو سکانو له خوا، چې له هیئت سره یې ملګرتیا کوله، ودرول شوه. له بده مرغه په دغه اخ و ډب کې یو تن په دره کې مړ او ښاغلی کپتان پټمان د یوې ډلې سپاهیانو په مشرۍ غره ته د ختلو په وخت کې په مټ باندې ووېشتل شو.

له راولپنډۍ څخه د دویم مزل په اوږدو کې داسې ځای ته راورسېدو، چې هلته یوه ډېره غوره ماڼۍ ښکاره شوه. دا ودانۍ چې له باندنا څخه پینځلس میله لرې پرته وه، نه یوازې ددغې سیمې غوره ودانۍ شمېرل کېږي، بلکې شایي زموږ په ټول سفر کې د هغې ساری ونه لیدل شي. دغه ځای ته له رسېدو وروسته یوه ورځ مو وغوښتل، چې ددغې ماڼۍ ننداره وکړو، خو د سخت اورښت له لامله پاتې شو. څنګه چې موږ دغه ځای ته نږدې وو نو میجر ویلفور دا تصور وکړ، چې دا به د ټکسیلا سیمه وي. له دې لامله یوې ډلې تصمیم ونیو، چې د هغه ښار د کنډوالو د لیدلو لپاره وخوځېږي. د څلورښت میله واټن په تاوېدو سره موږ د کاکړیانو داسې ښارونه ولیدل، چې یو څه یې د سکانو له خوا له منځه تللي وو او یو څه نور زاړه یې مسلمانانو ځپلې وو. دلته مو یوه یا دوه کاروانسرایونه هم ولیدل، چې رباط بلل کېدل. دغه راز دلته مو د یوې داسې ستنې په اړه، چې څلور کونجه یې درلودل او سر یې هرم شکله و، یو څه واورېدل. ددغې متې اوږدوالی یا جګوالی پنځوس یا شپېته فوټه و او له یوې ټوټې تیږې څخه جوړه شوې وه. دا ستن په راجې نومي

Property of ACKU

ځای کې ولاړه وه. د ډېر لیرې والي له لامله موږ ونه کړای شول، چې ویې وینو. سره له دې هم دلته مو داسې زړې کنډوالې ونه لیدلې، چې له ټکسیلا سره د اړیکې په برخه کې یې ادعا وشي. بالاخره پسې مو یوه داسې غوره ماڼۍ وموندله، چې په لومړي سر کې مو یواځې د یوې گومبزې گومان ورباندې وکړ. خو کله چې ورنږدې شو، نو د یوې غونډۍ په سر یوه پخه ودانۍ راته ښکاره شوله. د غونډۍ له څوکې څخه د ماڼۍ تر څوکې پورې جگوالی اویا فوټه او محیط یې داسې ورېښېده، چې یو سلو پنځوس گامه دی. د ودانۍ شاوخوا له کلکو ډبرو له ټوټو څخه جوړه شوې ده، چې په ډبرو کې یې د بوټو کلک شوي مواد د شگو د کوچنیو ټوټو په گډون لیدل کېدای شول. د باندني مخ ټوله برخه یې له پورته ډول ډبرې څخه قالب او جوړه شوې وه. دا ډبرې ډېرې هوارې تراشل شوې او ټوله بهر خوا داسې برېښېدله، چې همدا ډول هوار مخ لري. خو سره له دې هم ځینې په دغه ډول بشپړې شوې نه وې او یا دا چې قالبونه یې یا پلنټ لوېدلي وو. ددغه ودانۍ ټوله نخښه په آسانۍ سره برسېره شوه، ددغې لویې ودانۍ د تل خوا ته ځینې پلنې زینې غځول شوې وې. د تل گردچاپېره داسې څېره (د لرگي او ختو ټوټه، چې د دېوال په مخ تاوېږي. ژباړن) گرځېدلې وه، چې په مخ یې څلور کونجه ستنې د څلورو فوټو په جگوالي او له یوې او بلې څخه د شپږو فوټو په لیرې والي جوړې وې. ددغو متو سرونه پراخه او له ماڼۍ څخه گردچاپېره تاو شوې نرۍ ټوټې گلدار یا جعبه لرونکي لرگي (شرېپه) د ساتلو لپاره یې مرسته کوله. په دغه نرۍ گلداره ټوټه باندې مرۍ هم لگول شوې وې او مازې کرښې پکې لیدل کېدلې. د پاسنۍ زینې له لومړي پاټکي څخه د گلداره ټوټې تر پاسنۍ څوکې پورې جگوالی اووه او یا اته فوټو ته رسېدلای شو. له دغې برخې وروسته د تعمیر دېوال کمسوری شوی او د یوې کوچنۍ کړکۍ نه، چې یو یا دوه فوټه پلنه وه؛ په تېرېدو سره عمودي پورته شوې او دغه عمودي دېوالونه شپږو فوټو ته رسېدل. له کړکۍ څخه یو فوټ پورته یوه نرۍ ټوټه، چې له ډبرو څخه جوړه او له دېوال څخه لږه راوتلې وه، لیدل کېدله. ددغه دېوال په پاسني سر باندې یوه گلداره نرۍ څېره یا ټوټه راوتلې برېښېده، چې له هغې وروسته د ماڼۍ گردوالی پیل کېږي. د دېوال د مخ ډبرې درې نیم فوټه اوږدې او یو نیم فوټه پلنې وې او په داسې ترتیب یو په بل ایښودل شوې وې، چې یواځې وروستۍ څنډې یې لوڅې لیدل کېدی شوې. د ماڼۍ سر اوار او له هغې څخه د دیوالو تاداوونه لیدل کېدل. د ماڼۍ بام او پاسنۍ برخې د یوولسو گامو په اوږدوالي او پینځو گامو په سور یوه ساحه څرگندوله، چې د هغې درېیمه برخه د قطعه کوونکي دېوال په واسطه پرې شوې وه. ددغې ماڼۍ د بنې په شان په ټول هند کې هېڅ پیدا کېدای نشول، زیاترو

Property of ACKU

ملګریو دا ماڼۍ په بشپړه توګه یوناني تصور کوله. په رښتیا سره دا ودانۍ د اروپايي ماڼیو په څېر په یوناني معماري سره داسې جوړه شوې وه، لکه چې اوس اروپايان ددغې سیمې په یوه لیرې برخه کې د آري اوسېدونکیو د ناازمایلو معمارانو په واسطه یوه ودانۍ جوړه کړي[1]. ددغه ځای اصلي اوسېدونکیو دغه ودانۍ ته د مانیسیولا تپې نوم ورکړی او وایي، چې دا ځای د خدایانو په واسطه جوړ شوی دی[2].

د ماڼۍ په شاوخوا کې زیاتې ونې او بوټي شنه شوي وو، چې په هغو کې د هندي انځر یوه ښکلې ونه هم لیدل کېدله.

مخکې له دې، چې هایداسپس ته ورسېږو، له موږ سره د روتاس د نامتو چوڼۍ د لیدلو نظر موجود و، خو دا ځای ډېر لیرې و. مجبور وو، چې اصلي لاره پرېږدو او د جلم د عادي جالې پر ځای پینځلس یا شپاړس میله لاندې لاړ شو او بیا پورې خوا ته ځان تېر کړو. د روتاس په اړه موږ دومره پوه شو، چې د یوې وړې غونډۍ په سر یوه کلکه کلا ده.

د هایداسپس له سیند څخه د جلالپور په برخه کې د پېنځو ورځو له تېرېدو څخه وروسته، چې له دوه ویشتمې نه تر شپږ ویشتمې پورې یې دوام وکړ، تېر شو. د سیند د دواړو غاړو ځمکو توپیر زما جدي پاملرنه واړوله. د کیڼې خوا ځمکه د هندي میدانونو ټول مشخصات او نښې درلودې. په رښتیا چې دا برخه د بنګال په

---

[1] ښاغلی ارسکین په ۱۸۲۱ کال کې د بمبۍ د ادبي ټولنې په وړاندې په یوه مقاله کې داسې ښکاره کړه، چې دا ماڼۍ د بودا په عبادتخې پورې اړه لري دا نظریه وروسته په سمه توګه ثبوت ته ورسېدله دغه ودانۍ په ۱۸۳۰ کال کې د رنجیت سنګه یوه عسکري جنرال چیوالیرونچورا له خوا دې لپاره پرانستل شوه، چې د مقدسو شیانو د موندنې په څنګ کې خیني پخوانۍ په زړه پورې سکې هم پیدا کړي دده په هڅه، ذوق او وسیع نظر سره دا کشفیات خپاره شول، چې په نتیجه کې یې ډېر ژر د نورو سیمو د پلټنې لپاره لار هواره کړه د ښاغلي میسن او ډاکتر مارتین هانز برګر په جدي فعالیت او مقاومت سره د هندوکش او کابل دریاب ترمنځ له کابل څخه تر هایداسپس پورې څو دغه ډول غونډۍ بیاموندل شوې ډېره زړه سکه په هغو ماڼیو کې پیدا شوه، چې د هغو نېټه دویم تر یوم ویرات ته چې له میلاد نه یوه پېړۍ وړاندې و. رسېږي او وروستی یې د خسرو پرویز زماني ته. چې شپږمه میلادي پېړۍ کېږي، رسېدلای شي له دې امله د تپو جوړېدل ددغو دوو نېټو ترمنځ اټکل کېدای شي

[2] په لویدیځ کې تر پېښور پورې د تپې اصطلاح عونډۍ او یا زنبیل ته ویل کېدای شي مانیسیولا دغه غونډۍ ته څېرمه پروت کلی دی ددغه غونډۍ رسامي په یونه کې زما تر لارښوونې لاندې وشوه. خو سکیچ یې د هیئت هغو ښلو ښلو ښاغلیو برابر کړ. چې له ما سره د مانیسیولا لیدنې ته په هغه ورځ ولاړل په داسې شرایطو کې د لږ سموالي هیله هم کېدای نه شي، خو له رسامۍ څخه عمومي ایډیا اخیستل زما په نظر سم ګڼل کېږي



Property of ACKU

څېر هواره او څریه وه او له هغې سره یې زیات ورته والی څرګند اوه، په داسې حال کې چې ددغه دریاب ښۍ غاړه د مالګینو غونډیو لړۍ نیولې وه. دا ډول غونډۍ مورېد کله باغ په سیمه کې لیدل او هماغسې څېره او وحشي فضا یې څرګندوله. یا دا چې که له ختیځ څخه یو مسافر دغه سیمې ته ننوځي، نو هرومرو به د هغې په اړه د ویرناکې او ډاروونکې څرګندونې الهام ورته وشي. دغو غونډیو هماغه سور رنګ ساتلی و، چې دمخه مورږ ورڅخه تېر شو. دا غونډۍ د سیند غاړې ته رسېدلې او دلته په ټاپوګانو وېشل شوې وې، چې د دوی دغې ښې د پخوانیو لیکوالو لیکنې ښې ښکاره کولای شوې. دا ځای د کوینټوس هغه بیان، چې د هایداسپس د دریاب ددغې برخې د پورو د جګړې په اړه یې لیکلی، ښه څرګندوي، چې د هیئت زیاتو ښاغلیو هغه وخت چې ددغه ربوټ پراګرافونه لوستل، داسې په شوق راغلل، چې په رښتیا هماغه ځای د دوی د سترګو وړاندې پروت دی.

له هایداسپس څخه تر تېرېدو وروسته مورږ خپل مزل ته د پنجاب په اوږدو کې د جولای له شپږ ویشتمې نېټې نه د اګست تر (۲۹) نېټې پورې دوام ورکړ. ددغې برخې په اړه زما سفر زیات تفصیلات نه غواړي. د لاهور تر لویدیځ پورې انګرېزي ښاغلیو پلټنې او لیدنې کړې دي او سرجان مالکم د سکانو پېژندګلوۍ په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړي دي. چې دا ډلګر ټولو نورو اوسېدونکیو ډېر غوره رول لري.

د پنجاب د سمسورتیا او د خاورو د ښوروالي په اړه زمونږ جغرافیه پوهانو لوې مبالغه آمیزې څرګندونې کړي دي. د دریاب له غاړې سره څېرمه ځمکو څخه پرته نور ټول پنجاب د هندوستان له برتانوي ایالاتو سره نه برابرېږي او ان تر بنګال هم کښته برېښي. په داسې حال کې چې جغرافیه پوهانو پنجاب له بنګال سره ورته ښودلی دی. په هغو ځایونو کې چې زه تېر شوم، خاورې شګلنې او هیڅکله څربې نه وې. داسې معلومېده چې له غونډیو سره نږدې ځمکه لږ څه ښه ده، خو د سوړ ځوا ته خرابه ګڼل کېدای شي. که چېرې له هایداسپس څخه ختیځ خوا ته پنجاب په څلورو برخو ووېشو، نو دوه لومړۍ برخې چې هایداسپس ته نږدې دي. تر ډېرې اندازې شړ ځایونه ښکاره کوي، چې پکې د غوایانو او مېښو ګلې پوول کېږي. په داسې حال کې چې لیرې ختیځ خوا ته یې تر هایسودروس او ستلج پورې دوه نورې برخې یوه اندازه زراعتي دي، خو بیا هم زیاته برخه یې شاړه ګڼل کېږي. دوې لومړۍ برخې بشپړې هوارې دي، خو دوې وروستۍ برخې موج لرونکې او رېنډ برېښي. د هایداسپس ختیځ خوا ته یو غونډۍ هم نه معلومېږي او د بابل له ټیټ نسل ونې څخه پرته نورې ونې پکې نشته. په عمومي توګه باید ووایو، چې دلته درېمه برخه ځمکه هم تر کرنې لاندې راغلې نه ده، خو سره له دې هم یو زیات شمېر کلي او یو څو ستر ښارونه پکې لیدل کېږي.



Property of ACKU

ښارونه تر ډېرې اندازې د ویجاړېدو خوا تـه تللي دي. امرتسر د سکانو یو مذهبي او مقدس ښار دی، چې د پرمختګ په حال کې لیدل کېده. له بلې خوا دا ښار د سکانو د ملي جرګو مرکز ګڼل کېږي، په مقابل کې يې لاهور چې په بیړه د ورانېدو خوا تـه روان وو، د جوماتونو د مرمر لرونکیو منارو او ګومبزو، دچونې د جګو دېوالونو د شالیمار دبڼ د ګڼو چوترو، د جهانګیر د ښکلې مقبرې او د بې شمېره ورو قبرونو او عبادتځایونو له لامله، چې د ښار په شاوخوا کې وو، ډېره نامتو او تراوسه پورې د یادونې او په زړه پورې برم څرګندوی بلل کېدای شي.

کله چې موږ د ختیځ خوا تـه په مخ ولاړو، نو وګړي ورو ورو هندوستانیانو تـه ورته کېدل. ددغه برخې زیات شمېر اوسېدونکي جټان او ورپسې هندوان وو، که څه هم سکان په اقلیت کې وو. خو بیا هم دوی د دغسې سیمې واکمنان او باداران ګڼل کېدل. ډېر ځله موږ د خپل اوږده مزل په اوږدو کې ان له یوه سک سره هم نه مخامخ کېدلو او دوی هېڅکله له پیاتې وګړیو سره په جمعیت کې تناسب ښکاره کولای نه شو. کله چې له هایداسپس څخه واوښتلو، نو د سکانو خوی او کړه وړه پرله پسې د خړوالي خوا تـه لاړ، په تېره بیا په سیاسي لحاظ دوی غمجن برېښېدل، ځکه سکان طبعاً خوشحاله، بې اعتنا، ماشوم ډوله، ډښکار شوقمن، له شرابو او فسادو څخه وزګار او ټوکمار خلک دي. سره له دې، چې په ۱۸۰۵ کال کې رنجیت سنګ د پنجاب له څو مشرانو څخه یو مشر و، خو په دغه وخت کې ټول پنجاب په ده پورې تړلی و او زموږ د تېرېدو په وخت کې ده له ټولو سکانو څخه د مشرۍ او واکمنۍ مقام ګټلی او د پنجاب د پاچا لقب يې موندلی و. د رنجیت سنګ ختیځې خوا تـه لاس لاندې ملکونو د انګرېزانو تر ملاتړ لاندې ولایتونو سره ګډې سرحدي کرښې درلودې. ده د کمزورو ګاونډیو ملکونو په نیولو کې هغه پالیسي نیولې وه، چې د هغې له مخې يې د سکانو مشران هم په یوه خاصه قوه او مهارت سره په موفقانه توګه ځان تـه تسلیم کړي وو. د ستلج نه په اوښتلو سره موږ د لودیانې په نامه برتانوي سیمې تـه ورسېدلو او له دغه ځایه هیئت مخامخ د ډیلي خوا تـه پرمخ ولاړ او د دوه سوه میله واټن تر وهلو وروسته ډیلي ته ورسېدو.

* * *

Property of ACKU

# لومړی کتاب

## لومړی څپرکی

## د افغانستان موقعیت او بریدونه

Property of ACKU

دا گرانه ده، چې د کابل د ټولواکۍ حدود وټاکو. یو وخت د کابل تر واکمنۍ لاندې سیمې له سرهند څخه نیولې د طول البلد شپاړس درجې پراخوالی درلود، چې دا اندازه له ډیلي څخه تر مشهده پورې یو سل و پنځوس میله وه او د کسپین له سمندرگي څخه یې هم همدومره واټن درلود. پراخوالی یې له اکسوس (آمو) څخه دیارس تر خلیجه پورې غځېدلې وه، چې په دې واټن کې ۱۳ درجې یا ۹۱۰ میله واټن راځي.

خو وروسته په دغه ستره امپراتورۍ کې ډېر کمښت راغی او د حکومت دغه ځېل شوی حالت د پاچا د قدرت له تطبیق مخه اړ په هغو سیمو کې هم نیسي، چې لا یې هم تر واکمنۍ لاندې دي. په نا ثابته حالت کې زه باید مخپله د آسیایانو ازموینه غوره کړم. هغه دا چې د پاچا حاکمیت په هغو ټولو سیمو کې موجود وي، چې هلته دده په نامه خطبه لوستل کېږي او هلته سکه دده په نامه وي[1].

ددغې څرگندونې له مخې د کابل د اوسنۍ پاچاهۍ لویدیزه سرحدي کرښه له هرات څخه د طول البد له ٦۳ درجو کرښې څخه پیل او په ختیځ کې د کشمیر تر ختیځ سرحده پورې طول البلد ۷۷ درجو ته رسېږي. لویدیځ خوا ته د اتلس له خولې څخه پیل او د شمالي عرض البلد د ۳۷ درجو پورې تر اکسوس غځېدلې ده.

د طول البلد او عرض البلد دغو کرښو ترمنځ ټوله سیمه د کابل په پاچا پورې

[1] خطبه دمسلمانانو د مذهبي مراسمو یوه برخه ده، چې په هغې کې د پاچا نوم هرومرو یادېږي او دوعا ورته کوي په خطبه کې د شاهزاده نوم یادول او په جاري روپیو کې د هغه نوم کښل، په ختیځ کې د واکمنۍ د پېژندلو ډېره یقیني لار کڼل کېږي

ترلې نه ده، وروسته به دا څرګنده شي، چې ددغې سیمې له جملې څخه چې دده تر واکمنۍ لاندې ګڼل کېږي. زیات وګړي یې اطاعت کوي، خو دا اطاعت یوازې تش په نامه دی.

ددغې پاچاهۍ ختیځ خوا ته هندوستان پروت دی، چې د سند کیڼې غاړې او کشمیر هم پکې شامل دي. د سویل خوا ته یې بنایي زړه نازړه وویل شي، چې د پارس خلیج پورې رسېږي. لویدیځې خوا ته یې د ټول سرحد په اوږدو کې یوه بیدیا غځېدلې ده. شمالي سرحد یې د ختیځ قفقاز غرونه جوړوي، دغه راز د لویدیځ برید (سرحد) په مېنځ کې هم دا غرونه برخه لري. د آمو سیند دلته سرحد منځ ته راوړي او حدود ټاکي. زموږ د وروستیو نقشو[1] د نوم اېښودلو له مخې په دغه هېواد کې افغانستان او مجستان (سیستان) د خراسان او میکران له یوې برخې سره، بلخ له ترکستان او ګیلان سره کیوتور (Kuttor)، کابل، کندهار، سند، کشمیر د لاهور له یوې برخې او د ملتان له زیاتو سیمو سره شاملې دي.

ددغې پاچاهۍ د وګړیو ټول شمېر له څوارلسو میلونو څخه لږ ګڼل کېدای نشي. دغه احصایه د هیئت یوه بناغلي د پلنوالي او د بېلو بېلو ولایتونو د وګړیو د پرتله کولو څخه ټاکلې ده. له دغې احصایې څخه ټول ارت بیابانونه مستثنی ګرځول شوي وو. له کشمیر څخه پرته په نورو ټولو سترو سیمو کې د وګړیو شمېر په یوه مربع میل کې له سلو تنو څخه نه دي اټکل شوي او کله کله (لکه د هزاره وو په ټوله سیمه کې) په یوه مربع میل کې هغه یوازې اته تنه شمېرل شوي وو. هغه بېلا بېل قامونه، چې د کابل په پاچاهۍ کې اوسېږي، د نفوسو له ټول شمېر سره په لاندې ډول ونډې لري:

افغانان : ۴۳۰۰۰۰۰

بلوڅان: ۱۰۰۰۰۰

د تاتارانو ټولې ډلې[2] ۱۲۰۰۰۰۰

د پارسي ژبې غړېدونکي د تاجکانو په ګډون: ۱۵۰۰۰۰۰

هندیان (کشمیریان، جټان او نور): ۵۷۰۰۰۰۰

متفرقه کامونه: ۳۰۰۰۰۰[3]

د کابل د تشریح په اړه زما د څرګندونې زیاته برخه به د افغانستانو په اړه وي،

Property of ACKU

---

[1] ایروسمت اسیا

[2] زما په تصور داسې څرګندېږي، چې په دغه جدول کې د بلوڅو او تاتارانو شمېر ډېر لږ ښودل شوی دی

[3] لیکونکي ددغو پاسنیو ارقامو منبع ښودلې نه ده. په غالب احتمال چې دقیق به نه وي ژباړن

خو زه به لومړی د ټول سلطنت خاکه او چوکاټ څرګند کړم او څرنګه چې دا هم امکان لري، زما د کتاب لوستونکي به ددې هېواد له شاوخوا هېوادونو سره اشنا نه وي، نو په دې توګه به دوی ددې توان پیدا کړي، چې د سلطنت بریدونه (حدود) وپېژني یا ددې لپاره، چې په ضمني ډول ددې هېواد ګاونډي هېوادونه هم یادېږي، نو ښایي زه د آسیا د هغې برخې په اړه، چې دا سلطنت پکې پروت دی، لنډ معلومات وړاندې کړم.

که چېرې موږ د بنګال له ختیځ څخه تر هرات پورې د هندوستان او کابل له دواړو سلطنتونو څخه تېر شو، نو به د شمال خوا ته هرومرو د غرونو یوه لړۍ، چې ټل په سپینو واورو پټه ده، په دغه ټول واټن کې ووینو. له دغو غرونو څخه ددغو ټولو اکیو (پاچاهیو) ستر دریابونه سرچینه اخلي.

دا لړۍ له برام پوترا (Burrampooter) څخه پیل او د شمال لویدیځ لور ته تر کشمیر پورې غځېدلې ده. ددغې برخې په اوږدو کې دا غرونه د ګاونډیو او یا ورسره څېرمه پرتو سیمو د آرې اوسېدونکیو له خوا د همالیا په نامه یادېږي. له کشمیر څخه ددغو غرونو ټوله لړۍ د هندوکش تر واورینې څوکې پورې، چې تقریباً د کابل په شمالي لوري کې پروت دی. لړ څه د سویل لویدیځ خوا ته کږېږي. له دغې څوکې څخه وروسته د لویدیځ په لور ددغو غرونو جګوالی کمېږي او دایمي واورې پرله پسې خپل ځای له لاسه ورکوي. دلته دا غرونه د یو لړ هغو غرونو په منځ کې، چې له کابل څخه تر هرات پورې خواره شوي دي، ورک کېږي. په دغه برخه کې د نوموړې لړۍ سور د عرض البلد له دوو درجو څخه زیاته برخه نیسي. له دغو زیاتو غرونو څخه یوه لړۍ د لویدیځ لور ته خپره شوې او تر هغه ځایه، چې څرګنده ده، تر پارس (ایران. ژباړن) پورې رسېږي. په دې شرط چې د پخوانیو لیکوالو نظریې په دغه برخه کې په نظر کې ونه نیسي. ځکه مخکنیو (قدماوو) دا غرونه، چې مې دمخه بیان کړل، د کسپین د سمندرګي په لویدیځ کې د ققفاز په څوکه پورې نښلول[1] له کشمیر څخه د هندوکش تر لوړې څوکې پورې ټوله لړۍ د همدې څوکې

---

[1] په اریان دریم کتاب اته ویشتم څپرکي کې لاندې عبارت ددغو غرونو هغه اوږدوالی به څرګند کړي، چې نسبت یې یونانیانو دې غره ته کړی دی دغه نسبت په دې ډول یاد شوی. چې کله چې اسکندر د ققفاز د غره لمنې ته راغی چې د جغرافیې ټول پوهان دا ځای د کندهار په ګاونډي کې ګڼي ارسطو بولوس ویلي دي چې د ققفاز غرونه د اسیا د نورو غرونو په شان جګ دي. خو دا غرونه په زیاترو برخو کې په تېره بیا په دې برخه کې لوڅ دي دا لړۍ ډېره زیاته غځېدلې او ویل شوي چې د تاووس څوکه چې پامفیلیا Pomphyha له سیلیسیا Cilicia څخه جلا کوي او همدارنګه نور لوړ غرونه، چې د ققفاز د غرونو له نامه څخه په بېلو بېلو نومونو بېلېږي او دا نومونه د بېلو بېلو ملتونو له خوا. چې د دوی سیمې ورسره څېرمه پرتې دي، اخیستل شوي دي. هم په ققفاز پورې اړه لري ددغو غرونو په باب



Property of ACKU

په نوم (هندوکش) یادیږي.

تر دې وروسته د هرات د طول البلد تر کرښې پورې دا غرونه د آري اوسېدونکیو په منځ کې کوم عمومي نوم نه لري، نو زه باید هغه د پاراپامیزوس[1] په نامه چې اروپایي جغرافیا پوهان یې هم بولي، یاد کړم. خو که څه هم هغه غرونه چې ما بیان کړل، له سویل څخه داسې برېښي چې د هندوستان او کابل ترمنځ طبیعي برید جوړوي، خو موږ به هرومرو لږ څه زیات دشمال خوا ته د غره هغه لړۍ تر کتنې لاندې ونیسو، چې په هغه کې دغه هېوادونه پراته او طبیعي وېش یې پای ته رسوي. دغه راز د دوی د سترو دریابونو ډېرې لرې سرچینې هم په هغو کې موندل کېږي. زموږ ځمکه پوهان نو لږ غرونه د موږ تاغ تر نامه لاندې راولي، چې په شمالي خوا کې د همالیا له وروستۍ شمال ختیځې څنډې څخه پیل او د همدغه غرو شمال خوا ته په موازي توګه پراته دي او د ختیځ طول البلد تر (٦٧) درجو پورې رسېږي. د کابل هیئت د پلټنو په لړ کې ددغو غرونو ددې لړۍ د اندازې لوړه برخه په نښه کړه، چې یوه وړه برخه وه. بریدمن مکارتني دا غرونه له اقسو څخه د لیه یا لداخ له لویدځ نه وراندې تعقیب کړي نه دي. خو پياتې ښودل شوی اوږدوالی یې اټکلي دی، نو له دې لامله سره له دې، چې د شته والي اثبات یې کولی نشم، خو شک کولو ته هم دلیل نه لرم، نو ځکه دا برخه به په همدغه ډول ومنم او د موز تاغ تر نامه لاندې به یې راولم.

سره له دې چې دا غرونه تر هندوکش په یوه جګه ځمکه باندې ولاړ دي، خو بیا هم له ټول څخه یې لوړوالی او یا ښایي د څوکو بشپړوالی یې تر هندوکش ټیټ وي او ددغو غرو اندازې ته به ونه رسېږي. د اندس دریاب د موز تاغ د غره له سویلي برخې څخه سرچینه اخلي او د همدغه نقطې شمالي خوا ته د غره په شمالي لمن کې نورې اوبه راوتلي، چې د چیني ترکستان خوا ته بهیږي.

ددغو غرونو د دواړو خواوو د هېوادونو بریدونه د دریابونو د بهېدو له مخې په نښه شوي دي، خو تر هغې اندازې چې ماته څرګنده ده، د شمالي خوا لمنې په تدریجي توګه لاندې خوا ته ټیټېږي او ناڅاپي انقطاع پکې نه راځي. په داسې حال

زیاتې څرګندونې د همدې لیکوال د پېنځم کتاب په دریم او پېنځم څپرکي کې او یا د پلیني د طبیعي تاریخ د پېنځم کتاب په ۲۷ څپرکي کې موندل کېدای شي

[1] ددې لپاره چې لرغونو لیکوالو ورته دا نوم ښکاره کړی نه دی، خو زه د اسانۍ لپاره دا نوم ورکوم اریان دغې ټولې لړۍ ته دا نوم اخیستل. مګر سترابو ډېر زیات لنډیز ورته ورکړی او یواځې ددغو غرو هغې برخې ته چې له اندس (اباسین) سره نږدې دي، دا نوم ایښودلی دی. داسې معلومېږي چې د واړو لیکوالو پاروپامیزادي ملت هغې سیمې ته منسوب کړي، چې د کابل په ختیځ کې او د کابل دریاب شمالي لوري ته پرته ده ۱۸۳۸.

Property of ACKU

کې چې د موزتاغ[1] سوېل خوا ته یوه جګه هواره ځمکه، چې د هندوکش او د همالیا په وسیله ولاړه ده، لیدل کېږي. له دغې ځمکې وروسته د غرونو سملاسي سرځوړي، د هندوستان د میدانو او یا د کابل د دومنیونو د شمال ختیځ خوا ته پیل کېږي.

د پورتنی جګې سطحې منځنی پلن والی بنایي تر (۲۰۰) میلو ورسېږي، خو لکه چې مخکې مو وویل، د لداخ طول البلد له کرښې نه ختیځ خوا ته معلومات نه لرم. ددغې جګې سطحې په ختیزه برخه کې د تبت پراخه سیمه پرته ده، په داسې حال کې چې لویدیځ خوا ته یې کوچني تبت او کاشغر پراته دي. دا دواړه غرنی سیمې دومره پراخوالی نه لري. ددغه وروستی سیمې شمال لویدیځ لور ته د پامیر جګه میداني سیمه پرته ده. پامیر او کاشغر دواړه د لویدیځ د یو لړ غرونو په واسطه، چې له موزتاغ څخه تر هندوکش پورې غځېږي، چاپېره شوي دي، نو په دې ډول د موزتاغ لاندې سویلي جګه سطحه د لویدیځ له خوا کلکه شوې ده.

سره له دې، چې دا غرونه د لوړوالي له پلوه تر هندوکش ټیټ دي، خو بیا هم د ټول کال په اوږدو کې یې څوکې په واورو پټې وي. په بله وینا ددغو غرونو څوکې له موزتاغ سره تر یوځای کېدو پورې دایمي واورې لري. د ختیځ طول البلد د ۷۱ درجو په شاوخوا کې دا غرونه له هندوکش څخه جلا او تر موزتاغ پورې له ختیځ څخه د شمال په لور غځېږي. موزتاغ یو لړ غرونه دي، چې له شمال څخه د سویل لور ته خواره شوي او ډېر لرې شمالي څنګ یې د هغه سړک په وسیه، چې له قوقان (Kokaun) څخه تر کاشغر پورې ځي، پرې شوي او دا برخه هم د همدغو غرونو د لړۍ دوام څرګندوي. په دغه برخه کې دا غرونه تر مخکنۍ برخې لږ ټیټ او یوازې په سختو فصلونو کې واوره د اوړي په پیل کېدو سره هم په منځ لیدل کېدای شي. له دغه سړک څخه لږ څه د شمال خوا ته جاګزارت (Jaxar Tes) پیل شوی دی. له دې وروسته زما (معلومات) بشپړ پای ته رسېږي. سره له دې چې هغه د سایبیریا او چینی تارتاري ترمنځ برید ټاکي. له بلې خوا دغه وروستی بریدي لړۍ (سرحدي لړۍ) د هغو اوبو وچې ارکتیک (شمالي منجمد بحر) په خوا ځي او هغه، چې د تارتاري په لور بهېږي، بېلوونکې کرښې منځ ته راوړي.

زموږ نقشې هغې سلسلې ته، چې له موزتاغ څخه تر هندوکش پورې غځېږي، د

---

[1] دا نوم او اصطلاح په ترکي کې د یخ غونډۍ څرګندوي او لږ تر لږه ددغو غرونو یوې برخې ته، چې د یارکند او لاک ترمنځ لارې سره نژدې پرته ده، استعمال شوې او په همدغه ځای کې د کنګل په وسیله منځ ته راغلې ده. دذا غر او په تېره بیا یوه ځانګړې څوکه یې چې د نوموړي پورتني سړک تر اړخ پرته ده، په ترکستان کې د قراقرم په نوم یادېږي



Property of ACKU

بیلور تاغ (Belurtagh) نوم ورکړی دی. د بیلورتاغ یا (په وربځو پټ غرونه) د ترکي منحرف او اړول شوې بڼه ده. څرنګه چې زه په کوم بل عام نوم خبر نه یم، چې د ترکستان خلک په هغ ـې یو نوم دا لړۍ یاده کړي، نو له دې لامله به زه دا لړۍ په ځینو لږو حالاتو کې د بیلوت تاغ په نامه یاده کړم.

بیلور تاغ د خپلواک ترکستان او چیني ترکستان ترمنځ بېلوونکې سیاسي کرښه جوړوي. دغه راز دا غرونه ددغو دوو سیمو ترمنځ طبیعي سرحد جوړوي او د هغو اوبو د وېش له لامله یې دواړو ته جلا جلا طبیعي بڼه ورکړې ده. په بله وینا دا غرونه د دواړو سیمو د اوبو بهیرونه له یو بل څخه بېلوي او د دواړه اوبه او سیندونه ترې سرچینه اخلي.

زه د غرونو د هغو لړیو په اړه، چې له بېلور تاغ څخه د ختیځ خوا ته غځېږي، څه نه پوهېږم خو لویدیځ خوا ته ترې څو ښاخونه جلا شوي دي. چې د هغو ترمنځه له پرتو درو سره د قراتګین (Kurrateggeen) شغنان، واخی* او درواز غرنۍ سیمې پرتې دي. هغسې چې هندوکش د بدخشان سویلي خوا نیولې ده، دغه شان پورتنیو لړیو د هغه شمالي خواوې چاپېره کړې دي. ددغو لړیو د اوږدوالي او موقعیت په اړه لږ معلومات لرم، خو یوائې یوه لړۍ یې داسې برېښي، چې لویدیځ لور ته تر سمرقنده پورې نژدې غځېدلې ده. دا غرونه د هندوکش شمال ته غوره لړۍ جوړوي، خو ددغو غرونو ترمنځ دریابونو او سیمو او یا د کسپین سمندرګي او بیلور تاغ ترمنځ ځمکې په اړه یو څو ټکي باید څرګند کړم:

ما د جاګزارت دریاب منبع یو څه وړاندې وښودله، دغه سیند د لویدیځې خوا شمال لوري ته خپله لار ساتلې، چې د یورال په جهیل کې تر تویېدو پورې دغې بڼې ته پایښت (دوام) ورکوي. دغه سیند د لویدیځ شمال لوري ته د یورال په جهیل کې تر تویېدلو پورې خپله مجرا یا تګلوری ساتي.

د آمو سیند د پوشتي خور Pooshteekhur له نږدې سیمې څخه چې د بیلوت تاغ یوه جګه څوکه ده او د بدخشان په ډېرو وړاندې شمالي سیمه کې پرته ده، پیل کېږي.

د طول البلد تر ٦٣ درجو پورې ددغه سیند تګ لاره د لویدیځ خوا ته ده، خو له دغه ځایه وروسته هغه تر یورال جهیل پورې شمال لویدیځ لوری غوره کوي. د جاګزارت د دریاب د منبع د شاوخوا په ځیږه سیمه کې کوچي قرغېزیان استوګنه

* واخې یا واخیان له وخ Wukh څخه د (ان) او (ها) د جمعې نښو په ګډولو سره چې په پای کې ورسره یوځای کېږي، منځ ته راغلی دي مارکوپولو دا سیمه، ووکان Vokan او ابن حوقل وخش Wukhsh بولي (د مارکوپولو مارسدن Marsden او د ابن حوقل اوسیلي Ouseley وګورئ ١٨٣٨



Property of ACKU

کوي، خو لـه هغې برخې نـه چې دا سیند لـه غرو څخه هوارې تـه تنوځي، د ختیځ طول البلد تـر ٦٦ یـا ٦٧ درجـو پـورې دواړه غـاړې یـې د فرغـانې ازبکـي ټولـواکي نیـولي دي. دغې ټولـواکۍ تـه د هغـې د مشر د استوګنځي پـه نامـه خوقند هـم وايـي. د ختیځ طـول البلـد لـه ٦٦ درجـو څخـه لویـدیځ خـوا تـه ددغـه سیند شمالي غـاړې لـومړی قرغیزیـانو او وروسـې قزاقیـانو ډکـې کـړې دي، چـې دا دواړه لرغـوني قبایـل پوونـده ملتونـه ګڼـل کیـږي. د ختیـځ طـول البلـد لـه ٦٦ درجـو څخـه لویـدیځ خـوا تـه سویلي غـاړې یـې یـوه بیـدیا ده، چـې سـویلي لویـدیځ خـوا یـې غـوره کـړې او د خراسـان تـر مـسکوني سیمې پـورې اوږدوالـی لـري. ددغـې بیـدیا پلـن والـی تـوپییر مـومي، خـو د څلوېښت درجو عرض البلد پـه شاوخوا کـې یـې پراخوالی اوهـه ورځـې مـزل تـه رسـیږي.

پـه دغـه ځـای کـې دا بیـدیا بخـارا او اورګـنج (ارګـنګ) Orgunge ازبکـي ټولـواکۍ لـه یـو بـل څخـه جلا کـوي، چـې لـومړی ټولـواکي یـې د کسپین پـه غـاړه کـې پرتـه ده او بلـه یـې د آمـو، بیـدیا او د بیلـور تـاغ د لـومړنۍ سیمې تـرمنځ پرتـه ده. ددغـو ټولواکیـو بڼـه پـه تېـره بیـا د بخـارا ځانګړتیـاوې (مشخصات) د بیدیا پـه څېـر دي، چـې پـه زیـاتو برخـو کـې یـې پـه بېـل بېـل پراخوالي سره څرېـې واحـې خـورې شـوي دي. د بېلـور تـاغ لویـدیځ او د امـو شمال خـوا تـه ټولـه سیمه د ترکستان پـه نامـه یـادېږي. دا نومونـه د بیلـور تـاغ تـر ختیځـه پـورې خـواره شـوي او لـه دې لاملـه، چـې د وګـړیـو ژبـه ترکـي ده، نـو ځکـه ورتـه دا نـوم یـادوي، خـو څـه وخـت چې ماتـه ددې سیمې د وېش پـه اړه وخت پیـدا شـو، نـو زه بـه دا برخـه چینـي ترکـستان وبـولم او هغـه بـل ترکـستان بـه پخپلـه ترکستان یاد کړم. پـه دغو سیمو کې تارتاري نوم څوک نـه پېژني.

د آمـو او پاراپـامیزوس غرونـو تـرمنځ سیمه سره لـه دې، چـې د کابـل ټولـواکۍ یـو ولایـت دی، بایـد لـه ترکـستان سره ګـډه شـي (ځکـه د هغـې اوسېدونکي زیـاتره ازبکـان دي) ددې سیمې پـه ختیـځ کـې بدخشان پـروت دی او لـږ شمېر وګـړي لرونکې سیمې، چـې د شبرغان پـه لویـدیزه څنـډه کـې ورسره ګـډېږي، پـه خراسـان کـې شامله ده. ددغې سیمې لـوړوالی او لمنې د آمـو خـوا تـه ټیټېږي. کـه څـه هـم دا سیمه وړه ده، خـو زیـات شمېر واړه شـهزاده نـشین دولتونـه پکـې پراتـه دي. لـه بلـې خـوا دا برخـه پـه غـرو، هـوارې، جبې او بیـدیا سره بېلېـدلای شي. زمـوږ جغرافیـې پوهـان دا ټولـه برخـه ددغـه ځـای د نـامتو ښـار (بلـخ) پـه نامـه یـادوي. دا نـوم دومـره سـم نـه برېښـي، خـو تـر* هغـې انـدازې، چې زه پـوهېږم بـل یـو داسې عمومي نـوم ددغـې سیمې لپـاره نـشته او زه بـه

* دا به غوره وای، چې دغې سیمې ته د باکتریا نوم استعمال شوی وای، سره له دې چې د باختر نوم هم له دغې کلمې څخه پاتې دی بیا هم اوس یواځې په کتابونو کې استعمالېږي، نور یادول یې له منځه تللي دي.



Property of ACKU

ښايي دغې سيمې ته دا نوم په پرله پسې توگه ياد کړم، چې په دې ډول به زما څېړنه د شمالي هندوکش په اړه پای ته ورسېږي.

د هندوکش او هماليا (جنوب سره جوخت لگېدلې سيمې داسې غرو پټې کړې دي، چې د همدغو سترو غرونو په پرتله ټيټ او له هغو سره غبرگ غځېدلي دي، په دې ډول په هغو سيمو کې چې دا لړۍ پرتې دي، ډېرې غرنۍ او ځيني ښې ځرگندوي. په دغو غرنيو سيمو کې آسام، بوتان، نيپال، کامان (Kamaoon) او سرينيگر (Sireenuggar) منځ ته راغلي دي. په هغه ځای کې چې دا ستر غرونه (هندوکش او هماليا) لويديزې خوا ته گرځي، ټيټ غرونه ورڅخه لرې دي. د کشمير لوړه ناوه له دې لاملـه د دواړو ترمنځ پرته سيمه جوړوي. د کشمير سويل لويديځ خوا ته داسې غرنۍ سيمه پرته ده، چې د پنجاب شمالي برخې يې نيولي (احاطه) کړې او ددغې ورروستۍ برخې اوبه له همدغو غرنيو سيمو څخه راوځي. د پنجاب له پينځو سيندونو څخه چې اوبه پکې بهېږي، د هايداسپس سيند په يوازينۍ توگه له کشمير څخه تېر شوی او د شمالي خوا له ډېرو لرو غرونو څخه سرچينه اخلي. د کشمير لاندې غرنۍ سيمه ده، چې هلته د هندي نسل بېلابېل راجاگان استوگنې لري. د پنجاب ميدانونه او هوارې سيمې له يوې ورې برخې پرته په سکانو پورې اړه لري. د پنجاب له سويل څخه شگلنې دښتې پيل او د کچ خليج د سرحد پورې پراخوالی مومي.

دغه بيديا، چې له ختيځ څخه لويديځ ته شلو ورو ميله پراخه پرته ده، په زياترو برخو کې له وگړيو څخه خالي برېښي او په ځينو برخو کې يوازې تيت و پرک کلي او د کرنې ځمکې لري. که ددغې سترې بيديا ټوله برخه شگلنې غونډۍ ونه گڼو، نو بيا هم زياته برخه يې له دغه ډول غونډيو او خاورينو کلکو ميدانونو څخه جوړه شوې ده. دغه ميدانونه وچ او بې گټې گڼل کېدای شي. دغې بيديا شمالي څنډې، چې د آسيسين غاړې جوړوي، په برابره توگه ځرېې او حاصل خېزه دي.

ختيزه خوا يې د هند له ښو کرنيزو ځمکو سره گډېږي، په داسې حال کې چې سويلي خوا يې له سمندر څخه د کچ د سيمې په وسيله بېله شوې ده. لويديځې برخې به يې د اباسين د څېړلو پر مهال وڅېړم. د اباسين سيند هند او هغه سيمې سره بېلوي، چې زه به يې وروسته وکڅم.

اباسين (اندس) د هندوکش له غرو* سرچينه اخلي، چې دا ځای د عرض البلد د

* دا چې هندوکش د سند يا اندس (اباسين) سيند لپاره سرچينه جوړوي، دا به سمه نه وي، بلکې دا سيند د هماليا له سويلي لمنو څخه راوتلی دی.



Property of ACKU

پېنځه دېرشو (۳۵) درجو او طول البلد له ۷۳ درجو له ټکي سره برابر دی. دا سیند لومړی د سویل لور ته ځي او بیا یې د سویل لویدیز خوا غوره کړې ده، بالاخره په سمندر کې تویږي. د اندس سیند (اباسین) د هندوستان او کابل ترمنځ طبیعي سرحد جوړ کړی دی.

خو سره له دې هم په حقیقت کې دا ټول دریاب د کابل ټولواکۍ په ولایاتو کې بهېږي او ټول په کابل ټولواکۍ پورې اړه لري. اندس تر کله باغ او یا د عرض البلد تر ۳۳ درجو او اوو ثانیو پورې په غرنیو برخو کې بهېږي، خو له دغې نقطې څخه د عرض البلد تر ۲۹ درجو پورې دا دریاب یو حاصل خیز میدان، چې کرنه پکې دومره زیاته نه ده، په دوو برخو وېشي. ددغه ځاریه میدان ختیځ ته بیدیا او لویدیځ ته یې د سلیمان غرونه پراته دي، چېرته چې د شمالي عرض البلد د ۲۹ درجو په شاوخوا کې د سلیمان غرونه پای ته رسېدلي دي. په دغه ځای کې د اندس میدانونه د لویدیځ خوا ته غځېدلي او نوي پولې یې منځ ته راوړې دي. دلته د شمال خوا ته یې یو لړ غونډۍ، چې له ختیځ څخه د لویدیځ په لور اوږدوالی لري، پرتې دي. دغو غونډیو د سلیمان غرو له ښي خوا څخه پراختیا موندلې ده. د میدانونو لویدیځ خوا ته د کلات جګه سطحه، سویل ته یې سمندر او ختیځ ته یې اندوس پروت دی. د میدانونو دا برخه د سند په ایالت کې ګډېږي (د سند ایالت د عرض البلد له ۳۱ درجو څخه پیل او تر سمندر پورې رسېدلی دی او د سند دواړه غاړې یې نیولي دي.) ددغه میدانونو لویدیځه برخه یوه جغرافیایي سیمه جوړوي، چې د اکبر په زمانه کې یې ورته سیویستان (Seeweestan) نوم ورکاوه.

اوس دا ځای په ښه توګه د کچي (Cutchee) او یا (Catch Gandawa) کچ ګنداوا په نامه پېژندل کېدای شي، خو څنګه چې دا دواړه نومونه سړي په شک او خطا کې غورځوي، نو زه به ددغه ځای لرغوني نوم ته غاړه کېږدم. دغه میدان ټیټ او هوا یې توده ده، په ډېرو ځایو کې حاصل خیزې ځمکې لري، خو په ځینو ځایونو کې د اوبو له پلوه خوار دي. د سلیمان غرونه* د بیلور تاغ د وروستۍ سویلي څوکې له نږدې څخه، چې له هندوکش سره ګډېږي، پیل شوي دي او د هندوکش د غرونو له سویلي څانګو سره نښتي برېښي. ددغو غرونو عمومي لوری د سویل خوا ته دی او په همدې لوري باندې د عرض البلد تر ۲۹ درجو پورې دوام لري.

Property of ACKU

* اري اوسېدونکي ددغو غرونو لپاره عام نوم نه لري او تقریباً هېڅ یو نوم یې داسې نشته، چې په هر ځای کې ورسره خلک بلدتیا ولري. کوهې سلیمان یا د سلیمان غرونه یواځې په کتابونو کې ورته ذکر کېږي، سره له دې هم دا نومونه ددغو غرونو د لویدیځو برخو غونډیو د څرګندولو لپاره په هغو (کتابونو) کې یاد شوي دي.

د سلیمان له غرونو څخه ختیځ خوا ته درې لړۍ غځېدلي دي، چې له هغو څخه دوه یې له اندس څخه اوړي. ددغو لړیو موقعیت د عرض البلد د (۳۴) او ۳۲ درجو ترمنځ شمېرل کېدای شي.

د سلیمان غرو د پای ته رسېدو له نقطې یانې د عرض البلد له ۲۹ درجو څخه یو لړ غونډۍ د لوېدیځ لور ته خورې شوي دي، چې د کلات تر لوړې سطحې پورې دوام مومي.

د کلات لوړه سطحه خورا زیات لوړوالی لري او د ۶۴ او ۶۷ درجو ختیځ طول البلد او ۲۶ درجو، ۳۳ ثانیو او دېرشو درجو، پېنځلس دقیقو (۲۵) ثانیو شمالي عرض البلد د کرښو ترمنځ ساحه یې پټه کړې ده. دا سطحه د جالوان (Jallawaan) او سهروان (Sehraweun) ولایات، د کلات ناحیه چې د سیستان په ګډون د کابل سلطنت (ټولواکي) پورې مربوط ولایت بلوچستان دومنیونونه جوړوي، منځ ته راوړي. د بلوچستان زیاتره اوسېدونکي بلوڅان ګڼل کېږي. د کلات لوړه سطحه هرې خوا ته غرنۍ او شنډه ده. ددغې جګې سیمې جیګه برخه د شمال خوا ته د کلات نوم شهزاده نشین پایتخت سره پرته ده. په همدې جیګوالي سره یې یوه وړه برخه له سیستان سره هم لیدل کېږي، چې د جیګې سیمې د تل او سمندر ترمنځ پرته ده. ددغې جیګې سطحې په سویل لوېدیځه خوا کې یو لړ غونډۍ او میدانونه دي، چې د مکران سیمه پکې شاملېږي او د شمالي عرض البلد ۲۶ او ۲۸ درجو ترمنځ پراختیا مومي. د مکران شمال ته د مالګې بېدیا پرته ده، چې د هغې وروستۍ ختیځه څنډه د جګې سطحې د لوېدیځ دېوال لاندې ځای غوره کوي. ددغې بېدیا شمال ختیځه څنډه ښایي په کمزوري ګومان سره د ختیځ طول البلد د ۶۴ او ۶۵ درجو کرښو ترمنځ وګڼو، چې په دې ډول د شمالي عرض البلد تر ۳۰ درجو پورې ورسېږي. له دغه عرض البلد وروسته دا به ګرانه وي، چې د هغې پولې وټاکل شي. دغه دښته د سیستان له کوچنۍ سیمې سره لګېدلې ده او تر هراته پورې نږدې د پښتنو د اوسېدلو له سیمې سره هم پوله لري، چې له هغه ځایه بیا د استوګنې وړ سیمه پیل کېږي او د یوې نرۍ وچې په څېر له دغې دښتې څخه تر جاګزارت پورې پراختیا مومي. دا سیمه په ځینو برخو کې غونډۍ لرونکې او په ځینو نورو برخو کې شګلنه او وچه ده، نو له دې لامله په ډېر مشکل سره داسې ویل کېدای شي، چې دا سیمه دښتې سره جلا کوي.

ښايي د بېدیا څنډې به تر دې وروسته داسې وبرېښي، چې ورته د بېدیا بڼه ورکول او ښودل به دومره غوره نه وي. په ځینو ځایونو کې دا بېدیا د مېشت شویو سیمو وخوا ته د رومې، له بلې خوا د هلمند سیند غاړې، چې د سیستان د جهیل په



Property of ACKU

لور له بیدیا څخه تېرېږي، ډېرې ځړېږي او د کرنې وړ دي.

زه اوس کولای شم، چې د افغانانو د هېواد پېچلي حدود وکاږم. شمال خوا ته یې د هندوکش او پارپامیزاد غرونه پراته دي[1]. د اندس سیند ددغه هېواد ختیځه پوله د خپل بهیر په اوږدو کې جوړه کړې او تر هغه ځایه، چې دا سیند غونډیو (هغه غونډۍ چې پاس یادې شوې او د کلات سیمه جوړوي. ژباړن) ته نږدې کېږي، افغاني سرحد هم ورسره دوام لري. په بله وینا دا پوله د سیند په اوږدو کې د سویل خوا ته د عرض البلد د ۳۲ درجو او ۲۰ ثانیو پورې اوږدوالی مومي. د اندس سین په ښۍ غاړه میداني سیمه کې د (۳۲) درجو او ۲۰ ثانیو عرض البلد لاندې سویل خوا ته د بلوچستان برخه ده، چې بلوڅ پکې مېشت شوي دي. سره له دې هم د سلیمان غرونه د فرعي څانگو په گډون له هغو سیمو سره جوخت ددغو غرونو په لمنه کې پراته دي، په افغانانو پورې اړه لري. هغه غونډۍ چې مخکې یادې شوي او د سیستان پوله ټاکي، د افغانانو د هېواد سویلي سرحدي کرښې جوړوي. ددغو غرونو په شمال کې پرتې افغاني سیمې په لومړي سر کې د سملاسي لویدیځ لور ته دومره پراختیا نه لري، چې د کلات تر جیگې سطحې پورې ورسېږي.

خو لږ څه پاس د شمال خوا ته افغاني سیمه له دغې جگې سطحې څخه لویدیځ خوا ته اوښتې، چې بیدیا ته رسېږي او دغه دښته د هغې شمال لویدیځه سرحدي کرښه جوړوي. دا به گرانه وي، چې ددغې غیر منظمې سرحدي کرښې په باب پوره معلومات وړاندې شي، خو یواځې دومره امکان لري، چې ددغو سرحدي کرښو په عمومي څېړنه کې د هغو ترمنځ د پرتو سیمو په اړه یو څه مفکوره لاس ته راوړل شي. دا سیمې د جگوالي، اقلیم، خاورې او حاصلاتو له پلوه یوه تریلې ډېرې جلا او توپیر مومي. زه به اوس دا هڅه ونه کړم، چې دا سیمې په جلا توگه وڅېړم، خو دومره باید ووایم، چې د سلیمان غرو لویدیځ خوا ته د افغانستان خاوره تر گاونډیو سیمو جگه پرته ده. هندوکش، چې د هغه شمالي دفاعي سنگر دی، د بلخ له ټیټو او پرتو سیمو څخه ډېر جگ او دغه هواره ځمکه ورته لاندې معلومېږي. دغه راز د ختیځ خوا ته هم د اندس سیمه په هماغه اندازه ورته ډېره ټیټه ده او د هغه ختیځې غاړې وړاندې جگې درېدلي دي. سویل خوا ته دا هېواد د سیستان تر سیمې جگ پروت دی، په داسې حال کې چې د بولان ژوره ناوه په سویل لویدیځ کې د هغه او د بلوچستان ترمنځ غځېدلې ده. ددغه هېواد لمنې ورو ورو د لویدیځ لور ته له بیدیا سره یوځای کېږي. مخکې تر دې، چې دغه خاوره په شمال لویدیځ کې د

[1] داسې ښکاري چې د افغانانو د هېواد د حدودو په اړه د لیکوال معلومات پوره دقیق نه دي، لکه چې پخپله هم ددغې موضوع پېچلتوب ته اشاره کوي. (ژباړن)

Property of ACKU

پاروپامیزاد غرو ته ورسېږي، غرنۍ بڼه له لاسه ورکوي. د کلات جګه سطحه هم ښايي د دغې برخې، چې ما پورته بيان کړه، يوه برخه وي خو دا هواره سيمه چې د بيديا لور ته غځېدلې ده، د بولان درې په ګډون چې بېلوونکې کرښه ده، له پاسنۍ ځمکې څخه ګوښې شمېرل به يې سم وي. افغانان د خپل هېواد لپاره يو عمومي نوم نه لري، خو د افغانستان نوم چې ښايي د لومړي ځل لپاره په پارس کې استعمال شوې وي[1]، يوازې په کتابونو کې ښکارېږي او د دغه ځای اوسېدونکي ورسره ناآشنا نه دي، نو ځکه زه به په راتلونکيو بحثونو کې دا نوم او د هغه سرحدونه اوس وښودلای شم. د ٦٨ درجو او ۳۰ ثانيو طول البلد لويديځ ته پراخه سيمه، چې د مقر په استقامت برابره پرته ده، د هغې سيمې برخه ده، چې د خراسان د نامتو ايالت په نامه هم يادېږي. د خراسان پاتې برخه، چې (حدود يې د آمو سيند او هغه بيديا چې دا سيند پکې بهېږي، د سالت بيديا او کسپين ترمنځ ټاکل کېږي) په پارس پورې اړه لري. کرمان، چې يو وخت په خراسان کې و، د سيستان په شان اوس هم غالباً پکې راتلای شي.

***

Property of ACKU

[1] د الفنسټن په وخت کې د ټولو هغو خاورو لپاره، چې د پښتنو پاچايانو تر واکمنۍ لاندې وې، د خراسان، افغانستان، پښتونخوا، اووه نومونه کارېدل او يو ځانګړی نوم چې د ټولو دغو سيمو لپاره، چې د عامو خلکو له خوا په متفق ډول منل شوی وي، نه استعمالېده (ژباړن)

## دویم څپرکی

# د افغانستان غرونه

Property of ACKU

یو څه مخکې مې د هندوکش د سترو غرونو عمومي لوری او پروتوالی وښود. دغه راز ددغو غرونو لاندې (سویل خوا ته) ټیټ غرونه مې د ختیځ په لور تر اندس یا اباسین پورې څرګند کړل. زه به اوس د افغانستان د هغې ځانګړې برخې سپړنې ته دوام ورکړم، چې شمالي لوري یې احاطه کړې دی.

له اندس څخه دطول البلد تر ۷۱ درجو پورې دا غرونه (هندوکش.ژباړن) لویدیځ پلو ته امتداد لري، خو له دغې نقطې څخه وروسته د هغو لوري ته څرګندېږي. که یو سړی دغو غرونو ته له سویل څخه وګوري، نو د هغو څوکې به داسې ورته وبرېښي، چې ګونډې دده لور ته یې په زیاته اندازه کوږوالی موندلی، خو زموږ معلومات په دغه برخه کې شکمن دي، چې ایا په رښتیا دغسې کوږوالی لري او که دغه اصلي غرونه د لویدیځ لور ته خیله لاره او سمت ساتي او یوائې کوم ښاخ د سویل خوا ته تر ېې بیلېږي یا دا ستر غرونه په دغه برخه کې د بیلور تاغ غرونو په وسیله پرې شوي دي او په هغه ځای کې، چې بیلور تاغ له دغو غرونو سره نښلي، نو مخامخ خوا یې یو څه کوږوالی مومي.

له اندس څخه تر دغه کوږوالي پورې ددې غرونو په اړه پوره معلومات لرم او دا غرونه مې له پېښور څخه څو میاشتې په پرله پسې ډول لیدلي دي.

د غرونو ددغې برخې څرګندونه به ددغې سترې لړۍ د وروستۍ برخې لپاره یوه مفکوره برابره کړي. د ۱۸۰۹ کال د فبرورۍ د میاشتې په ۴۲ نېټه د پېښور هوارې او میداني سیمې ته په داخلېدو سره شمال خوا ته د غرو څلور جلا جلا لړۍ لیدل کېدلې، ډېرې ټیټې لړۍ یې واورې نه درلودې. د دویمې لړۍ پر څوکو واورې پرتې وې، دغه راز د درېیمې لړۍ تر نیمایي پورې واورې راښکته شوې وې.

څلورمه لړۍ د هندي ققفاز اصلي غرونه ډي، چې مخ یې په دایمي واورو او کنګل پټ شوی او د باکتریا او د هند له سرحدونو څخه په څرګنده توګه لیدل کېدای

شي. دغه شان د تارتاري له ډېرو لېرو سيمو څخه برېښي. دا غرونه مو د لومړي ځل لپاره له سل ميلې واټن څخه وليدل، خو که غونډۍ زموږ د تګ په لاره کې نه وای، نو کېدای شول چې له ډېر ليرې واټن څخه هم دا لړۍ وورينو[1]. له بلې خوا دا بايد ووايم، چې په ښکاره خو دا غرونه ډېر نږدې برېښېدل ان د دوی موړې او ګوګونه په څرګنده توګه برېښېدل، دغه ډول څرګندېدنه چې د روڼ والي او چڼ والي سره له لرې واټن څخه سترګو ته راتله، ډېره په زړه پورې او څرګنده اغېزه يې کوله. دغه واورې لرونکې لړۍ د لوړوالي له پلوه په ټولو برخو کې يو شان نه دي. په ځينو يو کې يې په ډېر جګوالي او پراخوالي سره څوکې ختلې دي، د غرونو دا برخې او څوکې داسې نري نه دي، چې په يوه نقطه باندې پای ته ورسېږي، بلکې د غرونو له تل څخه په ښېښوونکي غټوالي او برجسته توګه هسکې وتلې دي.

ددغو غرونو ښېښوونکي جګوالی، د هغو د لوړو څوکو برم او توپيرونه، هغه بېل بېل ملتونه چې دا غرونه ويني او همدا شی د دوی يو ځای کولو وسيله برېښي، لنډه دا چې ورونکې پرله پسې ځانګړتيا او ګوښی توب، چې ددې ځای په دايمي واورينو برخو کې واکمني لري، ټول هغه څېزونه دي، چې ذهن د ښېښتيا او تحسين خوا ته بيايي او په هيڅ ژبه سره يې دغه ټولې ځانګړتياوې بيانېدلای نه شي. ددغو څوکو په لړ کې د يوې لوړوالي د بريدمن مکارتني له خوا اندازه شوی و او داسې ښکارېده، چې ۲۰۴۹۳ فوټه به وي. که دا کچه سمه وي، نو د هندوکش د څوکو لوړوالی د اندس (Andes) تر غرونو زيات دی. هغه اندازه، چې بريدمن ويب (Webb) د ((اسيايي پلټنې)) په يوولسم ټوک کې ښودلې، دا څرګندوي چې د هماليا تر غرونو د هندوکش جګوالی لا هم زيات برېښي. د هندوکش لوړوالی بې له شکه ډېر زيات وي، ځکه چې د جون په مياشت کې هم موږ دغې لړۍ په کومه برخه کې د واورې لږوالی ونه ليد، په داسې حال کې چې په دغه وخت کې تر ماميتر د پېښور د ناوې تودوخه د فارنهايټ ۱۱۳ درجې ښودله.

د هندوکش د فرعي لړيو لوړوالی له اصلي سلسلې څخه د هغو د واټن د لرېوالي په پرتله لږېږي يانې هر څومره چې له اصلي لړۍ څخه يې فاصله لېرې وي، په هماغه اندازه يې جګوالی کمېږي. د هندوکش د اصلي لړۍ ډېرې جګې برخې لوڅې او له نباتاتو څخه خالي دي، خو لمنې او د فرعي لړيو ټولې برخې يې په ونو پټې دي، سره له دې چې له هوارې سيمې نه يواځې درې لړۍ بېلې بېلې ښکاري، خو که له نږدې ورته وکتل شي او يا دا چې مخکې له دې، چې د واورو موږو ته ورسېږو،

[1] د اماس (Imaus) يا هماليا غرونه مې د ۱۵۰ ميلې واټن څخه وليدل، خو زه باور لرم چې له ۲۵۰ ميلې واټن څخه هم ليدل کېدای شي

Property of ACKU

ښايي چې له ډېرو نورو لړيو څخه هم تېر شو. د لومړی او دويمې لړۍ ترمنځ يوه هواره ميداني سيمه ده او ښايي چې ډېرې لوړې لړۍ هم د تنګو او زياتو لوړو درو په واسطه يو له بل څخه جلا شوې وي. دا سيمه تر هغه ځايه پورتنۍ لړۍ سره بېلوي، خو د زياتېدونکي زېږوالي او ناهوارۍ له لامله په څرګند ډول نه ښکاري او د لړيو ترمنځ توپير د زياتو غرونو د ښکارېدلو له لامله له منځه ځي.

د اصلي لړۍ له موړې څخه درې څانګې جلا شوي او ښې اړخ ته تر ټيټو غرونو پورې غځېدلي دي. لومړی ښاخ له اندس سره نږدې دی او د تور بيلې (Torbaila) په مخامخ نقطه کې پای ته رسيږي. بله څانګه يې ډېره پراخه او جګه ده، چې د ايلم Ailam په نامه يادېږي. دا ښاخ له لومړي څخه د بونير د ناوې په وسيله جلا شوی دی. درېيم ښاخ له ايلم څخه د سوات د ناوې په وسيله بېل شوی دی. د پنجکوړې ناوه له شمال لوېديځ څخه د سوات ناوې ته ورګډېږي. دغه وروستۍ لړۍ تر نورو دواړو ښاخو ډېره پراخه ده او د سويل خوا ته دومره اوږده غځېدلې، چې د سپين غره له تل سره چې د سليمان غر وروستۍ شمالي برخه ده، لګېدلې ده.

د هندوکش ددې فرعي لړۍ جګوالی لږ دی، خو ډېره زېږه ستوغه او ګړنګ وزمه شمېرل کېدای شي. دغه غرونه د نښترو او ځنغوزو په ونو پټ او د اتمانخېلو قبيله پکې مېشت شوې ده. ددغه ښاخ او سويلي غاښي ترمنځ د باجوړ ټيټ او تود اوار ميدان پروت دی.

له يوې څرګندونې څخه داسې انګېرل کېدای شي، چې دا ټيټې غونډۍ او غرونه د سوات په برخې پورې تړلي دي. په دغه سيمه کې د غرونو دپاسه څلور مياشتې واوره د کال په اوږدو کې پرته وي. د غونډيو او غرو سرونه لړې ونې لري، خو لمنې يې د نښترو، څېړيو او ځنګلي ښووانو (زيتون) په ونو پټې دي. ددغو غرنيو برخو په ښکتنۍ برخه کې ډېرې زياتې ښکلې وړې درې شته، چې پاکې او رڼې اوبه پکې بهېږي او ډېره په زړه پورې هوا لري. ددغو ناوو په غاړو پرېمانه مېوې او ګلان شته، چې په وحشي توګه د زياتو ډولونو او بشپړې ودې سره لويېږي. په دغو غرونو او غونډيو کې ډېر زيات ښکلي سرخس (هغه پاسته بوټي چې تخم او ګلان نه لري او بند بند ډنډر لري) او يا همدغه بوټي ته ورته نباتات ليدل کېږي، نور پاسته بوټي په تېره بيا په ډبرو باندې د ښاپسته خزو (Mosses) پرېمانه مرغې ددغې سيمې طبيعي ښکلا زياتوي. د اصلي او سترې درې په منځ کې د سوات سيند بهېږي او د دغې ناوې سمسور او کمسوره ميدان اوبه کوي، چې په کال کې ترې دوه واره حاصلات لاس ته راځي. په دغه ميداني حاصل خېزه سيمه کې ډول ډول غلې دانې کېږي. د کېنول شوو مېوه دارو ونو په څنګ کې بې شمېره د توتانو او

Property of ACKU

چنارو (Plane) ونې هم ليدل کېداى شي. د بونير غونډۍ او غرونه هم د سوات غرنيو برخو ته ورته دي. دلته يو زيات شمېر کوچنۍ درې سره يوځاى شوي او يوه ستره ناوه يې جوړه کړې ده. په دغه لويه ناوه کې د بورنډو (Burrundoo) وياله د سويل ختيځ خوا ته بهېږي. د بونير ناوې نرۍ او د سوات د درو په څېر زياتې اويه نه لري، نو له همدې لامله دومره زياتې سمسورې او حاصل خېزې ګټې کېداى نه شي.

زه اوس هغه جوت کوږوالي ته راځم، چې د هندوکش له سويل څخه ليدل کېږي او د لويديځ خوا ته له باجوړ نه پاس او جګ پروت دی. دغه کوږوالى د هندوکش د ډېرو نږدې برخو او شاخو په ګډون د نورستاني خلکو د استوګنې ځاى ګڼل کېږي. دا خلک ډېر عجيبه او په زړه پورې وګړي دي. د دوی سيمې ته ختل د سختو ګرنګو، ژورو او نريو ګوګونو له لارې په وېره، ترهه تر سره کېداى شي، چې ډېر ځله له غره څخه د ډبرو د رغړېدو په وسيله زيانونه ورسېږي. د ډبرو رغړېدل د باران، باد، وزو او وحشي حيواناتو له لامله چې د ګرنګونو د پاسه ځري، صورت نيسي. نورستانيانو په يوه په زړه پورې سمسوره نقطه کې، چې سور يې کم او نرۍ ده، استوګنه غوره کړې او په زياته اندازه انګور توليدوي. دغه ځاى زياتره برخې د واورې په ذريعه پټې شوي دي. د نورستانيانو سيمه د هندوکش ددغه کوږوالي لويديځه زاويه نيسي او لا هم لويديځ خوا ته د غرونو موږې (ژۍ) يې تر پاراپاميزوس (پاروپاميزاد) غرو پورې نيولي دي.

هغه غرنۍ سيمه، چې د هندوکش د سويلي څېرمه (فرعي) ټيټو غرونو څخه جوړېږي، ډېره نرۍ او زېږه ده. په تېره بيا دا حالت د سويلي کوږوالي په نقطه کې ډېر څرګند ليدل کېږي او هم دغه ځاى دی، چې واورې لروتکي غرونه سملاسي د جلال اباد ټيټې سيمې ته راکښته شوي دي. کله چې د هندوکش اصلي لړۍ د کوږوالي وروسته بيا خپل لويديځ پلو غوره کوي، نو ورسره جوخت څېرمه غرونه خپل پراخوالى او نښې د هغو په ټل کې څرګندوي. ورپسې دا غرونه د کوهستان يا د کابل جګه سيمه او غرنۍ برخه جوړوي، چې پکې زيات سيندونه بهېږي. دا سيمه تر سوات هم ډېره زياته په زړه پورې ګڼل کېداى شي.

ددغو درو طبيعي بڼه په دغه ځاى کې تر هغو بڼه څرګندېداى نشي، چې زه هغه سيمه او برخه چې دا ټول سيندونه ورته راوتلي، څرګند نه کړم. دا د کابل سيند ناوه ده، چې د هندوکش سويلي کوږوالى د سليمان له غرونو څخه جلا کوي. دا ناوه د يو لړ پرلپسې موږو او غونډيو له غوځېدلو څخه منځ ته راغلې ده. د دوی ترمنځ پراخوالى اوس په ځينو ځايونو کې ۳۵ ميلو ته رسېږي.

دا دره ختيځې خوا ته د غونډيو په واسطه احاطه شوې ده، چې پرله پسې له

یوې لړۍ غرونو څخه د بلې خوا ته دوام لري. سره له دې هم که د غونډیو له ډېرې ټیټې ارتفاع څخه وکتل شي، نو کېدای نه شي چې د غرونو د لړیو دوام له هغو څخه وړینو. ددغو غونډیو لویدیځ خوا ته د جلال اباد هوار میدان پروت دی. له دغه ځای څخه د لویدیځ لور ته سیمه وروو غرنۍ بڼه غوره کوي، چې که څه هم گندمک دسویلي سیمو او یا د سلیمان د غرونو او غونډیو په مقایسه په هواره برخه کې پروت دی، خو د جلال اباد په پرتله په غره کې پروت ښکاري. د کابل سیند د پورته یادې شوې سیمې په منځ کې بهېږي لکه چې وړاندې مې هم وویل، په دغه برخه کې د کابل لسیند ټول مرستیالان او ناوې خپلې اوبه اصلي سیند ته تویوي. ددغو سیندونو په لړ کې لومړی د کونړ ناوه ده، چې د باجوړ لویدیځ خوا ته پرته او په هغه کې د تاشقار سیند خپلې اوبه د کابل سیند ته رسوي. د کونړ د لاندینۍ برخې هوا ډېره توده ده، په داسې حال کې چې پاسنۍ برخه یې په یو لړ تنگو درو کې پای ته رسېږي.

ددغو تنگو درو له لړ څخه زیاته یې شمال لویدیځ خوا ته یانې د کونډ غره (Coond) واورینو څوکو خوا ته کږې شوي دي. په کونړ کې یو ډول خلک مېشت دي، چې د دیگان په نامه یادېږي او زه به یې وروسته وڅېړم.

له کونړ څخه شل میله د لویدیځ خوا ته د مندرور (Mundroor) په برخه کې د الینگار سیند د کابل له سیند سره گډېږي. د الینگار سیند داسې یوه ناوه جوړوي، چې په پاسنۍ برخه کې دوه نورې درې داسې ورسره نښلي، چې د (۷) عدد بڼه غوره کوي. ختیځه دره یې د الینگار او لویدیځه یې د الیشنگ په نوم یادېږي. دواړه درې د شلو میلو په اوږدوالي د غرونو په منځ کې پرتې دي. دغه درې د جلال اباد (د الفنستن مقصد د تنگرهار پاسنۍ برخه ده. ژباړن) میداني سیمې په گډون د لغمان سیمه منځ ته راوړي. الینگار یوه پراخه ناوه ده، چې غلځي پکې مېشت دي. ددغې درې پاسنۍ برخه د کونډ (Coond) خوا ته کېږي. دلته هر ډول غلې لاس ته راځي. ددغې درې په ښۍ او کیڼه خوا کې ډېرې تنگې ناوې راوتلې، چې ځینې یې یواځې د نریو څوکو په واسطه د کونړ له ناوو څخه جلا کېږي. الیشنگ یوه نرۍ ناوه ده، چې په اوږدو کې یې تنگې (فرعي) درې لږې لیدل کېږي. دا اناوه د مسلمان شوو نورستانیانو د استوگنې ځای گڼل کېدای شي. په بله وینا دلته هغه نورستانیان اوسېږي، چې خپلې پخوانۍ عقیدې یې له لاسه ورکړې دي.

د اوزبین (Daozbeen) کوچنۍ دره، چې غلځي پکې مېشت دي، د لغمان لویدیځ ته پرته ده، چې وریسې د تگاو د درې خوله د کابل سیند ته په هغه برخه کې وتلې، چې د پنجشیر سیند د کابل له سیند سره یوځای کېږي. د تگاو دره له

Property of ACKU

دغو یادو شویو درو څخه اوږده ګڼل کېدای شي، چې په لاندیني برخه کې یې ساپي اوسېږي (ساپي د افغاني قبیلو په لړ کې یو جلا او خپلواکه قوم دی، چې زه به ښايي وروسته وخت ولرم، چې یاد یې کړم) خو پاسنۍ برخه نرۍ او دومره زیاته حاصل خېزه نه ده. په هغو ځایونو کې زیاتره کوهستاني تاجک ژوند کوي.

ددغو درو خولې په هماغه تناسب، چې لویدیځې خوا ته دي، لوړې دي په تېره بیا د اوزبین او تګاو درو خولې په ډېره ښه اندازه تر نورو لوړې برېښي او د کابل اقلیم لري. له دې لامله کله کله دا درې د کابل په کوهستان کې[1] حسابېږي[2]. په داسې حال کې، چې په سمه او زښتیانۍ توګه د کابل د کوهستان په سیمه کې یوازې د پنجشیر، نجراب او غوربند درو خولې د فرعي درو په ګډون راځي. د څېرمه (فرعي) درو په لړ کې ډېرې غوره یې سنجن (د نجراب او پنجشیر ترمنځ) او دورنامه، صالح او اولنګ او د پنجشیر او غوربند ترمنځ ګڼل کېږي. تر کوهستان لاندې د سویل خوا ته د کوهدامن سمسور میدان د هندوکش د لمنو په منځ کې پروت دی.

د پاروپامیزین لړۍ، چې د کوهستان لویدیځې برخې څخه چاپېره شوي، له ختیځ نه تر لویدیځ پورې د ۳۵۰ میلو په اوږدوالي او له شمال څخه تر سویل پورې د ۲۰۰ میلو په سور خوره شوې ده. په دغه ټوله ساحه کې داسې حېرانوونکي غرونه پراته دي، چې ډېر خاص_ څرګند او غوره معلومات هم نه شي کولای، چې هغوی سم څرګند کړي او سره له دې، چې دا ځای د ایماقو او هزاره وو د استوګنې سیمه ده، خو تګ او راتګ ورته ګران دی. په دې اړه کره جغرافیایي معلومات لاس ته راتلای نه شي.

په دې برخه کې به دا څرګنده شي، چې دلته د هندوکش لړۍ هغومره لوړې نه دي، چې د هغو غرونو ترمنځه، چې چاپېر ترې پراته دي، اوچت ښکاره شي او د دايمي واورو لیکې پکې ولیدل شي. ددغو غرونو ختیځه نیمايي سیمه هزاره وو نیولې ده، دا برخه ډېره سړه، زیږه او بربنډه برېښي، چې هوارې نقطې یې لږ څه کرل کېږي. د غونډیو لمنې یې ډېرې ریونده او له بوټو څخه لغړې دي. د غرونو په لویدیځه نیماي برخه کې ایماق مېشت دي، سره له دې چې دا برخه یې څه پراخه ناوې لري او په ښه ډول کرل کېږي، خو بیا هم تراوسه پورې دا سیمه خواره او وحشي برېښي. ددغو غرونو شمالي برخه نېغ په نېغه د بلخ د ولایت د هوارو دښتو خوا ته تیتېږي،

[1] د تاجک نوم ټولو هغو افغانانو ته، چې په فارسي ګړېږي او اړه ژبه یې دري وي، ورکړل شوی دی ښايي د کابل کوهستان څخه به یې د کابل غرونه مقصد وي، نه دا چې د کوهستان سیمه وښیي ژباړن

[2] د اوزبین او تګاو درې د ختیځ لوري له درو سره پرتله شوي دي ژباړن



Property of ACKU

چې ددغې خوا پېچومی (مخ په لوړه ډډه) له سویلي پېچومي څخه زیات دی، یوائې په لویدیځ او سویل لویدیځ کې برعکس احتمال زیات لري[1]. په شمال لویدیځه خوا کې دا غرونه ورو ورو د بیدیا په څنډو کې په میدانونو کې ورک کېږي.

ددغې ټولې سیمې د غرونو ډډې د لویدیځ خوا ته کېږي دي. د سلیمان غرونه د سفید کوه یا سپینو غرو تر نامه لاندې جګو غرو څخه پیل کېږي. د سفید کوه یا سپین غر نوم له دې لامله پرې اېښودل شوی دی، چې دا غرونه تل په سپینو واورو پټ دي[2]. سپین غر د هندوکش د وتلې برخې په جنوب کې ولاړ دی او له هغه غره څخه یوائې د کابل د سیند د وادي (ناوې) په واسطه پیل شوی دی. له دغې درې څخه د سپین غر غرونه په ریونده توګه پورته شوي او په دغه برخه کې رغږېدونکي پېچومي لري. دا غرونه د اتمانخېلو د غونډیو او نورو فرعي لړیو په واسطه له هندوکش سره لګېدلي، چې د کابل د سیند له ېتوې خوا نه بلې خوا ته غځېدلي دي او په ځینو ځایونو کې د اوبو د تېزوالي سبب ګرځېدلی او ځروبې یې جوړ کړي دي. ددغې اړیکې له لامله د سلیمان غرونه هندوکش او ان کېدای شي چې د بیلوت تاغ د لړۍ دوام یې وبولو، خو سره له دې هم دا به ډېره ښه وي، چې د سلیمان غرونه په جلا توګه یوه لړۍ وګڼل شي. له سفید کوه وروسته د سلیمان غرونو ډېرې جګې موړې د سویلي برخې سویل ختیځې خوا ته ځي او د هریوب (اصل یې آریوب دی. ژباړن) سره نږدې د ځائیو له سیمې څخه تېرېږي. ددغه ځای په سویلي دوولس میلۍ کې د کرمې سیند دا غرونه پرېکړي او خپله لار یې پکې ایستلې ده. وروسته بیا دا غرونه د سویل خوا ته وړاندې تللي او د ځدرانو غرنۍ سیمه جوړوي، چې دلته له ۳۳ درجو شمالي عرض البلد څخه جنوب خوا ته اوښتې دي. له دې ځای څخه وړاندې ددغې لړۍ موقعیت او د موړو لار شګلنه کېږي. د ځدرانو له سیمې نه مخ په وړاندې د هغو تګ لار او ان دوام د زیاتو پوښتنو وړ دی، خو لکه چې دا یقیني ده هغه جګې غونډۍ او غرونه، چې له کانې ګرام څخه تر ارګون پورې مسافرین په دوو ورځو کې ترې اوړي، په یو کلک ګومان سره هماغه لړۍ ده. داسې هم انګېرل کېږي،

[1] د الفنسټن تحلیل په دغه برخه کې سم نه دی، ځکه د هندوکش شمالي پېچومی له سویلي څخه لږ دی او یا په بله وینا د شمالي خوا لمنې په تدریجي توګه د بلخ خوا ته ټیټېږي، نه دا چې په سملاسي او نېغ په نېغه ډول ژباړن

[2] افغانانو د سفید کوه په نامه غرونه، سپین غر غرونه بولي، چې لومړی نوم پارسي او دویم یې پښتو دی، چې هماغه مانا ورکوي دا باید ووایم، چې ما د خبرو اترو په وخت کې له افغانانو سره د پارسي ژبې عبارت او کلمې کارولې، په داسې حال کې چې دوی به هرومرو پښتو کلمې کارولې



Property of ACKU

چې لې د سویل خوا ته وړاندې د ګومل د کیڼې غاړې غرونه هم ددغې لړۍ دوام دی. دا هم باوري ده، چې له ځدراڼو څخه تر ګومل پورې یوه غرنۍ سیمه ده، چې د نښترو ځنګلونو پرې سیوري کړی او د وزیرو غرنیو خلکو لپاره پناګاه شمېرل کېږي. له ګومل وروسته د سلیمان د غرو موقعیت او لار بیا ښکاره شوې او د شیراونیو او زمریو په سیمه کې دوام لري. دلته د عرض البلد ۲۹ درجو ته رسېږي او داسې ښکاري، چې پای ته رسېدلې ده. سره له دې چې د سلیمان د غرونو لوړوالی تر هندوکش ډېر لږ دی، خو بیا هم د یادونې وړ دی. د سلیمان د غرو ډېره جګه برخه په حقیقت کې د هغو د پیل کېدو په ځای کې لیدل کېږي. سپین غر د کال په اوږدو کې په واورو پټ وي، خو ددغو غرونو نورې برخې د پسرلي تر پای ته رسېدو وروسته واوره نه لري* (مقصد یې د سلیمان غرونه دي.ژباړن) سره له دې هم ددغې لړۍ هغه ځایونه، چې د سویل خوا ته د شمالي عرض البلد د ۳۱ درجو سره پراته دي، د ژمي په اوږدو کې واوره لري، چې په داسې ټیټ عرض البلد کې د ذکر وړ لوړوالي یو ثبوت دی.

د سلیمان د غرونو هغه برخه، چې وزیریکې مېشت دي، ښایي له شاوخوا سیمو څخه د هماغو سیمو په اندازه لوړه وي، چې په ځدراڼو پورې اړه لري، خو ښځېړ لوړوالی یې لږ دی، ځکه چې ددغو غرو لمنې د سویل خوا ته ډېرې ټیټې شوي دي. د وزیرو د سیمې په سویلي برخه کې دا غرونه د ګومل سیند په وسیله پرې شوي او په دغه ځای کې یې جګوالی په دواړو سیمو کې لږ دی، خو د شیراونیو په سیمه کې یو ځل بیا لوړ شوي او د کسي جګ غر یې جوړ کړی دی. ددغه غره جګه څوکه د سلیمان تخت په نامه یادېږي. دغه جګه څوکه چې د سلیمان د لړۍ هسکه نقطه ده، د کال په اوږدو کې درې میاشتې په واورو پټه وي او په شاوخوا غرونو کې تر دوو میاشتو پورې پایښت مومي. د زمریانو سیمه په یقیني توګه د کسي غره د زیاترو برخو په شان هسکه ده، خو زه له دغې نقطې څخه د سویل خا ته د غره نور جګوالي په هکله قضاوت نه شم کولای او داسې وسایل نشته، چې د هغو له مخې ددغې سویلي سیمې ځانګړتیاوو او جګوالي په برخه کې ترې استفاده وکړم.

د افغانستان له سویلي برید کرښې څخه د شمال په لور د ګومل تر سیند پورې د سلیمان له غرونه تر هغو ټوټو ځمکو پورې، چې د اندس (اباسین) په ښۍ غاړه کې پرتې دي، ځوړوالی او ټیټېدنې یې ډېرې زیاتې او سملاسي دي. په بله غاړه کې یې که څه هم سر ځوړي همداسې برېښي، خو بیا هم هغومره د پاملرنې وړ نه ده. د سلیمان د غرونو د لویدیځ خوا برخه تر ختیځې برخې ډېره جګه ده.

* له دغې څرګندونې څخه داسې څرګندېږي. چې الفنسټون د سفید کوه یا سپین غر غرونه د سلیمان د لړۍ برخه ګڼي ژباړن



Property of ACKU

د گومل د سیند شمال خوا ته د سلیمان د غرونو د لویدیځ او ختیځ په دواړو خواوو کې یو لړ تیت و پرک ټیټ غرونه او غونډۍ خورې شوي دي، خو تر هغه ځایه چې زه تصور کوم، د ختیځې خوا مخ په ځوړې ټېټېدل کټ مټ د لویدیځې خوا د ټیټېدلو غونډې ورو ورو او په تدریجي ډول دي. په لویدیځه خوا کې میداني او پرته سیمه هسکه شوې، چې د غونډیو له لمنو سره ددغې برخې د نورو زیاترو ځایونو په څېر، چې د سویل خوا ته پراته دي، یوځای کېږي.

د سلیمان د غرونو په ختیځه برخه کې دوه نورې کوچنۍ لړۍ هم شته، چې د سلیمان د لړۍ په ختیځه برخه کې د افغانستان له جنوبي سرحدونو څخه پیل او لږ تر لږه دروغزي تر عرض البلد (۳۲ درجې او ۲۰ دقیقې) پورې غځېدلي دي.

د فرعي سلسلو په لړ کې لومړۍ یې تر آرو غرونو یو څه ټیټه ده، دویمه لړۍ یې تر لومړۍ فرعي لړۍ لا پسې ټیټه شوې او ددغې او لومړۍ فرعي لړۍ ترمنځ ځمکه زما په تصور زیږه ده، خو د شیراونیو قبیلې خلک پکې کښت کوي.

دغه ټولې لړۍ د هغو وادي گانو په واسطه دوه ځایه شوې، چې د لویدیځې خوا له لوړو برخو څخه غځېدلې او د دامان خوا ته ویالې ترې بهېږي، خو نورې ویالې له اصلي لړیو څخه پیل کېږي او په هغو وادي گانو کې بهېږي، چې کوزنۍ لړۍ یې دوه برخې او نیمایي کړې دي.

سلیماني لړۍ داسې ښودل شوې ده، چې له کلکو تورو ډبرو څخه جوړ شوې دي. بله لړۍ یې په برابر کلک والي له سرو تیږو څخه منځته راغلې ده، خو ډېره ټیټه لړۍ یې له ماتېدونکیو خړو شگلنو ډبرو (سینډ ستون) څخه جوړه شوې ده. ددغو ټولو غرونو سرونه بربنډ دي، خو د جگې لړۍ لمنې او ډډې په گڼو ځنگلونو په تېره بیا په نښترو پټې دي او نورې یې د زیتونو په ځنگلونو باندې پټې دي. د ډېرې ټیټې لړۍ زیاتره برخې لوڅې دي، یوازې په ځینو گوگونو کې یې گڼ ځنگلي بوټي او ونې څرگندېدای شي. زه به اوس ځینې هغه ورې غونډۍ وڅېړم، چې له هغې سترې لړۍ څخه چې اوس وڅېړل شوه، د ختیځ او لویدیځ په لور خورې شوي دي. لومړۍ یې د سویل خوا څخه راوړاندې شوې او داسې یوه سلسله ده، چې د راغزي (Rughzee) شمال خوا ته معلومېږي او پونیالي ته (Punialee) ته غځېدلې ده.

دغه ښاخ ریونده، ځېږ او بربنډ دی او له یوه ځای څخه پرته، چې هلته غر نیمایي شوی په نورو برخو کې په لږه اندازه د ټېږېدو وړ برېښي. د غونډیو دا څانگه د ۹۰۰ فوټو په جگوالي د یوه سخت گرنگ له اړخ سره، چې د پونیالي کلي ته مخامخ پروت دی، پای ته رسېږي. ددغه لړۍ ټول اوږدوالی له شپېتو میلو څخه اوړي، خو سره له دې هم د یادونې وړ دی، ځکه چې دا برخه د اندس او د هغې غرنۍ



Property of ACKU

سیمې، چې اوس به یې ذکر کړم، بیډ او سرحد جوړوي. بله لړۍ چې ښایي د مالګې د غره په نامه به یادېږي، د سپین غر له سویل ختیځې برخې څخه راوتلې او سویل ختیځ لوري ته غځېدلې او د تېرې Teeree[1] له سویل څخه تر ګله باغ پورې دوام مومي. دلته دا غرونه او غونډۍ له اندس څخه اوړي او د پنجاب په ځینو برخو کې یې پراختیا غوره کړې ده. دا لړۍ د هایداسپیس په ښۍ غاړه د جلال پور په برخه کې پای ته رسېږي. په هغه اندازه، چې دا غرونه د سلیمان له آرې لړۍ څخه لرې کېږي، په هماغه اندازه یې جګوالی لږوالی مومي. دا لړۍ له وروستۍ لړۍ څخه پراخه او جګه ده او په زیاته اندازه مالګه لري، چې د هغې په بېلو بېلو برخو کې په ځانګړې لار تر ړې راښستل کېږي. ددغو غرونو په ختیځه خوا کې د مالګې یوه نسواري ډوله تیږه ده، چې د هندوستان خوا ته وړل کېږي. دا ډول مالګه د لاهورۍ مالګې په نامه یادېږي. شمالي خوا ته درېیمه لړۍ د سفید کوه له ختیځ څخه په مستقیمه توګه د اندس خوا ته غځېدلې شوې ده، که څه هم له دغه سیند څخه اوړي، خو تر شاه یې دومره زیاته د ختیځ لوري ته نه تېرېږي. څرنګه چې دا لړۍ د خپل تګلوري په اوږدو کې د عرض البلد د ۳۳ او ۳۴ درجو ترمنځ موقعیت لري، نو زه ورته د شمالي عرض البلد ۳۴ درجو لړۍ نوم ورکولای شم. دغه لړۍ تر نورو یادو شویو لړیو ډېره جګه ده او سره له دې، چې درې یې پراخه دي، خو بیا هم ورڅخه تېرېدل ګران برېښي. دغه راز دا لړۍ د نورو لړیو په شان کله چې د ختیځ خوا ته ځي، نو لږوالی یې پرله پسې لږ کېږي، خو ختیځ خوا ته تر کوهاټ پورې ددغې لړۍ په څوکو باندې د پسرلي په زیاتو وختو کې هم واورې لیدل کېدای شي او ان په هغو برخو کې چې د اندس په لوري دي، هم د ژمي په فصل کې لږه اندازه واوره ورېږي. ددغې لړۍ جګې برخې د نښترونې او ټیټې لمنې یې د زیتون (ښوان) ونې لري.

د شمالي عرض البلد د ۳۴ درجو د لړۍ او د مالګې د لړۍ ترمنځ یو لړ میدانونه او ناوې شته، چې د خټکو او بنګښو په قوم پورې اړه لري. دغه میدانونه او ناوې د اندس خوا ته ښکته شوي او مخ په ځوړې ځي، خو یو لړ غونډۍ دا ډاګونه له اندس څخه جلا کوي. دغه غونډۍ له شمال څخه د سویل خوا ته اوږدوالی مومي. ددغې برخې په شمالي برخه کې د مالګې غرو او پونیالې ترمنځ د دوړو، بنو، شیتکو (Shutuk) او عیسی خېلو درې د سلیمان له غرو څخه د اندس خوا ته لکه د زینو غونډې ښکته کېږي. د همدې برخې په سویل کې د مروتو غونډۍ او ناوې د لارګي (Largee) د دښتې او وچې درې په ګډون پرتې دي، دغه وروسته ناوه له اندس څخه د یو لړ غونډیو په وسیله، چې د ډېرش میله اوږدوالی لري، جلا کېږي.

[1] په نقشه کې دا لړۍ د تیرا د غره په نامه یاده شوې ده. ۱۸۳۸



Property of ACKU

له دغو دریو لړیو څخه هغه ټیټې لړۍ تېرېږي، چې له شمال څخه جنوب ته غځېدلي دي، چې دوه لړۍ یې د هماغو لړیو دوام ګڼل کېدای شي، چې مخکې یادې شوې، چې د سلیمان غرونو سره موازي ځي. د دوړو سیمه له بنو، بنو له عیسی خېلو او لارګۍ له مروتو څخه جلا کوي، چې پخپله له دوی نه هم بېلا بېلې لړۍ داسې تېرې شوي دي، چې د غونډیو د شبکې غونډې د کښت او کر له میدانونو نه تاو شوي وي، ښکاري. دریو لویو ځانګو ترمنځه هیڅ یو واټن داسې وادي ګاڼې ګڼل کېدلی نه شي، چې سم په سمه او بې له غوڅ شوو برخو وي. د فرعي غرو په څنګ کې، چې د دوی له ښي ګوټ څخه تېرېږي، دا درې د اصلي لړۍ (د سلیمان غرونه) څخه د راوتلیو برخو په واسطه په ځانګړي ډول لویدیځې خوا ته ځیرې کېږي او لوړې ژورې پیدا کوي. د دغو راوتلیو ځیرتیاوو په لړ کې هیڅ یوه یې دومره زیاته د یادونې وړ نه برېښي ان که د دوی په اړه بشپړې څرګندونې (معلومات) او مفکورې هم ترلاسه شوې وای بیا هم یادونې یې ضرور نه دي. څرنګه چې د مالګو لړۍ د څلور دېرش درجو لړۍ د هغه ټیټې لړۍ، چې د کابل په وادي کې غځېدلي دي، ټولې د سپین غر له ختیځې خوا څخه راوتلي او وار په وار له هغه غره څخه کېږي. نو د جلا کېدو په دغه برخه کې هم یوه غرنۍ سیمه منځ ته راغلې، چې د څلورو قبیلو استوګنځي جوړوي او دا څلور واړه د خیبریانو تر عمومي نوم لاندې راځي.

هغه لړۍ چې د سلیمان له غرو څخه لویدیځ لور ته خپرې دي، د هغه سلسلو په پرتله، چې مې مخکې یادې کړې. یو څه ګرانې او ځیال یې اسانه، نه دي.

زه به داسې اټکل وړاندې کړم، چې زما خیال معلومات راته لارښوونه کوي، ښایي دا اټکل سم نه وي خو امکان لري، چې بشپړ حقیقت ته نږدې وي، چې په داسې حالت کې به د دغې سیمې د جوړښت د بیانولو په برخه کې مرسته وکړي.

هغه ځمکه، چې د کابل د سیند د ناوې، د غزني عرض البلد، د کابل طول البلد او سلیمان غرونو ترمنځ پرته ده، ډېره غرنۍ سیمه ګڼل کېږي، چې پکې ځینې سترې درې هم لیدل کېدای شي. زه نشم کولای د دغې غرنۍ سیمې د غرو ځانګې ښکاره کړم، خو ښایي د غرو له آري لړۍ سره یو شمېر نورې په دغه سیمه کې موازي خورې شوي وي، بیا هم په باوري توګه هغه غرونه، چې د کابل او غزني ترمنځ له سړک سره نږدې پراته دي، د یوې نرۍ ناوې په وسیله د پاروپامزین له غرونو څخه جلا شوي دي. د دغو غرونو اوبه لویدیځ لور ته د هغه ناوې په خوا بهېږي، چې مو یوه شېبه وړاندې یاده کړه.

د څیرمه (فرعي) غرونو لومړۍ لړۍ، چې ما ته ډېره معلومه ده، د سلیمان آر غرونه د سرفضې (اصل یې سروضه دی) په ختیځ او یا شمال خیځ کې شاته پرېږدي

Property of ACKU

او د نوموړي سیمې له شمالي برخې څخه اوري. دا لړی د گومل دریاب د لویدیځې غاړې په اوږدو کې د سویل خوا ته خوره شوې ده. دغه سلسله د ممی (Mummye) له لویدیځ اړخ څخه تېره شوې او دواړه سیمې له کتواز څخه جلا کوي. له دغې سیمې وروسته ددغې لړۍ دوام مغشوش کېږي، خو یوه لړی غرونه چې په همدغه سمت او کرښه باندې دوام لري او د سویل خوا ته لیدل کېږي، ښایي د همدغې لړۍ امتداد ثرگند کړي.

د پورتنۍ لړۍ سویل خوا ته درې نورې څېرمه (فرعي) لړۍ د سلیمان د آرو غرونو په لویدیځ کې شته، چې یادونه یې دومره زیاته د ارزښت وړ نه برېښي. له دغو لړیو څخه یوه یې سرفضه له ارگون څخه جلا کوي، بله یې دوانه له شمال څخه تېرېږي. په دغو لړیو کې هیڅ یوه یې له گومل څخه نور هم د لویدیځ لور ته غځېدلې نه ده.

زه د هغو غونډیو په اړه، چې د سلیمان له غرونو څخه د گومل سیند په سویل کې خورې شوي دي، خاص معلومات نه لرم ان د هغو غونډیو په اړه، چې د افغانستان په لویدیځه خوا کې پرتې دي، تر دې نوموړیو لړیو هم لږ اطلاعات په لاس کې لرم. یو لړ غونډۍ چې د کلات د جگې سطحې په وروستۍ شمالي څنډه کې پیل شوي دي، داسې به برېښي، چې د شمال ختیځ خوا ته د غلزیو د سیمې تر برید پورې پراخه شوي دي. بله وینا د شمالي عرض البلد کرښې تر ۳۲ درجو پورې رسېږي. دا غونډۍ لومړی د شورابک او پښین سیمې له یو بل څخه جلا کوي او د خپل دوام په دغه برخه کې د سپین تیږې په نامه یادېږي. وروسته د کوژک او خواجه عمران په نامه د پښین شمالي پوله جوړوي او بیا د توبه نوم اخلي او په همدې نامه سیمې له منځ څخه تېرې شوي دي. ددغو غونډیو دغه شمالي برخه د گل ناری په نامه غابنی دی، چې د ارغسان د ناوې په ختیځ کې پروت دی او د ترکانې له غرو څخه دومره زیات لیرې نه دی.

زه به ښایي دغه ټوله لړی، چې مو پورته یاده کړه، د خواجه عمران تر نامه لاندې یاده کړم، ځکه دا نوم د یو عمومي نوم په توگه غوره گڼل کېږي. د غونډیو او غرونو دا لړی ډېره پراختیا او پلن والی لري، خو جیگوالی او سرځوړي یې لږ دی. واوره یوازې د لنډ وخت لپاره د سپین تیږې Speen Taizheh په برخه کې لیدل کېږي، خو د شمال ختیځ خوا ته د واورې اورېدل په کال کې تر درېو میاشتو پورې وي.

یوه بله لړی داسې ښکاري، چې له لوړې سطحې څخه په هغه برخه کې جلا شوې، چې همدا اوس مې یاده کړه. دا لړی د ختیځ خوا ته خورې شوي او د پښین سویلي



Property of ACKU

پوله یې جوړه کړې ده. دغه راز دا لړۍ پښین له شال (کوټې) څخه جلا کوي. ددغې لړۍ هغه برخه، چې د جګې سطحې سره نږدې ده، د ماسایلوغ په نامه یادیږي او په مرکزي برخه کې د تاکاتو په نامه یادیږي. څرنګه چې دا ددغې لړۍ په منځنۍ برخه کې جګ ځای دی، ښايي له دې لامله د تاګاتو نوم په ټوله سلسله باندې ایښودل شوی وي. له هغه ځایه، چې دا لړۍ د جګې سطحې څخه جلا کیږي، په یواځینۍ توګه ټول اوږد والی یې زه پنځوس میله د ختیځ خوا ته تعقیبولای شم، خو له بلې خوا دا هم باید ووایم، چې دا لړۍ له یوې بلې سلسلې سره یوځای شوې او وروسته د کاکړو له سیمې څخه اوړي، چې په دې توګه اوږدوالی یې له هغې اندازې څخه، چې ما یاد کړ، په زیات ډول د یادونې وړ وي. دا لړۍ ډېره ځیږه، ریونده او تر شاوخوا غونډیو جګه برېښي، ځکه په دغه لړۍ کې د نورو شاوخوا لړیو په پرتله واوره تر ډېر وخت پورې پاتې کیږي مومي.

د کلات د جګې سطحې څخه بله لړۍ د خار لیکې په نوم له کلات څخه د شمالي عرض البلد د ۳۰ درجو سره نږدې پیل شوې او د ختیځ لور ته د ختیځ طول البلد د کرښې تر ٦٧ درجو پورې غځیدلې ده. دا لړۍ د بیدو له Bedowle جګ میدان د سیستان ټیټې او تودې سیمې څخه جلا کوي.

د غونډیو یوه لړۍ د وروستۍ یادې شوې سیمې د پاسه د شمالي عرض البلد د ۲۹ درجو کرښې سره جګه شوې، چې د افغانستان سویلي پوله جوړوي. د ختیځ طول ابلد ٦٨ درجو وروسته یوه ساحه د سلیمان تر غرو پورې، چې د شمالي عرض البلد د ۲۹ درجو ترمنځ پرته ده، زیات شمېر غرونه او غونډۍ لري، چې زیاتره یې په هغو لړیو کې دي، چې له ختیځ څخه لویدیځ ته ځي او دا ساحه یې ډکه کړې ده. دا سیمه په ډېرو غاړو کې په تېره بیا په ختیځ خوا کې زیات شمېر میدانونه او ډاګونه لري. ددغې سیمې په لویدیځه برخه کې تر ټولې نورې سیمې زیات شمېر جګ غرونه او لړۍ دي، چې شمال او سویل خوا ته غځیدلي او پورتنۍ یادې شوې څېرمه (فرعي) لړۍ له یو بل سره نښلوي. ددغو لړیو شتون ددغه حقیقت له مخې ښه څرګندیږي، چې سیوناداغ Seona Daugh او توبه Toba له ژوب څخه د داسې لړۍ غرونو په وسیله جلا شوي دي، چې اوږدوالی یې د لورا Lora سیند تر سرچینې پانې توبې پورې رسیږي، لا هم د سویل خوا ته په هماغه خوا د کند Kund په نوم یو جګ غر دی، چې شمال څخه د سویل خوا ته اوږد پروت دی. له دغه غره سره ورته د غرونو نورې موړې هم په همدې سمت خورې شوې، چې د چیري Chirry (د کند په سویل کې) او توپر Tsupper (د چیري په سویل کې) په برخو کې سره نښلي. دغه راز یوه جګه سلسله د شال او ډوډر Dauder ترمنځ د سړک په کینه غاړه خپره شوې

Property of ACKU

او د پورته یادې شوې سیمې (چیري او کند) تر برید پورې په رښتیني توګه د افغانستان ددغې برخې د اوبو جریانونه وېشي. هغه ویالې، چې په دغو لړیو کې راوځي ځینې یې د لویدیځ او ځینې نورې یې د ختیځ خوا ته بهېږي. یوائې دوه لړۍ غرونه له یادولو څخه دلته پاتې دي، چې یوه یې له پاراپامیزین (پاروپامیزاد) سره نږدې د قره باغ په سویل کې پیل د ترنک سیند د کیڼې غاړې سره موازي د ختیځ طول البلد د کرښې تر ٦٧ درجو پورې خوره شوې ده. بله لړۍ د لومړۍ لړۍ له پای څخه پیل او د ختیځ خوا ته دوام لري. دغه لړۍ لویدیځ لور ته د سور غر او ختیځ خوا ته د تور کاڼي په نامه یادېږي. ددغو وروستیو دوو لړیو غرونو په یادولو سره زه فکر کوم، چې د افغانستان غوره غرونه ټول بشپړ یاد شول.

* * *

Property of ACKU

# دريیم څپرکی

## د افغانستان سيندونه

افغانستان د خپلې پراختيا برابر د يوه هېواد په پرتله ډېر لږ شمېر لوی سيندونه لري. له اندس څخه پرته په ټول هېواد کې داسې کوم بل سيند نشته، چې د کال په زياته موده کې د پورې وتلو امکان ونه لري. ددې سيندونو ډېر لوی شمېر ډېر ګرندی بهير لري او سره له دې، چې اکثر وختونه دا سيندونه په توندۍ راښکته کېږي، خو ډېر ژر وچېږي. ددغو سيندونو اهميت هم په دې لامل، چې اوبه يې د اوبو لګولو له لامله د مقصد لپاره پرله پسې جلا کېږي، کم شوی دی ځکه د دوی اوبه د اوبو لګولو له لامله ډېر ځله له بل سيند سره تر ګډېدو پورې رسېدلای نه شي او تشېږي. په افغانستان کې د ټولو سيندونو په اړه دا ليدل کېدلی شي، چې د هغو په خوله کې اوبه د سرچينې سره يوشان نه وي يانې د سيند د اوبو اندازه، چې له غره څخه راوځي د اوبو اندازه وار په وار زياتېږي. د سيند د اوبو اندازه چې د ځمکو د خړوبولو لپاره برابرېږي او هغه ختډونه، چې دا سيندونه د مسافرانو د تګ په لار کې اچوي، يواځيني عوامل دي، چې دا سيندونه مهم ګرځوي او د هغو اهميت جوتوي. د اندس سيند په يواځينۍ توګه په هر وخت کې د بېړۍ چلولو لپاره ور دی، خو سره له دې هم له هغه څخه په دغه برخه کې دومره ګټه نه اخيستل کېږي.

د اندس سيند د اوږدوالي او د اوبو د هغې اندازې له پلوه، چې سمندر ته يې رسوي، بايد د نړۍ د لومړي مقام له سيندونو څخه وګڼل شي. ددغه سيند اوږدوالی له سرچينې څخه تر سيند پورې ټول په رښتينې توګه معلوم نه دی، خو تر (۳۵۰) ميله نښه شوي دي او داسې دلايل هم شته، چې اټکل وکړو چې اوږدوالی يې له دې څخه ډېر زيات دی. د اندس سيند مرستيالان هم پخپله د اروپا له سترو سيندونو

Property of ACKU

څخه په اوږدوالي کې کم نه دي[1]. ددغه ستر سیند (اندس) سرچینه تراوسه پورې په رښتیاني توګه نه ده ټاکل شوې. د اندس سیند د سرچینې پاسنی بهیر (جریان) یوازې د تبت د یوه واړه کلي یاني دراس (Draus) سره نږدې اړخ کې په تښه کېدای شي. دغه ځای دویم بریدمن مکارتني د ۷۶ درجو او ۴۸ دقیقو طول البلد او ۳۵ درجو او ۵۵ دقیقو عرض البلد کرښو سره برابر ښودلی دی. په دغه نقطه کې سین له شمال ختیځ لوري څخه ښکاره کېږي، خو له دغه ځای څخه پورته جریان یې نه دی پېژندل شوی. په دغه برخه کې د دراس د پاسه د اندس آر بهیر (اصلي جریان) سره یوه کوچنۍ ناوه ګډېږي، چې د تبت د روداک Rodauk له سیمې څخه د دوه سوه پنځوس میلو په واټن ټاکل کېدای شي. د اندس سیند د کوچني تبت له پلازمېنې (پایتخت) لداخ Ladaukh سره نږدې تېرېږي، له دغه ځای وروسته د لداخ په نامه نومول شوی دی. له دغه ښار سره نږدې له اندس سره یو وړوکی سیند له شمال لویدیځ لوري څخه ګډېږي، چې د ښاغلي مکارتني په ګومان دا مرستیال سیند د سري قل Surickol له جهیل څخه راوتلی دی. دغه راز ماته د فرغانې یوه ازبک د سیند د سرچینې په اړه وویل، چې د موزتاغ Mootaugh د کنګلو له یوې برخې څخه یو سیند راوځي، دا ددغه سیند بهنګ (جریان) دلداخ تر ښار پورې ماه وسپړه، خو د لویدیځ خوا د کوم یوه بل غوره مرستیال او یا شاخې ګډېدل یې څرګند نه کړل. دده له څرګندونو دا جوتېږي، چې د اندس سیند سرچینه د کنګلو هماغه برخې ګڼل کېږي، خو زه فکر نشم کولای چې دده څرګندونې له دویم بریدمن مکارتني سره پتله شي، خو بیا هم د داسې یومخې او کره چن تکي په اړه څرګندونه بې ګټې ده.

ښاغلی مکارتني په دې خبره ډېر خواشیني و، چې هغه د سند سیند د سرچینې د پیدا کولو توان ونه موند، خو که موږ د هغو سیمو، چې دا سیند افغانستان ته له ننوتلو څخه مخکې پکې بهېږي، د لارو ورانوالي ته پام وکړو، دده د هغه بری په اړه چې د سیند د تګلوري د معلوملو په چارو کې ور په برخه شوې، د سیند د ډېرې لرې سرچینې په پیدا کولو کې دده د ناتوانۍ په نسبت به زموږ د اریانۍ لپاره ډېر

[1] که د اوبو ژوروالی او د سیند د اوبو دایمي شتوالی په پام کې ونه نیسو، نو د هایداسپس_هایدراوتس Hydraotes او هایسودروس سیندونه د اوږدوالي له پلوه تر رون Rhone سیند وړاندې دي د هیپاسیس Hypasis اوږدوالی د اب Ebe له سیند څخه څلوېښت میله زیات ښودل شوی یا دا چې هیایس تر راین یواځې میله لنډ دی ان د کاشکار Kashkaur سیند تر پوه Po اتیا میله اوږد دی د اباسین، کورمې، ګومل او سوات سیندونه له ټایمز سیند څخه په اوږدوالي کې کم نه دي، په داسې حال کې چې دا سیندونه د اناس سیند ډېر واړه مرستیالان ګڼل کېدای شي



Property of ACKU

دلایل وي.

د مکارتني کشف او څرګندونه، چې دلاداک سیند په اړه یې وکړه، د زیاتې پاملرنې او دلچسپۍ وړ ګڼل کېږي. دده د معلوماتو یو شان والی د ۱۸۰۸ کال له هفسي پلټنې سره، چې بریدمن وب Webbe د سند سیند په اړه ترسره کړه، دا ښکاره کوي چې دا دواړه ښاغلي په خپله څرګند تیا او پوهه کې پیاوړي او د بشپړ واک خاوندان دي.

پخوا داسې فکر کېده، چې دلاداک سیند د ګنګاه د سیند له غوره ښاخو څخه یو ښاخ دی او دا نظریه د یوه ستر واکمن او د پوهې خاوند میجر راینل Major Rennel له خوا تایي شوه، خو دغه تکړه او یوه جغرافیه دان هم پخپله دغه نظریه کې د لاماس Lamas او پې. تیفنتالر P.Tiefentaller اشتباهات تکرار کړي او په دغه نتیجه کې یې ځان قانع کړی دی. کپتان رابر او ښاغلي وب دواړه ددې مقصد د ترسره کولو لپاره ولېږل شول، چې د ګنګاه سرچینه معلومه کړي. دوی دواړو دا کار ترسره کړ او د ګنګاه سیند سرچینه یې پیدا کړه. ددغه سیند سرچینه د هغې پخوانۍ ښودل شوې سرچینې په خلاف، د همالیا د سویل ختیځې خوا ته کښته پرته ده*. په بله وینا ددغو دوو ښاغلیو د پلټنې په نتیجه کې دا ښکاره شوه، چې د ګنګا سیند سرچینه د لاداک سیند نه دی، بلکې له هغې څخه ډېره ټیټه د همالیا سویل ختیځه ډډه کې موقعیت لري. اوس نو دا ثابته شوه، چې د لاداک سیند په ګنګاه کې نه تویېږي او تر هغه وخته پورې، چې ښاغلي مکارتني په دغه اړه څېړنه کړې نه وه، ددغه سیند د بهېدلو او تویېدلو لار معلومه نه وه، خو کله چې مکارتني خپله پلټنه بشپړه کړه، نو یې وښودل چې دا سیند د اندس سیند ته په سرچینه کې د راوس ته نږدې ګډېږي[1]. له دراوس څخه وروسته د اندس سیند خپله ګوښې مجرا په یوه غرنۍ سیمه کې تعقیبوي. په دغه ځېږه او لېرې سیمه کې د مساپرینو تګ او راتګ ډېر لږ دی. ښاغلی مکارتني ته دا خبرتیا، چې ده پرې استناد هم کړی وو په برخه وه، چې له دراوس څخه کښته له اندس سیند څخه یوه شاخه جلا شوې او اوبه یې د کشمیر په لور بهېږي. دغه ښاخ د کشمیر له منځ څخه تېر شوی او د هایداسپس اصلي سیند یې منځ ته راوړي. سره له دې، چې د سیندونو دا ډول بېلوالی په هوارو هېوادو نو او پرتو سیمو کې پېښېږي، لکه چې د ګنګا په برخه کې هم دا ډول بېلېدل رښتیا دي، خو بیا هم باید ووایو چې دا ډول عمل په ګرندیو سیندونو،

---

* د اسیایي پلټنې په یوولسم ټوک کې ددغو دووینو د سفر بیان وګورئ

[1] داسې ویل شوي دي چې امکان لري هغه اوبه چې د مانسارور Mansaroor له جهیل څخه دا جهیل د لاداک سیند په سویل کې پروت دی راوځي ښایي د اند سیند اصلي جریان او اوبه وګڼل شي .



Property of ACKU

په تېره بیا هغه سیندونه چې په غرنیو سیمو کې بهېږي، یو څه غیر ممکن برېښي. ددغه حالت په نظر کې نیولو سره کله کله موږ داسې سیندونه وینو، چې د ډبرینو ټاپوګانو په واسطه جلا کېږي او کله چې دا ډول وېش منځ ته راشي، نو دا د سیمې د پنځ (طبیعت) له مخې په همدغه شان دوام مومي. د مالیایي Mullaee په برخه کې کله چې د اندس سیند د هندوکش د لړۍ له منځه تېرېږي، نو د شمال لویدیځ له لوري د اباسین په نامه کوچنی سیند ورسره یوځای کېږي، دغه سیند د یوسلو شلو میلو په لیرې والي سره له شاوخوا غرونو څخه سرچینه اخلي. ددغه سیند شاوخوا اوسېدونکیو افغانانو په ګومان سره د اندس اصلي سیند ګڼل کېږي. د اندس سیند وروسته له دې، چې د پنځوسو میلو په واټن سره د هندوکش له ټیټو لمنو څخه د تورابیلې سیمې ته رسېږي، له هغې وروسته هوارې او ارتې ځمکې ته ننوځي. دلته دا سیند په دغه میداني سیمه کې خپرېږي او له زیات شمېر ټاپوګانو څخه تاوېږي.

له پورتني ځای څخه خلوېښت میله کښته له اټک سره نږدې د کابل ګرندی سیند له اندس سره یوځای کېږي، ورپسې سلاسي سلیماني لړۍ د فرعي ښاخو منځنۍ برخې ته داخلېږي. ددغو سیندونو د اوبو ګرېدل ان په هغه وخت کې چې اوبه ډېرې ټیټې او لږې وي، بیا هم مخکې له دې چې غرونو ته ننوځي، د ډېرو په منځ کې څپې او ګرداوونه په زیاته اندازه جوړېږي او یو ډول غږ ترې خېژي، چې د سمندر څپو ته ورته دي، خو کله چې دا سیند د واورې د ویلې کېدو له لامله مست او اوبه یې ډېرې شي، نو په دغه وخت کې ډېر ستر ګرداوونه جوړوي، چې غرمبا یې په ډېرو لیرې فاصلو کې هم اورېدل کېدای شي. دغه ګرداوونه ډېر ځله بېړۍ اړوي او یا یې له ډبرو سره وهي. د اندس سیند، چې په پرته میداني سیمه کې ډېر زیات پلن دی، د اټک په برخه کې یې سور درې سوه مترو ته راغونډېږي ان دا سیند کله چې د غونډیو او غرو منځ ته ننوځي، نو له دې څخه یې هم پلن والی کم شوی او نری کېږي. له اټک څخه پېنځلس میله لاندې د نیلاب له کلي سره یې عرض دومره لږ دی، چې ان داسې هم ویل شوي چې په لاس ډبره ترې اوړي، خو په دغه ځای کې ډېر زیات ژور او ګرندی روان دی. له نیلاب څخه د قره باغ تر سیمې پورې د لغړو غونډیو له منځ څخه کوږ ووږ تېرېږي. د قره باغ په برخه کې د مالګې له غره څخه په یوه ژوره رڼه او آرامه ویاله کې د هغه اوبه جریان مومي. له دغه ځای څخه د سمندرګي تر غاړې پورې له کومې وقفې او انقطاع سره نه مخامخ کېږي یا دا چې نور بیا په غرونو او غونډیو کې ډېر بند پاتې کېدای نه شي. له دې وروسته دا سیند د سویل خوا ته په یوه پراخه او ارته ځمکه کې بهېږي او په زیاتو څانګو جلا کېږي، چې په زیاتره

Property of ACKU

برخو کې پرله پسې بیا ګډ او یا وېشل غوره کوي، خو ډېر لږ پېښېږي، چې د هغه ټولې څانګې بیا سره یوځای او یو واحد جریان منځ ته راوړي.

له اوچ (Ouch) سره نږدې د پنجند Punjnud سیند له اندس سره ګډېږي. دا سیند د پنجاب د سیندونو له یوځای کېدو څخه منځ ته راغلی دی. که څه هم ددغه سیند اوبه هم ډېرې دي، خو د ګډېدو له ځای څخه پورته که له اندس سره پرتله شي، نو ډېر وړوکی برېښي او ورسره مقایسه کېدای نه شي. له دې وروسته د اندس سیند د سویل لویدیځ خوا ته جریان مومي او د زیات شمېر ښاخو په څېر یې اوبه د عربي خلیج خوا ته تشیېږي. له غرو څخه کښته اندس د خپل تګلوري په اوږدو کې دواړه غاړې پرله پسې تخریبوي او خپله مجرا بدلوي او دغه راز دا سیند د خپل بستر د شاوخوا ځمکې او سیمه ترڅو میلو پورې ډوبوي*. زه به ښایي په دغه ځای کې د

---

* څرنګه چې د اندس سیند د سرچینې په اړه بیان لیکل شوی و، نو په همدغه وخت کې ماته د ډیلي یوه پوه اري اوسېدونکي میر عزت الله له خوا یوه مجله راورسېده، چې د ښاغلي مور کرافټ د هیئت د ټولي د اسونو د ساتنې او څارنې د مدیر له خوا تشویق شو، چې تار تاري سیمې ته سفر وکړي او هلته ددې موضوع امکانات وڅېړي، چې د بنګال د سواره پوځ لپاره اسونه پیدا کړي. نوموړی سړی له کشمیر څخه لاداک او له هغه څخه وروسته یارکند ته ولاړ. لاندینی بیان د هغو سیندونو په اړه، چې دی ترې پورې وتلی و د مجلې په بېلا بېلو برخو کې راغلی دی.

په ماتاین کې Mutauyen ((یوځای دی چې د کشمیر له ښار څخه څلوېښت کاسه )یوه پېمانه ده، چې په هند کې استعمالېږي او له یوه نیم میل څخه تر درېو میلو پورې واټن څرګندوي ژباړن( د شمال ختیځ لور ته پروت دی. د سیند اوبه یو څه د کشمیر او یوه برخه د تبت لور ته بهېږي. هغه اوبه چې د کشمیر خوا ته جریان مومي، د سند په نوم یادېږي )دا نوم ددغې ناوې په ټوله برخه کې په همدې شان خوندي شوی دی( بله څانګه یې چې د تبت خوا ته درومي، په همدغه نوم (تبت) سره شهرت لري. دغه سیند تر پیشکام Pishkum )د عزت الله د لارې په سر یو کلی و، چې د ماتاین شمال ختیځ خوا ته دېرش کاسه لیرې پروت دی( پورې شمال ختیځ پلو تعقیبوي. له دغه ځای څخه وروسته دا سیند لویدیځ سمت غوره کوي او د کوچني تبت له منځ څخه اوړي او د مظفراباد لاندې بهېږي. په دغه وروستي ښار کې یې په همدې نامه سره یادوي. له مظفر اباد څخه یو کاس Coss کښته نوموړی سیند د کشمیر سیند )پورته د سند په نوم یاد شو( سره یوځای کېږي او د پنجاب په سیمه کې جریان پیدا کوي. دلته د جیلم Jelum یا بیهاټ Behut هایداسپس نوم غوره کوي، نو څکه دا سیند کیشن ګنګاه Kishen Gunga هم ګڼل کېږي، چې ښاغلي مکاتني هغه داسې تصور کړی، چې ګواکې له اندس څخه جلا شوی دی، چې دا خبره او نظریه دومره زیاته د تعجب وړ نه برېښي او دا څرګندوي، چې د لومړي )هایداسپس( پیل او د دویم )اندس( سیند بستر څومره سره نږدې دی. له پیشکام څخه د شمال ختیځ خوا ته شل کاسه لیرې د خلیج Khillich کلی پروت دی، چې دلته د لومړي ځل لپاره عزت الله خان د لاداک سیند ولید او د هغه په اړه یې لاندینی بیان کړي دي )له خلیج کلي څخه دوه کاسه ړاندې د یوه سړک په کینه غاړه باندې تللی دی، چې نوموړی سیند د اټک سیند )اندس( ته ګډېږي. دغه سیند له شمال ختیځ څخه راوتلی او د سویل لویدیځ لور ته جریان مومي، داسې ویل کېږي چې دا سیند د شایوک Shauyook )ددغه سیند سرچینه د تبت او یارکند ترمنځ ده( له سیند سره یوځای شوی ا د یوسفزیو، بیر Bheer او تور نول Turnoul له سیمو څخه اوړي او د اټک له کلا څخه پورته د کابل سیند ته تویېږي. دغه

Property of ACKU

هغو سیندونو په اړه، چې له اندس سره له ختیځ خوا څخه ګډېږي، څه ونه وایم ځکه په دې اړه ښاغلي مکارتني بشپړ معلومات وړاندې کړي دي.[1]

هغه سیندونه، چې له لویدیځ څخه له اندس سره یوځای کېږي، یو مې لږ وړاندې اباسین په نامه یاد کړی دی بل سیند چې له لویدیځ څخه له اندس سره ګډېږي، د کاشقار Kaushkaur سیند دی، چې له پشتخي چار څخه Poshteekhur پیل کېږي. پشتي خار د بیلوت تاغ یوه څوکه ده، چې د اکسوس سیند سرچینه هم پکې ده. د کاشقار سیند د نوموړې څوکې له بلې ډډې څخه راوتلی او د آمو (د اکسوس

سیند دلته کوم ځانګړی نوم نه څرګندوي، خو د سان پو San Poo په نامه یادېدلای شي، چې په تبتي ژبه کې ستر سیند ته دا نوم اطلاق کېږي میر عزت الله له خلیج څخه دا سیند تر لاداک یا لي Ley پورې تعقیب کړی دی، چې دا وروستی ځای د نوموړي سیند په ښي غاړه باندې موقعیت لري دده لاردلي په لور دا ښار یانې لاداک یا لي د مکارتني په پرتله ډېر زیات د سویل خوا ته څرګندوي او په نتیجه کې د هغه له اصلي او عادي ځای سره ډېر نږدې (ارم شوی دی، خو د عزت الله خان مشاهده د نیمکړې الې په وسیله ترسره شوې ده، ځکه د (اسطرلاب الې د نشتوالي) له امله دا ځای د شمالي عرض البلد له ۳۷ درجو او څلوېښت دقیقو سره برابر ښودل، چې د مکارتني له محاسبې څخه نور هم د شمالي لور ته لوړ ښکاره کېږي له لي څخه میر عزت الله د یارکند لور ته وړاندې ولاړ اتلس کاسه لیرې د شمال ختیځ خوا ته یې د شایوک سیند ولید نوموړي ددغه سیند لار د خامدان Khumdaun کنګل تر شاه تعقیب کړه او د قراقروم د موړې لاندې د هغه تر سرچینې پورې پر مخ ولاړ، چې دا ځای د لي شمال کنګل کېږي او دا واټن یې د سړک په اوږدو کې په پېنځلسو مارشو (مزلونو) کې پای ته ورساوه میر عزت الله د خامدان کنګل د قراقروم د غرونو د یوې برخې په څېر بیان کړی نه دی، بلکې هغه یې په جلا توګه د کنګل یو لړ کنګلونه دی، چې قراقروم ته له رسېدو نه دوه مارشه (مزله) مخکې یې هغه د سړک کیڼې غاړې ته لیدلی دی دا کنګل د دوه سوه کاسه په پراخوالي د بالتي Balti له تبت څخه تر Surik Kol سوربک قل پورې اوږدوالی لري عزت الله د قراقروم د غرونو په اړه څه نه وایي او دا نه ښکاره کوي، چې دا غرونه په زیاته اندازه جګ دي، خو یواځې ددغې لوړې ځمکې د سړو او کوښه توب په اړه بیروونکې بڼه بیانوي دا سیمه د لي او یارکند ترمنځ درې ورځې مزل غواړي، چې جګې برخې ته سړی ورسېږي د یارکند سیند سرچینه له شایوک څخه د یوې موړې په واسطه جلا کېږي او له یارکند څخه اتلس مزله (مارشه) لیرې سویل ختیځ سمت ته پرته ده دا ښکاره ده، چې د عزت الله څرګندونې په بشپړه توګه د مکارتني له یادښت سره سمون خوري، یواځې دومره توپیر لري، چې نوموړي د شایوک سیند سرچینه د سوریک قل په جهیل کې نه بولي، بلکې د موزتاغ په غرو کې یې ګڼي یو بل غوره اختلاف د دوی په څرګندونو کې په اسانۍ سره د سمون لپاره ښودلای شو میر عزت الله د دراس د کلي له منځ څخه تېر شوی دی، چې د ماتاین شمال ختیځ لور ته شپږ کاسه واټن لري دلته عزت هېڅکله د لاداک سین ګډېدل له اندس سره نه اوړي په داسې حال کې چې مکارتني ددغو سیندونو ګډېدل له دراس سره نږدې ښکاره کړي دي د عزت الله لیکنې څخه دا هم جوته شوې ده، چې هغه کله چې د دراس له سویل څخه واوښت، نو یې د لاداک سیند ولید چې پرته له دې چې خپله لار بدله کړي، له خلیج څخه په تېرېدو سره هم په عین استقامت د سویل خوا ته روان دی نو له دې لامله دا به ډېره اټکلي وي، چې ښاغلی مکارتني د پورتنیو سیندونو (لادک او سند) ګډېدل له دراس څخه کښته ښودلي دي ددغه فصل په اړه نورې یادونې دسریزې په نتیجه کې وګورئ ۱۸۳۸

[1] ضمیمه وګورئ

Property of ACKU

سیند ) څخه د بیلور تاغ د یوې لړۍ په وسیله، چې د همدې سیند بنۍ غاړه تر هندوکش پورې تعقیبوي، جلا شوی دی. د کاشقار په کینه غاړه باندې د کاشقار سیمه پرته ده، چې د سیند نوم هم له هغې څخه اخیستل شوی دی. کله چې کاشقار له هندوکش څخه تېرېږي، نو بنې خوا ته یې هغه راوتلې (برآمدګي) پرته ده، چې ډېر ځله مې مخکې یاده کړله. ددغه سیند په کینه غاړه باندې یو لړ غرونه پراته دي، چې له راوتلې سره موازي برېښي، سره له دې چې دا غرونه ډېر جګ دي، خو بیا هم دایمي واورې وربانديې نه لیدل کېږي. دا سیند د سترو غرونو لاندې په یوه ډېره غرنۍ سیمه کې په ډېر ګړندیتوب او شدت سره د کابل سیند د ناوې په لور بهېږي. زه د مخکېنیو څرګندونې په تایید د کابل ناوې په هکله دا ویلای شم، چې د کابل په ختیځه خوا څو سیندونو سره یوځای شوي دي. دوه ډېر غوره یې له هندوکش څخه راوځي او د پنجشیر او غوربند په ناوو کې بهېږي، چې د سیندونو نومونه یې هم له دغو سیمو څخه اخیستل شوي دي. دا دواړه سیندونه د کابل شمال کې سره یوځای شوي او تر باریکاب Baureekaub پورې سویلي پلو غوره کوي. یو بل سیندګی، چې له نوموړو سیندونو څخه کوچنی دی، د غزني له لویدیځې خوا څخه راوځي او د کابل په ختیځه خوا کې له یوه بل واړه سیند سره، چې د پاراپامیزین له یوې لړۍ څخه، چې د بابا غرونه یې بولي، سرچینه اخلي، یوځای کېږي. دغه وړوکی سیند د کابل له منځ څخه تېرېږي او د هغه نوم د کابل په ټول سیند باندې اېښودل شوی دی.

هغه ټول سیندونه، چې پورته مې یاد کړل، د باریکاب په برخه کې سره یوځا شوي او د کابل سیند جوړوي. دغه سیند په ډېره چټکۍ د ختیځ په لور جریان موندلی او د دواړو غاړو د فرعي سیندونو په ګډېدو سره یې، چې له غرو راوځي، اوبه زیاتېږي. له جلال اباد سره نږدې په کامه کې د کاشقار (کونړ) سیند له کابل سره ګډ شوی او د ختیځ خوا ته د هندوکش د کوچنیو غرو په منځ کې خپله لار تعقیبوي، چې دلته زیات ګرداوونه او ځروبي منځ ته راوړي[1].

کابل سیند کله چې د پېښور هوارې او میداني سیمې ته ننوځي، نو دلته د هغه جریان شدت په بنه اندازه کمېږي، خو بیا هم ورته ګړندی ویلای شو. دلته دا سیند په څو بناخو باندې وېشل کېږي، خو د هغه دوه بناخېز سیند د ګډېدو له امله، چې د پنجکوړې او سوات له درو څخه راوتلی، بیا سره یوځای شوی دی. له اټک سره نږدې

[1] سره له دې، چې له جلال اباد څخه خلک د لرګیو په تخته باندې، چې د سیند په وسیله په ډېره بې ساري چابکۍ او ګړندیتوب ځي، راکښته کېږي، خو بیا هم په دغه حالت کې د څړونو او د جریان شدت بې له پاخه زیانه څخه بل شی شمېر کېدای نه شي او هغه باید یوه خطرناکه بېړۍ چلونه وګڼو

Property of ACKU

له اندس سره د ګډېدو نه لږ مخکې یې ټولې اوبه بیا سره ګډېږي.

د کابل سیند د اندس په پرتله ډېر وړوکی او په زیاتو برخو کې د وچ فصل په اوږدو کې ترې پورې وتل اسانه دي.

د اندس سیند هم د ۱۸۰۹ کال د ژمي په وروستیو وختونو کې د شاه شجاع د لښکرو د پورې وتلو په مخ کې د کابل له سیند سره د ګډېدو له ځای څخه پورته کوم خنډ پېښ نه کړ او ټول ترې پورې وتل، خو دا کار یوه معجزه ګڼل کېدای شي، چې د پاچا د بخت له لامله ترسره شوه. له اندس سیند څخه دا ډول تېرېدل له غرونو څخه نیولي تر سیندرګي پورې ما اورېدلي نه دي، چې څوک ترې* پورې وتلي وي.

له اټک څخه لاندې له اندس سره د تو Toe په نامه اوبه او نورې ویالې یوځای کېږي، چې هېڅکله د سیند نوم درلودلای نه شي او تر اسحاق خېلو پورې دا ډول اوبه بې له کوم غوره نوم څخه ورتوییږي. په اسحاق خېلو کې د کورمې سیند ورسره ګډېږي. د کورمې اوبه د سلیماني غرو تر شا د آریوب په برخه کې راوځي او د ختیځ په لور د سلیمان د لړۍ په یوه ژوره ناوه کې تر باراخېلو Barrakhail پورې په همدې استقامت جریان مومي، خو په دغه وروستۍ سیمه کې د سویل لور ته کوږ شوی او تر هغو چې له اندس سره یوځای کېږي، په همدغه لور (جهت) خپل تګ ته ادامه ورکوي. دا سیند له کاګلوالا Kaggalwalla سره نږدې له اندس سره یوځای شوی دی. دلته یې اوبه ډېرې پلنې بهېږي، خو ژوروالی یې لږ ګڼل کېدای شي.

ددغه سیند په جنوب کې یوازینی سیند، چې د اندس (سند) په لور روان دی، دګومل سیند شمېرلای شو، چې دا سیند هم له اندس سره ډېر ځله نه ګډېږي، ځکه اوبه یې د دامان په شمالي برخه کې د کرنې په چارو کې لګول کېږي، نو له دې امله اندس ته رسېدلای نه شي، خو په هغو وختونو کې چې اوبه یې د بارانو په وسیله ډېرې شي، سیند ته تویېږي.

د ګومل سیند د سرفضې (اصل سروضه ده. ژباړن) په سویل کې له دورچلي Doorchell سره پیل او داسې برېښي، چې لومړی د سویل لویدیځ خوا ته ځي، وروسته سملاسي د سویل لور ته ګرځي او تر دوماندي Domundee پورې همدغه سمت تعقیبوي. په دغه ځای کې له ګومل سره د ممی Mummye او کوندور

Property of ACKU

* د ښاغلي برن A.Burnes له څرګندونې څخه داسې برېښي، چې د اندس سیند له کړوډیو څخه پاس له ډېرو ناوړه پېښو او خطرونو سره سره د تېرېدو وړ دی. پخپله دی هم د ۱۸۳۲ کال په مارچ کې له ډېر خطر سره پرې اوښتی دی. په دغه تېرېدنه کې د سکانو د یوه مشر اووه تنه سپاره، چې له ده سره یې په تېرېدو کې مرسته کوله، په سیند کې لاهو او اوبو کښته یوړل، یو سړی او دوه اسان له دغه شمېر څخه ډوب شول. (لومړی ټوک، ۷۵ مخ ۱۸۳۸)

Coondoore اوبه، چې د تیروا Teerwa له شاوخوا څخه سرچینه اخلي، یوځای کېږي. له دغې سیمې وروسته د ګومل سیند سمت د ختیځ خوا ته تاو شوی او تر سیرماغا Sirmaugha پورې همدا جهت لري. په دغه وروستي برخه کې د ژوب سیند ورسره ګډېږي. د ژوب سیند تر ګومل لږ وړوکی او د بورشور Burshore په ختیځ کې د کند Kund له غرونو څخه سرچینه اخلي او د ژوب په سیمه کې جریان مومي، چې د همدې سیمې نوم وربانديې ایښودل شوی دی. له سیرماغا څخه لږ څخه د ختیځ لور ته د ګومل سیند د سلیمان غرو ته ننوځي او دلته یې په غرونو کې خپله لار پرانستلې ده. وروسته له راغزي Rughzee څخه اوړي او د دولت خېلو او ګنداپورو سیمې خړوبوي[1].

د ګومل سیند لومړۍ برخه ټوله په غرنۍ سیمه کې ده، چې په شاوخوا کې یې غیر مسکوني سیمې پرتې دي. دا سیند هر چېرې د تېرېدو لپاره چمتو دی، خو که اوبه یې دباران په وسیله زیاتې شي، نو په دغه وخت کې ترې اوښتل ګران دي، خو د اوبو د ډېروالي موده یې لنډه او ډېر ژر بیا لږې کېږي.

د زیرکاني Zirkunee، ډېر اوبند، چودوا Choudwa او وهوا Wuhooa په برخو کې له سلیمان غرو څخه بېل بېل سیندونه راوتلي دي. دا ټول سیندونه په ناوو کې جریان مومي او دوه وروستي سیندونه په بشپړه توګه د سلیمان غرو نه پرېکوي. له دغو سیندونو څخه یو یې د سپوستا Spusta او بل یې د موسی خېلو له سیمو څخه د سلیمان غرو په لویدیځ کې سرچینه اخلي. دا دواړه سیندونه هغه وخت، چې د باران په وسیله یې اوبه زیاتې شي، نو سیند ته ځانونه رسولای شي.

د افغانستان له سترو سیندونو څخه د هلمند یا ایتماندر Etymander سیند دی، چې د پاراپامیزین له ختیځې مورې یاني له غرو څخه د کابل په لویدیځه شل یا دېرش میلۍ کې سرچینه اخلي. دا سیند په پاسنۍ برخه کې د دوه سوه میلو په اوږدوالي په غرنیو ځمکو کې بهېږي. له دغه واټن وروسته د درانیانو پراته او زراعتي میدان ته ننوځي. سره له دې هم په دغه برخه کې د هلمند سیند ټوله ځمکه نه خړوبوي او ډېر ژر بیدیا ته رسېږي. دا ډول دښتې هلمند تر هغه ځای پورې، چې سیستان ته ننوېږي، تعقیب کوي. د هلمند څېرمه غاړې او تر یوه اویا نیم میل

---

[1] هغه نقشه، چې ډاکتر هوني برګر Dr. Honigberger (نوموړی د ۱۸۳۳ کال د مې او جون په میاشتو کې له (دیر اوبند) څخه تر کابل پورې سفر کړی دی) کښلې، داسې څرګندوي چې د ګومل سیند، چې ډېر سم او په ښه ډول په نقشه کې تر تونده چینه Tonda Cheena پورې ایستل شوی دی. د دورچیلي په برخه کې سرچینه نه اخلي، بلکې له دې برخې څخه څلوېښت یا پنځوس میله د لویدیځ لور نه راوځي (د کلکتې د اسیایي ټولنو مجله، دریم ټوک، ۱۷۵ مخ) ۱۸۳۸



Property of ACKU

پوري نږدې ځمکې د هغه د اوبو له برکته ډېرې څرېږي او زياتره برخې يې په ډېره زياته اندازه تر کرنې لاندې راغلې دي. د هلمند د سيند په ټول بهير کې د پورې وتلو امکان شته، سره له دې هم د هلمند سيند يو غوره سيند ګڼل کېدای شي ان په وچ فصل کې د هغه ژوروالی له غرونو څخه د تېرېدو په ځای کې ډېر ژور دی. د واورو د ويلې کېدو په وخت کې د سيند اوبه ډېرې ګړندۍ او ژورې ګڼل کېږي. د هلمند ټول اوږدوالی څلور سوه ميله شمېرل شوی دی. د زيات شمېر سيندونو په لړ کې، چې ځای په ځای ورسره يوځای کېږي، يو هم هغه سيند دی چې له سيابند Seeahbund څخه د اتيا ميلو په اوږدوالي راوتلی او له ګرشک څخه څوارلس ميله پاس له هلمند سره ګډ شوی دی.

ارغنداب د هزاره د غرونو په برخه کې د کندهار په شمال ختيځ اتيا ميلۍ کې د هلمند اصلي سيند د سويل خوا ته روان دی. د ارغنداب مسير، چې د هلمند په سويل کې پروت دی، له کندهار څخه څو ميله وړاندې د ګرشک په برخه کې له هلمند سره يوځای کېږي. ارغنداب د درانيانو ډېره څريه سيمه سمسوره کړې ده. په ژمي کې دا سيند ډېر وړوکی دی، خو کله چې د غرو واورې ويلې شي، نو په دغه وخت کې يې اوبه ډېرې ژورې او ګړندۍ بهېږي. د پلن والي له لامله ارغنداب هېڅکله له يو سل و پنځوس مترو نه اوښتی نه دی.

خاشرود د هرات په سويل او سويل ختيځ کې نوي ميلۍ کې په ساخير Saukhir کې پيل شوی دی. دا سيند د يو سل و پنځوس ميله واټن تر وهلو وروسته د ګرمسير د خان نشين Khoonnesheen په برخه کې له هلمند سره يوځای کېږي، دا سيند ډېر ګړندی او تر ارغنداب لوی دی.

فرا رود له پورتني سيند سره نږدې سرچينه اخلي او يو ډېر غوره سيند ګڼل کېدای شي. دا ښکاره نه ده، چې دا سيند د سيستان جهيل ته رسېږي او که په شګو کې له منځه ځي، خو په دواړو حالتونو کې دا څرګنده ده، چې د هغه اوږدوالی له دوه سوه ميلو څخه لږ دی. د ترنک سيند له مقر سره نږدې سرچينه اخيستې او د سويل لويديځ لور ته د کندهار په لور سړک په امتداد جريان مومي، بيا وروسته د لويديځ لور ته کوږ شوی او د کندهار له سويل څخه تېرېږي او د کندهار د ښار په لويديځه پينځه ويشت ميلۍ کې له ارغنداب سره ګډېږي. ترنک په عمومي توګه داسې ښکاري، چې په پرته او هواره سيمه کې جريان لري، نو د ګړنديتوب له لامله دومره غوره نه برېښي. د کندهار په سويل کې له ترنک سره د ارغستان سيند يوځای شوی دی، دا سيند له کافرچاه Cau Firchauh سره پيل او د ارغستان له سيمې څخه اوړي او له دې سببه د ارغستان نوم هم ورته ورکړل شوی دی. دا سيند د ګړندي

Property of ACKU

سیلابي سیند ښه لري او د دوو یا درېوو ورځو پورې ژور او زیاتې اوبه لري. د کال په نورو زیاترو وختونو کې یې تل وچ او له اوبو څخه خالي وي. لږ څه کښته له ترنک سره د شوراندام Shorundaum او دوري Doree ښکلې ناوې گډېږي، چې دا دواړه د رباط له شاوخوا څخه راوتلي دي. ددغو مرستیالو اوبو په گډېدو سره ترنک بیا هم د سیمې د وچ والي له لامله ډېرې لږې اوبه لري او کله، چې له ارغنداب سره یوځای کېږي، د یوې وړې ویالې په څېر برېښي.

د لورا سیند د کند په غرو کې له توبي Tubbye سره پیل شوی او د بورشور له لارې د پشین خوا ته ځي. دلته دا سیند د سورخاب Soorkhaub هغه اوبه، چې له کرنې څخه زیاتېږي، له ځان سره گډوي. د سرخاب وړوکی سیند د ژوب سیند له سرچینې سره نږدې د کند په غرو کې پیل شوی دی. وروسته دا سیند (لورا) د سپیند تاژي Speen Taizheh د غرونو له یوې تنگې درې څخه د شورابک خوا ته اوړي. دلته د لورا سیند په دوو څانگو وېشل کېږي، خو د همدې سیمې په لویدیځ کې دواړه ښاخونه یې بیا سره یوځای شوي دي. دا سیند په گرمسیر کې د چوغی Choghye سره نږدې بېخي له منځه ځي. د لورا سیند دوه سوه میله اوږدوالی لري او پلن والی یې هم زیات دی، خو ژوروالی یې لږ او په یوه وخت کې د یوې اونۍ څخه زیات د پورې وتو په مخ کې خنډ نه اچوي. ددغه سیند غاړې د پشین په برخه کې ډېرې جگې او په اوبو لگولو کې ترې کار اخیستل کېدای نه شي، خو په شورابک کې یې غاړې ټیټې او په اټکلي توگه د هغه ټولې اوبه هم دلته په کرنه کې کارول کېږي*.

هغه سیند، چې پخوانیو وروته اوخس ویل او په اوبه کې پیل کېږي، په ډېر کمزوري گومان سره یې د افغانستان سیند گڼلای شو. دغه سیند د اوبه په برخه کې له پاراپامیزین غرو څخه سرچینه اخلي[1] او له هرات څخه تېرېږي. د اوخس سیند د یوه واټن لپاره د افغاني او پارسي خراسان په منځ کې لویدیځ لور ته جریان موندلی او وروسته د شمال خوا ته خپل سمت بدلوي. دلته تر یوه واټن وهلو وروسته د اکسوس کینډې خوا ته په بیدیا کې خپل بهیر پرمخ بیایي او په شگو کې

* د ښاغلي کونولي Mr. Conolly's له سفرنامې څخه داسې څرگندېږي، چې د لورا په نوم دوه سیندونه شته، چې یو یې هغه دی چې پورته مې بیان کړ. بل یې له سیریاب Sireaub سره د کوټې په سویل کې پیل او له شادیزي Shadeezye څخه تر تېرېدو وروسته لومړي سیند ته گډېږي. ښاغلی کونولي دا هم اورېدلي، چې پورتني سیندونه تر گډېدو وروسته د شورابک له منځه اوړي او د پشین په لویدیځه یو سل و شل میلی کې یوه جهیل ته رسېږي (دویم ټوک، ۱۲۸ مخ – ۱۸۳۸)

[1] د اوخس یا هریرود سیند په اوبه کې نه پیل کېږي، بلکې د بابا له غرو څخه د اوبه په لویدیځه څو میلی کې سرچینه اخلي (ژباړن)



Property of ACKU

ورکېږي. دا سیند د مروې او مشهد ترمنځ تېرېږي، خو زه د هغه ددغې کښتنۍ برخې په اړه معلومات نه لرم. دا سیند ډېر پخوا هریرود بلل کېده، خو اوس ورته پارسیان او افغانان پل مالان او ازبک ورته تجند Tejeid وايي[1].
سره له دې، چې په افغانستان کې نور زیات سیندونه د هغو سیندونو په اندازه،

---

[1] د اکسوس په لور د هرات سیند تل د انویلي D.Anville دا مني او وايي، چې اوبه یې اکسوس ته رسېږي، خو دا دریاب رینل Rennell په مقابله توګه داسې ښودلی، چې د سویل خوا ته د سیستان حوزې ته ننوځي او د انویلي خبره ردوي. دا سوال د زیات اهمیت وړ دی، ځکه یوه جګه ځمکه د اوښو د یوې بېلوونکې کرښې په څېر د اکسوس په لور او یا د پارس په خوا اوبه سره وېشي. دا جګه ځمکه د پارپامیزین غرونه له تاوروس Taurus او نورو لویدیځو غرو څخه جلا کوي. په دغه موضوع باندې د موهن لال Mohun Lall's لیدلې کتنې زیاته رڼا اچوي، خو څنګه چې د موهن لال کتاب په انګلان کې ډېر نادر دی، نو ما د هغه په مضامینو باندې ټینګار وکړ، چې په هغو کې دا لیکل شوي دي، چې نوموړي په هرات کې اووه میاشتې تېرې کړي او سیند یې ډېر ځله لیدلی دی. ددغه معلوماتو له مخې هغه په ډاګه وايي، چې د هرات سیند اکسوس ته تویېږي (۱۹۳ مخ) خو هغه ددغه عمومي ادعا په څنګ کې ځینې نور د ارزښت وړ خصوصیات یادوي. په ۲۰۴ مخ کې هغه وايي، چې پوزه کفترخانه Pozeh Kafter Khaneh د سویل لویدیځ خوا ته د سیند په کینه غاړه ولاړه ده. دی د کتاب په ۲۳۴ مخ کې دا څرګندوي، چې د هرات سیند د هرات له سویل څخه اوړي. لاندینی بیان هغه مشهد ته د راګرځېدو په حال کې ورکړی دی. هغه مخکې له دې، چې غوریانو ته ورسېږي، له سیند څخه واوښت (د کتاب ۱۹۱ مخ) نوموړی له سیند څخه د یوه پل په وسیله په تېرپول Teerpool کې د یوه رباط په لور، چې د سیند په ښۍ غاړه پروت و، واوښت. بله ورځ هغه بیا هڅه وکړه، چې له سیند څخه تېر شي، خو بریالی نه شو او له هغه ځایه بېرته د پله لور ته راستون او له پله څخه پورې وت او سیند په کینه غړه باندې د کافر کلا Kau fir Kella په نور ولاړ. له دغه ځایه د جسام ا و محمود اباد خوا ته راغی او بیا وروسته بې له دې، چې له کوم سیند او یا غاښي څخه واوړي، مشهد ته ورسېد. نوموړی بیا له هرات څخه د فراه په لور د تګه په لار کې له شاباد Shahbed څخه وروسته یوه ډېر جګه غاښي ته راغی. له هغې وروسته نوموړی د رودګز Rodguz او ادرسکند سیندو ته راورسېد. دا سیندونه د هلمند په لور، چې د سویل خوا ته دي، بهېږي (۲۵۴مخ) له دې لامله دا جګه موړه او غرونه دا سیندونه سره جلا کوي او لکه چې ده ویلي دا غرونه په پنجاب کې پنډ دادان خان Pind Dadan Khan غرو ته، چې د مالګې د کانو له لامله لمانځل کېږي، ورته دي. له لږ شک پرته دا غرونه، چې موهن لال بیان کړي او د جام او کاف په منځ کې خواره شوي هماغه شان ریونده (کږنګه لرونکي او یا نشیب دار) او د مالګې یو کټور کان لري (۲۴۹ مخ).
دا ښايي هماغه غرونه وي، چې د فرخ اباد Furkhabad او توربوتي حیدري Toorbuti Hyderee ترمنځ په ډېر کړاو سره نوموړی ترې اوښتی وي (۲۰۰ مخ). دغه راز دا هماغه غرونه دي، چې کپتان کرستي Christie د چلسار Chilsar او اونشي Onshy ترمنځ لږ څه د لویدیځ خوا ته د خپل تګه لارې په ښي غاړه کې لیدلي دي، چې د شمال لویدیځ په لور خواره شوي دي (د پوتنجر سفرونه Pottinger's TravelsPottinger's Travels ۴۱۹ مخ) ښايي دا غرونه د نیشاپور خوا ته نږدې تللې وي او هغه سیند، چې د مشهد په لور ځي، وېشلی وي. له مشهد وروسته دا سیند د پل ابریشم Polee Abreshm په نوم سیند جوړ کړی دی ۱۸۳۸).



Property of ACKU

چې ماتراوسه بیان کړل، شته خو زه دې ته اړتیا نه لرم، چې تر هغو چې سترو سیندو ته د مرستیال په څېر ارزښت ونه ټاکل شي او په همدې شان نور مشخصات ونه لري، تر کتنې لاندې ونیسم.

له دې لامله یوائې هغه سیندونه د یادونې لپاره پاتې دي، چې د افغانستان یوائینی جهیل جوړوي. په دې هېواد کې مې یوائې ددغه جهیل نوم اورېدلی دی. د سلیمان په غرو کې د سرفضې له شمال څخه د پولتسي Pultsee جلګه Jilga او نور واړه سیندونه راوتلي او د جهیل په لور بهېږي. نوموړی جهیل د غزني په سویل لودیځه خوا کې پروت دی.

ددغو وړو سیندونو په لړ کې د یوه دپاسه سلطان محمود د غزني د ښار د شاوخوا د اړتیا وړ اوبو لپاره یو بند جوړ کړی و، خو دا بند د افغانستان یوه پخواني پاچا له خوا مخکې له دې، چې د غزني امپراتوري ماته کړي، له منځه ولاړ او خراب شو. د نورو وړو سیندونو په څنګ کې، چې د جهیل په لور بهېږي، یو یې د سویل له خوا راځي، چې د ګواشتا Gwashta له برخې سره نږدې سرچینه اخلي. د جهیل ټول اوبه په ګډه سره د درې یا څلور میله قطر په اندازه وچ فصل کې، لري. په داسې حال کې چې په لانده فصل کې ددغې اندازې دوه واره ساحه نیسي. د جهیل اوبه مالګینې دي، ځکه ځینې ویالې چې له هغه سره ګډېږي، مالګینې اوبه لري. دا جهیل د آب ایستاده په نامه یادېږي، چې په پښتو کې یې مانا ولاړې اوبه دي.

* * *

Property of ACKU

# څلورم څپرکی

## د افغانستان طبیعي او سیاسي ویش

د اندس میداني سیمه له سمندر څخه تر سونګور Sungur پورې په سند کې شاملیږي. ددغه ویش په لړ کې هغه برخه، چې له سمندر څخه تر شکارپور پورې پراختیا مومي. د سندیانو د استوګنې ځای دی، چې د یوه آري واکمن تر اداري لاندې ده، خو د کابل پاچا ته باج ورکوي. دغه ځای اوس په عمومي توګه د انګرېزانو له خوا سند بلل کېږي، خو ښایي په ډېر خاصه توګه د کښتني سند نوم ورته ورکړل شي. له شکارپور څخه تر سونګور پورې (د شکارپور په ګډون) کېدای شي، چې پاسنی سند یې وګڼو. د سند هغه برخه، چې د اندس دریاب په لویدیځ کې پرته ده، د بلوچو د استوګنې سیمه جوړوي او د شکارپور په شمالي برخه کې له یوې ورې ټوټې څخه پرته نوموړې ټوله سیمه د کابل پاچا د تر واکمنۍ لاندې اداره کېږي. له سونګور څخه پاس د سلیمان د لړۍ تر ختیځ شا وخوا پورې د دامان سیمه ده. د مالګې د لړۍ سویلي غونډۍ او هغه میدانونه او ناوې، چې دا غونډۍ ترې تاوې شوي، په زیاته توګه د دامان په سیمه کې راځي. د سونګور په شمالي برخه او د اندس له ښي غاړې سره په لګېدلې میداني سیمه کې بلوخ مېشت شوي دي، چې دا سیمه له دامان څخه توپیر کېږي او په بلوخي یا هندوستاني کې د مکلواد Muckelwaud نوم ورکړل شوی دی. دامان یوازې د غرونو او غونډیو لمنو ته ویل کېدای شي، چې د دامان اصلي مانا هم لمنې دي. د دامان سویلي برخه کې د ستوریانیو Stoorecaunees قبیله مېشته ده، چې ورپسې د شمالي لور ته یې بابریان Bauboors میاخېل (متانخېل)، ګنډاپوري، دولت خېل او مروت پراته دي. د وروستۍ قبیلې (مروتو) په شمال او د دامان په وروستۍ څنډې په امتداد نورې پښتنې قبیلې د خوست، دوړو او اسحاق خېلو په سیمه کې خورې شوې دي. د سلیمان د غرو په برخه کې په همدغه امتداد زمري، شیرواني، وزیر او ځدران اوسېږي.

توري او ځاځي په یوه ژوره ناوه کې، چې د کورمې دریاب د سلیمان په غرو کې

Property of ACKU

جوړه کړې ده، مېشت شوي دي. د مالګې د لړۍ او د شمالي عرض البلد د کرښې د ۴۳ درجو ترمنځ یو لړ غرونه او ناوې پرتې دي، چې په هغو کې د بنګښو او خټکو کامونه ژوند کوي. وروستی کام د مالګې د لړۍ سویلي برخو ته خور شوی او د مکد په شاوخوا کې ان له اندس څخه هم اوړي. د عرض البلد د ۴۳ درجو کرښې د غرو په شمالي برخه کې د پېښور پراخه او سمسور میدان پروت دی، چې د کابل سیند یې خړوبوي. ددغه میدان ختیځې خوا ته اندس سیند چاپېره کړې دی. ددغه ځواب او سمسور میدان سویل ختیځه ډېره خټکو نیولې ده. په داسې حال کې چې شمالي برخه یې په یوسف زیو پورې اړه لري. دغه راز دغه وروستی کام هغه غونډۍ، چې ما د بونیر، سوات او پنجکوړې تر نومو لاندې ذکر کړې، هم د استوګنې لپاره غوره کړې دي. ځینې یوسفزي د اندس ختیځ خوا ته هم خواره شوي دي، د پېښور د میدان په پاتې سیمه کې ځانګړي کامونه مېشت دي، چې غالباً پېښور د قبایلو تر نامه لاندې یادېدلای شي.

د پېښور د پرتې سیمې لویدیځه خوا داسې فرعي غرو نیولې، چې له هندوکش څخه تر سفید کوه پورې اوښتي دي. ددغو غرونو سویلي برخه، چې لوڅه او برېنډه ښکاري، د مومندو په کام پورې اړه لري. په داسې حال کې، چې شمالي برخه یې د صنوبر په ونو پټه او د اتمانخېلو کام پکې مېشت شوی دی، د غونډیو دغو لړیو په لویدیځ کې د باجوړ ارته ناوه پرته ده، چې تر پنجکوړې پورې امتداد لري. د باجوړ سیمه د هندوکش د سویلي راوتلې برخې ختیځې خوا ته پرته ده. په بله وینا دغه راوتلې برخه باجوړ په لویدیځ کې ددغې سیمې پر سر ولاړه ده. د پېښور د پرتې سیمې په لویدیځ کې د کابل سیند ناوه پرته ده، چې د هغې ختیځه برخه پېښور څخه لږه لوړه برېښي او لویدیځه برخه یې د سلیمان د غرو د لویدیځو سیمو په شان جګه پرته ده. د کابل سیند د کیڼې غاړې ملکونه او سیمې یې څه وړاندې بیان شول او د هغو اړیکې له هندوکش سره څرګندې شولې. ددغه سیند د ښي غاړې په سیمو کې لومړی د خیبریانو سیمه ده، چې وروسته د لویدیځ خوا ته لیرې د جلال اباد څورب (حاصل خېزه) میدان پروت دی. د جلال اباد لویدیځ خوا ته د ګندمک سیمې پرتې دي، چې دا برخې د غرنۍ سیمې په ګډون د کابل له میدان څخه د خیبریانو تر ملک پورې خورې شوې دي. دا ټوله سیمه چې د سویل خوا ته یې سیند، سپین غر او شمالي ته یې د کابل سیند میدان چاپېره کوي، د ننګرهار او یا ننګنهار* په نامه یادېږي. د کابل کوهستان وړاندې بیان شو داسې مو ووېل چې د

* دا کلیمه یانې ننګرهار د نهو د سهنونو د راوتلو مانا ورکوي: ننګ په پښتو کې ۹ نهه او نهر سیند ته وایي.

Property of ACKU

هغه په سویل کې د کابل میدان پروت دی. هر چا چې، دا سمسوره سیمه لیدلې، نو په زړه پورې یې گڼلې دی. د کابل شمالي خواته د کهستان یوه برخه او لویدیځ ته یې د پارا پامیزین غرونه پراته دي او د کابل سین ناوه د تنگرهار او لوگر غونډۍ د سلیمان له لړۍ سره لگیدلې، په ختیځ کې یې پراته دي. د کابل سیمه سویل خواته یوې اوږدې ناوې سره لگېدلې ده چې د غزني خواته خیژي او زیاته برخه یې دور د گوښتني قبیلې نیولې او د هغوی استوگنځی گڼل کیدای شي. ددغې ناوې په لویدیځه خواکې دپارا پامیزین سلسله او د ختیځ خواته یې د سلیمان د غرو پېیلې ځانگې پرتې دي چې په هغو کې یو شمیر درې هم لیدل کېږي، ددغو درو په لړ کې غوره یې د لوگر ناوه یا دره، سپیگه، خروار او زرمل گڼل کیدای شي. لومړی درې درې د غزني سین خواته گډې شوې دي، خو وروستی یې د آب ایستاده خواته درومي.(۱)

دا ممی Mummye د غرو په لویدیځ د گوښتي Ghwaushteh په شمال، د غزني په سویل او د مقر د طول البلد په ختیځ کې ټولې اوبه او سینونه ددغه جهیل خواته جریان مومي، له دې امله هغه سیمه چې په دغه حدود کې پرته ده، یوه ژوره او د ونډ په څېر مځکه جوړوي چې غونډۍ پکې نه شته او د یوه لوړ میدان په جگه برخه کې د نسبتا حاصل خېزې مځکې په نشان منځ ته راغلې ده. په دغه ځانگړې طبیعي برخه کې د ېرې وړې سیمې شته چې د سویل له خوا په ترتیب سره گوښته کټواز، مایبولاک Mybolauk شلگر، غزني او ناني Naunee یادولای شو.

د آب ایستاده د حوزې او د مقر د طول البلد د لویدیځ خوا سیمې تر منځ کوم ټاکل شوي حد نشته، داسې چې وروستی سیمه د لویدیځ خواته نوره هم ټیټه شوې ده.

هغه ځمکه چې د مقر د طول البلد لویدیځ لور ته ټیټیږي، د خواجه عمران د غرونو او پارا پامیزین د غرونو ترمنځ پرته ده ښایي دا برخه د ارغستان او ترنک ناوو بېله کړي وي. دغه راز ددغو دوو ناوو ترمنځ جگه برخه هم په دغه وېش کې شاملیږي. لومړی ناوه دومره زیاته ارته نه ده او شمال لویدیځ لور ته کږه شوې ده، دغه راز دومره زیاته څوربه (حاصل خېزه) نه بریښي. په دغه دره کې درانیان مېشت شوي دي چې د درې ترخولې یعنې ترکندهاره لیدل کېدای شي. ددغې ناوې سویل

(۱) داسې بریښي چې الفنستون د لوگر دریاب په څو برخو ویشي چې په هغه کې د خروار اوبه خپله د لوگر اصلي اوبه جلا گڼي په داسې حال کې چې د لوگر سین له سرچینې څخه تر کابله پورې یو سین شمېرل کېدای شي. له بلې خوا د لوگر سین سرچینه چې وردگ پکې میشت دي، د غزني سین یې بولي چې دا هم سمه نه بریښي. (ژباړن).

Property of ACKU

ختیځ خوا ته یوه غونډۍ لړونکې او رشو پرته ده چې تر شوراېک پورې پراختیا لري. د ارغستان او ترنک منځ سیمه د مقر او تورکاڼي د غرونو څخه منځ ته راغلې ده، دغه راز هغه میدانونه چې دغو غرو چاپېر کړي، هم په دغه سیمه کې راتلای شي.

د ترنک د ناوې ټولې ځوړې له مقر څخه د غلځو تر کلاته پورې سویل لویدیځ لوري ته ځرګندېږي. خو ددغې طبیعي ویشنې د لرې شمالي برخې نه پرته دا ځوړې داسې یو معمولي لوړوالی لري، چې د تیت او پرک غونډیو په ګډون یې یو څپانده میدان ګڼل کېدلای شي. دا ځای هم بشپړ وچ او بې ثمره نه دی او په هغه کې داسې ځایونه شته، چې په ښه توګه تر کرنې لاندې راغلي دي، خو په عمومي توګه یې وچ ګڼلای شو، ځکه زیاته برخه یې د وچوالي له لامله بې ګټې او شنډه پاتې ده. دغه راز دا سیمه له ونو څخه بې برخې شمېرل کېږي. په دغه غېر زراعتي ځمکه کې په زیاته اندازه واړه بوټي لیدل کېدای شي. چې د سونګ او یا د اوښانو د خوراک لپاره ترې ګټه اخلي. خو دا باید ووایو چې دا ډول بوټي د هندوستان په څېر دومره ګڼ او په ځنګلي توګه نه برېښي. بلکې ځای په ځای شنه شوي دي. د ترنک د ناوې پلن والی شپېتو میلو ته رسېږي، په داسې حال کې چې د درې د لومړۍ برخې اوږدوالی چې ما بیان کړ، تر دې واټن لږ څه زیات دی. په دغه ناوه کې غلجایان مېشت دي.

د ارغنداب سیند د غلجیو د کلات له شمالي خوا غرونو څخه راوځي. له دغه سیند څخه تر هلمنده پورې یوه غرنۍ سیمه پرته ده، چې شمالي خوا یې د پاراپامیزین غرو ته رسېږي او د سویل لوری یې د کندهار عرض البلد سره نږدې پای ته رسېدلی دی. دغې سمې سویلي برخه شنډه او بې ثمره ده. په پاتې برخه کې یې چې د خاکریز، لام او ښایي ځینې نورې سیمې پکې شاملې وي، حاصل خېز میدانونه د غونډیو ترمنځ شته، چې بادام او نورې ونې پکې لیدل کېږي.

د کندهار شاوخوا سیمه ډېره حاصل خېزه او په ډېر لوړ کچ تر کرنې لاندې راغلې ده، خو لږ څه د کندهار سویل خوا ته د ځمکې حاصل خېزي کمه شوې او که له دې څخه د لویدیځ خوا ته نور هم ولاړ شو، نو د حاصل خیزي اندازه ډېره لږه کېږي. په دې ډول له کندهار څخه د هلمند سیند د کیڼې غاړې په لور بشپړه دښته مخې ته راځي. د هلمند سیند دواړه غاړې حاصل خیزې او سمسورې دي، چې د ګرمسیر سیمه یې منځ ته راوړې ده. د هلمند د ناوې ختیځ او لویدیځ حدود د بیدیا په واسطه احاطه شوي دي او د سویل خوا ته یې د سیستان سیمه پرته ده. په داسې حال کې چې د شمال خوا ته یې د درانیانو سیمه پرته ده، چې د ګرشک لاندې د هلمند په غاړو پراختیا مومي. دا سیمه او د ګرشک د شاوخوا ځمکې د هلمند له

Property of ACKU

سیند سره نږدې ډېرې حاصل خېزه ګڼل کېږي. د سیند له غاړې څخه لږ لیرې دا سیمه شګلنه ده، خو بیدیا شمېرل کېدای نه شي. د هلمند سیند په امتداد، پورته د هغه پر ښي غاړه د زمینداور سمسوره او شتمنه سیمه پرته ده، چې د شمال خوا ته یې د پاراپامیزین غرونه چاپېره شوي دي. دغه راز دغې سیمې په حدود کې په پاراپامیزین پورې تړلې ځینې غونډۍ هم لیدل کېږي. دغه ښه او سمسوره سیمه له هلمند څخه لویدیځ لور ته څلوېښت یا پنځوس میله لیرې والی غوره کوي. د زمینداور شمال لویدیځ خوا ته د پاراپامیزین غرو په تل کې د سیابند Seeahbund سیمه پرته ده. سره له دې، چې دا سیمه حاصل خېزه او په ښه توګه خړوبېدای شي، خو بیا هم په لږه اندازه کښت او کر پکې هم کېږي او په زیاته اندازه د ورشو لپاره کارول کېږي.

د سیابند په سویل لویدیځ او د فراه په ختیځ کې پرته سیمه کله، چې له غونډیو څخه لیرې کېږي، نو زیات وچ والی پیدا کوي او په همدې بڼه تر ډېرې اندازې دوام مومي، چې په بیدیا کې پای ته رسېږي.

فراه یو غوره ښارګی دی، چې د شاوخوا سیمه یې ډېره سمسوره او حاصل خېزه ده، خو دا ډول سمسورې ځمکې دومره زیاته پراختیا نه لري. له دې لامله پخپله فراه او د شمال او یا سویل خوا ته نورې سیمې یې د حاصل خیزۍ له پلوه داسې برېښي لکه چې د یوه بې ګټې او وچ ډاګ په منځ کې، چې سمسور ټاپوګان وي، سره له دې هم باید ووایو چې د فراه د سیمې دښتي ځمکه داسې نه ده، چې د حاصل خیزۍ توان نه لري. نو له دې امله که اوبه پیدا شي، نو تولیداتو لپاره ډېره چمتو بلل کېږي.

له فراه څخه شل میله شمال ته موږ یو لړ غرونه ولیدل، چې د پاروپامیزین له لړۍ څخه د پارسي خراسان په لور خواره شوي دي. ددغو غرونو په منځ کې د سبزوار یا اسفیزار Isfezaur (اوسنی شین ډنډ. ژباړن) سمسور میدان پروت دی. ددغه ځای د شاوخوا غرونه په ځنګلونو پټ لیدل کېږي.

مخکې له دې چې هرات ته ورسېږو، یوه داسې لغړه او برېنډه سیمه مخې ته راځي، چې د یوه ارت میدان په منځ کې پرته ده او شاوخوا یې جګو غرونو چاپېره کړې ده. ددغې سیمې حاصل خېزي په بېلو بېلو برخو کې توپیر مومي او په یوه شان نه څرګندېږي.

له سیابند او سبزوار څخه پرته په هغه ټوله سیمه کې چې له غلجي کلات څخه تر هرات پورې مې بیان کړه، درانیان مېشت دي (دا قبیله په پښتني قبیلو کې ستره قبیله شمېرل کېږي) ددغې لمنې د سویل خوا ته میلان لري. کندهار او د هغې

Property of ACKU

لویدیځ خوا ته ځمکې ددغې سیمې د پرې تیتې برخې جوړوي. په بله وینا د نوموړې سیمې پورتنۍ ځمکې (کندهار او لویدیځه برخه یې) د سلیمان د لړۍ له هغو ټولو ځایو څخه، چې د غرو لویدیځ ته مې بیان کړل، تیتې دي خو دا باید ووایو، چې کندهار او د هغې لویدیځه سیمه د سلیمان د غرو له ختیځ میدانو څخه ډېره جگه برېښي.

د غزنې شاوخوا ته په راستنېدو سره موږ ته دا راڅرگنده شوه، چې زرمل له سرفضې څخه د سلیمان د لړۍ د یوې څانگه غرو په واسطه بېله شوې ده.

سرفضه، اورگون او وانه داسې بیان شوي دي، چې د گومل لور ته په تدریج سره کښته کېږي یانې گومل ددغو ځایو سویلي خوا چاپېره کړې ده. دغه راز دا سیمې د سلیمان د غرو لویدیځ لور ته خورې شوي، چې د گومل سیند پاسنۍ برخې ته رسېږي. دا ځای ددغو سیمه لویدیځه پوله جوړوي. پورتنۍ درې سیمې د سلیمان د غرو د ښاخو په واسطه جلا شوي دي. دا سیمې د وړو میدانو په څېر د غرونو په منځ کې منځ ته راغلي او شاوخوا یې په ونو پټه شوې ده. دغه درې واړه ځایونه جگ او ساړه ملکونه دي، خو دا شرایط ددغو سیمو په سویلي برخو کې لږ لیدل کېږي.
سرفضه د غلجیو د کام د خروټو په قبیلې پورې اړه لري. دغه راز د اورگون د میدان یوه سویلي برخه د سیروبه Seroba په نامه هم د دوی په ځمکه کې راځي. پخپله په اورگون کې فورمولیان (یوه فارسي ژبې قبیله) مېشت دي. په وانه کې یوه افغاني قبیله د ستانیو په نامه اوسېږي. د وانه تر ټولو سیمه کې د ممې Mummye غرنۍ سیمه پرته ده، چې د غرو لمنې یې د گومل خوا ته کږې دي. د ممې له لویدیځ څخه هماغه لړۍ تېره شوې، چې د سرفضې له لویدیځ څخه اوړي، نو په دې ډول دا ښاخ ممې له آب ایستاده څخه په لویدیځ کې جلا کوي.

د ممې په سویلي غرو کې د اوزده Oozdeh کندور Coondoor او داسې نورې درې پرتې دي. دغه راز په دغه ځای کې دوچینه Doccheena تورکغز Turrukghuz او نور میدانونه شته، چې د گومل په لور ختیځ ته کښته شوي دي. ددغو میدانونو په لویدیځ کې یوه جگه سطحه پرته ده، چې د لویدیځ لور ته میلان لري. ددغې جگې سطحې شمال لویدیځه برخه د خواجه عمران په غرو باندې ټینگه ولاړه ده. دلته د کافرچاه صالح Sauleh یاسون Yesson سیوناډاگ Seeoona Daug او توبه په نوم سیمې موقعیت لري. د بورشور دره له دغې جگې سطحې څخه د پشین خوا ته راټیټه شوې ده. دغه راز دا ناوه د توبې په سویل کې هم تېرېږي. بورشور یوه حاصل خېزه ناوه ده، چې د لورا سیند یې اوبه کوي. د پشین سیمه ټیټه ده، خو تر کندهار یې جگوالی زیات دی، دا ځای یوه میداني



Property of ACKU

سیمه ده، چې دومره زیات حاصل خیزه شمېرل کېدای نه شي. د پشین سویل ته د شال سیمه موقعیت لري، چې له پشین څخه د تاکاتو Tukkatoo غرو په واسطه جلا شوې ده. دشال سیمه تر پشین لوړه، خو تر مستونګ Maostoong ټیټه څرګندېږي. مستونګ یو میدان دی، چې د کلات د جګې سطحې لاندې په لویدیځه خوا کې پروت دی. سره له دې، چې په شال کې زیات افغانان اوسېږي، بیا هم شال او مستونګ دواړه د کلات د بلوڅي سردار تر اداري لاندې دي. دا دواړه ځایونه ډېر حاصل خېزه دي، خو له شال څخه ځمکه ورو ورو د خارلاکي Khurlukee خوا ته هسکه شوې او کله چې غرو ته رسېږي، نو وچوالی مومي. د هوا وچوالی دا هم ثابتوي، چې دا سیمه سره له دې، چې د سویل خوا ته په سیستان باندې لوړه شوې ده، خو بیا هم دومره ډېر لوړوالی نه لري.

د خارلاکي او شال ترمنځ برنده سیمه د بیدو له دښتې یا د سپېره میدان په نامه یادېږي. زه دا ګومان کوم، چې ددغې دښتې او شال د غرو ختیځ خوا ته یو لړ دوام لرونکي غرونه دي، چې د څسوپر Tsupper او چري Chirry له لارې کند Kund ته رسېږي. ددغو غرو ختیځ ته مې یو لړ غرونه او غونډۍ بیان کړې، چې د سلیمان غرو په خوا د ختیځ لور ته خواره شوي دي. دا لړۍ د افغانستان د وروستي سویلي سرحد کرښه جوړه کړې ده. ددغو لړیو او وړیسې غرونو ترمنځ د زاوارې Zawureh ناوه او د تال جوتیالي Tul-Chooteealee پرته سیمه موقعیت لري. دا وروستۍ سیمې په یوه ډېر ارت ډاګ* چې د انډس په څېر له متې خاورې Chy څخه جوړ شوی دی، پرتې دي. زاواره تر تال جوتیالي نږدې ده، خو دواړه یې حاصل خیزې ګڼل کېږي. دلته د سپینو ترینو د قبیلې یوه پښه ژوند کوي، سپین، ترین، پشین هم په لاس کې لري.

ددغو سیمو په شمال کې د بوري Boree په نامه یو پراخه میدان، چې تر مخکینیو میدانونو ډېر ارت دی، موقعیت لري. د بوري Booree سیمه د یو ډول غونډیو په واسطه له مخکینۍ سیمې څخه جلا شوې ده، چې ډېرې اوبه لري او حاصل خېزه ده. دغه راز په شمال کې دغه میدان ځینو نورو غونډیو، چې ښایي د تاکاتو دوام وي، چاپېره کړې او له نورو وړو کم حاصله او ځېږو سیمو څخه یې جلا کوي.

ددغې سیمې په شمال کې د ژوب Zhobe ملک پروت دی، چې دا ملک د هغه نامتو سیند له پلوه، چې دا سیمه خړوبوي، سمسور شوی دی. ژوب یوه مختلف

---

* ډ.ګ په پښتو کې میدان ته وایي او سیونا د کاکړو د قبیلې یوه څانګه، چې په دغه میدان کې ژوند کوي



Property of ACKU

الشکله سیمه ده، چې ډول ډول ځایونه پکې لیدل کېږي. خو په عمومي توګه تر کرنې لاندې ده. د ژوب د سیمې ځینې برخې غرنۍ او یو شمېر غونډۍ هم لري. په داسې حال کې چې ځینې نورې یې سپېره میدانونه لري. د ژوب سیند د پاسه داسې میدانونه شته، چې د غز په ونو او بوټو پټ دي. د ژوب شمال لویدیځ خوا ته د خیسوري Khyssore. سیمه پرته ده، چې د یوې درې په څېر د هغو غونډیو لاندې، چې د سیمونا ډاګ جګه سطحه ټینګوي، څرګندېږي. د ژوب شمال ختیځه خوا د ګومل سیند لور ته خلاصه شوې ده، د ختیځ خوا ته یې د سلیمان غرو لاندې غرنۍ سیمه موقعیت لري، چې د هغې په وروستۍ شمالي برخه کې د شیراونیانو د قبیلې یوه څانګه د هارپپال Hurrepaul په نامه ژوند کوي. د هارپپالیانو لاندې د بابریانو یو ښاخ او بیا وروسته کاکړ اوسېږي. چې دا وروستۍ ډله په ځینو ځایونو کې له بلوچو سره ګډ دي. دا مې دمخه بیان کړه، چې د بوري او تال چوتیالي له کندهار سره یو شان جګوالی لري. له بوري وروسته سیمه ورو ورو د شمال خوا ته هسکه شوې او د ژوب د سیمې تر سرحد پورې دا حالت ساتي، خو وروسته بیا د ګومل سیند لور ته دا لوړوالی لږ شوی او سیمه ټیټېږي. د ګومل نرۍ ناوه سره له دې، چې د شاوخوا غرونو غونډیو په منځ کې ژوره برېښي، خو بیا هم د اندس له میدان څخه ډېره جګه ګڼل کېږي او د کندهار په پرتله هم لوړه بلل کېدای شي. د کاکړو د سیمې هغه برخې، چې غرو ته نږدې دي، په ختیځه او لویدیځه څنډه کې تر منځنۍ برخې جګې څرګندېږي، خو بیا هم زیاته ارتفاع د لویدیځې څنډې خوا ته لیدل کېدای شي.

* * *

Property of ACKU

# پینځم څپرکی

## د افغانستان اقلیم ـ باران

څرنگه چې په انگلستان کې وقفوي بارانونه د کال په اوږدو کې اوريږي او په زیاترو آسیایي هېوادونو کې هغه لیدل کېدای نه شي، نو ددغو ځایونو د اقلیمي حالت د کتنې او آزموینې لپاره لومړی مشخصه او ځانگړې لار دا ده، چې د فصل او موقوته یا نوبتي بارانونو کلنۍ اندازه وڅېړو. ددغه اورښت له لامله د کرنې چارې ترسره او په زیاترو هېوادونو کې د تودوخې درجه او د فصلونو بدلېدل په زیاته اندازه په دغو حالاتو پورې مخامخ اړه لري.

د یادونې وړ فصل هغه فصل دی، چې په هند کې د جنوب لویدیځ مونسون په نامه یادېږي. دا ډول مونسوني فصل له افریقا څخه د مالي تر ټاپو وزمې پورې پراختیا مومي. سویل لویدیځ مونسوني بارانونه د عرض البلد د ټاکلو کرښو په منځ کې پراته هېوادونه د کال په اوږدو کې د څلورو میاشتو لپاره تر لند بل لاندې راولي. په سویلي هند کې دا مونسون د جون په لومړي سر کې ښکاره کېږي، خو د شمال خوا ته یې پیل له دې نېټې څخه یو څه وروسته دی. ددغه مونسون نږدې کېدنه د وریځو له هغو خورو لړیو څخه جوتېږي، چې د هند له سمندر څخه جگېږي او د هېواد د شمال ختیځ لور ته مخ په وړاندې ځي او ځمکې ته، چې نږدې کېږي، نو پنډوالی او توروالی یې هم زیاتېږي. په دې ډول له یو څو گواښمنو وریځو څخه وروسته اسمان په ماښامیو کې یوه رڼوونکې څېره نیسي او په عمومي توگه د شپې له خوا مونسوني باران پیل کېږي. مونسون له سخت توپان او تندر سره یوځای څرگندېږي. ددغه حالت سختوالی د هغو کسانو لپاره، چې یواځې په معتدله سیمو کې یې هغه لیدلي وي، دومره زیات دی، چې تصور یې هم کولای نه شي. دغه مونسرن له سختو او تندو بادونو سره یوځای پیل او په نتیجه کې یې لوی سیلاوونه منځ ته راځي. د یو څو ساعتونو لپاره پرله پسې تالنده او برېښنا له



Property of ACKU

کومې وقفې پرته دوام مومي. تالنده کله کله یوازې اسمان رڼا او له افق سره نږدې وریځې ښکاره کوي، په ځینو وختونو کې بیا ډېرې لیرې غونډۍ جوتوي او د تالندې په کرارېدو سره بیا دا ټول شیان په تیارو کې ورکېږي. کله چې په یوه شپېه کې ناڅاپه بیا راڅرګندېږي، نو د پړک او پرله پسې روښنایي له امله یې د شاوخوا نږدې شیان د رڼا ورځې په څېر ښکاره کېږي. په دغه ټوله موده کې د شاوخوا لیرې ځایونو د تالندې غرهار غوږو ته راځي او هېڅکله نه درېږي، یوازې هغه وخت چې په نږدې ځای یوه ناڅاپي تالنده او برېښنا ولګېږي، نو د لرې ځایونو د تالندې غرهار د یوې لنډې شېبې لپاره ورک کوي. د نږدې ځایو تالنده دومره ستر غږ لري، چې ان ډېر بې حسه زړه هم په نادره توګه د هغه له وېرې څخه نه خلاصېږي.* بالاخره تالنده او تندر توقف مومي او هېڅ شی نه اورېدل کېږي. یوازې پرله پسې بارانونه او د ډکو سیندونو اوبه دوام مومي. بله ورځ یې بیا یوه خواشیني کوونکې تتنداره وي، د باران اوبه لا هم ه توندۍ د ځمکې مخ ته راکښته کېږي او د شنو او ښېرازو کروندو مخ له نظره پټوي.

د سیندونو اوبه زیاتې او خړې ګرځي او د خپل بهیر په اوږدو کې ټول جارګي، څپري او د کروندو هغه پاتې خاشې، چې د سیند په تل کې د وچ موسم په جریان کې ترې پاتې وي، له ځان سره وړي او بل ځای ته وړي.

دا حالت تر څو ورځو پورې جاري وي، چې وروسته بیا آسمان شین کېږي او طبیعت خپل مخ ښکاره کوي او داسې برېښي لکه چې په کومو کوډو او جادو سره دا حالت راغلی وي، له مونسوني توپانو څخه مخکې د سیندونو له تل څخه پرته د بوټو پاڼې په ندرت سره لیدل کېدای شي. د آسمان شین والی نه یوازې د یوې ټوټې وریځې له امله ګډوډېږي، بلکې هوا له ګرد څخه ډکه وي، چې دا حالت پخپله د لرې شیانو د لیدلو د خړ پړتیا لپاره کافي دی او لمر، چې په اسمان کې ښه پورته شوی نه وي، تر هغو داسې تت او بې رنګه برېښي لکه چې په مخ یې خړې پرتې وي. ورپسې داسې تود او سوځنده تند باد د بټۍ د تاو په څېر الوځي او په خپل بهیر او تګلوري کې هر شی لکه لرګی، اوسپنه او نور جامد مواد (سخت شیان) تودوي ان په سیوري کې هم په همدغه شان تودوالی چلېږي. دغه راز له مونسون څخه لږ

* هغه خلک چې زیاته موده یې په هند کې ژوند کړی وي، ددغو تالندو او تندر عظمت هم ورته لږ کېږي او ورسره عادت نیسي، خو سره له دې هم کله کله د تالندې غږ دومره اوچت شي، چې د اري اوسېدونکیو زړونه هم لړزوي او پرته له اغېزې څخه یې نه پرېږدي. ماته یوه ښاغلي چې څه موده مالا بار کې و (یو ولایت دی، چې په هغه کې د تالندې سختوالی او د مونسون توندوالی تر نورو ځایونو خاص امتیاز لري) داسې وویل، چې د تندر او تالندې یوې ګړپا د یو زیات شمېر افسرانو چوپتیا د یوې شېبې لپاره منځ ته راوړه او د دوی د ډلې د زیاترو رنګونه زېړ اوښتي وو.



Property of ACKU

منځکې ددغو تودو بادونو پر ځای یوه دوپجنه او آرامه هوا رامنځ ته کېږي، خو کله چې د توپان لومړنی تودندوالی پای ته ورسېږي، نو په دغه وخت کې د ټولې ځمکې مخ ناڅاپه په شنو وښو او پستو مرغو پټېږي. سیندونه ډک او په کراره خپل تګلوري ته دوام ورکوي، هوا چڼ او په زړه پورې وي، آسمان بل ډول او مخ یې په وریځو سینګار شوی برېښي. ددغه بدلون او اوښتون اغېزې د ټولو ساکښو موجوداتو په زیږونه کې څرګندې وي. دغه حالت په اروپا کې یواځې داسې تصور کېدای شي لکه چې د سخت ژمي په منځ کې ناڅاپه د پسرلي تازه هوا وچلېږي او هرڅه په ځلېدونکې توګه ډګر ته راوځي. له دغه وخت وروسته د باران اورښت لږ او په وقفوي توګه وي او دا حالت تر یوې میاشتې دوام کوي. له یوې میاشتې وروسته باران بیا په خورا زور سره پیل او د جولای په میاشت کې تر آخرې اندازې پورې سخت والی مومي.

د دریمې میاشتې په اوږدو کې بیا د لږېدو خوا ته درومي. خو سره له دې هم باران په ښه قوت سره اورېږي. په سپتمبر کې اورښت په پرله پسې توګه له منځه ځي او ددغې میاشتې په پای کې بیخي درېږي. په دغه وخت کې باران له تندر او تالندې څخه پرته په معتدله توګه ځمکې ته راځي.

د هند په زیاترو برخو کې مونسون دغه حالت لري، سره له دې هم یو څه توپیر پکې لیدل کېدای شي، لوی توپیر د مونسون د پیل وروسته کېدل او د باران د اورښت د اندازې لږوالی دی. چې له سمندر نه مخ په وچه راکوزېږي. هغه سیمې، چې زموږ د اوسنی څېړنې موضوع ګرځېدلې ده، د مونسون له هوا څخه د هند په نسبت لږه استفاده کوي او د سمندر هوا پکې په هماغه قوت نه چلېږي، نو له دې لامله اغېزې یې په لږ ځایو کې لکه کندهار دومره لیدل کېدای نه شي. له دغې قاعدې څخه یواځې د افغانستان وروستی شمال ختیځه څنډه سوا ګڼل کېدای نه شي او ددغې هېواد په دغه ځای، چې له سمندر څخه ډېر لرې پروت دی، د مونسوني هوا آغېزې د هندوستان په څېر شمېرل کېږي او په فوق العاده توګه له ختیځ څخه ځان دلته له یوه اوږده واټن وروسته رارسوي، چې له سمندر څخه دا فاصله د کندهار په پرتله زیاته ده. د مونسون په برخه کې دا ډول بې قاعده ګي او ګډوډي په لاندې کرښو کې څرګندولای شو. داسې لیدل کېږي کله چې وریځې د هند د سمندر د اوبو له براسه منځ ته راشي، نو د سویل لویدیځو بادو له لامله د ځمکې پر مخ حرکت کوي، د کابل سلطنت زیاته برخه په هغه برخه کې پرته ده، چې د افریقا او عربستان د وچو بادو (لیورد) تګلوری له هغه څخه اوړي، یواځې دا بادونه د نرې سمندرګي (د عربو سمندرګي) تبخیرونه ددغه هېواد (افغانستان) سویلي ساحلي سیمو ته د

Property of ACKU

عربستان د سویلي کرښو په څېر رسېږي، چې ساحه یې ډېره وړه او د سمندر د ساحل تر شا ډېر ژر له منځه ځي یا دا چې د سمندر له ګاونډیتوب څخه نه اوړي. هند د افریقا د پناه تر شا د ختیځ لور ته لرې پروت او مونسوني بادونه په پراخه پیمانه بې له خنډه د هغه د خاورې په مخ چلېږي. مونسوني اغېزې په طبیعي ډول د سمندر له ساحلي سیمو سره نږدې ډېرې زیاتې وي، له دغه ځای وروسته د مونسوني اوربښت پراخه لمن د ځمکې په مخ خوره او ټول لندبل له یوه اوږده واټن وروسته له لاسه ورکوي. په بله وینا د مونسون لندې کتلې د ځمکې په مخ د پرلپسې اوږدې فاصلې تر وهلو وروسته ځای په ځای د بارانو سبب ګرځي، نو په دې ډول یې لندبل کمېږي. له دغې څرګندونې دا نتیجه اخلو، چې د مونسوني اوربښتونو اغېزې په ټولو هېوادونو کې له سمندر څخه په نږدې والي یا لرې والي پورې اړه لري. په دغه برخه کې یوائې جګ غرونه مستثنی ګڼل کېدای شي، ځکه لوړې برخې او غرونه د وریځو ټوټې ځان ته راکاږي او د هغو د اوبو زیاته اندازه د باران په څېر استحصالوي، چې په دې ترتیب غرونه د شاوخوا ځمکې لپاره پرېمانه اوبه چمتو کوي یانې که په عادي توګه مونسوني وریځې له یوې سیمې څخه واوړي، نو دومره د اوربښت سبب نه ګرځي لکه په غرنیو سیمو کې چې د خپلو اوبو زیاته اندازه له لاسه ورکوي.

د وریځو یا بادونو په مخ کې غرونه داسې یو خنډ اچوي، چې د زیاتې پاملرنې او کتنې وړ شمېرل کېدای شي. سویل لویدیځ مونسون د سمندر دپاسه خپل طبیعي مسیر تعقیبوي، سره له دې چې ځمکې ته له رسېدو نه وروسته ددغه مونسوني بهیر بدلېږي، خو په هند کې د هغو عمومي لوری داسې برېښي، چې د شمال ختیځ خوا ته میلان پیدا کوي. په دې توګه دا مونسوني کتلې ددغه ټاپو وزمې (هند) په منځنیو او لویدیځو برخو کې خپل لندبل تشوي. هغه ولایت چې د هند په شمال ختیځ کې دی له مونسوني اوربښت څخه په ځانګړې توګه استفاده کوي. هغه بادونه، چې مونسوني اوربښتونه د هند دغې برخې ته رسوي، لومړی د سویل لویدیځ* لارې د بنګال د خلیج په مخ وچې ته راځي او خپل مسیر ته تر هغو دوام ورکوي، چې د همالیا او یا هغه غرونه چې ددغو سترو غرو په سویل کې پراته دي، د هغه مخه نیسي او مخه یې د شمال لویدیځ لور ته ګرځوي. نو له دې لامله د همالیا په سویل لویدیځه پورتنۍ سیمه کې د دا ډول بادونو چلېدل اصلاً له سویل ختیځ څخه ګڼل کېږي او دا له هماغه لوري نه دي، چې په بنګال کې زموږ د واکمنۍ

* د سویل لویدیځو بادونو د منځ ته راتلو لامل یوجلا بحث غواړي او زما له موضوع سره، چې د کابل د سلطنت د اوړنیو بارانونو بیان دی، اړیکې نه لري. ددغه مقصد لپاره دومره باید ووایم، چې ددغه باد د چلېدو ساحه تر هغه حده چې یې غواړو، په عمومي توګه ښودل شوې ده.



Property of ACKU

ایالتونه، خپل بارانونه ورڅخه اخلي، خو کله چې دا بادونه ډېرې لرې سویل لویدیځې برخې ته ورسېږي، نو د هندوکش غرونه یې مخې ته راځي. دلته یې مخه یو ځل بیا دغه غرونه نیسي او ددې غرونو د مسیر په اوږدو کې لویدیځ لوري ته تر هغې پورې ځي، چې د هندوکش د وتلې برخې (Projection) او د سلیمان له لړیو سره مخامخ کېږي او هغه لوري ته یې د وړاندې تللو مخه نیسي او یا کم تر کمه هغه وربځې ترې ستنوي، چې له ځانه سره یې رااخیستې وي.

ددغو مونسوني بادونو دړول په غرنیو سیمو کې، چې ورسره د وریځو کتلې یوځای لېږدول کېږي، پر بېلو بېلو سیمو جلا اغېزې شیندي. له سمندر سره نږدې، چې د وریځو تودې ډېرې پنډې او زیاتې اوبه لري، نو یوه برخه رطوبت یې له سمندر سره نږدې غونډیو او شاوخوا ځمکو کې کښته کېږي او یوه نوره برخه یې د شمال لویدیځ خوا ته خپله لمن پراخوي، خو یوه برخه چې له لومړنیو غونډیو او غرونو (همالیا) څخه واوړي، سملاسي د تبت خوا ته ځان رسوي او هلته د باران د اوږېدو سبب گرځي. د کشمیر په عرض البلد کې چې وریځې په زیات ډول تشې شوې وي، دا وروستی اورښت ډېر لږ اغېزمن لیدل کېږي. په دې ډول هغه لږې وریځې، چې له سویل ختیځ څخه د شمال لویدیځ پر لور ته ځانونه رسوي، د اوبو یوه برخه یې د همالیا د غرنۍ سیمې سویلي غونډۍ او لمنې ځان ته راکاږي او یو څه یې د افغانستان په لور خپل تگ ته دوام ورکوي، چې په کمه اندازه ددغه هېواد غرنیو سیمو په تېره بیا د کشمیر ناوې ته رسېږي. هغه مرطوبې کتلې، چې د افغانستان غرنیو سیمو ته ځانونه رسوي، د پرله پسې اشباع له امله یې اوبه تشې او ددغه هېواد غرنیو برخو ته یې یوه کمه اندازه اوبه پاتې کېږي، چې په دې ډول یوازې د غرنۍ سیمې اوبه چمتو کوي او د غرونو په تل کې پرتو سیمو ته یې دومره اغېزې رسېدلای نه شي.

پورتنۍ څرگندونې ښايي دغه لاندیني حقایق وڅېړي او یا لږ تر لږه په دغو حقایقو ته اړیکه وښيي: د مالا بار په ساحل کې سویل لویدیځ مونسون د مې په میاشت کې پیل کېږي او هلته ډېر تونډ وي، خو وروسته د میسور Mysore په برخه کې ډېر (معتدل) برېښي او د کرومندل ساحل، چې لویدیځې غاړې یې غرنیو سیمو نیولې دي، له دغه مونسوني هوا څخه تر ډېرې اندازې بې برخې گڼل کېږي. له دغه ځایونو څخه د شمال خوا ته مونسون د جون په لومړنیو ورځو کې پیل کېږي او دلته یې لوندوالی تر ډېرې اندازې لږ شوی وي، یوازې په هغو ځایونو کې چې ورسره نږدې غرونه پراته وي او یا سمندرگی ورته څرمه موقعیت ولري، تونډوالی یې هماغسې زیات وي او په دغو ځایونو کې د اورښت اندازه ډېره لوړه او په زیات



Property of ACKU

مقدار سره اوبه ځمکې ته رسېږي. له ډيلي سره نږدې دا مونسوني هوا د جون تر پايه پورې نه لګېږي، دغه راز دلته د اورښت اندازه تر کلکتې او بمبيې پورې ډېره کښته ده. د پنجاب په شمال کې له غونډيو او غرونو سره نږدې اورښت زيات او د ډيلي په پرتله ډېر برېښي، خو د پنجاب سويلي برخه چې له سمندر او يا شمال غرونو څخه ليرې ده، ډېر لږ باران پکې اورېږي. هغه سيمې، چې د کشمير لاندې پرتې دي او يا دا چې د هندوکش د کوږوالي يا راوتلې برخې په تل کې (پخلى Pukhlee بونير او سوات) موقعيت لري، ټولې له دغه بارانونو څخه خپله ونډه ترلاسه کوي. له دغو ځايونو څخه وروسته د لويديځ په لور د اورښت اندازه کمېږي، په سوات کې د اورښت موده يوې مياشتې ته راټيټېږي، چې په دغه موده کې وريځې او بارانونه په وقفوي توګه دوام مومي. په همدغه مياشت کې (د جولاى د مياشتې په وروستۍ برخه او د اګست په پيل کې) مونسوني هوا په پېښور، بنګښو او د خټکو سيمو کې وريځې او بارانونه منځ ته راوړي. دغه ډول اغېزې د کابل سيند په ناوه کې ډېرې لږې حس کېږي او د لغمان تر شا هغې خوا نه دومره پراختيا نه مومي، خو په باجوړ، پنجکوړه (د هندوکش د سويلي کوږوالي يا راوتلې برخې لاندې برخه) د کافرو په سيمه کې، چې د سويلي کوږوالي يا راوتلې برخې په سر پرته ده او تيرا کې چې د تخت سليمان په کنج او د دغې سلسلې په ختيځو ښاخو کې موقعيت لري. د سويل لويديځ مونسون اغېزې ډېرې ژورې او د کالني اورښت زياته اندازه هم په دغه مونسون پورې تړلې ده. په دغه مرطوب فصل کې د ځائيو او توريو په سيمه کې هم اورښت د هغو ګرد بادو له لامله، چې د شمال له لوري راځي، صورت نيسي، خو زه پوره معلومات نه لرم، چې ايا هغه اورښت نه چې په بنو او د هغې په شاوخوا سيمو کې اورېږي، د همدغو ګرد بادونو نتيجه ده يا دا چې د سويل لويديځ مونسون منظمې او مخامخ اغېزې دي. د بشپړ او منظم مونسون اغېزې د لويديځ خوا ته د مکران تر وروستي سرحده پورې ليدل کېداى شي، خو دا به دومره اسان نه وي، چې ددغه مونسون شمال لويديځ لوري اغېزې په ژوره او رښتيانۍ توګه وټاکل شي. زه د هغې کرښې تر شا چې د کلات د جګې سطحې شورابک، پښين او ژوب د سيمو له شمالي برخو څخه د کرمې درياب سرچينې پورې اوړي، معلومات نه لرم او نشم کولاى چې د مونسون اغېزې دلته بيان کړم. سره له دې دا بايد ووايم، چې ددغې کرښې په سويل لويديځه برخه کې د مونسوني اورښت اندازه په بېلو بېلو سيمو کې توپير مومي. د کښتني سند دپاسه مونسوني وريځې په لږ خنډ سره اوړي، خو دا مونسوني مرطوبې کتلې په پاسنۍ سند او د دامان په سيمه کې د زيات اورښت سبب ګرځي. سره له دې دا بارانونه ددغو ځايونو کلنۍ

Property of ACKU

غوره او درانده بارانونه شمېرل کېدای نه شي. په مکران ولس کې له سمندري ساحل سره نږدې مونسوني ورېځې د غرونو د موجوديت له لامله ټکنی کېږي، نو په دې ډول په دغو سيمو کې د هند په شان د زيات باران او اورښت لامل کېږي. په سيستان کې ښايي د مونسوني اورښت اندازه د پاسني سند او دامان په شان وي. په بوري کې يواځې يوه مياشت ورېځې او باراني هوا ليدل کېدای شي. ښايي په ژوب کې دا ډول شرايط لږ وي. دغه شان امکان لري، چې ددغې کرښې په اوږدو کې يواځې لږ څه باران ووريږي، خو کله چې موږ له دغه ځای څخه د شمال خوا ته پرمخ ولاړ شو، نو د اورښت اندازه ډېره لږه او هغه هم په وقفوي توګه سره وي[۱].

د بارانونو دويم پړاو په ژمي کې پيل کېږي، خو په دغه وخت کې د اورښت بڼه يواځې د باران په څېر نه وي، بلکې کېدای شي چې د واورې شکل هم ولري، چې دا د سيمې د تودوخې په درجې پورې تړلې ده. که هوا توده وي، باران او که سړه وي، نو واوره په کې اورېږي. ژمني اورښتونه د اندس په ټولو لويديځو سيمو تر هلسپونت (Hellespont) پورې صورت نيسي. دا ډول بارانونه او يا واورې د سويل لويديځ مونسون په پرتله کرنې ته ډېر اهميت لري. يواځې په ځينو خاصو سيمو کې په استثنايي توګه د مونسون په پرتله غوره نه برېښي. په رښتيا د هغو سيمو لپاره، چې زه به يې يادې کړم دغه فصل د زيات اهميت وړ شمېرل کېدای شي ان په دغه فصل کې ژمني اورښتونه په هند کې هم څرګندېږي، خو يواځې کرسمس ته نږدې دوې يا درې ورځې جريان مومي ښايي په هند کې دغه ژمني اورښتونه د کرنې لپاره ګټور وي، خو تل په هغو باندې اتکا نه شي کېدای.

په هغو ځايونو کې چې د ژمي اورښت د واورې په څېر وي، نو دا حالت د کرنې لپاره ډېر زيات د اهميت وړ ګڼل کېدای شي، خو په هغو سيمو کې چې د باران په دود وي، نو له پسرلنيو بارانونو څخه يې ارزښت ډېر ټيټ وي. د پسرلني اورښت د اندازې لږوالی د اوږدو وخت د مناسب والي له پلوه جبران کېږي.

پسرلني اورښتونه په بېلو بېلو وختونو کې ديوې ټاکلې مودې لپاره پايښت مومي لکه په ځينو سيمو کې چې پينځه لس ورځې او په ځينو نورو برخو کې تر يوې مياشتې ليدل کېدای شي. پسرلني بارانونه افغانستان، ترکستان او ټولې هغه سيمې نيسي، چې زه به يې هرومرو يادې کړم. د هند په زياترو برخو کې همدغه ډول بارانونه په همدې فصل کې اورېږي، چې د يوې مودې لپاره د تودو بادونو

---

[۱] زه هيله کوم، چې پورتني ورکړل شوي معلومات به سمه بڼه ولري، خو زه ددغې تيوري پلوی نه يم. که چېرې ما دا فکر کړی نه وای، چې دا معلومات له حقايقو سره اړخ لګوي، نو د هغه له ښکاره کولو څخه به مې ډډه کړې وای.

Property of ACKU

مخنیوی کوي. خو د دغو اوربښتونو اغیزې په کرنه کې ډېرې لږې دي. په نورو ټولو سیمو کې پسرلني بارانونه د کرنې په برخه کې د ډېر غوره اهمیت وړ شمېرل کېږي، ځکه دا اوربښتونه په داسې وخت کې پیلیږي، چې زیاتره زراعتي نباتات د ځمکې په مخ یوې ټاکلې نمو ته رسېدلې وي. داسې ویل کېږي، چې ژمني او پسرلني اوربښتونه دواړه له لویدیځ څخه دغو سیمو ته رارسېږي.

د افغانستان اقلیم په ټولو برخو کې یو شان نه دی او له یوې سیمې څخه و بلې سیمې ته په فوق العاده توګه توپیر مومي. دغه اختلاف تر یوې اندازې د عرض البلد په توپیر پورې اړه لري. د سیمو ترمنځ اقلیمي تغییر او توپیر ډېر زیات د لوړوالي په بیلو بیلو اندازو پورې اړه لري یانې د ارتفاع له تغییر سره سم اقلیم هم بدلون پیدا کوي. دغه راز په دغه هېواد کې د بادونو چلېدل هم په اقلیم باندې ډېرې غوره اغېزې ښیندي. ځینې بادونه د واورې لرونکیو غرونو په مخ لګېږي، ځینې نور د اوړي په فصل کې تودوالی او په ژمي کې سوړوالی مومي. کله چې دوی د بیدیاو و یا له ډېرو سترو وچو سیمو څخه تېرېږي، نو په اوړي کې دلته د ځینو سیمو هوا د نورو مرطوبو ملکونو د وږمو په واسطه تازه کوي، خو ځینې سیمې په تېره بیا هغه ځایونه، چې شاوخوا یې غونډۍ پرتې وي، له دغو بادونو څخه بې برخې ګڼل کېدای شي.

زه به لومړی د پېښور د سیمې تودوخه بیان کړم، ځکه له دغه ځای سره د افغانستان د نورو ځایونو په مقایسه اشنایي لرم. کله چې د پېښور اقلیم وڅېړل شي، نو له هغه څخه به د یوه معیار په څېر د دغه هېواد د نورو په اړه استفاده وکړم او د دغې سیمې آب و هوا به د افغانستان له پاتو برخو سره پرتله کړم.

پېښور په هوار او ټیټ میدان کې پروت او له ختیځ څخه پرته په نورو ټولو خواوو کې یې غونډۍ او غرونه لیدل کېږي، نو له دې لامله هوا یې ډېره دوپه او محصوره ده او تودوخه په زیاته اندازه جګېږي. د ۱۸۰۹ کال په اوړي کې، چې یو پوست او نرم اوړی ګڼل کېده، د تودوخې درجه په یوه لویه خېمه کې چې په مصنوعي توګه یو څه سړه شوې وه، د فارنهایټ ۱۱۲ یا ۱۱۳ درجو ته جګه ختلې وه، چې دا تودوخه د هند د ډېرو تودو سیمو غونډې لوړه ده. د پېښور د اوړي تودوخه د هند په څېر دوامداره نه وي، بلکې ورپسې د ساړه ژمي په راتلو سره سملاسي دا حالت تغییر کوي او هوا ډېره راکښته کېږي. لاندینی بیان په پېښور کې د فصلونو یو بل پسې راتګ څرګندوي.

زموږ هیئت د ۱۸۰۹ کال د فبرورۍ د میاشتې په ۲۳مه نېټه د پېښور میداني سیمې ته راننوت. په دغه وخت کې د شپې هوا سړه وه، خو د ورځې تودوخه ډېره په

زړه پورې او منونکې ګڼل کېدله او زیاته توده نه وه. په لمر یا د شپې او ورځې په هره برخه کې یې ښې اغېزې درلودې. د مارچ د میاشتې تر اتمې نېټې پورې سهار به هرومرو د ځمکې مخ سپین بخنې برخې او یخ نیولي وو، خو ددغې میاشتې په نیمايي کې د لمر وړانګې د سهار په اتو بجو کې په زړه پورې نه وې او ناوړه لګېدلې. تر دې وروسته هوا ورو ورو مخ په تودېدو شوه او د لمر تودوالی ډېرې جګې اندازې ته ورسېد، خو د پرله پسې اورښتونو له امله هوا ډېره تازه کېدله او د مې د میاشتې تر لومړۍ هفتې پورې دا حالت جاري و یانې سیوري ښه په زړه پورې ساړه او هوا د باران له امله چڼ والی څرګنداوه. د مې د میاشتې له لومړۍ اونۍ وروسته هوا ډېره ګرمه او ان بادونه هم په همدغه شان تاوده شول. پېښور ته زموږ په رسېدو سره پسرلنیو بوټو د تېر کال په وچو وښو کې په شنه کېدو پیل کړی و، په دغه وخت کې ځینو مخکې شنه کېدونکیو ونو غوټۍ کړې وې، خو زیاتې پاڼې تویېدونکې ونې تراوسه پورې لوڅې او له پاڼو څخه برېنډې برېښېدلې. دغه شان د پسرلي نږدې کېدل هم ډېر په بېړه راروان وو. د مارچ د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې د شفتالو او الوچو د ونو غوټیو په سرلو شروع کړې وه، منې، بهي او د توتانو ونو د مارچ د میاشتې په دویمه اونۍ کې غوټۍ نیولي وې. ددغې میاشتې د پای ته رسېدو نه مخکې ټولو ونو په بشپړه اندازه پاڼې کړې وې. د اپریل په لومړیو وختو کې اورېشو وږي ایستلي او د مې د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې یې رېبل پیل کېدل. تر دغه وخت وروسته تودوخه زیاته شوه او ډېر ځله به ډېر سختې اندازې ته اوچته شوه. د جون د میاشتې تر لومړیو وختو پورې نه یوازې ورځ، بلکې شپه هم ډېره توده وه. ددغې میاشتې په اوږدو کې د شمال لویدیځ تاوده بادونه د یوې داسې سړې هوا په واسطه بدل شول، چې په سهار کې به د یخنۍ له پلوه ناارامه فضا غوړېدلې وه، خو د ورځې په جریان کې ډېره په زړه پورې شمېرل کېدله. د هوا سوړوالی دومره زیات دوامدار پاتې نه شو او د جون تر درویشتمې نېټې پورې، چې موږ له اندس څخه تېرېدلو، تودوخه ډېر زیات جګوالي ته ورسېدله. د پېښور په پرته او اواره میداني سیمه کې تر وروستۍ ورځې پورې ډېر سخت تاوده بادونه له سویل څخه دغې سیمې ته چلېدل، د پېښور له میدان څخه د وتلو نه مخکې. بادونو سمت له سویل څخه د شمال ختیځ لور ته واوښت او هوا ددغو بادونو په پیل کېدو سره په زړه پورې توګه سړه شوه. له دغه وخت وروسته موږ په دې پوه شو، چې د جولای د میاشتې تر نیمايي پورې به هوا مخ په تودوالي لاړه شي. تر دغې نېټې وروسته له ختیځ لوري څخه ساړه بادونه پیل او وربښي سړه هوا او وریځې راڅرګندې شوې. د سپتمبر د میاشتې د وروستۍ نیمايي برخې هوا

Property of ACKU

داسې سره غونډې شوه، چې په ژمي کې یې ګڼل بې ځایه نه دي او وروسته نور میاشتې پرلپسې سړې شوې او تر فبرورۍ پورې دغه حالت دوام وکړ. ان په ژمي کې دومره زیات دوامداره ساړه نه و، سره له دې چې په دغه وخت کې به د شپې او یا په سهار کې کنګل او پرخه د ځمکې په مخ برېښېدله، خو بیا هم د لمر په راختلو او لږ څه جګېدو سره به له منځه تلل او واوره یوازې د یو سپین ږیري په یاد راتلله، چې دلته کوم وخت ورېدلې وه. د ځینو هندي بوټو او نباتاتو پاڼې د ټول کال په اوږدو کې شنې پاتې کېږي. څرنګه چې زما استوګنځی لیرې دی، نو نشم کولای چې د هیئت د شاغلیو ورځني یادداشتونه، چې د ترمامیتر په واسطه یې ثبت کړي، لاس ته راوړم خو یوازې داسې تصور کوم، چې ددغه ځای (پېښور) ډېره لوړه تودوخه په سیوري کې د فارنهایټ ۱۲۰ درجې او ډېره ټیټه درجه یې په کال کې ۲۵ درجو ته راکښته کېږي. دا باید ووایو، چې د ۱۸۰۹ کال اوړی په دغه ځای کې ډېر سوړ ګڼل شوی دی، نو زه فکر کوم، چې له شکه پرته به د پېښور هر کال هوا په اوړي کې تر هندوستان معتدله وي، په داسې حال کې چې ددغه ځای ژمی ډېر زیات سوړ دی. هغه زړه نظریه، چې ما ته د پېښور او هند د اقلیم له پرتله کولو څخه لاس ته راغله، هېڅکله هغه سړي ته چې د افغانستان واکمنۍ د لویدیځې برخې سړې هوا سره روږدی وي، نه څرګندېږي. د کابل او کندهار هغه آري اوسېدونکي، چې له پاچا سره پېښور کې وو، ټولو په ګډه له زغم څخه زیاتې تودوخې په مقابل کې فریادونه او کوکې کولې. دوی په دې لړ کې ځینو نور شعرونه، ټوکې او متلونه راخیستلي وو، خو ددغې سیمې د هوا په اړه ناوړه نظر هغه ته ورسوي.

د افغانستان د نورو سیمو تودوخه ددغه هېواد په شمالي برخو کې د ارتفاعاتو د توپیر او شرایطو له امله په متفاوته توګه ګڼل کېدای شي یعنې د سیمو د ارتفاع د بدلون له پلوه د هرې سیمې هوا جلا بڼه لري او له بلې سیمې څخه توپیر مومي. د ټیټو برخو هوا توده ده، منځنۍ ارتفاع لرونکې سیمې معتدله هوا لري او د جګو سیمو اقلیم سوړ دی، خو په عمومي توګه ویلای شو چې د افغانستان اب و هوا د هند په څېر دومره زیاته توده او د انګلستان په شان دومره سړه نه ده.

د تودوخې ډېره لوړه او ډېره ټیټه اندازه د لغمان د اقلیمي څېړنې په برخه کې، چې د پېښور لویدیځ ته پروت دی، څرګندېدای شي. د کابل د سلطنت په ټولو برخو کې ددغه ځای په شان اقلیمي تغییرات نشته، ځکه د تودوخې دا ډول تغییرات په یوه وړه ساحه کې د زیاتې هېښتیا وړ برېښي. په تېره بیا د هغې سیمې (پېښور) په پرتله، چې ما د نمونې لپاره ټاکلې وه؛ ډېر توپیر څرګندوي. د اوړي د فصل د زیاتې تودوخې په وخت کې د جلال اباد میداني سیمه له زغم څخه بهر دوبجنه او

Property of ACKU

توده وي، نو په دغه وخت کې سپین غر خپل سر پورته کوي او د دایمي واورو تاج یې په سر وي. د جلال اباد له میداني سیمې څخه لږ څه د شمال خوا ته ډېرې نږدې غونډۍ په دغه وخت کې سړې دي او ډېرې لیرې یې په واورو پټې دي. د لغمان په لویدیځ کې د کابل جگه سطحه له ساړه اقلیم څخه خوند اخلي او د پاسته اوړي له امله یې په مخ وابښه شنه شوي وي. د هوا دا ډول توپیرونه د هغو مساپرینو او سیلانیانو لپاره، چې د یو ډول هوا درلودونکې سیمې څخه راغلي وي، د هیښتیا یوه پخه او غوره موضوع جوړوي. امپراتور بابر د کابل ختیځ ته د خپل لومړي سفر په اړه د تبصرې په ترڅ کې هغه ناڅاپي بدلون، چې په ده باندې یې ډېره اغېزه وکړه، په لاند ډول داسې بیان کړی دی. دی وایي:

«ما دمخه تاوده اقلیمونه او یا هندي سیمه لیدلې نه وه. کله چې زه غاښي ته ورسېدم، نو ما بله دنیا ولیده. بوټي، ونې، مرغان، ژوي او د قبیلو خلک ټول راته نوي وو! زه هیښ پاتې شوم.»

د برو درانیو د سیمې سویل خوا ته په راگرځېدو سره د بنو سیمه برېښي، چې د پېښور په څېر توده ده. د اسحق خېلو سیمه بنایي تر دې هم توده وي، خوست او د دووړ سیمې چې تر بنو هسکې دي، نو هوا یې نسبتاً سړه معلومېږي.

د مروتو سیمه سره له دې، چې له غونډیو او میدانونو څخه منځ ته راځي بیا هم ټوله په یوه شان توده گڼل کېدای شي. ددغه ځای میدانونه تقریباً ډېر تاوده دي او د اوړي د تودوخې له امله چاود شوي څرگندېږي. د لاړگي Largee سیمه د جنورۍ په میاشت له سوړوالي څخه بې برخې وه.

د دامان ځمکې ډېر په زړه پورې او د هندوستان تر هرې برخې سوړ دی. په دغه وخت کې دلته به سهار کې کنگل او پرخه معمولاً پرته وي. په ۱۸۰۹ کال کې ترمامیتر ددغه ځای هوا په ژمي کې د سپیده چاودې په وخت کې د یخ نیولو له نقطې څخه یو څه لاندې درجې ښودلې. د دامان اوړی ډېر تود او له زغم څخه جگ گڼل کېږي. ما د دامان له خلکو څخه اورېدلي، چې دوی په هند کې هېڅکله د دامان په څېر ناوړه هوا حس کړې نه ده. دلته د شپې د تودوخې درجه تر ورځې یو څه کښته وي، د دامان اوسېدونکي له ویده کېدو څخه مخکې مجبور دي، چې خپل کالي په اوبو لانده کړي. دغه راز تر خپل اړخ د اوبو یو لوی لوښی کېږدي، چې د شپې په اوږدو کې د تندې له امله په کړاو اخته نه شي. د سلیمان د غرنیو سیمو هوا د ارتفاع په تغییر سره توپیر مومي. دا سیمې په عمومي توگه سړې دي، خو دا حالت د شمال خوا ته ډېر نه لیدل کېږي. د موازي لړیو ترمنځ پرتې سیمې تر دامان نه څه سړې دي د سند تودوخه له دامان سره تقریباً برابره ده. هر څومره چې د سویل خوا

Property of ACKU

ته لاړ شو، تودوخه زیاتیږي، چې له سمندر سره نږدې د سمندري وږمو له لامله بیا تودوالی نرمي غوره کوي. سیستان یوه ډېره توده سیمه ده او سېوی Sewee* ښایي د کابل په سلطنت کې ډېره توده سیمه وي. ټل چوټیالی او زاوري Zawuree په هېڅ شان د سېوي په څېر تاوده نه دي. د بوري هوا د ټول کال په اوږدو کې ملایمه وي. دلته د ژمي سوړوالی د پېښور په ډول دی، خو اوړی یې د پېښور په پرتله یو څه تود دی. د ژوب په اړه یوازې گوماني غړېدلای شم، خو باید دا ووایم چې دغه ځای تر بوري لږ څه سوړ گڼل کېږي. که موږ له سیستان څخه د خراسان په لور پورته راشو، نو د هغو سیمو لویدیځ ته، چې پورته مو بیان کړې، بې ډوله Bedowleh تر پښین هم سوړ ښکاري، خو شورابک Shorabuk چې تر پښین ټیټ پروت او له بېدیا سره یې څنډې نښتې دي، تود اقلیم لري. دلته واوره هېڅکله نه اوريږي، خو د جارگیو او ولاړو اوبو مخ یخ نیسي. دغه سیمه (شورابک) په اوړي کې ډېره توده او شگې یې دومره گرمېږي، چې په لوڅو پښو وریاندې تگ امکان نه لري. د پښین شمال ته د توبه غونډۍ پرتې دي، چې د احمد شاه بابا د اوړي استوگنځی پکې و. د دغو غرونو او غونډیو (توبه) هوا له پښین سره د نږدې غرونو په گډون د هغې څرگندونې له مخې، چې د نورو غرونو او غرنیو سیمو د هوا په اړه مې وړاندې بیان کړه، یو شان ده یانې دلته د سیمې هوا د غرنیو برخو د ارتفاع له مخې ټاکل کېدای شي. هغه غرونه، چې د کاکړو د سیمې په لویدیځ کې پراته دي او له پورتنیو غرونو (توبه او پښین) سره نښتي، هم ددغه اصل تابع بلل کېږي یانې د سیمو ارتفاع توپیر هوا هم بدلوي. کله چې له پښین څخه د شمال په لور لاړ شو، تر هغو چې کندهار ته رسېږو، هوا په ترتیب سره تودوالي مومي. د درانیو سیمه د شمال خوا ته په عمومي توگه معتدله برېښي، خو د سویل لور ته توده، ده بیا هم ښایي ددغه ځای هوا په هېڅ یوه برخه کې د پېښور هوا په څېر توده نه وي. څرنگه چې د درانیو په سیمه کې د کندهار د شمالي برخې په شان د پاراپامیزین د غرو یوه برخه شته، نو ځکه ژمی یې ډېر سوړ او اوړی یې ډېر تود گڼل کېږي. د زمینداور سیمه، چې تقریباً ددغو غرونو په سویل کې موقعیت لري، د ښې او په زړه پورې هوا درلودونکې ده. د درانیو د سیمې په ډېره پورته شمالي برخه کې یانې له هرات سره نږدې د ژمي سوړوالی ډېر زیات دی. اوړی یې ښایي هم تود وي، ځکه هوا د شمال لویدیځو دایمي بادونو په واسطه نه تازه کېږي. په سبزوار یا اسفیزار Isfezaur کې، چې د هرات په سویل کې پروت دی، داسې ویل کېدای شي چې تر

Property of ACKU

* ما د سېوي په اړه داسې یو څه اورېدلي، چې پارسیان یې نورو ډېرو تودو سیمو ته هم استعمالوي لکه ((ای خدا چون سیوی داشتی چرا دوزخ ساختی.))

پېنځو میاشتو پورې د واورې اوربېدل دوام مومي او ټولې اوبه کنګل وي. یوائې د سیند اوبه چې ګړندۍ دي او جګې کېږي، داسې نه وي. په دغه ځای کې د اوړي تودوخه ډېره جګه او ان کله کله بادونه هم تاوده وي.

د هلمند په کښتنۍ برخه کې د ګرمسیر سیمې نوم د اقلیم له تودوالي څخه اخیستل شوی دی. کندهار توده هوا لري او په ژمي کې واوره پکې نه اورېږي. دلته د ویالو په غاړه نازک یخ د غرمې نه مخکې ویلي کېږي. د کندهار د اوړي هوا ډېره توده او د تودو بادونو لګېدل هم غیر معقول نه برېښي. له خاورو او ګرد سره یوځای تاوده او زیان ښونکي بادونه (سیموم Semoom) دلته پېژندل کېږي، سره له دې هم د کندهار هوا دومره ناوړه نه حس کېږي او په عمومي توګه ددغه ځای اقلیم د روغتیا لپاره مناسب شمېرل کېدای شي.

که له کندهار څخه د ختیځ لور ته لاړ شو، نو د هوا تودوخه ورو ورو کمېږي. په مقابل کې د ژمي سوړوالی ګام په ګام زیاتوالی مومي ان د غلځیو په کلات کې واوره ورېږي او تر ډېرې مودې پورې پاتې کېدای شي. دلته ډېر ځله د ترنک سیند اوبه دومره زیاتې کنګل شي، چې سړی وریاندې ختلای شي. دا باید ووایو، چې کلات د ترنک د ناوې په ډېره ټیټه برخه کې پروت دی. د ترنک د ناوې په سویلي جګه برخه کې د هوا سوړوالی د افغانستان د نورو برخو په شان زیات برېښي. د عبدالرحیم کلایي په برخه کې درې میاشتې واوره پرته وي او په ټوله دغه موده کې ویالې داسې کنګل وي، چې د اس په سورلۍ په یخ باندې سړی تېرېدلای شي. د ترنک ناوې په مخ پورته برخه کې موږ بالاخره د غزني هوارې برخې ته رارسېږو، چې دا ځای د کابل د سلطنت په لاس لاندې توابعو کې ډېره سړه میداني سیمه شمېرل کېدای شي. د غزني د سړښت زیاتوالی دومره زمیات دی، چې ان ددغه ځای د ګاونډیو سړو سیمو اوسېدونکیو ته هم سخت برېښي. د ژمي په زیاته موده کې ددغې سړې سیمې اوسېدونکي په ډېره نادره توګه له خپلو خونو څخه وځي او دغه ټوله سړه دوره د کور په منځ کې تېروي ان د غزني په ښار کې داسې لیدل شوي، چې د پسرلني اعتدال وروسته ډېره زیاته واوره د ځمکې په مخ کوټه (انبار) شوي وي. داسې روایات خپاره شوي دي، چې د غزني ښار دوه واره د واورې د ډېر اورښت له امله وران شوی او ټول اوسېدونکي تر یې لاندې شوي. د غزني د ښار د سویلي خوا سیمې اقلیم ددغه ښار په پرتله یو څه ملایم او پوست معلومېږي. په کتواز کې د دړېو میاشتو لپاره دومره واوره پرته وي، چې په کلک شوي مخ باندې یې سړی په واوره کې بې له ښخېدو څخه سفر کولای شي. ددغه ځای ویالې په ژمي کې ټولې کنګلې او ددغه فصل په یوه برخه کې ان بار کړې اوښان هم وریاندې تېرېدلای شي.



Property of ACKU

د اوړي تودوخه په دغه ځای کې (غزني او شاوخوا سیمې یې) د انګلستان په څېر هم لوړه نه ځي او په کال کې یوازې یو وار کرونده پیل کېږي. د خروټو په سیمه کې سوړوالی تر دې هم زیات دی، دغه راز د سلیمان د غرونو په لړیو کې د پرتو نورو سیمو تودوخې تر دې هم ټیټه ده، خو که ددغو سیمو د سویل خوا ته لاړ شو، نو سوړوالی یې کمېږي. د غزني د ښار شمال خوا ته د هوا سړښت بیا هم لږ او دغه حالت د کابل تر شمال یانې د کوهدامن او کوهستان پورې دوام کوي، چې دلته یو ځل بیا د هوا سوړوالی د زیاتېدو خوا ته ځي یانې هر څومره چې له کوهدامن او کوهستان څخه د هندوکش د غرونو لمنو ته پورته جګېږو، په هماغه اندازه سوړوالی ډېرېږي. کابل پخپله له غزني څخه ټیټ پروت دی او په شاوخوا یې غونډۍ تاو شوي دي. داسې برېښي، چې د ژمي له یخنۍ څخه دومره زیات تر اغېزې لاندې نه راځي. سره له دې، چې د کابل ژمی دومره سوړ نه دی بیا هم د انګلېنډ په پرتله سخت معلومېږي. ددغه ځای اوړی تر انګلېنډ ډېر زیات تود او دومره هوا ګرمه وي، چې خلک نه غواړي د ورځې له لمر سره په دغه فصل کې مخامخ شي. د فصلونو ترمنځ د تودوخې زیاتوالی او ژر ژر راتګ ددغې سیمې د وګړو په عاداتو او کړو وړو باندې ژوره اغېزه کړې ده. دلته په ژمي کې ټول خلک په وړینو جامو کې پټ وي، په ځینو ځایونو کې خلک د کراستې (لمڅې دوله کالي) دپاسه په عمومي توګه د پسه د پوستکي ستر کوټونه، چې ښه خور (اش) ورکړل شوي وي، اغوندي. دغه ستر کوټونه (لوی پوستینونه. ژباړن) د تنتنی خوا ته اوږدې او بیرې وړې لري. د کابل اوسېدونکي د خونو په منځ کې اور بلوي او زیاتره د منقلو تر اړخ داسې بیدېږي، چې د دوی پښې او د بدن برخې د پسه د داسې پوستکو په واسطه پټې وي (ښایي غټې برستنې وي، چې د سندلۍ دپاسه په ژمي کې اچول کېږي. ژباړن) چې منقل دپاسه اچول کېږي نو په دې ډول د منقل تودوخې چاپېره او دننه خوندي ساتي. دوی په ډېره نادره توګه له کورونو څخه هغه وخت وځي، چې ډېر ضرور کار یا تجارتي معامله ولري یا دا چې ځوانان یې د لېوانو د ښکار لپاره په واوره کې بهر ته ځي، خو کله چې پسرلنی اعتدال واوړي، نو واوره سملاسي ویلې او له منځه ځي. د ځمکې په مخ نوي واښه شنه کېږي، غوټۍ غټې او ډېر ژر د ګلانو په ښه بدلون مومي او هر چیرې پرېمانه ګلان لیدل کېږي. د کابل اوسېدونکي په دغه وخت کې له کلیو څخه دباندې د کار او یا ساتېرۍ لپاره ډلې ډلې وځي. د ژمي کالي لیرې او په ځای یې د چیټ یا پومبه یې نرم ټوکران اغوندي. د کابل خلک په دغه وخت کې زیاتره د ونو لاندې او یا په ازاده فضا کې د شپې بیدېږي. نوروز یا د کال نوي کېدل ددغو سیمو د خلکو د ډېرې زیاتې خوشحالۍ وخت ګڼل کېږي، خو پارسیان ددغو

Property of ACKU

لرغونو میلو او جشنونو په اړه ځینې کیسې حضرت علي ته، چې د دوی مذهبي ټولګی ساتندوی ګڼل کېږي، نسبت ورکوي. په داسې حال کې چې د مقابل لوري مسلمانانو په منځ کې دا ډول نکلونه د پاملرنې او اعتبار وړ نه شمېرل کېږي. یوازې دوی د نوروز میله د طبیعت د ښکلا د بیا پیل کېدو په مطابق نمانځي، ځکه په دغه وخت کې د خوشحالۍ او کار موسم پیل کېږي، نو ددغه طبیعي اوښتون په ویاړ دوی جشنونه او میلې جوړوي*.

د افغانستان د بادونو په اړه کېدای شي، زه ووایم چې په ټول خراسان او ترکستان کې ۱۲۰ ورځې زورور او توند بادونه له شمال او شمال لویدیځ لوري چلېږي. دا بادونه د اوړي په نیمایي کې پیل او د هغو شروع او دوام ددغو سیمو د آري اوسېدونکیو له خوا په ډېره اعتباري او سمه توګه محاسبه کېږي. په ټول افغاني هېواد کې عادي بادونه له لویدیځ لوري څخه ګڼل کېدای شي. د آري خلکو په منځ کې دا یادونه معمولې ده، چې لویدیځ بادونه ساړه او ختیځ بادونه تاوده وي. داسې هم ویل شوي دي، چې ختیځ بادونه وریځې راوړي او لویدیځ بادونه د هغو محتوی (وریځې او رطوبت. ژباړن) تېرې راتوېوي او یو ډول وبایي باد، چې سیموم Smioom یې بولي، ددغه هېواد په ټولو تودو سیمو کې پېژندل شوی دی.

دغه باد کله کله د پېښور په میدان او پرته سیمه باجوړ او د کابل سیند په ناوه

* د کابل د اقلیم د ځرګندونو په برخه کې زه د امپراتور بابر له یادونو او تبصرو څخه ډېره کولای نه شم، ځکه دده لیکنې او کار نه یوازې ددې لپاره غوره دی، چې دا د یوه امپراتور لیکنه ده، یا دا چې د هغه لیکنې ساده کې له پلوه ځانګړی طرز لري. بلکې دده د معلوماتو په سموالي پورې د یادونې وړ برېښي ده ددغو سیمو په اړه چې یې نیولې دي. ښې ځرګندونې په دې ډول د کابل په اړه وایي "په دغه ځای کې تودې او سړې سیمې ډېرې سره نږدې پرتې دي له کابل څخه د یوې ورځې سفر کولو سره داسې یوې سیمې ته رسېدلای شو، چې هېڅکله واوره پکې نه اورېږي یا دا چې له دغه ځای څخه داسې یوې سیمې ته په دوو ساعتو مزل سره رسېږو. چې هلته په ډېر ندرت سره واوره ویاې کېدای شي هوا په زړه پورې ده او په اوړي کې سړی بې له پوستین څخه بیده کېدای نه شي د پسه د پوستکي چپنه داسې برېښي چې امپراتور د کابل د اوړني اقلیم د شپې سړښت په اړه لږ څه مبالغه کوي، په ژمي کې سره له دې، چې واوره زیاته ده. خو ساړه دومره زیات نه دي سمرقند او تاریس Tauris د اقلیمونو له پلوه نامتو دي. خو له کابل سره پرتله کېدای نه شي د ساړه اقلیم میوې لکه انګور، انار، زردالو، منې، بهي، شفتالو، ناک، الو، بادام او چارمغز پرېمانه دي د چیرې الو بالو مېړه ګیلاس، په کابل کې اوس ډېره عامه ده، په کابل کې ما یخپله یوه چرې الو بالو کېښوله او په ښه شان لویه شوه، هغه وخت چې زه تلم ډېره په پرمختګ کې وه. نارنج او ستروې په زیاته اندازه له لغمان څخه راځي زه ددې سبب شوم، چې په کابل کې کښې وکرل شي او داسې نور"

له کابل څخه مقصد د کابل ولایت نه دی. بلکې په هغه وخت کې د کابل تر واکمنۍ لاندې سیمې ته اشاره ګڼل کېږي ژباړن.



Property of ACKU

کې چلېږي. سیموم د درانیو د سیمې په سویل او ان په شمال کې پېژندل شوی دی، خو په عمومي توګه په سړو اقلیمو کې پېژندل شوی. داسې ویل کېږي، چې دا باد پرته له برنډو او سپېړو سیمو څخه په بل ځای کې نه لګېږي او هېڅکله په یوه وخت کې له څو دقیقو څخه زیات دوام نه مومي. د هغه رانږدې کېدل د یوه ځانګړي بوی په واسطه برسېره کېږي او دغه بوی هغه سړي ته، چې ورسره بلد وي، پوره اګاهي ورکوي، چې خپل ځان خوندي ځای ته ورسوي او تر هغه چې دا باد بیخي تېرېږي، ځان ګوښه وساتي. که څوک په دغه باد کې ګیر پاتې شي، نو په عمومي توګه د سملاسي مړینې سبب ګرځي. زیانمن شوی سړی بې سده لوېږي او له خولې، پزې او غوږو څخه یې وینې جریان مومي. ددغه باد له پلوه د ناروغ سړي ژوند کله کله د یوه قوي اسید په تطبیق سره له مرګ څخه بچ کېږي یا دا چې خپل ځان په اوبو کې اچولو سره له دغه ډول ناروغۍ څخه خلاصوي. په هغه سیمو کې چې سموم زیات وي، وګړي هوږه زیاته خوري او کله چې په اوړي کې له کوره دباندې وځي، نو په شونډو او پزه باندې هم هوږه موږي. په دې ډول د سموم له زیان څخه ځانونه ساتي. داسې ویل شوي، چې دغه باد د تېرېدو په وخت کې ونې چپه کوي. د هېواد په ځینو برخو کې د لېوانو، سپیو او سورلندیو (ګیدړانو) لېوني کېدل هم دغو بادونو ته نسبت ورکول کېږي.

که چېرې ددغه ټول هېواد اقلیمي بڼه او خاصیت خلاصه کړو، نو افغانستان باید یو وچ هېواد وګڼل شي، چې د ورېځو، باران او لړو تر لږې اغېزې لاندې راځي. د بیلو بېلو سیمو منځنۍ تودوخې له انګلېنډ څخه ډېره او له هند څخه لږه ده. دلته د اوړي او ژمي د تودوخې توپیر ان د شپې او ورځې ترمنځ له پورتنیو دوو هېوادونو څخه زیات دي. که ددغه هېواد د خلکو د قوت اندازې او فعالیت له مخې قضاوت وکړو، نو باید څرګنده کړو، چې د افغانستان په ډېرو برخو کې اقلیم د بشري موسسې لپاره مناسب او د صحت لپاره ښه شمېرل کېدای شي، خو که حقایق وګورو نو دا شکمنه ناروغتیاوې دلته بې شمېره نه دي او د نورو هېوادونو په څېر زیانمنې ګڼل کېږي. تبې او ملاریا په مني کې زیاتې دي. دغه راز په پسرلي کې هم حس کېږي. زکام ډېر زیان بښونکی وي، په تېره بیا په ژمي کې ډېر مضر شمېرل کېږي. ملایان او سیدان په ډېرو لږو سیمو کې د کوي خالونه وهي بیا هم دا ناروغي زیات کسان وژني. د سترګو ناروغي زیاته ده. دا د افغانستان غوره ناروغتیاوې بلل کېږي.

Property of ACKU

# شپږم څپرکی

## د افغانستان ژوي، نباتات او کانونه

زه به هېڅکله دا ادعا ونه کړم، چې ددغه هېواد چې زه يې په اړه څه ليکم، د ټولو ژويو په اړه به پوره شرحه وړاندې کړم. يوازې هغه لږ شمېر به يې ياد کړم، چې د هغوی په اړه مې څه اورېدلي دي، خو دا مسؤوليت په غاړه اخيستلی نه شم، چې ددغه شمېر په نسبت چې ياد کړي مې دي، زيات شمېر مې پرېښي نه وي.

سره له دې، چې زمري په پارس کې ډېر زيات عموميت لري، په دې وروسته وختونو کې دغه شان په همدغه اندازه په گجرات کې GUZERAT او د ډيلي په شمال لويديځه برخه کې يانې هريانا Huriana کې هم موندل شوي دي. په افغانستان کې ډېر نادر او لږ پيدا کېدای شي. ما يوازې د کابل د شاوخوا غرنيو سيمو په برخو کې د زمريانو په اړه اورېدلي دي، دلته دوی د افريقايي زمريانو په پرتله ډېر واړه او کمزوري دي ان زه شکمن يم، چې دا زمريان دي او که نه.

پړانگان د سليمان د لړۍ په زياتو ختيځو سيمو کې موندل شوي دي، چې پيشو پړانگ يې ډېر عموميت لري. دا ژوي د افغانستان د ډېرو ځنگلي او ونې لرونکيو برخو په منځ کې ليدل کېدای شي.

ليوان، کوږان (کفتار)، شغالان، گيدړې او سويان هر چېرې زيات دي. د سړو سيمو د ژمي په اوږدو کې هغه وخت لېوان ډېر خطرناک او وېرونکي وي، چې په گله ييزه سره راغونډ شي، نو په دغه حالت کې ډېر ځله څاروي داړي او خوري او ان کله کله په سړيو هم يرغل وروړي. کوږان هېڅ لکه په گله ييزه توگه ښکار نه کوي، خو ځينې وختونه په پورتنۍ توگه هم په يوه غوايي باندې يرغل کوي. کوږان او لېوان تل د پسونو لپاره ستر زيان پېښوي. سويان په کابل کې د پلورلو لپاه ساتل کېږي او دوه يې په يوه روپۍ ورکوي (خرڅېږي).

يږان (خرسان) په ټولو ځنگلي غرونو کې ډېر پيدا کېږي، خو ډېر لږ له خپل محل او سمڅې څخه دباندې تگ راتگ کوي. يوازې د گنيو په وخت کې چې دوی



Property of ACKU

یې له کښت سره مینه لري، د کروندو خوا ته راکاږل کېږي. دا یږان (خرسان) دوه ډوله دي، یو یې د هند تور خرس بل یې ککړ سپین یا نسبتاً ژېړ رنګی خرس بلل کېږي.

وحشي نر یږان (خرسان) په پارس او هند کې زښت ډېر دي، خو په کابل کې کمیاب دي او داسې چې وحشي خره به د درانیو، ګرمسیر او کندهار د سهیل (جنوب) د ریګستان په سیمو پورې محدود دي. د هوسیو ډېر ډولونه، چې لوی ګوزي هم پکې راځي، په ټولو غرونو کې پیدا کېږي، خو ښکرور غرڅه پکې کم او په بیدیاوو کې پیدا کېږي. په ختیځو غونډیو کې وحشي پسونه او وزې ډېرې دي. د هوسۍ یو ډېر څرګند ډول هغه دی، چې زه فکر کوم په پارس کې یې پوزن (Pauzen) بولي. دغه هوسۍ د هغې د ښکرانو د اندازې او د هغې د بیا پیاوړتیا له پلوه د یادونې وړ ده، خو د بدن د بوی له پلوه د منلو وړ نه ده. ولې خلک داسې ګروهه (عقیده) لري، چې دا ډول هوسۍ د مارانو په خوړلو ژوند تېروي او د وینډ سور Vindsor د لوبیا په اندازه یوه کلکه ستن رنګې ماده د هغې د بدن په ځینو برخو کې پیدا کېدای شي، چې د مار چیچلو لپاره بشپړ علاج (درمان) دی.

په یادو شویو ژویو سربېره یوازې هغه چې ما اورېدلي د شکوڼ، زېږګي، بیزوګانو (چې وروستۍ ډله یې یوازې د افغانستان په شمال ختیځه سیمه کې پیدا کېږي) موږ کیرانګ Mungooses او لږ وحشي سپو څخه عبارت دي. غاترې یوازې په کشمیر کې پیدا کېږي. ټولواک (پاچا) یو څو پیلان لري، خو ټول له هند څخه راوړل شوي دي. دغه ژوي او ګرګدن د ټولواک د واکمنۍ په هیڅ ګوټ کې هم نه شته.،

اس تر ټولو اهلي ژویو دمخه د پام وړ دی. د افغانستان په واکمنۍ کې د کتنې وړ شمېر آسان روزل کېږي او د هرات آسان یې ډېر ښکلي دي. ما یو دوه لیدلي، چې د عربي آسانو غوندې یې لوړه توته (څېره) درلوده. د هندي آسانو ښه نسل، چې تازي (Tauzee) نومېږي، په پو او دامان کې موندل کېږي او دغه ډول ډېر ښه آسان د هیداسپیس او اندس ترمنځ سیمو کې روزل کېږي، خو عمومي ډول د افغاني واکمنۍ آسان د بلخ د ولایت نه پرته، چې هلته ښه او ډېر دي، هومره د یادونې وړ ښه والی نه لري. سره له دې، چې د ټټوګانو ډېر پیاوړی او ګټور نسل، چې یابوګان (Yaboos) بلل کېدل، دلته شته خو بیا هم وروسته پاتې برېښي. په تېره بیا د بامیانو ټټوګان ډېر کمزوري دي. له دوی څخه د بګیو په لېږدولو کې کار اخیستل شوی او کولای یې شوای، چې درانه بارونه یوسي، خو د غاترو غوندې د سخت او پرله پسې کار توان نه لري.

Property of ACKU

له غاترو (کچرو) څخه په هند کې لږ کار اخیستل کېږي او په هغو ځایونو کې چې شته ډېرې ډنګرې دي. په داسې حال کې، چې د پنجاب په لویدیځ کې ځینې ښې غاترې موجودې دي. د اندس (سند) غاترو لاتراوسه پورې خپل ښه ارتوب (اصلیت) ساتلی دی. هر څومره چې د لویدیځ خوا ته درومو، اصلاح او سموالی پاییښت مومي، خو بیا هم د انګلېنډ غاترو ته ځان نه شي رسولای (مساوي کېدای نه شي). دغه کتنې کټ مټ د خرو په اړه هم د تطبیق وړ دي. خره د سرو او نورو مالونو د وړو راوړو لپاره عمده وسایل شمېرل کېږي، چې له یوې سیمې نه یې بلې ته وړي. سربېره پر دې بازارونو ته د تولید شویو موادو وړل هم د دوی په واسطه ترسره کېږي.

له اوښانو څخه په عمومي ډول د مالونو په وړلو راوړلو کې کار اخیستل کېږي. یو کوهان لرونکي اوښان هر چېرته شته، خو زیاتره په شګلنو او وچو بیدیاوو کې موندل کېږي. دغه لوړ او له پښو جګ اوښان په هند کې ډېر دي. باختري اوښ (چې زما په اند په ترکیه کې د (اوزري Uzhree) په نامه یادېږي، ډېر لږ پیدا کېږي او زه ګومان کوم، چې ددغه اوښ نسل به د جاګزارتس (Jaxartes) سیحون یا سیر دریا تر شا سیمې قزاق څخه راوړل شوي وي. دا ډول اوښ لږ تر لږه تر نورو درېیمه برخه ټیټ دی، ډېر متحمل (زغم لرونکی) او په بېرو تورو وړیو پوښل شوی. د یوکوه (کومي) لرونکیو اوښانو دوه کوه (کومي) لري. د بندتي (Boghdee) اوښ، چې د خراسان په سهیل لویدیځه کې پیدا کېږي، وروستني یاد شوي اوښ ته ورته دي، خو لکه یو کومي لرونکي اوښ غونډې جګ ښکاري. او داسې، چې دغه وروستی ډول د خراسان یوکوه لرونکي اوښان د هندوستان تر اوښانو ټیټ او زغم لرونکي دي.

میښې، چې له تودو او لندو سیمو سره مینه لري، طبیعتاً کمیابې دي، بیا هم د هېواد (افغانستان) په هر ګوټ کې موندل کېږي.

غوایي د کابل په ټوله واکمنۍ کې د بلخ له سیمې پرته، چې هلته آسان ډېر دي، د یوې (قلبې) لپاره استعمالوي. دغه ډول غویي د هند له غوایو سره د کو (کوپان) له پلوه ورته والی لري، خو په نورو ډېرو اړخونو کې تر هغه په ټیټه درجه کې راځي. غوایي د هندوستان د راجپوت له سیمې څخه، چې د هند د ډېرو ښو غویو (غوایانو) سیمه ده، راوړل شوي دي. ښایي د ګوجرات یا ګرزیرات (Guzerat) غوایي په دې حساب کې رانه شي (مستثنا دي). د سیستان د جهیل له شاوخوا او د ځینو څرګندونو له مخې د کاکړستان (د کاکړو له سیمې) څخه پرته بل چېرې دغو یو ګلې نه ساتل کېږي. له پوونده قبیلو سره شتمني، پسونه دي او له هغو څخه هغه

Property of ACKU

ډول، چې پـه فارسي یـې دمبـه (Boomba) بـولي، زیـات شمېر جـو لـري. د دوی لمـان یـو فـوټ پلـن او ټـول لـه وازدې ډک دي. دغـه ډول پسونه پـه نورو اړخونو کې انګلیسي پـسونو تـه ورتـه دي او ذواړه د هنـد تـر پـسونو ډېـر ښـکلي او ښـه دي. د هنـدي ډول (پسونه) چې څاریـه (چـاغ) لمـان نـه لـري، یـواځیني ډول دی، چې پـه سند او سیستـان کې پیدا کېږي.

وزې د هېواد پـه ټولـو غرنیـو سیمو کې پیدا کېږي او بې لـه شکه پـه اوارو سیمو کـې کمیـابې دي. ځینـې ډولونـه یـې د یـادونې وړ جـګ او عجیـب کـاږه واږه ښـکرونه لري.

د افغانـستـان سپـي پـه دې ارزي، چـې یـې یادونـه وشـي. خـر (ایـان) سپـي ډېـر ښـه سپي دي. دغـه سپي پـه زیـات شمېر پـه تېره بیـا پـه پوونده ټبرونو کې، چې لـه ښکار سره ډېـر ټولـي دي، روزل کېـږي. هغـه څـه چـې ډېـر زیـات د یـادونې وړ ګڼـل کېـږي، ښکاري سپـي دي چې زمـوږ لـه سپیو سره پـه ښـه (څیـره) او ماهیـت کې یـو ډول او شمېر یې لږ دی، خـو بیـا هـم زه پـه کره توګـه نـه شم ویـلای، چې د سپو دا نـسل بـه لـه کومـه راوړل شـوی وي. دا سپي خنـدي(Khundee) بلـل کېـږي. مـا دوه سپـي درلـودل، چې یو یې ډېر ښـلی و او یـو بـل ښـاغلی هم یـو سپـی درلـود، چـې د هر هېـواد د خلکو بـه خوښ شوي وای.

پیـشوګانې لـږ تـر لـږه اوږدې وړې لرونکـې ډول یـې، چـې بـوراک Booraukیـې بـولي، هـم د پـام وړ دي. دا پیـشوګانې پـه زیاتـه پیمانـه بهر تـه استول کېږي او پـه هره سیمه کې د پـارس د پیشوګانو پـه نامـه یـادېږي. سره لـه دې هم پـه هغـه هېواد کې چې دغـه پیـشوګانې یـې پـه نـوم نـومـلي دي، دومره ډېرې نـه لیـدل کېږي او پـه لـږه انـدازه یـا ان هېڅکله لـه هغـه ځای څخـه بهر تـه استـول شوي نـه دي.

یـوه سـاده احـصائیـه (شمېر څېړنـه) ښـایي د هغـو الوتـونکیو لپـاره کـافي وي، چې زه یـې کـولای شم راپـه یـاد یـې کـړم. ګـوریتې (عقابـان) دوه یـا درې ډولـه دي، بـازان ډېـر ډولونـه لـري، تـر ټولـو ښـه یـې بـاښـه ده، چې لـوی خـر، لنډ وزری مرغـه دی. پـه پـارسي یـې بـاز بولي او پـه ترکي ژبـه کـوزیـل Kuzzil ورتـه وایـي، چې زمـا پـه ګومـان همـاغـه ګوشـاک (Goshak) وي. شـاهین، چـې تـر بـاښـو (بـازونو) لـوړ الـوځي، هـر څومره چې جګېږي ښـه ښـکار کـوي. Ghirk چې غرڅه ښکار کوي او پـه سر یـې نښلي او تـر هغـه مهالـه یـې سـتنوي، چې ښـکاري تـازي سپـی پـسې راورسېږي او داسې نـور ډېـر ډولونـه بـاز، کـب خـوړونکي مرغـه (Cheron)، ډینـګ (کومـول) چـې د نیـونـو غوښتنه ورسره نـه شـته او لـګ لـګ Stork هم ډېر دي. همدا شـان وحشي هیلۍ او تـاز (Geese)، قـو (Swans)، زرکې او ریـرځ (کـرک) او یـو ډول الوتـونکي، چې پـارسي

Property of ACKU

وزرونکي او پښتو وزرونکي (افغانان) يې کبک Cubk بولي او هنديان يې د غونډيو چيکوري Hill Chikore بولي او تر هغه ځايه، چې زه پوهېږم په اروپا کې لا تراوسه په هماغه لرغوني يوناني نوم پورټي رج (Portiridge) باندې يادېږي. يو بل وړوکی الوتونکی، چې سوزي Soosee نومېږي، له دغه وروستني ياد شوي الوتونکي سره ورته والی لري. له افغانستان پرته مې بل هېڅ چيرې د دوی په اړه څه اورېدلي نه دي. کوترې، کارگان، مرغۍ (چوغکې) او داسې نور د هېواد په ټولو سيمو کې پيدا کېږي. کوترې، کارگان، مرغان په ټولو سيمو کې عموميت لري. کوکو (قمري)، کوترې کميابې دي او کاغۍ (گيړکه) Magpies چې په هند کې يې نه پېژني، د افغانستان په سړه اب و هوا پورې منحصرې (تړلې) دي. په داسې حال کې چې طاووسان چې په هند کې ډېر دي، دلته يوازې لکه د انگلېنډ د طاووسانو په اهلي شوي توگه پيدا کېږي. طوطيان او ميناگانې (Coracias Indica) يوازې په ختيځ کې ليدل کېدای شي.

خزندگان دومره د يادونې وړ نه دي. ماران يې ډېر ځله بې ضرره دي، د پېښور لړمان د دوی د کچې (اندازې) او زهرو له پلوه مشهور دي. سره له دې هم زهر يې بيخي کم او يا هېڅ وژونکي نه دي. ما د هېواد (افغانستان) د کبانو په اړه څه نه دي اورېدلي. نهنگان (تمساح گان) بيخي نشته، کشپان د شمشتيو غوندې ډېر دي.

د ملخو ستر سيلونه په پرله پسې توگه نه ليدل کېږي، په داسې حال کې چې لږ څه وچکالي، چې په خراسان کې احساس شوي، د همدغو ملخو د ويجاړونو او ورانکاريو ښکارندويي کوي. غالبوزي (مچۍ) په دغو سيمو په تېره بيا د سليمان د غره لړۍ کې ډېرې دي. خو يوازې په کشمير کې روږدي شوي دي. غوماشې يې د هند د غوماشو په پرتله لږ ازاروونکي دي. د سيستان غوماش يې بيا ډېر خطرناکې دي. د سيمې خلک مجبور دي د بنگال د خلکو غوندې مچرې (د غوماشو لپاره جالۍ) استعمال کړي او په همدې توگه دغه موجوده او يا يو ډول د بيې مچ کله کله اسان دومره سخت چيچي، چې له درده مړه شي.

دغه لا ډېره مشکله ده، چې د ژړيو غوندې دنباتاتو په اړه هم يوه څرگندونه وړاندې کړو. هغه هم که له طبيعي تاريخ سره د کوم اشنا شخص له خوا ونه کتل شي، نو دا راز بيان به گران وي. د هغو زياتو ونو له جملې څخه، چې په اروپا کې نه دي پېژندل شوي او په هند کې ډېرې دي، د سليمان د لړۍ په ختيځه څنډه کې بيخي لږ دي او ښايي په لويديځه څنډه کې خو لا بيخي نه وي يا له بلې خوا زموږ ډېرې اروپايي ونې په افغانستان کې شته او زموږ ډېرې ښې مېوې د هغه هېواد په بېلا بېلو برخو کې په وحشي ډول موندل کېږي. همدا راز دغه ونې په بڼونو او مېوه

Property of ACKU

لرونکیو باغچو کې هم موندل کېږي. ډېرې مشهورې غرنۍ ونې یې د سرو (Pines) بېلا بېل ډولونه دي، چې د هغو له ډلې څخه یو هم د جنغوزي ونه د هغې د غوټیو له پلوه، چې تر Artichoes (یو ډول اغزن بوټی چې غوټۍ یې د سابو په څېر خوړل کېږي) لویه نه ده، د یادونې وړ برېښي او زړي یې د پستې زړو ته ورته دي. دوه ډوله څېړۍ (چې یوه یې د بوټیوهانو له خوا د کویرکس بیلوت* ( Quereus Beloot) په نامه یاد شوي) د سبر ونې او یو ډول نورې سترې ونې ددغو غرونو آرې نباتات دي، چې د غوزانو او وحشي زیتون په څېر لیدل کېږي. لویدیځې غونډۍ د ونو په واسطه پټې دي او یو ډول د خوړلو وړ د تورو مرچو دانو ته ورته مېوه لري، چې شنې یا خنجک Shnee یې بولي. گومان کوم، چې په دغو غونډیو کې بیرچ (Birch) (یو ډول بوټی) هولي (Holly) (یو ډول بوټی چې سره او شنه مېوه کوي)، هزل Hazel او ماستیج Mastich یو ډول ونه، چې کنجد Kunjud یې بولي او په پښتو کې یې لوښتې او په فارسي کې یې وسک (Wisk بلله) هم شته. همدارنگه د پستې وحشي ونې په هندوکش کې کېږي (لوېږي). په هوارو سیمو کې ډېر مشهور توت او ولې چې موږ د جړانگو (مجنون بید)، خرمایي او دوه نور ډولونه، چې د اصلي اوسېدونکیو له خوا د سرو ولو او شنو ولو په نامه یادېږي، هم مشخص (لای شو) گڼل کېږي. سپیدار هم لکه سیاه چوب (Seachob) پوره (Purra) بلخک (Balkhuk) او زرونگ (Zurung ) چې ما هېڅکله نه دي لیدلي او ددې وس مې هم نه دی موندلی، چې له شرحې څخه یې پوه شم، په هوارو ځمکو کې ډېر دي.

دغه راز ډېر بوټي هم د یادونې وړ دي. Barberry یو ډول اغزن بوټی، چې ژېړ او سره گلان کوي او د ډول (ښکلا) لپاره په کورونو کې ایښودل کېږي، کاروندا (Kurounda) (کارسیاکاروندا Carissa Carouna) او نور بوټي، چې د خوړو وړ مېوې کوي، لکه املوک Umlook، گورگوري Goorgooreh او داسې نور د وحشي انگورو په څېر په غونډیو کې ډېر دي، خو له ټولو گلبوټو څخه ارغوان ښکلي دي، چې که څه هم دغه نوم کټ مټ د ریدي د گل لپاره هم راځي، دومره لوړېږي چې کېدای شي د ونې تر عنوان لاندې یې راولو.

انگلیسي گلان، گلاب، یاسمن، کوکنار پوپۍ (Poppies)، نرگس، یو ډول سنبل هیاسنتس (Hyacinths)، شیندي وزمه گل یا د ریدي په شان گل Stock او نور په بڼونو کې شته او ډېر یې په وحشي توگه دي، نور بوټي به له دې وروسته د دوی د ځای د شرحې سره ذکر شي.

* ما ټول نباتي نمونه هغه وخت رااخیستي دي، چې د ډاکتر هنټرز هندوستاني ډیکشنري د کتلو فرصت مې درلود.

Property of ACKU

زه لېواړ یم، چې د کانونو لپاره یو ځانګړې څېرکی اختصاص کړم، دې ته په پام کولو سره چې ما یې یواځې یو لږ شمېر درلودل او د مسټر ایروین له رپورټ څخه مې رااخیستي دي، په لاندې دوو بابونو کې یې ډېر زیات مدیون یم.

داسې برېښي، چې سره زر په افغانستان کې نه پیدا کېږي، خو یواځې هغه ویالې، چې د هندوکش له لړۍ څخه رابهېږي، داسې نه دي. د یو ډول سابه وزمه سرو زرو په اړه کیسې شته، وایي چې د یوسفزو په سیمه کې تولید شوي دي. بې له شکه له هغو شګو څخه راپورته کېږي، چې ددغو ویالو په واسطه په کروندو کې غورځول شوي دي. سپین زر په ډېره لږه اندازه په کافرستان (نورستان) کې پیدا کېږي. یاقوت په بدخشان کې لاس ته راځي، خو د هندوکش په افغاني لمن کې موندل کېدای نه شي. په داسې حال کې چې د لاجوردو ټول ګرنګونه د کاشغر سیند د پاسه سیمو کې موقعیت لري او د چترال او یوسفزو ترمنځ پراته دي.

د سرپو او انتیمونې (Antimony) (یو ډول کیمیاوي عنصر دی) کانونه د اپریدو او هزارجات په سیمو کې لږ شته دي او یواځې سرپ په پورتني بنګښو، شینوارو، کاکړو، هزاره وو، ایماق همدارنګه د بلخ په ولایت کې هم پیدا کېږي. د وزیرو په سیمه کې اوسپنه او د هغو د ذخیرو غونډیو په څېر موندل کېږي، چې په هغو ځایونو کې د مسو آثار هم شته دي. سلفر په بلخ او سیستان کې پیدا کېږي. د مالګې د ستر ځای یادونه هم بنایي وشي: مالګه ډېره په بلخ کې پیدا کېږي، خو په خراسان کې بیا له حوضونو او ډنډونو څخه لاس ته راځي. د مالګې بوره په هر ځای کې له مالګې څخه جوړېږي. زمچ ـ پټکرۍ (زنچ) یا Alum په کالا باغ کې له ختو څخه چاڼوي. وارپیمینټ (Orpiment) په بلخ او هزاره جات کې پیدا کېږي.

* * *



Property of ACKU

د ح کاکړ ژباړه

# دویم کتاب

## د افغانستان د اوسېدونکیو په عمومي څرګندونې

## لومړی څپرکی:

### مقدمه:

### د پښتنو نسب او پخوانی تاریخ

هغه څرګندونې، چې ما د پښتنو[1] د ملک کړې دی، د سیمو د زیاتې تنوع په اثر، چې شرح به یې وشي او ان د ګاونډیو سیمو د اختلاف له لامله ګران شوی دی. همدې هم هغه خلک، چې په دغه ملک کې اوسېږي، ډول ډول دي او د هغو اختلافاتو له لامله، چې د دوی د مختلفو قامونو په حکومت، سلوکونو، کالیو او کړو کې واضح دي، ما ته ګرانه ده چې هغه ستر خصوصیتونه انتخاب کړم، چې ټول یې په ګډه سره لري او کوم چې ټولو پښتنو ته یوه څرګنده ملي ځانګړتیا ورکوي. دغه مشکل په دغه واقعیت سره نور هم ډېر شوی، چې ټول هغه ممیزات چې دوی له ټولو ګاونډیو څخه بېلوي، په هېڅ وجه عین همغه نه دي، چې د اروپایانو په نظر کې به یې له دغسې یوې مقایسې څخه د دوی په سیمه کې غلبه ولري. هغه آزادي چې دوی د شرق له ملتونو څخه په زیاته اندازه بېلوي، ممکن د یوه انګرېز په نظر د انارشي او حاکمانه قدرت یو مخلوط وبرېښي او د مېړانې هغه صفتونه، چې دوی له خپلو ګاونډیو څخه هسکوي ممکن د هغه په نظر نږدې د معکوسو عیبونو سطحې ته راکوز شي، نو په دې ډول د دوی وضعې او سجیې د پوهېدلو لپاره به دا کومک

---

[1] مولف په ټول کتاب کې پښتانه په افغانانو سره یاد کړي دي. (ژباړن)



Property of ACKU

وکړي، چې د دوی هغه اړخونه بیان شي، چې دوی به یې له انګلستان څخه د یوه سیاح تګ او له هندوستان څخه د یو بل ګرځندوی ته ښيي. که یو څوک له انګلستان څخه د پښتنو ملک ته بې له دې، چې د ترکیې فارس او تاتاري له ملکونو څخه تېر شي، ولېږدول شي، دی د طبیعي او لږ ولیدل شو، دښتو او هغو غرو په لیدلو سره هک حېران شي، چې تل له واورو نه ډک دي. دی به ان د ملک په کرل شوې برخه کې د وړو غرونو او شاړو ځمکو یوه طبیعي مجموعه کشف کړي، چې نه احاطې لري او نه په ونو سره سینګار شوې او د بېړې چلولو کانالو، لویو سړکونو او د بشري سخت زیار او عمران له ټولو سترو او استادانه محصولاتو څخه عاري وي. دی به یو څو ښارونه ویني، چې هغه هم له یو بل څخه لیرې پراته دي او دی به بېهوده د داسې مسافرخانو (Inns) یا نورو راحتي اسانتیاوو لپاره په لټه کې وي، چې یو مسافر یې ان د لوړې برتانیې په ډېرو طبیعي او ابتدایي برخو کې هم مومي. سره له دې هم دی به کله کله د ځینو هوارو او د رود د زیاتوالي او ابادۍ په وجه ډېر خوښ شي، چې هلته به اروپایي مصنوعات د سوځنده سیمې له محصولاتو سره یوځای ویني. ده ته به دغسې ملک په سترګو ورشي، چې په داسې سخت زیار او تمیز سره پکې کار شوی دی، چې له بل هیڅ ځای څخه به وروسته پاتې نه وي.

دی به وګوري، چې ددغه ملک اوسېدونکي به د کېږدیو په لور په رمو، ګلو پسې روان وي یا به په دغسې کلیو کې سره غونډ شوي وي، چې منظم هوار بامونه او د ختو دېوالونه یو بشپړ نوی انځور تنداړې ته ږدي. دی به لومړی د دوی هسکو او ان زیږو څېرو، د دوی په لمر سوځېدلو مخونو، د دوی اوږدو ږیرو، د دوی ارتو کالیو او د دوی د پوټکو نه جوړو ارتو پوستینونو ته حېران شي. کله چې دی د دوی په ټولنې کې ننوځي، دی به د عدالت منظمې محکمې یا د هیڅ ډول محکمې لکه د منظم پولیس په څېر په سترګو ونه ویني. دی به د دوی د ملکي موسسو بې ثباتۍ او تغییر ته په تعجب شي. ده ته به مشکله وي، ددې درک وکړي چې یو ملت څنګه په دغسې بې نظمۍ سره ژوند کولای شي او دی به د هغو په حال افسوس وکړي، چې دوی څنګه مجبور شوي، چې خپلې شپې او ورځې په دغسې یو ډګر کې تېرې کړي او د هغوی ذهنونه د دوی د ناخوښو شرایطو له لامله د فریب او تشدد، چور، غولولو او انتقام لپاره روزل شوي دي. سره له دې هم دی به ارومرو د دوی د جنګي او لوړ روح، د دوی د مېلمه پالنې او د دوی د زړور او ساده شخصیت او سلوک ستاینه وکړي، چې هغه نه د یوه مدني فرد په مطیع توب او نه د یوه مسخره، چې په زیړه توب پکې لیدل کېږي او ممکن دی ډېر زر د دوی په ډېرو خاصیتونو کې، چې دده په نظر بد راغلي، ډېرو ښېګڼو لومړني آثار کشف کړي.

Property of ACKU

خو له هندوستان څخه يو انګرېز سياح به په ډېرو ښو سترګو دوی ته وګوري، دی به د دوی د ملک په ساړه اقليم سره خوښ شي، د هغه په طبيعي او تازه منظرې سره به وغوړېږي او د خپل ملک د ډېرو محصولاتو په ليدلو سره به مسرور شي. لومړی به دی د ځای په ځای نفوسو د لږوالي له لامله او وروسته د خلکو په ښکاره کېدو سره حېران شي، چې دوی هغو ململو کې متين دي په داسې حال کې چې ټيماټي ځانونه يې لوڅ دي، خو تور رنګه ورين کالي يې په وقار او سترګې سره اغوستي او ځانونه به په نسواري رنګه پوستينونو کې يا د پسو له پوټکو څخه جوړو په يو غږ ټوکر کې تاو کړي دي.

دی به د دوی قوي او فعال شکلونه، د دوی سخت زيار او تشبث، د دوی مېلمه پالنه، سنګيني او لذت ته په ټيټ نظر کتل، چې د دوی په ټولو عاداتو کې ښکاره دي وستايي او تر ټولو زيات، دی به د هغوی د سجيې ازادي او انرژي وستايي. په هندوستان کې به ده دغسې يو ملک شاته پرې ايښی وي، چې هلته هر حرکت له حکومت يا د هغه له نمايندګانو څخه نشات کوي او هلته خلک په مطلق ډول په هېڅ پسې روان دي، مګر دی به دلته ځان، ددغسې يوه ملت په منځ کې ومومي، چې د حکومت کنټرول پکې ډېر لږ دی او داسې ښکاري چې دلته هر سړی په خپلو خواهشاتو پسې روان دی او ترقيد او کنټرول لاندې نه دی. دی به د ژوند ددغه طرز توپاني ازادۍ په منځ کې په هغې اسانۍ او مصونيت غوسه وخوري، چې د هندوستان وضع او ان د هغه د اوسېدونکيو سستۍ او بې زړه توب د هغه ملک ډېرو برخو ته دا ځواک ورکوي، چې سست او لټ اوسي. دی به د طبيعت او هنر ډېر محصولات په سترګو ووينې، چې په هندوستان کې نشته، خو په عمومي ډول ده ته به جوته شي چې دلته د ژوندانه فنون لږ پرمختللي دي او د هندوستان ډېر ښکلي شيان وجود نه لري. په عمومي ډول ده ته به د نويو شيانو انتباه شه په زړه پورې وي او که څه هم دی به ددې احساس وکړي، چې دوی بې له دې چې د يوه ابتدايي ملت زېږوالی يې له لاسه ورکړی وي، په هغو عيبونو اخته دي، چې ټول اسيايان يې په مشترک ډول لري. سره له دې دی به يې د نورو خلکو په پرتله، چې ورسره آشنا شوي دي، نيکوکاره وګڼي او دې ته به مايل وي، چې دوی ته د علاقې او مهربانۍ په سترګه وګوري او د خپل احترام يوه برخه له دوی نه هېڅ دريغ نه کړي.

دا به هغه انتباهات وي، چې يوه اروپايي او يوه هندوستاني سياح ته به له پښتنو سره د عادي اختلاط په وجه پيدا شوي وي. څه وخت چې دوی د هغوی د سياسي قانون په پوهېدلو پيل وکړي، دواړه به د هغه ظاهري تناقضاتو او اختلافاتو او هغه اتحاد ته، چې د توپاني ازادۍ او پوره ستم يوه مجموعه ده،

Property of ACKU

هېښ شي. خو دې په لومړي ممکن د عمومي حکومت استبدادي ادعاګانو ته او وروسته ډیموکراټیکې ازادۍ ته، چې د قانونو په حکومت غلبه لري، زیات حېران شي.

اوس به کوښښ وکړو، چې که د پښتنو د موجود حال او تاریخ د خاص تحقیق په رڼا کې ځینې خصوصیتونه، چې دغو دوو انځورو ښودلي په زړه پورې نه شي او ځینې ظاهري تناقضات رفع نه شي، خو په دغو ټولو ځرګندونو کې ښايي دا په یاد ولرل شي، چې که څه هم ما کوښښ کړی دی، دوی په هغه معیار سره اندازه کړم، چې په اروپا کې به تطبیق ومومي، سره له دې هم هغه لومړنی او ډېره طبیعي عملیه، چې په هغې سره ما د دوی د سجیې تخمین کړی دی، له هندي او فارسي ګاونډیو سره د دوی یوه مقایسه وه.

* * *

# د پښتنو د ملت نوم[1]

د پښتنو د نامه اصل، چې اوس په ډېر عام ډول سره د هغه ملت لپاره استعمالېږي، چې زه یې اوس په بیانولو پیل کوم، پوره یقیني نه دی، خو ممکن دا نوم نوی اوسي. دا نوم یانې افغان پخپله پښتنو ته د فارسي د ژبې له لارې راغلی دی[2]. د دوی خپل نوم د خپل ملت لپاره پښتون دی، جمع یې پښتانه کېږي. بر درانیان[3] دغه نوم په پختانه یادوي، چې ممکن د پټهان نوم، چې په هندوستان کې دوی په دغه نامه یادېږي، له هغه نه راوتلی وي.

عربان دوی سلیماني بولي، خو دا هېڅ معلومه نه ده، چې دوی په دې نامه څکه یادېږي، چې دوی د سلیمان په غرو کې اوسي یا دا د هغه چا نوم و، چې د عربانو د حملې په وخت کې د دوی مشر و او یا په هغو حالاتو پورې ارتباط لري، چې د دوی

---

[1] مولف پښتانه په عمومي ډول د ملت (Nation) په نامه یادوي، نه د قوم، ملیت یا ولس په کلمو سره. ژباړن

[2] د افغان کلمه نوې نه ده، په دې چې هغه د سانسکرت د اسوغانه Asvaghna یا اسواکا Asvaka د کلمې فارسي شوی یا عربي شوی شکل دی. اسوه غانه له (دوو) برخو نه جوړه ده (اسوه، اوغانه) لومړنی یې د (آس) او دویمه یې د (ځای) مانا ورکوي: په دې ډول اسوغانه د اسونو ملک کېږي. په پهلوي یا منځني فارسي کې د ابګان Abgan او اوګان Avgan په بڼه راغلی او دري ویونکي وګړي یې اوس هم د اوغان په ډول ادا کوي. د تفصیل لپاره وګورئ، د غزنویانو امپراتوري د بوزورت تالیف، د ادنبره د پوهنتون چېرونه ۱۹۶۳، ۱۱۳مخ.

[3] احمد شاه درانی د شرقي افغانستان پښتانه قومونه لکه یوسفزي، بنګښ، خټک، اپریدي، شینواري او نور په دغه نامه یاد کړي وو. ژباړن



Property of ACKU

د فرضي نسب یاني له یهودیانو څخه راوتلی دی[۱]. دوی د خپل ملک لپاره کوم عمومي نوم نه نري، خو کله د افغانستان فارسي نوم په کاروي. ډاکټر لیډن (Dr.Leyden) د پښتونخوا نوم په دغه مفهوم سره استعمالوي، خو ما پخپله هیڅ اورېدلي نه دي. کله د سرحد نوم هم په دغه مفهوم سره استعمالېږي، خو په هغه حال کې د هغه هوارې پکې نه راځي، چې د سلیمان د غرونو په ختیځه خوا کې واقع دي. دا کلمه په حقیقت کې د فارسي کلمې نه سوا، چې مانا یې یو سوړ ملک دی، بل څه نه دي. هغه نوم، چې په ډېر عام ډول سره د ټول ملک لپاره د دغه د اوسېدونکیو له خوا استعمالېږي. خراسان دی، خو څرګنده ده چې ددغه نوم استعمال درست نه دی، ځکه له یوې خوا د پښتنو د ملک ټولې برخې د خراسان په حدودو کې نه راځي او له بلې خوا د هغه ولایت په زیاته برخه کې پښتانه، نه اوسېږي[۲].

زه د پښتنو د لرغوني تاریخ په اړه ډېر معلومات په لاس کې نه لرم، د دوی د اصل او نسب په اړه د دوی خپل روایت ماته یوه افسانه ښکاري، نو زه به هغه څو حقایق دلته راوړم، چې د خارجي مورخانو په آثارو کې پیدا کېږي. زه به لومړی په دغه کار لاس پورې کړم او وروسته به هغه روایتونه راوړم، چې دوی پخپله رااېستلي او اختراع کړي دي[۳].

ټول روایتونه په دې موافق دي، چې پښتانه په ډېرې لرغونې زمانې کې د غور په غرنۍ سیمه کې اوسېدل او داسې ښکاري، چې دوی لا پخوا د سلیمان غرونه خپل کړي وو. د سلیمان غرونه په خپل پراخ مفهوم سره د افغانستان ټول جنوبي غرونه په غېږ کې نیسي. داسې ښکاري، چې دوی د تاریخ فرشته په قول هم په نهمې پېړۍ کې د افغانستان په شمال ختیځ غرونو کې ځای نیولی و. تر هغه

---

[۱] اوس دا پوره جوته شوې، چې پښتانه د یهودیانو او نورو غیر اریایي نسب څخه نه دي، خو دا نظریه په پخوا وختونو کې په ډېرو اثارو کې لیدل کېږي. ژباړن.

[۲] په ځینو انګرېزي کتابونو کې مې لیدلي دي، چې د پښتنو ملک دروه په نامه یادېږي. دا هغه کلمه ده چې په پنجابي کې د غره مانا ورکوي او یواځې یو څو پښتنو ته د هغو کتابونو له لارې معلومه ده، چې په هندوستان کې لیکل شوي دي.

[۳] په عربي او فارسي تاریخونو کې ددغو خلکو د قدرت په اړه په یوې دقیقې څېړنې سره ممکن نور معلومات هم ترلاسه شي او هغه به ممکن موږ په دې قادر کړي، چې د دوی د مملکت تاریخ د سلطان محمود غزنوي له وخت نه راپه دې خوا ومومو، خو د ضروري کتابونو موندل مشکل دي او پیدا کول یې ممکن ډېر وخت ونیسي. څنګه چې زه به له دې وروسته مجبور شم، چې د آسیا په تاریخ کې ځینو حقایقو ته رجوع وکړم، زه له دغې موقع نه په استفادې سره اعتراف کوم، چې ددغسې موضوع د لیکوالو په اړه معلومات نه لرم، خو زما معلومات د یو څو تنو هغو لیکوالو په اثارو بنا دي، چې د دوی آثار په انګرېزي یا فرانسوي ترجمه شوي دي، تر هغو لږ معلومات چې یواځې د افغانانو په اړه دي، د یو څو پښتنو او فارسي لیکوالو له آثارو څخه اخیستل شوي دي.



Property of ACKU

وروسته د همدغه لیکوال په قول داسې ښکاري، چې دغه ملت د ساماني عربي کورنۍ تابع و* داسې ښکاري چې پښتنو د محمود او د نورو غزنوي پاچایانو د لښکرو زیاته برخه او ممکن هم مهمه برخه تشکیله کړې وي، خو هغوی چې د غور په غرو کې اوسېدل خپله ازادي خوندي کړې وه او شاید د خپل پاچا له خوا اداره کېدل، چې د هغه نسب له ضحاک څخه تر یوه اوږده لړ پاچایانو پورې رسېده. ضحاک (Zohauk) د فارس د پخوانیو پاچایانو له جملې څخه و. دغه شجره چې میر خوند کښلې ده او فرشته تاییده کړې. لږ تر لږه مشکوکه ښکاري، خو دا یقیني ده، چې د غور شاهزادګان د پټهون قام ته منسوب وو او د دوی کورنۍ ان په یوولسمې پېړۍ کې هم اوږد تاریخ لاره. داسې ښکاري چې غور، فیروز کوه او هم بامیان د دوی لوی ښارونه وو[1]. د غور پښتنو د دین په اړه مختلف روایتونه راوړل شوي دي، د ځینو په عقیده دوی له محمد صلی الله علیه وسلم نه وروسته ډېر زر د اسلام دین ومانه، په داسې حال کې چې نور وایي دوی په لسمې پېړۍ کې هم د بتانو عبادت کاوه. د بامیان له بتانو او سمڅو څخه معلومېږي، چې د هغه ملک اوسېدونکي په یوه وخت کې د بودا پیروان وو.

دغه خلک د سلطان محمود غزنوي په وخت کې د یوه شاهزاده له خوا اداره کېدل،

Property of ACKU

---

* د سامانیانو حاکمه کورنۍ عربي نه، بلکې محلي وه. ژباړه.

1 بامیان تراوسه هم چې د کابل په شمال لویدیځ کې پروت دی، د حکومت مرکز دی. فیروز کوه خپل نوم ممکن فیروز کوهي ایماقو ته ورکړی وي او د دوی د استوګنې د ځای له موقعیت څخه ښکاري، چې هغه باید د هرات په ختیځ کې واقع اوسي، خو غورات دې دي چې ټول یې د پاراپامیزاد د غرونو په لمنو کې پراته دي. دا معلومه نه ده، چې ددغو درېو کوم یو د غوري پاچایانو مرکز دی. لومړنی یې د بلخ جنوب ختیځ ته پروت دی، دویم یې د غزني په شمال لویدیځ کې واقع دی او درېیم یې د فراه په شرق کې دی. د ځینو نظریاتو له مخې، چې ما له ځینو خلکو نه اورېدلي دي، د غوري پاچایانو مرکز درېیم و. زه هم له دغو نظریاتو سره په کلکه موافق یم. زما دغه نظر د ډي هربیلوت D.Herbelot د مقالې (غیاث الدین) په یوې فقرې بنا دی، چې د هغې په اساس د غور یوه پاچا رې ور او ګرمسیر Raver and Kermessir چې غور له هندوستان څخه بیلوي لاندې کړی و، نو دا ملکونه باید حتماً د غور ختیځ ته پراته وي. څنګه چې K او G په دري کې په یوه توري ادا کېږي. په دې کې څه شک نه پاتې کېږي، چې لومړی یې ګرم سیر Guremseer یا کرم سیر Kurmseer دی او بله کلمه یعنې Raver یې ممکن د داور Dawar یا زمین داور Zemeen Dawer ګاونډی سیمه وي. ممکن هغه نږدې مشابهت چې د دري د دال D او رې R ترمنځ شته دی، ددغې تېروتنې سبب شوی وي چې نورو ختیځ پوهانو هغه په دقت سره نقله کړې ده دا هم یقیني ده، چې اوس د راور Rawer او ګرم سیر Kermessir کلیمې نه موندلې کېږي. د درېو غوراتو څخه یواځې هغه چې فراه ته نږدې واقع دي، د ګرم سیر او داور Dawer په لویدیځ کې واقع دی. په نتیجه کې ویل کېدای شي، چې یواځې همدغه غور په دغو منطقو سره له هندوستان څخه بیلېدای شي.

چې نوم يې محمد و او هغه د سلطان محمود له خوا مغلوب او بندي شو. د هغه اولادې د دولسمې پيړۍ تر نيمايي پورې د غزنوي کورنۍ له خوا ډېر ربړونه وګالل، چې دوی په وسلې لاس پورې کړ او د غزني پاچايان يې مغلوب او له تخت نه کوز کړل او هغه ښکلې پايتخت يې وسوځاوه او له خاورو اېرو سره يې برابر کړ. له هغه وروسته دوی د خپلې امپراتورۍ په ارتولو پسې شول او ورو ورو يې د کابل موجود سلطنت، هندوستان، بلخ، بدخشان او د خراسان يوه لويه برخه تر خپل حاکميت لاندې راوسته. له هغه وخت نه د بابر تر حملو پورې، چې د درېو پېړيو يوه دوره ده، د پښتنو بېلو بېلو کورنيو په يو ځه وقفې سره په هندوستان باندې حکومت کاوه، خو د غوره کورنۍ د قلمرو هغه نورې برخې دمخه د خوارزم پاچا لاندې کړې، چې له هغه ځخه چنګيز خان ونيولې او د سوري قبيله اوس په دامان کې يو ځو کورنيو ته رسېږي.[1]

داسې ښکاري، چې پښتنو د چنګيز خان د الولادې، د تيمور او د هغه د اولادې د حکومت په وخت کې خپله آزادي په غرونو کې ساتلې ده او د بابر په وخت کې له ټولو خارجي قدرتونو سره يې ځه ارتباط نه وي لرلی. بابر، چې تيمور له نسب ځخه او د سترو مغلو نيکه و، د کابل په نيولو سره چې د مرګ تر ورځې يې مرکز و [2] خپله دوره شروع کړه. دده د مرګ په وخت کې کابل دده د يوه زوی کامران تابع و. په داسې حال کې چې هغه بل زوی همايون يې شېر شاه سوري له هندوستان ځخه وشاړه. شېر شاه په هندوستان کې د پښتنو حکومت تاسيس کړ.

خو ډېر يې دوام ونه کړ. په پای کې د تيمور کورنۍ په کلکه په هندوستان کې په واک راغله، د امپراتورۍ مرکز له کابل نه ډهلي ته ونقل شو او د افغانستان هوارې سيمې د هندوستان او د فارس د امپراتوريو ترمنځ ووېشل شوې. خو غرونه يې د هېڅ يوه تابع نه وو.

د اتلسمې پېړۍ په پيل سره د پښتنو يو قوم غلزيو يوه داسې امپراتوري جوړه

---

[1] سره له دې هم داسې ښکاري چې دوی په موقتي ډول خپلې علاقې بېرته ترلاسه کړې وې، ځکه د چنګيز خان له مرګ نه نږدې سل کاله وروسته محمد سام غوري د هغه فاتح د يوه لمسي په مقابل کې له هرات ځخه دفاع کوله (ډي اوهيون ځلورم ټوک ۵۱۵ مخ) او تيمور په شپاړسمې پېړۍ کې د غياث الدين بن معزالدين غوري ذکر کوي، چې خراسان، غور او غرجستان يې په تصرف کې و (تيموري ملفوظات، ۱۴۵ مخ) سام، غياث الدين او معزالدين ټول د غور د اصلي کورنۍ فاميلي نومونه دي. ۱۸۳۸).

[2] د بابر د مړينې په وخت (۱۵۳۰) کې کابل دده مرکز نه و، بلکې ډيلي يې مرکز و. ژباړن



Property of ACKU

کړه، چې ټول فارس پکې شامل و او حدود یې لوید یځې خوا ته د روسیې او ترکیې تر اوسنیو امپراتوریو پورې رسېده، خو پخپله د افغانستان یوه برخه د هغوی تابع وه. نادر شاه افشار دغه کورنۍ ړنګه کړه او د افغانستان ډېرې برخې یې د فارس تابع وګرځولې. د هغه تر مړینې وروسته د افغانستان اوسنۍ پاچایي جوړه شوه، چې د خپل معراج په وخت کې د کسپین د بحیرې له غاړو نه د جمنا تر سینده پورې او له آمو څخه د هند تر بحره پورې غځېدلې وه.

د پښتنو په اړه ددغو حقایقو له عمومي یادونې نه وروسته، چې ټول یې په معتبرو تاریخونو کې راغلي دي، اوس د هغه څه ذکر کوو چې پخپله پښتانه یې د ځان په اړه وایي، هغه څه چې دوی یې د خپل اصل او نسب په اړه وایي، د پام وړ دي او د یوه نومیالي ختیځ پوه پاملرنه یې لا د وخته ځانته اړولې ده. دوی په دې عقیده دي، چې دوی له یوه افغان نه پیدا دي او دغه افغان د ارمیا (Irmia) یا برخیا (Berkhia) زوی و، چې هغه د ساول (Saul) د اسرائیل د پاچا زوی و. د دوی د ملت ټول تاریخونه له ابراهیم سره د یهودو تر معاملې وروسته تر اسارت پورې شروع کېږي. داسې ښکاري چې ددغو معاملو په اړه د دوی روایتونه د نورو مسلمانانو له روایتونو سره سرخوري او که څه هم دغه روایتونه له بې قیده خیالي ټکو سره ګډ شوي دي، اساساً له مقدس کتاب (انجیل) سره موافق دي. دوی وایي، چې د افغان یو څو زامنو ورسته له بندي توب نه دغرو غرو ته کډه وکړه او نور یې د عربستان د مکې شاوخوا ته لاړل.

دا روایت تراوسه له احتمال نه لیرې نه ښکاري، دا معلومه شوې ده، چې له دولسو قامونو څخه لس یې د یهودو ملک یا جودیا (Judea) ته د دوی د ورونو له ستنېدو څخه وروسته په ختیځ کې پاتې شول او دغه فرضیه، چې پښتانه د دوی له نسل څخه دي، په آسانه او طبیعي ډول سره د یو قام ورک کېدل او د بل قام شروع کېدل شرح کوي. د کیسې وروسته برخه په دغه حقیقت سره تاییده شوې، چې یهودیان په عربستان کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په وخت کې په شمېر کې زیات وو او یوه ستره څانګه یې د خیبر په نامه یادېده. خیبر اوس هم که د کوم پښتون قوم نوم نه دی، په افغانستان کې د یوې علاقې نوم دی. دا نظر قوي ښکاري او ممکن صحیح وي، خو کله چې په دقت سره تر مطالعې لاندې ونیول شي، ښکاره به شي چې هغه یواځې په یوې خړې عنعنې بنا دی او ان دغه عنعنه هم په ډېرو تناقضاتو او بې ثباتیو کې پېچلې ده.

Property of ACKU

د پښتنو د شجرې او نسب په اړه د پښتنو مورخان وايي، چې د اسرائيل اولاد هم په دغو راوهم په عربستان کې د خدای د وحدت په اړه خپل علم او د خپلې مذهبي عقيدې سوچه والی وساته او د پيغمبرانو د وروستي او ډېر ستر پيغمبر ياني د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په ظهور سره د غور پښتنو د خپلو عربي ورونو بلنه ومنله. خالد د وليد زوی د عربستان پښتنو مشر و. دی د سوريې په فتح کولو سره ډېر مشهور شوی و، دوی د قيس چې وروسته د عبدالرشيد په نامه ياد شو، په مشرۍ له ربښتيني عقيدې سره د مرستې کولو په غرض مارش وکړ. د عربستان تاريخ پوهان معکوساً د خالد نسب د خپل د ملت له يوه ښځې معلوم قام څخه پيدا بولي او د پيغمبر د اصحاب، يا انصارو په اړه له خپل لست نه د قيس نوم حذف کوي او د پښتنو د مرستې د موضوع په اړه بالکل چوب دي. ان پښتانه تاريخ پوهان که څه هم وايي، چې د عربستان د لښکر اېستلو په وخت کې د پښتنو شمېر ډېر و او دا چې که څه هم له يوې اشارې چې دوی يې حضرت محمد ته نسبت ورکوي، معلومېږي چې دوی ډېر دمخه په خپلې خاصې ژبې خبرې کولې. سره له دې هم په يوه بل ځای کې وايي، چې د دوی ټول ملت د هغه قيس له نامتو اولادې څخه پيدا شوی دی، چې په پورته ذکر شويو جنګونو کې قوماندان و.

که چېرې کوم بل دليل ته اړتيا وي، چې د دوی دغه برخه تاريخ رد کړای شي، هغه په خپله د پښتنو مورخانو له خوا وړاندې شوې ده. دغه مورخان وايي چې سال (Saul) د ابراهيم له پينځه څلوېښتم پښت څخه او قيس د سال له اوه دېرشم نسل څخه و. له دغو دوو روايتونو څخه لومړنی يې له مقدسو کتابونو سره مخالف دی او د دويم حساب په قرار ۳۷ نسله د شپږ سوه کالو په اوږدو کې راغلي دي[1] که چېرې موږ په دغو حقايقو کې دا اضافه کړو، چې سال د ارميا (Ermia) يا برکيا (Berkhia) په نامه زوی نه لاره او دا چې که د پښتانه په نامه د هغه د لمسي موجوديت ومنل شي. د هغه په زوزات کې ددغسې طايفې د مشر (Patriarch) نوم پاتې شوی نه دی او که چېرې موږ هغه آسانه عقيده په نظر کې ونيسو، چې د هغه په قرار ټول پردي ملتونه داسې روايتونه غوره کوي، چې د دوی په تاريخي توب دلالت کوي، په دې حال کې موږ مجبور يو له يهوديانو نه د پښتنو نسل د روميانو په قطار کې وشمېرو او د برتانويانو نسبت له تروجانانو (Trojans) او د

[1] دغه شمېر له تاريخ شېر شاهي څخه اخيستل شوی دی. په تاريخ مرصع کې دغه شمېر تر دې هم لا ډېر دی، خو په دې کتاب کې د ابراهيم ع او يعقوب ع ترمنځ د پينځه څلوېښتو نسلونو ذکر شوی دی.

Property of ACKU

آیرلېنډیانو نسل له ملیزیانو (Medians) یا له برامنانو (Bramins) څخه وګڼو.[1]

---

[1] دغه موضوع ویلیم جونز (William Jones) دوان سي ټارټ (Vansittart) د ترجمې په اړه (آسیایي تحقیقات، دویم ټوک، څلورمه مقاله) په یوې سیمې کې تر بحث لاندې نیولې وه، دغه پوخ عالم دې ته متمایل دی، چې دغه فرضي نسب په لاندې څلورو دلیلونو تقویه کړي.

دوه لومړي دلیلونه د ارسارت (Arsareth) له نامه سره د هزاره (Hazara) د نامه ورته والي څخه راوتلی دي ارسارت د هغه ملک نوم دی، چې داس دراز (Esdraz) په قول یهودانو ورته پناه وړې وه، خو دغه دلیل چې اساساً قناعت بښونکی نه و، په دغه حقیقت سره رد کېږي چې هزاره هغه ملت دی، چې هغوی په دې نږدې وختونو کې د افغانستان دغه سیمه نیولې ده، خپل نوم یې پرې ایښی دی. دویم دلیل په هغه روایتونو بنا دی، چې په متن کې یې ذکر شوی دی او د فارسي ژبو مورخانو له لیکنو نه راوتلی دی. دا دلیل ممکن له دغو روایتونو نه راوتلی وي او هېڅکله د اعتبار وړ نه دي. درېیم دلیل د پښتنو او یهودانو د نومونو په ورته والي بنا دی، خو پښتنو دغه نومونه ممکن له عربو څخه اخیستلي وي لکه چې نورو مسلمانانو هم دغسې کړي دي. لرغوني نومونه د یهودیانو له نومونو سره هېڅ راز اړیکې نه لري.

آخرنی دلیل یې د پښتو او کلده ژبو په فرضي مشابهت بنا دی، چې د هغه په اړه به لوستونکي قضاوت وکړي. د پښتنو او یهودیانو په عاداتو کې شاید د مشابهت ډېر ټکي موجود وي، خو دغسې ورته والی د هغو ملتونو په منځ کې معمول دی، چې د تکامل په عین پړاو کې وي او که دغه مشابهتونه د هویت اثبات وګڼل شي شاید دا ثابته شي، چې تاتار، اعراب، جرمنان او روسان یو اوسي. له یوه نه زیاتو اروپایي لیکوالو دا هم ویلي، چې پښتانه له یوه قفقازي قام څخه دي او په خاص ډول له ارمنیانو څخه پیدا دي. پښتانه تر هغه ځایه، چې د قفقاز نوم پورې تعلق لري، تراوسه هم په همدغه مشهور غره کې اوسي (مقصد هندوکش دی) خو له دې نه مقصد دا وي، چې دوی د کسپین د بحیرې لویدیځ ته پراته وو. شواهد یې هېڅ تایید نه کوي. پخپله دوی ته د دوی ارمني نسب بالکل نامعلوم دی، که څه هم چې دا خبره مدام د ارمنیانو په خوا کې اوربدل کېږي. ارمنیان داسې کیسه کوي، چې پښتانه ددې لپاره چې له هغو اوږدو روږو څخه ځان خلاص کړي، چې د دوی مذهب فرضي کړې وي، مسلمانان شول. تاریخ له دې کیسې سره دومره مخالفت لري، چې حاجت یې ذکر ته نشته دی. زه باید دلته اضافه کړم، چې ما د ارمني ژبې یو شمېر کلمې د پښتو له کلمو سره پرتله کړي دي او دې نتیجې ته رسېدلی یم، چې د دواړو ژبو ترمنځ ما هېڅ ډول ورته والی پیدا کړی نه دی. یو وخت مې یوه مشهور ارمني عالم ته د پښتو لغتونه واورول، دغه عالم که څه هم په دې ټینګ وو، چې پښتانه له ارمنیانو څخه پیدا شوي دي، بالاخره یې وویل چې ده ددغه دوو ژبو ترمنځ کوم شریک لفظ پیدا نه کړ. د نورو قفقازي ژبو په اړه ما دغسې فرصت پیدا نه کړ، خو ما نږدې دوه نیم سوه کلمې د ګرجستان له

Property of ACKU

ژبې نه د پښتو له معادلو کلمو سره پرتله کړې او د دوی ترمنځ مې هېڅ مشابهت ونه مونده، نو زه کوم دلیل نه لرم چې پښتانه له لویدیځو قفقازیانو سره تړلي وبښیم. یواځې یو جرمنی سیاح چې نوم یې له ما نه هېر شوی دی، چې هغه پښتانه چې ده په تېرې پېړۍ کې لیدلي و، له قفقازیانو سره مربوط دي، دا وینا هېڅ د منلو نه ده.

د فرشته په قول قیس د هاشم زوی او حنیف د قیس زوی په خراسان کې د عربانو دوه لومړني قوماندانان وو (د برګز ترجمه، لومړی ټوک، ۳ مخ). دی دا هم وایي. څرنګه چې خالد د عبدالله زوی له دې نه وېربده، چې عربستان ته بېرته ستون شي، د سلیمان په غرونو کې یې استوګنه غوره کړه او خپله لور یې یوه نوي مسلمان شوي پښتون مشر ته په نکاح کړه (ایضاً، ۵ مخ) ممکن ددغو لیکنو په اساس وي، چې د قیس او خالد نومونه پښتنو لیکوالو ته ور په زړه شوي وي او دی د لومړي ځل لپاره په دې فکر شوی اوسي، چې خپل قوم د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم قوم ته په منسوبولو سره افتخار وکړي. زه باید دلته ووایم، چې د پښتون هېڅ لرغونی نوم د عربو او یا یهودانو له پخوانیو نومونو سره هېڅ راز مشابهت نه لري. د پښتنو څلورو لویو څانګو نیکونه سړبن، غرغښت، بېټنی او کرله (Kurleh) یا کورانی (Kurannee)، کاکړ او نور نور د دوی دغه نورې څانګې لکه یوسفزي، محمدزي، سلیمان خېل او هغه نورې څانګې، چې نومونه یې له عربي او عبراني څخه وتلي دي، ډېر تازه دي. د خارکوف پروفیسر دورن (Dorn) چې یې د پښتنو تاریخ ترجمه کړی او ډېر علمي یادښتونه یې پرې زیات کړي دي، هغه نظریات یې څو څو واره تر بحث لاندې نیولي دي، چې د پښتنو د نسب په اړه دي او هغه دا ردوي: اول له قبطیانو څخه، دویم له یهودانو څخه، درېیم له ګرجیانو څخه، څلورم له ترکانو څخه، پینځم له مغولو څخه، شپږم له ارمنیانو څخه او د هغو نظریاتو ذکر یې په صحیح ډول سره کړی، چې وایي پښتانه د اندوسیتي (Inda Seythian)، مادانو (Milesians) فارسیانو او هندیانو له نسل څخه دي. ددغو ټولو نظریو په مطالعې سره دې دغې معقولې نتیجې ته رسېدلی دی، چې پښتانه د خپلو سیمو له حدودو او ورځېرمه غرونه هغې خوا کوم بل ملک یا قوم ته نه منسوب کړي.

۱۸۳۸



Property of ACKU

# دویم څپرکی

## د پښتون ملت ځانګې او حکومت

هر څومره چې د پښتون ملت د شجرې او ان د قیس عبدالرشید د شتوالي په اړه شک او تردید وشي. بیا هم ټول پښتانه شجره لیکونکي هغه ته رجوع کوي او په همدغو شجرو باندې د دوی د قامونو داخلي حکومت او وېش اتکا لري. څنګه چې د دوی هر قوم ځان ته خاص حکومت لري او په خپل ذات کې یو پوره کامنولت جوړوي، ښه به دا وي چې د همدغو کامنلوت پیدا ایښت او اوسنی حال تر کتنې لاندې ونیسو او دا کار پخوا له هغه وکړو، چې دوی د یوه مشترک واکمن تر حکومت لاندې د یوه دولت یا یوه کانفدریشن په حیث مطالعه کړو. د قیس له څلور زامنو سړبن، غرغښت، بیټني او کرله څخه د پښتنو څلور ځانګې پیدا شوي، چې تراوسه هم د دوی په نومو یادېږي. پښتني قامونه د همدغو څلورو پلرونو له زوزات څخه منځ ته راغلي او هر یو یې د نږدې نیکه په نامه یادېږي. که د پښتنو نسل له یوه نیکه څخه وګڼو، ددې احتمال شته، چې تر هغو چې د یوه فامیل غړي لږ وو، دوی ټولو د خپل مستقیم نیکه تر حاکمیت لاندې ژوند کاوه او کله چې د دوی شمېر زیات شو هغه څلور ځانګې سره بېلې شولې او هره ځانګه یې د تر ټولو مشرې ځانګې تر مشرۍ لاندې وه، خو کله چې دوی په یوې پراخې ساحې کې خپاره شول او د همدغې سترې ځانګې قبیلې له یو بل څخه لرې شوې، د دوی اړیکې کمزورې شوې او هر قوم د خپل خاص مشر تر حاکمیت لاندې پاتې شو او له شریک نیکه څخه جلا شو. هغه پخواني څلور ګوني وېش اوس له استعمال نه لوېدلی دی او یوازې د قامونو په شجرو کې یې ذکر کېږي.

### د ولس حکومت

دغه قامونه تر زیاتې اندازې له یو بل نه بېل دي (هر یو ځانته خاصه ساحه لري) تراوسه هم دوی د پلارواکۍ حکومت لري. لکه دمخه چې ورته اشاره وشوه، هغه پرنسیب چې دوی د هغه په اساس زما په نظر سره بېل شوي دي، اوس هم په دوی



Property of ACKU

کې جاري دی. هر قوم په څو بېلو څانگو سره وېشل شوی او دغه څانگې په هغو قامونو کې، چې د وگړیو شمېر یې زیات شوی او سره تیت شوي وي، سره بیلې شوي دي او هره یوه څانله د یوه مستقل مشر له خوا اداره کېږي. سره له دې هم دوی خپل گډ نوم او د وینې او منافعو د اشتراک مفهوم ښه ساتلی دی.

د ولس نوم یا د ټول قام یا ددغو خپلواکو څانگو یوې څانگې ته راجع کېږي. داسې ښکاري چې دغه کلیمه د خېلونو د کامنولتې مفهوم لري. یو ولس په څانگو سره وېشل کېږي، هر یوه یې څانته خپل مشر لري، چې هغه د ولس د مشر تابع دی. دغه څانگې بیا هم سره وېشلې شوې او دغه عملیه نوره هم تکرارېږي (څه نا څه د یوه ولس د حجم له مخې) چې ورروستنی فرعي وېشنه یوازې یو څو کورنۍ په غېږ کې ونیسي، هره فرعي وېشنه څانله مشر لري او هغه د هغه وېش د مشر تابع دي، چې فرعي وېشنه یې یوه خبره ده.

ددغو څانگو هره یوه څانته خاص نوم لري، چې د هغې د نږدې نیکه په نامه یادېږي.(۱)

---

۱ دا لیکنه به په یو جدول سره، چې د غلزیو یوه څانگه او حکومت ښېي ښه واضحه شي، خو ښایي دا په یاد ولرل شي چې که څه هم د لرغوني فامیل مشر تراوسه هم د ټولو غلزیو مشر دی او همدا شان واړه خېلونه هم څانله مشران لري، سره له دې هم د ځینو منځنیو څانگو غړي له یوه بل نه بېل شوي دي او اوس یو گډ مشر نه لري. لکه د بران (Booraun) او ایزوب (Izzub) خېلونه چې یې نه لري.
د دوی حکومت به په یو مثال سره وښودل شي او زه به د سلیمان خېلو د یوې څانگې یانې عیسی خېلو مثال ذکر کړم، چې په جدول کې په دغې علامې (O) سره په نښه شوی دی. البته د عیسی خېلو هره کورنۍ د خپل مستقیم مشر له خوا اداره کېږي. هر لس یا دولس فامیلونه د یوه گډ نیکه له خوا اداره کېږي، که چېرې هغه ژوندی وي او که مړ وي، د هغه د نماینده له خوا اداره کېږي. ددغو څو فامیلونو مشران د سپین ږیرو په نامه یادېږي. هر لس یا دولس مشران د یوه گډ پلار یا د یوه محل مشر له خوا چې هغه د دوی د مشترک نیکه نماینده دی، اداره کېږي چې د دوی یو څو شمېر یو فرعي وېش تشکیلوي، چې هغه د دوی د ټولو غړیو د نیکه د نماینده له خوا اداره کېږي او هغه د ملک یا مشر په نامه یادېږي. څو فرعي وېشونه یو وېش جوړوي، چې اداره یې د پخوا په شان ده. له څو وېشو نه یو خېل جوړېږي، چې په عیسی خېلو کې د هغه مشر اوس اوس عبدالله خان دی. له عیسی خېلو او شپږ نورو خېلونو څخه د احمدزیو طایفه (Clan) جوړه ده، چې هغه د خانان خان له خوا د احمدزیو د نماینده په حیث، چې هغه د دوی مشترک نیکه و، اداره کېږي. له احمدزیو او درېو نورو طایفو څخه اسماعیل زي جوړ دي، خو دوی د یوه مشترک مشر تر ادارې لاندې نه دي او د اسماعیل زي د فامیل مشر یا له یاده اېستل شوی او یا نه منځه تللی دی. د اسماعیل او د پیچ (Pitch) له زامنو څخه سلیمان خېل جوړ دي، چې مشر یې احمد خان د سلیمان د نماینده په حیث دی. په اوسني حال کې د اریوب (Irjub) کورنۍ، چې له سلیمان خېلو او علي خېلو نه جوړه ده، مشر نه لري. دا شان بران مشر نه لري، چې له هغه نه اریوب او نور پیدا دي، خو اسماعیل خېلو او علي خېلو او د نورو و طایفو مشران،



Property of ACKU

## د غلجیو د قبیلې شجرې

د غلجي قبیلې مشر (عبدالرحیم)

توران
مشر عبدالرحیم

بوران
مشر نه لري

هوتکي
مشر عبدالرحیم

توخي
مشر شهاب الدین

موسی خېل
مشر نه لري
اندړ
مشر لالی
تورک
مشر حیدر
سخاک
مشر اتمان

ارجوب
مشر نه لري
علي خېل
سلیمان خېل
مشر احمد

اسماعیل زي
مشر نه لري
پیچ
قیصر

احمدزي
مشر خانان خان
سلطان
عبدالرحیم
دوسو

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| موسی خېل | عیسی خېل | یحیی خېل | بوران خېل | علاوالدین خېل | معروف خېل | بابکرخېل |
| مشر خانان خان | مشر عبدالله | مشر سلیمان | مشر ونه موندل شو | مشر خدران | مشر احمد | مشر افضل |

چې د همدې ډول تشکیل شوي دي ، ټول د عبدالرحیم خان مشرتوب مني ، چې هغه د ټول غلزي قام د مشرې طایفې مشر دی.
له خپلو لوستونکیو نه هیله لرم ، چې له دې وروسته څه وخت ، چې د پښتنو له سترو وېشو څخه گرېږم ، زه به یې د قامونو (Tribes) په نامه یادوم او څه وخت ، چې د یو قام له اجزاوو څخه خبرې کوم ، لومړنی وېش یې د طایفې Clan په نامه یادوم ، چې هغه لکه پورته له یوې طایفې ، خېلونو او نورو څخه متشکل دي ، خو کله چې زه ددغو وېشونو څخه د یوه مستقل هیئت په حیث بحث کوم ، هغه د ولس په نامه یادوم او اجزا به یې د طایفو ، خېلونو او نورو په نامه یادوم. دا ذکر د هغه ارتباط له مخې دی ، چې دوی یې هغه ولس ته لري لکه څنگه چې وروستی د یوه قام په حیث دی. خېل د عربي خېل نه چې مانا یې یوه ډله یا مجموعه ده ، راوتی دی او (زی) چې زیاتره د قامونو ، طایفو او کورنیو نومونو پسې د لاحقې په حیث راځي ، د زوی مانا ورکوي. لکه څنگه چې میک (Mac) د سکاتلندیانو له خوا د لاحقې په توگه استعمالېږي ، د ملک اصطلاح چې د یوه فرعي وېش مشر ته راجع کېږي ، له آره عربي ده او د پاچا مانا لري او مشر زما په خیال د عربي د مشر د کلمې چې مانا یې مشاور دی ، تحریف گڼل کېږي.



Property of ACKU

دا هره یوه څانگه په خپل وار سره په نورو وړو څانگو وېشل شوې، چې په سر کې یې جلا مشران دي او همدغه څانگې بیا په نورو وړو څانگو تر کورنیو پورې وېشل شوي دي او لکه چې د اسحق خېلو په برخه کې مو ذکر کړه، ټولې له یو بل سره د تابعیت په یوه لړۍ کې واقع دي.

## خـــان

د یوه ولس مشر د خان په نامه یادېږي. خان تل د ولس د ډېرې لرغونې کورنۍ څخه انتخابېږي.

دغه انتخاب په ډېرو حالاتو کې په پاچا پورې اړه لري او پاچا په خپله خوښه یو خان معزولوي او په ځای یې د هغه یو نږدې خپلوان ټاکي. په ځینو ولسونو کې خان د خلکو له خوا انتخابېږي، په دواړو حالاتو کې د مشرتوب اصل ته یو څه توجیه کېږي، خو تر هغه زیات سن، تجربه او سجیه په نظر کې نیول کېږي. دغه نه ټاکل شوی ځای ناستی د ډېرو شخړو سبب کېږي. څه وخت، چې خان ومري، د هغه دوه یا ډېر زامن او ورېرونه په قام کې د گوند د پیدا کولو په لټه کې کېږي او یا په وفادارۍ او یا اعانې سره پاچا راضي کوي او یا وزیرانو ته یې بډې مني. وروسته له هغه، چې د خان ځای ناستی هم وټاکل شي، ناکامه کاندید هم خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي. کله کله خو ډېر په ندرت سره د ولسونو یوه برخه له هغه سره بېله شي، زیاتره وخت دی په دربار کې خپلو دسیسو ته دوام ورکوي یا په خپل ولس کې جنگ ته پکې وهي او په دې جنگ کې دی کله د یوه بل مخالف قام له خوا حمایه کېږي. په ملت کې د کورنیو جگړو په دوران کې د ولس د مشرتابه لپاره هغه ناکام کاندید د تخت او تاج له مدعي سره یوځای کېږي او د کامیابۍ په صورت کې بیا قدرت ته رسېږي.

د تابع وېش مشر تل د پخواني فامیل د غړیو له خوا انتخابېږي، له ټولو ښکته فرعي وېش له دې اصل څخه مثتثنی دی. په دغه وېش کې د مشرتوب تفوق طبیعي دی، په دې چې یو زوړ سړی د لسو یا دولسو کورنیو مشر دی، چې هغه د هغه له زامنو، ورېرونو او لمسیانو څخه جوړې دي.

## جـــرگه

د یوه ولس داخلي اداره د خانانو او د وېشونو مشرانو د شوراگانو په لاس وي. دغه شوراگانې د جرگو په نامه یادېږي. خان د سترې جرگې مشرتوب په غاړه لري او جرگې د ولس د سترو څانگو له مشرانو څخه جوړې وي. هر خان د خپلو وېشونو د مشرانو جرگه رابولي، ورپسې دغه وېشونه خپلې جرگې هم کوي او د ډېرو فرعي

Property of ACKU

جرگو غړي یا د خپلو افرادو په احساساتو، چې د دوی تر اداري لاندې دي، خبر وي یا ددې قدرت لري، چې هغوی دې ته راضي کړي، چې د دوی نظریات ومني.

خان په وړو موضوعاتو کې یا په عاجل حال کې بې د جرگې له مشورې نه عمل کوي. دغه جرگه په ورته حالاتو کې بې د هغو جرگو له مصلحت نه د خپل نظر اظهار کوي، چې تر هغې لاندې دي، خو په مهمو چارو کې څه وخت، چې شرایط مساعد وي، پخوا له دې چې کومه فیصله وشي، د ټول قام احساسات یقیني کېږي.

د حکومت سیستم، چې ما په گوته کړ، زیاتره وخت لکه د لاندې شرایطو په اثر ویجاړېږي، چې یواځې کله کله په ټول قوت سره په ځای پاتې وي، نو ځکه ددې لپاره چې د هرې یوې قبیلې څرگندونه وشي باید یو داسې ماډل ولټول شي، چې د قامونو ټول حکومتونه په هغه بنا دي. ممکن داسې یو حالت ونه موندل شي، چې هلته د واکونو په لړۍ کې چې باید له خان څخه د کورنیو تر مشرانو پورې اوږدې وي، کومه کړۍ ورکه نه اوسي[1] یوه طایفه، خېل یا کومه څانگه بې له دې، چې خپلې اړیکې له پورتنیو سره وشلوي، زیاتره په خپلو داخلي چارو کې آزادېږي، تر دې حده چې هغه د یوه ولس د کوچنۍ څانگې په حیث یا تابع وي یا له ولس څخه مستقل وي.

## د خان قدرت:

کله کله د قام ټول اساسي قانون هم اپوته شي، په ځینو نادرو حالاتو کې خان په خپل سر او مستبد شي او بې له دې، چې له هغو جرگو سره چې دده تر اثر لاندې وي، مشوره وکړي، عمل کوي او په ده پسې نور واړه مشران هم هماغه دریځ غوره کوي، خو ډېر ځله مشران له یاده ایستل کېږي او هر فرعي ویش، هره محله او ان هر فامیل په پورتنیو مشرانو باندې د خپل اتکا کړۍ شلوي او د خپلې گټې یا خوښې پر بنسټ عمل کوي.

دغه وروستۍ نیمگړتیا د یوې موقتي ادارې په ټاکلو سره رفع کېږي. دی چې د خپلو استعدادونو په اساس ټاکل کېږي، یو ډول دیکتاتور دی، چې د جنگ په حال یا نورو حالاتو کې چې د هغه لپاره دي، انتخاب شوی دی، ډېر واک لري، خو کله چې دده د ماموریت دوره پای ته رسېږي، دی بېرته د یوه عادي وگړي حال ته گرځي.

ښه به دا وي، چې د هغو شرایطو ذکر وکړو، چې د مشرانو د واک اندازه ورپورې اړه لري.

خان په هغو قامونو کې، چې پاچا ته تابع وي، د شاهي مالیاتو په تحصیل سره او د ملیشې د ساتلو په ماموریت سره او همدا راز د هغو معاشونو یا موجبو په

[1] په دې ډول په تېرې بیان شوې شجرې کې د بوران د زامنو او د ازوب د زامنو مشران نه شته دي.



Property of ACKU

اخیستلو سره، چې له دغسې وظیفو سره تړلي دي، زیات نفوذ پیدا کوي. دده شخصي سجیه دده قوت او نفوذ په زیاته اندازه متاثره کوي. د شتمنۍ لرل چې دی په هغې سره کولی شي نوکران وساتي او د ولس مشرانو ته وظیفې وسپاري، دده قدرت ډېروي. له بلې خوا په هغه حال کې، چې دده قام وړوکی وي یا د هغه د اوسېدلو وړ ځمکې تنګې وي، د ټولو وړشو مشران واړه وي که لوی زیاتره په یوې جرګې کې سره ټولېږي. دا جرګه، چې د ټول ولس قوت سره جمع کوي، هېڅکله د یوه خان تر کنټرول لاندې نه ځي، څنګه چې خان په خپلې کورنۍ کې یو قوي رقیب لري او څنګه، چې د قام یوه ناراضه څانګه د بېلېدو او له بل کوم ولس سره د یوځای کېدو وسایل په لاس لري او څنګه چې داسې شرایط ډېر دي، چې خلک د جګړه ماري او زیان په لور بیایي، دا ټول ددې سبب کېږي، چې د خان صلاحیت محدود شي. په عمومي ډول دا د یادونې وړ ده، چې هغه قومونه چې په زیاته اندازه د پاچا تر نفوذ لاندې وي، په زیاته اندازه خپل خان ته تابع دي. که څه هم، چې په دغه اصل کې ځینې واضح استثنائات شته دي. پښتانه په خپل مشر پورې تړلي نه دي.

د پښتنو قبیلوي احساسات په ټولو قامونو کې د غربیو خلکو د احساساتو په خلاف، نظر دې ته چې په مشر پورې اړه ولري، په خپل ولس پورې اړه لري او که څه هم خان د دوی په نظر کې د یوه اداره چي مفهوم لري، چې د ټولنې د خیر لپاره ټاکل شوی وي او دا په یقیني ډول د یوه طبیعي او پلارواکۍ مشر له مفهوم سره ګډ دی، سره له دې هم هغه مخکنۍ انګېرنې په دوی کې تل ډېرې پیاوړې ښکاري، په دې اساس د ژوند او مرګ قدرت، چې د غربیو ملکونو د مشرانو له خوا عموماً تطبیقېده او دا هغه وخت و، چې قبیلوي احساسات ډېر قوي وو، یو پښتون خان یې په ډېر ندرت سره په اختیار کې لري او دا یوازې کله کله پېښېږي چې د خان شخصي منافع یو قام دې ته اړ کړي، چې په داسې کار لاس پورې کړي، چې د دوی له ګټې یا عزت سره مخالفت ولري.

په جنوب ختیځ کې د غلزیو نه غیر لویدیځ پښتانه له خپلو وطنوالو سره شخړې نه لري[1] خو په ختیځ کې به داسې قام ډېر لږ وي، چې د تاوده جنګ او یا د ساړه جنګ په حال کې نه وي، دوی زیاتره په خپلو منځو کې پایېدونکي دښمنۍ لري، خو تر هغو چې ځینې شرایط دغه دښمنۍ ونه پاروي، په ښکاره له نښتو اوړي او دا

---

[1] واضحه ده، چې د واکمنۍ په سر د غلزیو او درانیو جنګ له هغو وړو شخړو څخه توپیر لري، چې پاس ورته اشاره شوې ده.



Property of ACKU

حال کله کله په څو کلونو کې نه پیښېږي. د دوی یو څو نور قامونه لکه یوسفزي هېڅکله په سولې کې نه وي.

## داخلي نظامي تاسیسات

هغه قامونه، چې کله کله جنګونه لري (په دامان کې په زیاته اندازه پیښېږي) له نورو سره په موقتي ډول اتحادیه جوړوي او د ټولو متحدو قامونو جرګې په یوې غونډې کې سره ټولېږي، چې د عملیاتو پلانونه سره منسجم کړي او یا د سولې شرطونه تر مطالعې لاندې ونیسي. هغه قامونه، چې په جنګونو کې ډېر اخته وي، زیاتره دایمي اتحادیې جوړوي لکه په بر درانیو کې ګاره Garra او سامل Saumil او په خوست کې د سپین او تور ګوندونه. دغه جنګونه په دواړو خواوو کې د چور او لوټ د وړو ډولونو په بڼه تبارز کوي، خو کله چې موضوع مهمه شي، خان او جرګه دولس ټول جنګي مېړونه رابولي. هغه قامونه، چې په جنګونو کې لږه برخه اخلي، رضاکاران راغواړي او هر څوک، چې وسله لري ورته راځي. هغه قامونه چې کله کله جنګونه کوي، په هغو کې هر بالغ سړی خدمت کولو ته اړ دی او یوسفزیو چې د دایمي جنګونو په اثر د جنګ سیستم رااېستلی دی، د هرې قلبې ځمکې په سر د یوه پیاده عسکر او د دوو قلبو ځمکو په سر یو سپور عسکر راغواړي. په عمومي ډول شرم ددې مخه نیسي، چې یو څوک دې له حاضرېدو نه سر وغړوي، خو په هغو قامونو کې چې زیاتره په جنګونو بوخت وي، جریمه هم حواله کېږي. په دې ډول د خلکو لوښې، خو بې ترتیبه ډلې سره غونډېږي. له غوغا نه ډکې شخړې واقع کېږي، یوه خوا یې له ډېرو مړو ورکولو نه ماتې خوري او فاتحان د خپلو دښمنو ځمکې خرابوي او جنګ بس کوي او جنګ هغه وخت له سره شروع کېږي، چې مغلوبان یا د تورې اخیستلو قدرت پیدا کړي او یا ممکن یو نوی محرک یې سبب شي. لښکرې نږدې ټولې پیاده وي او مشران په جنګ کې لکه د سولې په حال کې د قوماندانۍ دریغ ساتي. جنګي مېړو ته معاش نه ورکول کېږي، خو په ځینو قومونو کې که یو آس ووژل شي، خاوند ته یې له هغو پیسو نه قیمت ورکول کېږي، چې یا د جریمو او یا په قوم باندې د مالیاتو له لارې ټولې شوې وي.

## داخلي حکومت

دا رواج په شمال ختیځ قومونو کې جاري دی، دوی په حقیقت کې هغه یوازیني قومونه دي، چې مالیات ورکوي ان په دوی باندې هم مالیات یوازې هغه وخت حواله کېږي، چې د کوم اجتماعي هدف لپاره پیسو ته ضرورت پیدا شي. ددغو پیسو اندازه د ضرورت له مخې ټاکل کېږي او هغه پیسې، چې په دې ډول ټولېږي،

Property of ACKU

په د قيتي ډول يواځې په اجتماعي هدف لګيږي. ما ته داسې مثالونه هم معلوم نه دي، چې خان به د ځان د ګټې لپاره له خپل ولس نه ماليه ټوله کړې وي، خو په همسايه وو باندې منظمه ماليه، په هندوانو باندې جزيه او هغه محصولات، چې له هغو تجارتي مالونو څخه اخيستل کيږي، چې د يوه ولس له ملک نه تيرېږي، په څو حالاتو کې خان ځانته تحصيل کړې وي. د دوو لومړيو تحصيلاتو بيان به وروسته راشي. په عمومي ډول ددغو تحصيل د افرادو له خوا کيږي، خو په تجارتي مالونو ماليات که څه هم کله کله په ټول ولس باندې وېشل کيږي، د خان جيبونو ته ځي. هغه يواځې د هغو ولسونو له خوا ايښودل کيږي، چې ډېر لږ د پاچا تر اداري لاندې وي. دغه ولسونه کله کله د مالياتو ټاکلې اندازې لري او کله کله له سوداګرو سره چقه وهي. په دغه حال کې داسې ګڼل کيږي، چې سوداګر ګواکې محصول تاديه کوي يا دا چې ددې لپاره، چې له چور او لوټ نه وژغورل شي، له ولس سره روغه کوي.

په ټول ملت کې به ډېر لږ داسې کوم ټبر پيدا شي، چې د ملايانو د ساتلو او د مېلمنو د منلو لپاره هيڅ ډول ترتيبات ونه لري، خو هغه طريقه چې په هغې سره ددغه مقصد لپاره پيسې ټولېږي، وروسته به بيان شي.

په ټول ملک کې محمدي شريعت د عمومي قانون په حيث جاري دی، هغه د ولس په مدني چارو کې هم تطبيقيږي، خو د دوی خاص قانون او هغه چې د دوی د داخلي حکومت په جزايي چارو کې استعماليږي، د پښتونولۍ عرف او رواج دی يا د پښتنو پښتونولي د عرفي قانون هغه ابتدايي سيستم دی او په داسې اصولو بنا دی، چې فکر کيږي د مدني حکومت له تاسيس نه دمخه يې غلبه لرلې وي.

## شخصي انتقام

دا نظر، چې دا د هر يوه انسان حق او وظيفه ده، چې عدالت په خپله وچلوي او د هغو ناروا وو انتقام واخلي، چې په ده کيږي، په هيڅ وجه په پښتنو کې له منځه نه ځي او د ټولنې هغه حق، چې ان د افرادو معقول جذبات کنټرول کړي، د شوي ناروا وو پوښتنه وکړي او جرمونو ته جزا وټاکي، تراوسه هم په دوی کې په ناقص ډول پېژندل شوي دي او که پېژندل شوي هم نه وي، يواځې کله کله د خلکو په فکر کې وي. دغه رواج بايد هغه وخت شروع شوی وي، چې حکومت نه شو کولی افراد حمايه کړي. په دغسې حالاتو کې دغه رواج نه دا، چې بايد ګټور وبلل شي، بلکې حتی ضروري هم دی، خو دغه رواج د پښتون ملت په کړو کې ريښه لري او که څه هم د هېواد په ډېرو برخو کې عدالت ښايي په نورو لارو حاصل شي او که څه هم ملايان هر چېرې د فردي انتقام اخيستلو په ضد تبليغونه کوي او د حکومت له خوا منع

Property of ACKU

شوي دي. خو تراوسه هم د خلکو په نظر دا قانوني، روا او ان د افتخار وړ ګڼل کېږي، چې د انتقام اخیستلو طرز پخپله وټاکي. هغه څوک، چې ظلم پرې شوی وي، په متجاوز باندې د ژوره پور اخیستلو مستحق ګڼل کېږي. سترګه د سترګې او غاښ د غاښ په بدل کې او داسې نور که متجاوز د هغه د نیولو ځواک نلري، ممکن خپل پور د هغه له کوم خپلوان څخه واخلي. په ځینو حالاتو کې ممکن دی د هغه د قام له هر یوه کس څخه خپل بدل واخلي، که چېرې ده ته د بدل اخیستلو چانس په لاس ورنشي، ممکن خپل پور اخیستل په کلونو وځنډوي، خو دا بې ننګي ده چې پور اخیستل له یاده وباسي او یا ترې صرف نظر وکړي او دده په خپلوانو او ځینې وختونه ان دده په قام باندې دا فرض ده، چې په انتقام اخیستلو کې له هغه سره مرسته وکړي.

البته بدل، چې په دغه ډول سره اخیستل کېږي، نوې شخړې راپیدا کوي، جنګونه دایمي کېږي او دغسې شخړې په ځینو حالاتو کې له پلار څخه زوی ته تر څو نسلونو پورې انتقال کوي.

ددغه سیستم لیرې اغېزې د قتل تشویقول دي، چې تزویر او بې رحمي ورسره ملګرې وي، داسې هم دغسې اغېزې ټولنه لړزوي او غړي یې د هیجان او وېښې له صحنو سره روږدي کوي. دا حال ممکن د افغانستان زېږو قانون ایستونکیو ته معلوم نه شي، خو هغه خطرونه او بې نظمي، چې له هغو څخه پیدا کېږي، حتماً یې ټول خلک حس کوي، نو دا ده چې په هر قوم کې د فعالیت د محدودولو لپاره ځینې اقدامات کېږي. په ځینو ولسونو کې د شخړو فیصله کېدل روغې جوړې او تشویقولو ته پرېښودل کېږي او د قام مشر او نور لویان ټول خپل زور پرې اچوي، خو که چېرې دغه وسایل په دې موفق نه شول، چې متجاوز دې ته اړ کړي، چې تاوان ورکړي او یا مظلوم دې ته تشویق کړي، چې هغه وبښي. ټولنه مظلوم ته اجازه ورکوي، چې خپل پور پخپله واخلي. په نورو قومونو او په واقع کې په ډېرو قومونو کې ټولنه تر هغه لا په جدي ډول مداخله کوي او سر زوری دې ته اړ کوي، چې د هغې پریکړې ته غاړه کېږدي او یا له ولس نه ووځي، خو په ډېرو دغسې فیصلو کې یوائیني هدف دا دی، چې دواړه خواوې سره پخلا شي او د موجودو ناراميو مخه ونیول شي. نه ددې فکر چا ته ورځي، چې وروسته له هغه چې مظلوم قانع شوی دی، ټولنه تاواني شوې وه، یا ټولنه ددې حق لري، چې د عبرت لپاره جزا وټاکي[1]، خو

---

[1] د کیسې دغه نظر ان په اسلامي شریعت کې هم مراعات کېږي، ځکه چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خپلو وطنوالو د فکر او شاید د خپل فکر په مطابق هم د قاتل جزا او ان د جزا ورکولو خوښه یا د هغه ښښل یې



Property of ACKU

په ځینو حالاتو کې خان یا مرکه خو زیاتره خان (دا په هغو ولسونو کې ډېر رواج لري، چې مشر یې قوي وي) نه یوازې متجاوز دې ته اړ کوي، چې د مظلوم رضا حاصله کړي، بلکې په هغه سربېره د دولت لپاره جریمه هم حواله کوي.

## قضـایي جرګې:

ټولې جزیي محاکمې د یوې جرګې په وړاندې عملي کېږي، چې له خانانو، ملکانو، یا مشرانو څخه متشکلې وي او ملایان او ان تر هغو په ښکته درجه کې مجرب او اغېزمن کسان ورسره مرسته کوي. وړې قضیې د کلي د جرګې له خوا یا د قام د هغو څانګو له خوا حل کېږي، چې دغه قضیې پکې پېښېږي، قضیې د هغوی د اهمیت په قرار لوړو مقاماتو ته وړاندې کېږي، چې په تنظیم شویو ولسونو کې تر ټولو جدي قضیې د خان او د خېلونو د لویانو په وړاندې تر محاکمې لاندې نیول کېږي، خو په هغو قومونو کې چې په کمزوري ډول اداره کېږي، هره څانګه په بېل ډول عمل کوي[1]. جرګه په عمومي ډول د محل د مشر له خوا بلله کېږي، خو په ډېرو قومونو کې هر هغه څوک، چې د غړیتوب لپاره وړ وي، کولای شي چې جرګه راوبولي او په ډېرو قومونو کې په جرګې کې له شاملېدو څخه سرغړول جریمه لري.

څه وخت، چې د جرګې ټول غړي سره غونډ شي، دوی ټول پر سپېرو خاورو کېني او د جرګې د سر سړی تر یوې لنډې دعا وروسته د پښتنو د پښتو یو بیت وایي، چې مطلب یې دا دی ((پېښې ټولې د خدای له خوا وي، خو انسان ته اجازه شته ده چې په هغه کې فکر وکړي)) وروسته بیا د دعواګر کیسه اورېدل کېږي او که چېرې د هغه دفاع له هغې سره توپیر ولري، شاهدان غوښتل کېږي او ترې پوښتنې کېږي، چې ټول حقایق برسېره شي. که چېرې لکه څنګه چې ډېر عامه ده، متهم په حقایقو اعتراف وکړي، خو د خپل حقانیت لپاره دلایل راوړي. جرګه د موضوع په اړه تحقیق کوي او وروسته د هغې په اړه مناسبه پرېکړه کوي. د هر جرم لپاره ټاکلې جزا شته، یوازې په بر درانیو کې ټاکلې جزا نشته او په دوی کې جزا د جرګې له خوا ټاکل کېږي.

---

د یوه معین تاوان په مقابل کې د مقتول خپلوانو ته پرې ایښې وي. په داسې حال کې چې ده په عاقلانه ډول د هغه پر جرم د قضاوت حق له هغوی څخه واخیست او قاضي ته یې انتقال کړ.

[1] پښتونولي د مدني حقوقو د انفاذ لپاره په هغه پرنسیب عمل کوي، چې هغه په جزایي فیصلو کې مراعات کېږي. که یو سړی په یوه بل چا دعوا ولري د هغه یوازېنی علاج په دې کې دی، چې د خپل پوروړي غویه، اس یا بل مال ونیسي او تر هغو یې وساتي، چې د دعوا فیصله وشي، خو پښتونولي اوس په مدني قضیو کې تقریباً بالکل ترک شوې ده. چېرته چې قاضي او یا د هغه نایب موجود وي، قضیه هغه ته وړله کېږي، په کوم ځای کې چې د دولت دغه ماموران نه وي دعوا د ملایانو له خوا د محمدي شریعت په اصولو فیصله کېږي.



Property of ACKU

جزا تل د عامو خلکو په مخ کې د ښځنې غوښتنې او د پوره تسلیم په شکل وي. په مهمو قضیو کې د مجرم له فامیل څخه یو شمېر ځوانې نجونې مظلوم سړي او د هغه خپلوانو ته په واده ورکول کېږي[1].

څه وخت، چې یو مجرم دعواگر ته تسلیم کړي او هغه ته د بدل اخیستلو انتخاب ورکول کېږي، له هغه نه یوه لویه ننداره جوړوي، خو په دې هر څوک پوهېږي چې دی باید د جرگې له هیلې سره موافقه ولري او ټاکل شوی تاوان ومني، چې له هغه وروسته دواړه خواوې د معمولي سلام وعلیکم په ویلو سره یو بل ته تر غاړې وځي او یوه بل کره میلمه کېږي. په ډېرو قامونو کې دغه روغه د زړه له کومې او بادوامه وي. که چېرې متهم د پرېکړې له منلو نه غاړه وغړوي، ځینې قومونه دغه موضوع تر اخره رسوي او یوه اړخیزه Exparte فیصله کوي، خو نور قومونه یا دغه یاغي سړی جرگې ته راکشوي، یا ملایان ورته استوي او سپکوي یې، یا یې مالونه چوروي او له ولس څخه یې شړي. همدغه وضع له هغه چا سره هم کېږي، چې هغه د دوی له پرېکړې نه سر غړوي او دوی زیاتره مدعي ته ددې واک ورکوي، چې له متهم څخه ټاکلی تاوان واخلي. څه وخت، چې تاوان ټاکل کېږي، یا څه وخت چې هغه د جرگې له خوا له حد څخه زیات ټاکل کېږي، دوی تل مظلومې خوا ته ددې قناعت ورکوي، چې د تاوان له نیمایي څخه تېر شي.

زه اول حېران شوم، چې را معلومه شوه چې جرگې کله کله د یوه متهم د جرم د معلومولو پر ځای زیاتره په هغو حالاتو قضاوت کړی، چې ولې متهم په دغسې جرم لاس پورې کړی دی. په همدې ډول جرگې زیاتره د هغه تاوان په ټاکلو غږېږي، چې دی یې باید هغې بلې مظلومې خوا ته ورکړي، خو ورو ورو هغه دلایل راښکاره شول، چې د زور چلولو اعمال ولې ښایي کله کله پټ کړل شي.

پښتنولي یوه کس ته ددې حق ورکوي، چې د هغو ظلمونو بدل واخلي، چې په ده شوي وي او د پښتنو نظر دا د ننگ او عزت یو ټکی گرځوي، چې دی باید خپل دغه حق تثبیت کړي، نو په دې ډول د پټولو ټولې خوځونې او موجبات له نظره غورځول

---

[1] دا رواج د عادي ونور ځای نیسي. په لویدیځو پښتنو کې د یوه قتل په بدل کې دولس ځوانې نجونې ورکول کېږي، چې شپږ یې له خپلو میراثي مالونو او شپږ یې بې له هغو نه وي په عامه خلکو کې د هرې نجلۍ برخه شپېته روپۍ (یا اووه پونډه او لس شلنگه) ده، چې نیمایي یې جنس وي. د یوه لاس یوه غوږ یا یوې پزې د غوڅولو په بدل شپږ ښځې ټاکل شوي دي. د یوه غاښ د ایستلو په بدل کې درې ښځې، له وچلي څخه د پورته پرهار په بدل کې یوه ښځه، له وچلي څخه د ښکته پرهار په بدل کې یوه ښځه (خو په هغه حال کې چې د پرهار جوړېدل یو کال وخت ونیسي) او واړه جرمونه په تسلیم او نفو غوښتلو سره جبران کېږي، په ختیځو پښتنو کې په دغسې معاملو کې د ښځو شمېر لږ دی، خو د پیسو مقدار زیات وي. په دوی کې په عمومي ډول تاوان لږ وي، د ښځو په بدل د پیسو مقدار ټاکل دي او هغه کس، چې دغسې تاوان ورته ورکول کېږي، ممکن پخپله خوښه یې واخلي.



Property of ACKU

کېږي، خو په هغه حال کې چې يوه خوا دومره معقوله وي، چې په خپلې ملامتۍ اعتراف وکړي او له بلې خوا ددې لپاره، چې د هغه عزت ثابت شي، شهرت ورکول ورته لازمي وي. ددغې موضوع په اړه د پښتنو نظريات د تن په تن د جنګ د رواج په اړه زموږ (انګليسانو) د ملت د هغو د ذهنيتونو مثال کېدای شي، چې هغه يواځې د انفرادي انتقام يو سخاوتمندانه او ښه تنظيم شوی طرز دی.

په عمومي ډول دغه قضايي جرګې ښې ګټورې مؤسسې دي او په ډېرو حالاتو کې د زغم وړ افاقي توب مراعات کوي، که څه هم چې د ملګرتوب او دښمنۍ نفوذ پکې ليدل کېږي او ممکن کله کله واسطه او ان بډې پکې تاثير ولري. طبيعي ده، چې يو څوک به داسې وګڼي، چې د دوی بحثونه بې نظمه او له شور و زوږ نه ډک وي، خو ماته معلومه شوه، چې حال زياتره دغسې نه دی او په ځينو قومونو کې جرګې ښې منظمې او باوقاره وي او يو راز هغسې ابتدايي بلاغت پکې ليدل کېږي، چې د دوی د وطنوالو ښه اېسي.

جرګې په ځينو حالاتو کې د خان د زيات قدرت له لامله بې لزومه کېږي او په نورو حالاتو کې د خلکو د قانون د نه مراعاتولو په سبب بالکل هيڅ شي. سره له دې هم څه وخت، چې يو ډېر زورور خان مجبور شي، د يوه قوي متهم موضوع فيصله کړي، د جرګې بلل ښه بولي. دی په درانيو قومونو کې چې مشر يې د پاچا په صلاحيت عمل کوي او د هغه د قوت ملاتړ ورسره وي، هم دا غوره او اسانه ګڼي، چې د يوې جرګې په سلا او مشوره کار وکړي. دغه وروستی حال په ټولو موضوعاتو او همداراز د جرمونو د محاکمې په اړه په غور کولو کې تطبيقېږي، خو په کومو ځايونو کې چې جرګې پوره رواج هم لري، ټول جرمونه د فيصلې لپاره ورته نه محول کېږي. يوې جرګې ته شکايت وړل تل د ضعف يو ښکاره اعتراف بلل کېږي او په نتيجه کې له هغې څخه، چې خپل حق په زور حاصل کړل شي، لږ د عزت وړ وي. نو په يوه ولس کې د مقام والا سړي او قوي کسان (يانې هغه څوک چې ډېر خپلوان لري) تل دې ته تيار نه دي، چې له خپلې سپکاوۍ څخه تېر شي او له پخلا کېدو سره موافقه وکړي، خو په هغه حال کې چې کړه په دواړو خواوو کې سره برابر شوي وي، دا موضوع تر هغه ځايه پورې تعقيبېږي، چې مظلومه خوا د پخلا کېدو لپاره حاضره نه وي. که څه هم چې موضوع ده پخپله جرګې ته وړاندې کړې وي. په ډېرو قومونو کې جرګه تر هغو مداخله نه کوي، چې شکايت ورته نه وي شوی او په ځينو قومونو کې تر هغو چې دواړه خواوې په دې راضي شي، چې فيصله يې وشي، خو په نورو قومونو کې کله چې محلي مشر له يوه جدي جرم نه خبر شي، جرګه رابولي او دواړه خواوې ورته حاضر وي.

Property of ACKU

په جدي موضوعاتو کې لکه د قتل تورن له ملک نه فرار کوي، خو که دی دې ته تیار نه وي، چې خپل قوم پرېږدي، په هغه خطر پوره خبر دی، چې په قوم کې له پاتې کېدو څخه پیدا کېږي او فیصله یې دا وي، چې ځان تسلیم کړي او له هغه کس نه چې ده پرې ظلم کړی وي، بښنه وغواړي. په دغه حال کې دی د کوم مخور کور ته په ننواتي ځي او له هغه څخه د شفاعت هیله کوي او بښنه یې غواړي. د پښتنو د رواج له مخې ننواتی کوونکی یوازې کله کله شړل کېږي او د هغه چا په کور کې چې دی ننوتی وي، ځان مجبور ویني، چې موافقه وکړي. دی د عزت ځینې نور کسان یو څو ملایان او سیدان غونډوي او ټول له تورن سره په ګډه د مظلوم کور ته ځي. اوس نو دا ټول کسان ننواتې کوونکي شمېرل کېږي او څنګه چې د دوی تردید نه کېږي، که مظلوم سړی دې ته حاضر نه وي، چې روغه وکړي، پخوا له دې چې دوی د هغه کور ته ورسېږي، هغه یا له خپل کور څخه وځي او یا ځان پټوي. کله چې دی مونده شي، مجرم په کفن کې ورته ځان ښکاره کوي او یوه برېنډه توره خپل دښمن ته ورکوي او ورته وایي، چې ژوند مې ستا په لاس کې دی، په عین حال کې ورسره سپین ږیري او ملایان د التماس حالت غوره کوي او د هغه لپاره د بښنې غوښتنه کوي. پایله دا شي چې هغه مظلوم سړی تورن بښي او تاوان مني.

دغه پورتنی بیان ددغسې یوه قومي ولس په اړه دی، چې یوازې له خپلو قومي عناصرو څخه متشکل وي یا نې ګډ قوم نه وي، خو که څه هم دا د جامعې ډېر عام شکل دی هغه له استثناآتو او اختلافاتو خالي نه دي. د یوه قوم دوه خېلونه ممکن په هغه یوه کلي کې واوسېږي او په دغه حال کې که څه هم هر خېل یې ځانله یو مشر لري، دوی په ګډه سره جرګې کوي او کټ مټ هسې کوي، چې ګواکې دوی یو خېل اوسي.

## رسمونه او رواجونه

کله چې یو خېل خپل ولس پرېږدي، ممکن په بل خېل کې ومنل شي. دا د پښتنو د مېلمه پالنې د قوانینو یوه برخه ده، چې په دغسې حالاتو کې بهرنیو ته خاصه پاملرنه کېږي. دوی هغو قومونو ته، چې ورسره یوځای کېږي، ځمکې ورکوي، د هغوی مشر ته په رسمي جرګه کې ښه مقام ورکول کېږي او د هغه قوم د خپلو په داخلي چارو کې آزادي ساتي او د هغه ولس له افرادو سره، چې دوی ورسره اوسي، برابر موقف لري. دوی د هغو د عین قوانینو تابع او له عین امتیازاتو نه برخمن وي او که کوم ولس کې، چې منل شوي وي، د هغه په جنګونو او اتحادیو کې داخلېږي. دوی که څه هم د هغه قوم نوم ساتي چې دوی پکې پیدا شوي دي، خو د یوه وخت لپاره خپل ټول سیاست هغو سره شلوي. سره له دې هم کله کله دوی خپل اصل ولس



Property of ACKU

ته مراجعه کوي او که ددغو ولسونو ترمنځ جنګ پېښ شي، له دوی نه دا نه غوښتل کېږي، چې دوی د یوه یا د بل پلوي وکړي. په لوید یځو پښتنو کې حال دغسې دی، خو په ختیځو پښتنو کې دوی ځان مجبوره کوي، چې له هغه ولس سره مرسته وکړي، چې بې اختیار کړي وي. دغسې خېلونه چې په نورو ولسو کې یې ژوند اختیار کړی وي، په شمېر کې له ولس نه ډېر کم دي.

هغه افراد، چې له خپل قوم نه بېزاره کېږي او هغه بې له دې، چې خپلې ځمکې خرڅې کړي، پرېږدي، په ډېرو حالاتو کې په هغو ولسونو کې منل کېږي له کوم سره، چې دوی غواړي ژوند وکړي. دوی ته ځمکې ورکولې کېږي، خو هغه کسان چې خپلې ځمکې خرڅوي او له غریبۍ نه خپل قوم پرېږدي، د همسایه وو په قطار کې راځي، چې اوس به یې بیان وشي.

## همسایه

په هر ولس کې ډېر داسې کسان ژوند کوي، چې په اصل کې پښتانه دي، خو دوی همسایه ګان دي. دوی په جرګه کې ځای نه لري، خو هغه خېل چې دوی پکې اوسېږي او هغه کسان، چې دوی ورپورې تړلي دي او ددوی د ګټور ښار کوي.

د هر چا لپاره دا د پت سوال دی، چې د خپلو همسایه ګانو محافظه وکړي او په نتیجه کې د دوی دریځ د ولس تر اصلي غړیو څخه لږ څه ښکته دی.[1]

هغه پښتانه چې له غریبۍ څخه خپل ولس پرېږدي او په یوه بل ولس کې ژوند غوره کوي، د همسایه وو په حیث ورسره سلوک کېږي، خو له خپلو غړیو نه له دوی سره ډېر ښه سلوک کېږي. د ګنداپوریو په قوم کې د همسایه ګانو، بلوچانو او نورو قومونو شمېر د ګنداپوریو له قوم څخه ډېر زیاتی کوي او زما په خیال، چې دوی د هغه قوم نوم په ځان ږدي او ټول امتیازات یې د ځان کوي او دغه قوم ته له همدې لامله پېغورونه ورکول کېږي. په عمومي ډول د همسایه ګانو شمېر د ولس شمېر نه ډېر لږ وي او په ځینو قومونو کې همسایه ګان له لویو لارو څخه لیرې یوائې کله کله لیدل کېږي. همسایه ګان په عمومي ډول ځمکه نه لري، ددغسې کامنولتو یوه مجموعه لکه څنګه چې یې ما بیان وکړ، د پښتنو ملت تشکیلوي او په عمومي ډول یا نړدې په کلي ډول د یوه مشترک واکمن د لوړ قدرت په لرلو سره یو دولت ترینه جوړېږي.

---

[1] په درانیو کې، چې زه د یو څو جنګونو په اړه خبر یم، یو یې هم هغه جنګ دی چې یوه همسایه ته د ضرر رسولو څخه پیدا شوی و. د یوه نورزي مشر هندو همسایه د یوه بل مشر کلي ته تللی و، د بېرته راتلو په وخت کې د یوه درېیم سړي له خوا په دې پلمه ونیول شو، چې دده په مشر باندې یې پور و. هغه دواړه مشران سره یو شول او په هغه یې حمله وکړه، چې همسایه یې نیولی و. مړي وشول او دا لازمه شوه، چې د کندهار نایب دغه موضوع فیصله کړي.



Property of ACKU

## د پاچا قانوني واک

پاچا د دراني قوم یو طبیعي مشر دی او دغه قوم په ټول ملت کې تر ټولو زړور، په شمېر کې تر نورو ډېر او تر نورو ښه مهذب دی، خو نورو قومونو د پاچا صلاحیت د هغو علتونو په اثر منلی دی، چې اوس به یې شرحه وشي.

پاچا د دغه صلاحیت له مخې په ټول ملک باندې عمومي نظارت لري او د ټولو د دفاع په غرض په هر قوم باندې د لښکرو یا پیسو یا د دواړو د ټاکلو اندازو تحمیل کوي، خو ټول ملت کله کله په یوه روح سره تحریک کېږي او د یو ولس د عمومي ګټې پرخلاف دغه پاملرنه تر زیاتې اندازې د خپلو ګټو په لور جلبوي. د ښارونو شاوخوا ځینې هوارې سیمې، د افغانستان زیاتره برخې، چې یوائې تاجکان پکې اوسي او د دولت ټول باندیني ولایتونه پوره د پاچا تر واک لاندې دي. پاچا په دې ډول کولی شي له قومونو څخه په مستقل ډول عایدات ولري او بې د هغوی له مرستې نه پوځ وساتي. ددغو حالاتو په نتیجه کې ده، چې د پاچا او د ملت د منافعو ترمنځ یو څه توپیر شته او تر هغه زیات د هغه د حقوقي واکونو په اړه د نظریو اختلاف لیدل کېږي.

د پاچا درباریان او ملایان ټول په دې ټینګ دي، چې پاچا د ټولو هغو واکونو څښتن دی، چې د اسیا یو واکمن یې لري، په داسې حال کې چې د قومونو خلک دی د ډېرو محدودو امتیازاتو واکمن ګڼي. دغه اختلاف د پاچایي صلاحیت په واقعي تطبیق کې ښاېسته اختلاف تولیدوي.

## د حکومت شکلونه

د دراني قوم حکومت په پاچا ولاړ دی، که څه هم چې په عمومي ډول دی ان دلته هم مجبور دی، د خپلونو د مشرانو د نظریو مراعات وکړي. دی د هوارو سیمو قامونو او لویو ښارونو ته نژدې قومونو په داخلي اداره کې هم مداخله کوي، خو دی بې له دې نه چې تر هغو څخه زیات د دوی په دننیو چارو کې ګوتې ووهي، په دې قناعت کوي، چې د پوځ د مېړو ونډه ترې واخلي او له نورو څخه پیسې حصول کړي. البته کله چې عامه امنیت په خطر کې وي، دده غوښتنې ډېرېږي.

یو یا دوه قومونه دده له حکومت څخه مستقل دي، دلته نه ښایي د شاهي حکومت په اړه اوږد بحث وشي، خو د پاچایي په اړه به چې د هغه په اړه پوره معلومات شته، یو لنډ بحث وشي، چې د لوستونکي لپاره راتلونکي موضوعات داسې روښانه وي، چې د هغو په اړه پخپله ښه قضاوت وکولی شي.

ما ته داسې ښکاري، چې د ولسونو د جمهوري ډوله حکومت نه پرته د پښتنو د ملک حال په پخوانیو زمانو کې د سکاټلېنډ له حال سره ښه ورته دی. په دواړو

Property of ACKU

دولتونو کې په ښارونو او ښارو ته نږدې سیمو باندې د پاچا مستقیم قدرت، د نږدې خېلونو بې ثباته اطاعت او د لیرې قامونو استقلال، له دربار سره د ډېرو نږدې اشرافو ډله او قدرت او له پاچايي سره د ټولو سترو خانانو نږدې اړيکې يو له بل سره دومره ډېرې ورته دي، چې د دراني حکومت د خصوصيت د پوهېدلو لپاره به ددغسې مشابهت په نظر کې نيول ښه مرسته وکړي.

ددغسې سيستم عيبونه ښه واضح دي او کله چې موږ په تفصيل سره هغه انارشي او بې نظمي، چې ډېر ځله د قومونو د جمهوري ډوله حکومت نتيجه وي، په نظر کې ونيسو، موږ ممکن هغه سعادت چې له هغه نه پيدا کېږي، لږ وګڼو او داسې فرض کړو، چې دغه ملک به له ښه انتظام او آرامۍ څخه، چې د مطلقه پاچايي محصول دی، ډېره ګټه واخلي. که څه هم دغه پاچايي ان د اساسي اصولو په اساس ولاړه وي، خو څومره چې ما د پښتنو د رښتيني حال په اړه معلومات ترلاسه کړي دي، تر هغې اندازې زه په دې عقيده ټينګ شوی يم، چې دغسې يوه فرضيه غلطه ده.

### د قومونو د داخلي حکومت ښېګڼې

موږ ممکن په ډېرې اسانۍ سره د يوه ليرې پاچا د مامورانو ازاروونکې مداخلې د نشتوالي، د ښېګڼو او داسې هم د هغه فساد او ظلم نشتوالی ښه قدر وکړو، چې په اسيا کې له دغسې مداخلې څخه تل راولاړېږي. موږ هېڅکله بايد د ګډوډۍ او خطرونو په منځ کې چې زموږ پاملرنه به ارومرو ځانته راوګرځوي، د خپل اساسي قانون په اړه د پښتنو تاييد او ملاتړ له نظره ونه غورځوو او داسې هم موږ ته بايد د دوی کسب او علاقه، د ازادۍ حس او د ځان مهم ګڼل، چې له يوه ملي حکومت څخه پيدا کېږي، که څه هم دغسې حکومت په ابتدايي ډول جوړ شوی وي او د دوی زړورتوب، ذکاوت او د سجيې لوړوالی، چې دغسې شغلونه او دغسې آزادي يې ارومرو تحريک وي، له نظره نه غورځوو[1].

---

[1] پښتانه پخپله د خپلو موسسو په ازاد روح غوړېږي. هغه پښتانه، چې په لږ ه اندازه تر پاچايي واک لاندې ژوند کوي، د خپلې آزادۍ په اړه غره دي. هغه پښتانه چې د پاچا تر حکم لاندې دي (که څه هم دوی هغسې تر ظلم لاندې نه دي لکه د شرق نور هېوادونه چې دي) دغسې ازادي ستايي او په دې خوښ دي، چې تقليد يې وکړي. دوی ټول زيار باسي، چې په دې عقيده اوسي چې ((ټول پښتانه سره برابر دي)). که څه هم حال دغسې نه دی او هېڅکله نه و، سره له دې هم له دېنه د دوی هيلې او نظريې څرګندېږي. ما يو وخت د مياخېلو د قوم يوه ډېر ذکي بوډا ته د يوه قومي پاچا تر حکم لاندې د يوه آرام او مصئون ژوند ښېګڼې د دوی ددغه ولسي سيستم د ګډوډۍ، خطرونو او قتلونو په ځای وريادې کړې. هغه بوډای په ډېرې ګرمۍ سره ځواب راکړ او د مطلق قدرت په ضد يې په لوړ اواز سره ووېل چې:(( موږ په بې اتفاقۍ راضي يو، موږ له خطرونو سره راضي يو، موږ په وينو تويولو راضي يو، خو موږ به هېڅکله په يوه بادار راضي نه شو.))



Property of ACKU

یوه بله ښه فایده، چې د پښتنو له اوسني سیستم څخه پیدا ده، دا ده چې که څه هم په دغه سیستم کې لږ څه بې نظمي ګانې شته، هغه د عمومي انقلابونو او مصیبتونو په مقابل کې چې د اسیا په مطلقو هېوادونو کې په کثرت سره موندل کېږي، د یو موثره مصونیت ضمانت کوي. په فارس یا هندوستان کې د یو ظالم پاچا تاثیرات د هغه د ملک په هرې برخې کې احساس کېږي او هغه داخلي جنګونه، چې د یو پاچا تر مړینې وروسته پېښېږي، هغه ملک اړومرو له مصیبت او بې نظمۍ سره مخامخ کوي. د ملک یوه برخه اوسېدونکي د جنګي لښکرو له بې رحمۍ او بې قیده اعمالو د مصیبت سره مخامخ کېږي او نور اوسېدونکي نړدې هغه اندازه له هغې ګډوډۍ څخه ضرر وړیني، چې د حکومت له ړنګېدو نه، چې تر هغو پورې یې عمومي امنیت ساته، پیدا کېږي. نتیجه دا شي، چې یو ظالم حکمران یا د تخت په سر جګړه، مملکت د ضعف او انحطاط په لور بیایي او پخوا له دې، چې ددغه حال پوره جبران وشي، د یو بل ورته مصیبت په بیا پېښېدو سره د بهبود او سمون مخه نیول کېږي.

دغه ضعف برخلاف په افغانستان کې د قومونو داخلي حکومت د خپل هدف لپاره داسې ښه تضمینونه لري، چې د پاچاهي حکومت هغه نهایي بې نظمي ګانې هم نه شي کولای. د قومونو د حکومت د خپل کارو له طرز نه واوړي یا د خلکو ژوند ګډوډ کړي، یو شمېر ښه منظم شوي او د لوړۍ روحیې جمهوریتونه ددې لپاره تیار دي، چې د کوم مستبد واکمن په مقابل کې له خپل ځان او ملک نه دفاع وکړي او په یوه داخلي جنګ کې د یوې خوا د کمزورو کوښښونو په مقابل کې ودرېږي. په دې اساس که موږ ددغو دوو ملکونو حال سره پرتله کړو، موږ به دا کشف کړو، چې په فارس کې د شلو کلو تر ارامۍ وروسته وضع مخ په ځوړ ده. په داسې حال کې، چې د افغانستان وضعه په مترقي ډول خپل بهبود ته، چې د دولسو کالونو د داخلي جنګ په موده کې یې ساتلې وه، دوام ورکوي. په دغه ملک کې نوي کارېزونه تل جوړېږي او ښارې ځمکې تر اوبو لاندې کېږي. که په واقع کې هغه ته او لویو لارو ته نږدې ښارونه او سیمې مخ په ځوړ دي، ددې علت ښکاره دی او هغه دا دی، چې هغه د تخت د مدعیانو د قدرت او د دوی د لښکرو د چور په مخ خلاص دي، خو ان که موږ دا ومنو، چې د پښتنو موسسات د اسیایي ملکو د لاقوي حکومتونو د موسساتو په نسبت ضعیف دي، موږ مجبور یو په دې اقرار وکړو، چې هغه مواد او اجزاء چې دوی یې د یوه عقلاني قانون په جوړولو کې په کاروي، د هغو نورو تر عناصرو او اجزاو ډېر بهتر دي. هغه نور ملتونه نظر له ښه حکومت نه له بد سره ډېر روږدي شوي دي. دوی ټول دې ته مجبور کېدلی شي چې خپلې ټولې قواوې په هغومره وخت کې،



Property of ACKU

چې د دوی د سیمو دلاندې کولو لپاره لازمې دي، د یوه مستبدد ملاتړ لپاره راټولې کړي. ممکن دا کار پېړۍ پېړۍ ونیسي، چې د هندوستان یا د چین غلامانو ته په حکومت کولو کې برخه ورکړه شي، خو که په پښتنو کې داسې یو پاچا راولاړ شي، چې د خپل رعیت په متحد کولو کې کافي نبوغ وښېي. دی به لزوما د یوه ښه حکومت په تنظیمولو باندې اتکا وکړي، داسې چې له هغه نه به د یواځینۍ وسیلې په حیث د خپل مقصد او طرح د ترسره کولو لپاره کار واخلي. یو عادي پاچا ممکن د زور له لارې د قومونو د لاندې کولو لپاره هاند وکړي، خو یوه پښتون پاچا (احمد شاه) دغه راز لا دمخه کشف کړو، چې د ټولو گاونډیو ملکونو د لاندې کولو لپاره د[مرم] قوت ته اړه نه شته لکه هومره چې دده د خپلو وطنوالو د مطیع کولو لپاره ضروري دی.

## د پښتنو د حکومت د ښه والي په منظور

په دې ډول یو پاچا لکه هغه، چې ما په نظر کې نیولی دی، ځان مجبور ویني لکه اوسنی پاچا چې ځان مجبور ویني [1] خپل کړه د خانانو له اعمالو سره متوافق کړي او ددغه ضرورت احساس وکړي، چې د ټولو منافع په نظر کې ولري. دا ټول به دوی دې ته راوبولي، چې خپل ټول بحثونه یوې عمومي جرگې ته وړاندې کړي. دغسې یو ترتیب به د دوی د داخلي حکومت په ذوق برابر او له هغه رواج سره موافق وي، چې پاچایي اوس له درانیو سردارانو سره د هغه مراعات کوي. داسې هم ددغه ترتیب له مخې به د اشرافو یوه شورا، چې هم به له خلکو او هم به له پاچا سره که څه هم ډېر نږدې له پاچا سره، تړلې وي، جوړه شي. په ډېرو ولسونو کې خانان د ملکانو له مشورې پرته، چې هغوی مجبور دي په خپل وار د خپلو خپلونو رضا حاصله کړي، نه مالیات حواله کوي او نه په عمومي کارونو لاس پورې کوي. پاچا ممکن زیار وباسي، چې خانان پیاوړي کړي او د هغوی له لارې له ناراضه خلکو څخه د ضرورت وړ څیزونه او عسکر ترلاسه کړي، خو تر هغو چې دی نظر دې ته چې پاچایانو تراوسه په لاس کې لرل، له زیاتو وسایلو نه کار وانخلي. دده کوښښ به ممکن چندان نتیجه ورنه کړي او که چېرې دی عمومي او حقیقي مرستې ته د امید سترگې ولري، هغه باید حتماً د موجود سیستم په چوکاټ کې دننه او د ملت په راضي کولو سره حاصله شي. په دې ډول له خانانو څخه به غوښتل کېږي لکه چې هم دا اوس هم غوښتل کېږي، چې خپل قومونه تشویق کړي، چې له عمومي عوایدو سره مرسته وکړي. دوی به د خلکو ناپوهي ددغه ملي ضرورت لپاره یوه مانع وگڼي، چې هغه څه چې اوس یې حکومت ته ورکوي، په هغه کې زیاتی ومني. په یقین سره دا به یو

---

[1] د شاه شجاع په وخت کې د درانیو مشرانو له مشورې نه غیر په هیڅ کار لاس نه پورې کېده.



Property of ACKU

غېر طبیعي مصلحت نه وي، چې قومونه په دې راضي شي، چې له خپلو ډېرو عاقلو ملکانو څخه یو یا دوه د نماینده‌گانو په حیث دربار ته واستوي، چې هلته د اجتماعي چارو حقیقي حال معلوم کړي، په دې ډول به یو جرگه جوړه شي، چې هر غړی به یې د خپلو موکلینو سره ډېر نږدې ارتباط ولري او دی به د هغوی له خوا د دوی د طبیعي او موروثي مشر په حیث گڼل کېږي. دوی به د دغسې خلکو نماینده گي کوي، چې هغوی به خپلو مشرانو ته په درنه سترگه گوري او په دې به ښه عادي شوي وي، چې بحث وکړي او هغه اقدامات رد یا تایید کړي، چې د دوی مشران یې پېشنهاد کوي. د قومونو له ملېشا نه به یو داسې لښکر جوړوي، چې د باندني تېري کوونکي په مقابل کې به نه ماتې خوړونکی وي، په داسې حال کې چې پاچا به داسې قوه ونه لري، چې د خپل رعیت د عمومي اتحاد په مقابل کې یوه شېبه هم ټینگار وکولای شي.

یو ډېر جزیي تغییر، چې راوړل کېږي هغه به هم په گډه د جرگو او قاضیانو له خوا وي او قاضیان به، چې د پاچا له خوا ټاکل کېږي، د قضایي چارو د اجراء لپاره ډېر ښه مناسب وي. هغه حکومت چې په دې ډول منځ ته راځي د داسې یو حکومت په شان به وي، چې د ملت د سعادت او لوړوالي لپاره به داسې ښه مناسب وي، چې څنگه یې فکر کېږي.

دا وو هغه خوښوونکي خیالات، چې مورږ د هغو موادو په کتنه سره بیان کړل، چې د پښتنو حکومت ترېنه جوړ دی، خو یو لږ سوچ به مورږ په دې قانع کړي، چې گومان نه کېږي دغسې خیالات عملي شي. د گاونډیو مطلقو نظامونو مثال او هغه نظریات، چې د کابل دربار لا دمخه ترېنه اخیستي دي، ددې هیلې د ترسره کېدو پوره مانع گرځي، چې پاچا دې دغسې طرح عملي کړي. نن داسې دلیل هم موجود دی، چې د هغه په رڼا کې ویل کېدای شي هغه ټولنې، چې د پښتون ملت پرې تقسیم دی، دننه په ځان کې د دفع او بې اتفاقۍ اصل نغښتی لري. دا اصل له حد نه ډېر قوي دی او غلبه پرې نه شي کېدلی، خو ددغسې قوت په استعمال سره، چې په داسې حال کې، چې هغه ټولې یې په یو واحد ځان کې سره متحدې کړي، د هرې برخې خصوصیتونه به درې ورې کړي او له منځه به یې یوسي[1].

[1] د هندوستان په کلیوالي حکومت کې داسې نښې نښانې شته، چې د پښتنو د ولسونو له موجود سیستم سره ورته والی لري. د هندوستان د کلیوالي حکومت هغه بقایا، چې د اوږدې دورې له فشار سره سره پاتې دي، تراوسه هم د حکومت له بې نظمیو څخه د خلاصون لپاره لاره هواروي او ددغسې یوه مشکل د حل لپاره لاره برابروي، چې په مرکزي هندوستان کې باید حتماً ټول سیاحان ورسره مخامخ وي او هغه ددغه ملک د ځینو برخو غوړېدونکی حال دی، چې معلومېږي ټول حکومت له هغه څخه ډډه کوي.



Property of ACKU

# دریېم څپرکی

## ودونه، د ښځو حال، جنازې او نور...

پښتانه خپلې ښځې په بیه اخلي، اسلامي شریعت دغه رواج پېژندلی دی[1] او د اسیا په زیاترو برخو کې هم دغه رواج جاري دی ان په هغو ملکونو لکه چین کې هم چېرته، چې اسلام نه شته دی[2]. په پښتنو کې د ښځې بیه د زوم د حالاتو په تناسب فرق کوي. ددغه رواج تاثیر دا دی، چې ښځې که څه هم په عمومي ډول له هغو سره ښه سلوک کېږي، تر یوه حده پورې د ملکیت په حیث ګڼل کېږي. یو مېړه کولی شي خپله ښځه بې له دې چې کوم دلیل ورته وښاکي، طلاقه کړي. خو ښځه خپل مېړه ته طلاق ورکولی نه شي. هغه حق لري د قوي دلیلونو له مخې د قاضي په مخ کې د خپل طلاق غوښتنه وکړي، خو دا کار په واقع کې کله کله پېښېږي. که مېړه مړ شي او ښځه یې پاتې شي او هغه بیا بل مېړه وکړي، د مېړه خپلوان یې هغه پیسې بېرته اخلي، چې په هغې ورکړل شوې دي. لکه څنګه چې د ورور کونډه وکړي، د هغې کونډې د لیوره لپاره دا یو لوی سپکاوی دی، چې د هغه له رضا نه غیر یو بل څوک له هغې سره واده وکړي. سره له دې هم کونډه په دې نه مجبوره کېږي، چې د خپل میل په خلاف بیا واده وکړي او که هغه واړه ولري، دا ښه ګڼل کېږي، چې سر ورته سپین کړي.

د پښتنو په ټول ملک کې معمولاً د ښځې لپاره د واده عمر څوارلس، پېنځلس یا شپاړس او د نارینه لپاره اتلس او شل دی. هغه نارینه، چې د ښځو د ولور ورکولو وسه نه لري، تر څلور ویشتو کالو پورې جره پاتې کېږي او پېغلې کله کله تر پېنځه ویشتو کلو پورې په کور کې ناستې وي. له بلې خوا شتمن کسان کله کله د بلوغ د

---

[1] داسې ښکاري، چې مولف مهر او ولور سره یو ګڼي او په دې فکر دی، چې ولور هم شرعي دی. په داسې حال کې، چې ولور د پښتنو د عرف محصول دی او شریعت یې نه مني. ژباړن.

[2] ددغه کتاب د تالیف په وخت کې په چین کې اسلام موجود و، اوس هم موجود دی. ژباړن.

Property of ACKU

سن نه دمخه واده کوي. د ښار خلک هم د وخته واده کوي او شرقي پښتانه د پېنځلس کلنو هلکانو لپاره دولس کلنې نجونې ودوي او ان کله کله چې په وسه کې یې وي، تر هغو دمخه هم ورته واده کوي. لویدیځ پښتانه هلکانو ته تر هغو، چې پخې ځوانۍ ته نه وي رسېدلي او پېغله یې نه وي رسېدلې، واده نه کوي. په غلزیو کې د واده سن تر هغو هم وروسته دی. د هېواد په ټولو برخو کې هغه سن چې په هغه کې هر هر فرد واده کوي، دده په هغه استعداد پورې اړه لري، چې د ولور پیسې ورکړي شي او د کورنۍ ژوند تامین کړي. په عمومي ډول نارینه په خپل قوم کې دننه واده کوي، خو پښتانه زیاتره تاجکي او ان فارسي وانې ښځې کوي. دغسې ودونو ته په هېڅ ډول په بد نظر نه کتل کېږي، خو څنګه چې لور ورکول د تحقیر علامه ګڼل کېږي، د لوړ مقام خاوندان او ټول درانیان نه غواړي خپلې لونې د کوم بل قوم نارینه وو ته په واده ورکړي.

په ښارونو کې نارینه د نجونو د لیدلو موقع نه لري او جوړه کول په عمومي ډول د مصلحتونو په اساس بنا وي. کوم وخت، چې یو نارینه د کومې خاصې نجلۍ په فکر شي یا یوه ښځینه خپلوانه یا کومه ګاونډۍ د هغې کور ته استوي، چې هغه ورشي او د هغې په اړه ورته معلومات ورکړي، که دی په دغو معلوماتو خوښ شو، هغه رېباره ښځه د نجونې د مور خوښه معلوموي او دوی معلوموي، چې د هغې کورنۍ خپښي کولو ته متمایله ده که د هغې د کورنۍ خوښه وه، هغه رېباره په واضحو الفاظو سره خپل پېشنهاد کوي او د یوه ښکاره پېشنهاد لپاره ورځ ټاکي. په هغه ورځ د هلک پلار له یوې ډلې نارینه وو خپلوانو سره د نجلۍ د پلار کور ته ځي. په داسې حال کې چې د ښځو یوه ورته ډله د نجلۍ مور ته ځي او پېشنهاد وړاندې کوي، خواستګار یوه ګوته، یو شال یا څه نور سوغاتونه خپل اینده نجلۍ ته وراستوي او د هغه پلار د نجونې له پلار څخه هیله کوي، چې د هغه زوی د نوکر په حیث ومني. د نجونې پلار په مبارک دې وي، سره ځواب وایي. وروسته شیرینۍ ګانې راوړل کېږي او بیا د درنې دعا او یا د قرآن شریف له څو آیتونو لوستلو او نوې جوړې ته د خیر تر دعا وروسته دواړه خواوې په شیرینۍ خوړلو پیل کوي. د نجلۍ پلار هلک ته یو څه سوغات ورکوي او تر هغه وروسته هلک او نجلۍ یو بل ته په نامه شوي بلل کېږي. پخوا له دې، چې واده وشي، ښایسته وخت تېرېږي. ددغه وخت په اوږدو کې د نجلۍ خپلوان د جهیز په جوړولو لګیا وي، چې هغه په عمومي ډول د کور یو څه سامان، قالینې، لوښي، اوسپنیز او برنجي سامانونه او ګانې وي زوم په عین حال کې د خپلې ښځې د ولور په پیدا کولو کې وي، چې هغه تل د هغه تر وسې لوړ وي، داسې هم دی د یوه کور د برابرولو لپاره او هر هغه څه تهیه کولو



Property of ACKU

لپاره، چې د یوې کورنۍ د جوړولو لپاره ضروري دي، اقدام کوي. که زوم غریب اوسي د دغو څیزونو برابرول، یو کال یا دوه کاله نیسي، خو که شتمن وي، دغه موده له دوه دریو میاشتو څخه نه اوړي. د پښتنو د واده مراسم د فارس د خلکو له مراسمو سره دومره ورته دي، چې دلته یې یواځې یو لنډ بیان کفایت کوي[1].

د واده وثیقه د قاضي له خوا لیکل کېږي او د ښځې او نارینه له خوا ورسره موافقه کېږي. د دوی د خپلوانو رضا په دغه وثیقې کې شرط نه وي. د قرارداد شرایط د ښځې لپاره د طلاق او یا د هغې د مېړه د مرگ په صورت کې ترتیبات برابروي، دواړه خواوې او دغه راز قاضي او دده صلاحیت لرونکي شاهدان پرې امضا کوي. له هغه وروسته ډېر زر ناوې او زوم لاسونه او پښې په هغو نکریزو سره سرې کوي، چې په ټولو آسیایي ملکونو کې ښځې او ځوان هلکان یې د ښایسته کېدو لپاره په کاروي. په راتلونکي مازیگر کې ناوې د خپل آینده مېړه کور ته په ورا سره وړل کېږي، یوه ډله سازنده گان او نڅا کوونکي او د دواړو خواوو خپل خپلوان، گاونډیان او کلیوالان ورسره ملگري وي. دوی په آسونو سواره په خلکو کې دمخه درومي، د ټوپکو ډزې کوي او توري سره شرنگوي. څه وخت چې ناوې کور ته ورسېږي، خپل مېړه ته ورسپارل کېږي او ټولو گډون کوونکیو ته ډوډۍ ورکول کېږي. د هېواد په اطراف کې واده هم په همدغه ډول سره وي، خو څنگه چې ښځې په اطرافو کې پټې نه وي او د ښځو او نارینه و ترمنځ په ناسته ولاړه باندې قیود لږ دي د هلک او نجلۍ جوړه کېدل د دوی د میلان په وجه وي او د ټولو مخکنیو مذاکرو لپاره ضرورت نه پیدا کېږي. ان یو زوړ مئین کولی شي چې خپله مینه بې د هغې د مور پلار له رضا نه ترلاسه کړي. داسې چې په یوه مناسبې موقع کې یا د هغې د ویښتو نه یو څه پریکړي یا د هغې پوړنی پټ کړي او یا په هغې پوړني وغوړوي او هغه په خپل نامه شوې ښځه اعلان کړي. دغه کارونه چې باید د نجلۍ په رضا سره شوي وي، هر بل خواستگار له دې نه منع کوي، چې د هغې خواستگاري وکړي او پلار او مور یې دې ته تشویقوي، چې خپله لور د هغې اعلان شوي مئین ته په نامه کړي، خو څنگه چې دغه کارونه مئین د ولور له ادا کولو څخه ژغورلی نه شي او څنگه چې هغه ممکن د هغې د خپلوانو له خوا سپکاوی وگڼل شي، تل له هغو څخه کار نه اخیستل کېږي او څه وخت، چې د مور او پلار راضي کول ممکن نه شي، ډېره عامه لاره چاره دا شي، چې هلک له نجلۍ سره وتښتي. دا کار د نجلۍ کورنۍ ډېره پاروي او هغه د خپل یوه غړي قتل په حیث گڼي او په ډېر جدیت سره د نجلۍ په پیدا کولو پسې کېږي، خو د هغې پیدا کول اسان نه وي، ځکه چې هلک او نجلۍ

[1] د تفصیل لپاره وگورئ د فرانکلن شیراز ته نظر.

Property of ACKU

د کوم بل قوم په ملک کې ننواتې کوي او له حفاظت څخه داډه وي. د پښتنو دا رواج دی، چې د هر مېلمه ننواتې او تر هغه زیات د هر مظلوم او عارض ننواتې ومني.

په یوسفزیو کې هېڅ نارینه خپله نجل لیدلی نه شي، خو تر هغو چې د واده ټول مراسم پای ته ورسېږي. په برو درانیو کې د په نامه کېدلو او د واده د وخت په منځ کې ډېر شرطونه شته، چې باید پوره شي څېنې زومان له خپلو اینده خسرانو سره ژوند کوي او خپله ناوې لکه څنګه، چې یعقوب د راشل (Rachel) خدمت وکړ، له هغو سره د خدمت په مقابل کې ګټي بې له دې، چې خپل نجل ولیدلی شي، خو نور پښتانه، ایماق، هزاره ګان د فارسي خراسان اوسېدونکي او ان تاجکان او په دغو ملکونو کې ډېر هندوان بېل بېل رسمونه لري او زوم پټو لیدنو کتنو ته اجازه ورکوي، چې هغو ته چغل بازي وايي. په دوی کې همدا چې هلک او نجلۍ سره په نامه شول، هلک د غله په شان د شپې د نجلۍ کور ته ننوځي، د نجلۍ مور یا د هغې نږدې ښځینه خپلوانې له هلک سره په دې کار کې مرسته کوي، خو داسې ګڼل شوې ده چې باید د نجلۍ له خوا نارینه له دې کار څخه هېڅ خبر نه شي او دوی دغه کار ته په سپک نظر ګوري. هلک د خواښې له خوا د خپل نجل د کوټې په لور هدایت کېږي او دوی ټوله شپه د بل سهار تر اولو شېبو پورې یوائې وي. هر راز آمیزش پوره بې شرط او قیده خبرې اترې او ان ښکلول او د معصومو ازادیو ټول انواع روا ګڼل کېږي، خو وروستنۍ لورینه باید نه وي او مېنډې ډاډه وي چې بېل بېل د هغه په ضد کلکه سپارښتنه کوي، خو څنګه چې طبیعت تر دغسې نصایحو څخه ډېر قوي دی. واده د نامشروعې مینې او د مشکلاتو په اثر شروع شي ان داسې مثالونه هم راوړل کېږي، چې څه وخت چې ناوې د مراسمو تر پای ته رسېدو وروسته مېږه ته سپارل کېږي، دوه یا درې واړه ورسره ملګري وي، خو څنګه چې له هغې څخه یوه لوریه افتضاح جوړېږي، دا کار یوائې کله کله پېښېږي. دغه رواج ان د لوړ مقام په خاوندانو کې هم پېښېږي، پاچا هم کله کله د نیمې شپې د چغل بازۍ ماجراګانو ته ځان سپاري.

شریعت د څو ښځو کول روا بولي، د خلکو ډېر زیات شمېر نه شي کولی له دغې اجازې نه استفاده وکړي. شتمن کسان په حقیقت کې له شرعي حد څخه چې په یوه وخت کې د څلورو ښځو کول دي، تجاوز کوي او په هغه سربېره د غلامانو او کنیزو ډلې ساتي، خو غریب کسان په یوې ښځې کولو قناعت کوي. د منځنیو طبقاتو په نارینه وو کې د سړي په سر دوه ښځې او هغومره شمېر کنیزې یو آزاد معیار ګڼل کېږي.

## د ښځو مـوقف:

د ښځو حال د دوی د شان په تناسب تغییر کوي، د لوړو طبقاتو ښځې ټولې سترمنې دي، خو تر هغو چې وضع ورته اجازه ورکوي، دوی ارامې او آسوده وي. د غریبو ښځې د کور کار کوي، اوبه راوړي او په داسې نورو کارو لګیا وي. په لیرې اطرافي قومونو کې ښځې له نارینه وو سره د کور د باندې کارونو کې برخه اخلي، خو دوی د هېواد په هېڅ ګوټ کې هغسې کار نه کوي لکه څنګه چې ښځې یې په هندوستان کې کوي یانې چېرته چې په تعمیر جوړولو کې ښځې له نارینه سره یوځای دا چېرې په مقابل کې استخدام کېږي او چېرته چې ددغو دوه جنسونو د کار ترمنځ هېڅ راز توپیر نه شته دی. اسلامي شریعت مېړه ته اجازه ورکوي، چې خپله ښځه ووهي[1] خو له دغه اختیار څخه استفاده کولو ته په ښه نظر نه کتل کېږي.

د لوړو طبقاتو مېرمنې زیاتره لیک لوست زده کوي او ځینې یې په ادبیاتو او شعر او شاعرۍ کې ښه استعداد ښیي. په عین حال کې به دا د ښځې لپاره سپین سترګي ګڼل کېږي، چې لیکل وکړي او دا په دې سبب چې هغه ممکن له دغه مهارت څخه داسې کار واخلي، چې له کوم ځین سره مکاتبه وکړي. ما پخپله څو کورنۍ پېژندلي دي، چې هغه په عمومي ډول د داسې ښځو له خوا اداره کېدلې، چې استعداد یې تر عادي ښځو لوړ و او دوی په دغسې موضوعاتو کې، چې د دوی په زامنو پورې یې اړه لرله، بې له کوم تردد څخه لیکنې کړي دي. داسې ښځې په عمومي ډول د کورنیو مېندې دي، خو د همداسې کورنیو مېروښې ښځې هم ډېر ځله ښې هسکې کېږي او ټول هغه امتیازونه، چې شریعت نارینه وو ته ورکړي دي، تل ددې لپاره کافي نه دي، چې ددې مخه ونیسي، چې نارینه په خپل کور کې دویم مقام ته ټیټ نه شي. د ښکته طبقې ښځې هغه ساعت تېرې لري، چې د دوی نارینه یې دننه په کور کې لري او دوی تر هغې چې ما ته معلومه ده، ځانله جلا ساعت تېرې نه لري. د ښار ښځې له سر نه تر پښو پورې په چادرۍ او دلاق کې پټې وي او له هغو وړو سوریو څخه بهرنۍ جهان ګوري، چې د همدغو جامو د سر په برخه کې وي.

---

[1] اسلامي شریعت مېړه ته د ماینې وهلو اجازه په مشخص ډول نه ده ورکړې. په اسلام کې د ښځې او مېړه د دوه اړخیزو حقوقو په اړه وګورئ، د اسلام اجتماعي جوړښت، د آر.لي.وي تالیف. د کیمبرج پوهنتون خپرونه، کاغذي پښتۍ، ۱۹۶۵ کال، ۹۱_۱۳۲۵ مخونه.
په افغانستان کې د ښځو د موقف لپاره وګورئ (۱) د ژباړن اثر، حکومت او جامعه په افغانستان کې، د امیر عبدالرحمن خان د امارت دوره، تکزاس د پوهنتون خپرونه، ۱۹۷۹.
(۲) د افغان ښځه د ایرک کنابي مقاله، د افغانستان په ۱۹۷۰ سو کالو کې، دوپري او البرت تالیف، د پریګر خپرونه، نیویارک ۱۹۷۴. ژباړن.



Property of ACKU

د ښه حال ښځې هم کله چې بېرته وځي، په همدغو جامو کې لیدل کېږي، خو څنګه چې دوی په عمومي ډول په آس سپرې وي، نو داسې اوږدې سپینې جامې اغوندي، چې د لینګیو ښه یې ټوله پټوي. دوی د اوښانو د پاسه په داسې کجاوو کې هم سفر کوي، چې پکې ښې غځېدلی شي، خو څنګه چې دغه کجاوې په ټوکرانو سره پوښل شوې وي، دوی باید په تاوده موسم کې ارومرو زړه تنګي اوسي. ښځې هغه ډول، چې ما یې بیان وکړ، په چادري کې مخ پټې په ښار کې ګرځي او دوی د ټولو هغو ټولنو یوه ښه برخه تشکیلوي، چې د ننداړو د لیدلو لپاره سره غونډېږي. داسې هم دوی په باغونو کې سره غونډېږي او که څه هم ډېر دقت سره ستړې وي، د هندوستان تر ښځو څخه ډېرې محصورې نه وي. په عمومي ډول د دوی حال د ګاونډیو ملکونو د ښځو د حال په پرتله چندان بد نه دی.

ښځې په اطرافو کې ستر نه دي او دوی د خپل کامپ یا د خپل کلي د خلکو په منځ کې له نورو قیودو لاندې نه دي، خو هغه چې عامه اذهانو پرې تحمیل کړی دی او هغه دا چې له نارینه وو سره د دوی خلط کېدل بې شرمي ده، خو همدا چې دوی له کوم بېګانه یا نامحرم نارینه سره مخامخ شوې، دوی سمدلاسه مخونه پټوي او که چېرې کوم بېګانه سړی وي، په هغه حال کې دوی کله کله له کورونو څخه بهر نه وځي، سره له دې هم دوی د هندوانو، ارمنیانو او د فارس د خلکو په اړه ددغه رسم مراعات نه کوي، ځکه چې دوی هغوی لکه هېڅ ګڼي. دوی هغه وخت چې د دوی مېړونه په کورونو کې نه وي، د مېلمنو هرکلی کوي او ټول هغه مراسم په ځای کوي، چې د دوی مېلمه پالنه یې تقاضا کوي، خو د اطرافو د ښځو عفت په تېره د شپنو د ښځو عفت د ټولو هغو کسانو لپاره، چې د دوی له رواجونو څخه خبر وي، د ستاینې وړ یوه موضوع ده. له ښارونو څخه غیر عمومي فاحشې په دوی کې نه شته، په ښارونو کې په تېره بیا په لویدیځ کې هم د فاحشو شمېر دې لږ دی(۱).

فاحشو ته ورتګ هم بد ګڼل کېږي، خو څنګه چې د نړۍ په اړه د فاحشو پوهه د دوی نرم سلوکونه او هغه هنر، چې دوی یې د سړیو په جلبولو کې په کاروي، ډېره علاقه او تنوع تولیدوي. د دوی ښځو او کنیزو ټول نازونه او نخرې نه شي کولی، شتمن کسان فاحشو ته له ورتګ څخه منع کړي. زما په خیال په شرق کې له پښتنو نه غیر نور داسې خلک نشته، چې په هغو کې دې زموږ د مینې د خیالونو په قرار د مینې د احساس نښې نښانې موجودې اوسي. دغسې مینه په دوی کې ښه عامه ده.

له مئین سره د تښتېدو له متعددو مثالونو څخه په پرته، چې له خطرو څخه یو ډک کار دی، دا رواج عام دی چې یو ځوان د خپلې قوي مینې احساس هغې نجلۍ

۱ باید په یاد ولرل شي، چې رسمي او قانوني شکل په افغانستان کې فاحشه توب هېڅ رواج نه لري.

Property of ACKU

ته، چې پرې مئین شوی دی، ښکاره کړي او له هغه وروسته به کوم لیرې ښار او یا هندوستان ته روان شي، چې دومره شته وګټي، چې د هغې د خپل کولو لپاره ضروري وي. په پونه کې مې یو ځوان ولید، چې همدغه حال یې لاره. دی په خپل وطن کې د کوم ملک په لور مئین شوی و او نجلۍ هم پرې راضي وه. د نجلۍ پلار هم هغه ته د خپلې لور په نکاح سره راضي و، خو ویل یې چې د لور عزت مې دا غواړي، چې د هغې ولور دومره وي لکه د کورنۍ د نورو ښځو ولور، چې دی. دغه دواړه مئینان سخت خپه وو، کله چې دغه ځوان له یوې تو تې ځمکې او یو څو غویو نه غیر نور هیڅ نه لرل، اخر دی د هندوستان په نیت روان شو.

مینې یې هغه ته یو سلایي ورکړه، چې په هغې سره ددې د مینې د تعهد په حیث خپلو سترګو ته رانجه ورکړي او داسې ښکاري، چې دغه ځوان په دې کې څه شک نه لري، چې هغه به دده تر ستنېدو پورې ورته ناسته وي. دغسې مئین توب په عمومي ډول یو اځې د اطرافو په خلکو کې لیدل کېږي، په دوی کې نسبتاً بې قیده ژوند ددغسې احساساتو د ښکاره کولو لپاره ښه مساعد وي. په ځانګړې توګه کله چې د ښحو نیم ستر حال ورسره ملګری وي (په دغسې حال کې چې دوی له یو بل سره تماس کولای نه شي، خو یو بل په پوره اندازه لیدلی شي. د دوی علاقه د یو بل په نسبت ښه تحریک کېږي) دغسې مئین توب کله کله ان په لوړو طبقو کې، چې هلته یې ډېره لږه توقع کېږي، هم لیدل کېږي. د ترکلانیو د یوه مشر او د یوسفزیو د یوه خېل د خان د ښځې ترمنځ همدغسې یوه یارانه وه، چې د دواړو ولسونو په منځ کې دداسې یوه جنګ سبب شوه، چې تر دغې ورځې پورې دوام لري.

## په پښتو کې د مینې کیسې

د پښتو ډېرې کیسې او غزلې د مینې په اړه دي او ډېرې یې له همدغه احساس نه په ډېرو تودو او عشقي الفاظو کې یادونه کوي. یو ډېر په زړه پورې غزل د آدم خان او درخانۍ د کیسې بیان کوي، چې د دوی د ملت ډېرو خلکو ته معلومه ده او د ملک په هر ګوټ کې ویل کېږي. دغه ټول غزل یو وخت ما ته په لاس راغلی و، خو له بده مرغه راڅخه ورک شو او هغه لنډیز، چې اوس یې بیانوم، وروسته د ډېره بند (Derabund) یو پښتون راته په دري نقل کړی دی. کیسه داسې شروع کېږي، چې:

ادم خان د خپل قوم یو ډېر ښکلی او زړور ځوان و او درخانۍ په پېغلو کې تر ټولو ښایسته او مینه ناکه نجلۍ وه، خو دوی نه شو کولای د هغې دښمنۍ په وجه چې د دوی د کورنیو په منځ کې وه، سره وګوري، چې دوی په اتفاقي ډول سره ولیدل او یو په بل سخت مئین شول، خو د کورنیو دښمنۍ دوی سره بېل ساتل او ممکن یو



Property of ACKU

د بل په مينه خبر نه وو، چې درخانۍ د خپلې کورنۍ له خوا مجبوره شوه له کوم ګاونډي خان سره واده وکړي. د هغې د مئين د دردناک حال تصور به کېدای شي او د هغه له سوز نه ډک حال او ليکونه ددغې غزلې يوه ستره برخه جوړوي. وروسته له دې، چې هغه ډېر بنديزونه له منځه ليرې کړل، درخانۍ يې دې ته اړه کړه، چې ورسره وګوري. دوی څو ځله سره ليدنې کتنې وکړې، خو درخانۍ سره له دې هم خپل سوچه توب وساته او د مېړه او مئين دواړو غوښتنې يې رد کړې.

د آدم خان ليدنې تر ډېره وخته پټې نه شولې او د درخانۍ د مېړه غوږو ته ورسېدلې او دی سخت په غضب شو او د انتقام اخيستلو تکل يې وکړ. دی له خپلو خپلوانو سره د خپل رقيب ملاقات ته د تلو په لار کې پټ شو، که څه هم دده حملې په ډېرې مېړانې سره مخامخ شوې، خو آدم خان له يوه سخت ګوزار سره وتښتېد. د درخانۍ مېړه په دې چل لاس پورې کړ، چې راځه درخانۍ ته د آدم خان د وژلو رپورټ ورکړه او وګوره، چې دغه خبر په هغې څه اثر کوي؟.

ددغو ليدنو کتنو په اوږدو وقفو کې د درخانۍ يواځينی ارام په دې کې و، چې يوه باغ ته پناه يوسي او دوه ګلان وکري، په يوه ګل باندې يې خپل نوم ايښی و او په بل يې د خپل مئين. درخانۍ چې د خپل مېړه او د مئين د ننبتې په هغه ورځ د خپل ګلانو ننداره کوله، دې ته ملتفته شوه چې د آدم خان ګل له بدې پېښې سره د زړه سواندۍ له لامله مړاوی شو او پخوا له دې، چې درخانۍ له دغې ناببرې پېښې څخه په حال راشي، له خپل مېړه سره مخامخ شوه. مېړه يې له خلاصې توري سره ورنژدې شو او په ډېر غرور يې ورته وويل، چې هغه د آدم خان په وينو لمده ده. د درخانۍ لپاره دغه آزموينه خطرناکه شوه، بې اختياره په ځمکه ولوېده او په سخت غم او هيبت کې ډوبه لاړه او نفس يې هوا ته والوت او مړه شوه. دغه خبر چې آدم خان ته ورسېد، هغه مقابلې صحنې ته نژدې په کوم ځای کې زخمي پروت و، همدا چې خبر يې تر غوږ شو، د درخو نوم يې په خوله واخيست او د وروستي ځل لپاره يې نفس واخيست. دوی دواړه يو بل ته نږدې سره خښ شول، خو د دوی مينه ان تر مړينې وروسته هم ژوندۍ وه او د دوی مړي په يوه قبر کې سره يوځای شول. دوه ونې د دوی له قبر څخه هسکې شوې او څانګې يې د قبر د پاسه سره ګډې شولې.

ډېر خلک له ډېرو اروپايي کيسو سره ددغې کيسې په تېره بيا د هغې د انجام سره په ورته والي باندې پوره حېران شي. په رښتيا څومره د حېرانۍ ځای دی، چې په آسيا او اروپا کې څومره ډېرې کيسې سره مشترکې دي او دغه اشتراکات نه يواځې په خيالي آثارو کې، بلکې په هغو حقايقو کې هم ليدل کېږي، چې حقيقي شخصيتونو ته منسوب وي او په تاريخ کې ثبت شوي دي. دلته به له ډېرو هغو



Property of ACKU

مثالونو څخه، چې په دې اړه شته دي، د یوه مثال راوړل بس وي. دغو یو د ګرځولو هغه فریب، چې په شاخو یې مشعلونه ایښودل شوي وو او ویل کېږي، چې په هغه سره هاني بال (Hannibal) له فابیوس (Fabius) څخه وتښتېد. د پښتنو له خوا د هغه په ټولو تفصیلاتو سره د هغې یوه مشر ته منسوب شوی دی او د هغه صحنه هرات ته نږدې ټاکل شوې ده. په همدې ډول زموږ د کیسو ډېر شمېر په آسیا کې ویل کېږي او د جوملر (Joe Miller) لیکوال نیمایي کیسې ممکن د «ظرافت نه ډک ټام کلي ګریو» (Tom Killigrew) د شرق د کوم ښار «کوم عالم» ته یو راز منسوبې شي.

## جنازې

د پښتنو د جنازې مراسم د نورو مسلمانانو له مراسمو څخه توپیر نه لري. کله چې کوم څوک د نزع په حال کې شي، ملایان ورته ورځي او ورته وایي، چې د خپلو ګناهونو توبه وغواړي. نا روغ کلمه طیبه یاني «لا اله الاالله محمد رسوال الله» او نورې دعاګانې تکراروي او په داسې حال کې، چې مخ یې د مکې په لور وي، ځان حق ته سپاري. کله چې مړ شي، وینځل کېږي او په کفن کې پېچل کېږي او بیا خاورو ته سپارل کېږي. تر هغه پخوا د ده خپل خپلوان، کلیوال او ګاونډیو ګڼ شمېر د یوه ملا په امامت د جنازې لمونځ ادا کوي. که مړ شوی کس ښه شتمن و، ملایان څو ورځې دده په قبر قرآن لولي.

د سنتي مراسم هم په ټولو اسلامي ملکونو کې یو شان دي، ډوډۍ ورکول په دغو مراسمو کې شامل دي، خوښي او خوشحالي پکې ډېره وي.

* * *

# څلورم څپرکی

## د پښتو معارف، ژبه او ادب

Property of ACKU

ټول پښتانه په وروکتوب کې د زده کړې لپاره ملا ته استول کېږي، ځینې یې له منظمو لمونځونو، نورو موقتي لمونځونو، د قرآن له څو آیاتو، د خپل دین د مراسمو او د مسلمانۍ د وظایفو پرته نور څه نه زده کوي. په درانیو او د پېښور په شاوخوا کې بل گام دا دی، چې دوی قرآن په عربي بې له دې، چې زیاتره یې په مانا پوه شي، زده کړي خو په نورو قومونو کې دغه زده کړه په یوې پرمختللې مرحلې کې کېږي. په عمومي ډول دا د ښکته طبقاتو زده کړه ده، چې د هغو څلورمه برخه هم خپله ژبه لوستلی نه شي.

شتمن کسان د خپلو اولادونو لپاره په کورونو کې ملا ساتي، خو د یوه عمومي ښوونکي ټول واک هغه ته ورکوي. هغه ملا چې د صدراعظم د زوی مدرس (دغه هلک، چې ما ولید څوارلس کلن و) و، ماته وویل چې دی خپل شاگرد نږدې ټوله ورځ په کتاب لوستلو بوخت ساتي.

په هر کلي او کمپ کې یو استاد شته، چې شاگردان یې د هغه د ژوند د تامین لپاره یوه ټوټه ځمکه او څه معاش ورکوي. کله کله یو شخص دغه وظیفه او د کلي د ملا وظیفه اجرا کوي، خو دا دواړه وظیفې زیاتره سره بېلې دي. مخصوصاً په گڼو ځایونو کې، په ښارونو کې، لکه د اروپایي ملکونو په شان منظم ښوونځي موجود دي، چې هلته یوازې شاگردان د استاد د ژوند تامین په غاړه لري. هغه معاش، چې په عمومي ډول په پېښور کې یوه استاد ته ورکول کېږي، د میاشتې پېنځلس انگرېزي پنه وي، خو ددغه معاش اندازه د شاگرد پلار د وسې په تناسب وي. د هېواد په ډېرو برخو کې شاگردان په خپلو کورونو کې ژوند کوي او یوازې د ورځې مکتب ته ځي، خو په برو درانیو کې یو هلک د عمر په لومړیو مرحلو کې یوه لیرې کلي ته استول کېږي، دی هلته په مسجد کې اوسي، په خېرات ژوند کوي او له خپل پلار او مور سره لږه راشه درشه لري او یا یې هېڅ نه لري، خو نظارت یې د هغه

استاد په غاړه وي، چې ورته تدریس کوي.

د پېښور په شاوخوا کې د زده کړې کورس په دې ډول دی: یو هلک د پیغمبر د توصیفي پر بنسټ څه وخت، چې د څلورو کالو، څلور میاشتو او څلورو ورځو شو، د الفبا په زده کولو پیل کوي، خو زده کړه سمدلاسه پرېږدي او تر هغو یې پیل نه کوي، چې شپږ یا اوه کلن نه وي شوی. هغه ته ددې درس ورکول کېږي، چې د شیخ سعدي واړه نظمونه ولولي، چې هغه په ډېره ساده او ښکلې ژبه د هر فضیلت ښکلا او د هر شر نقصان په ګوته کوي. دا کار د هلک د استعداد مطابق له څلورو میاشتو څخه تر یوه کاله پورې وخت نیسي. تر هغه وروسته عوام خلک قرآن زده کوي او یو څه نور کتابونه په خپلې ژبې کې لولي، لږ څه شتمن کسان بیا د دري د لرغونو ادبي آثارو او یو لږ څه عربي قواعدو په زده کړې پیل کوي. هغه هلکان چې غواړي ملایان شي، د خپل وخت زیاته برخه د عربي د قواعدو په زده کولو تېروي. د عربي قواعدو زده کړه کله کله څو کاله وخت نیسي، ځکه چې ددغې ژبې ګرامر ډېر پراخ دی او د دومره علم زده کړه غواړي، چې موږ یې د یوې ژبې له مقدماتو سره نه ګډوو. کله چې یوه ځوان ملا په خپل تحصیل کې په کافي اندازه صلاحیت پیدا کړ، پېښور، هشتنغر یا دغسې کوم ځای ته ځي، چې ملایان یې مشهور وي. هلته دی د منطق، قانون او دیني علومو په زده کړې پیل کوي. د ملا د تحصیل د تکمیل لپاره نور علم ته اړه نه لیدل کېږي، خو ډېر یې خپل تحقیقات د اخلاقیاتو، میتافزیک او د فزیک د هغه سیستم په اړه پرمخ بیایي، چې په شرق کې معلوم دي. همدا شان دوی تاریخ، شعري ادبیات او طب لولي او د طب زده کړه د ټولو اختصاصي تحصیلاتو په محصلینو کې ښه رواج لري. دوی ددغو تحصیلاتو او د دیني علومو او قانون د زیات اختصاص لپاره لیرې ښارونو ان بخارا ته هم سفر کوي او بخارا د اسلامي علومو یو لوی مرکز دی، خو په عمومي ډول داسې معلومېږي، چې پېښور په دغو ملکونو کې تر ټولو زیات د علم او فضل مرکز اوسي. ډېر طالبان نظر دې ته، چې له پېښور څخه بخارا ته لاړ شي، له بخارا څخه پېښور ته ځي. هندوستان د علم د زده کړې لپاره ډېر شهرت نه لري او د فارسیانو بدعت ددې لامل کېږي، چې ټول سنیان د دوی مرکزونو ته له ورتګ څخه ډډه وکړي. داسې ګڼل کېږي، چې علم ته ترقي ورکول د خدای په نظر یو فضل دی، د دغسې ذهنیت نتیجه دا شوې، چې د طالبانو لپاره په هرکلي کې د پاچا له مدرسو پرته یوه مدرسه موجوده وي، خو ددې ټولو پایلې دا شوې، چې ملک له هداسې نیمچه ملایانو څخه ډک شي، چې هغوی نظر دېته چې حقیقي علم ته ترقي ورکړي، مخه یې نیسي.

Property of ACKU

## د پښتو ژبه

پخوا له دې، چې په پښتنو کې د علم د زده کړې په اړه نور څه وویل شي، ښه به دا وي چې د دوی د ژبې (پښتو) په اړه یو څه بیان شي. ددغې ژبې منشا په اسانۍ سره معلومېدلی نه شي. د الفاظو زیات شمېر یې چې دغه ژبه ترېنه جوړه ده، له کومې نامعلومې رېښې څخه[1] پیدا دي او په دغې برخې کې د هغو کلمو زیات شمېر شامل دی، چې له هغه لومړي ضرورت څخه چې د اشیاوو د افادې لپاره په کارېدل، باید حتماً یې ددغو خلکو د اصلي ژبې اجزاوې جوړې کړې وي. سره له دې هم د همدغه رقم ځینې کلمې لکه پلار، مور، خور او ورور د پهلوي او زند په ژبو پورې اړه لري. داسې بریښي چې د اعدادو په اړه هم حال همدغسې وي، که څه هم چې د زند او پهلوي اعداد د سانسکرت له اعدادو سره دومره نږدې ورته والی لري، چې د هغو ترمنځ توپیر پیدا کول مشکل دي. له بلې خوا د افعالو او همداراز د کلام د ورو برخو زیات شمېر یې په کومې نامعلومې رېښې پورې اړه لري. هغه کلمې، چې په دین، حکومت او عمومي مسایلو او وګړیو پورې اړه لري، زیاتره له عربي نه د دري له لارې په پښتو کې ننوتې دي.

د پښتو هغه دوه سوه او اتلس کلیمې[2] چې ما د دري، زند، پهلوي، سانسکرت، هندوستاني، عربي، ارمني، ګرجستاني، عبراني او کلداني په ژبو کې د هغو له معادلو سره پرتله کړې، ماته دا ثابته شوه چې د هغو یو سل اولس کلمو

[1] ممکن ددغو کلمو ډېر شمېر که د کوم ختیځ پېژندونکي له خوا چاڼ شي، یوې څرګندې مبدا ته ورسېږي. ما په راتلونکي لیکنې کې دغسې یوه عملیه په خپل لاس شرحه کړې ده.

[2] پورتنی مقایسه په لاندې ډول شوې ده: ما لومړی د پښتو کلمو یو لست جوړ کړ، چې زما په خیال سم و او بیله ښېګڼه یې دا ده، چې هغه له هغه ورته لست سره چې ښاغلي ارواین Irvine ترتیب کړی و، مقایسه شوی و د زند او پهلوي له کلماتو څخه یو بل لست زما دغسې یو دوست ترتیب کړ، چې زه یې له مرستو څخه ډېر ممنون یم. د هغه له لست څخه دغه کلمې له دوو زردشتیانو څخه اخیستل شوې دي او د آنګوېټل دوپیرون Anguetil du Perron له لستونو سره پرتله شوې دي. زما همدغه دوست ګرجستاني، ارمني، عبراني او کلداني کلمات سره ټول کړل، له دري او هندوستاني ژبو سره زما خپله آشنایي د هغه مقصد لپاره، چې ما په نظر کې لاره، د قاموسونو په مرسته کافي وه. د سانسکرت په برخه کې هره کلمه په امرکوش کې له نورو ټولو معادلو کلمو سره مقاېسه شوه، یوه پنډت د سانسکرت کلمې ماته ولوستلې او ما ددغو کلمو یو څه د کتاب په آخر کې ذکر کړي دي.
تر دې وروسته چې ما دا لیکنه وکړه، ماته ددې موقع په لاس شوه، چې کردي د ژبې نږدې سل کلمې تر کتنې لاندې ونیسم. ماته معلومه شوه، چې له هغو ۱۱۰ کلمو څخه، چې ما د اصلي پښتو کلمو په حیث راوړې وې، پېنځه یې کردي وې او سربېره پردې یو څه نورې له کردي او دري ژبو سره مشترکې وې. په دې ډېر تاسف کوم، چې اوس ددې موقع نه لرم، چې دغه موضع ښه پر مخ بوځم.

Property of ACKU

ددغو ژبو له هیڅ یوې کلمې سره څه اړیکې نه لرلې، بلکې هغه اصیلې او بېلې معلومېدلې. د پاتې کلمو زیاتره برخه یې له اوسنۍ دري څخه وې، خو له دغو څخه ځینې کلمې بې له زند او زیاتره یې له پهلوي څخه دري ته ننوتې دي. په داسې حال کې چې یو شمېر یې ددغو ژبو هغه کلمې دي، چې په اوسنۍ دري کې نه استعمالېدلې، خو ددغو زندي او اوستایي ژبو ځینې کلمې د سانسکریت له کلمو سره ګډې وې او دغه دري ژبې سره ډېره نږدې خپلوي لري او ځینې کلمې هغه وې، چې یوازې په سانسکرت کې پیدا کېږي لکه څنګه چې پېنځه یا شپږ کلمې یې د هندوستاني ژبې دي، که د پښتو ژبې ددغو کلمو لست د پنجابي ژبې له کلمو سره پرتله شي، ممکن پنجابي کلمې هم پکې وموندل شي. له دغو دوه سوه او اتلس کلمو څخه یوه یې هم داسې نه ښکاري، چې له عبراني یا کلداني یا ګرجستاني او یا ارمني ژبو څخه راوتلې وي.

## پښتو منصفان

پښتانه د دري، (عربي) الفبا په کاروي او په عمومي ډول د نسخ په طرز لیک کوي. څنګه چې په پښتو ژبه کې ځینې داسې غږونه شته، چې د دري په توریو سره ادا کېدای نه شي، نو پښتنو د هغو د افادې لپاره د دري د ډېر نږدې تورو پورې یوه خاصه نښه نښلوي([1]). پښتو که څه هم یو څه زیږه ده، مېړنۍ ژبه ده او په هغو غوږونو ښه لګېږي، چې له ختیځو ژبو سره روږدي وي. ددغې ژبې شرقي او غربي لهجې نه یوازې په تلفظ کې، بلکې تر یوې اندازې په کلماتو کې چې استعمالوي یې هم سره توپیر لري او دا توپیر لږ تر لږه هغومره دی، لکه چې د انګرېزي او سکاټلنډي ژبې ترمنځ شته دی. د پښتو هیڅ لیکوال تر یوې نیمې پېړۍ څخه دمخه نه معلومېږي او زه ګومان نه کوم، چې په دغه ژبه کې دې داسې کتابونه

[1] دغه اوازونه ډ، ټ، ړ او ښ په سانکسرت کې درانده دي. د پښتو ډې مروج آوازونه، چې په انګرېزي کې ادا کېدلای نه شي، (Ghain)، او ږ (Zhay) دي. دا اوازونه په پښتو کې دومره رواج لري، چې دوی زیاتره وخت له دري څخه پور کړې ګه (g) په غ (Ghain) او ز (Z) او ان ش (Sh) په ښ (ZH) اړوي. دوی زیاتره وخت (O) په (Wu) اړوي لکه اور (Roz) او ز (Rwuz). شرقي پښتانه ځانته خاص صوتي تحولات لري. په دې ډول دوی (Zh) په (g) او ش په خ اړوي. دغه تغییرونه کله کله په یوه کلمه په دې ډول اړوي، چې اصل یې معلومېدلی نه شي. هېڅوک به ددې خیال ونه کړي، چې د شرقي پښتو (غوږ) به د دري له ګوش څخه راوتی وي. سره له دې، چې دغه اشتقاق په آسانۍ سره د مخکنیو مقرراتو له مخې واضح دی. پښتو له دري او هندوستاني څخه زیات له هغه سره ډېره علاقه منه ده، چې د یوې کلمې دمخه یا وروسته راځي لکه په دغو کلماتو کې سترګه، سپین، پشه او شپه.

موجود وي، چې لـه اوس (۱۸۰۹) څخـه دې درې پېړۍ دمخـه مېنځ تـه راغلـې وي[1]. هغـه څه ادبیات، چې پـه پښتو کې شته، هغـه د دري ژبو لـه ادبیاتو څخـه راوتـي دي. د پښتو لیکنې د هغوی لـه طرز سره ورتـه والی لري، خو شـډل تـوب یـې ترېنـه ډېر او سادګي یې تـرې لـوړه ده. لـه ما سره لـه دري څخـه د ژباړونکیو لـه نومونـو پرتـه یـوائځې د پښتو شاعرانو اته یا نهه نومونه شته دي.

د پښتو پـه شاعرانو کې رحمن بابا تـر ټولو مشهور دی. دده آثـار پـه هغې قصیده کې افاده شوي لکه چې د درې ژبو وي. دده پـه نظمونو کې، چې ماتـه شرحه شوي، زه کوم ضعف نـه وینم، خو دا ددې ثبوت نـه شي کېدلی، چې رحمن بابا د خپـل نومیالي تـوب مستحق نـه دی. د دري زیـاتره قـصیدې ډېـرې نـابرابرې دي او ان د حـافظ د اشعارو ښـلي او عـالي عبـارات، چې ډېـر سـتایل کېږي، د نظمونـو پـه داسې یـوې لویې مجموعې کې ښودې ورک دي، چې له متوسطې درجې نه ډېر ښکته دي.

خوشال زمـا پـه نظر تـر رحمن لـوړ شاعر دی او د خوشال آثـار پـه ډېـره لـوړه اندازه دده او دده د ملـت ښـکارندوی دي. دده آثـار ښـه سـاده او زیـاتره پـه نـه تحمیـل کېدونکي ډول سره منشور او سم هوار دي، خـو هغـه زیـاتره د هغـوی د مـصنف لـه نـه ایلیـدونکي روح څخـه الهـام اخیـستي دی او د آزادۍ او حریـت پـه ډېـرو لـوړو احساساتو سره تـاوده شوي دي. خوشال د ختـکو خـان و او ختـک د پېښور ختیځ تـه واقـع یـو قـوم دی. دده ژونـد لـه ستر مغولي اورنګزیب سره پـه جګړه کې تېر شو او دده د ډېرو اشعارو هـدف دا و، چې خپـل وطنوالو د خپلې آزادۍ د دفـاع لپاره تحریک کړي او دې تـه یې راوبولي، چې د بري د یـوائېنۍ وسیلې پـه حیث یـو تـر بلـه سره متفق او یـو شي. دده آثـار خپلـه دده او دده د کارنـامو یـو پوره بیـان دی. یـو شعر یې داسې شروع کېږي:

پښتو شعر

راشـه واوره دا داسـتان　　　　نیـک و بـد پکښې بیـان

هـم عبـرت هـم نـصیحت دی　　　　پـرې دې پـوه شـي دانایـان

زه خوشـال د شـهباز خـان یـم　　　　چـې تـورزن یـم کـان پـه کـان

شـهباز خـان د یحیـی خـان و　　　　چـې بـل نـه و هـسې ځـوان

یحیـی خـان د اکـوړي و　　　　چـې پـه تـوره شـو سـلطان

[1] داسې ښکاري، چې مؤلف د پښتو مصنفانو د قدامت په اړه کافي معلومات په لاس نه لرل. د پټې خزانې په استناد تراوسه د پښتو ډېر لرغونی پېژندل شوی لیکوال سلیمان ماکو دی، چې خپل اثر، تذکرة الاولیاء یې په کال ۶۱۲ هجري قمري (۱۲۱۵ع) کې لیکلی دی. شاعر امیر کروړ خو لا په دویمې هجري پېړۍ یا اتمې عیسوي پېړۍ کې ژوند کاوه. د تفصیل لپاره وګورئ، پټه خزانه. ژباړن

هم په توره مېړني و — تیر انداز و ښخ کمان
چې غلیم به یې پیدا شو — زر یې ځای و گورستان
هم یې تیغ و هم یې دیگ — هم یې خلک وو هم احسان
چې له ده سره به ناست وو — هغه واړه وو شیران
همتناک با سل بازل وو — په هر کار کې صادقان
گور ته رنگ په وینو لاړل — چې همه وو سرداران
قبیله شوه سره ډېره — اکثر ښه لایق ځوانان
د هجرت زر دوه ویشتو و — چې زه راغلم په جهان

دې وروسته په همدغه غزل کې وایي، چې دی څنگه د خپل پلار تر مړینې وروسته د خپل قوم ستر خان وټاکل شو؟ څنگه یې په دېرش زرو خټکو حکمراني کوله او څنگه یې تر خپلو اسلافو نه زیات په برم او دبدبې سره ژوند کاوه؟ دی بیا خپل آسونه، باښې او تازیان شمېري او ددې لاپې وهي، چې په زرگونو خلک به دده په دسترخوان ناست وو. وروسته بیا خپلو بدو ورځو ته اشاره کوي او د مغولو په ضد سخت کلمات استعمالوي او خپل هغه زامن ښکنځي چې هغوی د شخصي تمې په امید له دښمنو سره یو شول.

## زه غلیم د اورنگ زېب یم

زه غلیم د اورنگ زېب یم — سر په غره په بیابان
زه په تنگ د پښتانه یم — دوی نیولي مغلان
لکه سپی هسې جاروزي — د مغول په آشونان
د منصب به اضافو دي — تل په ما پسې روان
زما لاس وریاندې رسي — راواهه ته شي خپل ځان

خوشال په همدغه قصیده کې د یوه والس (Wallace) شاعر په څېر په زهورتیا او د وطن پالنې په روحیې سره د خپلو جدي کوښښونو بیان ته دوام ورکړی. کله د مغولي امپراتورۍ د پوځ په نابودولو بریالی شوی دی او ځینې وخت په یوائې ځان په هسکو غرونو کې سیاحت کوي. یو وخت دی د اورنگ زېب په لاس ورغی، هندوستان ته بوتلل شو او درې کاله یې د گوالیار Gwalior د غرني تانې په یوې تیارې کوټې کې، چې د هغه وخت یو ډېر لوی دولتي محبس و، په بند کې تېر کړل.

خوشال د خپل دغه بند موده کې یوه تعزیه ورېله، چې په هغې کې د خپلو او د خپل ملک د بدبختیو تر یادونې وروسته خپله قوي روحیه په دغو الفاظو څرگندوي (له بده مرغه ما (ژباړن) د خوشال په کلیاتو کې د هغه خپل نظم مونده نه کړای شو، خو مطلب یې دا دی):

Property of ACKU

احسانمن د خپل خالق یم سره دواړو بدبختیو
اول دا چې زه پښتون یم او بیا یم خوشال خټک

په پای کې دی له بند نه آزاد کړل شو، خو ماته ددې پته نه شته، چې په کومو وسایلو سره تر ازادېدو وروسته سمدلاسه خپل وطن ته ستون شو. یو زیات شمېر شعرونه یې وویل او د پښتنو یو تاریخ یې، چې په بابل کې له اسارت نه شروع کېږي او دده تر عصره پورې رسېږي، ولیکه. خوشال دغه لاندېنی شعر هغه وخت وواېه، چې ده او دده یو څو متحدینو ځلانده بری ترلاسه کړی او بري ښه نشه کړی و. د دښمن په قواو باندې یې په بېلابېل ډول گوزارونه کړي وو او ددغې گډې همکارۍ د نشتوالي له لامله په پای کې ټول مغلوب شوي وو.

خوشال په دغه وخت کې د یوسفزیو وطن ته په سفر روان شو او څومره چې یې په وسه وه، کوښښ یې وکړ، چې دغه قوي قوم د مغولو په ضد وپاروي او په جنگ کې یې داخل کړي. داسې ښکاري چې ان دده په خپلو ملگرو کې هم د سولې میلان موجود و او دغه شعر د هغه په ضد ویل شوی دی. په دغه شعر کې د پښتنو له بریو څخه یادونه شوې. د اورنگ زېب د انتقام اخیستلو تمایلات او د هغه معموله بدقولي او عهدشکنې یکې سخته غندل شوې. پښتنو ته په ډېر قانع کوونکي ډول یادونه شوې، چې د دوی یواځینی چاره په جنگ کولو او د ژوندي پاتې کېدلو یواځینی لاره په اتحاد کې ده.

دا یواځې د خوشال کمال ښيي، چې ددې ذکر وشي چې دده د ډېر لویو آثارو څخه دغه شعر یواځې له ډېرو اشعارو څخه یو شعر و، چې بې له انتخاب نه او یا په ډېر لږ انتخاب سره دلته ذکر کېږي:

بیا له کومه راپیدا شو دا بهار
چې په هر لوري یې ملک کړو یو گلزار

ارغوان دي حمیران سوسن ریحان دي
یاسمن دي نسترن نرگس گلنار

د سپرلي گلونه ډېر په هر هر رنگ شته
ولې سره لاله دي لا په کې اوخار

جونه موتي موتي بږدي په گرېوان کې
د ځوانانو گلدستې دي په دستار

مغني په چغا نه دې لیندی کېږده
په نغمو په پردو وغواړه هر تار

ساقي راشه ډکې ډکې پیالې راکړه
چې د میو په مستی کې شم سرشار

پښتنو زلمیو بیا لاسونه سره کړه
لکه باز منگولې سرې کاندي په ښکار

سپینې تورې یې گلگونې کړې په وینو
په آهار کې شگفته شو لالـه زار

ایمل خان دریا خان دواړه مرگ یې مه وی
هېڅ تقصیر دواړو ونه کړ وار په وار

د خیبر دره یې سره کړله په وینو
په کرپه یې هم روان کړ دندوکار

تر کرپه تریا جوړه سمې غرونه
په لرزه په زلزله شول په بار بار



Property of ACKU

په هغه لوري چې کېږي پنځم کال
چې په دا لوري زه راغلم حبطه شوم
په لښکر لښکر ناري شوم ورته سترې
چې احوال د یوسفزیو رامعلوم شو
د ختکو سپي بهتر تر یوسف زیو
درست پښتون له قندهاره تر اټکه
گوره څو جنگونه وشول په هر لوري
اول جنگ د لوړي شا د تهتره و
خوینديي لوړي یې په بند د پښتنو شوې
د دویم جنگ میر حسین په دوابه کې
بیا له پسه د نوښار کوټ جنگ و
بیا له پسه جیونت سنگ شجاعت خان و
شپږم جنگ مکرم خان شمشیر خان دواړه
چې زما په یاد دي لوی جنگونه دا دي
همېشه فتح و نصرت دی لا تراوسه
اورنگزېب راته یو کال وشو چې پروت دی
کال په کال امریان دي چې پرېوزي
خزانې د هندوستان دي راخوري شوي
دا د هیچا په اتلس فکره نه و
د پاچا د بدنیتی کمی نه شته
ځکه اوس د چا باور ور باندې نه شي
بلـه هیڅ لیدلـه نه شي په دا منځ کې
که گردش د اسمان دا دی چې لیده شي
اسمان هر کله بیرې یک رنگي نه کا
په دا هسې وخت چې وخت د ننام و ننگ دی
پښتانه چې نور څه فکر کا ناپوه دي
تر مغولو پښتانه په توره ښهٔ دي
ولسونه چې سند وبلـه و کا
که نفاق که اتفاق که جهل پوهه
اپریدي، مومند، شینواري گوره څه کا
زه تنها پکې په غم د ننام و ننگ یم

هره ورځ د سپینو تورو خرپهار
زه مردار یم که دا خلک دي مردار
دا کانه راته نه بهیرک وایي نه ځار
که ختک دي هم په خوی تر سپي بېکار
که ختک دي هم په خوی تر سپي بېکار
سره یو د ننگ په کار پټ او اشکار
ولې هیڅ د یوسف زیو نه شته عار
چې څلوېښت زره مغول شول تار په تار
آس اوښان، هاتیان ولجه کتار کتار
چې یې وټکېد سر لکه د مار
چې مې وکیښ تر مغولو خپل خمار
چې ایمل یې په گندا وویوست د مار
چې ایمل کړل په خالیښی کې تار په تار
د هلکو په هر لوري نه شته شمار
پس لـه دا ده بیا تکیه په کردگار
په صورت حیران پرېشان په زړه افگار
چې توپان شولې لښکرې کوم یې شمار
سره مهران دي نغوزې په کوهسار
چې به دا کارونه شي په دا دیار
په بدنیت یې ازار واخیست دخپل پلار
هم بدنیت دی هم بد قول هم مکار
یا مغول له منځه ورک یا پښتون خوار
که د خدای رضا په دا وي راغي وار
گاه په کام د گل جاروزي گاه په خار
دا بې ننگه پښتانه کا څه رفتار
بې د توري خلاصی نشته په بل کار
که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار
بادشاهان ورته سجود کاندي اختیار
د هر چا د خدای په لاس ده هر چار
د مغولو لښکر پروت پر ننگرهار
یوسف زي دي فراغت په کښت وکار

Property of ACKU

اوس چې هسې بې ننګي بې ناموسي کا     عاقبت به ښکاره شي خپله چار
مرګ زما په پوهه ښه تر دا ژوندون دی     د عزت سره چې نه وي زيست روزګار

د پښتنو د شاعرانو له جملې نه موږ بايد د احمد شاه نوم هم له ياده ونه باسو. دی په پښتو ژبه کې يو اثر لري، چې د هغه په اړه خان علوم يوه لويه او له زحمت نه ډکه تبصره ليکلې ده. پښتانه له ابتکاري آشعارو پرته د دري د ډېرو ښو شاعرانو آثار هم پښتو کړي دي.

## د پښتو علم او فضل:

د دوی تشر ليکونکيو زياتره د ديني علومو او حقوقو په اړه ليکنې کړي دي، خو دوی په خپلو ليکنو کې د خاصو دورو په اړه يو څو تاريخونه هم لري. هغه څه چې په پښتو کې ليکل شوي دي، بايد د پښتون ملت د علمي سويې د ښکارندوی په توګه د اعتبار وړ ونه ګڼل شي، ځکه چې دوی تراوسه هم په دري ژبه ليکنې کوي او نږدې ټول علمي کتابونه په دغې ژبې ليکل شوي دي. دا آسانه، نه ده چې په دغه ژبې کې د دوی د ليکوالو شمېره وټاکل شي. که موږ ټول هغه ليکوالان په حساب کې ونيسو، چې په افغانستان کې يې ليکنې کړي، موږ بايد د دري له ډېرو سترو ليکوالو څخه يو څو پکې شامل کړو، خو که موږ يوازې هغه ليکوالان په نظر کې ونيسو، چې د پښتنو په قومونو پورې يې تعلق لاره، د دوی لست به ډېر لنډ وي. دا يقيني ده، چې د ټولو ليکوالو آثار په افغانستان کې لوستل کېږي، ددغو خلکو علم او کمال د فارسي د خلکو د پوهې په اندازه دی. ساينس يې هغه دی، چې د فارس خلک يې هم لولي. د تحصيل طرز يې په هغې طريقې سره کېږي، چې په نورو آسيايي ملکونو کې رواج لري. ددغو ملکونو يو عالم څه وخت، چې له يوه ناآشنا عالم سره مخامخ شي، پوښتي يې چې کوم علوم يې زده کړي؟ (دا دغسې يوه پوښتنه ده، چې ډېر خبير انګلستان به حېران کاندي) او کوم کتابونه يې لوستلي دي؟ هغه بل به داسې په ځواب کې ووايي، چې «تر دغو پورې» هغه بل به سمدلاسه پرې پوه شي، چې دوی ټول د مکتب د شاګردانو په شان کتابونه په ټاکلي سلسلې سره لولي. دغه طرز ددې مخه نيسي، چې دوی د اروپايي پوهانو په شان راز راز پوهه ولري، خو له بلې خوا دوی هغه څه چې ښه زده کړي وي، په عمومي ډول پرې پوهېږي.

داسې ښکاري، چې دغه طرز د پلټنې حس پځوي او د ذهني څېړنو مخه نيسي. همدا لامل دی، چې په آسيايي خلکو کې په عمومي ډول د پوهې د پلټلو مينه نه حس کېږي. د پښتنو حال هم همدغسې دی، دوی يوازې د ميتافزيک او منطق په علومو کې داسې نه کوي. دوی له دغو علومو سره ډېره علاقه لري، خو د حسد وړ

Property of ACKU

کوم پرمختګ یې پکې نه دی کړی. هغه تشویق، چې پښتنو پاچایانو د علم په برخه کې کړی دی، دلته د ذکر وړ ښکاري.

احمد شاه د علم او فضل ډېر مشتاق و او په اونۍ کې یې یو وار د علماوو مجلس لاره. په دغه مجلس کې اول په دیني علومو او حقوقو بحث کېده، ختم به یې تل په شعریاتو او ساینس په اړه و او دغو مجلسونو به زیاتره تر سهاره پورې دوام کاوه. تیمور شاه دغسې مجلسونو ته دوام ورکړ او خپل آثار به یې پکې لوستل. دغه رواج تراوسه هم له منځه تللی نه دی. تیمور شاه په دري کې د شعر یو کتاب خپور کړی دی، ستاینه یې ډېره کېږي، خو ویل کېږي چې د هغه د دربار یو نامتو شاعر فروغي هغه سم او اصلاح کړی دی. احمد شاه هم په دري کې شعر ویلی دی او له ما سره په دغې ژبې کې داسې یوه شعري رساله شته، چې شاه زمان د خپل سکه ورور شاه شجاع لپاره لیکلې ده. که څه هم هغه چا چې دغه رساله ماته راکړه، وویل چې ده د شاه زمان په خواهش هغه ښه اصلاح کړې ده، سره له دې هم دا یو ضعیف اثر دی. ویل کېږي چې شاه زمان په حقیقت کې په خپل کورنۍ کې تر ټولو بېسواده و. یو وخت د خپلو ملایانو له خوا دې ته تشویق شو، چې د منطق تحصیل لغو اعلام کړي. په دې چې هغه د اسلامي عقیدې لپاره خطرناک دی، خو دده فرمان بې تاثیره نه و، یوائې هغه خلک پرې ډېر خوښ شول، چې دغه فرمان ورته لیکل شوی و. ما ددې څه نه دي اورېدلي، چې شاه محمود څه اثار لرلي دي، خو شاه شجاع د عربي عالم دی، لږ څه ښه نظمونه یې ویلي او دا یوه پاچا په توګه عالم او فاضل ګڼل کېږي.

* * *



Property of ACKU

# پینځم څپرکی

## دین، مذهبي فرقې، ملایان، اوهام او نور...

Property of ACKU

اسلام یو ښه پېژندل شوی دین دی او د هغه په اړه په ډېرو کتابونو کې بشپړ معلومات موندل کېږي، نو دلته لازمه نه ده چې د هغه د کوم اصل یا شکل ذکر وشي، یوازې غواړم دلته هغه اصول بیان کړم، چې پښتانه په خاص ډول د هغو رعایت کوي. ټول پښتانه په هغې فرقې پورې اړه لري، چې سني نومېږي. سنیان لومړنی درې خلیفه ګان د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم قانوني ځایناستي بولي او د قانون په اړه د هغوی تفسیر او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم احادیث مني. دوی له شیعه ګانو سره په دې اختلاف لري، چې هغوی هغه درې لومړني خلیفه ګان یاغیان او غاصبان بولي او په دې عقیده دي، چې خلافت د حضرت علي حق و، چې هغه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د تره زوی او څلورم خلیفه و. د فارس خلک او د هغوی اولاده شیعه ګان دي او نور ټول مسلمانان سنیان دي. د دوی په منځ کې دغه اختلاف که څه هم، چې زما په خیال ددې لپاره کافي نه ده، چې د دوی کړه وړه دې په جدي ډول متاثره کړي، خو کافي شوی دی، چې د دواړو فرقو ترمنځ مخالفت تولید کړي.

سره له دې هم د پښتنو احساسات د یوه پوره بېل مذهب د پیروانو په مقابل کې تر هغوی، چې دوی ورسره په جنګ نه وي، بې رحمانه، نه دي. پښتانه هم د نورو مسلمانانو په څېر په دې عقیدهٔ دي، چې هېڅ کافر باید نجات ونه مومي او دا چې دا جایز او ان د انعام وړ عمل دی، چې له کفارو سره جنګ وشي او هغوی باید مسلمانان کړی شي یا جزیه پرې تحمیل شي او که دوی ددغو دواړو شرطونو منلو ته غاړه نه ږدي، زما په ګومان د دوی عقیده دا ده، چې باید ووژل شي. دا رښتیا ده، چې شاه زمان په پنجاب کې دوه ځله د فتوحاتو په وخت کې سکان په مذهبي لحاظ ازاد پرېښودل او دا یې منع کړه، چې له دوی سره دې څه غرض وشي، خو دا چې دوی د

دښمنو پـه حیث عمل وکړي، سره لـه دې هم دغـه پاچا د یـوه متعصب ملا پـه هڅولـو سـره کوښښ وکـړ، چـې دوه سـکان مـسلمانان کـړي او د انکـار پـه صـورت کـې یـې ووژني[1].

## له هندوانو سره رویه

د پـاني پـت د جګـړې یـو هنـدو مـورخ د پـښتنو لـه خـوا لـه بې رحمـۍ او قتـل عـام ډېرې خبرې کوي او نسبت یې د هغوی مذهبي احساس تـه ورکوي، خو پـه جنګ کې چې د دوی سلوک هر څه وي، د پـښتنو رویـه پـه خپـل ملک کې لـه هغـو کـسانو سره، چې دوی یې کافران بولي د نورو مسلمانانو پـه تناسب د ستاینې وړ ده. د بت پرستو پـه مقابل کې د دوی کرکـه پـوره ښکاره ده، سره لـه دې هم دوی هندوان د خپـل مذهب پـه رعایت کې پوره ازاد پرېښي دي او د دوی لـه درمسالونو سره هېڅ غرض نـه کېږي، خو دوی لـه ټولـو مذهبي تظاهراتو څخـه منع دي او ددې اجازه نـه لري، چې خپـل بتـان عمومـو تـه وښیي. هېڅ پرهېزګار سړی بـه پـه دې راضي نـه شي د دوی پخلي غوښـه وخوري، خو دوی سر نـه زښتـه رویـه کېږي او نـه د دوی پـه مقابل کې کوم خاص نفرت ښودل کېږي. دوی تـه د اعتبـار وړ او ښودمن کاروتـه ورکـول کېږي. هغـه هنـدوان، چې پـه افغانـستان کـې ژونـد کـوي، د ملـک د نـورو ډېـرو اوسـېدونکیو پـه څېـر آرام ښکاري[2]. د پـښتنو مـذهبي تحمـل د هغـو سکانو لـه وینـاوو څخـه ښـه معلومېـدلی شي، چې د دوی پـه ملک کې یې سفر کړی وي. سکان پـه خپـل ملک کې پـه دې عـادي

[1] هغه پښتانه چې دغه کیسه راته بیان کړه، ددغه بې رحمه عمل افاده یې په ښه شان وکړه او د سکانو ټینګوالی یې په ستاینې سره یاد کړ.

[2] ماته دامعلومه نه ده، چې زیات پښتانه به ددې څه پروا ولري، چې د هندو د لاس دوډۍ وخوري. د درانیو د یوه ستر خان احمد خان نورزي له سلوک څخه داسې ښکاري، چې دوی ددې څه پروا نه ساتي. دغه ټکی له دغه لاندې مثال څخه معلومېدلی شي، خو زه باید په دې اعتراف وکړم، چې هغه فارسیوان چې دغه کیسه یې ماته بیان کړه، په دې فکر و چې د احمد خان زیړتوب یې ښه رااوچت کړ دا باید هم په یاد وساتل شي، چې احمد خان ددې پروا کوي، چې د یوه پښتانه اصیل خویونه وساتي او ټولو عصري نرمو خویونو ته په ښه سترګه نه ګوري. احمد خان نورزي یوه ورځ پېښور ته بړ.ې له کفایت خان (یوه فارسي اشراف) سره سور روان وو. ښار ته نږدې په یوه کلي کې له آسو نه ښکته شول او څه وخت، چې یې د یوې ونې لاندې دمه وهله، یوه هندو ورته په یوې کاسې کې مستې راوړې. دا مستې داسې نه وې، چې په داسې ښکلو پیشقابو کې وړاندې شوي وای لکه چې د اشرافو په قصر کې وي. سره له دې هم احمدخان په ښې اشتها سره د هغې په خوړلو پیل وکړ او څه وخت چې هغه فارسي وان ورته ووېل، چې دا مستې به پاکې نه وي او سربېره پردې څنګه چې د یوه هندو په لاس جوړ شوې دي، نجسي دي. ده یواځې دومره ځواب یې ورته ورکړ: (( هندو چه سګ است که نجس باشد؟ )) او مستو خوړلو ته یې دوام ورکړ، ترڅو یې ټولې خلاصې کړې.



Property of ACKU

دي، چې له مسلمانانو سره د ښکته خلکو په شان سلوک وکړي. په دې وجه دوی به د مسلمانانو د تحقیر او سپکاوي په مقابل کې ښه حساس وي، خو دوی ټول د هغه سلوک په اړه، چې د پښتنو له خوا له دوی سره کېږي، ډېر ښه ګرېږي او یوه ګولډسمت Goldsmith نومي سړی، چې یو ډېر ذهین سړی و او د افغانستان، فارس، خراسان او تارتاري په ډېرو برخو کې ګرځېدلی و، مخصوصاً ټول د هغې مهربانۍ او مېلمه پالنې یادونه کوله، چې ده په افغانستان کې لیدلې وه.

دا رویه د هغه سلوک په خلاف ده، چې د فارس خلکو له ده سره په فارس کې کوله او ده ته یې اجازه نه ورکوله، چې له ځاه نه اوبه وباسي. په دې چې دی به اوبه نجسې کړي یا د باران اورېدو په حال کې به سړکونو باندې وګرځي، په دې چې د ځان اوبه به یې په مسلمانانو ولوېږي او هغوی به نجس شي.

ازبکانو له هغه سک سره ښه رویه وکړله، خو باید وویل شي چې هندوان مجبور دي چې جزیه ورکړي، چې مسلمانان ترې معاف دي. بله دا چې هندوانو ته د یوې ښکته طایفې په سترګه کتل کېږي او دوی په ځانګړې توګه د ملایانو له زور زیاتي څخه خلاص نه دي. خو دغه زور زیاتي باید د قانون په بڼه پر دوی تحمیل شي. دغه لاندینۍ قضیه، چې د بر درانیو په ملک کې پېښه شوې ده یانې چېرته، چې دا خلک د افغانستان تر هرې بلې برخې له خلکو نه ډېر متعصب دي، هغه وسایل وښیي چې په هغو سره له دغسې مسئلو څخه څه استفاده کېږي. یو ملا چې د عشق په یوې مسئلې کې له کوم هندو سره وران شوی و، یوه قاضي ته وویل، چې هغه هندو مسلمان شوی و او بیا یې بېرته بت پرستۍ ته مخه کړې وه. قاضي وروسته له دې، چې له شاهدانو نه تحقیق وکړ (شاهدانو قسم وکړ، چې هغه هندو مسلمان شوی و او محمدي کلیمه یې ویلې وه) د هغه بندي د میل پرخلاف یې د هغه د سنت کولو امر صادر کړ، خو دغه حکم باید د مدني مامور له خوا اجرا شوی وای او د پېښور دراني حاکم د هغه د تعمیل لپاره تیار نه و. هغه ملا چې له دې حاله خبر شو، نو ملایان یې سره ټول کړل (په پېښور کې د ملایانو کمی شته) او دوی ټول د پېښور جامع جوماتت ته لاړل. د موذن اذان یې قطع کړ او ټول معمولي دیني مراسم یې وروسته وغورځول، ته به وایې چې په ټول ملک کې کوم اضطراري حال پېښ شوی وي. اخر د پېښور حکمران ځان مجبور ولید او وروسته له بیهوده کوښښونو څخه، چې شاهدان خپله شاهدي نقض کړي، امر یې وکړ چې هغه هندو باید سنت شي. هغه هندو په بې رحمۍ سره سنت شو، خو هغه ډېر زر لاهور ته وتښتېد او خپل اصلي مذهب ته بېرته وګرځېد. په بر درانیو کې ددې احتمال شته، چې هر مسلمان د هغه هندو په مقابل کې، چې له ده سره برابر دریغ لري ځانته په تفوق قایل وي. ښه مې

Property of ACKU

په یاد دي، چې زما په خدمت کې یو اوښ والا بردراني کله چې له یوه هندو سره په څه جګړه اخته شو، په منډه زما خیمې ته راغی او په داسې حال کې، چې د تعجب او حېرت آثار يې په مخ کې ښکاره و، ناري کړې: «عدالت! عدالت! دلته يو هندو دی، چې ان ددغه کمپ په منځ کې يو مسلمان تحقيروي.»

خو مسلمان د افغانستان په لویدیځ کې دغسې کوم امتیاز نه لري او د ښاغلي دوري (Durie) په قول هندوان په کندهار کې د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ جګړه کې د خپلو رقیبانو په څېر د زور له استعمال څخه ډډه نه کوي، بې له دې چې نور مسلمانان د دوی په دغه وضع وپارېږي.

## له عیسویانو سره سلوک

زه باید په دې اعتراف وکړم، چې له عیسویانو سره د پښتنو د سلوک په اړه کافي معلومات په لاس نه لرم. په دې کې څه شک نه شته، چې عیسویان په ټول ملک کې له مذهبي ازادۍ څخه برخوردار دي، خو ښاغلی فومتر چې د هغه په قول کې څه شک نه شته، وايي چې څه وخت چې دی د يوه عيسوي په حيث د دوی په ملک کې ګرځېده، له ده سره سپکه وضع کېده او ورته په ښکته نظر کتل کېدل. زما خپله تجربه ما یوې بل راز نتیجې ته رابولي، خو څنګه چې زما موقف لوړ و، ددې احتمال نه و چې له ما سره دې سپکاوی وشي. سره له دې هم د قسطنطنيې يوه اوسېدونکي عیسوي، چې له لسو څخه تر شلو کالو يې په افغانستان کې ژوند تېر کړی و او ددغه ملک په اړه ښه خبر و، ما ته يې په افغانستان کې له عيسويانو سره د سلوک په اړه ښهٔ معلومات راکړل. ده کله کله له نورو اړخونو څخه له پښتنو څخه شکایت کاوه، خو تل يې ویل چې دوی له عیسویانو سره جزیي مخالف هم نه لري. ده ډېر احتیاط کاوه، چې په اسلامي اصولو تنقید ونه کړي، خو هوا ځې يې هغه وخت چې د خپل ملګري له آزادو احساساتو څخه پوره ډاډه و، خو په نورو ټول اړخونو کې چې له دين سره يې تعلق نه لاره، دده رویه او هغه سلوک چې له ده سره کېده، داسې و چې لکه یوه خارجي مسلمان سره کېږي. ما څو ځله دده د مسلمانو نوکرانو وفاداري ولیده. ده هغو ته کله کله داسې رازونه ویل، چې ممکن ژوند يې په خطر کې غورځولی وای، د ټولو رتبو خلکو له ده سره د احترام وړ سلوک کاوه. د نورو په جمله کې د پاچا امام او په کابل کې د اسلام د دين مشر هم له ده سره همدغسې وضع کوله. هغه څه پښتنو کې د عمومو مذهبي زغم ثابتوي، دا دی چې له دې لامله چې له مختارالدوله شېر محمد خان سره علاقه لرله، د صدراعظم (چې د مختارالدوله په بد یادېدو سره هسک شوی و) بد اېسیده او په همدغه سبب د څه وخت لپاره په بالاحصار کې د بند په حال کې هم و. سره له دې هم دده مذهب ددې

Property of ACKU

پلمه نه شو، چې هغه ته دې ضرر ورسول شي. په کابل کې یو یوناني اصله کاتولیکي ملا شته، چې له هغه سره ښه سلوک کېږي او په هغه لیک کې، چې وزیر ماته استولی، دده په اړه درنې خبرې شته دي. ما یوائیني عسکر په خپلو سترګو لیدلی، چې له هغه سره که څه هم، چې ډېر فاسق دی او زیاتره وخت نشه وي، هغسې وضع کېږي لکه له هغو فارسي وانانو سره چې کېږي، چې ده ورسره یوځای خدمت کاوه. خو په دغه اړه د ښاغلي Durie دوري شواهد تر ټولو مهم دي. ده د یوه مسلمان په شکل د پښتنو په ملک کې لویدیځ ته ان تر کندهاره سفر کړی دی. که څه هم زیاتره وخت دده په مذهب بدګوماني وشوې او څو واره وپېژندل شو، ده د ځان په مقابل کې د خلکو په رویه کې تغییر ونه لید. دده د سفر تفصیلات به ددغه کتاب په وروستۍ برخې کې راشي، خو دلته د هغه دوو فقرو له یادونې ډډه نه شم کولای، چې لومړۍ یې ما خپله دده له خولې اورېدلې او دویمه یې ما په هغو مضامینو کې لوستلې، چې ده پخوا له دې، چې زه ورسره وغږېږم، راوړي وو. دغه دواړه فقرې د پښتنو د مذهبي زغم په اړه وې، خو له لومړنۍ فقرې څخه یې د مېلمه پالنې او چور و چپاول د مخلوط قوي انعکاس، چې په پښتنو کې په ډېر قوت موجود دي، معلومېږي.

ښاغلي دوری لیکي:(( په کندهار کې یوه ورځ خلکو له ما څخه پوښتنه وکړه، چې زه سني یم یا شیعه؟ ما په ځواب کې وویل، چې زه د شمس تبریز له مذهب څخه یم، چې هغه یوازې یو آزاد فکره مسلمان و. په دې کې یوه کندهاري وویل (موږ په دې پوهېږو چې ته نه سني یې نه شیعه، بلکې پیرنګی یې موږ او ډېر نور خلک په دغه حقیقت پوه یو، خو ذکر یې ځکه نه کوو چې ممکن ته خپه شې) دوی مهربان خلک دي. که دوی په دې فکر شول چې زه شتمن یم، دوی به له ما سره بد سلوک ونه کړي، بلکې یوازې زما شته به له ما څخه واخلي او که زه یې ورنه ورنکړم، دوی به مې په ورکولو مجبور کړي)) دویمه فقره د ښاغلي دوري له لیکنې څخه په عین ډول دلته نقل کېږي.

(( دوی داسې فکر کوي، چې د دوی مذهب تر نورو مذهبونو ښه او حقیقي دی، په نتیجه کې دوی داسې ګڼي چې دا نور خلک له لارې ایستل شوي او په غلطه لار روان دي. دوی په دې امید دي، چې د خپلې رښتینې او لوړې عقیدې په برکت به په پای کې ټول دینونه له منځه یوسي، څنګه چې دوی د ترکانو، تاتارانو او عربانو په شان سني مسلمانان دي او د فارس خلک په غلطه لار روان بولي. دوی له هغې دښمنۍ څخه ډډه کوي، چې ممکن دوی د بربادۍ او نیستۍ په لار روان کړي. دا چې دوی خپل دین تر ټولو ښه ګڼي، په یقین سره د دوی خطا نه ده، دوی ته تلقین

Property of ACKU

شوی چې همدغسې فکر وکړي، سره له دې هم د دوی د زغم روحیه چې د دوی د انسان پالنې د احساس زېږنده ده، دوی په لږه اندازه ناوړه عمل ته نه رابولي (که څه هم چې په اوله کې به ممکن دوی وغواړي ټول خلک مسلمانان کړي) په دې چې له دوی څخه ډېر یې په یقیني ډول سره ازاد، سخي او د زغم خاوندان دي[1].

[1] ښاغلی دوري د بنګال اوسېدونکی و، پلار یې انګرېز او مور یې هندي وه. ده اول په یوې دواخانې کې د یوه طبي کمپوډر په توګه کار کاوه، خو یو څو کاله دمخه د سفر کولو شوق پرې غلبه وکړه او وروسته له دې، چې د څه وخت لپاره په هندوستان کې وګرځېد، په خالي جېب، له آباسین څخه تېر شو او د یوه مسلمان په جامه کې د پښتنو په ملک کې وګرځېد او نیت یې دا و، چې له هغه ملک نه بغداد ته لاړ شي. د کابل له لارې کندهار ته لاړ او څو میاشتې یې په دواړو ښارونو کې تېرې کړې، خو په پای کې په دغې لارې بېرته بنګال ته ستون شو. په ۱۸۱۲ کې پونې ته راغی او په هماغه فقیرو جامو کې یې له ما سره لیدنه وکړه. داسې ښکارېده، چې دی به زیات معلومات ونه لري. په دغه وخت کې ما خپل یادښتونه منظم کړي وو او د پښتنو په اړه په ډېرو موضوعاتو باندې ما خپل تصمیم نیولی و، خو څنګه چې ما د افغانستان لویدیځ په خپلو سترګو نه و لیدلی او که څه هم ما ددغه ملک له ځایي خلکو څخه ډېر معلومات ټول کړي و، ددې احتمال و چې د دوی معلومات به زما له انتباهاتو نه فرق ولري. ددې امکان موجود ؤ، چې هغه څه د دوی په فکر مهذب و، ممکن زما په خیال کرښته معلوم شوي وای. له ما سره دغسې معیار نه و، چې په هغو سره د دوی معلومات اندازه کړم. په دې لحاظ داسې یو څوک چې د یوه انګرېز په نظر سره یې افغانستان لیدلی وي، زما لپاره ډېر غنیمت و. ما دغسې یو څوک په ډېرې سختۍ سره هم پیدا کولای نه شو.

د ښاغلي فوسټر Foster له لیاقت سره سره د افغانستان په اړه دده شرحې زما پوښتنو ته ځواب ویلی نه شو. ده له قافلو سره د شپې سفر کړی دی او هغه ځایونه یې ښه لیدلي نه دي، چې ورڅخه تېر شوی دی. ده د ښار له خلکو پرته د ملک له نورو اوسېدونکیو سره خبرې نه دي کړي ان په ښارونو کې هم له خلکو سره دده امېزش ددغسې یوه خطر په وجه محدود و، چې دغسې یوه کس ته، چې په ناآزمویل شوې ماجرا شروع کوي، طبیعي وي. شاید د همدغسې ناارامۍ احساس دده مشاهداتو ته رنګ ورکړی وي. په دې کې څه شک نه شته، چې د ده افکار به حتماً د هغه سفر د ضرر په سختیو متاثر شوي وي، چې ده غوره کړی و او په عادي ژوند کې ورسره چندان اموخته نه و. خو ښاغلی دوري له غریبۍ سره روږدی و او څنګه چې ده په یواځې ځان او په خپله خوښهٔ او آرامۍ سره سفر کړی دی او هر چېرې یې چې د ملک له خلکو سره اړولي وو، ده ته ددې موقع په لاس وه، چې د دوی په رښتیني حال او ځانګړ تیاوو پوه شي. همدا چې ما دده کیسه کشف کړه او پخوا له دې، چې له ده سره دده د سفر په اړه وغږېږم، له ده څخه مې وغوښتل چې د افغانستان په اړه خپلې ماجراګانې او نظریات قلم ته وسپاري. دا زما لپاره یوه تسلي وه، چې معلومه شوه دده او زما نظریات سره موافق وو، نو دغه موافقه د دوو داسې اشخاصو په نظریاتو کې، چې افغانستان یې په مختلفو حالاتو کې لیدلی وي، د دواړو نظریو د صحت یو غټ دلیل دی. وروسته مې دی دېته تشویق کړ، چې سفر په ټول تفصیل سره ولیکي. له ده څخه مې د نورو موضوعاتو په اړه د پوښتنو کولو په لړ کې ډېر معلومات ترلاسه کړل. د دوري زده کړه په هندوستان کې به حتماً د نیمایي کاستو (Castes) له ښکته طبقو څخه وي، انګرېزي یې ښه نه وه زده، خو ده زموږ له کلاسیکو اثارو څخه یو څو ډېر ښهٔ اثره لوستلي



Property of ACKU

## د صوفیانو بیان

په کابل کې یوه بله فرقه د صوفیانو ده او دوی ممکن ددې پرځای، چې مذهبي کسان وشمېرل شي، باید د فیلسوفانو په ډلې کې وشمېرل شي. تر هغې اندازې، چې زه د دوی په موموزې فلسفې پوهېدلی شم، داسې ښکاري چې د دوی اصلي عقیده دا ده، چې ټول ژوندي او ناژوندي مخلوق غېر واقعي او یو فریب دی او دا چې له خدای تعالی نه غېر نور څه وجود نه لري او خدای تعالی د انسان روح ته، چې د هغه په خپله د الوهیت د جوهر یوه برخه ده، په بې شمېرو ښو ځان ښيي. ددغې نظریې په اړه سوچ کول صوفیان د جذبې معراج ته هسکوي، دوی خدای تعالی په هرڅه کې ستایي او دده د اوصافو په تعمق سره، چې دوی یې زیاتره وخت کوي او د ده ټولو اشکالو په ټولو سره دوی داسې خیال کوي، چې د خدای لپاره د حقیقي عشق او نه بیان کېدونکي پراو ان د هغه له جوهر سره یوه کامل اتحاد ته رسېدلي دي. دوی ددغه نظر د لازمي نتیجې په حیث د هر دین خاص اصول زاید گڼي او ټول مذهبي عبادتونه او مراسم ردوي. دې ته دومره اهمیت نه ورکوي، چې په کوم طرز سره د خدای تعالی په لور افکار متوجه شوي دي، یوازې دومره چې دوی په پای کې د خدای تعالی د ستر توب او ښه والي په اړه په تعمق سره آرام کوي. په فارس کې دغه فرقه تر شکنجې لاندې ده او په کابل کې که څه هم حکومت یې مخالف نه دی، ملایان ورسره په کلکه مخالف دي. ملایان پرې تور لگوي، چې دوی د الحاد طرفداران دي او دوی زیاتره وخت کوښښ کوي، چې دغسې نظریات ورته منسوب کړي، چې په شرعي قانون کې د جزا وړ دي. خو دغه کوښښونه یوازې ځینې وخت موفق وي. ددغو کوښښونو د ناکامی یو لامل دا دی، چې ډېر صوفیان سره له دې، چې دغه دوه فلسفې سره سر نه خوري، رښتیني مسلمانان دي. اوړېدلي مې دي، چې یوه سړي د تصوف د ښکلا په اړه او د بشري کړو وړو د ازادو او پراخو شویو نظریاتو په اړه، چې هغه ورته منتهي کېږي، بې له کوم قیده د جذبې په حال کې انتقال وکړ او ډېر زر وروسته یې له خپلو همغاغو مصاحبینو سره د اسلام د هر اصل

---

وو او که څه هم دده انگرېزي سمه نه وه، ددې لپاره کافي وه چې خپل افکار په واضح او کلي ډول ان په ځینو ځایونو کې په ډېر فصاحت او قدرت سره بیان کړي. که څه هم ده په خبرو کې ان جزیي تناقضات هم ښکاره نه کړل او که څه هم دی د داسې طبیعي استعداد خاوند و، چې دده صنف ته د منسوب کس له خوا یې د ښودلو تعجب کېږي. سره له دې هم دده د فهم قوه پوره نه وه او ددغه حال لویه نښه دا ده، چې ده نه غوښتل په یوه ځای کې د ډېرې مودې لپاره واوسي. ما ده ته د کال ۱۵۰ پونډه د معاش په توگه ومنل، چې د یوه محرر په توگه له ما سره کار وکړي، خو دی که څه هم چې د سوالگرۍ او غریبۍ په حقیقي حال کې و، د بمبۍ په لور روان شو، چې له هماغه ځایه په لومړي عربي کښتۍ کې کېني او بغداد ته به پخپل زړه پورې سفر وکړي.



Property of ACKU

په اړه پابندي ونښودله او د دوزخ د اور د دایمي توب په اړه یې د شک مفکوره په شدت سره رد کړه. ده دا رد هغه وخت وکړ، چې ده ته وویل شو ددغه نظر پخلا کول له هغې مفکورې سره، چې له خدای نه غیر نور څهٔ وجود نه لري، مشکل دي. ده وویل چې تصوف به له شک نه حقیقت لري، خو د دوزخ ابدیت پخپله د خدای په قول ثابت شوی دی.

سره له دې هم د صوفیانو فرقه مخ په ترقۍ ده، مخصوصاً د لوړو درجو په خلکو او په ځینو ملایانو کې، چې عمومي ادبیات لولي او د تصوف مبهم عالي توب ددغې طبقې په ذوق ښه برابر دی. په حقیقت کې له مرموز توب سره مینه، چې په دوی کښې موجوده ده، دوی دې ته رابولي چې د هر هغه څه په اړه چې له نظره پټ وي لوړ نظریات ولري او ان په دوی کې یې د وروري د پټو ټولنو (Masonary) شوق هم پارولی دی. په دې اړه له ما څخه زیاتره وخت پوښتنې شوي دي او هغه نظریات مې اورېدلي دي، چې د هغه ماهیت په اړه تشکیل شوي دي. ټول هغه معلومات، چې د هغه په اړه د دوی لاس ته ورغلي دي، د یوه درویش په واسطه راغونډ شوي. دغه درویش په اروپایي ملکونو کې ګرځېدلی او په دغه رمز کې یې د داخلېدو شرح ورکړې ده. دی په دې مامور شو، چې په یوې خاصې ماڼۍ کې داخل شي او تر دې وروسته، چې له څو کړو دهلېزونو او انګړونو څخه تېر شو، په دغسې یوې حجرې کې ننوت، چې اته کسه پکې ناست وو. داسې ښکارېده چې دوی ټول د بېخو دي او جذبې په حال کې وو او د خپلو سوچونو په وجه بې نظمه وو. له مخونو څخه یې د الهام علامې ښکارېدې، دلته دغه درویش نه بیانېدونکي شیان زده کړل او له دغو حکیمانو څخه یې د یوې شپې په تماس سره د ډېرو عالي موضوعاتو په اړه دومره څه زده کړل، چې له کلونو کلونو سخت تحصیل په نتیجه کې یې نه شو حاصلولی.

یوه بله فرقه، چې ځینې وخت د صوفیانو له فرقې سره یوه ګڼل کېږي، د ملا ذکي په نامه یادېږي، چې هغه یې په کابل کې یو سبتر حامي و. ددغې فرقې طرفداران په دې عقیده دي، چې رسولان رښتیني نه وو او ټول الهامونه اختراع ګڼې دي. داسې ښکاري، چې دوی د اېنده حال د حقیقت او ان د خدای د شته توب په اړه شکمن دي. معلومېږي چې د دوی عقیده ډېره قدیمي وي او په شخصي ډول د هغو نظریو مجموعه اوسي، چې عمر خیام په خپلو فارسي نظمونو کې افاده کړې ده. د خیام آثار داسې بې قیده او بې تقوا دي، چې ممکن په بلې ژبې کې ورسره سیالي ونه شي. خیام په خاص ډول د شر له وجود نه غږېږي او خدای تعالی د هغه رواجولو په اړه په داسې الفاظو تورن کوي، چې هېڅ باور به پرې ونه شي. داسې ښکاري، چې د ملا ذکي پېروان د دوزخ له وېرې او د خدای تعالی له هیبت څخه له



Property of ACKU

خپل دغسې خلاصون نه پوره ګټه اخلي او په ټول ملک کې تر ټولو فاجر او بې پرنسیپه هرزه ګان اوسي. سره له دې هم د دوی نظریات په پټه کې وده کوي او ویل کېږي، چې د شاه محمود د دربار په فاسقو اشرافو کې ښه رواج لري.

## د روښانیانو فرقه

روښاني فرقې په شپاړسمې پېړۍ کې په پښتنو کې یوه لویه غوغا جوړه کړې وه، خو اوس نږدې له منځه تللې ده. دغه فرقه د بایزید انصاري له خوا د مغولي امپراتور اکبر په دوره کې جوړه شوې ده. د روښان مخالفینو دی «پیر تاریک» باله. په داسې حال کې، چې ده په ځان د روښان پیر لقب ایښی و. روښان او صوفیانو عین اصول لري، خو ځنګه چې ده د روح د تناسخ عقیده په هغو اضافه کړه، امکان لري چې ده خپله عقیده له جوګیانو څخه اخیستې وي. جوګیان د هندو فلسوفانو هغه فرقه ده، چې د خپل دین ځینې اصول، چې په هغه کې روزل شوي دي، د تصوف له مکتب سره یوځای کوي، خو بایزید له دغو اصولو سره یو څۀ خپل نظریات پیوند کړل، چې له هغو څخه یې ډېر مهم دا دي، چې خدای تعالی د مقدسو اشخاصو او پیرانو په ځانګړې توګه ده په وجود کې ځان ښکاره کوي او دا چې ټول هغه کسان، چې نه غواړي دده په فرقه کې داخل شي، باید د مړو په څېر وګڼل شي او دا چې د دوی ددغه انکار په نتیجه کې د دوی ټول شته او مالونه دده د طرفدارانو کېږي، په دې چې یواځې دوی ژوندي دي. دغه پخپله خلق شوي وارثان، چې څه وخت یې زړه وي ددې حق لري، چې په خپل میراث باندې قبضه وکړي. بې له دې چې «د مړو» مالدارانو څه پروا ولري، چې هغوی به د روښاني پیر له پریکړې سره سره په واقع کې ژوندي وي.

بایزید د لوی نبوغ خاوند و او دده مذهب په برو درانیو کې په ډېرې چټکۍ سره خپور شو، چې دی په دې بریالی شو چې لښکرې ټولې کړي او له مغولي حکومت سره په یوې منظمې مقابلې لاس پورې کړي. خو په پای کې دی د مغولي اردو له خوا مغلوب او تر ډېرې ستومانۍ وروسته مړ شو. زامنو یې کوښښ وکړ، چې د هغه د فرقې ملاتړ وکړي، دوی په دغو کوښښونو کې تر ډېرې مودې بریالي وو، خو زیاتره یې ټوټه ټوټه شول. اوس په اباسین کې دوه داسې غټې توري تیږې شته، چې هغه د بایزید د زامنو جلال الدین او کمال الدین د بدل شویو جسمونو په حیث ګڼل کېږي او ویل کېږي، چې د دوی مړي د اخوند درویزه په امر په سیند کې غورځول شوي وو. دغه تیږې تراوسه هم د جلالیه او کمالیه په نامه یادېږي او ځنګه چې هغه هغو ګردابونو ته نږدې پرتې دي، چې له اباسین سره د کابل د سیند په یوځای کېدو سره پیدا کېږي، هغه ښېلو مسلمانانو ته د یو مشکل په حیث ځان



Property of ACKU

ښکاره کوي. دوی وایي، چې دا طبیعي ده چې هغه پیړي چې ددغو بدعت راوستونکیو په جسمونو لګېږي، باید ټوټه ټوټه شي لکه چې دوی له پخوا ډېري ارواګانې ټوټه ټوټه کړې وې. اخوند درویزه د بایزید یو لوی مخالف و. اخوند درویزه، چې د بونیر یو تاجک و، اوس په ټول افغانستان کې د یوه ډېر ستر ولي په حیث ستایل کېږي. ده ډېر آثار لیکلي دي، چې په وطنوالو کې یې ډېر نوم لري، خو کوم آثار یې چې ما لیدلي دي، د هغو پر بنسټ ویلای شم، چې که چېرې دده دلایل د مغولي امپراتورانو په لښکرو سره تقویه شوي نه وای، د میا روښان نظریات به تر ډېره وخته پورې رد شوي نه وای.

تراوسه هم د پېښور په شاوخوا او د برو بنګښو په غرونو کې ددغې فرقې پیروان شته دي[1].

په پښتنو کې یې له کوم شک او تردید څخه نورې فرقې هم شته، چې د هغه په اړه زه معلومات نه لرم او یا یې نومونه زما له یاده وتلي دي، خو دغه ملت تراوسه هم د دوی له نفوذ څخه خلاص نه دی. پښتانه سخت ګیر سني مسلمانان دي او څنګه چې دوی په خپلې عقیدې او مراسمو بوخت دي، د دوی مذهبي روحیه بې له دې چې له نورو خلکو سره څه غرض ولري ان د اسلام په پیروانو کې زشته نه ده.

## په خلکو باندې د مذهب تاثیر:

د پښتنو له خبرو څخه داسې څرګندیږي، چې ټول خلک له پاچا څخه تر ګدا او بزګر پورې تل له مقدسو افکارو سره سر و کار لري. یوائې کله کله به داسې جمله واورېدل شي، چې د خدای نوم پکې نه وي راغلی او د خدای د نامه خفیف ذکر سره هم معصوم حرکات تولیدیږي. د بېلګې په توګه دوی هیڅ آینده واقعه که څه هم پوره یقیني وي، بې له ان شاء الله څخه نه یادوي. دوی دغه افاده، چې د ماضي زمانې په اړه یې هم استعمالوي او د خپل عمر په اړه به یوه سوال ته داسې ځواب ورکړي: ((ان شاء الله چې زه به څلوېښت کلن اوسم.)) ډېر خلک په ملا پورې تړلي تسبیح لري او کوم وخت، چې په خبرو کې وقفه راځي، د تسبیح په اچولو پیل کوي. د تسبیح د هرې دانې په اچولو سره دوی باید د خدای تعالی نوم یاد کړي، خو کله چې دوی د چا خبرو ته په ځیر سره غوږ نیولی وي او یا کله چې پخپله هم ګړیږي، زیاتره وخت تسبیح اچوي. هر وخت قسم خوري او د دوی قسم خوړل داسې جدي او سخت وي لکه چې په کومې محکمې کې ناست وي. د قسمونو عام شکلونه یې دا دي: د خدای او د هغه د پیغمبر په نامه قسم خورم، که دا خبره درسته نه وي زه دې

[1] د روښاني فرقې په اړه زما ډېر معلومات د داکتر لیدن (Dr.Leyden) له هغې اعلی مقالې څخه اخیستل شوی دی، چې د آسیایي پلټنو (Asiatic Researches) په یوولسم ټوک کې خپره شوې ده.



Property of ACKU

کافر له دنیا نه لاړ شم، که زه دروغ ووایم زما ښځه دې په درېو کانو طلاقه وي. د دوی یو ډېر دروند قسم هغه دی، چې د خدای نوم پکې په داسې شکلو درې ځله ذکر کېږي:(والله بالله تالله.) ښه به دا وي، چې دلته د هغه رواج ذکر وکړم، چې دوی یې له نورو مسلمانانو سره په مشترک ډول لري او هغه قسم ورکول دي. دا په حقیقت کې د متعهد کولو یو ډول دی، چې د هغه په اثر یو څوک، چې قسم ورته ورکول کېږي باید پرې ولاړ اوسي او دا توپیر نه کوي، چې هغه پرې رضایت لري او که نه. نو یو سړی به یوه بل ته وايي:((دا په قران قسم دی، چې ته په هغه څه چې ما درته ویلي دي هېڅ وخت نه وایې.))

زه داسې خلک نه پېژنم، چې هغوی دې زیاتره وخت په دغسې متعهد کېدو سره داسې کارونه وکړي، چې د هغوی په ذوق دې برابر نه وي، خو په پښتنو کې دا د یوې ناموزونې هیلې د راضي کېدو په اړه یو عام عذر دی، چې یو څوک وايي:((که ده ماته قسم راکړی نه وای ما به هېڅکله دا کار کړی نه وای.)) پښتانه بې له فاتحه ویلو په هېڅ کار لاس نه پورې کوي. زما په خیال دغه رواج یوائې په دوی کې شته دی. فاتحه یانې الحمدلله رب العالمین... د قرآن لومړی سورت دی او زیاتره وخت (تل) په لمونځونو کې ویل کېږي.

یو سړی به د فاتحې سورت په لوړ اواز وايي او نور به امین وايي. دوی د دعا په وخت کې لاسونه پورته کوي او په ختم کې یې په خپلو مخونو او ږیرو تېروي. دوی دغه رسم په ټولو مهمو چارو کې اجرا کوي یانې کله چې په سفر پیل کوي یا چاته قول ورکوي او موافقه ورسره کوي، یا ودونه کوي او په همدې ډول دوی دغه مراسم د ژوندانه په زیاترو کارونو کې اجرا کوي.

## لمونځونه

د پښتنو په شان به نور هېڅ خلک د مذهبي مراسمو په ترسره کولو کې پابند نه وي. دوی په شپه او ورځ کې پېنځه وخته لمونځ کوي، لومړی لمونځ سهار د وخته کوي او وروستی د شپې په شروع سره موذن د الله اکبر په ویلو سره د لمانځه وخت اعلاموي. اذان تر هغه وخته تکرارېږي، چې د ټولو مومنانو غوږ ته ورسېږي. اذان یو ډېر دروند او ښه ایسېدونکی اواز دی، هر وخت یې چې خلک واوري، جوماتونو ته درومي. هغه څوک، چې لګیا وي کار کوي، هغوی ځانونو ته زحمت نه ورکوي. څوک چې په یوې ډلې کې ناست وي او اذان واوري، تکراروي یې او د لمانځه د ادا کولو لپاره ځي، خو هغه وخت چې زه له نورو سره په یوې ډلې کې ناست وم، ځینې کسان له ما سره همغسې پاتې شول او نور یې یوې نږدې کوټې ته لاړل، جای نمازونه یې په ځمکه وغوړول، بې له اودس کولو یې د لمانځه په ادا کولو شروع

Property of ACKU

وکړه[1]. دوی ددې څه پروا نه ساتله، چې څوک ورته ګوري یا څنګه. لمونځ، چې یې أدا کړ ژر ټول په ګډه بېرته راغلل او د پخوا په شان یې خبرو ته دوام ورکړ. هر مسلمان د لمانځه په وخت کې د مکې په لور درېږي او شتمن کسان په تېره بیا هغه وخت، چې په سفر کې وي له ځان سره قطب نما ګرځوي. د قطب نما یوه ستن د شمال او بله یې د جنوب په لور او هغه بله یې چې په اخیر کې یوه نښه لري، دمکې په لور واقع ده[2].

په منظم ډول سره د لمانځه ادا کول نه یواځې دیني وجیبه ده، بلکې د افغانستان په زیاترو برخو کې د مدني قانون له خوا نافذېږي او یو منظم مامور چې محتسب نومېږي، د لمانځه قضا کوونکي یا د هرې بلې دیني فریضې سرغړوونکي ته سزا ورکوي. روژه هم په همدې ډول نافذېږي او سخت رعایت یې کوي. څنګه چې د روژې په وخت کې یو سړی له سهار نه تر ماښامه پورې نه اوبه څښلې او نه ان چلم څکوي، دا پرهېز کله کله په سړي ډېره سخته تمامېږي، خو خارجیان د روژې نیولو څخه معاف دي. په هر مسلمان باندې په ژوندانه کې یو ځل حج فرض دی. ډېر پښتانه د حج د ادا کولو لپاره مکې ته ځي. د حج د ادا کولو ډېره عامه لاره د سند لار ده، چې له هغه ځایه حاجیان مسقط یا بصرې ته په کښتۍ کې ځي او بیا مکې ته په وچه کې سفر کوي. د شمال شرقي مسلمانان په اباسین کې مخ ښکته سفر کوي، حاجیانو ته د دوی ددغه مقدس نیت په وجه خلک او ان ډېر چپاولګر قومونه هم په درنه سترګه ګوري. ډېر حاجیان د سفر په دوره کې په سوال او خیرات ژوند کوي او په مکې کې هغه خیریه موسسه د دوی ژوند تامینوي، چې احمد شاه دراني تاسیس کړې وه. احمد شاه د خپلو وطنوالو د استفادې لپاره هلته یو مسجد او یو ډول کاروان سرای جوړ کړی و. په کوم کال کې، چې د پښتنو حاجیانو شمېر لږ وي، ددغې موسسې اضافګي شیان په عربو وېشل کېږي، نو عربان د پښتنو حاجیانو په زیات شمېر چندان خوښ نه دي، نو دوی له هرې موقع څخه استفاده کوي، چې دغو مداخله کوونکیو ته ازار ورسوي او د شیعه ګانو په څېر یې معرفي کړي. په دې چې دوی په عمومي ډول په فارسي خبرې کوي. ټول پښتانه حاجیان د بدوي اعرابو د بربریت او چپاولګرۍ نه په هیبت خبرې کوي او وایي، چې د پښتنو د چپاولګر نوم یو ډېر بد کار سړی هم په دوی کې بس یو ماشوم دی.

## د مذهب رعایت

د اسلام دین په هر مسلمان لازمه ګرځوي، چې د خپل عاید یوه برخه د خیرات

---

[1] مولف ته شاید معلومه نه وي، چې په یوه او دسه سره دوه ځله لمونځ ادا کېدلی شي. ژباړن

[2] د مولف هغه لیکنې، چې د لمانځه د ادا کولو د طرز په اړه وې، ترجمه نه شوې. ژباړن



Property of ACKU

په ډول ورکړي. ټولو مقدسو کسانو ته بخششونه او ان ملايانو ته منظمې وظيفې او سوالګرو ته خيراتونه هم تر دغه نامه لاندې راځي. له ښارونو څخه په ليرې ځايونو کې خيرات ته، چې سوالګر نه شته دوی هغه مصرف، چې په مېلمه پالنې کې يې کوي، هم په خيرات حسابوي. په دغه تعبير سره دوی د خپل دين فرايض په ښه شان ترسره کوي. قمار وهل او داسې هم طالع بجنګان، چې د پيسو لپاره کېږي، منع دي. ددغه ممانعت پروا په دقيق ډول نه کېږي، خو پښتانه چندان په قمار وهلو عادي نه دي. شراب معلومه ده، چې منع دي او په حقيقت کې يوائې شتمن يې څښي، خو د مملکت په زياترو برخو کې يوه نشه راوړونکې دوا، چې بنګ نومېږي او هغه هم په مساوي ډول منع ده، د فاسقو له خوا استعمالېږي. سره له دې هم دغه خلک په هغو خلکو کې چې ما د هغو په اړه اورېدلي دي، تر ټولو باوقار دي او دوی په دغه اړه د هندوستان تر هندوانو او مسلمانانو ډېر دمخه دي. هغه سړی، چې په سترګو کې نشه ګرځي، لکه څنګه چې په دغه برهمن ښار يانې پونه کې ګرځي، په افغانستن کې به نادر وي[۱].

د محتسب منصب، چې د هغه وظيفه اجتماعي اخلاقو نظارت دی، ډېره خوا بدوونکې ده، دی زياتره په دې تومتي کېږي، چې د مجرم په خوشي کولو سره له خلکو نه رشوت اخلي او ان د بېګناهو خلکو په ډارولو سره په خلکو پيسې ږدي. دده قدرت تر څلوېښتو درو وهلو پورې رسېږي. دره د هغه څرمنو تړانګه ده، چې له لرګي نه جوړ لاستی لري او يا د قرآن يا د احاديثو له متن جوړه شوې وي. داسې هم د محتسب په واک کې ده، چې يو مجرم په عام محضر کې تشهير کړي په ښار کې يې په خره يا په اوښ چپه سپور په داسې حال کې، چې مخ يې د هغه حېوان د لکۍ په لور وي، وګرځوي. ما د پېښور محتسب زياتره په داسې حال کې ليدل، چې تسمه به يې تل د خپل منصب د علامې په توګه تر ملا پورې تړلې وه. دی تر عادي کسانو لوړ معلومېده او داسې ښکارېده، چې يو معقول او اعتدال خوښی شخص دی، خو خلکو يې تل بد ويل.

ملايان او په حقيقت کې ټول مذهبي کسان ان که څه منصب هم نه لري، د متقي ژوندانه د تبليغ کولو شوقمن دي او د معصومو لذتونو مخالفت کوي[۲]. ملايان د مملکت په ځينو برخو کې ان هر وخت چې عود Lutes او وايلون Fiddles وويني،

[1] دا يوه غلطي ده، په پونه کې مخمور کېدل يوائې د برتانويانو په ګاونډيتوب کې ليدل کېږي، چې هلته د الکولي شرابو خرڅول مجاز دي. (د ۱۸۳۸ کال طبع)

[2] احمد مير واعظ، چې د هغه حال ددغه کتاب د تاريخ په برخه کې راغلی دی د مستقيمانه ژوندپه برکت په ډېرو خلکو کې ددغسې زيات محبوبيت خاوند شوی دی، چې له هغه نه د شاه محمود په خلع کې استفاده وشوه.

Property of ACKU

ماتوي یې خو نغارې، ترومپېټونه او شپېلۍ له دغه مخالفت څخه معاف دي. په دې چې هغه مېړني او جنګي دي، خو نور ټول سازونه ښځینه او یوه رښتیني مسلمان د کرکټر مخالف ګڼل کېږي. سره له دې هم دغه خلک د دغسې پرهېزګار ژوند پروا چندان نه ساتي او ملایان په عمومي ډول له دین او اخلاق نه ډېرې مهمې سرغړونې تر سانسور لاندې نیسي او په ډېرو برخو کې دوی هیڅ قدرت نه لري.

## د ملایانو نفوذ او قدرت

ملایان په ښهر کې ډېر دي او دوی له لویو درباریانو او وزیرانو څخه ان د ډېرو غریبو او د ازادو قومونو په مختلفو صفوفو کې لیدل کېږي. دوی د ښارونو د شاوخوا خلکو په تناسب بېخي ډېر دي او کوم وخت، چې یې د یوې ډلې په حیث یادونه کېږي، د علماوو په نامه یادېږي.

په ټولیز ډول دوی فعال او په نسبي ډول لایق کسان دي او د خپلې ډلې د ګټو ښه پروا ساتي او احتیاط کوي، چې خپل لوړوالی خوندي وساتي. دوی د خپل ملک د علم د ډېرو برخو خاوندان دي، د ځوانانو روزنه، د قانون تنفیذ او په ټول ملک کې د قضا اداره، چې د پاچا تر واک لاندې ده، پوره دوی ته ورسپارل شوې دي او دغه امتیازات له هغه احترام سره یوځای، چې په ناپوهو او خرافات خوښو خلکو کې د دوی د علم په وجه دوی ته کېږي، ملایان په دې قادر ګرځوي چې په ځینو خاصو حالاتو کې په افرادو او ان د اشخاصو په یوې ډلې باندې نږدې نامحدود قدرت ولري، حاکمان او نور ملکي مامورین تر څارنې او کنټرول لاندې ونیسي او ځینې وخت پخپله پاچا وېروي او ضرر ورته ورسوي. په مسلمانانو کې هغه وخت، چې له شریعت نه خالف کار نه کېږي، له دغه قدرت څخه بده استفاده کېږي، خو په عین حال کې زیاتره وخت د ملایانو له دغه نفوذ څخه د مملکت په ډېرو برخو کې چېرته، چې د عامه سولې د ټینګولو لپاره نور وسایل وي، د شخړو او دعوو په فیصله کولو کې په ګټور ډول استفاده کېږي. د دغو مذهبي شخصیتونو لښکرې زیاتره وخت د هغسې دود . ولسونو په منځ کې له اوږده و چپنو سره ښکاره کېږي، چې د جنګ لپاره تیار او اماده وي.

دوی قران شفیع کوي، لمونځونه او نفلونه ادا کوي او آیتونه لولي او خلکو ته نصیحت کوي، چې خدای او دین هېر نه کړي ان که دوی د دغو ولسونو په منځ کې په دې بریالي هم شي، چې سوله ټینګه کړي، دوی د یوه څه وخت لپاره سره تیتوي او په دې کې هیڅ نه ناکامه کېږي.

ملایان د پېښور په شاوخوا کې او د برو درانیو په ملک کې په ځانګړې توګه ډېر قدرت لري. د پېښور په ښار کې پاچا تر یوه حده د دوی مخه نیسي او مجبوروي

Property of ACKU

یې، چې که په دوی څه ظلم شوی وي په ملکي محکمه کې عرض وکړي، یا دې د داسې موقع انتظار وکړي، چې بیا وکړای شي په خپل غلیم د کفر یا بدعت فتوا صادره کړي او په دې ډول ممکن د هغه په مقابل کې د خلکو احساسات وپاروي او یا په محکمه کې یې د قانون گوتو ته وسپاري، خو د مملکت په لېرو برخو کې ملا ته ضرر رسول پخپله ددې کفایت کوي، چې یوه غوغا جوړه شي. ملایان په دغسې وختونو کې خپل نور ورونه ملایان غونډوي، دیني مراسم او د ښنولو تکفین مراسم ځنډوي او پخپلو مخالفینو د کفر فتوا صادروي او په رسمي ډول یې طردوي او ښېراوې ورته کوي. که له دغو کارونو سره سره دوی ونه شو کړی، چې دوی خپل مخالفان تسلیمولو ته مجبور کړي، دوی په ملک کې د محمدي شنه بېرغ تر لاندې په تظاهراتو پیل کوي، ډولونه وهي او صلواة چغې وهي. دوی ددې اعلام کوي، چې هغه کسان چې نه غواړي له دوی سره یوځای شي، مطرود دي. په دې ډول دوی ډېر زر یو جمعیت چې دوی پرې د لښکر نوم ږدي، راغونډوي او څنگه چې پښتانه د دوی تر لښکرو زیات د دوی په ښېراوو بېرېږي، دوی په عمومي ډول د هغوی مخالفین شرطونو منلو ته حاضروي، په دغو شرطونو کې د مخالفینو د مشرانو د کورونو چوړول او سوځول او د هغو په معاونانو باندې د جرم ایښودل شامل دي.

داسې کیسې اورېدل کېږي، چې د ملایانو د لښکرو په اواز سره د ښارونو دېوالونه چپه شوي، توري پخې شوي. دا پېښې هغه وخت شوي، چې د مذهبي شخصیتونو ژوند په هغو سره تهدید شوی دی، خو بیا هم د هشنغر یوه خان یو ځل د ملایانو د لښکرو په مقابل کې مقاومت وکړ. دا هغه وختو، چې ملایان د سود د یوې معاملې د نافذولو لپاره هغه ته ورغلي وو. هغه خان دوی ټول په شا ووهل او تلفات یې ورواړول او ټول گاونډیان په دغه کار خوښ شول. که څه هم د مملکت په دغې برخې کې ملایانو ته په درنه سترگه کتل کېږي، زما په خیال چې خلک نظر دې ته چې له دوی سره مینه ولري، ډېر ترې ډارېږي. د مملکت په لویدیځ کې د ملایانو قدرت په نسبي ډول محدود دی او پخپله دوی ته ډېر احترام کېږي. په نتیجه کې دوی په عمومي ډول په ځانگړې توگه په اطرافو کې ډېر محبوبیت لري، خو ان هلته هم د دوی د فرقې له ناوړو کارونو او د خلکو د مېلمه پالنې له احساس څخه د دوی د نه بس کېدونکیو او له فضولانه تقاضاوو څخه شکایتونه کېږي[1] ان د مملکت په

Property of ACKU

[1] عجبه ده، چې وویل شي چې د هغو ملکونو په عاداتو کې چې د مدنیت په عین پړاو کې خو له یو بل څخه په فاصله او زمان کې سره ډېر لیرې پراته دي، مشابهت شته دی. د چاوسر (Chaucer) سومپنورز (Somnours) کیسه د فقیرو ملایانو زیات ټینگار او د هغه احترام او مخالفت یو مخلوط، چې د دوی په مقابل کې ښودل کېږي، په عین ډول بیانوي.

غربي خوا کې د دوی قدرت ځینې وخت په ښارونو په ځانګړې توګه د تیمور شاه د پاچاهۍ په دوره کې، چې د هغه صدراعظم یو ملا و، احساس شوی دی. دوی په هغه وخت کې په کندهار کې قدرت دغسې یو حد ته ورساوه، چې د دوی یوې ډلې په کفایت خان حمله وکړه، د هغه حرم ته ورننوتل، د بخشش غوښتنه یې وکړه او په دې بې عدالتۍ یې اعتراض وکړ، چې دی رنګ رنګ پلاوونه خوري، په داسې حال کې چې دوی ته یواځې وچه ډوډۍ رسېږي. کفایت خان په اصل کې د فارس یو شیعه و، چې په افغانستان کې لوړو منصبونو ته رسېدلی و. یواځې په ډېر زحمت او د پاچا په وساطت سره دا ممکنه شوه، چې د ملایانو دغه غوغا غلې شي. د دوی ژوند په خلکو کې له تقوا نه ډک دی، خو د دوی ځینې کسان بې له دې چې رسوا شي د فسق ژوند کوي.

ډېر یې د سود په خوړلو سره بد نوم لري. قرآن سود خوړل په واضح ډول منع کړي دي او یو شو متقي مسلمانان له دغه مخالفت نه په څرګند ډول تجاوز کوي. په داسې حال کې چې له هغه نه سرغړول کوم مشکل کار نه دی. ډېر کسان په دې قانع دي، چې خپلې پیسې تاجرانو ته په سود ورکړي او د ګټې یوه برخه یې حاصله کړي یا یې صرافانو ته وسپاري، چې په تجارت کې یې په دوران واچوي او له ګټې څخه یې یو څه ترلاسه کړي[1]، خو ډېر ملایان پیسې په ښکاره ډول په سود ورکوي او قوي ضمانت اخلي او په دې ډول خپله شتمني زیاته ډېروي. دوی د مملکت د ځمکې یوه برخه خپله کړې ده. خو څنګه چې ټول ملایان په سود پیسې نه ورکوي، په دې پوهېدل به هغه سوال حل شي، چې د ملایانو دغومره ډېر شتمن څنګه پاتې کېږي.

له هغو ملایانو پرته، چې دیني منصبونه لري، یا له دولت څخه وظیفې او معاشونه اخلي (چې بحث به یې په یوه بل ځای کې وشي) او تر هغو لا ډېر د کلیو ملایانو ته، چې د فصلونو نه یو څه ورته ورکول کېږي او یا د رمو ګلو نه یو څه ورکول کېږي، ډېر نور ملایان د ځمکو یوه برخه د بخشش په توګه په لاس لري، چې یا یې پاچا یا د کلیو مشران ورکوي او یا ځینې افراد یې د میراث نه ورپه برخه کوي. ځینې نور ملایان د شرعي قانون په تدریس او تمرین ژوند کوي، نور یې په مکتبونو کې تدریس کوي او یا د شتمنو کسانو د زامنو شخصي معلمان وي، ځینې نور یې د تبلیغ په کار لګیا دي او ولس یې ژوند ور تامینوي، ځینې په هغو اوقافي وظیفو ژوند کوي، چې دولت او کلي یې شاګردانو ته وره برخه کوي، یا یې هغه کسان د خیرات او د مېلمه پالنې د احساس له مخې ورکوي، چې دوی د هغو په ملک کې سفر کوي او ځینې نور ملایان یا کوم کسب یا د هقاني کوي او یا په خپلو

[1] مقصد مضاربت دی. ژباړن



Property of ACKU

نورو وسایلو خپل ژوند تامینوي او په خپله خوښه خپل تحصیل پر مخ بیایي او سرگرمي لري.

## د ملایانو سلوک

د ملایانو نسبت د همدغې فرقې د اعضاوو له خوا هغه کس ته کېږي، چې د تحصیل یو منظم کورس یې سرته رسولی وي او لازم امتحان یې تېر کړی وي. یوه کاندید ته د غړیتوب اجازه د یوه رسم په اجرا سره ورکول کېږي. ددغه رسم یوه مهمه برخه د همدغه احضار شوي مجلس د مهمو اشخاصو له خوا د کاندید په سر د لنگوټي تړل دي.

ملایان د خپلو ځانگړیو کالیو له لامله له ورایه پېژندل کېږي، چې هغه د سپینې خمتا ، اوږده اوارت کالي او په سر باندې یو خاص غټ د ململ لنگوټی تشکیلوي.

ملایان ځانله ځانگړې جامې نه لري لکه څنگه چې راهبان یې په اروپا کې لري، داسې هم ټول ملایان نه د یوه واحد مشر تر حکم لاندې دي او نه د یوه خاص دسپلین تابع دي، لکه څنگه چې روحانیون په انگلستان کې دي.

له هغو ملایانو پرته، چې له دولت څخه معاش اخلي نور ټول یې په خپل واک دي. د دوی ترمنځ همکاري یواځې د یوې گډې گټې په احساس سره پیدا کېږي. دوی ټول ودونه کوي او په نورو ټولو برخو کې د عادي کسانو په څېر ژوند کوي. ماته ددې پته نشته، چې دوی دې کوم خاص سلوکونه ولري، یواځې دومره چې دوی سخت گیر دي. ځینې یې ډېر باوقاره دي او نور یې له هرې ولې سره ځانونه گډوي او په ټولو چارو کې برخه اخلي. له دوی څخه یو څوک زیاتره وخت داسې لیدل کېږي، چې یو لوی سپین لنگوټی په سر لري او یو اسماني رنگه دستمال یې، چې یو څو گزه اوږدوالی لري او اوږد ځړېږي او پخپله له یو څو درجنو پیروانو او طالبانو سره کتابونه په تخرگ کې یا په سرکو گرځي یا د کوم شتمن په کور کې ناست وي. په غټې گوتې سره په داسې حال کې، چې اوږد لستوڼی یې ښه خوځېږي، د خپلو نظریاتو د تنفیذ په اړه په لوړ اواز هدایتونه صادروي. یا په خپلو ټوکو ټکالو او غوررو سره کوربه خوشحالوي او د خپلو نسوارو ډېر غټ ډبلی یو بل ته تېروي. دغه راز ملایان ډېر ښه مجلسیان گڼل کېږي، دوی زیاتره په جرگو او مرکو کې گډون کوي او په دې برخه کې په مدني چارو کې د دوی پوهه د دوی ټولې فرقې ته ښه دروند مقام ورښي.

ممکن داسې فکر وشي، چې ملایان به د نورو ادیانو د پېروانو لوی دښمنان وي او یا لږ تر لږه له دوی سره به له ناستې ولاړې نه ډډه کوي لکه څنگه چې زما په خیال

ملایان په فارس کې همدغسې کوي، خو حال داسې نه دی. ماله ډېرو ملایانو سره ښه اشنايي لرله او د دوی ځينې ښه هوښيار او ښه رسېدونکي وو. زه په خاص ډول له دوو ملایانو سره ښه اشنا شوی وم او دغه دواړه د خان علوم د خپل وخت ډېر ستر عالم زامن وو. دغه دوه ملایان تر ټولو ډېر باخبر او ازاد طبع وو او زه د دوی په شان په هندوستان او افغانستان کې دغسې نور ملایان نه پېژنم.

دا اسانه ده، چې ووېل شي ملایان په عمومي ډول یوه ګټوره ډله ده یا څنګه؟ دوی د مملکت په ډېرو برخو کې په واضح ډول ګټور دي، دوی له دې امله ګټور دي، چې دوی د نه اداره کېدونکیو خلکو د زور زیاتي تمایل معتدل کوي او دا کار د هغو اخلاقیاتو په واسطه کوي، چې دوی یې تبلیغ کوي. داسې هم دوی له دې امله ګټور دي، چې دوی هغه کم ساینس او ادبیات، چې موجود دي په خپلو عادتونو سره ساتي او ورته دوام ورکوي.

## دروېشان، پیران او سپېڅلي کسان

له منظمو ملایانو پرته نور کسان هم شته، چې د خپلې تقوا او یا د دوی د نیکونو په وجه یې درناوی کېږي. د دوستنیو له ډلې څخه ډېر مشهور یې سیدان یا د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم اولاده ده. لومړنی یې په مختلفو نومونو لکه درویشان، فقیران او داسې ډېرو نورو نومونو یادېږي. دغه نومونه دوی ته یا په اختیاري ډول ورکړل شوي دي یا د دو د مذهبي رعایتونو د هغه تو پیر له لامله ورکړل شوي دي، چې په دوی کې به لږه اندازه لیدل کېږي. د بېلګې په توګه د دوی یوه ډله د قلندر په نامه یادېږي، چې نړدې ټول برنډ وي، نور یې اخوا دېخوا ګرځي او د مذهبي ځایونو زیارت کوي یا په داسې حال کې، چې ځينې نور یې د ښارونو په منځ کې د پرهېزګارۍ او تقوا ژوند غوره کوي او په ځانګړو حجرو کې عبادتونه کوي. په افغانستان کې په ټولو دورو کې ددغسې عبادت کوونکیو درناوی شوی دی او د افغانستان نیمايي تاریخونه ددغسې زیاتو نارینه او ښځينه سپېڅلو کسانو په قصو ډک دي، چې په دې ملک کې پیدا شوي دي. هغه ځایونه چې دغسې با تقوا کسان پکې ښخ شوي دي یا دا چې د دوی د فوق العاده ژوند په کارنامو سره یې نوم پیدا کړی دی، تراوسه هم مقدس ګڼل کېږي او د هر یوه ډېر مشهور زیارت ان د وینې د پور او انتقام له اخیستلو نه هم مبرا دي. هغه درناوی، چې ددغسې مقدسو ځایونو لپاره ښودل کېږي، د یوسف زیو په عاداتو کې واضح دي. دوی تر نورو ټولو قامونو څخه ډېر د بې قانونه ژوند لري او کله چې کوم خېل یې جنګ ته روانېږي، خپلې ښځې په یوه همدغسې مقدس ځای کې پرېږدي، چې د ماتې په حال کې په امان وي.



Property of ACKU

ددغسې مقدسو کسانو شمېر اوس مخ په زیاتېدو دی او د دوی د وطنوالو ناداني دغه تقدس د دوی د پیشګویی، د تصوراتو او خوبونو او د دوی د معجزې ښودلو په قدرت پوري منسوب بولي ان د لوړو طبقاتو وګړي هم د دوی په وړاندېنو اعتقاد لري او پاچا د مملکت په ډېرو مهمو چارو کې له دوی سره مصلحت کوي. ځینو یې باید ځانونه پخپله حتماً په دروغو دغې درجې ته رسولي وي[1]، خو هغو ډېرو مشهورو پیرانو یې چې په پېښور کې دي، څه وخت چې زه هلته وم، دا دعوا هېڅ نه کوله، چې له طبیعي حد څخه دې پورته قدرت ولري. دوی ته په ډېره درنه سترګه کتل کېدل او ان پاچا هم نه غوښتل، چې ددوی په حضور کې کېني، خو په هغه حال کې چې دوی په پرې تېنګار وکړ، خو داسې ښکارېده چې دوی ددغسې درناوي څه پروا نه ساتله او دوی په ډېرې ازادۍ سره د حکومت په چارو بحث کاوه او د هغه او د ملت ناوړه کړه یې غندل.

هغه یوازینی شی، چې دوی یې دغسې لوړې درجې ته رسولي دي، د دوی ښه بیا تقوا ژوند دی. کله کله دوی ډېر لوی عالمان وي او هغه دوه لوی پیران، چې ما ولیدل نه یې مینه ښودله نه یې تندي ترېو او له نورو خلکو نه په لوړو معتدلو سلوکونو سره متمایز وو[2].

---

[1] له ما سره دغسې یو کتاب شته، چې د څمکنیو د مشهور پیر کرامات پکې ذکر دي. دی د احمد شاه دراني روحاني پیر و. په دغه کتاب کې د هغو کراماتو بیان دی، چې په تېرو پینځو کلونو کې ښودل شوي دي. دا کتاب ماته د همدغه پیر زوی راکړ او څنګه، چې دغه کتاب د همدغه پیر د ژوندانه په وخت کې لیکل شوی دی او ډېرو علماوو د هغه تایید کړی دی، دا ګرانه ده چې دی له تقلب او غلطۍ نه مبرا کړی شي.

[2] د پېښور یو ډېر ستر پیر حاجي معین ماته احوال واستاوه او رانه یې وغوښتل، چې په دې یې پوه کړم، چې د اروپا دینداره خلک له کړاوه ډک ژوند په څه ډول کوي؟ ده دغه احوال د یوه فارسیوان په لاس واستاوه، چې هغه د پاچا په هیئت کې برخه اخیستله او د مذهب د غېروالي له امله یې د سني مذهب متقیانو ته چندان احترام نه لاره. کله چې ما ورته وویل، چې زموږ روحاني اشخاص ډېرو سختیو ته ځان ور کوي او په دې فکر دي، چې د مذهبي او متقي ژوند په غوره کولو سره ځانونه خدای ته وسپاري، هغه قاصد له ما څخه دا هیله وکړه، چې هغه پیر خواشینی نه کړم او بلکې په دې یې خوښ کړم، چې ووایم چې هغوی ډېر استغفار وایي، چې ممکن دی هم هغسې وکړي. بیا ما ورته وویل، چې د اروپا په نورو برخو کې مذهبي متقیان ځانونه ډېرو سختیو ته نه ور کوي او څومره مې چې په یاد راتلل د هغو کیسو ذکر مې ورته وکړ، چې دوی ځانونه په قمچینو وهي. هغه فارسیوان قاصد له شیطانت نه په ډکه موسکا سره له ما نه مننه وکړه او ویې ویل یقین دی، چې هغه حاجي به له ما څخه مننوی اوسي او له مانه یې رخصت واخیست او په ظاهر کې په دې خوښ شو، چې د هغه لپاره یې د سر ګرمۍ یوه موضوع پیدا کړه.



Property of ACKU

## کیمیا او جادو:

یوائې په دغو کاذبو پیرانو عقیده لرل د پښتنو یوائې خرافات نه دي، د دوی د زړ معتقد کېدلو او ساده لوحۍ ډېرې بېلګې زما په دغه اثر کې راوړل شوي دي، خو دلته یوائې هغه بېلګې راوړم، چې هلته مې ذکر کړي نه دي.

ټول پښتانه په کیمیا او جادو معتقد دي او دا خیال کوي، چې هندوستانیان په دغه فن کې ډېر وارد دي. د پاچا امام په پرله پسې ډول د فیلسوف د ډبرې په پلټنې پسې و، څه وخت چې زه په پېښور کې وم، ده به ډېر وخت د هغې د پیدا کولو لپاره هڅه کوله او یوه هندي مسلمان، چې تازه له مکې څخه ستون شوی و، له هغه سره په دغه کار کې مرسته کوله. سره له دې چې په قران کې دغه کار ته ډېر بد ویل شوي دي. دغه اسلامي پیا هم دغه کار باندې هره ورځ ډېر وخت تېراوه، ډېرې پیسې یې د هغې په تهیه کولو باندې لګولې او په خپل مرستیال باندې یې پوره باور لاره او ډېره توجه یې ورته کوله.

د پېښور یو اوسېدونکی، چې نږدې د شپېتو کالو دی او اوس زما په خدمت کې دی. څه وخت دمخه په پونه کې په یوې نجلۍ مین شو. دده وطنوالو په دغې هفتې کې دا کشفه کړه، چې دی له یوه هندي سره په یوې خاصې کوټې کې په یو لړ داسې تجربو بوخت دی، چې مقصد یې د خپلې مینې د زړه ګټل دي. کندهار ته نږدې یو غار دی، چې جمشید غار[1] نومېږي. داسې ښکاري چې د غار اخر سر سېلاب بند کړی وي، نو هغه سرته یې رسېدل ممکن نه دي، خو پښتانه داسې حکایت کوي، چې تر دې وروسته، چې سړی په دغه غار کې تر یوه ځاکلي حد ورسېږي، د بادونو آواز او د اوبو د بهیر سخت شرهار یې تر غوږ شي او وړاندې تګ د تورې لرونکې ارابې له لامله ناممکن شي، ځکه چې دا په دغسې سرعت او زور سره تاوېږي، چې هر شی یې مخې ته ورشي، نابودوي یې. سره له دې هم ځینو زړورو ماجراغوښتونکیو په دغو بندیزونو غلبه وکړه او دغسې یوه باغ ته ننوتل، چې په نهره کې یې ساری نه لاره. دوی دغې په زړه پورې سیمې شینلې، چمنونه، ځنګلونه او هواداره ځایونه ستایلي او رڼې ویالې او د هغه په زر رنګه صاف او ښکلي ګلان تر هرې هغې منظرې څخه، چې د انسان مخیله یې تصور کولی شي، پورته دي. په داسې حال کې چې ددغه باغ ښې میوې عطر لرونکې وږمې او زړه خوښوونکې موسیقي، چې پرله پسې انعکاس کوي، له هغو نورو ډېرو تصویرونو سره برابري کوي، چې په اسلامي جنت کې ذکر شوي دي.

---

[1] دا به شمشېر غار وي، نه جمشید غار. ژباړن



Property of ACKU

## خبیثه ارواح

پښتانه په دې عقیده دي، چې د دوی د ملک په لیرې چوپو غرونو او مېرو کې یو ځانګړی دېو اوسېږي، چې دوی ورته غول بیابان وايي. دغه حېوان د دوی په فکر یوه ډېره ستره او وېروونکې څېره لري او هر هغه لاروی خوري، چې نصیب یې د هغه ځای ته ورولي. دوی همدغه روح ته د سترګو هغه خطا منسوبوي، چې د دښتو په منځ کې د اوبو څپې ویني او دوی خیال کوي، چې هغه نزدې کېږي، چې هغه بدبخت لاروی، چې په دغه نیرنګ سره خطا وځي، ونیسي او ټوټه ټوټه یې کړي[1].

پښتانه د مړو خپلو ځایونو او هډوکو ته په ډېر احترام قایل دي. دوی هډیرې کله کله د شعري نوم، د چوپو ښارونو په نامه یادوي او هغه د تللو خلکو د ارواحو ځایونه بولي. د دوی په عقیده هر روح د خپل قبر په سر کېني، خو دغه فاني سترګې یې لیدلی نه شي او هر یو یې د هغو ښکلو ګلانو عطرونه لري، چې د قبرونو پر سر ځړول شوي دي او د هغو سپېڅلو عطرونه ورکوي، چې پاتې خپلوان یې پرې سوځوي. داسې هم دوی په ډېرو نورو پیریانو او روحونو عقیده لري، خو ګومان نه کوم، چې دوی د مړو د ارواحو د منظرې په اړه څه اورېدلي وي. سره له دې هم د ځلورو لومړیو خلیفه ګانو مجلل ارواح په هغه جنګ کې، چې د شیعه ګانو او سنیانو ترمنځ شوی، د کابل د ښارپه یوه غره کې د اور په جامو کې لیدل شوي دي.

پښتانه په خوب لیدلو عقیده لري، په دې کار کې دوی په کافي اندازه بې قیده دي، چې په آسانۍ سره د خوب تعبیر په هرې پېښې تطبیقولی وشي. ښاپیسته یوه مهم شخص ماته وویل، چې یو څه وخت چې دی د وفادارخان (د وخت صدراعظم) له غضب نه په تېښته کې و، وفادار خان یې په خوب کې ولید. دده جامې ټولې تورې وې، لاسونه یې ړېږدېدل او دومره ضعیف و، چې وې نه شو کولای په خپلو لاسونو خپل ملاوستنی خلاص کړي. همدا چې خوب لیدونکی وېښ شو، یو قاصد یې کوټې ته ننوت او ورته یې وویل، یو څوک یې د لیدو لپاره راغلی دی، داسې خبر راوړل شوی و، چې وفادار خان خلع شوی او بندي شوی و.

## غیب ویل

داسې هم دوی ستورو، ورغویو او څېرو نه په غېب ویلو سره د راتلونکیو په اړه عجیبې وړاندوینې کوي. په دوی کې د غېب ویلو ډېر عام شوی طرز دا دی، چې په رڼا کې د پسه د تېره هډوکي نښې معاینه کړي. دا عمل که څه هم د تعلیمیافته

---

[1] پښتانه له دغه عام شوي خرافات څخه د کوم جلا شوي نوم د خپل سرېتوب په اړه وايي، چې دوی غول بیابان یانې د وچو مېرو د دېوانو په څېر دي.

Property of ACKU

خلکو لـه خـوا ترسره کېږي، زموږ د خلکـو د ټـولـو لـه ځـمکـو (پټـي) څخـه د اینـده د کشفولو پـه تناسب نـه ډېر تخیـل غـواړي او نـه د سـړي فـهم پـځـوي. داسې هم پښتانه پڅـې اچولـو سـره طـالع ویني او هغـه لـه یـوه تـر کـش څخـه د غـشي د بـې احتیاطـه گوزارولـو لـه موقف څخـه معلومـوي. دوی پـه مخـصوصاً د تسبیحو پـه سـمولو سـره بخت ویني. پـه داسې حال کې، چې دوی تسبیح پـه لاس کې نیسي، یـو خیال یـا طرح پـه فکر کې گرځوي او د هغـه پـه زړه پـورې یـا معکوسه نتیجه د هغـو تسبیح دانو نـه معلوموي، چې دوی تـه پـه لاس ورځـي، چې د تسبیحو لـه شروع نـه هغـه جفت یـا طاق وي. تر ۱۸۰۹ وروسته څه وخت چې شاه شجاع لـه خپـل مخالف سره پـه مجادلـه کې و، د هغه یـو فارسیوان وزیـر لـه مـا سره پـه مرکې کې وویـل، چې دی قـوي دلایل پـه لاس لـري، چې شاه شجاع بـه پـر خپـل رقیـب بـری ومـومي. مـا دده خبـرو تـه پـه ځیـر غـوږ نیولی و او هیله من وم، چې بلې خوا لـه ځینو لویانو سره هم مفاهمـه وکړم. ډېر حېران شوم، چې د هغـه وزیـر دغـه یقین د غـشو د موقـف د فـال نتیجـه وه. هغـه زمـا دغـه خواشیني درک کړه او د هغې د رفع لپـاره یې راتـه وویـل، چې زمـا پـه څېر دی هم د غېب ویلو پـه دغـه مزخرف طرز هېڅ عقیده نـه لـري، خو دغـه طرز ډېرو لویانو تطبیق کړی او ویل کېږي، چې هېڅ نـه ناکامه کېږي.

پښتانه کـه څـه هم لـه نـورو اړخونو نـه پـه غیب ویلو ډېره عقیده لـري، اسمان تـه ددغسې التماسو ضرورت نـه ویني او پخوا لـه دې، چې پـه کـوم کـار پیـل وکـړي، توکـل پـه خدای وایي. خپـل سفر زیاتره پـه یـوې لنډې دعا سره شروع کوي، پـه دوی کې دا یـو عمـومي رواج دی، چې کـوم وخت چې یـو څوک پـه کوم سخت کـار لاس پـورې کوي، هغه تـه وایي چې ((توکل پـه خدای وکړه او روانېږه.))

## فـال لیـدل

پـه پښتنو کې یـوه ډېره ظریفـه طریقـه، چې پـه هغې سره د راتلونکیو پېښو پېش بیني کېږي، هغـه ده چې زموږ د خلکو لـه سورتیس ورجیلانس Sortes Virgliance سره ورتـه والی لـري. دغـه طریقـه پـه اتفاقي ډول سره د یـوه کتـاب پـه خلاصولو شروع کېږي او هغـه خطونـه لوستل کېږي، چې د خلاصـونکي سترگې پـرې لگېږي. قـرآن ددغـه مقصد لپـاره تـر ټولـو مهم کتـاب دی او ددغـه طرز اجرا کـوونکی بایـد روژه ولري او پـه اوداسه گرځېدل پـه حقیقت کې د ټولو غېب ویلو او فـال لیـدلو یـو ضروري شرط گڼل کېږي. لـه قرآن کریم پرتـه لـه نـورو کتـابونو څخـه هم ددغـه مقصد لپـاره کـار اخیستل کېږي. د حـافظ اشعار هم ډېر عـام دي، دغـه لانـدینی خـوږه اتفـاقي پېښه یـوه چاتـه پـه لاهور کې پېښه شوې ده. د هغـو مشکلاتو پـه پیـل کې، چې پـه اخر کې یې شاه زمان پاچایي لـه لاسه ورکړه، دحافظ پـه اشعارو فال ولیـد او لـه درې کالو



Property of ACKU

گډوډیو وروسته بیا شاه شجاع پاچا شو. د هغه مقصد دا و، چې په اخر کې به د تیمور شاه کوم زوی تخت وګټي او د کتاب له خلاصولو وروسته یې سترګې په دغه نظم ولګېدلې:

سحر ز عاطف غیبم رسید مژده بگوش
که دور شاهی شجاع است می دلیر بنوش

پښتانه د تعویذونو په قدرت او په پیریانو باندې د نفوذ پیدا کولو په امکان او په داسې نورو مزخرفاتو او اوهامو هم عقیده لري، خو ما د هغوی د ماهیت په اړه کافي بېلګې بیان کړي دي.

* * *

Property of ACKU

# شپږم څپرکی

## مېلمه پالنه، د داړه ماری عادتونه او نور...

### مېلمه پالنه

د پښتنو د یادونې وړ ځانګړتیاوو څخه هم یوه ځانګړتیا مېلمه پالنه ده. دا عادت په دوی کې یو داسې ملي ویاړ ګرځېدلی دی، چې که څوک دغسې احساس ونه لري، هغه په دې تومتي کېږي، چې پښتونولي نه لري. ټول کسان بې له کوم توپیر نه له دغه عادت نه د استفادې حق لري او که یو څوک په ټول ملک کې په تش لاس سفر وکړي، هېڅکله به بې ډوډۍ پاتې نه شي، خو ښایي په ښارونو کې بې ډوډۍ پاتې شي. د یوه پښتون لپاره تر دې بل سپکاوی نشته، چې یو بل څوک دده مېلمه بوځي، خو دده قهر مېلمه ته نه متوجه کېږي بلکې هغه چا ته متوجه کېږي، چې دده مېلمه بیایي. د مېلمه پالنې ټول تفصیلات به هغه وخت، چې د قومونو شرح او بیان کېږي، راشي، دلته یواځې د مېلمه پالنې پر اصولو رڼا اچول کېږي.

ننواتی د پښتنو یو خاص عادت دی. که یو څوک وغواړي له یوه بل چا نه د څه شي غوښتنه وکړي، د هغه کور یا خیمې ته ننوځي او تر هغو د هغه په فرش له کېناستلو او له ډوډۍ خوړلو نه ډډه کوي، چې غوښتنې ته یې د هو ځواب ویل شوی نه وي. که دی د هغه غوښتنه رد کړي، دده عزت ته لویه صدمه ده. دا عادت په دوی کې دومره قوي دی، چې څه وخت یو څوک نېږدې د دښمنانو په لاس کېوځي، دی د یوه بل سړي کور ته په ننواتي ځي او د تنګې غوښتنه کوي. د کور خاوند ځان مجبور ویني، چې ننواتی یې ومني. دی یواځې هغه وخت ننواتی نه مني، چې یا دومره عاجز وي، چې نه شي کولای په موضوع کې هېڅ راز مداخله وکړي او یا دا چې داسې

Property of ACKU

شرایط موجود وي، چې د هغه مداخله ناموزونه گرځوي[1].

تر هغه یو ډېر لا اغېزمن رواج دا دی، چې ښځه خپل پوړنی د یوه پښتون کور ته واستوي او له هغه نه یا د خپل ځان او یا د خپلې کورنۍ لپاره مرسته وغواړي. د همدغه رواج په برکت و، چې د تیمور شاه ملکه په سرفراز خان د وزیر فتح خان په پلار موثره شوه او د خپل زوی شاه زمان په پاچا کېدو کې یې د هغه مرسته لاسته راوړه. دغه پېښه یانې د زمان شاه پاچا کېدل په زیاته اندازه د سرفراز خان د ملاتړ په وجه شوه.

دغه وروستی رواج د مېلمه پالنې له قوانینو سره څه اړه نه لري، بلکې دا یواځې هغه قانون دی، چې څه وخت یو څوک د کوم پښتون په کور کې ننوځي، د هغه ساتنه کېږي. د یوه چا ډېر سخت غلیم هغه وخت، چې د هغه تر سیوري لاندې وي، محفوظ گڼل کېږي. یو ناآشنا سړی څه وخت چې د یوه پښتون خیمې یا کور ته ننوتی وي، تر هغو د هغه د خاوند تر حفاظت لاندې وي، چې دی د هغه په کلي کې اوسېږي. له دغه اصل څخه د یوه فراري د ساتنې او مدافعې وجیبه منځ ته راځي. که څه هم جرم هرڅه وي، همدغه لامل دی، چې له یوه ولس څخه بل ولس ته د ښځو تښتول او د وژونکیو ننواتی غوښتل د فرار په کومې ورته پېښې کې ډېر پېښېږي.

خو هغه حفاظت، چې د مېلمه پالنې قوانین یې مجاز بولي، د یوه کلي او یا په نهایت کې د یوه قوم په حدودو کې دننه وي او له هغو څخه سرغړاوی نه کوي او د پښتنو د داړه مارو قومونو په اړه داسې تثبیت شوي مثالونه ډېر دي، چې لومړی یوه فراري ته پناه ورکړ شوې ده او له سوغاتونو سره رخصت شوی دی، خو څه وخت چې هغه د حفاظت له حدودو نه بهر موندل شوی دی، شکول شوی دی[2].

د یوه اروپایي لپاره ډېره عجیبه برېښي، چې هغه ښځه دوه اړخیزه سلوکونه چې

---

[1] ماته په اول سر کې داسې ښکاره شوه، چې د ننواتي او هندیانو د درنا Dharna د رواج ترمنځ یو څه ورته الی شته، خو دا دواړه رواجونه سره بېل دي. د درنا د رواج له مخې دواړه خواوې روژه نیسي او په پای کې لوږه دوی موافقې کولو ته مجبوروي. برخلاف په ننواتي کې په هېڅ خوا باندې د نه خوړنې اجبار نه شته او ددغه رواج قوت یواځې د هغه چا عزت باندې اثر لري، چې یو څوک ورته په ننواتي ځي.

ننواتی لږ و ډېر د رومیانو د رواج په څېر دی. د رومیانو د رواج په اساس یو عارض د یوه چا کور ته ننواته، په داسې حال کې چې سر به یې پټ و، د هغه په کور کې غلی کېناست. د یونانیانو یو رواج هم له ننواتي سره ورته و. د سرسي Circe په مقابل کې د یولي سیس Ulyses رویه، چې ده د هغې په مېلمستیا کې له گډون کولو نه انکار کوي، خو هغه وخت چې هغې دده رفیقان زړه تنگي کړل هم د ننواتي له رواج سره پوره ورته والی لري. (و ړ ک ( ۳۷۵قصیده ).

[2] ددغې روحیې یو واضح مثال دیره بند ته زموږ د هیئت د غړیو په سفر کې ذکر شوی دی.



Property of ACKU

ارومرو د کورېه او مېلمه ترمنځ کېږي، د دوی ترمنځ په داسې روابط پیدا نه کړي، چې وروسته له دې چې د مېلمه پالنې د ټولو ادابو مراعات شوي وي، دوی یو بل ته له ضرر رسولو نه ډډه ونه کړي. په حقیقت کې د پښتنو د کرکټر په اړه تر هر بل څیز نه په دې پوهېدل ډېر مشکل دي، چې د نااشنا خلکو په مقابل کې د دوی سلوک د زړه سواندی، بې رحمی، سخاوت او حرص یو مخلوط دی. داسې ښکاري چې دوی د مملکت په هغو برخو کې چې هلته حکومت ضعیف دی، د لارویو چورول یو منل شوی کار ګڼي. په داسې حال کې، چې دوی په نورو لحاظونو لارویو سره د مهربانی او لطف نه ډک سلوک کوي. دوی نظر د حقوقو رعایت ته بخشش ورکولو ته دومره ډېر متمایل دي، چې هغه پښتون ددې په ځای چې یو لاروی له خپلې چپنې څخه، چې که یې لري، محروم کړي. هغه ته یې که یې هیڅ نه لري، د بخشش په ډول ورکړي. که دغه تناقضات یوائې د دوی په خپل ملک کې ښکاره کېدلی د دوی سلوک په یوه بانډني ملک کې څنګه شرح کړو، چې هلته هغه په دوی د مېلمه پالنې حق نه شي لرلای. په خارج کې یا په داخل کې د پردیو په مقابل کې د پښتنو د سلوک په اړه، چې زه څه ثقه معلومات په لاس لرم، ټول یې د هغه وخت چې دوی له دغو اصولو څخه د سرغړونې محرکات نه لري، د انسان پالنې او مهذب توب انتباه ورکوي، خو هغه وخت چې د یو لاروي د شکولو موقع موجوده وي او ان څه وخت چې د هغه په غولولو سره ډېر څه په لاس راتللی شي. د پښتنو په سلوک کې بیا د عدالت او ښه نیت اثار نه لیدل کېږي. حقیقت دا دی، چې دغه ښه خویونه د عمومي مهربانی لازمي ملګري نه دي او موږ باید هم د یوه ښتته والي د بل له غېبت نه پیدا ونه بولو. ممکن عالت او ښهٔ نیت سره یوځای پیدا نه شي، خو یوائې هغه وخت چې د هغو حمایه د حکومت په قوانینو سره کېږي، په داسې حال کې عین هغه شرایط، چې د هغو له مخې جامعه خپل افراد پخپلو کې ازاد پرېږدي، هغوی په دې مجبوروي، چې یوه په بل اتکا وکړي او یو بل ته لاس ورکړي.

ښایي د همدغه وروستي لامل په اساس موږ په ژوندانه کې د عمومي پالنې د ورو ټکو په اړه د انګلیسانو په عین صفت باندې د ډېرو اسیایانو په لوړوالي قایل شو. په داسې حال کې، چې په نورو صفتونو کې انګلیسان ترې ډېر لوړ دي.

## داړه ماري

داسې ښکاري، چې د لارویو د لوټېدو ډېروالی د پښتونولی د قانون له تیمګرتیاوو څخه راولاړېږي. د پښتونولی قانون مظلوم لپاره د هدایت د خوندي کولو په منظور پخپله د هغه او د هغه د خپلوانو او قامونو په زیار او قوت اتکا کوي او څنګه چې یو لاروی نه قوم او نه خپلوان لري، د هغه د ساتنې لپاره څه

مقررات نه دي ایستل شوي. ددغه فرضیې د اثبات لپاره باید ووېل شي، چې پښتانه په عمومي ډول نه د خپل ګاونډیو ملکونه چوروي او نه هغه کسان شکوي، چې د دوی د ملک په کومې برخې کې ژوند کوي او یوائې لاروي شکول کېږي. د لوټمارۍ دغه عادت د ملک په بېلابېلو برخو کې په بېلابېلو درجو غلبه لري. د پاچا حکومت د ټولو خلکو ساتنه تر هغه ځایه، چې یې د قدرت لاس غځېدلی وي، په یو شان کوي. په نتیجه کې هغه وخت چې حکومت پرځای وي، یو څوک له لږ خطر سره مخامخ کېږي، خو یوائې په هغه قومونو کې، چې د هغوی موقعیت دوی په دې قادر ګرځوي، چې له حکومت سره ډغرې ووهي. ددې پرخلاف د داخلي جنګونو په دوران کې ټول مملکت له قید څخه ازاد ګرځي او یو لاروی څنګه چې د وزیرستان په غرونو کې شکول کېږي، هغسې کابل ته نږدې هم چورېږي، بې له دې چې شکوونکی یې څه جزا وویني، خو د حکومت ښه تنظیم د مملکت په هغو برخو کې، چې اوسېدونکي یې معمولاً مېشت دي، خلک له دې افراط څخه منع کوي او په غالب ګومان په دوی کې یوائې ډېر بد عناصر د خپل داړه مارۍ عادت ته همغسې دوام ورکوي.

هغه قومونه چې د مملکت په لوېدیځ کې په داړه مارۍ عادي دي، د درانیو د اڅکزي ښاخ او بلوچستان، فارس ته نږدې د ښتو کې مېشت نورزیان او د هغه توچي غلزي دي، چې د پاراپامیزوس د غرونو په یوې برخې کې مېشت دي. د نورو قومونو له ملک نه یو لاروی په لږ و ډېر مصونیت تېرېدلی شي، خو په هغه وخت کې چې ناارامي ډېره وي، ممکن د مملکت دوام لرونکې ناارامي ګانې په دغه اړه د دوی کرکټر لا هم په بدو واړوي. وېل کېږي، چې د مملکت په لوېدیځ کې مالدار قومونه نظر هغو قومونو ته، چې په کرنه ژوند کوي، غلا او لوټمارۍ ته ډېر متمایل دي. د سلیمان د غرونو ټول قومونه په تېره بیا خیبریان[1] او وزیر په داړه مارۍ کې ډېر بد نوم لري او دوی دغه کار د خپل داخلي حکومت د شرایطو له امله کوي. د ختیځ نور ټول پښتانه، چې څه وخت وغواړي لوټمارۍ ته میلان کوي، چې له دوی سره د حکومت ډار نه وي، په لویو لارو کې په رڼا ورځ شکاونه کوي. څه وخت، چې دوی ځانونه ډېر خوندي نهویني، په تجارتي مالونو ډېر محصولونه ږدي او یا په دې ډول خواست کوي، چې رد یې نه کېږي او کله چې دوی د لوټمارۍ جرئت نه لري، غلا کوي، خو د ښارونو په شاوخوا لریو فاصلو کې یو لاروی د حکومت د محافظت له امله ښه پسته محفوظ دی.

[1] له خیبریانو څخه مطلب شینواري، مومند او اپریدي دي. ژباړن



Property of ACKU

## مصئونیتونه

له خیبریانو پرته په نورو قومونو کې دا ممکنه ده، چې د هغوی له مشرانو سره د موافقې پر اساس د هغوی له سیمو څخه د تېرېدلو په غرض د مصئونیت ضمانت حاصل شي. دغسې ستر قومي مشران د ورو بخششونو په مقابل کې یو چاته یوه وړه بدرگه تهیه کوي او د هغې تر حمایې لاندې په پوره ډاډ سفر کوي. په ډېرو قومونو کې یواځې یوه کسیزه بدرگه کفایت کوي، خو چېرته چې داخلي حکومت ډېر ضعیف وي، په کوم ځای کې چې د چورېدو ډار قوي وي، د هغه مال د مقدار په تناسب چې باید ساتنه یې وشي د بدرگې یوه ډله برابرېږي. د یادونې وړ ده، چې دغه ترتیبونه په ټولو هغو قومونو کې هم چې له پاچایي سره ډېر لږ ارتباط لري او معمولاً د داره ماری قوي خویونه لري، ښه اغېزمن دي. په دغو قومونو کې داسې گڼل کېږي، چې ولس له یوه لاروي سره هېڅ اړیکې نه لري او ځان ازاد بولي، چې په هغه حمله وکړي او داسې فکر موجود دی، چې دغسې حمله د یوه غېرتمن جنگ په حیث شمېرل کېږي[1] خو کله چې دوی د ساتنې ژمنه کړې وي، دوی ځان مجبور گڼي، چې هغه ترسره کړي، له بلې خوا د تابعو قومونو خلک د لوټماری په جرم ښه خبر دي او کله چې د دوی کوم قوم دومره فاسد شوی وي، چې په هغه لاس پورې کړي، له دوی څخه د عزت د کم احساس توقع کېږي.

ښایي د پښتنو د ښه نامه په ویاړ وویل شي، چې په ټولو موضوعاتو کې د دوی داره ماری هېڅکله له وژلو سره نه کړکېچن کېږي. یو څوک ممکن د خپل مال په دفاع کې ځان بایلي، خو کله چې مقاومت ونه کړي، نه وژل کېږي.

زه د داخلي جنگونو په جریان کې د دواړو خواوو د مشرانو له خوا د کاروانونو د چورولو په اړه نه غواړم څه ووایم، دا د یوه مصلحت په حیث گڼل کېږي او یواځې د ضرورت له مخې په ښو وختونو کې د بېرته ورکولو د وعدې له مخې جایز بلل کېږي.

＊ ＊ ＊

[1] په پخواني یونان کې د خویونو او نظریو مشابه حال لپاره وگورئ د توسیدتس (Thucy dites) اثر، لومړی کتاب، پینځم څپرکی.



Property of ACKU

# اووم څپرکی

## د پښتنو خویونه، عادتونه او کرکټر

### د مالدارۍ ژوند

د پښتنو د ژوند طرز په ټول ملک کې یو شان نه دی او د تنوعاتو لپاره زه باید قومونه بیا په مفصل ډول شرح کړم، خو په دغه ځای کې به زه د خپل پلان له مخې د هغه څه ذکر وکړم، چې په ټولو کې په مشترک ډول وجود لري. لازمه بولم، د اختلاف یو لوی علت ان همدغلته ذکر کړم. دغه اختلاف د خېمو او کورونو په اوسېدونکیو سره ددغه ملت وېش دی. هغه چې په عمومي ډول په خېمو کې ژوند کوي، د مملکت په لویدیځ کې موندل کېږي او نږدې ددغو اوسېدونکیو نیمايي برخه تشکیلوي، خو څنګه چې خلک د مملکت په ختیځ کې په کورونو کې ژوند کوي، د دوی تناسب باید په ټول ملت کې حتماً ډېر وي. په غالب ګومان د خېمې اوسېدونکیو شمېر ډېر لږ شوی دی او زه په دې فکر یم، چې د دوی شمېر لا هم پسې لږېږي. داسې ښکاري، چې هغه اسانتیا چې په هغې سره قومونو په پخوا زمانو کې د اوسېدو ځایونه بدل کړي، له هغه فکر سره تصادم کوي، چې ګواکې دوی ټول کوچیان او مالداران وو او په خېمو کې یې ژوند کاوه. که څه هم له دې څخه انکار نه کېږي، چې په زراعتي قومونو کې هم لوی مهاجرتونه پېښ شوي دي.

د خاص فارس له پولو د هندوستان تر پولې پورې د یوسفزیو لېږدېدل په یوه بل ځای کې بیان شوی دی. دا هم معلومه ده، چې د پېښور شاوخوا نور قومونه د خراسان له ختیځ څخه خپل اوسني ځای ته کوچېدلي دي. تر هغه هم په وروسته دوره کې غلزیان د خپلو ملکونو له زیاتو برخو څخه د نادر شاه په حکم وکوچول شول او دوی د درانیو د یوې برخې لپاره ځای برابر کړ، خو دا یو اجباري انتقال و، چې د یوه قوي فاتح له خوا نافذ شو او په یوې پېړۍ کې د خپلې رضا مهاجرت پېښ شوی نه



Property of ACKU

دی. څنګه چې ماته ښکاري دا هغه ثبوت دی، چې د هغه له مخې سړی ویلی شي چې د خلکو د کرنې ژوند غوره کړی دی او دا راز ژوند دوی طبعاً په مخکې پوړې تړي ممکن دا دومره واضحه نه وي، چې دغه میلان په دوی کې تراوسه هم قوي وي. خو یو شمېر خلک که څه هم تراوسه په خېمو کې ژوند کوي او د مالداری ژوند لري بیا هم له خپلو ځمکو څخه هېڅکله نه بېلېږي.

دا په څرګند ډول ښکاري، چې دا له موسمي حرکت او د اوړي په کمپ کې د یوې ټوټې ځمکې له کرلو څخه د دایمي اقامت لپاره تر کورونو جوړولو پورې د دوی د ترقۍ مرحله او داسې. ددې یو تازه مال د ستوریانیو یا د هغه قوم مثال دی، چې د مالدارۍ ژوند یې د کرنې ژوند لپاره پرې ایښي دی، خو له بلې خوا د داسې خلکو د مثالونو کمی نشته، چې مېشت ژوند یې د کوچي توب په ژوند بدل کړی دی. د اوسنیو سیاحانو یې ډېر دقیقه ګرځنده ویلي دي، چې عادت ممکن د کوچي توب ژوند په زړه پورې وګرځوي، سره له دې چې هم یوائې دوه علتونه موجود دي، چې په لومړي سر کې یې خلک رابللي دي، چې د کوچیتوب ژوند غوره کړي.

۱ـ د خلکو د ملک د خاورې خرابوالی، چې دوی یې مجبور کړي دي د ژوند د لتې لپاره لرې ځایونو ته کوچ وکړي.

۲ـ د خراب حکومت چار چلند، چې د هغو په اثر خلک ځان مجبور وګڼي له ظلم څخه وتښتي، او د اوسېدلو ځایونه بدل کړي[1] زه باید په دې اعتراف وکړم، چې د پښتنو مثال ما دې ته بولي، چې د دوی له نظر سره موافقه وکړم. ماته داسې ښکاري، چې پښتنو ته د مالداری ژوند ښه په زړه پورې دی. دغه خلک په خپلې خوښې د مالداری ژوند غوره کوي او په ارمان سره یې پرېږدي او موږ باید دا چې دغه قومونه په نادر ډول خپلې ځمکې پرېږدي او د کوچیتوب ژوند غوره کړي، د دوی عادت ته منسوب وبولو. د کوچیتوب او مالدارۍ ژوند ښه پردې چې خلکو ته د حکومت له ظلم او تعدی څخه نجات ورکوي (دا خلاصون یوائې د کوچیو قومونو لپاره منحصر نه دی) نورې ډېرې ګټې هم لري. د کوچیتوب ژوند آسان، مصئون او آزاد دی، کوچیانو ته ډېر څه مهیا دي، بې له دې چې له دوی نه ډېر کار وغوښتل شي، دوی د مختلفو اقلیمونو ګټې سره یو کوي او د کهالۍ له بې مزې ژوند څخه د طبیعي انځورونو وخت په وخت بدلون او د دایمي سپورتي ژوند په کولو سره خلاصون ممکن ګرځوي. داسې هم کوچیان په دې چې د مملکت په ډېرو برخو کې خواره دي، د خپل داخلي حکومت له قید نه تر ډېرې اندازې ازاد دي.

[1] والیني سفر Voyage par Volney (XX III) څپر کی، دریمه برخه. زه دغه لیکوال نوم بې له دې، چې د هغه لیاقت ته د خپل احترام یوه برخه واستوم، نه شم یادولی.



Property of ACKU

یو څو کورنۍ، چې د اصل نسب له مخې سره ډېرې نږدې وي او په یوې داسې پراخې سیمې کې اوسي، چې د دوی تر احتیاجاتو زیات محصولات تهیه کوي. دوی د خپلې آرامۍ د ساتنې لپاره حکومت ته ضرورت نه پیدا کوي. د یوه آزاد انسان موقف به که څه هم د ولس تر محدود کنټرول لاندې ښایي بایا هم وي، خو د هغه انسان له حال سره نه شي مقایسه کېدی، چې په داسې ټولنې کې ژوند لري، چې هم د حکومت له کنټرول او هم د انارشۍ له بې نظمیو څخه مامون وي. ددغسې حسد وړ ژوندانه د طرز د ترک کولو یو لوی علت، چې ماته معلوم شوی، هغه دی چې ام.وال.نې M.Volney کشف کړی او هغه د ژوندانه د تامینولو ستونزې دي.

دغه سختۍ بایله حتماً د یو شمېر کروندګرو پرخلاف د هغه ټاکلي شمېر شپنو له خوا په زیاته اندازه احساس شي او په دې ډول یواځې هغه وخت، چې د نفوس په تناسب محدود وګرځي، د مالدارۍ ژوند په زړه پورې کېدای شي.

د انسانانو او څارویو زیاتوالی زر د یوې خاصې سیمې د څر ځای په اړه شخړې او لانجې پیدا کوي او هر شپون هغه وخت، چې حدود تنګ شوی او خپلې اړتیاوې ډېرې شوې ووینې، د خپل ژوندانه د برابرولو لپاره ځان مجبور وینې، چې د ځمکې په کرلو هم پیل وکړي. دا هغه بدلون دی، چې په هغه سره تر لسو میلو سفر څخه، چې تر اوسه یې کول شل جریبه ځمکه د لا زیاتو انسانانو لپاره د ژوند مواد تهیه کولای شي. زه نه غواړم، چې له دې څخه انکار وکړم، چې داسې ملکونه شته، چې د کرنې لپاره مساعد نه دي او خلک یې مجبور دي په مالدارۍ ژوند وکړي یا دا چې ظالم او خراب حکومت به ددغسې ملک اوسېدونکي مجبور کړي، چې د ژوندانه دغه طرز غوره کړي، خو زه وایم چې داسې نور ترغیب کوونکي لاملونه شته، چې پخپله د ژوندانه له ماهیت څخه ولاړېږي او زه په ټولو ګرځنده قومونو باندې د هغه نظر په عمومي کولو انتقاد لرم، چې د سوریې د ملک په اړه صدق لري.

## د عامو خلکو کورونه:

له دې وروسته به په افغانستان کې د شپنو د خېمو بیان وشي، لکه هسې چې د کورونو بېل بېل ډولونه شرح کړای شول. کورونه په ډېر عام ډول له خامو خښتو څخه جوړ او یو پوړیز دي، بامونه یې هوار دي، چې یا په دستکونو پوښل شوي او یا له دغسې ګونبزو څخه جوړ دي، چې مواد یې عیناً د دېوالونو د موادو په څېر دي. څنګه چې مېزونه او څوکۍ رواج نه لري، د ناستې لپاره یې له سخت وړین ګېلم یا د لېمڅیو ځینو ټوټو پرته، د کورونو فرش یا لږ دي یا هېڅ نشته[1].

---

[1] څنګه چې زه وروسته ددغه ډول لیمڅي ذکر ډېر کوم ښه به دا وي، چې دلته یې شرحه کړم. لیمڅی له وړیو څخه چې په عمومي ډول د کلیو وړینو شالونو او تورو وړینو مصنوعاتو څخه لاس ته



Property of ACKU

بر درانیان په داسې کټکیو کېني، چې لاندینۍ برخه یې له څرمنې یا رسۍ نه جوړه وي او ښاري خلک زیاتره د یوې خونې په کونج کې په سفه باندې ناسته ولاړه کوي، خو خلک په عمومي ډول په ځمکه کېني.

څه وخت، چې خلک په ارام او راحت وي، پلتۍ وهي او یا خپل لینګي په هر قسم، چې ورته په زړه پورې وي، غځوي خو څه وخت چې لږ تشریفاتي مراسم هم په کاروي، لږ څه په رسمي ډول کېني. په دې حال د دوی زنګنونه جګ او لینګي یې ترې لاندې او په کالیو کې پوره پټ وي. یو اروپایي په دې ډول کېناستلی نه شي.

خو د اسیایانو مفصلونه داسې نرم دي، چې که څه هم د دوی لینګي په ځمکې باندې غوړېدلي وي، دوی په همدې ترتیب سره بې د ناارامۍ له احساس څخه په ورځو ورځو ناست وي.

## د وخت تېرولو طرز

د ناستې په حال کې د پښتنو عادي کار خبرې کول دي. په دغه حال کې کله کله دوی چلم څکوي او له یو څو پوفو وروسته یې په ځای ږدي. په افغانستان کې ډېر عام چلم، چې له ختو څخه جوړ دی، د یوه پراخ بوتل په څېر دی، چې غاړه یې لا هم پراخه وي. د شتمنو چلمونه ډول ډول او رنګه وي، زیاتره یې له زېړو او هم له ښیښو څخه جوړ دي او په ګلانو ښکلي شوي دي. چلم له اوبو نه ډکېږي او د لرګیو دوه ښکلی شوې درمې (د نی د قلم په څېر) پکې نښلېستل کېږي، یو یې عمودي او په سر کې یې سرخانه وي، چې هلته تمباکو او اور ایښودل کېږي.

له هغه بل څخه دود، چې له اوبو څخه تېر شوی وي، کشېږي. دود، چې له دغو اوبو څخه تېر شوی وي، لږ څه سوړ او له ورو کثیفو زرو څخه چې له هغه پرته یې ولري، پاک وي. ټول فارسیوانان دغه راز چلم د ورځې په اتلسو وقفو کې څکوي. دوی د خپل چلم د ښکلا په اړه تر پښتنو ډېر متوجه دي. پښتانه هغه اهمیت، چې فارسیوانان یې چلم ته ورکوي په ښکته سترګه ګوري او ورپوې خاندي. دوی کیسه کوي، چې د یوه سفر په پای کې د دغه ملت له یو څو کسو څخه وپوښتل شول، چې سفر یې څنګه و؟ دوی ووېل، چې سفر مو ډېر ښه وو، خو یوازې د چلم د نشتوالي له

راوړل کېږي ، جوړېږي. لیمڅي د ښځو په لاس داسې جوړېږي ، چې هغوی اول وړی لمدوي ، بیا پرې کار کوي او تر هغو یې وړاندې او وروسته په څنګلو تاووي ، چې یو منظم شکل غوره کړي یا یې په هغه اندازه ، چې غواړي غوړوي او څه وخت چې دا کار خلاص شي د یوه انچ له څلورمې څخه تر نیمایي پورې پرېږ ي او ښه نرم او پوست وي. هغه لیمڅي چې خلک یې اغوندي تر هغو هم نري وي. د لیمڅي عمومي رنګ خاورین او تور وي ، خو هغه چې د شتمنو په کورونو کې استعمالېږي او ښه ټینګ وي ، په روښانه نسواري او د ګلانو په رنګه طرحو ښکلی شوی وي.

لامله په زحمت وو. له دغو دولسو کسو سره، چې د سفر ډله یې جوړه کړې وه، یوولس چلمونه وو.

## چلم او نسوار

پښتانه د فارس د خلکو په اندازه په چلم څکولو عادي نه دي او زیاتره یې له تنباکو څخه په دغه ډول استفاده نه کوي.

د افغانستان په کلیو کې زیاتره له یوه لوی چلم څخه، چې په یوې حجرې او یا بل کوم عمومي ځای کې د عامو وګړیو د استفادې لپاره ایښودل شوی وي، بل چلم نه وي. پښتانه د چلم پرځای نسوار کوي او دوی په نسوار کولو ډېر عادي دي. د دوی نسوار د سکاټلینډیانو د نسوارو په څېر وچ او ښه دي او زموږ په څېر یې دوی په هوارو کوټیو کې نه اچوي، بلکې د هګۍ په شکل په ګردو ډبلیو کې یې ساتي. د دوی د نسوارو ډبلی د میوو له پوټکو څخه جوړ وي، چې دوی یې بلاغونډه او هندوستانیان یې بیل Bail بولي او د همدغه مقصد لپاره په زیاته اندازه له هندوستان څخه وارد ېږي. دغه کوټۍ د نسوارو اېستلو لپاره پوښ نه لري، بلکې په سر کې یو سوری لري. کله دغه ډبلي په ډېر مهارت سره ښه ښکلی شوي وي.

## د مېلمنو هرکلی او نارې

څه وخت، چې مېلمه د چا کره ځي، سلام علیکم وایي او وعلیکم السلام ورته د ځواب په توګه ویل کېږي. د کور خاوند بیا ولاړېږي، د مېلمه لاسونه په خپلو لاسونو کې نیسي او ورته وایي ((ښه راغلې، هرکله راشې)) او داسې نور. مېلمه بیا وایي ((ښه په خېر یې)) د کور څښتن وروسته مېلمه ته د ناستې ځای ښيي او څه وخت، چې دوی ټول کېناستل، کوربه د خپل مېلمه د صحت پوښتنه کوي او ورسره په خبرو کولو پیل کوي. دغسې مراسم ان د ډېرو غریبو پښتنو له خوا هم ترسره کېږي، خو هغه وخت چې دغه مراسم اجرا شول، پښتانه نو بیا تر ټولو خلکو ډېر بې تکلفه وي. په عمومي ډول دوی تر یوې اندازې پورې سنګیني لري، خو دغسې سنګیني هېڅکله د آزادو او خندانه ډکې مرکې مسخه نه نیسي او کله کله په عین سنګینۍ کې دوی په ډکه خوله خاندي. ([1])

پښتانه ښه خوش مشرب خلک دي. دوی سربېره پر هغو لویو مېلمستیاوو چې په ودونو او همداسې ورته مواقعو کې ورکول کېږي، د پنځو یا شپږو کسو لپاره ناری

[1] ښاغلی د وري Durie دلوید ځوپښتنو په باب داسې لیکي ((دوی باوقاره خلک دي اوزیات نه خاندي ،مګر ډېر ګړېږي او په خپل منځ کې اشنا ښکاري ،ځینې وخت دنړۍ دنورو خلکو په شان ښه خندان او خوښ وي .))



Property of ACKU

کوي او زیاتره وخت چې یې په وسه کې وي پسه حلالوي. د میلمنو هر کلي په هغو مراسمو سره کېږي چې مایې بیان وکړ.

څه وخت چې ټول مېلمانه راغلي وي، د کور خاوند یا د هغه د کورنۍ کوم بل غړی د مېلمنو لاسونه پرې مینځي او بیا ډوډۍ راوړل کېږي، ډوډۍ په عمومي-ډول له زوښیدلې غوښې او شوروا څخه هم چې غوښه پکې زوښیدلې وي- متشکله وي، له مالګې او کله کله له مرچونه غیر نور اضافي شیان نه لري. دوی دغه شوروا له ډوډۍ سره، چې دوی یې پکې خیشتوي، خوري او ویل کېږي چې دغه ترکیب ښه مزه داره دی. څښاک یې شړومبې یا شربت وي. دوی په ځینو ځایونو کې یو راز شراب، چې دوی یې له شیدو څخه جوړوي، څښي. ویل کېږي چې دغه شراب که نېشه راوستونکې خاصه نه لري، ښه تودوونکی صفت لري. کوربه د خوراک په وخت کې د خوراکونو سپارښتنه کوي او مېلمنو ته په ټینګار وایي، چې ډېره وخوري او څه پرې نه ږدي، ځکه چې ډوډۍ ډېره وي. تر ډوډۍ د مخه او وروسته دعا کوي او څه وخت، چې هرڅه پای ته ورسېدل، مېلمانه کوربه ته کورودانی وایي.

## کیسې او غزلې

تر ډوډۍ وروسته دوی کېني او چلم څکوي او یا د کیسې او بدلو ویلو لپاره یوه دایره جوړوي. بوډاګان لوی کیسه ویوونکي دي. د دوی کیسې د پاچایانو او وزیرانو، د پیریانو او ښاپیریانو دي، خو ډېری یې د ښکلي او د جنګ په اړه وي.

دغه کیسې زیاتره له غزلو او نارو سره ګډې شوې وي او تل د غیرت په ټکي ختمېږي. پښتانه له کیسو او غزلونو څخه ډېر خوند اخلي. څه وخت چې یوه کیسه ویل کېږي، دوی ټول چوپ ناست وي او د هغې په پای کې ټول د ستاینې لپاره ناره وهي((ای شاباش.[1])) د دوی نږدې ټولې غزلې د مینې په اړه وي، خو دوی ډېرې نورې بدلې هم لري، چې په هغو کې د خپلو قومونو جنګونه او د انفرادي مشرانو مېړانه ستایي. له دغه غزلونو پرته ځینې کسان قصیدې او یا د نامتو شاعرانو شعرونه لولي، نور یې شپېلۍ، رباب، کمانچه، سرنده یا سرنۍ وهي. غزلچیان معمولاً له رباب یا سرندې سره خپل اواز ملګری کوي. د دوی د نظم ویوونکي بزګران او شپانه او زیاتره کسبي شاعران او کله کله د پخوا یا موجود وخت نامتو مصنفان دي.

---

[1] ښاغلی دوري Durie د لویدیځو پښتنو په اړه داسې لیکي((دوی باوقاره خلک دي او زیات نه خاندي، خو ډېر ګرځېږي او په خپل منځ کې اشنا ښکاري، ځینې وخت د نړۍ د نورو خلکو په څېر ښه خندان او خوښ وي.))



Property of ACKU

## ساعت تېري ګانې

ښکار د ټولو پښتنو لپاره یوه ډېره په زړه پورې ساعت تېري ده، چې د سیمې او د ښکار د حیواناتو د ماهیت له مخې په بېلا بېلو ډولونو ترسره کېږي. ډله ډله خلک زیاتره وخت یا په آسونو یا پیاده سره ټولېږي او یوه نیم داېروي حلقه جوړوي. دا حلقه د یوې سیمې یوه پراخه برخه نیسي او په یقین سره هر هغه ښکار تعقیبوي، چې ددغو حلقو په حد کې راځي. دوی په دې ترتیب په مخ ځي، چې خپل ښکار یا په یوې تنګۍ درې او یا په یو کوم بل مناسب ځای کې ننه باسي. څه وخت، چې ورته ښه نږدې شي، له خپلو سپیانو او ټوپکو سره پرې وردانګي او زیاتره په یوې ورځې کې یو یا دوه سوه ترښه وژني. تر هغه لا هم په کثرت سره یو څو کسه له خپلو ټوپکو او تازیانو سره یوځای بهر وځي، چې د غرڅو، هوسیو او ګیدړو ښکار وکړي او یا هر هغه څه وولي، چې یې په مخ ورځي.

دوی د هېواد په ځینو برخو کې غرڅې او شاید سویان په راغونډولو سره نیسي. دوی غرڅې د تربیه شویو غویو او اوښانو په مرسته ولي، دغه حیوانات د دوی او د ښکار ترمنځ په داسې ډول ځي، چې ښکارچیان نه ښکاره کېږي. دوی په ژمي کې لېوان او نور وحشي حیوانات په واورو کې تعقیبوي او له خاصو ځایونو څخه پرې ډزې کوي. په ځینو ځایونو کې دوی کومې چینې ته نږدې یو سوري کې کېني، ځانونه په دغه سوري کې پټوي، چې غرڅه یا هر هغه بل حیوان، چې د شپې د اوبو څښلو لپاره چینې ته ورځي، نو ډز پرې کوي او له پټنځایه غورځوي. داسې هم دوی د کوږ د ښکار لپاره د شپې له خوا بیرون وځي، چې دغه حیوان په هغه وخت کې وولي، چې له خپلو ځایونو څخه د ښکار لپاره بېرون کېږي نور مرغان د الوتو په وخت کې هېڅ نه وي، خو هغه وخت چې دغه مرغان په ځمکې ناست وي یا یې منډې وهي یا له نږدې څخه پرې ډزې کوي. دوی د هېواد له شرق پرته په نورو سیمو کې په بازو ښکار نه کوي، خو دوی زیاتره وخت زرکې په دغسې ډول په منډه نیسي، چې ښکار کول یې تر هغو، چې په فکر راځي په اسانۍ سره ممکن کېږي. دوه یا زیات سواره کسان زرکې پسې ځغلي او الوزوي یې، ښکارچیان په دې ډول یو په بل پسې په پرله پسې ډول دا کار کوي او زرکه ارام ته نه پرېږدي. تر څو هغه دومره ستړې شي، چې نور نو الوتلی نه شي او د ځمکې په سر ځغلي. ښکارچیان بیا ورته ځان رسوي یا یې په لاس نیسي او یا یې په لرګیو وهي.

که څه هم ښکار کول په ټول افغانستان کې یوه ډېره عامه ساعت تېري ده، خو لویدیځ پښتانه تر ټولو زیات ښکار کوي. په دغو پښتنو کې هغه غزلې او کیسې چې ړومبی یې بیان وشو، زیاتې او په ښه ډول اورېدل کېږي.

Property of ACKU

داسې هم هغه ساعت تېري ګاڼي، چې له دې وروسته به شرحه شي، په دوی کې په زیاته اندازه موندل کېږي.

## سپورټونه او نڅاوې:

مسابقې په تېره په ودونو کې ښې معمولې دي. واده والا یو اوښ تهیه کوي، چې ښایي په منډه ونیول شي. شل یا دېرش په آسونو سواره کسان په ښه هوار میدان کې تر لسو یا دولسو میلو وړپسې ځغلي. داسې هم په پښتنو کې شخصي مسابقې ښې دود دي، خو څنګه چې په فارس کې معموله ده، پاچا دغو مسابقو کوونکیو ته د جایزې جامونه (کپونه) نه ورکوي. د شتمنو په منځ کې په نېزو سره لوبې کول یوه ډېره مروجه ساعت تېري ده. دوی په داسې حال کې، چې سواره وي پر یوه لرګین میوګي، چې په ځمکه کې ښخ وي، حمله کوي چې هغه د نېزو په څوکو سره یا پرې کړي او یا پورته کړي. داسې هم دوی په آسونو سپاره په ټوپکونو نښې ولي، د ټولو طبقاتو خلک په ټوپکو، لېندو او غشو په ټاکلو نښو ډزې کوي. په داسې مواقعو کې زیاتره وخت په یوه خوا کې کله که له یو کلي او یا د یوه کلي له بېلا بېلو برخو څخه له لسو څخه تر شلو مېړو پورې ټولېږي. دوی په شرط سره نښې ولي، دا شرط معمولاً ناري وي، خو هېڅکله د زیاتو پیسو شرط پکې نه وي. په کورونو کې هم د دوی ساعت تېري ګاڼې ډول ډول وي، که څه هم چې قطعه بازي (تاش) په دوی کې هېڅ رواج نه لري او په هوارو تختو سره قمار ډېر کم پکې لیدل کېږي.

لو یدیځ پښتانه د اتڼ یا غومبر[1] نڅا په ډېرې خوښۍ او شور و زوږ سره کوي. له لسو څخه تر شلو پورې ښځې یا نارینه یوه کړۍ جوړوي، دوی دغه کړۍ په اوږي کې د خپلو خېمو د وړاندې او په ژمي کې د اور شاوخوا ته جوړوي. یو نفر د حلقې په منځ کې بدلې وایي او د ساز کوم سامان وهي. نڅا کوونکي یو شمېر حرکتونه اجرا کوي، ناري وهي، لاسونه پرقوي او ګوتې ښکته پورته کوي. کله کله دوی لاسونه سره ورکوي او د ساز په قرار په ورو یا چټکۍ سره خوځېږي او ټول په ګډه او کورس (یو اواز) سره ناري وهي. هغه وخت، چې ما ته اتڼ وښودل شو، له هغه سره یو عشقي غزله په یوه ډېر ښکلي اهنګ سره وویل شوه، آهنګ یې ډېر ساده و او د سکاټ لیندیانو آهنګ ته ورته و.

[1] غومبر د اتڼ په څېر کومه نڅا نه ده، بلکې د اتڼ او نڅا د جوش هغه حالت دی، چې غومبر پکې وهل کېږي. ژباړن.



Property of ACKU

## لوبې:

د پښتنو ډېرې لوبې زموږ په نظر ماشومانه ښکاري او د دوی له لوبو ړیرو او باوقاره وضعې سره ښې نه ایسي. پښتنو په ټول ملک، فارس او زما په فکر په ترکیې کې هم لوبیان له وړو تېږو او ګټو سره لوبې کوي. یوه لوبه، چې ډېر عمومیت لري، درانیان ورته خوسی او تاجکان ورته کبه ډي[1] (Cubuddy) وایي. په دې لوبې کې لوبغاړي په ښي لاس سره کینه پښه نیسي او په یوې پښې سره ټوپونه وهي او په دې هڅه کې وي، چې خپل رقیب چې هغه په همدغسې حال کې مخامخ پرې راځي، مغلوب کړي.

څو تنه لوبغاړي په یوې خوا او څو تنه بلې خوا کې وي، دا لوبه تر هغې چې ما یې بیان وکړ، ډېره پېچلې ده، خو بیا هم د لوبیانو لپاره عجیبه معلومېږي.

غل پاچا، چندرۍ، چې په موټیو سره کېږي او یوه بله لوبه لکه د خولۍ لوبه، چې په یوې خولۍ سره کېږي، هم د پلهوانۍ او زور او مهارت ازمویلو په شان ډېر رواج لري. د مرزانو جنګول، چرګانو جنګول، سپیانو جنګول، ګډو جنګول او ان اوښانو جنګول هم ډېر ستاینکي لري. ما پخپله لیدلي چې دوه اوښان په جنګ اچول شوي او اوښان د تېرېدو او نسل اخیستنې په موسم کې په ډېرې توندۍ او غضب سره جنګ کوي. څه وخت، چې جنګ خلاص شي، تماشاچیان مجبور دي، د مغلوب اوښ لپاره لاره پرېږدي، ځکه چې هغه په چټکۍ میدان پرېږدي او تښتي او زیاتره د جنګ له میدان څخه د فاتح اوښ له خوا تر ډېرې فاصلې پورې تعقیبېږي. په دغو ټولو لوبو کې یو شرط تړل کېږي.

کله کله د پیسو لپاره هم حیوانات او مرغان په جنګ اچول کېږي، د لوبې وړونکي پر شوی چرګ، ګډې یا اوښ ترلاسه کوي، خو عمومي شرط په یوه مېلمستیا وي.

## کالي:

د ټولو نارینه و کالي یو شان نه دي، خو ماته داسې ښکاري چې هغه کالي چې اوس د مملکت په لویدیځ کې رواج لري، د ټول ملت اصلي جامې اوسي. دغه کالي لاندې اجزا لري: یو آرت پرتوګ، چې له تور کتان څخه جوړ وي او یو پراخ کمیس[2] چې د واګون والا له فراک یا قبا سره ورته دی، خو لستوني یې ښه اوږده

---

[1] په پښتنو کې کبه ډي خوسی نه، بلکې یوه بېله لوبه ده، چې پټه والی هم ورته وایه شي. ژباړن

[2] د کمي کلمه زما په خیال، چې د عربي قمیص وي. په ایتالوي کې یې کمیسیا (Comisia) او په فرانسوي کې یې کیمایز (Chemise) بولي، خو څنګه چې دغو رنګه کالیو په اروپا کې د صلیبي جنګونو وروسته رواج پیدا کړ، هغه باید په اصل کې اول حتماً په شرق کې پیدا شوي وي.



Property of ACKU

دي او نرېدې زنګنو ته رسېږي، بل جز یې یوه مخ ښکته خولی ده، چې د هولان Halan د خولۍ په شکل ده او څنډې یې د تورو وریښمو یا اطلس نه جوړې وي او ټوپۍ یې یا له تخته ګلاباتونو او یا له کوم روښانه رنګه ټوټې څخه جوړ وي. د کالیو بل جز یې یو نسواري رنګه چرمي ګاولې دي، چې غاړې یې په ګلاباتون ښکلې شوې وي او نرېدې تر ښنګرو پورې رسېږي. ددغو کالیو دپاسه د کال په زیاته برخه کې یو لوی کوټی، چې له ښه پوټکي څخه جوړ وي او دننه پکې یا وړۍ وي او یا ښه نرم لیمڅي لري. دغه کوټې د اوږو دپاسه ښهٔ ارت اغوستل کېږي، ښه اوږده لستوڼي لري، چې ښکته تر ښنګرو پورې رسېږي. په ښارونو او د هېواد په زیاتو متمدنو برخو کې کالي د فارس د خلکو په څېر دي او د افغانستان په ختیځو غاړو کې د پښتنو کالي له څو پلوه د هندیانو له کالیو سره ورته والی لري.

د پښتنو د ښځو کمیس د دوی د نارینه وو په څېر وي، خو تر هغه اوږد دی. د ښځو کمیس له نفیسو ټوکرانو څخه جوړ وي او په عمومي ډول یا رنګه وي یا په وریښمو سره په ګلانو خامک دوزي شوی وي. د هېواد په لویدیځو برخو کې د ښځو کمیس ټول له وریښمینې ټوټې څخه جوړ وي، ښځې رنګه پرتګونه اغوندي، خو د نارینه وو له پرتګونو نه د دوی پرتګونه ښه تنګ وي. دوی له وریښمو نه جوړ درانه رنګ داسې وړې ټوپۍ په سر لري، چې د ګلاباتونو په اوبدلو سره خامک دوزي شوي او دومره وړې وي، چې یوازې کله کله تر وچولي یا غوږو پورې ښکته رسېږي. سربېره پردې ښځې یا په یو ساده یا رنګه پوړني کې ځان پېچي او کله، چې یو پردی سړی په مخ ورشي، خپل مخ په هغه پټوي. په لویدیځ کې ښځې زیاتره وخت په سر باندې د خولۍ دپاسه یو تور دسمال هم تړي. دوی د مخې له خوا خپل ویښتان دوه برخې کوي او دوه ټینګې کوڅۍ ترې جوړوي او د شا خوا ته یې اچوي.

## ګاډي او د حمل او نقل وسایل:

د پښتنو د ښځو ګاڼې د وینسي پاولیو د مزو په څېر دي، چې د سرونو دپاسه تړل کېږي. داسې هم د دوی ګاڼې د سپینو او سرو زرو زنځیرونه دي، چې د وچولي دپاسه ټومبل کېږي. دا زنځیرونه له سر څخه تېرېږي او په دوو لویو غوږوالو ختمېږي، چې نرېدې ښکته تر غوږو پورې رسېږي. غوږوالۍ او ګوتې هم د پېزوان په څېر زیات رواج لري. پېزوان پخوا په فارس کې و او تراوسه هم په هندوستان او عربستان کې رواج لري. دا و د مېړونو ښځو د کالیو او ګاڼو بیان.

ناواده شوې ښځې په دې پېژندل کېږي، چې د هغوی پرتګونه سپین وي او ویښتان یې کوڅۍ شوې نه وي.

په افغانستان کې د حمل و نقل وسایل زموږ له وسایلو څخه دومره توپیر لري،

Property of ACKU

چې ښایي دلته یو څه پرې ولیکم.

هغه وسایل به وروسته بیان شي، چې په سوداګرۍ او کرنې کې ترې کار اخیستل کېږي. دلته غواړم یوازې د هغو وسایلو بیان وکړم، چې مسافر یې استعمالوي. نه په افغانستان (او نه د فارس په هېڅ برخه کې) ارابه لرونکې ګاډۍ شته او له بلاتکې یا ډولي څخه، چې نارینه یې په اوږو وړي، کار نه اخیستل کېږي. نارینه او ښځې دواړه په آسونو سفر کوي، په آس باندې د سفر معمولي اندازه د یوې ډېرې اوږدې هوا خورۍ په اندازه اوږده ده، چې اس په یوې ګړۍ کې له پینځو څخه تر شپږو میلو پورې بیایي. پیغام وړونکي او سفر کوونکي، چې اوږد سفر په مخ کې لري، آسونه ځغلوي خو دا د سفر عادي طرز نه دی او د لوړو طبقو د یوه چا لپاره دا د سپکاوي ثبوت ګڼل کېږي، چې آس په ډګ ډګو کوي، خو په هغو وختونو کې چې سخت ضرورت ورته نه وي، هېڅ څوک په دې فکر نه وي، چې څه وخت له یوه کور څخه بل کور ته یا د هوا خورۍ لپاره بېرون وځي، خپل آس وځغلوي.

## د اسانو سامانونه

د آسانو لپاره دوه ډوله سامانونه شته، فارسي او اوزبکي د اس وروستنۍ سامانونه ډېر عمومیت لري.

فارسي قیضه یو څه د یو راز سنفل Sanffle یعنې هغې ساده نرۍ بې زنځیره قیضې په څېر ده، چې ددې پرځای چې دوه پارځولې (یا غمبورې) ولري، دوه (یا څلور) لوېې کړۍ لري، چې هغه ددې لپاره چې له واګې سره وتړل شي، د قیضې په پای کې له دوو سوریو نه تېرېږي. پخپله قیضه کله کله تېرې څوکې لري، چې څه وخت چې آس یې کشوي، خوله یې په دردوي. دغه قیضه د نقرې په زنځیرونو او نورو ګاڼو ښکلې شوې وي، زین د آس شاته نږدې ایښودل کېږي، خو لومړنۍ او وروستنۍ څنډې یې داسې جګې دي، چې د سواره لپاره د ناستې منضبط ځای برابروي، خو دغه یادې شوې څنډې عموماً دومره سره نږدې وي، چې د ناستې ځای تنګ او نابلده سړی ډېر ځوروي. د مخې څنډه یې تر وروستنۍ نه ډېره جګه وي او له نقش شوې لرګي، طلا او نقرې څخه جوړه وي او په اریانوونکې توګه د خاوند د استعداد او ذوق له مخې پسولل شوې او په طلا سره ښکلې شوې وي. اوزبکۍ قیضه کټ مټ د انګلیسي قیضې په شان ده، یوازې په دې توپیر، چې د غمبورې حلقې یې په تناسب سره لویې وي. د آس مخ بند په څنډو کې په یو څو طلایي او نقره یي دانو ښکلې شوې وي او د پوز بند او غمبورې بند ترمنځ کونج کې د ګل په څېر د همغې مادې نه جوړ یو د ښکلا سامان ایښودل شوی وي. د اس وچولی د پاسه د قیضې په شان کوم بند نه شته. د ازبکو او د فارسي قیضو واګې دواړه نرۍ او ښه

Property of ACKU

ښکلي دي. واګې د ښه نسواري رنګه څرمنو او يوائې کله کله په ندرت سره له نفيسو شنو څرمنو څخه جوړ وي. مهارونه زيات نه استعمالېږي او کله چې له هغو نه کار اخيستل کېږي، ډېر ښه سست وي. مهارونه د انګليسي مهارونو په څېر وړېشل کېږي، خو ددې پرځای چې په جلب پورې وتړل شي، د قيضې د غمبوري په کړه پورې تړل کېږي. هغه تنګ مهارونه چې د هندوستان اوسېدونکي يې د خپلو آسونو مخونه تړي او په هغو سره د خپلو اسانو تګ کنټرولوي، په افغانستان کې رواج نه لري. داسې هم يو ګېډ بند چې په مخنۍ برخې کې يې د طلا يا نقرې لويه غوټه وي، د آسونو د سامانوو په جمله کې وي. په عمومي ډول پيارمه يا (پس بند) هم استعمالېږي.

دا ټوله مجموعه په تېره بيا د ازبکو قيضه ډېره ښکلې ده او د دوی اس د انګليسانو له آس څخه ډېر ښکلی کوي. ازبکي زين، چې ښه ښکلی وي، د تنې په جسامت سره د آس له شانه لوړ وي. ازبکي زين د فارسيانو تر زين لوی وي او ډېر ځای لري، خو مخنۍ او وروستۍ څنډې يې ډېرې لوړې نه دي. د مخنۍ څنډې نيغه يې ويشل شوي او ښکته لوېږي، داسې چې د ايوني Ionic تاوراتاو انځور په شان دوه حلقې تشکيلوي. دغه دواړه رازونه په ښکتنۍ برخې کې څه نرم مواد نه لري او په دوو يا درېو پرېړو ليمڅيو د پاسه ايښودل کېږي او په يوه کمربند پورې تړل کېږي، چې هغه د اس د تنې په ښکته خوا کې له دوو سوريو څخه تېرېږي. د فارسي زين په واقع کې زياتره د حصارانو Hussars د زينونو په څېر محض د لرګيو يوه مجموعه ده. هغه سواره، چې تومانچې ګرځوي، چرمي قاب يا کاش لري او هغه څوک چې دغه قاب نه لري، د هغه پرځای خورجين لري او په هغو کې د اس اضافګي نعلونه او يا هر هغه واړه شيان، چې ورته اړه لري، وړي. دغه خورجيني له ښکليو شويو لويو قاليني ټوکرونو څخه جوړې وي او ډېرې ښې ښکاري. غريبان هغه سامانونه لري کوم چې يې ما بيان وکړ، خو هغه ددې پرځای چې له زرو او يا نقرو څه جوړ وي، له قلعي شوې اوسپنې څخه جوړ وي. د رکابونو بېل بېل ډولونه وجود لري، عمومي رکاب يې زموږ د رکاب په څېر دی، په دومره توپير چې د دوی د رکابونو دواړه کونجونه له هغه اوسپنيز سيخ څخه چې پښه پرې تکيه کوي، ډېر وتلی دی. بل راز رکاب، چې هغه هم ښه مروج دی، هغه دی چې پلن شکل لري. دا رکاب هم له اوسپنې څخه جوړ وي او په هغه ځای، چې پښه تکيه کوي، نهه انچه اوږدوالی او څلور يا پينځه انچه سور لري. د دوی د زينونو چکن شوي پوښونه له يوه ټوکر څخه جوړ وي، چې له زين نه نږدې د آس تر لکۍ پورې رسېږي او د اس په دواړو خواوو کې يو څه ځوړند هم وي. د عادي کسانو دغه پوښونه يا له تور ليمڅي

Property of ACKU

ټخته جوړ وي، چې په هر ځای کې یې مختلف رنګونه وي یا د پشي پړانګ Leopard او یا د کوم بل وحشي حیوان له پوټکي ټخته جوړ وي. خو د شتمنو او لویو خلکو د زین پوښونه له بخمل ټخته جوړ شوي او په جواهرو ښکلي شوي وي او په ځنډو کې یې د جواهرو دانې ټومبل شوي وي. زینتي شیان د نمایش په وخت کې وي او په عادي وختونو کې دوی ډېر ساده وي. آسونه تل د سورو شاطرو په لاس یوځای بل ځای ته بیول کېږي، نه د پلو کسانو په لاس، لکه څنګه چې په هندوستان کې رواج لري. کله چې د اس څښتن له آس نه کوزېږي او چا کره ځي، د هغه شاطر تر هغه په آس سور وي، چې دی بېرته راځي، د دوی په فکر دا کار د آس لپاره ګټه لري.

## د سفر کولو دود

ښځې زیاتره په کجاوو کې سفر کوي. د پاچا ځینې ماینې په پیل سفر کوي او نورې یې په یو راز ډولیو کې سفر کوي. معلومه شوې، چې پخپله پاچا په پیل سفر کوي، خو دی زیاتره وخت په هغسې یوې ډولۍ کې سفر کوي، چې په هندوستان کې ورته نالکي Nalkee وایي. دغه ډول ډولۍ په ښکته خواوو کې اوږد لرګی لري او د سفر په وخت کې همدغه لرګی د نارینه وو په اوږو ایښودل کېږي او ډولۍ وړل کېږي. البته دا ډول ډولۍ یوازې د پاچا لپاره خاصه ده، خو د اشرافو یو څو تنه ددې امتیاز لري، چې په جامپان یا جپن کې سفر وکړي. جامپان یا جپن دوړې ډولۍ یا نالکۍ په څېر دي، سر یې تېره او په دوو ستنو ولاړې وي او د سړیو په اوږو وړل کېږي، چې په هندوستان کې ورته تونجن Tonjon وایي. داسې هم په ختیځ کې د ناروغانو د وړلو راوړلو لپاره وړې او لږ څه ناراحته کجاوې استعمالېږي. دغه ټول نارینه او زما په خیال هندوان وړي، خو د دوی اوږدې ږیرې او د قره قلي خولۍ د دوی شکل د هندوستان د هندوانو له قوارو څخه بېلوي.

د مساپرو سامانونه یا په اوښانو یا په قاطرو وړل کېږي. ډېر عام اوښان هغه دي، چې په هندوستان کې هم ترېنه کار اخیستل کېږي، چې که څه هم هلته د اوښانو په نامه یادېږي، خو د طبیعي مورخانو په نظر چټک او یا بادي اوښان دي، قاطرې د حمل او نقل لپاره تر ټولو ښه حیوانات ګڼل کېږي. په دې چې دوی د اسونو په څېر چټکې ځي، خو د دوی بیه ډېره اوچته ده او په دې سبب یوازې شتمن خلک ترېنه استفاده کولای شي. په افغانستان کې پوسته خانې نشته، پاچا خپل حال احوال د سورو په لاس استوي او هغوی د چوپړو په نامه یادېږي. چوپړ حیرانوونکي مزلونه کوي. دوی ته هغه مشران تازه آسونه ورکوي، چې دوی د هغو له ځایونو څخه تېرېږي او دوی له هغوی څخه د آسونو غوښتنه کوي.

Property of ACKU

دوی بې له دې چې څه تیاري ولري، د حېرانتیا نه ډک کوښښونه کوي، دوی تر ممکنه حده پورې ځانونه په کالیو او ټوکرو ټینګ تړي، چې د خپل سترې کوونکي سفرپه دوران کې تنهاکې او دردونه لږ کړي. د پاچا چوپړان د نورو خلکو لیکونه نه وړي، دوی په واقع کې د نارینه وو لوړه ډله خلک دي او زیاتره وخت مهم خبرونه ورسپارل کېږي، نور خلک څه وخت چې وغواړي چوپړان استخداموي او لویان، چوپړان تل په خپل خدمت کې لري. د خلکو زیاته برخه د قاصدانو په لاس پیغامونه استوي او قاصدان هم ډېر چټک دي او زیاتره وخت د پېښور_کابل لاره، چې دوه سوه اولس میله ده، په څلورو ورځو کې وهي.

## مریان

په افغانستان کې مریان شته لکه څنګه چې په مسلمانو هېوادونو کې شته دي، دلته غواړم د هغو دریځ په لنډ ډول بیان کړم.

د مریانو ښه ډېره برخه خانه زاد دي، خو له باندنیو ملکونو څخه هم یو څه په لاس راځي. نیګروګان او زنګیان کله کله عربستان څخه راوړل کېږي. بلوچان چې فارسیان او نور خلک په چپاوونو کې نیسي، خرڅوي او له کافرستان نه هم ښایسته شمېر خلک یا پلورل کېږي یا یې یوسفزي په خپلو سرحدونو کې نیسي.

د کافرو اسیران په عمومي ډول ښځې وي او څنګه چې دوی ډېرې ښکلې دي، ډېره تقاضا ورته موجوده ده. له هغو نورو مریانو نه په زیاته اندازه ښکته کارونو کې کار اخیستل کېږي، خو د مملکت په اطرافو کې په تېره بیا په درانیو بزګرو کې له دوی نه په ډېره اندازه په کرنه کې کار اخیستل کېږي، سره له دې هم څنګه چې د انګرېزانو په مستعمرو کې معموله وه، له دوی څخه دا نه غوښتل کېږي، چې د څارویو پرځای کار وکړي، بلکې دوی هغه کار کوي چې آزاد نارینه یې کوي. په نورو برخو کې دوی سره سلوک له دغه حال سره متناسب دی.

دوی څه وخت، چې د ژوندانه په ښکته اړخ کې وي، له خپلو خاوندانو سره په یوه دسترخوان ډوډۍ خوري او ورته اجازه شته، چې شخصي ملکیتونه ولري د دوی خاوندان دوی ته سوغاتونه ورکوي او ښځې ورته کوي او داسې نور کارونه ورته کوي. دوی د نورو مریانو لوڼې ودوي او د لوڼو خاوند د ولور حق لري، خو ماته ویل شوي چې دی دغه ولور یا د هغې پلار ته ورکوي او یا یې پخپله نجلۍ ته وربښي. زما په فکر، چې دغه باید په حتمي ډول د ښځې پلور لوبیه وي، چې یو مېړه یې باید تادیه کړي او هغه په مریي باندې د څښتن حقوقو ته څه صدمه نه رسوي، ځکه چې زه تصور نه شم کولای چې بادار به د نجلۍ خدمت څخه بې له دې، چې د هغې په مقابل کې څه ورته ورکړ شي، تېر شي مخصوصاً څنګه چې واده به د هغې ارزښت لوړ کړي، په دې چې څښتن به یې د هغې د زوزات مستحق اوسي.

Property of ACKU

زه د هغو مریانو په حال کې، چې په کښت وکر لګیا وي، داسې نې نه وینم، چې لا خراب شي. دوی زیاتره د خپلو خاوندانو په کورونو کې ژوند کوي او ان کله چې د کښت او کر ځمکې لیرې پرتې وي او دا لازمه کوي، چې غلامان باید هغو ته نږدې په کوډلو او خېمو کې واوسي. دوی هېڅ وخت په ځمکې پورې تړلي نه وي او د ضرورت له مخې له یوه کښت نه بل کښت ته انتقال کوي. د دوی شمېر دومره ډېر نه دی، چې دې ته مجبور شي، چې په خاصو ځمکو پورې وتړل شي. دوی د خپل کار په حاصل کې څه برخه نه لري او یوازې د خپل څښتن او یا د کوم ازاد سړي په پاملرنې سره، چې دغه کار ورته سپارل کېږي، په کار کولو مجبورېږي. دوی یوازې کله کله وهل کېږي. د متوسط الحال خلکو بالغه مریان ځانونه د هغو د کورنیو یو جز بولي او داسې سوچ کوي، چې ددې لپاره چې د دوی څښتنان د دوی او خپل ژوند تامین کړي، دوی باید کار وکړي. ښځې د وینځو په څېر ساتلې کېږي، دوی د کور د بي بي مزدورانې وي او په متوسطو کورنیو کې له هغې سره د کور په کارونو کې مرسته کوي.

په ازبکانو کې د غلام خاوند زیاتره وخت د خپل غلام له ازادولو سره موافقه کوي. دا موافقه هغه وخت کېږي، چې مریي یو څه ټاکلې پیسې تادیه کړي او یا د یو شمېر کلونو په مودې کې په ښه خدمت کولو سره د هغې د تادیه کولو ذمه وکړي. حاکمان دغسې قراردادونه نافذوي. پښتانه او فارسیان برخلاف دا عار ګڼي، چې غلام د پیسو په مقابل کې ازاد کړي، خو دوی زیاتره وخت د ښه خدمت په بدل غلامان ازادوي او یا هغه وخت، چې د مرګ په حال کې وي، هغوی ته آزادي ورکوي.

د یوه لوی خان په اړه مې اورېدلي دي، چې هغه وخت چې دی د خپل فکر شو خپل ټول غلامان یې، چې دده زوی یې ښه نه ایسېدل، راوغوښتل او د ازادی سندونه یې ورکول. پښتانه له غلام کولو څخه سخته کرکه کوي او ازبکان په دې غندي، چې دوی خلک مریان کوي او په ډېر نفرت سره دوی ته د ادم فروشانو خطاب کوي.

یو لیکوال، چې په هېڅ وجه د پښتنو پلوي نه کوي، د دوی ددغه فکر د طرز په اړه شهادت ورکوي، خو څنګه چې د دوی زیاتره مریان د هندوانو پر ضد د دوی د لومړیو جنګونو د اسیرانو زوزات دي، زه داسې فکر کوم چې د دوی دین دوی دې ته ترغیبوي، چې د بت پرستو په مقابل کې د هغه جرم مرتکب شي، چې دوی د یوه مسلمان غلام کولو ته په نفرت ګوري(۱).

[1] دغه کیسه د کروشنسکي Krushinsky له اثر، "د فارس د وروستي انقلاب تاریخ" څخه اخیستل شوې ده. لومړی ټوک، ۱۶۷_۱۶۶ مخونه. کومه وضع چې پښتانه یې د جنګ د مقرراتو له مخې له جنګي اسیرانو سره کوي، د نورو شرقي ملتونو په څېر د وحشت بڼه هېڅ نه لري. د مریانو په حیث د اسیرانو خرڅول د دوی په نظر بشري جنایت ګڼل کېږي او دوی ترېنه کرکه کوي. بې له کوم شک



Property of ACKU

## ختیځ او لویدیځ پښتانه:

د پښتنو ښځې د هندوستان د ښځو په پرتله غټې، سپینې او ډېرې ښکلې دي. د پښتنو نارینه ښه غښتلي او په عمومي ډول په ځان نري، خو د ټینګو هډوکو او عضلو خاوندان دي. پوزې یې لوړې، د مخ هډوکی یې هسک او مخونه یې اوږده دي. د دوی ږیرې او ویښتان په عمومي ډول تور، کله کله نسواري او په ندرت سره، سره وي. د دوی ویښتان تل شخ او قوي وي. دوی د سر کوپړۍ خریې، خو د سر نور ویښتان پرېږدي. ښارونه ته نږدې قومونه لنډ ویښتان لري، خو د نورو ویښتان ښه اوږده وي او د سر له هرې خوا نه ښکته ځړېږي. ږیرې یې اوږدې او ګڼې دي. د دوی څیرې له ساده ګۍ سره مېړانه او تفکر افاده کوي، خو ضعف نه ښیي. ختیځ پښتانه ملي خصوصیتونه په ډېر قورت سره تمثیلوي. که څه هم هغه څېره، چې پورته ورته اشاره وشوه، په دوی کې په ډېره کمه اندازه موجوده ده. د لویدیځو قومونو څیرې چندان واضحې نه دي او ډېر ډولونه لري، ځینې یې زیږې څیرې لري، چې له هغو څخه چې ما یې پورته بیان وکړ، ډېر توپیر لري، خو د مخونو هډوکي یې ښاپسته لوړ دي. لویدیځ پښتانه تر ختیځو پښتنو په تن پیاوړي او په ځان غټ دي او ځینې دراني او غلزي د حېرتناک قوت او قامت خاوندان دي، خو پښتانه په عمومي ډول د انګرېزانو په شان په ونه لوړ نه دي.

ختیځ پښتانه په عمومي ډول توری څیرې لري، چې د هندوستانیانو څېرو ته نږدې دي. په داسې حال کې چې د لویدیځو پښتنو شکلونه د ښوون د ونې په څېر دي او سالم رنګ او څېره لري، خو په دوی کې نارینه د ختیځو نارینه وو په څېر د هندوستان په څېر توربخن وي، ځینې یې چې په هغه ګاونډیتوب کې لیدل کېږي، د اروپایانو په څېر سپین رنګي دي. سپین رنګي په عمومي ډول په لویدیځ کې او توربخن په ختیځ کې په اکثریت کې دي.

## د پښتنو سلوکونه:

ختیځ او لویدیځ پښتانه د پورته اختلاف پرته، چې د اقلیم مولود دی، د نورو ځانګړتیاوو له لامله هم په خپلو کې سره توپیر لري. داسې ښکاري، چې دغه ځانګړتیاوې په عمومي ډول له هغو بېلابېلو برخو پیدا شوي دي، چې دغو دوو سترو څانګو خپل شخصیتونه جوړ کړي دي. لویدیځو پښتنو خپل مدنیت له

---

څخه دا سمه ده، چې دوی له اسیرانو نه د نوکرو په حیث کار اخلي، خو له دوی ره د خدمت په وخت کې په زړه سواندي چال چلند کوي او په پای کې یې ازادوي هم. په دې ډول پښتانه له دې پلوه هم د نورو ښو رواجونو په جمله کې له شرقي ولسونو سره توپیر لري.



Property of ACKU

فارسیانو او ختیځو پښتنو له هندوستانیانو څخه اخیستي دي او دواړه په کالیو او کړه وړو کې هغو خلکو ته ورته دي، چې په دې ډول ورسره رابطه لري. په داسې حال کې چې د جنوب د منځنۍ برخې اوسېدونکیو، چې له دغو دوو امپراتوریو څخه چې یورته ورته اشاره وشوله، په یوه اندازه او له لویو لارو او سړکونو څخه په مساوي ډول لیرې پراته دي، د خپل ملت اصلي عادتونه یې ساتلي دي. د ملک د ښه پراخوالي له لامله، چې لویدیځ قومونه پرې مېشت شوي او د هغه لوړوالی او برتري له لامله چې له هغو څخه دوو قومونو په ځانګړو تاریخي دورو کې ترلاسه کړي دي، د فارسیانو کالي، کړه وړه او ژبه په قاطع ډول غلبه لري. دغه حال ان په هغو برخو کې هم لیدل کېږي، چې هندي عادتونو پکې ښې ریښې غزولي دي. باید وویل شي، چې هر هغه څه چې له فارسیانو او هندیانو څخه اخیستل شوي، تراوسه هم په هغه حال ساتل شوي دي، چې اول غوره شوي وو. په نتیجه کې هغه په اوس وختونو کې د دغو دواړو ملکونو تر اوسني واقعي حال نه توپیر لري. د هندوستان کالي او عادتونه هغه دي، چې د شاه جهان په وختونو کې وو او فارسیانو د نادر شاه افشار د وختونو دي. د نادر شاه دوره که څه هم ډېره لنډه وه، هغه ستر بدلون چې په فارس کې پېښ شوی دی، دغه تفاوت نظر هغې بلې دورې ته ډېر څرګند کړی دی[1].

پښتانه په سلوک کې رډ او سپین وړونکي خلک دي، دوی که څه هم مېړانه لري او په خپلواکۍ مئین دي، د عسکري د هغه غرور او بې رحمۍ له تظاهر څخه مبرا دي، چې د دوی په زوزات یانې د هندوستان په پټانانو کې ډېر ښکاره دي. کله چې نورو ته د دوی خبرې ناوړې وي، هغه د اطرافي خلکو په څېر ساده او ابتدايي وي، خو هېڅکله هېبتناکې او بدغونې نه وي. داسې ښکاري، چې د هندوستان پټانانو د یوسفزیو خاص سلوکونه، چې هغه تندخویه او له غرور نه ډک حالت دی، غوره کړي وي. د ښار د شاوخوا پښتانه تر څه حده په سلوک کې نرم دي او لوړو کسانو ته اطاعت لري، خو دوی د هېواد په ډېرو برخو کې ډېر ساده وي او د رتبې او درجې

---

[1] تر دې به بله غټه سهوه نه وي، چې فکر وشي د پښتنو ختیځ قومونه خپلو فېشنونو ته هېڅ تغییر نه ورکوي. د انګرېزانو اوسني کالي لږ تر لږه د دویم چارلس Charle, the second د دورې دي، لکه چې د فارسیانو اوسني کالي د هغو وختونو دي، چې چاردن Chardin د دوی په ملک کې سفر کړی و. په هندوستان کې تر هغو لږ بدلون راغلی نه دی. د نظام الملک د زړو ډوله کالیو او سلوکونو په اړه د دهلي د ځوانو درباریانو ټوکې مسخرې دغسې تاثیرات لرل، چې په تاریخ کې یوه نمونه جوړوي. څنګه چې په ډهلي او دکن کې د مغولي اشرافو کالي اتیا یا نوي کاله وړاندې په شان وو او اوس څومره توپیر لري، واضحه ده چې که دواړو نه یو بیا بل باید ډېر تغییر کړی وي. دا حقیقت دی، چې اروپايي ګرځنده په هغو لباسونو کې چې د دوی له کالیو څخه پوره تغییر لري، لږ توپیر نه درک کوي.



Property of ACKU

تمیز چندان نه کوي، خو سره له دې هم دوی ټولو لوریانو ته په درنه سترګه ګوري.

پښتانه که څه هم په ناسته ولاړه کې هغسې بې تکلفه دي، چې د هر کتونکي توجه چې غواړي، اروپایان له آسیایانو سره پرتله کړي، ځانته جلبوي، خو دوی په عمومي ډول حیاناک دي.

دا هغه نقص دی، چې ما په نورو اسیایانو کې لیدلی نه دی. پښتانه له رسمي مواقعو پرته په نورو حالاتو کې د اعضاوو له ښورولو څخه کار اخلي، خو د لاسونو غځول او په وړاندې لوري د ځان کږول د دوی په نزد ډېر مهم ښکاري. دوی نظر فارسیانو ته ممکن د غسې لا ډېر عملونه ترسره کوي. که څه هم وروستني خلک د دوی په څېر دومره تاوده نه دي، خو دوی د خبرو په وخت کې د غړیو په تېره د لاسونو په ښورولو سره هېڅکله له هندوستانیانو سره برابري نه شي کولای[1].

## د پښتنو سجیه

پښتانه داسې هم له هغسې طفلانه کړو څخه مبرا دي، چې ممکن د هندوستانیانو معتبره ځانګړتیا وي. ماته داسې معلومه شوه، چې د پښتنو خبرې اترې او د دوی پوښتنې که څه هم پراخې نه دي، تل معقولې دي او داسې نه معلومېږي، چې دوی په هغسې وړو ځیزونو خوښي وکړي، چې په هندوستان کې ډېر زر د سوغاتونو په توګه منل کېږي.

پښتانه په یقین سره د خپلو لویدیځو ګاونډیو په څېر نرمي او لطافت نه لري او له خارجي ملتونو سره د دوی نه راشه درشه یې له شک څخه د دوی لیدونه او په ځینو موضوع ګانو کې د دوی پوهه لږوي.

خو د دوی د ټولنې وضع، چې هلته هر یو مجبور دی خپل حقوق پخپله وساتي او په دغه وضعې سره په عین حال کې ده ته په ټولنې کې اهمیت ورکول کېږي، ددې لامل کېږي چې د دوی استعدادونه په زیاته اندازه په کار واچول شي او انکشاف وکړي، نو په دې توګه ددغو خلکو زیاته برخه د مشاهدې، ادراک او سنجش خاوندان دي.

[1] له یوه باندني ملت سره د دوی په پرتله کولو کې به ماته اجازه وي، چې ددغې پراخې امپراتورۍ اوسېدونکي د یوه واحد ولس په توګه وګڼم، خو دا باید هېر نه شي، چې په خپله په هندوستانیانو کې ډېره تنوع شته. په دې ډول په قد جګ، تنومن هندوستانی ډېر په ورو ګرځېږي او که څه هم دی په خبرو کې تر یوه حده پورې د غړیو له ښورولو څخه کار اخلي، دی د عمل هغه شدت ته نه رسېږي چې د کرناتک وړو، تور رنګي او غونجې شوي اوسېدونکي یې استعمالوي. د کرناتک اوسېدونکي په ډېرې جذبې موضوع باندې په دغسې لوړ اواز او شدت سره خبرې کوي، چې یو انګرېز به هېڅ وخت هغسې ونه ګرځېږي.

Property of ACKU

دوی داسې هم د پلټنې له هغې درجې څخه برخوردار دي، چې یوه چاته چې د هندوستانیانو له بې علاقګۍ سره عادي شوي وي، هوسایي ده. دوی ټول له خپل ملک څخه د لیرې هېوادونو په اړه د معلوماتو د پیدا کولو لپاره هیله ښکاره کړې ده او ځینو یې ښه هڅه لرله، چې زموږ د علومو نه په خبرتیا سره خپل ځانونه اصلاح کړي. ما یوه ملا ته، چې له ما سره کلکتې ته لاړ، د کوپرنیک د هغه د سیستم یو لنډ بیان ورکړ. کوم چې ډاکټر هنټر (Hunter) په دري خپور کړی و. دغه ملا له خپل ستنېدو څخه دوه کاله وروسته ماته د انګلیسي نیوټونیانو (English Newtonions) په نامه د پوښتنو یو لست راواستاوه او په هغه کې یې ددغه سیستم د ځینو برخو په اړه دغسې تشریحات غوښتي وو، چې د پېښور پوهان یې حېران کړي وو[1].

هغه وخت، چې زه په کلکتې کې وم، له ملایانو څخه نیولې ان تر شاطرانو پورې چې د ټولو درجو ډېر پښتانه له ځان سره بېولي وو، چې د وسلو جبه خانې وویني، کښتۍ ګانې تماشا کړي او څه داسې نور شیزونه وګوري، چې د دوی لپاره نوي وو. د ډېرې خوښۍ خبره دا ده، چې دوی د هر نوي شیز په اړه علاقه وښودله او د خوښۍ احساس یې کاوه، خو یو ملا په دې ډېر خواشیني شو، چې ده د توپ د سوري کولو لپاره هغه څرخ ونه موند، چې د بخار په وسیله ګرځېده. لکه څنګه چې هغه د میرزا ابو طالب په سفرنامه کې لوستلي وو، چې په انګلستان کې همدغسې کېږي. ما زیاتره وخت د هندوستان اوسېدونکي د همدغسې شیزونو په ننداره کې لیدلي دي او که څه هم دوی ټول تر کافي حده مودب وو، چې د هغو ستاینه وکړي، خو دوی ددغه ستاینه په دغسې آرامۍ سره کوله، چې هغه پوښتنې چې دوی کله کله کولې داسې وې، چې دوی غوښتل یواځې خبرو ته دوام ورکړي[2].

له پښتنو سره ټولې مراودې په دې په زړه پورې دي، چې د دوی په خبرو اعتماد کېدای شي. دوی که څه هم په رښتیا ویلو کې له اروپایانو نه وروسته دي او که څېرې دوی کولی شو، چې خپلې ګټې په ټګۍ سره خوندي کړي. دوی به ودې پروا ونه ساتي، چې په خپلو ژمنو او وینااوو سره غولول وکړي، خو دوی د حقیقت په اړه هغه بې علاقګي او د اعتیادي او د مفت کذب په اړه هغه روش نه ښيي لکه څنګه چې د هندوستان او فارس خلک یو اروپایي حېرانوي. داسې ښکاري، چې د لومړني

---

[1] څنګه چې زه پخپله په دې موضوع نه پوهېدم او داسې کسان مې هم نه شو پیدا کولای، چې هم ریاضي پوه او هم د دري عالم وي، ده ته مې ځوابونه ور کولای نه شو.

[2] فارسیان دومره چالاک او ذهین دي، چې دغسې بې احساسي هېڅکله نه ښيي، خو دوی دومره په ځان غره دي، چې نورو ملتونو په اړه د تجسس دغسې حس نه ښکاره کوي.



Property of ACKU

ملت یو شخص د یوه شي د سم لیدلو استعداد نه لري او د دویم ملت یو شخص د هغه له سم بیانولو څخه عاجز دی.

خو په پښتنو باندې په عمومي ډول د صحیح توب او وفاداری اتکا کېدای شي، خو په هغه حال ک چې د کوم مشاهد د تېر ایستاو لپاره څه تعصب موجود او یا د حقیقت د مسخ کولو لپاره کوم محرک په مېنځ کې وي.

ټول پښتانه په زیاته اندازه فعال او د طاقت خاوندان دي. دوی د خپل ملک د طبیعت له امله مجبور او په دې اموخته دي، چې په غرو ختلو سره ډېرې ستونزې وګالي او په پښو یا په آس باندې لوی مزلونه ووهي او له چټکو او پراخو سیندونو څخه په لامبو وهلو تېر شي. یوائې غریبان یا د ځوان په قوت کې انسانان دغه کارونه نه کوي، ځکه چې د دوی په ملک کې به له آس څخه د حمل او نقل آسانه وسیله نشته، د ټولو درجاتو انسانان مجبور دي ددغو مهارتونو خاوندان اوسي. داسې چې زاړه میرزایان هم چې په ډېر کراو سره په آس باندې سورېدای شي، په ډېرو سختو غاښیو او د هغو په لوړو او ژورو کې په آس باندې ښه مزلونه وهي او یا د تنګو او ژورو لارو په څنډو سواره روان وي، چې د هغو دپاسه قدم وهل هم خطرناک وي، سره له دې هم تقریباً ټول پښتانه د تودو اقلیمونو طاقت نه لري او څه وخت چې دوی په هندوستان کې په لښکر لېږدونو بوخت وو، د اوړي راتګ او د دوی تېښتې به د دوی لښکر ډېرې کمولې. دا حالات د احمد شاه په دوره کې، چې د انضباط رعایت هم ښه کېده، صدق لاره.

دا وضع ډېره حېرانوونکې ده، په دې چې پخپله د دوی د ملک زیاته برخه په تاوده اقلیم کې پرته ده.

ټول پښتانه څه وخت، چې په خپل کوم کار یا ساعت تېرۍ پسې روان وي، ډېر زحمت ګالي او سخته خواري کوي. په دهقانۍ کې تر دوی زیات خوار یکښ نشته او ډېر یې په کار کې نه ستړي کېدونکي دي، خو دوی کله چې چندان پاربدلي نه وي، لټ وي.

داسې ښکاري چې د منفعت مینه د دوی حاکمه قوه اوسي. د درانیو ډېر مشران دا غوره ګڼې، چې خپلې ډېرې، خو راکدې، پیسې ذخیره کړي نه دا چې له سخاوت نه یو څه کار واخلي او په دغه کار سره قدرت، نوم او احترام وګټي. ټول هغه کسان چې دوی ډېر ښه پېژني، په دې عقیده دي، چې په دغه ټول ملت باندې د پیسو نفوذ حد نه لري او دوی پخپله هم له دغه حقیقت نه انکار نه کوي.

له خپلواکۍ سره د دوی مینه، چې د دوی په حکومت اثر کوي، لومړی بیان شوې ده، دغه مینه د دوی په ډېرو فکرونو او معاملو کې په یوه شکل ځان ښیي، د

Property of ACKU

یوه ښه اداره شوي ملک په اړه د دوی د ستاینې وړ خبرې دا دي:"هر سړی د خپل کښت حاصل خوري" او "هیڅ څوک له بل چا سره غرض نه لري."، "خو د میکارند، خود میخورند."، "کس با کسی غرض ندارد."

خو د شخصي آزادۍ مینه له خودغرضۍ نه ډېره لیرې ده. د دوی د ټولنې ماهیت یانې هلته، چې قدرت د یوه چا د خپلوانو په کثرت سره وي، ددې لامل کېږي چې د یوې کورنۍ د غړیو په منځ کې قوي علاقه موجوده وي. داسې پښتون به نه وي، چې څه وخت دده خپل خپلوان په کومې مقابلې اخته وي، په هغه پرېکړې ولاړ نه وي. زه باید له هغه څه نه، چې د کورنۍ د وفادارۍ په اړه وایم، هغه څه مستثنی کړم، چې په حاکمو کورنیو کې د مشرانو په غوره کولو پېښېږي. د وینې او نسب قوت په پاچایانو کې ژر یات نه حس کېږي او د یوه واړه قوم مشري د هغو په نظر کې، چې د هغې لپاره مبارزه کوي، هغسې اهمیت لري لکه چې لوی شاهزادګان یې د تاج او تخت ګټلو لپاره کوي. دا مبارزه په واقع کې د وروڼو ترمنځ نه پېښېږي، خو د لیرو خپلوانو په منځ کې دومره واضحه ده، چې د ترېور کله چې لغوي مانا یې د تره زوی دی، په پښتنو کې د مخالف پر ځای استعمالېږي. ما دمخه ددې ذکر کړی دی، چې قبیلوي احساس څنګه د عمومي وطنپالنې روحیه کموي، خو دوی ټول د پښتانه د تنګ په اړه ډېره تودہ علاقه ښیي. دوی هغه ملک ته چې پکې زېږېدلي وي او هغو صحنو ته چې لومړنۍ خوښي یې پکې لیدلې وي، سخت علاقمن دي. د غزني شمال ختیځ ته د سپیګه (Spiga) د درې یوه اوسېدونکي، چې د کوم جرم له امله فراري و، ما ته یو وخت د خپلو سفرو کیسه کوله او په اخر کې یې د هغو ملکونو نوم اخیسته، چې ده پکې سفرونه کړي وو او له خپل ملک سره یې مقایسه کول:((ما ټول فارس، هندوستان، ګرجستان، تاتاري او بلوچستان ولیدل، خو ما په ټولو سفرونو کې د سپیګه په شان بل ځای ونه لید.))

ټول پښتانه په خپل نسب فخر کوي او د دوی د تاریخونو زیاتره برخې د دوی د نسب شمېر نیولي دي. دوی به په ډېرې سختۍ سره یو څوک پښتون وګڼي، چې هغه ونه شي کولای تر پېنځو یا شپږو نسلونو پورې خپله شجره ثابته کړي. پښتانه ان په عادي خبرو کې زیاتره وخت ددې لپاره توقف کوي، چې د هغه شخص تېر شوي وشمېري، چې په خبرو کې یې نوم اخیستل شوی وي[1].

[1] د غه مثال ما په یوه دولت خېلي کي، چې د دامان د ټوک Tuk په اړه مې له هغه سره مرکه کوله، په ډېر وضاحت ولید. ټوک ددغه قوم لوی ښار دی، ده د یوې پوښتنې په مقابل کې راته ویل:
((ټوک د سرور ښار دی، سرور د کتل خان زوی دی، کتل خان د سلیم خان زوی دی، سلیم خان د میر سلطان خان زوی، میر سلطان خان د ظفر خان زوی او ظفر خان د خان زمان زوی دی او ظفر خان د شاه جهان په وخت کې اوسېده او جهان ګیر د ګوډ تیمور له نسل څخه دی.))



Property of ACKU

ټول پښتانه په خپلو نږدې لاس لاندې خلکو، چې له هر مذهب او ملت څخه وي، ډېر مهربان دي، خو له هغو خلکو سره چې د دوی تر واک لاندې دي او دوی ورسره په شخصي توګه کومې اړیکې نه لري، وضع بل راز ده. هغه ملکونه لکه کشمیر او د اباسین د غاړې ولایتونه، چې پوره لاندې شوي دي، د افرادو چور او چپاول نه ډېر ضرور ویني او که زیاتره وخت په دوی د ظلم او تعدی افراط جاري نه وي، دا له دې امله چې بې جهته، بې رحمی او تحقیرول د پښتنو د کرکتر جز نه دی.

د پښتنو د خپلواکۍ او برابرۍ احساس له دې لامله کېږي، چې د خپلو ګاونډیو په اوچت توب رخه وکړي او د دوی په خاطر کې قوي رنګ ښکاره کړي. دا فکر، چې د دوی له یاد او نظر څخه اېستل شوی او پوښتل شوي نه دي، په داسې حال کې چې د دوی سیالانو ته ښه پاملرنه شوې وي، دوی دې ته ترغیب کړي، چې له یوې اوږدې دوستۍ څخه تېر شي او یا له هغې ډلې څخه واوړي، چې ورسره یې د زړه مینه لرله. ویل کېږي پښتنو ته تر څو خاص سپکاوی شوی نه وي او یا ظلمونه پرې نه وي شوي، په ملګرتوب کې ښه ټکره دي او د ښېګڼو ښه پروا ساتي، زه د دوی په کرکټر کې د دغه ځانګړتیا ضمانت کوم، چې دوی ته یوه تحفه دمخه ورکړ شوې وي له دوی نه چې هر کار وغوښتل شي، په ډېره مېړانه به یې ترسره کړي. نظر دې ته چې د تحفې ورکول وځنډول شي، په دې امید چې دوی به هغه کار زر اجرا کړي. د دوی له عادتونو څخه پخوا تر پخوا دا ښکاره کېدای شي، چې شخصي انتقام یوه وظیفه ګڼل کېږي او دوی به تر ډېرې مودې پورې د ظلمونو یاد له ځانه سره ساتي، خو دا یوازې د هغو جدي ظلمونو په اړه صدق کوي، چې ننګ او عزت دوی د پور اخیستلو لپاره مجبوروي. د وړو کارونو په اړه دوی نه زر پارېږي او نه د کانې په څېر سخت زړي دي.

زه په آسیا کې د دوی په شان د لږو عیبونو خلک نه پېژنم. داسې هم نظر نورو ته په دو کې فسق او فساد کم دی، خو د هېواد په غرب کې دا کارونه ډېر کېږي. د ښارونو خلک د فسق او فساد لپاره ذوق پیدا کوي او هغه چې د ملک په شمال ختیځ کې پراته دي، لا دمخه د پاکۍ له دایرې څخه بهر شوي دي. پښتانه پخپله د سلوکونو له خرابېدو او د صمیمیت او ښې عقیدې له انحطاط څخه شکایت کوي او وایي، چې د دوی ملت د فارسیانو تر اغېز لاندې راغلی دی. د فارس د ملت په لور د دوی احساسات او اخلاق په زیاته اندازه هغو ته ورته دي، چې انګلیسانو څو کلونه دمخه د فرانسویانو په مقابل کې کشف کړي وو.

د دوی ملي مخالفت او د ځان په اړه د اوچتوالي قوي احساس ددې مخه نه نیسي، چې د فارسیانو د سلوکونو تقلید وکړي. په داسې حال کې، چې دوی ددغه



Property of ACKU

عمل په ضد په دې چیغې وهي، چې له خپلو سلوکونو څخه یې محروموي. دوی په هغه مزیت ښه خبر دي، چې په حاضر وخت کې یې فارس په دوی لري، چې هغه په نسبي ډول د فارس د شورا ګانو اتحاد او قوت دی. دوی د فارس د قدرت له ډېرېدو نه یو څه په وېره کې دي، خو دغه وېره په ځان د اعتماد لرلو له لامله کمه شوې ده. د پښتنو کرکټر، چې په یو څو کلمو کې لنډ شي، نو د دوی عیبونه، انتقام، رخه، حرص، چور او سرزوري ده، خو له بلې خوا دوی په ازادۍ مئین دي، خپلو ملګریو ته وفادار دي، په لاس لاندې خلکو زړه سواندي لري، مېلمه پالونکي دي، زړور دي، سخت زړي دي، کم خرڅه دي، خواریکښ دي، احتیاط کار دي او د نورو ګاونډیو ملتونو په پرتله خطا، دسیسې او فریب ته لږ متمایل دي.

* * *

Property of ACKU

## اتم څپرکی

# د ښارونو د اوسېدونکیو شخصیت، عادتونه او اخلاق

Property of ACKU

ما تراوسه د کرکټر او سلوکونو د هغو ټکو په اړه لیکنه کړې، چې د پښتون ملت د ټولو برخو یا نږدې د ټولو برخو په اړه تطبیق مومي. اوس به د بېلابېلو طبقاتو ځانګړتیاوې، چې ټول ملت ورځنې جوړ دی، بیان کړم.

تر دې ځایه به د ختیځو او لویدیځو پښتنو د اختلاف په اړه پوره لیکنه شوې ده، چې د ځینو خلکو ځانګړې ډلې هم په ضمني ډول شرحه شوي دي. له دې وروسته به د کوچیو او بزګرو طبقات په مفصل ډول شرحه کړم.

نو په دې ډول لومړنی ډله خلک، چې اوس به یې بیان وشي، د ښارونو اوسېدونکي دي. په دې برخه کې لومړنی شی، چې د یوه کس پاملرنه ځانته جلبوي، دا دی چې ددغې ډلې زیاتره برخه پښتانه، نه دي، د یوه اروپايي لپاره ممکن دا عجیبه وبرېښي، چې د ملک واکداران دې د ښارونو اوسېدونکي نه اوسي، خو د نورمان تر فتحې وروسته د انګلستان حال هم همدغسې و او د تارتاري ازبک وضع همدا اوس هم همدغسې ده او تر یوه حده د فاس هم دغه حال دی. په دغو ټولو حالاتو کې ښايي عین دلیل دخیل وي او هغه دا چې واکدار ملت ته دا کسر شان ښکاره شوی، چې هغه کسبونه وکړي، چې خلک په ښارونو کې غونډوي. له لویانو او د هغوی له نوکرانو پرته، چې دوی دربار جلب کړي، نور پښتانه په ښارونو کې نه دي اوسېدلي. په دې قرار هغه یوازینې پښتانه، چې په ښارونو کې اوسي، لویان او دوی نوکران، عساکر، ملایان او یو څو سوداګر دي. په دغو خلکو کې سوداګری ته په ښکته سترګه نه کتل کېږي او له دغه ملت څخه ډېر غریبان دي، چې د کارګرو په توګه کار کوي. د هغو خلکو زیاته برخه، چې دغه کسبونه کوي، تاجک دي. تاجکان

په زیاته اندازه د هېواد د لویدیځ په ټولو برخو کې له پښتنو سره ګډ دي، دوی ان په ختیځ کې هم لیدل کېږي، که څه هم په ختیځ کې هغه کسبونه چې دمخه ورته اشاره وشوه، د هندکیانو په لاس کې دي.

هندکیان په اصل کې له هندوستان څخه دي او اوس د افغانستان په ختیځ کې مېشت دي. لکه څنګه چې تاجکان په لویدیځ کې خواره دي. دغه ملتونه او نور چې د افغاني ښارونو نفوس ترې جوړ دی، وروسته له دې چې د پښتنو بیان تمام شي، د بېلو نژادونو په توګه به وڅېړل شي. اوس به د هغه مقام په اړه خبرې وکړم، چې دوی یې د دغو ښارونو د مدني افرادو په توګه اشغالوي. دوی له دغه نظره په صرافانو، سوداګرو، کسبګرو او مزدورانو وېشل شوي دي.

## بانک داران

دا چې قرآن مجید مسلمانان له سود خوړلو نه منع کوي، ددې لامل شوی چې د صرافی زیاتره کارونه د هندوانو په لاس ولوېږي او د هندوانو محتاط او خسیس عادتونه دوی ددغه کار لپاره ښه مناسب ګرځولي دي.

دوی په پور ورکولو ګټې کوي او ډېر سود خوري، بلونه تبادله کوي او نورې داسې معاملې کوي، چې د دوی د استوګنې په ځای کې د مبادلو د نرخ له ښکته پورته تللو سره اړه لري. داسې هم دوی سوداګرۍ او وکالت له خپلو منظمو بانکي فعالیتونو سره ګډوي. د دوی د ګټې یوه بله منبع حکومت ته د ولایاتو د مالیاتو د بلونو په بدل کې په پیشکي ډول د پېسو تادیه کول دي. دغه معامله یو څه خطر لري، کله کله بېرته هېڅ نه تادیه کېږي، خو ګټه هم لري او ګټه یې تل ډېره وي. ځینې صرافان ډېر شتمن دي، خو د لویو پانګو واړه دوکانونه یې بې شماره وي، چې د یوې خاصې ناحیې د غریبو خلکو په منځ کې د لویو پانګوالو په شیانو همغه کسب کوي.

هغه وخت چې زه په پېښور کې وم، صرافانو دا لازمه ګڼله، چې خپل شته پټ وساتي. یوه صراف، چې زما بلونه واخیستل، چې د هغو له لارې خپل شته هندوستان ته ولېږدوي، دې ته حاضر و چې پیسې یوائې د شپې تادیه کړي یانې هغه وخت چې خبنې شوې پیسې یې له ځمکې نه واېستلې او په پټه یې زما خزانه دار ته ورکړې، خو دغه احتیاط د کوم موجود خطر له لامله نه و شوی لکه څومره چې د آینده په نظر کې نیولو سره شوی و، ځکه چې پېښور ددغسې انقلاب په درشل کې و، چې شروع یې لا دمخه په لویدیځ کې شوی و. صرافان په هغه وخت کې د شاه شجاع په حکومت ښاېسته ډاډه و، خو د هغه د رنګېدو له لرلید نه نه په سخته وېره کې و. سره له دې، چې دغه پاچا پیسو ته ډېر اړ و، له صرافانو نه پیسې په زور



Property of ACKU

ترلاسه نه شوې. دغو صرافانو له حکومت سره په ډېرو معاملو کې له پاچا او د هغه له وزیر نه څه وېره نه لرله، خو د هغه له وړو مامورانو نه ډارېدل. څه وخت چې کوم معمولي درباري به له صرافانو نه د پور اخیستلو په اړه مامور شو، ددې احتمال به و، چې هغه د شخصي ګټې لپاره په هغوی ظلم وکړي او شیان پرې تحمیل کړي، خو کله چې دغسې کار به یوه ښاغلي شخص ته سپارل کېده، هغه به د صرافانو او حکومت ترمنځ عادله رویه غوره کوله او له دوی سره به ښه د انصاف معامله کېده. د حکومت مخالفې ډلې په ټولو وسایلو بسپنې ټولولې او پیسې یې په زور ترلاسه کولې، خو دغې ډلې هغه وخت ددې لپاره مبارزه کوله، چې حکومت نسکور کړي. د دوی اعمال که څه هم ډېر نامنظم دي، د سلطنت آرامتیا ممکن د دوی کرکتېر له دغه اړخه اصلاح کړي وي. صرافان حتماً له هغو سترو لویو درانیو څخه، چې خپل شته د زیاتې ګټې لپاره د دوی په لاس ورکوي، ضمانت ترلاسه کوي. دا هغه معامله ده، چې اشراف او صرافان په ګټو کې شریکوي. داسې هم اشراف صرافان تر وزرو لاندې نیسي او په ډېر اهمیت ورسره چال چلند کوي. په دې هیله، چې هغوی وکولای شي چې له دوی نه پور واخلي. دوی د ټولو نورو متشبثو طبقاتو په څېر له هغې واضحې رېحې څخه ګټه کوي، چې پاچا یې د خپل ملت د ځینو افرادو په مقابل کې حمایه کوي.

## سوداګران

سوداګران په عمومي ډول تاجکان، پارسیوانان او پښتانه دي. په دې ملک کې که څه هم سوداګري ته په ښکته سترګه نه کتل کېږي او سره له دې، چې سوداګران هم په عمومي ډول د ټولنې په لوړو طبقاتو کې شمېرل کېږي او که څه هم یو څو واړه خانان هم په درانیو کې هم سوداګران دي، بیا هم هغسې ډېرې پانګې او پراخې تجارتخانې، چې په فارس او هندوستان کې شته، په افغانستان کې نشته. پرله پسې کورنیو شخړو سوداګرۍ ته سخت زیان رسولی دی. په دې، چې لارې یې خطرناکې دي او ټول تجارتي کاروانونه یې د جګړه مارو د یوې یا بلې ډلې د لوټولو لپاره خلاص پرې ایښي دي. که دا نه وي، نو د هندوستان، فارس، تارتاري او بلوچستان په منځ کې د کابل موقعیت او کشمیر د متصرفې په حیث لرل به د تجارت لپاره حتماً ډېرې ښېګڼې ولري. سوداګران ټول سنګین، صرفه جو او غېر متظاهر خلک دي. د هغو سفرونو په لامل، چې دوی یې د خپل سوداګرۍ په دوران کې په باندنیو ملکونو کې کوي، دوی تر ډېرو نورو خلکو نرم طبیعته او منور دي. دوی په هوسایۍ ژوند کوي، خو نه په نمایشي ډول. ملا جعفر سیستانی، چې شاه شجاع ته ښه مقرب و او د دولت د وزیرانو په کتار کې حسابېده، تل د یوه عادي

Property of ACKU

سوداګر په جامه کې ګرځېده، یواځې یو نوکر او یو چلم بردار به ورسره ملګري و او هېڅکله یې نه غوښتل، چې له عادي القابو پرته په هغو القابو یاد شي، چې د مهمو کسانو لپاره پکارېدل. دا هغه ثبوت دی، چې ښېي پښتانه د تجارت په اړه له هغو تنګ نظریو څخه ډېر خلاص دي، چې په هندوستان کې معمول دي او دا چې هېڅ مهم سړی به له دې نه ډډه ونه کړي، چې یابو، آس یا یوه توره او یا هر هغه ورته شی، چې دی ورته ضرورت نه لري، خرڅ کړي. که څه هم ښکاره ده، چې منظم تجارت به د لویو کسانو لپاره د یوه ډېر نامناسب شغل په کتار کې حساب شي.

## دکانداران او کسبګران

د ښارونو پاتې برخه اوسېدونکي دکانداران او کسبګران دي، دوی په دود یزو کسبونو کې سره[1] وېشل شوي دي. هر کسب ځانله د کدخدا (صنفي مشر) په نامه یو مشر بولي، چې د هغه وظیفه د حکومت او همدغه صنف ترمنځ د معاملو تنظیمول دي. ددغې طبقې په ښاري اوسېدونکیو باندې منظم مالیات نه دي ایښودل شوي، که څه هم دوی له هغو ګمرکي محصولاتو معاف نه دي، چې په ښارونو کې له ټولو وارداتي مالونو څخه اخیستل کېږي.

## حکومتي فشار

خو له دوی څخه داسې غوښتنې کېږي، چې تر منظمو مالیاتو ډېرې خپه کوونکي دي، له دغو غوښتنو څخه یوه عمده یې هغه مجبوریت دی، چې دوی د اردو بازار لپاره دکانونه تهیه کړي. څه وخت، چې پاچا په خپل قلمرو کې له یوه ښار نه بل ښار ته مارش کوي، کدخدایانو ته امر کېږي، چې له هر یو کسب نه دې یو

---

[1] دغه شمېر په یوې طبقې کې د څو کسبونو په شاملولو دوه درېرش ښودل شوي دي. څنګه چې دا به ددې لپاره مقید وي، چې د موجوده مدنیت د وضعې په اړه یوه مفکوره ټینګه شي، زه به د هغو کسبونو ذکر دلته وکړم، چې اوس په واقعي ډول موجود دي. دا نومونه ما د کابل د ښار له یوه اوسېدونکي څخه، چې دده په یاد راتلل، ترلاسه کړي دي. جواهر خرڅوونکي، زرګران، کتاب پلورونکي، صحافان، قرطاسیه خرڅوونکي د قلمدانونو صنعتګران، مهر جوړوونکي، وسله پلورونکي، سپر پلورونکي، ټوپک جوړوونکي، چاقو جوړوونکي، پولاد پالش کوونکي، لیندۍ او غشي خرڅوونکي، اینه خرڅوونکي، د بوټ جوړونکیو ډولونه، ګاولې (پڼۍ) جوړوونکي، تنۍ جوړوونکي، د ورېښمینو تارونو خرڅوونکي، ګلاباتون خرڅوونکي، زین جوړوونکي، رنګمالان، نعل بندان، نقاشان، مېوه خرڅوونکي، اشپزان، صابون خرڅوونکي، عطاران، فالوده خرڅوونکي، شیریني پزان، خامک دوزان او هغه خلک چې د هغو کسب دا دی، چې په هر ډول کالیو باندې له جواهرو نه نیولي ان تر ستورو اوبدلو پورې، تزینات کوي. زه د هغو کسبګرو د نامه له ذکر نه ډډه کوم، چې د ژوندانه ضروریات خرڅوي لکه قصابان، نانوایان او داسې نور چېرته چې پورته ذکر شوي کسبونه موجود دي، دغسې کسبګر هم دي.



Property of ACKU

دکان تهیه شي او له دربار سره دې تر هغه پل لوی ښار پورې ملګرتوب وکړي، چې دوی هلته تم کېږي. کسبګران دغه کار ډېر ضرور ويني، په دې چې دوی ته د دوی ددغه کار په مقابل کې هېڅ نه ورکول کېږي او څنګه چې دوی د پاچا د نوکرانو په توګه ګڼل کېږي، يوازې د معاش مستحق پېژندل کېږي. دغه معاش هم په منظم ډول نه ورکول کېږي او دوی ته د ټولو معاشاتو پرځای څه وخت، چې رخصتېږي، يوازې يو موټی پيسې ورکول کېږي. ما ته دا نه ده معلومه، چې د دربار له خوا ټاکلې پيسې به ددغه کار په مقابل کې يو برابر جبران شي، خو کوم مقدار پيسې چې د درباريانو او د کسب د مشرانو له لارو اصلي کاسب ته رسېږي، د هغه د کار او زېړونو په مقابل کې لږې دي. هغه نور دکانداران د خپلو مالونو په مقابل کې ممکن لږې پيسې ترلاسه کړي، خو د دوی د معاملو د ماهيت له مخې کومې پيسې چې دوی ګټي، د هغو معاشونو غوندې به حاکمانه او غېر عادلانه وي، چې دغو کسبګرو ته ورکول کېږي. څنګه چې منظم اردوبازار يوازې د شاهي خاندان لپاره ځانګړی کېږي، دغه زحمت د ښار په زيات شمېر ښاري خلکو په برخه کېږي. د هغو سردارانو او عسکرو د اړتيا وړ توکو لپاره، چې له ارد و سره ملګرتوب کوي، ډېر دکانونه هم وي. ددغې طبقې او هغو کسانو ترمنځ، چې په دربار پورې اړه لري، دومره لوی توپير شته، چې له دغې ډلې نه يو شي او دغه کار هغو کسانو ته په بډو ورکولو ممکن کړي، چې وظيفه يې د هغو پيدا کول دي. په داسې حال کې چې هغه نور په خپله رضا ځي او په دغه کار کې د ځان لپاره ښه ګټه ويني.

معمولي ښارونه مجبور نه دي، چې اردو بازار جوړ کړي، دغه مصيبت يوازې د کابل، کندهار و هرات او پېښور د ښارونو په نصيب دی. دغه مصيبت په دغه هر يوه ښار باندې يوازې کله کله په کال کې له يو ځل نه زيات لوېږي او له دريو اوئيو يا يوې مياشت نه ډېر پايښت نه کوي، خو کله چې پاچا د دوی په ښار کې وي، دغه دوکانداران ډېر تاوان کوي. په دې چې دوی مجبور دي د هغه مامورينو ته د هغوی د نرخ له مخې شيان ورکړي. په ناارامو وختونو کې د ښار له خلکو نه د مجادله کوونکي اردو لپاره بسپنې غوښتل کېږي، دغه بسپنې په عمومي ډول استهلاکي موادو په بڼه وي، خو پيسې هم ټولېږي.

## د پوليس فشار

ممکن تر ټولو قوي فشار، چې د ښار په خلکو راځي، هغه وي چې د پوليس (څارندوی) له خوا واردېږي، تر دې وړاندې ذکر شوی دی، چې ددغه ډېپارټمنټ يوه څانګه د محتسبانو په لاس کې ده او هغه په دې ګومارل شوې ده، چې د دين او اخلاقياتو له اصولو څخه کوچنۍ سرغړونې ته هم جزا ورکړل شي. ددغه کار پايلې

ډېرې دردوونکې دي او هغه پلمې دي، چې په هغو پیسې ټولېږي او دغه قباحت په پولیسو کې د مقرري ګانو په اجارې ورکولو نور هم ډېرېږي. پخپله حکومت ته په دغو کارونو سره څه ګټه نه رسېږي، په دې چې د ټولو هغو پیسو مقدار، چې په خزانې کې د جریمو او وړو مصادرو له لارې د ښبنور ښار له خلکو نه ټولېږي، د کال یوائې یو نیم زر روپۍ (یا یو نیم سل پونډه) کېږي. البته د پولیسو د دفترونو د اجاره ګرو ګټه به تردې حتماً ډېره وي، خو هغه تشویش او ربړونه، چې له دغې ډلې خلکو ته پېښېږي، له هغه سره هیڅ تناسب نه لري. پولیسان په نورو خواوو کې ښه دي او جرمونه نا ارامي ګانې کمې دي. د پولیسانو افسران زیاتره د شپې ګرځي، د ښار هره ناحیه دروازې لري، چې هغه په یوه ټاکلي وخت کې تړل کېږي او په دې ډول غلاګانې تقریباً ناشونې دي. خلکو ته اجازه نشته، چې د شپې، چې پاچایي تورم (سورنی) غلی کېږي، په سړکونو وګرځي. تورم د شپې د یوولسو او دولسو بجو ترمنځ غلی کېږي او تر راتلونکي سهار پورې نه شروع کېږي. څنګه چې تورم د ښار په هرې برخې کې اورېدل کېږي، خلکو ته په ښه وخت کې ددې خبر ورکول کېږي، چې تګ راتګ څه وخت مجاز او کوم وخت منع دی؟ که یوه چاته ددې ضرورت پېښ شو، چې په منع شوي مهال له کوره په کوم کار پسې ووځي، حتماً نیول کېږي، خو په هغه حال کې چې له ده سره لاټین وي او هغه ددې ثبوت شي، چې دی په زړه کې کوم پټ پلان نه لري.

## د ورځې ویشونه

دلته به دا بېځایه نه وي، چې د هغې طریقې یادونه وشي، چې په هغې په افغانستان کې ورځې وېشل کېږي. ورځ له سهار نه پیلېږي، چې هغه د سباوون د رڼایي له پیل نه یو څه دمخه وي او د لومړي لمانځه وخت اعلاموي. بل نښه شوی وخت لمرختل دي، بیا څاښت بیا د ډوډۍ وخت راځي، چې د یوولسو بجو په شاوخوا کې وي. نیمه ورځ د څاښت او لومړي ماسپښین ترمنځ یوه لنډه وقفه ده، دغه وخت د لمانځه لپاره اختصاص شوی او د ختیځ په لور د سیوري لومړنی کوږوالی ښيي. بل په نښه شوی وخت له ماسپښین څخه وروسته دی، دا هغه وخت دی چې د یوه سړي سیوری د هغه د قد په اندازه وي او اخر ماسپښین ورته وایي. وروسته مازدیګر راځي، چې د پینځو بجو په شاوخوا کې د لمانځه وخت وي. له لمر پرېوتو ډېر زر وروسته ماښام وي، چې هغه هم د لمانځه وخت دی. د شفق له ختمېدلو نه وروسته په ماسخوتن کې د اخري لمانځه وخت دی او درېیم تورم د شپې د یوولس نیمو بجو په شاوخوا کې وروستی وخت دی، چې پاچایي باجه خانه غږول کېږي. دا ټول هغه اصلاحات دي، چې د وخت د نښه کېدو لپاره د ورځې د ساعتونو پرځای

Property of ACKU

استعمالیږي. په عادي خبرو کې د ورځې له ساعتو نه څوک نه ګرځیږي، خو ورځ او شپه په څلورویشتو (۲۴) ګړیو وېشل شوې ده، چې د سهار له شپږو بجو څخه د ماښام تر شپږو بجو پورې حسابیږي او بیا له سره شروع کېږي. کال د اروپا په شان په څلورو فصلونو وېشل شوی دی، چې د شپو او ورځو له اعتدال نه شروع کېږي او داسې فکر کېږي، چې دا د پسرلي شروع هم ده. اسلامي میاشتې د قمري کال په حساب په عام ډول استعمالیږي، خو څنګه چې دغه میاشتې له موسم سره سمون نه لري، زیاتره له دولس ګونو برجونو څخه کار اخیستل کېږي. په ختیځ کې تر اسلامي میاشتو هندي میاشتې ډېرې مشهورې دي.

## د ښاري عوامو خلکو خوراک:

دا دی د ښار خلکو ته بیا راګرځو، عام خلک سهار پاڅیږي او د لمانځه د ادا کولو لپاره مسجد ته ځي. تر لمانځه وروسته خپلو دکانونو ته درومي، چې هغه تل د دوی له کورونو څخه توپیر لري. د هېواد په لویدیځ کې خلک تر لمانځه وروسته یو سپک سباناری کوي. په ختیځ کې هم ځینې سباناری کوي. د یوولسو بجو په شاوخوا کې دوی څاښتي ناری کوي، چې هغه له سبزیجاتو، مستو، وچې ډوډۍ او غوښې څخه چې که یې په وسه وي، جوړوي. په اوړي کې د څاښت له ډوډۍ نه وروسته یو څو ساعته ویدیږي. هغه کسان، چې شاګردان لري، دکانونه ورته پرېږدي او پخپله د یوې لنډې پرمښکۍ لپاره خپلو کورونو ته ځي. ځینې په خپلو دوکانونو کې ویدیږي، دغه عادت په تودو اقلیمونو کې ددغو خلکو د تنبلۍ یو لوی ثبوت ګڼل کېدای شي، خو باید په یاد ولرل شي چې دوی تر لسو یا یوولسو بجو پورې نه ویدیږي او په اوړي کې یانې په هغه یوائیني موسم کې، چې دوی د ورځې خوب کوي، دوی د سهار په درې نیمو بجو پاڅیږي، چې د ورځې له خوب سره سره د دوی ټول خوب له هغه خوب نه، چې ډېر عام خلک یې په انګلستان کې کوي، نه اضافه کېږي.

د خلکو د ټولو ډلو لوی خوراک د شپې ناری دی، چې له آخري لمانځه وروسته خوړل کېږي. دوی ټول په عمومي ډول په هفته کې دوه کرته، خو تل د جمعې په ورځو ځانونه مینځي. په پېښور کې دوی زیاتره یوائې په ازادې هوا کې غسل کوي، خو د ساړه ملک په ښارونو کې دوی حمام ته ځي. ددغو حمامونو شرحه په کثرت سره شوې ده. حمامونه درې کوټې لري، چې هره یوه یې د تودوخې بېلابېلې درجې لري او له ټولو نه په تودې خونې کې کیسه مالان خلک داسې کیسه کوي، چې د خیرې یوه ذره هم په پوست کې نه پاتې کېږي. حمام ته د ننوتلو اجوره تر یوې



Property of ACKU

پې نې (Penny[1]) نه هم لږه ده او د حمام ټول عملیات د سرجوړولو، د ځان د وېښتو سوځولو او د ږیرې د رنګولو په ګډون یواځې سل دیناره یا څوارلس نیمې پې نې کېږي. د یوه شتمن سړي لپاره د یوې عباسۍ ورکول، چې له یوه شلنګ (Shilling) نه لږه ده، د سخاوت یو ښه عمل ګڼل کېږي. حمامونه د ښځو لپاره د ورځې په ځینو ټاکلو ساعتونو کې خلاص وي او په دغه وخت کې هېڅ نارینه ته اجازه نه شته، چې حمام ته ورننوځي شي.

د عامو خلکو ناری له وچې ډوډۍ، وریجو، غوښو، سبزیجاتو او کله کله له پنیر او زیاتره له کرتو نه جوړ وي. خوراکي مواد ارزان دي او خلک د مېوو له بیخي زیات ډېروالي څخه ښه استفاده کوي. په کابل کې کله چې انګور پاو په یو فاردنګ (Farthing[2]) خرڅېږي، دې ته ګراني وایي. د انارو د یوه پاو بیه له نیمې پې نې څخه یو څه زیاته ده.

په یوې روپۍ (دوه شلنګه او څلور پې نې یا پنسه) دوه سوه پاوه مڼې په لاس راځي. دوه ډوله زردالو، چې دواړه یې ښه ارزان دي، شته. د هغو ګرانو بیه یې پاو په څه کم نیمه پې نې ده. شفتالو تر هغو ګران دي. بهیان او ګردالو هم ښه ارزان دي او خټکي لا ترهغو هم ارزان دي. انګور دومره ارزان دي، چې بیه یې زیاتره په حساب کې نه راځي او هغه انګور، چې په څومره دقت سره هندوستان ته لېږدول کېږي، کله کله څارویو ته ورکول کېږي. د کلک پوستو مغز لرونکیو مېوو (Nuts) ټول ډولونه ډېر ارزان دي او چارمغز چې د کابل شمالي غرونه ترې ډک دي، په یوې روپۍ دوه زره دانې خرڅېږي. د سبزیجاتو بیه هم بیخي ښکته ده. په ډېرې ورې مسي پیسې، چې د یوې پې نې تر نیمایي هم لږه ده، شل پاوه بالک، پینځه ویشت پاوه کرم، پینځه ویشت پاوه زردکې، پینځه ویشت پاوه شلغم، کدو یا بادرنګ پلورل کېدای شي د کوریاندر (Coriander) دانې، توامیریک (Turmeric) او زنجبیل هم بیخي ارزان دي. یخ یا واوره، چې په اوړي کې په کابل کې وي، هم بیخي ارزانه ده. په کندهار کې یو څه ګرانه ده، خو ډېر غریب خلک ي هم پېرودلی شي. په اوړي کې یو ډېر مزه ناک خواړه پالوده ده، چې له ځوښول شویو اوړو څخه لاس ته راځي او له واورې او د مېوو له شربت او پیروي سره خوړل کېږي. البته په ژمي کې خواړه ډېر ګران دي او دغه ګراني په ځانګړې توګه د کابل په ښار کې حس کېږي. په ژمي کې په کورونو او دوکانونو کې د بخاریو اېښودل ضروري او د تودو جامو اغوستل بالکل حتمي دي. په ژمي کې هوا دومره سړه وي، چې ډېر غریب خلک د هېواد ختیځ ته ځي او هلته تر اوړي پورې پاتې کېږي.

[1] د انګلیسي د هغه وخت پوند ۲۴۰مه برخه. ژباړن.

[2] د یوې پې نې څلورمه برخه. ژباړن



Property of ACKU

## ساعت تېري ګانې

د افغانستان خلک ډېرې ساعت تېرى لري، چې تر ټولو عمده يې هغه ده، چې دوى ورته سيل وايي. سيل د دري يا عربي سير او ښتى شکل دى. د جمعې په ورځ ټول دوکانونه تړلي وي، هر سړى حمام کوي او خپلې ډېرې ښې جامې اغوندي او له يوې ډلې ملګريو سره چې تل ددغې ورځې لپاره تيارېږي، ښارونو ته نږدې کومې غونډۍ يا باغ ته ځي. د ډلې هر نفر لږې پيسې په شراکت اچوي او په هغو ډېر خواړه، شيريني ګانې او پالوده رانيسي او د ډېرو لږو پيسو په بدل کې، چې دوى يې په باغ کې ورکوي، هر يو ددې ازادي پيدا کوي، چې څومره کولاى شي هغومره مېوه وخوري. دوى سبايي په سيل وځي او د څاښت نارى په باغ کې کوي. د باغ د ونو مېوې خوري، چلم څکوي، کرمبول او نورې لوبې کوي. د سازنده و اواز او موسيقۍ ته، چې په ډېرو کمو پيسو يې استخدامېږي، غوږ نيسي. د کابل خلک ان د کوهدامن شنو زرغونو درو ته له ښار څخه ان تر دېرشو ميلو پورې هم په هواخورۍ ځي. دغه هواخوري څو ورځې غواړي، خو د هغه ځاى ښکلا، بې شمېره باغونه او د مېوو او خوړو آزادي دغې پوره جبران کوي. په پېښور کې د مېوو ځاى د بودينه (Budina) د رود غاړې دي او هلته د هوا د ښه والي له لامله کال دولس مياشتې ميلې کېږي، خو په کابل کې يوه ژمي کې ورې ډلې جوړېږي، چې لېوان ښکار کړي او يا نښې وولي.

د کابل ښار خلک که څه هم ښه مذهبي دي او اخلاق يې کمزوري نه دي، د هر ډول ساعت تېريو او هواخوريو علاقمند دي، دوى زياتره په خپلو کورونو کې بدلې وايي، سازونه وهي او د چرګانو او مرزانو له جنګولو او رازراز لوبو او سپورټ کولو نه خوند اخلي.

## د يوه وزګار سړي ژوند

اوس مې، چې د کارګرو خلکو ژوند شرحه کړ، دې ته به راوګرځم، چې د يوه وزګار ژوند انځور کړم.

هغه وخت چې ښاغلى دوري (Duri) په کندهار کې و، هغه د خپل وخت ډېره برخه د يوه تاجک نانواى کره تېره کړه، دغه نانواى ښاپسته پيسې ګټلې وې او له نانوايي توب نه يې بس کړي و. دغه لاندې کرښې د ښاغلي دوري له خولې د هغه د ژوند بيان دى.

ښاغلى دوري هر سبا وختي نانوايي کره ته، دى زياتره وخت له يوه ډول ملا سره ناست و، چې هغه دده په کور کې اوسېده. د دوري دغه ارادتمندي د هغوى پروګرام ته څه خلل نه پېښاوه، په دې چې نانوايي کله کله لمونځ کاوه او ملا هېڅ نه کاوه.



Property of ACKU

دغه وروستي ترک دنیا کړې و او ظواهر یې نه په ځایول (زما په خیال چې دی صوفي و) د دوی سباناری وچه ډوډۍ او شوروا وه، چې کله کله به په کور کې تیارېده او ځینې وخت به د شوروایي له دوکان نه راوړل کېده. ښاغلی دوري یوازې کله کله له دوی سره سباناری کاوه او یوازې ځینې وختونه به یې په هغه ساعت کې نااشنا خلک هلته لیدل. سباناری، چې به خلاص شو، دوی به د کور شاته یوه انګړ ته تلل او هلته به زر یو شمېر نور خلک ورسره یوځای کېدل. دوی به په قالینو کېناستل او چلم به یې څکاوه. ملا کله کله چرس څکول او ځینې نور به هم کله کله په پره کې ورسره یوځای کېدل، خو ډېرو به یوازې د چلم یو دود غوره ګاڼه. دوی به داسې هم د ورځې په دوران کې کله مېوه خوړله او شربت به یې څښه. دغې ډلې خلکو به په زړه پورې غورې کولې، خو څنګه چې د مېلمنو زیاتره یې پښتانه وو او زیاتره په پښتو ګړېدل، ښاغلی دوري په خبرو نه پوهېده. دوی به کرمبول ته ورته یوه لوبه کوله، غېږې به یې نیولې او هغسې سپورتي لوبې به یې کولې، چې د هندوستان او فارس په څېر د دوی په ټول ملک کې معمولې دي. ددغو لوبو د هغو بېشمارو دریځو بیان، چې په پهلوانۍ کې اختیارېږي، ډېر وخت غواړي. یو څو عمده تمرینونه به یې دلته یاد کړم. په یوه تمرین (سینه کشي) کې اجرا کوونکي د لاسونو او پښو په ګوتو تکیه کوي، متې یې ښې شخې وي او ځان یې په افقي ډول له ځمکې نه یو څه پورته نیولی وي. له هغو وروسته ځان ځمکې ته کښوي او په همدې حال خپلې متې قاتوي. داسې چې سینه او نس یې نږدې په ځمکه لګېږي. کله چې ځان یې تر وسه وسه د ځمکې په لوري غځولی وي، په همغه بڼه یې بیا شا په لوري کښوي، خپلې متې نېغوي او دغه حرکت څو ځله کوي. چا چې دغه تمرین نه وي کړی، نه شي کولای لس ځله یې پرله پسې وکړي، خو هغه قوت چې د هغه په اثر تولیدېږي، دومره ډېر وي، چې یوه انګلیس افسر وکولی شول دغه عمل بې له کومې وقفې شپږ سوه کرته تکرار کړي او د ورځې یې دوه ځله اجرا کړي. بل تمرین د سر شاوخوا د یوه لرګي تاوول دي، په داسې ډول چې هغه ټول بدن په حرکت راولي. دا عمل یا په یوه لوی ډانګ، چې په دواړو لاسونو کې نیول شوي وي، اجرا کېږي او یا په دوو وړو ډانګو، چې په هر لاس کې نیول شوي وي. دریم تمرین د یوې قوي لیندۍ کښول دي، چې زنځیر یې د تار د مزي پرځای له یوې اوسپنې نه جوړ شوی وي. لومړی دغه لیندۍ د معمولي لیندۍ په څېر په ښي لاس کښېږي او وروسته ښي خوا ته اچول کېږي او بیا په کیڼ لاس کښېږي او وروسته په ډېر شدت سره په دواړو لاسونو ښکته کېږي. داسې چې د اجرا کوونکي سر او اوږې د لیندۍ او زنځیر ترمنځ ښکاري. دغه وروستی تمرین یوازې په متو او سینې عمل کوي، خو هغه دوه نور



Property of ACKU

یې هره عضله تر فشار لاندې نیسي. ډېر نور تمرینونه هم شته، چې د ځان ځینې خاصې برخې پیاوړې کوي، چې یو قابل استاد یې د خپل شاګرد معیوب ځان په نظر نیولو سره تطبیقوي.

دا چې دغه تمرینونه تر کومې اندازې عضلات پنډوي او قوت یې ډېروي، د باور وړ نه ده. که څه هم د تمرین په لوموړیو ورځو کې ستړیا ډېره وي، وروسته دغه تمرینونه خوښوونکي احساس، د سپکوالي احساس او د خوښۍ لامل کېږي او ټوله ورځ دوام کوي. ما ددغسې تمرینونو اجرا کوونکي نه دي لیدلي، چې ډېر وخت یې دغه عمل اجرا کړی وي او پراخه سینه، ښکلي اعضاء او پړېړ او تکړه عضلات ونه لري. دا د شرق له ډېرو ښو اختراعاتو څخه دي، چې اروپا یې تر اوسه زده کولای شي. په واقع کې دا د لرغوني یونان له جمناستیکي تمرینونو سره قوي ورته والی لري.

## د وزګارو خلکو ساعت تېری

څنګه چې یې دمخه بیان وشو، ورځ تېره شوه او د نانوایي مېلمانه رخصت شول، پخپله نانوایي د شپې ټاکلی وکړ، چې له ښه پلاو او نورو فاسي خوړو نه جوړ و. ښاغلی دوري له هغه سره زیات وخت ډوډۍ نه خوړه او نه له هغه سره نور خلک وو، خو دوی تل د څلورو کسو یوه ډله وه، چې یو یې ملا، بل یې یو ځوان وراره او یو بل یې یو معیوب خپلوان و، چې په اسا ګرځېده. له ډوډۍ خوړلو وروسته له ګاونډیو پرته نور څوک نه ورتلل، چې هغه عموماً ښاغلی دوري او دوه واړه درانې خانان وو، چې په اردو کې شامل نه وو، خو د ځمکو او کورونو خاوندان وو او د هغو په عایداتو یې ژوند کاوه. دواړو آسونه لرل او په پوره وقار سره یې ژوند کاوه. دوی د ښه طبیعت او ښې تربیې خاوندان وو او له ښاغلي دوري سره یې ښه مودبانه رویه کوله. دغو ښاغلیو او د کور خلکو تل د مذهب او جنګ په اړه غوږ کولې، د فارسي شاعرانو قصیدې یې اورولې او دوري یې د هندوستان او اروپا په اړه پوښتنه. دوی په ځانګړې توګه له انګرېزي بدلو څخه خوند اخیسته، چې ښاغلي دوري به ورته ویلې او بیا به یې په دري ورته شرحه کولې. ټولو به په ګډه ان د شپې تر ناوخته پورې د دوري په قول «په ډېرې خوښۍ سره» بدلې ویلې او «څه وخت چې به ساز غږېده، دوی به په ګډه په اعلی توګه بدلې ویلې» نانوایي چې به بدلې ویلې، هغه به په خاص ډول په جذبې راغی، داسې هم یوه خان ډېر ښه رباب واهه. دا وې دننه په کورنو کې د وزګارو خلکو بوختیاوې.

داسې هم دوی بیرون وځي، چې په دوکانونو کې کېني او خبرونه واوري، په بازار کې له خپلو دوستانو سره ګرځېږي او په سړکونو کیسې او د ستاینو بدلې واوري یا د فقیرانو ملنګانو باغونو ته ځي. دا ځایونه ددې پرځای، چې د زهد او ریاضت ژوند



Property of ACKU

پکې وشي، د وزګارو خلکو په تېره د هغو کسانو ځایونه ګرځېدلي دي، چې نشه راوړونکي دواګانې استعمالوي. داسې هم دوی ډلې ډلې بیرون «باغونو ته ځي چې هلته د تفریح لپاره ډېرې ونې او ویالې شته» دا هغه ساعت تېری دی، چې ښاغل دوری یې په ښه خوند یادوي. په دې باندې به دا اضافه شي، چې ځینې کسان په ښو شرایطو کې زیاتره د شپې د انګورو شراب (Wine) څښي او داسې خلک لري، چې ورته ناڅي، غزلې اوروي او یا د قوت او مهارت ننداره ورته کوي. نڅاوې په عمومي ډول د هلکانو له خوا وي، په پېښور کې نڅاګرې کمې نه دي، خو د هېواد په لویدیځ کې ډېرې لږې دي.

د پښتنو په ښارونو کې وګړي د هغه وطن کالي اغوندي او عادتونه یې ساتي، چې دوی ورته منسوب دي. په نتیجه کې کوڅې د امپراتورۍ د بېلا بېلو قومونو او ملتونو یوه عجیبه منظره جوړوي، چې هره یوه یې د خاصو جامو او د خپل توکم په سلوکونو سره پېژندل کېږي. داسې ښکاري، چې ددغو حالاتو او د عادتونو، د ژبو او مذهب له تنوع سره سره چې باید حتماً په دغسې یوې ټولنې کې وي، دوی ټول له یوه بل سره ښه ناسته ولاړه لري او په پوره انسجام ژوند کوي. یوازینۍ استثنی د کابل د شیعه ګانو او سنیانو ترمنځ مخالفت دی، خو ان دوی هم له یوه بل سره راشه درشه لري او پخپل منځ کې سره ودونه کوي.

له ټولو هغو څخه، چې مې یا لیدلي یا اورېدلي او په ځانګړې توګه د ښاغلي دوري له وینا څخه زه باید دا ونه ګڼم، چې په ښارونو کې دې د خلکو حال ښه نه وي، خو د دوی حال به د یوه انګرېز لپاره ډاروونکی وي او هغه بې غمي او هوسایي، چې دوی یې لري، باید حتماً هغسې عملي فلسفې ته منسوب وګڼل شي، چې ټول خلک یې په ورته حالاتو کې حاصلوي او دا چې دوی په دې برلاسي کوي، چې د هغو ناخوالو زغم وکړي، چې ورسره روبدي شوي، بې له دې چې د ماضي په اړه سوچ وکړي او یا له راتلونکي نه وېره ولري.

* * *

Property of ACKU

# نهم څپرکی

## د اشرافو سلوکونه، عادتونه او کرکټر

د اوسېدونکیو هغه پوائېنی طبقه، چې اوس به یې بیان وشي، له لویانو نه جوړه ده. تر دغه نامه لاندې زه درانی لویان، قومي مشران له هغو مهمو کسانو سره، چې له دوی سره دربار ته ځي او ټول هغه تاجکان او پارسیوانان، چې د پاچا په شاوخوا کې لوی منصبونه لري، شاملوم. ددغو اشرافو لومړنی طبقه خلک یوائې کله کله په خپلو کلاګانو کې اوسي، خو دا په هغه وخت کې وي، چې دوی یا له پاچا سره مخالف وي یا په هغو لنډو وقفو کې وي، چې پاچایي دربار دوی ته نږدې راغلی وي او دوی خپلو کورونو ته ورتللی شي، چې یا د اوړي له تودوخې نه ځان وژغوري او یا له ښکار نه خوند واخلي. د دوی همېشنی استوګنه تل له دربار سره وي.

### د اشرافو کورونه او د کور سامانونه

د دوی کورونه د هغو پلانونو پر بنسټ جوړ شوي، چې ما په پېښور کې لیدلي دي، خو څنګه چې په هغه ښار کې د دوی استوګنه موقتي وي، هومره ښکلی نه دي لکه څنګه چې د هېواد په نورو برخو کې دي.

ټول کورونه لوړ او دېوالونو چارپېره کړي دي او له طویله خانو، د نوکرو له خونو او داسې نورو پرته درې یا څلور بېل انګړونه لري، چې په عمومي ډول په باغونو کې طرح شوي او ډنډونه او فوارې لري. ابادي د انګړ یوه اړخ کې وي، چې په دوو یا درېو پوړونو کې له بېلا بېلو وړو اپارتمانونو نه متشکله وي او څو لوی سالونونه لري، چې د خپل اهمیت له لامله د ودانۍ په منځنۍ برخې کې واقع دي. سالونونه د لرګیو په ستنو ولاړ دي او مراکشي محرابونه لري، چې هغه د سالون په څېر ښکلي شوي، نقاشي شوي او کېندل شوي دي.

پورتنۍ خونې له دهلېزونو سره د صالونونو پر مخ خلاصې دي، چې تر دېوال

Property of ACKU

پوړې تر نیمه حده موازي دي او په ستنو او محرابونو ښکلې شوي دي. سالونونه، چې یوائې د ساده لرگیو نه جوړ شوېو ستنو او پنجرو (اورسیو) په اثر بېل شوي دي، د پنجرو په ایسته کولو سره تل یو کېدای شي. د هغه پوره داخلي سالون دېوال ښه پوخ او په هغه کې د اور بلولو ځای هم موجود وي. ددغه دېوال پورتنۍ برخه له تاخچو ډولو محرابونو څخه جوړه ده، چې هغه د دهلېزونو د ادامې په شان ښکاري. هغه او همدغه راز هغه ریښتیانی محراب ډوله تاخچې په لویو او مهمو مواقعو کې په روغني نقاشیو او نورو تزئیناتو ښکلې کېږي.

د انگړونو په هغو نورو اړخونو کې وړې خونې دي او په هغو کې د کور خاوند د استراحت ښه آسوده اپارتمانونه وي، چې په یوه کې یې لږ تر لږه د ساړه موسم لپاره ښیښه لرونکې کړکۍ موجودې وي، په دغو بېلو اپارتمانونو کې د اور بلولو ځایونه شته، دېوالونه او ستنې یې په گلونو ښکلې شوي او دغه گلان بېلې طرحې لري او یا په لعابي رنگ یا روغني رنگ نقاشي شوي دي. دا ټول د هغې سپینې سطحې دپاسه وي، چې په یو راز اوبو سپین شوي دي او وړې ځلېدونکې ذرې لري، چې د سیم گل یا د نقره یې ختمې په نامه یادېږي. دروازې له کیندل شوېو لرگو نه جوړې دي او په ژمي کې په نخي ټوکرانو، خامک دوزي شوېو ټوکرانو سره پوښل کېږي. په ټولو خونو کې په هغه لوړوالي سره، چې رسېدل ورته اسان وي، په دېوالونو کې محرابي ډوله تاخچې وي. دغه تاخچې ډېرې گنې نقاشي لري او بې له دې، چې د کومې عالي سلیقې رعایت پکې شوی وي، په رنگ رنگ ښیښه یي بوتلونو، چې له ترشي گانو او مرباگانو نه ډک وي، ښکلې شوې وي. غریبان هم دغسې تاخچې لري، چې دوی یې په چیني باب سره ښکلې کوي او په هغو کې د ژمي د استفادې لپاره مېوې ساتي. د خونو پردې له پنبې نه په ډکو ښو چیټانو (چیټ د یو ډول ټوکر نوم دی) یا کتانونو څخه جوړې وي، چې د مرغیو، څارویو، گلانو او داسې نورو په څېرو په روغني ډول نقاشي شوي وي. د شتمنو کورونه که ټول تصویرونه نه وي، نو زیاتره یې په فارس کې جوړ شوي دي. څېرې یې د پخوانیو فارسي پاچایانو یا جنگي مېړو یا د ځوانانو او ځوانو ښځو دي، چې سره شراب څښي او یا د ځینو فارسي نظمونو انځورونه دي. د اشرافو د خونو ستر تزیني شیان قالینې او نیمڅې دي، چې د نورو ټولو فرنیچرو پرځای ترېنه استفاده کېږي. فارسي قالینې په اروپا کې دومره مشهورې دي، چې دلته یې بیان ته څه اړتیا نه وینم، خو یو راز قالینې چې هرات ته نږدې اوبدل کېږي، تر ټولو نورو قالینو چې مالیدلي دي، ډېرې ښکلې وي. قالینې له وړیو نه جوړې دي، خو دا وړې دومره ښکلې جذبوونکې دي او په داسې ځلېدونکیو رنگونو رنگ شوي دي، چې د وریښمو په څېر معلومېږي. له ډېرو اعلی

Property of ACKU

شالونو نه جوړې شوې قالینې هم استعمالیږي، خو د ښکلا دغه ټوټه باید د زښت زیات لګښت له لامله ډېره نادره وي[1]. د ناستې لپاره داسې لیمڅي شته، چې د ننوتلو د ځای پرته چې هغه تل د سالون په یوه ګوټ کې وي، نورې ټولو دیوالونو ته رسیږي. د لیمڅیو رنګ نسواري ډوله خاکستري وي، چې د کم رنګه ګلانو انځور پرې وکښل شوی وي. هغه لیمڅي، چې د خونې په سر کې هوار وي، نظر نورو ته پراخ وي چې نږدې درې نیم یا څلور فوټه وي. د لیمڅي دپاسه د درنو مېلمنو لپاره په بخملو یا وریښمو خامک دوزي شوي قالینچې او له هماغو ټوکرانو څخه جوړ شوي بالښتونه اچول شوي وي.

حرم یا حرم سرای تل د انګړ په دننني برخه کې وي. هغه ځانله د ننوتلو لار لري، خو په یوې ځانګړې لارې له هغو اپارتمانو (سراچو) سره مراوده کوي، چې مېلمانه پکې منل کیږي.

قصرونه ان په کابل او کندهار کې هم ممکن د فارس تر قصرونو ښکته وي او هیڅ یو به یې په یقیني ډول د یوې شیبې لپاره هم د انګلستان له قصرونو سره، چې له سامانونو څخه ښهٔ ډک دي، پرتله نه شي.

## د نارینه وو لباس او تزیینات:

د پښتنو د اشرافو لباس د فارس په څیر دی او هغه له دغه اجزاو جوړ دي: د کتان[2] یو کمیس، ارت وریښمین پرتوګ، د ماسولي پتام (Masulipatam) اعلی چیټي واسکټ له ځینو وړو طرحو سره، چې تر پندۍ پورې رسیږي او ورنونه او د لینګیو پورته برخه پوره پټوي او په تارونو سره په بدن پورې ټینګ تړل کیږي، له هغه ډول خو له بېلو ټوکرانو جوړ شوی پورتنی واسکټ، د شال یو کمربند او د پښتنو یوه خولۍ، چې د لنګوټې په شکل یې شاوخوا یو شال په سست ډول تړل شوی وي. په دغه لباس باید دا شیان وراضافه شي. د سپین کتان یا شال پنې، جرابې او فارسي ګلولې او یوه لویه چپنه یا کوځۍ چې په اوږو اچول کیږي. په واسکټ کې د تڼیو او غوټو کتاروته لیدل کیږي، چې ښکته د واسکټ تر سینې او

---

[1] له ملا جعفر سیستاني سره یوه داسې لویه شالي قالینه وه، چې د ناستې لپاره یې بېل بېل ځایونه لرل. شاه محمود ته ددغې قالینې په اړه خبرې شوې وې او وروسته له هغه، چې دی خلع شو دغه قالینه د بیې په څلورمې رانیول شوې وه. ملا جعفر د هغې په بدل کې لس زره پونده غوښتل او ویل یې، چې دا پیسې د هغې له اصلي قیمت نه ډېرې کمې دي. هغه غوښتل، چې دغه قالینه د فارس او روسیې په دربارونو کې خرڅه کړي او که یې هلته خرڅه نه کړای شوه، غواړي چې ټوټه ټوټه یې کړي او په ترکانو یې خرڅه کړي.

[2] یو ډول ارت نخي ټوکر، چې ډېر ښه ډول یې له الیپو (Alepo) او عمومي ډول یې له فارس نه راوړل کیږي.



Property of ACKU

لستوڼو پورې رسېږي. یو ډول کوټۍ د دانه یي غټو ټڼیو او غوټو یو کتار لري.

پورتنی واسکټ په عمومي ډول له ډېر قیمتي، خو ساده ټوکر څخه جوړ شوی وي. یو شی چې اورموک (Oormuk) نومېږي، د اوښ له وړښتو نه جوړ وي او په عمومي ډول نسواري شانته رنګ لري، هم د قوي تور رنګه کتان په څېر ډېر عام دی. اتلس، شال او فارسي زربفت هم اغوستل کېږي. پښتانه د یوه مکمل لباس لپاره د زرینو ټوکرانو ډېر ښکلي واسکټونه هم اغوندي. هغه شال، چې تر ملا پورې تړل کېږي، له هغه ډول څخه دی، چې یوائې کله کله په هندوستان یا انګلستان کې لیدل کېږي. دغه شال اوږد او نری دی، (تږدې یو نیم فوټه سور لري) او ټول خامک دوزي شوی وي، څنګه چې د شالونو بیه د دوی د خامک دوزیو په تناسب ده. له همدې لامله هغه ډېر ګران دي. یو ښه شال له ۱۵۰ څخه تر ۲۰۰ پونډو په لږه بیه لاس ته نشي راتلای. هغه لنګوټي چې په سر تړل کېږي، له هغه ډول څخه دي، چې په انګلستان کې یې ښځې او په هندوستان کې یې شتمن استعمالوي. هغه شالونه، چې د واسکټونو په شکل اغوستل کېږي، د همدغه مقصد لپاره جوړېږي او ټوټه ټوټه خرڅېږي. د شالونو په رنګه صحن باندې واړه ګلونه نقش شوي وي. کوټۍ د شال په ډول نه دی، خو د هغه ګلان هغسې لوی دي لکه څنګه چې د هندوستاني شالونو په حاشیو کې وي. هغه د هغو نورو څیزونو څخه جوړېږي، چې ذکر یې دمخه شوی دی او له موسم سره تغییر کوي. په اوړي کې د سپینو وړښمو یوه چپنه کفایت کوي او په ژمي کې کوټۍ زیاتره دوه ټاټه او ډبل وي او څنډې یې په قیمتي پوټکو پوښل شوې وي. د سفر پر مهال دوی په عمومي ډول آزاد کالي اغوندي او تل هغسې ساق لرونکي بوټان په پښو کوي، چې د ټولو درجو خلکو لپاره همغه یو ډول وي یانې جګ وي او د زنګانه دمخه یې څونډې (زمک یا پوپک) لري. ساق لرونکي بوټان، چې له نسواري رنګه څرمنې څخه جوړ وي او په نریو تلیو کې یې (ګڼډمک) وهل کېږي، خو شتمن کله کله د ګورمې څرمنې شنه یا تور ساق لرونکي بوټان په پښو کوي.

پخوا داسې یوه مقرره وه، چې اشراف باید له زري کالیو پرته په نورو جامو کې په دربار کې ښکاره نه شي، نو ددغې مقررې رعایت اوس نه کېږي خو هر یو باید ارومرو ساق لرونکي بوټان په پښو او توره تر ملا ولري. هغه کسان، چې پاچا ځینې امتیازات ورکړي وي، باید د خپل لنګوټي په ښي اړخ کې د جواهرو یو نشان ولري، چې شاوخوا یې د یو راز سپین مرغه د بڼکې جوغه جګه ټومبل شوې وي. دغه مرغۍ یوائې په کشمیر کې موندل کېږي او د هغې بڼې په ډېر احتیاط د افغانستان د پاچا لپاره ټولېږي او هغه یې بیا خپلو درباري اشرافو ته ښښي. هغه

Property of ACKU

نور کورني تزئیني شیان، چې پښتانه اشراف یې استعمالوي او هغه له طلا یا له جواهرو نه جوړ وي. د دوی په تورو چړو او تفنگچو کې استعمالېږي. د دوی توره د فارس په بڼه ده، چې په ټول لویدیځ کې مروجه ده. د دوی د پېش قبضې (چړې) لاستي زموږ د پېش قبضې د لاستي په څېر دي، یوائې په دې توپیر، چې د دوی لاستي د گوتو د ساتنې لپاره څه شی نه لري او تېغ یې زموږ تېغونو څخه لا نرۍ او کوږ دی. هندوستاني پولاد دوی ډېر زیات خوښوي، خو تر ټولو ښې تورې په فارس او سوریې کې جوړېږي. پېش قبضه په عمومي ډول د پښتنو اوږد چاقو دی، چې تېغ یې نږدې دوه فوټه اوږدوالی لري، سور یې په بېخ کې تر دوو انچو ډېر وي، چې تر یوه ټکي پورې رسېږي. یوه خوا یې ښه تېره او بله یې پرېړه او دومره قوي وي، چې له پیپش قبضې نه هم درنه وي.

لاستی یې د لاس لپاره پوره وي او د نیونې ځانگړی ځای نه لري، خو هغه چې د تېغ په واسطه جوړ شوی او د لاس دپاسه طرح شوی وي، څه وخت چې پېش قبضه په تیکي کې واچول شي، د لاستي له یوه انچ پرته نوره ټوله پکې ننه اېستل کېږي. د فارس لنډه توره، چې لاستی یې ښه پرېړ وي، هم ښه رواج لري، خو تر ټولو ښکلې یې زما په فکر هغه ده، چې ترکانو ایستلې ده. په هغو سوغاتونو کې، چې زه د افغانستان پاچا پرې وویاړلم، یوه هم هغه پېش قبضه وه، چې اوس ممکن د کلکتې درې په دفتر کې وي. ددغې پېش قبضې اوږدوالی نږدې څوارلس انچه او تیکی او لاستی یې دواړه گرد وو، چې تر څوکې پورې، چې هغه یو څه ښکلې شوې وه. ورو ورو داسې نرۍ کېده، چې یوه ټکي پورې رسېده په مخنۍ برخه کې یې د جواهرو غمې اېښودل شوي او د سر څوکه یې په یو بل یاقوت، چې الماسونه پکې اېښودل شوي وو، پوښل شوې وه. د هغې له باندنۍ برخې سره هیڅ شی په ښکلا کې سیالي نه شي کولای، خو کله به چې له تیکي څخه واېستل شوه، داسې یو چاقو به ښکاره شو، چې که څه هم له ډېرو ښو پولادو نه به جوړ و، هغه کټ مټ د اشپزخانې د یوې وړې چړگۍ په شکل و. لویان تل په مهمو مواقعو کې داسې تورې، پېش قبضې، ملاوستي او نور شیان له ځان سره گرځوي، چې په زیاته اندازه په جواهرو ښکلي شوي وي، خو هغه چې دوی یې په عادي ډول له ځان سره گرځوي، ساده وي او هغه توره چې ډېره ښکلې وي، تل تر ټولو ښه نه وي. کومه توره چې د کابل پاچا د هند گورنر جنرال ته استولې وه، ډېره ساده وه. دا توره په اصل کې د گوډ تیمور وه، چې وروسته د فارس د صفوي پاچا یا نومال شوه او بیا په اصفهان کې پښتنو پاچایانو ترلاسه کړه. ددغې تورې په لاستي کې یوائې یو څو طلاوې اېښودل شوې وې او برجسته شوی پوښ یې له همغو موادو څخه جوړ و، چې هغه تر تیکې

Property of ACKU

پوري نږدې تر شپږ_اوه انچو پورې رسېده. لویان کله کله په ملاوستني کې خو زیاتره د تفنګچې په قاشو کې تومانچه ګرځوي. هغه تومانچې، چې د ګرجستان په ختیځ کې په داغستان کې جوړېږي، ډېرې ستایل کېږي خو ما داسې تومانچې په کشمیر کې لیدلې وې، چې د هغو له مخې جوړې شوې دي او هېڅ توپیر یې ورسره نه کېږي. ټولې ډلې خلک بې وسلې وي، خو دا هغه وخت چې په دربار کې یا په سفر کې وي.

## د ښځو جامې او ګاڼې

د لویانو ښځې د فارسیانو لباس اغوندي او البته د ګاڼو او جامو بې شمېره ډولونه استعمالوي. د دوی د لباس ډېرې مهمې برخې دا دي: د شنې بخمل یا شال یا ورېښمو پتلونونه او بخملي یا زرینو او داسې نورو ټوکرو کمیسونه، چې له هغو جامو سره زیات ورته والی لري، چې د انګلیسانو سواره یې اغوندي. دغه کالي د تڼیو درې کتاره لري، چې په یوې داسې سور ورې یا پایپچې سره تړل کېږي، چې په رنګه ډول ګل کاري شوې دي. د لستوڼي شاوخوا ان تر ګوتو پورې ښکته راځي او ددې لپاره، چې د زري ټوکر یا قماش استر وښوول شي، د شا برخه یې په پرېږ یانې دوه قاتي ډول سره اغوستل کېږي. د لویانو تشریفاتي مراسم د عوامو خلکو په شان وي. د ویاړ ځای د خونې په کونج کې دی، چې د وره په مقابل کې واقع وي. هلته د وره مخامخ د کور خاوند کېني او شا یې د باغ یا انګړ په لور نیولې وي. هغه ته نږدې د نوکرانو یو کتار (په دربار کې) ولاړ وي او له صحنې څخه د سالون تر معمولي لوړوالي زیات د دوی سرونه دومره جګ نه وي، چې دوی په سالون کې دننه مېلمانه ولیدلی شي. څه وخت، چې د کور تر خاوند نه یو لوړ کس هغه د لیدو لپاره راځي، د کور خاوند د هغه د هرکلي لپاره وړاندې کېږي، خو د یو مساوي شخص د هرکلي لپاره یوازې له ځایه ولاړېږي، د ځان نه ښکته مېلمه لپاره یوازې تر زنګنونو پورې جګېږي. د کور څښتن له خوا دا د ډېر عزت نښه ده، چې خپل د ناستې ځای مېلمه ته پرېږدي، چې د ناستې ځای هغه ته نږدې وي، هغومره د عزت نښه ګڼل کېږي. لویان د پاچا د پلان پر بنسټ د خپلې خپلخانې ترتیب برابروي، دروازه وانان لري، چې قابچیان[1] نومېږي. دوی اوږدې ډنډې په لاس د وره دباندې ولاړ وي، یو مېلمه په وره کې د یوه یا دوو ابشک اغاسیانو[2] له خوا هرکلی کېږي او لومړي انګړ ته بیول کېږي.

په بل وره کې داسې ډنډو سره، چې په سر کې یې عاج وي، نور دروازه وانان ولاړ

[1] قابچي له ترکي ژبې څخه د وره په مانا دی.

[2] ابشک اغاسي هم یوه ترکي کلمه ده او د (وره څښتن) ترې مراد دی.

Property of ACKU

وي او دلته نور افسران د هغه هرکلي کوي او بېلابېلو انګړو ته يې په هماغه شان لارښوونه کوي، چې عرض بېګي يې ستر مشر ته ورپېژني او هغه ته د ناستې يو مناسب ځای په ګوته کړي. له هغه وروسته نور تشريفات نه وي، داسې هم په خبرو باندې قيود نه وي، خو هغه چې په ډېرو ملکونو کې د ستر مشر خاص مزاج او د مېلمه د تابعيت درجه يې لازمه ګرځوي. د لويانو سلوکونه ساده او نرم او په همدا شان له وقار نه ډک او مهرنی وي.

د هغو افسرانو جامې چې يې ما يادونه وکړه، د هېواد د اشرافو د کاليو په څېر دي او څومره، چې د دوی ځای د هرکلي خونې ته نږدې کېږي، هغومره د دوی دريځ لوړېږي، خو هغه نور نوکران په ساده جامو کې وي. داسې ښکاري، چې د کابل لويان د پرېښت مخالف اوسي او د خپلو نوکرانو شمېر يا د هغوی له ظاهري شوکت نه زيات د هغو په نظم او ارامی وياړي. داسې هم هغه وخت، چې دوی بهر ته وځي، دوی په شمېر کې هېڅکله ډېر نه وي، خو په ډېر تنظيم، سلوک او ترتيب سره روان وي. په هندوستان کې د يوه لوی شخص راتګ که يو ميل ليرې هم اوسي، د هغه د نوکرانو په چغو وهلو د ترومپټونو په غږولو او د ډولونو په وهلو سره معلومېدلی شي. که څه هم د ده ملازمان ښه ډولې ښکاري، په دې چې د سورو او پياده ګانو شمېر يې، چې هغه ورځنې متشکل وي، ډېر وي، حرکات يې چټک او ګډوډ وي، وسلې يې ځلېږي او له طلايي ټوکرانو نه جوړ شوي بېرغونه يې چې ورسره ګډ وي، پړک وهي. سره له دې هم په دوی کې د ډسپلين او ادب نښې ډېرې لږې وي. خو ددې پرعکس په کابل کې به له اشرافو څخه يو په اس سپور شوی وي، ترېنه به کوز شوی وي او ان خونې ته به هم نږدې شوی وي، تاسې خو به پرې خبر نه اوسئ.

## د نوکرو وفاداري

په افغانستان کې نوکران د وفادارۍ او فعاليت په برخه کې ښه نوم لري، دوی په رانه تندي سره هر راز کار کوي، په سفر کې په داسې حال کې چې ښه مسلح او په آس سپاره وي، د خپل بادار خدمت کوي او بادار يې زياتره وخت خپل مهم رازونه ورته وايي. د دوی باداران بې له دې، چې کوم احتياطي اقدامات يې کړې وي، خپل ډېر پټ پيغامونه د هغو په لاس استوي، خپلو نوکرانو ته يوائې دغسې نښه ورکوي، چې يو څوک پيغام ورته استول کېږي، پرې باور وکړي. ددې مقصد لپاره بادار هغه ته يا خپله ګوته يا بل دغسې شی، چې دده په شخص پورې اړه لري، استوي او يا خپل نوکر ته ددغسې يوې خبرې موضوع ته اشاره کوي، چې يوائې پيغام استوونکی او هغه چاته، چې پيغام وراستول کېږي، معلوم وي. د بېلګې په توګه يو نوکر به خپل پيغام په دغسې خبرو پيل وکړي، که ته او زما بادار په دغسې يوه باغ



Property of ACKU

کې سره ناست وای او هغه د کابل په غرونو کې د یو څو ګزو په فاصله کې څلور دېرش بېل بېل ګلونه شمېرل، دا به نو ستا لپاره هغه نښه وي، چې هغه څه چې زه یې درته وایم، هغه به د هغو له خوا وي.

نوکرانو ته په کور کې د بادار له خوا ډوډۍ او کالي ورکول کېږي، سربېره پردې دوی ته په درېو میاشتو کې یو ځل معاش ورکول کېږي، دوی زیاتره د اردو په یو ټولي کې، چې دسته ورته ویل کېږي او یا بادار یې قوماندان وي، د عسکرو په توګه غړیتوب لري.

## د لـویانو ژوند

د لویانو ژوند طبعاً د ژوند له هغه طرز نه بېل دی، چې د عامو وګړیو په نصیب وي. لویان سبایي جګېږي، لمونځ کوي او د یوې ګړۍ یا څه وخت لپاره قرآن او مذهبي کتابونه لولي. وروسته د وچې ډوډۍ، کوچو، شاتو، هګیو او پنیرو سباناری کوي، بیا خپل دربار ته ځي، چې هلته لا دمخه د دوی د کهول افسران ټول شوي وي. دوی ټول تر څابشته هلته پاتې وي او په دغې مودې کې په خپلو ځانګړو ځایونو کې د خپلو درجو په قرار ناست وي. معاملې اجرا کوي، عریضې اخلي او د خپلې رسمي وظیفې زیاتره برخه کار ترسره کوي. د هغو کسانو لپاره، چې ښه ډېر بوخت وي، څابشتي ډوډۍ قصر ته وړل کېږي او دوی هلته تر هغه ناست وي، چې دربار د ورځې لپاره رخصت شي، خو نورې ټول د څابشتي ناري لپاره کور ته ځي او په اوړي کې له هغه وروسته یوه سترګه خوب هم کوي. هغه وخت چې ویښ شي، لمونځ اودس کوي او یو څه لولي او کوم وخت چې بېرته دربار ته لاړ شي. مېلمانه او مراجعین منـي او تر مازیګره پورې هغه کارونه کوي، چې لومړی یې نه شوای کولای. په ترورمۍ کې بېرته کور ته ستنېږي او تر ناوخته ګړیو پورې ځانونه مشغولوي. د ماسختن ډوډۍ خوري او کوم وخت، چې مېلمانه ولري، شراب هم څښي. البته په لویو مېلمستیاو کې هیڅ څوک د شراب څښلو په فکر نه وي. دوی شراب هغه وخت څښي، چې ډېر نږدې ملګري او دوستان په مېلمستیا کې غونډ شوي وي. دوی نااشنا مېلمانه معمولاً څابشتي ناري لپاره رابولي، داسې باید ونه ګڼل شي، چې ټول لویان شراب څښي. برعکس د درانیو زیاتره سرداران له شراب څښلو نه ډډه کوي او ټول زیار باسي، چې دغه کار په لطف او پاکۍ سره وکړي، خو څنګه چې د دوی عیاشان تل په ډلو کې ګرځي، د هغې رعایت کله کله کېدای شي. ممکن داسې وګڼل شي، چې د ټولو لویو کسانو وخت د هغو کسانو د وخت په څېر، چې ما یې بیان وکړ، پوره ډک نه اوسي. سره له دې هم دوی د داسې طریقو په لټه کې نه دي، چې خپل وخت په ښه علاقمندۍ سره تېر کړي، ځکه چې که څه هم دوی له

Property of ACKU

عامو خلکو څخه زیات خپل ژوند په زهد او پرهېزګارۍ تېروي، دوی له باښه بازۍ او ښکار کولو نه خوند اخلي او داسې ډېر وسایل لري، چې نور خلک دوی ته کتابونه لولي او یا د هغو په اړه ورته اوروني کوي. د دوی لپاره لوستل ان یو کسب ګرځېدلی دی او شاهنامه، د فردوسي ستر حماسي نظمونه، د لوستونکیو یوه لویه ډله، د شاهنامه خوان په نامه لري. د دوی کسب دا دی، چې شاهنامه ولولي او یا د هغې ښکلي عبارتونه ښه په زور او زیر سره ادا کړي. هغه لویان، چې د ادبیاتو شوقیان وي، ځانله د دري او پښتو شاګردان لري، سطرنج وهي، کرمبول او یا قطعه بازي کوي. دغه دوه لومړنۍ لوبې نړدې زموږ د لوبو په څېر دي، خو درېیمه یې چې کله کله کېږي، هغه ده چې په هندوستان کې په ګردو قطعو سره کېږي او له ډېرو جهتو څخه له هغې لوبې سره، چې موږ یې کوو، توپیر لري. داسې هم دوی ښار ته نږدې باغونه لري او هلته له څو ملګریو سره ځي او کله لوبې مېلمستیاوې پکې ورکوي، په عمومي ډول د پښتنو اشرافو د ژوند طرز د فارس د اشرافو تر ژوند ټیټ دی او له هغو ډېرو ښتمنیو سره ورته والی نه لري، چې ځینې یې د اوږدو په قرار لري.

## په پېښور کې یوه مېلمستیا

ټول هغه څه، چې ما ته د دوی د مېلمستیا په اړه معلوم دي، د مېلمستیا له هغې شرحې څخه به واضح شي، چې د هیئت کوربه میر ابوالحسن خان په پېښور کې برتانوي هیئت ته ورکړه. لومړی موږ یوه لوی انګړ ته ننوتو، چې په منځ کې یې یو ډنډ و او د ډنډ شاوخوا د وړو څراغونو کتارونه وو او د څراغونو رڼا په اوبو کې انعکاس کاوه. د انګړ په څنډو کې هم ډېر څراغونه ایښودل شوي وو. دغو ټولو د ورځې په څېر قوي رڼا لرله او دا یې ښودله، چې هغه ځای له نوکرو او نندارچیانو نه ډک ده.

موږ په داسې یوه لوی وره ننوتو، چې په هر اړخ کې یې ځینې مانۍ وې او د ټولو دپاسه یو دهلېز و. زموږ مخامخ د یوه سالون منقوشې ستنې او محرابونه او په هر اړخ کې مانۍ ګانې وې، چې د هغو لاندینۍ برخې یوازې یو یا دوه ورونه لرل. ګومان کوم، چې دویم منزل یې کړکۍ لرلې. موږ ته د وره په مقابل کې په سالون کې هرکلی وویل شو، بیا د انګړ پیل و، چې هغه پوره چراغاني شوی و. موږ په عادي ډول د خونې په ښکته برخې کې له یوه وره څخه ننوتلو، په بر سر کې کېناستو. یوه ډېره ښکلې او غني قالینه په غولي باندې هواره، د خونې په درېو خواوو کې لیمڅې اچول شوې او د هغو دپاسه د مېلمنو د ناستې لپاره طلایي ټوکران غوړول شوي وو. هغه ټوکران، چې په برني سر کې هوار شوي وو، په



Property of ACKU

ځانګړې توګه ښکلي وو او هغه داسې بخملي ټوټې وې، چې رنګونه یې ښه صاف او تېز وو او په طلا سره په ګڼ ډول خامک دوزي شوي و. په دروازو باندې د طلایي ټوکرانو یا په وریښمو سره خامک دوزي شوې پردې وې. د خونې د دهلېزو برې برخې په داسې فارسي تصویرونو ښندې شوې وې، چې شاوخوا یې خامک دوزي او طلایي ټوکران وو. ما د نورو شیانو په جمله کې په تعجب سره داسې یو لوی نقره یي ټوکر ولید، چې په هغه کې د زمري دپاسه لمر ختل (د فارس شاهي نښه) په طلا کښل شوی و. د خونې په بېلابېلو برخو کې آئینې ایښودل شوې وې او موږ په دې ډېر حېران شو، چې د دوو آئینو بعدونه یې د هرې هغې آئینې له ابعادو نه ډېر لوړ وو، چې موږ په څومره ستونزو له غرونو او میرو نه راتېرې کړې وې، چې د افغانستان پاچا ته یې د سوغات په توګه ورکړو، چې هغه ته د انګلیسي مصنوعاتو په اړه یو فکر پیدا شي. موږ ته معلومه شوه، چې هغه آئینې چې په خونې کې وې، د ترکیې او ایران له لارې په څمکه راوړل شوې وې. د خونې په منځ کې د څراغونو کتارونه ایښودل شوي وو، په ښو سختو شمعو کې، چې شاوخوا یې په رنګه مومو کې د ګلانو ګېډۍ په مصنوعي ونو کې یو په بل پسې ایښودل شوې وې او د هغو په پاڼو، ګلانو، انګور او مېوو کې چې د دوی په طبیعي رنګ له موم نه جوړې شوې وې، څراغونه ځلېدل.

د بخملي او زرینو ټوکرانو دپاسه، چې د خونې په سر کې غوړول شوي وو، زموږ د ناستې لپاره د ساده څوکۍ ګانو یو کتار ایښودل شوی و. په دغه ترتیب کې تر ښې سلیقې د ادب رعایت زیات شوی و. همدا چې موږ کېناستو، د شیرینیو پتنوسونه راتېر شول. بیا ډېر زر نڅاګرو ښځو په نڅا پیل وکړ او په انګړ کې په اور لوبو پیل وشو. د ساز د الاتو په غوغا د یو درجن نارینه او ښځو سازندوو په بدلو او د اور لوبو په غوغا سره د خبرو مرکو لپاره زموږ کوښښونه ټول ناموزون او مختل شول. په چیني پیالو کې چای یو بل ته وړاندې شو. چای ډېر خوږ و، خوشبیدي یې نه لرلې او د بادیانو په ګډولو سره بالکل بد مزه و. همدا چې د ډوډۍ خوړلو وخت اعلان شو، نڅا بس شوه او زموږ سات تېروونکي، چې یو شیعه و[1] په یوه پلمه ووت. موږ د ډوډۍ خوړلو لپاره په څمکه کېناستو. په داسې حال کې، چې ډوډۍ په سر پټو پتنوسونو کې راوړل شوې وه، دا پتنوسونه سربېره پردې، چې سر پټي وو،

---

[1] شیعه ګان (لږ تر لږه په کابل کې) داسې سخت ګیر دی، چې له مسلمانانو پرته له نورو سره یوځای ډوډۍ نه خوري، په دغه کار کې دوی د مینانو برعکس دي.
کرنیل فرانکلین Colonel Franklin د فارس د مسنیانو په اړه هم همدغسې یوه تبصره لري. ګومان کېږي، چې په هر ملت کې هغه فرقې چې شمېر یې لږ وي او زجر یې ډېر لیدلی وي، ډېر سخت ګیر وي.



Property of ACKU

په سپین ټوکر پوښل شوي او په زرینو ټوټو کې، چې حاشیې یې طلایې وې، پټ شوي وو. پشقابونه د فارس په طرز په ډېرو رنګونو ښکلي شوي او په ډېرو طلایي او زرینو پاڼو ښاپسته شوي وو. خواړه په چیني پشقابونو کې وویشل شول او اجزا یې دا وو: غوښه (کباب شوې، جوش شوې او پخه شوې)، پلاوونه او قورمې او داسې نور ډېر شیان، چې د ټولو بیان مشکل دی. ښو ملبسو آشپزانو زموږ د خوړو نګراني کوله. ددغسې زیات جلال او ددغسې په ربښتیا ډېرې ستره ګۍ او ترتیب په منځ کې دا ډېره عجیبه ښکارېده، چې نوکرانو په قیچي په یوې پیالې کې شمع اچولې او نورو په یوې لویې چوړکۍ غوښې له بندونو څخه بېلولې او بیا یې توټه توټه کولې او په خپلو لاسونو یې زموږ په غوریو کې ایښودل، خو د دوی د کرېډټ لپاره باید وویل شي، چې دوی له هغه دمخه خپل لاسونه ومینځل او لستوڼي یې تر څنګلونو پورته کړل. ډوډۍ سره وه او په نتیجه کې ډېره مزه ناکه نه وه او هغه بې تنوع نڅاګانې او بې اهمیته او لوبې چندان د ستاینې وړ نه وې. په عمومي ډول دغه ټوله مېلمستیا زیاته یا باعظمته او لږه په زړه پورې (په ځانګړې توګه دا چې زموږ د وخت ځینې برخې په یوې خاصې خونې کې د پاچا له خوا زموږ د هیئت د هرکلي د مراسمو په اړه خبرو کې تېرې شوې) وه، خو هغه بله مېلمستیا چې موږ ته له هغه وروسته ډېر زر په یوه باغ کې راکړل شوه، زموږ په ذوق ښه برابره وه. ذلته به زه د هغې په اړه څه ولیکم. چې د لویانو ترمنځ ددغسې مېلمستیا ماهیت څرګند شي.

## د تیمور شاه په باغ کې مېلمستیا

دا مېلمستیا په هغه باغ کې وشوه، چې د تیمور شاه په نامې یاد و او پخپله هغه طرح کړی و. دا باغ د یوه پراخ مربع په شکل و، چې د خامو خښتو دېوالونه په غېږ کې نیولي وو. باغ په دوو پراخو سړکونو، چې یو بل یې په منځ کې نېغ سره قطع کول، وېشل شوی و او په غاړو یې یو په بل پسې د چنار او سروونې دنګې ولاړې وې. په هر اړخ کې یې د ګلانو د پولو دپاسه نرۍ لاره ایستل شوې وه. په هغو څلورو مربعو کې، چې سړکونو باغ پرې وېشلی و، د بې شمېره انځرو، شفتالوګانو، الوګانو، منو، تاکونو، انارو، بهیانو او توتو ونې پوره غوړېدلې وې. دلته او هلته د پیپل هسکې ونې خورې وې.

په ځینو ځایونو کې د ونو لاندې ځمکو کې لوبیا کرل شوې وو، چې په هغه وخت کې ښه په ګلانو راغلي وو. ددغه باغ منظره په ربښتیا، چې ښه زړه وړونکې وه. سربېره پردې، چې هغې زموږ د اروپا خاطرات پارول، هغه عطرونه چې کله کله سوږمو ته رارسېدل، زړه غوړوونکي وو او د دغه منظره د مرغانو په نغمو، چې ځینې

Property of ACKU

یې زموږ په فکر اشنا راتلل، پوره کمال ته رسېده. زموږ په ملګرو کې هر یوه څخه کوله. چې هغه نغمې هغو ته منسوبې وېولې، چې یې په انګلستان کې ډېرې ستایلې. په باغ کې تجیرونه درول شوي وو او یو تجیر، چې د ټولو په منځ کې د سړکونو د تقاطع پرځای کې درول شوي وو، ځانګړې خوښوونکی تاثیر لاره. ددغه تجیر بام شین او سور و او دېوالونه یې له خاص رقم نه وو او دا ددې لپاره، چې هوا ننوتو ته پرېږدي.

بې له دې، چې دننه کسان یې له باندې څخه ولیدل شي، درزونه یې په داسې شکلونو جوړ شوي وو او د کلکو برخو رنګونه یې په داسې ډول ترتیب شوي وو، چې ټول تجیر یې ښکلی کړی و. له یوه اوږده چکر نه وروسته موږ تر یوې ونې لاندې کېناستلو، د مرغانو نغمو ته مو غوږ ونیو او د خپل ملک او د کابل په اړه مو د کورېه له زوی سره خبرې پیل کړې. د کابل په اړه دده خبرې ښې په زړه پورې وې، په حقیقت کې هغه ښاراو د هغه سل زره باغونه د ستاینې او د توصیف یوه عمومي موضوع وه. څه وخت چې موږ خپلې خیمې ته ورغلو، هلته مو د پاچا له امام او نورو ملایانو سره خپل مېلمه پال ولید، دغه امام چې یو ساده، نامرموزه، خوش مشربه او غوړیالی سړی و، د کابل د ښکلا په اړه په اوږدو خبرو پیل وکړ او د پښتنو او دوی د ملک په اړه یې ستاینې پیل کړې او موږ نه یې هیله وکړه، چې باید کابل حتماً ووینو. په دې موقع یا په کوم بل وخت کې، دی ددغه لامل په موندلو ډېر ټینګ و، چې موږ ولې د خپلو آسونو لکۍ پرېکوو او پښتان یې لنډوو؟ ده په دغه کار باندې ډېر وخندل او وېې وېل، چې هر کله چې کوم یو آس ده ته په لاس ورغی، دی به یې موږ ته ولېږي، چې له هغه نه یو نمونه جوړ کړی شي. وروسته له څه وخته دوی لاړل او موږ ته ددې موقع په لاس راغله، چې د پلتنې وهلو له ستړې کوونکې حالت نه یو څه ارام شو. دوی کله څه هم موږ ته وېل، چې څنګه مو خوښه وي هغسې کېنو، خو موږ تل پلتۍ وهلې، په دې چې موږ پوهېدو چې بل راز کېناستل به د دوی په نظر بې ادبي وي. یو څه وخت وروسته ځاښتی ناری راوړل شو. کوزې او چیلمچي ګانې د لاس وینځلو لپاره وګرځول شوې او بیا له ګلداره چیټ نه جوړ شوی دسترخوان وغوړول شو. په دغه دسترخوان د خدای د سخاوت او نورو مقولو په اړه داسې درې نظمونه نقش شوي وو، چې زموږ په فکر د یوه دسترخوان لپاره ښه مناسب وو. بیا پتنوسونه، چې په سپینو لاس پاکو سره پوښل شوي وو، راښکته کړای شول او زموږ په زنګنو کېښودل شول. په هر پتنوس کې پېنځلس یا ډېر پشقابونه، نعلبکۍ وړې او غټې پیالې وې، داسې هم په هغه کې د پلاو دوه لوی غوري ګان او د سرکې ترشي، مربا او نورو ډېرو خوړو پشقابونه وو. د هر پتنوس په



Property of ACKU

منځ کې د شربت یو جام ایښودل شوی و. په دغو سرېره د وري لم په څو پېشقابونو کې تقسیم شوی و. لم په ښه ساده ډول پوخ شوی و، خو شیره یې ډېره وه او مزه یې په لعاب او نورو ځیزونو، چې ورسره ګډ شوي وو، ښه ډېره شوې وه. داسې هم په دسترخوان باندې د کیکونو پېشقابونه ایښودل شوي وو.

دغه کیکونه له وچې ډوډۍ پرته، چې د خوراک لپاره ایښودل شوې وه، کله چې موږ ډوډۍ خلاصه کړه او هغه مو په ډېرې مزې سره وخوړه، تودې اوبه د لاس مینځلو لپاره راوړل شوې. پېشقابونه او دسترخوانونه ټول شول او زموږ چلمونه راوړسېدل. همدا چې چلم مو وڅکوه، زموږ د خوښۍ لپاره درې نڅاګرې نجلۍ د ګډا کولو او بدلو ویلو لپاره راننوتې. دوی د مخ، ځان او کارنامې له حیثه تر هندي نڅاګرو دومره ښې وې، چې ورسره پرتله کېدای نه شوې. د دوی جامې که څه هم څنګه چې په هندوستان کې دي، هسې ګرانې نه وې، خو د سلیقې له مخې تر هغو ښې وې. دوی د زري او طلایي ټوکرو خولۍ په سر کړې وې، ویښتان یې په موزون ډول کوڅۍ شوي وو او وړې زلفې یې داسې پرېښودل شوې وې، چې ښکته تر وجلو او غمبورو پورې یې په تاثیرناک ډول ځړېدلې. غاښونه یې تک سپین، شونډان یې سره او مخونه یې پاک ستره او په ګڼو خالونو زرین و، خو څنګه چې د کابل په ښځو کې سرخي وهل ښه رواج لري، د دوی مخونه ممکن د هنر مرهون وو. د دوی نڅا یو ښه اندازه عمل و. هغې نجلۍ، چې بدلې ویلې او د بدلو ویلو په وخت کې یوازې کله کله نېغه درېدله، خو د هندوستان د نغمو ویونکیو په خلاف مخ په وړاندې چټکه تله، لاسونه یې پړقول. کله کله په زنګنو کېناسته او داسې بېلابېل درېځونه یې غوره کول، چې هغو د هغې د غزلو احساسات انځور کول. ټول دغه اعمال که څه هم شدید وو، له نزاکت او وقار نه ډک وو. د دوی شاته په ښو لباسونو کې له لویو ږیرو او باوقاره وضعې سره، چې د دوی له کسب سره چندان مناسب نه وو، ډول وهونکیو، ویلون وهونکیو او سنج وهونکیو (Cymbals) یوه ډله ولاړه وه. دوی ټولو نڅاګرو ته د شاباش په نارو وهلو یا د خپلو آوازونو په ټول قدرت سره په بدلو کې په شرکت کولو سره ساز ګډوډ کاوه. ښکاره شوه، چې ملایانو په دغې ننداره کې ګډون نه شوای کولای او زه پخپله ددې لپاره وېلل شوم، چې له امام سره ملګری شم، چې هغه له مېلمه پال سره په ګډه چې هغه هم د لوی منصب خاوند و، له ما سره د مذاکرې کولو لپاره مامور شوی و. موږ د ګردالو د ونې لاندې په یوې قالینې باندې کېناستو او تر ډېره وخته سره وګړېدو، خو دغه امام چې چندان د مذاکرې شوقمن نه و، زیاتره وخت مداخله کوله او د هیئت له منشي شاغلي ریچارډ ستراچي (Richard Strachy) سره ګړېده او له هغه نه داسې پوښتنې کولې: «ستراچي!



Property of ACKU

اجازه راکړه چې ستا مهرونه ووینم))، ((دغه شی لا څه بلا دی؟))، ((ته له ځانه سره داسې شی لکه دوربین لرې؟)) په پای کې زموږ خبرې خلاصې شوې او موږ د خپلو مربوطو ملتونو د جامو په اړه د یو څو ټوکو نه وروسته بیا په باغ کې چکر وواهه او کور ته ستانه شوو[1].

## باغ ته د شاهي حرم ورتګ

دغه باغ بالاحصار ته نږدې دی، خو له هغه نه په یوه عام سړک سره بېل شوی دی. پاچا زیاتره هلته ځي او کله کله د خپل حرم ځینې ښځې له ځان سره بیایي. په دغو مواقعو کې یو شمېر منصبداران، چې کرک چیان نومېږي، په ټولو سړکونو باندې، چې هغه ذکر شوي سړک ته منتهی کېږي، درول شوي وي، چې د حرم د تېرېدو په وخت کې خلک ورته له نږدې کېدو نه منع کړي. اوس ددې وخت راغلی دی، چې د لویانو د کرکټر په اړه یو څه ولیکم او ددغې طبقې په اړه خپل مشاهدات بشپړ کړم.

## د پښتنو لویانو کرکټر

د دربار د پیېروانو په توګه پښتنو لویانو د سلوک په مطالعه کولو کې موږ په یقین سره د دوی د کرکټر په اړه ډېر تاوړه نظر ورانديې کوو. له خپلو قومونو سره د دوی سلوک او د عمومو د ذهنیت درناوی، دوی باوقار، بااخلاق او تر یوه حده عادل او تل مهربان او روغې جوړې ته متمایل کوي، خو دوی په دربار کې د هغې فضا له فساد پرته، چې دوی پکې ژوند کوي، بل شی نه شي پېژنداي. ان کله چې وغواړو د پښتنو درباریانو په اړه وګړېږو، موږ به په پوره ډاډ سره ووایو، چې دوی د خپل ملت ډېره بده برخه جوړوي. که پارسیواتان (درباري قزلباشان) په تله کې وغورزول شي، د دربار فساد او جرمونه به د دوی پله د پاتې ټول ملت د فساد او جرمونو په

---

[1] ټولو ساتونکیو او د هئیت ټولو ملازمینو ته، چې له ما سره په باغ کې ننوتل اجازه وه، چې زموږ د چکرونو په وخت کې د هغه ننداره وکړي او کله چې موږ په ډوډۍ ناست وو، د دوی ساعت یې تېراوه. د اروپایي او اسیایي جامو یوځای کېدل او هغه اختلاف، چې ددغې منظرې او د ځینو هغو کسانو په منځ کې لیدل کېده، چې ښکته او پورته کېدل، موږ ټول یې وخندولو. د نورو شیانو په جمله کې ما خپل شاطر ولید، چې په داسې حال کې چې لاسونه یې په خپل جیب کې اچولي وو، په ناز او خرامانۍ سره یې چکر واهه او ظاهراً یې د لندن په زړه پورې چکرونه په زړه کول. دی په دغه حال کې روان و، چې یو پارسیوان چې د قرقل یوه هسکه خولۍ یې په سر وه او یوه داسې چپن یې په ځان وه، چې تر ښنګرو یې رسېدلې وه، ملګری شو. دوی دواړه د څه وخت لپاره په علامو سره خبرې وکړې او ډېر زر داسې سره آشنا شول، چې لاسونه یې سره ورکړل او په یوه واړه دهلېز کې سره لاس په لاس تېرل شول.



Property of ACKU

مقابل کې ډېره درنه کړي. تر هغه ځایه، چې فرصتونو ماته د مشاهدې موقع په لاس راکړه، زه باید په دې اقرار وکړم، چې ما درانې سرداران صمیمي او ربښتیني وموندل او د ډېرو دلاېلو له مخې ویلی شم، چې دوی څه نا څه د آسیا د نورو اشرافو قدر ته لوړ فکري او عزتمند دي، خو د حکومت په شاوخوا کې نور خلک په عمومي ډول پست، دروغجن او حریص دي ان سردارانو، هغه وخت چې په قدرت کې وو، په ډېر بې شرمانه ډول په زور زیاتي سره پیسې پیدا کړې دي. د سردارانو ډېرو تنو په بې شرمانه خیانت سره خپل طرف پرې ایښی او له بلې خوا سره ملګري شوي دي. له دوی څخه یو هم دې ته متمایل نه و، چې د یوې مفکورې د وړاندې بیولو لپاره پیسې ولګوي. که څه هم دی به پوره پرې ولاړ وو او مبارزه به یې ورته کوله. په ډېرو قوي سردارانو کې هم ډېر حسادت او بې اتفاقي غلبه لرله او ډېرو یې د یو بل په مقابل کې په ښکاره یا پټ ډول دښمني کوله، خو په عمومي ډول د دوی کرکټر د نورو ټولو هغو طبقاتو د کرکټر په تناسب، چې د پاچا په شاوخوا کې دي، ډېر ښه دي. د پارسیوانانو زړورې دسیسې، ښکاره درواغ او باجرئته ساخته کارۍ هره ورځ رابرسېره شوي دي. په هندوستان کې به د یوه خارجي لپاره د بې شرمۍ او ګدا منشه ټینګار په اړه داسې تجربه هیڅ په لاس نه شي لکه څنګه چې په دغه ملک کې به یې د دولت ښکته ډېر پارسیوانان مامووران ورتهیه کړي. سره له دې ان دغه عمومي حقیقت هم له استثنا څخه خالي نه و او که د درباریانو ډېر ښه هم له هغو بدیو څخه خلاص نه و، چې د دوی طبقې ته منسوبې وې ان په پارسیوانانو کې هم ځینې کسان د ښه کرکټر خاوندان وو.

## مدد خان اسحق زی

د پښتنو لویانو د کرکټر بیان به ددغه کتاب په تاریخي برخې او نورو مختلفو برخو کې راشي، خو دلته به د هغو لویانو د سجیې انځور، چې ما د شاه شجاع په دربار کې ولیدل، د دوی د مزاج او سلوکونو په اړه یوه عمومي مفکوره ورکړي. ددغو لویانو مشر اکرم خان و، چې د هغه په اړه دمخه پوره لیکنه شوې ده. دویم مشر یې مدد خان د اسحق زیو سر کرده و، چې د هغه نیکه د پارس په جنګونو کې ښه نوم ګټلی و او ویل کېږي، چې په یوه جنګ کې یې نادر شاه زخمي کړی و. په درانیو سردارانو کې دده پلار تر ټولو ستر او تر ټولو جنګیالی و، پخپله مدد خان ډېر شته لرل او د ښه عزت خاوند و. که څه هم ده په ډېر شان او شوکت ژوند نه کاوه، خو په دې یاد و، چې په سلوک، کړو او لباس کې د وقار او اعتدال خاوند و. ویل کېده، چې دی د ښې تربیې او استعدادونو څښتن و، خو دا دده د استعداد په اړه کوم لوی فکر نه ورکوي، چې دده تحصیلات په ځانګړې توګه په درمل جوړولو او



Property of ACKU

طالع لیدلو (استرولوجي) کې وو. ده د داروګري فن ددې لپاره غوره کړی و، چې خپل ځان یې ضعیف و او هغه بل مسلک یې ددې لپاره اختیار کړی و، چې هغه وختونه ډېر نارام وو، چې ده پکې ژوند کاوه. سره له دې هم دی ډېر محبوب و او د حاکمیت د فن په اړه یې د معلومات لرلو له لامله، په جنګ کې د تجربې او زړورتیا لرلو له لامله او په حقیقت کې له سخاوت غیر بل هر شي کې ښه نوم لاره د قول او عهد په اړه ده کرکټر دومره ښه و، چې ان په ژوندانه کې چې ډېرې سختۍ هم پرې راغلې وې، له ده څخه دا نه وو غوښتل شوي چې لوړه وکړي. که څه هم دا حقیقت پټېدلی نه شي، چې ده هرات چې د شاه زمان له خوا ده ته سپارل شوی و. ددغه پاچا رقیب ته تسلیم کړ، خو له هغو خبرو څخه چې ده پخپله ددغې موضوع په اړه کړې دي، داسې ښکاري چې دی دغه کار ته د شاه زمان د زوی د بدګومانیو او طرحې له لامله، چې دی د هرات په نامه حکمران و، مجبور شوی و.

## ګلستان خان، غفور خان او نور

د پښتني لویانو د ډلې ډېر ښه شخص ګلستان خان د اڅکزیو مشر دی، چې د هغه په ښېګڼو ټول ملک شاهدي ورکوي. ګلستان خان صمیمي او زړه ور په تحقیق کې صبور او د عدالت په اجرا کې د ټه ستړي کېدونکي شخصیت خاوند و. دی هېڅکله د کوم سوغات په اخیستلو تورن شوی نه و. ټول هغه وخت، چې زه په پېښور کې وم، دی په کابل کې د حکمران په توګه په خپل کار مشغول و. غفور خان د شتو او اهمیت خاوند و، خو د ټینګې سړی نه و او استعداد یې هم نه لاره. یوه میاشت وروسته له هغه، چې ما ورسره وکتل، ده د شاه محمود خوا پرېښوده او له شاه شجاع سره یوځای شو او په دغه تغییر یې د نملې په جنګ کې مرګ په نصیب شو.

اعظم خان د نسقچي باشي منصب عهده دار و، چې دغه منصب په پخوا وختونو کې زموږ د ارل مارشال Earl Marshal منصب په څېر دی. اعظم خان په هېڅ امله بې استعداده نه و، خو دی تر هغو زیات په مېلمستیا او عزت کې د نامه خاوند و. څه وخت چې شاه محمود دی په دې مامور کړ، چې وفادار خان او نور سدوزیان ووژني، ده ددغه امر له ترسره کولو نه سر وغړاوه، ځکه چې دغه کار د هغه رواج مخالف و، چې درانیو ته تقریباً مقدس و. محمود لومړی په دغه خپل سړی ډېر په قهر شو او محافظانو ته یې امر وکړ، چې د ټوپکونو په کنداغونو یې وپرزوي، خو سره له دغه وحشیانه سلوکه، چې له ده سره وشو او د محمود له هغو ترټنو سره سره چې که دی د امر اطاعت ونه کړي وبه وژل شي، اعظم خان په خپل انکار ټینګار وکړ او خپلو پرنسیپونو ته یې د خپلې ټینګې عقیدې له لامله یو څه وخت وروسته د



Property of ACKU

شاه محمود اعتماد ترلاسه کړ.

میر هوتک خان د مشهور سردار جهان خان (د احمد شاه تر ټولو ستر جنرال) وراره، د استخباراتو د څانګې مشر و، دی یو ښه عالم او د دري ژبې اعلی شاعر و، خو څنګه چې دده علم او کمال د قانون په عوض په شعر او تاریخ او د ظریفه ادبیاتو په نورو څانګو کې و، د خپلو زده کړو له امله د کوم عزت خاوند شوی نه و. دی یو چوپ او ډارن سړی و، د ظلم خوا ته متمایل نه و، خو رشوت یې اخیسته.

## احمد خان نورزی

د هغه وخت تر ټولو غوره مشر احم خان نورزی د نورزي د سترې قبیلې سرکرده او د احمد شاه له څو پاتې عسکرو څخه یو عسکر و. دی د زیات قوت او جسامت خاوند و.

که څه هم عمر یې تر اویا کلونو اوښتی و او یو څه چاغ و، خو د پخواني قوت یو څه نښې پکې ښکاروې او تراوسه هم یو ښه ښکلی شخص و. رنګ یې سپین او پزه یې هسکه او جګه وه، قواره یې ښه جتي وه، ښه لویه ږیره یې لرله او غمبورې یې له ویښتو نه ډک وو.

په سلوک کې ښه ساده و، چهره یې صمیمیت او تند توب مینه ورسره ملګرې وه. دا هغه ځانګړتیاوې وې، چې ده د هغو په ساتلو سره افتخار کاوه. سره له دې هم دی د پخواني عقیدې مثال نه شو کېدلی. ده دوه ځله د جنګ په میدان کې خپله ډله پرې ایښې وه او چې ما ورسره وکتل، له دښمنو سره یې لاره لرله، خو دده خامو دسیسو دده هدف ناکام کړ. دواړه خواوې په ده بې اعتماده شولې، بې له دې چې ده له یوې خوا نه هم څه فایده لیدلې وي. په دولت کې تر ټولو ستر منصبونه دده په لاس و او په خراسان کې یې په ډېر ښه نامه خدمت کړی و، خو سره له دې هم دی په بلخ کې د ازبکو او په سند کې د تالپوریانو له خوا مغلوب شوی و. د یادونې وړ ده، چې په دغه وروستی سیمه کې دده ماتې خوړل دده د هغه کوښښ له امله وه، چې غوښتل یې په جنګ کې د ازبکانو له هغه طرز نه کار واخلي، چې هغو دده په مقابل کې په پوره بري سره تري استفاده کړې وه. سره له دې هم دی په شخصي زړورتیا او ټینګار کې یو ډېر ستر شخص و، خو ان په درانیو سردارانو کې هم دی حریص و. په هغه وخت کې چې زه په پېښور کې وم، ده له خپل خیانت څخه د خبرتیا له لامله د شاه شجاع په پلوی ډېرې چیغې وهلې او ددې لپاره چې له خپلو کړو څخه عامه پاملرنه بلې خوا ته وګرځوي، ده له انګلیسانو نه د خطر ډک اعلان وکړ او په ټولو مواقعو کې یې د خارجیانو او د دوی د فنونو په ضد ناري سورې وهلې. سره له دې هم دده هیلې شنډې او مراودې یې کشفې شوې او کوم وخت، چې زه له پېښور نه



Property of ACKU

روان شوم، په بندي خانې کې وغورزول شو. د شاه محمود د زړې برې ددې سبب شو، چې دی د څه وخت لپاره آزاد شي، خو د خپل بدسلوک یا ناوړه کرکتر له لامله په ده باندې بدګوماني وشوه او خپلې وروستۍ ورځې یې په بندي خانې کې تېرې کړې ان هغه وخت، چې ما هم ولید، دی تازه له یوه اوږده بند څخه خلاص شوی و، خو پاچا په خپلې سختۍ کې ازاد کړی او کوښښ یې کاوه، چې د هغه وفاداري ځانته جلب کړي. دی بیا په خپل پخواني منصب ګومارل شوی و او له پاچا نه یې ډېر عزتونه لیدلي وو، خو څنګه چې دی له دې څخه ډارېده، چې د حکومت د ملاتړ لپاره نغدې پیسې د بسپنې په ډول ورکړي، ده د خپلې غریبۍ او ناداري ناري سر کړې وې. ما دی په هغه کور کې ولید، چې د زیاتې مودې توقیف په دوره کې یې نړدې برباد کړی و. دا کور له ښار نه یو څه لیرې پروت و او هغه سالون، چې ده په هغه کې موږ ومنلو، د یوه له پام نه پرېوتي باغ په لوري خلاص و. د بام یوه برخه یې لوېدلې وه او له دیوالونو څخه یې داسې معلومېده، چې که څه هم هغه په ښه ډول پای ته رسول شوی و او ښه ساده و، خو د زوال نښې یې څرګندې وې، هلته د ناستې لپاره قالینې او ان نیمڅي هم په سترګو نه لیدل کېدل.

موږ دغه خان له څلورو او یا پینځو نورو کسانو سره ناست ولید. ده خپلې جامې په عادي ډول اغوستې وې او هغه ښې ساده وې. دی ولاړ شو او د هر کلي لپاره وړاندې راغی او چې خپل لاسونه یې د فارس په طرز سره د روغبړ لپاره وغځول، ده په تونډ اواز غبړ کړ، چې دی د فارسیانو کسبونو لپاره تیار نه دی او د پښتنو د صحبت او ښې دوستۍ په اړه یې څه وویل. وروسته یې په دواړو لاسونو زه کلک په غېږ کې ونیولم او په ډېر قوت سره یې خپل سینې ته نږدې کړم. بیا سره کېناستو او ځان یې زما د صحت په اړه له پوښتنې او د معمولو تعارفونو له اداکولو نه وروسته د فارسیانو او د هغوی د لطافتونو په ضد په ویلو پیل وکړ او خپل ولس یې وستایه او ویې ویل، چې هغه یو لک پیاوړي دي. بیا پاچا او پاچایي کورنۍ ته د درانیو د وفاداری په اړه او د هغې د عرض کولو په نا ممکن توب وغږېد. داسې ښکارېده، چې په دغسې یوه عمومي محضر کې دغو ناروسورو هدف پاچا ته د هغه د وفادارۍ ښودلو یوه ننداره وي. د درانیي دولت په ضد د هر ډول طرحې د ناکامۍ په متجسس کولو سره ماته ده د خپل وطن پالنې احساسات ثابت کړي، ما داسې ځوابونه ورکړل، چې دده د معتقداتو د تظاهر په اړه شاهد دی او نور حاضرین قانع کړي، بې له دې چې د هغه د هغو خبرو په اړه صدق وکړي، چې زما په اړه یې کړې وې. دده د غوره شوي کرښته توب سره سره زما د لیدنې کتنې په مورد کې دده سلوک او دده عادي خبرې اترې پوره مودبانه او له توجه نه ډکې وې. بله ورځ څنګه



Property of ACKU

چې معموله وه، ما ده ته یو سوغات واستاوه او څنګه چې ده نه شو کولای زما سلام ته راشي لکه څنګه چې زه دده سلام ته تللی وم، ما ده ته یو سوغات واستاوه، بې له دې چې ز د هغو تشریفاتو انتظار وباسم. ده د مننې له ادب نه ډک یو پېغام راواستاوه او له یوه جوړ عینکو نه یې ډېره خوښي وکړه او ویې ویل، چې په هغو سره به د خپل ملک له عینکو نه زیات وکولای شي قرآن ولولي، خو ده په عوض کې یو قلمي چاقو چې ډېر تېغونه یې لرل، راواستاوه او هیله یې څرګنده کړه، چې زه د هغه په ځای یو لوی چاقو ورواستوم. له یو چا څخه مې واورېدل، چې ده د هغه په لیدو سره وویل: ((زه به په دغه سره، چې د لرم په څېر دی څه وکړم. کاشکې دغه استازي دغسې یو چاقو راوبښي، چې یو څوک څه کار ترې واخیستلی شي)) څه وخت چې دغه خبرې ماته نقل شوې، د احمد خان د سلوکونو په اړه ډېرې کیسې راپه زړه شوې. ټولو به ویل، چې احمد خان به سباناري کې د دړېو پسو سرونه او یا په ناري کې د پسه زیاته برخه خوري. په یوې پلې موقعې کې هغه وخت، چې د دړېو کسو په منځ ما ډېر به پېژندل د احمد خان په اړه خبرې کېدې، ما د هغه، هغه ډول روغبړ رایاد کړ، چې ده له ما سره کړی و. هغو ټولو کټ کټ وخندل، خو بله ورځ زموږ دا خبرې د احمد خان غوږو ته ورسېدې او ده دا لازمه وګڼله، چې له مانه په رسمي ډول ښښنه وغواړي او ووایي، چې کومه غېږ چې ده ماته راکړې وه، هغه په رښتیني ډول د پښتنو په پخواني طرز وه او دی تل له هغه چا سره، چې درناوی یې کوي، دغسې روغبړ کوي.

## له پښتنو سره مذاکرې

زه د درانیو سردارانو په اړه تر هغو په ښه ډول یو نظر نه شم وړاندې کولای، یا دا چې زه دوی تر هغو له پارسیواڼانو سره په ښه توګه نشم پرتله کولای، چې له دوی سره د خپلو مذاکرو یوه برخه بیان نه کړم. هغه وخت، چې شاه محمود دلوید یځ له خوا وړاندې راته، د شاه شجاع لښکرې، چې په ډېر لګښت سره ټولې شوې وې، په کشمیر کې د یاغیانو له خوا په شا شوې او خورې شوې وې. په دغو حالاتو کې دده لپاره دا ډېره ضروري وه، چې له موږ نه نقدي کومک ترلاسه کړي، خو زموږ خپل سیاست موږ ته اجازه رانه کړه، چې د دوی په کورنیو جنګونو کې لاس ووهو او په دې اړه د ښه نیت له مخې زموږ ښکاره اعلامیو زموږ لاسونه ان که موږ غوښتل هم، تړلي وو. هغه وزیران، چې ددې لپاره ګومارل شوي وو، چې موږ د عمل له دغې لارې نه واړوي، دوه پارسیواڼان او یو ملا وو، خو له همدغه ډول څخه نور کسان هم ګومارل شوي وو، چې د عادي مېلمنو او بېطرفو ملګریو په شکل مې تر نفوذ لاندې راولي. هغه وخت، چې زه ولاړېدم له دغو کسانو نه مې ځینې زیاتره وخت په خپل

Property of ACKU

سالون کې لیدل او که څه هم د څاښت ناري خوړلو ماته د ورځې څو ساعته تفریح راکوله. دغه وزیران زیاتره وخت د شپې تر دوو بجو پورې له ما سره وو، داسې دلیل او هیلې نه وې پاتې شوې، چې دوی به نه وي ذکر ړې. دوی ان ددې کوښښ هم وکړ، چې ما تشویق کړي، چې که دغسې یوه معقوله هیله مې رد کړه. زموږ هندوستاني مستعمرې به هم په خطر کې ولوېږي. خو دوی هېڅکله دې ته اشاره ونه رسوله، چې د انکار په صورت کې به شخصاً ماته څه زیات ورسېږي. ددوی ډېرې نهایي ترټنې (او دغه په یقیني ډول سره ناراحت کوونکې وې) له هغو اطمینانونو څخه جوړې شوې وې، چې ملکه به خپل پوړنی ماته واستوي او یا دا چې لکه چې اکرم خان له کشمیر نه راوګرځي، هغه به بې له کوم شک نه زما کور ته په ننواتې راشي، خو د اکرم خان په راتګ سره دغه وېره له منځه لاړه. له ده سره زما د لیدنو کتنو په ترڅ کې دغه موضوع بیا رایاده شوه، خو ټولې غوښتنې او ان ټولې هیلې پای ته ورسېدې. اکرم خان په مستقیم او واضح ډول د دوه اړخیزو ګټو د طرحو وړاندیز وکړ. په داسې حال کې چې په دغو طرحو سره د کابل د پاچا غوښتنې ترسره کېدې، ده ته تاسې معلومېده چې هغه به بې له کوم شک څخه انګرېزانو ته غټې ګټې ورسوي. له دغو طرحو نه ښکاره وه، چې دوی زموږ په ښه نیت او صمیمت پوره ډاډه دي. څه وخت چې بالکل واضحه شوه، چې دا پلانونه د منلو وړ نه دي، هغه سمدلاسه ترک شول.

خو د پاچا ستونزې مخ په ډېرېدو وې. کابل د دښمن لاس ته ورغی او هره ورځ ددې انتظار کېده، چې هغه به پېښور ته ورسېږي. پاچا د پېسو د پیدا کولو لپاره له ټولو وسایلو څخه کار واخیست. د هغه جواهرات هم په څه کمه بیه عرضه شول، خو هېچا د هغو اخیستلو ته زړه نه کاوه. په دې، چې مقابله خوا به د دغې معاملې اعتبار ته اهمیت ورنه کړي. پاچا په خپلو ډېرو سختو ورځو کې هم ونه غوښتل له زور او شدت څخه کار واخلي. یو وخت ده ته داسې سلا ورکړل شوه، چې د هغو سوداګرو پیسې ضبطې کړي، چې د تجارت لپاره به یې له کابل نه کشمیر ته وړلې، نږدې و چې دی په دې تشویق شي چې همدغسې وکړي او د هغو په مقابل کې خپل جواهرات ګرو کړي. د دولت قاضي خپله فتوا هم صادره کړې وه او دغه عمل یې قانوني اعلان کړی و، خو پاچا له ځان سره هوډ کړی و، چې خپل نوم وساتي او له دغه فکر نه واوړي. د اړتیا په دغه موقع کې یو ځل بیا ماته مراجعه وشوه او څنګه چې پارسیوانانو له خپلو ټولو مهارتونو څخه استفاده کړې وه، زه د درانیو سردارانو یوې جرګې ته وبلل شوم.

پارسیوانان له دې وانه وښتل، چې له دغې موقعې څخه استفاده وکړي، دوی د

Property of ACKU

پښتنو په کرښته توب او نامتمدن توب افسوس وکړ او ماته یې وویل، چې زه به له نظامي بې رحمانو او لکه د دوی په څېر مهذبو خلکو سره په معامله کولو کې ډېر توپیر وویننم، خو راته یې ویل چې یو لړ څه زړور اوسم، ځکه چې لړ څه موافقه به ټول شیان سم کړي. دوی لا ان په اشارو وپوهولم، چې دا به باوقاره وي، چې زه د دوی له لارې پخپله خوښه یو څه تقدیم کړم، نظر دېته چې د درانیانو په شدت سره وډار شم.

له دې ټولو وروسته زه د ښاغلي ستراچي (Mr.Strachey) او دوه نورو ښاغلیو په ملګرتیا د جرګې لپاره قصر ته لاړم. موږ په یوې خاصې لارې یوې ډېرې ارامې خونې ته، چې دربار ته نږدې واقع وه، راهنمایي شو چې هلته له مهمو منشیانو او مامورانو څخه خپلو خپلې چارې اجرا کولې. همدا چې موږ کېناستو، زموږ ځینې اشنایان د یو څو دقیقو لپاره راغلل او بیا یې موږ یوائې پرېښودلو، چې د هغو منظرو ننداره وکړو، چې زموږ د خونې کړکۍ د هغو په لور خلاصې وې.

هغه پرده، چې د ستر وره په مخ غوړول شوې وه، ورو پورته شوه او په تورو جامو کې څو کسه بې له کوم زوږ نه په ډېرې ارامۍ سره ننوتل. په اول سر کې دوی چندان زموږ توجه جلب نه کړه، خو همدا چې ما د دوی په لور کتل. مدد خان مې پکې وپېژاند او څنګه چې زه ده ته د روغبړ لپاره جګ شوم، اکرم خان نورزي او هغه څلور دراني سرداران مې هم په سترګو شول. دوی ټولو خپلې درباري جامې اغوستې وې او هغسې سره ساق لرونکي بوټان یې په پښو وو، چې څه وخت په دربار کې د پاچا حضور کې ښکاره کېږي. هغه په پښو کوي یا دوی نورې جامې ښې ساده وې، دوی موږ ته مخامخ کېناستل او تر ټولو مشر احمد خان یې په سر کې و. دوی لومړی په عمومي خبرو پیل وکړ او خبرې یې په دوستانه او مهذبو کلماتو رنګینې کېدلې، خو دوی ډېر زړه نازړه وو، چې په اصل موضوع کې داخل شي او پخوا له دې، چې کوم یو دغه کار په غاړه واخلي، دوی زیاتره په پښتو کې په یو بل باندې زور لګاوه، چې شروع پرې وکړي، اخر دوی له یوې لیرې فاصلې نه پرې پیل وکړ. په موږ باندې له خپل اعتماد نه وغږېدل او هیله یې ښکاره کړه، چې غواړي له موږ سره مشوره وکړي او په پای کې یې په ډېر نزاکت سره خپلو اړتیاوو ته اشاره وکړه.

د هغوی په ځواب کې ما د دوی د ملت د فایدې او درناوي په اړه خبرې وکړې او د هغه د ابادۍ لپاره مې خپلې ښې هیلې څرګندې کړې، خو په ډېرو واضحو الفاظو مې هغه اعتراضونو ته اشاره وکړه، چې د دوی په کورنیو جګړو کې زموږ د لاسوهنې په لارې کې موجود وو. داسې مې هغه ګټې هم وریادې کړې، چې یو قدرت غوښتونکي او نقشه لرونکی دولت یې د عمل له معکوس روش څخه



Property of ACKU

حاصلولی شي. احمد خان (چې له دښمن سره د هغه ترتیبات باید دغه وخت حتماً پوره شوي وي) دې ته نه و حاضر، چې دغه موقع له لاسه ورکړي، بې له دې چې خپل همت او پښتني سپین ږیل ونه ښيي. ده په سختو کلمو او ان کتره ږیلو پیل وکړ، خو ډېر زر د نورو له خوا غلی کړی شو او هغوی موضوع بالکل واړوله او د هېواد په ګډوډۍ یې افسوس وکړ، چې د هغو له لامله یې ونه شو کولای، چې څنګه لازمه ده، زموږ هرکلی یې کړی وای او موږ له هغو نعمتونو څخه برخوردار شوي وای، چې دغه مملکت زموږ په نصیب کولای شول. دغسې خبرې تر هغو روانې وې، چې موږ رخصت شو. له هغه ورسته بیا هېچا په ما اصرار ونه کړ، خو ما ددې څه احساس ونه کړ، چې ماته دې په توجه کې یا د دربار په مېلمستیا کې څه کمی راغلی وي[1].

[1] دا به بې فایدې نه وي، چې زیاته شي چې یو اروپایي ګرځنده به په دغه ملک کې څنګه بریالی وي؟ په دې اړه زما نظر دا دی: له یوه غریب مساپر سره به د پښتنو د ملک په ډېرو برخو کې د زړه سواندۍ او مېلمه پالنې د روحیې له مخې سلوک وشي، خو که یو شتمن سیاح د لازمو بدرګو پرته ددغه ملک په هرې هغې برخې کې د سفر شوق وکړي، چې د حکومت تر نېغې کتنې لاندې نه وي، ممکن چور شي. دی به په هغو ملکونو کې مامون وي، چې د پاچا تر اداري لاندې وي، خو دی به ان د مملکت په مرکز کې هم د حکومتي مامورانو له ظلم او زورزیاتي څخه خلاص نه وي. دده لپاره به ډېره مامونه طریقه دا وي، چې له یوه کاروان سره د سوداګر په توګه سفر وکړي، خو د ښاغلي فوسټر (Foster) مثال به وښيي، چې د سفر کولو له دغه طرز څخه به څومره لږ خوند حاصل شي. سره له دې چې دی نه په ماجراجویۍ پسې و او نه یې د نویو شیانو پلټل غوښتل او له هغې ژبې سره هم ښه اشنا و، چې په ټ،ل مملکت کې ویل کېدله. یواځې د یوه سفیر سجیه د یوه شتمن اجنبي لپاره د مامونیت پوره امید ور کوي، خو ان دده مصونیت هم د هغو افرادو په ملاقاتونو پورې اړه لري، چې د حکومت په سر کې واقع وي. تجربو ښوولې ده، چې شاه شجاع د سلطنت په دوره او د اکرم خان د حکومت په وخت کې له یو خارجي وزیر سره به نه یواځې په ښه نیت، بلکې په نزاکت سره سلوک وشي، خو دا چې د دولتي مېلمه امتیازات به یو مشابه نماینده د مقابلې خوا له زړه ورو او بې پرنسیپه مشرانو څخه خلاص کړي، باید په اثبات ورسېږي او دا ماته مشکوک ښکاري.

هغه اروپایان، چې غواړي په دغه ملک کې واوسي، په پوره توګه خوندي ښکاري. دقسطنطنیې هغه سړی، چې ما یې مخکې ذکر کړی دی، د پښتنو په ملک کې په سوداګرۍ ډېرې پیسې پیدا کړې او له لاسه یې ورکړې، خو دی هغه وخت چې شتمن و د وزیر تر حمایې لاندې و او دی یو ښه مثال کېدای نه شي.

داسې ښکاري، چې له پادري پټروس (Padre Petroos) سره څه غرض نه وي شوی او یوه فراري انګرېز، چې ماته په ملتان کې تسلیم شو، د خپل سلوک په اړه ښه بیان ورکړ. دی په ډېره غازي خان کې استخدام شوی و او هلته ان درانیو سردارانو مېلمستیا وو ته باله. د هندوستان مسلمانانو، چې کله کله د مملکت هغې برخې ته تلل، ده ته تکلیف ورکاوه. په دې چې پښتنو ته به یې ویل، چې دوی دداسې یوه کافر ملګرتیا کوي، چې دی د خوګ د غوښې د خوړلو پروا نه کوي، خو پښتنو به ویل، چې دوی د هغه په دغه کړو کې څه ضرر نهویني او د هغه د مذهب پروا چندان نه کوي. د

Property of ACKU

هندوستان د ورته ښو نیتونو په اړه د ښاغلي دوري (Durie) لیکنه ولولئ. دا د دوی د بدنیتی له امله نه ده، بلکې د هندو د کاست (Cast) یا عنعنوي طبقې له تعصب څخه پیدا ده، چې د هندوستان مسلمانان په هغه سره په ژور ډول متاثر شوي دي.

ماته ددې څه پته نشته، چې په افغانستان کې به نور اروپایان موجود وي. د روسیې د امپراتورۍ کوم ځانګړي اوسېدونکي یو وخت بل وخت له کاروان سره دغه ملک ته راځي (لکه د استراخان یو اوسېدونکی، چې ما په ملتان کې ورسره کتنه وکړه) خو هېڅ یو خارجي په دغه هېواد کې مېشت شوی نه دی. په اروپا کې داسې ویل کېده، چې روسان په بلخ کې یوه فابریکه او یو څه نفوذ لري، خو دا وینا یقیناً بې بنیاده ده. اورنبرګ (Orenburq) ته د (کسپین بحیرې شمال ته) نږدې د روسانو د راتلو په اړه څه نه اورم، یواځې د کسپین په شمال غرب کې دوی فتوحات کړي دي.

ښخوا له دې، چې دغه موضوع پرېږدم، غواړم د هغو اروپایانو ذکر وکړم، چې په دغو وختونو کې یې افغانستان لیدلی دی. له ښاغلي فوسټر Föster سربېره یو فرانسوي د ښاغلي ام. مسي (M.Massay) په نامه ددغه ملک په لاره له هندوستان نه اروپا ته لاړ. یو جرمني منصبدار له هغه وروسته، چې د بیګم سومرو (Begum Samroo) په خدمت کې د قوماندانۍ وظیفه لرله، د یو څه وخت لپاره د تیمور شاه په پوځ کې و. یو بل اروپایي یو څو کاله لومړی له هندوستان نه د اروپا په لار په بلخ کې مړ شو، ویل کېده چې ده ما لیخولیایي ډوله مزاج لاره، خو ښه بامعلوماته او نرم شخص و، دی د یار فاضل په نامه یادېده. (دغه عربي نوم دده خپله اختراع ده او شاید علم خوښوونکی ترې مراد وي.) هغه وخت چې زه د کابل په قلمرو کې وم، د جین توماس (Jean Thomas) په نامه یو ډېر ذکي فرانسوي، چې په دغو وروستیو وختونو کې د جاسوسی قوي ګومان پرې شوی و، له هندوستان نه ووتښتېد او د افغانستان له ځینو متصرفاتو نه تېر شو. ده وکولای شول چې په ډېرې زړورتیا او خوش خلقۍ سفر وکړي او ټول هغه کوښښونه شنډ کړي، چې دده د نیولو لپاره کېدل. له هرات نه له رااستول شویو لیکونو څخه ښکارېده، چې دوه فرانسویان هم وروسته له هغه، چې زه له پېښور څخه روان شوم، د هرات ښار ته رسېدلي وو. کله چې موږ دا حقیقت په نظر کې ونیو، چې فرانسویانو تر څومره ډېره وخته پورې په تهران کې یو نمایندګي لرله، دې کې څه شک نه پاتې کېږي چې دوی باید ددغو ملکونو په اړه ښه معلومات ولري، خو د دوی د حکومت طرز ټولې هغه هیلې شنډوي، چې دوی به خپل معلومات جهان ته ورکړي. دا وضع به ټول هغه کسان نامیده کړي، چې غواړي له هغه لارې هندوستان ته راکښته شي.

له اباسین نه اخوا د پښتنو په ملکونو کې د نورو اروپایانو په اړه مې څه نه دي اورېدلي، خو یواځې هغه چې نومونه مې درته ذکر کړل.

Property of ACKU

# لسم څپرکی

## د کابل سوداګري

### کاروانونه

هغه هېواد، چې وچې چاپېر کړی وي، سمندر ته لاره ونه لري او هم د کښتۍ چلولو لپاره سیندونه ونه لري او د اراباې لرونکیو ګاډیو لپاره مناسب نه وي، حتمي ده چې د سوداګرۍ مالونه په بار لرونکیو بوده ګانو وړل کېږي، له دغو څخه اوښان تر ټولو ښه دي. دوی د تندې ډېر طاقت لري او په آسانۍ سره له هر ډول بوټو او نېږدې له هر راز شنو څخه د دوی لپاره خواړه برابرېدلی شي.

نو طبیعي ده، چې هغه قومونه، چې د دوی ملک دوی ته ددې توان ورکوي، چې اوښان وساتي یا دا چې دوی دغسې څارویو ساتلو ته ځان مقید کوي، خپله پاملرنه سوداګرۍ ته اړوي او دوی هغه زیاتره له مهاجرتونو سره یوځای کوي، چې د خپلو څارویو لپاره بوټي، واښه او د ځان لپاره په زړه پورې اقلیم مونده کړي. هغه وخت، چې دغو قومونو خپل ملکونه لکه څنګه، چې عمومي حال همدغسې دی، د دوی لپاره نه تولیدات تهیه کولای شي او نه د نورو ملکونو د محصولاتو لپاره مارکیټ برابرولی شي، د اوښانو خاوندان په عمومي ډول یوه بل ملک ته د یوه شتمن ملک د محصولاتو د وړلو لپاره استخدامېږي. هغه وخت، چې دوی د لوړې پانګې خاوندان وي، دوی دغه کار پخپله خوښه کوي، خپل د سوداګرۍ مالونه پخپله وړي او پخپله یې خرڅوي، خو هغه کسان چې د دوی یوازیني شتمني یو څو اوښان وي، نه شي کولای پخپله په دغسې ترافیک کې مشغول شي. دوی په دې قناعت کوي، چې خپل اوښان لا شتمنو قومونو یا د ښارونو سوداګرو ته په کرایه ورکړي. دغسې سوداګران د هدف ځای ته د تجارت د مالونو لېږدولو سره پخپله ملګرتوب کوي یا د خپلو شتو او د ژوندانه د عادتونو سره سم خپل نوکران ورسره استوي (چې د دوی وظیفه په کښتۍ کې د مالونو وړلو له ناظر سره یوه ښکاري).



Property of ACKU

داسې هم ځینې دغه سوداګران پخپله اوښان ساتي، چې دوی یې ښارونو ته په نږدې ډاګونو کې، چې دوی پکې اوسي، مړوي. داسې هم ځینې کسبي انتقال کوونکي په همدغه ډول اوښان ساتي، چې دوی یې په کرایه ورکوي، هغه اوښان چې له یوه خاص قوم څخه په کرایه اخیستل شوي وي، په معمولي ډول د هغه قوم په ملګرتیا، چې ورپورې تعلق لري، سفري کوي. هغه اوښان چې د سوداګرو یا انفرادي انتقال کوونکیو مال وړي او د دغو مهاجرتونو په لور سفر کوي، په عمومي ډول د مصونیت یا د ملګرتوب د نورو ګټو په منظور په کوم قوم پورې ځانونه نښلوي.

له هغو ځایونو سره تجارت، چې د کوچې قومونو له تګ راتګ نه لیرې پراته دي، ټول په هغو ځارویو کېږي، چې په سوداګرو او د ښارونو په انتقال کوونکیو پورې اړه لري. دوی کاروانونه جوړوي او خارجي تجارت په دغه طرز سره وړل کېږي.

هغه طریقه، چې په هغې اوښان تنظیمېږي، چې له کوچې قومونو سره سفر وکړي، د هغه قوم په مثال ورکولو په ښه شان شرح شي، چې یا له خپلو یو څو اوښانو سره سفر کوي یا ډېر اوښان ورسره ملګري وي، خو دغه اوښآن د نورو کسانو وي. د میا خېل د قوم نیمایي برخه هر کال له دامان څخه شلګر یا نږدې سیمو ته لېږد کوي. د دوی ښځې او کورنۍ له دوی سره مله وي او اداره یې د ځینو موروثي مشرانو په لاس وي، چې څلوېښتیان[1] یې مرستیالان او ملاتړ وي. ټوله اداره او کنټرول د هغو کسانو په لاس وي، چې هغه وخت چې دوی په خپلې سیمې کې وي، هم هماغه رول لري. هر هغه بېګانه سړی، چې له دوی سره یو ځای کېږي، مجبور دی چې د میاخېلو رواجونو ته غاړه کېږي.

خو له بلې خوا له بابړو سره د کاروان زیاته برخه له هغو کسانو نه متشکله ده، چې له دغه قوم څخه دي ان باپړ هم چې په دغه قوم پورې اړه لري، له خپلو کورنیو سره نه ځي، بلکې یواځې د سوداګرو په توګه سفر کوي. د بابړو یو مشر[2] له کاروان سره ملګری وي او ده ته نږدې هغه اختیارات ورکول کېږي، چې یو خان یې په خپلې سیمې کې لري، خو ده واک یواځې دده په خپل قوم چلېږي او دا د نورو په اختیار کې ده، چې دده اطاعت وکړي یا یې ونه کړي. په عمومي توګه دوی ټول دی د یوه قافله باشي[3] په توګه انتخابوي او دغه مقام ده ته په ټولو باندې واک ورکوي. دی اتیا کسه ټاکي، چې له سرغړوونکیو څخه د جریمې په ټولولو کې له هغه سره مرسته وکړي. دوی کشالې رفع کوي، سوله ساتي، محافظات او بدرګه

[1] یو راز دیکتاتور، چې ځینې وخت په جمهوري قومونو کې ټاکل کېږي.
[2] د بابړو د یوه خېل میراثي مشر سردار.
[3] د کاروان د مشر په مانا یوه ترکي اصطلاح ده.

Property of ACKU

مرسته وکړي. دوی کشالې رفع کوي، سوله ساتي، محافظات او بدرگه ټاکي او د اړولو ځایونه ټاکي. داسې هم دی له هغو قومونو سره، چې د هغوی له سیمو نه تېرېږي، د گمرکي محصولاتو فیصله کوي، هغه پیسې ټولوي، چې دوی ته یې باید ورکړي او هغه قوم یې تادیه کوي، چې د هغو حق وي. خو کله چې د بابړو مشر ددغه مقام لپاره نه وي ټاکل شوی، هر سړی خپله اداره په خپله کوي او نتیجه یې گډوډي او جنگونه وي.

له دامان نه تر خراسان پورې هغه لارې، چې دوی وربانديې سفر کوي، څومره چې فکر کېدای شي هغومره زړه ماتوونکې دي. د کابل د لارې ښه ډېره برخه په غرونو کې له تنگیو ډبرېنو درو څخه تېرېږي. دا لاره کله د رودونو له بستر څخه تېرېږي او ځینې وخت په جگو او ډبرینو کوتلو اوړي. د گومل لار دننه د سیند په مجرا کې پرته ده او هغه وخت، چې د سیند اوبه ډېرې شي، کاروان مجبورېږي چې د هغه او د غونډیو ترمنځ په یوه گوښه ځای کې واړوي او تر هغو پاتې شي، چې د سیند اوبه کمې شي. سربېره پردې شیرواني او تر هغو زیات وزیر له خپلو نږدې سیمو څخه دغو لارو ته راکوزېږي او کاروانونه چوروي. د کندهار د لارې کاروان وروسته له دې. چې په غرونو واوړي، په داسې وچو میرو کې سفر کوي، چې په ډبرینو غونډیو او په ځینو ځایونو کې په غرونو سره وېشل شوي وي. کاروان په خپل دغه ټول مزل کې مجبور دی، له ځان سره خوراکي مواد او زیاتره وخت اوبه یوسي، ځکه چې په لارې کې هیڅ اوبه نه وي او یا تروې وي. په دې لار کې یوازې ددغو سیمو یوائیني گټور محصولات دي، چې څارویو ته خوراک او نورو ته اور برابروي. په دغه اوږده مزل کې کله کله باندې په نظر راځي، خو په ځینو موسمونو کې د گرځندو شپنو کېږدۍ ډېرې وي.

دوی کله چې د داړه مارو قومونو ترمنځه تېرېږي، په ډېر نظم په مخ ځي. ډله ډله کسان د کاروان ټولې خواوې احاطه کوي ان کوم وخت چې دمه هم کوي، یوه ډله په آسو سواره ولاړ وي او د دوی څارنه کوي، چې څوک څېړېدونکي اوښان ونه تښتوي. د کاروان زیاته برخه د شپې آرام ویدېږي. مشران په تنگو کوتلونو کې د کاروان د تېرېدو ترتیب ټاکي او کله کله د کاروان ځینې برخې په نورو لارو استوي. د دوی ورځنی مزل اته یا لس میله وي او هغه وخت، چې د مقصد ځای ته ورسېږي، هغه کسان په خپله مخه ځي، چې له کاروان سره یې ملگرتوب کړی و. په داسې حال کې چې قومي کسان خپل اوښان څر ځایونو ته استوي او پخپله د شنه او زړه غوړوونکې ملک په منځ کې، چې معتدله هوا لري، په ارامۍ سره دمه وهي. دوی د هغو شپنو په څېر یوځای بل ځای ته نه ځي، چې د هغوی د مزل طرز او عمومي

Property of ACKU

عادتونه له هغو نه چې اوس مې بیان کړل، ډېر توپیر لري، خو دوی له هر کور څخه یو نفر استوي، چې هلته هغه مالونه خرڅ کړي، چې دوی له ځان سره راوړي دي او نور داسې مالونه وپلوري، چې نه غواړي له ځان سره یې یوسي. د نورو قامونو ډېر سوداګر له دغسې یوه کاروان سره ملګرتوب کوي. دوی د کاروان د ساتنې د لګښت پوره کولو په لور پخپله د قام د غړیو په څېر، چې دغه کاروان ورپورې تعلق لري، د هر اوښ بار په سر یوه روپۍ او د هغې څلورمه تادیه کوي.

د هغو قافلو ترتیبات، چې هندوستان او فارس ته استول کېږي، هم د هغو ترتیباتو په څېر دي، چې په پورته ډول بیان شول، خو په دې توپیر چې اوښان له خلکو نه په کرایه اخیستل کېږي او ټول د داسې یوه قافله باشي تر حکم لاندې وي، چې هغه د ټولو له خوا انتخابېږي، خو دغه مامور له پښتنو نه زیات په تاجکو او نورو خلکو کې عمومیت لري. په داسې حال کې چې پښتانه زیاتره وخت بې له کوم مشر او یا مقرراتو په ګډه مزلونه وهي.

کاروانونه په عمومي ډول د شپې مزل کوي، دوی د قومونو د کاروانونو په شان په اطراف کې د خپلو سفرونو په پای کې نه اړوي، بلکې په ښارونو کې په کاروان سرایو کې اړوي. کاروان سرایونه د پراخو مربعو په بڼه وي، چې په کوټو سره محاط شوي وي. هر کاروان سرای ځانله یو مسجد او زیاتره په مېنځ کې یو تود حمام او یو ګڼ لوی ور لري. د هغو اداره ددغسې کسانو په لاس کې ده، چې هغوی دغه کوټې د ډېرو کمو پیسو په مقابل کې سوداګرو ته په کرایه ورکوي. یو عادي سوداګر په عمومي ډول دوه کوټې په کرایه اخلي او په هغو کې خپل مالونه ځایوي او په خپله پکې اوسي. دی په همدغه ځای کې خوراک څښاک کوي او ویدېږي. دوی د دلالانو له وساطت پرته خپل مالونه یا ټول یو وار خرڅوي یا لږ لږ خرڅوي.

د ترکستان کاروانونه ټول له آسونو یا قچرو نه متشکل وي او دا ممکن له دې لامله وي، چې لار یې په یوې برخې کې د هندوکش په غاړو کې پرته دي، ډېرې ډبرینې دي.

هغه کاروانونه چې چیني ترکستان ته استول کېږي، له کشمیر او پېښور نه روانېږي. کابل د آزاد ترکستان او کندهار او هرات د فارس لوی بازارونه دي. د هندوستان تجارت پر نورو ډېرو ځایونو وېشل کېږي، د پنجاب او شمالي هندوستان تجارت بهار ته وړل کېږي او هغه، چې د جیپور له دښتې نه اړول کېږي او تر هغه هم د ښکته سیمو تجارت شکارپور، بهاولپور او ملتان ته وړل کېږي، هغه مالونه چې په بحر کې نقل کېږي، لومړی کراچۍ ته او له هغه وروسته شکارپور او کندهار ته وړل کېږي.

Property of ACKU

## د کابل بهرنی تجارت

د کابل د سلطنت عمده بهرنی تجارت له هندوستان، فارس او ترکستان (مستقل او چیني) سره دی. له کافرستان (نورستان) سره هم په لږه اندازه تجارت کېږي. یو راز ټوکر، چې له وړین شال څخه جوړ شوی دی او اسول توس (Ussul Toos) نومېږي، له تبت نه واردېږي او د سند بندرونه له عربستان سره یو څه تجارتي تماس ساتي.

له هندوستان سره تجارت تر ټولو زیات دی، که څه هم په دې وروستیو کلونو کې یو څه کم شوی دی. هندوستان ته صادرات آسونه، تچرې، قیمتي پټ لرونکي پوستکي، شالونه، ملتاني چیټ، هنگه (انجه)، نکریزې، تمباکو، بادام، پسته، چارمغز او مېوې تشکیلوي. مېوې په عمومي ډول وچې وي (لکه شکرپاره، الوباب او ممیز)، خو یو ډېر مقدار یې تازه هم وي. مېوې چې تازه وي، پخوا له دې چې ډېرې پخې شوې وي، شکول کېږي او په پوره احتیاط له مالوچو سره په لرگینو بکسونو کې اچول کېږي. هغه مېوې، چې په دغه ډول صادرېږي، مڼې، ناک او کلک انگور دي. د انارو استول دغه ترتیب نه غواړي. بله هېڅ مېوه ددغه مزل طاقت نه لري او ان دغه مېوې هم خپل ډېر خوندونه له لاسه ورکوي. شالونه هم د عمده صادراتو یوه برخه تشکیلوي او هغه څوک یې په هندوستان کې اغوندي، چې د اخیستلو توان یې لري او هغه له کشمیر پرته په بل ځای کې نه جوړېږي. د هندوستان نه واردات دا دي: کلک پومبه یې مصنوعات (چې د ټول ملک او ترکستان عام خلک یې اغوندي)، ململ او نور، نفیس مصنوعات یو راز وریښمین او زري ټوکران، په ډېره اندازه نیل، عاج، تباشیر، درویي، موم، قلعي، زیړ، د صندل لرگي (Sandel-wood) او تقریباً د ټول ملک د احتیاج بوره. له څه سوروړ ټوکران هم واردېږي، خو ډېر یې له بخارا نه راوړل کېږي. مشک، مرجان (Coral) دارو او نورو اړه څیزونه هم واردېږي. له هندوستان نه په وارداتي مالونو کې د مساله بابویل ډولونه یو عمده قلم تشکیلوي، چې له بمبیي او د مالابار Malabar له ساحل نه کراچۍ او د سند نورو بندرونو ته واردېږي او له دغو ځایونو څخه کابل او کندهار ته وړل کېږي. نړدې ټول مساله باب، چې په دغه هېواد کې په کارېږي، د کوري گانو Corries[1] د ډېر مقدار په شان په دغې لارې نه واردېږي، آسونه هم له دغې لارې نه صادرېږي.

ازاد ترکستان ته صادرات په عمده توگه له هغو مالونو څخه متشکل وي، چې

[1] کوري له وړو صدفونو څخه جوړې محلي پیسې وې، چې په هندوستان، آسیا، او د افریقې په ځینو برخو کې استعمالېدلې. ژباړن

Property of ACKU

پخوا له هندوستان څخه وارد شوي وي يا د کابل په هندوستاني ولايتونو کې جوړېږي. د هغو عمده مالونه هر ډول سپين ټوکران، شالونه، هندوستاني پګړۍ، ملتاني چيټ او نيل دي.

د وارداتو عمده مالونه آسونه، طلا او نقره دي، وروستي قلمونه يې له طلا (د بخارا طلايي سکه)، هالينډي دوکاتو Dutch ducats نيسي سګونز Seguins يامبوس Yamboos او د سپينو زرو چيني خښتو څخه متشکل دي. يو ډول سور رنګ Cochineal نري ټوکران، پرپټ Purpet او يو راز نري ځلېدونکي فلزي جامونه Tinsel له اوسپنيزو لوښو، قاشقو او پنجو او نورو پخو لوښو سره يوځاى له بخارا نه راوارد ېږي او دا شيان بخارا ته له روسيې نه يا د اورنبرګ له لارې له دښتو نه او يا د بحر له لارې له استراخان نه ارول Arul يا منګ قشلاق ته په اورکنج کې استول کېږي. سکلې، د مخ آئينې، روسي څرمن، قلعي باب، تسبيح، عينکې او يو څه نور واړه اروپايي مالونه هم له هغې لارې نه وارد ېږي. ارموک Oormuk هغه نازک ټوکر، چې د اوښ له وړيو نه جوړېږي، يو مقدار نخي ټوکران او يو څه د قره قل پوټکي پخپله له بخارا څخه راوړل کېږي لکه څنګه چې د قزاق له ملک نه يو څو دوه ډېږي لرونکي اوښان راوستل کېږي.

له افغانستان نه فارس ته شالونه، له شال نه جوړ شوي شيان، نيل، هراتي قالينې، ملتاني چيټ، هندوستاني زري ټوکران، ململ او نخي ټوکران صادرېږي. هغه شالونه، چې فارس ته صادرېږي، له ټولو هغو نه، چې په هندوستان يا انګلستان کې لېږدول کېږي، د طرحې په لحاظ پوره توپير لري. دغو شيانو ته دې نږدې وختونو پورې، چې د فارس پاچا د هغو استعمال منع کړ، ښه عموميت لاره. د فارس پاچا د هغو استعمال له دې امله منع کړ، چې د خپل ملک صنايع تشويق کړي.

افغانستان ته له فارس څخه واردات دا دي: د ګيلان او رشت خام وريښم، هغه وريښمين شيان چې په يزد او کاشان کې جوړېږي، د بېلو رنګونو يو راز نخي کلک مصنوعات، چې کوډوک Kodduk نومېږي (او ډېر ښه يې په اصفهان کې جوړېږي) او وريښمين دسمالونه، چې ښځې يې استعمالوي. دغه مصنوعات د ټولو صنوفو خلک په زيات مقدار سره استعمالوي. خامک دوزي شوي اتلس، بخمل او فارس زربفت البته لويانو ته منحصر دي. مسکوکات او د سرو او سپينو زرو خښتې، چې لا مسکوکې شوې نه وي، هم د وارداتو په جمله کې دي، خو تر ټولو زيات هغه هندوستاني چيټ د يادولو وړ دي، چې د کورومانډل Coromandel په غاړه کې په ماسولي پټام Masuli patam کې جوړېږي او د فارس په خليج کې د اوبو له لارې بوشهر ته راوړل کېږي. له هغه ځايه وروسته بيا د وچې له لارې افغانستان ته لېږدول

Property of ACKU

کېږي، چې هلته زیات استعمالېږي.
چیني ترکستان ته صادرات نږدې هغه دي، چې بخارا ته صادرېږي. له چیني ترکستان څخه واردات دا دي: یو خاص ډول وړین ټوکران، چیني ورېښم او اتلس، چای (په نریو وړو سرېږي بکسونو کې)، چیني باب، اومه ورېښم. یو ډول خاص رنګ، ښیښه باب، د طلا خاورې، د فلزاتو خښتې او په چیني مهرونو لګول شوي نقره یې یامبوګان Yamboos. له نورستان سره سوداګري ذکر ته چندان ضرورت نه لیدل کېږي. له دغه ملک سره تجارت په شرابو Wine، سرکې، پنیر او غوړیو کې کېږي، چې هغه په سرحد کې له هندي او کابلي ټوکرو مالګې، کوریو Corries، قلعي او له مفرغ نه جوړ شویو لوښو سره په جنس مبادله کېږي. په همدې ډول له نورستان څخه یو څه غلامان هم پلورل کېږي، داسې هم مریان له عربستان، حبشې او نورو ځایونو څخه د سند بندرونو ته واردېږي.

## داخلي تجارت

ښکاره ده، چې په دغسې یو پراخ ملک کې باید د داخلي سوداګرۍ یو زیات مقدار هم موجود وي. هغه عمده مواد، چې له لویدیځو ولایتونو څخه ختیځو ولایتونو ته وړل کېږي، دا دي: وړین ټوکران، پټ لرونکي پوستکي، نکریزې، پنیر، کرت او ځینې مصنوعات لکه د هرات قالینې او د لویانو د کالیو او سامان لپاره ځینې ښکلي شیان. له ختیځ څخه دا شیان وړل کېږي: لنګۍ، ورېښم، ملتاني چیټ، د بهاولپور نخي او ورېښمین مخلوط ټوکران، نیل او هم شاید یو څه کتان د هندوکش او سلیمان د غرونو له غرنیو ملکونو څخه اوسپنه صادرېږي. داسې هم مالګه د سلیمان له غرونو څخه، چې د هغې په اېستلو کې نوم لري، صادرېږي. لکه چې الومونیم او سلفر له کله باغ، اسونه له بلخ او فاریاب او خرما له بلوچستان څخه صادرېږي.
د اسونو تجارت د هغو د اهمیت له امله لږه شرح غواړي. هر کال یو شمېر ډېر اسونه د کابل د اسونو په نوم په شمالي هندوستان کې او په لویدیځ کې د کندهار د اسونو په نامه خرڅېږي، خو نږدې دا ټول آسونه له ترکستان څخه راوستل کېږي. په کابل کې اسونه هېڅ نه تربیه کېږي، دلته یواځې ستر کسان آسونه د خپل استعمال لپاره ساتي. داسې هم هغه آسونه، چې په کندهار کې تربیه کېږي، نه صادرېږي.
د هرات د شاوخوا یو څه ښکلي آسونه نورو ملکونو ته وړل کېږي، خو له دغو آسونو څخه یو څو یا هېڅ هندوستان ته نه وړل کېږي. د آسونو یو ښه شمېر له بلوچستان څخه صادرېږي لکه څنګه چې د اباسین په دواړو خواوو کې د مالګې د غرونو په شمال کې ځینې ښه آسونه موندل کېږي، خو د آسونو د روزلو ډېر ښه ملک د



Property of ACKU

کابل په قلمرو کې د بلخ سیمه ده او له همدغه ولایت او د امو په ښکتنۍ برخه کې د ترکمنو له ملک څخه د آسونو ډېر شمېر صادرېږي. هغه اسان، چې په هغو تجارت کېږي، دوه ډوله دي: یو راز یې یو څه واړه، خو ډېر قوي آسونه دي، چې ډېرې سختۍ ګاللی شي او ښه ارزان دي. هغه بل ډول تر هغو ډېر لوی دي او له همدې لامله ډېر ګران دي. که څه هم هغومره د کار وړ نه دي. دا آسونه یوائې په جنګ کې ښه په کار راځي، په دې چې د اسیایانو د جنګ د طرز له مخې جسامت مهم دی. لومړنی ډول آسونه که څه هم په اصل کې درې ډوله دي، په عمومي ډول د ترکي یا ازبکي آسونو په نامه یادېږي او بلخ او بخارا ته په نږدې ولایتونو کې روزل کېږي. هغه بل ډول آسونه د ترکمني په نامه یادېږي او هغه په ریښتیاني ډول د کوز آمو په دواړو غاړو کې د ترکمنو له خوا روزل کېږي.

بلخ او بخارا د آسونو لوی مارکېټونه دي. د یوه ترکي آس بیه له پینځو څخه تر شلو پونډو پورې او د یوه ترکمني آس بیه له شلو څخه تر سلو پونډو پورې وي. سوداګران په عمومي ډول آسونه په ارزانه بیه او خراب حال پلوري او بیا یې د کابل په څو ځایونو کې ښه چاغوي. دغو څو ځایونو ډېر مشهور ځای د میدان نرخ (د کابل په لویدیځې خوا کې پروت دی) په دغې سیمې کې یو ډېر ډنګر آس د پینځو یا شپږو شلنګو په لګښت سره په څلوېښتو ورځو کې ښه قوي کېږي. اول دوی ته شفتله بیا شپشته ورکوي.

ډېر آسونه پخپله په افغانستان کې خرڅېږي او تر هغو زیات شمېر یې هندوستان ته وړل کېدل. داخلي تجارت یې مخ په ډېریدو دی. د افغانستان ډېر زمینداران اوس آسونه پلوري، په داسې حال کې چې پخوا یې دې کار ته هیڅ زړه نه کاوه. په نتیجه کې هندوستان ته د آسونو تجارت تر زیاتې اندازې لږ شوی دی. هلته چې برتانوي مستعمره پراخېږي، د سورو لښکرې د پیاده وو په ورو لښکرو بدلېږي او په دې حال کې د لښکرو ښاغلي عربي اسونه غوره ګڼي. محلي لښکرې هم لږې شوي دي، په دې چې د دوی د جوړولو دایرې تنګې شوي دي او که چېرې د برتانوي کمپنۍ د نسل اخیستنې پروګرام بریالی شي، د هندوستان او ترکستان ترمنځ د آسونو تجارت به بیخي ورک شي.

***

Property of ACKU

# یوولسم څپرکی

## د کابل کروندګري

په افغانستان کې پنځه ډوله کروندګر شته، لومړی هغه مالکان چې خپلې ځمکې پخپله کري، دویم اجاره داران، چې ځمکه د پیسو یا د حاصلاتو د ټاکلي تناسب په مقابل کې په اجاره اخلي، دریم هغه بزګران، چې د فرانسې د میتایرز Metayers په شان دي، څلورم اجیر کارګران او پینځم سرفان Villains، چې د خپلو بادارانو ځمکه بې له اجورې کري.

البته د مالکانو د ځمکې د پراخوالي له مخې سره ډېر توپیر لري، خو ځمکه په افغانستان کې نظر نورو ډېرو ملکونو ته په عمومي ډول په برابر ډول وېشل شوې ده. واړه مالکان چې خپله ځمکه د خپلې کورنۍ او کله کله د بزګرانو او اجیرو کارګرانو په مرسته کري، په شمېر کې زیات دي. د ملکیت د برابرو وېش لامل به هغه وخت ښه اسان معلوم شي، چې د قومونو د حکومت په ماهیت ژور ورننوځو. داسې ښکاري، چې د ځمکو وېش په پخوا وختونو کې عمومي و او وروسته د ډېرو لاملونو له مخې ګډوډ شو. بد څرخی یا بدبختي ځینې مالکان دې ته اړ کړي، چې خپلې ځمکې خرڅې کړي، جنګونه یا د تغییر لپاره هوس ځینې نور دې ته ترغیبوي، چې خپلې ځمکې پرېږدي او هغه ځای ترک کړي، چې دوی پکې اوسي او د وارثانو ترمنځ د یوه سړي د ملکیت وېش، چې د اسلامي شریعت له مخې دی، ددې لامل کېږي چې یو ملکیت دومره ټوټه ټوټه شي، چې په نتیجه کې یو څوک خپله ځمکه خپل یوه ورور ته پرېږدي او یا یې پرې خرڅوي. ځمکې هغه کسان په بیه اخلي، چې پاچا چاته د خدمت له لامله یا په جنګ کې او یا د موفق تجارت یا زراعت له امله شتمن شوي وي. داسې هم ډېرې نوې ځمکې د ځینو کسانو یا ټولنو له خوا د کرنې وړ ګرځېدلې وي او دوی داسې اقدامات کړي وي، چې د کرنې لپاره یې اوبه پیدا کړې وي، ځکه چې په افغانستان کې ډېر څه په اوبو اړه لري او هغه ځمکې چې

Property of ACKU

په دغه ډول خرڅیږي، ددغو کسانو ملکیت ګرځي. په پای کې ځینې په مستقیم ډول له پاچا څخه ځمکې د بښش په ډول حاصلوي.

د ښاغلي سټراچي Strachey په قول په کابل کې د ځمکې ارزښت او بیه داسې ښودل شوې، چې د هغې حاصلات یې له نهو څخه تر دولسو کلونو پورې پوره کوي.

## مستاجران:

په عمومي ډول منل شوې ده، چې په دغه هېواد کې د اجاره دارو شمېر زیات نه دی او د هغو زیاتره برخه، چې ځمکه په اجاره اخلي، منځني خلک دي، چې ځمکه بېرته بزګرو ته په اجاره او دهقانۍ ورکوي. د دهقانۍ او اجارې ډېره عمومي موده یو یا دوه کاله وي، ډېره اوږده موده یې پینځه کاله وي. د اجارې یا باړې اندازه ټاکلې نه ده، دستور یا نیو په وچ کلک ملک کې اجاره یا د زمیندار برخه یوازې د حاصل لسمه برخه ده، په داسې حال کې چې ویل کېږي د باجوړ په هوارې کې د حاصل له دریمې څخه تر نیمایي پورې او د کابل په شاوخوا ملک کې دوه دریمه ده.

ټول هغه اجاره داران، چې پاس یاد شول، د ځمکې نه د استفادې په مقابل کې اجاره ورکوي او په زمیندار باندې بله ذمه واري نه وي، خو په هغه ځای کې چې ځمکه بزګران کري، زمیندار په عمومي ډول ټول تخم، غوایي او د کروندګرۍ آلات برابروي او بزګران له خپل کار پرته نور هیڅ شی نه تهیه کوي، خو په ځینو حالاتو کې په هغو لګښتونو کې چې ما یې بیان وکړ، بزګر هم برخه اخلي او په نورو حالاتو کې له تخم نه پرته نور ټول تهیه کوي. د بزګر برخه ټاکلې ده، ما داسې قضیې هم اورېدلي، چې په هغو کې بزګر له لسمې برخې نه زیات اخلي او په نورو حالاتو کې دی د نیمایي مستحق ګڼل کېږي.

## زراعتي مزدوران:

په عمومي ډول مزدوران د کرنې په چارو کې د بزګرو له خوا استخدامیږي او دوی ورته اجوره ورکوي. دوی ته د موسم په قرار چې د کال له اعتدال نه پیلیږي او نهه میاشتې دوام کوي، اجوره ورکول کېږي. داسې هم استخدام کوونکي دوی ته دوړۍ او په زیاتو حالاتو کې کالي ورکوي. سربېره پردې دوی ته یو څه غله او پیسې هم ورکول کېږي، چې هغه له دوه نیمو خانۍ منو[1] او یوې روپۍ[2] نه تر لسو منو او دوه روپیو پورې تغییر کوي. څه وخت چې اجوره په نقده تادیه کېږي، داسې

---

[1] یو خانۍ من نږدې اتیا پاوه دی.

[2] یوه روپۍ تقریباً دوه شلنګه او څلور پنسه وه.



Property of ACKU

ښکاري چې په ډېره عامه اندازه د پرش روپۍ وي، دا اجوره له دوو، او کالیو پرته ده. په ښارونو کې د یوه مزدور عمومي اجوره د ورځې سل دیناره (نږدې څلور نیم پنسه) له دوو، سره وي. د کندهار په ښار کې دغه مزدوري شاهي او دولس دیناره دی. چې د شپږ نیمو او اوو پنسو ترمنځ ده. ددغې اجورې د رښتیاني مقدار ښودلو لپاره باید وویل شي. چې په کابل کې په یوه شاهي سره پنځه پاوه اوړه اخیستل کېدای شي او په اطرافو کې ممکن تر هغو نیمایي زیات هم وپلورل شي. په پېښور کې د اوړو بیه ان انګلیسي هیئت ته هم دومره ښکته ده، چې په یوې روپۍ هم شپږ اویا پاوه (یو پونډ) اوړه اخیستل کېدای شي. په دې ډول که د اقلیم توپیر هم په نظر کې ونه نیول شي، ددغې طبقې د خلکو وضع په هندوستان کې د ورته طبقې په پرتله ډېره ښه ده.

د سرفانو (Villain) وضع به هغه وخت په تفصیل بیان شي، چې مو د یوسفزیو او نورو هغو قومونو په اړه وغږېږو، چې په هغوی کې سرفان ډېر دي.

## زراعتي حاصلات

د افغانستان په ډېرو برخو کې په کال کې دوه فصله کېږي: یو یې د منې په اخر کې کرل کېږي او په اوړي کې اخیستل کېږي، په دغه فصل کې دغه شیان وي: غنم، اوربشې، نسک، نخود[1] له څه پلیو او لوبیاوو سره.

هغه بل فصل د پسرلي په پای کې کرل کېږي او په مني کې اخیستل کېږي. په دې فصل کې دغه شیان شامل دي: شولې، ردن[2] Panicum Miliacum or millet غوښت Panicum ، Miliiacum، جواري، هندوستاني جوار او مې[3] Phaseolus mungo لومړنی فصل، چې بهاري[4] نومېږي په ټول لویدیځ افغانستان یانې دسلیمان د غرونو په لویدیځو ملکونو کې ډېر مهم دي، نه ختیځ کې. هغه بل فصل، چې پایزي یا د مني فصل[5] ورته وایي. ممکن په کلي ډول ښه مهم اوسي، خو دلته که رښتیا وي ښه مهم استثنائات شته دي. په باجوړ، پنج کوړې، برو مومندو او اتمانخېلو په ملکونو، چې اولیه (د اباسین ختیځ کې) او مګر کل دواړه (په دامان کې) تر ټولو مهم فصل هغه دی، چې په اوړي کې اخیستل کېږي او په دغو ټولو ملکونو کې غنم عمده غله ده. په پېښور، بنګښو او د ځائیو په سیمو،

---

[1] نخود ته په هندوستان کې موسور (Mussor) اوچنا (S.Chunna) وایي.
[2] ردن په هندوستان کې د چینا Chena او کنګوني Cungunee) په نامه یادېږي.
[3] په هندوستان کې ورته مونګ Moong وایي.
[4] په هندوستان کې د ربیع فصل په نامه یادېږي.
[5] امز پاڼو لویدلو ته وایي او په هندوستان کې دغه فصل ته خریف وایي.



Property of ACKU

دامان او عیسی خېلو کې فصلونه نږدې سره برابر دي، خو د مملکت په نورو ختیځو سیمو کې هغه فصل، چې په مني کې رېبل کېږي، تر نورو ډېر مهم وي. د خروټو په ملک کې د کال یواځې یو فصل وي، چې د یوه مني په اخر کې کرل کېږي او د بل مني په سر کې رېبل کېږي.

په کټواز او د هغه د ګاونډیتوب په ځینو هسکو سیمو کې هم لکه چې حال همدغسې وي، خو د هزاره ملک او په عمومي ډول د افغانستان ټولې سړې سیمې او داسې هم ګاونډي هېوادونه خپل یواځینی فصل په پسرلي کې کري او د مني په پای کې یې ټولوي.

په افغانستان کې یوه بل ډول کرنه هم شته، چې ډېر اهمیت ورته ورکول کېږي او هغه د پالیز تر نامه لاندې تل د یوه بېل فصل په شمېر کې راځي، چې په دغه فصل کې دغه محصولات شامل دي: خټکي، هندوانې، خوش بوریه خټکي، چې د ستمبو یا دستمبول ورته وایي او د بادرنګو او کدوانو او د یو راز کدوانو، چې د کاسې، بوتل او نورو شیانو په توګه ترېنه کار اخیستل کېږي، بېل ډولونه دي. پالیزي فصل د ښارونو په شاوخوا کې ډېر عمومیت لري.

## د خوړو غلې دانې

د غلو هغه ډولونه، چې لومړی یې بیان وشو، د بېلابېلو مقصدونو لپاره په بېلابېلو تناسبونو استعمالېږي. غنم د هېواد په ډېرو برخو کې د خلکو خواړه تشکیلوي، اوربشې په عمومي ډول آسانو ته ورکول کېږي. نخود، چې د همدغه مقصد لپاره په هندوستان کې استعمالېږي، د نورو زیاترو همدغو دانه بابو (Polse) په څېر په لږ مقدار د پخلي لپاره کرل کېږي. وریژې او غوښت په وچې دوړې کې په زیاته اندازه استعمالېږي. هندوستاني جوار د همدغه مقصد لپاره په پېښور او د هغه په شاوخوا سیمو کې استعمالېږي، خو د هېواد په لویدیځ کې هغه یواځې په باغونو کې کرل کېږي او وریې یې کله کله د لوکسو خوړو په توګه ورکېږي.

باجره په دامان کې په زیات مقدار موندل کېږي او دا د هغې غرنۍ سیمې خواړه دي، چې د بنګښو او خټکو سویل ته پرته ده. دا او جواري د افغانستان په لویدیځ کې زیات نه کرل کېږي، که څه هم جواري د بخارا عمده خواړه تشکیلوي.

وریجې د هېواد په ډېرو برخو کې موندل کېږي، خو د کمیت او کیفیت له مخې سره ډېر توپیر لري. زیاتې یې په سوات او ډېرې ښې یې د پېښور په شاوخوا کې موندل کېږي. وریجې، د کشمیر د خلکو نږدې یواځینی خوراک دی. په پېښور او ښایي په نورو ځایونو کې هم یو ډول بیدیایي اوربشې موندل کېږي، خو خلک ترېنه استفاده نه کوي او په هېڅ ځای کې نه کرل کېږي.



Property of ACKU

## باغي پیداوار، ګڼي او نباتات:

د هېواد باغي حاصلات دا دي: ګازرې، ټیپر، چغندر، کاوو، پیاز، زنګی (زیره)، پالک او د شنو څېزونو ټول ډولونه. کلم او ګلپې هندوستاني سبزیجات هم په دغه ملک کې ډېر وي. ټیپر د هېواد په ځینو برخو کې ډېر کرل کېږي او د بوده ګانو د خوراک په ډول ترېنه استفاده کېږي. په غالب احتمال، چې دغه حکم د زردکو په اړه هم صدق کوي، څه ناڅه په پنجاب کې هغه سبزیجات آسانو ته ورکول کېږي، چې روغتیا ښبونکي وي. زنجبیل او یو ډول هندي بوټی (Tarmeric) په ختیځو سیمو په تېره بیا په بنو کې لوېږي. ګنی هم همدغسې وېولئ، خو ګنی یوائې په آبادو، هوارو کې کرل کېږي. د افغانستان زیاتره بوره له هندوستان څخه راوړل کېږي.

پومبه له څو استثنااتو سره یوائې په تودو سیمو کې موندل کېږي او له دغې مادې نه جوړ شوي زیاترو ټوکران، چې په لویدیځ کې استعمالېږي، تیار اوېدلي له هندوستان څخه راوړل کېږي. د کسترائیل بوټی په ټول ملک کې د ارخنډې په نامه ښه عام دی. زما په ګومان، چې د هېواد زیاتره تېل له ارخنډې څخه جوړېږي. که څه هم د کونځلو، اوري او ښایي د نورو تېلو بوټي ډېر عمومیت ولري. نکرېزې په ټول لویدیځ کې پرېمانه دي. نکرېزې یوائې په سړو سیمو کې موندل کېږي[1] او د هندوستان زیاترو برخو ته نکرېزې له افغانستان څخه راوړل کېږي. نکرېزې په اوړي کې په داسې ځمکو کې کرل کېږي، چې ښې اوار شوې وي او سره پکې ښه اچول شوي وي. پاڼې یې هر کال د بوده ګانو لپاره شکول کېږي، خو ریښه[2] یې چې له هغه نه رنګ په لاس راځي، تر درېیم کاله پورې پرځای پاتې وي.[3]

د پنجې بوټی د لویدیځ په ډېرو برخو کې د غرو لمنو او غونډیو کې په خپله لوېږي، خو هېڅ پاملرنه، نه غواړي یوائې دومره کار غواړي، چې له هغو نه د سریش ایستلو لپاره ضروري وي. بوټی یې ټیټ او پاڼې یې اوږدې وي. پاڼې یې د بوټي د تنې له اخر نه شکول کېږي. له هغې پرخې نه چې پرې کېږي، پی (شیره) وځي. ورو ورو د تریاکو په څېر کلکېږي، کله چې لمر ته پاتې شي له کاره وځي. له دې امله پښتانه ډېر احتیاط کوي، چې له پاسه یې د دوو اوارو تیږو په ایښودلو سره له لمر نه په داسې ډول وساتل شي، چې هغوی یو په بل تکیه وکړي. ددغه دارو ډېر زیات

---

[1] نکرېزې په تودو سیمو کې موندل کېږي، نه په ډېرو سړو سیمو کې. ژباړن

[2] رنګ د نکرېزو له پاڼو څخه په لاس راځي، نه له ریښو څخه. ژباړن.

[3] د نکرېزو پاڼې بوده ګانو ته نه ورکول کېږي، بلکې د نجونو او ښځو د ډول سینګار لپاره په لاسو او پښو کې استعمالېږي او ریښې یې څوک نه وباسي، چې رنګ ترې جوړ کړي



Property of ACKU

مقدار هندوستان ته وړل کېږي او هلته د هندوانو او مسلمانانو په پخلي کې د مزه دار جز په توګه استعمالېږي.

## مصنوعي بوټي:

د مملکت په لویدیځ کې د کروندګرۍ ډېر مهم محصولات شپیشته او شوتله ده. شپیشته په عمومي ډول په مني کې کرل کېږي او په ټول ژمي کې تر واورې لاندې پرېښودل کېږي، خو په ځینو برخو کې په پسرلي کې کرل کېږي. درې میاشتې وخت غواړي، چې شپیشته کمال ته ورسېږي، هغه وروسته د درېو میاشتو یا زیات وخت لپاره په دوو اونیو کې یو ځل رېبل کېږي، په دې شرط چې تر هر ځل رېبلو وروسته اوبه شي. دغه بوټی په عمومي ډول پېنځه کاله پاتې کېږي، خو دا هم اورېدلې دي، چې د لسو او ان د پېنځلسو کالو لپاره دوام کوي. شپیشته ډېره سره غواړي، شوتله له مني نه زیات په پسرلي کې کرل کېږي او له دوو میاشتو نه په لږې مودې کې رسېږي. د شوتلې عملیه ممکن یو یا دوه ځله تکرار شي. شوتله له درېو کالو نه زیات دوام نه کوي او یوازې کله کله له یوه کال نه زیات دوام کوي، خو دغه بوټی شین څارویو ته ورکول کېږي او هم د وښو په څېر ذخیره کېږي. زیاتره یې نظر دې ته، چې وچ کړای شي، په شنه ډول مصرفېږي. له طبیعي بوټو او له دوو مصنوعي بوټو پرته، چې شرحه شول، د یو ډېر نور ډولونه هم په افغانستان کې شته دي. رېدن، غوبښت او داسې هم جواري زیاتره د وښو په خاطر کرل کېږي، چې هغه ډېر قوت لري او چې وچ کړای شي، ټول ژمی دوام کوي. دا هم عامه ده، چې د آسانو او نورو څارویو لپاره شنه غنم او اوربشې پخوا له دې، چې وږي وکړي، ورېبل شي او ویل کېږي، چې دغه رواج نه یوازې خوندي بلکې ګټور دی. وربشې څو ځله رېبل کېږي، خو که غنم له یو ځل نه ډېر ورېبل شي، ویل کېږي چې فصل ته زیات رسېږي. دا هم معموله ده، چې د مني په کرل شوي فصل کې څاروي خوشې شي، چې هغه بوټي وخوري، چې د ژمي له شروع نه دمخه هسک شوي وي.

## د کرنې سیستم:

ما په افغانستان کې د کروندګرۍ ټول هغه محصولات وشمېرل، چې د هغه په اړه مې معلومات ټول کړي وو، خو دا یقیني ده چې ما به ځینې حتماً له قلم نه غورځولي وي او په هېڅ وجه له احتمال نه لیرې نه ده، چې د کرنې ځینې عام هدفونه به مې هېڅ په نظر کې نه وي نیولي. اوس به زیار وباسم، چې د کرنې هغه طرز شرحه کړم، چې په هغه حاصلات ترلاسه کېږي، خو د کرنې لپاره اوبه دومره ضروري دي، چې ښایي لومړی د اوبو په اړه چې څنګه لاس ته راځي، یو څه ووایم.

Property of ACKU

## اوبه لګول، کاریزونه

د اوبو لګولو ډېر عمومي طرز په ویالو ولاړ دی، چې اوبه یې یوائې ځینې وخت په مستقیم ډول پټیو ته اړول کېږي، خو زیاتره وخت لښتي ترې اېستل کېږي او کښتونه پرې خړوبېږي. اوبه دغو ویالو ته ورو سیندونو ته په بند اچولو سره اړول کېږي، خو دا بندونه په هغه موسم کې، چې اوبه ډېرېږي، له منځه ځي. په لویو سیندونو کې د هغو د یوې غاړې په اوږدو کې داسې بند جوړېږي، چې د سیند په جریان کې تر یوې فاصلې پورې غځېدلی وي. دغسې بند که څه هم د سیند ټولې اوبه نه شي اړولی، خو یو څه اوبه یې ترېنه کشوي. له دغه لوی کانال نه بیا دلته او هلته وړې ویالې او لښتي د کروندو په لور بېلېږي.

د اوبو حاصلولو بله وسیله هغه ویاله ده، چې کاریز نومېږي. په فارسي کې هم دغې ویالې ته کاریز ویل کېږي، خو هلته یې ډېر عمومي نوم قنات دی. کاریز په دغه ډول جوړېږي، هغه ځای چې له هغه نه اوبه په لاس راوړل کېږي، باید د غره د ډډې په کوزه خوا کې وي او ځمکه یې باید ښه وکتل شي او یقین حاصل شي، چې هلته چینې شته او په کومې خوا روانې دي. څه وخت، چې د کندلو ځای وټاکل شي، لومړی یوه نه چندان ژوره څاه او بله تر هغې یو لږ څه لیرې ژوره څاه کېندل کېږي. د څاه ګانو یو لړ په دغه ډول کېندل کېږي او دغه څاه ګانې یو له بل سره د ځمکې لاندې په یوې لارې سره وصل مومي. څه وخت چې ځمکه هسکېږي، څاه ګانې ژور کېندل کېږي، خو دا په دې ډول کېږي، چې هغه لاره چې دوی سره وصل کوي، د هوارې په لور مخ په ځوړې وي. په دغې عملیې کې ډېرې چینې موندل کېږي، خو کاریز کیندونکی هغه ددې لپاره تړي، چې دده د کار مخه ونه نیسي، خو څه وخت چې وروستی څاه یې وکېندله، ټولې چینې خوشې کوي، اوبه په شدت جاري کېږي او د خپلو منابعو په اندازه په څاه ګانو کې پورته کېږي. په دې ډول له ډېرې ژورې څاه نه اوبه د کاریز په لارې برابرېږي او کښتو ته اړول کېږي. همدا چې کاریز یو ځل بشپړ شو، څاه ګانې بیا بله ګټه نه لري، خو هغه وخت چې یو سړی په دې قادر کړي، چې د معبر د پاکولو لپاره کله کله ښکته شي، د څاه ګانو ترمنځ فاصله له لسو نه تر سلو ګزو پورې تغییر کوي. په عمومي ډول دغه فاصله پنځوس ګزه وي. کاریز دومره پراخ وي، چې کاریز کندونکی وکولای شي کار پکې وکړي، خو ځینې یې ډېر لوی وي. اورېدلي مې دي، چې په فارسي خراسان کې سبزوار ته نږدې داسې یو کاریز شته، چې یو آس سور د هغه په مینځ کې په داسې حال کې، چې نیزه یې د اوبو د پاسه نیولې وي، تېرېدلی شي. د څاه ګانو شمېر او په نتیجه کې د کاریز اوږدوالی په هغو چینو پورې تړلی وي، چې د کاریز په اوږدو کې سر وهي او دغه

Property of ACKU

زنځیر په عمومي ډول تر هغو دوام کوي، چې یا کافي اوبه په لاس راشي، یا ځاه ګانې دومره ژورې شي، چې وړاندې تنګ ستونزمن کړي. د کاریز د اوږدوالي په اړه مې له دوو ځخه تر شپږو دېرشو میلو پورې بېلابېل روایتونه اورېدلي دي، خو ګومان کوم چې معمولي اوږدوالی یې لس میله اوسي.

ممکن داسې وګڼل شي، چې ددغسې ستونزو نه ډک جوړښت بیه په ارومرو ښه لوړه وي، خو شتمن په دې خوښ دي، چې د شاړو ځمکو په دغه ډول خړوبولو باندې خپلې پیسې ولګوي او د غریبو خلکو لپاره دا په هیڅ توګه غیر عادي نه ده، چې د کاریز په جوړولو کې شریک شي او هغه ځمکې په خپلو کې سره ووېشي، چې ددغسې کاریز له لارې خړوبېږي.

کاریزونه د هېواد په ټول لویدیځ کې ډېر عام او شمېر یې هم مخ په ډېرېدو دی. د سلیمان د غرونو ختیځې خوا ته یوازې د یوه کاریز په اړه له ما سره معلومات شته، چې هغه د دامان په تورتور کې واقع دی. کاریزونه په ټول فارس کې عام دي، لکه ځنګه چې په ترکستان کې دي، خو په وروستي ملک کې اوس له پام نه غورځېدلي دي او په هندوستان کې یې څوک نوم هم نه اخلي.

## د اوبو لګولو نور طرزونه

د مصنوعي اوبو لګولو مهم طرزونه همدغه وو، چې پاس بیان شول. له ځاه ګانو او ډنډونو ځخه کله کله استفاده کېږي، خو دا چې له هغو نه اوبه څښل کېږي، په دغه ملک کې د ذخیرې هغسې کاسې نه شته، لکه ځنګه چې د هندوستان په جنوب کې شته دي، چې هلته د یوې تنګې درې په لنډو کې د بند په اچولو سره اوبه ذخیره کېږي.

د اوبو د ذخیرې یو مشهور بند به په غزني کې وروسته ذکر شي، د پاراپامیزوس په غرونو کې هم د ذخیرې یو څه ډنډونه شته دي، خو داسې ډنډونه په ټول ملک کې عام نه دي.

په پېښور او د اباسین په ټولو اوږدو کې د ختیځې غاړې په ښاپسته زیاتو برخو کې د اوبو د خېژولو لپاره له فارسي عرد (ارټ_ارهټ) ځخه استفاده کېږي. ددغو ځایونو په زیاتو برخو کې له ځاه ګانو ځخه، خو په پېښور کې له سیند نه د همدغه ماشین په ذریعه، چې د سیند په غاړو کې ایښودل شوي وي، اوبه راپورته کېږي.

د ځمکې یوه برخه په مصنوعي وسایلو سره نه اوبه کېږي، د هېواد په بېلابېلو برخو کې د غونډیو ترمنځ ډېر ځایونه او ان د هوارو ډېرې ابادې برخې په بشپړه توګه په باران پورې منحصرې وي، نورې برخې یا دا چې کاسې ته نږدې او یا د کوم



Property of ACKU

سیند په غاړو کې پرتې وي، داسې موقعیت لري، چې د کرنې لپاره تل کافي لنده بل لري. دغسې ځمکو ته للمه یا خشک آبه وایي، چې په ختیځ کې د ځینو قطعو پرته نورې په نسبي ډول بې حاصلې وي، ساحه یې ښایي د آبي ځمکو په پرتله تنګه وي، خو اهمیت یې په یقین سره لږ وي.

## د کرنې عملیه

زه په هیڅ وجه ددې صلاحیت نه لرم، چې په پښتنو کې د کرنې ټوله عملیه شرحه کړم، سره له دې به هم زیار وباسم چې د غنمو د کرنې په اړه، چې د مملکت ډېر مهم حاصل دی، یو څه ووایم. د کر ځمکه پخوا له دې، چې یوې شي، په هر هغه حال کې چې د اوبو استحصال ممکن وي، اوبه کېږي. په افغانستان کې د کر ځمکه نظر دې ته چې په هندوستان کې معموله ده، ډېره ژوره یوې کېږي. قلبه یې هم د هندوستان تر قلبې ډېره درنه ده، خو سره له دې هم ددغه کار لپاره یوه جوړه غوایه بالکل کفایت کوي. د اړولو هغه قلبه، چې په هندوستان کې مروجه ده، دلته نه لیدل کېږي او ټول تخمونه شیندل کېږي. ځمکه په ماله کولو هوارېږي او ماله د ځمکې په مخ ګرځول کېږي. داسې چې یو قلبه ګر پرې ولاړ وي او له هغه ځایه غوایان رهنمایي کوي او په خپل وزن د مالې اغېزه ډېروي. ځینې بزګران تر دغې عملیې وروسته، بیا پټي ته اوبه ورکوي، خو ډېر یې ځمکه په همدغه حال پرېږدي، چې فصل یو څه لوړ شي، بوده ګان ورخوشې کوي، چې هغه وخوري. له هغه وروسته یې بیا اوبه کوي او ځینې یې په ژمي کې بیا اوبه کوي، خو د هېواد په ټولو برخو کې کښت یا په خپل حال پرېښودل کېږي، چې په ټول موسم کې تر واورو لاندې راشي یا د ژمي د اورښت په اثر په کافي اندازه نم وکړي. د پسرلي بارانونه د غنمو لپاره ښه مهم دي، خو د اوبو ځای نیولی نه شي. ددغه موسم په اوږدو کې څه ناڅه یو ځل باید اوبه ورکړل شي، خو ځینې یې تر هغو چې فصل پخېږي، د میاشتې درې ځله اوبه کوي. باید په لنډه توګه وویل شي، چې په پسرلي کې کرل شوی فصل نظر هغه فصل ته، چې اوس غواړم پرې بحث وکړم، ډېرې اوبه غواړي. فصل په لور رېبل کېږي او لور په واقع کې هغه یوازینۍ آله ده، چې د وښو، بوټو او په حقیقت کې د هر ډول فصل د رېبلو لپاره په کارېږي. له بوټو څخه د غلې د جلا کولو لپاره د درمن د مېده کولو هغه آله، چې په هندوستان کې رواج لري، دلته معموله ده. درمن یا په غویل مېده کېږي یا په څپر. داسې ښکاري، چې درمن چې مېده شو، پروړه یې د شاخې په مرسته له دانو نه بېلېږي. څه وخت چې غله پاکه شي، یا په کندوانو کې یا په جوالو کې ساتل کېږي. درانیان غله زیاتره په تحویلخانو کې ساتي او په ښارونو کې په انبارخانو کې ساتل کېږي.



Property of ACKU

## ژرنـــدې

غله دانه یا په بادي ژرندې یا د اوبو په ژرندې، یا په مېچن اوړه کېږي. د بادي ژرندې استعمال عام نه دی، یوازې په لویدیځ کې چېرته چې باد څه ناڅه په یوه کال کې څلور میاشتې په پرله پسې توګه جاري وي، بادي ژرنده چالانه وي. د زړو بادي ژرندو آثار په شرق کې تر کابل او غزني پورې لیدل کېږي، خو په اوسني وخت کې دغه راز ژرندې په دغو سیمو کې په یقیني ډول عمومیت نه لري ان د دامان په سرحد کې هم یوه نږدې بادي ژرنده شته ده، خو هلته اوس هېڅوک د هغې د استعمال په فکر هم نه دي. دغه راز ژرندې د انګلستان له بادي ژرندو نه بالکل توپیر لري. ددغې ژرندې یوه نمونه ما لیدلې ده، خو د هغې یاد زما په ذهن کې په پوره توګه واضح نه دی، چې بیان یې په دقیق ډول وکړم. د بادي ژرندې پرې (دندانې) د داسې یوه ساختمان په داخل کې نغښتې وي، چې هغه د باد د راتوتو لپاره یوه لاره لري. پرې یا د مربع یا د مستطیل په شکل وي، نیغې ایښودل شوې وي او د یوه عمودي محور یا ستن په شاوخوا څرخېږي. هغه وخت، چې پرې په حرکت وي، هره یوه یې یو پربل هغې لارې ته راځي، چې باد اخیستلی شي. پرې یو په بل باندې فشار اچوي لکه څنګه چې اوبه د ژرندې هوارې پلې ته فشار ورکوي. د ژرندې ډبریز پل د پرو لاندې نږدې پروت وي، چې دغه پرې هغه له کوم ماشین پرته په حرکت راولي.

د اوبو ژرندې هم له هرې هغې ژرندې څخه، چې ما لیدلې ده، پوره توپیر لري او ما اورېدلي دي، چې هغو ته ورته یوه ژرنده د شتلنډ (Shet land) په ټاپوګانو کې شته، د اوبو د ژرندو څرخ افقي او پرې یې لږ څه کږې وي. دغه څرخ د ژرندې په منځ کې او د ژرندې د ډبریز پله لاندې نږدې ایښودل شوی وي، چې له څرخ سره په همغې یوې میلې حرکت کوي. اوبه د یوې ناوې له لارې په داسې ډول تویږي، چې څرخ باندې، په شدت سره ولږېږي، په خپله څرخ کله مې له یاده نه وي وتلی، له څلورو فوټو، نه زیات قطر نه لري. دغه راز ژرنده په ټول افغانستان، فارس او ترکستان کې رواج لري. د هندوستان په شمال کې د سرینګر د غرونو په بېکتنۍ ډډو کې هم شته، خو د اوبو ژرندې په عمومي ډول په هندوستان کې څوک نه پېژني او هلته غله دانه په لاس مېده کېږي. مېچن د خلکو هغه برخه استعمالوي، چې په خېمو کې او هم د هېواد په ډېرو بدوي برخو کې ژوند کوي. مېچن له دوه هوارو ډبرینو پلونه جوړه ده. پورتنی پل یې په لاندیني پله ایښودل شوی او لاندینی پل د لرګي په یوه ستن ټینګ او ځای پر ځای دی. پاسنی پل په یوه اړخ کې د لرګي یو کلک لاستی لري، چې د هغه په ذریعه په حرکت راوستل کېږي. ژرنده ګرې ځان له



Property of ACKU

کسب لري او د غلې يوه برخه، چې دی يې اوړه کوي، د اجورې په توګه اخلي.

زه د فصلونو د دوران په اړه، چې بزګر يې کري، زيات څه ويلای نه شم، داسې ښکاري چې ځمکه يوائې د هېواد په خوارو برخو کې د يوه کال لپاره شاړه پرېښودل کېږي. زياتره دا معموله ده، چې په يوه کال کې د منې فصل وکرل شي او د پسرلي فصل په دويم کال کې وکرل شي، خو په ځينو سيمو کې چې پرېمانه سره لري، دواړه فصلونه په يوه کال کې کرل کېږي.

له استعمالولو سره (پارو) له خوشايو او له خوشايو سره د وښو له مخلوط، له اېرو او د زړو دېوالونو له خاورو او داسې نورو ځيزونو نه جوړه ده. د اوښانو د پچو له استعمال نه ډډه کېږي. په دې فکر، چې پچې ځمکه له ښورې څخه ډکوي، داسې ښکاري چې چرګانو او چونه لرونکې خاوره دلته څوک نه پېژني.

په ترکستان او د ايماق په ملکونو کې په قلبه کې له آسانو نه کار اخيستل کېږي، خو په پارس، هندوستان او د افغانستان په نورو برخو کې له آسونو نه په دغه ډول استفاده کېږي.

دا کار په عمومي ډول په غويو کېږي، خو په شوراوک او سيستان کې له اوښانو نه په يوې کولو کې استفاده کېږي (د کوکن يا فرغانې په قلمرو او داسې هم د هندوستان په صحرا کې هم د اوښانو نه په يوې کولو کې کار اخيستل کېږي). د افغانستان په ځينو برخو کې له خرو نه هم په قلبه کولو کې استفاده کېږي.

کښېتونه غلې دانې، پارو او داسې نور په عمومي ډول د خرو او غويو او ځينې وخت په اوښانو وړل کېږي. ارابه لرونکې ګاډي لکه څنګه چې مخکې ويل شوي، په افغانستان کې نه شته.

* * *

Property of ACKU

# دولسم څپرکی

## تاجک، هندکیان او د افغانستان نور اوسېدونکي

لومړی وویل شول، چې په افغانستان کې داسې سیمې ډېرې لږې دي، چې ټول اوسېدونکي یې پښتانه وي او د افغانستان ګډ نفوس په لویدیځ کې له تاجکو او په ختیځ کې له هندکیانو نه مرکب دی. اوس غواړم دغه خلک او هغه قومونه شرح کړم، چې په افغانستان کې موندل کېږي[1].

هغه وضع، چې مونږ تاجکان پکې موندو، داسې ده چې د سړي د پلټنې حس تر یوه حده پورې تحریکوي، خو زما معلومات دومره نه دي، چې هغه رفع کړي. تاجکان، د نورو ډېرو ملتونو په توګه په یوه هیئت کې سره متحد دي او نه یوې سیمې ته، بلکې د اسیا په زیاتو برخو کې بې له دې، چې سره تړلې وي، خواره دي. دوی له ازبکانو سره د دوی د ملک په زیاتره برخو کې هغسې ګډ دي لکه څنګه چې له پښتنو سره ګډ دي. د فارس مېشته اوسېدونکي د دوی د تارتاري یرغلګرو او همدارازد دوی د ګرځنده قومونو پرخلاف، چې ښکاري په اصل کې فارسیان وو، د تاجکانو په نامه یادېږي ان په چیني ترکستان کې هم موندل کېږي او دوی په غرنیو ملکونو لکه کوراتیګین Kurragegeen، درواز، واخان او بدخشان کې ازاد

---

[1] بابر هغه قومونه یادوي، چې دده په وخت کې په کابل کې اوسېدل. په هوارو کې ترکان، ایماقان او عربان او په ښارونو او ځینو کلیو کې تاجکان، پشه یان او پراجه یان وو.
په غرنیو سیمو کې هزاره ګان، توګ دیریان Togderrees پښتانه او کافران اوسېدل. په دغو قومونو کې دغه ژبې ویل کېدلې: عربي، فارسي، ترکي، مغولي، هندي، پښتو، پراچي، ګبري، برکي Burrake او دیکاني.



Property of ACKU

حکومتونه لري[1]. دوی له دغو ټینګو ملکونو او له هغو محاطو سیمو پرته، چې وروسته به یې ذکر وشي، په بل هیڅ ځای کې بیلې ټولنې نه لري، خو د مملکت له حکمران قوم سره، چې ورسره ژوند کوي، ګډ دي. په عمومي ډول ددغه ملک کالي اغوندي او رسم و رواج یې په ځایوي، داسې ښکاري چې دوی په فارس د افغانستان په هوارو او د ازبکو په ملک کې پخوا له دې، چې دغه خلک ورته راشي او اوس په دغو ملکونو کې غلبه لري، میشت شوي وو.

د تاجک نوم لږ څه په عمومي ډول استعمالیږي. کله ټولو هغو کسانو لپاره په کارېږي، چې له ترکانو او پښتنو سره، چې له دغو نسلونو نه وي راوتلي، ګډ دي او یا د دوی نسب معلوم نه دی، خو تر هغه په لا موزون د هغو ماکو اوسېدونکیو لپاره استعمالیږي، چې هلته ترکي او پښتو ویل کیږي او د هغو اصلي ژبه فارسي وي. د تاجک او پارسیوان نومونه په حقیقت کې هم په افغانستان او هم په ترکستان کې یو د بل پر ځای استعمالیږي[2].

د تاجک د کلمې په اړه بیلابیل روایتونه دي، خو داسې ښکاري چې تر ټولو ښهٔ به یې هغه وي، چې تاسیک Tausik یا تاجک نه راوتلی وي. دا هغه کلمه ده، چې په ټولو پهلوي لیکنو کې د عربانو لپاره په کارېږي. دا روایت له هغه تعبیر سره موافق دی، چې په ډېرو فارسي قاموسونو کې ورکړل شوی، چې وایي تاجک د عربانو هغه اولاده ده، چې په فارس یا په بل کوم خارجي ملک کې زیږېدلي دي[3].

د تاجکانو په اړه دغه روایت له ټولو هغو قیاسونو سره سر خوري، چې د دوی د موجودې وضعې په ملاحظې او د هغو ملکونو د تاریخ پر بنسټ کیږي، چې دوی پکې په عمده ډول اوسي. ټول فارس او د ازبکانو ملک په لومړۍ هجري پیړۍ کې د عربانو له خوا فتح شو. عربانو ددغو ملکونو اوسېدونکي مجبور کړل، چې د دوی

[1] له ازادو حکومتونو څخه د لیکونکي مقصد ښایي دا وي، چې دغه پورته یادې شوې سیمې د نورو غرنیو سیمو په څېر په داخلي چارو کې آزادې وي او د خپلو مشرانو له خوا اداره کېدلې. ژباړن

[2] پښتانه تاجکان د هګانانو په نامه هم یادوي او ازبکان ورته سروان یا سرتان Sertas وایي، خو دغه نومونه د تحقیر نومونه دي. زموږ سپاهیان په ترکستان او بخارا کې دوی په همدغه نومونو یادوي.

[3] وګورئ د برهان قاطع قاموس او هغه چې د فرهنګ ابراهیم شاهي په نامه یاد دی او داکتر لیدن هغه د ((روښاني فرقې)) په نامه (په اسیایي پلټنو) کې نقل کړی دی. زه په دې خبر یم، چې په نورو کتابونو کې متناقض تعبیرونه ورکړل شوي دي، خو هیڅ یو یې هم د هغه تعبیر په اندازه د اعتبار وړ نه دی، کوم چې ما اختیار کړی دی. دغه روایت په پهلوي کلمې مستند شو لکه چې ما یې ذکر وکړ مانا یې عرب دی، چې په فارس کې ورته تازي ویل کیږي او دواړه یوه مانا لري. د پهلوي لپاره ما په ملافیروز، یوه زردشتي عالم اتکا کړې، چې په لویدیځ هندوستان کې د خپل ذکاوت او معلوماتو له امله ښه مشهور دی.

Property of ACKU

دین، ژبه او ورسره د دوی د سلوکونو او ژبې یوه برخه اختیار کړي. په همدې وخت کې په افغانستان باندې هم برید وشو، خو معلومه ده، چې یرغلګر پوره بریالي نه شول. یرغلګر یوازې د هوارو سیمو په لاندې کولو بریالي شول، خو خلکو مقاومت وکړ او تر درې پېړیو پورې یې د عریانو بریدونه په شا وتمبول. تر بحث لاندې دغه درې پېړۍ د فارس د امپراتورۍ برخې وې او ددغو سیمو اوسېدونکیو ټولې ژبې ممکن له زړې پارسۍ نه راوتلې وي. هغه وخت چې عریانو دغه خلک ایل او مسلمان کړل، دوی دغه عصري فارسي د فاتحانو له ژبې سره د ځینې پخوانۍ ژبې په ګډولو جوړه کړه او ددې احتمال شته، چې دغه دوه ولسونه په یوه وخت کې سره یو شوې وي، چې هغه د اوسنیو تاجکانو اسلاف ګڼل کېږي.

هغه حقایق، چې د افغانستان په اړه ثبت شوي دي، له دغې فرضیې سره ښهٔ سر خوري، په دې چې د عریانو له برید نه وروسته کوم حکایتونه، چې موږ یې ددغه ملک په اړه په لاس لرو، وایي چې تاجکان د هوارو ځښتن وو او پښتانه له شک پرته ځایي او بومي اوسېدونکي دي، چې په غرونو کې مسلط و. وروسته پښتانه له غرونو ځخه راکوز شول او هوار میدانونه یې لاندې کړل او تاجکان یې پوره تابع کړل. یوازې د یوه یا دوو سختو ملکو تاجکانو وکولای شول، چې تر یوه حده خپله ازادي وساتي. د فارسیانو او عریانو له همغه مخلوط نه د کوهستان تاجکان هم تشکیل شول[1] او دوی د تارتارو تر یرغلونو پورې خپل ملک وساته. په داسې حال کې چې د هوارو تاجکان د تابعیت دغه اوسني حال ته ورسېدل او غرنیو تاجکانو خپله ازادي خوندي کړه او بدخشان، درواز او داسې نورو سیمو بېل دولتونه یې جوړ کړل.

تاجکان د خپلو ټاکلو سیمو نه د استفادې کولو او زراعت ته د میلان لرلو او د نورو مېشته کارونو کولو له لامله ښه نوم لري. دوی ترلوسه هم په لویدیځ افغانستان کې د ځمکې د یو څه برخې خاوندان دي، په داسې حال کې چې داسې ښکاري چې په یوه وخت کې دغه ټولې ځمکې د دوی وې، خو زیاترو یې خپل ملکیت باېللی او په کروندګرۍ کې د پښتنو تر باداري لاندې یا د مستاجرانو یا نوکرانو په څېر ژوند کوي[2].

---

[1] دا چې ویل کېږي تاجکان په اصل کې عرب دي او یا له عربو ځخه د اختلاط له امله پیدا شوي، یوه پخوانۍ نظریه ده. دا نظریه اوس رد شوې او تثبیت شوې، چې تاجکان د پښتنو په څېر اریایي دي. ژباړن

[2] له پورته جملې نه د لیکونکي مطلب دا دی، چې هغه تاجکان چې د زمیندارو پښتنو ځمکې کري، د هغوی بزګر او پښتانه د هغوی باداران دي. دا هغه ارباب رعیتي یا باداري بزګري روابط دي، چې په ټول افغانستان کې یې رواج لاره.ژباړن



Property of ACKU

تراوسه هم دې احتمال شته، چې د دوی ملکیت د هغه قوم د سترو کسانو له خوا، چې دوی د هغو په ځمکه ژوند کوي، تر تجاوز لاندې راشي که څه هم په دغه اړه د دوی دغه خطر د حکومت د خوندي کولو په برکت لږ شوی دی او دوی هیڅکله د شخصي تحقیر او فشار د نه زغمېدونکیو ناخوالو لاندې ژوند نه کوي.

هغه تاجکان، چې د پښتني قومونو په ملکونو کې مېشت دي، یا ددغو قومونو د همسایه په توګه ژوند کوي یا ځانله په بېلابېلو کلو کې اوسي. د همسایه و په توګه د دوی موقف په پوره ډول شرح شوی دی، په هغه بل حال کې د کلي چارې د یوه مشر له خوا تنظیمېږي، چې هغه د خلکو له خوا انتخابېږي او په دغه انتخاب کې یو څه د نسب رعایت کېږي او انتخاب د پاچا د تایید تابع دی. مشر بل څه اختیار نه لري، خو هغه چې دی یې له پاچا نه حاصلوي او هغه د مالیاتو په ټولولو او د ملیشیا په رابللو کې ورده کېږي. دی دومره اختیار لري، چې وړې جګړې په خپله حل کړي، خو ټولې مهمې چارې یا د هغه محل حکمران یا یو نږدې قاضي ته راجع کوي، ټول تاجکان په خوی ارام او د حکومت تابع دي.

دوی د کرنې له چارو پرته په هغو صنعتونو او کسبونو هم اخته دي، چې پښتنو پرې ایښي دي. دوی نرم طبیعته، باوقار او زیار کښه خلک دي.

په ډېرو خواوو کې دوی په پښتنو کې جذب شوي دي، خو دوی ددغه ملت تر نقایصو نه ښه خوېونه زیات خپل کړي. دوی چندان نظامي خوېونه نه لري، که څه هم په دې نږدې وختونو کې د دوی سجیه د عسکرو په توګه لوړه شوې او هسکېږي. دوی ښه مېړني سنیان دي، څنګه چې دوی د خپل موقف له لامله له مقاومت نه عاجز وي، دوی هغه کسان دي چې لومړی زېښبل کېږي، په نتیجه کې دوی د سلطنت له موجودې وضعې نه پوره رضایت نه لري او په حکومت کې له زیاتو انحرافاتو څخه شکایت کوي، خو هغه وخت چې مملکت ارام وي، د دوی ساتنه په ښه ډول سره کېږي او دوی په عمومي ډول د دراني پاچا په خوا دي. دوی له پښتنو سره ډېرې ښې اړیکې لري او پښتانه، که څه هم دوی ترلاس لاندې ګڼي، ورسره د کبر او سپکاوي چلند نه کوي، بلکې له دوی سره د برابرۍ پر بنسټ ناسته ولاړه لري او ورسره خېښي کوي.

دوی حکومت ته تر پښتنو زیات مالیات ورکوي او د خپلو مېړو یو ښه تناسب اردو ملیشې ته استوي.

د تاجکانو شمېر په ښارونو کې خورا ډېر دی. دوی د کابل، کندهار، هرات، غزني او بلخ شاوخوا د نفوسو عمده برخه تشکیلوي، په داسې حال کې چې دوی د مملکت په نااېلو برخو کې لکه د هزاره وو او د جنوبي غلزیو او کاکړو په سیمو کې

Property of ACKU

ډېر لږ موندل کېږي.

زه تراوسه د هغو تاجکو په اړه ګرځېدم، چې له پښتنو سره ګډ شوي دي. هغه چې په ځانله بېلو ټولنو کې اوسي، ټول هېواد په ګوښه او له لاس نه وتلو سيمو کې ژوند کوي او دوی له نورو نه له څو اړخه توپير لري. د هغو لومړني، چې غواړم اوس يې ذکر وکړم، د کوهستانيو په نامه يادېږي، چې د کابل د کوهستان اوسېدونکي دي. ددغه ملک په شمال ختيځ کې د هندوکش له واورو نه ډکو غرونو په سلسلې او د هغه له سهيلي غرونو سره محاط دي. لويديځ ته يې د پاروميزاد غرونه او د هزاره وو ملک پروت دی، په سهيل کې د کوهدامان په لوري، چې دمخه يې ذکر شوی دی، غځېدلی دی. کوهستان له درې اوږدو درو نجراو، پنجشير او غوربند نه مرکب دی، چې هره دره يې د بې شمېرو وړو تنګو درو په مخ خلاصه ده، چې له هغه څخه ډېرې وړې وياله راوځي او په لويه دره کې سره يوځای کېږي او يو سيند ورنه جوړېږي، چې د هغې درې په نامه يادېږي. ددغو سيندونو دپاسه د لرګينو پلونه ايښودل شوي او د هغوی غاړې ددغو سيمو ډېره ښهٔ زراعتي برخه تشکيلوي. ددغو غاړو تناسب د غرونو په مقابل کې، چې په غېږ کې يې نيولي دي، ډېر کم دي او دغه غرونه ښه هسک او په نښترو پټ دي.

د کرنې په ډېرو برخو کې يې غنم او ډېرې نورې غلې کېږي او د حېرانۍ ځای دی، چې په دغسې هسکو او سړو سيمو کې دوی تنباکو او ان پنبه توليدوي، خو د خلکو د ژوند د تامين ډېره ښه وسيله د توتو پراخ او بې شمېره باغونه دي. ددغو غرونو توتان په لمر کې وچېږي، بيا اوړه کېږي او دوډۍ ترې جوړېږي. که موږ د کوهستانيو د شکلونو له مخې قضاوت وکړو، توت ښه روغتيا ښونکې مېوه ده او د ښاغلي اروايـن (Irvine) د حساب پر بنسټ دغه حاصلات په يوه ټاکلې ساحه کې نظر کرنې ته د لا ډېرو شمېرو خلکو لپاره غذا برابرولی شي. د کوهستان خلک که څه هم ښه تيت دي، شمېر يې ښاپسته زيات دی او ويل کېږي، چې تر ۴۰۰۰۰ کورنۍ وي. د کوهستان يوه برخه بايد له هغې نه بېله وګڼل شي. دغه برخه د مېرې يوه ټوټه ده، چې ريګ روان ورته وايي او چې هغه د ابو الفضل په قول د کومې رومانتيکي کيسې يوه صحنه ده.

کوهستان ډېر څاروي نه لري، وحشي څاروي يې بايد اورمرو زيات وي. ويل کېږي، چې زمري په هغو کې شامل دي او لېوان او پشي پړانګان (Leopards) په يقين سره يکې ډېر دي. په کوهستان کې ډېرې ښاښې موندل کېږي او بلبلې يې ښې پرېمانه دي. ددغه ملت قوت خلکو ته دغسې يو کرکټر په برخه کړی دی، چې د هغو تاجکانو له کرکټر څخه، چې ما يې لومړی بيان وکړ، ډېر توپير لري. دوی تقريباً له

Property of ACKU

حکومت نه بېل او خپلو مشرانو ته پوره تابع دي. دوی د شخصي کرکټر له مخې زړور، تند او سرغړوونکي دي او په جنګ دومره مئين دي، چې د برستنې مړينه ورته ننګ ښکاري. دوی د پوځ په تېره بيا په غرونو کې ډېر اعلی پياده ګان لري، خو د دوی زړه ورتيا عموماً په داخلي بې اتفاقيو کې ضايع کېږي. دوی يوائې کله کله د قومونو او کليو ترمنځ شخړې کوي، خو د افرادو په منځ کې يې جنګونه او وژنې ډېرې دي. هغه شخړې، چې په دوی کې څه وخت د کليو په منځ کې پېښېږي، د نورو ځايونو دشخړو په پرتله د نتيجې او عاقبت له مخې ډېرې جدي وي، ځکه چې تقريباً د يوه فصل د رېبلو په اندازه د ونو وهل ښه اسان دي، خو د تاوان ورکول يې تر هغو لا ګران دي.

د کوهستانيو وسلې په عمومي ډول لنډ سپک ټوپک Carbine، پلته ييز ټوپک، تومانچه او وړې پيش قبضې دي. ځينې يې لنډې نيزې او يو څو غشي او سپرونه لري.

د دوی جامې له دغو اجزاو نه جوړې وي: يوه تنګه کرتۍ، له تور شخ وړين ټوکر نه جوړ شوی پرتوګ، يو جوړه ګاولې او يوه وړه ورښمينه ټوپۍ.

کوهستانيان ټول سنيان دي او له پارسيانو او نورو ټولو امامانو سره له معمولي حد نه زيات مخالفت لري.

دوی بېل بېل خانان لري، چې تر ټولو ستر يې خواجه خانجي نومېږي. دغه مشران که څه هم نه شي کولای د هغو کورنۍ دښمنۍ کنټرول کړي، دوی قدرت لري چې د هغوی خارجي عمليات اداره کړي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې مذهبي تعصب يې پارول شوی وي. دغه مشران هر يو له ځانه يوه وړه نظامي قوه لري، خو په دغه ملک کې هر يو عسکر دی. دوی حکومت ته يو څه ماليات ورکوي او يو څه لښکر وربرابروي، خو په عمومي ډول له دوی نه هر څه حصول ښه اداره او ډېر تشويق غواړي. سره له دې هم په دې نږدې وختونو کې دوی ښه ايل شوي دي. له شاه محمود سره يوه زړه دښمني ددې لامل شوه، چې دوی د هغه په بېرته واکمن کېدو سره کلک مخالفت وکړي. لومړی دوی د هغه د ورور شهزاده عباس پلوي وکړه او وروسته يې د يوه کاذب پيغمبر په مشرۍ له شاه محمود سره خپل مخالفت ته دوام ورکړ. جنګ اوږد، سخت او زياتره د شاه محمود لښکرو لپاره نامساعد شو، خو په پای کې د وزير فتح خان قوت بريالی شو او اوس دوی ټول ايل شوي دي[1].

د تاجکانو بله طبقه برکيان دي، چې په لوګر او بت خاک کې اوسي. دوی که څه

---

[1] د کوهستانيو په جمله کې مې د پشه يانو نوم هم اورېدلی دی، خو په دې خواشينی يم چې د دوی د تاريخ په اړه مې تحقيق ونه کړ او له هغه وروسته ماته دا پته ولګېده، چې بابر به د دوی ذکر کړی وي، چې دوی ځانله يوه ژبه لرله.



Property of ACKU

هم له عربو سره ګډ شوي دي، له نورو تاجکانو نه په دې توپير لري، چې داسې يو قوم دی، چې ځانله بېل مشران لري او د عسکرو په توګه د لوړ نامه خاوندان دي. دوی ځانله کلاګانې او ځمکې لري، حکومت ته ښې لښکرې برابروي او په سلوک کې له پښتنو سره ښه ورته دي او تر نورو تاجکانو دوی ته په ښه سترګه کتل کېږي. د دوی شمېر اوس نږدې اتو زرو کورنيو ته رسېږي.

ټول روايتونه په دې يوه خوله دي، چې سلطان محمود د يوولسمې پېړۍ په سر کې دوی دغه اوسني ځای ته نقل کړي وو او هغه وخت د دوی دغه سيمه ډېره پراخه وه، خو د دوی اصل معلوم نه دی. دوی پخپله وايي، چې له عربانو نه پيدا دي، خو د نورو په روايت دوی د کردانو اولاده دي.

پورموليان يا فورموليان د تاجکو يوه پښه ده او له برکيانو سره په شمېر کې برابر دي. زياتره شمېر يې په اورګون کې د خروټو په منځ کې ژوند کوي او له دغه قوم سره ډېره کلکه دښمني لري او نور يې د کابل په لويديځ کې اوسي، کرنه او سوداګري يې لوی کسب دی، خو حکومت ته ماليات او يو څه عسکر هم ورکوي(¹).

سردهيان يو وړ قوم دی، چې د غزني ختيځ سهيل خوا ته په سرده کې اوسي. د سيستان اوسېدونکي هم ښايي تاجکان وشمېرل شي او دغه قوم د بلوڅو د ملک په شمال کې هم عموميت لري، خو د هغو ورېشونه او خپلونه به دلته ذکر نه شي.

سره له دې هم دوی په هغه حساب کې راغلي دي، چې پخوا د کابل پاچا د قلمرو د تاجکو په اړه شوی و او د هغوی ټول شمېر ۱۵۰۰۰۰۰ اټکل شوی و.

¹ زه دوی د اصل او نسب په اړه هک حېران يم، که څه هم هغه منابع، چې د دوی يادونه کوي، داسې نه دي چې نامعلوم اوسي. ويل کېږي، چې دوی د خلجيانو له نسل څخه پيدا دي او خلجيانو هندوستان ته يوه حاکمه کورنۍ ورکړې ده، خو د دوی په اړه هرڅه غیر یقیني دي. د فرشته په قول خلجيان د پښتنو يو قوم دی او ما له نورو منابعو څخه اورېدلي دي، چې دوی د خليج Khulluch يا خلج Khulluj د ښار اوسېدونکي دي، چې د ځينو په قول د امو پر غاړه او د نورو په قول د کندهار شمال لويديځ ته پراته دي. په داسې حال کې، چې د نورو په قول داسې ښار هېڅ نه و او وايي، چې خلجيان ددغسې يوې مذهبي فرقې نوم دی، چې په يوه ځانګړي ملت پورې اړه نه لري. خلجيان يا خلچيان د تار تار يو قوم دی، چې يوه برخه يې په لسمې پېړۍ کې هم د سردريا په سرچينې کې اوسېدله، خو ډېر وخت کېده چې يوه وړه برخه يې د سيستان او هندوستان ترمنځ يانې د پښتنو په ملک کې اوسېده. په لسمې پېړۍ کې دوی لا هم په ترکي ګړېدل، خو داسې ښکاري، چې دوی ډېر دمخه هغو پښتنو سره ډېرې نږدې اړيکې لرلې، چې نوم يې ورسره په قطعي ډول يو و. د دوی د اصل او نسب او په تارتاري کې هستوګنې ځای لپاره وګورئ: دي ګيوني De-Guignes، درېيم ټوک، ۹ مخ، نوټ دي هربيلات De.Herbelot د خليج مقاله Khalad او ابن حوقل، ۲۶۹. د سر ډبليو اوسيلي Sr.W.Ouseley چاپ، د پښتنو په ملک د دوی د استوګنې لپاره وګورئ: ابن هوقل، ۲۰۷ مخ، دغه وروستی ليکوال د ۹۰۲ او ۹۶۸ عيسوي کال ترمنځ ليکنې کړي دي. ۱۸۳۸



Property of ACKU

هندکیان که څه هم تر تاجکانو په شمېر ډېر دي، زیات تذکار نه غواړي. په دې چې دوی ټول په اصل کې له هندوستان څخه دي او د خپل اصلي هېواد ښه ځرګند شکل او سلوکونه یې له هغه ګډو ځانګړتیاوو سره یوځای، چې ختیځو پښتنو ته منسوب شوي دي، ساتلي دي[1].

د اباسین د ختیځو غاړو په ولایتونو کې په عمومي ډول د هغو یوه طبقه ژوند کوي، چې جتهان نومېږي. د پنجاب مسلمان بزګر هم په دوی کې شامل دي او دوی د سند د نفوسو عمده برخه تشکیلوي او د بلوچستان په ټولې سهیلي_لویدیځې او په موکل واد Mukelyaud کې له بلوچو سره ګډ دي. په بلوچستان کې دوی د جوګدالو (Jugdalls) او داسې هم د جتهانو په نامه یاد دي او د دوی هغه قوم چې په لوس (Lus) کې اوسېږي، د جوخنا (Jokhna) او نورمري (Noormree) په نامه یادېږي. هغه پراخه سیمه، چې په هغې کې جتهان خواره دي، د تاجکانو د کیسې په څېر چې د هغوی موقف له جتهانو سره ډېر ورته دی، همغسې یو شان د پلتنې احساس پاروي.

د هندکیانو یوه بله طبقه، چې اوآن یا اعوان نومېږي، د اباسین پر غاړه د کاک باغ په شاوخوا او پنجاب ته نږدې سیمو کې ژوند کوي.

داسې ښکاري، چې پراچیان، چې دوی هم د هندکیانو یوه بله طبقه ده، د بابر په وخت کې جلا خلک وو. دوی اوس یوازې د کاروانونو په تنظیمولو او د مالونو په نقلولو کې پوره مهارت لري. هندکیان په باجوړ او د پېښور په شاوخوا کې په شمېر کې ډېر دي او د دوی ځینې طبقات د یوسف زیو د ملک په شمال ختیځ کې موندل کېږي. د دوی ژبه یو داسې ډول هندوستاني ده، چې د پنجاب له لهجې سره ورته ده. هندوان ښایي له دغې طبقې سره یوځای وشمېرل شي، دوی د کابل د سلطنت په ټولو برخو کې موندل کېږي[2].

دوی په ښارونو کې د دلالانو، سوداګرو، صرافانو، زرګرانو، د غلو دانو خرڅوونکیو او نورو په توګه زیات شمېر شته. په ټول ملک کې به ډېر کم داسې

---

[1] پېنځم پلېټ د ژمي په جامو کې د پېښوریو هندکی ښيي دا که څه هم چې هندکی ته نږدې ښکاري بیا هم د یوه هندکي ځانګړتیاوې ښه افاده کوي.

[2] هندوان په حقیقت کې ان تر استراخان (Asrachan) پورې موندل کېږي او د دوی شمېر په عربستان کې هم ډېر دی. په داسې حال کې چې په شرق کې دوی تر پیکن (Pekin) پورې رسېږي. ویل کېږي، چې دوی هلته یو درمسال هم لري. د دوی مذهب له دغو سرحدونو نه اوښتي دي. معلومه ده، چې د فو (Fo) په نامه د بوده (Bodh) لمانځنه په ټول چین کې عمومي ده او څنګه چې ډاکتر کلارک (Dr. Klarke) وایي د کلموکانو (Calmucks) په خدایانو کې موږ د هندوانو بېتان پېژندلای شو.



Property of ACKU

فوکلي وي، چې هلته هندوانو یوه یا دوه کورنۍ دغه کسبونه، نه کوي او د صرافانو او محاسبانو او نورو په توګه کسب او کار کوي. دوی د فارس په شمال کې هم خواره دي. خو هلته په دې چې له دوی سره ناوړه چلند کېږي، په لږ شمېر موندل کېږي. په بخارا او د تارتاري په نورو ښارونو کې دوی تشویقېږي. هندوان ټول یا نږدې ټول د نظامي کشتریا له طبقې څخه دي، خو داسې باید ونه ګڼل شي، چې دوی عسکر دي. برخلاف په کابل کې به د هندو عسکرو په مفکورې ملنډې ووهل شي. دوی هندوړي ځانګړتیاوې ساتي او ځینې یې نږدې هندي جامې اغوندي، خو ډېر یې خپلې ږېرې پرېږدي او همغسې کالي په تن کوي، چې د هېواد له جامو سره نږدې ورته وي. دوی له ډېرو هندوړي تعصباتو نه ځانونه ازاد کړي دي، تر دې پورې چې دوی پروا نه ساتي، چې هغه ډوډۍ وخوري، چې په یوه ګډ پخلنځي کې پخه شوې ده.

دوی تر دې هم ددغه مقررۍ لږ رعایت کوي، چې دوی له دېنه منع کوي، چې له مسلمان سره تماس کولو نه وروسته باید غسل وکړي. دغه امر د سړو سیمو لپاره نه دی. په حقیقت کې په ډېرو اړخونو کې دوی له مسلمانانو سره ښه راشه درشه ساتي. که څه هم د دوی پر حیله ګرۍ او خسیس والي پورې ښې ملنډې وهل کېږي. دوی زیاتره په دربار کې په داسې کارونو ټاکل شوي دي، چې له پیسو یا حساب سره سروکار لري. د هر یوه متر کس لپاره د ناظرۍ او خزانه دارۍ وظیفه یا د پارسیوان یا د هندو پر غاړه ده، هندوان په ولایتونو کې اکثر حکمرانان وو او همدا اوس هم د پېښور لویه حکمراني ددغه مذهب یوه کس ته سپارل شوې ده. خو خلک دغې مقررۍ ته له تایید نه ډېر په حېرانۍ سره ګوري او حکومت باید ښه قوي وي، چې ددغسې مقررۍ ملاتړ وکړي.

ما د زغم هغه درجه ذکر کړې، چې د هندوانو په اړه یې مراعات کېږي او اوس باید دومره ورزیاته کړم، چې د دوی زیاترو حال ښه دی، د اشرافو له بنګلو پرته په هر ښار کې د دوی کورونه تر نورو ډېر ښه دي.

د هندوانو په خپل روایت، دوی د هندوستان مهاجرین دي، چې په افغانستان کې له ډېرو پخوا وختونو څخه مېشت شوي او داسې ښکاري، چې د دوی کیسه ښه بنسټ لري[1].

[1] خو په افغانستان کې د بت لمانځونکیو د یو پخواني نژاد ځینې اثار لیدل کېږي لکه د بامیانو ډېر غټ بتان او هغه بې شمېره وړې مجسمې، چې کله کله د ایماقاتو په ملک کې رابرسېره کېږي. په ځینې ځایونو کې هندي افسانې اورېدل کېږي، خو هېڅ یوه یې ډېرو لرغونو مهالونو ته نه رسېږي. ګوري کټي Gorekutty یانې چېرته چې په پېښور کې یو کاروان سرای ولاړ دی، د بابر په وخت کې د هندوانو د لمانځنې ځای و. د کابل په شمال کې اق سرای ته نږدې یوه لویه سمڅه شته، چې د هندوانو



Property of ACKU

هغه قوم یا په بل عبارت د دهگانانو هغه ملت، چې ښکاري یو وخت د افغانستان د شمال ختیځ په زیاترو برخو کې خواره وو، اوس یوازې د کونړ په دره او د لغمان په شاوخوا کې ژوند کوي، خو یوازې په کونړ کې دوی تراوسه هم د بېلو خلکو په توگه اوسي او هلته د داسې یوه مشر تر اداري لاندې دي، چې کله د سید او کله د کونړ د پاچا په نامه یادېږي. د دوی ملک وړ دی او قوي نه دی، نه یې اوسېدونکي جنگیالي دي، خو دغه سید د خپل تدبیر له امله او ښايي د هغه احترام له مخې، چې دده نسب ته کېږي، ځان ښه مهم گرځولی دی. دی حکومت ته یو څه مالیات او یو نیم سل سواره ورکوي.

دهگانان په دغسې یوې ژبې گړېږي، چې په بابرنامې، آئین اکبري او نورو منابعو کې د «لغماني» په نامه یاده شوې ده. ددغې ژبې له یو شمېر لغاتو څخه، چې ما راټول کړي دي، داسې معلومېږي چې دغه ژبه له سانسکرټ او عصري دري څخه جوړه شوې وي او د یو څو پښتو لغتونو او د یوې نامعلومې ریښې یو قوي مخلوط لري(۱).

خو ددغې ژبې زیاتره کلمې له سانسکرټ څخه دي او له دې څخه موږ ممکن دې نتیجې ته ورسېږو، چې دهگانان په اصل کې له هندوستان څخه دي، که څه هم دوی له هندکیانو نه متمایز دي. باید احتیاط وشي، چې دوی له تاجکانو سره یو ونه گڼل شي، چې پښتانه کله دوی د دیگان په نامه یادوي او دغه کلمه د دهقان یا بزگر اړول شوی شکل دی.

شلمانیان پخوا د شلمان اوسېدونکي وو، چې د قاروڼ په دواړو غاړو کې یوه پرته سیمه ده. وروسته دوی تیرا ته وکوچېدل او د پېنځلسمې پېړۍ په پای کې په هشنغر کې وو، چې له دغه ځایه یوسف زیو وشړل. پخواني پښتانه لیکوالان دوی دهگانان بولي، خو داسې ښکاري چې دوی دغه کلمه په دقیق ډول نه استعمالوي.

---

په روایت د تپه سیا یا د گوروگ Gurug د څله کېدو یوه صحنه و. گوروگ هغه برهمن و، چې د کرشنا Krishna کورنۍ ته منسوب و او د کپتان ولفرد Captain Wilford د فرضیې له مخې دغه سمڅه د پرومیتیوس Prometheus یا هغه سمڅه وه، چې له سکندر سره ملگري یونانیان یې همدغسې بیانوي. اسیایي څېړنې د اسلامي دورې مورخان په پخوا وختونو کې د کابل له راجاگانو څخه گرېږي، خو دا هېڅ څیز نه ثابتوي. همدغه لیکوالانو هندوان د گبریانو Guebres په نامه یاد کړي دي او مسلمانان د راجا د کلیمې په استعمال کې دقیق نه دي لکه دا چې ټیپو سلطان د انگلستان پاچا ته د راجا خطاب کوي.

۱ غواړم ددې یادونه وکړم، چې زه په سانسکرټ هېڅ نه پوهېږم، خو دغه پرتله مې د دوو مرهټه وو پنډتانو په مرسته وکړه. کېدای شي، چې هغه کلمات چې ماته ښکاره شول، په کومې نامعلومې ژبې پورې اړه ولري، چې کېدای شي یوه ښه ختیځ پوه ته ښه معلوم وي.



Property of ACKU

تراوسه هم د یوسف زیو په ملک کې یو څه شلمانیان شته، چې د کومې ځانګړې ژبې په زړه پورې پانګه لري.

داسې ښکاري، چې سواتیان چې دوی هم کله کله د دهګانانو په نامه یادېږي، په اصل کې هندوستاني اوسي. په پخوا وختونو کې دوی د داسې یو قلمرو خاوندان وو، چې د هایډاسپس Hydaspas له لویدیځې څانګې نه نېږدې تر جلال اباد پورې غځېدلی و. دوی د پښتنو قومونو له خوا په تدریجي توګه تر هغو لا تنګو سیمو ته محدود شول او سوات او بونیر، چې وروستی سیمې وې، د پېنځلسمې پېړۍ په اخر کې د یوسف زیو له خوا لاندې شوې. د دوی شمېر په دغو ملکونو کې اوس هم ډېر دی.

تیرایان، چې په شینوارو کې استوګنه کوي، یو کوچنی قوم دی او یوائې په دې یاد دی، چې په داسې یوې ژبې ګړېږي چې له ګاونډیو ژبو نه پوره توپیر لري. زه په دې بریالی نه شوم، چې ددغې ژبې یو څو بېلګې راټولې کړم یا د هغې په اړه داسې معلومات راټول کړم، چې د هغو له مخې د هغې د مبدا په اړه اټکل وکړای شم.

قزلباشان د ترکانو د هغې کالونۍ غړي دي، چې اوس په فارس کې غلبه لري. زه خو یې په همدغه نامه یادوم (په کابل کې دوی معمولاً په دغه نامه یادېږي) نه د فارسیانو په نامه او دا د دې لپاره چې که دوی په دغه وروستي نامه یاد، کېدای شي غلطي پېښه شي.

قزلباشان په عمومي ډول په ښارونو کې اوسي، یوائې په هرات کې په کلیو کې هم موندل کېږي. ویل کېږي، چې دوی د کابل په ښار کې لس یا دولس زره تنه دي او دوی هلته د نادر شاه او احمد په وختونو کې مېشت شوي وو او تراوسه هم دوی دغسې خلک دي، چې له خپلو ګاونډیو نه په ډېرو لحاظونو توپیر لري. دوی په دري او په خپلو کې په ترکي خبرې کوي. دوی ټول متعصب اماميان دي او د دوی د تعصب د پټولو د یوې درجې د اړتیا او له سنیانو سره د مخالفت له امله، چې دوی د هغو په منځ کې ژوند کوي، دوام کوي[1]. د هرات قزلباشان هر ډول کسبونه او شغلونه لري، نور یې زیاتره عسکر دي، ځینې یې سوداګر دي او دوی ددغې طبقې ډېر ښه کسان دي او ډېر یې کاسبان او نوکران دي، عامله یاد، مسلحو کسانو ډلې چې د سترو کسانو په خدمت کې دي، عموماً له دوی نه مرکب دي.

د محررانو، محاسبانو او نورو وړو مامورانو زیاتره شمېر قزلباشان دي او نېږدې

---

[1] زما دغه لیکنه د کابل د قزلباشانو او د ښایسته ډېرو فارسیانو پر مشاهدې بنا ده، چې په هندوستان کې مې پېژندلي دي، خو دغه کرکټر په عمده ډول د ښارونو د اوسېدونکیو په اړه تطبیق مومي. د اطراف خلک دومره خراب نه دي او ایلات یا شپانه قومونه یو څه د پښتنو په څېر دي.

Property of ACKU

هر مهم شخص له دغه قوم نه ځانله یو مېرزا، ناظر او ممکن یو دیوان یا مېلمه پال لري.

د پاچا زیاتره پیشخدمتان او د هغه شاوخوا نږدې نور نوکران هم قزلباشان دي. ددغو کسانو ځینې د لوړو رتبو او درجو خاوندان دي او د قزلباشانو ځینې نظامي مشران هم مهم کسان دي، که څه هم چې دوی د درانیو منصبدارانو تر لاس لاندې دي، ځینې قزلباشان په تېره غلامان یا د پاچا ساتونکي، ځمکې او ان کلاګانې لري، چې پاچا وربښلې او یا یې په خپله په بیه اخیستې دي، خو دوی په عمومي ډول له هرات پرته په ښارونو کې اوسي او خپلې ځمکې پښتنو یا تاجکو اجاره دارانو ته په اجاره ورکوي.

د قزلباشانو د اوو قبیلو یا قومونو (تیري Teerehs) پرته د کابل قزلباشان ځانله ځانګړي تقسیمات لري. لکه هندولیان، یا جوان شیریان (لومړنی یې مخکینی نظامي ډلې (۱) او وروستی یې یو لقب دی) مرادخانیان او نور. مرادخانیان د هغه دراني قوماندان په نامه یاد شوي دي، چې د لومړي ځل لپاره یې پرې قوماندانې کړې ده.

له تاجکو پرته، چې دوی ددغه ملک ځایي اوسېدونکي دي، هغه قومونه چې له هندي توکم څخه راپیدا دي او قزلبان، چې د فارس د تارتاري فاتحانو له نسب څخه دي، د پښتنو په ملک کې نور واړه قومونه مېشته. دا به د حیرانۍ ځای وي، چې د برتانیې په ښارونو یا اطرافو کې دا سې مېشت شوي فانسویان یا هسپانویان ولیدل شي، چې د څو پېړیو په تېرېدو سره له نورو خلکو سره نه وي ګډ شوي، خو دا حقیقت په اسیا کې ښاېسته عام دی.

د نفوسو د زیاتې برخې د کوچیتوب عادتونه ټول د لېږدېدو له فکر سره روږدي کوي، دا هم د اسیایي حکمرانانو یوه عامه پالیسي ده، چې خپل رعیت له یوې سیمې نه بلې ته نقل کړي، په دې فکر چې یا خواریکښ خلک مونده کړي یا د مملکت په یوې ښې برخې کې وفادار نظامیان د ځان کړي او یا زیاتره د یوه سرکښ خېل یا ملت قوت مات کړي. دا له یوه ملک نه بل ته د خلکو د لېږدېدلو علتونه دي او په قومونو باندې د ټولو په وړش سره دوی له پاتې اوسېدونکیو نه بېل ساتل کېږي. دغسې مهاجرین د مملکت په قومونو کې د داخلېدو اجازه ترلاسه کولای نه شي او انفرادي کسان د طبیعي متحدینو د نشتوالي له لامله په ډېرو غېر

(۱) چندول د پیش قرول په خلاف مخکنۍ نظامي ډله نه، بلکې د شاساتونکې نظامي ډله ده. څه وخت، چې نادر شاه افشار له کابل څخه د هند په تکل روان شو، یوه ډله عسکر یې په کابل کې د چنداول په نامه پرېښودل، وروسته هغه ځای د چنداول په نامه یاد شو، چې تراوسه هم مستعمل دی. ژباړن



Property of ACKU

مساعدو شرایطو کې وي، نو په دې توګه دوی د دوه اړخیزې دوستۍ، حفاظت او د ګټې په منظور سره یو پاتې کېږي.

ددغې طبقې بې شمېره کسان عربان دي، چې ممکن له فارسي خراسان نه راغلي وي. تراوسه هم په هغه ملک کې عربان په زیات شمېر موندل کېږي او دوی کېدای شي د اسلامي فتوحاتو په لومړۍ دورې کې هلته مېشت شوي وي یا لږ تر لږه له هغه وخت نه وروسته هلته استوګن شوي وي، چې د سامانیانو یوې عربۍ کورنۍ[1] په بخارا باندې حکمراني کوله.

د دوی شمېر په افغانستان کې کېدای شي دوه زره کورنۍ وي، چې ځینو یې د کابل په بالاحصار کې د چاونۍ یوه برخه تشکیلوله او پاتې یې د کابل او پېښور ترمنځ په جلال اباد کې اوسېدل. دغه وروستۍ یې ځانله د یو بېل مشر تر ادارې لاندې ده او دوی دومره د عزت خاوند دي، چې دده د تېرو پلرونو لور د احمد شاه ښځه د تیمور شاه مور ده. دوی خپله اصلي ژبه پرېښې، خو تراوسه هم په یوې ټولنې کې اوسي، ټول مېشت دي او کروندګر دي.

د مغولو او چغتانیانو نه هم په پیوسته شمېر خلک او له دغه لاندې هر یوه ملت څخه یو څو سوه کورنۍ په دغه ملک کې شته دي.

لزګیان د تورې بحیرې او کسپین دبحیرې ترمنځ د قفقاز له غرونو څخه، چې نادر شاه لېږدولي وو او اوس د فراه په شاوخوا کې مېشت دي، موکریان (Mookress) او فاسي امپراتورانو ترمنځ کردستان (پخوانۍ ګردوچیا (Carduchia) دوه قومونه دي[2])

ارمنیان دغسې خلک دي، چې چېرته د ګټې موضوع وي، دوی د شرق په هرې برخې کې موندل کېږي.

حبشیان (چې د غلامانو په توګه په بیه رانیول شوي وو او اوس د پاچا د ساتونکیو یوه برخه تشکیلوي) او کالموکیان Kullimauks چې دلته کولي ماکیان Kalmucks نومېږي او دوی هم د پاچا محافظان دي او داسې ښکاري، چې په روسیې کې د همغه قوم له خلکو سره نږدې ورته والی لري. د ښاغلي کرپورتر Kerr Porter په سیاحت نامو کې د یوه کالوک تصویر د دوی یو ښه کاریکاتور دی، چې په کابل کې اوسېږي. تیمور شاه دوی له بلخ نه کابل ته ولېږدول او یوائې

[1] اوس دا ښه څرګنده ده، چې سامانیان یوه عربي کورنۍ نه، بلکې یوه اریایي کورنۍ ده. ژباړن

[2] څه وخت، چې مرجان ملکم John Malcolm په کردستان کې و، د موکریانو په اړه یې یوه شرح ترلاسه کړه، چې کابل ته د دوی د یوې برخې مهاجرت پکې ذکر شوی دی، خو ماته ددغه لېږد لامل یا وخت معلوم نه دی. ویل کېږي چې په رکایانو کې ځینې بودایان تراوسه هم په کردي ژبه خبرې کوي.

Property of ACKU

په دې وختونو کې ده، چې د افغانستان خلک د دوی له گردو او پراخو مخونو، د دوی له غټو نريو سترگو او د دوی د پوست له نهايت تور رنگ سره اشنا شوي دي.

يو څه د حيرانۍ ځای دی، چې کالموکيان، چې دوی په عمومي ډول د شمالي اسيا اوسېدونکي دي، کابل ته يې لاره پيدا کړې ده، خو د دوی ښاپسته ډېر شمېر په بخارا کې مېشت دي او د دوی لالهاند خويونه د دوی د دغه وړاندې تنگ لامل گڼل کېږي.

زه په دغه لست کې د بلوڅو، ايماقو او هزاره گانو په اړه، چې دوی په زيات شمېر په لويديځ کې يا د سيستانيو، کرمانيو، مرويانو او د فارس د نورو ښارونو او ولايتونو د خلکو په اړه، چې د دغه ملک په بېلابېلو برخو کې په ښاپسته ښه شمېر مېشت شوي دي، څه نه وايم، ځکه چې هغه يو څو اروپايي ترکان، يهوديان او د بدخشان او کاشغر خلک زياتې ليکنې غواړي او نه تر هغو په شمېر کې لا زيات ازبک سياحان ليکنې غواړي، چې يا د تجارت او يا د تحصيل لپاره پېښور ته راځي

(د لومړي ټوک پای)

* * *



Property of ACKU

# د کابل سلطنت بیان

## او د هغه توابع په تار تاري، پارس او هندوستان

### دویم ټوک

(بشپړ متن)

لیکوال:
مونټ سټوارټ الفنسټن

ژباړن:
پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ

Property of ACKU
۳۲۶۵۱

# لومړی څپرکی

## د برو درانیانو ځانګړنه

اوس غواړم په ځانګړې توګه په هغو قومونو وغږېږم، چې د دوی په مینځ کې که څه هم ډېر توپیر شته، خو بنايي لوستونکیو ته ورپه زړه کړم، چې دوی ټول له یوه توکم څخه دي، په یوې ژبې ګړېږي او ټول ځانله یو ملت جوړوي.

د پښتنو په اړه ټول تېر بحثونه د دوی په هر قوم صدق کوي، خو یوازې هغه وخت، چې هغه یا لنډ شوی وي یا په دغې راتلونکي لیکنې کې نقض کېږي.

### ختیځ قومونه ـ بر درانیان

اوس به د برو درانیانو او په هغو کې د یوسفزیو د ځانګړتیا په بحث پیل وکړم. یوسفزي که څه هم د پښتنو د کړو وړو او سیمې ښه مثال کېدای نه شي، خو سره له دې هم په دوی کې د بل هر پښتني قوم په پرتله ډېرې ځانګړتیاوې پوره څرګند دي. هغه وخت، چې د دوی ټولې موسسې شرحه شي، د هغو نورو برو درانیانو موسسې به د همدغه سیستم د اوښتو شکلونو په توګه څرګند شي او د لویدیځو او جنوبي قومونو موسسې به په دغه معیار باندې په پرتله کولو سره ښې درک او واضحې شي.

. هغه قومونه، چې د پښتنو د هېواد په شمال ختیځ کې اوسي او د هندوکش، اباسین، د مالګې غرونو او د سلیمان غرونو احاطه کړي دي، په ټولیزه توګه د برو درانیانو په نامه یادېږي. دا هغه نوم دی، چې لومړی احمد شاه ورباندې ایښی دی.

په برو درانیو کې دا قومونه شامل دي: یوسفزي، اتمانخېل، ترکلاني، خیبریان، د پېښور د اوارې قومونه، بنګښ او خټک. تر دې دمخه، چې زه د دغه هر قوم په اړه وغږېږم، غواړم په هغو ټکو رڼا واچوم، چې دغه قومونه له نورو ټولو

Property of ACKU

پښتنو څخه بېلوي.

مخکې وویل شول، چې داسې ښکاري چې ختیځو پښتنو به خپل مدنیت له هندوستان څخه اخیستی وي او دغه وینا د برو درانیو په اړه په ځانګړې توګه سمه ده. له هغو لرغونو مهالو څخه، چې د غزني او کابل پاچایانو هندوستان نیولی و، د افغانستان شمال ختیځې برخې ددغو دوو امپراتوریو ترمېنځ تل د تګ راتګ لاې ګرځېدلې وي او اوسېدونکیو یې د هغه هېواد د خلکو کړه وړه غوره کړي وو، چې کېدای شي د ژوند فنون یې ډېر پرمخ تللي وو او سربېره پردې په ټولیز ډول د هغوی د واکمن دربار د دوی استوګنځی ګرځېدلی و. دغه عادتونه کېدای شي لومړی په ښارونو او لویو لارو ته په نږدې قومونو کې مروج شوي وي، خو هغو د هېواد په لرو برخو کې تلپاتې بڼه غوره کړې وه. له هغو نورو قومونو سره وروسته له هغه، چې له هندوستان سره اړیکې وشلېدلې، په زیاته اندازه راشه درشه ډېره شوه او د درانیو دربار او اردو پخپله هم پښې شول. چې د خراسان ژبې او کړه وړه غوره کړي، خو په ټولیز ډول له هندوستان سره ګډ شول، تراوسه هم په ټولو برو درانیانو کې په قوت سره لیدل کېږي.

بر درانیان په بې شمېرو وړو وړو ټولنو وېشل شوي دي. څنګه چې هغه ټولنې زراعتي دي، دوی د هر هغه قوم په پرتله، چې یا ټول کوچیان دي یا یې یوه برخه کوچي ده، ډېره کمه سیمه نیولې ده او څنګه چې د دوی شمېر وار په وار ډېرېږي، نو د دوی هر قوم ورځ په ورځ ځان ډېر تنګ وینې او په دې ډول په دوی کې د اوبو او ځمکې په سر شخړې او له ګاونډیو قومونو سره تلپاتې دښمنۍ پیدا کېږي. د ګڼو متراکمو نفوسو اغېزې په افرادو کې هم حس کېږي، هر شخص مجبور دی د هغو وسایلو د ترلاسه کولو په تکل کې شي، چې دده د شخصي ژوندانه لپاره لازم وي او د ګاونډیو د حقوقو او هوساینې پروا دومره نه کوي. په نتیجه کې بر درانیان زړور، جګړه مار، فعال، زیارکښ او ځیرک خو ځان غوښتونکي او چلناک ګرځېدلي دي. دوی تر نورو پښتنو زیات متعصب او بې زغمه او تر زیاتې اندازې د خپلو ملایانو تر نفوذ لاندې دي، ځینې یې په ناروا کارونو کې تر نورو پښتنو ډېر مخکې دي.

دغه ځانګړتیاوې د بېلابېلو قومونو د اوضاعو له مخې په بېل بېل ډول اوښتې دي او هغه د خورو شویو غرنیو اوسېدونکیو په مېنځ کې د سمو او درو د اوسېدونکیو په انډول په ډېر قوت سره لیدل کېږي. آزاد قومونه تر ټولو ډېر ناآرامه دي او هغه چې د یوه قومي مشر ترلاس لاندې ژوند کوي، تر ټولو ډېر دعوه ګر دي. همدارنګه د پښتنو ټولیز عادات د برو درانیو کړو ته بدلون ورکوي. د بېلګې په توګه د دوی د مېلمه پالنې عادت دوی مېلمه پالونکي ګرځولي، که څه هم چې د دوی

Property of ACKU

خپل حال دوی ځان پالونکی ګرځولی وي. البته د دوی مېلمه پالنه په هېڅ وجه د لویدیځو قومونو له مېلمه پالنې سره برابې نه شي کولای.

## ګوندي ګانې

په ټولنو کې د دوه اړخیزې مدافعې لپاره د غېږتوب رسم له یوسفزیو پرته په ټولو برو درانیو کې موجود دی. دغه دود په څرګند ډول له هغه تلپاتې مجادلې نه پیدا دی، چې په دوی کې غلبه لري. دا چې دغه دود ولې په یوسفزیو کې نشته، که څه هم دوی ورته تر ټولو ډېر ړ ښکاري، زه پرې هېڅ نه پوهېږم خو دغه حققت په ټولو هغو اطلاعاتو کې، چې په دې اړه زما لاس ته راغلي دي، تایید شوي دي.

دغه اتحادیې د ساکسون (Saxon) د وختونو د وروږګلوي ټولنو ته یو څه ورته دي. افراد یې د یوه بل د ملاتړ لپاره یا په ځانګړیو لویو پېښو او یا په ټولو قضیو کې چې واقع کېږي، سره ژمنه کوي. دغو اتحادیو ته ګوند وایي او په ګوندونو کې چې څومره کېدای شي هغومره نفر داخلېدای شي. په یوه ګوند کې د دوو غړیو ترمینځ اړیکې د وینې او نسب تر اړیکو ډېرې کلکې وي. دوی ددې ژمنه کړې وي، چې یوه بل لپاره له هرڅه ان له سر څخه هم تېر شي. د دوو مشرانو ترمینځ ګوندي اړیکې ان د دوی د قومونو ترمینځ د جنګ له لامله هم له مینځه نه ځي. دوی کېدای شي په جنګ کې برخه واخلي، خو همدا چې مقابله ختمه شي، د دوی ملګرتوب سره نوی کېږي.

د قومونو ترمینځ هم ګوندي اړیکې پیدا کېږي. په پخوا وختونو کې له یوسفزیو، اتمانخېلو، ترکلانیو او خټکو پرته نور ټول بر درانیان په دوو لویو اتحادیو کې شامل وو، چې د ګاړا (Gara) او سامل (Saumil) په نامه یادېدلې او دوی مجبور وو، د یوه بل ملاتړ وکړي. خو دغه اتحادیې په دغو وختونو (۱۸۰۹کال) کې ضعیفې شوې او اوس یې ټولې برخې، هېڅکله په یوه جګړه کې ګډون نه کوي.

## د برو درانیانو هوا

بر درانیان د هندوکش نه په ښکته ورو غرونو، درو او همدارنګه په هغو درو او غرونو کې اوسي، چې د سلیمان له غرونو سره نښتي دي. دوی د باجوړ او پېښور په درو او سمو کې هم مېشت دي. باید په یاد ولرل شي، چې د هندوکش څوکې تل په واورو سپینې وي او تر هغو ښکته د ورو غرونو سرونه سپېره وي، خو په اړخونو کې یې د نښترو، څېړیو، غوزانو، ځنګلي ښوواڼو او نورو ونې شته او تر هغو په لا ښکته برخو کې ټول هغه ګلونه او مېوې، چې په اروپا کې موندل کېږي، پخپله زرغونېږي. د غرونو ټول ځنګلونه له وحشي ژویو څخه ډک دي، چې له هغې جملې



Property of ACKU

څخه لېوان، يېړان، پړانګان، پښي پړانګان او ګوړان ډېر مهم دي. کافران د اوسېدلو په وړ ډېرو لوړو غرونو کې اوسي او هغوی چې پښتنو ته نږدې پراته دي، مسلمانان شوي او نږدې قومونو ته ماليه ورکوي. په ښکته غرنيو برخو کې د پښتنو هندو رعيت ډېره راشه درشه لري او دوی د سنډاګانو او وزو، لويې رمې پيايي. خو په ځينو حالاتو کې په ښکته غرونو کې پخپله پښتانه مېشت دي او دغه سيمې دوی پخپله کري. د درو هغه ډډې، چې څه وخت وکرل شي، غنم او اوربشې کوي او هغه ټولې للمي دي او په باران اوبه کېږي. خو د درو اخري برخې په داسې وياله خړوبېږي، چې اوبه تل په هغو سره وېشل کېږي او د نورو اوارو په څېر حاصلات ورکوي لکه غنم، شولې، جوار، وربشې، دانه باب (Pulse)، ګنې، تمباکو او پنبه. خو دغه حاصلات په هر ځای کې په برابره اندازه نه وي. غنم، (باجره) او شولې په پېښور کې سره نږدې برابرې وي، په داسې حال کې چې لومړنی يې په باجوړ او وروستی يې په سوات کې ډېر وي.

ددغه ملک ډېر ټوليز څاروي غوايان دي، چې په هر ځای کې يوې پرې کېږي او په ډېرو برخو کې بارونه پرې وړل کېږي. له خرو او کچرو څخه هم په بار وړلو کې کار اخيستل کېږي، خو هغه او همدارنګه اسونه د هندوکش په درو کې ډېر عام نه دي او په باجوړ، بر سوات او بونير کې ان پسونه هم ډېر نه موندل کېږي.

اقليم يې له واوريښو غرونو څخه د پېښور تر تاوده ميدان پورې ډېر توپير لري. ډېر غرونه يې ان د اوسېدلو وړ غرونه يې هم په يوه کال کې له څلورو څخه تر شپږو مياشتو پورې په څوکو کې واورې لري. په درو کې بر سات ډېر په زړه پورې اقليم لري، چې هغه د انګلستان تر تودو ورځو څخه ډېر نه تودېږي او هيڅ وخت ډېر سوړ نه وي. کوز سوات، چې غرونو په غېږ کې نيولی، له پېښور څخه ډېر تود دی. لکه څنګه چې باجوړ دی، د همدې لامل له مخې په اوړي کې تود دی، خو په ژمي کې د هسکوالي له لامله يو څه سوړ دی او واوره هر کال دوه درې ورځې د ځمکې پر مخ پر ته وي.

يوسفزی يو ډېر لوی قام دی، چې په بې شمېره وړو ټولنو وېشل شوی او په ټوليز ډول د ډموکراتيکو بنسټيزو قوانينو په رڼا کې ژوند کوي. دوی د اتمانخېلو د غرونو، اباسين، هندوکش او د کابل سيند ترمنځ په دغسې يوې پراخې سيمې کې مېشت دي، چې هغه د پېښور ميدان له شمالي برخې او پنجکوړې، سوات او بونير له درو څخه متشکله ده. ډرم تور (Drumtour) چې د اباسين ختيځې خوا ته پروت دی، هم ددې سيمې يوه برخه ده. د پېښور د ميدان د يوسفزيو برخه، چې د اباسين او د کابل د سيند په غاړو کې له توربېلې څخه تر اشنغر پورې غځېدلې ده، سور يې



Property of ACKU

پـه شمال کې د غرونـو او سیندونو تـرمېنځ لـه درو څخـه تـر لـسو میلـو پـورې دی. دا ټولـه سیمه ښـه اباده ده، خو بډایتوب یې لـه دواړو سرونو څخه پـه مېنځ کې لږ دی. ددغـې سیمې شمال تـه نـږدې برخـه د غرونـو یـوه لـړۍ ده او لـه هغـه اخوا د چملا (Chumla) پـه نامـه یـوه پراخـه دره پرتـه ده، چې لـه کوز سوات څخـه تـر اباسین پـورې غځېدلې او پـه شمال کې د بونیر غرونو احاطه کړې ده.

## د سوات دره

د سـوات دره د پورتـه یـاد شـوي میـدان پـه لـور خلاصېږي او پـه خپلـې ټـولې پراختیا کې پـه لنډي سیند سره وېشل کېږي. لنډی سیند لومړی لـه غرونو څخـه تـر توتوکـان مـوت کـوني (TootookaunMutkunee) پـورې د جنـوب لویـدیځ پـه لـور ځي، چې هلتـه لـه شمال لویـدیځ څخـه د پنجکوړې سیند ورسره یوځای کېږي. لـه دې ځایـه وروسته دغـه سیند مخ پـه سهیل درومي. د لنډي سیند دره د پنجکوړې سره د یوځـای کېـدو تـر ټکي پـورې د بـر سوات او تـر هغـه ښکته د کـوز سـوات پـه نامـه یـادېږي. د پنجکـوړې برخـه غرنـۍ ده او لـږ خلک پکـې مېشت دي، خـو د درې ښـکتنۍ برخـه او پـه عمـومي ډول دغـه ټـولې کـوزنۍ برخـې ښـې ابـادې دي او پـه ښـه توگه کرل کېږي. د سوات د خان (استوگنځی) یانې دیر پـه بره برخـه کې پروت دی او نږدې پېنځه سوه کورونه لري.

بـر سـوات نـږدې شپېته میلـه اوږد او لـه لسو څخه تـر شپاړسـو میلـو پـورې سورور دی. د سیند دواړه غاړې اوارې او زښتې ډېرې ابادې دي.

کـوز سـوات د بـر سـوات نـږدې ټـولې ښېگڼې لـري او سربېره پـردې تـر هغـه ډېـر اباد دی. پـه اوږدو کې لـه هغـه بـل سره برابر دی، خـو سـور یې ترې زیـات دی او پـه همدغـه سیند خړوبېږي، چې مجرا یې کږه او د کرنې لپاره ښه مساعده ده.

پـه کوز سوات کې گڼ شمېر خلک مېشت دي او د هغـه مهمـه سیمه [illegible] دی، چې تقریباً یو لوی ښار گڼل کېږي.

سوات لـه بونیر څخـه وروسته پـه گړنـگ لرونکیو غرونـو وېشل کېږي، یوځای بـل ځای بابیان اوسي، چې د پښتنو دومره مهم قوم نه شمېرل کېږي.

## بـونـیـر

بونیر یـو کلک زېـږ ملک او لـه داسې یـو شمېر وړو درو څخه جوړ دی، چې ټولې یې د بـونیر د سـیند خـوا تـه وتلـی دی. د بـونیر سیند د بـونیر پـه مېنځ کې روان دی او نږدې دربند تـه، چې لـه تـوربیلې څخـه تقریباً شل میلـه پـه شمال کې پـروت دی، پـه اباسـیند کـې تـوېږي. د بـورین دو (Burrindoo) د سـیند غـاړې ښـې ابـادې دي، شولې پکې کېږي، خو تـر یـوه میـل نـه ډېر سور نـه لري. د بونیر ځینې پراخې درې هم



Property of ACKU

د غلو دانو ښه ډولونه تولیدوي، خو ټولیز حاصل یې وړې دانې دي، چې پښتانه غوخت او هندیان یې گونگوني (Canganee) بولي.

هر څه په وربښت پورې اړه لري او ډېر یې د غرونو په هغو ډډو کې کرل کېږي، چې د غرونو خواوې یو د بل له پاسه په پټیو سره وېشل کېږي او په رمبې کرل کېږي.

هغه غرونه، چې بونیر په شمال لویدیځ کې احاطه کوي، ددغې درې، هندوکش او اباسین ترمنځ سیمه نیولې ده.

د اباسین په ختیځې خوا کې درم تور (Drumtore) یا ډرم تاور (Druamtaar) چې د ډور (Door) درو پر غاړه یوه تنګه دره ده، د گډونیانو په لاس کې ده. د ډور سیند په سهیل لویدیځ لور بهېږي او توربیلې ته نږدې په اباسیند ورگډېږي. داسې ښکاري، چې دغه سیمه که څه هم دومره اباده نه ده، خو کوز سوات ته ورته ده.

د بونیر غرونه هسک دي او څه ناڅه په یوې ډډې کې د څېړۍ ونې د جلغوزیو ونې، د غوزانو ونې، د ځنګلي ښوروانو ونې او نورې غرنۍ ونې لري، خو د اروپا هیڅ راز مېوې یا گلان دلته نه پیدا کېږي او هر هغه څه، چې دلته موندل کېږي، هندي محصولاتو ته ورته دي. په اوارو میدانونو کې ونې په شمار دي او هلته ډېر خلک اوسي او ځینې کلي یې ښه گڼ دي.

## یوسفزي

څه د پاسه درې پېړۍ کېږي، چې یوسفزیو دغه ملک تر لاسه کړی دی. که څه هم ډېرو یوسفزیو اورېدلي، چې دوی په اصل کې له لویدیځ څخه دي، خو یوازې یو څو کسان یې په خپل اصلي ځای او د خپل قوم په پخواني حال خبر دي. دغه لاندینۍ څرگندونه د یوسفزیو د تاریخ لنډیز دی، چې په (۱۷۷۱ع) او (۱۱۸۴هـ ق) کال په پښتو او دري ژبو لیکل شوی دی. اصلي تاریخ خورا اوږد او له داسې کیسو سره مخلوط دی، چې اوسني شفاهي خرافات او رومانتیکي نظرونه یې تاییدوي.

دغه تاریخ تناقضات نه لري او د حقیقت له سمون داسې نښې لري، چې هغه د اعتبار وړ گرځوي ان که څه هم هغه د امپراتور بابر په لیکنې نه دی تایید شوی، چې هغه ددغه کتاب د مهمو پېښو یوه لویه منبع ده او سربېره پردې د اسیا د ډېرو صحیحو مورخانو له جملې څخه دی.

د یوسفزیو اصلي ټاټوبی د گارا (Gara) او نوشکي (Noshky) په شاوخوا کې و او دغه وروستی ځای لږ تر لږه د دشت لوت یا د سترې مالگینې دښتې په څنډو کې پروت دی او اوس د هغو بلوڅو په لاس کې دی، چې د کلات د خان تر لاس



Property of ACKU

لاندې دي. په هغه وخت کې د دوی شمېر باید په حتمي ډول د دوی له اوسني شمېر څخه لږ وي، ځکه چې دوی یوازې د خوکي (Khukky) د قوم یوه څانګه وه.

د دوی نور ښاخونه ګګیاني، ترکاني او محمدزي وو. دوی نږدې د عیسوي دیارلسمې پېړۍ په اخرو او د څوارسمې پېړۍ په پیل کې له هغه ځایه وشړل شول او تر هغه وروسته ډېر زر د کابل په شاوخوا کې مېشت شول. مخکې له دې، چې هلته ډېر اوسېدلي وي، دوی د تیموري کورنۍ د میرزا ابو سعید زوی الوغ بیک سره خپل ملاتړ اعلان کړ او د کابل په تخت نیولو کې ددغه پاچا لپاره یوه وسیله وګرځېدل. تر هغه لومړی د کابل تخت د هغه د اسلافو په لاس کې و، خو ګومان کېږي، چې د هغو مصیبتونو له امله یې له لاسه ورکړی و، چې د مېرزا ابو سعید له مړینې نه وروسته د تیمور په کورنۍ راغلل[1] ابو سعید د پاچا کېدو په لومړیو وختونو کې له یوسفزیو سره ډېر ښه چلند وکړ، په حقیقت کې دی د تخت په نیولو کې د دوی د ملاتړ او مرستې مرهون و، خو د یوسفزیو د آزادۍ قوي روح له یوه داسې واکمن سره د نژدې اړیکې لپاره موافق نه و او په شتمن کېدو د دوی غرور لا ډېرېده تر دې چې دوی د الوغ بیک د قدرت په سپکاوي پیل وکړ او د هغه کلی یې تالا کړل او ان په پایتخت کې یې ناارامي او ګډوډي راوسته. الوغ بیګ، چې هغه وخت یې د ډېرو مغولو په هسکېدو سره دریځ پیاوړی شوی و او ډېر مغول دده تر بېرغ لاندې ټول وو، پرېکړه وکړه چې له خپلو دغسې جنجالي متحدینو څخه ځان ازاد کړي. ده لومړی په دې پیل وکړ، چې د یوسفزیو او ګګیانیو ترمنځ نفاق واچوي (په دغه وخت کې خوکیان (khukkes) په مستقلو څانګو وېشل شوي وو) وروسته یې ډېر زر د هغه قوم په ملګرتیا او د خپل پوځ په مشرۍ په هغو باندې یرغل وکړ. لومړی ده ماتې وخوړه، خو څنګه چې ده د یوې خاینانه سولې په دوران کې چې له هغو سره یې کړې وه، د دوی د قوم ټول مشران وژلي وو، ده وکولای شول چې د دوی ټولې شتمنۍ لوټ کړي او له کابل نه یې وشړي. یوسفزي په ډېرو بدبختیو واوښتل او د پېښور د شاوخوا پر لور روان شول.

د پېښور سیمه په هغه مهال په دغسې یوه حال کې وه، چې له اوسني حال نه یې توپیر لاره. هغه قومونه، چې اوس پکې اوسي، په هغه وخت کې په خراسان کې وو او د پېښور اوار میدان له نږدې څو ګاونډیو سیمو سره د هغو قومونو په لاس کې و، چې تر هغه وروسته یا بالکل له منځه تللي او یا یې خپل ټاټوبی بدل کړی دی. لغمان د ترکلانیو په لاس کې و، چې اوس په باجوړ کې اوسي. د خیبر قومونو او بنګښو لا دمخه خپل اوسني ملکونه نیولي و، خو د کابل د درې ټولې لرې برخې، د

[1] وګورئ: دده هر بېلات مقاله د ابو سعید په نامه.

Property of ACKU

پېښور ټول میدان، د باجوړ، چڅ هزاره او تر هایداسپس (Hydaspes) یا جیهلم پورې هغه ملکونه، چې د هغوی په ختیځ کې پراته وو د پښتنو دلازاکو په لاس کې وو، چې دوی اوس نږدې له منځه تللي دي. د اباسین په دواړو غاړو کې د دلازاکو او د هندوکش د غرونو ترمنځ سیمه د سوات قلمرو، چې په هغې کې یو بل قوم مېشت شوی و. په دغه قوم باندې سلطان (آویس) حکم چلاوه او دده نیکونو په دغه ملک کې ډېره اوږده حکمراني تېره کړې وه.

## له خراسان نه مهاجرت

یوسفزیو د خپل لېږد په لومړي سر کې د دلازاکو په سخاوت ژوند وکړ. دلازاکو دوی ته (دوابه) د اوسېدو لپاره وټاکله، خو څنګه چې د دوی نوې ډلې راغلې، نو د استوګنې ځای یې ورباندې تنګ شو او څنګه چې د دوی قوت ډېر شو، دوی باجوړ له دلازاکو څخه ونیوه او له هغوی سره په جنګ شول او په دغه جنګ کې یې هغوی د کابل سیند د شمال له ټولو برخو څخه بې برخې کړل. همدا شان دوی سلطان اویس له خپلو لومړنیو متصرفاتو څخه وشاړه او مجبور یې کړ، چې د کافرو ملک ته لاړ شي یانې هغه ځای ته، چې هلته ده د ځان لپاره یوه نوې پاچایي جوړه کړه او دغې پاچایي دده اولادې ته د څو نسلونو پورې پایښت ورکړ.

الوغ بیګ ددغو شخړو په توران کې مړ شوی او د کابل سلطنت د مشهور بابر لاس ته ورغی او دغه وخت دده ستوري مخ په ځلېدو و. باب څو ځله په یوسفزیو باندې یرغل وکړ، خو دوی ته یې کوم مهم زیان ونه رساوه، ځکه چې دوی تل خپلو غرونو ته پناه وړله. بابر په پای کې له دوی سره سوله وکړه او د دوی د خان د لور په واده کولو سره یې دوی ځان ته نږدې کړل. بابر پخپله په خپل اثر کې دغه شخړې بیانوي او د خپل دغه واده کیسه تاییدوي.

دغو عملیاتو، چې ما یې دلته یوازې یو لنډیز وړاندې کړ، د پښتنو په تاریخ کې د یوه خورا غټ کتاب زیاته برخه نیولې، خو تفصیلات یې په لیکلو نه ارزي او زه په یو څو کرښو کې په هغه دومره رڼا اچولی شم، چې د یوسفزیو ځانګړتیاوې او کړه وړه به ترې ښه څرګند شي.

## د یوسفزیو پخوانۍ خویونه

ددغو ټولو فتوحاتو په دوره کې د یوسفزیو ټول قوم د یوه خان ترلاس لاندې ژوند کاوه او داسې ښکاري، چې دده قوت د اوسنیو خانانو له قوت نه ډېر و، خو داسې معلومېږي، چې پخپله اولس ناړامه و او حاکمیت ته یې غاړه نه ایښودله. له ګګیانیو سره د دوی د لومړنۍ شخړې لامل د دوی د قوم له یوه مشر سره د یوې په نامه شوې پېغلې تښتېدل وو. ګیګیانیو دغه پېښه په هغسې نه پخلا کېدونکې



Property of ACKU

روح سره تعقیب کړه، چې دغسې تجاوز یې اوس هم پاروي.

داسې ښکاري، چې د ننواتي او مېلمنو ته د درناوي رواجونه د اوس په شان هغه وخت هم موجود وو او لکه اوس چې ترې تجاوز کېږي، هغه وخت هم کله کله تر پښو لاندې کېدل. دلته به یوه دغسې لنډه کیسه وړاندې کړم، چې د هغو وختونو خویونه ترې په ښه توګه ښکاره شي.

د یوسفزیو مشر ملک احمد، د یوسفزیو او دلازاکو ترمنځ د یوې لویې جګړې نه وروسته په دې مامور شو، چې له دلازاکو سره د سولې لپاره کوښښ وکړي. همدا چې دی دغه قوم ته ورغی، دوی داسې پرېکړه وکړه، چې د هغو کسانو د زړه د تسلۍ لپاره یې قربان کړي، چې د هغوی خپلوان په دغه جګړه کې وژل شوي وو، خو د ملک احمد د ریښ او یا ممکن د هغه ځواني او ښکلې څېره، د دلازاکو د مشر د ښځې زړه سواندې ځانته جلب کړه. هغې دی له خطر نه خبر کړ او تر هغو یې پټ وساته، چې د هغې د خپل د خلکو د غضب لمبه یو څه سړه شوه. دوی په خپلې دغې پرېکړې افسوس وکړ، چې هغه د یوه عارض او مېلمه په مقابل کې د پښتنو له رواج نه بالکل مخالفه وه. هغه وخت چې ملک احمد خپل ځان ښکاره کړ، هغو یې ډېر درناوی وکړ او د درناوي لپاره یې مېلمستیا برابره کړه. داسې ښکاري، چې د کلي هغه ګرځنده سندرغاړي، چې د دوی لپاره یې سندرې ویلې، په داسې حال کې په دوړی ناست وو، په دغه مېلمه باندې تر نورو لږ مهربان وو. په دې، چې هغه د جنګونو او د هغه د قوم د بریو په اړه بدلې ویلې او د دغه وروستي جنګ موضوع یې رادمخه کړه او په ځینو سمدلاسه جوړ شویو (فی البداهه) بدلو یې له مشرانو څخه وغوښتل، چې خپل هغه دښمن له منځه یوسي، چې اوس د دوی په لاس کې و. دغه نظر دومره ټینګ وبلل شو، چې دوی ټول په قهر او غضب ولاړ شول او سندرغاړي یې په ټېرو وویشت او له مجلس نه یې واېست. ملک احمد ته اجازه ورکړ شوه، چې خپل قوم ته ستون شي او څه وخت، چې په خپل قوم کې د دلازاکو په اړه تری تېپوس وشو، ده ووېل چې په هغوی کې یوازینی هوښیار سړی همغه سندرغاړی و.

داسې ښکاري چې دوی له نورو قومونو یا ملتونو سره په چلند کې د شډلو خلکو چل ول، ټګماري او بې رحمي د تمدن د پرمختللي پړاو له اعتدال سره یوځای کړې وي. ویل شوي، چې دوی هغو پښتنو ته چې په جنګ کې پرځېدلي وي، د هغوی نسب ته د احترام له مخې پناه ورکړې وي. له دېنه داسې استنتاج کېدای شي، چې دوی سواتیو اسیرانو ته هېڅ پناه نه ورکوي. سره له دې هم دوی د لاندې شویو ملکونو له اوسېدونکیو سره نرم چلند کوي او داسې ښکاري، چې دوی په دغې خبرې ټینګ ولاړ دي، چې په همدې وخت کې ځانونه هېڅکله په دوو جګړو اخته نه کړي.



Property of ACKU

دوی څه وخت چې خپل فتوحات بشپړ کړل، په دې پسې شول، چې هغه ملکونه ووېشي، چې نیولي یې دي. دوی اشنغر محمدزیو ته وټاکه، چې په هغه وخت کې د خراسانه راغلي وو. اشنغر تراوسه د محمدزیو په لاس کې دی. گیگیانیان هم چې د امپراتور بابر د کابل له شاوخوا نه شړلي وو او له یوسفزیو سره یې روغه کړې وه، د دوی له خوا په دوابه کې مېشت شول، چې تراوسه هم هلته اوسي. په هغه وخت کې دوی ته د باجوړ یوه برخه هم ورکړ شوه، خو له هغه وروسته ترینه وشړل شول. ددغه ملک ټولې پاتې برخې یوسفزیو ته پاتې شوې او دوی ځینو وړو قومونو ته ځای ورکړ، چې له هغو څخه مهم یې اتمانخېل دي، چې د باجوړ په ختځیو غرونو کې د دوی اوسنی ځای ورته ټاکل شوی و. داسې ښکاري، چې پنجکوړه چې هغه وخت د باجوړ یوه برخه وه، یوسفزیو ته پاتې شوې ده او نور یې څو کاله وروسته دغو اوسنیو اوسېدونکیو یعنې ترکلانیانو (Turcolaunees) یا ترکانیانو (Turkaunees) ته وربه برخه شو او گومان کېږي، چې دوی دغه سیمه له دلازاکو څخه نیولې وي.

## د ځمکو وېش

د یوسفزیو د قوم په وړو څانگو او دغو څانگو په ځانگړیو غړیو باندې د ځمکو داخلي وېش ثبت شوی نه دی، سره له دې هم دغه وېش به د ملکیت له اوسني حال څخه په آسانۍ سره معلوم شي او دا به ښکاره شي، چې د هغه ځینې ځانگړي موسسات په څه ډول دي.

یوسفزی قوم په دوو لویو څانگو وېشل کېږي: یوه یې یوسفزي او بله یې مندړ ده. لومړنی په سوات، پنجکوړه او بونیر کې اوسي او بله یې د کابل د سیند په شمالي میدان او همدارنگه د چملې (Chamla) په درې کې اباده وه. یوسفزي بیا په درېو بېلو بېلو او په اوس وختونو کې ازادو څانگو یعنې اکوزي، مولي زي او لاني زي (Laneses) سره وېشل شوي دي، چې له هغو څخه اکوزیو سوات او پنجکوړه ترلاسه کړي او دوو وروستیو بونیر خپل کړی دی. د ځمکې بشپړ ملکیت د هرې څانگې په برخه شوی او هغه سواتیان، چې پاتې شول، د سرفانو (Villains) حال ته ښکته کړی شول، چې یوسفزیو د فقیرانو[1] نامه یاد کړل. دا هغه حال دی، چې تراوسه هم دوام لري.

---

[1] دغه اصطلاح په ازبکانو کې د بزگرو لپاره استعمالېږي. په دوی کې دغه اصطلاح د قوم تابعانو لپاره راوړل کېږي. په داسې حال کې چې د پښتنو د ملک په نورو برخو کې هغوی د رعیت په نامه یادېږي. په فارسي کې ورته ایل رعیت وایي.



Property of ACKU

هرې څانګې بیا خپلې ځمکې په یوه غونډه کې په خپلو خېلونو[1] وویشلې او دغه ترتیب په ټولو ښکته وېشونو کې تکرار شو. هر خېل ته ځمکه په تلپاتې توګه ورکړې شوه، خو د هغې په دننه کې یو بل راز ترتیب اختیار شو. د هر یوه وېش ځمکې یوازې د څو کالونو لپاره تخصیص شوې او باید بیا د هغې دورې په پای کې په ځینو نورو تقسیم شي، چې هره یوه وکولای شي په مساوي ډول د خازوزیو (Khauzoozyez) هر آزاد ولس خپلې هغه ځمکې په لاس کې لري، چې په لومړني توزیع کې ورته ټاکل شوې دي، خو ورې څانګې خپلې ځمکې په دې ډول مبادله کوي، چې زه به زیاتر وباسم د نیک پی خېلو (Naekpeekhali) په توګه ورکولو سره یې شرح کړم. نیک پی خېل د خازوزي د خېل یوه څانګه او د اکازیو یو تقسیم دی، چې اوس یو آزاد ولس دی او په شپږو څانګو وېشل شوی دی. د نیک پې خېلو ځمکې په دوو برخو وېشل شوې دي، دا ځمکې په پراخوالي سره برابرې دي، خو په حاصل ورکولو کې سره توپیر لري. دغه ولس هم په دوو برخو وشل شوی دی، چې د ځمکې د غوره کولو لپاره په هرو لسو کلونو کې پچه اچوي. که په پچه کې یې هغه برخه وختله، چې پخوا یې په لاس کې وه، که څه هم ډېر ښه وه، هغسې یې ساتي، خو که هغه بله برخه یې په نصیب شوه، برخې سمدلاسه سره مباله کېږي. د ولسونو دواړه برخې په هرو لسو کلونو کې په هغه کلي کې پچه اچوي، چې ځمکې ددغو دوو برخو په ګډه پوله کې پرتې وي.

ګڼ شمېر خلک د ننداري لپاره ټولېږي، خو خلګه چې دا وېره پیدا شي، چې د فاتحانو خوښي او د مغولو خپګان به په دغسې یوې غونډې کې ښایي ناارامي پیدا کړي، ملکان په یوې پلمې سره زیار باسي، چې پچه اچول ددې لپاره وځنډوي، چې راغونډ شوي خلک په تنګ شي او کورونو ته ستانه شي. هغه وخت، چې خلک خواره شي، د ټول نیک پې خېل مشر پچه اچوي او پایله یې اعلاموي، چې د فاتح طرف له خوا د ټوپکو په وېشتلو او د خوړې په وېشلو او د نورو خوښیو په ښودلو یې هرکلی کېږي. د ځمکو وېشل له ډېر کړاو او ګډوډۍ پرته ترسره کېږي، د نیمايي ولس هره څانګه د بل نیمايي ولس له څانګې سره جوړه کېږي او دغه دواړه، چې په دې ډول جوړه شول، د یوه بل ځمکو ته ورځي.

کله چې د پچې په ذریعه معلومه شي، چې دغه نیمايي ولسونه باید خپل پخوانۍ ځمکې وساتي، د هر نیمايي درې څانګې د خېلونو برخو د بیا توزیع لپاره په خپلو مینځو کې سره پچې اچوي او هغه په درېو برخو وېشل کېږي.

---

[1] پښتانه د یوه قوم د وېشونو شرحې لپاره وګورئ، دویم کتاب، په دویم څپرکي کې د یادښت او نوټ برخه.



Property of ACKU

په دې وروستیو وختونو کې، چې په نیک پې خېلو کې پښې اچولې شوې وي، د ولس هغه نیمایي برخه بریالۍ شوه، چې پخوانۍ برخه یې ډېره خرابه وه او په نتیجه کې د تېرو څوارلسو کالو په دوران کې ځمکې دوه ځله په پوره ډول مبادله شوې دي.

ممکنه نه ده، چې داسې ونه ګڼل شي، چې هغه شرایط چې په هغو سره ځمکې په دغه ډول لاس ته راځي، د ځمکو د آبادۍ لپاره لوی خنډ نه اوسي، خو ددغه خنډ سره سره د یوسفزیو ملک په ډېر زیار او بري سره کرل کېږي او دلته کلي، وېالې او نور غېر منقول ملکیت هغومره ښهٔ دی لکه څومره چې د افغانستان په ډېرو برخو کې په ښه حال دی. کېدای شي داسې هم وګڼل شي، چې هغه وخت چې ځمکې سره مبادله کېږي، په ولس کې به جنګ پېښېږي. په حقیقت کې د ټاکلې دورې په تېرېدو سره د ولس نیمایي برخې یعنې د نیک پی خېلو هغه نیمایي برخې چې ډېرې ښې ځمکې یې په لاس کې وي، د پښې اچولو د معمول رواج له منلو نه یې ډډه وکړه. د ولس د هغې بلې نیمایي برخې ملکانو ددغې بې عدالتۍ په ضد ناړې سورې جګې کړې او له نورو اکازیو څخه یې وغوښتل، چې د قوم ددغه لرغوني دود د ماتېدو مخه ونیسي. په دې ډول ډېرو ولسونو د دوی ملاتړ وکړ او رقیبان یې مجبور شول څنګه چې معموله وه، پښې ته بیا غاړه کېږدي او پښې واچوي. دغه دود ته وېش وایي. وېش په ټولو یوسفزیو او همدارنګه په محمدزیو کې معمول دی، خو هغه موده چې د هغې په دوران کې ځمکې په یوه لاس کې پاتې کېږي، سره ډېر توپیر لري. د بېلګې په توګه وېش په بونیر کې هر کال وي او د ګدونیانو په مېنځ کې چې د یوسفزیو یوه څانګه ده، ځانګړي کسان ځمکې په خپلو کې سره مبادله کوي او د څانګو په مېنځ کې وېش نه شته او په اتمانخېلو کې ټول قوم په هرو شلو کلونو کې پښې اچوي. په همدې ډول په دامان کې د ګنډاپوریانو په مېنځ کې ځمکې په شپږو برخو وېشل کېږي او هغه ددغه قوم له شپږو څانګو سره سر خوري او ټولې څانګې په هغه ترتیب سره پښې اچوي، چې د هغه له مخې دوی خپلې برخې ټاکي. په یوسفزیو کې هغه موده، چې په هغې کې دغه مراسم باید نوي شي، په تلپاتې توګه ټاکل شوې نه ده، خو هر کله چې یو وېش کېږي، د بل وېش لپاره نېټه د قوم د لویانو د جرګې له خوا ټاکل کېږي. دغه موده په عمومي ډول له درېو څخه تر پېنځو کالو پورې وي. د حېرانۍ ځای دی، چې د ګنډاپوریانو په ناړامه قوم کې دغه ټولې معاملې له شخړې یا وینې توېولو پرته ترسره کېږي.

په بل هېڅ ختیځ قوم کې پرته له هغو، چې دمخه یې ذکر وشو، د وېش دود نه شته. همداراز د ورکزیو په دوو درېو څانګو کې هم نه شته. داسې نښې نښانې هم

Property of ACKU

شته، چې وېش د خراسان په ځينو قومونو کې رواج لاره، خو د هغه د شته والي پاتې شوې نښې، چې ماته په لاس راغلي، په بېړيڅو کې دي. په دوی کې بې له دې، چې ددغه قوم د ځانګو په منځ کې وېش وي، کله کله يو کلی له بل کلي او يو تن له بل تن سره پچه اچوي[1].

## د يوسفزيو انارشي

هغه څه چې دمخه ووېل شول، لوستونکي به يې دې ته تيار کړي وي، چې فکر وکړي په يوسفزيو کې حکومت يا بېخي نشته او يا خورا ډېر کمزوري دي. د ازادۍ دغسې يو احساس چې د نظم له اساسي حدودو څخه وتلی وي، د ټولو پښتنو يوه ځانګړنه ده، خو د يوسفزيو په پرتله د دوی ټولو حکومتونو ته مستبد دی.

هغه نوی ريښه، چې د دوی ټولنې سره نښلوي، د وينې او نسب ګډون او د يوه ګډ نيکه استازي ته اطاعت دی.

د يوسفزيو حکومت د پلار واکمنۍ (Patriachal) په توګه دی، خو د هغه اغېزې له ټولو هغه اغېزو څخه چې ددغې واکمنۍ شکل ته منسوبې دي، سره ډېر توپير لري. د خازوزيو مشر د دوی د ګډ نيکه د مشر زوی له اولادې څخه دی او د هغه د قدرت وروستی ظهور د نادرشاه د سلطنت په دوره کې و. ياني هغه وخت، چې ددغه اشغالګر سره د مقابلې لپاره ټول يوسفزيان سره يو موټي شول، د نيک پې خپل مشر له همدغسې منبع څخه خپل صلاحيت ترلاسه کړی دی. دده صلاحيتونه کوم لوی حساب ته اړه نه لري. دی په جنګ کې قوماندان وي، خو دغه دريځ د ملکانو د جرګې د پرېکړې تابع وي، چې هغه په خپل وار د دوی د ځانګو د غړيو د رايو تر تاثير لاندې وي. دی کله کله د دوو ځانګو په شخړو کې لاس وهي، خو د دوی د لانجو په اوارلو کې دده بري تر قدرت نه زيات دده په استدلال او تر دواړو ډېر د مدعی په کرکتر پورې اړه لري. په حقيقت کې دده ټول صلاحيت دده له شخصي مقام څخه راولاړېږي، چې هغه دده له نسب او ښو کړووړو څخه پيدا کېږي.

دی د قوم د يوې بلې څانګې له مشر څخه ډېر نوکران لري، نه ډېره شتمني او نه د خپل خپل ډېر افراد. په همدې توګه دی هېڅ ټوليز عوايد نه لري، د قوم د ځانګو مشران له هغه څخه ډېر صلاحيت نه لري، خو دوی ته د افرادو ترمنځ لانجو کې په ځانګړې توګه که دوی په بېلو بېلو کلو کې واوسېږي، مراجعه کېږي. ځکه چې د قوم هره څانګه ددې پرځای، چې په يوه سيمه کې سره ټوله وي، په داسې بېلو بېلو کليو

---

[1] د وال ني (Valney) په قول دغه رواج تراوسه هم په کورسيکا (Corsica) کې شته. د تاسي توس (Tacitus) د مشاهدې له مخې داسې ښکاري، چې په لرغونو جرمنانو کې هم دغه دود و، خو دا چې يواځې افرادو يا ټولنو لېږد کاوه، د هغه ددغه مشکوک عبارت په لوستلو پورې اړه لري.



Property of ACKU

کې سره خواره دي، چې هغه د ټولو څانگو له غړیو سره په شراکت اشغالوي، خو هره یوه یې د بېلو بېلو مشرانو تر اداري لاندې په بېلو محلو کې اوسي. له دغو مشرانو څخه هیڅ یو هم په انگلستان کې د کانستیبل (Constabe) (د پولیسو سپاهي ـ د امنیې عسکر) په اندازه اختیار نه لري.

دې ته دومره اړتیا نه شته، چې وویل شي یوسفزي د پاچا په مقابل کې پاڅېږي. دوی له هغه نه د خپل استقلال په اړه لاپې وهي او هغه قومونه دومره ښهٔ پښتانه نه بولي، چې د پاچا حکومت پرې چلېږي. ویل کېږي، چې د یوسفزیو نومیالی پیر دوی ته دغه دعا او ښېرا پرې ایښې ده، چې «دوی به تل آزاد وي خو هېڅکله به سره یو موټی نه وي» که په هغه نظر سوچ وشي، چې پښتانه یې د آزادۍ په اړه لري. معلومه به شي چې ده د خپلې پېشگویۍ په وروستۍ برخې کې څه نوي نه دي ویلي.

اوس به زه پورتنې مشاهدات د غالي خېلو د یوې برخې د کړو وړو په شرحه کې روښانه کړم. غالي خېل د نیک بي خېلو یوه څانگه ده.

د غالي خېلو هغه برخې، چې زه د هغې په اړه بحث کوم، اوس د گلوچ (Galoch) په کلي کې ددغه قوم له دریو نورو څانگو سره یوځای اوسي. هره څانگه یې د خپل سروال تر لاس لاندې، چې مشر ورته وایي او دی د خپلې څانگې د ملک تابع دی، جلا اوسي. ددغه کلي دغو محلو ته کندي (Cundies) وایي. د هر کندي ټول اړیکې له خپلې څانگې سره وي او داسې ښکاري، چې هغه په هماغه کلي کې له نورو کندیو سره تر دې زیاتې اړیکې نه لري، لکه څومره یې چې د یوه مملکت په بېلا بېلو برخو کې اوسېدلي وای. د هر کندي مشر ځانله یوه حجره لري چې هلته جرگې کېږي. همدارنگه په دغې حجرې کې سړي د غورو لپاره سره ټولېږي او ساعت تېرۍ کوي. دلته دوی د مېلمنو عزت کوي او ټولې ولسي چارې فیصله کوي. بې له دې، چې د نورو کندیو له غړیو سره مخلوط شوي وي، په یوه محل کې د ناموافقو افرادو څخه جوړه دغسې یوه جرگه زیات وخت بې له لانجو څخه نه وي، یوځای کله کله به کومه ورځ بې له کوم جنگ نه تېره شوې وي. که د کرنې لپاره د اوبو یا د پولو په سر شخړه وي، توري اېستل کېږي او پرهارونه لیدل کېږي، چې هغه د کلونو کلونو لپاره ناارامي او خطر پیدا کوي او په وژنې پای ته رسېږي. هر ظلم نوی بدل لري او په دې ډول دغسې کرنې راولاړېږي، سنگرونو ته ختل، لارې شکول، په کورونو کې د خلکو وژل او د بدگومانیو گډوډیو او جگړې ټول ډولونه.

څنگه چې دغه بدۍ ډېرېږي، داسې یو مهم سړی به ډېر لږ موندل شي، چې د خپل ژوندانه څار ونه کړي. په هر کلي کې خلک تل وسله گرځوي، چې د خپلو پټو

دښمنانو له شر څخه ځان وساتي، نور یې تر لسو دولسو او کله له پنځوسو څخه تر سلو پوري ساتونکي ساتي[1].

## د یوې خاصې دښمنۍ بیان

تراوسه مې دداسې بېلابېلو قومي څانګو په اړه خبرې وکړې، چې کېدای شي یو څوک داسې سوچ وکړي، چې د هرې څانګې غړي به په خپلو کې سره یو موټی او کلک متحد وي، خو دغسې نه ده ان په همغې یوې څانګې کې دننه هم سوله او اتفاق نشته ان یوه ډېره وړه موقع هم کافي ده، چې یوه لانجه پیدا کړي او هغه په خپل وار په جنګ او ګډوډۍ واړوي. ملک یا د یوه کندي مشر منځګړیتوب کوي، دلاساینه کوي، ګواښېږي، ترټنه کوي او عذر ننواتې کوي، خو دغه کارونه زیات تر هغه وخت بې اغېزه وي او جنګ تر هغو دام کوي، چې یوه خوا ځان ډېر ضعیف ووینې او کلی پرېږدي.

د یوه ځانګړي جنګ شرح، چې زه به یې نږدې د مضرب خان په الفاظو بیان کړم، د یوسفزیو ترمېنځ به د دښمنیو او روغو ماهیت، د دوی د مشرانو کم زوري او د قومي خلکو ناړامي تر هغې ښه څرګنده کړي، چې وکولای شم په دې اړه تولیزې تبصرې وکړم.

د مضرب خان پلار له یوه چا سره، چې سرنداز خان نومېده، د ځمکو د پولو په سر لانجه لرله. ترخې خبرې مبادله شوې او په پای کې د مضرب خان پلار ژوبل شو. دده ورور انور خان (د مضرب تره) د غالي خېلو مشر دی. سره له دې هم دی د یوه بل عادي فرد نه زیات ددغې لانجې د فیصله کولو لپاره وسایل نه لري. په دې اړه یوه جرګه وشوه او داسې ښکاري، چې اغېز یې دومره زیات نه و. یو څو ورځې وروسته څه وخت، چې انور خان خپلې حجرې ته لاړ، ګوري چې سرانداز خان له خپلو شلو وسلوالو ملګرو سره پکې ناست دی. له انور خان سره مضرب خان، چې هغه وخت د شپاړسو کالو هلک و، او لس یا دولس خپلوان وو. ځینې کسان یې ښه وسله وال وو او ځینو یې یواځې توري لرلې. سره له دې هم انور خان له دوی څخه ترا ونه خوړه، د سر انداز خان چلند یې وغانده. دده حمله د معمولي عواقبو لامل شوه او یوه داسې

---

[1] انور خان د غالي خېلو ملک تل په خپلې حجرې کې له خپلو ښځو څخه لرې ځملي او نارینه خپلوان یې ترې ګردچاپېره وي. د هغه ټول نوکران ترې چاپېر ویدېږي. یواځې څلور یا پینځه یې په پېره وي. ټول یې خپلې وسلې ځانونو ته نږدې بږدي او که له دوی نه یو هم وغواړي د حجرې له درشل نه وراندې لاړ شي باید څلور یا پینځه وسله وال نوکران دده څارنه وکړي. مضرب خان (د انور خان نږدې اتلس کلن وراره) ماته وویل، چې د دوی په حجرې باندې څوځله د هماغه کلي د یوه کندي له خوا حملې شوي دي، خو ټولې یې د مدافعینو د مواظبت له لامله شنډې شوي دي.



Property of ACKU

سخته نښته وشوه، چې مضرب خان په سر باندې سخت ژوبل شو او انور خان په پرهارونو کې پټ شو. د دوی ډېر خپلوان هم ټپیان شول. د سرانداز خان یو زوی او د یوه خپلوان زوی یې هم ووژل شول. څنګه چې لومړنی مرګ انور خان کړی و، دی ملامت وګڼل شو او مجبور شو له خپلې کورنۍ سره وتښتي. په پای کې دی له جلاوطنۍ نه په تنګ شو، سرانداز خان ته تسلیم شو او خور او وریره یې )د مضرب خور) هغه ته ورکړه. سرانداز خان ښه سلوک غوره کړ او ویې ویل، چې د انور خان خور لکه چې دده خپله خور وي او هغه یې بېرته رخصت کړه، خو هغه بله یې بې له دې، چې واده کړي، وساتله (دا ځکه چې نیک پی خېل د وینې د پور ښځه هېڅکله نه ودوي) او مضرب خان له هغې ورځې وروسته خپله خور بیا په سترګو ونه لیدله. په دې ډول د پور اخیستلو لانجه په واقعیت کې پای ته ورسېده، خو دداغو کورنیو ترمنځ ناسته ولاړه هېڅ ونه شوه. سرانداز خان او انور خان هم نه سره وینې او کله چې مجبور شي، یو له بل نه مخ اړوي. له مضرب خان نه چې وپوښتل شول، چې که دی سرانداز خان چېرې یواځې ووینې څه به وکړي؟ هغه وویل، چې سمدلاسه به پرې حمله وکړم. لکه څنګه چې دده په فکر به سرانداز خان هم په یقین سره په ده حمله وکړي، نو ان په نیک پی خېلو کې به هم له جنګ نه وروسته دغسې پخلا کېدل وغندل شي، نو مضرب خان وایي:«د هر چا زړه پر خپل خپلوان باندې، چې په جنګ کې وژل شوی وي، سوځي.»

ژوند په ډېرو یوسفزیو کې همدغسې دی، چېرته چې مشر پیاوړی وي، ګډوډی لږ پېښېږي. نیک پی خېل د دموکراتو ځانګو په مېنځ کې که تر ټولو بد نه دي، نه د ډېرو بدو په جمله کې راځي، خو د نورو ځانګو په اړه هم ورته حکایتونه شوي دي او د ملک په ډېرو برخو کې خلک د بدویانو په څېر په دایمي وېرې کې ژوند کوي او په داسې حال کې، چې ټوپکونه او توري ورسره وي، کرنه او لو کوي.

ممکن داسې وګڼل شي، چې د انارشۍ دغه حال خطرونه به ضعیفان مجبور کړي، د داسې پیاوړو غېړو ته ځانونه وسپاري، چې هغوی تر دوی قوي وي او بیا به ددغو وسیلو له لامله په خلکو کې ریښتینې آزادي هېڅ نه وي پاتې. دا شونې ده، چې قاسم خان او نورو مشرانو به (که چېرې دغسې مشران وي، چې دوی په خپلو قومونو کې خپل قوت تثبیت کړی وي) ددغه اصل پر بنسټ یو څه ملاتړ ترلاسه کړی وي، خو زه په نیک پی خېلو او نورو ډموکراتیکو ولسونو کې ددغسې یو سیستم کومې نښې نه وینم.

## د ولسونو ترمنځ جنګونه:

ددغو کورنیو دښمنیو هېبت کله کله له بل ولس سره په جنګ کې زیاتېږي. ددغو



Property of ACKU

جنګونو لاملونه ډېر دي، خو ډېر عام یې د یوه ولس د نارینه له خوا د یو بل ولس د ښځې تښتول یا د خپل ولس له یوې نجلۍ سره تښتېدل او له هغه ولس ته پناه غوښتل دي. دغسې پناه حتماً ورکول کېږي او هغه کله کله د خونړیو او دوام لرونکیو جنګونو لامل کېږي. دلته به زه په معمولي ډول د نیک پی خېلو په مثال ورکولو سره د هغه ماهیت وښایم.

د نیک پی خېلو د یوه فقیر یا همسایه ښځې له چا سره د بابوزیو ملک ته پناه یوووړه. دغه فقیر له خپلو یو څو خپلوانو سره دهغې په وژلو پسې شو او څه وخت، چې ده له یوه خپلوان سره ددغه مقصد لپاره د شپې چېر ته څارنه کوله، دده د ښځې نوي ساتونکي او یو څو نورو ساتونکیو وپېژانده او ویې واژه. همدا چې دا خبر نیک پی خېلو ته ورسېد، د دوی خان ډولچي وباله، چې د ډول په وهلو سره دده د قوم د شپږو څانګو ملکان خبر کړي او د جنګ په اړه له هغوی سره سلا مشوره وکړي. ملکان خپلو څانګو ته ستانه شول او د کندي له مشرانو سره وغږېدل او هغوی په حجره کې په یوې غونډې کې د خلکو ذهنیت معلوم کړ. ټولو له انتقام اخیستلو سره مینه ښکاره کړه او ټول ولس په دري ورځو کې وسله وال راغونډ کړل او په شپه کې یې د سیند په هغه سر بند باندې مارش وکړ، چې د سوات د سیند یوه برخه د بابوزیو سیمې ته ګرځوي. دوی دغه سربند وران کړ او دغسې یو استحکام یې جوړ کړ، چې د سربند د بیاجوړولو مخه ونیسي.

بابوزیانو، چې خپل کښتونه له اوبو څخه محروم لیدل، سمدلاسه غونډ شول او د استحکام د ورانولو په نیت روان شول. نیک پی خېل شپږ زره او بابوزیان تر هغو ډېر وو. دواړو خواوو ځینې سواره او یو څو سوه جیلومیان (Jailumees) لرل. (جیلومیان هغه اتلان دي، چې د ښکلیو کالیو په اغوستلو ممتاز وي او موظف وي، چې یا مړه یا بریالي شي) نور یې دغسې یو جمعیت و، چې ځینو یې پړېړ واسکټونه اغوستي وو، نورو یې د زغرو جامې اغوستې وې، څه یې په څرمینو زغرو کې وو، ځینو یې فلزي زغرې اغوستې وې، ټول یې یا په لیندیو، یا ټوپکو یا تورو، سپرونو اوږدو ښتني چړو ګیو او اوسپنیزو نېزو سره سمبال وو.

څه وخت، چې دواړه لښکرې له ورایه سره مخامخ شوې، یو په بل یې ډزې وکړې. وروسته جیلومیان ووتل او د تورو جنګ پیل شو. په پای کې د دواړو لښکرو پیاوړې برخې لاس په لاس سره ونښتې. د دواړو خواوو زړور سره ګډوډ شول او لاس په لاس په جنګ شول. بې زړه او ډارن یې چې په شمېر کې تر نورو ډېر وو په دواړو خواوو کې اول لاس تر زنې ودرېدل. وروسته په ټولیز غوغا کې ګډ شول او هره یوه ناري سورې سر کړې او چې څومره یې کولای شول، په لوړ اواز یې خپل رقیبان



Property of ACKU

وکنځل ان د فقیرانو ښځې هم د مېړو شاته ودرېدلې (پخپله د یوسفزیو ښځې په سړیو کې نه لیدل کېږي). ډولونه یې وهل او اوبه یې شپېه په شپېه تږو کسانو ته رسولې. په پای کې دواړه خواوې ستومانه شوې او کورونو ته ستنې شولې.

له دواړو خواوو نه یو شمېر ووژل شول او ټپیان شول. زما د راوي له خولې دا یو زورور جنګ و. د هغه په اړه سندرې وویل شوې او خبر یې په پېښور کې د پاچا غوږو ته ورسېد.

سره له دې هم له دغه جنګ څخه کومه مهمه پایله په لاس رانغله، هغه استحکام همغسې په ځای پاتې شو او د بابوزیو ځمکې د اوبو د نشتوالي له امله وسوې. دا جګړه تر درېیو کلونو پورې روانه وه. نور ډېر ولسونه په یوې یا بلې خوا کې شامل شول او تر غرونو پورې ټول ملک پکې ونښت. په پای کې د بې طرفو ولسونو خانانو مېنځګړتوب وکړ او سوله وشوه.

په دغسې جنګونو کې یواځې یو څو بندیان نیول کېږي. هغه چې نیول کېږي، د نیوونکیو په اختیار کې وي. دوی د څه وخت لپاره ساتي او مجبوروي یې چې په کبنتو کې کار وکړي، خو په پای کې یې تلابې له جرمانه پېسو نه خوشې کوي.

نږدې د ټولو یوسفزیو سیاسي حال هغه دی، چې ما د یوه ولس د حال په انځورولو سره وښود، خو ځینې ولسونه د لا ارستوکرات حکومت تر اداري لاندې دي. په دغو حالاتو کې د خان شته او استعداد ته هغسې اهمیت لري، چې هغه یې په نیک پې خپلو کې نه لري، خو له پنجکوړې پرته د اباسین په لویدیځ کې د یوسفزیو د هیڅ خان په زیات قدرت باندې خبر نه یم. ګډونان چې د یوسفزیو یوه لویه څانګه ده او د اباسین په ختیځ کې مېشت دي، خپلو خانانو ته ډېر واک ورکوي او په نتیجه کې له هغو جنګونو او ویني توېولو نه خلاص دي چې په نورو یوسفزیو کې غلبه لري.

## د دیر د قاسم خان استبداد

په یوسفزیو کې تر ټولو زورور خان قاسم خان د پنجکوړې د دیر او ملیزیانو مشر دی. زه د هغه د سیاست په اړه ځانګړي معلومات نه لرم، چې ده په هغه سره قدرت حاصل کړی دی، خو دا ښه یقیني ده چې ده ښه شته لرل او ډېرې ځمکې یې یا په بیه واخیستې او یا یې له خپلوانو نه په زور نیولې وې. له هغه وروسته ده ځان په دې وګوماره، چې شخصي انتقام او د هغه ورسره ګډوډیو ته د پای ټکی کېږدي. ډېر مجرمین یې له قوم نه وشړل او د هغوی ځمکې یې خپلې کړې. له ګاونډیو خانانو سره یې اړیکې ټینګې کړلې او له هغوی سره یې په خپلو ولسونو کې د واک په ټینګولو کې مرسته وکړه. همدارنګه ده خپلې سیمې ته نږدې ډېر کافران ایل

کړل او د ځان لپاره یې په هغوی باندې باج کېښود. ده په دغو عوایدو او د ځمکو په حاصلاتو معاش خواره نوکران ساتل او په قوم باندې یې خپل تسلط ټینګ کړ. دده تر ټولو لویه کارنامه او هغه څه، چې دده نوم یې اوچت او نفوذ یې لا زیات کړ، د قاشقار د څلورو وړو قلمرو د یوه سلطان په ضد دده یو کامیاب جنګ و. قاسم خان له ډېرو ستونزو وروسته، چې ده له واورو ډکو غرونو نه په تېرېدو کې وګاللې، د هغه مرکز ونیو او ګومان کوم، چې هغه سلطان یې له تخت نه کوز کړ، خو ددې کوښښ یې ونه کړ، چې ملک یې خپل کړي.

دده ټول ولس اوس دده پوره تابع دی، دی کولای شي یو څوک بندي کړي، جزا ورکړي او ان اعدام یې کړي.

ده کورنۍ دښمني ورکې کړې او یوه ښه امنیتي قوه یې جوړه کړه او په دې ډول دده حکومت ان د یوسفزیو په رعیت خلکو کې هم محبوب دی. د پنجکوړې ټول همسایګان اوس په دده پورې اړه لري او محصول ورته ورکوي، خو دی له خپلې قومي څانګې نه هیڅ عواید نه ترلاسه کوي.

قاسم خان په خپل ګاونډیتوب کې په ځینو ډموکراټو یوسفزیو باندې د تېرې میل ښودلی دی، خو تراوسه بریالی شوی نه دی. داسې ښکاري، چې په دغسې وختونو کې دده پلان دا و، چې دننه په خپل قوم کې د ځان لپاره یو ګوند جوړ کړي.

ممکنه نه ده د یوسفزیو د ټولو وړو جمهوریتونو یا ولسي حکومتونو (Republics) شمېر دې وشي. ما له دغسې جمهوریتونو څخه څه ناڅه د دېرشو نومونه ترلاسه کړي، چې یو تر بله دومره لږې اړیکې لري لکه څنګه چې نیک پی خېل یې له خپلو ګاونډیو سره لري، خو کېدای شي، چې د خپلواکو وړو ټولنو (Cmmunity) شمېر دې تر دې هم ډېر وي. د پښتنو په حساب د ټولو یوسفزیو شمېر (۹۰۰۰۰۰) دی، خو د دوی د سیمې د پراخوالي او حاصلخیزۍ پر بنسټ زه ددې اټکل کولای شم، چې د فقیرانو او توابعو په شمول د ټولو شمېر به له (۷۰۰۰۰۰) نه ډېر نه وي.

فقیران له یوسفزیو نه په شمېر کې ډېر دي. د دوی تر ټولو ستره برخه سواتیان دي، چې ددغه ملک له فتح کېدو وروسته همدلته پاتې شول. دیګانان هم په شمېر کې ښاپسته ډېر دي. بیا یو څه هندکیان دي، چې د قحطۍ له لامله له پنجاب نه دلته لېږدېدلي دي. یو لږ څه کشمیریان او هندوان هم پکې شته. دغه دوه ډلې هغه خلک دي، چې د سود په هیله هر ملک ته ځي. د پښتنو قومونو ځینې غړي هم په فقیرانو کې راځي. دوی د یوسفزیو ملک ته له دې لامله راغلي دي، چې نېستي په خپل ملک کې د بېوزلو صف ته ښکته کړي دي زیاتره همسایګان په کښت او کر

Property of ACKU

لګيا دي او ډېر يې په غرونو کې سنډاګان او رمې پيايي.

همسايګان ځمکه نه لري، دوی نه د ټولنې غړي بلل کېږي او نه په جرګو کې ګډون کولای شي.

هر فقير د هغه چا تابع دی، چې د هغه په ځمکه ژوند کوي او د خاوند په نامه يې يادوي. دی خپل خاوند ته محصول ورکوي او د اروپا د سفانو په څېر مجبور دی، د هغه لپاره وړيا کار وکړي. خاوند خپل فقير وهلی او ان وژلی هم شي.، بې له دې چې په دې اړه له هغه نه څه پوښتنه وشي. له بلې خوا يو فقير د خپل بادار له حفاظت نه پوره ډاډه دی. بادار غوره ګڼي، چې د خپل فقير په سر، سخت جنګ وکړي نه دا چې يو بل څوک پرېږدي چې هغه ته ضرر ورسوي او په عذاب يې کړي. فقير د هر کسب په غوره کولو کې آزاد دی، خوښه يې چې د خپلې ګټې لپاره د يو مزدور په څېر کار کوي يا د بزګر اشته کار (ميتاير) په څېر ځمکه اجاره اخلي. د هغه خاوند له هغه نه نور څه نه غواړي، له خپل منل شوي محصول يا ټاکل شوي حقوق (چې يادونه به يې وروسته وشي) او د هغه د کار له يوې برخې پرته نور څه نه غواړي. خاوندان له خپلو فقيرانو سره په ټوليز ډول ښه چلند کوي. خاوند له هغه شدت نه په وېره کې وي، چې د زېښاک (استثمار) له بدنامه سره مل دی او تر هغه زيات د فقير له دغه حق نه ترا خوري، چې هغه به بل يوسفزی ملک ته وتښتي. دا هغه حق دی، چې دی په عمل کې تل ترېنه استفاده کولای شي. په دې، چې د فقيرانو په منلو کې سخته سيالي روانه ده او ډېر کسان ددې لپاره تل تيار دي، چې داسې يو څوک ومني او ويې ساتي، چې غواړي خپل خاوند بدل کړي. د خپلواکو وړو ټولنو شتوالی هم د فقيرانو لپاره د حفاظت يو عامل دی، ځکه کوم فقير چې په هغه سخت ظلم شوی وي (لکه د ده د کوم خپلوان وژنه او يا دده له ښځې سره يارانه کول) له خپل ظالم نه مرګ پور اخيستلی شي او بيا بل ولس ته په تښتېدو خپل ژوند خوندي کولای شي.

باداران ددې واک نه لري، چې له خپلو فقيرانو څخه په زور پيسې واخلي. دوی په خپلو ځمکو باندې د يوه نوي فقير د مېشته کولو او د خپلو فقيرانو د ودولو واک لري او همدارنګه په مرګونو او نورو جرمونو باندې جريمې ايښودلی شي، خو د داسې پېسو مقدار د محصول د مقدار په څېر د رواج له مخې ټاکل شوی دی او که تر هغه زيات حواله شي، هغه به لوی ظلم وګڼل شي.

فقيران او همداراز يوسفزي په خپلو کې جنګونه او مرګونه لري، خو په دوی کې يې اندازه ډېره لږه ده. دوی په واقع کې متواضع او غير جنګي خلک دي. کله کله وسلې ګرځوي، که څه هم له وسلو ګرځولو نه منع دي. په ټوليز ډول د دوی کورونه د نورو پښتنو تر کورونو خراب او کالي يې د هغو تر کاليو ساده وي. دوی ډېر ساده



Property of ACKU

ژوند کوي او د خپل کار د ګټې له برکته زیاتره وخت ښې پیسې سپموي، په تېره هغه وخت چې دوی کسبګر وي او یا یې رمې ګلې ډېرې وي.

سربېره پر دې، چې فقیران په کښتو کې کار کوي. ډېر یې د ترکاڼانو، جولاګانو، رنګرېزانو او نورو په څېر کار کوي. پښتانه دغسې هېڅ یو کسب نه کوي، د ځینو دغو کسبګرو وضع ډېره عجیبه ده. پښان، ترکاڼان او نایان په ځینو خاصو کندیو پورې تړلي وي. په ځمکو کې یوه برخه لري او د کندي لپاره وړیا کار کوي او کله چې ولس د خپلې استوګنې ځای بدلوي، دوی هم ورسره مل وي. نور ټول یې پر ځای ثابت پاتې وي او انفرادي کسان ورته اجوره ورکوي ان د یوه کسبګر خاوند هم مجبور دی د هغه د کار په مقابل کې اجوره ورکړي.

هغه پښتانه، چې له لیرې قومونو څخه راځي او په یوسفزیو کې د هغوی اړیکې څرګندې نه وي، مجبور دي چې د فقیرانو په څېر مېشت شي، خو هغه یوسفزي چې له یوه ولس نه بل ولس ته لېږدي، په تېره هغه وخت چې دوی په دې مجبور شوي نه وي، چې خپلې ځمکې وپلوري، د مساوات پر بنسټ منل کېږي او د ځمکې یوه برخه ورته ورکول کېږي او په خپله د ولس د غړیو په څېر په دوی دا شرط منل کېږي، چې په جنګ کې ورسره برخه واخلي، خو په ولسي چارو کې له دوی سره مشوره نه کېږي. دوی ددغسې کوم شخص تر سیوري لاندې وي، چې هغه د دوی د ګټو څارنه کوي.

ځینو دیګانانو ته، چې جنګیالي ګڼل کېږي، هم اجازه ورکول کېږي چې د یوسفزیو د ولسونو خدمت وکړي او دوی ته د دوی د دغسې خدمت په مقابل کې ځمکه په وړیا ډول ورکول کېږي او دوی د خپلو مشرانو تر اداري لاندې په ګډه ژوند کوي.

د فقیرانو حال په ټولو قومي څانګو کې کټ مټ یو شان نه دی. په ځینو څانګو کې دوی د محصول له ورکولو نه معاف دي او د هغه مقدار او د جرایمو مقدار په نورو څانګو کې سره توپیر کوي.

### هغه محصولات، چې د ولسونو له خوا ایښودل کېږي

مخکې له دې چې د یوسفزیو د ولس د عمومي احوال شرح بس کړم، باید ووایم چې خورا زیات قومونه د سوداګرۍ په هغو مالونو محصول ږدي، چې د دوی په سیمو کې ننوځي او یا ورڅخه دباندې وړل کېږي. دغه عواید کله د ولسونو وي، خو زیات یې د مشرانو په جېبونو کې لوېږي.

د دوی تجارت د دوی له خپلو سیمو څخه بهر دومره ډېر نه دی. دوی پېښور ته غله او ځینې ښکلي مصنوعات رالېږدوي، خو هغه شیان چې په ورځني ژوند کې استعمالېږي، په کور کې جوړېږي.

Property of ACKU

## د یوسفزیو کالي او نور

هغه څه چې ما د یوسفزیو د حکومت په اړه ویلي دي، لا د مخه یې د دوی په کړو وړو یو څه رڼا اچولې ده. کوم شی چې پاتې دی، دا دی چې د دوی د رواجونو او د ژوندانه د عادتونو په اړه اضافه وشي.

د یوسفزیو کورونه په عمومي ډول اوار دي او مسطح بامونه لري. کورونه یې له دوو کوټو او یوې خلاصې برنډې څخه جوړې دي. دننني کوټه یې په ښځو پورې اړه لري او دباندې یې د سړیو د ناستې او د مېلمنو د منلو لپاره ده، خو په تاوده موسم کې له برنډې نه ددې لپاره استفاده کېږي. دوی په کټونو باندې کېني او پېنځه یا شپږ کټونه او یو څو بړستنې، ځینې خټین او د لرگیو لوښي او د کالیو لپاره ځینې کټگي ټول هغه شیان دي، چې د یوه کور ټول سامانونه او کالي گڼل کېږي. دوی تل د ورځې دوه ځله ډوډۍ خوري، سباناری یې له وچې ډوډۍ، شیدو او یو راز مستو سره دی[1] او د شپې ناری یې وچه ډوډۍ، حبوبات او نور سابه وي. سرېره پردې کله کله غوښه پکې شامله وي. په اوړي کې کله چې ورځې اوږدې وي، دوی څاښت د تودې ډوډۍ غرمه ناري کوي.

د سړیو عادي جامه د خمتا یو داسې کمیس دی، چې تر ملا پورې په ځان نښتي وي او بیا پوره تر ښنگرو پورې ښکته آزاد رسېږي. رنگ یې یا پوره آسماني، یا د انار د ونې په پوټکي سره خړ شوی وي. همدا شان یوه لویه سپینه پگړۍ په سر او د خمتا پرتوگ په ځان لري، خو د دوی جامه بې له لونگۍ نه چې له نیلي رنگه وریښمو او کتان له مخلوط څخه جوړه وي، پوره نه وي. لونگۍ په اوږو اچول کېږي او په دواړو خواوو کې د قد تر نیمايي ښکته ځوړنده وي. د لونگۍ نه کله کله د چپنې او ځینې وخت د ملاوستنې کار اخیستل کېږي. دوی تل د جمعې په ورځ او مهمو وختونو ک خپل ښه کال اغوندي. په دغسې وختونو کې د دوی کمیس ښه اوږد او لاندې خوا یې ښه پوره او د ملا په برخه کې په بې شمېرو پلیټو سره چین شوی وي. د نورو رخصتیو د ورځو جامې له لنگوټې پرته، له رنگه وریښمو نه جوړې وي.

داسې کمیسونه اغوندي، چې تر سینو پورې یې ښه تنگ او له هغه ښکته یې ښه ارت وي، لکه څنگه چې په هندوستان کې معمول دی. د دوی ښځې د سرو او سپینو زرو ډېرې گاڼې استعمالوي. نه د دوی ښځې او نه نارینه هغسې اوږد کمیس په تن کوي، چې په نورو پښتنو کې ډېر معمول دی. د یوسفزیو ښځې په ستر کې کلکې دي او هېڅ کله بې له دغسې جامې اغوستلو نه چې بورقه نومېږي او له سر نه تر پښو

---

[1] مطلب یې شومړې (تروې) دی. ژباړن



Property of ACKU

پورې یې پټوي، له کور څخه بهر نه وځي. ښځې له کور نه بهر کار نه کوي. د غریبو ښځې اوبه راوړي، خو دوی دا کار د شپې کوي. کورونه یې کوڅې لري، خو کوڅې یې کوم ځانګړی نظم نه لري. کوڅې سره له دې هم ښې سوتره او پاکې وي او ښکته او پورته یې د توتانو او نورو ونې ایښودل شوې وي. هر کور ځانله یو باغ ګوټی او یو څو د انګورو تاکونه لري.

## د یوسفزیو کړه وړه

څنګه چې زیات کارونه فقیران کوي، د ډېرو غریبو یوسفزیو پرته نور مجبور نه دي، چې کار وکړي. نور یې کله کله د خپلو ځمکو په کارونو کې برخه اخلي، خو د دوی دغه کار زیاتره د تمرین او نمونې په توګه وي، نه د یوه جدي کار په توګه. دوی د خپلو کښتو څارنه او د فقیرانو او استخدام شویو مزدورانو د عملیو لارښودنه کوي.

څه وخت چې دوی په دغسې کارونو بوخت نه وي، حجرې ته ځي او هلته په ژمي کې د ورځې زیات وخت د اور په شاوخوا کې په غورو کولو او چلم څکولو تېروي. چلمونه د عمومو د استفادې لپاره په حجره کې ایښودل شوي وي او یواځې ځینې کسان په خپلو کورونو کې چلم څکوي. د دوی لپاره کله نجونې او کله هلکان ناځې او سندرې ورته وایي. پخپله یوسفزي یواځې کله کله سندرې وایي. دوی هېڅ کله هغه فعالې لوبې نه کوي، چې د خراسان ساده اوسېدونکي ترېنه ډېر خوند اخلي. د دوی یواځینی ساعت تېري په لیندیو، هشو یا ټوپکو د نخښو ویشتل او د توري تمرین کول دي.

له مفتوحه خلکو سره اوسېدل لکه څنګه چې د سپارټا خلک د هیلاټو په مېنځ کې اوسېدل او په هر اړخ کې یې پوره آزادي لرله، ددې لامل کېږي، چې هر یوسفزی د خپل ځان په اهمیت او حیثیت غره کړي. د دوی غرور د دوی د مځو په ستر کې، د دوی په کړو وړو په وقار کې او په هغو لوړو الفاظو کې چې دوی یې د ځان او د خپل قوم لپاره استعمالوي او ان درانیان هم خپل سیال نه بولي، ښکاره دی. د دوی آزادي او پرله پسې جنګونه دوی بدګومانه او پارونکي ګرځوي او کړه وړه یې د کرکې وړ کوي. دا هغه سادګي او برالاتوب ترېنه اخلي، چې نور پښتانه خوشحال ساتي. دوی په ټولیز ډول ښه غښتلي خلک دي، خو د دوی په شکل او قواره کې ډېر اختلافات لیدل کېږي. په هغو کې چې د دوی قواره د دوی د قوم ښه ممثل وي، یو څوک د دوی په سپینو مخونو، زرزو سترګو، سرو ږیرو او د خپلې وضعې په نظامي تظاهر او په مغرور او متکبر سلوک سره حېرانوي. دوی ټول زړور او مېلمه پال دي. که څه هم دوی په دغه صفت کې تر لویدیځو قومونو وروسته پاتې دي، خو د خپلو قومي څانګو په مقابل کې ښه سخیان دي. که کوم یوسفزی غریب شي او ونه شي

Property of ACKU

کولای د ځان لپاره مزدور ونیسي یا مجبور شي، چې خپله ځمکه وپلوري، د خپل دغه غرور په کمېدو سره یې روح مړاوی شي او که ورسره مرسته ونه شي، خپل قوم پرېږدي. د حج د اداکولو په نامه مکې ته روانېږي یا د خپل بخت د آزمویلو لپاره هندوستان ته ځي، خو که دی یو زړور او ښاغلی کس وي، هر چا ته چې دده اړتیا ورښکاره شي، مرسته ورسره کوي او دده حال ددې وړ شي، چې بې له شرم نه په خپل کور کې پاتې کېدای شي. د مرستې حاصلولو لپاره له یوه بل طرز نه هم کله کله استفاده کېږي، خو هغه یوازې په دې توګه چې مصیبت ځپلي د خپلې سیمې په کلیو ګرځي او په هر کلي کې توقف کوي او خپله لوږه غوړوي، خلک په دغې علامې سمدلاسه پوهېږئ او له هغه سره هرومرو مالي مرسته کېږي.

د برو سیمو یوسفزي بیخي باوقار دي او له فسادونو نه پاک دي، خو د اوارو یوسفزي د ډول ډول ګناهونو له لامله بد نوم لري. ډېر فسادونه او عیبونه، چې دوی یې په ټولیز ډول برلاسکوي، جواري کول، نشه کول چې په تریاکو، بنګو او نورو حاصلېدی شي، په دوی کې ډېر رواج لري. سره له دې هم دغه قومونه د خپل دیني تعصب او نه زغم او د سربښندنې ټولو اشکالو ته د توجه لپاره او ملایانو ته د احترام لرلو له لامله ښه نوم لري. په دوی کې د ملایانو ظلم تر نه زغمېدونکي حد پورې رسول کېږي. دوی د خلکو ناوړه کارونه او فسادونه له نظره غورزوي او په حقیقت کې ورسره برخه اخلي. خو د حجرې ډېرو معصومو جرګوته له ورتګ نه ډډه کوي او هغه له خپل شان نه مخالف بولي او د معینو لمونځونو قضا کوونکي یا روژه خوړونکیو ته داسې جزا ورکوي، چې یا یې په ځړه سپروي او یا سخت جسمي مجازات ورکوي.

په غرو په تېره په بر سوات کې د دوی حال بالکل توپیر لري. دوی هلته نظر اوارو یوسفزیو ته په رښتیا ډېر ښاغلي دي، خو څنګه چې دوی جنګیالي نه دي او ډارن دي، دوی ته په سپک نظر کتل کېږي او له دوی سره تر همسایګانو هم لږ څه ښه چلند کېږي، په دوی کې ان لوستل هم ښه کار نه ګڼل کېږي.

د نیک پی خېلو یو څو سړیو یو وخت یو ملا د قرآن په نقلولو مشغول ولید او څنګه، چې دوی په اصل موضوع خبر نه وو، د هغه سر یې پرې کړ او ویې ویل «ته مور ته وایې چې دغه کتابونه د خدای ج له اړخه نازل شوي او دا دی ته یې دلته پخپله جوړوې» د هغه کلي نورو یوسفزیو دغه قاتلان ملامت وګڼل او دوی یې خپلې غلطۍ ته ملتفت کړل او دې ته یې اړ کړل، چې په خپله ګناه اقرار وکړي. دوی بې ملاحظې او بې پروا وو. دا و هغه اهمیت، چې نیک پی خېل یې د ملا ژوند ته ورکوي[1].

---

[1] هغه یوسفزي چې په هندوستان کې موندل کېږي، زما توجه د پښتنو مهاجرتونو ته اړوي او دغه موضوع ما په خپل مناسب ځای کې نه ده راوړې. دوی په کثرت سره مهاجرت کوي او په دغه حال له

Property of ACKU

خپل ملک سره د دوی د هغې مینې نقیض برېښي، چې ما دوی ته منسوبه کړې وه، خو عین شی په سکاټ لینډیانو کې هم پېښېږي، چې د دوی مینه له خپل سیمې سره پیخې قوي ښکاره کوي. په دواړو حالاتو کې عین دلیل دخیل دی.، په سکاټ لېنډیانو کې د سوداګرۍ نشتوالی او په پښتنو کې سوداګري شرم ګڼل. ځکه د هر فرد د ژوندانه د تامین لپاره ضروري ګرځوي او هر هغه څوک چې بې ځمکې وي باید خپل ملک پرېږدي. د افغانستان په لویدیځ کې یانې چېرته چې ودونه ناوخته کېږي او ځمکې ډېرې دي، مهاجرت نادر وي، خو د مملکت له ختیځ نه د ماجرا غوښتونکیو پرله پسې څپې د اوږدو مودو لپاره رواني شوي دي. دغه څپې تل د هندوستان په لور وي. ددغه ملک زیاتره برخې په پېړیو پېړیو د پښتنو کورنیو په لاس کې وي او ان ددغو کورنیو تر ړنګېدو وروسته هم خارجیانو په اردو کې پښتانه تر هندوستانیو ډېر شامل کړي وو. په دې ډول په ټول هندوستان کې د پښتنو د اولادو مېشته ځایونه پیدا شول، چې هغوی اوس د پټانانو په نامه یادېږي. دوی د هندوستان په ټولو برخو او د کن کې موندل کېږي. کله دوی د هندوستان له ځایي اوسېدونکیو سره ګډ وي او ځینې وخت د خپلو مشرانو تر حکم لاندې ټول شوي وي لکه په فرخ آباد، بوپال، کرنول، کدو په او نوربان کې. ډېر وخت له کېږي، چې د دوی ډېر پراخ مېشته ځای په عمده ډول یوسفزیو تشکیل کړی دی. زما مطلب د روهیله و مېشت ځای دی، چې له موږ سره د دوی جنګونه په ټول انګلستان کې د دوی نوم ښه خپور کړی دی. د دوی د مېشت کېدلو بیان د هملټن په کتاب روهیله پښتانه او د دوی د سقوط بیان په پارلماني رپورټونو کې راغلی دی. د دوی اساسي قانون د پښتون دموکراسي سره څه اړیکه نه لري. مشران یې د خپلو ځمکو لاردان او نور پښتانه د دوی اجاره ګر او په ټولیز ډول د دوی عسکر دي، خو د نورو ځایونو په څېر دلته هم عامو پښتنو د هغې آزادي او مشرانو یې د روغې هغسې تمایل ښود، چې په دوی کې په ځانګړې ډول موجود وو. ددغو یوسفزیو ناړامي او غرور ددې لامل کېږي، چې انګلستان دوی ته په ښه سترګه نه ګوري. له بلې خوا انګلستان څکه د روهیله پښتنو ښه نه اېسي، چې دوی د دوی د ملک په لاندې کولو کې له نواب وزیر سره مرسته کړې وه، خو ټول اعتراف کوي چې روهیله پښتانه په ټول هندوستان کې تر ټولو زړور عسکر دي، له کومو سره چې موږ نښتي یو. په هندو رعیت باندې د دوی له زړه سواندی نه انکار نه شي کېدلای او دا چې دوی خپل ملک ښه اباد کړی دی. زموږ د عسکرو له خوا په درنه سترګه ورته کتل کېږي. اوبرک (Burk) هغه په غوړو الفاظو یاد کړی دی. دده یوه افاده دا ده:((هغه د باغ په څېر کرل شوی دی بې له دې چې یو ځای هم پکې له نظره غورځېدلی دی.))

د دوی ملک ان اوس هم د برتانوي ولایتونو په ډېرو شتمنو برخو کې حسابېږي او هغه له پراخو اوارو څخه جوړ دی، چې د جوارو په کشتو، د ونو په باغونو پوښلی دی او ګڼ ښارونه او غوړېدونکي کلي پکې ډېر دي. بریلي (Barelly) د هندوستان د ډېرو سترو او ښکلو ښارونو څخه دی او یو ووړ ښکلی بند چې نګینه (Nagina) نومېږي او ما پکې یو څو هفتې تېرې کړې دي، څه نا څه (۱۸۰۰۰) اوسېدونکي لري. دا ښار که څه هم په نقشه کې نه دی نشر شوی او د روهېلکنډ له سرحداتو نه دباندې د هغه نوم یواځې کله کله اورېدل کېږي، د هغه د نواب مرکز رام پور دی او ددغې سیمې دخلکو کره وره تراوسه هم د برو درانیو کړو وړو ته ورته دي. پښتو یې ستره ژبه ده او د نواب د قصر په مخامخ میدان کې ښکلي، پیاوړي او سیمین رنګه ځوانان لیده شي. دوی د آزادی او آرامی له هغې روحیې سره په کټو ناست وي، چې د یوسفزیو ممتاز ځانګړنې دي.



Property of ACKU

## باجوړ

باجوړ په لویدیځ کې د هندوکش په سهیلي غرونو او په ختیځ کې د اتمانخېلو په غرونو سره محاط دی. په شمال کې هم همدغه غرونه ترې چاپېر دي. په دې توپیر، چې په پنجکوړه کې یوائې یوه نرۍ لاره ورځي. د سهیل لور ته یې د برو ماموندو غرونه پراته دي. باجوړ یو داسې لوړ او ژور میدان دی، چې له ختیځ نه تر لویدیځ پورې پېنځه ویشت میله اوږد او له شمال نه تر سهیل پورې دولس میله سورور دی.

له شاوخوا غرونو څخه یې اوږدې او سوروړې درې مخ ښکته پرتې دي. له نورو ځایونو نه دغو درو ته ورتګ نه کېږي، نه په دې چې هغه ښې نېغې دي، بلکې په دې چې په ګڼو ځنګلونو پټې دي.

په خپله میدان یو د پېښور میدان ته ورته دی او په آبادۍ کې ورسره برابري کوي. غنم د هغه عمده محصول دي. دغه اوار میدان په یوه داسې رودګي سره وېشل شوی، چې د سهیل په برخه کې هسکېږي. له هرې درې نه یوه ویاله ورسره ګډېږي او وروسته له دې، چې په برو ماموندو کې له دانش کول سره یوه ځای شي د اشنغر نه دپاسه د سوات په سیند ګډېږي. د هغه دوه ښارونه باجوړ او ناوګۍ هر یو نږدې یو زر کورونه لري. د باجوړ د میدان له پنجکوړې سره یو داسې لویې اوږدې درې سره نښلي، چې په وروستۍ سیمه کې هسکېږي او هغه براول (Barawul) نومېږي. د براول یوه برخه ښه د کرنې وړ ده او پاتې برخې یې د بېلابېلو ونو په یوه ګڼ ځنګل پوښل شوی دی، چې په هغو کې د څېړۍ ونې او ښایي د سېړ ونې هم وي[1]. په دغه ځنګله کې وحشي ځناور ډېر دي او ډېرې برخې یې دومره ګڼې دي، چې د لمر مخه نیسي او نږدې د باران څاڅکي تنوتلو ته نه پرېږدي. براول د باجوړ له نورو برخو نه په دې توپیر لري، چې مشر یې بېل دی.

## ترکلاڼي

باجوړ په ترکلاڼي یا ترکاني پښتون قوم پورې اړه لري، خو له هغو نه پرته نور خلک هم پکې اوسي. بر غرونه یې مسلمان شویو کافرانو، ښکته غرونه یې هندکیانو او سمه یې د ټولو ملیتونو او قومونو یوې ګډولې نیولې ده، چې دغه ټول د رود بارو په ګډ نامه یادېږي. د ترکلاڼیو شمېر لس یا دولس زره کورنیو ته رسېږي او هغه ټول اوسېدونکي یې دېرش زره اټکل کېږي.

Property of ACKU

[1] سېړ (Sedar) ته بلندزی وایي او ویل کېږي، چې دا د نښتر (Fir) په څېر یوه هسکه ونه ده او لرګی یې سور دی.

ترکلاڼي د دغسې یوه مشر تر اداري لاندې دی، چې د باز په عجیبه نامه یادېږي او هغه په خپل قوم ډېر واک لري. کافران ورته باج او هندکیان ورته محصول ورکوي او رود باران د هغه ځمکه د حاصل په پينځمه برخه په اجاره اخلي. په دغو ټولو سره دده عواید په کال کې یو لک روپۍ کېږي او هغه ده ته امکان ورکوي، چې سل سواره او د پلیو یو ښه شمېر وساتي او له هغو څخه پينځه سوه د شاهي اردو لپاره ورکړي. دی په خپل قوم کې قضایي فقرې فیصله کوي او د تبعیدولو، وهلو او تړلو واک لري، خو دی تر هغو مداخله نه کوي، چې عمومي سوله په خطر کې لوېدلې نه وي. دی کله کله جرګه هم رابولي.

## د ترکلاڼیو کړه وړه:

مطلق حکومت او د فقیرانو نشتوالی د ترکلاڼیو کړو وړو ته د یوسفزیو له کړو وړو څخه توپیر ورکړی دی، که څه هم دوی له هغو سره په خوړو، کورو او د ژوندانه په عادتونو کې ورته دي. دوی که څه هم زړور او ښه زیارکښ دي، خو خوښ او د ساعت تېرۍ شوقمن دي. دوی زیات وخت د غورو کولو، سندرو ویلو او سه تار وهلو لپاره سره ټولېږي او ان د خراسان ځینې فعالې لوبې هم کوي. د دوی له هغو یو څو لوبو څخه چې ما لیدلې دي، معلومېږي چې هغه د هندوستان د مسلمانانو له لوبو په تېره د دکن له لوبو سره ورته دي. دهغو په څېر دوی هم مودب او ښه معاشي خو لاپوک دي. د هغوی په څېر دوی هم ډېر ګړېږي او ځانونه په خبرو کې ډېر خوځوي. د دوی جامه د پښتنو کمیس او یوه وړیښمینه ټوپۍ ده. دوی زیات وخت دده لپاره په کافرو دانګې، چې چور و چپاول وکړي او مریان پیدا کړي. کافران کسات اخلي، خو څنګه چې دوی د اوارې د جنګ لپاره ډېر ضعیف دي، یوازې ناڅاپي او له ځانګړیو مورچلونو څخه حملې کوي. ترکلاڼي په اوس وخت کې له دې امله، چې د دوی حکومت د مرحوم باز، دوریرو ترمېنځ په دعوه کې دی، په دوو ګوندونو وېشل شوي دي.

## اتمانخېل:

د اتمانخېلو غرونه سوات له باجوړ څخه بېلوي. دغه غرونه د هندوکش له ښکته غرونو څخه، چې په هغو اړه لري او د پنکوړې په درې سره وېشل کېږي، ښه لوی دي، خو څوکې یې سره برابرې نه دي. په ډېرې لوړې څوکې باندې پينځه یا شپږ میاشتې واوره پرته وي. د هغو شمالي مخ که څه هم ښه نېغ دی، ورو ورو لوړېږي، خو جنوبي خوا یې ناڅاپه لوړېږي او ګرنګونه لري. څاروي زیات وخت د غرونو له ښوینده لاښ څخه لوېږي او ټوټه ټوټه کېږي. د شمالي اړخ یوه برخه یې صافه ده او کرنه پکې کېږي. نېږدې ټول کښت په دغسې پټیو کې کېږي، چې د غرونو په دوو



Property of ACKU

کې يو په بل پسې هسکېږي[1].

اتمانخېل په دغو غرونو سرېږه د باجوړ په څنډو کې د اوار ميدان يوه ټوټه ده. دوه اوږدې نرۍ درې لري چې د کوز سوات په مخ خلاصېږي.

اتمانخېل دومره لږ دباندې ځي، چې ما يو هم په پېښور کې ليدلی نه دی او له هغه وروسته مې يواځې له يو سره کتلي دي. دوی له خپلو ګاونډيو سره ښه نه دي. د دوی ګاونډيان دوی د شډل او بې قانونه قوم په نامه يادوي. د هغوی په قول دوی جګ، پياوړي او سپين دي، خو وايي چې دوی زيات وخت له نري ملا نه پورته برينډ وي او د دوی ښځې د نارينه و په څېر کار کوي. په دوی کې هر شی د مدنيت نشتوالي ښيي. خو کوم اتمانخېل چې ما پخپله وليد، يو نرم طبيعته سړی او د خپل قوم په اړه يې داسې وويل:

دوی يو خان لري، چې د زيات واک څښتن دی. دی د قتل په پېښو کې درانده جرمونه ږدي او د مقتول ورثې ته تاوانونه وربرابروي. دوی په خپلو کې زيات وخت جنګونه کوي، خو نه د يوسفزيو په اندازه او دوی او يوسفزي د جنګ په حال کې دي.

د دوی جامه د باجوړ د جامې په څېر ده او د ښځو په اړه په خپلو رواجونو کې د خپلو ګاونډيو څخه دومره توپير نه لري. دوی درانه خلک دي او هغه فسادونه، چې په يوسفزيو کې شته، په دوی کې درک نه لري.

دوی په داسې وړو کليو کې اوسي، چې له لسو څخه تر شپاړسو پورې برنډه لرونکي کورونه لري. په ټوليز ډول دوی ښايي د خپلو ګاونډيو په انډول د مدنيت په ښکته پوړ کې وي او د خپل ملک سخت طبيعت دوی جوړولو ته متمايل کوي، ځکه چې هغه دوی له جزا ليدلو نه خوندي ساتي.

اتمانخېل له لسو زرو کورنيو نه ډېر نه دي حساب شوي او دغه شمېر هم کله، چې د دوی د ملک ماهيت په نظر کې ونيول شي، ښه ډېر دی. خو د هغو شرايطو له لامله، چې دوی نور رعيت يا فقيران نه لري، دوی تر نورو ډېر معقول دي.

## بـر مومند

د اتمانخېلو واړه غرونه هغه وخت، چې د کابل سيند ته رسېږي، لويديځې خوا

[1] ما پخپله دغه پټی د اتمانخېلو په ملک کې نه دی ليدلی، خو که دوی له هغو سره ورته وي کوم چې ما سرينګر نه لاندې ملک کې ليدلي دي، د کښت بل هيڅ طرز به دومره ډېره خواري ونه غواړي او لږ حاصل به ونه لري. په دغه ملک کې د وړو غرونو په ډډو کې ډېوالونه جوړېږي او دغه ډېوالونه د غرونو له ښکتني برخو له خاورو نه ډکېږي او له درو نه تر لسو فوټو پورې لوړ وي. پټي يې نږدې پينځه ګزه سور لري، ډېوالونه په وښو او نورو شنيليو پوښل کېږي او څنګه چې دغه ډېوالونه هېڅکله نيغ نه دي، بلکې د غرونو په کچه کاږه دي، په زړه پورې انځور جوړوي او اغېز يې په زړه پورې دی.

Property of ACKU

ته اوړي او هغې خوا ته نږدې د قاشقار تر سیند پورې رسېږي یانې چېرته چې د هندوکش د سهیلي غرونو څخه نور رودونه ورسره یوځای کېږي. د غرونو دغه ټولې برخې په برو مومندو پورې اړه لري. همدارنګه د دوی د غرونو او کابل سیند ترمېنځ اواره او د هغه سیند سهیلي خوا میدان او د نژدې غرونو یوه برخه په دوی پورې اړه لري. د دوی د ملک سهیلي برخه په خیبر کې شامله ده او له دې امله بر مومندان زیاتره وخت په خیبریانو کې حسابېږي.

د دوی غرونه په عمومي ډول ټیټ خو ډبري او ستنغ دي. د کابل له سیند پرته، چې هغه هم دغه سیند شمالي غاړې ته نږدې یو غر دی، په نورو غرونو باندې واوره یوازې یو څو ورځې پرته وي. دغه غرونه سپېره دي، خو یوازې په ځینو برخو کې یانې چېرته چې بېلو بېلو ډولونو ګڼ او خواره بوټي او په ځینو شېلو کې معمولي غرنۍ ونې شته دي، ډېرې برخې یې د اوسېدو وړ نه دي.

په ډاګونو کې یې یو راز بوټی موندل کېږي، چې موریزه (Morriz) نومېږي. دغه بوټي د خرما د ونې د سر په څېر دي، خو د انسان تر قده لوړ نه دي. هوایې په څلورو میاشتو کې سړه وي، خو د اوړي تودوخه یې بیخي ډېره وي. سموم (Summom) یې زیات مهلک وي او د مارکوه (د سیند سهیل ته د یوه غره) تند بادونه یې په تاوده موسم کې د ټولو لارویو لپاره د ډار لویه منبع وي.

د کړپې غاښې، چې پېښور او جلال آباد سره نښلوي، د مومندو په ملک کې پروت دی. کله کله پرې سفر کېږي، خو څنګه چې سختې هسکې او تنګې درې پکې ډېرې دي او څنګه چې د کابل سیند په دغې برخې کې ډېر چټک دی، باید زیات وختونه ترې لاروي واوړي راواوړي، نو تر هغه په خیبر کې سهیلي لارې ته ترجیح ورکول کېږي.

ویل کېږي، چې مومندان لس زره کورنۍ دي، خو څنګه چې د دغو غرونو زیاتره برخې د اوسېدو وړ نه دي او په نورو برخو کې یې اوسېدونکي ښه خواره واره دي او په داسې حال کې، چې ممکن په اوارو میدانونو کې یې هندکیان اوسي، زما په ګومان چې دغه شمېر له واقعیت نه لیرې دی.

## د حکومت شکل:

د برو مومندو د حکومت طرز بېساری دی. د دوی د خان مستقیم واک له نظامي عملیاتو پرته لږ دی، خو په ملکانو باندې دده نفوذ ډېر دی او د دوی واک په خپلو قومي څانګو کې قوي دی. خان د قضایي چارو په ترسره کولو کې برخه نه اخلي او ملکان دعواګانې په جرګو فیصله کوي. خان له خپل قوم نه مالیات نه ټولوي او د مومندو په ملک کې تر هر بل تن نه زیاته برخه نه لري، خو ده ته پاچا یو څه ځمکې

Property of ACKU

ورکړي او په هغه سربېره معاش ورکوي. خان ددغو په بدل کې د کړېږ په غاښي کې د لاړیو د ساتنې مسولیت پر غاړه لري او د پاچایي پوځ لپاره له دریو سوو څخه تر پنځو سوو پورې سواره برابروي. که لاروي کوښښ وکړي، د مومندو له ملک نه یوائې تېر شي، تالا به شي خو یو ځانګړی مومند کولای شي ټول کاروان خوندي تېر کړي.

د دوی خواړه او جامې د باجوړیانو په څېر دي. د استوګنې ځایونه یې د پیوزیو جونګړې دي، دوی په ورو بانډو کې اوسي او شپانه یې په داسې ځانګړیو کوډلو کې په غرونو کې خواره واره دي، چې یوائې په اوړي کې د استوګنې وړ وي. د دوی لوی کلي لال پوره، ګوشته او کامه یوائې برنډه لرونکي کورونه لري او یو څه مهم ځایونه دي، دوه درېستي یې په دېوالونو محاط دي او په دوی کې مشران له خپلو نوکرانو (چې هغه په عمومي ډول مومندان نه دي) او هندکیانو سره اوسي.

د ملک زیات خلک کښت او کر کوي او ځینې یې د غرونو په نامسکونو برخو کې رمې پیایي. په ژمي کې دغه کارونه، نه وي او دوی خپل وخت په کورونو کې تېروي او د مزرو د بوټو له پاڼو څخه څپلې او داسې نور اوبي. دوی دغه شیان پېښور ته لېږدوي او هم خپلې غلې دانې ګنو کلیو ته وړي او په بدل کې یې مالګه، خمتا، ټوکران، شخ وربښم او ځینې نور څیزونه راوړي.

د برو مومندو دوه خېلونه په خېمو کې ژوند کوي، اوښان ساتي او په پسرلي کې له خپلو رمو سره په خراسان کې د هلمند لوړو برخو ته کوچ کوي. دوی په برو درانیو کې یوائیني کوچي ډلې دي.

## خیبریان

خیبریان د هغو بې شمېرو څانګو په سر کې ژوند کوي، چې د سپین غره له شمالي او ختیزو خواوو څخه ځي. د دوی نوم د خیبر له درې یا غاښي نه راوتلی، چې د پېښور او جلال آباد ترمېنځ د کابل سیند په ښي اړخ کې غځېدلی دی او د دوی د متصرفاتو شمالي سرحد تشکیلوي. لویدیځ ته یې بنګښ او شمال، جنوب، ختیځ ته یې د پېښور میدان پروت دی، خو هغه سهیل ختیځ ته نږدې تر اباسین پورې د (۳۴) زاویې په حدودو کې غځېږي.

دغه ملک ډېر متنوع دی، برنۍ برخه یې د یوه هسک غره په ګړنګ لرونکي اړخ کې پرته ده او کوزنۍ برخه یې د سختې او سپیرې برخې په مېنځ کې پرته ده. دغه برخه ښه زرغونه ده، خو درې یې تنګې دي. اقلیم یې له ډېرو سړو څخه تر نهایي تودوخې پورې بدلون کوي. په ټولیز ډول دغه ملک سوړ دی، خو د درو کوزې برخې یې د چاپېرو غرونو له خوا د هوا د بندېدو له لامله تودې دي او ښکته سپېره غرونه

Property of ACKU

یې لکه په نورو ځایونو کې په اوړي کې په نه زغم کېدونکې ډول تاوده وي.

خیبریان له برو مومندو پرته له درېو ازادو قومونو څخه متشکل دي. دغه قومونه اپریدي، شینواري او اورکزي دي. دوی ټول (۱۲۰٬۰۰۰) تنه حساب شوي دي. شینواري په شمېر کې تر ټولو لږ، خو تر دغو درېو نه ډېر بنه او پاچا ته ډېر تابع دي. هغه نور یې د خپلو ملکونو د قوت له لامله له ایل کېدو نه ازاد دي. د خیبر د غاښي اهمیت (د کابل او پېښور ترمنځ د زیات ارتباط له لامله) پاچا دې ته رسولی، چې د دوی په اعمالو یو څه کنټرول ولري، نو په دې ډول دوی ته ددغې لارې د امن د ساتلو پرځای ډېر معاشونه ورکول کېږي، خو د دوی د لوټماری عادتونه داسې دي، چې دوی د لارویو له شکولو څخه په بشپړه توګه منع کېدای نه شي او همدا چې په دولت کې ګډوډي راشي، ممکنه نه ده د دوی له ملک نه سړی په امن کې تېر شي.

د خیبر غاښی نږدې پینځه ویشت میله اوږد دی. له ستغو پوښتیو او ډېرو تنګو درو نه اوړي، سړک یې زیات د شیلو د مجرا په امتداد غځېدلی او په غرونو کې د ناڅاپي اوربشت په حال کې ډېر خطرناک وي. خیبریان په ارامو وختونو کې ددغه غاښي په بېلابېلو ځایونو کې هډې لري، چې له لارویو نه هغه محصول ټولوي، چې د ټولولو اجازه یې لري، خو په ګډوډیو کې دوی ټول څارو وي، که یو ځانګړی لاروی هم وغواړي په دغه لاره تېر شي د هغه راس د پښو تر پهاري ددغې تنګې درې په اوږدو کې انعکاس کوي او هغه ددې لامل کېږي، چې خیبریان له تنګو ناوو او غرونو څخه په اسونو سواره پسې ووځي او که دوی کوم کاروان ته سترګې په لاره وي، د یوه غره په ډډو کې په سلګونو ټولېږي او ټوپک په لاس د هغه رسېدو ته په صبر او قرار انتظار باسي.

## د خیبریانو کړه وړه:

خیبریان نري، خو د قوي غړیو خاوندان دي. مخونه یې اوږده او ډنګر دي، پوزې یې هسکې او غمبوري یې هډوکي لرونکي او څیرې یې توریختې دي. دوی لږ تر لږه په ژمي کې نوي اسمان رنګه لنګوټې په سر کوي او داسې اوږده قوي آسماني رنګه کمیسونه اغوندي، چې په ځانو پورې یې نښتې وي، خو د زنګنو تر منځنی حد پورې یې رسېږي. دوی یا د پروړو یا د مزرو د پانو نه جوړې سوتره څپلی په پښو کوي. داسې ټوپکونه ګرځوي، چې د میل د ملاتړ لپاره یې د لرګي پنجه ورپورې نښتې وي. همدارنګه دوی تورې او لنډې سانګې (نیزې) له ځانونو سره ګرځوي او په ټولیز ډول تر ټولو هغو نورو پښتنو، چې ما لیدلي دي، په بڼه کې ډېر عجیب او شډل دي. دوی په خپلو درو کې برنډې لرونکې کورونه لري، خو په غرونو



Property of ACKU

کې یـانې چېرتـه چې پـه اوړي کې پـه ټـولیز ډول اوسي، د یوزیـو داسې لېږدېـدونکې کوډلې لـري، لکـه بـر مومندان چې یې لـري. پـه ژمـي کې دوی کـوزو غرونـو تـه ښـکته کېږي او هلتـه پـه ټـولیز ډول پـه داسې سمڅو کې ژوند کـوي، چې د غرونـو پـه ختیـځو برخو کې یې کېندلې وي. دوی پـه تودوخه کې نهایت ناارام وي.

خیبریـان ډېـر ښـه نښـه وېشتونکي دي او ښـه غرنـي عـسکر ګڼـل کېږي. کـه څـه هـم پـه اوراه کې یې دومره مزه نـه شـته، دوی پـه دغـه راز جنګونـو کې لـه خپـل ملک نـه لیـرې ان د پنجـاب پـه نهـایي ختیـځو بریـدونو کې تـر کـوټ کـانګرا (Kote Kaungra) پـورې هـم استخدامېږي، خو دوی تـر جنګـه لـوټ کولـو تـه ډېـر متمایـل دي او د هغـو لښکرو مهمـات تـالا کـوي، چې دوی ورپـورې اړه لـري او بې سـاتونکیو پرېښودل شـوي وي. دوی دا شیان د جنګ پـه شدت کې لـه شاه شجاع سره پـه همدغـه ډول سلوک وکړ او پـه دغـه توګـه د هغـه د ماتې لامـل شـول. پـه ټـولیز ډول دوی پـه پښتنو کې تـر ټـولو زیـات یرغلګران دي او ګومـان کـوم، چې دوی نـه د پت احساس کـوي او نـه د هـوډ، ځکـه چې مـا هیڅ نـه دي اورېدلي، چې یو چا دې د دوی لـه ملک څخـه د مصونیت تېرېدو لپاره د خیبریـانو کومـه بدرګـه استخدام کړې وي او دا هغـه ګـام دی، چې پـه هغـه سره تـل د یـو بل قوم له ملک نه تېرېدل د لاروي مصونیت خوندي کوي.

## د پېښور قومونه

د پېښور میـدان چې د یوسفزیـو سهیل تـه پروت دی، نـږدې داېروي دی او قطر یې پېنځه دېرش میلو تـه رسېږي. لـه دغـه میدان نـه هر پلو غرونـه تـاو دي، خـو یـوازې پـه ختیـځ کې چې هلتـه د وچ ملک یـوه نـرۍ تړانګـه د کابـل سیند پـه اوږدو کې اباسیـن تـه منتهـي کېږي، دغـه تړانګـه نـږدې پېنځلس میلـه سوروره ده او د بـونیر د غرونـو پـه مېنځ او د طـول البلد پـه (۴۲) درجې کې پرتـه ده، چې پـه سهیل کې د پېښور پـه میـدان پـورې محاطـه ده. ددغـه میـدان سهیل لویـدیځې تـه لا سپین غره د هـسکې څـوکې شـاوخوا د خیبریـانو واړه غرونـه پراتـه دي. لویـدیځ اړخ تـه یې د اتمـانخېلو او بـرو مومندو غرونـه پراتـه دي، چې د هغـو دپاسـه تـر هغـو ډېـر هسک غرونـه لیدل کېږي.

ددغـه میـدان ځمکـه لـه تـورې نرمې غنـي خـاورې نـه جوړه ده، سطح یې لـوړه او ژوره ده، خـو دغـه ټـول میـدان لـه چـاپېرو ملکونـو څخـه دومره ټیټ دی، چې نـږدې د هغـه هرې برخې تـه اوبـه رسېږي او دا د هغـه د تلپـاتې زرغونـوالي تضمین کـوي. د اوبـو دغـه پرېمانـي ان کلـه کلـه ددغـه میـدان پـه کـوزنۍ برخـه کې پـه تېره پـه ښـار کې، چې یـوه برخـه یې د پـسرلي پـه بـارانونو سره تـر سیلاب لانـدې کېږي، د نـاارامۍ لامـل هـم کېږي.

Property of ACKU

په ټولیز ډول دغو لاندنیو ته د پېښور قومونه ویل کېږي: محمدزیان، ګګیاني، مومند، خلیل او داودزي.

محمدزي او ګګیاني د کابل سیند د یوسفزیو په خوا کې اوسي. د دوی مېشت کېدل دمخه بیان شوي دي. د دوی کړه وړه یوسفزیو ته ورته دي، خو دوی پاچا ته تابع دي او د خپلو مشرانو تر دقیق حکم لاندې ژوند کوي.

د محمدزیو عمده ځای اشنغر دی، چې یا به د یوه ښارګوټي په توګه وګڼل شي او یا یو بل ته ډېر نږدې کلي. محمدزي اته زره او ګګیاني پېنځه زره کورنۍ حساب شوي دي.

هغه درې نور قومونه یې غوري، یا غوریاخېل دي، د پېنځلسمې پېړۍ په مینځ کې دوی د غزني په لویدیځ کې د ترنک رود پر غاړه مېشت وو او د بابر په وخت کې (د هجري قمري ۹۱۵ کال په شاوخوا کې) همدارنګه مومندان د غزني په سهیل کې پراته وو. داسې ښکاري، چې دوی په هغه وخت کې که ټول پووندہ نه وو، یوه برخه یې پووندہ وه.

دوی د بابر د زوی کامران د سلطنت په دوره کې پېښور ته لاړل او ددغه پاچا په مرسته یې دلازاک له اباسین نه هغه خوا وشړل. اوس د هغه قوي او بې شمېره قوم نه یوازې یو څو کلي د اباسین په لویدیځ کې آباد دي، بلکې ددغه سیند د هند په خوا کې یو څو زره دلازاک شته دي.

دغه قومونه په اوار میدان کې د استوګنې له امله باید هرومرو د پاچا پوره تابع شوي وي. په حقیقت کې دوی د پښتنو ډېر تابع قومونه دي او په نتیجه کې دوی زېښبل (استثمار) کېږي او دوی دغه زېښناک په پوره صبر زغمي. هغه لوی ظلم، چې په دوی کېږي هغه وخت وي، چې پاچا په پېښور کې وي او پوځ یې د دوی کښتونه تالا کوي. دوی دوه ځله یاغیان شوي او ویل کېږي، چې اوس ځواړي د حکومت حکمران له خپلې سیمې څخه وشړي او په دغه اړه د یوسفزیو د آزادۍ پېښې وکړي، چې دوی یې په یقین سره ستایي او رخه پرې لري.

د قوم مشران دلته د آریایانو په نامه یادېږي. د دوی واک په بېلابېلو قومونو کې سره توپیر کوي. په مومندو کې د مشرانو واک تر نورو ډېر دی. د افرادو ترمېنځ وړې شخړې د مشرانو یا جرګې له خوا فیصله کېږي، خو ټولې مهمې قضیې یا قاضي یا د ښار سردار فیصله کوي. په ټولیز ډول په پېښور کې آرامي ډېره ده، خو په اوږي کې چې پاچا او پوځ یې نه وي، د برو درانیو د ناارامۍ نښې ښکاري او دغه قومونه زیات وخت د کښتونو لپاره د اوبو په سر، سره جنګېږي.



Property of ACKU

## د دوی کوروڼه، جامې او عادتونه

د پېښور د قومونو کوروڼه، خواړه او د ژوندانه عادتونه د یوسفزیو له کوروڼو، خوړو او عادتونو سره ورته دي. د دوی جامې هم څنګه چې د پښتنو او هندوستانیانو د جامو مخلوط دی، سره ورته والی لري. دوی په ټولیز ډول په ژمي کې د خمتا آسماني رنګه توري ګراتې (چکړې، کچړې) اغوندي او د اوړي په رسېدو سره یې اېسته کوي او هغه وخت یو اوږد کمیس او یو سپین یا آسماني رنګه لنګوټی په سر تړي او دغه د خلکو د زیات شمېر جامې دي. یوه لونګی چې یا په ملا پورې تړل شوې وي او یا د اوږو د پاسه اچول کېږي، ټل د دوی د جامو یوه برخه ده. دوی که څه هم د بروړدرانیو له جنګي روحیې څخه بې برخې نه دي، د دوی کره وره په ټولیز ډول نرم، مهربان او بې ضرره دي.

د دوی ذهنونه په نهایت درجه فعال او چټک دي او دوی تر ټولو پښتنو لږ څه ساده او غلطی ته ډېر متمایل دي.

ما دمخه ددې ذکر کړی، چې پېښور د کابل د پاچایانو د ژمي مرکز دی. شاه شجاع په ځانګړې توګه ددغه ځای او خلکو سره مینه لرله او دغه خلک هم په قوي او تلپاتې ډول د هغه پلویان او ورسره یې کلکه علاقه لرله.

د مومندانو هغه څانګه، چې په سمه کې اوسي، نږدې دولس زره کوره حساب شوي دي. دوی له برو مومندانو سره د قوم او نسب پرته نورې اړیکې نه لري.

خلیل شپږ زره کورنۍ او داودزي لس زره کوره شمېرل شوي دي. ددغه میدان نور اوسېدونکي هندکیان دي او ټول اوسېدونکي یې باید له (۳۰۰۰۰۰) تنو څخه ډېر وي.

## خټک:

هغه ټوټه سپېره ملک، چې د اباسین او پېښور ترمېنځ پروت دی، د خټکو او یوسفزیو ترمېنځ وېشل شوی دی. لومړی یې د کابل د سیند په سهیلي ملک کې مېشت دي. چې په ټولیز ډول غرنی یا ډبرین دی، خو له څه اوارې او شنو چمنو او وښیانو څخه خالي هم نه دی. په تېره د سیند خوا یاني چېرته چې ځینې ښکلي ځایونه دغسې ونې لري، چې ټل شنې وي او دلته دغسې هندي ونې هم شته، چې سیسو (Seessoo) نومېږي. دغه ملک اباسین ته په نږدې کېدو سره کلکېږي او کلی یې لږ لوی دي. ډېر ستر ځای یې اکوړه نومېږي، چې ښاېسته ښار ګوټی دی او یو سوتره مسجد او له کاڼو نه جوړ یو ښکلی بازار لري.

خټکو ددغه ملک ښه ډېره برخه نیولې ده. د دوی ملک د کابل له سیند نه د مالګې



Property of ACKU

تر غرونو پورې نږدې اویا میلو په اوږدو غځېدلی دی. سور یې نږدې پینځه دېرش میله دی. د دوی ټولیز سرحد ختیځې خوا ته اباسیند دی. که څه هم د دوی یوه قومي څانگه له سیند نه هغه خوا د مکود (Makkud) په ښار گوټي او سیمې کې مېشت ده، لویدیځې خوا ته یې د پېښور قومونه، خیبریان او بنگښ پراته دي، په سهیل کې یې بنو او د دامان لوهاني پراته دي. دوی داسې دوه بېلې بېلې څانگې لري، چې سره پوره توپیر لري، که څه هم مشران یې یو تر بله سره تړرونه دي.

ختک ښايي د پښتنو په حساب زيات ښوول شوي وي، چې دوی يې د هغو شمالي څانگې لس زره او د جنوبي څانگې دولس زره کورنۍ گڼلي دي. په دواړو څانگوکې د دوی خانان په خپلو ټبرو باندې ډېر اختيار لري، خو شمالي ونډه يې د پېښور د قومونو په څېر تر زياتې اندازې د پاچا تابع دي. په داسې حال کې چې د سهيل خان يې تر ډېره حده آزاد دی او دده دغه آزادي د هغه د ملک د غرونو له لامله خوندي شوې ده.

د شمالي څانگې خلک يې د خپل رښتينتوب او آرام عادت له امله ښه ستايل کېږي. دوی جگ، ښکلي او د پېښور تر نورو قومونو ډېر سپين رنگي دي، خو په خپلو جامو او کړو وړو کې د هندوستان خلکو ته زيات ورته دي.

د سهيلي ختکو ملک سره توپير لري، خو ټول يې غرنی دی او سهيلي برخه يې ډېره غرنۍ ده. دغه ملک له ډبريزو او سپېرو غرونو جوړ دی، چې په ژورو او مخ په ځوړو کليو سره بېلېږي او د بارک (Barak) او ساغر (Sagher) شوک مار ټېرونه پکې په تيت، پرک ډول مېشت دي. شونې نه ده، چې د ملک تر دغې برخې نه بل څه ډېر وېروونکی تصور شي. دلته بل څه نه ليدل کېږي، خو شډل او سپېره غرونه چې په گډوډ ډول سره کوټه شوي دي. بل څه په غوږو نه راځي، خو د مالگينو سيلاوونو ځوږ، چې په ډېرې چټکۍ سره مخ په درو ښکته کېږي. دغه منظره د ونو په کوډلو سره يو څه له مينځه تللې وه، چې د غرونو په سرو کې دوه دوه، درې درې، يو ځای بل ځای ليدل کېږي او ان دغه هم د شلو ميلو په فاصلې کې يو يا دوه ځله تر سترگو کېږي.

د دغه ملک شډل او سېدونکي يا له لاوي څخه تښتي، يا د غرونو په سرونو کې گرځي، چې په مساعدې موقع کې پرې ودانگي. سره له دې هم دغه منظره کله کله د يوې غونډۍ د سطح د پاسه دجوار د يوې ټوټې يا د شنې درې په ليدو سره، چې له ليرې نه تر سترگو کېږي، خوښوونکي وي. دغه درې که څه هم سختې او وېروونکې دي، خو رومانټيک او شاعرانه دي او د ويالو غاړې کله کله د ځنگلي ښووانو په گڼو ځنگلونو په زره پورې ښکاري. د شمال خوا ته نور هم وړاندې په دغه سيمه کې



Property of ACKU

هسک، ډېرین او ګړنګ لرونکي غرونه ولاړ دي، خو د دوی په منځ کې یو څه پراخ او ښه زرغون میدانونه هم موجود دي. ستر میدانونه یې مالګین او لاچي او تیري (Tiri) دي. دغه وروستی میدان د خان استوګنځی دی. د دوی زراعتي محصولات غنم او باجره دي. دوی مالګینې ډېرې په زیاته اندازه صادروي، چې هغه په عمده ډول تیري ته نږدې د مالګې له غرونو څخه راوباسي.

زموږ له ملګریو نه هېچا بارک په سترګو نه و لیدلی، هغوی یوائې له لیرې نه په نظر راغلل. موږ له دوی سره څه مراوده نه لرله، خو دا چې دا اړیکه د دوی له هغه برید څخه پیدا شوه، چې دوی زموږ په هغو کسانو کاوه، چې لار یې غلطوله، موږ ته وویل شول چې دوی یو څه هم ختک وو، له دواړو خانانو مستقل وو او د انارشۍ او ګډوډۍ په حال کې یې ژوند کاوه.

د بارک شمال ته ختک په رنګ تور وو، جامې یې د ځینو هندوستانیو خلکو په څېر وې. خو په کړو وړو کې تر هغو شډل وو. دوی له موږ سره په معاملو کې نرم او نه ربړوونکي وو او اورم، چې دا د دوی ترلیږه ځانګړتیا ده.

## بنګښ

د بنګښ د قوم شمال ته د خیبریانو غرونه، ختیځ او سهیل ختیځ ته یې ختک او سهیل ته یې څه وزیر او لویدیځ ته یې توري پراته دي.

د دوی ملک یوه اوږده دره ده او هغه د داسې میدان په لور پراخېږي، چې قطر یې نږدې دولس میله دی. درې ته یې بر بنګښ او میدان ته یې کوز بنګښ ویل کېږي. میدان یې ښه آباد دی او پرېمانه اوبه لري. ناکښت شوې برخې یې د مزرو په بوټو پټې دي، خو یو څو نورې ونې هم پکې شته او دا ونې د کوهاټ له شاوخوا پرته، چې هغه د دوی د مشر مقر دی، په زړه وړونکیو باغونو کې ولاړې دي. کوهاټ یو ووړ، سوتره ښارګوټی دی، خو هغه په قوم کې د ناراميو له لامله د یوه لوی کلي په اندازه کوچنی شوی دی. بر بنګښ یې اوبه لري او په ښکته برخه کې ښه حاصل ورکوي، خو واړه غرونه یې ستغ او سخت دي.

د بنګښو او ختکو دواړه ملکونه د اقلیم له نظره ډېر متنوع دي. د غرونو ځینې برخې یې کله کله ان د مارچ تر میاشتې پورې له واورو ډکې وي. په داسې حال کې، چې نورې برخې یې لا ان د ژمي په منځ کې یوائې ځینې وختونه سپینې شوې وي او په ځینو باندې یې واوره هېڅ نه اوري. په ټولیز ډول د سلیمان غرونه نږدې واړه او درې یې سړې دي، اوارې یې که څه هم د پېښور په اندول سړې دي، یوائې کله کله واوره لري.

د کوزو بنګښو خلک تر ډېر حده د خان او پاچا تابع دي، خو د برو بنګښو خلک تر



Property of ACKU

هغو لړ تابع دي. ټول بنګښ په څېره کې لړ څه د پېښور د قومونو په څېر دي، خو د خیبریانو په څېر جامې اغوندي. د بنګښو هغه کورنی چې په هندوستان کې څومره غټ نوم ګټلی دی او د فرخ آباد نوابان له هغې څخه راپورته شوي دي. په اصل کې د برو بنګښو د یوه بزګر زوزات دي.

## توري او ځاځي

د برو بنګښو لویدیځ ته توري پراته دي او دوی د هغې درې په اوږدو کې مېشت دي. نو د دوی ملک او حاصلات سره یو شان دي. خلک یې له پاچا نه بېل دي، خو د حېرانتیا ځای دی، چې دوی په پښتنو کې شیعه ګان دي. د برو بنګښو ډېر خلک هم په دغې فرقې پورې اړه لري.

د هغې درې په بیخي بر سر کې، چې نږدې د کورمې په موازي لویدیځ لور ته غځېږي، ځاځي پراته دي او دوی له توریو سره سخته دښمني لري. د دوی دره د سلیمان د غره په سنتې او کلکې برخې کې په اوږدو پرته ده او هغه د توریو له درې نه ډېره تنګه، خواره او سړه ده.

ددغې درې دواړه ډډې د نښترو په ونو ډکې دي او د وزو رمې یې عمده مال دی. اوسېدونکي یې په دغسې کورونو کې ژوند کوي، چې نیمایي په ځمکه کې ښخ دي. د پښتنې شړیو کمیسونه (کچړي، چکړي) اغوندي او د کال په زیاتې برخې کې د شپې او ورځې اور بلوي. له اباسین نه پېښور ته یوه لار ددغې اوږدې درې په اوږدو کې غځېدلې او دغه لاره وروسته له دې، چې د ځاځیو له ملک نه واوړي، د سلیمان د سلسلې په ډېر لوړ غاښي (کوتل) کې له یوه تنګي نه د غزني ختیځ قطب پلو ته په هسکو ملکونو کې ننوځي.

## عیسی خېل

نه ځاځي او نه توري په برو درانیو کې راځي او دغه لاندیني قومونه په ټولیز ډول د دامان په قومونو کې شمېرل کېږي. خو دوی له هغو قومونو څخه په دومره ډېرو اړخونو توپیر لري، چې ښایي د مطلب د اسانۍ لپاره دلته د هغو یادونه وشي.

هغه قومونه دا دي: عیسی خېل، شیتک (Sheotuk's)، بنوڅي (Banoussi)، دوړ او خوستیان. درې لومړني قومونه یې د ختکو د ملک سهیل ته پراته دي او هغه نور یې د توریانو سهیل ته. دامان د دوی په سهیل کې پروت دی. د عیسی خېلو ملک د اباسین په اوږدو کې تر دېرشو میلو زیات غځېدلی دی. سور یې دولس میله دی او په درېو خواو کې لوړو غرونو په غېږ کې نیولی دی. دا یو ډېر غني ملک دی، پرېمانه اوبه او ګڼ نفوس لري، ډېر ښه کښت پکې کېږي، ویالې یې دومره ډېرې او دومره سوروړې او ژورې دي، چې لارې په زیاته اندازه بندوي. کلي یې چې ډېر لوی



Property of ACKU

دي، په ونو ښه شنه او زرغون دي. ډېر کورونه یې ښه اخېړ شوي دي. په اباسین کې ځینې لوی ټاپوګان هم په عیسی خېلو پورې اړه لري. ډېر یې کرل کېږي او څه یې د کرنې لپاره سمېږي. غنم د ټول ملک ستر حاصل دی.

عیسی خېل د شاهي واک پروا نه ساتي او په خپلو کې یو کمزوری حکومت لري، دوی ضعیف لا روي چوروي او له قوي لا روي نه غلا کوي.

د عیسی خېلو په لویدیځ کې د غرونو شاته یو آوار میدان پروت دی، چې د شیتک د قوم له خوا کرل کېږي او د دوی په اړه زه څه معلومات نه لرم.

## بنو او دوړ

لیرې د لویدیځ خوا ته په هسکه کې بنو پروت دی. بنو یو پراخ میدان دی، چې د کورمې په سینه خړوبېږي، بنو ډېر کلي لري او د جوارو په زرغونو کښتو پټ دي. په اوړي کې تود دی، خو په ژمي کې داسې سوړ دی، چې انسان یې زغملی نه شي. حاصلات یې شولې، غنم او جوار (ډېر پرېمانه)، ګنی، تمباکو، کورکمن (Turmeris)، زنجبیل او د خوړو یو څو دوله سابه دي. له ختکیو، توتانو، نارنج باب او غټ لیمو پرته نور مېوې نه لري. غرونه یې یا سپېره یا یوازې په وښو بوټو پوښل شوي دي. په میان کې د غز ډېرې لوېې ونې او یو څه هغه اغزن بوټي، چې په هندوستان کې ډېر شنه کېږي، پیدا کېږي. د وحشي ځناورو په جمله کې یې وحشي چرګان، وحشي پسونه او داسې ژوي، چې په فارسي کې د پازن (Pazen) په نامه یادېږي، شته دی خو ډېر عجیب یې داسې وحشي سپي دي، چې کورنیو سپیو ته بالکل ورته دي او په ډله ییزه توګه په څلورو یا پینځو جوړو کې ګرځي.

خلک یې له بېلابېلو قومي څانګو نه متشکل دي، چې د اصل او نسب له پلوه سره تړلي نه دي او په خپلو کې یو ګډ حکومت نه لري. دوی په تلپاتې دښمنیو کې سره ژوند کوي. دوی د پاچا د واک یو څه پروا ساتي. یوه لویه لاره یې له ملک څخه تېرېږي. خو لا روي زیاتره د دوی په ملک کې ربړ وړینې. د هر کلي خلک په داسې ډېر تینګار سره غوښتنه کوي، چې ردول یې ښايي زیان ورسوي.

له بنو نه پورته، چې له هغو نه په غرونو بېل شوی دی، د دوړو اوږده تنګه دره پرته ده. دوړ د ځدرانو تر ملک پورې د سلیمان دغرونو په لمنو کې غځېدلي دي. ګڼ خلک او دېوال لرونکي کلي لري. دوی تل له یوه بل سره په جنګ وي. ددغه ځا یو قوي سړی کولای شي د یوه ضعیف شخص اولاد د غلامانو په څېر وپلوري. په دوی کې حکومت یا په هیڅ ډول مېنځ ته راتلی نه شي او یا دومره اغېزناک نه وي. دوی په زړه بدوونکیو فسادونو شهرت لري او په واقع کې د دوی په کړو وړو کې سیاسي کوم شی نه لیدل کېږي. د بنو د خلکو کړه وړه هم دومره ښه نه دي او ملایان یې لکه



Property of ACKU

څنګه چې په دغسې ملکونو کې معمول دي، ډېر قدرت لري او دوی له دغه قدرت نه د ناوړې استفادې موقع له لاسه نه ورکوي.

د دوړو قطب ته د کورمې او د هغه ترمېنځ خوست پروت دی. خوست یو وړ ملک او د دوړو او بنو په څېر د بېلابېلو نسبونو ډېر واړه قومونه پکې مېشت دي. خوست هم د دوړو په څېر ښه هسک دی، خو له هغو نه په غرونو سره بېل شوی دی. خوست د پاچا تابع دی او د یوه خېل مشر له خوا اداره کېږي. دغه مشر د پاچا د سردار د نایب په توګه عمل کوي. سره له دې هم په خوست کې دننني اختلافات ډېر شدید دي او د خوست ټوله وادي په دوو ګوندو سپین ګوند او تور ګوند سره وېشل شوې ده. دغه ګوندونه د یوه یا بل د غړیو د جنګونو له لامله په تلپاتې توګه د جنګ په حال کې دي.

د خوست ختیځ لور ته ډرګی یو وړ ملک پروت دی او یو قوم چې تنې نومېږي، پکې اوسي او زه د هغوی په اړه د دوی له نامه پرته بل څه معلومات نه لرم. په هغو غرونو کې چې دغه څلور وروستي ملکونه یې احاطه کړي دي. د وزیرو غرنی قوم اوسېږي.

* * *

Property of ACKU

# دویم څپرکی

## ختیځ قومونه

### د دامان قومونه

دامان په ډېر پراخ مفهوم سره له ټولو هغو ملکونو څخه جوړ دی، چې د مالګې د غرونو، د سلیمان د غرونو، د اباسین او په برسند کې د سنګر په مېنځ کې پراته دي. ما دمخه ددغې سیمې هغه برخه بیان کړې، چې د کورمې او ګومبېلې (Gombela) په قطب کې پرته ده، نو اوس غواړم پاتې یې بیان کړم. پاتې برخه به یې په درېو برخو ووېشل شي: د اباسین اوار میدانونه، چې په ټولیز ډول بلوچ پکې مېشت دي، او مه ګل واد (Meuckelwaud) نومېږي[1]، د مروتو ملک او هغه میدانونه او وړې غونډۍ (د هسکو غرونو په شاوخوا کې) چې خاص دامان جوړوي.

مه ګل واد د اباسین په اوږدو کې نږدې تر یو سل او شل میلو پورې غځېدلی دی. کمکی بر یې له پېنځه ویشتو څخه تر دېرشو میلو پورې رسېږي. مه ګل وا د نرمې خاورې، اوارې سطح او ب وښو اوار میدان دی، خو د (Tamarisk) غزاو همدارنګه اغزن بوټي، چې په هندي کې ورته کوریل (Kureel) وايي، دلته او هلته مونډل کېږي. همدارنګه دغسې یوه ونه، چې جات (Jaut) نومېږي او قد یې له پېنځلسو څخه تر شلو فوټو پورې رسېږي، یو ځای بل ځای مونډل کېږي. ددغه میدان خاوره، چې ډېره تر پښولاندې شي د سپین بخونو وړو دوړو په شکل اوړي. داسې ښکاري، چې دغه خاوره به د سیند له چونې څخه جوړه وي، چې په اوړي کې ددغه ملک په ډېرو برخو کې په ډېر مقدار سره لیدل کېږي. همدا مهال غرنۍ وربالې،

[1] مه ګل واد بلوچي یا هندکي نوم دی، ډېر لږ استعمالېږي او ښايي پښتنو ته معلوم نه وي.



Property of ACKU

چې د واورو په ویلې کېدو سره ډکېږي، راښکته کېږي او ټولې اوارې له اوبو نه ډکوي. د اوارې په سر اوبه کله کله ژورې وي، خو د ځمکې له بڼې نه داسې ښکاري، چې هغه تر ډېرې مودې پورې پاتې کېږي او هغه داسې وي لکه د وچ شوي ډنډ په تل کې چې وي. میدان له سوړو نه ډک وي او په ټولو برخو کې د اوبو په ویالو په نښه شوي وي او سیند ته نږدې له هغې نه ښې تنگې درې جوړېږي.

د سیند غاړې یا د غرو لمنې د ټیټو ونو په گڼو ځنگلونو پټې دي، یا کله کله له جگو ونو او ځینې وختونه له اغزنو بوټو سره گډې وي. وحشي سرکوزي، سرکوزي ته ورته غرڅه او د ښکار هر ډول ژوي پرېمانه لري.

د کلیو په شاوخوا کې زیات وخت د خرما د ونو لوی ځنگلونه وي او دغه ونې په ټولې اوارې کې پراځینې جگې ونې دي. په کوم ځای کې چې کرنه کېږي، هغه ډېره شتمنه وي، خو د اوارې ډېره برخه یې شاړه پرته ده او دا په دې لامل، چې اوسېدونکي یې خوار دي او حکومت یې خراب دی. ددغه میدان سهیلي برخه ډېره ځنگلې ده، قطبي برخه یې شگلنه ده. په دغې برخې کې هغه ډول اوښان چې په هندوستان کې موندل کېږي، په زیات شمېر روزل کېږي.

تر ټولو لوی ښار یې د اسماعیل خان ډېره ده. دا ښار د حاکم مقر دی. دی بلوچ دی، چې ددغه ولایت د لیه (Lya) د کورنۍ له خوا ټاکل شوی دی.

اوسېدونکي یې بلوڅان او جټان دي، دوی په رنگ تور، په ځان نري او په جسم کې واړه دي. د دوی عادي جامه په اوړي کې تور رنگه خمتا او په ژمي کې دوړین ټوکر خړ رنگه یا برگه لوپه کورتی ده. دوی پاچا او د هغه استازي ته پوره ایل دي.

## مروت

د مروتو ملک له شگو او وچو اوارو څخه، چې په یو لړ غونډیو بېلېږي، جوړ دی. د کښت لپاره په بشپړه توگه په باران اتکا لري، اوسېدونکي یې په ډېرو برخو کې ان مجبور دي خپلو کورنیو ته له څو میلو لرې ځایونو څخه اوبه راوړي.

د مروتو نیمایي برخه مېشته ده او په کښت ژوند کوي. بله برخه یې د خپلو اوښانو له پادو سره گرځي او په عمده ډول د ونو د پاڼو په داسې موقتي کوډلو کې ژوند کوي، چې دېوالونه یې له اغزیو او بامونه یې له وښو څخه جوړ دي. یو څو یې په ډېرو خرابو تورو خېمو کې ژوند کوي. دوی ښه لوړ او سپین خلک دي او ښه آزاد او پراخ پرتگونه اغوندي. یو بل شی په اوږو اچوي او دسمال تر خپلو سروو تاووي.

د دوی ملک نږدې پینځه ډېرش مربع میل دی، چې له بنو څخه تر مه گل واد او له سلیمانیه غرونو څخه د هغو ټیټو غرونو سلسلې پورې رسېږي، چې لارگي (Largee) له اباسین څخه بېلوي، خو اوسېدونکي یې خوار او تنگړي دي.

Property of ACKU

په هغې ورې تړانګې کې، چې د دغو ټیټو غرونو او اباسین ترمنځ پرته ده، د خایسور (Khayssore) په نامه یو کوچنی قوم اوسېږي.

خاص دامان چې د مروتو په سهیل کې پروت دی او د سلیمان د غرونو په بیخ کې غځېدلی دی او وزیر، شیراني او زمري پکې اوسي، له مه ګل واد سره په اوږدوالي کې برابر دی، خو سور یې له لسو میلو څخه تر دېرشو نه ډېرو میلو پورې مختلف دی. ټول اوسېدونکي یې دولت خېل، ګنداپوري، میاخېل، بابړ او ستوریاني دي. له ګنداپوریو پرته دا هغه قومونه دي، چې د لوهانیو تر ټولیز نامه لاندې راځي. عیسی خېل، مروت او خایسور هم په دغه نامه کې شامل دي.

د مروتو سهیل ته ورڅېرمه ګنداپوري او دولت خېل پراته دي او لومړنی یې تر نورو په ختیځه خوا کې دي. د دوی ملک دمه ګل واد په څېر دی، خو تر هغه ډېر ښه کرل کېږي. په تېره د دولت خېلو ملک، چې په عادي کلو کې د ګومل ټولې اوبه د خپل کښت لپاره په کاروي. ګنداپوریان یو څو لوی کلي لري، چې ستر یې کلاچي، توک وارا او لوني دي. تک د دولت خېلو لوی ښار ګڼي دی.

د دولت خېلو په لویدیځ کې تتوړي (Tutorees)، میاني، بېټني (Bitnees) او نور هغه یو څو قومونه پراته دي، چې دولت خېلو ته تابع دي. د دوی ملک هغه ملک ته ورته دی، چې اوس یې ذکر وشو خو تر هغه وچ، تر هغه خراب کرل شوی او د هغه لویدیځې لورې غرنۍ دي.

هغه لویه لاره، چې د کابل په لور ځي، له اټک نه اوړي تر ډېره حده د ګوملې د سیند په اوږدو کې پرته ده او له یوه غاښي څخه اوړي، چې د غولیري (Gholaire) په لار یادېږي.

د دولت خېلو سهیل ته میاخېل پراته دي او د دوی ملک تر هغو نه چې ما یې بیان کړی دی، لږ اوار دی او عمده ځای یې (دیره بند) دی.

له کندهار نه لویه لاره نږدې دېره بند ته په (زرکاڼي) کې له غرونو څخه تېرېږي او د زاویې په لار له یوه غرنۍ او سخت ملک نه اوړي. د میاخېلو سهیل ته د بابړو ملک پروت دی. دغه ملک هغو ته ورته دی، چې همدا اوس یې بیان وشو. د دهني (Dehenh) دره د سلیمان د غرونو له سلسلې نه په هغه باندې راوځي او یوه ویاله ترې راوځي، چې کښتونه پرې خړوبېږي. خراسان ته یوه لار له همدغې درې څخه تېرېږي، خو په دې لار د غولیري په شان ډېر تګ راتګ نه کېږي.

د بابړو سهیل ته د ستوریانو ملک پروت دی، ددغه ملک یوه برخه د دامان په اواره کې راځي او د بابړو د ملک په څېر د سهیل په لور تر هغه ډېره کلکه، ډېره وچه او ډېره شاړه ده. نوره یې د سپېرو شګلنو کاڼو د غرونو یوه ټیټه لړۍ ده، چې د سلیمان د غرونو د سلسلې په اوږدو کې روانه ده او تر هغه وراندې خوا د غرونو او

Property of ACKU

بې حاصله ملک یوه برخه پرته ده. د بابړو لوی ځای چوډوا (Choudwa) او دستور یانیو عمده سیمه اورمک (Oarmuk) ده.

ددغو ټولو ملکونو پیداوار هغه دی، چې په هندوستان کې پیدا کېږي. باجره، جواري او غنم یې ډېرې ټولیزې غلې دانې دي. دلته ډېر بوکان لرونکي اوښان څه نا څه د هغو قومونو له خوا، چې ټیمایي کال په دامان کې اوسي، روزل کېږي. د دوی تر عمومي اوښانو په رنګ کې ډېر تور دي، اندامونه یې د هغو له اندامونو څخه ډېر قوي او لنډ دي او د کار لپاره په غرونو کې تر هغو ډېر ښه ګټل شوي دي.

د دامان د ډېرو برخو وابښه پرېمانه او ډېر ښه دي. د ژمي په موسم کې ډېر کوچیاني قومونه ځان ته کاږي. په هغه وخت کې یې اقلیم په زړه پورې سوړ دی، خو د اوړي تودوخه یې حد نه لزي.

## د دامان د قومونو کړه وړه:

د دامان د قومونو ګډې ځانګړتیاوې به په دې ډول ښه وښودل شي، چې هغوی د ختیځو پښتنو له نورو قومونو سره پرتله کړای شي. دوی په ځیرو کې تر برو درانیو څه توپیر لري، په دې چې دوی د غنمو هډوکو خاوندان دي. زیاتره سپین رنګي دي او تل اوږدې څڼې او ږیرې لري. که څه هم د دوی د اوړي جامې نږدې د هندوستان د خلکو په څېر دي، دوی هندوستانیو ته تر ټولو لږ ورته دي. دوی ددې پرځای چې نخې ټوپۍ په سر کړي او اوږد ارت کمیس واغوندي، د سپینې خمتا داسې تنګ کالي اغوندي، چې تر ټټره پورې یې کلک نښتي وي او له زنګانه، نه یې یو څه ښکته رسېږي. دوی ان په ژمي کې هم لنګوټې په سر کوي، خو هغه بېخي غټ او سست وي. په داسې حال کې چې د هندوستانیانو پګړۍ د دوی په سر ښه شخه تړل کېږي، یو ځانګړی شکل لري او یو څه ذوق او لطف هم پکې مراعات شوی وي. دوی په همدغه موسم کې هم د وړیو نه جوړ نسواري او خړ رنګه اوږده پوستینونه اغوندي. د دوی کورونه، خواړه او د ژوندانه عادات برو درانیو ته ورته دي، خو دوی تر هغو ډېر په غوښو، کورتو او د څارویو په نورو محصولاتو ژوند کوي او تر ډېرو نورو شکلیاتو ته لږه توجه لري. هر راز لوبې کوي او خپلو ښځو ته اجازه ورکوي، چې له کوم قیده پرته د عمومو په محضر کې ښکاره شي. ډېر یې کوچیان دي او نږدې ټول یې یا سوداګر او یا مال وړونکي دي. د هر قوم یوه برخه په هر پسرلي کې خراسان ته ځي. دوی ددغو او نورو علتونو له لامله تر برو درانیو زیات د هغه ملک ګډوله کړه وړه لري. که څه هم له هندوستان سره د خپل اصلي ارتباط قوي نښې ساتي. دوی په ټولیز ډول ساده او ریښتیني دي او په ټولیز ډول تر هغو قومونو، چې زه یې ورسره پرتله کوم، لږ لانجه مار، لږ متعصب، زغمونکي او په ناوړو چارو باندې لږ رووږدي دي.



Property of ACKU

## د دامان اداره:

ځنګه چې د دامان قومونه د شاهي قدرت له مرکزه لیرې پراته دي، د حکومت کنټرول په دوی لږ دی. داسې ښکاري، چې ځینو یې په دغو پنځوسو کلونو کې د یوسفزیو په څېر د انارشۍ په حال کې ژوند کړی وي، خو دغه حال تر زیاته حده پخپله د دوی له خوا د موقتي اداره چیانو په انتخاب سره سم شوی دی. دغو اداره چیانو ته پوره اختیار ورکړ شوی، چې عامه امنیت خوندي کړي، خو د خپل انتخاب د مودې د لنډوالي له لامله نه شي کولای له هغه نه د داسې یو مقصد لپاره استفاده وکړي، چې د قوم له آزادۍ سره ټکر کوي. دغه اداره په حقیقت کې د دامان د قومونو هغه خاصه ده، چې تر نورو پښتني قومونو یې ښه ممتازه کوي. دغه رواج له دوی پرته په ټولو دغو قومونو او همدارنګه د شیرانیو په غرني ګاونډي قوم غلبه لري. همدارنګه دغه رواج د کټواز په غلزیو او ناصرو کې هم شته، خو په نورو هغو قومونو کې چې زه د هغوی په اړه معلومات لرم، درک نه لري.

دغه اداره چیان په ځینو قومونو کې د ملکانو په ځینو نورو کې د کورنیو د مشرانو له خوا ټاکل کېږي. دوی د خپل شخصي سیاست، د خپلوانو د شمېر او په قوم کې د ټولیز اهمیت لرلو له لامله ټاکل کېږي او د امنیت د ساتلو پوره اختیار لري. همدارنګه دوی ددې اختیار لري، چې د امنیت متخلفین په جریمه کولو او ان په ځینو قومونو کې په جسمي جزا مجازات کړي. دوی له هر خېل نه په ټاکلي اندول ټاکل کېږي او دغه اندول په لومړي سر کې داسې ترتیب شوی دی، چې باید د ځلوېښتو شمېر پوره کړي او له همدې لامله یې هغه ته د ځلوېښتی نوم ورکړی دی. دغه اداره چیان د یوه داسې کس تر حکم لاندې دي، چې هغه ته د ځلوېښتی میر ویل کېږي او دی هم د نورو په څېر ټاکل کېږي. د ځلوېښتیانو میر موظف دی د خان قانوني امرونه نافذ کړي، دعوی او شخړې په خپل حکم فیصله کړي او ان په ځانګړې توګه خان ته هم د ګډوډیو پیدا کولو له لامله جزا ورکړي. ټول قوم هر وخت دده د ملاتړ لپاره حاضر دی او څه وخت، چې ځلوېښتیان ټاکل کېږي، ده ته په قسم کولو ځانونه مکلفوي. دده مقام د ښه قدرت او ګټې مقام دی، ځکه چې ټولې هغه جریمې چې ټولېږي د ځلوېښتیانو په مینځ کې وېشل کېږي. د میر اختیار په نورو ځلوېښتیانو باندې دومره مطلق نه دی، چې دی په دې برلاسی کړي چې د قوم د یوه غړي په قیمت شخصي انتقام واخلي یا خپله ګټه خوندي کړي[1] دده منصب په

Property of ACKU

[1] میاخېل قوم څلور میران لري او څلور واړه یې د واک له پلوه سره برابر دي، خو ددغه ترتیب خاموالی کله کله له هغو اختلافاتو څخه معلوموېږي، چې دا لازمه ګرځوي چې هغه د ملکانو په یوې جرګې حل شي. دغه جرګه جنجال حل کوي او هغه میر چې ښکاري په غلطه وي، جریمه کېږي.

ټولیز ډول د یوه کال لپاره دوام کوي، خو کله دی یواځې ددې لپاره ټاکل کېږي، چې په کوم مارش کې مشر اوسي یا د یوه جنگ قوماندو په لاس ولري او دده اختیار هغه وخت تمامېږي، چې هغه څه یا موقع چې دی د هغه له لامله ټاکل شوی وي، پای ته ورسېږي. ځینې وخت په تېره بیا د ډېرې ارامۍ په وخت کې هغه همدغسې پرېښودل کېږي، چې پخپله له منځه لاړ شي، خو هغه گډوډي چې ډېر زر بیا راولاړېږي، قوم یې په پرېښودلو خواشینی کېږي او هغه بیا هوډ نیسي، چې بېرته یې ژوندی کړي.

دغه اداره په هغو قومونو کې نښته چې په ښه ډول کولای شي د خلکو د ناړامۍ مخه ونیسي. مسلماً له هغې نه مقصد دا دی، چې د موروثي مشرانو د ضعف ناوړې اغېزې سمې کړي او هغه په داسې شکل سره د پلارواکۍ له حکومت نه د جمهوریت په لور لومړنی گام گڼل کېږي.

دامان هم د پلارواکۍ له حکومت نه نظامي استبداد ته د لېږد یو مثال شمېرل کېدای شي، خو څنگه چې دغه تحول د نورو په شان هغومره اسان او طبیعي نه دی او څنگه چې دغه بدلون تر یوه حده په باندنیو لاملونو سره متاثر شوی دی، ښایي هغه نور هم ښه شرح شي.

## دولت خېل:

په پخوا وختونو کې دولت خېلو یو موروثي خان لاره، چې ښکاري قوم یې ورته په درنه سترگه کتل، خو دده واک ورو ورو لږ شو او قومي حکومت لومړی د ملکانو او وروسته د خلکو په لاس ورغی. په دغه وخت کې دولت خېل د انارشۍ په هغه حال کې وو لکه څنگه چې ما د یوسفزیو حال شرح کړ. دوی څلویښتیان نه لرل او هېڅ د موروثي واک پروا نه ساتله، خو دوی مجبور وو یو داسې شخص وټاکي، چې د پاچا له سردار سره د دوی چارې تنظیم کړي او که څه هم دغه شخص زیات اختیار نه لاره، بیا هم دده اختیار تر هر بل فرد نه زیات و او خان ورته ویل کېده. دی د قوم له ټولو کورنیو نه بې له کوم توپیره انتخابېده او دغه انتخاب کله کله د پخوانیو خانانو د اولادې نصیب کېده.

## د کتل خان په زور نیونه:

د تېر نسل په پیل کې حال همدغسې و، کتل خان په همداسې وخت دغه مقام ته ورسېد او دده د هغه وخت د دامان د سردار مددخان پام دومره ځانته واړاوه، چې ورېې غوښتل د هغه په مرسته ځان د خپل قوم واکمن کړي. لومړی یې زیار وایست، چې خپل ځان محبوب وگرځوي، د همدغه موخې لپاره یې دولت خېل د خپلې شاوخوا د ورو قومونو په ایل کولو بوخت کړل. د جنگ قوماندانې پخپله ده ته وسپارل شوه.

Property of ACKU

په دې ډول ده موقع ترلاسه کړه، چې لښکر جوړ کړي. د دولت خېلو وندې او له ایل شویو قومونو څخه ترلاسه شوی غنیمت او نورو دده لپاره د پوځ د ساتلو وسایل برابر کړل. ده په دغو وسایلو سره له نږدې درې سوه بلوڅانو او سندیانو یو لښکر جوړ کړ او د یوه حصار په جوړولو یې پیل وکړ. له هغه وروسته ده ځان خوندي وګاڼه او له ټولیز رعیت څخه یې د مالیاتو ټولولو حقوق د ځان کړل او په خپل قوم باندې یې زور زیاتی پیل کړ.

دده قوم په لومړي سر کې له ډاره دده حکم ته غاړه کېښوده، تر دې چې ده برالا د یوه واکمن ځانګړتیا غوره کړ او خلکو ته یې امر ورکړ، چې هر سبا دده دربار ته د احترام د اداکولو لپاره حاضر شي. دوو ملکانو چې کتل خان هغوی ته د درناوي د اداکولو وړاندیز وکړ، سر وغړاوه او کتل خان ورته ګواښ وکړ، چې که دوی دوه سهاره حاضر نه شول، په دریم سهار به یې سرونه په خپلو ورو ځړول شوي وي.

ملکان چې څنګه لاړل، په بیړه یې د رعیت او قوم جرګه وبلله او د کتل خان په نقشو باندې یې بحث وکړ او هغوی یې دده په ضد په یوې دسیسې کې شامل کړل او لوړه یې وکړه. بل سهار ټوله جرګه مسلح شوه او کتل خان یې په خپلې کلا کې حصار کړ. د درېوو ورځو له کلابندۍ وروسته، چې ډېر خلک پکې ووژل شول، په کلا کې اوبه خلاصې شوې او د کلا ساتونکي مجبور شول له هغې نه ووځي. پخپله کتل خان په اس سور وتښتېد او یو څو اعتمادي پلیو نوکرانو یې ملګرتوب وکړ. دده د تېښتې خبر زر خپور شو او غلیمان یې هر لور ته پسې روان شول. اته تنه په هغې لارې وخوځېدل، چې کتل خان پرې تښتېده. دده نوکران زر ستړي شول او یواځې یو کس ورسره پاتې شو. کتل خان (زما د راوي په وینا) په دغه وخت کې دغسې یو کوسی اغوستی و، چې یوه درویش ورېښلې وه او د هغې له برکته خپل دغه لوړ مقام ته رسېدلی و. د تېښتې په تلوار کې یې کوسی ولوېد او دده وروستي نوکر ګوډ او شاته پاتې شو. ډېر زر دده غلیمان وررورسېدل او څنګه چې د کتل خان زړورتیا له کوسي سره کوچ کړې وه، ده په استرحام پیل وکړ. ځینو تعقیب کوونکیو یې ځواب ورکړ، چې دوی قسم خوړلی او نورو وویل، چې ده هېڅکله په دوی رحم نه دی کړی او په پای کې له دوی څخه یوه له نیزې سره پرې ودانګل او ویې واژه. د کتل خان ټوله کورنۍ ونیول شوه، ګل خان د دسیسه ګرو یو عمده شخص د قوم مشر وټاکل شو او په دې ډول د دولت خېلو د آزادۍ د خپه کولو لومړنۍ هڅه شنډه شوه.

## د سرور خان په زور نیونه:

سرور خان، د کتل خان مشر زوی په دغه وخت کې د شپاړسو کالو په منګ و، خو د ښې روزنې خاوند و او ښه طبیعي استعداد یې لاره. دی د خپلې مور په مرسته له



Property of ACKU

زندان ته ځنځه وتښتېد او د هغه استدلال له مخې چې یوازې یوه پښتانه ته ورځي، تېغ د گل خان ورور ظفر خان کره په تنواتي لاړ او د ځان د ساتنې غوښتنه یې وکړه. دی د هغه کور ته په دې ډول لاړ، چې هېڅ ونه لیدل شو. ظفر خان د پښتنې ننگ په رښتیاني روحیې سره سمدلاسه پرېکړه وکړه، چې د هغه تنواتی ومني او دی وساتي او دی په لار کې ان د خپل وروړ د نابودۍ پروا هم ونه کړي. پر دې بنسټ دی له هغه سره د مروتو ملک ته وتښتېد او وروسته یې ډېر زر په کابل کې له دربار نه د مرستې لپاره په دسیسې پیل وکړ. د دوی دسیسو زر نتیجه ورکړه او عبدالرحیم خان[1] له څلورو زرو سرېو سره ورستون شو، چې سرور خان د پلار په مقام کېنوي.

گل خان په هغې وخت کې له خپل مقام نه په رښتیا ستړی شوی و. قوم یې یوه ناآرامه ډیموکراسي جوړه کړې وه او گل خان له احتیاط نه ډک ضعیف، خو په ډېرو هلو ځلو سره خپل قدرت په هغو چلاوه. د هغو مالونو په سر چې له کتل خان نه پاتې شوي وو، یو وبلوا جوړه شوې وه او گل خان هڅه کوله، چې د هغه شته خپل کړي. دولت خېل دده د حکومت په اړه په خپلو کې سره غبرېدل او یوه کس هغه توره هم اېستلې وه او ویل یې چې دوی کتل خان ددې لپاره وژلی نه دی، چې تا خپل بادار کړي.

گل خان د ډیموکراسۍ له دوام او په هغه اندازه د سرور خان د بري له لرلید نه په ډار کې و او په خوښۍ یې هغو غوښتنو ته غوږ ونیو، چې سرور خان ورته وړاندې کړې او هغه یې د خپل خطرناک حال نه د ژغورنې یوه خوندي لار وبلله. نو کله چې سرور خان نږدې شو، د گل خان حکومت د شاهي لښکرو د ډار په اثر دولت خېل تسلمېدو ته وبلل. سرور خان په کلکه لوړه وکړه، چې تېرې خبرې به هېروي. دولت خېل په دې راضي شول، چې دی د خپل مشر په توگه ومني. د دښمنې دغه تظاهر تر هغو وساتل شو، چې یوه ورځ ټول مشران سره غونډ شول او اتلس کسه له دوی نه ونیول شول او ووژل شول. گل خان ته په دغه وخت کې څه ونه ویل شول، خو سرو خان وروسته دی هم وواژه.

## د سرور خان نقشې

اوس نو د سرور خان حکومت ټینگ شو، ټول هغه کسان چې دده مخالف کېدای شول، له منځه واېستل شول او په ټول قوم کې چا د سر غړونې او پاڅون توان نه لاره. دده د خپل دریځ ټینگولو ته لا هم پسې دوام ورکړ او د پلار قاتلان به، چې دده په لاس ورتلل، وژل به یې، تر دې چې دولس کاله دمخه دده ټول دښمنان له منځه لاړل او دده قدرت خپلې هسکې پوړۍ ته ورسېد. له هغه وروسته ده په ډېر انصاف

[1] دا هغه شخص دی، چې وروسته د غلزیو له خوا د پاچا په توگه ومنل شو.

Property of ACKU

او نرمي حکومت کړي دی. دده ټینګ او عادل حکومت په رعیت کې ښه محبوب دی، خو دولت خېل ترې کرکه لري، په دې چې دی د هغوی ازادي خپه کړ.
دی دیر د قاسم خان په څیر ارام نه شي کولای، تر هغې چې د خپل قلمرو شاوخوا ټول واړه ازاد قومونه لاندې کړي. دده لویه نقشه د ګنداپوریانو په ضد ده، چې هغه دده نږدې ګاونډیان دي. دوی په شمېرکې له خپل ټول رعیت سره تر دولت خېلو یو څه لږ دي، خو سرور خان د هغوی ملکانو ته په بدې ورکولو سره تل کولای شي، د دوی د اقداماتو مخه ونیسي او ان که څه هم دوی په کوم جنګ کې په کلکه لګیا وي. د ځلو یښتیانو تر موقتي حکم لاندې د کلیو د خلکو او د سرور خان په څیر د یوه ټینګ شوي حکومت د لښکرو ترمینځ توپیر ډېر دی، خو د سرور خان د نقشو په مقابل کې میاخېل او بابړ که څه هم دوی معمولاً له ګنداپوریو سره کلکه دښمني لري، د دوی د ضد احساس دې ته ترغیبوي، چې له هغوی سره د یوه حریص او د واکمنی د تږي مشر په ضد یو شي او دغه ذریعه تراوسه پورې ددې لپاره چې د هغه قدرت په لازمي حدودو کې دننه وساتي، پوره شوې ده.
دولت خېل له خپل ټول رعیت او لاندې شویو قومونو سره اته زره کورنی کېږي.

## ګنداپوریان

ګنداپوریان موروثي خان او موروثي ملکان لري، خو د دوی واک لږ دی او قوم یې د بیقانونۍ په حال کې ژوند کوي، لاروې شکوي او د هغو ګرځنده قومونه له رمو ګلو نه غلاوې کوي، چې د دوی په حدودو کې دننه کېږي. دوی په خپلو کې هم په پرله پسې ډول جنګونه کوي.
په دغو وختونو کې د دوی وسلې د څېریو ډانګونه دي. په دوی کې مرګونه لږ دي، خو کله چې مرګ کېږي د قاتل له کورنۍ سره د هغه ماتي دښمني پیل کېږي. لکه څنګه چې په پښتنو کې معمول دی، د دوی ولسي چارې د قوم د ټولو کورنیو د مشرانو د یوې جرګې له خوا اوارېږي او هغوی چې پخپله په کوم دلیل په دغې غونډې کې ګډون نه شي کولای، له خپلې کورنۍ څخه یو څوک د خپل استازي په توګه استوي.
هغه وخت، چې دوی له سرور خان سره په جنګ بوخت وي، له خپلو دعوو څخه صرف نظر کوي، یو ځلویښتي ټاکي او دی هر یوه کلي ته ډولچي استوي، چې له وسلې سره د قوم د ټولېدو د ځای او وخت اعلان وکړي، هر هغه څوک چې ګډون ونه کړي، جریمه کېږي.
ګنداپوریان لوی سوداګر دي. د دوی هر کال پنځوس یا شپېته تنه خراسان ته ځي او ددې اندازې ځلور برابره هندوستان ته روانېږي، خو دغسې وضعې په دوی



Property of ACKU

باندې د ښاري کېدو زیاته اغېزه نه ده کړې او د دوی په چلند او کړوړو کې د شډل توب او بې رحمۍ هغه معیار لیدل کېږي، چې ما په نورو قومونو کې هېڅ نه دی لیدلی.

## میاخېل

میاخېل نېږدې درې زره کورنۍ حساب شوي او څلورمه برخه یې بختیاري دي. له دغه قوم نه چې ویل کېږي په اصل کې د دجلې د سیند له غاړو نه راغلي دي او د فارس په سهیل لویدیځ کې یې شمېر ډېر دی، نږدې اووه اته سوه کورنۍ په (دیرابند) او نږدې پینځه سوه کورنۍ په (مرغه) کې مېشت دي. هغه چې په دیرابند کې پراته دي، په میاخېلو کې پوره حل شوي دي. دوی د هغو په جرګو او سود او زیان کې برخه اخلي او نږدې له هغه قوم سره یو ګڼل کېږي. هغه نور ورسره مربوط شوي دي او که څه هم له میاخېلو سره یو شوي نه دي، په دامان کې د جنګونو په وخت کې مرستې ورکوي.

د میاخېلو خان لږ واک لري، دی په دیرابند کې د محصولاتو اتمه برخه اخلي، خو له خپلو رعیتونو څخه په حاصلاتو کې کومه برخه نه لري. ولسي چارې د یو شمېر ملکانو له خوا ترسره کېږي او دوی د خپلو خېلونو ګټې او میلانونه په نظر کې نیسي، په هرې مسئلې کې چې راولاړېږي، هغوی ته مراجعه کوي.

د دوی خان په دې وروستیو وختونو کې هڅه کوي، چې د سرور خان پېښې وکړي، خو په لږ ډار سره. ده هم ځینې بلوچ نوکران ساتلي او یوه کلا یې ودانه کړې ده او په خپل قوم باندې یې د تېري لاس غځولی دی، خو ملکانو له ده سره مخالفت راواخیست، واک یې ورته محدود کړ او د وروستیو خبرونو له مخې دده ځینې نورې هڅې په دې کمې شوې، چې ښایي د خپل قوم له خوا په خپلې کلا کې حصار شي او ښایي اوس دکتل خان په سرنوشت اوښتی وي.

د میاخېلو نیمایي شمېر هر پسرلی خراسان ته ځي، نیمایي نور پاتې، د هېڅ خېل ټول شمېر انتقال نه کوي. ملکان معمولاً د خپلې کورنۍ یو غړی استوي، چې د خپل خېل د ګرځنده څانګې مشري وکړي. دوی ځانله څلویښتیان لري او دوی د جګړې له وختونو پرته په مېشتو خلکو واک نه لري او په جنګ کې دواړه ډوله څلویښتیان په همدې وخت کې د صلاحیت اعمال کوي.

هغه وخت چې ګرځنده میاخېل په دامان کې وي، د دیرابند په شاوخوا کې خیمې وهي او اوښان د (مه ګل وا د) وښلن میدان ته استوي. دوی ددغه امتیاز په مقابل کې محدخان ته د هر ولس په سر یو څه نغده ورکوي. په دوی کې په غریو باندې د معاشونو او د قوم د عایداتو د وېشلو طریقه دلته د یادونې وړ ښکاري، ځکه چې

Property of ACKU

ښایي همدغه طریقه د دامان په ټولو قومونو کې عامه وي.

دغه قوم په څلورو برخو وېشل شوی: یوه برخه بختیاري او درې یې میاخېل دي. د دوی ګمرکي محصولات وروسته له دې، چې د خان برخه بېله شي، په څلورو کوټو وېشل کېږي او د قوم هره برخه یوه کوټه اخلي او هغه بیا وروسته په خپلوانو وېشل کېږي، خو څنګه چې په دوی کې د اشخاصو شمېر توپیر لري، دغه وېش نابرابر دی. د دوی عایدات هم په همدې ډول وېشل کېږي او له هرې برخې نه د څلوېښتیانو برخه اخیستل کېږي.

## بابړ

بابړیان یو ښه متمدن قوم دی. دوی په سوداګرۍ ښه پوه او په ټولېز ډول د دامان په قومونو کې تر ټولو شتمن او غوړېدونکي دي[1].

د دوی خان ډېر واک لري او دوی په پښتنو قومونو کې تر ټولو ارام او تر ټولو ربښتیني دي. تیمور شاه د دوی مرحوم مشر د امین الملک مقام ته لوړ کړی و او دی د هغه پاچا ښه ډېر اعتمادي و. له درانیو پرته د بل قوم سړی په دغه مقام بېخي لږ ویاړل کېږي. د اوارې بابړان نږدې څلورزره کورنۍ حساب شوي دي.

د بابړو یوه لویه څانګه د سلیمان له غرونو هغه خوا په سېره (Sehra) کې اوسي. دغه ملک د شېرانیو ملک ته نږدې پروت دی او بابړیان له دوی سره نږدې اړیکې لري. له هغوی سره په کړوړو او رواجونو کې ورته دي.

## ستوریاني

ستوریاني تر دغو وروستیو وختونو پورې ټول کوچیان وو. د دوی ملک په حقیقت کې د کرنې لپاره دومره وړ نه دی. دوی ډېر وخت نه کېږي، چې دغه ملک د دامان له بلوڅانو څخه ونیو او ژمی به یې هلته اړول او په اوړي کې به یې خپل مېښې او رمې د موسی خېلو کاکړو ملکونو ته بېولې. دغه لېږدېدنې د هغه جنګ له لامله، چې نږدې پېنځه ویشت کاله لومړی د دوی او د کاکړو د یوې قومي څانګې ترمنځ شوی وي، ناراحته کوونکی ثابت شو. په دې چې دوی مجبور وو د هغوی له ملکونو څخه واوړي، نو د ستوریانیو د قوم نیمایي برخې خپلې رمې وپلورلې او په کرنې یې پیل وکړ. . هغې بلې برخې یې د پخوا په څېر خپل عادت ته دوام ورکړ، خو ډېر زر په دې مجبور شول، چې د هغو نورو په لاره روان شي. د نویو او پخوانیو مېشت شویو ستوریانیو ترمنځ له څه جګړو وروسته ټول کروند ګر شول. یوازې دوه

[1] په دوی کې ځیني کسان د (۳۰۰۰۰) پونډو شتو خاوندان دي او دغه پانګه ددغه ملک لپاره ښه ډېره ده. سره له دې هم د دوی ملکیت ښه خوندي دی.

Property of ACKU

ځانګې یې تراوسه هم کوچیاني ژوند ته دوام ورکوي او اوس هم په پسرلي کې خپل مالونه سپوستا (Spusta) ته چې د سلیمان د تخت په لویدیځ جنوب کې دی، خېژوي.

سره له دې هم ډېر ستوریاني تراوسه پورې سوداګر او د مالونو وړونکي پاتې شوي او دا هغسې ژوند دی، چې د ګرځنده پووندو ژوند ته نژدې دی. دوی معمولاً په خرو او غویو مالونه وړي. دوی نېږدې څلور زره کورنۍ حساب شوي دي. د دوی حکومت د پښتنو د ارستوکراسۍ له طرز سره پوره سر خوري، خو په دوی کې د قضا مقام دومره مهم دی، چې د خان په غیاب کې ټول شکایتونه نېغ هغه ته وړل کېږي. قاضي د خان له خوا او د هر کلي ملا د هغه مشر له خوا ټاکل کېږي. د ملا زوی ته چې که هغه د خپلې وظیفې لپاره مناسب وي، ترجیح ورکول کېږي.

د رعیتونو حال په ټولو دغو قومونو کې نږدې یو ډول دی، په ټولیز ډول دوی جټان، بلوڅان او څه هندوان دي. دوی ځمکه نه لري او د هغه چا تر حکم لاندې وي، چې د هغه په ملک کې اوسي لکه څنګه چې فقیران له یوسفزیو سره ژوند کوي، خو دوی په دامان کې د خپل بادار له رضا پرته یو شخص د بل کس لپاره بدلولی نه شي. دغه رضایت په یوه سوغات یا له رعیت نه یا له هغه چا نه، چې غواړي یې، حاصلېدلی شي، خو دوی په خپله خوښه سره کولای شي هغه قوم چې ورپورې تعلق لري، ګردسره ترک کړي. یواځې سرور خان کوښښ کوي، چې له دغه کاره د خپل رعیت مخه ونیسي.

## د دامان د قومونو ازادي:

ټول دامان د پاچا تابع دی، خو دده واک په سختۍ سره تطبیقېږي او داسې ښکاري، چې دی له خپلو مالیاتو پرته د نورو کارو پروا دومره نه لري. د دامان قومونه مجبور دي، چې هغه ته په ټولیز ډول د یو څه پېسو پر ځای یو شمېر سواره برابر کړي. همدارنګه دی په ټول دامان کې له هندوانو څخه جزیه اخلي. داسې ښکاري، چې د دامان قومونه تر هغو چې دی د هغوی په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي، له هغوی سره ښه علاقه لري، خو دوی له هغه لرلید څخه په وحشت کې دي، چې د هغه تر حکومت لاندې راشي او خپله اوسنۍ ازادي یوه بادار ته په تابعیت سره بدله کړي.

محمد خان یو ځل هڅه وکړه، چې میاخېل ایل کړي، ده د دوی ډېر کلي ونیول او د هغوی خان یې تېښتې ته اړ کړ. دغه ټول خان خپلو پخوانیو دښمنو ګنداپوریو ته پناه یووړه. دغه ټول قوم که څه هم په خپلو کې سره ډېر جنګونه لري او سرور خان یې ښه نه ایسي، له مروتو او عیسی خېلو سره په دغې موقع کې په ګډه لکه یو

Property of ACKU

شخص جګ شول. سرور خان يې د خپل مشر په توګه وټاکه او تر هغو وانه وښتل، چې محمد خان يې اړ کړ، له خپلو نقشو نه واوړي.

## نور قومونه:

په دامان کې تراوسه هم د لودیانو او سوریانو د قومونو يو څو کورنۍ شته. سوريان يې د غور په حکمرانې کورنۍ پورې اړه لري، چې يو وخت په اسيا کې تر ټولو زوروره کورنۍ وه. وروستۍ کورنۍ تر ډېر وخت پورې په هندوستان کې پاچايي کړې ده.

دامان په ژمي کې له هغو قومونو پرته، چې ما يې يادونه وکړه، د سليمانخېلو، ناصرو، خروټو او نورو کوچياني قومونو په مينو ډک دي. دوی ددې لپاره چې په ژمي کې د خپل ملک له سختې يخنۍ نه ځانونه وژغوري، هلته ځي. هغوی چې اوښان لري، (مه ګل واد) ته ځي او نور يې چې پسونه لري، په دامان کې پاتې کېږي.

* * *

Property of ACKU

# دریيم څپرکی

## غرني قومونه

اوس غواړم د هغو قومونو پر ژوند رڼا واچوم، چې د سليمان په غرونو کې اوسي او څنګه چې په نظر کې لرم، لومړی له سهيل نه پيل کوم. زه بايد لومړی زمری (چې ددغو غرونو په هغې برخې کې اوسي، چې د ستوريانيو په لويديځ کې پراته دي) بيان کړم، خو څنګه چې دغه قوم له شيرانيو سره ډېر نږدې ورته دي، زه به خپل بحث د شيرانيو په بيان پيل کړم، چې د هغو په اړه زه تر ټولو ښه معلومات لرم، خو بايد ووايم چې زمری کېدای شي د شوکې په عادت ونه نيول شي او په دغه عادت کې شيراني ښه وتلي دي.

### شيراني

شيراني په هغو غرونو کې اوسي، چې د زمريو د غرونو په قطب کې پراته دي. د دوی ملک د بابړو او مياخېلو د سيمو په لور خلاصېږي او وزير يې په قطب کې پراته دي. د دوی د لويديځ سرحد بيان به وروسته راشي.

ددغه ملک ډېره برخه د سليمان د تخت او هسک غره هغو وړو غرو نيولې، چې د هغه له مرکزي برخې څخه راتاو شوي دي او ډېرو برخو ته يې رسېدل ناشونې نه دي. د هغې له لارو څخه يوه يې د غرونو په ډېر سخت او ستغ مخ باندې تېره شوې او نورې لارې يې په ډبرينو غرونو کې په تيرانو سره تېنګې شوي دي. سره له دې هم په دغو لارو بار لرونکې غوايې تېرېدلی نه شي.

خلک يې په داسې کليو کې خواره دي، چې له شلو څخه تر څلوېښتو پورې کورونه لري او کلي يې په درو او د غرونو په لرو برخو کې پراته دي. دوی د وړو

Property of ACKU

غرونو په دړونو کې د خپلو کورونو لپاره ځایونه کېني او په دې ډول په درېو اړخونو کې ځمکه د دېوال ښکتنی برخه تشکیلوي. هره کوډله یوازې یوه کوټه او یوه لاره لري، چې د شپې له مخې د یوې اغزنې ونې په شاوخوا باندې تړل کېږي. دوی ان په ژمي کې هم داسې څیز نه لري، چې خپل کورونه له سړو خوندي وساتي. په دغه موسم کې دوی په داسې حال کې چې د وزو د پوټکو په پوښاک کې یې ځانونه پېچلي وي، اور ته نږدې په تورو ټغرونو باندې څملي، ځنګلونه یې د سوون لرګي په ډېر مقدار وربرابروي او دوی خپل کورونه په شوټیو روښانه کوي.

شیراني په ټولیز ډول په ونه منځني، ډنګر خو غښتلي، سخت سري او فعال دي. څیرې یې زړورې، سترګې یې خړ رنګې او د غمبورو هډوکي یې لوړ دي او د دوی ټولیزه څیره غوسه ناکه او مېړنی ده. د عامه شیرانیو کالي له یوې تورې زیږې شړۍ څخه چې د دوی په ملا پورې تړلې وي او له یوې بلې څخه چې د دوی په اوږو ځړول شوي وي، متشکل دي. دوی داسې څپلۍ په پښو کوي، چې تلې یې په اړرو کې رنګ شوي او په شډل ډول جوړ شوي وي. د دوی جامې د سپین ټوکر د یو څو ګزو په لنګوټې بشپړ شوي وي، چې په سر باندې یې تړي. د ښتمنو جامې تر دغو نه زیاتې ښکلې نه وې، د دوی مشر پرتمین ښکاري، په دې چې دی د ملتان وریښمینې جامې اغوندي.

د دوی معمولي خواړه جواري، کوچ او کورت دي، خو کورت لوکس خواړه دي او یوازې هغو ته کله کله میسر وي، چې پسونه ساتي. د غنمو ډوډۍ یوازې په اخترونو او میلو کې وررسېږي. د خوړو غوښه یې په ټولیز ډول د پسو ده. دوی غوایي هېڅ نه حلالوي، خو کله چې کوم غویی مړ کېږي، دوی یې د اسلامي اصولو په بنسټ حلالوي او بې له شک او تردد نه یې خوري. که څه هم چې قران د هغو حېواناتو غوښه چې له ناروغۍ نه مري، منع کړې ده[1].

شیراني ځنګلي ښوون تازه له ونو نه خوري او وچ شوي ښوون له ځوښولو وروسته صرفوي. دوی ځنګلي انار هم خوري، که څه هم هغه ښه تروه او کرښته دي. همدارنګه د دوی خوراک جلغوزي او ببلابېل توتان دي، چې د دوی په غرونو کې په خپل سر لوېږي.

## د شیرانیو عادتونه

شیراني وختي ودونه، نه کوي. دوی له نورو پښتنو څخه په دې توپیر لري، چې د نجلۍ پلار ددې پرځای چې په خپلې لور پیسې واخلي، ورته برخه او شته ورکوي. ښځې یې یوازې د کور په کارونو کې بوختې وي او د فصل د اخیستلو په وخت کې

[1] قرآن کریم د هغو غوښه نه ده منع کړې. ژباړن

لـه خپلـو مېړونـو سـره مرسـته کـوي. پیـسې پـه دوی کـې ډېـرې لـږې پیـدا کېږي او سوداګري یې په عمده ډول جنس په جنس ده.

دوی نـه کـورنـي مـزدوران او نـه مریـان لـري. همدارنګـه پـه دوی کـې کاسبـان نـه شـته، یو څو هندوان پـه دوی کـې دوکانونـه لـري او غلې، ټوکر، تمباکو، غوړي، خوږو بې او د اوارویـو څـو ډېـر شـډل مـصنوعات خرڅـوي. همدارنګـه لـه دامـان څخـه یـو څـو اوسېدونکي په دوی کې جولايي او د پښتوب چارې ترسره کوي.

د شیرانیو عمده مـشغولیت زراعـت دی، چې پـه درو کـې کېږي. د غرونـو لانـدې پـه ځینـو ځـایونو کـې للمـه کېږي، خـو د دوی نـورې ټـولې ځمکـې د هغـو بنـدونو لـه لارې خړوبېږي، چې د غرونـو پـه درو کـې اچـول کېږي. پـه قـوم کـې لـه مـلا او مشر پرتـه نـور داسې څوک نه شته، چې کار ونه کړي.

شـیراني دوه فـصله فـصلونه لـري، یـو یـې سـرې شـولې، جـوار او تمبـاکو دي. دغـه فـصل پـه اوړي کـې کـرل کېږي او پـه منـي کـې اخیـستل کېږي. همـدا چې دغـه فـصل واخیستل شو، دوی بیا غنم او وریشې کري، چې د اوړي په سر کې رېبل کېږي.

د دوی ګـډ حېوانـات غـوايي دي، خـو پـه دوی کـې ځینـې شپانه شـته چې د غرونـو د پاسـه پـه وړو بانډو کـې او څـه یـې ان پـه خېمـو کـې اوسـي. د دوی غـوایي ډېـر واړه او تـک تـور دي، خـو بوکـان نـه لـري. دوی یـو څـو وزې او خـره هـم لـري، خـو کچـرې، سنډاګان او اوښان نه لري. د دوی په ټول ملک کې یواځې ټول پسونه موندل کېږي.

## د شیرانیو ځانګړی حکومت:

د شـیرانیو مـشر تـه نیکـه وایـي. دی پـه خپـل قـوم کـې ډېـر واک لـري، ده د واک نیمـایي لـه دې څخـه پیـدا دی، چې دی د ډېـرې پخـوانۍ کـورنۍ یـو انتخـابي مـشر دی او دویمـه نیمـایي یـې د شیرانیو لـه هغـې عقیـدې نـه راځي، چې دی د لـوی څښتن تـر مـستقیم هـدایت او حفاظـت لانـدې ګڼـل کېږي. دی د ډېـرو ځمکـو خاونـد دی او پـه نتیجـه کـې ډېـر کسـان پـه کرنـې کـې استخداموي، خو دی کـورنـي نوکـران نـه لـري. دی پـه خپـل قـوم کـې لـه هـر چـا نـه چې پـسونه لـري، دکـال یـو پـسه او لـه هغـو نـه چې ډېـر څـاروي لـري، یـو خوسـی اخلـي. ددغـه محصول پـه حاصـلولو کـې دی لـه قـوت نـه کـار نـه اخلي، په دې چې خلک یې بې لـه زره نـاره تـوب نـه ددغـې عقیـدې لـه مخـې ورکـوي، چې کـه یـو څـوک د هغـه لـه ورکـولو سرغړاوی وکـړي، پـه لـوی مصیبت بـه اختـه شـي. لکـه د ماشوم مړینه.

نارینـه کـه څـه هـم د نـاروا وو پـه مقابـل کـې لـه محض قـوت نـه کـار اخلـي، سـره لـه دې هـم نیکـه د عـدالت د جـاري سـاتلو یـواځینی تنظیـم کـوونکی قـدرت بلـل کېږي. دی د مدعي او مدعی علیـه خبرې اوري او د لمانځـه د ادا کـولو نـه وروسـته د عـوه لـه خـدای نـه

Property of ACKU

د الهام په نامه، فیصله کوي. دده حکم د فوق طبیعي مجازاتو نه د ډار له لامله تل منل کېږي.

شیراني ځلوېښتیان هم لري، خو داسې ښکاري چې هغوی ددې لپاره دي، چې په لیرو ځایونو کې د نیکه پر ځای وظیفه ترسره کړي. تر دې چې د هغه قدرت پیاوړی کړي، دوی د نیکه له خوا ټاکل کېږي او د هغه په حکم عمل کوي. شیراني په خپلو کې کمه بې اتفاقي لري. د شیرانیو په هر کلي کې یو ملا شته او هغه ته د حاصلاتو او رمو گلو لسمه ورکول کېږي. د شیرانیو ساده توب ددغه ملا له یوې وظیفې نه په ډاگه ښکاره کېږي، چې هغه د مړو کفن پخپله گنډي. د شیرانیو ډېره برخه د قرآن لوستل زده کوي. که څه هم له ملایانو پرته نور خلک پښتو نه شي لوستلی او په دري هېڅوک نه پوهېږي. دوی د لمونځونو په ادا کولو کې ښه منظم دي، خو ښکاري چې چندان ریښتینی اخلاص ورته نه لري[1].

شیراني له ټولو هغو قومونو سره، چې د دوی له سیمې څخه په خپل کلني مهاجرت کې تېرېږي، د جنگ په حال کې دي. په واقع کې ښایي وویل شي، چې دوی له ټولې نړۍ سره په جنگ دي، ځکه چې دوی هر هغه لاروی شکوي، چې د دوی په لاس ورځي. سربېره پردې دوی د دامان په ځینو هغو برخو کې هم یرغلونه کوي، چې له اوسېدونکیو سره یې هېڅ شخړه نه لري. دوی هغه وخت چې زه د دوی د ملک په گاونډیتوب کې وم، د یوه لوړ منصب دراني مړی چې په کندهار کې د خښولو لپاره د دوی له ملک نه تېرېده، تر هغو یې وځنډاوه چې دوی ته یې پیسې ورکړې.

خو دوی په یوه خوله وایي، چې دوی په عقیده کې صاف او بې عیبه دي او که له کوم لاروي سره یو شیراني بدرگه وي، دی به د دوی له ملک نه پوره په امن کې تېر شي.

د شیرانیو په جنگونو کې قوماندانې د نیکه په لاس کې وي او د هر یرغل په پیل کې ټول عسکر دده تر هغې لنگوټې لاندې تېرېږي، چې د همدغې موخې لپاره پخپله د نیکه او د یو ملا له خوا غځېدلې وي. دغه عمل د دوی په عقیده دوی له مرگ او ژوبلې څخه ژغوري. دوی دغسې وایي چې ډېرو هغو خلکو چې دغه مراسم له یاده ایستلي دي او یا یې ورته په سپکه کتلې، ځانونه یې بایللي دي. د دوی وسلې ماشه یې ټوپک او توره ده.

---

[1] ما یو شیراني ولید، چې په لمانځه ولاړ و. په همدې وخت کې د هغې ډلې ځینو خلکو د ښکار په اړه خبرې کولې او د یوې غرڅې د جسامت موضوع یاده شوه. هغه شیراني په لمانځه کې غږ کړ، چې د دوی د ملک غرڅې د غویو په اندازه لویې دي او بیا بېرته د لمانځه په ادا کولو بوخت شو.



Property of ACKU

## سپوسته:

د هغو غونډیو په مېنځ کې چې د سلیمان د غرونو په لویدیځې برخې کې پرتې دي، دغه سیمې دي: گوسا (Gosa) چې موسی خېل کاکړ پکې اوسي او د زمریو لویدیځ ته پرته ده. سهرا (Sehra) د غرونو په مېنځ کې یو لوړ وچ میدان، چې غرني بابړ پکې اوسي.

تر هغو نور هم د قطب خوا ته سپوسته (Sposta) د کوپیپ (Kappeep) او هري پال (Harreepaul) د قومونو ملکونه دي. ددغو ټولو سیمو په لویدیځ کې هغه غونډۍ پرتې دي، چې دوی له ژوب نه بېلوي.

سپوسته یو لوړ او ژور او له ځنګلي بښوونو نه ډک میدان دی. دغه میدان ښه هسک، سوړ او وچ دی او په اوړي کې مرهیلیان (Marahail) پکې اوسي. مرهیلیان یو کوچی قوم دی، چې په ژمي کې دامان ته اوړي. دوی گردسره په خېمو کې ژوند کوي او د نورو پوونده قومونو په څېر کره وره لري. دوی که څه هم غریب دي، یو څه سوداگري هم کوي. د دوی څاروي پسونه، وزې، خره او یو څو غوایان دي، چې یواځې د مال وړلو لپاره ترېنه کار اخلي. د دوی خان که څه هم قوي دی، د شیرانیو د نیکه تر حکم لاندې دی. ملایان پوره اختیار لري، چې هغو کسانو ته جزا ورکړي، چې اسلامي رسوم تر پښو لاندې کوي. دهري پال او کوپیپ قومونه شیرانیو ته ورته دي او د دوی د استوگنې ځایونه د سلیمان تخت په لویدیځ بېخ کې په غونډیو او درو کې پراته دي.

## د وزیرو عادتونه او سلوکونه:

د وزیرو پراخ ملک د شیرانیو د سیمې قطب ته پروت دی او د قطب لور ته تر سلو میلو پورې غځېدلی تر سپین غره پورې رسېږي. ویل کېږي چې هغه ټیټې غونډۍ، چې دغه کوچي ملک د خوست او بنو په برخه کې سره بېلوي، په وزیرو پورې اړه لري، خو دوی د سیروفزا گه امتداد نه د کرمې منبع ته نږدې ځدرانو سره گډ غرونه لري او ځدران ددغو غرونو لویدیځ ته او وزیر یې ختیځې خوا ته پراته دي.

د دوی د ملک په ډېرو برخو کې داسې غرونه دي، چې د جلغوزیو په ځنگلونو پټ دي، خو ځینې صاف شوي او د کرنې وړ ځایونه هم لري. ټیټې غونډۍ یې یا سپېرې دي یا په ټیټو ونو او بوټو پټې دي.

د وزیرو ملک ته خلک ډېر هغسې لاروي هلته ځي، چې کولای شي له اوسېدونکیو نه یې ځانونه خوندي وساتي.

پخپله ما ته دا ممکنه نه شوه، چې یو وزیر له خپل ملک نه دباندې ووینم. دغه



Property of ACKU

لاندیني بیان له لارویو څخه نقل شوی. دا بیان سطحي دی او ښایي ناسم وي.

د وزیرو ټولنه کوم حکومت نه لري، دوی په وړو ټولنو کې اوسي. ځینې یې د زورورو خانانو تر حکم لاندې دي او ان نور یې په دیموکراسۍ کې ژوند کوي. دوی په خپلو منځو کې په ارامه ژوند کولو سره یاد دي، نه د قومي څانگو ترمنځ جنگونه لري او نه ډېر شخصي عداوتونه. دوی که څه هم په تاړاکونو کې نوم لري، خو یو ډېر کوچنی بدرگه هم کولای شي. یو لاروی په خپل ټول قوم کې په پوره امن سره تېر کړي. دوی په ځانگړې توگه په کاروانونو او دغو لیې د غاښي لویدیځ ته په کوچیو قومونو باندې په حمله کولو کې نوم لري. ددغه ځای لپاره نه بدرگې پیدا کېږي او نه هغه کوم تاثیر لري. کاروان باید پوره وسائل شي او باید ددې قدرت ولري، چې حملې دفع کړي او یا خپله لار په زور ووهي. په دغو جنگونو کې هېڅ نارینه ته پنا نه ورکول کېږي او وېل کېږي، چې وزیر ته که نارینه ماشوم هم په لاس ورشي، وژني یې. خو دوی له ښځو سره څه کار نه لري او که کومه ښځه له خپل کاروان څخه بېله شي، دوی ورسره ډېر ښه چلند کوي او بدرگه ورسره کوي، چې خپل قوم ته یې ورسوي. له یوه نارینه سره به هم همدا چلند وشي، چې که دی د یوه وزیر کور ته پناه یوسي. په دغه حال کې د کور خاوند مجبورېږي، چې له هغه سره د یوه مېلمه په څېر په ښه نیت او پوره پاملرنې سره چلند کوي.

هغه وزیر، چې مېشت دي د لوخو او برنډو لرونکیو کورونو په وړو باندو کې اوسي. په ځینو ځایونو کې د بېلگې په توگه په کانیگرام کې دوی په دغسې سمڅو کې ژوند کوي، چې د ډبرینو غرونو په ډډو کې کېندل شوي دي. ددغو سمڅو نه ځینې یوه د بلې دپاسه په درې پوړو کې کیندل شوې او نورې یې دومره لوړې دي، چې یو اوښ پکې په اسانۍ سره ننوتلی شي، خو زیاتره وزیر یا په تورو خېمو کې اوسي یا د لوخو په انتقال وړ جونگړو کې یا د بوټو په موقتي کوډلو کې ژوند کوي. دغه وزیر په پسرلي کې هسکو غرونو ته ځي او هلته تر هغو پاتې کېږي، چې واوره او ساړه یې بېرته ټیټو او تودو غونډیو ته په ورتگ مجبور کړي.

وزې د دوی عمده څاروي دي، داسې هم دوی واړه خو د کاراسونه روزي او هغه څه چې په دغسې ملک کې د هغه هیله نه کېږي. دا ده چې دوی د اس د سپرلي ډېر شوقمن دي. وایي چې وزیر په ونه لوړ او د غښتلو غړیو خاوندان دي. رنگونه یې سپین او څیرې یې هسکې دي.

د دوی د جامو اجرا دا دي: یوه لوړه مخروطي شکله توره ټوپۍ د تور شال یوه لویه ازاده کورتۍ، چې هغه له هغه ټوکر نه جوړ په یوه ملاستني سره په ملا پورې تړل شوې وي او د وښو رسۍ یا له اومي څرمنې څپلۍ له دغې جامې او له هغو



Property of ACKU

ویناوو ځخه چې د دوی د زیږو ږیږو او ویښتو او د دوی د ویښتو لړونکیو په اړه شوي داسې ښکاري، چې ښايي د دوی ځېرې ډاروونکې او شډلې وي. د دوی وسلې په ټولیز ډول د پښتنو چوړکۍ او یو ډال دی.

هر سړی یو ماشه یې ټوپک لري، چې د هغه په کارونې کې دوی ښه تکړه دي. د دوی خپل ملک د دغو وسلو د جوړولو لپاره مواد لري. د اوسپنې معادن پکې پریمانه دي، چې وزیر له هغو نه وسلې جوړوي او اوارو ملکونو ته یې لېږدوي.

د دوی کره وړه توند، اوازونه یې جګ، واضح او امرانه دي، خو دوی له خپلو مېلمنو او له یوه بل سره په مراودې کې نرم او خوش خویه دي. د دوی ریښتینولي داسې ده، چې که د یوه ورک شوي وز په اړه دعوه وي او یو ځوک ووايي، چې دا دده دی او د خپل شهادت لپاره په ږیره لاس تېر کړي، هغه بل سمدلاسه له هغه وزنه تېرېږي، بې له دې چې د کوم چل فکر یې په خاطر کې ګرځېدلی وي.

د وزیرو خواړه د پسو، غویو او اوښانو غوښې دي، چې دوی یې له کورتو او ډېرې خرابې وچې ډوډۍ سره نیم اومه خوري.

د دوی له ښځو نه د کار غوښتنه نه کېږي، دوی د سرې خمتا اوږده پرېږ کالي اغوندي او د نارینه وو په څیر ځلې په پښو کوي. د سپینو او سرو دومره ګاڼې اچوي، چې د دوی مېړونه یې د پېرودلو توان لري. ویل کېږي، چې یو ډېر فوق العاده رسم په دوی کې جاري دی او هغه دا دی، چې دوی نجونو ته د مېړو د غوره کولو اجازه ورکوي.

که کوم نارینه د کومې ښځې خوښ وي، هغه یو ډولچي (نایي) وراستوي، چې یو دسمال یې په هغه پنګ سره د هغه په شملې پورو تړي، چې هغې خپل ویښتان پرې تړل. ډولچي خپله موقعه ویني او هغه د خلکو په مخ کې د هغه ځوان په شملې تړي او په دې ډول یې هغه نجلۍ په نامه کوي او دغه سړی مجبورېږي، چې که چېرې د هغې ولور ورکولای شي، سمدلاسه یې واده کړي[1].

***

[1] سربېره پر ډاکتر هونیس برګر (Honisaerger) چې د لوهانیو له کاروان سره د وزیرو له ملک نه تېر شوی دی. ښاغلی میسن (Masson) هم چې د باختریانو او نورو کورنیو د مسکوکاتو او لرغونو شیانو په کشفولو کې یې نوم ګټلی دی، د دوی ملک لیدلي دي خواشیني سره باید وویل شي، چې دده سفر لیکنې چې ښې پراخې او په زړه پورې دي، تراوسه خپرې شوې نه دي. ۱۸۳۸

Property of ACKU

# څلورم څپرکی

# لویدیځ پښتانه، درانیان

## د کندهار ښار تیرین او بړیځ

Property of ACKU

### ټولیزې څرګندونې

هغه ملکونه، چې تر دې ځایه شرح شول یا د اوارو او مخ په ځوړو میدانونو او یا د غرونو له قوي سلسلو څخه جوړ وو او اورام میدانونه یې تاوده او اباد دي، ګڼ نفوس لري او نږدې ټول یې ځای پرځای مېشت دي. غرونه یې هسک او سپېره دي. د غرو سرونه یې په ځنګلونو پټ او په دړو کې یې ژورې درې پرتې دي. په دغو درو کې دغسې قومونه پراته دي، چې یو له بل نه بېل دي او نورې لرې، ته په مساپرو باندې د حملې په کولو یا په خپلو ګاونډیو اوارو میدانونو باندې د یرغلونو له لارې پېژندل شوي دي. هغه ملکونه، چې غوارم اوس یې شرح وکړم، معکوس ځانګړتیا لري. دغه ملکونه زیاتره له لوړو او ټیټو میدانونو نه جوړ او یو بل نه په غونډیو سره بېل شوي دي. ځینې ملکونه یې میرې دي او نور په خراب ډول کرل شوي. مخه یې خلاصه او اوار دی او د کرلو نه زیا د څړ لپاره مساعد دی او په زیاترو کې یې پوونده یو د بل په چار کې په لاسوهنه اخته دي. همدارنګه د دوی د اوسېدونکیو د ځانګړتیاوو ترمنځ د بېلوالي کومه ډېره قوي نښه نه لیدل کېږي. دواړه یې ساده، رښتیني او سوله غوښتونکي دي. که څه هم ددغو صفاتو په درجه کې، چې بېلابېل قومونه یې سره لري، توپیر شته خو هغسې توپیر په دوی کې نشته، چې په اسیایي ملتونو کې به یې نه لرل فوق العاده وي. په ټولیز ډول د پښتنو لویدیځ قومونه په تېره د خراسان خلک په دري ژبه تر هغې په زیاته اندازه

پوهېږي، چې ختیځ پښتانه په هندوستاني ژبه پوهېږي او په داسې حال کې، چې دوی خپلې ملي ځانګړتیاوې خوندي ساتي. د دوی کالي، وسلې او د استوګنې ځایونه د فارس د خلکو کالیو، وسلو او کورونو ته نږدې دي، خو د پښتنو ځانګړتیاوې د فارسیانو له ځانګړتیاو څخه په بنسټیز ډول توپیر لري او کېدای شي دغه اختلاف د ختیځو او هندوستانیو ترمنځ له اختلاف نه ډېر شدید وي. که څه هم هغه هم بنه ستر اختلاف دی. لویدیځ پښتانه چې په یوه پراخ ملک کې خواره دي، له یوه بل نه دومره لیرې پراته دي، چې نه شي کولای هغسې بدي ګانې یا د جنګ هغسې عادتونه زده کړي، چې په ګڼو خلکو پورې اړه لري. هره ډله خپلې رمې پخپلو پراخو ملکونو کې تر هغو لا په پراخو ګډو څړ ځایونو کې د کوم رقیب او زیاتره وخت د ګاونډي له شتون پرته پیایي. په همدې ډول د مېشته اوسېدونکیو هره ټولنه یا د سیند غاړې کري یا هغه ځمکې کري، چې په کارېزونو خړوبېږي او دوی له ټولو نورو زراعتي وګړیو نه ډېر لیرې پراته دي.

همدارنګه ددغو ټولنو افراد له یو بل سره د خپلو برخو په اړه له جنګ نه په دې خلاص وي، چې یا شاړې ځمکې بې پېمانه وي او یا دوی د داسې وسیلو خاوندان دي، چې په هغو د خپلو اضافي وګړیو لپاره ورشوګانې پیدا کوي.

د نفوسو دغه لږوالی په داسې حال کې، چې د ژوندانه فنون بېرته غورځوي، له شک پرته په برابر ډول سره د هغو عېبونو مخه په داغېزمن ډول نیسي، چې په ګڼو خلکو کې ډېرې وي. نو په دې ډول موږ په لویدیځو پښتنو کې یو ډول ابتدایي ساده توب وینو، هغسې ساده توب چې موږ ته لږ څه پخوانی انجیلي حکایتونه راپه زړه کوي. نه دا چې هغه څه رایادوي، چې معاصرو لیکوالو په هغو ملیتونو کې مشاهده کړي، چې هلته ټولنه تراوسه هم په خپل ابتدایي حال کې ده. داسې ښکاري، چې ددغه ملک په ځینو برخو کې دخلکو په کړو وړو کې یو څه بدلون راغلی وي او دغه بدلون کېدای شي د هغې انتباه نتیجه وي، چې ددغو قومونو په حکومتونو باندې د پاچایي سیستم د نږدې والي له لامله راغلی وي.

په غلزیو او درانیو کې د قومونو میراثي مشرانو یو په بل پسې لوی سلطنتونه جوړ کړي او د درانیو سلطنت تراوسه هم دوام لري. په درانیو کې د قومي ځانګو مشران اشراف هم دي. دوی په دربار، دولت او ادارو کې سترې دندې پر غاړه لري او د پلار واکۍ مشرانو او قوي او شتمنو اشرافو په دوه ګوني کرکټر کې ښکاره کېږي، د پاچا د واکمنۍ او د خپلو شتو او برم له لامله د نفوذ او حاکمیت خاوندان ګرځي.

په دغه حال کې د دوی د قومونو ډېر ولسي او جمهوري ځانګړتیاوې له منځه ځي، خو نور شرایط ددې لامل کېږي، چې دوی د خپلو قومي ځانګو اهمیت وساتي او



Property of ACKU

ددې مخه ونیسي، چې په بشپړه توګه په خپل پاچا ویسا ولري. په دې ډول نظم او ارامي تر یوه حده ترلاسه کېږي او هغه تر بل هر څه چې په ډیموکراتیک قومونو کې وي، تل په زیاته اندازه میسره وي. په داسې حال کې چې ددغو قومونو ټولې خاصې ښېګڼې پرځای پاتې کېږي، په ټولیز ډول داسې ښکاري چې ددغه ډول حکومت اغېزه په هغو خلکو، چې د دوی ترلاس لاندې ژوند کوي، تر هر بل راز حکومت نه چې مونږ به یې اوس وګورو، ښه او مساعده وي.

که څه هم سلطنت د غلزیو له لاسه تللی دی، خو اثاریې تراوسه هم شته او د دوی د خانانو د پخواني لوړ دریځ اغېزه تراوسه هم په دوی کې لیدل کېږي. خو د انارشي د مخنیوي لپاره بسنه نه کوي او داسې ښکاري، چې یو ولسي حکومت ورو ورو مخ په جوړېدو وي او هغه به د عامه امنیت د ټینګولو لپاره د پخواني ارستوکراسي ځای ونیسي.

## پوونده قومونه

هغه لویه ځانګړتیا چې په هغې لویدیځ پښتانه له ختیځو پښتنو سره توپیر پیدا کوي، په لومړي سر کې د بې شمېره پوونده قومونو شتون دی. دغه قومونه که څه هم په خپلو کې د ورته والي یو څو نښې لري، لکه په کېږدیو کې اوسېدل او په موسم سره لېږدېدل، په نورو ځانګړو مواردو کې سره توپیر لري، چې هغه به د تفصیلاتو په ضمن کې ښکاره شي. دغه اختلاف په ټولیز ډول د دوی د دوبي او ژمي د مېنو په توپیر او تر څه حده په دې کې دی، چې دوی کرنه او مالداري سره ګډوي.

د اوړي مېنې ته ایلاق او د ژمي ته قشلاق ویل کېږي، دا هغه دوه کلمې دي، چې پښتنو او فارسیانو دواړو له تاتارانو څخه اخیستي دي. کېږدۍ چې اوس یې په عام ډول سره پښتنو کې رواج لري، له یو راز تور ټغر یا یو ډول شډلې شوې نه جوړې دي لکه هغسې چې د فارس په ډېرو برخو کې موندل کېږي. په پښتنو کې کېږدۍ، په دري کې سیاه چادر او په ترکي ګروپي (Karooee) نومېږي. ددغو دواړو وروستیو افادو مانا ((توري خیمې)) کېږي، چې اروپایان یې په ټولیز ډول (Black Tents) بولي. د هغو قومونو کېږدۍ، چې لږ مهاجرت کوي، د هغو د کېږدیو په اندول چې زیات لېږدي، تل لویې او ښې وي. دغه وروستي خلک زیاتره وخت په ښکلیو خېمو کې اوسي، چې دوی یې په هغه ځای کې چې اقلیم یې ډېر شدید وي، په کامپوکې پربېږدي او تر هغو سپکې کېږدۍ له ځان سره هغو ځایونو ته وړي، چې هلته د پټنون (پناه ګاه) لپاره دومره اړتیا نه وي.

له دې نه داسې نتیجه باید وانه خیستل شي، چې ګنې ټول لویدیځ پښتانه

پوونده دي. ددې پرخلاف که څه هم د دوی ځږ ځایونه تر هغو ساحو، چې هلته کرنه کېږي، ښايي پراخ وي خو زما په خیال د خلکو او کليو شمېر بايد د ګرځنده قومونو له شمېر نه ارومرو ډېر وي.
د لويديځو پښتنو د ملک ډېرې برخې په تېره د ښارونو شاوخواوې د نړۍ د هرې بلې برخې په څېر په ښه ډول کرل کېږي. په ليرو سيمو کې ښه کرل شوي ځايونه تر سترګو کېږي او ان په ډېرو دښتي سيمو کې هم کله کله د کروندګرو د زحمت نخښې ښکاري.

## درانيـــان:

ددغې سيمې په شرح کې به زه اوس له لويديځ نه پيل وکړم يانې له هغې سيمې څخه، چې تر دې ځايه شرح شول، ډېر توپير لري. بيا به د ختيځ په لور لاړ شم، چې د هغو ملکونو پولو ته ورسېږم، چې پخوا يې بيان شوی دی. لوستونکيو ته به هغه نښې ښکاره شي، چې د لويديځو پښتنو ځانګړتياوې دي. ددغه پلان په تعقيبولو سره به زه له درانيو او د دوی له سهيلي ګاونډيو، بريڅو او ترينيانو نه پيل وکړم او بيا به ختيځ ته د غلزيو په لور ورشم، چې د کابل د سيند ناوې او د سليمان غرونو ته ورسېږم. کاکړان به چې د دوی لکونه د تيرينيانو له سيمو نه تر هغو غرونو پورې غځېدلې، چې اوس يې بيان وشو، زما د بحث دغه برخه به چې له جغرافيې سره تړلې ده، تمامه کړي او ورپسې به د ناصرو، کوچي او نامېشت شوي قوم د پښتنو کوچيانو بحث ته بالکل خاتمه ورکړي.
د درانيو د سيمې اوږدوالی نږدې څلور سوه ميله دی او سور يې د قطب_لويديځ برخې پرته په ټوليز ډول له (۱۲۰) څخه تر (۱۴۰) ميلو پورې رسېږي.
د درانيو دغه سيمه د قطب له خوا د پاراپاميزاد په غرونو پورې نښتې، چې ايماقات او هزاره ګان پکې اوسېږي. لويديځ ته يې يوه شګلنه مېره پرته ده، چې بر يې يوځای بل ځای سره توپير لري او تر هغې هغه خوا د فارس دومينونه پراته دي. سهيل، لويديځ ته يې سيستان او يوه دښته پرته ده، چې هغه يې له بلوچستان نه بېلوي. سهيلي پوله يې د ښوراوک (Shorawak) او د خواجه عمران غونډۍ تشکيلوي، چې هغه يې له تيرينيانو او کاکړانو څخه جلا کوي. ختيځ لور ته يې کوم طبيعي سرحد نشته، خو د غلزيو له سيمو سره يوځای کېږي، چې په هغې کې د ارغستان ناوه او د درانيو د سيمې يوه برخه تر ډېره حده پورې موازي ځي.
د درانيو ملک ښايي له انګلستان څخه پراخ وي، خو په دغه ملک کې د مېرو يو څو خورا پراخې سيمې شته او مېشت شوي ملک يې ښايي تر سکاټلېنډ نه په ساحې

کې یو څه زیات، خو په نفوس کې یو څه لږ وي. نفوس یې لکه چې ددغې سیمې په ټولو برخو کې یو شان نه وي، هماغه شان یې اوسېدونکي هم په هیڅ ډول یو شان خپاره نه دي. هغه برخه یې چې د (٦٣) درجې شرقي طول البلد لویدیځ لور ته پرته ده (دا دغسې یوه ټرانگه ده، چې سور یې له اویا یا اتیا میلو څخه نه ډېرېږي) یوې شگلنې میرې (چې پورته یې بیان وشو) او د پاراپامیزاد د غرونو ترمېنځ پرته ده او ددغو دواړو سیمو د طبیعت اغېزه پرې شته ده. دغه برخه په ټولیز ډول له شاړو او ناکرل شویو میدانونو څخه جوړه ده او د پاراپامېزاد له غرونو څخه تر فارس خراسان پورې د لویدیځ په لور د غونډیو یو لړ تېرېږي. که څه هم د هغې ټولیزه څېره شاړه او سپېره ده، په ډېرو برخو کې یې د هغو شپنو قومونو لپاره چې ورته ځي، اوبه او واښه برابروي. ښاېسته ډېرې په زړه پورې درې له پرېمانه اوبو سره هم لري. همدارنگه اباد میدانونه لري، چې غرونو په غېږو کې نیولي دي. په دغو سیمو کې ډېر کلي پراته دي، خو د ملک په دغې برخې کې یوائېنی ښار فراه نومېږي، چې په همدغه نامه دسیند پر غاړه پروت دی. دا یو وخت ښه پراخ و او اوس هم په دېوال کې چارپېر شوی لوی ښار دی. داسې ښکاري، چې دا به پخوانی پراه (Prra) وي او پښتانه یې تراوسه هم په دغه نامه یادوي.

ددغې سیمې، چې ما یې تراوسه بیان کاوه، سهیلي برخه په هیڅ وجه د قطبي برخې په څېر غرنۍ نه ده او له امکان نه لیرې نه ښکاري، چې ښايي یو وخت ښه زرغونه سیمه وه او کېدای شي دښته گرځېدلې وي. لکه څنگه چې د سیستان گاونډۍ سیمه مېره گرځېدلې ده. ددغه نظر شاهد یوازې هغه کنډوالې نه دي، چې تراوسه هم لیدل کېږي، بلکې ددغې سیمې هغه پراختیا او زرغون توب یې هم شاهد دی، چې د سیستان د تاریخي ثبتو شویو اسنادو له مخې یې لرل.

ویل کېږي، چې سیستان له شک پرته یو وخت په فراه پورې اړه لرله[1].

د (٦٣٠) عرض البلد ختیځې ته یوه سیمه، چې یو څه پراختیا لري، د کندهار د نصف النهار لیکې د ختیځې په لور تر دوو سوو میلو زیاته غځېدلې ده. ټولیز سور یې نږدې شل میله دی، حدود یې ښه واضح نه دي، ځکه د قطب خوا ته غرونه یې کله کله په اوار میدان کې ننوځي. په داسې حال کې چې د سهیلي برخو مېشت شوي ملک یې له هغې میرې نه چې ورسره گډه پوله لري، په اسانۍ سره یې توپیر نه کېږي. دغه ټوله سیمه نږدې د یوې بیدیا غونډې ماهیت لري. سهیلي برخې یې شگلنې دي او قطبي برخې یې له داسې کلکې ځمکې نه جوړې دي، چې کله کله له

[1] ویل کېږي، چې سیستان (۱۲۰۰۰۰) قلبې ځمکه لري. د پورته کنډوالو لپاره چې ښاغلي کپتان کرستي (Capitain. Christie) لیدلي وگورئ د کنیر (Kinnier) د فارس جغرافیه.



Property of ACKU

ګاټو او ان له ټیټو غونډیو سره ګډیږي، خو ټولې برخې یې په برابر ډول بې حاصله دي. په ټولې سیمې کې یواځې کله کله که کومه ونه تر سترګو شي، خو اوارې یې په دغسې بوټو پټې دي، چې لوی یې په خپله د پښتنو له خوا د جوز او ترخې په نامه یادیږي او دوه نور مهم واړه بوټي هم پکې موندل کیږي، چې له هغې نه کالي (Kali) (کرم؟) جوړیږي. سره له دې دغه زړه توروونکې سیمه په هیڅ وجه له خلکو نه خالي نه ده. د فراه رود، خاشرود او نورو رودونو غاړې ښې ابادې دي او غنم، وریشې، دانه باب او ډېرې ښې هندواڼې پکې پریمانه وي ان له رود څخه لیرې هم د کرنې ځینې زرغونې ټوټې په نظر راځي، چې په کاریزونو خړوبیږي. ددغې سیمې کومه ناوړه برخه په تېره په قطبي خوا کې به دومره خرابه وي، چې د درانیو بې شمېرو کمپونو لپاره په ساړه موسم کې اوبه او شنیلي نه لري. دغه دراني په اوړي کې خپلې رمې د تیمنیو په سیمه کې سیاه بند ته خېژوي. په ابادو او کرل شویو ځمکو کې کلي شته، خو یو یې هم لوی نه دی او په یقین سره د اوسېدونکیو ډېره لویه برخه یې د سیمې په سر په کېږدیو کې خوره ده. داسې ښکاري، چې ددغې سیمې ځینو برخو تر ډېرې اندازې خپله پخوانۍ ابادي له لاسه ورکړې وي. په سهیل ختیځې برخه کې یې د دوري (Dohree) او کدنې ویالې پروانې دي. دغه ویالې په تېره پېړۍ کې کرې کال یو څه پراخې وې، خو اوس له پسرلي پرته په نورو وختونو کې وچې وي.

## د هلمند غاړې

د هلمندې غاړې که څه هم په هغې سیمې کې دننه پرتې دي، چې ما یې حدود بیان کړل، خو باید ارومرو ټولې یې له پورته څرګندونو بېل وګڼل شي. د هلمند سیند ان هغه وخت چې له خپلو غرونو راوځي هم په دواړو غاړو کې له کرل شوې او شنې ټړانګې سره ملګرتیا لري، چې لویدیځه برخه یې د ګرمسیر په ځانګړې نامه یادیږي. دغه ناحیه دغسې یو ګوک په غېږ کې نیسي، چې نږدې له ګرشک څخه تر سیستان پورې، د هلمند په دواړو غاړو کې غځیږي. داسې ښکاري، چې دغه ناحیه په پخوا وختونو کې یوه پراخه سیمه وه او یو خپلواک واکمن پرې حکومت کاوه، خو اوس په ټولیز ډول د سیند په هرې غاړې کې د یوه میل تر څلورمې پورې وړه شوې ده او په هیڅ ځای کې یې ټول سور له دوو میلو څخه نه اوړي او هغې خوا ته یې یوه داسې شګلنه دښته پرته ده، چې څو ورځې پکې مزل کېږي. پخپله ګرمسیر، لنده بل او ان کله جبې لري. ډېرې برخې یې کرل کیږي او کروندګرو ته ښه حاصلات ورکوي. په دغو ناحیو کې پخې کلاوې او لوی کلي پراته دي، خو زیاته برخه یې په وښو، مزرو او د غز ونو په بوټو پټه ده، چې د هغو په مینځ کې ډېر شپانه اوسیږي.

Property of ACKU

## غرنۍ سیمه

ددغې بیدیایي سیمې قطبي لور ته، چې دمخه یې بیان وشو، یوه غرنۍ سیمه پرته ده، چې د پاراپامېزاد په غرونو پورې اړه لري. دغه سیمه له ټولو هغو ملکونو سره، چې تراوسه مو بیان کړل، ډېر توپیر لري. په دې چې هغه د غونډیو له لړیو څخه چې زرغون میدانونه هم پکې شته، جوړه ده. غونډۍ یې د شنیو له ونو (Shnee)، ځنګلي بادامو، ځنګلي انځرو، ځنګلي انارو، شرقي چنار (Plane) او د غوزانو په ځنګلونو پوښلي دي. میدانونه یې ښه اباد دي او په کاریزو او ویالو ښه خړوبېږي او د غنمو، وریشو او شولو حاصلات یې ښه پرېمانه دي. شوتله او (Madder) هم لري. دغو اوارو ځنګلي ونې غزونه او توتان دي، ولې او سپېدار هم پکې پیدا کېږي، خو بې شمېرو باغونو کې یې د اروپا هر ډول مېوه لرونکې ونې شته. په غالب احتمال ددغې سیمې په غرنیو برخو کې د شپنو مېنې هم موندل کېږي. که څه هم په دغې سیمې کې ډېر ښه کلي پراته دي، خو د نفوسو زیاته اندازه یې اِن زراعتي خلک یې هم په تورو کېږدیو کې اوسي. اقلیم یې تل نرم وي، خو په ژمي کې یې قطبي برخې له یخنۍ نه په کراو کې وي. د ملک ددغه ولس ډېره لویدیځه برخه یې یانې زمینداور د ډېرې سمسورتیا له لامله ځانګړی بیان غواړي. په لویدیځ کې سیاه بند ورسره یوځای کېږي. سیاه بند هغه غرنۍ سیمه ده، چې له وښو نه ډکې په زړه پورې سیمې پکې ډېرې دي او که څه هم هغه په تیمني ایماقو پورې اړه لري، باید له دې لامله دلته ذکر شي، چې په اوري کې ډېر شمېر دراني شپانه ورته ورځي.

## د درانیو سیمه

د کندهار شاوخوا ملک اوار او په طبیعي توګه ښایسته زرغون دی. هم د سیند په ویالو او هم په کاریزونو خړوبېږي او د کرنې لپاره یې ښه ډېره خواري کېږي. په نتیجه کې غله یې ښه پرېمانه ده او په باغونو کې یې ښه سابه او اعلی مېوې کېږي. دا پر هغو ختکیو، بادرنګو او نورو سربېره دي، چې په پټیو کې کرل کېږي او په ټول خراسان کې رواج لري. نکریزې، هنجه، شپشته او شوتله هم پکې پرېمانه کېږي. د کندهار تمباکو ډېر نوم لري. غرونو ته نږدې ملک یې کېدای شي اباد وي او هغه چې ښار ته نږدې پروت دی، کېدای شي تر ټولو ښه کرل کېږي. د ښار لویدیځې له ښار نه دومره لرې نه دي او شګلن دی او هغه چې د ښار سهیل ته پروت دی، دغه ځایونه ان له ښار نه د یوه مارش په فاصلې کې وچ او بې حاصله دي. ختیځ ته پروت ملک یې اباد او د ترنک له ټولې درې څخه، چې وروسته به یې ذکر وشي، ښه حاصل کوي. د درانیو د ملک د سهیلي ختیځې برخې لویه ځانګړتیا دا ده، چې اوس به یې

Property of ACKU

بیان وشي. د خوجه عمران د غرونو زنځیر دی. دغه زنځیر که څه هم په لوړې درجه غره کې نه راځي، خو دومره هسک دی، چې درې میاشتې پرې واوره پاتې کېږي او کري کال سوړ وي. پوونده یې عمده اوسېدونکي دي او دوی اڅکزي دراني دي. په دړو او څوکو کې یې د شنیو (Shnee) ونې او یو ډول د سبز ښې غټې ونې ډېرې موندل کېږي، چې پښتانه یې اوبښته بولي. که د هغو د اوسېدونکیو د شډل توب او د شوکو د عاداتو له مخې قضاوت وشي، یو څوک کېدای شي دغې نتیجې ته ورسېږي، چې د دوی غرونو ته ورتګ ډېر کړاوونه غواړي. که څه هم په سهیل ختیځ اړخ کې ښه نېغ دی، زما په ګومان چې هغه د شمال لویدیځ ملک په لور ورو ورو ښکته کېږي او نږدې له څوکې نه تر بېخ پورې په بېلابېلو برخو کې د کرنې وړ دی. د درانیو ملک د دغه غره په لور د شوراوک په قطب او ختیځ کې پیل کېږي. په دغه برخه کې دغه ملک د وچو غرونو په منځ کې ځینې ښې شنې ټوټې لري. رباط له دغه ډول څخه دی، چې دغه سیمه د غز ونو په بوټو پټه ده، چې ډېرې رمې پکې ساتل کېږي او یو څه حاصل هم ورکوي. تر هغه لا د ختیځ په لور شګه ورکېږي او یو سپېره او ډبریز ملک پیل کېږي. دلته د ابادۍ ښایسته میدانونه او ویالې موندل کېږي. د هغه ډېر د یادولو وړ ځای مرغه نومېږي، چې هلته احمد خان نورزي یوه کلا لري او د کدنۍ په نامه یې یوه ویاله خړوبوي. ددغې سیمې زیاته برخه د رمو د پوولو لپاره ښه برابره ده.

د خوجه عمران د سلسلې په سهیلې برخه کې د مرغې په مقابل کې د توبې پراخ ملک پروت دی چې لویدیځ یې په اڅکزیو پورې اړه لري په داسې حال کې چې ختیځه برخه یې چې تر ژوب پورې غځېږي، په کاکړو پورې اړه لري.

د مرغې قطب ته ارغستان پروت دی او دا د هغه سیمې نوم دی چې خړوبوي یې ارغستان د لوړ و غر په مینځ کې ښایسته یوه ودانه دره ده. د غرو له بوټو نه ډکه ده، یو څه یې کرل کېږي او یو شمیر کلا وي پکې شته چې دبارکزیو د خانانو دی. خو د اوسیدونکو ډېر زیات شمیر یې شپانه دي، په ختیځې خوا کې هغه په یو لړه غونډیو ختمیږي، چې هغه له یوه داسې لوړ میدان څخه بېلوي چې تر اوسه هم دراني پکې اوسي او د راغستان په برنۍ مسیر سره او همدا رنګه په صالح یسون ((saui ye yesoon) سره او به کېږي چې دغه ملک د دغه سین په نامه یاد شوی دی. دا ملک د څړ ځایونو لپاره ښه موزون دی، خو کرنه پکې لږه کېږي.

د درانیو د ملک وحشي ځناور لیوان، کوبان، کیدړان، سورلنډیان، سویان او د هوسیو او ښکرو ورو غر څو ډېر ډولونه دي. په غرونو کې یې، یبان، پړانګان، ته ورته ځناور، بوران، (leopards) او د هلمند پاسه په ګرمسر کې ځنګلي خوګان،

Property of ACKU

غوریران، یعني گوره خره میندل کېږي. وحشي مرغان یې عقاب، بابښي او د ښکار ځیني لوی مرغان دي. بطې (په پسرلی کې)، وحشي قازان، وحشي ایلی، لگ لگ، زاڼې، کونگان، قارغان، میناگانې، کوترې، سیسی، مړزان او داسې نور هم پکې شته. اهلي شوي حیوانات یې اوښان، سنداگان (خو شمېر یې ډېر نه دی او په عمده ډول کندهار ته نږدې په هلمند کې موندل کېږي)، اسونه، کچرې، خره او نور حیوانات، پسونه، وزې، سپیان او پشوگانې دي. اهلي شوي مرغان یې پیل مرغان، کوترې او کله کله بتکې او قازان دي.

دا و د درانیو ملک یانې د هغه قوم ملک، چې تراوسه هم د ټول افغان په ملت حکومت کوي او د هغوی حکومت د کسپین د غاړو نه د گنگا تر سیند پورې چلېږي او د هغه قدرت په فارس تارتاري او ان په هغه لیرې ښار، په کوم ځای کې چې زه دغه پاڼې لیکم (پونه) کې لیدل شوی دی[1].

## د درانیو تاریخ:

درانیان پخوا تر هغه وخته د ابدالیانو په نامه یادېدل، چې احمد شاه د ځمکنیو نامتو پیر د خوب په نتیجه کې دغه نوم په درانیو واړاوه او پخپله یې د شاه دران لقب غوره کړ. زه د دوی د لرغوني تاریخ په اړه ډېر نه پوهېږم. یا هیڅ نه پوهېږم. د ځینو روایتونو له مخې د تویې غرونه د دوی ډېر پخوانی ټاټوبی و. درانیان د نورو بې شمېرو روایتونو له مخې د غور له غرونو څخه چې د پاراپامېزاد په سیمې پورې اړه لري، د خراسان اوارو ته ښکته شوي، خو دغه روایتونه په دې اړه څه نه وایي، چې دغه سیمه د دوی اصلي استوگنځی و او دغه مهاجرت د کومو لاملونو له امله شوی و.

## د درانیو څانگې:

دغه قوم دوه سترې څانگې لري، چې ځیرک او پنج پا دي، خو هغه اوس د بېلابېلو قومي څانگو د اصل او نسب له ښوولو پرته نور نه استعمالېږي. د ځیرک وېش تر هغه بل ډېر دروند گڼل کېږي او له دواړو څخه (۹) څانگې راوتلي، چې څلور یې په ځیرک او پینځه یې په پنج پا پورې اړه لري:

| ځیرک | پنج پا |
|---|---|
| پوپل زي | نورزي |
| الکوزي | الیزي |
| بارکزي | اسحق زي |

[1] پونه د مرهټه وو مرکز.

اڅکزي
خوږیاني
ماکو

پوپلزي ددغو ټولو څانګو ډېره نومیالۍ څانګه ده، ځکه چې له دغې څانګې نه د ټولو پښتنو پاچایان هسک شوي دي. شاهي کورنۍ د سدوزیو له وړې څانګې نه راوتلې، چې تر ډېرې مودې د پوپلزیو او په حقیقت کې د ټولو درانیو خان خپله یا د سر کورنۍ وه. کېدای شي چې سدوزي د درانیو د قوم تر ټولو لرغوني څانګه وي او په نتیجه کې د ټولنې له لومړني تشکل څخه هسکه شوې وي، خو ددغه مقام د لرلو ډېر پخوانی شاهد یې د فارس د یوه صفوي پاچا له خوا ددغسې یوه فرمان ورکول وو، چې د هغه په ار د سدوزیو مشر د ټولو ابدالي قوم سروال ټاکل شوی و.

هغه امتیازات، چې دوی ترېنه استفاده کوله، د پاچا له هغه امتیازاتو نه بیخي ډېر وو، چې له دغسې یوه قوم نه حاصلېدل. دوی ځانونه سپېڅلي ګڼل. هیڅ یوه ته نه جزا ورکول کېدای شوه او نه ترېنه بدل اخیستل کېدای شو، خو یوازې د خپلې کورنۍ د یوه غړي له خوا، پخپله د ابدالیانو مشر هم نه شو کولای په یوه سدوزي د مرګ حکم وکړي. دغه حال او دا چې پاچا د دوی مشر و، ددې لامل شول چې سدوزي که څه هم د پوپلزیو یوه وړه ښاخه ده، د یوې بلې څانګې په توګه وګڼل شي.

د پوپلزیو لوی استوګنځی د شهر صفا په ګاونډیتوب کې د ترنک د درې په لره خوا کې دی. ځینې یې په کندهار کې هم اوسي او یو څه شمېر یې د ملتان لرې ښار ته مخه کړې ده، چې ښایي دوی په خپل قوم کې د کومې سیاسي پېښې له لامله هلته تللو ته اړ شوي وي.

نور پوپلزي په ټولیز ډول د کندهار قطب ته په غربي ملک کې اوسي، دوی په شمېر کې ښه ډېر دي او په ټولیز ډول د ډېرو دقیقو ځایي روایتونو له مخې دولس زره کورنۍ حساب شوي دي[1] که څه هم ځینې یې پوونده دي، بیخي ډېر یې کرنه کوي. دوی د درانیو په قومي څانګو کې تر ټولو ډېر مهذب ګڼل کېږي. د ملک ستر وزیر باید تل د دوی د بامیزي د وېش یو غړی وي او احمد شاه له همدغو پوپلزیو څخه ډېر کسان د دولتي سترو مقامونو لپاره وټاکل.

## بارکزي

له پوپلزیو نه وروسته بله قومي څانګه د بارکزیو ده، چې له هغو نه په شمېر کې بیخي ډېر دي. دغه لویه څانګه د کندهار په سهیل، د ارغستان په ناوې، د هلمند په غاړو او په هغو اوارو کې اوسي، چې دغه سیند یې سره بېلوي. هغه بارکزي، چې

[1] زه ددغو قومي څانګو شمېر د دوی د نسبي اهمیت معلوملو لپاره ورکوم، نه دا چې زه د دوی د هر یوه په ثقه توب باندې کوم اعتماد لرم.



Property of ACKU

کندهار ته نږدې پراته دي او ډېر هغه يې، چې په ارغستان او د هلمند په سيمه کې اوسي، د ځمکې د ابادۍ له امله په کرنې بوخت دي او د نورو د زحمت او زيار په برکت ان د بيدياو په مېنځ کې کارېزونه روان شوي او کښتونه زرغون شوي دي، خو د قوم زياتره شمېر يې پوونده دي. دوی جنګيالي او د پياوړې روحيې خاوندان دي، ځنګه چې اوس فتح خان د هغې سروال دی، دوی په پښتنو کې تر ټولو ډېر ځرګند نوم لري. په حاضر وخت کې د ملک ستر وزير او په واقع کې د دولت ډېر ستر ماموران بارکزي دي. دوی د خپلې دغې لوړتيا لپاره د خپلې ځانګې د وفادارۍ او همت احسانمن دي، د دوی شمېر تر درېش زره کورنيو لږ نه دی.

اڅکزي په اول کې د بارکزيو يوه پښه وه، خو احمد شاه هغه ددې لپاره ترېنه بېل کړل، چې د هغو د ورونکي قوت لږ کړي. اڅکزي اوس د يوه بېل مشر تر حکم لاندې دي او له هغې ځانګې ځخه، چې دوی ترېنه راوتلي دي، بيخي بېل دي.

دوی له لوړې نه تر کدنۍ پورې، د خواجه عمران په غرونو کې او په هغو اوارو کې، چې ورسره نږدې دي، اوسي او تر ټولو درانيو ډېر شدل دي. د دوی يوازينی کسب شپني او شوکه ماري ده.

## نورزي

نورزي هم د بارکزيو په ځېر په شمېر کې ډېر دي، خو ځنګه چې دوی په لويديځ کې د غرونو په مېنځ کې او په سهيل کې په يوې بيدياې سيمې کې خواره دي، په هيڅ وجه د پښتنو په ملت کې ډېر درنښت نه شي لرلای، خو دوی يو جنګيالی قوم دی او هغه، چې دسيستان په لور په سرحد کې پراته دي، په هغې دوه اړخيزې شوکه کې د خپلې زړورتيا او لاس غځونې تمرين کوي، چې دوی د بلوڅو په سرحدونو کې مشغول ساتي. دوی نږدې ټول پوونده دي، ژمی په هغو وښيانه ځايونو کې تېروي، چې د دوی په سپېرې سيمې کې پيدا کېږي او د پسرلي په مېنځ کې سياه بند ته ځېږي.

## اليزي

اليزي په زميندا ور کې اوسي او زياتره يې کروندګر دي. دوی پينځلس زره کورنۍ شمېرل شوي دي.

## الکوزي

الکوزي يوازې لس زره کورنۍ حساب شوي. دوی د خپل ملک او عاداتو له مخې اليزيو ته ورته دي او له هغوی نه په هلمند سره بېل شوي دي.

اسحق زي د زميندا ور او بيديا په مېنځ کې اوسي او د دوی ملک د هغو ملکونو



Property of ACKU

ځانګړتیاوې لري، چې ورسره ګډې پولې لري یانې قطب یې غزنی او اباد دی او سهیل برخه یې اواره او سپېره ده. اوسېدونکي یې په برابر ډول په کرنه او شپنتوب لګیا دي. دوی په شمېر کې لس زره کورنۍ حساب شوي دي.

## ماکو او خوړیاني

ماکو او خوړیاني وړې قومي څانګې دي، ځانله بېل ملکونه، نه لري، ډېر یې په کندهار کې اوسي او ځینې یې له نورزیو سره ګډ دي. پخوا له دې ځانله بېل مشران لرل، خو په دولت کې د اوسنیو ګډوډیو له پیل کېدو نه وروسته هېڅ یو یې ټاکل شوی نه دی او دغه څانګې ممکن زر له منځه لاړې شي.

که څه هم هغه ملکونه، چې د درانیو د بېلابېلو څانګو لپاره تخصیص شوي، لکه څنګه چې یې بیان وشو، سره بېلې او ټاکلي دي. دغه څانګې په هېڅ وجه له یوې بلې څخه دبېلو قومونو په څېر په بېل ډول ژوند نه کوي. بالعکس د یوې قومي څانګې خلک د بلې څانګې د غړیو په منځ کې زیاتره ځمکې یا په بیه اخلي او یا یې د بخشش په توګه په نصیب کېږي. په ځینو ملکونو لکه په ګرمسیر او د کندهار په شاوخوا ملک کې نږدې ټولې څانګې تقریباً په برابر تناسب سره ژوند کوي.

د درانیو د ملک ټول نفوس ممکن په یقیني ډول اته لکه وي او ښایي یوه میلیون ته ورسېږي، خو مشکله ده چې ددغې موضوعاتو په اړه په پوره ډاډ لیکنه وشي. پخپله درانیان باید حتماً تر نیمایي ډېر وګڼل شي. په ټولیز ډول منل شوې ده، چې نادر شاه دغه قوم هغه وخت شمېرلی و، چې د هغو د جنګي مېړو د ټاکلو لپاره ځمکې ورکولې او هغه وخت دوی شپېته زره کورنۍ حساب شوي وو، خو که دغسې سر شمېرنه شوې هم وي، هغه باید اورمرو تر اصلي شمېرنه لږ حساب شوي وي. په دې چې ډېر کسان په تېره پوونده باید اورمرو په حساب کې نه وي راغلي. درانیان په یقین سره له هغه وخت راهیسې د غوړېدو په حال کې دي او شرایط د دوی د نفوسو د زیاتوالي لپاره ښه برابر وو او په دې ډول اوس د یو لک کورنیو په حدودو کې دننه ګڼل کېږي.

## مشر پاچا

د درانیو حکومت له هغو جمهوري قومونو څخه، چې ما یې دمخه بیان کړی دی، ډېر توپیر لري. که څه هم واضحه ده، چې دغه حکومت هم په لومړي سر کې په هغه طرز بنا شوی و.

داسې ښکاري، چې دغه توپیر به په ټولیز ډول هم د هغه نږدې ارتباط نتیجه وي، چې درانیان یې له پاچا سره لري او هم د نظامي خدمت په بدل کې د ځمکو د



Property of ACKU

هغې نیونې (Military Tenore) له لامله، چې دوی د هغه له مخې خپلې ځمکې په تصرف کې لري، پاچا د خپل قوم موروثي مشر دی.

دغه حالت له هغه احترام څخه، چې درانیان یې د سدوزیو کورنۍ ته لري، خاص اهمیت لري. په همدې ډول د دوی نظامي ستر قوماندان دی او دا تر هغه مثال نه چې په نورو قومونو کې شته، زیات تاثیر لري.

## د نظامي خدمت په بدل کې د ځمکې قانون:

په نورو قومونو کې نظامي خدمت، چې د دولت په مقابل کې د دوی وجیبه ده، یو نوی شی دی او دغه ابداع وروسته له هغه په دوی کې رواج وموند، چې دوی خپلې ځمکې ترلاسه کړې او هغه یې یا په زور ونیولې، یا یې بې له کومې بهرنۍ مرستې نه او بې له دې چې په کوم لېر کس د اتکا احسانمن وي؟ به ابادې کړې وي، خو د درانیو ځمکې په حقیقت کې دوی ته د نظامي خدمت په بدل کې ورکړ شوی او د دوی د ملکیت د حق بنسټ د پاچا له خوا یو بخشش دی.

د دوی ټول ملک د نادر شاه له خوا فتح شوی و او یوه برخه یې د غلزیو د ملک له یوې لویې برخې سره په دې واضح شرط اعاده شوه، چې دوی باید د هرې قلبې ځمکې په سر یو اس او سور تهیه کړي. دغه فارسي پاچا په مقابل کې ددغې عهدنامې تطبیق له هغه وخته راپه دې خوا د هغې پښتنې کورنۍ له خوا کېږي، چې تر هغه وروسته واکمنه شوې ده.

دسرو افسران، چې په دې ډول احضارېږي، د مملکت د هغو ملکي وېشونو سرداران دي، چې دوی ته تخصیصېږي[1] او دغه سیستم د ولسي حکومت د

---

[1] دغه سیستم تراوسه له هغه سیستم سره ورته دی، چې د (هابسبرگ) امپراتور د خپلو مجارستاني سرحدونو لپاره اېستلی او ښاغلي ټاون سن (Townson) په دې ډول بیان کړی دی:((د ځمکې دغه اوږده ټراټگه، چې په سهیل او ختیځ کې هنګري احاطه کوي، نږدې (۵۲۰/۰۰۰) اوسېدونکي لري، چې د هغو پېنځمه برخه یې نظامیان دي. دغه ځمکه په پېنځو لویو برخو وېشل شوې ده او هغه بنات، کروتیا (Crotia) د کاینه سکالووانیا (Scalovouia) او ترانسلوانیا (Tiransylvania) دی. دغه ستړې برخې بیا په ولایتونو، یا کنډکیزو ناحیو (Regimental Dstricts) او هغه بیا په کمپنیو وېشل شوی دی. څنګه چې دا یواځې نظامي حکومت دی له نظامي مامورانو پرته ملکي سروالان نه لري. کنډکیزه ناحیه ښایي د یوې کونټي (County) په څیر وګڼل شي او د یوه لارډ د مرستیال پرځای یو کرنیل په سر کې ولري: په همدې ډول د کمپنۍ یوه ناحیه ښایي د پروسي سوس (Processus) په شان وګڼل شي، چې د سرمامور (Juidexnobilium) پرځای یو کپټان (Captain) وي. په همدې ډول پاتې واړه منصبداران وګڼه، چې د ښکته ملکي مامورانو پرځای کار کوي، خو دغه پلان د هنګري د حکومت له خوا ددې لپاره تر اجرا لاندې نیول شوی و، چې د ترکانو تېریو مخه پرې ونیول شي، له هغه نه منظور دا و، چې د سرحدونو په ساتنې کې یوه جنګیالی هیئت، په تېره د هغو کسانو جدي خدمت جلب



Property of ACKU

سیستم له طرز سره په دې سر خوري، چې هغه ټول نظامي تقسیمات له قومي تقسیماتو سره توافق کوي او د موروثي مشرانو ټولې اړیکې خوندي ساتي. په دې ډول د یوې قومي څانګې مشر د هغو عسکرو قوماندانۍ پر غاړه لري، چې دی یې تهیه کوي او بشکته افسران تر ده لاندې د خېلونو او څانګو ملکان او مشران دي، چې هر یو یې د خپل ولس د یوې برخې عسکري قطعي قوماندان دی.

## داخلي حکومت:

جوته ده، چې ښايي دغه نظامي حکم د سردارانو قدرت د نورو قومونو د مشرانو تر قدرت ډېر کړي او سربېره پر هغه د دوی قدرت په هغه شتمنۍ او درناوي سره پیاوړی کېږي، چې دوی یې له درباري مقامونو نه په لاس وروړي، ځکه چې هلته ستر مقامونه د درانیو دي. څنګه چې دغه ګڼې د پاچا له خوا دوی ته رسېږي، داسې توقع کېږي چې سرداران باید حکومت ته د پوره متابعت په حال کې وساتل شي. دغه حال له دې لامله ډېر طبیعي برېښي، چې خلک له دولت نه ځمکې په مستقیم ډول ترلاسه کوي او په نتیجه کې په خپلو مشرانو باندې هغه اتکا نه لري، چې د فیوډالي سیستم ځانګړنه ده. د سردارانو ازادي د هغه نفوذ له لامله خوندي کېږي، چې دوی یې په خپلو قومي څانګو کې لري او هغه د دوی له اصل او نسب او د پښتني قومونو د پلارواکۍ له موسساتو نه راوځي. دا ټول حال ددې لپاره کفایت کوي، چې د دوی اهمیت تثبیت شي، ځکه چې د سدوزيو کورنۍ په عمده ډول د درانیو له خوا تاییدېږي او واکمني به ددغې کورنۍ له یوه غړي نه بل ته بې له کومې شخړې د ټول قوم په ټولیز اتفاق انتقال وکړي، نو پاچا ددغه سیستم په

کړی شي، چې مفاد یې پکې وي. بالعکس د دراني حکومت سیستم یوازې د ټولیز خدمت لپاره د لښکرو د یوې برخې د جوړولو په منظور د یوې اساني لارې په ډول طرح شوی وو ددغو دلایلو له مخې د هنګري حکومت د ځمکې د نیوونکي د واقعي استوګنځي د تهیه کولو په اړه ډېر جدي دی. په همدې ډول دغه حکومت د ځمکې د نیوونکي د زوی د واقعي خدمت په جلبولو باندې ټینګ وي او بې له قطعي اجازې نه د ځمکې انتقال نه مني. دوی د درانیو د حکومت پرخلاف له هېڅ یوې دغې موضوع نه اندېښنه نه لري او هغه د افرادو په اختیار کې پرېږدي. د دوی لپاره استوګنې هدف نه دي او انتقال اهمیت نه لري، په دې چې په دوی کې ټول خلک نظامي دي او په دوی کې هېڅ هغه راز دسپلین نه شته چې د یوه زاړه عسکر ساتل دومره لازم وګرځوي. په درانیو کې د قومونو په وسیله حکومت د دوی او د هنګري په سرحداتو کې د ځمکو نیوونکیو ترمېنځ د عمده اختلاف ټکی دی او ان په دوی کې د یوه منصبدار کرکټر د یوه قوم په مشر کرکټر کې دومره حل شوی نه دی. د درانیو د قومي څانګو مشران د نظامي لقب، سردار (جنرال) په نامه یادېږي. په داسې حال کې چې د نورو قومونو مشران د خان (مشر) په نامه یادېږي. د سردار لقب په پاچایي لښکر کې د هغه مقام ته او د خان لقب هغه قوم ته د موروثي ارتباط لپاره راجع کېږي.



Property of ACKU

نتیجه کې تر ډېره حده د درانیو د مشرانو په ښه نیت اتکا لري او مجبور دی، چې دی د واک او عزت د زیاتې برخې په بخښلو سره دغه نظام پر ځای وساتي. که څه هم، دی په واقع کې له هغه سره حسد لري او په غیر مستقیم ډول تل زیار باسي، چې تخریب یې وکړي. د ډلو اختیارات یو څه سره متعادل دي، د تاج او تخت د ګټلو په شخړو کې د یوې قومي ځانګې مشر ښایي زیاتره د هغه مدعی په خوا شي، چې دی ورته ډېر اخلاص لري، خو هېڅ وخت داسې نه دي شوي چې یوه دراني قومي ځانګه د سدوزي کورنۍ په ضد د شخصي تېریو یا د هغه د سردار نه د کرکې په وجه قیام کړی وي. له بلې خوا که څه هم داسې شوي، چې پاچا دغسې کسان د سردارۍ مقام ته لوړ کړي، چې د سردارۍ له کورنۍ نه وي او ان د یوې ځانګې شخص د بلې ځانګې سردار کړي، خو داسې ښکاري چې په دغسې حالاتو کې ده خپل اختیار تر هغو ډېر تطبیق کړی وي، چې درانیان یې منلو ته غاړه ږدي. کوم هغه مشران، چې په دغسې ډول سره ټاکل شوي وي، په ډېر اهمیت سره ورته اطاعت شوی او دغې ځانګې په ناقرارۍ سره د یوه سدوزي په مشرۍ د پاڅون انتظار اېستلی، چې دغسې نوی مشر او پاچا چې هغه یې مقرر کړی دی، خلع کړي او پر ځای یې خپل موروثي خان په ډېرې خوښۍ سره ومني. د کندهار د شاوخوا قومي ځانګې ممکن پاچا ته په ډېر ژور احترام قایل وي، په داسې حال کې چې د لیرې او ګوښه سیمو وګړي لکه اڅکزي او نورزي تر هر چا زیات خپلو سردارانو ته وفادار وي. دغه سردار ان په دغو قومونو کې هم د خپل واک ډېره برخه له پاچا نه ترلاسه کوي، خو دده په واک باندې کنټرول نظر د هغو قومونو د مشرانو واک ته، چې شاهي مرکز ته نږدې پراته دي، لږ دي تر هغو په لږه اندازه د واکمن د فوري مداخلې په اثر ضعیف او یا خلع کېدای شي.

ددغسې رقابت اغېزه د خلکو د سعادت لپاره ښه ډېره مساعده ده. هم د پاچا او هم د مشرانو لپاره د ستر اهمیت خبره دا ده، چې د خلکو رضایت حاصل کړي. په نتیجه کې که څه هم د ځینو ځانګړیو حالاتو له مخې د درانیو حکومت ته دغسې اختیارات ور په برخه شوي، چې د نورو قومونو په حکومت کې وجود نه لري، خو داسې ټولنې ډېرې لږې دي، چې هلته دې تر دې اندازې پورې د خلکو د نظریو او غوښتنو رعایت وشي. دوی د نورو امتیازاتو په جمله کې د هر راز مالیاتو له ورکړې معاف دي او د مالیاتو تادیه په ټولو اسیایي ملتونو کې د زېښناک (استثمار) یوه لویه منبع ده. پوځ ته هېڅ اجازه نه شته، چې د دوی په ملک کې لوټماري وکړي. یوازینی څیز، چې دوی په هغه سره له حکومت نه متحسس کېږي، د دوی د ټاکلو نظامي قطعو لپاره د حکومت غوښتنه او د عامه امنیت د خوندي

Property of ACKU

ساتلو لپاره د حکومت لاسوهنه ده، چې په هغو سره هم پخپله دوی تر نورو ډېر مستفید کېږي.

د درانیو هره ستره قومي څانګه د هغه سردار له خوا اداره کېږي، چې پاچا یې د سر له کورنۍ څخه غوره کوي. فرعي ویشونه یې د خانانو تر اداري لاندې دي او دوی د سردارانو له خوا د سر له کورنیو نه ټاکل کېږي. تر هغو نه د وړو خېلونو ملکان او مشران په ډېرو حالاتو کې د خلکو له خوا له مناسبو کورنیو نه انتخابېږي او د دوی ټاکنه د سردار د تایید تابع ده، خو په نورو حالاتو کې دوی د سردار له خوا ټاکل کېږي او سردار د خلکو خوښه یو څه په نظر کې نیسي.

کله چې بېلابېل خېلونه په یوه کلي کې اوسي، دوی ځانله جلا جلا محلې لري او هر خېل د خپل حاضر ملک یا مشر تر اداري لاندې ژوند کوي، خو ددغو محلاتو په مېنځ کې هغسې اختلافات هېڅ نه دي لیدل شوي لکه څنګه چې په یوسفزیو کې شته. دوی د یوې کورنۍ د غړیو په حیث په پوره هم آهنګۍ کې سره ژوند کوي.

په درانیو کې د بېلابېلو مشرانو اختیارات که څه هم، هغه په خپلو حدودو کې ښه اغېزمن دي، ساده دي او د هغو قومي مشرانو د اختیار په پرتله، چې پاچا ته زیات تابع نه دي، د هغو د تطبیق ساحه محدوده ده. دوی له نورو قومونو سره دښمنۍ نه لري، په همدې ډول په هغه یوه قوم کې دننه د څانګو ترمېنځ شخړې نه شته، چې په هغو کې مشران د خلکو د عملیاتو په لارښوونې سره خپل اهمیت وښودلای شي. په همدې ډول د دوی قومي څانګې د سلا مشورې او بحث لپاره هغسې موضوعات نه لري، چې په هغو کې د آزادو قومونو مشران خپل سیاست او خپل نفوذ څرګندوي. عامه امنیت د پاچایي حکومت له خوا خوندي کېږي او د سردارانو او خانانو وظیفې په دې پورې محدودې دي، چې د افرادو ترمېنځ شخړې حل کړي. کله چې دغه شخړې د مشرانو په منځګړتوب سره اوارې نه شي، هغه د ملک له خوا جرګې ته وړاندې کېږي او د هغې پرېکړه د لزوم په وخت کې د سردار له خوا نافذېږي. د نورو محلاتو او ان د نورو کلیو ملکان کله کله له دغو جرګو سره مرسته کوي.

د وینې د پور اخیستلو روحیه که څه هم نظر نورو ځایونو ته دلته کمزورې نه ده، خو اخیستل د حکومت د پیاوړتیا په سبب ډېر کم شوي دي، خو درانې یو څوک د هغه مرګ پر ځای چې پخوا شوی وي، نه وژني. څه وخت چې مرګونه په دواړو خواو کې برابر وي، دوی داسې فکر کوي چې طبیعي عدالت ترسره شوی که څه هم دوی دویم قاتل ددې لپاره تبعیدوي، چې د خپلې تولنې ارامي خوندي کړي. که پارول شوې ډله سردار ته شکایت وکړي، یا که دې پخپله د کوم قتل له پېښې نه خبر شي،

Property of ACKU

کوښښ کوي چې لومړی د خون بها په ورکولو روغه وکړي، خو که کومه خوا قانع نه شي، سردار دغه موضوع پاچا ته وړاندې کوي او پاچا هغه قاضي ته د پرېکړې لپاره راجع کوي او که تورن محکوم شو، هغه د مقتول وژنې ته د اعدام لپاره تسلیموي.

د سردار له خوا ددغې وروستنۍ پریکړې طرز په ښارونو او د مملکت په متمدنو برخو کې پوره معمول دی. شخصي کسات اخیستل په پوونده و کې ډېر رواج لري. په دې چې پووونده په غرونو او دښتو کې ګرځي او د حکومت له ټولو مرکزونو او له محکمو څخه لرې پراته وي، خو دلته هم شخړې او دعوې یوازې کله کله د ډانګ او کانو له منظمې مقابلې نه سرغړونه کوي او وینه په ټولو درانیو کې یوازې کله کله په کورنیو شخړو کې تویېږي. په دوی کې پخپل هېوادوال باندې توره ایستل یو لوی شرم ګڼل کېږي. په دوی کې یوه عنعنه ده، چې وایي د پخوا وختونو سدوزیو خپلو قومي خلکو ته قسم ورکړی و، چې په خپلو مېنځو کې به په جګړو کې د تورو له استعمال نه پوره ډډه کوي.

په درانیو کې مدني دعوې د کلي د مشرانو او د دواړو خواوو د ملګریو له خوا او یا د ملایانو په مېنځګړتوب، یا د یوه نږدې قاضي له خوا فیصله کېږي. څه وخت چې سردار یا کوم بل مشر په قوم کې نه وي، دده دندې دده د هغه نایب له خوا، چې پخپله ده ټاکلی وي، ترسره کېږي. دغه نایب په ټولیز ډول دده ورور یا زوی یا دده نږدې خپلوان وي. کله چې پاچا د درانیو په سیمه کې نه وي، دده ځای هغه شهزاده نیولی وي، چې د کندهار حکومت یې په لاس کې دی.

## د درانیو خویونه:

ما دمخه ددې یادونه وکړه، چې د درانیو نیمایي پوونده او نیمایي بزګر دي. دغه وېش البته د قوم د بېلابېلو برخو د ژوندانه په خویونو او عاداتو کې توپیر راولي. لومړی به د هغو بیان وکړم، چې په کلیو کې اوسي او په دغه بیان کې به د کندهار له نږدې څخه په ټولیز ډول خپلې څرګندونې شروع کړم.

د درانیو د کلیو ټولیز شکل داسې دی، چې څلور کوڅې لري او ټولې یې په مېنځ کې یوه څلور لارې (چارسوق) ته رسېږي.

په دغه ځای کې ډنډ کله کله او ربې تل موجودې وي، دلته هر ماښام ځوانان د لوبو لپاره ټولېږي. په داسې حال کې، چې لویان یې ننداره کوي او د هغوی په مهارتونو، یا کسبونو ګرېږي.

## د دوی د کورونو بڼه:

د درانیو کورونه له پخو یا اومو خښتو نه جوړ شوي او په بوس لرونکیو ختو

Property of ACKU

سره تینګ شوی دی. بامونه یې کله کله اوار وي او په ډېرو (دستکو) باندې پټ شوي وي، خو زیاتره وخت د خښتو له درېو یا څلورو ټیټو ګنبدو څخه جوړ شوی وي او خښتې یې یو په بل باندې ایښودل شوې وي. د یوې ګنبدې په مېنځ کې یوه دریڅه وي او له پاسه یې ددې لپاره چې د باران مخه نیول شوی وي، یو دود کښ ایښودل شوی وي. ددغه ډول بام سپارښتنه ددې لپاره کېږي، چې لرګیو (دستکو) ته پکې اړتیا نه لیدل کېږي. لرګي په دغه ملک کې لږ دي، د استوګنې زیات کورونه یواځې یوه کوټه لري، چې سور یې نږدې دولس او اوږدوالی یې شل فوټه وي.

د استوګنې کورونو ته نږدې دوه یا درې نور څو ځایونه هم کټ مټ په هغه ډول جوړ شوی وي او هغه د څارویو، پسونو یا د وښو، لرګیو، غلو او د کرنې د سامانونو لپاره وي. زیاتره کورونه دوره په مخ کې یو وړو انګړ لري، دلته په تودوخې کې ټول فامیل سره کېني، په خونه کې تغرونه اواروي او د هغو له پاسه د ناستې لمڅې غوړول شوې وي. په ټولیز ډول د کلي په شاوخوا کې باغونه وي. په دغو باغونو کې د اروپا ټولې مېوه لرونکې ونې وي او شاوخوا یې د توتانو چنارونه، سپېدارو یا نورو یو څو ونې وي، چې یوه ډېره عامه ونه یې د مرونډې (Marandye) او بله یې چې ښې پلنې پاڼې لري، د پرا (Purra) په نامه یادېږي.

## د کلیو د خلکو کسبونه:

په ټولیز ډول د درانیو په کلیو کې یواځې یو څو دوکانونه وي، چې دکانداران یې خپله پښتانه، نه دي. د بېلګې په توګه کندهار ته نږدې د بالاده (Bulledee) په کلي کې، چې نږدې دوه سوه کورونه لري، دوه دکانونه شته او په هغو کې غنم، بوره او نور خواړه پلورل کېږي. د مېوې یو دکان او یو بل دکان، چې چاکوګان، بیاتې ګانې، ږومنځې، د مخ هنداري او داسې نور څیزونه پکې موندل کېږي، هم پکې شته. نږدې په هر کلي کې یو ترکاڼ، یو پښ او کله کله یو یا دوه جولایان هم وي. څومره چې یو کلی ښار ته نږدې وي، هغومره پکې کسبګر لږ وي. ښځې جامې ګنډي، دوی کله کله شړۍ هم اوبي. د درانیو په هر کلي کې څه نا څه یو او زیاتره وخت دوه جوماتونه وي. هغه ملا چې هلته پکې امامت کوي، د کلي له هر اوسېدونکي څخه غله اخلي او سربېره پردې هلکانو ته د تدریس له لارې هم اجوره اخلي.

په ډېرو کلیو او په ټولیز ډول د کلي په میدانونو کې (چېرته چې موجود وي) یوه ولسي حجره وي، هلته د کلي ټول نارینه د غورو او ساعت تېرۍ لپاره غونډېږي.

د کلیو د ټولو اوسېدونکیو لوی کسب کروندګري ده. دو خپل لوی فصل (چې د

Property of ACKU

غنمو، وربشو او نورو دانو څخه مرکب دی) په نومبر کې کري او د جون په سر کې یې ربیي. له هغه وروسته بل فصل، چې په ټولیز ډول حبوبات دي، کرل کېږي او د سپتمبر په پای کې ربیل کېږي. ختکې، بادرنگ او داسې نور هم په جون کې او زراعتي واښه په پسرلي کې کرل کېږي. دا ټول په مصنوعي ډول اوبه کېږي[1].

د کرنې لپاره د دوی څاروي په ټولیز ډول غوایان دي او هر کور دوه یا څلور جوړه غوایان لري. ډېر خلک پسونه هم لري، چې له هغو څخه غوښه، شیدې او وړۍ لاس ته راوړي. همدارنگه دوی د شیدو لپاره غواگانې ساتي. د دوی پسونه د ورځې له مخې په غونډیو یا ښارو ځمکو کې پیيول کېږي او ماښام کورونو ته راوستل کېږي. ځینې کسان چې کسب یې شپونتوب دی، په اوړي کې له خپلو مالونو سره غونډیو او پوښتیو ته ځي او هلته په کېږدیو کې اوسي. دوی په ژمي کې په اوارو میدانونو کې پرېمانه واښه پیدا کولای شي. هغه څاروي، چې له هغو نه په بار وړلو کې ډېره استفاده کېږي، خره دي، خو د اوږدو مزلونو لپاره له اوښانو څخه کار اخیستل کېږي او ډېر یې ددې لپاره ساتل کېږي، چې سوداگرو ته په باړه (کرایه) ورکړل شي. اسونه، کچر هم په ځانګړي توگه د اسحق زیو په ملک کې روزل کېږي.

هغه دراني، چې اقتصادي حالت یې تر نورو ښه وي، خپلې ځمکې په بزگرو، اجوره کارو، کارگرو او یا په غلامانو کري. دوی په خپله د ناظرانو په څېر عمل کوي. زیاتره وخت په هر هغه کار لاس پورې کوي، چې دوی ورته اړه پیدا کړي لکه په انگلستان کې منځنۍ ځمکه وال. غریب درانیان زیاتره وخت بزگران خو کله کله کارگران دي. دغه وروستي کسب په ټولیز ډول د تاجکو یا د پښتنو همسایه و په برخه دي.

د کروندگرو یو زیات شمېر په کېږدیو کې اوسي او هغه څنگه چې وروسته به یې ذکر وشي یا له تور تغر، یا له تور پرېړ لمڅي نه جوړوي او په دوو دغسې تېرونو باندې تکیه لري، چې سره تاو شوي او یو په بل په داسې ډول اړول شوي وي، چې گواکې یو لیندۍ ډوله طاق یې جوړ کړی وي. هغه کروندگري کورنۍ، چې په کېږدیو کې اوسي، د خپلو ځمکو له پولو څخه نه اوړي او هغه هم یواځې ددې لپاره، چې ځای بدل کړي یا یواځې د یوه پاک میدان نه استفاده په نظر کې وي او یا غواړي د ځمکې هغې برخې ته نږدې شي، چې په عمده ډول د وخت کرنه پکې کېږي.

## د وړو خانانو کلاگانې:

نږدې هر کلي یا د خان له کلا نه چارپېر، یا له هغه سره تړلی وي. دغه کلاگانې

[1] موسمونه د ملکونو د موقعیت له مخې توپیر کوي. هغه چې ما پورته بیان کړل، په کندهار پورې اړه لري.



Property of ACKU

په یو دېوال، چې دومره ټینګ نه وي، احاطه شوی او په ټولیز ډول هغه له مدافعوي منظور څخه زیات د خلوت لپاره جوړ شوی وي. سره له دې هم کله کله په کونجونو کې ګرد برجونه لري او څه وخت، چې ستر خانان پکې اوسي، دوی کله کله په دېوالونو کې د دارو توپونه (Swirels) او یوه وړه عسکري قوه هم لري. دا قوه د خان د نوکرو او نورو خپلوانو پرته بله قوه ده، چې هغه په ټولیز ډول یوازې د کلاګانو له اوسېدونکیو څخه جوړه وي.

دغه کلاګانې په څلور کونجه میدان کې جوړې شوې وي او په منځ کې یې د کورونو یو کتار وي. په یوه اړخ کې یې د خان لوی سالون او نورې کوټې وي او په بلې خوا کې یې د هغه د خپلوانو، نوکرانو، نورو د لاس لاندې کسانو او د هغه د مال او اسباب لپاره تحویلخانې او د اسونو لپاره طویلې وي. د کلا په منځ یانې انګړ کې معمولاً یو اوار میدان وي، خو کله کله یو کوچنی باغ هم لري، د دوی لوی باغونه تل له کلا څخه بهر وي او هغه رمې، ګلې او اسان یا اوښان، چې په خان پورې اړه لري، په لېرو ځړځایونو کې ساتل کېږي او هغه مزدوران، چې د هغو ځارنه کوي، په کېږدیو کې اوسي.

د هرې کلا په یوه وره کې مېلمستون وي، هلته د لارویو عزت کېږي او زیاتره وخت د کلي خلک هلته ټولېږي، چې له مېلمنو سره وغږېږي او خبرونه واوري،

د خان کور په هغه طرز سره فرش شوی وي، چې په مملکت کې رواج لري او که څه هم لکه څنګه، چې یې توقع کېږي، غریب خانان په لا ډېرې سادګۍ سره ژوند کوي، خو شتمن یې داسې کوټې لري، چې په بېلا بېلو طرحو سره ښکلې شوې او ښکلې زلو چې او نیمڅې پکې غوړول شوې وي.

## د وړو خانانو کړه وړه:

داسې ښکاري، چې پخپله خانان (زه دلته په ټول ملک کې له عمومي خانانو څخه بحث کوم) باوقار، درانه، سپېڅلي او اعتدال خوښې کسان دي او دوی که څه هم ډېر ساده او بې ډوله دي، بیا هم اسونه او نوکران لري او له عامو درانیو نه په کالیو او کړو وړو کې لوړ دي. په ټولیز ډول دوی د خوار یکښو او درنو خلکو یوه ډله ده، چې د کرنې په چارو بوخت دي او هڅه لري، چې خپلې ځمکې ښې ابادې کړي. دوی له لاس لاندې کسانو سره په نرمۍ او روغ نیتۍ سره چلند کوي او لاس لاندې کسان دوی ته په درناوي او درنه سترګه ګوري.

د خان لقب هېڅکله په رسمي سندونو کې نه ورکول کېږي، یوازې هغو اشرافو ته په دغه ډول ورکول کېږي، چې د پاچا په فرمان سره دغه امتیاز ورپه برخه کېږي، خو پخپله ولس دغه عزت هغه ته ورکوي، چې تراوسه یې ما بیان کاوه لکه چې په



Property of ACKU

سکاټ لینډ کې د لیرډ (Laird) یاني لارډ (Lord) لقب د اطرافي سیمې هغې اشرافي طبقې ته ورکوي، چې د دوی په ټولنه کې د خپل دریځ او له عوامو خلکو سره د خپلو مناسباتو له امله د درانیو له وړو خانانو سره لږ ورته والی نه لري.

ښخوا له دې، چې د درانیو د کرنې په اړه خپل بحث ته دوام ورکړم، ښایي د تاجکو او نورو هغو خلکو په باب څه ووایم، چې دوی په دغه قوم پورې اړه نه لري، خو ورسره نږدې اوسېږي:

## تاجکان

تاجکان په زیاته اندازه له درانیو سره ورته دي. نه دوی او نه د پښتنو همسایه ګان کوم محصول تادیه کوي او نه دوی د دغسې نوکرۍ په کولو مجبور وي، په کومه چې یوسفزي خپل فقیران مجبور کړي دي. دوی برابر نه ګڼل کېږي، خو کوم هغه لوړوالی چې درانیان یې د ځان لپاره غواړي، هغه زیاتره د دوی د لا شریف نسب او لوړ همت له امله دی، نه د کوم حقوقي مزیت له مخې، چې دوی یې په خپلې ټولنې کې لري.

د پښتنو همسایه ګان له درانیو سره ښه ناسته ولاړه کوي او څنګه چې دوی د هغو په مېنځ کې د ملکیت تر بار لاندې ډېر کړوپ شوي نه دي، دوی په دغسې یوه حال کې دي، چې نظر دې ته چې د درانیو له ډېښاک نه ډېر تاواني شي، د هغو له مېلمه پالنې نه ډېره ګټه پورته کوي. د درانیو د پرونده و برخه په عمده ډول د هلمند او سیستان د غرنۍ سیمې په مېنځ او د سهیل په شاړو میدانونو کې موندل کېږي. د کندهار د ختیځ خلک هم په زیاته اندازه د پوونده توب په کسب لګیا دي. ددغه ملک په ډېرو نورو زراعتي برخو کې هم شپانه شته دي او هلته زیات کروند ګر لیدل کېږي، چې د شپونتوب په کسب لګیا دي.

د شمالي کندهار کوچي قومونه په ژمي کې په اوارو میدانونو کې پاتې کېږي او په اوړي کې هسکو برخو او غونډیو ته خېژي. د سهیلي کندهار کوچي قومونه د توبې (Toba) په غرونو کې له تودوخې نه تښتي، خو د دوی د کوچیو ډېره لویه برخه د هلمند نه هغه خوا قومونه دي او دوی د پسرلي تر نیمایي دمخه د پاراپامېزاد په غرونو کې سیاه بند او بایاغوز (Bauyaghuz) ته جګېږي. وروسته له دغه وخت نه یوانځې کوم سړی که په اوارو کې ولیدل شي. دغه لېږد د درېو یا څلورو میاشتو لپاره دوام کوي.

## د کوچیو درانیو کېږدۍ

له هغو پوونده و پرته، چې په بر هلمند کې اوسي، نور ټول په کېږدیو یا په هغو تورو خېمو کې اوسي، چې اوس به یې په تفصیل سره بیان وشي.

Property of ACKU

د عامو خلکو کېږدۍ له شلو نه تر پنځه ویشتو فوټو پورې اوږدې، لس یا دولس فوټه پلنې او اته یا نهه فوټه لوړې وي. دغه کېږدۍ د تیرونو په یو لړ باندې، چې په ټولیز ډول درې دانې وي، تکیه لري او د عامو کېږدیو په څیر په داسې ډول درول کېږي، چې د ټوټې هغه ښکتنۍ برخه، چې بام ورځنې جوړ وي، د ځمکې نه څلور یا پینځه فوټه جګه وي. هغه خلاص ځای بیا په داسې پردې سره پټېږي، چې د کېږدۍ له غاړې نه ځوړنده وي او کېږدۍ په میخونو سره، چې د همدغه مقصد لپاره ځمکې ته رسېږي، تړلې وي. دغه کېږدۍ د اوښانو له وړیو نه د جوړو شویو تورو زیږو ټوټو څخه جوړې شوې وي. کله کله یو ستوی او کله کله ښه پرېړې وي او د موسم په مقابل کې یو ډېر ښه سر پټونی وي. د کېږدیو مزي همدا چې لامده شي، پړسېږي او له هغه څخه دغسې ترکیب جوړ شي، چې اجزا یې په طبیعي ډول سره نږدې شي او باران پکې نفوذ نه شي کولای.

د خانانو او د نسبتاً شتمنو کسانو کېږدۍ د عوامو تر کېږدیو ښې وي. د دوی کېږدۍ دومره لوړې وي، چې ډېر کسان پکې د جرګې لپاره غونډېدلی شي او دومره لوړې وي، چې اوښ پکې ننوتلی شي.

ډېر درانیان خپلو کېږدیو ته د لیمڅي استر ورکوي او دغه استر په ژمي کې کېږدۍ د اوسېدلو لپاره ښې مستریحې ګرځوي. د ټولو پووندو کېږدۍ په ټغرونو او لیمڅیو فرش شوې وي. د عوامو خلکو کېږدۍ په یوې پردې سره وېشل کېږي، یوه برخه یې د تارینه و او بله یې د ښځو لپاره وي او ان ډېر غریب درانیان د خپلو پسونو لپاره لږ تر لږه یوه جلا کېږدۍ لري. غریب کسان د پسونو لپاره دخاږو دغسې موقتي کوډلې لري، چې بهرنۍ خوا یې په ختو اخږل شوې وي.

یو څه ګاونډیان هم په همدغسې ورته کوډلو کې ژوند کوي. د یوې معمولي کېږدۍ بیه نږدې دوه تومانه یا څلور سترلینګ پونډه ده.

## په ژمي کې د پوونده مېنې

د کوچیانو مېنې[1] له لسو تر پنځوسو کېږدیو جوړې وي. کله کله له سلو څخه هم جوړې وي، خو دغه شمېر په معمولي ډول خورا ډېر دی. دوی د خپل شمېر او د ځمکې د ماهیت په قرار خپلې کېږدۍ په یوه یا دوو کتارونو کې ودروي او د ملک کېږدۍ د کتار په مېنځ کې درول شوې وي. د هرې مېنې لوید یځه خوا په تیږو ښه شوې وي، چې له هغو نه د جومات په توګه کار اخیستل کېږي. د مېنې نه یو څه لرې د مېلمنو لپاره زیاتره وخت یوه کېږدۍ درول شوې وي. یوې لویې مېنې ته خېل او

[1] مېنه موقتي استوګنځي یا کمپ ته وایي. ژباړن



Property of ACKU

یوې ورې ته یې کلې ویل کېږي.

دا پورتنۍ شرحه په ژمي کې د کوچیانو د مېنو ترتیب ښيي یانې هغه وخت چې دوی خپلې مېنې د خپلو مشرانو د کلاګانو په شاوخوا کې جوړوي، په دغه ټول موسم کې خپلې رمې له مالګر څخه یو څه لرې پیایي او خپل شنه واښه په وچو پروړو، د تاکو په پاڼو او نورو وچو ښو سره ډېروي. دوی د هېواد په سړو برخو کې نوډې ټول په دغه ډول خوراک او هغو بوټو بسنه کوي، چې پسونه یې په واورو کې موندل کېږي، خو ددغو سیمو زیاتره شپانه په ژمي کې اوارو میدانونو ته ښکته کېږي، یا پناه لرونکیو درو ته ځي او خپلې رمې د درو په پیتاوو کې پیایي. په پسرلي کې چې شنیلې په ټولو ځایونو کې ډېر وي او د ګډو د لنګون موسم دا مشکله کوي، چې رمې له کلیو څخه لرې وپیولی شي، شپانه خپلې مېنې تقسیموي او په ټول ملک کې خپرېږي او چېرته، چې یو په زړه پورې ځای ومومي، هلته یو څو کېږدۍ وهي. د پسرلي په پیل کې دغسې ښه ځایونه ډېر موندل کېږي. دغسې ځایونه ان د درانیو د سیمې په ډېرو خرابو برخو کې هم پیدا کېږي. د لوړو غونډیو د شاوخوا په جلا جلا درو کې، یا د روانو ویالو د غاړو په شنو میدانونو کې دغسې ډېر ښکلي ګوښه ځایونه په ځانګړې توګه موجود دي. په دغو شرایطو کې د کوچې توب د ژوند خوند او د خوښۍ دغه څپې د ښو وختونو په یاد سره په درانیو راځي او د خواشینۍ هغه موجونه، چې په لرې ملکونو کې د هغو درا په زړه کېدو له لامله په دوی غلبه کوي، یواځې د هغو کسانو له خوا حس کېدای شي، چې دوی هغه پخپلو سترګو لیدلي وي. په داسې حال کې هغه لېوالتیا، چې دوی یې د هغو ډول ډول مناظرو په لیدو سره ښکاره کوي، له کومو څخه چې دوی تېرېږي او همدارنګه هغه ذوق، چې دوی یې د پسرلي د ښکلا او خوښیو په اړه ښکاره کوي، دا ټول یو څوک په دغسې زیږو خلکو کې یې له کوم تعجب څخه یواځې کله کله لیدلی شي. دغه مېنې که څه هم ډېرې ورې او په ګوښه ځایونو کې پرتې وي، خو داسې بایلونه ګڼل شي، چې اوسېدونکي یې یواځې، یواځې ژوند کوي، ځکه چې دوی ډېرو مېنو ته تګ راتګ کوي.

د دوی اوسېدونکي زیاتره وختونه د وعدو له مخې او یا د ښکار او یا بل کار په غرض سره ګوري. په همدې ډول هغه مېلمستیاوې، چې د پسونو د سکوللو په موقع او یا په عادي وختونو کې ورکول کېږي، ددې لامل کېږي، چې د بېلابېلو مېنو اوسېدونکي سره ټول شي. دوی سربېره پردې زیات وخت د ګرځنده کسبګرو او ګرځنده سندرغاړو او یا د یوه لاروي په ورتګ سره، چې غواړي د هغو له مشهورې مېلمستیاپالنې نه استفاده وکړي، مستفید او محظوظ کېږي.

Property of ACKU

## د توبې شپانه:

د ژوند دغه طرز ممکن په تویه کې، چې په اڅکزیو پورې اړه لري، لا ډېر د کمال حد ته رسېدلی وي. دغه پراخه سیمه ډول ډول ده او له ځنګلونو نه ښځه ډکه ده. واښه او بوټي یې زښت ډېر او اعلی او له پرېمانه ګلانو سره ګډ دي. اقلیم یې دومره نرم دی، چې یوازې کله کله د شپې یا د ورځې پټون ځای ته کوم ضرورت حس کېږي. دغه په طبع برابره سیمه په اوړي کې د درانیو او ترینانو له مېنو نه ډکه وي. دوی په خپلو کې د دوستۍ په ډېرې ښې فضا کې ژوند کوي. یو د بل مېنو ته ځي راځي او یا زیاتره وخت په ګډه په ښکار پسې وځي او په خپلو مېینو کې یو بل ته مېلمستیاوې ورکوي. په دغو مېلمستیاو کې نوي او ناآشنا کسان ډېرې ښې جامې اغوندي او په داسې مواقعو کې له نږدې ګاونډیو نه د دوی زیات عزت کېږي. په دغو مواقعو کې له دولسو پینځلسو کسانو څخه جوړې ډلې د ډوډۍ خوړلو لپاره په خلاصې هوا کې سره ټولېږي او خپل وخت تر نیمې شپې پورې په لوبو، اتڼونو او سندرو ویلو تېروي، بې له دې چې هغه فسق او فساد او له هغو نه پیدا شخړې پکې وي، کومې چې په نورو سیمو کې د عامو خلکو خوښۍ ګډوډوي. په دغه دورې کې د دوی میلې د دوی د سلیقې لپاره ښې فوق العاده وي. د وریو اختنه شوي غوښې، کورت، مستې، پوڅې، کوچ پنیر، پیروي او هر هغه څه، چې له شیدو نه جوړېږي، پرېمانه وي. دوی اوړی په دغه ټول تېروي، ترڅو چې ژمی رسېږي.

## د خلکو مشغولیت:

سره له دې هم داسې باید ونه ګڼل شي، چې دغه آرامه اجتماعي وضع پوونده قومونه په ټولو مواقعو کې تاوده او ژوندي ساتي او وارو د غرونو په څوکو پیل کوي. بیا نو دوی د لرې سیمو، یانې ارغستان، پښین، زیاط او د پراخو مېرو څنډو ته په تکل خوړېږي. هغه شپانه، چې د بلوچستان او فارس په لوړ پوړو کې اوسي، په سرحدي نښتو کې ویرونکي او فعال وي ان اڅکزي هم، چې د دوی سیمه لکه څنګه چې ما یې بیان وکړ، د آرام او ساده ژوند یوه صحنه ده. په ټول دراني قوم کې تر ټولو جنګیالي او لوټمار دي. دا ممکن یو څه متضاد وبرېښي، خو دا په هېڅ وجه د لوټمارۍ او جنګي روحیې د اتحاد لومړنۍ بېلګه نه ده، چې د شپانه توب ساده او پاک ژوند ورسره ګډ وي او ان د رومانتیکي منظرې سحر او اجتماعي لذت په مقابل کې پوره حساسیت ښودل کېږي. د هومر (Homer) په دوره کې ټول یونان همدغسې متضادې بېلګې لرلې دي. زموږ په وختونو کې د سکاټ لینډ سرحد همدغسې ځانګړتیا لري او هغه د اوسېدونکیو سندرې هم د لوټمارۍ او شکاوونې لپاره د یرغلونو حکایت کوي او هم د ساده توب او مینې د ډېرو لطیفو او نرمو

Property of ACKU

احساساتو عطرونه خوروي ان پخپله ارکادیان (Arcadies) چې موږ خپل ټول نظریات د هغو دشپنو له طلایي دورې څخه اخلو، هم یو جنګي نژاد و او د دوی د ورو سیمو (Cantons) د دوه اړخیزو داړه ماریو له لاملـه وه، چې د دوی شپانه یې په پای کې مجبور کړل خپلې رمې او غرونه شاته پرېږدي او په دغسې ورو ښارونو کې ځانونه خوندي کړي، چې په دېوالونو سره محاط شوي وو[1].

اوس به د درانیو د مېنو (کمپونو) ترکیب بیان شي. هره مېنه د یوې کورنۍ له غړیو نه جوړه ده، خو په یوې کې همسایګان، چې په هغو کې غلزي او کاکړ تر ټولو ډېر دي، شته دي. دوی کله کله تاجکان او زیاتره وخت ایماق هم لري، چې د پښانو او بزګرو (اجاره ګرو) په څېر کار کوي.

په مېنو کې ددغو وروستیو شتـه والی ښایي عجب وبرېښي خو د درانیو ټولې کوچنۍ ډلې لږ څه ځمکه کري او کله چې دوی له خپل ملک نه لیرې ځي، د هغو څارنه خپلو بزګرو ته پرېږدي. دوی ان د اوړي په ځایونو یا بانډو کې هم لږ څه کرنه کوي، خو داسې ښکاري، چې دغه کار د څټکیو او لږ مقدار غلو دانو له کرنې نه تجاوز نه کوي.

هغه وخت، چې دوی له خپل ملک نه ډبانډې وي، د خپلو رمو، ګلو له زیاتې شوې برخې څخه یوه برخه هغه چاته ورکوي، چې په ځمکو باندې یې اړولی وي. د دوی د رمو ډېره غټه برخه پسونه دي. دوی وزې هم ساتي او څنګه چې د دوی ملک لږ و ډېر غرنی دی، د هغو شمېر که لږ وي یا ډېر، د پسونو په شمېر تله وي. په ځینو برخو کې د رمو درېیمه برخه وزې وي او په نورو کې دوی یواځې یو څو وزې ساتي، چې د څریدلو په وخت کې د رمو مخکښې اوسي. هغه پووند، چې دښتو ته نږدې وي او یا په اسانو شرایطو کې ژوند کوي، اوښان ساتي چې په هغو خپلې کېږدۍ او کالي ولېږدوي. دوی نر اوښان خرڅوي او اوښانې یې د نسل اخیستلو لپاره ساتي. غریب کوچیان له غویو او خرو څخه کار اخلي.

نږدې هر سړی یو اس او ډېر شمېر تازیان لري. نارینه دومره بوخت نه وي، یواځې یو یا دوه کسه ددې لپاره بس دي، چې د یوه کمپ د ټولو پسونو پاملرنه پر غاړه ولري او ان دغه کار هم له خپلو همسایه و څخه یوه اجیر شپانه ته سپاري. د دوی هغه لږه کرنه په هغو بزګرو سره کېږي، چې په ټولیز ډول له همسایه ګانو څخه وي. دوی په پسرلي کې ډېر بوخت وي. په دغه وخت کې اسونو ته زیاتره وخت د شپې واښه ورکول کېږي او تر معمولي وخت نه د شپنو شمېر دوه واره ډېر وي. په

[1] هیله ده، چې زما د لیکنې نه داسې مفهوم وانه خیستل شي، چې زه پښتانه داسې معرفي کوم، چې ارکادیانو د شپنو شاعري تمثیل کوي.



Property of ACKU

همدغه موسم کې دوی باید د خپلو ګډو خبر واخلي او د پسونو وړې وسکولي، خو دغسې کاروانه دوی د خپلو مزلونو په وخت کې چې هېڅکله له پينځو يا شپږو ميلو څخه زيات نه وي، مجبور وي خپل څاروي بار کړي، ها يې کړي او خيمې ودروي. د کور دننه ټول کاروانه د ښځو پر غاړه وي. په همدې ډول دوی خپل کالي ګنډي او زياتره وخت ټغرونه او د کېږديو لپاره ټوټې او د اسونو لپاره نماېشي ځلونه اوبي. دوی د خپلو ګاولو، خوليو او داسې نورو زياته برخه په هغو ښارونو کې پلوري، چې د دوی ځينې شپانه هلته کله کله د کورتو، غوړيو، ليمڅيو، ټغرونو نرو اوښانو او پسونو د خرڅولو لپاره ځي.

## د درانيو کالي

د هغو ټکو له څرګندونې څخه وروسته، چې په هغو سره د کليو او کوڅيانو د مېنو اوسېدونکي يو له بله توپير پيدا کوي، اوس غواړم هغه ټکي شرح کړم، چې د دوی ترمېنځ په ګډه توګه شتون لري. د ښارونو شاوخوا خلک، د کليو زياتره اوسېدونکي او ټول هغه پوونده، چې نسبتاً ښه ژوند لري، هغسې کالي اغوندي چې د فارس د خلکو له جامو سره نږدې ورته دي. دغه جامې که څه هم ډېرې مستريحې نه دي، ښې ښکلې دي او د بريرې په ښبودو سره د وګړيو ډېرې ښکته درجې خلکو ته هم د وقار او سپين روږتوب شکل ښښي[1].

[1] دغه جامې د پومبې له ټوکر نه جوړ کميس لري، چې د هغه له پاسه يو تنګ واسکټ اغوستل کېږي. د کميس لمنې ښکته تر لينګيو رسېږي او ګردی دی، يا يې په منځنۍ برخه کې يو په بل اوړي. دې ته الکالک (Ulkhaulik) وايي، چې په ټوليز ډول له چيټ څخه جوړېږي. هغه چې له ما سولي پټام (Masuli Patam) څخه جوړېږي، ډېر ستايل کېږي. د هغه د پاسه يو دغسې واسکټ اغوستل کېږي، چې قبه نومېږي او په زياته اندازه د هغه بل په شکل وي. دغه واسکټ يا د يوه نسواري زېړه وړين ټوکر څخه جوړوي، يا ددغسې يوه ډېر محکم نساجي ټوکر نه جوړوي، چې سدوک (Sadduk) نومېږي او هغه کله يو تېز رنګ لري، خو په ټوليز ډول ډېر عام رنګ يې تور او شين بخن وي. هغه د سينې د پاسه تړل کېږي، خو تارونه يې پټ دي او د تڼيو يو کتار چې په وريښمو پوښل شوی وي، د ټټر په يوه خوا مخ په ښکته ليدل کېږي. په داسې حال کې، چې د وريښمو د ولونو (حلقو) يو لړ په هغې بلې خوا کې ليدل کېږي. که څه هم هغه له تڼۍ نه ډېر ليرې وي. د لستوني په څنډه کې د تڼيو او ولو (حلقو) يو اوږد کتار وي، چې هغه د لاس تر دننۍ برخې پورې رسېږي. دوی په ژمي کې وريښمين يا نخي ارت او رنګه پرتګونه اغوندي او لنډې جرابې او دغسې فارسي ګاولې په پښو کوي، چې دمخې خوا يې ګرده او پراخه او د پوندې خوا يې تنګه وي. د جرمني ساق لرونکيو بوټانو په څير په هغو مېخونه وهل کېږي او په دننۍ برخه کې يې چې پونده پرې استواره وي، د لرګي يوه ټوټه وي چې هغه پوره نيسي او د عاج (يا فلز) په دغسې نازکې صفحې پوښل شوی وي، چې په هغه کې ځينې څيرې په تور رنګ وهل شوې دي. د دوی ګاولې له ښې نسواري رنګه څرمنې نه جوړې شوې وي. د سر خولۍ، چې د چيټ يا له وريښمنې ټوټې نه جوړه وي، نږدې شپږ انچه لوړه وي. خولۍ په يوه بل



Property of ACKU

غریب درانیان په تېره پوونده یې هغسې ارت کمیس او کوټې اغوندي، چې ددغه کتاب د لومړي ټوک په سر کې کښل شوي دي. غریبان خپل کالي یوازې د جمعې په ورځو بدلوي او زیاتره وخت یوه جمعه وروسته یې الیشوي، خو دوی لږ تر لږه په اونۍ کې یو ځل لامبي او د دوی لمونځونه په دوی لازمه ګرځوي، چې خپل مخونه، بږیرې او لاسونه هره ورځ څو ځله پرېمینځي.

د هېواد په کلیوالو سیمو کې واړه خانان د فارس د خلکو په څېر جامې اغوندي. د دوی چګړي یا ګراتې له ورېښمو، اتلس یا د کتان او ورېښمو له مخلوطو څخه عبارت وي، چې تود پوښاک وي. کله کله له زري ټوکرانو څخه هم جوړوي. دوی ټول له شړۍ نه جوړ ملاوستني تر ملا تړي او لنګوټې په سر کوي. په همدې ډول د دوی ارت چکړي له ټوکرانو څخه، چې زیاتره یې سره رنګونه یا د ورېښمو بېل، بېل رنګونه لري، هم جوړ شوي وي.

## خواړه:

د شتمنو خواړه نږدې هغسې دي لکه چې د همدغې طبقې خلک یې په فارس کې خوري، چې هغه ډېر غوړي او ترخه او توند پلاوونه، د ښوروا بېل بېل ډولونه او د غوښو غوړې قورمې دي. زما په خیال دغه پخلی به ډېرو اروپایانو ته خوند ورکړي، خو اورېدلي مې دي چې په فارس کې د خوړو د بېلابېلو ډولونو او د خوږو څیزونو له ترکیب څخه شکایتونه پورته شوي او ګومان کوم، چې همدغه اعتراض دلته هم وارد دی. د دوی څښاک شربت دی، چې هغه له متنوعو مېوو څخه جوړ وي او ځینې ډولونه یې ډېر خوند لري.

د عامو خلکو خوراک وچه ډوډۍ، کورت، غوړي او کله کله غوښه او پنیر وي. کلیوال او پوونده په پسرلي کې مستې، پنیر، شیدې، پیروي او کوچ په زیاته اندازه خوري. همدغه شان دوی سابه او په زیاتې اندازه د مېوو بېلابېل ډولونه صرفوي. هغوی، چې په مینو کې وي، یوازې هندوانې ورته رسېږي، خو هغوی چې په کلیو کې اوسي، د انګلستان د مېوو په څېر ډېرې ښې مېوې ورته میسرې دي.

پوونده د کروندګرو په پرتله د قصابۍ ډېرې غوښې خوري، کروندګر یې هم کله کله صرفوي او هېڅ مېلمستیا او ناری بې له غوښې نه ورکول کېږي. په ټولیز ډول د

---

ډول هم جوړېږي. لونګۍ د ملاوستني په څېر تل تر ملا پورې تړل کېږي او بوایان زیاتره یوه بله لونګۍ د خولیو له پاسه د پګړۍ په څېر تړي.

د ښکته درجې ډېر کسان بې له کبي نه الکالیک یا یوازې له واسکټ نه لاندې یو څه اغوندي او ټول خلک د خپلو ټولو جامو دپاسه یوه چپن اغوندي. د اوړي چپن له کوم سپک ټوکر نه او د ژمي کوټې له لیمڅي یا د پسه له پوټکي نه جوړوي.



Property of ACKU

پسه غوښه ډېره خوړل کېږي، خو په ژمي کې یو ډول وچه غوښه رواج لري، چې (لاندی) ورته ویل کېږي. دوی نړدې ټول غوښه پخوي او یو ډول ډېره خوندوره ښوروا ترې جوړوي، چې د ناري په پیل کې یې له وچې ډوډۍ سره خوري. کله چې دوی خپل دغه تلپاتی خوراک اړوي، یا له پیاز او غوښې نه غورمه او یا پلاو جوړوي. ځینې پوونده د پسه غوښه په دغسې ډول پخوي لکه څنګه چې په لویدیځو ټاپوګانو کې رواج لري. دوی غوښه ټوټه، ټوټه کوي او د پسه په پوټکي کې یې تاووي. هغه بیا ددغسې نغریو د سوریو له پاسه ږدي، چې په سرو تودو تیږو احاطه شوې وي. ویل کېږي، چې هغه غوښه، چې په دې ډول پخېږي، ښهٔ نرمه او خوندوره وي.

ما د دوی د خوړو او جامو تفصیل ځکه ډېر اوږد کړ، چې هغه په لږ بدلون سره په ټولو لویدیځو پښتنو کې رواج لري.

## څېره

د درانیو څېره زړه راښکونکې ده. دوی ښه پیاوړي خلک دي، مخونه یې ښه او ږیرې یې ښاېسته دي او دوی یې ټول اوږدې ساتي. که څه هم ځوانان یې څنډې وریاتي کوي، چې لا هم ښکلي ورېښي. دوی د تندي دپاسه یوځای تل خریي او ډېر نارینه ټول سر خریي، خو ځینې یې اوږدې څڼې ساتي او ځینې شپانه ټول وېښتان بالکل اوږده پرېږدي.

د درانیو څېرې ډول ډول دي او د ځینو مخونه ښه غونډ دي، خو د ځینو څېرې داسې دي، چې ځانګړې نښې هیڅ نه لري، خو د زیاترو مخونه هسک او غمبوري یې وتلي وي. دوی که څه هم مېړني دي، خو په خوی کې متواضع دي او هېڅکله سپکتیا یا توند خویي نه ښکاره کوي.

## وسلې:

دوی وسله هیڅ نه ګرځوي، یواځې هغه وخت ورسره وي، چې په سفر درومي. هغه هم د فارس توره او ماشه یي ټوپک. سپرونه اوس له رواجه وتلي او لیندۍ یواځې د ساعت تېرۍ لپاره ګرځول کېږي. د هغو کسانو، چې اقتصادي حال ښهٔ وي، زغرې، لنډ سپک ټوپکونه (Carbines)، پلته ییز ټوپکونه، توپانچې او سانګې (نیزې) لري. دوی زیاتره وخت یوه ځانګړې اوږده سانګه (نېزه) لري، چې په ماشه ییزو ټوپکونو پورې یې ترلې وي.

دوی نه په خپلو منځونو کې او نه له خپلو ګاونډیو سره بدي دښمنۍ لري، یواځې په لویدیځ کې دغه بدي شته. په نتیجه کې هغه یواځینی موقع، چې په هغې کې دوی مېړانه څرګندوي، ملي جنګونه دي او په دغسې جنګونو کې د دوی نوم

تل ښه لوړ وي.

په تلپاتې اردو کې هغه قطعه، چې تر ټولو ډېره پیاوړې او بیخي ډېره موثره ده، د همدغه قوم له یوې ډلې څخه جوړه ده او په هغه حال کې، چې د دوی په هېواد باندې تېری وشي، د سلطنت بقا د درانیو په مېړانې پورې اړه لري.

## مذهب او واده

درانیان ټول مذهبي دي، په دوی کې داسې یو کلی یا د پووندو و مېنه که څه هم ډېره وړه وي، موجوده به نه وي، چې ملا پکې نه وي او ممکن له اڅکزیو پرته په دوی کې داسې څوک نه وي، چې خپل لمونځونه قضا کړي. سره له دې هم دوی ان له شیعه ګانو سره هم پوره بې تعصبه دی. اڅکزي داسې نه دي او دوی د مذهب د ټولو اشکالو په اړه بې علاقې دي، ملایان په اطرافو کې غلي او غېر متجاوز خلک دي، له ښکته طبقې نه یواځې یو څو کسه شته، چې لیک لوست کولای شي، خو درانیان نږدې ټول په فارسي پوهېږي او یې غېږدلی شي او ډېر یې په دغې ژبې او په خپلې ژبې د ډېرو نومیالیو شاعرانو اشعار له یاده ویلی شي.

د واده په اړه د دوی رواج نږدې هغه دی، چې په نورو پښتنو کې معمول دی. په دوی کې په معمولي ډول هلکان په اتلس یا شل کلنۍ کې او نجونې څوارلسو تر شپاړسو کالو پورې واده کېږي. د ښځو د کسب په اړه لومړی اشاره شوې ده، د لمانځه په ادا کولو کې دوی هغومره منظمې دي، لکه څومره چې د دوی نارینه دي. د دوی مېړه له دوی سره له مهربانۍ نه ډکه وضع کوي او د ښځې لپاره دا دومره غیر عادي خبره نه ده، چې په خپل مېړه غاوره وي او ان په کورنۍ کې دوی ته د سلا مشورې لپاره مراجعه کېږي.

دغسې یوه مېرمنه د هغه کاروان واکمنه سا روانه وه، له کوم سره چې ښاغلي فوستر (Foster)[1] سفر وکړ او دغه ښاغلي د هغې له حمایې څخه ډېره ګټه واخیسته.

ښځې او نارینه څه وخت، چې په کور کې یواځې یو ځای اوسي، په ګډه تاری کوي، خو په مېلمستیاو کې تل سره بېل وي. د دوی اشنایان، د دوی لوڼې او د دوی ټولې غونډې سره بېلې وي.

نارینه زیاتره وخت په جوماتونو، حجرې یا مېلمستون کې سره غونډېږي او دوی په همدغو ځایونو کې چلم او نسوار کوي او دخپلو فصلونو، څارویو او ټولو هغو

[1] وګورئ ددغه لیکوال سفرونه، دویم ټوک، ۹۵_۹۷ مخونه. جارج فوستر د تیمور شاه په وخت کې په پېښور، کابل، کندهار او هرات کې ګرځېدلی او بیا یې په ۱۷۹۸ کې خپلې لیکنې په دوو ټوکو کې خپرې کړي، چې (له بنګال نه تر انګلستان پورې سفر) نومېږي. په دې ډول دی لومړنی ګرځنده انګلیس دی، چې زموږ د هېواد په اړه یې ارزښتناکې لیکنې خپرې کړي دي. ژباړن.



Property of ACKU

پېښنو پـه اړه سره ګرېږي، چې د دوی پـه ټـولنې کـې پېښېږي. همدارنګـه دوی دلتـه د لويـانو د چلنـد او د مملکـت د سياسـت پـه اړه سره غـوړې کـوي، د دوی لويـه ساعت تېري ښکار او نښه وېشتل دي او پـه درانيـو او نـورو لويـد يځو پښتنو کـې هغـه لوبې او سپورټونه، چې دمخـه يـې پـوره بيـان شـوی، بيخـي ډېـر رواج لـري او دوی تـرې نـه خوند اخلي. نـړدې هر ماښام دوی اتـڼ کـوي او پـه دوی کـې بـه داسـې غونډه نـه وي، چې بدلې او کيسې پکې ونه ويل شي.

## حـــال:

د هغـه حـال بيـان لـه مخـې، چـې مـا وکـړ پـه ښـکاره ډول معلـومېږي، چـې درانيـان بايـد تـل خـوښ اوسـي، خـو پـه هغـه وخـت کـې چـې د دوی د ژونـدانـه معمـولي حـالات د خـارجي لاملـونـو لـه امله بـل راز شـوي نـه وي، يـو څـوک ممکـن داسـې وګڼـي، چـې دغـې اوسنۍ ګډوډۍ بـه هغـه کسـان نـارام کـړي وي، چـې ښـارونو او لويـو لارو تـه نـږدې اوسـېږي، کـه څـه هـم دغـه نـاارامي د هېـواد د لـوو برخـو اوسـېدونکيو تـه ممکـن ونـه رسـېږي، خـو د ښـاغلي دوري (Durie) ليکنـې سـره يـوې معکـوس نتيجـې تـه رسـوي. دوري پـه (۱۸۱۱) کـې پـه کنـدهـار کـې وو او ده پـه زياتـه انـدازه د ښـار شـاوخوا ځـايونـه او لـه کابـل نـه تـر کنـدهار پـورې لويـه لار وليـدلې ده، دی وايـي:((دغـه خلک نارينـه دي، کـه ښـځې، تـر هغـه ځـايـه چـې مـا وليـدل، ډېـر خـوښ دي. پـه ښـارونو کـې هـم دوی ډېـر خـوښ ښـکاري، يـوازې هغـه وخـت چـې د دوی د لويـانو تـرمينځ شـخړې روانـې وي، غـلاګـانې کېـږي او لارې شـکول کېـږي)) پـه واقـع کـې ټـول شـواهد ښـيي، چـې د اطرافـو درانيـان د خپلـو لويـانو د شـخړو او مسـابقو لـه تـاثراتو څخـه مـامون دي او پـه ښـارونو کـې دا احتمـال شـته، چـې هغـه توپـان چـې لـه دغسـې شـخړو څخـه پيـدا شـوي د هغـو درانيـو پـه سـر ولوېـد، پـه کـومـو کـې چـې ښـاغلي دوري ژونـد کـاوه او دا چـې يـوازې هغـه وخـت، چـې دغـه ښـار نـږدې پـه يـوې حملـې سـره ونيـول شـو، دی لـه هغـو اوښـتنو څخـه تـاواني شـول، چې دوی يې احاطه کړي وو.

## مېلمه پالنه:

هغـه مېلمـه پالنـه، چـې پـه پښتنو کـې ډېـره څرګنـده ده، پـه درانيـو کـې پـه خـاص ډول رواج لـري. يـو مسـافر، چـې هـر چيـرې ځـي، هرکلـی يـې کېـږي. يـوه ډېـره وړه او غريبـه مېنه هـم د مېلمـنو لپـاره ځـانتـه ترتيبـات لـري او ډېـر سـتر اشـراف هـم د ټـولو هغـو کسـانو لپـاره، چـې د دوی کلاګـانو تـه ځـي، د ډوډۍ او ځـای ورکـولو لـه ضـرورت څخـه معـاف نـه وي.

مسـاقران پـه ډېـرو کليـو کـې جـومـات يـا حجـرې تـه ځـي او پـه عـادي حـالاتو کـې هـر هغـه لـومړی شخص، چـې پـه مـخ ورځـي، مېلمـه کـوي يـې. د قحطـۍ پـه وخـت کـې د کلـي



Property of ACKU

هر اوسېدونکی د مساپرو لپاره يو ځه راوړي او زيات وختونه يې هغه شخص مېلمه کوي، چې وار يې وي. وچه ډوډۍ، کورت، غوړي تل ورکول کېږي او که په کلي کې قصابي شوې وي، غوښه او ښوروا هم پرې اضافه کېږي. د کلي په هر کور کې، چې کومه مېلمستيا وي، مساپر سمدلاسه ورته بيول کېږي او دغسې عزت يې کېږي لکه د کوم گاونډي يا اشنا چې کېږي. مساپر د ملاستې لپاره د هغه ځا کره ځي، چې د مېلمه منلو وار يې وي.

دغه راز مېلمه پالنه يواځې د يوه پښتون او ان د يوه مسلمان نه کېږي، بلکې که يو هندو هم د درانيو کوم کلي ته ورشي، په هغه ډول يې هر کلی او درناوی کېږي. که ځه هم د هغه دين ده ته دا اجازه نه ورکوي، چې له کوربنو سره يوځای ډوډۍ وخوري ان که دوی د هغه په ملگرتوب کې پابندي هم ونه ښيي.

ښاغلي دوري ته، چې د زياتې قحطۍ په وخت کې د دوی له ملک نه تېر شو، په هر ځای کې ډوډۍ او تمباکو ورکول کېدل. که ځه هم د هغو تهيه کول هغوی ته گران تمامېدل او د تمباکو پيدا کول په دې مشکل وو، چې په هغه کال کې يې فصل په ملک کې نه و شوی. کله چې د هغه پښې له ډېر مزل نه تناکې شوې وې، دوی به هغه ته غوړي ورکول، چې په خپلو پښو يې ومښي او ورته به ټينگ شول، چې يو ځو ورځې نور هم ورکره پاتې شي. کله به دی دې ته مجبور شو، چې په خپله په مېنه کې وگرځي او د خلکو نه پخپله ډوډۍ واخلي، خو که ځه هم دا معلومه وه، چې دی يو عيسوي و او هر وخت دی بايد دغسې يو خارجي گڼل شوی وای، چې د شکل او سلوک له مخې بالکل خاص و، هيڅ وخت له ده نه چا پوښتنه کاوه او ملنډې يې پرې نه وهلې او هېچا داسې کوم تمايل ونه ښوده، چې د هغه په عجيبه قواره وخاندي.

داسې هم نه ده، چې دغه چلند به گڼې د سادگۍ او د بې خبرۍ نتيجه وي، په دې چې په همدغو مواقعو کې همدغو ښځو له ده نه دده د سفرونو په اړه پوښتنې کولې او د انگرېزانو او هندوستان په اړه يې د پلټلو احساس ښوده.

## د درانيو د لوټماری عادتونه:

عجيبه ده، چې د درانيو بل صفت، چې مجبور يم اوس يې بيان وکړم، لوټماری ته د دوی تمايل دی، خو دوی په دغه خوی کې له ډېرو نورو قومونو ځخه لږ مجرم گڼل کېږي. نېږدې ټول هغه کسان، چې ما ورسره مرکې کړي، وايي چې هيڅ درانی لاره نه شکوي، يواځې اڅکزيان او يو ځو بدمرغه درانې د بدامنيتۍ په وخت کې لوټماري کوي، خو د ځينو نورو موثوقو منابعو په روايت دغه حکم سم نه دی. زما په خيال د هېواد د هغو سيمو اوسېدونکي، چې د حکومت له نظره لرې غورځېدلې دي، په لوټماری عادي دي او د کورنيو جنگونو په موده کې دغسې شکاوني ښې



Property of ACKU

ډېرېږي. دا هم باید ووېل شي، چې د بدامنیتی په وخت کې د شخصي بدل او کسات اخیستلو عمل او داسې نوري ګډوډۍ دوام کوي او عاملین یې نظر هغو وختونو ته، چې حکومت ارام وي، په زیاته اندازه له مجازاتو څخه مامون وي. لنډه یې دا چې د درانیو ښه او ناوړه خویونه هغه دي، چې په ټول هېواد کې دي او دوی نظر هر بل قوم ته له لومړي څخه ډېره او له وروستي څخه لږه برخه لري.

## د درانیو کړه وړه:

درانیان له نورو پښتنو څخه د ځان په اوچت ګڼلو سره توپیر لري. دغه احساس د هغه ملي غرور له احساس سره ترکیب شوی، چې دوی ته تر نورو قومونو ډېره زړورتیا، لوړه روحیه او د کړو وړو لوړتیا وربښي. په عین حال کې دغه احساس د دوی سلوک لا آزاد او انساني کړی دی، دوی له خپل وطن سره بیخي ډېره مینه لري او کندهار ته په یو راز درنه سترګه ګوري او وایي، چې هلته د دوی د نیکونو هډوکي پراته دي. د سترو اشخاصو جسدونه له لیرې ځایونو آن له کشمیر او سند څخه هم هلته د خښولو لپاره وړل کېږي. دوی په سفر لږ ځي او تل بېرته خپلو کورونو ته ستنېږي. دوی هندوستان ته د سوداګرۍ او ماجرا غوښتلو لپاره هیڅکله نه ځي او له خپل هېواد څخه دباندې یوازې کله کله مېشت کېږي.

دوی له هغو نه، چې فکر کېږي، نورو قومونو چې له ځان څخه د لوړو کسانو په اړه حسود دي، ډېر محبوب دي.

د خپل حکومت زېښاکونه او د عسکرو بې نظمۍ زیات وختونه احساسوي او د هغو په ضد شکایتونه پورته کوي، خو ټول د دوی ذاتي لوړتیا مني او ان هغه قومونه هم، چې د بغاوت په حال کې دي، درانیو ته په درنه سترګه ګوري.

د کابل د سلطنت په قلمرو کې به داسې څوک نه وي، چې د درانیو او غلزیو ترمنځ زړه نازړه وي یا د وروستني قوم د لوړتیا د چانس نه په وړه کې نه وي.

ان پخپله غلزي هم د درانیو د فرادو په توګه په ښېګڼو قایل دي او په مېلمه پالنې او زړه ورتیا کې یې تر نورو پښتنو اوچت شمېري، که څه هم له هغو سره د ناکامۍ سیالي په کینې سره تحریکېږي او د حکومت په مخالفت عادي دی او دوی په رښتیا هم زېښل کېږي[1].

[1] دغه مرکه همدا چې زما او د یوه غلزي ترمنځ وشوه، ولیکل شوه. ده د یوه قتل له پېښې نه وروسته د سلیمان په غرونو کې خپل ملک پرېښود او ددغسې داړه مارو له یوه ټولي سره ملګري شو، چې د سیستان په لویدیځ کې اوسېدل او د درانیو په ملک کې یې داړې کولې. ما له ده نه پوښتنه وکړه، چې دوی به هغه درانیان وژلي وای، چې د دوی په ګوتو ورغلي وای. ده ووېل: موږ هېڅ یو نه پرېږدو چې وتښتي او که زه ددې فرصت ولرم، زه به هېڅ یوه ته د اوبو څښلو موقع ورنه کړم. او وروسته له یوه



Property of ACKU

## اڅکزيان

اڅکزيان له نورو درانيو سره دومره ډېر توپير لري، چې لازمه ده بېل يې بيان کړم.

دوی کوم ستر قوم نه دی، د ډېرو روايتونو له مخې د دوی شمېر پينځو زرو کورنيو ته رسېږي، خو زما په خيال دوی تر درې زرو زيات نه دي.

دوی ټول کرونده گر او پوونده دي. که څه هم يو څه ځمکه لري، خو د خپل ژوند لپاره په ځمکې اتکا نه لري. د دوی څاروي د خوجه عمران په غرونو کې او د توبې په هسکه سيمه کې ساتل کېږي. په داسې حال کې، چې اوښان يې د شوراوک د شمال ختيځ په شگلنه سيمه کې پوول کېږي، همدارنگه دوی ډېر آسان لري او تاسې به يوائې کوم اڅکزی ووينئ، چې پلی روان وي.

د دوی سردار د نورو درانيو د مشرانو په اندول ډېر واک لري، خو ان دغه واک هم سره له ټولو هانده کافي نه دی، چې د خپل قوم لو ټماری اعمال تر څارنې لاندې ونيسي. هېڅ مساپر او لاروی د دوی ملت څه بې له دې، چې وشکول شي، تنوتلی نه شي. دوی د شپې د غلا لپاره د خپلو گاونډيو په سيمو باندې يرغلونه کوي. په دوی کې د غلا مهارت، داړه ماري او زړورتيا لوی صفتونه دي. د دوی د ځوانانو زياتره خبرې ددغه ډول عملونو په اړه وي، چې يا يې ترسره کړې وي يا يې طرحه کړې وي، خو د دوی داړه ماري په وژلو سره نه تمامېږي.

د اڅکزيو جامې د درانيو د پوونده و د کاليو په څېر دي، خو په ژمي کې دوی خپل ټول کالي کميسونه، پرتگونه، خولی او نور له ليمځيو څخه جوړوي.

دوی نږدې ټول د پسونو يا وزو په غوښو ژوند کوي، دوی په لږه اندازه له غنمو او دانو نه هم استفاده کوي او نور څاروي ډېر لږ پکې موندل کېږي.

دوی په مياشتو کې خپلې جامې نه بدلوي، ږيرې نه بياتي کوي او ويښتان يې اوږده او بير وي. دوی په کړو وړو کې زيږه او شډل دي، خو په خپلو کې جنگونه، نه کوي. دوی د لرگيو د ډنډو يو ډول مسابقې کوي، چې ډېرې خطرناکې دي.

---

لنډ ځنډ نه ده ووېل چې: آيا موږ دښمنان نه يو؟ هغه مې وپوښته چې درانيان څه ډول خلک دي؟ ده ووېل: هغوی ډېر ښهٔ خلک دي، ښه اغونډي، مېلمه پالونکي دي او غدار نه دي. سره له دې هم موږ د دوی په مېنځ کې گرځو، خدمت يې کوو او مالگه يې خورو او بيا د دوی کورونو ته اور اچوو. زموږ زړونه سوځي، په دې چې موږ سلطنت بائللی او هيله لرو، چې درانيان زموږ په شان خوار اوسي. دوی وايي راځئ چې سره يو شو، موږ وايو تاسې له موږ څخه يا پاچايي اخيستي زموږ ورونه، مو وژلي دي او ښځې مو په اسارت سره بوولي دي او موږ به له تاسو سره متحد شو؟

نور غلزيان په داسې حال کې چې د دوی د کړو وړو ستاينه کوي، وايي چې دوی له مکر او خطا څخه ډک دي.

دوی د مالونو په سر سره شخړې کوي، خو دغه دعوې داسې نه دي چې د شخصي غرور په مقابل کې زېړه الفاظ استعمال شي یا سپکاوی وشي.

اڅکزیان مېلمه پالونکي نه دي، جوماتونه، نه لري او کله کله لمونځونه کوي. د دین په اړه هم ځان نه ربړوي. هغه یو څو ملایان چې لري هغوی خپل لمونځونه په کور کې کوي. ټول قومونه له دوی نه شکایت لري او درانیان په سختۍ سره دوی د خپل قوم په توګه مني، خو دوی ډېر ښه عسکر دي. د دوی د ارواښاد سردار ګلستان استعداد، زړورتیا او صداقت د زیات وخت لپاره د شاه شجاع قوي ملاتړ و، ترڅو یې د هغه لپاره خپل ژوند قربان کړ. د ګلستان خان عدالت او تواضع تراوسه هم د پېښور او کابل د هغو خلکو په یاد دي، چې دی په بېلابېلو وختونو کې د هغوی حاکم و.

## کندهار:

د کندهار ښار لوی او اوسېدونکي یې ډېر دي. د درانیو په سیمې کې هرات او کندهار یواځیني ښارونه دي او له فراه پرته ممکن هغه یواځیني ځایونه وي، چې ان د ښار نوم پرې اېښودل کېدای شي. کله ویل کېږي چې د کندهار زوړ ښار د آریایي پاچا لهراسپ له خوا جوړ شوی دی. دی په ډېرو لرغونو مهالونو کې یو پیاوړی پاچا و او د هرات د ښار بنسټ هم ده ته منسوب دی. نور ډېر روایتونه چې احتمال یې قوي ښکاري څرګندوي، چې د کندهار جوړوونکی سکندر ذوالقرنین یا لوی سکندر دی. سیمه ییز روایتونه دلته د اروپایي جغرافیه پوهانو له قیاسونو سره سر خوري، چې د یوې سکندریې موقعیت په همدغه ځای کې ټاکي.

د کندهار زوړ ښار د غلزیو تر دورې پورې موجود و، ترڅو په دغه وخت کې شاه حسین د حسین آباد په نامه یو نوی ښار جوړ کړ. نادر شاه افشار بیا کوښښ وکړ، ددغه ښار موقعیت ته بدلون ورکړي او ده د نادر آباد په نامه یو بل ښار ودان کړ.

په پای کې احمد شاه دراني په ۱۸۵۳ یا ۱۷۵۴ کې دغه اوسنی ښار جوړ کړ او احمد شاهي یې ونوماوه او اشرف البلاد یې پرې لقب کېښود. په رسمي دفترونو کې او د دربار په ژبه دغه ښار تراوسه هم په همدغه لقب یادېږي، خو په خلکو کې د کندهار زوړ نوم ډېر ویل کېږي. که څه هم د دارالقرار په اضافه توب سره یې خپل وزن یو څه بایللی دی، پخپله احمد شاه دراني ددغه اوسني ښار حدود ټاکل او د هغه د منظم پلان بنیاد یې کېښود، چې تراوسه هم په وضاحت سره لیدل کېږي. هغه وغوښتل، چې د ښار په چاپېریال یو ژور خندق وکیني، خو ویل کېږي چې درانیانو په دغه تجویز اعتراض وکړ او ویې ویل، چې د دوی خندق د بستان په چمن کې (بستان ته نږدې چمن چې د فارسي خراسان په ډېرې لوېدیځې برخې کې پروت

Property of ACKU

دی)[1] پروت دی.

کندهار د احمد شاه په وخت کې د درانیو د امپراتورۍ مرکز و، خو تیمور بیا وروسته د حکومت مرکز کابل ته ولیږداوه.

زه دې ته پوره حېران یم، چې د کندهار پراختیا څنګه وټاکم یا د اوسېدونکیو شمېر یې څومره وښییم. ډېر مې اورېدلي دي، چې کندهار د هرات نه لوی ښار دی. د کپتان کرستي (Captain Christie) په قول، چې ده یوه میاشت په دغه ښار کې تېره کړې وه، د هغه د اوسېدونکیو شمېر سل زره دی، خو له هغو پرتلنو څخه چې ما د کندهار او پېښور په اړه اورېدلي، ددغه شمېر منل ما ته ممکنه نه برېښي[2].

د کندهار ښار شکل د مستطیل په څېر دی او څنګه چې هغه سمدلاسه د یوه ټاکلي پلان له مخې ودان شوی، لویه ښېګنه یې منظم توب دی. د ښار په مېنځ کې څلور لوی او پراخ بازارونه سره یوځای کېږي او د دوی د اتصال په برخې کې یوه دغسې ګرده ساحه ده، چې قطر یې نږدې څلوېښت یا پنځوس ګزه دی او دغسې یوې ګنبدې احاطه کړې، چې هغه څلور واړه سره کونه ورته منتهي کېږي. دغه ځای چارسو (یا چارسوق) نومېږي، شاوخوا یې دکانونه دي او ښایي د ښار د عمومي مارکېټ په توګه وګڼل شي. په دغه چارسو کې فرمانونه اورول کېږي او د عمومو د عبرت لپاره د مجرمینو اجساد ځړول کېږي لکه څنګه چې په فارس او د افغانستان په لویدیځو برخو کې مروجه ده، دلته هم د ګاونډي بازار یوه برخه پوښل شوې ده. له دغو څلورو بازارونو څخه هر یو یې نږدې پنځوس ګزه پراخ دی، په دواړو خواو کې د هغه پلان او ساحې په اندازه دکانونه پراته دي او په منځنۍ برخه کې یې د بازار په ټول طول کې یوه متحدالشکله برنډه پرته ده. دکانونه یې یواځې یو پوړیز دي او د ښار لوړ کورونه د هغو له پاسه لیده شي. د ټولو بازارونو په پای کې د

---

[1] دلته د لیکونکي مطلب دا دی، چې درانیان دومره ضعیف خلک نه دي، چې د دوی د دفاع کربښه د دوی په خپل ملک کې وي. ژباړن.

[2] زما لیکنې د هغو ښارونو په اړه، چې ما پخپله لیدلي نه دي، د هېواد د نورو برخو په پرتله یقیني نه دي. اطراف خلک دروغ ویلو ته لږ متمایل دي او څه وخت چې دوی مبالغه کوي له ګاونډیو سیمو سره پرتله کول ددغسې مبالغې کشفول اسانه ګرځوي، څومره چې دا اسانه ده چې د یوه ښار اندازه زیاته وښودل شي او د هغه د برم او جلال په اړه زیاتی وشي، هغومره دا اسانه، نه ده چې د اطرافو د ځرنګوالي او محصولاتو بیان تل متوافق وښودل شي.

د هرات د اوسېدونکیو په اړه د ښاغلي کانلي (Conolly) شمېر ۴۵۰۰۰ دی. دی پخپله کندهار ته تللی نه دی، خو له نږدې څخه یې اورېدلي دي، چې له هرات څخه یو په درې لوی دی. موهن لال (Mohanlal) چې هرات څلور زره کوره ګڼي، د کندهار د اوسېدونکیو په اړه وایي، چې زیاتره یې پښتانه دي او دوه زره کورنۍ یې پارسیوانان دي. په دې ډول د کندهار ټول شمېر باید تر هرات نه ډېر وي. ۱۸۳۸



Property of ACKU

اطرافو په مخ غټې دروازې شته دی، یوائې شمالي بازارونه لري، چې دهغه په پای کې د پاچا ماڼۍ پرته ده او مخ یې د ځلورلارې خوا ته دی. د قصر بهرنی شکل دومره په زړه پورې نه معلومېږي. له څو حوېلیو، ډېرو ماڼیو او یوه شخصي بڼ څخه جوړ دی. یوائې له هغه پرته، چې قصر ته منتهي کېږي، نورو ټولو بازارونو په یوه وخت کې ونې لرلې او ویل کېږي، چې د هر یوه په منځ کې یوه نری ویاله غځېدلې وه، خو ډېرې ونې یې وچې شوي او که کاتالونه په ربښتیا موجود وو، اوس یې پته نه شته. خو په خپله ښار ته په دوولو یو ویالو سره چې له ارغنداب څخه جلا شوې پرېمانه اوبه رسېږي، چې له بېلابېلو ځایونو څخه د یوه پله په وسیله تېرېږي. له دغو لویو ویالو څخه نری ویالې نوړې هر سړک ته کښل شوي. دغه نری ویالې په ځینو سړکونو کې پوښل شوي او په ځینو کې تر ځمکې لاندې دي، دغه ویالې که څه هم نری دي، خو ټولې یې نیغې دي او نوړې ټولې یې یوه بله نیغې قطع کوي.

د کندهار ښار په ډېرو محلو وېشل شوی او هره یوه یې په هغو بې شمېرو قومونو پورې اړه لري، چې د ښار اوسېدونکي دي. نوړې ټول ستر درانیان په ښار کې کورونه لري او ویل کېږي، چې ځینی کورونه یې لوی او ښکلي دي.

ښار ډېر کاروان سرایونه او جوماتونه لري، خو ویل کېږي چې له ورروستیو څخه یوائې یو یې چې قصر ته نوړې پروت دی، ښکلی دی. د احمد شاه مزار هم قصر ته نږدې پروت دی.

دغه مزار کومه ستره ماڼۍ نه ده، خو یوه ښکلې گنبده لري او ډېر ښکلی انځور شوی دی. د طلا نازکې ورقې لري او دننه یې ښه ښکلې شوې ده. درانیان ورته په ښو درنه سترگه گوري او له ټولو دښمنانو څخه د پناه وړ ځای دی ان پخپله پاچا هم له هغو سره چې دلته یې پناه وړې وي، څه غرض نه کوي.

څه وخت چې له لویو اشرافو څخه یو څوک خپه شي، په دوی کې دا معموله ده چې ددې اعلان وکړي، چې غواړي له دنیا نه لاس واخلي او خپل پاتې عمر د احمد شاه په مزار کې په عبادت تېر کړي او ربښتیا دا ده که چېرې کوم آسیایي پاچا د خپل ملک د منښې استحقاق ولري، هغه احمد شاه دی.

کندهار په ټولیز ډول سره له دې چې د یوه پلان له مخې تر ډېرو اسیایي ښارونو ښه دی، په هیڅ وجه پرتمین نه دی. زیاتې برخې یې له اومو خښتو څخه ودانې شوي او له ختو پرته نور څه ټینگوونکي مواد یا سمنټ نه لري. په معمولي ډول د عوامو په جمله کې د هندوانو کورونه تر ټولو ښه دي او دوی یې په خپل میل ډېر لوړ ودانوي. د کندهار سړکونه له سهار نه تر ماښام پورې ښه گڼه گوڼه لري او ټول هغه بېل بېل تجارتي کسبونه، چې د پېښور ښار کې شته او مخکې یې یادونه

شوي، دلته هم شته یوائې اوبه پلورونکي چې دلته ورته اړتیا نه شته، وجود نه لري. په دې چې په کندهار کې د اوبو ځاګانې پرېمانه دي او له څرمنو څخه جوړې ډولچې د لرګیو یا ښکرو له لاستي سره تړلې وي ورسره وي او خلک په هغو له ځاه نه اوبه وباسي. همدارنګه د کندهار په بازارونو کې کیسه وېونکي او سندرغاړي په زیات شمېر لیدل کېږي او دلته د لویدیځ څیزونه له پېښور څخه په زیات مقدار او ښه حال کې موجود دي.

د افغانستان د نورو ښارونو پر خلاف د کندهار ښار زیاتره اوسېدونکي پښتانه دي او په دوی کې د درانیو شمېر تر نورو ډېر دی، خو د دوی حال په هېواد کې د دوی له نورو ورونو سره پوره توپیر لري. د پښتنو قومونو د خاصو مؤسسو پرځای دلته قوي حکومت، د قانون منظمې محکمې او موثر څارندوی (پولیس) وجود لري. همدارنګه دلته د پښتنو شمل او ساده رواجونه تر زیاتې اندازې له رواج نه لوېدلي او د کندهار ښار اوسېدونکي په ظاهر کې تر یوه حده د فارس له خلکو سره ورته دي، خو دغهٔ ورته والی یوائې خارجي شکل لري، په دې چې د دوی کړه وړه تراوسه هم د دوی د ملت د ټولو ځانګړو ځانګړتیاو نخښې نښانې لري. د کندهار نور اوسېدونکي تاجکان، ایماق، هندوان، پارسیوانان، سیستاني او بلوڅان دي، چې له هغو سره لږ شمېر ازبکان، عربان، ارمنیان او یهودیان هم ژوند کوي.

د کندهار شاوخوا د مېوو باغونه او نور بڼونه ډېر دي. هلته ډېر زیارتونه هم شته، د ښار ډېر خلک ډله ډله زیاتره د ساعت تېرۍ او لږ د دعا لپاره ځي. د دوی د ژوندانه طرز د نورو ښارونو د اوسېدونکیو په څیر دی، چې مخکې یې یادونه شوې ده.

## بړیخ

شوراوک یا هغه ملک، چې بړیڅ قوم پکې اوسي، شمال ته د درانیو د ملک او جنوب ته د هغو غرونو ترمېنځ پروت دی، چې دلته د بلوڅو په براهوي[1] پورې اړه لري. د خواجه عمران لړۍ، چې دلته د روغاني او سپینې تیږې په نامه یادېږي، په ختیځ کې د بلوڅو سیمه له پښین څخه بېلوي لو لویدیځ اړخ ته یې یوه پراخه شګلنه مېره غځېدلې ده. په جنوب لویدیځ کې یې بړیڅ اوسي او نوشکي، چې له شوراوک څخه څلوېښت ـ پنځوس میله لیرې پروت دی، په دوی پورې اړه لري. د لوره (Lora) سیند د شوراوک له مېنځ نه تېرېږي او هغه ته نږدې یو څه ونې او بوټي شته، خو پاتې برخه یې د کلکې خاورې یو وچ میدان دی. دا میدان پوره اوار دی او

[1] لیکوالکی براهوي د بلوڅو یوه برخه ګڼي، په داسې حال کې چې دا دواړه بېل قومونه دي او د لومړنۍ ژبه دراویدي دمخه دوري ته منسوبه ده او د وروستي اریانۍ وه. ژباړن.

کرنه پکې هیڅ نه کېږي[1].

ددغې ټولې سیمې ساحه نږدې شپېته مربع میله ده او د اوسېدونکیو شمېر یې دوه نیم زره یا درې زره کورنۍ حساب شوی دی او دوی د څلورو خانانو په مشرۍ په څلورو خېلونو وېشل شوي او هر خېل ځانله د زیات واک خان لري. پاچا له دغه قوم نه څلور سوه سواره منې او نور نو د هغوی په کورنیو چارو کې لاس نه وهي. دوی ډېر اوښان لري او د دوی ډېره پراخه سیمه د هغو لپاره ښه پراخ څر ځایونه دي. بېرېځ په همدغو څر ځایونو کې په خپلو اوښانو سورلۍ کوي او دلته اوښان هغه یواځیني ځاروي دي، چې ځمکې یوې کوي.

دوی په دغسې لویو کوډلو کې ژوند کوي، چې د غزو له کېږدو وړو چج ډوله ښاخونو څخه جوړې دي.

په کجاوه ډوله څېرېو پوښل شوي او په ختهو اخیر شوي دي، خو شتمن کسان یې زیاتره کوروله لري او ټول بړیځان پسرلي د میرې په څنډو کې په کېږدیو کې تېروي اوله دغسې ژوند نه ډېر خوند اخلي. د دوی کالي، غذا او کره وړه د ډېرو شډلو درانیو په څېر دي. دوی زیاتره وختونه د اوښان او ان د اسانو غوښې خوري.

## د پښین بیان

د بړیځو ختیځ ته ورڅېرمه پښین د ترینانو ملک پروت دی. دغه قوم په دوو خېلونو وېشل شوی دی: تور ترین او سپین ترین. په پښین کې تور ترین ژوند کوي.

پښین د درانیو له سیمې نه د شمال خوا ته په غرونو سره بېل شوی دی. د ختیځ لور ته یې نور غرونه د کاکړو له ملک نه بېلوي او په جنوب کې پښین له شال څخه د ټکه توپه نامه یو لړ غرونو سره بېلېږي او دغه غرونه د کلات د اوارې په لور غځېږي. له شمال ختیځ څخه تر جنوب لویدیځ پورې د هغه اخرې اوږدوالی نږدې اتیا میله او اخري سور یې نږدې څلوېښت میله دی.

پښین تر شوراوک ډېر اوچت او مخ یې ډېر نااوار دی او تر هغه د کرنې لپاره ډېر مساعد دی. پښین هم د لوره په سیند سره وېشل کېږي. دلته د قلبې په کار کې د اوښانو پرځای زیات له غویو څخه کار اخیستل کېږي، که څه هم د اوښانو شمېر ډېر دی[2].

[1] د کانه لي (Conolly) له لیکنو څخه ښکاري، چې دلته کرنه له لوره څخه وروسته تر دې، چې فرض شوې، ډېره پراخه ده. په دې چې شوراوک په واقع کې ښه اوبه لرونکې آباده سیمه ده.۱۸۳۸

[2] ښاغلی کانه لي (Conolly) پښین ته سفر کړی او هغه نظر دې ته چې پاس ګڼل شوی لږ اباد دی. سور یې دېرش او اوږدوالی یې شپېته میله دی.



Property of ACKU

د پښين د خلکو لوی کسب کرنه ده، خو د دوی زیات شمېر د کندهار او برسند (اباسین) ترمېنځ سوداګري او د حمل و نقل کسب کوي.

د دوی کړه وړه د درانیو کړو وړو ته، چې له هغوی سره هم په نسب او هم په ملګرتوب کې ډېر نږدې تړلي دي، ډېر ورته دي.

د دوی خان هم د درانیو د سردار په څېر درېځ لري، خو پاچا د هغه په چارو کې هېڅ ګوتې نه وهي. یوائحې د اړتیا پر مهال د هغه نظامي ټولی او پخپله دده حضور په دربار کې غواړي. د پښین د اوسېدونکیو شمېر د اتو زرو یا لسو زرو کورنیو شاوخوا اټکل کېږي.

د اوسېدونکیو زیاته برخه یې سیدان دي او د دوی کسب او کړه وړه د ترینانو په څېر دي. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ټولې کورنۍ د غړیو په څېر دوی د زړورتیا او ښو اخلاقو نوم او په نتیجه کې ممکن لیاقت هم ولري. د پښین یوائحیني اوسېدونکي تور ترین، سیدان او یو څه کاکړ همسایګان دي.

سپین ترینان د زاوورا (Zawora) په اوږدې درې او د ټل او چوتیالي (Chooteeallee) په اوارو میدانونو کې اوسي. دغه ملکونه له پښین څخه نږدې د سلیمان تر غرونو پورې غځېدلي او له یوه لړ مزلونو نه وروسته تر لوړ سیند پورې رسېږي. دوی له تورو ترینانو نه د کاکړو سیمې په یوې برخې سره بېل شوي، خو دوی د یوه ګډ خان تر اداري لاندې دي او هغه د کال یو ځل سفر کوي، چې د ترینانو د برخې نظامي عسکر ټول کړي یا هغه جریمې ترلاسه کړي، چې دوی یې په ټولیز ډول غوره ګڼي، چې د شخصي خدمت پر ځای یې ورکړي. د دوی کړه وړه هغه دي، چې د تورو ترینانو دي، چې هغه د کاکړو د کړو وړو یو مخلوط دی، چې د هغوی په مېنځ کې اوسي.

* * *

Property of ACKU

# پينځم څپرکی

## غلزيان، د غزني او کابل ښارونه، وردګ او کاکړ

Property of ACKU

**د غلزيو سيمه:**

د ترنګ د ناوې ښکتنی برخه په درانيو پورې تړلې ښودل شوې ده. د توت (Toot) ختيځ ته يو وران پل، چې پل سنګي بلومېږي. د دوی او د غلزيو د سيمو ترمېنځ پروت دی. دا به دومره ناسمه نه وي، چې سرحدي ليکه يې له شمال نه د جنوب په لور د همدغې برخې له مېنځ څخه د پاراپاميزاد غرونه د ارغستان ښي خوا ته پرتو غرونو پورې وغځول شي. د پاراپاميزاد د غرونو لړۍ به يې د شمال لويديځ پوله ورجوړوي، که څه هم ځينې غرني سيمې يې چې په همدغې لړۍ پورې اړه لري، د غلزيو په سيمه کې ګډې دي. له بلې خوا د شپېتو ميلو په اوږدو کې سيمه له کابل نه تر غزني پورې له هغو څخه پرې کړی شوې ده او هغه په وردګو پورې اړه لري. په شمالي برخه کې د پنجشير سيند هغه د کابل له کوهستان څخه لرې وېشي، خو وروسته له هغه چې دغه سيند د کابل له سيند سره يوځای کېږي، د غلزيو سيمه له هغه څخه تېرېږي او تر ختيځ پورې د سيند دواړه خواوې آن تر جلال آباد نه پورته غرونو پورې احتوا کوي. دلته هغه د برو درانيو سيمه سره وېشلې ده. د هغه د ختيځ سرحد نورې برخې د سليمان په غرونو کې تشکيلېږي. جنوبي پولې يې مشخصې نه دي، جنوب لويديځ ته يې وانه او تر ګومل پورې ځينې وچې سيمې پرتې دي. د جنوب لويديځ په لور هغه له ارغستان نه په غرونو بېلېږي او د جنوبي سرحدي کرښې په منځنۍ برخه کې د غلزيو ورشوګانې کله کله د کاکړو له ځمکو ځايونو سره

ګډې وي او کله کله له هغو څخه تر زیات حد په وچو ډاګونو بېلېږي.

څنګه چې هغه داسې وچ ډاګونه دي، چې هېڅ څوک به په هغو شخړې ونه کړي، دومره اسانه، نه ښکاري چې ددغو دواړو قومونو برخې په پوره ځیرتیا سره وټاکل شي.

هغه ملک، چې په دغو حدودو کې دننه پروت دی، ډول ډول دی. د ترنک ناوه، چې د شمال لویدیځ نه د پارپامیزاد د غرونو او جنوب ختیځ ته د هغو غرونو په مینځ کې راچاپېره ده، چې له مقر نه د عبدالرحیم خان تر کلي پورې رسېږي، یو داسې اوار میدان دی، چې ډنډونه او ګوګونه ورته تنوع ورکوي. اوږدوالی یې تر شپېتو میلو زیات او سور یې له شلو میلو څخه لږ دی. دغه ناوه ښه اوچته ده او لوړې اوبه لري او څومره چې اوچتېږي، هغومره یې اوبه لږېږي او چې مقر ته رسېږي، د کرنې یا څړ لپاره یې استعداد بېخي لږېږي. له پاتې برخې نه یې د سیند په منځنۍ برخه کې نیمایي کرل کېږي، له هغو نه اخوا د سیند دواړه اړخونه وچ دي. یوازې په بوټو پوښل شوي دي، یو څو کاریزونه او یو څه لږ شمېر کلي لري، یوازې په اوړي کې له هغو څخه هغه قومونه د ورشو په توګه کار اخلي، چې د سړو په رسېدو سره نورو سیمو ته لېږدي. هغه کلي، چې په دغې سیمې کې پراته وو، د غلزیو د بغاوت په وخت کې دومره تاواني شول، چې اوس د کنډرو په حال کې دي. کلات، چې د هغو ډېر لوی کلی دی او د یوه واړه ښار په څېر ګڼل کېږي او د توخي د خېل د خان استوګنځی دی، یوازې دوه یا درې سوه کورونه لري. تر غرونو لاندې شمالي برخه یې له وښو نه ډکه ده او په خپل موسم کې د پوونده و له مېنو څخه ډکه وي.

په هغه سیمې کې، چې د پاراپامیزاد په غرونو اړه لري چیاولګر توخي اوسي او د اوسېدونکیو له کړو وړو څخه یې داسې معلومېږي، چې دوی شپېل او خوار دي. داسې ښکاري، چې دغه سیمه اوبه نه لري او شونې ده چې د کرنې ځمکه هم پکې نه وي او دومره تنګې درې لري، چې کرنه پکې لږه وي. اوسېدونکي یې په کېږدیو کې اوسي او د خپلو څارویو په محصولاتو ژوند کوي.

د هغو غرونو د لړۍ جنوب ته، چې له مقر نه تر عبدالرحیم کلي پورې غځېدلی دی، د ملک هغه ټوټه پرته ده، چې له هغې برخې نه یې، چې د (۳۲) عرض البلد شمال ته پرته ده، داسې غرونه تېر شوي، چې په اوارو چاپېر شوي دي. ددغو آوارو ډېر ځایونه په کاریزونو خړوبېږي او نور یې د پوونده و ډېرو ډلو ته د ژوند شرایط وربرابروي. د کرنې وړ له ډېرو لږو ځایونو څخه هوله تاغ، غونډن او پتوني دي، خو یوازې د عبدالرحیم کلی د پاملرنې وړ ښکاري. په دې چې هغه د هوتکو د خېل مرکز او د غلزي پاچاهیانو د اولادې کلی دی، خو هغه دومره ټینګ ځای نه دی او



Property of ACKU

شاوخوا يې توري کېږدۍ او يو څو کورونه پراته دي. دغه کلي په يوې وړې سيمې کې، چې غوره مرغه نومېږي، اوچت پروت دی او غوره مرغه د ارغستان له ناوې نه په غرونو سره بېله شوې ده او سره له دې هم هغه وياله، چې د عبدالرحيم له کلي نه تېرېږي، په هغه لور درومي.

د (۳۲) عرض البلد جنوب ته د غلزيو ملک په ټوليز ډول له اوارو شګلنو ميدانونو او لوړو ډبيزو سيمو يا وچو غرونو څخه جوړ دی. ګونډر او ګومل ته نږدې هغه برخه، چې د جنوب لويديځ په لوړ پرته ده، له وروستي ډول څخه ده، خو هلته د دنګو او ايسارو (ته وررسېدونکيو او کلپو) غرونو په مېنځ کې د مومه يي (Mummye) وړه ناوه پرته ده. په دغې ناوې کې عبدالرحيم خان د غلزيو مشر او د بغاوت په وخت کې د هغوی پاچا د درانيو د حکومت د رښتياني يا احتمالي حساسيت په مقابل کې يو خونديز ځای ومونده. په دغې ناوې کې پوونده په کېږديو کې اوسي، خو عبدالرحيم خان پکې يوه کلا د ځان لپاره اباده کړې او اوس ځانله يو باغ جوړوي او کېدای شي کرنه هم پکې رواج کړي.

د مقر له هسکې برخې نه د ګومل ښي اړخ ته تر غرونو پورې او له ګوشتي نه تر غزني پورې د ولاړو اوبو (آب ايستاده) کاسه پرته ده. دغه آواره سيمه د ابادۍ مختلفې درجې لري، چې د سمون او اصلاح په بېلابېلو حالاتو کې ده. د مقر، قره باغ او ناني سيمې، چې د غزني لويديځ ته پرتې دي، په طبيعي ډول وچې دي او ډېر لږ اوسېدونکي لري. د محلي روايتونو له مخې په مقر کې يو سل او شل او په قره باغ کې سل کلي يا کلاوې شته دي او څنګه چې د غلزيو په ملک کې نږدې هر کلی د يوې کلا حيثيت لري او په دغې برخې کې هېڅ کلی تر پينځو يا شپږو کورنيو نه اوړي. دغه روايت کېدای شي سم وي.

هغه ملک، چې د دغو سيمو سهېل ته پروت دی او کټواز نومېږي له ګوشتي نه د غزني تر شل ميلۍ پورې رسېږي، اوار او په ځانګړې توګه د کرنې وړ دی. په کارېزونو او ځينو هغو ويالو سره، چې ولاړو اوبو ته درومي، خړوبېږي. د دغه ډنډ غاړې د غزونو په ټېټو ونو پوښل شوې دي او ممکن چنار، سفيدار يا وله دلته او هلته کارېز ته نږدې پيدا شي، خو په دغه ملک کې کوم طبيعي ځنګل نشته او ټول يې سپېره او په يوه شکل دی.

هغه سيمه، چې له دغې سيمې نه د ګومل او په هغو غرونو سره، چې ښي اړخ ته يې پراته دي، بېلېږي. له ځنګلونو ډک غرونه او د خړوټو تنګ ميدانونه دي، خو د هغو بيان به وروسته وشي.



Property of ACKU

## د غــزني ښار:

د غزني سهېل تـه نـږدې د شـولګر آبـاده وړه سیمه پرتـه ده، چې د ښـار لـه شاوخوا سیمو سره د کرنې لپاره ډېر ښه مساعده ده او ډېر کلي او باغونه لري. دغه سیمه کـه څه هم لږ طبیعي ځنګل لري، د چنارونو او سپېدارو ډېر نیالګي د ترکاڼۍ د لرګیو د لاس تـه راوړلـو لپاره پکې روزل کېږي. پـه دغـه ټول ملک کې دغسې لرګي لږ پیدا کېږي او ددغې کمبودۍ چاره په دې سره کېږي، چې بامونه ګنبدي جوړېږي.

پخپله د غزني ښار چې اتـه پېړۍ دمخه ددغسې یوې امپراتورۍ مرکز و، چې لـه دجلې څخـه تـر ګنګا او لـه سردریا څخـه د فـارس تـر خلیج پـورې غځېدلې وه، اوس دغسې یـو کـوچنی ښار ګرځېدلی دی، چې نږدې پېنځلس سوه کورونـه لري او د ښار لمن یې دېوالونه، نه لري.

دغـه ښار پـه دغسې یوې غونډۍ پـروت دی، چې پـه بېخ کې یې یـوه لویـه ویالـه بهېږي. د ډبرو دېوالونـو پـه غېږ کې نیولی او درې تنګ بازارونـه لري. ددغـو بـازارونو پـه هـر اړخ کې لـوړ کورونـه پراتـه دي او یـو پوښلی چارسـو او یـو څـو تیـاره او تنـګ سړکونه لـري. ددغـه ښـار د لرغـوني بـرم او سترتوب یـو څـو نښې پـه تېـره دوه جـګ منارونه، چې د یو بل نه لږ څه لرې پراته دي، اوس هم د هغو شاوخوا کې لیدل کېږي.

پـه دنیا کې دغه منارونه هر یـو بېـل بېـل لـوړوالی لري او هغـه ټیټ یې لږ تر لږه سل فوټه جګ دی.

د ستر سلطان محمود مزار هم لیـدل کېږي، چې لـه ښار نـه نږدې درې میلـه لیـرې پـروت دی. دا یـوه لویـه خو البتـه نـه دومره باعظمتـه ودانۍ ده او پـه ګنبدې سره پوښـل شوې ده. ورونـه یـې چې ښـه لـوی دي، د سندل لـه خوشبویه لرګیو څخه جوړ دي او ویـل کېږي، چې سلطان محمـود هغـه پـه ګجـرات کې لـه مشـهور معبد سومنات څخـه د یادګـار پـه توګـه راوړي دي، چې هغـه هندوستـان تـه پـه خپـل وروستي لښکر کشۍ کې وسوځاوه. د مزار ډبرې یې لـه سپینو مرمرو نـه جوړې دي او د هغـه پـه سر د قـرآن شریف آیتونـه کښـل شوي دي او سرتـه یـې یـوه سـاده، خـو درنـده امسا پرتـه ده، چې چې لـه لرګي څخـه جوړه ده او پـه څوکـه کې یې فلز کـار شوی او دومره درنـده ده، چې یـوازې یـو څـو کسـه یـې د کـارونې تـوان لـري. همدارنګـه پـه دغـه مـزار کې ځینـې تغتونـه یـا څوکۍ ګـانې لیـدل کېږي، چې د ملغلرو دانې پکې جړاو شوي دي او ویـل کېږي، چې هغـه پخپلـه د سلطان دي. د شـناختې دپاسـه یـې یـو دالان دی او تراوسـه هم ځینې قاریان په قبر باندې ګومارل شوي دي، چې پرله پسې قرآن لولي.

پـه غزني کې تر هغـه لږ مشهور یادګارونـه هم شته، چې پـه هغـو کې د بهلول دانـا او حکیـم سنـایي قبرونـه شـامل دي او حکیـم سنـایي تـه تراوسـه هم پـه فـارس کې پـه ډېره



Property of ACKU

درنه سترګه کتل کېږي، خو په غزني کې داسې څه نه دي پاتې شوي، چې له هغو نه د غزني د پاچایانو برم او عظمت ښکاره شي. همدارنګه د هغو جوماتونو او کاروان سرایونو نخښې نښانې نه لیدل کېږي، چې یو وخت یې د شرق دغه مرکز ښهٔ ښکلی کړی و. غزني یو وخت د فردوسي یا د آسیا د هومر (Homer) استوګنځی و. د غزني د ټولو تاریخي آثارو له ډلې څخه ډېر ګټور یې د یوې ویالې دپاسه هغه بند دی، چې د سلطان محمود په امر جوړ شوی و. دغه بند که څه هم د غوري سلطانانو په وخت کې یو څه خراب شوی و، خو تراوسه د ښار شاوخوا ځمکو ته اوبه ورکوي.

د غزني د ښار نېږدې شاوخوا اوسېدونکي تاجکان او هزاره ګان دي او هغه ناوه، چې د شمال له خوا د هغه په ګاونډیتوب کې پرته ده، په وردګو پورې اړه لري. خو په هغه ملک کې غلزي اوسېږي، چې د سلیمان د غرونو او هغو نورو وړو غرونو ترمېنځ په ختیځ کې پراته دي. په دغه ملک کې څو ځایه د لوړو غرونو لړۍ تېرې شوي او په هغو کې د ګردېز آباده ناوه، د خروار آوار میدان او تر هغو د زرمل او لوګر لا پراخ میدانه لیدل کېږي.

په ګردېز کې له څو سوو کورونو نه جوړ یو وړوکی ښار هم شته. دغه ټولې ناحیې غرونو په غېږ کې نیولې او محصورې دي. ښې اوبه لري او ښه کرنه پکې کېږي، لومړنۍ درې یې په غلزیو پورې اړه لري. که څه هم د اوسېدونکیو یو لوی شمېر یې تاجکان دي. لوګر د غلزیو، د تاجکو او پره کیو ترمېنځ وېشل شوی د، خو د لوګر ختیځ ته التمور او د سپیکې وچه سره ناوه، چې له لوګر نه د سلیمان تر غرونوپورې غځېدلې ده، د غلزیو د احمدزي خېل د خاورېو لپاره ښه ورشو برابروي.

د کابل د شل میلۍ شاوخوا سیمې په غلزیو او تاجکو پورې اړه لري، خو د تاجکانو کره وړه پکې غلبه لري او له دغو ټولو څخه دغسې یو بل حکومت جوړ دی، چې د غلزیو له حکومت څخه توپیر لري. خو څنګه چې هغه د غلزیو د ملک په مېنځ کې پروت دی، غواړم دلته یې بیان وکړم.

## د کابل ښار:

د کابل ښار له درېو خواوو څخه د وړو غرونو په یوې نیمې دایرې سره، چې دپاسه یې یو نری دېوال هم شته، چاپېر شوی دی. د ختیځ په لور یې مخه خلاصه ده او په دغه اړخ کې یواځې یو دفاعي دېوال لیدل کېږي او دلته لوی سړکونه وروسته له دې، چې د سیند دپاسه په پله باندې تېرېږي، د ښار په لوی وره کې ننوځي.

بالاحصار د دغه مدخل په شمال غونډۍ کې پروت دی. په دغه حصار کې پاچایي استوګنځی ودان شوی، چې په هغه کې یو څو داسې هالونه یا سترې کوټې

Property of ACKU

لیدل کېږي، چې شاهي مقر په مرصع ګنبدې سره ممتاز شوی دی. په همدغه ځای کې د شاهي کورنۍ د سیاسي بندیانو لپاره یو لوړ حصار هم موجود دی.

د ښار په مېنځ کې یو خلاص چارسو یا میدان پروت دی، چې له هغه څخه دوه پوړیزه څلور بازارونه اېستل شوي او ټول یې لکه څنګه چې لومړی یې یادونه وشوه، پوښل شوي دي. د کابل ښار زیاتره ودانۍ له لرګیو څخه جوړې شوي او په دغو ودانیو کې لرګي ځکه ډېر په کار شوي دي، چې د زلزلو په مقابل کې زیات مقاومت لري. زلزلې په کابل کې ډېرې کېږي.

کابل که څه هم دومره پراخ ښار نه دی، خو ګڼ او ښکلی دی. هغه څه چې ما د نورو ښارونو په اړه ولیکل، د کابل په اړه هم بسنه کوي، خو دومره باید په یاد ولرل شي، چې کابل پایتخت او د سوداګرۍ یو لوی مرکز دی. د بازارونو ډېروالی او ښه ترتیب یې لا پخوا د ښاغلي فوسټر (Foster) لپاره د ستاینې یوه موضوع وه. دغه ښار په یو سیند سره وېشل شوی دی، چې د همدغه ښار په نامه یادېږي او د شمال لوېدیځ له خوا په بې شمېرو باغونو او د مېوه لرونکیو په نورو ګڼو ونو محاط شوی دی. کابل ته نږدې ډېر ښکلی محل د امپراتور بابر مزار دی، چې د ښار د پاسه د یوه غره په اړخ کې پروت دی او شاوخوا یې د ریدي او نورو ګلانو څېرې انځور شوي دي او یوه ښه جاکمه منظره لري.

پخپله ښار او شاوخوا شنه چمنونه، کښتونه او باغونه چې په اوبو خړوبېږي، دلته او هلته یې کلي پراته دي او د شاوخوا غرونو په غېږ کې نیولي دي، ټول دغې طبیعي منظرې ته تنوع او زیات برم ښښي.

د کابل د اقلیم او د منظرې انجذاب ډېرو فارسي او هندي لیکوالو ستایلی دی. د ګلونو ښکلا او پرېماني یې د هر چا په خوله کې ده او مېوې یې د هندوستان ډېرو لریو برخو ته هم وړل کېږي.

هغه څلور سیمې یا ناحیې، چې د کابل په شاوخوا کې پرتې دي (بتخاک، لوګر، پغمان او کوهدامن) ټولې ښې سمسورې دي، پرېمانه اوبه لري او کرنه یې په ډېر مهارت او زیار سره کېږي.

پغمان، چې لوېدیځ ته د هزاره و د ملک په لور پروت دی، دومره ودان نه دی او لوګر، چې د سهېل په لور پروت دی او واړه غرونه پکې پراته دي، تر ټولو ډېر ځې ځایونه لري، خو کوهدامن چې د ښار شمال لور ته پروت دی، تر دغو ټولو سیمو او کېدای شي د ټول هېواد په اندول زیات ښکلې اوسي. څنګه چې یې له نامه نه ښکار، دغه سیمه د غرونو په ډډه کې پرته ده او ښې پرېمانه اوبه لري. مېوه لرونکې ونې، چې دلته پیدا کېږي، دومره بې شمېره دي چې ویل کېږي یوازې د استالف دره یې

Property of ACKU

شپږ زره باغونه لري.

د کابل په ښار او نږدې شاوخوا کې یې یو راز ځانګړي تاجکان اوسېږي، چې کابلیان ورته ویل کېږي. دوی د خپل ابتکار او فعالیت له لامله ښه نوم لري او د دولت په الوګولو کې یې څوڅو ځله خپل اهمیت ښودلی دی. ددغه ښار اوسېدونکي ممکن اته زره وي.

## د غلزیو سیمه:

د کابل د سیند ناوه تر هغو، چې جلال آباد ته رسېږي او د برو درانیو له ملک سره یوځای کېږي، چې لومړی یې ذکر شوی، یوائې په غلزیو پورې اړه لري. دا به ډېره ګرانه وي، چې د ټولو هغو ورو ناوو بیان وشي، کومې چې تر هندوکش او سپین غره پورې غځېدلي دي او یا د غرونو ډډې او د پاسه هغه ساړه او تاوده میدانونه مشخص شي، چې غلزي یې کري.

همدارنګه ګرانه ده، چې هغه ستغې څوکې شرح شي، چې د دوی څاروي پکې پیول کېږي، خو همدغه شمېر په خپل ذات کې د همدغې کږې وږې او مخ په ځوړې سیمې د تنوع مانا لري.

د غلزیو ملک د یوه داسې متوازي الاضلاع په شکل دی، چې اوږدوالی یې یو سل او اتیا میلو او سور یې نږدې پنځه اتیا میلو ته رسېږي. ددغه ملک څاروي هغه دي، چې د درانیو په ملک کې موندل کېږي.

اقلیم یې هر چېرې سوړ دی، خو د ترنک د ناوې په ښکتنۍ برخه کې لږ سوړ دی، په هر بل ځای کې یې ژمی د انګلستان تر ژمي ډېر سوړ او اوړی یې ډېر تود دی.

غلزیان په پخوا وختونو کې تر نورو پښتنو ډېر نامتو وو. دغه قوم د تیرې پېړۍ په سر کې ټول فارس یوائې په خپله لاندې کړ او د عثماني ترکیې لښکرې یې ماتې کړې[1]. له یوې سختې جګړې وروسته نادر شاه افشار د غلزیو درېیم پاچا له فارس څخه ووېست، خو د همدغه قوم ځینې برخې تر ډېره نږدې وختونو پورې آزادې پاتې شوې. دا پوره یقیني نه ده، چې هغوی به اوس هم ایل شوي وي.

---

[1] وګورئ د هان وي (Hanway) سفرونه او جونز (Jones) د نادر شاه تاریخ. لومړنی یې په فارس کې د غلزیو د ټولو فتوحاتو او مصیبتونو شرح ده. په همدې ډول د غلزیو د فتح خاص تاریخ شته، چې د پیدي کروشنسکي (Pere-Krusinski) له لیکنو څخه برابر شوی. کروشنسکي په هغه وخت کې په اصفهان کې و، خو ددغه نیک جیز ویت (Jesuit) ساده عقیده او د هغه د فرانسوي مولف قوي تخیل دغسې یو تاریخي رومان رامینځ ته کړی، چې که څه هم له اطلاعاتو څخه خالي نه دی، دغومره ډېرې پوهې ته اړتیا لري، چې څومره د یوه صحیح تاریخ لیکلو لپاره لازم دی. هغومره سم له ناسمو څخه بېل کړی دی.



Property of ACKU

دوی د کرمان ولایت په خوبیس او نرمان شیر کې اوسېدل. نورې برخې یې تراوسه هم په فارس کې پاتې دي او له ځایي خلکو سره ګډې شوي دي. هغه ډېر نامتو شخص، چې د دوی د پاچایي له نسکورېدو نه وروسته څرګند شو، آزاد خان سلیمانخېل و، چې د فارس پاچایي ته یې ملا وتړله او د کریم خان زند د ډېرو نامتو رقیبانو له ډلې څخه و. د پښتنو او د فارس د خلکو په روایت د تخت ګټلو لپاره د دوی اوږده جګړه په پای کې په یوه ریښتیني ملګرتوب بدله شوه او آزاد خان د خپل بریالي رقیب په دربار کې تر ډېرو کلونو پورې واوسېد. دغه حقیقت د کریم خان له سنجایاو سره پوره سمون لري او په یوه داسې ملک کې، چې د ښې عقیدې او سخاوت لېوالی ښکاره وي، راځئ چې دا ښه وګڼو چې دغه روایت به رښتیا وي. د آزاد خان زوی اوس په لغمان کې ژوند کوي. همدارنګه د اوزبکانو په خدمت کې ډېر داسې غلزیان شته، چې د ښه نامه خاوندان دي. کېدای شي دوی د نادر شاه له خوا بخارا ته استول شوي وي یا د خپل قوم د کم بختۍ له لامله هلته پخپله لېږدېدلي وي. دا چې دوی څنګه خپله پاچایي بابلودله او بیا یې د هغې بیا ګټلو لپاره په څه زړورتیا سره په یوه لوی پاڅون پیل وکړ، هغه به د دغه کتاب په تاریخي برخې کې راشي.

د واکمنۍ لپاره د دوی دعوه اوس غلې شوې ده او د دراني حکومت ښه چارچلند تر څه حده د دوی هغه خوابدي ختمه کړې ده، چې د خپلو ایلېدو په وخت کې یې حس کوله، خو دوی تراوسه هم د خپل قوم پخوانۍ ستر توب په ډېرې مینې سره یادوي او د شاه عالم خېل پاچایي او د دوی د خانانو میراثي مقامونه د ټولو له خوا منل شوي او درناوی یې کېږي.

د غلزیو کره وره هغومره ډول ډول دي لکه څومره، چې د دوی د امستوګنې ملک متنوع دی. د ټولو په اړه یو لنډ نظر د هغو خېلونو له شرحې سره یوځای، چې د هغو لویدیځو قومونو څخه چې دمخه یې یادونه شوې، ډېر توپیر لري او په دې اړه کېدای شي ټول هغه په زړه پورې اطلاعات وړاندې شي، چې د دوی په اړه له ما سره شته دی، خو د هغو خېلونو شرح چې غلزي پرې وېشل شوي دي او د هغو ملکونو بیان، چې هر خېل پکې اوسي، ددغه حقیقت د پوهېدو لپاره لازمي شمېرل کېږي.

## د غلزیو د قوم وېش

غلزیان د توران (Toraun) او برهان (Boorhau) په کورنیو وېشل شوي او هره یوه یې بیا اته خېله کېږي.

توران یې تر ټولو پخوانۍ کورنۍ ده او د هوتکو او توخو خېلونه یې اجزا دي. له لومړنۍ څخه د غلزي د کورنۍ پاچایان او له دویم څخه یې وزیران هسک شوي دي.

Property of ACKU

سلیمان خېل، علي خېل، سهاک، اندړ او تره کي په برهان پوري اړه لري آن پخپله غلزیو ته هم دا څرګنده نه ده، چې د خروټو پاتې خېل په کوم وېش پوري اړه لري. په دغو خېلونو د شیر پای خېل هم اضافه کېدای شي، که څه هم دغه وروستی کوم خېل نه دی او دا د هغو وروستیو اتو خېلونو یوه مجموعه ده.

هوتکیان په پخوا وختونو کې یو بې شمېره خېل و، خو دوی اوس له پېنځو زرو نه تر شپږو زرو کورنیو پوري لږ شوي دي. دوی په ټولیز ډول په کرنې او سوداګرۍ لګیا دي. سره له دې هم دوی په ټولیز ډول تر زیاتې اندازې په کېږدیو کې اوسي او ډېرې رمې ګلې لري. د مقر د غرونو په سهېلي سیمه کې دوی له توخو سره په ګډه اوسي او دلته د دوی د ستر مشر عبدالرحیم کلا پرته ده.

توخي دولس زره کوره حساب شوي دي. د دوی مهم ښارګوټی د غلزیو کلات دی. له هغه ملک پرته، چې دوی له هوتکو سره په ګډه پکې اوسي، توخي د ترنک په ناوه کې په ځانګړي ډول هم اوسي. همدارنګه دوی د پاراپامېزاد د غرونو ډېرې ځانله ځانګړې کړې دي.

تره کي په مقر او د شاوخوا په هغې سیمې کې اوسي، چې د سهېل په لور آن د غلزیو تر وروستۍ پولې پوري غځېدلې ده. دوی دولس زره کورنۍ شمېرل شوي، ډېرې یې پوونده دي او له دوی څخه ځینې په ژمي کې د درانیو ملک ته لېږدي، په داسې حال کې چې نور یې آن د امان پورې ځي.

اندړ هم دولس زره کورنۍ حساب شوي او دوی د شلګرې سمسوره سیمه او د هغې شاوخوا ملک کري.

خروټي د ګومل او د سلیمان د غرونو په منځنیو برخو کې ژوند کوي. د دوی شمېر نږدې شپږ زره کورنیو ته رسېږي.

علي خېل اته زره کورنۍ حساب شوي. دغه شمېر له حده ډېر معلومېږي، په دې چې دوی لږه ځمکه لري. یوازې د زرمل میدان یو څه آباد دی او ان هلته هم د نفوسو نیمایي ژوند کوي.

سلیمان خېل د غلزي تر هر بل خېل په شمېر کې ډېر دی. ویل کېږي، چې د دوی شمېر دېرش زره تنه یا پېنځه زره کورنۍ دی.

سلیمان خېل په څلورو بېلو پښو وېشل کېږي، خو داسې یې بولي چې لکه په دوو شمالي او جنوبي برخو وېشل شوي وي او په دغه وېش سره د دوی جغرافیوي او سیاسي دریځ په نظر کې نیول شوی دی.

قیصر خېل او اسماعیل زي یا سومل زي (Summulzye) یې لومړنۍ برخه ده. دوی د غزني په سهېل او ختیځ کې اوسي او د دوی دي، چې له علي خېلو سره یوځای

Property of ACKU

په زرمل کې اوسي. هر یو یې ممکن پنځه زره کورنۍ وي. یوه برخه یې په هر ژمي کې واړې ته درومي، دوی د خپلو ګاونډیو علي خېلو په څېر هم له پاچا او هم له خپلو مشرانو څخه ډېر خپلواک دي[1].

د سلیمان خېلو شمالي برخه ستاني زي، سلطان زي او احمد زي دي. لومړني یې چې په شمېر کې تر نورو ډېر دي، د وردګو په شمال کې اوسي او د کرنې په چارو بوخت دي. احمدزي پوونده دي او په التمور، سپیګه او د لوګر په ختیځ کې اوسي، خو خپلې رمې په ختیځ کې آن د جلال آباد تر غرونو پورې بیایي. دوی پاچا ته پوره ایل دي او آن د غلزیو په پاڅون کې یې هم برخه وانخیستله.

شیرپاني، چې شپږ زره کورنۍ حساب شوي، په کوهدامن کې له تاجکو سره په ګډه اوسي. همدارنګه دوی د کابل سیند په شمالي غاړو کې آن د غلزیو تر ختیځو پولو پورې ژوند کوي ویل کېږي، چې دوی د هغو نورو خېلونو د نفوسو هغه اضافي برخه وه، چې د قوم له نورو برخو نه لومړی کندهار ته کوچېدلې وه.

لودیځ غلزي د غزني تر هسکو برخو پورې له درانیو سره نږدې ورته والی لري، خو څومره چې یو څوک د ختیځ په لور ځي، دغه ورته والی کمېږي. هوتکیان او توخي په کالیو، کړو وړو او دود دستور کې او په هر هغه څه کې، چې د دوی د حکومت له طرز سره اړه نه لري، له ګاونډیو درانیو سره پوره ورته دي. تره کي که څه هم د هر بل قوم په پرتله له درانیو سره ډېر ورته والی لري، د ختیځو غلزیو له کړو وړو څخه یو څه لرې دي او دغه حقیقت د تره کیو د ملک په جنوبي برخه کې زیات لیدل کېږي. اندړ له خپل حکومت پرته نور په هر څه کې له ختیځو خېلونو سره ډېر ورته والی لري. ختیځ غلزي له درانیو څخه په پراخه پیمانه توپیر لري او دوی یو بیل بحث ته اړتیا لري. دوی آن په خپلو کې هم سره توپیر لري. هغوی چې د کابل په شاوخوا کې ژوند کوي، له هغو سره چې په سهېل کې اوسي، یوازې ډېر لږ ورته والی لري، خو ځینې داسې ټکي شته، چې دوی ټول په هغو سره له درانیو نه پوره توپیر لري. اوس مخکې له دې، چې هغه اختلافات شرحه کړم، چې ورته مې اشاره کړې، غواړم د هغو په حکومت څه رڼا واچوم.

## د غلزیو حکومت

د غلزیو نننی حکومت د درانیو له حکومت څخه پوره توپیر لري. د غلزیو مشرانو هغه قدرت اوس باېللی دی، چې پخوا یې د خپل شاهي حکومت په وخت کې لاره. په دې کې پوره شک دی چې دوی هغسې قدرت لاره، چې درانیو د فارس د

[1] که څه هم ما د جنوبي سلیمان خېلو د هر یوه خېل د استوګنځي د پوره یادونې وعده کړې وه، باید په یاد ولرل شي چې دوی له یو بل سره یو څه ګډ دي.



Property of ACKU

نمونې پر بنسټ په خپلو مېنځو کې رواج کړي و. ددې احتمال ډېر دی، چې آن په خپل ملک کې هم د غلزیو د پاچا واک لږ و او د دوی ولس په بهر کې د خپل واکمن له شور او ځوږ نه ډک ملاتړ نظر دې ته، چې د هغه د اوامرو درناوی کړي وي، زیات یې د خپل قوم د برم او ګټې لپاره کړی دی، خو ځینې نښې نښانې ښیي چې دده واک ددې لپاره بس و، چې د قتلونو او لويو اړو دوړ مخه ونیسي. پخوا چې د غلزیو پاچا هر څومره واک لاره، اوس له منځه تللی دی. همدارنګه د دوی د اشرافو قدرت له هغو سره پای ته رسېدلی دی او که څه هم دغه قدرت د وګړیو په ذهن کې د درناوي احساس پرېښی دی، سره له دې هم دغه درناوی په بشپړ ډول دومره له وېرې نه خالي شوی، چې د دوی د کړو په کنټرولو کې هېڅ اغېزه نه لري. د هېڅ کلي ملک یا د هېڅ قوم خان هېڅکله د یوه حاکم په توګه د یوې شخړې یا لږ تر لږه د یوې جدي دعوې په فیصله کولو کې مداخله نه کوي، دوی خپلې کورنۍ او نژدې خپلوان په نظم کې ساتي، خو نور ولس ازاد پرېږدي، چې څنګه کولای شي هغوی خپل اختلافونه لیرې کړي. داسې ګڼل کېږي، چې حال تل دغسې نه و، ځکه چې دغه حال ددې لامل نه دی شوی، چې د جرګې له لارې یوه اجباري محاکمه په دې ډول مېنځ ته راولي لکه څنګه، چې د بړو درانیو تر مېنځ چې په جنګ جګړه ماری سره عادي دي، رواج لري. همدارنګه دغه حال نه د غلزیو مزاجونه تونده کړي او نه یې د دوی دښمنۍ سختې کړي دي، لکه څنګه چې یې د برو درانیو کړي دي.

په ټولو غلزیو کې د حکومت د نشتوالي درجه په یوه اندازه نه ده، د کابل او غزني په شاوخوا خلکو کې د حکومت د حاکم قدرت د داخلي مقرراتو ځای نیسي، له ښارونو څخه په ډېرو لېرو قومونو کې یا د حکومت د قاضي نږدې والی یا د هغې محکمې یو نایب د دعوې یوه خوا دې ته تشویقوي، چې شرعي پرېکړې ته مراجعه وکړي. دا هغسې یو بنسټ دی، چې هېڅ مسلمان ترې غاړه نه شي غړولی. په هوتکو، توخو او په ټولیز ډول د لویو لارو د شاوخوا په غلزیو کې هغه اختیار، چې مشران یې د درانیو له حکومت څخه ترلاسه کوي او ښايي هغه درناوی، چې تراوسه هم د دوی پخوانۍ مقام ته کېږي، دوی په برلاسې کوي، چې د ټولیزو الو ګولو مخه ونیسي، خو دوی نه شي کولای د افرادو ترمنځ جګړې له مېنځه یوسي، خو د جنوبي سلیمان خېلو په مېنځ کې دغه بې نظمي د یوه خېل په دننه تقسیماتو کې تر دې درجې پورې په دښمنیو او ان په دغسې شدیدو نښتو او مقابلو اړوي، چې د کورنیو جګړو نوم پرې ایښودل کېدلای شي خو آن په ډېرو بې نظمو قومونو کې هم د علماو د غونډې یوه پرېکړه ددې لپاره بس ده، چې د ملکیت په سر دعوې حل کړي او په هغې سره د دوی د شخړو یوه لویه منبع وچه کړي.



Property of ACKU

د ختیځو غلزیو، په تېره بیا د سلیمان خېلو د یوه مشر قدرت دومره نه دی، چې دغسې یو مزئ تشکیل کړي، چې په هغه یو خېل راټول کړي. دوی د یوسفزیو په څېر په دغسې ورو ټولنو وېشل شوي، چې په خپلو ټولو کورنیو معاملو کې خپلواک دي، خو له پاچا سره د دوی اړیکې له هغو اړیکیو سره، چې یوسفزي یې ورسره لري، توپیر لري او د هغو په نتیجه کې په هر خېل باندې په ټولو هغو چارو کې، چې حکومت ته د لښکرو په تهیه کولو کې پادشاهي مالیاتو په تادیه کولو پورې اړه لري، د دوی مشر د واک خاوند دی. دغه محدود واک د یوه خان تر لاس لاندې د دوو بېلابېلو خېلونو ترمېنځ یو څه اړیکه ساتي او زیات وختونه د یوه خېل د تقسیمولو عملیه ځنډوي او دا هغه وخت وي، چې د یوه خېل شمېر دومره ډېر شوی وي، چې د یوه پرځای ډېرو مشرانو ته اړتیا پیدا کوي. ښکاره ده چې کوم حالت، چې ما د درانیو او غلزیو د ژوند ترمېنځ بیان کړ، څومره زیات توپیر سره لري او دا به له هغه بیان څخه نوره هم څرګنده شي، چې اوس یې د جنوبي سلیمان خېلو د یوه کلي په اړه کوم.

## د قلندر خېلو مثال

قلندر خېل په کتهواز کې اوسي، چې نږدې دېرش میله د غزني په جنوب کې پراته دي. دوی نږدې ټول کروندګر دي او یوازې کله کله څاروي ساتي. هغوی، چې د کرنې کار کوي، په ټولیز ډول له هغو کروندګرو دلو څخه نیول کېږي، چې خپل پسرلی او اوړی په کتهواز کې تېروي. د دوی ملک سمسور نه دی، یوازیني حاصلات یې غنم دي، هغه هم هلته کرل کېږي، چې کارېزونه موجود وي. ځمکې یې یو فصله دي آن په هغې یوې ځمکې کې هم سر په سر غنم نه کېږي او د پرله پسې حاصلاتو په ترڅ کې سرې ته ډېره اړتیا لري.

د دوی په کلي کې نږدې سل کورنۍ مېشت دي، د کرنې په چارو کې ځینې ګاونډیان ورسره مرسته کوي، خو دوی له کلي نه یو څه لرې اوسي، د دوی د ترکاڼي او پښ ګري کارونه ګرځنده کسبګران اجرا کوي او د سیمې اقلیم یې ډېر سوړ دی.

ځمکه یې خپل ملکیت دی او که دوی د پاچا له خوا د فیوډالي شرایطو له مخې هم کوم سند په لاس ولري، هغه د دوی په حقوقو باندې نه په واقعیت او نه په ظاهري بڼه کې څه اغېزه کوي. هر څوک، چې څنګه یې زړه غواړي هغسې له خپلې ځمکې سره معامله کوي او دغه ځمکه د هغې د وارث له مړینې څخه وروسته د اولادونو ترمنځ وېشل کېږي.

د دوی کلي سره له دې، چې ډېر کوچنی دی، بیا هم د یوه خپلواک ولسي حکومت حیثیت لري. دغه کلی د سلیمان خېلو د شوملزي په وېش کې ګډ دی او



Property of ACKU

ددغه وېش خان حکومتي مالیات ټولوي، خو په نورو چارو کې هیڅ گوتې نه وهي او که ده په حکومت کې دغه دنده نه لرلای، دده او دده د خپل ترمنځ اړیکې به ډېر دمخه پرېکړې شوې وای. د دوی کلی په دوو محلو وېشل شوی دی او مراد خان او فیض طلب یې مشران دي. مراد د ټول کلي مشر دی او ملک ورته وایه شي.

د دوی صلاحیت یوازې په بهرنیو چارو پورې منحصر دی او دوی د وگړیو په لانجو کې هیڅ لاسوهنه نه کوي. یوازې په هغه حال کې لاسوهنه کوي، چې له دغو دواړو څخه یو د څلوېښتي موقتي صلاحیتونه ولري، خو دعوی په خصوصي توگه فیصله کېږي یا تر هغه دوام کوي، چې ټوله ټولنه په تکلیف کړي. په دغه حال کې یو یا دواړه دعوه گر له کلي څخه اېستل کېږي. مدني دعوی د ملایانو په پرېکړې اوارېږي، ولسي او ټولنیزې چارې د ملک له خوا د فیض طلب په سلا اجرا کېږي، خو د هرې هغې موضوع لپاره چې ممکن په جنگ واوړي او یا کلی په جدي ډول اغېزمن کړي. ملک د کلي لویانو د جرگې لپاره غونډوي او مشوره یې غواړي. البته د هیڅ موضوع په اړه رایې نه ورکول کېږي. خو ملک د جرگې تمایل درک کوي او گوري، چې د هغوی نظر په کوم ځای کې دده له نظر سره سمون لري او په هغه حال کې، چې د دوی نظر له خپل نظر سره مخالف وویني، دوی قضاوت کوي، چې تر کومه حده د دوی په ملاتړ اتکا کولای شي. کله چې جنگ ته ملا تړل کېږي، سمدلاسه څلوېښتي ټاکل کېږي او د هغه قوماندني په نه بدلېدونکي ډول فیض طلب ته ورکول کېږي او په نتیجه کې دی د (میر) په لقب یادېږي. دی دغه لقب په ټولو وختونو کې لري. لکه څنگه چې مراد د ملک لقب لري، د میر لقب د ملک له خوا ده ته په رسمي ډول ورکول کېږي. په دې توگه، چې د ټول کلي په مخ کېږي په سر لنگوټۍ تړي او دی تر هغه سمدلاسه وروسته د کلي کنټرول په خپل لاس کې نیسي، جنگي مېړونه رابولي، د څوکۍ لپاره کسان ټاکي او ټول جنگي ترتیبات نیسي. په داسې حال کې چې د داخلي گډوډۍ د مخنیوي لپاره هر هغه څوک جریمه کېږي، چې سوله په خطر کې اچوي.

ملک له هغې شېبې نه، چې څلوېښتي وټاکل شول، خپل اهمیت له لاسه ورکوي، خو خپله لوړه رتبه او عزت ساتي، خو نور په هیڅ څیز کې گوتې نه وهي او که په کومې الې گولې او دعوی کې پلو واقع شي، د هر بل فرد په څېر د جزا تابع گرځي.

د څلوېښتي ټاکلو دود په ټول کتواز کې غلبه لري. په واقع کې د هغه شتون د هغو دښمنیو له وجه، چې د گاونډیو کلیو په منځ کې دوام کوي، ددغه ملک په ټولو برخو کې په برابر ډول ضروري گرځېدلی دی. سره له دې هم زه دغه فکر ته متمایل یم، چې حال تل دغسې نه و، ځکه داسې ښکاري چې د کلیو ټینگول یوازې اوس

Property of ACKU

رواج شوې وي او په کتهواز کې تراوسه هم ډېر کلي بې دېواله او خلاص دي.

د کتهواز خلک سره له دې، چې له نورو قومونو سره دښمني او په خپلو کې دعوی دنګلې کوي، به هیڅ لامل توند او پارېدونکي نه دي. دوی په ښه زغم او ارامۍ ژوند کوي او د درانیو په څېر مرکې او ساعت تېری لري، چې هغه د یوسفزیو د پله پسې خطر او نږدې پرله پسې یرغلونو نه په امان کې وي. دوی ډېر مېلمه پال دي او یو تن یې په دې ګومارلی وي، چې د کلي په لګښت د مېلمنو هرکلی وکړي او ترتیبات ورته ونیسي. دوی ټول د پښتنو د اصلي کمیس (چې دلته یې یوائې بوډایان اغوندي) او د درانیو د فارسي قبې په ځای هندي سپنسین کالي اغوندي، چې هغه د دامان اوسېدونکي، چې دغه غلزي له هغو سره په کړو وړو او شکل کې یو څه ورته دي، هم اغوندي او مخکې یې یادونه شوې ده. همدارنګه د دوی جامې د سپینو لنګوټیو په استعمال سره د هغو قومونو له کالیو سره توپیر لري، چې لیرې لویدیځ کې پراته دي. دوی هم د درانیو په څېر خولۍ په سروي، خو د دوی خولۍ یو څه لوړې دي.

وسلې یې هغه دي، چې درانیانې یې لري. یوائې ډال ترېنه اضافه لري، چې هغه د مېښې له پوټکي او یا که کېدای شي د ګېنډې (ګرګدن) له پوټکي څخه جوړوي.

د کتهواز ډېر خلک د درانیو په څېر د ټنډې دیاسه یو ګرد ځای خریي، خو هغوی چې غواړي کسبي اتلان شي، خپلې ټولې څنې اوږدې پرېږدي. د دوی د هر یوه دا عادات دي څه وخت چې له دښمن سره په خپړو شي، خپله خولۍ اېسته غورځوي او په دې راضي وي، چې خپل ژوند له لاسه ورکړي، نه دا چې له هغه ځای چې خولۍ پرې پرته وي، بېرته لاړ شي.

ما لومړی وویل، چې قلندر خېل ټول کروندګر دي، په دوی کې پینځه یا شپږ کورنۍ پووندە هم شته، چې د کتهواز د نورو بې شمېرو پووندە و په څېر د کال په یوې برخې کې خپل ساړه میدانونه او سمې پرېږدي او د ګومل د دواړو غاړو په غرونو کې په پورته او ښکته برخو کې ژوند کوي. وانه د دوی لپاره یو ځانګړی ګوښه او ارام ځای دی، د وانې د اصلي اوسېدونکیو یانې د دوتنیو شمېر دومره لږ دی، چې د دوی د تېري مخه نه شي نیولای او هغوی د دغو نفوسو په اضافه والي سره ډېر ضرر ویني. عموماً داسې فکر کېږي، چې انسانان زیاتره د پووندە توب ژوند پرېږدي او د کرنې ژوند غوره کوي او معکوس یې هیڅ نه پېښېږي، خو د قلندر خېلو یو څو پووندە کورنۍ موږ ته معکوس مثال په لاس راکوي. هغه شخص چې دغه معلومات مې ورڅخه ترلاسه کړل، په کتهواز کې د ځمکې څښتن و، خو هغه په یوې پووندە کورنۍ کې واده وکړ او څنګه چې یې د کوچیتوب ژوند ډېر خوښ شو،



Property of ACKU

په هغو ځو پیسو، چې یې د نکرېزو په کرلو سره ګټلې او غونډې کړې وې، پسونه وپېرودل او له هغې ګرځندې ډلې سره یوځای شو، چې ده ورسره خیښي کړې وه. هغه خوندونه، چې دی یې ددغې لارې غوره کولو لپاره وهڅاوه باید هرو مرو نورو کروندګرو ته هم ښکاره وي، ځکه چې له قلندرخېلو څخه لږ تر لږه هر کال ډېر خلک د کوچیتوب ژوند غوره کوي. هر اوړی دوی خپلې کېږدۍ له کلي څخه لږ څه لرې دروي او کلی دومره خالي کېږي، چې وروسته یې تړل کېږي. دوی ټول اوړی په کېږدیو کې تېروي او کله کله د کلي شاوخوا ځایونو ته درومي. زما یو خبریال وایي، چې: ددغه موسم خوښي ډېرې وي، خو خوندونه یې که د ژمي له تنبلۍ او هوسایۍ نه زیات نه وي، نو ورسره برابر خو به وي.

له هغو پوونده برته، چې یواځې ګومل ته اوړي، نور یې د سیند دامان ته خپلې لېږدونې اوړدوي. له دوی سره د مېشت شویو اوسېدونکیو سوداګرو ډلې ګډېږي او ټول شمېر ښه ډېرېږي.

دا وه د کټواز د اوسېدونکیو او ښایي د زابل د علي زیو (علي خېلو)، د خروار د سهاکو او د جنوبي سلیمانخېلو کره وه، چې بیان شول.

د اله ګولو په کرارولو کې د کلي مېنځګړتوب په ډېرو خېلونو کې ډېر واضح دی او په ځینو کې دوی آن دواړه خواوې مجبوروي، چې یا جرګې ته تن کېږدي یا ګرد سره کلي پرېږدي. په همدې ډول په ځینو خېلونو کې د حکومت بڼه په غوڅ ډول دموکراتیکه او ولسي ده او مخکې له دې، چې د یوه مهم کار په اړه پرېکړه وشي، باید د هر فرد رایه په نظر کې ونیول شي.

په احمدزیو کې حال همدغسې دی او دوی د لوګر څخه او تر جلال آباد پورې د کابل د ناوې ټولې جنوبي غاړې په خپل لاس کې لري. سره له دې څنګه چې دوی ټول د پاچا پوره تابع دي، ددغه ټول خېل خان، چې هغه د پاچا استازی دی، نظر جنوبي سلیمان خېلو ته په خپل قوم باندې ډېر اغېزمن دي او د هغه ټول قوم که څه هم اوولس زره کورنۍ حساب شوی دی، ده ته په ټولو چارو کې د مشر په حیث ګوري.

د کابل د څلورو تپو غلزي آرام، د نظم خاوندان او خواریکښ خلک دي، دوی د پاچا پوره تابع دي او د خپلو خانانو اختیار مني. په کالیو او د کرو ورو په ځینو خواوو کې دوی د کابل اوسېدونکیو ته ورته دي.

ټول غلزي حکومت ته یو څه اندازه مالیات ورکوي، خو دغه مالیات بېلابېلو کسانو ته ځانګړي شوي. اوس یې لږه برخه بیت المال ته رسېږي. یوه برخه یې پخپله د غلزیو خانان اخلي، بله یې هغه دراني سردار ته ورکول کېږي، چې د دوی د نظامي ټولګیو قوماندانۍ پر غاړه لري او یوه ښه اندازه یې عبدالرحم خان ته

Property of ACKU

ورکول کېږي، چې د هغه له بغاوت نه وروسته بيا جاري شوې نه ده.

غلزيان د کرکټر له نظره د کابل په سلطنت کې په واضح ډول دويم قوم ګڼل کېږي. دوی له درانيو څخه ډېر توپاني او لږ متمدن دي، خو دوی زړور او درانه خلک دي، د قوارو له مخې دوی په پښتنو کې ممکن تر ټولو پند، تر ټولو ښکلي او تر ټولو پې مخي وي.

## پوونده خروټي:

څنګه چې غلزي له خپل ملک سره لږ تشابهه لري او خروټي په دغه قوم پورې اړه لري، دوی د بېل بيان مستحق دي، لکه څنګه چې په درانيو کې اڅکزي په بېل ډول بيان شول. د دوی کړه وړه په واقع کې د دوی د ورونو له کړو وړو دومره توپير نه لري، خو ګټې يې سره بېلې دي او دوی په حقيقت کې داسې يوه ټولنه جوړوي، چې له غلزيو سره يوائې په نامه کې ګډ دي.

خروټي په هغه سيمه کې اوسي، چې د کټواز ختيځ لور ته د سليمان د غرونو په لړ کې پرته ده. دوی د ختيځ په لور د دمدغه لړې يوه ستره سلسله او هغه ښاخ نيولی، چې دوی په شمال کې له ګردېزه نه بېلوي. د دوی لويديزه پوله ګومل ده، که د واني وړه سيمه په مېنځ کې نه وای، ګومل به يې جنوبي پوله هم وای. د خروټو د ملک په مېنځ کې د اورګون وړه سيمه پرته ده، چې د تاجکو په يوه ځانګړي قوم پورموليو يا فورليو پورې اړه لري.

خروټي يو څو داسې تنګ ميدانونه او ناوې لري، چې په لوړو او ايسارو (نه وررسېدونکيو) غرونو سره وېشل شوي دي. دوی څلور ښارګوټي يا کلي لري، په دې چې تر ټولو لوی يې چې سرفزا (Sirufza) نومېږي، يوائې پېنځه سوه کورونه لري. دوی ټول پېنځه زره يا شپږ زره کورني حساب شوي او زياتره يې د کرنې چارې پرمخ بيايي. د دوی سيمه که څه هم تر کټواز بډايه ده، خو يوائې يو فصله ده او په هر ژمي کې د کال درې مياشتې تر واورو لاندې وي. دوی په غويو يوې کوي. د ملک طبيعت يې داسې دی، چې دوی د پاتې څارويو لپاره تر پسو وزو ته ترجيح ورکوي. سره له دې هم په سمو اوارو کې دوی ډېر اوښان لري.

دوی په ډېر ځانګړتيا کې جنوبي سليمان خېلو ته ورته دي، خو دغه ټول خېل د يوه موروثي خان په امر يو موټی کېږي که څه هم دی په هغو يا لږ قدرت لري يا يې هېڅ نه لري، خو ډېر درنښت او وزن پرې لري. په همدې ډول د کلي ملکان ډېر اختيار نه لري، خو څنګه چې اشخاص مجبور دي، خپلې دعوې يوې جرګې ته وړاندې کړي، د دوی د اختيار د نشتوالي احساس دومره نه کېږي. د يوې باوري منبع په روايت دوی ته د يوه داسې حقيقت نسبت کېږي، چې هغه د پښتنو له دود



Property of ACKU

سره موافق نه دی او زه د هغه په سمون نږدې شکمن یم. هغه دا چې دوی د ملک په ټاکنه کې د نسب نه شتمنی او محبوبیت ته زیاته پاملرنه لري. د خروټو په وضع کې زه داسې کوم شی نه شم موندلی، چې د موروثي لوړتیا ددغه غیر عادي خصوصیت لپاره دلیل وګرځي.

خروټي له خپلو شډلو ګاونډیو، وزیرو او ځدرانو سره زیات وختونه په جګړو کې وي. همدارنګه دوی له فورمولیو سره، چې ممکن تر هغو ډېر متمدن وي، په جنګ وي. په هغې تېرې جګړې کې چې د داړو خواو له خوا په قتلونو پیل شوې وه، دوی هېڅ چاته پناه ورنه کړه، یوه خروټي وویل: زموږ جنګ نه د واک او نه د برم لپاره دی، بلکې د وینې په غرض دی.

په ژمي کې خروټي مجبور دي بېکاره وي ان د دوی د سون لرګي هم د منې له پای نه لوړې زېرمه کېږي. په دغه موسم کې د دوی یوازینی کار له بامونو څخه د واورې توږل او یا له یوه کور نه بل ته د واورو په مېنځ کې د لارې جوړول دي.

بېوزله او غریب خروټي، چې د څلورو میاشتو بېکارۍ توان نه لري، مجبور دي تودو سیمو ته لاړ شي او د خپل قوم د غوېیو او اوښانو ډېر شمېر له ځان سره بوځي. دوی د ګومل د ناوې آن هغې جنوبي برخې ته ځي او په پسرلي کې خپل ملک ته بېرته ستنېږي. له درې سوو څخه ډېرو کورنیو په ځمکه کې خپله برخه پرېښې او د ناصرو په څېر پوره ګرځنده شوي دي. له دغې علیې نه ډېره موده نه ده تېره شوې او یو څو لومړني پوونده یې تراوسه هم ژوندي دي. دوی ددغه بدلون لپاره قوي دلایل هم راوړي. دوی وایي، چې د دوی ځمکې دغسې دنګو ونو غرونو په غېږو کې نیولې دي، چې د ځمکو پراخوالی ناممکن کوي. همدارنګه د جلغوزیو د ونو ګڼ سیورې، چې د دوی غرونه یې نیولې د څارویو لپاره د وښو د ودې مانع ګرځي. نو د دوی د نفوسو طبیعي زیات والی دوی د خوارۍ پر لور بیایي.

د هر شخص ځمکه د هغه له مړینې وروسته د شریعت له مخې د ده د وارثانو ترمېنځ وېشل کېږي او هغه برخه، چې د یوه وارث حق کېږي، ورو ورو دومره لږه شي چې د یوه فرد ژوند پرې نه شي تامېنېدای، نو ډېرو خپلونو خپلې ځمکې خپلو ورونو ته پرېښودلي او پخپله پوونده شوي دي. دوی اوس د خروټو له ملک سره هېڅ راز اړیکې نه لري، په دې چې ژمی په دامان او اوړی غزني ته نږدې تېروي، خو د دوی بېلوالی دومره ډېر تازه دی، چې تراوسه هم هغه اړیکې پکې قوي وي، چې دوی له خپل سره تړي. دوی تراوسه هم د خروټو مشترک خان مني او څه وخت، چې په خپل خپل کلني لېږد کې له خپل ملک نه تېرېږي، د دوی خپلوان ټولېږي او توت او جلغوزي او د خپلو غرونو محصولات ورکوي. پوونده خروټي د هغو په مقابل کې

Property of ACKU

هم دوی ته د دامان سوغاتونه ورکوي. ددغو پوونده وکړه وړه کټ مټ د ناصرو په څېر دي، چې زه به زر د هغو بیان هم وکړم، خو دوی د ژوندانه له ټولو ضروري وسایلو څخه لا ډېر محروم دي.

## وردګ:

د وردګو په اړه به یوازې څو خبرې بس وي. ما لومړی لیکلي وو، چې د وردګو لویدیځ ته د پاراپامېزاد غرونه او په درېو نورو خواو کې یې غلزي پراته دي. د دوی سیمه د پاراميزاد او نورو غونو ترمېنځ (چې هغه غرونه لوګر له خروار نه بېلوي) د یوه اوږده ګوګ په توګه ده. د پاراپامیزاد ځینې ژوري ناوې هم په وردګو پورې اړه لري. هغه سېند، چې په غلطه په غزني نومول شوی، د دوی د ځمکو په جنوب کې بهېږي او د هغو د ټولې ساحې په منځ کې جاري دی.

ټول وردګان کروندګر دي، دوی ارام او باوقار او پوره ایل خلک دي. حکومت ته مالیات ورکوي او د اردو لپاره یوه غټه ونډه برابروي. له خپلو ګاونډیو سره په جنګ نه دي او د دوی دعوې یا د دوی خپل ملایان یا په لوګر کې د حکومت قاضي فیصله کوي.

## کاکړ

هغه ملک، چې تراوسه یې ذکر نه دی شوی او پښتانه پکې اوسي، په کاکړو پورې اړه لري. څنګه چې دوی د بلوڅو او ډېرو لرو پښتنو قومونو له خوا محاط دي، د کاکړو د سیمې په اړه دقیق معلومات په لاس نه دي راغلي. نو ما که څه هم د دوی دسیمې د ختیځو برخو په اړه له مساپرو څخه مهم معلومات ترلاسه کړي، سره له دې هم ددغې موضوع په اړه زما نظریات واضح نه دي. نو زه باید د کاکړو او د دوی د سیمې په اړه له هغه دقیق بیان نه تېر شم، چې د نورو په اړه مې برابر کړی دی.

د کاکړو د ملک شمالي پوله هغه ده، چې د غلزیو جنوبي پوله ده. شمال لویدیځ ته یې ارغستان، پښین او د توبې هغه برخه پرته ده، چې په اڅکزیو پورې اړه لري. لویدیځ ته یې د بلوڅو ملک او جنوب ته یې د سپینو ترینانو ملک پروت دی او ختیځ ته یې د سلیمان غرونه. بېخ ته یې ځینې هغه وړې سیمې پرتې دي، چې دمخه یې یادونه شوې ده. د کاکړو ټول ملک نږدې د سلو میلو یوه مربعه ساحه تشکیلوي. د کاکړو د ملک لویدیځه برخه غرنۍ ده، داسې ښکاري چې ډېر بارز خصوصیت به یې هغه سلسله وي، چې ما یې ذکر د شمال او جنوب په لور کړی او د ختیځ (٦٨) درجو طول البلد او د ختیځ (٦٩) درجو طول البلد په مېنځ کې پروت دی. ددغو غرونو د لړۍ په لویدیځ کې د شمال له لوري نه د کاکړو په ملک کې سیونه ډاک (Seoona Daugh) (یو لوړ، سوړ او وچ میدان، چې یواځې د ورشو



Property of ACKU

لپاره وړ دی) او په کاکړو پورې مربوطه تویه واقع ده. دغه سیمه که څه هم ډېره غرنۍ ده، ښايي له هغې برخې سره ورته والی ولري، چې په اڅکزیو پورې اړه لري او دمخه یې بیان راغلی دی. دغه میدان د جنوب په لور خلاصېږي، خو په غرونو کې یې ډېرې درې شته، چې تور مرغه، بر شور (Barshore)، نارین، توګي (Togye) او هونا (Hunna) یې ممکن د هغو له جملې څخه ډېر ښکاره وي، چې د لویدیځ په لور خلاصېږي. تر هغو لا هم جنوب ته تر بحث لاندې غرونه د کلات له هسکې سیمې نه یوازې د بولان په اوږدې درې سره بېل شوی دی. د برشور دره لږ څه ډېر بیان ته اړتیا لري. دغه دره د لوره سیند له سرچینې څخه پیل کېږي او د پښین تر خولې پورې برسره ملګرې ده. دغه دره شمال ته د توبې د هسک ملک او جنوب ته د غرونو ترمېنځ پرته ده. بر سر یې تنګ او په ونو بوټو ډک دی، خو ښکته برخه یې ودانه ده او کروندګر پکې اوسي او د خراسان ټول پیداوار پکې ښه پرېمانه موندل کېږي. که په دغه درې کې بېل خلک نه اوسېدلی، هغه د پښین یوه برخه شمېرل کېدای شوه، په دې چې د دوی ترمېنځ کوم طبیعي بېلتون نه لیدل کېږي. د هونا (Hunna) دره د شال پر لور خلاصېږي او د چوپړ کوتل له نږدې څخه شروع کېږي. په دغه ځای کې سړک د یوې هسکې غونډۍ له پاسه زاورا (Zawaura) ته اوړي.

## شال:

په خپله شال هم دلته یو څه بیان ته اړتیا لري، ځکه چې د کاکړو یو قوم د کاسي (Cassye) په نامه پکې اوسي، خو څنګه چې دغه سیمه د احمد شاه دراني له خوا د بلوچستان نصیر خان ته د خراسان د تبس د محاصرې پر مهال د هغه د خدمت په مقابل کې ورکړ شوې ده، باید هغه نور نو د پښتنو د ملک کومه برخه ونه شمېرل شي. دغه سیمه پښین ته ورته ده، خو تر هغه ډېره سمسوره ده. کاسیان د بلوچ د حکومت تر ادارې لاندې دي، خو دوی ځانله خپل خان لري او له دوی سره ښه چلند کېږي او مخ په غوړېدو دي. که کومې نورې درې د لویدیځ په لور خلاصېږي، د هغو توپیر نه د هغو د اوسېدونکیو لپاره او نه د هغو لارو له لامله کېږي، چې ورڅخه تېرېږي، خو یوازې د کاکړو پوونده و لپاره په ژمي کې یو ګوښه ځای برابروي.

د طول البلد (۶۸) درجې د غرونو ښاخونه د ختیځ په لور اوږدېږي او دغه ملک له بوري (Boree) څخه بېلوي، خو ګومان نه کوم چې هېڅ ښاخ به یې د سلیمان تر ښاخونو پورې ورسېږي. بل یې د بوري تر جنوب پورې غځېږي. له زاوره، تل او چوتیالي (Chooteealle) نه وروسته یې تر ښاپسته حده وېشي او د کاکړو د ملک جنوبي پوله جوړوي. د زاورې، تل او چوتیالي د جنوب په لور د غونډیو یوه پراخه لړۍ د (۶۸) درجې له لړ څخه اوړي او د سلیمان تر غرونو پورې غځېږي او د

سیستان خوا ته د افغانستان پوله جوړوي.

اوس غواړم د هغو سیمو بیان وکړم، چې د دغو غرونو ترمینځ پرتې دي، له جنوب نه به یې پیل کړم او د شمال په لور به ځم، ترڅو د درانیو او غلزیو معلومو ملکونو ته ورسېږم، خو پخوا له دې چې غرونو ته ننوځم ښه به دا وي، چې د کاکړو د پوني (Ponnee) د هغه خېل په اړه یو څه ولیکم، چې د سیستان په اوارو کې په سیوی کې اوسي. دوی له خپل نور قوم نه د غرونو او بلوڅو په ذریعه بېل شوي، چې دواړه سره کلک دښمن دي. یو مسافر د شمال په لور د خپل مزل په لومړي گام کې له دادر (Dauder) څخه سیوی ته ننوځي. سیوی د متیني خاورې یو اوار او گاگره میدان دی، خو په ځینو برخو کې دغه طبیعي عیبونه د هغو ویالو په برکت له منځه ځي، چې له غرونو څخه رابښکته کېږي. د سیوی د ښار شاوخوا لږ تر لږه ډېره سمسوره ده. پونیان تراوسه هم د افغانستان د ملت یوه برخه ده او د پاچا یو حاکم پرې حکومت کوي. دا به عجیبه وي، چې هغه لاملونه معلوم کړای شي، دکومو له مخې ښایي دوی هلته راغلي دي او د هندوستان جنوبي ولایتونه د پوني د خېل په هغو خلکو ډک شوي، چې ښایي دوی هلته څو پېړی دمخه لېږدېدلي وي، یانې له هغه وخت نه چې دوی د دکن په تاریخ کې ښه نوم لاره.

د سیوی په شمالي خوا غرونو کې او همدارنگه د سلیمان د غرونو په سهېلي برخو کې بلوڅ اوسي، خو د چوتیالي جنوب ته پرتو غرونو کې ځینې ازاد پښتانه مېشت دي، چې هغه په عمده ډول د لوني (لودي) د قوم له هغو پاتې کسانو څخه مرکب دي، چې یو وخت یې د هندوستان په تاریخ کې ښه نوم لاره. د دلازاکو تاریخ به ددغه قوم په برخلیک او حال یو څه رڼا واچوي او دا د یادونې وړ ده، چې د پښتنو ډېر قومونه، چې پخوا په هندوستان کې په خپل نامه یادېدل اوس له خپل هېواد څخه تېرېدې ورک شوي دي. له دغه حال نه داسې نتیجه اخیستل حتمي ښکاري، چې دوی یوازې د نفوسو د ډېرښت له لامله نه دي رابښکته شوي، لکه څنگه چې یوسفزي په دې ترڅو ختونو کې روهېلکنډ ته راغلي دي، بلکې له خپلو اصلي ټاټوبو څخه شړل شوي او په دې مجبور شوي، چې په دغسې ماجرا غوښتلو لاس پورې کړي، چې د هغه له برکته دوی په بهر کې نوم گټلی دی.

## تل او چوتیالي

تل تر شال نه هم لا پراخ دی او د شمال خوا ته یې د غرونو شتون ددې لامل کېږي، چې د تل او چوتیالي اوار میدانونه سره ونښلي. د تل او چوتیالي خاوره د شال په څېر ده، خو اقلیم یې تر هغو هم ښه دی او ښایي کرنه یې لا هم پراخه وي.

بوري هم د ساحې او هم د سمسورتیا له نظره زیاتره د پېښور میدان ته ورته

Property of ACKU

ښودل شوې ده. زه ددغې پرتلنې په اړه د دقیق قضاوت چانس په لاس نه لرم، ممکن داسې وګڼل شي چې بوري سمسوره ده او ښه کرنه پکې کېږي، لکه چې هغه په یقیني ډول ډېر اوسېدونکي لري او ټول اوسېدونکي یې کروندګر دي. یوه خورا لویه ویاله د بورې په مېنځ کې د جنوب لویدیځ په لور روانه ده او یو شو نورې ویالې او خورا زیات شمېر کاریزونه هم دغه ملک خړوبوي. ددغه پیداوار او د هغه د اوسېدونکیو کره وړه تراوسه هم هغه دي لکه چې د خراسان په بحث کې وړاندې شول، خو جامې یې د هندي کالیو په څېر دي.

## ژوب:

د بورې شمال ته غرونو او د هغو غرونو په مېنځ کې چې د طول البلد په (۶۸) درجې کې پراته دي، هندو باغ پروت دی چې هغه د ژوب د سیند سرچینه ده. د ژوب سیند له دغه ځای څخه د شمال ختیځ په لور درومي، چې په سرماغه (Sirmaugha) کې د ګومل له سیند سره یوځای کېږي. ګومان کوم، چې ژوب په یوې تنګې درې کې لومړی یوه وړه ویاله ده او هغه هېڅکله په کومې نوې ویالې نه بدلېږي، خو د خپل بهیر په لومړۍ برخه کې یو پراخ میدان په دړېو برخو وېشي، چې د غزونې پکې پرېمانه موندل کېږي. په شمالي برخې کې یې ښه کرنه کېږي او غنم، وریښې، شولې او نور حبوبات پکې کېږي، خو زیاته برخه یې ورشوګانې جوړوي او په هغو کې پوونده بې شمېره اوګړي مېنې جوړوي. د ځینو روایتونو له مخې ټول اوسېدونکي یې په کېږدیو کې ژوند کوي او د نورو روایتونو پر بنسټ هغه یوه داسې سمسوره سیمه ښودل شوې، چې له کلو او کرنې نه ډکه ده. دغه ظاهري نقیض روایتونه یوائې هغه وخت سمېدای شي، چې داسې وګڼل شي چې هغه ددغې پراخې سیمې په بېلابېلو برخو پلې کېږي.

د ژوب سیند په ښکته برخه کې ددغسې سپېرو غرونو په مېنځ کې تېرېږي، چې په ګومل باندې راتاو شوي دي، ټول یې د سلیمان د غرونو په لړۍ پورې نښلول کېږي. د ژوب دره د شمال په لور ممکن د هغو غرونو په یوې لړۍ محاطه شوې وي، چې ګومان کېږي د سي اونه (Seeoona) جنوبي حد جوړوي.

هغه ساحه، چې د ژوب او د بورې د پولو او د سلیمان د ښاخونو په مېنځ کې پرته ده، د بابړو او هري پالو لپاره ملکونه او د موسی خېلو او ی سوتي (Esote) کاکړو لپاره ورشوګانې برابروي.

ټول هغه واړه غرونه او غونډۍ، چې د کاکړو په سیمه کې پرتې دي، بې شمېره پوونده و ته ځانګړي شوي او ددغې سیمې لویدیځ غرونه لکه څنګه، چې زیاتره وخت ورته اشاره کېږي، ډېرې درې او واړه میدانونه لري، ځینې یې ښې کرل کېږي،



Property of ACKU

خو زیاتې یې د پوونده و مېنو نیولې وي.

په دغسې یوه لوی قوم لکه کاکړو کې موږ ډېر لږ هیله کولای شو، چې کره وړه به یې یو راز وي. په تېره چې دوی لږ تر لږه په لسو خېلونو وېشل شوي او هر خېل بیا په بې شمېرو ځانگړو ټولنو وېشل شوی دی او د ټول قام دپاسه یو اغېزمن مشر وجود نه لري. د برشور کاکړان له ترینانو سره دومره نږدې ورته دي، چې نه ښایي د هغو په اړه نور توضیحات ورکړل شي، خو ددغه قوم بله برخه چې زه یې پېژنم له هغو سره چې بیان شوي نږدې ورته والی هېڅ نه لري. سره له دې هم په لویدیځ کې د یوې ناحیې او په ختیځ کې د بلې ناحیې بیان او داسې هم د منځنیو خېلونو په اړه یو څه توضیحات به پوره وي، چې د دوی د ځانگړنو په اړه یو فکر پیدا شي.

## کنچوغي:

کنچوغي (Cunchoghye) د کوند (Kund) د غره په لویدیځ اړخ کې یوه تنگه دره ده، ځمکه یې آباده ده او ډېرې برخې یې ښې کرل کېږي. په پسرلي کې ټوله دره او گاونډي غونډۍ یې زرغونې او په گلانو پوښلې وي، اوسېدونکي یې د مني تر پای پورې د دوو فصلونو په کرلو او د پسونو او څارویو د څارنې په چارو سخت بوخت وي، خو په ژمي کې د درېو میاشتو برخه او د ځینو وختونو واوره دوی په دې مجبوروي، چې د موسم د معمولي بېکارۍ له لامله بېکاره اوسي.

د کنچوغي وړه دره ورو ورو پراختیا مومي او له ډېرشو میلو څخه ډېره د جنوب لویدیځ په لور غځېږي. د درې پراخه برخه (چې نورونو د هغې په اصلي نامه نه یادېږي) نږدې څلوېښت ـ پنځوس کورونه لري او د هغو څاوخوا ښه کرنه کېږي، خو زیاته برخه یې شپنو او د هغو رمو نیولې ده.

## لویدیځ کاکړ:

د کنچوغي ټول اوسېدونکي د سونوتیا (Sunnuteea) د خېل یوه برخه ده او د هغوی ملک د کاکړو د لویدیځې پولې په اوږدو کې له ژاور نه تر (سې او نه ډاگ) پورې غځېدلې دي. دغه لوی خېل د یوه مشر تر لاس لاندې دي او هغه په خپل خېل یا لږ ترلږه د هغه په هغې برخې، چې د کنچوغي په گاونډیتوب کې اوسي، ډېر قدرت لري.

د هغه مرکز په اورگوس (Oorguss) کې دی، چې له هغه ځای نه دوه مزله لرې دی، خو سره له دې هم د ژوب سرچینې ته نږدې پروت دی. ددغه مشر صلاحیت په زیاته اندازه له پاچا څخه ترلاسه کېږي. ددغه اوسني خان نیکه کوم وخت، چې د ترینانو له تېریو او د خپل قوم له بې اطاعتۍ او گوندیمارۍ نه ډېر په تنگ شو، له ځان سره یې دا پرېکړه وکړه، چې احمد شاه ته عرضي شي (او هغه وخت، چې هغه



Property of ACKU

په توبه کې ښکاره کاوه، ورته یې ځان ورساوه) او دا عرض یې په دغسې حال کې وکړ، چې اور یې په سر و. دغه دود په ځینو آسیایي هېوادونو کې د سخت خپګان او غم یوه نخښه ده[1].

پاچا سمدلاسه د هغه عرض ته غوږ ونیو او امر یې وکړ، چې باید هغه علمي شي او ددغه کار لپاره یې د عسکرو یو ووړ ټولګی د ترینانو ملک ته ولېږه. دغه قوم سمدلاسه له خپلو تېرو څخه واوښت او سونوتیان، چې د پاچا له فرمان څخه وډار شول او ممکن هم د لښکرو له نږدې والي نه یې خطر حس کړی وي، خپل خان ته تسلیم شول او دده پر ځای د ناستو (اخلافو) اختیار تر ئن ورځې پورې همغسې پرځای پاتې دی، خو د دوی صلاحیت ممکن د دوی د خپل په شمالي برخې پورې منحصر وي، ځکه طهماس خان چې په جنوب کې یو تابع مشر دی، تراوسه پورې په کړو او نوم کې دومره تر هغو پرمخ تللی دی، چې ددې احتمال نشته چې دی دې تراوسه هم هغو ته تابع وي.

## طهماس خان:

دغه جنګي مشر په زیاته اندازه د هغه بریالي جنګ په نتیجه کې ځانله نوم وګاټه، چې ده له بلوڅو سره وکړ. بلوڅان د هغو سرحدي نښتو له لامله په تنګ شوي وو، چې د دوی او د کاکړو ترمینځ پېښېدلې، په پای کې دوی په دغسې ډول په کاکړو ودانګل، چې هغه ته یې د ملي جنګ یو شکل ورکړ. شپږ زره بلوڅان د خپل مشر نصیر خان په حکم ټول شول او کاکړان، چې له دغه جدي تېري نه سخت ووېرېدل، له خپلو رمو سره دوژک ته واوښتل.

دوژک یو ډېرین میدان دی او د زاوري لویدیځ ته د غرونو په ډېرې هسکې برخې کې پروت دی. هغه ځای ته ختل له ټولو خواوو نه سخت دی او په ډېرو اړخونو کې ایسارو ګړنګونو او نه وررسېدونکیو کمرونو په غېږ کې نیولی دی. بلوڅان، چې د شال له خوا نه ددغه ځای په محکمتیا پوره خبر وو، د هونا د در له خوا ورجګ شول، د طول البلد (٦٨) درجې په غاښې ورواوښتل، له زاوري نه تېر شول او په یوه دغسې تنګ پیچومي دمخه ولاړل، چې دوژک ته د ختلو یوائینۍ لاره وه. طهماس خان دوی ته څه ونه ویل، ترڅو دوی وروستي غاښې ته ځانونه ورسول. دلته یې ګیر کړل، پرې ویې دانګل او نږدې ټول یې د دوی له قوماندان فاضل خان سره له تېغه تېر کړل. د سونوتیانو مشر ته، چې طهماس خان په هره سترګه ګوري، دی د خپل خېل په نورو

[1] دغه دود ټولو هغو کسانو ته ښه معلوم دی، چې د قسطنطنیې له هغو رواجونو سره ښه اشنا دي، چې غواړي په یقیني توګه د وزیراعظم حضور ته په رسېدلو بریالي شي. پښتانه دغه رواج داسې مانا کوي، چې ګنې عارض په دغسې یوې سختې تنګسې کې ښکېل شوی، لکه په اور کې چې سوځي.



Property of ACKU

برخو ښه قدرت چلوي. له دغه خپل ځخه دی مالیات او باج نه ترلاسه کوي، خو ځه وخت چې دی کوم کلي ته ورشي، سوغاتونه ورته وړاندې کېږي او دغه سوغاتونه کله کله ښه قیمتي وي او ځنګه چې دی نه په مجلل ډول ژوند کوي او نه اجیر نوکران لري، دغه سوغاتونه او د هغه د خپلو ځمکو حاصلات دده لپاره ښه بس دي.

ځنګه چې سونوتیان اوس نه بهرني جنګونه لري او مالیات هم نه ورکوي او همدارنګه ډېر کلونه کېږي، چې پاچا د دوی ونډه سواره نظامي ټولګی احضار کړی نه دی، د دوی د مشر د اختیار تعمیل یوائې د حقوقي دعوو په پرېکړو پورې منحصر شوی دی. د وړو دعوو د پرېکړې کار د کلي ملک ته پرېښودل شوی او دی دلته ډېر اختیار لري او له اعدام پرته ډېرې جزاګانې ورکوي، خو په ټولو اجرایي چارو کې دی مجبور دی، چې د کلي د لویانو ملاتړ ترلاسه کړي او دی هېڅ مهم کار د جرګې له موافقې پرته نه کوي.

د کنچوغي ملک له هر کلیوال نه یوه ټاکلې اندازه جنس ترلاسه کوي. طبیعي ده، چې د دغسې قوي حکومت تر سیوري لاندې باید جنګونه لږ وي او په هغو یو څو تاړاکونو کې، چې پېښېږي وژونکې وسلې پکې هېڅ نه کارول کېږي. غلا او شکاوڼه په دوی کې هېڅ نه شته او خلک په آرام او په سوله مئین دي او د یوه کاکړ په روایت له خپل بخت نه خوند اخلي او پرې قانع دي. کنچوغي ته نږدې پووندہ ددغې پراخې درې او د هغې په ګاونډیو غونډیو کې د ځلورو یا پینځو کېږدیو په وړو وړو مېنو کې خواره دي. په ځینو موسمونو کې دوی د وښو نشتوالي له لامله په لویو مېنو کې سره یو کېږي او د نورو قومونو سیمې ته ورځي. په داسې حال کې چې د خوځېدو په حال کې یوه مېنه یوائې له یوې کورنۍ ځخه جوړه وي.

دوی ډېرې ساعت تېرې لري، بندیز پرې نه دی لګول شوی، له حکومت ځخه خپلواک دي، سره له دې هم هېڅ جرم پکې نه وي.

د کنچوغیو رواجونه، کړه وړه او جامې له هېڅ اړخ نه د درانیو د ملک له پراخو برخو سره توپیر نه لري او ویل کېږي، چې هغه د کاکړو په ټولو لویو ډلو خپلونو کې چې رواج لري، هغسې یو شان دي. زه به اوس په دې پیل وکړم، چې د بورې په لنډ بیان سره د ختیځو کاکړو حال ترسیم کړم.

## ختیځ کاکړ

ددغه آوار میدان ساحه او سمسورتیا او د هغه نرم او معتدل اقلیم دمخه بیان شوی دی او لکه ځنګه، چې خبر شوی یم آن پسونه هم په وچو واګونو کې نه، بلکې په شودیارو ځمکو کې پیول کېږي. کرنې باید هغو مره پرمختګ کړی وي لکه څومره چې کېدای شي.



Property of ACKU

حاصلات یې نړدې هغه دي، چې په لویدیځو ملکونو کې پیدا کېږي. اروپایي مېوې تراوسه هم پکې عمومیت لري، خو شوتله او نکریزې پکې نه کرل کېږي. شپته پکې ډېره نادره ده، څاروي یې هغه دي، چې په لویدیځ کې موندل کېږي، خو اوښان پکې لږ لیدل کېږي. اوسېدونکي یې په دغسې کلیو کې اوسي، چې په لوړه سویه کورونه لري او ځینې یې اوړی په کوډلو کې تېروي، چې کلیو ته نږدې پرتې وي. خانان یې په وړو کلاګانو کې اوسي.

نارینه یې تراوسه هم کمیس اغوندي، خو دوی د ټوپۍ پرځای لنګوټې په سروي. بلکه لونګۍ په ولو اچوي او لکه څنګه چې په هندوستان کې معموله ده، پوز لرونکې ګاولې (پڼې) په پښو کوي، د نیمڅیو او د پسونو له پوټکو نه جوړ کوځي په دوی کې ډېر شان او نادر دي او د دوی کره وړه او ساعت تېری هغه دي، چې په لویدیځ کې رواج لري.

په بورې کې د ولس خپلواکې ټولنې شته. که څه هم خلک یې د ساران (Sauraun) د خېل یوې ځانګړې ډلې ته منسوبې دي. هره یوه یې څو کلي لري، چې ځان له بېل مشر لري او داسې ښکاري، چې د ټول قوم له ستر مشر سره څه اړیکې نه لري، یواځې د جنګ په وخت کې دوی یو موټی کېږي. دغه کلی زیاتره وخت په خپلو مېنځو کې په جنګ اخته وي، کله کله دوی خپلې شخړې یوه منځګړي ته وړاندې کوي، خو زیاتره وخت یې د ټوپک په زور حل کوي آن په خپله په یوه کلي کې هم مشر زیات واک نه لري. څه وخت چې په یوه نږدې ځای کې شخړه پېښه شي، جرګې ته یې د حل لپاره وړاندې کوي، خو چې یو څه لرې پېښه شي، په خپل حال پاتې کېږي، ترڅو په خپله غلې شي.

د کاکړو نورې ډلې کېدای شي کنچوغي یا بورې ته ورته وي او دا په دې اړه لري، چې هغه لویدیځ یا ختیځ ته نږدې پرتې وي، خو هغه ډلې چې د ملک په مېنځ کې پرتې دي، هغوی تر هغو نورو ډېر شډل دي. دلته دوی په مېنځ کې تنګ، وړې واسکټ او د نیمڅي یو ډول تنګ پرتوګ اغوندي او په اوږي کې له ملا نه پورته لوڅ ګرځي. په هندوستان کې به دا عجیبه ونه برېښي، خو څنګه چې هغه د پښتنو له رسم و رواج نه مخالف دي، دا باید په خپله د دوی له خوا د تمدن د نشتوالي یو ثبوت وګڼل شي.

وړیل کېږي، چې کاکړان په ځینو برخو کې په سمڅو کې اوسي، خو هلته هم دوی د هغه قوم د داړه ماری له روحیې نه آزاد دي، چې دوی د خپل ملک په شډلتوب او زېږ توب کې له هغوی سره ورته دي. په ډېرو برخو کې پوونده، چې د هغوی شمېر د کروند ګرو تر شمېر ډېر دی، په وړو مېنو کې خواره دي. لکه څنګه چې په لویدیځ



Property of ACKU

کې دي، خو ویل کېږي چې دوی په ړوب کې په دغسې لویو مېنو کې سره غونډ شوي، چې د کېږدیو ښارونه ورته وایه شي. هلته ویل کېږي، چې دوی د خپلو پسونو په شمېر غوایي هم ساتي او که دا رښتیا وي، دوی به په افغانستان کې د ګرځنده مالدارو یوائیني بېلګه وي.

په ټولیز ډول د کاکړو د ملک زیاتره برخه غرنۍ ده او د کرنې لپاره وړ نه ده او اوسېدونکي یې دغسې پوونده دي، چې په کړو وړو کې شډل او د ژوندانه له فنونو څخه لرې دي، خو ساده، آرام، نه تېري کوونکي او بې آزاره دي.

* * *

Property of ACKU

# شپږم څپرکی

## ناصر

ټول هغه قومونه، چې دمخه بیان شول، ځانګړې بېلې سیمې لري او د هر یوه د سیمې د ټاکلي موقعیت له مخې د دوی په حالاتو رڼا واچول شوه، خو ناصر ځانګړې سیمه او ټاکلی ملکیت نه لري، نو ده حقیقت موږ ته ازادي راکوي، چې چېرته وغواړو، هلته پرې وغږېږو.

دوی له نورو قومونو څخه په زیاته اندازه په خپل ګرځنده ژوند کې توپیر لري، دلته به زه د هغوی په حالاتو رڼا واچوم.

ناصر په پسرلي کې د توخیو او هوتکو د ملکونو په وچو ګاګرو کې د درېو، څلورو یا پینځو کېږدیو په مېښو کې خواره وي، د کال په وروستۍ برخه کې د سلو یا دوو سوو کېږدیو په مېښو کې سره غونډېږي او خپلو رمو ته د وښو د لټولو لپاره لنډ مزلونه کوي او همدا چې منی مخ په پای ته رسېدو شي، سره جرګې کوي، کېږدۍ ټولوي او د دامان د اوارو او تودو میدانونو پر لور په خپلو اوږدو لېږدېدنو پیل کوي.

ناصر د دښمنو وزیرو له ملک نه په دوو جوپو کې تېرېږي او دا د خان او مشرانو په پرېکړې پورې اړه لري، چې کومه جوپه دمخه شي؟ د هرې جوپې د غونډېدو ځای په ګومل کې کونزور (Kunzoor) ټاکل شوی او ټولې جوپې په خراسان کې د اوړي له مېښو او بانډو څخه ددغه ځای په لور روانېږي. د خپل دغه اوږده مزل په پیل کې دوی له دغسې وچو ډاګونو څخه تېرېږي، چې له ځان پرته نور ملګري ورسره نه وي، خو همدا چې کونزور ته نږدې شي، ټولې لارې پرې ډکې شي او له بېلابېلو او لرېو ځایونو څخه د یوځای کېدو د محل پر لور ټولېږي. دلته ګډوډي ډېرېږي، دوه ډلې چې زیاتره وخت په جنګ وي، دلته په یوې تنګې درې کې سره یوځای شي او په دوی کې نوې لانجې له دې لامله راولاړې شي، چې هره ډله هڅه کوي د غرونو له



Property of ACKU

غابنونو څخه لومړی واوړي. په پای کې دوی ټول په کونړزور کې د کېږدیو او څارویو په یوې ډېرې ګډې وډې مجموعې کې سره غونډ شي.

دغه ټوله مجموعه تر ډېرشو زرو وګړیو اوړي، د رمو، ګلو، څارویو، اوښانو ا د دوی د ټولو شتمنیو شمېر او مقدار په واقع کې له حساب نه وتلی وي، ددغسې یوه ستر جمعیت درب، دروب او ګډوډۍ ښه په نظر کې نیول کېدای شي.

## له وزیرو سره جنګ

د ورځې له مخې دوی په ډلو سره د وښو او د سون د لرګیو په لټه یوه خوا بله خوا ځي. د شپې له خوا دغه ګوښه او غلې درې د ډېرو ګڼو خلکو په شور او ځوږ، د څارویو په رمبارو، د اوښانو په زیږو غړمبېدنو او خپله د ناصرو په نارو سورو او سندرو ډکې شي. څه وخت، چې ټول قوم سره غونډ شي، څلوېښتیان ټاکل کېږي او د دامان په لور خپل پرمختګ ته بیا دوام ورکوي.

وزیر په عین حال کې د یوه بې امانه جنګ لپاره په ټول احتیاط او پټون له دوی سره د مقابلې لپاره تیاری نیسي. د دوی خېلونه د غرونو په ژورو ګړنګونو کې غونډېږي او ممکن یو ځانګړی ځړی (جاسوس) د یوې برخې په څنډه کې څارنه کوي او ددغې ریجاړې سیمې په چوپتیا کې د رارسېدونکي جمعیت د زوږ اوږېدلو لپاره غوږ نیسي. په پای کې د ناصرو آواز یې تر غوږو شي او دغه درې د انسانانو او څارویو په غوغا سره ډکې شي، چې د ګومل د سیند پر تګلوري او غاړو کې راتوی شي. دغه خبر بیا وزیرو ته رسېږي او دوی په داسې تنګو لارو او په هغو درو ورښکته کېږي، چې یوازې دوی ته معلومې وي او په بې نظمه جمعیت وردانګي، یا په سنګرونو کې ځای نیسي، ترڅو بې لارې شوي ناصر ټوټه ټوټه کړي.

د وزیرو دغه تاکتیکونه د هغې بې پروایې یا څار له مخې غوره کېږي، چې دوی یې په ناصرو کې وینې. د خطر په دغې مودې کې چې یوه اونۍ یا لس ورځې دوام کوي، ناصر په غېر عادي ډول د تیارسۍ په حال کې وي.

د څلوېښتیانو واک ټولې دښمنۍ ځېي، د تګ ترتیب او د دفاع وسایل ټاکي، ټول قوم په یوې ډلې کې خوځېږي. د غوره شویو سړیو ډلې مخ، شا او دواړه اړخونه ساتي، په داسې حال کې چې نور ناصر پسونه او اوښان په مخ بیایي او ځان اماده کوي، چې هر هغه یرغل شاته وتمبوي، چې ممکن د دښمنو له خوا په دوی وشي. په واقع کې دوی دغسې تیاري ته اړتیا لري، ځکه چې د وزیرو د شوکې مېنه په اوږدې دښمنۍ سره شدیده شوې او دوی هیڅ ناصر ته چې د دوی په ګوتو ورشي، امان نه ورکوي. په پای کې دوی د زرکوني (Zirkunnee) غاښي ته رسېږي او بیا د اوارو میدانونو په لور مخه کوي او له بر اباسین څخه د مروت تر غونډیو پورې په ټول



Property of ACKU

دامان کې خواره کېږي.

هر خېل ځانګړې سیمه لري، چې په هغې کې د عادت له مخې اړوي او د هغې شاوخوا ته تر هغو ځایونو ځي، چې وښو ته یې اړه لري. دوی ګردې مېښې جوړوي او د هر ګرداړي په مېنځ کې د شپې له مخې خپل څاروي ساتي.

## د ژوند طرز

اوس نو د دوی ژوند، روزګار و روزګار له تنوع نه خالي وي، یواځې په ښکار سره چې دوی یې په ډېر شوق کوي، تاوده کېږي. دلته ښکار د دوی یواځینی په زړه پورې شغل دی. ټول کارونه ښځې کوي، دوی کېږدۍ دروي، لرګي ټولوي، اوبه راوړي او پخلی کوي، نارینه یواځې له اوښانو او پسونو سره وزګار ګرځي. ددغه کار لپاره یواځې یو څو کسه بس وي. شتمن خپل څاروي ددغه اوږده ځنډ په موده کې په کرایه ورکوي، خو کرایه والا یو غریب نارینه استخداموي، چې له څارویو سره ملګرتوب وکړي او هغه ته د کرایې درېمه برخه د اجورې په ډول ورکول کېږي.

د ښځو مخ هېڅ پټ نه وي، خو هغه سوچه توب او حیا چې د شډلو قومونو ځانګړنه ده، په دوی کې ښه عامه ده.

څه وخت چې واوره د سلیمان په تخت ویلې شي، د ناصرو د مېنو مشران د ټول قوم خان ته پیغام استوي، چې د جرګې لپاره وخت وټاکي. په همغې ټاکلې ورځ دوی ټول د هغه په مېنه کې غونډېږي، خپله تګلاره او وخت ټاکي، څلوېښتیان غوره کوي او تر هغه وروسته زر خپلې مېنې ټولوي او خراسان ته په بېرته تګ پیل کوي.

ناصر، لکه څنګه چې ولیدل شو، په خپلو څارویو او پسونو پوره اتکا لري. د پسونو وړۍ د دوی د کېږدیو، ټغرونو او غونډیو د جوړولو لپاره، چې په هغو کې اوړه اچوي، مواد برابروي. د دوی پوستینونه او ځینې نور مواد د پسونو له پوټکو څخه جوړېږي. د مېږ له شودو نه یې پنیر، غوړي او کورت جوړېږي، چې د دوی معمولي خواړه دي او د هغو غوښه د دوی یواځیني لوکس خواړه دي.

د دوی د پسونو محصولات او د اوښانو اومه پوټکي هم دوی ته هغه وسایل په ګوتو ورکوي، چې هغه یو څو شیان ترې تهیه کړي، چې دوی بهر ورته اړتیا لري. د دوی د کېږدیو او نورو مالونو انتقال، چې د ګرځنده خلکو لپاره بنسټیز اهمیت لري، د اوښانو په ذریعه کېږي. د درې اوښان او پسونه یې په شمېر کې زښت ډېر وي او د دوی د اقتصاد هرې برخې ته له ګرځنده ژوند سره سمون ورکړ شوی، چې ددغسې شمېر د څارویو د خوړو د برابرولو لپاره لازم وي. کېږدۍ یې وړې او سپکې دي، د دوی ټول شته او مال یو یا دوه جوړه جامې، د وریو څو غونډې، څو دانې



Property of ACKU

ختیین او یو یا دوه مسین لوښي وي.

د دوی جامې د ختیځ او لویدیځ د جامو ترمینځ دي، خو داسې ښکاري چې د دوی سپین لوی لنګوټي دوی لومړني ته ډېر ورته کوي، په قوارو او څېرو کې تور او بدرنګه او په ونه واړه دي. په کړو وړو کې زیړه او شډل او ښځې یې په ټولیز ډول خیرني دي، خو ښه ربشتیني او بې ضرره خلک دي.

## ازاد حکومت

ناصر دولس زره کوره اټکل شوي او حکومت یې د خپلواکو قومونو حکومت ته ورته دی. دغه حقیقت په لومړي سر کې په داسې پوره کوچیو خلکو کې د تعجب وړ ښکاري، خو ددوی خاص حال ممکن د هغه لامل څرګند کړي. د استبدادي حکومت په جوړښت کې د کوچیانیو عاداتو اغېزه ډېره دمخه د بشري ټولنې د تاریخ د لیکوالو له خوا تر بحث لاندې نیول شوې او د دوی په نظر نړدې د ساګانو د پخوانیو او تاتاري اوسنیو قومونو په مثال سره تقویه شوي، خو داسې ښکاري چې دغه مشاهده او د دوی د لیکوالو استدلالونه، چې د هغو ملاتړ کوي، د هغو ملکونو له عمل څخه پیدا شوي، چې پوره پوونده دي او یو څو له مینځه تللي او خپلواک ملتونه پکې اوسېدلي دي او هلته په عین وخت کې د بېلابېلو قومونو دڅارویو ډېروالی هر یو دې ته اړ کوي، چې خپل بریدونه پراخ کړي. دا کار په جنګونو اوړي او په هغو کې دغه اجباري قوې دي، چې هر قوم په ګډه وخوځېږي او چېرته په ګډه واړوي او په ضمن کې یوه ګډ مشر ته په تسلیمېدو سره د خپلو ټولو خپلونو ګډه مرسته جلب کړي. دغه موجبات په دغسې یوه قوم کې نه وي، چې په یوه قلمرو کې ژوند کوي او اوسېدونکي یې په زیاته اندازه کروندګر وي او خپلې رمې په دغسې وچو ځمکو کې پیایي، چې د کرنې وړ ځمکو څخه یو څه لرې پرتې وي.

ممکن د همدغه دلیل له مخې وي، چې ناصر هغسې ازادي لري لکه نور بښتانه چې یې لري. ټینګ حکومت او د ملت رسوم د دوی هوساینه خوندي ساتي. په دې توګه هغه وخت، چې دوی ساکن وي، په یوې پراخې سیمې کې هر فرد په خپله خوښه خپلواک وي او د حکومت له بندیز نه پوره په آزاد ډول ژوند کوي، په داسې حال کې چې د یوې څلوېښتي موقتي انتخابېدل د دوی د مزلونو او مارشونو د نظم او ساتنې لپاره پوره وي.

ماته داسې ښکاري، چې د ناصرو مشر ددغې ګټې د حقیقت ثبوت موږ ته په لاس راکوي. هغه وخت، چې خلک په مېنو کې سره ټولېږي، بې له دې چې لوی خان ته مراجعه وشي، د دوی مشران دوی اداره کوي او هغه وخت، چې دوی په سیمو کې خواره وي، دوی حکومت ته هېڅ اړتیا نه لري، خو څه وخت چې د مارش په فکر شي،



Property of ACKU

دوی سمدلاسه خپل خان ته خبر ورکوي او چیرته، چې د دښمن له سیمې څخه تېرېږي، دی د څلوېښتیانو د مشر په توګه ټاکل کېږي. دی بیا مطلق اختیار خپل کوي او د ټول قوم لپاره د درناوي او یا اندېښنې لامل کېږي.

د مارش په وخت کې د خان د اهمیت یو ثبوت په یوه وخت کې د ناصرو په کړو وړو سره وښودل شو، چې جرس خان، د دوی اوسنی مشر له دې نه ډډه وکړه، چې له دوی سره په یوه مارش کې ملګری شي. ده غوښتل له خپلو دوو سوو_درې سوو خپلوانو سره په دامان کې پاتې شي، چې د وزیرو په ضد له سرور خان سره مرسته وکړي، خو دده پرېکړې په قوم کې ژوره اندېښنه پیدا کړه او قوم څرګنده کړه، چې بې له خان څخه د دوی مارش ممکن نه دی. د دوی غوښتنې دومره جدي وې، چې په پای کې جرس خان مجبور شو له خپل پخواني هوډ څخه تېر شي او له دوی سره د خراسان په مارش کې ملګرتوب وکړي.

خان او ټول مشران د سر له کورنیو څخه انتخابېږي او که دوی د خپلو عهدو لپاره لایق ثابت نه شول، معزولېږي. ملک (یا مشر) ټولې دعوې آواروي او د مېنې متجاوز د جرګې له فیصلې پرته پخپله شړلی شي. په همدې ډول دی د کمپ د خوځېدلو او د مېنې کولو د ځای په اړه مطلق اختیارات لري، خو د څلورو یا پنځو کسو یوه ډله ممکن ده ته ورشي او ددغې موضوع په اړه ده ته مشوره ورکړي او که دی په خپلې فیصلې ټینګ ولاړ وي، دوی مجبور دي په هغې ودرېږي.

ناصر حکومت ته یوازې یو ډول مالیه ورکوي او اوس دغه مالیه عبدالرحیم خان ته ځانګړې شوې ده. داسې ښکاري، چې دغه حال هغه ادعا تاییدوي، چې دوی یې زیاتره وخت له هوتکو سره د نسبت د رابطې لرلو لپاره وړاندې کوي. هوتکیان وایي، چې ناصر د دوی همسایه وو، نه له دوی سره په قومیت کې شریکان. ځینې لا بیا وایي، چې دوی له بلوڅو څخه راوتلي دي او که څه هم دوی په پښتو ګړېږي او په کلکه ادعا کوي، چې د پښتنو له نسب څخه دي، له څېرو نه یې داسې برېښي، چې دوی ممکن له کوم بل توکم څخه وي.

* * *

Property of ACKU

# څلورم کتاب

## لومړۍ څپرکی

# ولایتونه

### بلخ او اوزبک

د افغانستان ټوله شرحه مې وړاندې کړه. اوس غواړم د کابل د سلطنت ایالتونه او توابه شرح کړم. په دغه بیان کې به زه د هغه ترتیب رعایت وکړم، چې دوی یې په جغرافیوي توگه سره لري. دغه جغرافیوي اړیکې له هغو اوښتونکیو اړیکیو څخه ډېر ټینگ او په زړه پورې دي، چې دوی یې له درانیي حکومت سره لري. ددغه اصل له مخې به زه لومړی له شمال څخه پیل وکړم او د بلخ له بیان وروسته به له ایماقانو او هزاره گانو څخه هرات ته په مخ ولاړ شم، بیا به له سیستان او بلوچستان څخه تر سند پورې د سهېل ختیځ په لور لاړ شم او د شمال په لور به بېرته وگرځم، ترڅو کشمیر او هغو ملکونو ته ورسېږم، چې دغه نومیالی دره د برو درانیو له قومونو سره نښلوي.

ما دمخه په ترکستان کې د پښتنو د ایالت د نوملو شکل ته اشاره کړې وه. په همدې ډول دا اسانه، نه ده چې د هغه ملک پراختیا معلومه کړای شي، چې باید ددغو حدودو په دننه کې اوسي. په حاضر وخت کې په ترکستان کې د بلخ شاوخوا سیمه د پښتنو په واقعي قبضه کې ده او هر هغه څوک چې دغه ښار په خپلې قبضې کې لري، د هغه د توابه قانوني څښتن هم گڼل کېږي، چې شمال ته یې آمو، جنوب ته یې د هندوکش او پاراپامېزوس غرونه او ختیځ ته یې بدخشان او لویدیځ ته یې په ټولیز ډول مېره پرته ده. ددغه ملک ساحه له ختیځ څخه لویدیځ ته په اوږدو کې نږدې دوه نیم سوه میله او سور یې له شمال نه جنوب ته ممکن یو سل او شل میله



Property of ACKU

وي.

ددغه ملک جنوبي برخه پوره غرنۍ او له هندوکش سره تړلې ده. په ټولیز ډول دا کلک ډېرین غرونه دي، خو ډېرې ښې اوبه لرونکې درې هم پکې شته. د غرونو دغه نږدېوالی ددغه ملک د منځنۍ برخې لپاره اوبه برابروي، چې هغه ښه اواره او سمسوره ده. د آمو په لور شمال شګلن او سپېره دی، ددغه ایالت ختیځ چې نږدې یو غرنی ملک دی، تر لویدیځ نه چې د دښتې په لور غځېږي او د هغه په څېر طبیعت لري، ښه دی.

## بلــخ

ددغو غرونو له لویو ښاخونو څخه ښکته کېدل په ډېره ګړندۍ توګه کېږي او د آمو په لور د بلخ ښکتنۍ برخې د افغانستان تر هغو برخو څخه چې دغو غرونو ته نږدې په جنوب کې پرتې دي، ډېر ښکته او ډېرې تودې دي. بلخ ولایت د ډېرو ښو او ګړندیو اسونو له امله ډېر ښه نوم لري او دغه اسونه په زیات شمېر صادرېږي.

دغه ټول ولایت د بېلابېلو لاملونو له امله په څو ورو ناحیو وېشل شوی، ځینې یې که څه هم اوس سره یو شوي دي، خو پخوا د بېلابېلو حکومتونو تر اداري لاندې وې او نورې یې چې پخوا سره یو وې، په دې نږدې وختونو کې سره بېلې شوي دي.

اوسنی وېش یې په دې ډول دی:

میمنه، اندخوی، شبرغان، خاص بلخ (یانې ښار ته نږدې شاوخوا سیمې)، خلم، حضرت امام، کندوز، خوست، اندراب او تالقان.

لومړنۍ درې ناحیې یې ورې دي او د زیات اهمیت وړ نه دي، که څه هم دغه ناحیې د میرې په لمن کې پرتې دي او ممکن پوره اوبه ونه لري، خاوره یې ښه ده او ممکن کرنه پکې وشي، خو په حاضر وخت کې هلته په ټولیز ډول د اوزبکو او ترکمنو ګرځنده شپانه اوسېږي.

پخپله بلخ یو څه شرح غواړي، دغه ښار چې نوم یې دغې ناحیې ته منسوب شوی، خورا ډېر لرغونی دی. د لوی سکندر یونانیانو د باتریا په نامه پېژندلی. خو هغه تر هغې دمخه څنګه چې د کیخسرو (ویل کېږي. چې دی هغه لوی دارېوش دی) پاچایي استوګنځی ټاکل شوی و، د پارس مرکز و. د اسیا خلک ټول داسې نظر لري، چې بلخ د نړۍ تر ټولو لرغونی ښار دی او له دې لامله هغه د ښارونو مور یا ام البلاد بولي، خو دغه لرغونی ستر ښار اوس له اهمیت نه لوېدلی دی، کنډوالو یې تراوسه هم ډېر ځای نیولی او شاوخوا یې یو دېوال لیدل کېږي، چې یوازې په یوه ګوټ کې یې استوګنه کېږي. په یوې برخې کې یې بالاحصار پروت دی، دلته د درانیو والي، یو څه حکومتي عساکر او څو هندوان اوسي.

Property of ACKU

د بلخ شاوخوا ملک اوار او سمسور دی او ښې اوبه لري. ويل کېږي، چې کلي يې په شمېر درې سوه او شپېته دي او په اتلسو نهرو سره، چې د بند امير له مشهور ډنډ څخه د پاراپامېزاد له غرونو نه راوځي، خړوبېږي. ددغو نهرونو په اړه زه په ځانګړې توګه څه نه شم ويلای، خو بايد هغه ښه لوی اوسي او ډېره کرنه پرې وشي، ځکه چې يو له دغو نهرونو څخه چې د حکومت له خوا د ايليچ قلي خان زوی ته ورکړ شوی دی، دومره لوی دی چې د کال او يا زره روپۍ ماليه ترې برابرېږي او دغه روپۍ نږدې تر (۹) زره پونډو سترلېنګ رسېږي. ددغې سيمې لويديځه برخه د درو په ګڼو او ګورو ځنګلونو پټه شوې، چې که څه هم لاروي ځوروي، خو له ابادې خاورې او اوبه ور ملک څخه حکايت کوي، هغه څه چې ما ويلي بايد ددغه ملک د شمالي برخې په اړه له بلخ نه لاندې پلې نه شي، ځکه چې هغه آن تر آمو پورې شګلن او سپېره دی.

خلم، چې د بلخ سهېل ته پروت دی، لا هم غرنی او وچ سپېره دی، خو د هغه مرکز تاشقرغان ښه اهميت لري او نږدې اته زره کوره پکې اوسي. د حضرت امام سيمه، چې اوس په خلم پورې تړلې ده، يو خوار غريب او شګلن ملک دی. کندوز په ټوليز ډول اوار دی، که څه هم جنوبي برخه يې ورو غرونو نيولې، چې له هندوکش څخه غځېدلې او داسې ډېرې ښکلې او آبادې درې لري، چې هر ډول مېوې پکې پيدا کېږي. د کندوز اواره برخه هم ښه سمسوره ده او له هندوکش څخه د پيدا شويو بې شمېرو ويالو په واسطه خړوبېږي. د ښار شاوخوا ملک د يوه بڼ په څېر په خاص ډول کرل کېږي او ډېر خلک ورته ورځي. دغه مرکز يو ښکلی ښارګوټی دی او له تاشقرغان نه د ساحې په اندول ارت دی.

خوست، فرنګ او اندراب واړه او غرني، خو سمرو ملکونه او د هندوکش شمالي خوا ته پراته دي، اوسېدونکي يې تاجک دي او اوس په کندوز پورې تړلي دي.

تالقان د بلخ شمال ختيځ په لو يو غرنی او وړ ملک دی، چې تر بدخشان پورې غځېدلی دی، خو ښه آباد دی او زيات اوسېدونکي لري.

## اوزبکان

د بلخ حاکم قوم او په حقيقت کې د هغه د اوسېدونکيو ستره برخه اوزبکان دي، نو زه غواړم په دغه ټول قوم باندې رڼا واچوم، بې له دې چې دغه بيان يوازې د هغه مملکت د اوسېدونکيو په اړه وي، چې تر بحث لاندې دی. د هغو ځايي ځرنګوالی به وروسته ذکر شي.

اوزبکان لومړی له سير دريا (Jaxaites) څخه د شپاړسمې پېړۍ په سر کې تېر شول او په داسې حال کې، چې د امير تيمور د اولادې په متصرفاتو يې ودانګل، هغوی يې له بخارا، خوارزم او فرغانې څخه وشړل او د خپلې پراخې کړې امپراتورۍ،



Property of ACKU

په ډېرو لرو برخو کې یې هیبت او وېره خوره کړه. دوی اوس سرېېره پر بلخ د خوارزم (یا اورګنج)، بخارا او فرغانې سیمې په خپل لاس کې لري. ممکن د بیلوت تاغ (Beloot Taugh) نه دغې خوا ځینې نورې وړې سیمې هم د دوی په اختیار کې وي، ماته ویل شوي چې دوی د بیلوت تاغ نه هغه خوا په ختیځ کې لې تر لږه آن تر ختن پورې هم موندل کېږي، خو زه پخپله په دې اړه په پوره ډاډ څه ویلای نه شم. دوی د انساني وېش په هغې سترې څانګې پورې اړه لري، چې په آسیا کې د ترک په نامه یادېږي او مغول او منشوران (Manshoors) یې هغه څه بولي، چې موږ ورته تارتار (Tartar) وایو.

هر وېش یې ځان ته بېله ژبه لري او د ترکانو ژبه په ټولې لویدیځې آسیا کې ښه خوره شوې ده. اوزبکان او د چین تارتاري اوسېدونکي لږ تر لږه آن تر ختن او ممکن تر قراقرم پورې قزاقان[1] او له سیر دریا نه هغه خوا نور قومونه، د قبچق او کریمیا زیاتره اوسېدونکي، ترکمنان او د پارس او عثماني ترکیې حاکمې کورنۍ په خپلې مورنۍ ژبه یانې په ترکي ګړېږي. ددغې ژبې خورې وړې کلمې په ټولې سیمې کې او زیات اصطلاحات یې د کابل او هندوستان په ژبو کې موندل کېږي. ویل کېږي، چې دغه ژبه په ډېر خالص ډول په فرغانې کې معموله وه. د ترکیې ژبه د بهرنیو اصطلاحاتو او کلماتو په ګډېدو سره پوره مخلوط شوې ده، د پارس ترکي ژبه هم د ترکمني فاتحانو ترمنځه ددغه ملک د اصلي ژبې په پراخ استعمال سره متاثره شوې او آن داسې ګڼل کېږي، چې د بخارا اوزبکانو هم د سوچه توب په قیمت سره خپله ژبه غني کړې او په مخ یې بیولې ده.

د پښتنو او اوزبکو د حکومتونو طرز له یو بل نه پوره توپیر لري. په بخارا او فرغانې کې لږ تر لږه هرڅه د واکمن په لاس کې دي. په دغو ملکونو کې د ولسي حکومت نښې نښانې هیڅ نه لیدل کېږي. په همدې ډول د ارستو کراسۍ اثار هم لږ پکې لیدل کېږي. ددغو ملکونو اوزبکان هر چېرې په قومونو یا اوروغو (Ooroooghs) وېشل شوي، خو دغه وېش له حکومت سره هیڅ اړیکې نه لري آن په ګرځندو شپنو باندې یې هم قضایي صلاحیتونه، نشته، نه مومي او نه د هغه د مشرانو جرګې څه واک لري. لکه څنګه چې په پښتنو کې شته، چې په هغو سره خپلې چارې فیصله او لانجې اوارې کړي.

دغه ملک په ناحیو وېشل شوی او په هرې ناحیه کې حکومتي ماموران حکومت

---

[1] دغه قزاقان، چې د ترکانو یو قوم دی باید د ډون (Don) او د تور بحیرې له کزاکانو (Cossacks) سره یو ونه ګڼل شي، چې ښکاري د مصنوعي ټولنو له ډلې څخه وي او له ګاونډیو ملتونو څخه جوړ شوي وي. اوزبکان دوی ته روسي کزاکان وایي.



Property of ACKU

کوي، دغه ناحیې بیا په نورو وړو ناحیو وېشل شوي او واړه ماموران د هغو مالیه ټولوي او قضایي چارې یې ترسره کوي. کلیوال حکومتونه لکه څنګه چې په ټول ختیځ کې موندل کېږي، ددغو ماموراتو تر لاس لاندې دي او دلته د اقسقال یا د کلي د مشر په ټاکنه کې د اصل او نسب او عامه نفوذ ځینې نښانې په نظر کې نیول کېږي. دغه ټاکلی مامور د کلي د ډېرو شتمنو خلکو په سپارښتنه د پاچا له خوا نومول کېږي او د دوی په انتخاب کې که څه هم شتمني او د کاندیدانو لیاقت اثر لري، بیا هم دوی دغه ماموریت ته د یوې اوږدې مودې لپاره په یوې کورنۍ کې دوام ورکوي. سره له دې هم د افسقال اختیار دومره ډېر نه دی، په حقیقت کې دی له دې نه چې د یوه مامور په حیث د پاچا له خوا استخدام شوی وي. زیاتره دغسې یو عامل ګڼل کېږي، چې د کلیوالو له خوا ټاکل شوی وي.

ددغو ملکي ماموراتو او نظامي افسرانو له سلسلې پرته نور هغه یوائیني کسان، چې په ولسي خلکو کې د اهمیت وړ دي، بایان نومېږي. د دوی اختیار یوائې او یوائې د دوی له شتو څخه پیدا کېږي. په همدې ډول په پوځ کې هرڅه د حکومت په انتصاب پورې اړه لري. دلته منګباشیان او یوزباشیان او چوره غاسیان وي، چې په ترتیب سره د زرو، سلو او لسو کسو قوماندانان دي، نو له دې نه داسې ښکاري، چې د پوځ وېش اختیاري او د هغه اصل له مخې نه دی، چې د هر قوم او خېل ټاکلې ونډه نظامي ټولي د هغه د موروثي مشر تر حکم لاندې وي.

ویل کېږي، چې په بخارا کې په واقع کې نظامي افراد په هرې لس کسیزې ډلې کې تنظیمېږي او دغسې هره ډله په خپلو کې یوه کېږي، د اوېو ایشولو یو لوښی او یو اوښ لري. داسې ښکاري، چې په دغه ترتیب کې کورنۍ اړیکې او فردي ازادي هېڅ په نظر کې نه نیول کېږي. یوائې علما هغسې نفوذ لري، چې منشا یې له حکومت څخه نه ده، خو دوی ډېر واک لري.

اوزبکانو د اسلام د منلو په وخت کې ممکن یوائې یو څو قوانین یا مرسسې لرلې، ځکه چې دوی د اسلامي شریعت مقررات په ټول تفصیل سره غوره کړي او هغه د خپل ملکي حکومت او آن د خپلو شخصي کړو په هر اړخ باندې تطبیقوي. په دوی کې مالیه کټ مټ په هغه ډول ټولېږي، چې په قرآن شریف کې راغلي او عشر یې د خیرات په ډول ورکول کېږي.

قضایي چارې هم د قاضي له خوا کټ مټ د شریعت له مخې فیصله کېږي او د شرابو څښل او آن د تمباکو استعمال بالکل منع دی او متخلفینو ته یې د لوټمارانو یا داړه مارو په څېر سخته جزا ورکول کېږي.

د بخارا د پاچا لقب امیر المومنین دی. دی پخپله د ورځې یوه برخه د اسلامي



Property of ACKU

دین په تدریس او د هرې شپې زیاتره برخه په عبادت او ویښه تېروي. په همدې ډول دی په خپل مسجد کې د امام په توګه لمونځ ورکوي او آن د عامو خلکو لپاره زیاتره وخت د مړینې د فاتحې مراسم ترسره کوي. قلیچ علي بیګ (د بخارا اوسنی پاچا) تل په سرکونو باندې پلی ګرځي او په دې سپور نه ګرځي، چې ممکن پښې یې د نورو ربښتینو مومنانو تر سرونو لوړې شي.

هغه لوی توپیر، چې د اوزبکو او پښتنو د حکومتونو ترمنځ لیدل کېږي، د سوچ او تفکر لپاره یوه ښه موضوع ده. په دې اړه زما خپل معلومات دومره نیمګړي دي، چې آن که زه ددغې دندې د ترسره کولو لپاره لیاقت هم ولرم. ما ته ددې اجازه نه راکوي، چې لاملونه یې شرح کړم. سره له دې هم دغومره باید ووېل شي، چې هغه لاملونه چې دمخه ورته اشاره شوې او د هغو له مخې د ټولو تارتارو قومونو مشرانو ته ډېر واک ورپه برخه شوی، باید هرومرو په عمل کې ښه موثر وي، چې عامه اوزبکان یې ښه مطیع او آرام ګرځولي دي او یوائیني ستونزه دا ده، چې معلومه شي د دوی اطاعت له دغو مشرانو څخه په څه ډول عمومي حکومتونو ته ولېږدېد.

د بخارا په اړه مونږ پوهېږو، چې دا د حکومت له خوا ددغسې یوه اوږده زیار نتیجه ده، چې ویل کېږي له ډېرې پخوا زمانې څخه یې تر خپل واک لاندې د بېلابېلو قومونو د ګډولو او وېشلو سیاست عملي کړی او د هغوی مشران یې له هغسې منصبونو څخه لرې ساتلي، چې ممکن په هغو خلکو کې چې دوی ورسره د وینې اړیکې لري، د دوی نفوذ خپور کړي. شایي دغسې یو سیاست د هغو نورو اوزبکي حکومتونو له خوا هم عملي شوی وي او د وسیلې په توګه د هغو د عملي کولو لپاره یو څو پاڅونونه هم شوي وي.

اوزبکان اوسنیو سیمو ته د فاتحانو په توګه راغلل او هغه واک چې د دوی مشر یې لري، په داسې حال کې چې دوی په پوځ کې خدمت کاوه، تر هغو دوام وکړ چې دوی بیا د یوه ټاکلي ملت حیثیت غوره کړ. احتمال لري، چې دده واک د ملایانو له خوا پیاوړی شوی وي. ملایان په ټولیز ډول د مدني او ملکي حکومت ملاتړ کوي او په دغه اړه به د دوی مرسته تر معمول نه زیاه موثره وي[1].

په پای کې دا هم باید ووېل شي، چې د اوزبکانو سیمه په ټولیز ډول ښه اواره ده او په نتیجه کې د وړو ټولنو د خپلواکۍ د ساتلو لپاره دومره برابره نه ده. د عمومي حکومت په ټینګولو کې ددغه وروستي ټکي تاثیر ډېر دی او دا د هغو اوزبکانو له

[1] له ملکي حکومت سره دغه اتحاد ددې لامل هم کېدای شي، چې د ملایانو قدرت ډېر شي. ممکن د همدغسې کوم اتحاد نتیجه وي، چې د قسطنطنیې علماو هغه لوی قدرت ترلاسه کړ، چې دوی یې اوس لري.



Property of ACKU

حال څخه پوره څرګند یږي، چې دوی په پیاوړو سیمو کې اوسي. د حصار غزني ملک د شهر سبز جبه ناک ملک، چې دواړو ته د بخارا د پاچا آسونه په برابره توګه ورتللی نه شي، د هغه له قدرت سره منګولې لګوي او د خپلو قومي مشرانو تر واک لاندې پاتې دي، خو په دغو ټولو ملکونو کې عامه وګړي په برابر ډول ایل کړای شوي او د ترکي توکم په ټولو خلکو کې یوازې د آمو د غاړو ترکمان ولسي حکومت لري.

د بلخ اوزبکان، چې په نورو ټولو برخو کې د آمو د هغې غاړې له اوزبکانو سره ورته دي، یوازې په دغه خاص ټکي کې له هغو نه توپیر لري، چې دوی په دغسې قومونو کې سره ټول شوي، چې د قومي مشرانو تر لاس لاندې ژوند کوي. دغه ځانګړتیا ممکن د هغه حقیقت نتیجه وي، چې دوی د کابل له سلطنت څخه، چې دوی ورپورې اړه لري، په غرونو سره بېل شوي او د بخارا د رقیب دولت په سرحد کې پراته دي.

دغه دواړه ټکي ددې خبرې ګرځېدلي، چې د دوی پاچا د دوی د محلي مشرانو په حقوقو تیري وکړي، خو عامه وګړي یې لکه نورو سیمو ښه مطیع دي.

اوزبکان په ټولیز ډول ټیټ او قوي خلک دي، د دوی پراخ وچولی، لوړ غمبوري، نری ږیرې او ورې سترګې د دوی ټولیزې ځانګړتیاوې دي، مخونه یې سوچه او سورېخن او ویښتان یې په ټولیز ډول تور دي. د ترکانو ښکلا د فارسي شاعرانو یوه تلپاتې موضوع ده او که څه هم د دوی دغه صفت د دوی په خپل ځیرې کې موږ ته ښه څرګند نه ښکاري، خو دوی څه وخت چې د ځینو نورو تارتارو له بې خونده څېرو سره پرتله شي. ښه ښکلي برېښي. هغه نور تارتاران پورته پلو ته کږې سترګې او تورېخن مخونه لري او دغه قواره دوی ته ایله بیله چې د انسان شکل وربخښي.

د دوی جامه د سپېنسینو ټوکرانو له کمیس او پرتوګ او له وریښمو یا وړینو چپنو څخه، چې په یوه ملاوستني سره تړلې وي، جوړ وي. د هغه له پاسه د وړیو کوځې اغوندي، ځینې یې په ژمي کې سپېنسینه خولۍ، چې په غاړه کې یې پټ لرونکي پوټکي کارول شوي، په سروي او دغه ټوپۍ په سر ښه ټینګوي. نور یې یوازې د کلپاک په نامه وریښمینه څوکه لرونکې خولۍ په سر کوي، خو د دوی د سر کالي یو سپین لنګوټی دی، چې په ټولیز ډول یې د کلپاک له پاسه تړي. ټول تارتاران په ټولو وختونو کې موزې په پښو کوي. ښوزلي یې هغه ډول موزې په پښو کوي، چې په کابل کې رواج لري، خو هغه نور یې چې په ښو شراېطو کې ژوند کوي، تل ماسې په پښو کوي او موزې یوازې په ژمي کې کاروي یا یې په هغه وخت کې په پښو کوي، چې اوږده مزلونه یې په مخ کې وي. ماسې له سپکې او نری

Property of ACKU

ځرمنې څخه جوړېږي، تلې او پوندې نه لري او په پښو کوونکي يې مجبور دي، چې د باندې تللو په وخت کې نورې پای پوښې هم په پښو کړي. ټول اوزبکان خپل لنگی په يو راز اوږدو پټارو تړي او له هغو نه د جرابو کار اخلي او هر سړی يوه چړوکې لري، چې له ملاوستني نه يې ځړېږي. په همدې ډول هر سړی د اور لگولو لپاره پنډ او بکر له ځان سره گرځوي.

اوزبکان سباناري په چايو او ډوډۍ کوي، خو د دوی ډوډۍ د هغې په خلاف، چې په اسيا کې معموله ده، وچه وي او د دوو اونيو لپاره يې ساتي. د دوی چای د چای د پانو په ځوښولو سره تيارېږي، له چای سره پی او کوچ او زياتره وخت د لم وازده يوځای کړي، يوائې شتمن بوره کاروي.

د دوی لوی ناري د شپې وي او هغه د پښتنو د ناري په څېر له پلاو، غوښې او قورمې نه جوړوي. شتمن يې البته ښې ډول، ډول قورمې لري. اوزبکان د غوښې په خوړلو کې مشهور دي، خو څنگه چې د اس غوښه ډېره گرانه ده، دوی په ټوليز ډول مجبور دي، د غوړيې غوښه وخوري.

شتمن اوزبکان البته کال دولس مياشتې د اسونو غوښه خوري او دوی اسونه ددغه مقصد لپاره ښه چاغ ساتي او غريبان يې هم په ټوليز ډول په ژمي کې همدغسې خواړه لري.

د اوزبکانو ملي څښاک کميز (Kimmiz) نومېږي. کميز يو راز نشه راوړونکی څښاک دی، چې د اسپې له پيو څخه جوړېږي. پی لومړی له ماسپښين نه وروسته په غړکي کې اچول کېږي، لکه څنگه چې په هندوستان کې د اوږو ساتلو لپاره استعمالېږي او د راتلونکې ورځ د سپيده داغ له پيل نه دري ـ درې گړۍ وروسته پرېښودل کېږي او بيا تر سهاره پورې شارېل کېږي، خو څومره چې ځنډ پرې تېرېږي، هغومره ښهٔ وي. دغه نشه راوړونکی څښاک چې په دغه ډول جوړېږي، سپين بخن رنگ او تريو خوند لري، يوائې د دوبي په وروستيو دوو مياشتو کې په ډېر مقدار موندل کېږي او هغه څوک، چې د هغو د جوړولو توان لري، ددغې مودې په زياته برخه کې يې څښلی شي، خو دغه څښاک نه پلورل کېږي او يوائې هغه څوک يې لرلی شي، چې د پوره شمېر اسپو خاوندان وي او په خپلو کورونو کې يې جوړوي. يو بل نشه راوړونکی څښاک، چې بوزک (Bozek) نومېږي، تر هغه بل څښاک نه ډېر ارزان، خو تر هغه نه زيات ممنوع دی. دغه څښاک، چې د ډول، ډول دانو په تېره د ربدنو د دانو له تخم سره جوړېږي، په شکل کې اوماچک ته ورته او په مزه کې ډېر تريو دی. دغه څښاک په عربستان او هندوستان کې هم موندل کېږي. ددغو نشه راوړونکيو څښاکونو په استعمال سره سره اوزبکان په ټوليز ډول درانه



Property of ACKU

خلک دي. یوه برخه اوزبکان په کوروڼو او بله یې په کېږدیو کې اوسي. د دوی کوروڼه، کلي او ښارونه کټ مټ د پښتنو د کوروڼو، کلیو او ښارونو په څېر دي، خو کېږدۍ یې ترېنه ډېر توپیر لري. د اوزبکانو کېږدۍ خرگاه نومېږي، چې د تارتاریانو په ټول ملک، د فارسیانو په یوې برخې او آن د چین په یوې برخې کې هم استعمالېږي. خرگاه گرده او د نریو ښویو دړو له دغسې چوکاټ څخه جوړه وي، چې په خړو یا تورو نیمڅیو سره پوښل شوې وي، چت یې په څلورو ټینگو دړو د گنبدې په شکل ولاړ وي، چې په منځنۍ برخه کې په یوه گرد لرگي سره ټینگ شوی وي.

خرگاه د پښتنو تر کېږدۍ د تودوخې او سړ پټونې له حیثه ډېره ښه ده او په نقلولو کې هم تر کېږدۍ ډېره مشکله نه ده. دوی یې په ټولیز ډول د کراو (Carraoo) یا تورې خونې په نامه یادوي. یوه مېنه چې له شلو څخه تر پنځوسو خرگاه و نه جوړه وي، د (Ouool) په نامه بولي. د بخارا د خلکو زیاته برخه په خرگاوو کې اوسي او څړ ځایونو ته درومي، چې د خپل ملک د بې شمېره مېږو له لامله هغوی ته په تنگ سره مجبورېږي.

فرغانه چې تر بخارا شتمن ملک دی او د گاونډیو غرونو څخه اوبه ورته رسېږي، یوازې څو گرځنده قومونه لري. په خوارزم او د بخارا او کسپین بحیرې ترمېنځ ملکونو کې د گرځنده قومونو شمېر ډېر دی. خو په بلخ ولایت کې درې د مېشتو خلکو په اندول ډېر لږ دی. دوی پسونه، اوښان او آسونه روزي. په دوی کې آسونه دومره ډېر دي، چې په ترکستان کې یوازې کوم کس به پلی وگرځي آن سوالگر هم په آسانو یا لږ تر لږه په اوښانو او خرو سواره گرځي.

لکه څنگه، چې په دغسې خلکو کې یې هیله کېږي، اوزبکان د گرندیو سورو گڼ ټولي جوړوي او د تاړاک او چپاول په جنگ کې د خپل زور او قوت په کارولو سره نوم لري. د دوی وسلې یوه اوږده کلکه سانگه او ډال دی، یو څو تنه یې توري او ډېر یې چړې گرځوي. په جگړو کې په پوره زور چغې وهي او دغه چغې هغه پښتانه ډېرې لوړې او هیبتناکې بولي، چې ورسره جنگېدلي دي. اوزبکان خپلې لښکرې په درېیو برخو وېشي، چې وکولای شي دوه ځله غونډ شي، خو درېیمه پورې وهنه یې ماتې وي. دوی ښه زړور عسکر دي او د لوږې، تندې او ستوماتي په مقابل کې په حېرتناک ډول مقاومت کوي.

دا چې په ټولیز ډول وېل کېږي، دوی بې رحم او نامتمدن دي، سمه نه ده. دغه نظر ممکن یو څه له دې څخه پیدا شوی وي، چې موږ دوی د کالموک او د تارتارو له هغو نورو شډلو او زیږو قومونو سره، چې د دوی او روسیې ترمېنځ پروت دي، یو

Property of ACKU

ګڼلی او هم ممکن له هغو منابعو څخه یې منشا اخیستې وي، چې موږ د هغوی له لارې د دوی په اړه معلومات ترلاسه کړي دي. د دوی له خوا د مریو د خرڅولو دود ممکن ددې لامل شوی وي، چې د دوی په اړه دغسې یو نظر رواج پیدا کړي، خو له بده مرغه دغه د نفرت ونکی یوازې اوزبکو ته منحصر نه دی. په دې کې شک نشته، چې د جنګ په اړه د دوی قوانین ډېر وحشیانه دي. دوی هېڅ دښمن ته پناه نه ورکوي، خو یوازې هغو ته چې شیعه یا کافر وي، چې دوی یې د مریو په څېر پلورلی شي. انسانان په بخارا کې د څارویو په څېر پلورل کېږي او له نورو اړخونو څخه او له ټولو هغو منابعو څخه هم له پښتنو مساپرو او هم د بلخ او بخارا له تاجکو څخه، چې ما د دوی په اړه معلومات ترلاسه کړي دي، زه په دې فکر شوی یم، چې اوزبکان د اسیا د هر بل قوم په څېر ښه خلک دي.

ویل کېږي، چې دوی په نسبي لړ کې صمیمي او رښتیني دي، افراد یې په خپلو کې کله کله جګړې او قتلونه لري. په ختیځ کې به یوازې یو څو ملکونه وي، چې یو مساپر هلته دومره ارام وي لکه په بخارا کې چې وي. هغه کسان، چې فکر کوي اوزبکان وحشي تارتاران دي، چې په دوړو ډکو، سپېرو او بیدیایي سیمو کې ګرځي، ددغه حقیقت په پوهېدلو سره به حېران شي، چې د بخارا ښار د نفوسو له حیثه له پېښور سره برابر او په نتیجه کې د لندن پرته د انګلستان تر هر بل ښار نه مخکې دی. دا چې دغه ښار ډېرې مدرسې لري او هره یوه یې له شپېتو څخه تر شپږ سوو[1] شاګردانو پورې ځایولی شي او استادانو ته یې یا د پاچا له خوا او یا د اوقافو له مدرکه معاش ورکول کېږي. دا چې په بخارا کې کاروان سرایونه بیخي ډېر دي او هلته د ټولو ملتونو سوداګر تشویقېږي او په پای کې دا چې هغه پاچا او خلک، چې تر هرڅه زیات په خپل دین معتقد دي، نور ټول دېنونه پوره زغمي.

## بلـخ:

اوس غواړم بېرته بلخ ولایت ته راوګرځم او د هغه تاریخ او اوسنی حال بیان کړم. په بلخ کې له اوزبکو پرته ډېر تاجکان او عربان هم شته، عربانو یې که څه هم

[1] د مثال په ډول د کوکل تاش (Kokultash) مدرسه (۳۰۰) وړې کوټې لري، چې په هرې یوې کې دوه طالبان ځایېدلی شي. د مدرسو په اړه دغه شرح او هغه نور اطلاعات، چې ما ترلاسه کړي، په هغې لیکنې کې وو چې په بخارا کې د نماینده میر عزت الله له خوا د (۱۸۱۳) په اپریل کې کښل شوي دي، خو دلته ښايي لوستونکي په دې خبر کړم، چې دوی داسې ونه ګڼي چې دغه مدرسې د اروپا د کالجونو په څېر دي. په مدرسه کې د تحصیل مهم مضمونونه الهیات او فقه دي او په ټولو هغو مضامینو کې چې موږ ورته ارزښت ورکوو، اوزبکان تر پښتنو ډېر وروسته پاتې دي. د مثال په توګه طبابت د هغو ګرځنده طبیبانو له خوا ترسره کېږي، چې په نورو ملکونو کې یې تحصیل کړی وي او ډېر خلک له بخارا څخه د تحصیل لپاره پېښور ته راځي.



Property of ACKU

عموماً اوس خپله ژبه هېره کړې ده، بیا یې هم له تاجکو څخه توپیر کېږي، خو یو څو عربو تراوسه هم خپله ژبه ساتلې ده. له هغو باوري معلوماتو څخه، چې ما د هغه ولایت په اړه ترلاسه کړي دي، کوم چې ما د بلخ په نامه یاد کړي دي، داسې ښکاري چې ددغه ولایت ټول نفوس به یو ملیون وي.

بلخ د نادر شاه افشار له خوا فتح شو او داسې ښکاري، چې هغه په لږ مشکل سره او بې له دې، چې ددې اړتیا پیدا شوې وي، چې پخپله احمد شاه درانی هلته لاړ شي، دده لاس ته ورغی. د بلخ ښار او د شاوخوا ملک یې هغه یواځینۍ برخې دي، چې د پاچا تر نېغ اثر لاندې دي، خو د همدغه ولایت ټول اوزبک مشران دده قدرت ته په بشپړ ډول تابع وو او ویل کېږي، چې آن بدخشان هم هغه ته باج ورکاوه.

د احمد شاه تر مړینې مخکې یا د هغه د زوی د پاچایي په لومړیو وختونو کې د کندوز مشر یاغي شو او د هغو دړېو لښکرو په مقابل کې یې په بریي سره مقابله وکړه، چې دده په ضد استول شوې وې. که څه هم د وروستي لښکرو شمېر ډېر و او قوماندان یې د احمد شاه د لښکرو ډېر ښه جنرال سردار جهان خان و. کله چې تیمور شاه په (۱۷۸۹) کې په بلخ کې و، مخکې له دې چې د بخارا د پاچا په ضد لښکرې واستوي، د کندوز مشر یې اړ کړ، چې باج ورکړي، خو په موثر ډول یې له لاندې کولو نه د هغه جنګ له لامله ډډه وکړه، چې دی پرې اخته و. داسې ښکاري، چې له دغې لښکرلېږدونې وروسته به بلخ له نظره ایستل شوی او په ډېرو بدمرغیو اخته شوی وي. په دغه ولایت حمله وشوه او مرکزیې د بخارا د پاچا شاه مراد له خوا کلابند شو، یو وخت د بلخ د ښار او خلم پرته دغه ټول ولایت د یوه واکمن د اوزبک د قوم مشر الله وردي خان تاز له خوا لاندې شو. د الله وردي خان اصلي مقبوضه قرغان تپه وه، چې د آمو شمال ته پرته ده. په هغه وخت کې بلخ د دراني حاکم او خلم د قیلیچ علي بیګ له خوا مدافعه شو. قیلیچ علي بیګ هغه مهم مقام ته، چې تر هغه وروسته ورسېد، د شروع په لومړي پړاو کې و. قیلیچ علي بیګ د خلم د مشرانو له نسب څخه پیدا شوی او هغه ته اوزبکي لقب اتالیق (د وزیر معادل) د کابل د پاچا له خوا ورکړ شوی دی، خو د خپل حکومت په لومړي سر کې دده واکمني ډېره محدوده وه، خو دده لیاقت دی زر په دې برلاسی کړ، چې لومړی خپل یاغي رعیت ایل کړي او تر هغه وروسته د ایبک، غوري، مزار، دیره ګز (Derra Guz) او نور واړه دولتونه په ځان پورې وتړي. دغه دولتونه دده خپلې سیمې ته ورڅېرمه پراته وو، تر هغه وروسته ده د الله وردي تاز په شړلو کې غټه برخه واخیسته او د حضرت امام سیمه یې له هغه څخه ونیوه. په همدغه وخت کې په کندوز باندې دده لاس بر شو او د هغه له خلاصون سره یې مرسته وکړه. ده د هغه له مشر سره د خپښې له لارې

Property of ACKU

اړیکې ټینګې کړې او له هغه وروسته یې په ډېر مهارت سره دغسې چلند غوره کړ، چې د هغه له برکته یې د کندوز خان داود خان په داسې ډول تر خپل نفوذ لاندې راوست لکه چې دده خپل نایب وي. که څه هم دی تر قلیچ علي بیګ نه د ډېر ځواک او شتمنۍ خاوند دی. بیا یې پخپله سیمه کې له خپل واک او په دربار کې له خپل ټول نفوذ څخه داسې استفاده وکړه، چې د بلخ په حاکم یې لاس بر شي او څنګه چې دی تل د کابل د سلطنت ګټور او تنګیالی خادم و، د مساعدو مواقعو نه په استفادې سره یې داسې پلان عملي کړ، چې د هغه په موجب د بلخ د حاکم یو څه واک ده ته ولېږدېده او ده آن د پاچا په رضایت یا د هغه په ځان ناګاره اچولو سره د هغه حاکم په مقابل کې مقاومت هم وکړ. په پای کې په (۱۸۰۹) کال د پاچا وراره شهزاده عباس، چې د کابل له بندي خانې نه تښتېدلی و، بلخ ته پناه یووړه او د هغه ځای حاکم دده هر کلی او ملاتړ وکړ. داسې ګڼل کېدای شي، چې شاه شجاع ددې لپاره پوره تیار و، چې قلیچ علي بیګ ته امر وکړي، چې د سلطنت د یوه مدعي په ضد عمل وکړي، نو دا و چې قلیچ علي په حاکم ودانګل او هغه یې وشاړه. له هغه وروسته په بلخ کې حقیقي واک تر پاچا نه زیات دده لاس ته ورغی. د دراني حاکم حکم اوس هم په ښار او هم د هغه په توابعو جاري دی، خو هغه په عمده ډول د قلیچ علي بیګ له خوا حمایه کېږي او له تالقانو پرته ددغه ولایت نورې ټولې برخې یا دده تر حکم لاندې دي او یا دده نفوذ پکې خپور دی.

د کابل پاچا د بلخ له ښار نه هیڅ ګټه نه وړي، مالیات او عواید یې د بخښنې په توګه عالمانو، مذهبي کسانو، نورو بېلابېلو اشخاصو ته د معاش په توګه، د حاکم د مصارفو د پوره کولو لپاره او د تلپاتو نوکرو (کهنه نوکرو) ته د معاش په ډول ورکول کېږي. کهنه نوکر په بلخ کې د لښکر یو ځانګړی شکل دی، دغه لښکر په کابل کې ددې لپاره جوړ شوی و، چې په بلخ کې د تل لپاره (تلپاتی) عسکري یا پوځي خدمت وکړي، ځکه چې دغه ولایت بخارا ته د نږدې والي له امله یوه پیاوړي پوځ ته اړتیا لرله. له پیل نه تراوسه پورې تر پېنځو زرو څخه لږ کسان نه دي نیول شوي، خو دغه خدمت ته چا زړه نه ښه کاوه او که څه هم دغو عسکرو ته (یوه عسکر ته؟) پېنځه تومانه جایزه ورکول کېده، د ټولنې د ډېرو ښکته ډلو له غړیو پرته نورو ورته زړه نه ښه کاوه آن له هغوی څخه هم ډېر یې بېرته کابل ته ستانه شوي دي، تر دې چې اوس ددغو نوکرو شمېر تر یو زر څخه هم لږ دی. دوی ته د معاش پرځای یوه ټوټه ځمکه ورکول کېږي، چې هغه له پلار نه زوی ته نقل کېدای شي او له هغې علاقمندۍ څخه، چې دوی یې له دغې لارې نه په دغه ملک کې پیدا کوي، دوی نږدې د ځایي خلکو په شان شوي دي.

Property of ACKU

دوی لـه پاچـا سـره هغـسې اړیکـې لـري، لکـه چـې د سـوریې جانشـاري[1] (Janissary) یـې د عثمـاني ترکـانو لـه بـاب عـالي (Suplime porte) (دربـار) سـره لـري، کـه قلیچ علي بیګ یاغي شي، احتمـال شته چې دوی تر خپـل حکومت نـه ډېر د هغه په خوا ټول شي، خو دا هغسې څه دي چې پـه غالـب احتمال بـه پېښ نـه شي، ځکه چې قلیچ علي به که څه هم د یوه خپلواک مشر پـه توګه وګڼل شي، پاچا تـه پـه ډېره درنـه سترګه ګوري او هغـه یـوائینی ګڼـه، چـې پاچا یـې لـه بلـخ نـه ترلاسـه کـوي، د اوزبکـانو پـه ذریعـه د سلطنت د سرحد سـاتل دي، خو دی پـه دې دومره نـاخوښ نـه د ـو چې د بلخ کنټرول دې ددغسې یـوه مشر پـه لاس کـې وي، چـې دی د هغـه امنیـت خوندي وساتلی شي او دده واک منلو ته ښه تیار وي.

د اسیا پـه دغـه ګـوټ کـې یـوائې یـو څـو دغسې مشـران شـته، چـې د قلیـچج علي غـودې د دومـره لـوی او درانـه نـامـه خاونـد وي. لـه هندوستـان څخـه د لوېـدیځ پـه لـوریـو مـساپر پـخـوا لـه دې، چې اموتـه ورسـېږي، لـه کـاروانونو څخـه دده د ښـه حکومت ستاینې اوري او ټول هغـه سوداګر، چې دده لـه ملک څخـه تېر شـوي وي، پـه مساوي انـدازه دده هغـه سیاسـت ستـایي، چـې د هغـه پـه موجب یـې تجـارتي امـوال لـه محصولونو څخه معاف کړي او په موثر ډول یې له خطرونو څخه خوندي ساتي.

دده ټول پـوځ ښـایي لـه دولس زرو تنو جوړ شوی وي، چې لـه هغو څخه دوه زرو تـه دی معـاش ورکـوي او نـور یـې د هغـه کـسانو لـه خوا تهیـه کېږي، چـې لـه ده څخـه د نظامي خدمت پـه مقابل کې ځمکه ترلاسه کولای شي. دده عوایـد د پـوځ لـه لګښت نـه وروسته یـو نیم لک روپۍ یـا نـژدې نـولس زره پونډه کېږي. د کابل د پاچا لـه خـوا دده مشر زوی تـه نهه زره پونډه د امتیـازي معـاش یـا عطیـې (Grant) پـه نامـه منل شـوي وو او ورته د والي یا د بلخ د شهزاده لقب ورکړ شوی و.

دی د اوزبـک د مـوي تـون Mooitunn د قـوم مـشر دی، چـې زیاتـه برخه یې پـه خلم کـې اوسـي. دده دشخـصیت او خویونـو پـه اړه دغـه لانـدینی بیـان ماتـه د ډیلـي د سیاسي نماینده د یـوه اجنټ (مـامور_ کارنـده) لـه خـوا پـه هغـه لیک کـې راکړ شوی و، چې مخکې یې ذکر شوی دی.

قلـیج علـي بیـګ نـژدې شـپېته کلـن دی، سـره او سـپینه ږېره لـري او ښـه ښـکلی انـسان دی. پـه زنـه بانـدې یـو څـو تـاره سپینه ږیـره لـري، سترګې یـې وړې، وچولی یـې پراخ او جامې یـې د اوزبکو دي. د سر د ټوپۍ دپاسـه لـه یـو بـل سره تړلې دوه لنګوټې

[1] جانشاري د ترکيې د یوې ترکیبي کلمې (ینی چیري Yeni heri) چې مانا یې نوی پوځ دی، اوښتی شکل دی او مطلب یې د عثماني ترکیې هغه پلي لښکرې دي، چې له دوشرمي (Dev Shirme) څخه نیول کېدې او وروستني د عیسوي هلکانو د جلبولو یو سیستم و، چې له کافي روزلو وروسته په لوړو ملکي او نظامي مقامونو مقررېدل. (ژباړن)



Property of ACKU

لري، اوزبکي کمیس او گون یا چپن اغوندي او د ملا په برخه کې د هغو له پاسه ملاوستنی تړي. په ملاوستني کې یې یوه لویه چاړه ایښې وي، ددغو ټولو دپاسه دی په ټولیز ډول نخي چپنه یا کوم بل درانه رنگ لکه ایران یا کوم بل رنگ چپنه اغوندي. دی تل موزې یا ماسې نه په پښو کوي لکه څنگه چې نور اوزبکان یې په پښو کوي، خو هغه وخت چې سپور گرځي، یو لوی ډانگ په لاس گرځوي او ډېر نسوار کوي.

دی هر سهار له لمر ختو نه نژدې دوه گړۍ وروسته په خپل مېلمستون کې دربار کوي. د زلیچې (قالین) دپاسه بې له بالښتونو یا سر وربړدی کېني، نژدې مصاحبان یا هغه کسان چې دی غواړي ورته عزت ورکړي، له ده سره په هغې زلیچې کېني، خو نور ټول هغه کسان، چې ده ته د چارو د اجرا لپاره ځي، په خالي میدان کېني. هر سړی د ننوتلو په وخت کې مخکې له دې، چې ناست وي، سلام علیکم وایي. دی پخپله د هرې هغې چارې په اړه، چې دده د حکومت د ادارې په اړه وي، پوښتنې کوي، خو یوائې هغه چارې قاضي ته سپاري، چې د قانون او شریعت په اړه وي. غله نه اعداموي، خو داوسپنې په هغه مېخ یې ځړوي، چې د بازار په مېنځ کې په یوه دېوال کې چوخ شوی وي. په بازارونو کې پلی گرځي او بازارونه د بازار په ورځ معاینه کوي. پخپله یې څو ځله گران پلورل او کم تلل کشف کړي او اوس یې دغسې مقررات ایستلي، چې په راتلونکي کې ددغسې ناوړو استفادو مخه ونیسي.

قلیچ علي بېگ رښتینی، عادل، ښه نیتی، په خپل رعیت مهربان، معقول او د خپلو نوکرانو په مقابل کې په سلوک کې بلاتمیز، په خپلو لگښتونو کې اقتصادي او د خپل حکومت د چارو په اړه ښه پوه دی. په خپله هره ورځ سلو بېوزلو خلکو ته ډوډۍ او ښوروا ورکوي.

کندوز په هغه اوزبکي قوم قطغن پورې اړه لري، چې مشر یې خال داد خان دی. دی د پېنځلس زرو تنو پوځ تشکیلولای شي او عواید یې دېرش زره پونډه دي.

تالقان ددغسې یوه واړه، خو جنگیالي خپلواک اوزبک قوم په لاس کې دی، چې خپل گاونډي ملکونه لکه کندوز او بدخشان په خپلو یرغلونو سره ځوروي، دوی دومره ناتوان دي، چې له فتح نه عاجز او دومره د پیاوړي روحیې خاوندان دي، چې نه غواړي کوم فاتح ته تسلیم شي.

میمنه، اندخوی، شبرغان او یو څو نورې وړې ناحیې مستقلې او ډېرې یې د تاجکو مشرانو په لاس کې دي او اوسېدونکي یې تاجکان دي.[1]

---

[1] د بلخ ښار اوس د بخارا د پاچا په لاس کې پرېوتی دی. قلیچ علي مړ شوی او زامن یې همدارنگه ددغه ولایت نور مشران، د بدخشان د گاونډي ملک په گډون اوس په پوره ډول د کندوز خان ته تابع شوي دي. ددغو پښتو او د اوزبکانو د پوره بیان لپاره وگورئ د برنز سفرونه. ۱۸۳۸



Property of ACKU

# دویم څپرکی

## ایماق او هزاره ګان

Property of ACKU

داسې ویل کېږي، چې هزاره ګان او ایماقان د کابل او هرات ترمېنځ د پاراپامیزاد په غرونو کې اوسي. شمال ته یې اوزبکان او سهېل ته یې درانیان او غلزیان پراته دي. ویل کېږي، چې د دوی ملکونه ستغ او غرني دي، د دواړو په ګډه سیمه په اوږدو تر درې سوه میله غځېدلې، چې په سور تژدې دوه سوه میله پلنه ده.

د حېرانتیا ځای دا دی، چې د افغانستان په حدودو کې دننه او د هغه په هرې برخې کې، چې ویل کېږي د پښتنو سیمه ده، داسې خلک موندل کېږي، چې له هغو نه په ژبې، کړو او څېره کې پوره توپیر لري. دغه حېرانتیا لومړی هغه وخت له منځه لاړه شي، چې په دغه اړه موږ دوی د دوی له ترکي ګاونډیو سره ورته مومو. خو آن په دوی کې هم د توپیر ټکي شته او دغه حقیقت موږ ترېنځرا نه هم ډېر حېرانوي. پخپله دغه خلک ددغه ابهام د روښانه کولو لپاره هېڅ مرسته نه شي کولای، ځکه چې دوی د خپل اصل او نسب په اړه هېڅ روایت نه لري. په همدې ډول د دوی ژبه، چې د دري یوه لهجه ده، موږ ته داسې نخښه نشي په ګوتو کولای، چې په هغې هغه توکم معلوم کړو، چې دوی ترېنه پیدا شوي دي.

خو د دوی څېرې موږ ته سمدلاسه دا راپه زړه کوي. چې دوی د تاتارو له نسب څخه دي او د یوه روایت له مخې دوی د مغولو اولاده ګڼل کېږي. په واقع کې دوی تر نن ورځې هم په وار وار د مغولو په نامه یاد شوي او دوی زیاتره وخت له مغولو او هغو چغتاییانو سره ګډ ښودل شوي، چې تراوسه هم د هرات په شاوخوا کې اوسي. دوی پخپله هم له دغو قومونو سره له خپلې ګډې مبداء څخه خبرې کوي. په همدې ډول دوی وایي، چې دوی له هغو کالمو کانو سره، چې په کابل کې مېشت شوي دي، ټینګې اړیکې لري او دوی له دغو دواړو ملیتونو سره خپلي کوي، خو دوی د هرات د مغولو په ژبه نه پوهېږي.

د ابوالفضل په قول دوی د مغولي چنګيز خان د لمسي منکو خان له لښکرو څخه پاتې دي او بابر ليکي، چې د هغه تر وخته پورې ډېر هزاره په مغولي ژبې ګړېدل، خو دی د ترکمني هزاره ګانو په اړه کله کله له مشکلاتو سره مخامخ کېده، دی له دغه مشکل سره هم مخامخ و، چې توګ دره يان (Togderrees) يې د غرونو له هزاره ګانو سره يو ګڼل. په داسې حال کې چې ده ويل چې ترکان او هزاره ګان دواړه د اوارو اوسېدونکي دي[1].

په دې کې څه شک نه ښکاري، چې ايماقان او هزاره ګان يو خلک دي، که څه هم دوی د اسلام تر منلو وروسته په بېلابېلو مذهبي فرقو وېشل شوي دي، ايماقان کلک سنيان او هزاره ګان کلک شيعه ګان دي.

سره له دغه ښکاره توپيره، دوی بيا هم ګډ شوي ګڼل کېږي، خو که دا په ياد ولرل شي، چې دوی د تار تمارې څېرو او کړو وړو او د خپلو حکومتونو د مطلقه خصوصيت په لرلو کې له يوه بل سره ورته دي. دغه مغشوش والی دومره غېر طبيعي نه ښکاري. د ورته والي دغه تکی د پښتنو له ځانګړنيتاو سره پوره مخالف دي. سره له دې دوی په نورو ډېرو ټکو کې دومره توپير سره لري، چې دا به ښه وي، دوی بېل بېل بيان شي.

اوس به زه د ايماقو په بيان پيل وکړم، چې د پاراپاميزاد د غرونو په لويديځې نيمايي کې اوسي.

## ايماق

د ايماقو سيمه د هزاره ګانو تر سيمې لږه غرنۍ ګڼل کېږي، خو دلته په دغه سيمه کې هم غرونه د هرات په لور ستغ او لوړ دي، لارې يې د درو او غونډيو له يو لړ نه تېرېږي او ځينو کلاو ته يې ورتګ دومره ګران دی چې اوسېدونکی يې مجبور دی د عسکرو په مرسته په رسيو ورو خېژي. سره له دې هم دره‌يې د کرنې وړ دي او غنم، جوار او ږدن پکې کېږي. بادام، انار او توتان پکې پخپل سر کېږي. ددغې سيمې شمال لويديځ چې جمشيديان پکې اوسي، تر نورو برخو اوار او اباد دي، غونډۍ يې مخ په ځوړ دي او ګڼ ځنګلونه پکې موندل کېږي. درې يې سمسورې دي او د مرګوس (Murgus) يا مرغاب په سيند خړوبېږي. د تيمنيو د ملکو سهېل هم

---

[1] زه په دې نه پوهېږم، چې ولې يو شمېر ترکي لغتونه ددغو قومونو په ژبې کې موندل کېږي. که دوی مغول وي، دوی بيا ولې په ترکي وګړېږي او که ترکي د دوی اصلي ژبه وي، ولې دوی ترکي ژبه هېره کړې ده. سره له دې، چې دوی د ترکستان په سرحدونو کې ژوند کوي؟ په داسې حال کې چې د دوی د شمال ګاونډيو ډېرې برخې په ترکي ګړېږي او جنوبي برخې يې په پښتو ګړېږي، ولې دوی په درې خبرې کوي.



Property of ACKU

پراخې او وښلنې درې لري. دغه ټول غرونه له چینو څخه ډک دي.

زوریان په سبزوار یا اسفزار کې اوسي. سبزوار یو پراخ میدان او ددغسې غرونو په منځ کې پروت دی، چې د جلغوزیو په ونو پوښل شوی او د هغې لاړې په ختیځ کې پروت دی، چې له مزار نه تر هرات پورې غځېدلې ده. دغه میدان تر یوه حده له نورو ایماقو څخه بېل دی.

د ایماق کلمه که څه هم ماته معلومه نه ده، چې په ترکستان کې به استعمالېږي، دشمال او ختیځ په ټولو تارتارو کې مروجه ده او مانا یې یو قوم یا یوه برخه ده[1].

هغه ملت، چې غواړم اوس یې شرح کړم، په سمه توګه د چار ایماق یا څلورو قومونو په نامه یادېږي. چار ایماق په واقع کې ډېرې څانګې لري، که څه هم اوس یې ښاخونه لا ډېر شوي دي.

اصلي چار ایماق تیمني، هزاره، تیموري او زوري دي. په لومړني کې قبچق او دورزي هم شامل دي. په دویم کې یې جمشیدي او فیروز کوهي راځي.

دا هم ویل کېږي، چې کریس (Keryes) چې د مشهد سهېل ته په تربت حیدري کې اوسي، هم په ایماقو کې حسابېږي، خو زما په خیال چې دا خبره سمه نه ده.

اوس ځینې دغه فرعي څانګې دومره ډېرې شوي دي لکه پخپله ایماق، چې دوی له هغو څخه پیدا شوي وو او ټول د اصلي ایماقو په څېر ځانله ملکونه او خپلواک مشران لري.

مشران یې په پخو کلاو کې اوسي، چې ځینې یې دغسې سترې ماڼۍ لري، چې هلته ځان ته واړه دربارونه لري او پرتمین نوکران یې امرونه پر ځای کوي. دوی په خپلو قومونو باندې مالیه ږدي، پوځ ساتي، له ځان نه ورته معاش ورکوي او هغوی د دوی په اسونو سواره وي. د ژوند او مرګ د اختیار په ګډون د حقوقي چارو او دعوو پرېکړې او همدارنګه د یوه مطلق پاچا ټول قدرتونه د دوی په لاس کې دي. دوی د پاچا په نامه حکومتي چارې ترسره کوي، خو دوی د خپلو قومونو په کنټرول کې هېڅکله تر کنټرول لاندې نه دي.

اوس ټول ایماق په مېنو کې اوسي، چې دوی ورته اورد یا اوردي ( Oard orde[2]) وایي. هره مېنه د کدخدا له خوا اداره کېږي، چې هغه د خان په لارښوونه کار کوي.

[1] له خپل ملګري سرجان ملکم څخه مې اورېدلي دي، چې په سوریې کې یو لوی قام د ایماقو په نامه و. دغې سیمې ته خلک له لورستان څخه ورغلي او استوګن شوي او د اتابیک یا اتابک کورنۍ ترې پیدا شوې، چې د فارس په تاریخ کې ښه نوم لري.

[2] دا کلمه د ترکي له اردو څخه راوتلې، چې مانا یې کمپ یا پوځ دی او د انګرېزي (Horde) کلمه له هغه نه مشتق شوې ده.



Property of ACKU

د دوی کېږدۍ په ټولیز ډول نږدې د خرګاه له ډول څخه دي، چې تارتار یې استعمالوي، خو د ایماقو یوه څانګه یانې تیموري د پښتنو تورې کېږدۍ غوره ګڼي. ټول ایماق ډېر پسونه ساتي، د اسانو د یو ډول ډېر فعال او کلک نسل یو لږ شمېر هم روزي، چې له هغو نه ډېر یې باندنیو ملکونو ته لېږدوي. هغه یو څو کلي چې د دوی په ملک کې موندل کېږي، د تاجکانو دي.

اورېدلې مې دي، چې ایماق په ځېرو کې زیاتره د فارس خلکو ته ورته دي، خو که څه هم دوی د تارتار د توکم په ځانګړو ځېرو ښه څرګند دي، دوی له لنګوټې نه زیات د تور پسه له پوټکي نه جوړه خولۍ په سر کوي.

د دوی خواړه هغه دي، چې په پښتنو کې معمول دي، یوائې دا توپیر لري، چې دوی د اس غوښه هم خوري او بله دا چې ټول د یوه غوړ زړي له اوړو څخه، چې خونجک (Khunjick) نومېږي، ډوډۍ تیاروي او د غنم اوړه ورسره ګډوي. په نورو ټولو هغو اړخونو کې، چې یاد شوي نه دي، دوی له پښتنو سره په کړو وړو کې ورته والی لري، خو مطلقه حکومت ددې لامل شوی، چې دوی په ټولیز ډول تر هغو ډېر آرام او منظم وي. دوی په خپلو قوانینو کې چې له دغه قید څخه ازاد دي، دغسې بې رحمي ښیي، چې په پښتنو کې هېڅکله نه اورېدل کېږي. د باوري روایتونو پر بنسټ دوی خپل اسیران له کمرونو غورځوي او تر هغو یې په غشو ولي، چې مړه شي[1] په یوې موقع کې، چې یوه زړې ورسره مرسته کړې وه او ده ماته کیسه کوله، دوی د خپلو اسیرانو تودې وینې وڅښلې او په خپلو مخونو او ږیرو یې وموښلې.

ایماق په هرات پورې تړلي او منحصر دي، که څه هم دوی په مستقیم ډول د سیاه بند د حکومت تر اداري لاندې وو. د دوی زیاته برخه تراوسه هم د هرات د شاهزاده تابع دي، چې هغه ته د اړتیا په وخت کې پوځ برابروي او په دربار کې یې پخپله حاضرېږي او یا خپل یو نږدې خپلوان استوګن کوي، خو اوس دوه ایماقه تیموري او هزاره د فارس تابع دي او دا د دوی د موقعیت له لامله چې د هرات په لویدیځ کې په هغو حدودو کې دي، چې فارسیانو پرې بری موندلی دی. د دوی سیمې د پاراپامېزاد له غرونو څخه بېلې او له دغسې شګلنو سیمو څخه متشکلې دي، چې یوه په بله پسې په غونډیو جلا شوي دي.

ډېر وخت کېږي، چې تیموریانو د قلیچ خان په مشرۍ خپل دغه اوسنی ملک ترلاسه کړی دی. ددې پرخلاف هزاره ګان په دې وروستیو وختونو کې د شاه محمود له خوا خپل اوسني ملک ته لېږدول شوي او دا له دې لامله، چې دوی له تیمنیانو سره

[1] دا رواج له جنګي اسیرانو سره د مغولو له چلند سره ورته والی لري.



Property of ACKU

په جنگ اخته شوي وو. د دوی د مشر محمد خان کورنۍ د کابل له حکومت نه د بیګلر بیګي لقب ترلاسه کړی و او دغه لقب د فارس تر واک لاندې هم ساتي.

دغه قوم له نورو ایماقو څخه د واضحو اوزبکي څېرو، جامو او کړو وړو په لرلو سره توپیر لري.

دوی په دغه ورته والي وياړي او د هغوی مشر په پوره غور سره د بخارا له دربار سره خپلې اړیکې ساتي.

دمخه مې لیکلي دي، چې دغه ایماق باید له هغو هزاره ګانو سره ګډ ونه شمېرل شي، چې د پاراپامیزاد د غرونو په ختیځ کې اوسي، خو دوی که څه هم اوس سره بېل دي، هزارګان او ایماق په یقیني ډول له یوه اصل او نسب څخه دي او هزاره ګان په غالب ګومان له دغه قوم سره یوځای خپل نوم له همغې یوې منبع څخه ګڼي.

د هغو ډېرو باوري روایتونو له مخې، چې ما د وروستي ذکر شوي قوم پرته د ایماقو د شمېر په اړه ترلاسه کړي، زه داسې اټکل کوم چې دوی به پنځوس زره او څلور سوه کسه وي. ددې اړتیا نه شته، چې ووېل شي، چې دغه شمېر نه پوره او نه واقعي دی.

د هزاره ګانو ملک د ایماقو تر ملکه هم ډېر زیږ دی. ددغه ملک د ځمکې شنډتوب او د اقلیم سختوالی په مساوي اندازه د کرنې لپاره نامساعده دی. هغه لږې غلې دانې، چې د هغه په تنګو درو کې کېږي او د لنډ اوړي په پای کې ټولېږي، د هغه نفوسو د ژوند له تامین سره مرسته کوي، خو د پسونو، غویو، غواو او آسانو غوښې له پنیرو او د رمو ګلو له نورو محصولاتو سره یوځای د دوی د خوړو ډېر اړین مواد دي.

## هزاره ګان:

هزاره ګان په دغسې کورونو کې اوسي، چې چتونه یې په وښو او لوخو پټه شوي او د غونډیو په ډډو کې تر نیمایي پورې په ځمکه کې دي. د سړیو جامې یې داسې دي، چې د اوزبکو په څېر د لنګیو په شاوخوا کې د ټوکرو په اوږدو ټرانګو پېچلې دي، ښځې یې د وړینو ټوکرونو اوږدې جامې اغوندي او د سوریو له پوټکي نه جوړې شوې نرمې موزې په پښو کوي، چې تر ښنګرو پورې یې رسېږي. د دوی خولۍ ډوډۍ په سر نښتې وي او یوه ټرانګه ټوکر یې له خولۍ څخه شا ته تر ملا پورې ځوړند وي. هم ښځې او هم سړي یې قوي تار تاري څېرې لري، خو له خپلو ګاونډیو غښتلي او غونډ دي. زیاتره ښځې یې ښکلې دي او په دغسې یوه شډل قوم کې د حیرانۍ ځای دی، چې ښځې یې هغسې برلاسې لري، چې په ګاونډیو ملکونو کې یې ساری نه لیدل کېږي. ښځې د کور اداره کوي، ملکیت څاري، د پټ او ننګ پالنه



Property of ACKU

پر غاړه لري او له خپلو مېړونو سره په ټولو چارو کې سلا مشوره کوي. ښځې هېڅ نه وهل کېږي، دوی غلا نه کوي، دوی ټول ښه سندرغاړي او د سه تار په ساز کې د هنر خاوندان دي او ډېر یې شاعران هم دي.

مئینان او مینې یو بل ته خپل شعرونه وایي او نارینه زیاتره وخت په ساعتونو یو بل ته په في البدیهه ډول کنترې (طنز طعنه) لرونکې کیسې او نقلونه کوي.

د دوی د کور د باندې ساعت تېري ښکار کول، سویان وېشتل او ځغاستې مسابقې دي. د وروستي لوبې لپاره دوی د ځمکې په سر یو ښکاره ټکی په نښه کوي او به داسې حال کې، چې شا یې لوځه وي، سپور ځغلي، د ورلو شرط زیاتره ډېر پېسونه، غواوې او یا جامې وي. په همدې ډول دوی د ورته دا ووهنو لپاره نښې ولي، دوی ټول ښه غشي وېشتونکي او ښه ټوپکچیان دي. هر نارینه د یو ماشه لرونکي ټوپک خاوند دی، د دوی نورې وسلې فارسي توره، په تیکې کې یوه اوږده نرۍ چړکۍ او کله کله یوه برچه یا سانگه (نیزه) ده.

هزاره گان ډېر جذباتي او زیات ناتینگي دي. یوه شیبه دمخه به تا کوم یو ښه پخلا کړی وي، خو بیا به نا یې په یوې کلمې له تا نه خوابدی شي او ټولې اړیکې به درسره وشلوي. تونند خویونه یې چې له نظره وغورځول شي، دوی نو بیا ښه خوشحال، ښه طبیعتي، توریالي او مېلمه پال خلک دي. د دوی د سادگۍ په اړه ډول ډول کیسې ویل کېږي، دغومره بس ده چې وویل شي چې د دوی په تصور د کابل پاچا کومې کلا برج قدرت ته هسک شوی دی. څنگه چې دوی آیائیان دي، دروغ ویلو نه خلاص نه دي د دوی تونند خوی ددې لامل کېږي، چې دوی تل په خپلو مېنځو کې سره وپارېږي[1].

هزاره گان په ټولیز ډول په دغسې کلیو کې اوسي، چې له شلو څخه تر دوو سوو پورې کورونه لري. که څه هم ځینې یې د ایماقو په څېر په تارتاري کېږدیو کې ژوند کوي. د هر کلي دفاع په یوه لوړ برج کېږي، چې لس یا شل سړي پکې وي او ډېر مورچلونه لري[2].

په هر برج کې یو مسي ډول ایښودل شوی وي، چې د څوکۍ په وخت کې یو ځانگړی کس پکې پاتې وي او د اړتیا پر مهال یې وږنگوي.

---

[1] پښتانه د هزاره گانو د سحر په اړه ډېرې کیسې لري، وایي چې په هر چا چې دوی خپلې سترگې ښخې کړي، د هغه ینه له گوگله رااېستلی شي. دغه تخیلي کیسه په هندوستان او فارس کې ډېره عامه ده او بیلابیلو قومونو ته یې نسبت کېږي. ددغه ټول عمل تفصیلات په ایین اکبري کې په ډېر وقار سره بیان شوی دی.

[2] دغه عمارت ته اوتوپور (Ottopore) یا ارتوپور (Ortopore) وایي، چې زما په گومان له ترکي ژبې نه اخیستل شوی دی.



Property of ACKU

مـا د هزاره گـانو د ټولېدو پـه اړه یـو بیـان اورېدلی دی، لـه دغـو ډولونـو څخـه یـو ووهل شو او اواز یې لاړ او لـه یـوه غره نـه تر بـل غـره پـورې یې انعکاس وکړ او تکرار شـو. هـزاره گـان زړ وسـله وال شـول او ووتـل، تـر دې چـې د درې یـا څلـورو زرو پـوځ د حملې پـه یـوه ټکي کې سره غونډ شول. هر کلی د سر یـو سړی لري، چې (اوقـي) یـا حـوقي نـومېږي او یـا دوه مـشران هـم پکې وي، چې د ترکـي کلمې (افـسقال) پـه نامـه یـادېږي، چې هغـه د پـښتنو د (سـپین ږیـري) او د دري د (ریـش سفید) انډول دی. خو دوی ټول سلطان ته په پوره ډول تابع دي.

هـزاره گـان پـه قومونـو وېشل شوي دي، چې پـه هغـو کې دای زنگـي، دای کنـدي، جاغوري او فولادي یې تر ټولو مهم دي. هر یـو یې ځـان تـه یـو سلطان لري، چې هغـه پـه خپـل قـوم کې د مطلق واک خاونـد دی. دی دعـوې، کـشالې اواروي، جرمونـه حوالـه کـوي او بند یانول او آن اعدامول کـوي. ځینې سلطانان پخې کـلاوې، ښکلې جامې او دغسې نوکران لـري، چې د سرو او سپینو زرو پـه دانـو پـسولل شوي وي. دوی پـه خپلـو کې تـل دښمنۍ او بدۍ لري او داسې یـو قـوم بـه نـه وي، چې لـه خپـل گاونډي سره پـه جنگ نـه وي. پـه همدې ډول دوی بهرنـي جنگونـه هـم لـري. کلـه کلـه دوه یـا درې سلطانان د پاچا پـه ضد پاڅون کوي، خو دوی هېڅکله کوم قوي یا گټور یووالی سره نه لري.

یـو سړی، چې د زیـن الخـان تـر اداري لانـدې د مالیـاتو د ټولولـو لپـاره اسـتخدام شوی و، راتـه وویـل چې دی کلـه کلـه ددغـو مشرانو جرگې تـه بلـل کېده او دوی بـه ورتـه ویـل، چې پرېکړه یې کړې، چې نور نو حکومت تـه مالیه نـه ورکوي او دی دې نور نـو پـه خپل کار پسې ځي. پـه همغې شپې کې بـه بیـا کوم مشر ده تـه ورغی او ورتـه بـه یې څرگنده کړه، چې دی د هغـوی پـه سرغړونې کې څه برخه نـه لري. بل سهار بـه دوه، درې نور هم ورغلل او ټولـه اتحادیـه بـه د شگو بند شو. څه وخت، چې خبره وړلو تـه راشي، دوی زیاتره سره ښه یو وي، خو دوی تل په پای کې لاندې کېږي.

دغـه زیـن الخـان د هرات د شـاوخوا یـو مغـول و، چې د زمـان شـاه پـه پاچـایۍ کې د بامیـانو د والـي پـه توگـه ټاکـل شـوی و او ده د دوی د غرونـو ډېرې سختې برخې تـه یـو تـوپ خېژولـی و او هزاره گـان یې د ایـل کېـدو او نظم پـه دغـسې کړې کې ښکېل کړل، چې تـر هغـه مخکې دغـسې نـه وو ښکېل شوي. هـزاره گـان پـه ټـولیز ډول د غوراتـو او بامیـانو پـه حکومتونـو کې سره وېشل شوي او اوس دوی د هیـڅ حکومـت تـر اثـر لانـدې نـه دي. دوی لـه ایمـاقو سره جنگونـه لـري، پـه همدې ډول دوی د بلـخ د اوزبکـو لـه لـوی مشر قلیـچ علي خـان سره دښمني لري او قلیـچ علي خپـل ملک تـه نژدې ډېر هزاره گـان تر خپلې اداري لاندې راوستي دي.

ټـول هـزاره گـان د حـضرت علـي قـوي پیـروان دي. دوی پـښتنو، ایمـاقو او



Property of ACKU

اوزبکانو ته په دې په کړه سترګه ګوري، چې د بل مذهب پیروي کوي او هر هغه سني، چې د دوی ملک ته ورشي، که زجر ورنه کړي، نو سپکوي خو یې. دوی ان خپلو هغو وطنوالو ته هم په بې اعتمادۍ ګوري، چې په پښتنو کې اوسېدلي وي او داسې پرې بدګومانه کېږي، چې ګني فاسد شوي به وي[1].

کله چې دغه څېزونه په نظر کې ونیول شي، د حېرانۍ ځای نه پاتې کېږي، چې تاجکان د دوی په ملک کې مېشت شوي نه دي او یا دا چې دوی له نورو انسانانو سره د سوداګرۍ ډېرې لږې اړیکې یا راشه درشه لري. هغه لږه سوداګري، چې دوی یې لري، هغه هم جنس په جنس معامله ده، بوره او مالګه هغه باندني تجارتي څېزونه دي، چې د دوی په ملک کې یې کلکه غوښتنه کېږي.

د هزاره ګانو دغه شرح له استثناآتو څخه هم خالي نه ده، ځینې یې د پښتنو په څېر دیموکراتي حکومتونه لري.

ګووي (Guvee) هزاره قوم، چې هندوکش په لور مېشت شوي او ممکن له نورو نه په ځینو اړخونو کې هم توپیر ولري. په دې اړه په ځانګړې توګه د یادونې وړ دي. د غزنې لویدیځ ته د مقر قره باغ او نورو شاوخوا کې، چې کوم هزاره ګان اباد دي، له څېرو پرته په نورو ټولو اړخونو کې کټ مټ تاجکو ته ورته دي.

په کابل کې ډېر هزاره ګان شته، پینځه سوه یې د پاچا په ساتونکیو کې دي، نور یې خپل ژوند په خپلو متو او زیار سره تامینوي، ډېر یې خرکاري کوي.

د هزاره ګانو شمېر په مشکل سره اټکل کېدای شي. د دوی ملک د ایماقو تر ملک نه یو څه ډېر پراخ دی، خو تر هغه کم حاصل او کم نفوسه دی. په دې ډول ګومان نه کوم، چې د دوی شمېر دې له درې سوو زرو څخه تر درې سوو پنځوس زرو وګړیو څخه ډېر وي.

نه ښایي پخوا له دې، چې د بامیانو د نامتو مجسمو په اړه، چې د دوی په ملک کې ولاړې دي، څه ونه وایم او د هزاره ګانو بحث پای ته ورسوم.

که څه هم کله کله ویل کېږي، چې هلته تر دوو ډېرې مجسمې شته، خو ما یوازې د دوو مجسمو په اړه اورېدلي دي، چې یوه یې نارینه او بله یې ښځینه مجسمه ده. لومړنی یې شل ګزه او وروستی یې دولس یا څوارلس ګزه لوړه ده[2]. نارینه یې

---

[1] د کریم په نامه یو هزاره له خپل مذهب نه اوښتی و او کله چې خپل ملک هزاره و ته ستون شو، ډېر سپک چلند ورسره کېده او خپلوانو یې ورته سر کوزی وایه او یوازې د سکو په نامه یادېده.

[2] د بامیان له دوه ګونو مجسمو څخه یوه یې (۳۸) متره او بله یې (۵۵) متره لوړه ده، لومړنی یې اوله او دویمه تر هغه وروسته جوړه شوې ده. د تفصیل لپاره دې وکتل شي: د بامیان عظمت د هغه په مجسمو کې، د زمري کمال لیکنه، د افغانستان لرغون پېژندنه. لومړی کال، لومړی ګڼه، ۱۳۵۸. ۴۹_۹۴ مخونه. ژباړن



Property of ACKU

لنګوټی په سر لري او ویل کېږي، چې یو لاس یې په خولې پورې او بل یې په سینې پورې نیولی دی. شاوخوا غونډۍ یې له سمڅو نه ډکې دي، خو په دې اړه مې څه نه دي اورېدلي، چې هغه دې تصویرونه یا لیکنې ولري.
د لرغوني هند پوهان په دې عقیده دي، چې دغه مجسمې د بودا له عبادت سره اړیکې لري او د دوی موقعیت په کلکه هغه سترې مجسمې په زړه کوي، چې د هغه لوی معبد په وره کې ولاړې دي، چې ویل کېږي د بودا په دورې پورې اړه لري او د هغو سمڅو د ښار په منځ کې پرتې دي، چې دسالسي تې (Salsette) په کنارا (Canara) کې لیدل کېږي، خو په دې اړه زما معلومات دومره نیمګړي دي، چې نه غواړم د هغه په اړه نظر ورکړم.

* * *

Property of ACKU

# درییم څپرکی

# هــرات

Property of ACKU

هرات د درانیو په قلمرو کې دی. باید ددغه قوم د ملکونو په وخت کې شرح شوي وای، خو څنګه چې هرات تل ځان ته جلا حکومت لاره او اوس نژدې یو یو خپلواک دولت دی دا راته ښه ورېښېږي، چې بېل یې بیان وکړم.

هرات چې پخوا هري نومېده، د ختیځ په ټولو ښارونو کې لرغونی او ډېر مشهور دی. د لوی سکندر د یرغلونو په وخت کې دغه نوم د ټول ولایت لپاره هم کارېده او دغه ښار تر ډېرې مودې پورې ددغسې یوې لویې امپراتورۍ مرکز و، چې له امیر تیمور څخه دده زامنو ته ولېږدېده. د تیمور له کورنۍ بیا د فارس د صفویانو کورنۍ ته په لاس ممکن نادر شاه افشار پرې غلبه وموندله او بیا په (۱۷۷۹) کې احمد شاه درانی ترلاسه کړ او له هغه راهیسې تراوسه پورې د درانیو په لاس کې دی.

هغه توضیحات، چې ما د پښتنو د ښارونو په اړه ورکړي، ما ته لږه موقع راکوي، چې د هرات په اړه ډېر څه ووایم، که څه هم دغه ښار ممکن تر نورو ټولو ښارونو ډېر پرتمین وي، سره له دې هم زه باید د هرات د جامع جومات یادونه وکړم، چې هغه یوه هسکه او پراخه ودانۍ ده، ګونبدونه او منارونه یې تر نورو ډېر اعلی دي او په دغسې ځلېدونکیو او انځور شویو کاشیو سره ښاېسته شوي، چې د فارس د طرز په ټولو ماڼیو کې کارېږي.

د ښار په خوا کې یو پراخ خندق کیندل شوی، چې د چینو په اوبو ډک وي. د اومو خښتو یو لوړ پنډ دېوال لري، چې ښکتنۍ برخه یې د خندق په هغو خاورو ټینګه شوې، چې په مقابل کې یې خره شوي دي.

شمالي خوا تـه يـې ارګ پـروت دی او هغـه د يـوې غونـډۍ دپاسـه آباد شوی او مخـه يـې دلانـدې ښار پـه خوا ده. د دېوال بيخ يـې لـه پخو خښتـو نـه جوړ او شاوخوا يـې يـو لونـد خنـدق پـروت دی. د ښار ساحه ښـه پراخـه ده، نـژدې سل زره اوسـېدونکي لـري[1]. ددغـه شـمېر دوه_درېيمـه برخـه هراتـي دي، چـې دوی ددغـه ځـای آري اوسـېدونکي او ټـول يې شيعه ګـان دي. لـسمه برخـه يـې ممکـن درانيـان او پـاتې يـې مغـول، ايمـاق او د بهرنيو هغه مخلوط وي، چې د پښتنو په ټولو ښارونو کې ليدل کېږي.

د هـرات ښار پـه يـو سمـسور او اوار ميـدان کـې پـروت دی او لـه دغـسې يـوه سـيند څخـه ورتـه اوبـه رسـېږي، چـې شـاوخوا يـې ډېـر ګـڼ کلـي پراتـه دي او د غلـو دانـو پـه فـصلونو ډک دي. دغـه شـنه طبيعـي منظره پـه جومـاتونو، ګونبـدونو او نـورو عمـارتونو لا ښـکلا او تنـوع مـومي او دا ټـول لـه بـې شـمېرو ونـو او بـاغونو سـره ګـډ شـوي، هـسکو غرونو چارپېر کړي او دغو ټولو هرات ته يوه ښکلې بڼه ورکړې ده.

د هـرات پـه شـاوخوا کـې ددغـه ملـک د اوسـېدونکيو زيـاتره برخـه تاجکـان دي او دوی هغـسې ځانګړتيـا لـري، چـې دغـه درانـده تـوکم تـه دمخـه منـسوب شـوي دي. دوی ټـول سـنيان دي، دپـاتې اوسـېدونکيو پـه ډلـه کـې يـې پـښتانه، ايمـاق او بلوڅـان راځـي. ډېـر مغـول او چغتاييـان هـم تراوسـه دغـه ښـار تـه نـژدې اوسـي، چـې تـر ډېـرې مودې د دوی د ملي سترتوب مرکز و.

د هـرات عوايـد يـو ميليـون روپـۍ اټکـل شـوی، چـې لـه نيمـايي نـه ډېـر يـې د پـوځ تنخـوا تـه ځـانګړې شـوې يـا بېلابېلـو کـسانو تـه د بخـښنې پـه توګـه ورکـول کېـږي[2] پـاتې يـې د هـرات خزانـې تـه اسـتول کېـږي، خـو دغـو عوايـدو د ټـول ولايـت لګښت هېڅکلـه نـه دی پـوره کـړی او د شـاه زمـان تـر وختـه پـورې يـوه ټـاکلې برخـه پيـسې لـه کابـل نـه وراسـتول کېـدلې. د لګښت يـو لـوی قلـم ددغـه ولايـت د سـاتلو لپـاره ځـانګړی شوی و. د غـلام شـاهي يـا هغـه پـوځ شـمېر، چـې تـل ورتـه معـاش ورکـول کېـده، پـه يـوه وخت کې اتـو زرو تـه رسـېده. پـاتې پـوځ لـه ايمـاقو او د ځينو درانيـو لـه ټولګيو نـه جوړ و. يـو وخت نـژدې ټول خراسـان پـه دغـه ولايـت کـې راتـه. طبيعـي ده، چـې ددغـسې يـو مهـم ولايـت حکومـت د پاچـا د يـوه زوی يـا خپلـوان لپـاره يـو ښـه مناسـب مقـام و. د احمـد شـاه پـه وخت کـې تيمـور شـاه د هغـه حکمـران و. وروسـته شـاه محمـود د هغـه

---

[1] په (۱۸۱۰) کې چې ما د هرات په اړه ليکنه کوله، اوسېدونکي يې ماته ډېر لږ معلوم شوي وو. دغه اوسنی بيان مې د کپتان کرستي (Captain Christie) د ليکنو له مخې شوی او د هغه مشاهدات د هرات په اړه زما ليکنه تاييدوي. (په حاضر وخت کې د هرات د اوسېدونکيو شمېر له پينځه څلوېښتو زرو نه اوړي. د کانولي سفرونه، دويم ټوک، ۲ مخ. ۱۸۳۸)

[2] د ښاغلي کانولي د اټکل له مخې هغه پيسې، چې ورکول کېږي، اوس ۲۱/۴۲۹ پونډه دی، خو دا يوازې د ښار او د هغه نژدې سيمې لپاره دي. د ځمکې عمومي ماليه په جنس سره تاديه کېږي.۱۸۳۸



Property of ACKU

حکمران شو. په اوسني وخت کې د اوسني پاچا د سکه ورور شهزاده فیروزالدین په لاس کې دی، چې په حاجي یادیږي. دی ځانله دربار لري، چې هغه په ټولیز ډول د کابل د دربار د درانیو او قزلباشو اشرافو له ځوانو ورونو څخه جوړ دی. ددغه ولایت افسران او د هغه ټول تاسیسات هغسې دي، چې پاچا یې په کابل کې لري او څنګه چې ځینې دراني اشراف او د ایماقو زیاتره مشران په هرات کې ژوند کوي، دی په دې قادر کوي، چې د ښه برم او شان خاوند اوسي.

دی د یوه نرم طبیعته او باوقاره، خو په په عین حال ک د یوه ډارن شاهزاده په صفت یادیږي. خو د کپتان کرستي (Captain Christie) له لیکنو څخه ښکاري، چې ده خپل محبوبیت په زیاته اندازه په دې بایللی، چې د یوه امامي مشورو ته غوږ ږدي د کرستي لیکنې زما تر لیکنو وروستۍ او ډیرې سمې دي[1].

د هرات شهزاده تل د پاچا له خوا نژدې بې قیده او بې کنټروله اختیار لرلی دی او د مملکت کورنۍ شخړې د دوی د خپلواکۍ لپاره ښې برابرې دي. دی ترڅو کولای شي زیار باسي ددغو ناراميو له فضا څخه ځان بچ وساتي او زما په فکر، چې دی هر هغه رقیب ته، چې واکمني خپله کړي، اطاعت کولو ته تیار دی، خو له شاه محمود سره دده نژدې رابطه، چې دده سکه ورور دی، دی د هغه ګوند ته متمایل کوي. دا او له وزیر فتح خان څخه دده ویره ددې لامل شوې، چې له دغه ګوند سره د مرستې په غرض څو ځله د خپل زوی په مشرۍ یو شمیر لښکرې ورواستوي.

د فارسیانو له خوا دهرات د کلابندۍ موضوع د تاریخ په برخه کې پوره بیان شوې ده. فیروزالدین په هغه وخت کې دا پخپله غاړه واخیسته، چې پنځوس زره روپۍ (شپږ زره پونډه) ورکړي. کېدای شي ده ژمنه کړې وي، چې دغومره پیسې هر کال واستوي او ما اوریدلي دي، چې له ده نه یو مقدار پیسې فارسي پوځ ته د لېږلو له ویرې ترلاسه شوې وې. خو هغه باج چې فارسیان یې ادعا کوي، چې دوی ته ورکول کیږي، له هغو خیالي کیسو څخه دي، چې په شوق سره غواړي په هغه باندې خپل ملي لوړه تسکین کړي.

* * *

[1] کرستي لیکي، چې دغه امامي غوره ګڼل، چې دی یې مغول وبولي. ده په پښتنو کې یو قوي حسادت خلق کړی دی. دی دا هم لیکي، چې شاهزاده فیروز د پښتنو په اندول دغه امامي ته ښه ګوري، چې په زور او جبر د پیسو د پیدا کولو لپاره یې یوه ښه وسیله ګڼي او پښتانه ((چې له حکومت څخه د ځمکو په بدل ترلاسه کولو او ساتلو روږدي دي، دې ته زړه نه ښه کوي، چې د چورولو له سیتسم سره مرسته وکړي.)) په داسې حال کې، چې مغول په دې کار کې نوم لري.



Property of ACKU

# څلورم څپرکی

## سیستـــان

له سیستان پرته به بل داسې ملک نه وي، چې د فارسي اشعارو او د اتلانو د کیسو ستاینکي ورته په ډېرې تلوسې او ذوق خپل مخ وروګرځوي او معکوساً بل داسې ملک به نه وي، چې دده هیلې به په سختې خواشینۍ بدلې کړي. ددې نسبت د شاعرانو مبالغو ته نه کېږي، ځکه هغه بې شمېره کنډوالې چې دلته لیدل کېږي، ددې شاهدي ورکوي، چې سیستان یو وخت یو داسې سمسور او له ښارونو ډک ملک و، چې په پراخوالي او پرتم کې به یې په ټوله آسیا کې کم ساری لاره.

په همدې ډول د ځوړ او زوال لاملونه د هغه د بېخوانۍ شتمنۍ تر شواهدو لږ څرګند نه دي.

سیستان له شمال پرته، چې د درانیو په ملک پورې نښتی دی، په دغسې پراخو او وېروونکیو مېرو احاطه شوی، چې هلته هر باد د خوځنده شګو شګو یوه غونډۍ جوړوي او هغه د فصلونو سمسورتیا له مېنځه وړي او ورو ورو کلي او باغونه لاندې کوي[1].

یوازې هغه برخې، چې تراوسه یې هم خپله سمسورتیا ساتلې ده، هغه دي چې د هلمند او فراه رود پر غاړه او د هغه ډنډ پر غاړو کې پرتې دي، چې ددغو سیندونو له یوځای کېدو څخه پیدا شوي دي. دغه مشهور ډنډ زموږ جغرافیه لیکونکیو دره بحیره (Sea of Durra) یا زرنج بللې دی. هغه د فارسي په کتابونو کې کله کله د لوخو د سیند او پخپله ددغه ملک د خلکو له خوا د زور سیند (Sea of Zoor) یا د خوجه سیند په نامه یادېږي. خو زه ګومان کوم، چې هغه په خپلو شاوخوا سیمو کې

[1] د ملا جعفر کلی، چې څو ځله مې د هغه یادونه کړې، له هغه وختـه چې دی ترې وتلی دی، بیخي متروک شوی دی.

ځانله کوم بېل نوم نه لري او یوازې د ونډ یا سیند په نامه یادېږي. د هغه د پراختیا په اړه مې ډول ډول روایتونه اورېدلي دي، ډېر سم یې کېدای شي هغه وي، چې وایي محیط یې یو نیم سل میله دی. که څه هم دغه روایتونه د هغه د شکل په اړه یو له بل سره اختلاف لري. اوبه یې که څه هم مالگینې دي، خو تروې او په سختۍ سره د څښلو وړ دي. په مېنځ کې یې یوه غونډۍ ولاړه ده، چې د زور د غره په نامه یادېږي او هغه د رستم په نامه یوه کلا ده. دغه غونډۍ په پخوا وختونو کې د یوه عنعنوي روایت له مخې یوه کلا وه او څنګه چې هغه هم ژوره او هم لوړه ده، شاوخوا یې ژورو اوبو نیولې ده، نو اوس هم د مقابلو غاړو د ځینو اوسېدونکیو لپاره یو پټنځی دی. د ونډ پر غاړو کې تر ډېره حده پورې اوږده درویي (درومې) او لوخې ولاړې دي. په ځنډو کې یې هم همدغه ډول بوټي موندل کېږي او څنګه چې دغسې بوټي او درویي هر وخت پېرې هجوم وروړي، نو دغه برخه له جبو او د ولاړو اوبو له وړو ونډونو څخه ډکه ده. دغو جبو او دوړو بوټو ځنګله ته زیاتره وخت د غویو گلې ځي او هغه داسې کسان پیایي، چې د سیستان تر نورو اوسېدونکیو پوره توپیر لري. ویل کېږي، چې دوی اوږده او قوي، خو تور او بدرنګ دي، اوږده مخونه او تورې سترگې لري. دوی نژدې برېنډ گرځي او د ډېرو په څپرو کې ژوند کوي. دوی د پووندہ گرۍ پر کسب سربېره د لوخو په مېنځ کې ساراني مرغان او کبان نیسي.

ددغو ځنګلونو په نژدې شاوخوا سیمو کې واښه، حبوبات او د نزو ونې په داسې توگه پیدا کېږي، لکه چې په هغې تنګۍ دره کې موندل کېږي، چې هلمند سیند پکې بهېږي. دغه شیان ممکن ـ فراه رود پر غاړو کې هم موندہ شي. ددغه ملک پاتې برخه نژدې دښته ده او هغه د ټولو دښتو په څېر د اوښانو لپاره واښه برابروي او یوځای بل ځا پکې د گرځنده بلوڅو لپاره ځاگانې موندل کېږي، چې دوی ددغو څارویو څارنه پر غاړه لري.

د سیستان اصلي اوسېدونکي تاجکان دي، خو له دوی سره اوس له نورو ملکونو څخه نور خلک یوځای شوي دي. ویل کېږي، چې هلته اوس دوه مهم قومونه اوسي، چې یو یې شهروکي (Shehrukee) نومېږي او دوی له فارسي عراق نه هلته لېږدېدلي دي. تر هغو ډېر وروسته د بلوڅو یو قوم د سیستان په ختیځ کې مېشت شوی دی، تاجکان او دغه دوه قومونه کټ مټ فارسیانو ته ورته دي او په کړو وړو کې یې دومره د یادونې وړ توکي نه لیدل کېږي.

بلوڅان اوس یو ډېر لایق مشر لري، چې نوم یې خان جهان دی. دی د کاروانو او ټولو گاونډیو ملکونو لپاره هېبتناک دی. بلوڅان پخوا په کېږدیو کې اوسېدل او په څړ ځایونو کې یې په داړه ماری ژوند کاوه، خو اوس یې کسب او کار کرنه ده او



Property of ACKU

کر کېیلې تـه یې مخه کړې او د سیستان د اوسېدونکیو جامې او کړه وړه یې غوره کړي دي.

د ټول سیستان مشر ملک بهرام کیاني نومېږي، خو دی یـوازې پـه نامه مشر دی او د کـای (Kay) پخوانۍ کورنۍ تـه منسوب او یـا ویـل کېږي، چې منسوب دی. دا هغـه کـورنۍ ده، چې پـه پخـوا وختـونـو کـې یـې پـه فـارس بانـدې واکمنـي لرلـه او داریوش او نور ستر پاچایـان ورڅخه ولاړ شوي او دغه پاچاهي د داریـوش پـه مړینې او د یونـان لـه خوا د هغـه د امپراتـورۍ پـه نسکوریدو پـای تـه ورسیده. ملک بهرام، چې پـه دغسې یوه برمیالي نسب باندې ویاړي، تراوسه هم د پاچا لقب اختیـاروي او پـه ښکته سویه د پاچـایۍ دریـځ او شکلونو رعایـت کـوي، خـو دده واک یـوازې د سیستـان پـه یـوې وړې برخې چلېږي او ټول پـوځ یـې تـر زرو کسو لږ دی. مرکز یې جلال اباد نومېږي. دغه ځای اوس یـو څو زره اوسېدونکي لري، خو د هغـه کنډوالې، چې یوه پراخه سیمه یې نیولې ده، د پخواني برم شاهدي ورکوي.

دغې کـورنۍ پـه دې نژدې وختـونـو کـې د شتمنۍ یـوه لنډه ځلانـده دوره لرلې وه، د هغې مشر ملک محمود د نـادر شاه افشار د هسکېدو پـه پیـل کـې ښـه نوم وګاټه او کـه د ټول خراسان حاکم نـه و، نـو د هغـه د ډېرې برخې حاکمیت خو یـې ترلاسه کړی و. پـه پـای کـې نـادر شـاه لانـدې کـړ او ویې واژه او ټـول سیستـان یـې ایـل کـړ او د هغـه حکومت یې د ملک محمود ورور یا کوم تربور ته وسپاره.

سلیمان، چې د احمد شاه پـه وخت کـې د سیستان مشر و، درانیـو تـه تسلیم شو او خپله لور یې پاچا تـه واده کړه. کیانیـانو تـر هغـه وروسته غټ باج منلی و او د کابل حکومت تـه یـې یـوه قطعـه نظـامي قـوه ورکولـه، خـو پـه ځینـو وختـونـو کـې دا اړینـه شوه، چې د بیعت دغه تېل د قوې پـه ذریعه نافذ شي.

پـه (۱۸۰۹) کـې پـه پېښور کـې د سیستانیو یـوه ډلـه نظامي قـوه د ملک محمود پـه قومانـدانۍ ولیـدل شوه او دغـه محمـود د مشهور ملک محمود لمسی و، ما پـه دې اړه څـه نـه دي اورېـدلي، چې ملک بهرام خـان لـه اوسني حکومت سره څـه راز اړیکـې لـري، یـوازې دومـره مـې اورېـدلي، چې شـاهزاده کـامران د هغـه لـور واده کـړې ده. فارسیان د معمول پـه څېر ادعا کـوي، چې دی د دوی د پاچا تـابع دی. د سیستـان د وګړیو د شمېر پـه اړه زه کوم اټکل نه شم کولای.

* * *

Property of ACKU

# پینځم څپرکی

## بلوچستان او کوز سند

بلوچستان(۱) د شمال له خوا په افغانستان او سیستان او د جنوب په لور د هند په بحر پورې نښتی دی. ختیځ ته یې بر او لر سند او لویدیځ ته یې فارس پروت دی. شپږ سوه میله اوږد او درې نیم سوه میله سورور دی، ډېره ستره برخه یې هغه ده، چې د کلات په خان پورې اړه لري او هغه د سیستان زیاتره برخه او د کلات ټوله لوړه کچه په غېږ کې نیسي. ددغو سیمو لومړنۍ برخه ښکته او توده ده او زیاتره برخه یې یو سپېره او شاړ میدان دی، خو د گنداوي (Gaundawa)، ډادر (Dauder) او نورو ښارونو شاوخوا سیمې پرېمانه اوبه لري او ښې کرل کېږي او هندي محصولات ورکوي.

---

[1] هغه نژدې اړیکه، چې د بلوچستان او کابل ترمینځ شته، لازمه گرځوي چې د لومړني ملک په اړه په تفصیل سره خبرې وشي، خو د آسیا ددغې برخې جغرافیه ددغسې کسانو له خوا لیکل کېږي، چې تر ماښه پکې وارد دي. په ۱۸۰۹ کې لیفټیننټ پاټنجر (Lieutenant Pottenger) او لیفټیننټ کرستي (L. Christie) د سرجان ملکم (Sir g.Malcolm) له خوا واستول شول، چې د بلوچو ملک او د فارس ختیځ کشف کړي. دغه سیمې تر هغه وخته اروپایانو ته هېڅ معلومې نه وې. دوی دغه مهم ماموریت په پوره بري سره سرته ورساوه او له جان ملکم سره په ماراغه کې یوځای شول، چې نږدې د عثماني د امپراتورۍ په سرحدونو کې پراته دي. ددغسې یو سخت سفر ستوماني، سختۍ او ربړونه ښه تصور کېدای شي. لیفټیننټ کرستي بیا وروسته کله چې یې په ډېرې زړورتیا سره د فارسیانو قوماندانۍ پر غاړه وه، له روسانو سره په یوې جگړې کې ووژل شو، خو هیله ده، چې ددغه په زړه پورې سفر تفصیلات، چې ده او ده ملگریو په ډېر استقامت او زړورتیا سره سرته ورسول، دده د کورنۍ له خوا د ټولو وگړیو د استفادې لپاره وړاندې شي.

د بلوچستان زیاتره اوسېدونکي جټان دي، خو هسکه برخه یې لوړه، سړه، شډله او سپېره ده. یوازې د افغانستان شخ شډل فصلونه پکې کېږي.

خلک یې براهوي بلوڅان[1] دي، چې له تاجکو سره ګډ شوي او (ده وار Dehwaur) نومېږي. لومړني خلک یې د زېړو پښتنو په څېر دي، ابتدایي او شډل خو مېلمه پال، زیارکښ کلک او رښتیني دي. د پښتنو په څېر په خېلونو وېشل شوي، خو عامه حکومت ددغو ټولنو داخلي موسسې له منځه وړي دي.

د بلوچستان ټولې غرنۍ برخې په براهویانو پورې اړه لري. په اوارو کې یې یو بل توکم اوسېږي چې د (رند Rind ) په نامه یادېږي او د هغو یو شمېر په سیستان کې ژوند کوي. دغه دوه توکمونه که څه هم د بلوچ په یوه نامه یادېږي، خو په ډېرو اړخونو کې سره ډېر توپیر لري. ژبې یې له یو بل او له ټولو ګاونډیو ژبو څخه په پوره ډول بېلې دي. هېڅ یوه یې لکه څنګه چې ګڼل شوي، له عربي سره اړیکه نه لري.

نصیر خان د بلوچستان وروستی مشر ټول ملک ایل کړی و، خو د اوسني مشر محمود خان مقبوضې تر هغو سیمو وړې شوې، چې پورته یې یادونه وشوه او یو څه یې ددغې لوړې سیمې په لویدیځ کې د ډېرې په څنډه کې لږې شوي. عواید یې یوازې درې سوه زره روپۍ یا دېرش زره پونډه کېږي، خو دی لس زره پوځ ساتي او د اړتیا پر مهال ممکن شل زره پلي، په اسو سواره یا په یو بوک اوښانو سواره احضار کړي. دی د کابل د پاچا واکمني مني، خو د خپل قلمرو لپاره مالیه ورکوي او د شاهي پوځ لپاره اته زره پوځ په دغه واضح شرط تهیه کوي، چې باید له هغه نه په کورنیو جنګونو کې کار وانه خیستل شي.

شال له (هرن Hurren) او (داجل Daugli) سره، چې له ډېره غازي خان سره نژدې دوه سیمې دي، د احمد شاه دراني له خوا نصیر خان ته بخښل شوې دي. دغه بخښنه د هغه د خدمتونو په بدل او په دغه شرط شوې وه، چې دی به یو زر پلي عسکر په کشمیر کې د خدمت لپاره ورکوي.

د سند په اړه به مې لیکنه لڼه وي، ددغه ولایت په اړه مې څه وخت چې د کابل په قلمرو کې وم، لږې پوښتنې وکړې، ځکه چې د برتانیې یو هیئت ددغه ولایت په مرکز کې و او له هغه وروسته مې اورېدلي، چې ممکن د یوه ښاغلي له خوا به د هغه په اړه یو مفصل رپورټ خپور شي، چې هغه ددغه ولایت په اړه تر ما د معلوماتو حاصلولو ښه چانس لاره.

[1] براهوي د بلوڅانو له ډلې څخه نه دي، لکه څنګه چې د مولف له لیکنې څخه ښکاري. د براهوي ژبه له ویدي نه دمخه دورې ته منسوبه ده، په داسې حال کې چې د بلوڅانو ژبه اریایي ده. ژباړن

Property of ACKU

دلتـه د سند لـه نامـه نـه د معمول پـه ډېر هغـه ولایت مراد دی، چې مـا پـه نـورو ځایونو کې د کوز سند په نامه یاد کړی دی.

قطب تـه یې شکار پـور او بهاول پـور پراتـه دي، ختیځ تـه یې د هندوستان مېره پرتـه ده، لویدیځ تـه یې غرونـه او د بلوچستان غونډې پرتې دي، سهېل ختیځـه یې پـه کڅ (Cuthc) او سهېل یې د هند پـه بحر پـورې نښتی دی. ددغـه ملک ډېره ستره مشخصه اباسیند دی، چې هغـه پـه دوو برخـو وېشي او داسې ښکاري، چې هغـه خوا یې چې ددغه سیند په ختیځه کې پرته ده، ډېره لویه ده.

زیاتره ویل شوي دي، چې دغـه ملک لـه مصر سره ورتـه دی او یـوائې یوه شرحه به د دواړو لپاره بس وي. یو آوار او زرغـون میدان لـه یـوې خوا پـه غرونـو او لـه بلې خوا پـه یـوې مېرې محاط دی. یـو سیند یې پـه دوو برخـو وېشي او هغـه چې کلـه سمندر تـه نـژدې کېږي، یـوه دلتا (Delta) جوړوي او خپلـو غـاړو تـه نـژدې ملک لانـدې کـوي او زرغونـوي. د دواړو اقلیم تـود او وچ دی او پـه دواړو ملکونـو کـې یـوائې کلـه کلـه اورښت کېږي.

پـه دغـو وختونـو کـې آن د سند او مـصر سیاسـي اوضـاع هـم یـو لـه بـل سره پـه تـصادفي توگـه ورتــه شـوې ده. پـه دواړو هېوادونـو کـې ارام او غلـي خلـک د بـدوي قومونـو لـه خوا مظلوم واقـع شوي او دغـه قومونـه یـوه لیرې پاچـا تـه زره نـازړه تـابع دي.

خو مـصر یـو داسې سمندر لـه هغـو ملکونو څخـه بېلوي، چې د اروپـا د ډېرو فعـالو او شـتمنو سیندونو پـر غـاړه پراتــه دي او دغـه بحـر د ختیځ ډېـر شـتمن هېوادونـه خړوبوي، چې د هغـو د محصولاتو لپـاره هم پـه اروپـایي مملکتونـو کـې غوښتنه شـته او پـه دې ډول دغـه ملک د هغـه د حکومت لـه ټولـو بـدیو سره ښایسته گڼ ښارونـه، بې شمېره کانالونـه او ډېـر محصولات لـري. سند چې د هغـه د څرگندو ابتدایي مخابراتي وسـایلو سرېېره ددغـسې هېوادونـو پـه مېنځ کـې پـروت دی، چې د اروپا لـه صنایعو څخه محروم دی او پـه خپلـو محصولاتو او احتیاجاتو کې لـه یـو بـل نـه دومره تـوپیر نـه لري، لـه ټولو هغـو محرکـاتو څخـه بې برخې دی، چې لـه سوداگرۍ څخـه پیـدا کېږي، نـو پـه دې ډول د اباسیند پـر غـاړه شـتمن ملکونـه همدغـسې پرېښودل شـوي، چې خپلـې سمسور تیاوې د صـحرایي بوټـو او د وښـو پـه زرغونېـدو سره ضـایع کـړي. پـه داسـې حال کې چې لـه اباسیند څخـه لرې پرتې ځمکې هېرې شوي او پـه خپـل اصلي حاصل نـه ورکـوونکي حـال کـې پرېښودل شـوي دي. د کرنـې ددغـې هېرونـې ناوړ تیـاوې د سند د مـشرانو پـه وحشي لـوکس تـوب سره شـدیدې شـوي، چې دوی د ځمکـو پراخې برخې د ځـان کـړي، چې د کرنـې لاره ښـې مناسـبې دي. دوی هلتـه سـارانې ځنـاور او مرغـان



Property of ACKU

ساتي او خپل ساعت پرې تېروي او خوند ترې اخلي. سره له دې هم په سند کې داسې برخې شته، چې دغه لیکنه په هغو صدق نه کوي. دغه سیند ته نژدې یا د هغه څانګو ته نژدې ځینې سیمې کرل کېږي او ځمکې یې په طبیعي ډول داسې ودانې دي، چې د هندوستان ډېر محصولات پکې کېږي او د چندوکي (Chandookee) ټوله سیمه، چې د اباسیند او د هغه د یوې مهمې څانګې په مېنځ کې پرته ده، ډېره غنې ده او په ښه ډول کرل کېږي. د اباسیند دغه څانګه د لویدیځ په لور ډرومي او وروسته له دې، چې په یوې پراخې سیمې کې خپرېږي، چې هغه په بېلابېلو موسمونو کې یا ډنډ یا جبه وي، د خپل بېلوالي له لومړني ټکي څخه اویا میله وروسته بیا له اصلي سیند سره یوځای کېږي.

سند یو سپېره ملک دی، هغه یو څو ونې چې پکې کېږي، له هغه ډول څخه دي، چې په هندوستان کې معمولې دي. د یادونې وړ څاروي لري، خو هغه اوښان چې پکې څري، د یادولو وړ دي. له هغو نه د اوبو په اېستلو، د ژرندې په ګرځولو او داسې نورو چارو کې کار اخیستل کېږي، خو د سند د تجارتي مالونو زیاته اندازه په سمندر کې وړل کېږي. د سوداګرۍ مالونه یې دومره ډېر نه دي، ځکه چې یوازې د اوارو تختو یو څو ورې کښتۍ ددغه خوار ملک د سوداګرۍ لپاره پوره بس دي.

حیدرآباد د سند مرکز دی، چې یو ښه لوی قوي ښارګوټی او د یوې ډبرینې غونډۍ دپاسه پروت دی. زما په خیال، چې دغه ښارګوټی به نژدې اته زره اوسېدونکي ولري.

ټاټا یا پخوانۍ پټاله، چې یو وخت یو غورېدونکی تجارتي ښارګوټی و، اوس تر زیاتې اندازې مخ په ځوړ دی، خو اوس هم نژدې پېنځلس زره اوسېدونکي لري. ددغو ښارونو ډېر اوسېدونکي هندوان دي، خو ددغه ټول ملک زیاتره اوسېدونکي مسلمانان دي[1]. په هغه وخت کې چې سند د پښتنو په لاس کې ولوېد، د کلهورا (Calhora) د یوه شهزاده له خوا اداره کېده.

دغه قوم زما په خیال د فارس په سهېل پورې اړه لري، ددغه قوم وروستی شهزاده عبدالنبي خپل ټول رعیت په خپل ظلم او ناوړه حکومت له ځان نه بېزاره کړ او په ځانګړې ډول یې له تالپوریانو سره، چې دده د ملک د جنګي خلکو ډېره مهمه برخه تشکیلوله، ځان ونښلاوه. په پای کې ددغه قوم مشرانو دده د مغلوبولو لپاره توطیه وکړه، خو د توطیې خبر د عبدالنبي غوږونو ته ورسېد او هغه ټول توطیه کوونکي یې ووژل. ویل کېږي، چې د وینو توېولو دغه عمل چې په جنایت سره

[1] د برنز په قول د حیدرآباد نفوس شل زره او د ټاټا اوسېدونکي پېنځلس زره دي. ددغه ټول ملک وګړي د هغه اټکل سره یو ملیون دي. (۱۸۳۸)



Property of ACKU

ترسره شوی و، د یوه څرګند پاڅون لامل شو او نتیجه یې دا شوه، چې عبدالنبي له سند څخه وشړل شي.

تیمور شاه وروسته له هغه، چې دده د بیا په واک کولو لپاره ناکام کوښښونه وکړل، د سند د غرامت په شکل یې دی د (لیه) حاکم وټاکه او د تالپوریانو مشر یې په رسمي ډول د هغه ولایت د حاکم په توګه وټاکه. عبدالنبي د پاچا ددغه عمل په مقابل کې په خپل نوي ولایت کې یاغي شو، خو د پاچا د لښکرو په مقابل کې یې ماتې وخوړه او د خپل ژوند وروستۍ ورځې یې د بر سند په ډېره حاجي خان کې په خوارۍ تېرې کړې. تالپوریان دده له شړلو نه وروسته تر دغه دمه سند تر خپلې ولکې لاندې لري.

سند د وروستي هیئت د سفر په وخت کې د درېو ورونړو په لاس کې و او دوی دغه ملک په درېو نابرابرو برخو وېشلی و، خو دوی ټول په هغه یو کور کې اوسېدل او ټولې چارې یې په ګډه ترسره کولې.

میر غلام علي، چې تر ټولو مشر و او ددغه ملک چارې په ټولیز ډول دده په فکر ترسره کېدلې، اوس مړ دی او دده په مړینې یوه نوې فیصله بې له کومې ناارامۍ یا د وینې تویولو څخه عملي شوې ده. ددغه ولایت یوه وړه برخه تراوسه هم د میر تاره (Meertarra) په لاس کې ده او دی د کلهورا د کورنۍ کوم خپلوان یا تابع دی[1].

د تالپوریانو دغه درې مشران د سند میران یا امیران بلل کېږي او دوی د کابل د پاچا په نامه حکومت کوي او د هغه په فرمان په دغه حکومت ټاکل کېږي، خو څنګه چې دوی شیعه ګان دي او دغه حکومت د پاچا تر لطفه زیات د خپل زور مرهون ګڼي، دوی په زړه کې له دراني حکومت څخه ناراضه دي. دوی باید د کابل حکومت ته د کال یو نیم ملیونه روپۍ د مالیې په توګه ورکړي، خو له هغه وخت نه چې د کابل په قلمرو کې ناارامي پیل شوې، دوی د مالیاتو له ورکولو نه ډډه کړې، خو په هغه حال کې به یې ورکړي، چې د حکومت له یوځ سره د هغه په ورکولو مجبور شي.

شاه شجاع یو کال لومړی تر هغو، چې زه په پېښور کې وم، په دې بریالی شوی و، چې یوازې اته لکه روپۍ د مالیې په ډول له سند څخه ترلاسه کړي. نور یې د خرابو فصلونو په پلمه معاف شوي وو آن دغه اته لکه روپۍ هم یوازې هغه وخت

[1] د برنز له لیکنو څخه ښکاري، چې دغه مشران اوس ټول مړه دي او د وروستي مړینه په داخلي جنګ واوښته، خو دغو درېواړو د سند یوازې هغه یوه برخه په لاس کې لرله، چې د کال یې پینځلس لکه روپۍ عواید وو. دوه نور مشران له دوی نه نږدې خپلواک وو، چې د یوه کالنی عواید لس لکه او د بل یې پینځه لکه وو. په دې ډول د ټول سند کلنی عواید دېرش لکه روپۍ یا درې لکه پونډ سټرلنګ کېږي. (۱۸۳۸)



Property of ACKU

ورکړل شوي، چې پاچا پخپله د سند تر سرحدونو ورسېد، خو هغه وخت دده پوځ د محمود خان په مشرۍ د بلوچو په شمول تر اتو زرو ډېر نه و. ګومان کوم، چې دوی شاه محمود ته تر هغه لا ډېر ایل دي.

د سند د اوسېدونکیو جامې د بیستي (خمتا) یو اوږد خت او د نسواري بیستي له ټوکر نه یوه ټوپۍ ده، چې د یوې خولۍ د تاج په شکل ده، خو تر هغه تنګه ده. په همدې ډول دوی پرتګونه او یوه لونګۍ استعمالوي.

خلک یې په ټولیز ډول په ونه برابر او نري دي، خو ضعیف نه دي او د هندوستان تر ډېرو خلکو تور دي. په کړو وړو کې یې نور دستاینې وړ څه نه لیدل کېږي او هغه د دوی د حکومت په ظلم فاسد او ناوړه شوي دي. هغه یوائینی شیز، چې هغو سیندیانو زما توجه ځانته راکاږله، له کومو سره چې ما خبرې کړې وې، دا دي چې د دوی د پوهې برخه دومره زیاته نه ده، خو هغه کسان چې دوی تر ما ښه پېژني، زیاتوي چې دوی د غلامانو ټولې بدۍ په ځان کې لري. داسې ښکاري، چې مشران یې بې له دې چې د ابتدایي خلکو یوه ښېګڼه هم ولري، ډېر شډل او ابتدایي کسان دي.

* * *

## شپږم څپرکی

# بر سند، ملتان، لیه او نور

شکارپور په ختیځ او لویدیځ کې په اباسیند او بلوچستان پورې نښتی، قطب ته یې موزاریان (Mozaureas) او سهېل ته یې سند پروت دی. دغه ولایت د اباسیند په لور زرغون دی، خو له دې سیند څخه لیرې برخې یې وچې او سپېرې دي. دا ښه لوی ښارګوټی دی، د ختیځ په دېوال احاطه شوی، خو خندق نه لري. اوسېدونکي یې نژدې ټول هندوان دي او د شکارپوریانو په نامه یادېږي. دوی په هغې ځانګړې هندوستاني ژبې ګړېږي، چې د دوی په نامه یادېږي. په دغه ښارګوټي کې ډېر شتمن صرافان شته او دوی له سند، کندهار، پېښور او د راجپوتانو له ملک سره ښه ډېره سوداګري لري.

شکارپوري صرافان د درانیو د قلمرو په هرې برخې او د ترکستان په ټولو ښارګوټو کې موندل کېږي. په شکارپوریو کې یوازې یو څو پښتانه، چې شمېر یې تر دوو سوو څخه ډېر نه دی، موندل کېږي. د ښارګوټي اوسېدونکي یې جټان، بلوڅان او یو لږ شمېر سندیان دي.

د مالیې مقدار، چې دوی یې حکومت ته ورکوي، درې لکو روپیو ته رسېږي او حاکم یې یوازې لږ شمېر عسکر ساتي. د بکر د یادونې وړ حصار، چې د اباسیند په یو ټاپو کې پروت دی، په دغه ولایت پورې اړه لري، خو ځانګړی حاکم نه لري.

موزاویان، چې د شکارپور قطب ته پراته دي، هغه بلوچ قوم دی، چې زما په خیال په رند پورې اړه لري. دوی په یوه ځنګلي او م حاصله ملک کې اوسي. دوی نژدې د انارشۍ په حال کې ژوند کوي او د لارو په شکولو، په اباسیند کې په غلا کولو او په ګاونډیو خلکو کې په تاړاک او چپاول سره یې بدنوم ګټلی دی.

د غازي خان ډېره د موزاریانو شمال ته د اباسیند او بلوچستان په منځ کې پرته ده. احمد شاه دراني هغه فتح کړه. زما په خیال چې دغه ملک د مکمل واد له



Property of ACKU

ګاونډي ملک سره، چې دمخه یې ذکر شوی، ورته والی لري، خو تر هغه ښه حاصل ورکوي.

مالیه یې له پینځو لکو نه لږه ده، دغه ولایت پاچا ته پوره تابع دی. دغه ښارګوټی د ملتان په اندازه لوی، خو ډېره برخه یې ورانه وېجاړه پرته ده. دغه ملک د حاکمانو له بدلون، چې زر زر پېښېږي، ډېر تاوان وړیني.

د اسماعیل خان ډېره له هغې سیمې نه جوړه ده، چې مکل واد نومېږي. ددغه ملک او محصولاتو بیان یې مخکې راغلی دی. مالیات او نور به یې د (لیه) تر سرلیک لاندې راشي، ځکه چې دغه ملک اوس د هغه یوه برخه ده.

ما په یوه بل ځای کې لیکلي، چې د هندوستان د میرې شمال لوېدیځ ګوټ د پنجاب په سیندونو پرې شوی دی او دا چې دغه سیمه په دغه ډول تشکیله شوې، تر هغو ځایونو چې د هغو اوبه ورته رسېدلای شي، ښه زرغونه ده او پاتې برخې یې شګلنې او سپېرې دي. د بهاورلپور، ملتان او لیه د ولایتونو ځانګړتیا هم همدغسې ده، چې د اباسیند ختیځ ته د مالګې د غرونو په سهېل کې پراته دي.

د بهاولپور سیمه له شمال ختیځ نه تر جنوب ختیځ پورې دوه سوه اتیا میله او په پراخو برخو کې له شمال لوېدیځ نه تر جنوب ختیځ پورې یو سل او شل میله غځېدلې ده. په یوه فاصله کې د اباسیند، چناب (Hydaspes) او جیلیم (Acesines) دواړه غاړې پکې ګډې دي. د سیندونو غاړې په ټولو ځایونو کې زرغونې او شتمنې دي. په یوه فاصلې کې د جېلم لوېدیځ ته پروت ملک خوار دی، خو ختیځې خوا ته یې یو پوره وچ ډاګ پروت دی. بهاولپور، احمد پور، جلال پور، سیټ پور (Seetpoor) او اوچ (Oach) یې د نامه ښارګوټي دي. تر ټولو ټینګ ځای یې ډېره ول (Derrawul) نومېږي او ددغه حصار ټینګوالی او قوت ددغه حقیقت له برکته و، چې د هغه شاوخوا مېره پرته ده. دا حصار د بهاولپور د خان عادي استوګنځی و.

د بهاولپور اوسېدونکي جټان، بلوچان او هندوان دي. د هغه د ګاونډیو ولایتونو اوسېدونکي هم همدغسې خلک دي، خو په بهاولپور کې د هندوانو شمېر بیخي ډېر دی.

بهاول خان نظر دې ته، چې دپاچا حاکم وي، یو تابع حکمران و. نیکونو یې آن د نادر افشار په وخت کې خپل مقبوضات ترلاسه کړي وو. پخپله بهاول خان څه وخت، چې لا هلک و، بریالی شوی و او له څلوېښتو کلونو څخه یې ډېر حاکمیت کړی و. د هغه کورنۍ، چې داوود پوتره نومېده، له شکارپور څخه وه او په لومړي سر کې یې تیټ ټولنیز دریځ لاره، خو دی اوس ځان د حضرت عباس رض له نسب څخه ګڼي، چې د

Property of ACKU

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تره و. حکومت د بهاول خان په وخت کې نرم او ښه په نظم کې و او که څه هم ورېل کېده، چې ده ښه خزانه لرله، تحمیلات یې باید ډېر نه وي.

دده ټول عواید د کال یو نیم میلیون روپۍ وې، پوځ یې تر لسو زرو عسکرو څخه اوښته او د هغوی په ډله کې یې د ماشه ییزو ټوپکونو لرونکیو څخه جوړې پېنځه لواوې هم ساتلې وې او دوی منظم لباس اغوست. ده د توپ جوړولو یوه کارخانه هم لرله. لکه چې د ملتان لومړنیو حاکمانو لرله، خو د بهاول خان توپونه په ښو وسیلو ورل کېدل. په داسې حال کې، چې د کابل د حکومت نقلیه وسایل ډېر خراب وو. ده یواځې د کال یو نیم لک روپۍ پاچا ته ورکولې. درې کاله کېږي، چې بهاول خان مړ شوی او دده ځای ناستی زوی په ښه حکومت او تدبیر کې تر هغه نه ډېر وروسته دی. د گاونډیو سکانو د قدرت په ډېرېدو سره نارام او په خطر کې دی[1].

## ملتان

د ملتان د ولایت ډېر اوږدوالی یو سل ولس میله او ډېر پراخ بر یې اویا میله دی. سیند ته نژدې برخه یې ښشتمنه ده، خو نورې برخې یې خوارې دي. اوسېدونکیو یې رنگړې او لنډ دي، ټول ولایت د سکانو په یرغلونو ډېر تاواني شوی او ډېر وران ویجاړ کلي هر چېرې تر سترگو کېږي. ټول عواید یې پېنځه نیم لکه روپۍ کېږي، چې له هغو څخه دوه نیم لکه یې پاچا ته ورکول کېږي.

کله چې زه هلته وم، پوځ یې دوه زره عسکرو ته رسېده، نژدې شل توپونه یې هم لرل، خو دی په اضطراري حال کې لس یا دولس زره ملېشایي عسکر هم احضارولی شي. هیڅ څیز یې دده تر حکومت نه لا بد کېدلی نه شي. هر راز مستقیمې په زور نیونې، په انحصاراتو په سر ایله او شوکه مارو لښکرو او په هر بل ډول ناوړه استفاده و سره لا هم تریخ او شدیدې کېدلې.

دغه ولایت ډېر ښدلونونه لیدلي او داسې ښکاري، چې هغه پای نه لري. فارسیانو دغه ولایت له مغولو نه ونیوه او د نادر شاه له مړینې وروسته د احمد شاه دراني په لاس کې ولوېد. د پاني پت له جنگ نه دمخه د یوې لږې مودې لپاره د مرهټه و لاس پرې بر شو او تر هغه وروسته بیا د پښتنو شو. تر هغه ډېر وروسته سکانو د درېو کالو لپاره پرې قبضه لرله او بیا یې څو ځله پرې بریدونه وکړل او اوس یواځې له دې لامله له تاړاکونو نه په امان دی، چې حاکم یې ایل شوی او د هغه له خوا نقدي محصولات ورکول کېږي.

---

[1] د بهاول خان زوی خپل ولایت په خپل لاس کې لري، چې هغه د برتانیې د حکومت له خوا ده ته تضمین شوی دی. (۱۸۳۸)



Property of ACKU

## لیــه:

لیـه او اسـماعیل خـان ډېـره دواړه د محمـد خـان سـدوزي تـر اداري لانـدې دي. لیـه پخوا پـه بلوچانو پـورې اړه لرلـه، خو نـه پـوهېږم چې درانیـو هغـه څنگـه ترلاسـه کـړه؟ د اباسـیند غـاړې ابـادې دي، خـو هغـه ملک چې لـه سـیند څخـه لیـرې پـروت دی، شـگلن ډاگ دی.

لیـه یـوائینی لـوی ښـارگوټی دی، خـو د نـواب اسـتوگنځی یـا پـه بکر کې وي، چې هغـه اباسـیند تـه نـژدې یـو وړ، خـو غوړېـدونکی ښـارگوټی دی او یـا پـه مـان کیـرا (Maunkaira) کې وي، چې هغـه ددغـه ریاسـت د ډېـر سـپېره ډاگ یـوه برخـه ده، دواړه ولایتونـه د کـال پېنځـه لکـه عایـدات لـري، چې لـه هغـو څخـه درې لکـه یـې کابـل تـه ورکول کېږي.

محمـد خـان د ماشـه پیـزو توپکـو لرونکیـو کسـانو څخـه دوه لـوا عسـکر، پېنځـه زره ښـه سـواره، ډېـرش توپونـه او دوه دغـسې لنـډ توپونـه لـري، چې لـه مورچـل څخـه گـولۍ ولـي. دی لـه سـکانو سـره ښـه اړیکې لـري او دا ممکـن لـه دې املـه وي، چې د سـرحد پـه لور دده ملک په یرغل نه ارزي.

ډایـره دیـن پنـاه (Dauiree deen punnah) یـوه وړه سـیمه ده، چې د لیـه د سـیمو پـه منځ کې پرتـه ده. کلنی عوایـد یـې یـو نیـم لک روپۍ کېږي او هغـه یـوه درانـي سـردار تـه بې لـه دې، چې هغه حکومت تـه یو څه ورکړي، ورکړ شوې ده.

د لیـه شـمال تـه د مـالگې غـر پـروت دی او تـر هغـه خـوا یـې یـو کلک او غرنـی ملک پـروت دی، چې واړه او ظـالم قومونـه پکـې اوسـي. ددغـو قومونـو ډېـر څرگنـد یـې کـاتران (Kautirs) دي. دوی دغـسې یـو هنـدي قـوم دی، چې هم لـه سـکانو او هـم د پښتنو له پاچا خپلواک دی.

ددغـو غرونـو شـمال تـه د چـچ او هـزاره زرغـون اوار میدانونـه پراتـه دي او اوسېدونکي یـې هغـه هندیان دي، چې مـسلمان شـوي او د گـوجرو پـه نامـه یادېږي. لـه دوی سره لـه بېلابېلـو قومونـو څخـه زیـږه پـښتانه اوسـي او دغـه وروسـتي ددغـه ملک زښتیني واکمن دي.

ددغـو اوارو شـمال تـه درم تـور (Drumtour) یـا د گـدونانو ملک پـروت دی، چې دوی د یوسفزیو لـه یـوې پـښې څخه دي. شمال تـه یـې ترنـال دی، چې هغـه یـو غرنـی او ځنگلـي ملک دی او د شـمال لـه خـوا د پکلـي (Pukhlee) پـه ملک پـورې نښتی دی. پکلـي د هغـه ملک پـه څېر دی، خـو تـر هغـه پـراخ دی او سـواتیان پکې اوسي. پکلـي ځانله حاکم لري، چې د پاچا له خوا ټاکل کېږي.

دغـه ټـول ملکونـه د اباسـیند پـه اوږدو کې غځېـدلي، خـو د شـمال پـه لـور زمـوږ



Property of ACKU

مخکې تنګ په واورو پټو غرونو ختنډ کېږي. د پکلي ختیځ ته دبمباس (Bumbas) او کوکاس (Cukkas) په نامه ملکونه پراته دي. لومړني یې د دوو، یا دریو مشرانو تر اغېز لاندې دي، چې د راجه ګانو په نامه یادېږي او مهم یې په مظفراباد کې استوګنه لري. دواړه قومونه مسلمان دي او د دوی ملکونه له دغسې پراخو غرونو څخه جوړ دي، چې ګڼ ځنګلونه لري او ختل پرې ستونزمن دي. دغه ملکونه له دې امله د درانیو لپاره ډېر اړین دي، چې یوائې په هغو سره له کشمیر سره اړیکې ساتل کېږي.

* * *

Property of ACKU

# اووم څپرکی

## کشمیر

د کشمیر ناوه دغسې لوړو غرونو احاطه کړې، چې په قطب کې یې له واړه تبت څخه، په ختیځ کې یې له دلداخ څخه، په سهېل کې یې له پنجاب څخه او په لویدیځ کې یې له پکلي څخه بېلوي. د سپینو کافرانو یوه څانگه له شمال ختیځ څخه کشمیر ته ننوځي. دغې ناوې ته یوازې د اوو غاښو له لارې ورتګ کېږي.

څلور یې له سهېل نه، یو یې له لویدیځ نه او دوه یاتې یې له قطب نه وراوښتی دی. د بمبر کوتل یې تر ټولو ښهٔ او هغه، چې د افغانستان په لور پروت دی او د مظفراباد یا براموله په نامه یادېږي، تر ټولو ډېر د کاروني ور دی. زه نه غواړم له برنیر (Bernier) او فوستېر (Foster) نه وروسته د هغه شرح وکړم. په ځانگړې توگه د وروستي گرځندوی له بیانه بله ښه شرح ترلاسه کېدای نه شي.

کشمیریان د هندو د نسب یو بېل ملت دی او له خپلو ټولو گاونډیو څخه په ژبې او کړو کې پوره توپیر لري. نارینه یې ښه ټینگ، فعال او زیارکښ دي، دوی له حد نه زیات په لذتونو روږدي او په ټول ختیځ کې په خطا ایستلو او حیلو جوړولو کې مشهور دي. د وګړیو ډېره برخه یې مسلمانان دي. ابو الفضل د هندو پاچاپانو د یو نیم سلو تنو نوم اخلي، چې دوی د (۷۴۲هجري) کال دمخه په کشمیر کې پاچایي کړې او په دغه کال کې یوې مسلماني کورنۍ د دوی ځای ونیوه.

دغه وروستۍ کورنۍ وروسته له دې، چې درې سوه کاله یې په کشمیر باندې حکومت وکړ، د بابر د زوی همایون له خوا لاندې شوه، کشمیر د مغولو په لاس کې پاتې شو، چې د احمد شاه په وخت کې درانیو لاندې کړ او تراوسه د دوی په لاس کې دی.

داسې ښکاري، چې کشمیریان هغه وخت، چې لومړی د درانیو له خوا لاندې



Property of ACKU

شول، د یاغیتوب په حال کې وو، خو دوی اوس د حکومت د پیښاورو اقداماتو له لامله پوره ایل شوي دي. هیڅ کشمیري ددې اجازه نه لري، چې دننه په ښار کې وسله وګرځوي. یواځې هغه کسان یې وسله ګرځوي، چې د عسکرو په توګه په حکومت کې دنده ترسره کوي. البته دغه بندیز په ټول ملک کې نافذ نه دی، خو د محلي مشرانو اختیار پوره له منځه وړل شوی او د پښتنو او قزلباشو نه یو جوړ پوځ په دغې ناوې کې ساتل کېږي او دغه پوځ ددې لپاره بس دی، چې د یاغیتوب د میلان مخه ونیسي.

د کشمیر حاکم د پاچا په څېر ټول اختیارات په لاس کې لري او د حکومت اداره ډېره ظالمانه ده. کشمیر ته د ورتګ لپاره غاښیو لرلو له امله حکومت کولای شي هر هغه څوک منع کړي، چې بې له رسمي اجازې نه یا د باندې ځي او یا دننه کېږي. د حکومت بې شمېره څېري (جاسوسان) د ټولنې په ټولو صفونو کې نفوذ کوي او کشمیریان په هر راز ظلم ځورول کېږي. دغه حکومت د دوی کرکټر لا هم پسې فاسدوي، خو د دوی طبیعي خوښي او ښه زړه توب ددې خنډ ګرځي، چې د دوی نېکمرغي له مېنځه یووړل شي.

د کشمیر ښار په دراني قلمرو کې تر ټولو ښارونو لوی دی، له یو سل او پنځوس زرو څخه تر دوو لکو پورې وګړي لري.

ویل کېږي، چې د کشمیر ټول عاید (۴،٦۲٦،۳۰۰) روپۍ دی، چې نژدې نیم میلیون پونډه کېږي. هغه مقدار پیسې، چې پاچا ته ورول کېږي، د هغه تړون له مخې دي، چې حاکم یې منلې وي. ډېر لوړ مقدار یې دوه میلیونه او دوه لکه روپۍ وي، چې اووه لکه یې پوځ ته د تنخوا په ډول ترینه وضع کېدې او پاتې یو نیم میلیون یې د کابل خزانې ته استول کېدې. څه باندې شپږ لکه روپۍ ګاونډیو راجاګانو، پښتنو مشرانو، ملایانو، درویشانو او هندو فقیرانو ته د تیول په نامه ورکول کېدلې، نورې یې د تحصیل د واقعي په نامه لګښت او ملکي او نظامي تاسیساتو ته د تنخوا په توګه ورکول کېږي.

د کشمیر حاکم تل داسې پوځ لري، چې له څلور زره څلور سوو سورو او درې زره دوه سوو پلیو نه جوړ دی.

داسې ښکاري هغه پښتانه، چې په کشمیر کې اوسي خپل کرکټر په پوره ډول اړوي او عیاش او سپک خوی کېږي. ډېر یې له خپل دریغ سره خوښ دي، خو سره له دې هم له خپل هېواد سره د دوی مینه ددې خنډ کېږي، چې لویدغ پښتانه تر ډېرې مودې پورې په کشمیر کې پاتې شي.

د کشمیر لړ والی او هغه مطلق اختیارات، چې د هغه د حاکمانو په برخه وي،

Property of ACKU

زیاتره ددې لامل کېږي، چې دوی باغیان شي، خو ددغه ملک له ټینګتیا سره سره دوی تل په اسانۍ لاندې کېږي. پخپله کشمیریان هیڅ جنګیالي نه دي او پښتانه او قزلباشان د هغه ژوند په اثر، چې دوی یې لري، خپله زړورتیا له لاسه ورکوي او ممکن دې ته لېږ متمایل وي، چې د پاچا په ضد په قوت او شدت سره وجنګېږي. په داسې حال کې، چې پاچایي پوځ که له دغسې عسکرو نه جوړ وي، چې د سرتېري روحیه یې کمزورې وي او د کشمیر پرېماني او معاش ته په حرص او لېوالتیا سره ګوري او په دې ښه پوهېږي، چې په بېرته تګ به په څه سختیو او زحمتونو واوړي.

د شاه شجاع د پوځ دفاع کولو بیان په بل ځای کې راغلی دی. کشمیر تر هغه وروسته د وزیر فتح خان له خوا لاندې شو، چې هغه ددغه کار لپاره بې له دې، چې لازمه مصلحت وکړي، د رنجیت سنګ مرسته غوښتې وه. د کشمیر اوسنی حاکم د وزیر فتح خان ورور دی. د کشمیر ډېر نامتو محصول هغه شالونه دي، چې ټولې نړۍ ته یې لېږدوي او وېل کېږي، چې هغه په شپاړسو زرو تنستو کې اوبدل کېږي او په هرې تنستې کې یې درې کسه کار کوي[1].

د کشمیر د شاوخوا غرونو په ډېرو ځایونو کې دغسې قومونه اوسي، چې هغوی درانیو ته په یوه شکل تابع دي. د دوی مشرانو ته دننه په درې کې تیولونه ورکړل شوي او دا بخشش ممکن په اصل کې ددې لپاره وي، چې د هغوی تابعیت یقیني شي. دوی حاکم ته یو څه عکسر تهیه کوي او هغه وخت، چې دی قوي وي، مالیه ورکوي، خو د دوی تابعیت دومره ډېر نه دی.

لاندې یې یوائې هغه مشران دي، چې زه د هغوی په اړه معلومات لرم.

شمال ته یې دغسې یو مشر دی، چې د کشمیر خلک یې یا دواړه تبت یا د زردالو او دارو (Dauro) تبت راجا بولي. دی ښایي د واړه تبت یوائې یوه برخه په لاس کې ولري. آزاد خان دغې سیمې ته یو پوځ واستاوه، خو دا چې هغه به لاندې شوی وي که نه؟ ماته معلومه نه ده. ماته ددې پته نه شته، چې د دالداخ او کشمیر ترمېنځ هسک غرونه به اوسېدونکي ولري؟.

سهېلي غرونه یې ډېر شاهزاده نشینان لري، چې ښکاري اړین یې کشته وار (Kishtawaur)، چون دوني (Chundunee) یا چناني (Chinaunee)، خوسایل (Khussial)، دنګ اخورور (Dungakhoroor)، راجو (Ragour) او پرونک (Proanch) دي. ددغو دولتونو مشرانو خپل پخواني هندويي لقب (راجا) ساتلی دی. که څه هم دوی او د دوی د رعیت ډېره برخه مسلمانان دي، لکه څنګه چې د دوی

---

[1] مولف دشال جوړولو او په هغه پورې تړلو نورو ټکو په اړه په پای لیک کې یوه اوږده شرح لري، چې په پښتو اړول یې لازم نه ګڼم. ژباړن



Property of ACKU

د ملکونو له طبیعت نه اټکل کېدای شي، د هغو نفوس ډېر رنګړی دی، خو کله چې یوه غرنۍ سیمه په نظر کې ونیول شي، شمېر یې ښه ډېر دی. خلک یې په ژبې او کړو وړو کې کشمیریانو ته ورته دي، خو د هغو ملکونو د وګړیو مخلوط هم پکې ډېر دی، چې د مملکت په جنوب کې پراته دي.

* * *

Property of ACKU

# پینځم کتاب

# د کابل پاچاهۍ حکومت

## لومړی څپرکی

## د پاچا اختیارات

په ډېرو آسیایي حکومتونو کې د پاچا قدرت هېڅ حد نه لري، خو دا چې د خلکو زغم یې حد وګرځوي. په همدې ډول د ټولیزو پاڅونو پرته د پاچا له ارادې سره په هېڅ ډول مخالفت نه کېږي، خو په پښتنو کې د درانیو د ارستوکراسۍ قدرت او د نورو قومونو تنظیم د پاچاهۍ واک د کنټرول او په سولې سره ملت د امتیازاتو د خوندي ساتلو لپاره تلپاتي وسایل برابروي، خو څنګه چې پښتانه له شریعت پرته نور هېڅ ډول لیکل شوي قوانین نه لري او د خپل حکومت د اجراتو په اړه هېڅ ډول عامه اسناد نه ساتي، ممکنه نه ده چې په دوی کې یو منظم اساسي قانون وده وکړي. سره له دې هم د دوی د حکومت په اړه ځینې ټینګ دودونه او نظرونه شته، چې اوس غواړم د هغو بیان وکړم.

پاچاهي د سدوزیو د کورنۍ په هغې څانګې کې میراثي ده، چې له احمد شاه څخه پیدا ده، خو داسې ښکاري چې مشر زوی ته به د هغې د لېږد په اړه کومه ټاکلې مقرره نه وي. د پاچا له مړینې وروسته د دربار په لویو درانیو سردارانو کې دا معموله ده، چې سره جرګه شي او په دې غور وکړي، چې له شاهزادګانو څخه کوم یو د پاچایي وړ دی.؟ کوم هغه شی، چې د دوی په پرېکړې تاثیر لري، هغه د پلار وصیت او د هر یوه شاهزاده عمر او کرکټر دی او د دوی نظر د پایتخت خپلول تضمینوي او د هغه شاهزاده پله ښه درنده کوي، چې دوی د هغه په خوا درېږي، خو



Property of ACKU

په ټولیز ډول په بېلابېلو لویو ولایتونو کې د شاهزادګانو د ټاکلو رواج په دغسې مسابقې پای ته رسېږي، چې هغه د تاج او تخت د مدعیانو په شتمنۍ، استعداد او محبوبیت پرېکړه کېږي.

له هغو پرته، چې پاچا ورته په ډېر ښه نظر ګوري، د پاچايي کورنۍ نور غړي د کابل په بالاحصار کې بندیانېږي. دوی تر سختې څارنې لاندې نیول کېږي، خو ښهٔ سلوک ورسره کېږي. هغوی چې خلاص او ازاد وي یا په ولایتونو کې د حاکمانو او یا د پوځ د قوماندانانو په توګه ټاکل کېږي، دلته د یوه سدوزي له ظاهري اختیار نه ددې غوښتنه کېږي، چې د لویانو بیعت جلب کړي او قصاص نافذ کړي، خو دوی په ډولیز ډول د پاچا د نایب تر پوره کنټرول لاندې وي.

د پاچا لقب شاه دردران دي، خو دا یوازې په عهدنامو او نورو ټولیزو سندونو کې یکارېږي. په ټولیز ډول دی یوازې په شاه یا پادشاه سره یادېږي او ولسي خلک یې زیاتره په خپل شخصي نامه یادوي لکه محمود یا شجاع. نور هېڅ شی ورسره نه زیاتېږي.

دربار ته ډېره خانه وایي، چې هغه لکه دربار په هندوستان او عالي کوڅه په ترکیې کې د وره مفهوم لري. دا د ختیځې ستاینې یوه ښه ده او دغسې مفهوم ترېنه اخیستل کېږي، چې و رعیت بایدان په خپل فکر کې هم تر هغه ورانده په قصر کې داخل نه شي.

پاچا دسکې وهلو ځانګړی امتیاز لري او د هغه نوم د امپراتورۍ په ټولو سکو باندې وهل کېږي. دا ښه څرګنده ده، چې د آسیا خلک دغه حق ته څومره اهمیت ورکوي او د هغه خپلول د واکمنۍ ستره ازموینه ګڼي. هغه ته ورته بله ازموینه د پاچا هغه امتیاز دی، چې نوم یې په خطبې کې اخیستل کېږي.

د سولې او جنګ حق ده دی او دی په خپل اختیار سره ترونونه لاسلیک کولای شي، داسې ښکاري چې د شال له مثال سره سره چې احمد شاه د کابل دغه سیمه د بلوچستان مشر ته وبخښله، دغسې یو تفاهم شته، چې پاچا نه شي کولای د پښتنو د قومونو د سیمې کومه برخه بل چاته وبخښي.

ټولې ټاکنې د پاچا په لاس کې دي، خو د هغه ټاکل په ډېرو حالاتو کې په ځانګړو کورنیو پورې منحصر دي. د قومونو مشري هم له همدې ډلې څخه ده، ځینې دولتي منصبونه او آن د پاچا د کهول ډېر منصوبونه هم میراثي دي.

د عوایدو او د هغو ټولولو او لګولو ټول کنټرول ده په اختیار کې دی، خو دی د ځمکو هغه مالیات، چې د احمد شاه له خوا ټاکل شوي، ډېرولی نه شي او دغه مالیات لږ دي. هغه یوازیني وسایل، چې دی یې په پښتنو کې د خپلو منابعو د



Property of ACKU

ډېروالي لپاره په امتیاز کې لري، جریمې، د نظامي خدمت ترتیبات او په ځینو حالاتو کې په زور او جبر د غلو بیې ټاکل دي، چې د هغو له مخې د مالیاتو تخمین کېږي.

خو دغه تدابیر دومره موثر نه دي او داسې ښکاري، چې په هغو حالاتو کې چې حکومت د مالیاتو لپاره نوي نرخونه او معیارونه ټاکي، له هغو نه استفاده کول هغه څرګند اعتراف دی، چې دغه امتیاز هم څومره محدود دی.

پاچا د خپلو اسلافو هغه بخښنې، چې د خدمت په مقابل کې یې ټاکلي دي، له سره جاري کولای نه شي. په کورنیو جنګونو کې د تخت د یوه مدعي بخښنې په دې دلیل له سره جاري کېدای شي، چې هغه د یوه قانوني پاچا اعمال نه دي، خو آن دغه هم زیاتره وخت نه کېږي[1].

دغو رواجونو ته هیڅ بدلون نه دی ورکړ شوی، ما ته ددې پته نه شته چې پاچا د هغو د ډېرولو حق ولري؟ دی په یقین سره ددغسې کار قدرت لري، ځکه چې دده دغه کړنه هغه کسان سمدلاسه نه اغېزمن کوي، چې دوی دې توان لري، چې ددغو اوامرو په مقابل کې مقاومت وکړي.

پاچا عسکري خدمت ته د جلبولو او د پوځ د قوماندانۍ کنټرول په لاس کې لري. داسې ښودل شوي، چې د قضایي چارو د ترسره کېدا یوه برخه د قومونو داخلي حکومت ته پرېښول شوې ده. نورې څانګې یې په پاچا پورې اړه لري، چې هغه ټول قاضیان ټاکي او په جزایي قضیو کې د هغو حکمونه تاییدوي. په هغو حالاتو کې چې جرم یوائې د دولت په ضد وي، پاچا یوائېنی قاضي دی آن په دغسې قضیې کې هم دده قدرت د یوه سدوزي د ژوند تر سرحده پورې نه رسېږي.

تیمور شاه وزیر اعظم اعدام کړ او دغې کړنې ته هیڅ د ملامتۍ ګوته ونه نیول شوه، خو د شاه محمود له خوا د نورزي د قوم مشر میر علم خان اعدام د هغه د بې عدالتۍ په له املـه محکوم شو، نه د قانونیت له اړخه‌و خو د هغه پاچا له خوا د وفادار خان اود هغه د ورونو اعدامېدل تراوسه هم په دې لامل په ټولیز ډول محکومېږي، چې دغه کړنه د دولت له اساسي قوانینو څخه مالف و.

پاچا د مذهبي چارو اداره په خپل لاس کې لري، خو څنګه چې مذهب ښه ټینګ شوی دی، نو دده لپاره د لاسوهنې ځای نه پاتې کېږي. هغه حقوق چې د پښتنو ملت یې په نیول شویو ولایتونو او د دولت په نورو توابعو کې لري، ټول د پاچا په لاس کې دي.

[1] له پورتنۍ فقرې نه د لیکوال موخه ، کېدای شي اپوته وي یانې دا چې واکمن د تخت د مدعي بخښنې په دې دلیل جاري کوي ، چې هغه د کوم قانوني پاچا اعمال نه دي. ژباړن.



Property of ACKU

ښرګنده ده، چې له دغو مستقیمو قدرتونو سربېره، چې پاچا خپل کړي، د نتني او یا ندي (مه ورکوه) سیاست دی، د هغو په پلي کولو هم ډېر نفوذ پیدا کوي.

## دننني او بهرنی سیاست

د خپل رعیت په اړه د کابل د دربار په سیاست کې تر ټولو مهم ټکي له درانیو سره د پاچا نږدې اړیکه او دده او د هغوی د ارستوکراسۍ ترمینځ رقابت دی. د پاچا سیاست دا دی، چې درانیان د ځان تابع وساتي، په داسې حال کې چې تر نورو پښتنو یې لوړ ګڼي.

دی ددغې موخې لپاره تاجکان او نور ټول هغه قومونه تر سیوري لاندې نیسي، چې د هغو په قوت کولای شي دغه اشراف لاندې کړي. بې له دې چې د خپل قوم لوړتیا ته تاوان ورسوي. د درانیو د اشرافو، تاجکانو او د پښتنو قومونو په اړه د پاچا سیاست د سکاټ لېنډ د پاچا له هغه سیاست سره ورته دی، چې دی یې د بارونانو (Barons) ښاریانو او د غرنیو سیمو د خېلونو په مقابل کې غوره کوي.

د پښتنو قومونو په اړه د پاچا موخه دا ده، چې له لویدیځو قومونو څخه مېړونه او له ختیځو قومونو څخه پیسې ترلاسه کړي، د ولایتونو په اړه هم د حکومت چلند دا دی، چې له لویدیځو پښتنو څخه لښکر واخلي او هغه څه، چې ترینه خپلوي، یواځې د دفاع لپاره یې چلوي، خو له ختیځو ولایتونو څخه هغه ټول منابع او وسایل ترلاسه کړي، چې په هغو د خاورې د پراختیا لپاره کار واخلي.

په همدې ډول پښتنو په بهرني سیاست کې د لویدیځ په لور د ملک نیولو هڅه نه ده ښوولې، د فارس او ترکستان په اړه د دوی نظرونه یواځې د خراسان او بلخ په دفاع پورې منحصر شوي دي. په حقیقت کې خپلواکو ته دا د احمد شاه وروستی وصیت و، چې په اوزبکانو برید ونه کړي، ځکه چې دوی د هغه په نظر د مچیو د بې شاتو ځالې په څېر دي.

بله پرځای وینا، چې هغه ته منسوبه ده، دا ده چې تر هغو چې د سکانو افراطي غېرت لړ شوی او چلند یې نرم شوی نه وي، په هغو له حملې کولو له ډډه وکړي. په حقیقت کې سکانو ځانونه د کرنې په چارو پورې نښلولي او د هغه ورانونکي او پرله پسې جنګي استعداد یې په پوره ډول یا ښللی، چې دوی یې په دې برلاسي کړي وو، چې د احمد شاه د قوت په مقابل کې ودرېږي.

## د حکومت کرکټر

د پښتنو حکومت د خپل رعیت، د خپلو مقبوضاتو او آن د خپلو دښمنانو په اړه تر زیاتې اندازې تل له نرم چلند نه کار اخیستی دی. د فارسیانو له شدت سره، چې پرتله شي د پښتنو حکومت په جزاګانو کې نرم او اعتدال یې لا ښرګند دی. دا چې



Property of ACKU

یو لوی پاڅون بې له کوم تل څخه غلی شي، په دوی کې ښهٔ عام وي او کله چې په پاڅونونو کې جزا وي، هغه تل یواځُ د هغه په مشرانو حواله کېږي. د فارس په طرز سره د عامه خلکو ړندول او د هغو لاس او پښې پرېکول دلته رواج نه لري، ټول هغه وخت چې زموږ هیئت په پېښور کې و، یواځې یو قتل وشو او هغه د یوه شیعه درویش و، چې هغه د کفر په مسئلې کې د ملایانو په تور محاکمه او جرم یې ثابت شو.

خو د پښتنو حکومت د ختیځ د نورو حکومتونو په څېر د هغو خاینانه وسایلو په کارونې سره بدنام شوی، چې کله کله د هغه وزیران ورته کار اخلي او په هغو سره مجرمان نیسي او هغوی ته زجر او عذاب ورکوي. پورتني طرز ته هڅه کول ښایي د هغې اسانتیا نتیجه وي، چې په دغسې ملک کې چې له ټینګو حصارونو نه ډک دی او له یوه پناه غوښتونکي سره مرسته کول ننګ او پت ګڼل کېږي، یو مجرم د حکومتي مامورینو له تعقیب نه ځان بچ کولای شي. زجر او عذاب ورکول له فارسیانو څخه زده شوي دي. دغه رسم له ډېر پخوا نه شتون لاره، خو یواځې د شاه محمود په دوره کې ډېر عام شو، له هغه نه په ټولیز ډول د پیسو په ترلاسه کولو کې کار اخیستل کېږي او په نتیجه کې زیاتره وخت په لویانو او شتمنو باندې استعمالېږي.

حکومت زیار باسي، چې په ټولو پښتني قومونو کې ارامي او شتمني خوندي وساتي، خو حکومت چې په دې پوهېږي، چې د هغوی ګټې دده له ګټو نه بېلې دي، ددوی د ګټو څارنه په داسې توګه نه کوي، چې له یوه پاچا نه د رعیت په اړه د هغه هیله کېږي. ولایتونه په ټولیز ډول په زغم او نرمي وضع او عدالت سره اداره کېږي. دغه وضع په ځینو حالاتو کې د ضعف او په نورو کې د حکومت د تدبیر له لامله ده، ختیځ ولایتونه د حکومت او د هغه د مامورینو له شوکه ماری او کله کله له حسادت یا له بې رحمه ظلم څخه ضرر ویني، یواځې په کشمیر کې هر ډول ظلم روا ګڼل کېږي.

## اوسنی حال:

د افغانستان حکومت د ګاونډیو دولتونو په اړه لږ معلومات لري. دغه دولت که څه هم ډېره موده کېږي، چې هندوستان ته متوجه و او که څه هم سوداګر یې تل د هغه ملک ته ځي، تراوسه د هندوستان د دولت په اړه د هغه بې خبري زښته ډېره ده. وزیران یې په دې پوهېږي، چې مغولي امپراتوري مخ په ځوړ ده، خو د هغو ورو دولتونو په اړه یې معلومات ډېر نیمګړي دي، چې د هغه له ورانې نه هسک شوي دي. دوی له فارس او تارتاري سره یو څه اشنا دي، خو د هغوی په اړه هم دوی

یـوائې د سـوداګرو او مـساپرو پـه رپوټونـو اعتمـاد کـوي، لکـه څنګـه چې پـه هندوستان کې معموله ده. دوی ځري نه لري، کله کله هیئتونه استوي، خو هغه هیڅ کله تلپاتي نه وي. دولس کاله کورنۍ جګړې تر ډېرې اندازې د حکومت شکل تـه بدلون ورکړی، آن تر هغه نه هم ډېر چې پورته یې بیان وشو. پاچا اوس تر هر بل وخت نه ډېر په درانیو اشرافو وېسا کوي او په نتیجه کې د خپلو وزیرانو په ټاکلو کې د غوره ګڼلو له ټولو حقوقو څخه او د هغوی د اختیاراتو پـه پلي کولو کې پـه هغو له نژدې ټول کنټرول څخه محروم شوي دي.

څنګه، چې د دولت پوځونه په خپلو کې پـه جنګونـو اخته دي، ډېر قومونه او ولایتونه پخپل سر او یاغي شوي او په نتیجه کې د عوایدو ډېر منابع وچ شوي دي. له هغو عوایدو څخه چې حاصلېږي، ډېره برخه یې د تیول په ډول سترو اشرافو ته ورکول کېږي او هغه څه، چې پاتې کېږي، نږدې ټول یې د حاکمانو او وېرانو په اختلاس سره له منځه ځي او پاچا له دې امله هغه نور نه شي سمولی، چې څارنه یې ممکن دی له خپلو پلویانو څخه محروم دي.

څنګه، چې پاچا دومره قدرت نه لري، چې قومونه اړ کړي چې د خپلې ونډې نظامي قطعې دولت ته واستوي، د کومو په استولو چې دوی اړ دي. د هغه پوځ اوس له دغسې عسکرو نه جوړ دی، چې یا د معاش او یا د خپلو مشرانو د اړیکو له امله خدمت کوي. طبیعي ده، چې د عوایدو لېوالی پوځ کموي او هغه عسکر، چې خدمت کوي، تر پاچا نه زیات د خپلو قوماندانانو په خدمت کې وي.

او څنګه چې دغه منابع څومره چې وي، زیاتره وخت د دوو مدعیانو او رقیبانو ترمینځ وېشل کېږي، نو ددې درک اسان دی، چې د پاچا قدرت او نفوذ به تر کومې اندازې کم شوی وي.

＊ ＊ ＊

Property of ACKU

# دویم څپرکی

## د حکومت اداره

Property of ACKU

حکومت په ټولیز ډول د پاچا په دستور اداره کېږي او وزیر ورسره مرسته کوي.

لوی وزیر د عوایدو ټوله اداره او ونته او دبانډې د حکومت د سیاسي چارو تنظیم په اختیار کې لري. په همدې ډول دی د حکومت د نورو ټولو وزارتونو کنټرول کوي.

دغه وزیر باید د بامیزایي له څانګې او د شاه ولي خان له کورنۍ څخه وي، خو شاه زمان او شاه محمود ددغې ټاکنې رعایت نه دی کړی، لومړنی یې سدوزی په دغې عهدې وګوماره[1] او وروستی یې فتح خان بارکزی د وزیر په توګه ټاکلی دی.

دغو ابداعاتو په ښه نظر نه کتل کېږي او پخوا په ټولیز ډول داسې نه کېده او د وزارت مقام د میراثي مدعیانو په لاس کې پرېښودل کېده، خو هغه د قدرت زیاتره برخه کوم بل لوړ مامور ته، چې د پاچا معتمد و، لېږدېدله، دا هغه یو

---

[1] د سرجان ملکم دغه لاندینۍ تبصره د پښتنو د حکومت په باره کې د هغوی نظر ښه تمثیلوي:
((په ۱۸۰۰ کې چې زه په فارس کې وم، د رحمت الله خان د ټاکنې په اړه، چې په ټولیز ډول د وفادار خان په نامه یادېږي، انتقادي خبرې کېدلې. دا کار له ټولو رواجونو څخه یو انحراف شمېرل کېده او په هغه په دغو دلایلو نیوکه کېده، چې که څه هم دا موزونه ده، چې پاچا دې سدوزی وي او د هغه شخصیت دې سپېڅلی وشمېرل شي، چې په درانده قوم پورې اړه لري. وزیر یې باید له هغه قوم څخه نه وي او که وي ممکن داسې وګڼل شي، چې هغه به له یرغل نه خوندي وي. په دې حال کې به د بې رحمۍ او زېښناک د اعمالو په مقابل کې، چې ممکن واقع شي، هېڅ څوک مسئول ونه ګڼل شي، نورو د یوه سدوزي ټاکل په دې مصلحت ښه نه باله، چې څنګه چې دی هم د همدغه قوم یو غړی دی، ممکن د پاچایي دعوه وکړي.))

اقدام و، چې ګډوډی یې مېنځ تـه راوسته او دا یـې نـږدې ناممکنـه کولـه، چې د حکومت د یوه مامور دنده یا اختیارات په ځیرکتیا سره درک شي.

په عامه اداره کې لـه وزیـره وروسته بـل لـوی وزیـر منشي باشي دی، چې د پاچا د ټولـو لیـک لیکنـو مسئولیت پـر غـاړه لـري. بـل یـې هـر کـاره باشـي دی، چې د استخباراتو د اداري آمـر او د چپړاسیانو او قاصدانو قوماندان دی. نسقچي باشـي، چې د هغـه د دفتـر لـه لارې جزاګانې تطبیقېږي هم دده تـر لاس لانـدې ګڼـل کېږي او دی سرېېره پـر دې یـوائې د ماریـشل (Marischal)[1] ارل (Earl) هم دی، ضبط بیګـي هم د هغـه تـر لاس لانـدې ګڼـل کېږي، دی ټـول هغـه ملیکتونـه پـه تـصرف کې راوړي، چې نیـول کېږي او ضبطېږي.

د عوایدو او قضایي وزارتونـو آمـران او د پـوځ سـتر افسران د دولـت د ډېـرو لویـو مامورانو لـه ډلې څخـه دي، خو د دوی وظیفې پـه هغـه وخت کې پـه پـوره او سـانه توګـه شرح شي، کله چې د حکومـت پـه هغـو ځانګو بحث کېږي لـه کومـو سره، چې دوی ورپورې اړه لري.

د دربار او سلطنتي کهول آمران بیخي ډېر دي، د دوی تشکیلات کټ مټ د نادر شاه افشار د تشکیلاتو پـه څېر دي. هـره هغـه ځانګـه، چې پـه هغـه اړه لـري، پـه یـوه ځانګړي یونیفـورم پېژنـدل کېږي، د دربـار ښـه ښـه منظمـه او سینګاري ده او ممکـن د کورنیـو جنګونـو او د قـصرونو د تزیینـاتو او سـامانو تـر چـور کېـدلو دمخـه ډېـره پرتمینه وه. ددغو ځانګو لوی آمران دا دي:

میراخور باشي، یـا د اسـونو آمـر، دغـه مقـام د اسحق زیـو دمشر پـه کـورنۍ کې میراثـي دی. د ایـشک آقاسـي مهـم مقـام د پوپـلزیو پـه یـوې سـترې کـورنۍ کې میراثـي دی. پـه ترکـي کـې ددغـې کلمـې مانـا د ورو ساتونکي ده، خـو د هغـه دتشریفاتي مراسمو د آمـر دنـده ترسره کـوي، د غـرض بیګـي مقـام د اکـرم خـان پـه کورنۍ کې میراثي دی. دنده یې پاچا تـه پـه لوړ اواز د هر هغه څه تکرارول دي، چې هغـه وخـت چـې رعیـت دده پـه حـضور کـې منـل کېـږي، ویـل کېـږي، دغـه اداره پـه دې منظـور جـوړه شـوې، چـې هغـه تېروتنـې سـمې کـړای شـي، چـې خلـک یـې چـې ممکـن د دربـار لـه تـشیفاتي ژبـې سـره نااشـنا وي وکـړي. پـه همـدې ډول هـم لـه هغـې نـه منظـور دا دی، چې پـه هغـې سره د هغـه زحمت مخـه ونیـول شـي، چې لـه پاچا سره د نااشنا خلکـو له وېرې ولاړېږي.

---

[1] د فرانسوي (Marischal) انګرېزي شکل (Marshal) یانې مارشال دی. په دې ډول ارل مارشالپه اروپا کې په منځنیو پېړیو کې په پاچایي کورنیو کې د لوړې رتبې نظامي افسریانو قوماندان لقب و. ژباړن

Property of ACKU

دغه څانگه په دې اړینه ده، چې پاچا زیاتره وخت له عرض بیگي نه غواړي، چې د عرایضو په اړه پلټنه وکړي او د هغه راپور د پاچا په پړیکړې باندې اغېز لري.

جارچي باشي او جارچیان د عرض بیگي په دفتر پورې اړه لري. د چاوس باشي دنده دا ده، چې هغه کسان، چې منل کېږي پاچا ته د احترام ادا کولو لپاره وړاندې کړي، دربار رخصتوي او په دغسې مواقعو کې د پاچا امرونه په هغه شکل رسوي، چې په ترکي ژبې کې افاده شوې وي.

نور آمران هم ډېر دي، چې ددغسې څانگو مشري یې پر غاړه ده، چې دولتي دندې ترسره کوي، خو یو یې هم په دربار کې اهمیت نه لري. د صندوق دار باشي، حکیم باشي او د سلطنتي کهول بېلابېلې ادارې لکه د ښکار کولو، بازو ساتلو، پخلنځي، د اوښانو او کچرو څانگې شرح کېدو ته اړتیا نه لري، که څه هم په ځینو کې یې مهم کسان دندې ترسره کوي، خو پېشخدمت باشیان د ذکر وړ ښکاري، ځکه که څه هم دوی د پاچا ټیټ کارونه په خپله کوي، دوی زیاتره د لوړ منصب خاوندان دي او زیاتره وخت په پاچا باندې اغېزه لري.

خوجه سرایان (Euluchs) هم خوارا هم کسان دي، په دې چې دوی تل د پاچا په حضور کې منل کېږي او اجازه لري، چې د ډېرو پټو پرېکړو په وخت کې حاضر اوسي. د سلطنتي کهول لگښتونه له هغو پیسو څخه ترسره کېږي، چې د همدغه مقصد لپاره ځانگړې شوي وي، اداره یې د یوې ځانگړې څانگې په لاس کې ده، چې د پاچا شخصي خزانه دار او مشرف یا د حسابونو د تصفیې آمر د هغې آمران دي.

* * *

Property of ACKU

# دریم څپرکی

## ولایتي وېش

ټول سلطنت په اوو وېشتو ولایتونو وېشل شوی دی، یوازې بلوچستان په دغه وېش کې نه راځي، چې د هغه مشر له نامه پرته نظر دې ته چې رعیت وي، دیوه نابرابر اتحاد غړي حیثیت لري.

اتلس مهم ولایتونه یې هر یو د یوه حاکم له خوا اداره کېږي، چې د عوایدو د ټولولو مسئولیت پر غاړه لري او د ملېشې امر وي. په هر ولایت کې یو سردار د منظمو لښکرو قوماندان دی، دی په دې گومارل شوی دی، چې عامه امنیت ټینگ وساتي او د حاکم او قاضي امرونه نافذ کړي، کله چې حاکم درانې وي، دی د سردار دنده هم په عادي ډول ترسره کوي.

مدني او قضایي چارې د قاضي له خوا ترسره کېږي، د حاکم او سردار تر اداري لاندې په عوایدو او څارندوی (پولیسو) پورې مربوطې چارې د قومونو د مشرانو له خوا ترسره کېږي او د دوی تر لاس لاندې د قومونو د خپلو مشران کار کوي.

د قومي مشرانو اهمیت لږ و ډېر د هغې درجې په اندول دی، چې د هغوی سیمې د حکومت تر کنټرول لاندې وي، چېرته چې قومونه قوي دي هرڅه د قومي مشرانو له لارې کېږي او چېرته چې ضعیف دي لکه په پېښور کې حاکم او سردار خپلونو مشرانو ته نېغ په نېغه لاربښوونې استوي.

په کشمیر کې د تاجکو په مېنځ کې او د اباسیند په شاوخوا ولایتونو کې یانې چېرته، چې حاکمان ډېر دي، حاکم یا سردار خپل افسران خلکو ته استوي یاد کلیو له مشرانو نه د خپلو وسیلو په توگه کار اخلي.

هغه اتلس ولایتونه، چې د حاکمانو تر اداري لاندې دي، دا دي: هرات، فراه، کندهار، غزني، کابل، بامیان او غوربند، جلال اباد، لغمان، پېښور، د اسماعیل خان ډېره، د غازي خان ډېره، شکارپور، سیوي، سند، هزاره، جج، لیه او ملتان.

Property of ACKU

په دغو ټولو سیمو کې حاکمان په هر وخت کې لرې کېدای شي، خو په هغه حال کې چې عواید د دوی په اجاره کې وي، په دغه صورت کې دوی باید د کال تر پایه پور پرېښودل شي.

حاکمان تراوسه هم په ټولو ولایتونو کې له سند پرته، ایسته کېدای شي. په سند کې پاچا د هغه ځای حاکم یوائې له یوې کورنۍ څخه غوره کاوه او د ه له (۱۷۹۰) څخه وروسته ددغه ولایت داخلي کنټرول ټول له لاسه ورکړی دی. ملتان او لیه هم همدغسې وبولئ. په دغو سیمو کې پاچا په دې نه دی برلاسی شوی، چې د شاه محمود له جلوس نه وروسته د هغو حاکمان لیرې کړي. د هرات حال هم همدغسې دی. دغه ولایت د شاه محمود له وتلو وروسته د شاهزاده فیروز په لاس کې پاتې دی.

هغه پاتې نه وېشونه په ټولیز ډول له هغو ملکونو څخه جوړ دي، چې په پښتني قومونو اړه لري. په هر یوه کې یو دراني حاکم ټاکل شوی دی، چې د سردار په نامه یادېږي. دی هېڅکله په خپل حکومت کې نه اوسي، هلته په کال کې یو ځل یا پخپله ځي او یا خپل مرستیال استوي، چې مالیه ټوله کړي. له دوی سره یا نظامي قوه ملګرې وي یا نه وي او هغه د هغه ځای په شرایطو پورې اړه لري. په نورو وختونو کې د هغې سیمې اداره قومي مشرانو ته پرېښودل کېږي او دوی په ځانګړیو حالاتو کې تر څه حده د سردار تر کنټرول لاندې دي. سردار په ډېرو حالاتو کې د مشرۍ لپاره د خپل لاس لاندې د سر د کورنۍ د یوه غړي سپارښتنه کوي، چې دده په نظر کې ددغې دنده لپاره تر نورو ډېر مناسب وي. په دغو وېشونو کې قاضیان وي، چې د پاچا له خوا ټاکل کېږي، خو د هغوی اختیار که چېرې نافذېږي، دقوم د مشر له خوا نافذېږي.

دغه وروستي ډول حکومتونه دا دي: د غلزیو حکومت، چې لغمان او جلال آباد یکې شامل دي، د ساپیو حکومت، د تګاو حکومت، د بنګښو حکومت، د خټیو او یو په شمول د دامان حکومت تر بنو او دوړو پورې، د مروتو او نورو په شمول، د سیستان په پولو باندې د کده، چغانسور او کشک ګندمي حکومت د غوراتو حکومت، د هزاره ګانو د سابند حکومت (ایماقونه)، فراه ته نژدې د اسفزار یا سبزوار حکومت، د اندراب او پشت رود حکومت.

سردار هم هر وخت لرې کېدای شي، خو داسې ښکاري چې دغه مقام په ځانګړو کورنیو پورې اړه لري.

دغه وېشونه د نامېشته توبو ملکو په ګډون نظر هغو ته چې د حاکمانو تر لاس لاندې وي، تر زیاتې اندازې د شاهي قدرت له لاسه وتلي دي.

✵ ✵ ✵

Property of ACKU

# څلورم څپرکی

## عوایـد

په ارامو وختونو کې د کابل د حکومت ټول عوایـد ممکـن د درې کروړو روپیو په شاوخوا کې وي[1] خو له هغو څخه له یو کروړ نه ډېرې یې بېلابېلو نیمه خپلواکو مشرانو ته بېرته ورکول کېږي او دوی په دې قانع دي، چې خپل دغه عوایـد د پاچا نه د بخښنې په توګه ومني او که نه دوی به هېڅکله په دې راضي نه وي، چې دغه عوایـد یې هغه تسلیم کړي وای. دغه عوایـد د کابل د پاچا په منابعو کې شمېرل کېدای نه شي. نو د هغه ریښتیني عوایـد نژدې دوه کروړه روپۍ کېږي.

له دغو عوایـدو څخه نژدې نیم یې د تیول یا جاګیر په ډول ځانګړې کېږي او زیاتره یې د نظامي خدمت په بدل ورکول کېږي. هغه څه، چې پاچایي له هغه نه د ځان کوي، د پوځ په برخه کې به راشي، نور یې ملایانو یا درویشانو او سیدانو ته د تنخوا په ډول ورکول کېږي. پاتې عوایـد یې د اوسنیو ناارامیو تر پیل پورې پاچا ته پاتې کېدې، د ډېرو سمو روایتونو له مخې دا ټولې نهه میلیونه روپۍ کېدلې.

د پاچا د عوایـدو لویه منبع د ځمکو مالیات دي، چې هغه د ټاکلو اندازو له مخې په حاصلاتو حواله کېږي او هغه د ځمکې د ماهیت له مخې توپیر کوي او په بېلو ولایتونو کې مختلف وي. ځینې پښتنانه قومونه او هغوی چې په لېرو سیمو کې اوسي، د مالیاتو له دغه طرز لاندې نه راځي، بلکې هر کال یو ټاکلی مبلغ د مالیې په ډول ورکوي.

د عوایـدو نور منابع ښاري محصولات، ګمرکي محصولات، د سرکاري ځمکو محصولات، د جریمو محصولات، د ضراب خانې ګټې او کېدای شي یو څو نور واړه قلمونه وي. هغه خواړه، چې خلک یې د پاچا کهول او د هغه د پوځ یوې برخې ته هغه

[1] یو کروړ روپۍ نږدې یو میلیون پونډ سټرلېنګ کېږي. (یو کروړ یا لس میلیونه. ژباړن)



Property of ACKU

وخت ورکوي، چې د دوی له ملک نه تېرېږي، که څه هم دغه خلک له مالیاتو نه معاف وي، هم باید د دولت په عوایدو کې حساب شي.

له پورته قلمونو سربېره د عوایدو یوه بله وره څانګه په دې ډول پیدا کېږي، چې هغه ځانګړې سیمې او قومونه، چې باید لښکرې تهیه کړي، د هغو پر ځای دولت ته پیسې ورکوي. په ټولو وختونو کې په ګڼورو سیمو کې د حاکمانو په ټاکلو له هغوی نه پیسې اخیستل کېدلې او په دغو ناارامو مهالونو کې د منصبونو د پلورلو له لارې پټه ګټه ترلاسه کېږي.

د ځمکې مالیه د کلي هر مشر ټولوي او په ځینو حالاتو کې د هغه قوم د مشر په ذریعه ورکول کېږي او په نورو حالاتو کې په مستقیم ډول حاکم یا د هغه عمالو ته ورکول کېږي. حاکم یې ټولیز ډول د خپلې سیمې مالیه له حکومت نه په اجاره اخلي او د خپلو لاس لاندې سیمو مالیه نورو ته په اجاره ورکوي. دی په کال کې یو ځل د خپلو معاملو حساب ورکوي او مخکې له دې، چې د پاچا (هوکې) ترلاسه شي، ددغه حساب موضع له څو مامورینو څخه تېرېږي. د دفترونو لګښتونه، هغه براتونه چې په یوه ولایت ورکول کېږي، د هغه کېږونو بیه، چې د پاچا له خوا د استفادې وړ ګرځي او داسې نور لګښتونه وضع کېږي او پاتې مبلغ یا خزانې ته استول کېږي او یا لکه څنګه چې زیاتره کېږي، براتونه چې له همغه مقدار سره برابروي، پوځ ته ورکول کېږي او یا نورو هغو کسانو ته ورکول کېږي، چې په حکومت باندې پیسې لري.

د عوایدو د ټولولو او ورکولو په دوران کې هغه وخت، چې په دغه وروستي ډول سره ترسره کېږي، د حاکم له خوا ډېر اختلاسونه کېږي. د هغو نورو ولایتونو عواید، چې د نظامي سردارانو له خوا اداره کېږي، په اجاره نه ورکول کېږي. د پاچا غټ لګښتونه هغه تنخواګانې دي، چې پوځ، دربار، پاچایي کهول او روحانیونو ته ورکول کېږي.

د پوځ د قوت په اند ډول د هغه لګښت لې دی او دا د جاګیرونو د هغه شمېر له لامله ده، چې د هغه د ساتنې لپاره ځانګړې کېږي.

د پاچاهي کهول لګښت تر یوه حده د اجناسو، پیسو او څارویو په ورکولو چې ددغې څانګې لپاره ځانګړې کېږي، سپکېږي.

د لویو ملکي مامورانو تنخوا لږه ده، دوی له هرڅه زیات په بډو او بخښنو ژوند کوي، چې هغه که څه هم په دولت باندې ډېرې ناوړې اغېزې لري، د عوایدو مقدار، چې په ربښتیني ډول تر حساب لاندې دی، نه کموي.

ملایانو ته جاګیر (د یوې اندازې ځمکې مالکانه حقوق یا ملکیت) ورکول

Property of ACKU

کېږي يا دوی ته په حاکمانو باندې برات يا حواله ورکول کېږي يا له خزانې نه پيسې اخلي. ويل کېږي، چې دوی ته ښه ډېر معاشونه ورکول کېږي. په ارامو کلونو کې د کابل د سلطنت ټول لګښت له هغو پرته، چې له تيولونو او نورو څخه وضع کېږي، له نيم کروړ روپيو نه دومره ډېر نه وو او هغه څه، چې له عوايدو څخه پاتې کېدل، د ځانګړو لګښتونو لپاره ساتل کېدل.

ډېره موده شوې، چې د سلطنت پاسرې کمې شوي او هغه يوائينۍ شتمني، چې اوس د پاچا په واک کې ده، د جواهرو هغه ارزښتناکه مجموعه ده، چې که څه هم د تيمور شاه له وخت نه ډېره لږه شوې، تر يوه حده د پيرودونکيو د پيدا کېدو د ستونزې له لامله خوندي پاتې شوې، چې د هغو يوه برخه ښايي حکومت ته په سختو ورځو کې لېږدول شوې وای.

* * *

Property of ACKU

## پینځم څپرکی

# قضا او څارندوی

Property of ACKU

قـضایي چـارې پـه ښـارونو کې د قاضـي، مفتیـانو د محکمې امـین او عـدالت داروغه له خوا ترسره کېږي.

قاضي پـه مـدني قـضیو کې شکایتونه اوري او د مـدعي علیـه د خپـل دفتـر دماسل (محـصل) پـه ذریعـه جلبـوي. دعـوه پـه محکمې کې د اسلامي شـریعت د مقرراتـو او شکلونو لـه مخې تـر جریـان لانـدې نیـول کېږي، چې هغـه د پښتونولۍ پـه ځینـو منـل شویو برخو سره تعدیل شوي دي.

پـه مـشکوکو قـضیو کې مفتیـان خپـل قـانوني نظـر ورکـوي او دوی خپـل نظـر د اساسي کتـابونو د اړونـدو برخـو پـه اسـتناد تاییـدوي. د قاضـي لـه امرونو څخـه هـیڅ سـر نـه غـړول کېږي او دا بې دیـني ګڼـل کېږي، چې د شـریعت لـه پلـې کېـدو نـه انکـار وشي. کـه د قاضـي لـه امـر څخـه سـر وغـړول شـي، سـردار موظـف دی، چې د هغـه امـر پرځـای کـړي. د محکمې امـین د امـانتونو څارنـه پـر غـاړه لـري او د عـدالت داروغـه ددغـو ټولـو پـه څارنې ګومـارل دي او دا یې دنـده ده، چې وګـوري هرڅـه د قـانون لـه مخې شـوي وي. پـه جزایـي موضـوعاتو کې مقـررات نـږدې همدغـسې دي، خـو کـړنـدود یې تـوپیر لـري. مجرمـان پـه ټـولیز ډول لـومړی سـردار تـه راوسـتل کېږي او پـه ټولـو مهمـو قـضیو کې د قاضي حکـم دده لـه خوا نافـذېږي. دا سـردار تـه تـر یـو څـه حـده قـدرت ورکـوي او دغـه قدرت هغه وخت پـه ځانګړې توګه لیدل کېږي، چې دی له قاضي سره مخالف شي.

چېرتـه، چې پاچا پـېښ شـوی وي، د جزایـي موضـوعاتو پـه اړه هغـه تـه عرضـونه کېږي. دی ورې پېښې قاضي تـه راجـع کـوي یـا عـرض بیـګي (هغـه مـامور، چې د هغـه

په وسیله پاچا ته عریضې وړاندې کوي) په دې مامور کوي، چې هغه فیصله کړي. که ماجدي عریضې تل قاضي ته راجع کوي او پاچا امر کوي، د هغه حکم باید عملي شي. د کابل سلطنت په ټولو برابرو ښارګوټو کې قاضیان ټاکي او دوی په ټول ملک کې ناپېیان لري، دوی یوائې په هغو دوو یا درېوو قومونو کې نه شته، چې په ښکاره ډول یاغیان دي.

قاضیان تر هغو لاسوهنه نه کوي، چې ورته عرض نه وي شوی. د مملکت په لېرو برخو کې دا حال کله کله پېښېږي او په دغو برخو کې یوائې په مدني موضوعاتو کې هغوی ته مراجعه کېږي. کله چې تورن له جرم نه انکار وکړي، هغه تل قاضي ته راجع کېږي، خو هغه جرمونه چې اقرار پر شوی وي، زیاتره په هغه ډول په جرګو فیصله کېږي، چې دمخه یې یادونه شوې ده.

د قضا د محاکمو ګټورتوب تر ډېره حده په هغه کې دی، چې د هغه د تطبیق له لامله فساد له منځه ځي، چې په دوی کې رواج لري او سربېره پر دې په ښارګوټو او د هغو په شاوخوا کې د عدالت مخه د لویانو په قدرت او نفوذ نیول کېږي.

قاضیان د پاچا له خوا د پاچایي کهول د امام په سپارښتنې ټاکل کېږي، یوائې یو څو یې د بیت المال نه تنخوا اخلي. که په ټولو ځایونو کې نه وي، په ځینو سیمو کې په هرې کورنۍ باندې یو وړ محصول حواله کېږي، چې هغه ټول قاضي ته ورکول کېږي. دوی ته په ودونو کې او سندونو باندې د مهر لګولو له لامله او ممکن د هغو قضیو په پرېکړې فیس ورکول کېږي، چې دوی یې پرېکړه کوي.

مفتیانو ته د هرې مشورې په بدل کې، چې دوی یې ورکوي حق الزحمه ورکول کېږي، خو په ځانګړي ډول هغه د دوی د ژوند د خوندیتوب لپاره بسنه نه کوي.

د ښارګوټو څارندویي (پولیسي) چارې د سردار تر حکم لاندې د میر شب، محتسب او د بازارونو د داروغه له خوا ترسره کېږي.

میر شب په هندوستان کې د کوتوال معادل دی. دی د کشکچیانو په نامه تر لاس لاندې څوکیوالان لري، چې د ښارګوټو په بېلابېلو برخو کې څارنه کوي. په پېښور او ممکن په نورو ښارګوټو کې نور څوکیوالان هم شته او دوی ته هغه خلک تنخوا ورکوي، چې د هغوی د محلو څارنه کوي. میرشب دشپې له خوا ګرځي، غله، د امنیت وړانوونکي او د اخلاقو په ضد تېري کوونکي نیسي. محتسبان او میر شبان بدنام او د کرکې وړ ماموران دي او دوی ممکن د سخت ظلم منبع وي. محتسب په پېښور کې لږ تر لږه د خپل مقام د ترلاسه کولو لپاره هر کال پیسې ورکولې او د جوارۍ د ځایونو، شراب خانو او له مظنونو کسانو او له هغو څو بدنومو کورنیو څخه، چې هلته یې زغم کېږي، څه بډې اخیستلې.



Property of ACKU

محتسب د شریعت له مخې هغو کسانو ته جزاوې ورکوي، چې شراب څښي، یا په همدغسې نورو ورته تخلفاتو تورن وي. په پېښور کې دی د بازار د داروغه دنده ترسره کوي. داسې محتسبان هم شته، چې هر کال یو یا دوه ځله په هېواد کې ګرځي او د خلکو د کړو څارنه کوي. د ښارګوټو محتسبان تنخوا لري او له هټیو نه د یوه جزیې محصول اخیستلو برخه لري. هغوی چې په اطرافي سیمو کې دي، د ګرځېدو په دوره کې خپل کلني فیسونه ټولوي. محتسب تل ملاوې، د بازارونو داروغه نرخونه ټاکي او د تول د تېرو او اندازو څارنه کوي. د هغه تر لاس لاندې په هر شغل کې د سر یو سړی وي، چې هغه ته کدخدا، یا سپین ږیری ویل کېږي او دی د محصولاتو د حواله کولو لپاره ټاکل کېږي.

د پاچا په قصرونو او په کمپونو کې یو قاضي عسکر او د پوځ محتسب ټاکل شوی وي او دوی هغسې دندې ترسره کوي لکه نور یې چې په ښارونو کې ترسره کوي.

په اطراف کې هغه خلک، چې ځمکې لري، د څارندوی (پولیس) په توګه مسئولیت لري. د داړه ماری او غلا په نقرې کې که چېرې د کلي یا د یوه قوم د خېل مشر، چې د هغو په مملکت کې یو جرم شوی وي، له دې نه عاجز شي، چې غل حاضر کړي، دغلا شوي مال بیه ورکوي او دا تاوان له خپل لاس لاندې خلکو څخه اخلي.

په هغو خطرناکو لارو باندې، چې ډېر تنګ راتګ کېږي، د لارویو د ساتنې لپاره ډله ډله کسان پراته دي، دوی ته خواړه د هغه قوم خان ورکوي، چې دغه لارې د هغوی له سیمو څخه تېرېږي، خو تنخوا یې د حکومت پر غاړه ده.

سره له دې ټولو خبرو، پولیسان ډېر بد کسان دي، لاروي د مملکت په ډېرو برخو کې هغه وخت خوندي وي، چې یا د قوم بدرګه ورسره وي او یا د هغه مشر ته محصول ورکړي، خو حکومت د هغه د ساتنې لپاره پرته له دې ډېر څه نه شي کولای، چې یا د شوکه مارو او بدنامو قومونو د ملک د لوټلو د مخنیوي لپاره لښکرې واستوي او یا یې لویان جلب کړي. پولیسان د ښارګوټو او د هغو له شاوخوا پرته په انتقامي وژنو کې لاسوهنه نه کوي.

＊ ＊ ＊

Property of ACKU

# شپږم څپرکی

## نظامي تاسیسات

ځای پرځای شوی پوځ له درانیو، غلام شاه او کاره نوکر نه جوړ دی، یو ډول ملیشیا هم شته، چې ایله جاري نومېږي او هغه په اضطراري حالاتو کې جلبېږي، بل ډول یې په واقعي جنګ کې د داوطلب په نامه غوښتل کېږي.

د درانیو خېلونه مجبور دي، چې نږدې دولس زره مېړونه د جاګیر له مخې یا له مالیاتو نه د معافو ځمکو په بدل، چې احمد شاه او نادر شاه ورته بخښلي، تهیه کړي. دوی سرېېره پر هغو څه وخت، چې په واقعي خدمت لګیا وي په یوه کال کې د درې میاشتو معاش اخلي. دغه پیسې د لسو پونډو معادل دي او د دوی له ځمکو سره د دوی ټول کلنی معاش څلوېښت پونډه کېږي.

دوی د پاچا په هغه امر حاضرېږي، چې هغه د هر خېل د مشر په نامه صادرېږي او دی هغو خانانو ته، چې دده لاس لاندې وي، خبر ورکوي. دوی هغه جنګي مېړونه، چې د څو خېلونو ونډه وي، سره ټولوي او هغه ځای ته یې بیایي، چې د پوځ د غونډېدلو لپاره ټاکل شوې وي. دوی د پاچا په حضور کې ټولېږي او نومونه یې لیکل کېږي.

د هر خېل مېړونه د دسته په نامه ځان ته بېل ټولګي جوړوي او دوی لکه څنګه، چې د یوه خېل په مدني ترتیب کې معمول ده، په فرعي تقسیماتو سره وېشل کېږي او تر قوماندانۍ لاندې راځي. د درانیو زیاتره برخه د نظامي عملیاتو په موده کې یوازې د پاچا په خدمت کې حاضرېږي، پاچا درانیو ملک ته په نږدې جنګ کې هغومره درانیان بللی شي، چې معاش ورکولای شي.

### غلامان یا د پاچا ساتونکي

د غلام شاه یا د غلام خانو د قطعاتو شمېر تر دیارلسو زرو مېړو څخه اوړي. غلام خانه د لومړي ځل لپاره د احمد شاه له خوا له هغو بېلو بهرنیو افرادو څخه جوړه



Property of ACKU

شوې وه، چې هغه یا د درانیو په ملک کې مېشت کړي وو یا د نادر شاه له پوځ یا له نورو هغو فارسیانو څخه وو، چې ځانونه یې د درانیو په حکومت پورې تړلي وو. وروسته ده د کابل او د هغه د شاوخوا سیمو تاجکان پکې شامل کړل.

د کابل او پېښور له شاوخوا لویانو سره تر هغه وروسته دغسې ترتیب ونیول شو، چې اوس د هغه له مخې ددغو قطعاتو لپاره د دوی له قومونو څخه مېړونه تهیه کېږي او هغوی ته د معاش پرځای ځمکې ورکول کېږي. قزلباشان، چې ددغو لښکرو نېږدې دریېمه برخه تشکیلوي، د ټولو ډېره ښه برخه ده. دوی که څه هم ډېر وخت کېږي، چې په کابل کې مېشت شوي او په کسبونو بوخت دي، د سرتېرو، په نظامي چارو کې یې تراوسه هم خپل اصلي کرکټر ساتلی دی، په خدمت کې ډېر ښه دي، خو په فارس کې آن د خپلو وطنوالو په پرتله ډېر کلک او بدکاره دي.

په کورنیو جنګونو کې دوی تر پښتنو په دې ډېر وفادار دي، چې پوهېږي که کوم شاهزاده خپه کړي، په یو وخت کې به د هغه تر واک لاندې ورشي او له یوې خوا سره به د دوی وفاداري د هغې رقیبان لړ وپاروي، نظر دې ته چې هغه بالکل ترک کړي او په دې ډول ورسره خیانت وکړي.

دغه غلامان په پوځ کې تر نورو لښکرو ډېر ریړونه ګالي، خدمت یې تلپاتې دی او د خپلو شکایتونو د رفع او آن د منظمو معاشونو د حاصلولو لپاره هېڅ راز وسیله نه لري. پاچا که معاش ورکړای شي ممکن وکړای شي د کابل د شاوخوا له تاجکو څخه دوه برابره شمېر ددغه خدمت لپاره وبولي.

دغه غلامان په ډلو یا دستو وېشل شوي او افسران یې کولر آغاسیان نومېږي. دغه افسران ټول په پاچا، زیاتره په پېشخدمتانو او خواجه سرایانو پسې لري.

## شاهین چیان او نور

له غلامانو سربېره د تلپاتي پوځ بله برخه شاهین چیان دي. دوی په اوښانو سواره وي او لوی ګولۍ لرونکي ټوپکونه (Swivels) ګرځوي، شمېر یې اووه یا اته سوه ته رسېږي.

ویل کېږي، چې د کابل پاچا ډېر توپونه لري، خو له شاه شجاع سره هغه وخت، چې په (۱۸۰۹) کې په پېښور کې د جنګ ډګر ته ووت، یوازې اووه توپونه وو او هغه هم تر هغو نه، چې ما د هندوستان په محلي پوځونو کې لیدلي، له هره حیثه ډېر خراب وو.

د پاچا شخصي ساتونکي له هره څو سوه هندوستانیو سپاهیانو نه متشکل دی. دوی د حرم په وره کې سواره ولاړ وي، یونیفورم یې زموږ (انګرېزانو) د سپاهیانو په څېر دي، خو داسې ښکاري چې هېڅ دسپلین نه لري.



Property of ACKU

نامنظم پلي افراد، چې حصارونه او چوڼۍ ساتي، د هغو ولایتونو له عوایدو نه معاش اخلي، په کومو کې چې دوی پراته وي. د اټک په کلا کې د دوی نهایي شمېر یو نیم سل وي.

د هغو پوځونو ذکر، چې والیان یې په ولایتونو کې ساتي، تر هغه ځایه چې معلومېدلی شي د ولایتونو په برخه کې به وشي، له دوی نه کار نه اخیستل کېږي، خو دا چې د دوی په ګاونډي ولایت کې جنګ پېښ شوی وي، کاره نوکر د جنګ په وخت کې د ځمکوالو له خوا په هغه اندول تیارېږي، چې په پخوا وختونو کې ټاکل شوي وي. ددغه خدمت لګښت د مالیاتو په معافۍ سره، چې په لومړۍ پریکړې کې پرې موافقه شوې وه، تهیه کېږي، شمېر یې فرق کوي. درباریان ادعا کوي، چې په هرې قلبه ځمکې باندې یو مېړه ټاکل شوی دی. کابل ته نږدې پراته قومونه هم ممکن د همدغه اصل له مخې حکومت ته جنګي مېړونه ورکوي، تر هغو لیرې او تر هغو قوي قومونه ممکن تر هغو لږ مېړونه په ځان منلې وي، ځینې یې ممکن هېڅ نه ورکوي.

تاجکان تر پښتنو ډېر مېړونه تهیه کوي. په ټولیز ډول هغه شمېر، چې دوی یې تهیه کوي نظر درانیو یا غلامانو ته لږ وي.

دوی په ډلو وېشل شوي او تومانداران یې درانې سرداران دي او یا ممکن هغوی اوسي، چې د خپلو سیمو حکومت په لاس کې لري. سربېره پر دې هر تقسیم د خپل قوم د یوه متبوع مشر تر قوماندې لاندې وي، هغه وخت چې دوی جلبېږي ملکان ځمکوال بولي، چې خپله ونډه مېړونه تهیه کړي او دوی ددې اختیار لري، چې خدمت وکړي یا اجیر عوضي ونیسي.

د عوضي اجوره د خدمت د مودې د دوام په اندول ده او په ټولیز ډول هغه له پینځو څخه تر اوو تومانو یا له لسو څخه تر څوارلسو پونډو پورې ده. له دغو پسو څخه د کلي مشر یو سپور په ټولیز ډول په درې تومان نیسي او د خدمت لپاره ددغسې مېړه موندل د کلي یا د هغه شاوخوا له غریبو خلکو څخه څه اشکال نه لري.

د درانیو مشر زیاتره وخت د دې پر ځای، چې د سورو په منلو ټینګار وکړي، پیسې اخلي او په دې وسیله په ټولیز ډول د کاره نوکر واقعي شمېر تر هغه، چې ټاکل شوی دی، لږ دي.

سربېره پر دې پاچا په معمولي ډول د کاره نوکر د هغه شمېر پرځای، چې له یوې خاصې سیمې یا قوم نه غوښتل کېږي، نغدې پیسې ترلاسه کوي. دغه مېړونه، چې د خدمت لپاره ځي، په ټولیز ډول تر هغه وخته له پوځ سره پاتې کېږي، چې په منظم ډول رخصت شي. دوی نه له حکومت او نه د خپل کلي له مشر څخه بل معاش ترلاسه

Property of ACKU

کولای شي، خو هر خېل مجبور دی د هغو سورو کورنیو ته د اجورې په توګه جنس ورکړي، چې دی یې تهیه کوي. پاچا ممکن د پاچایۍ له زوال راهیسې د قدرت د نه شته والي له لامله مجبور شوی وي، چې کاره نوکر د خدمت لپاره جلب کړي او څه وخت، چې دی خدمت کوي، یو څه معاش ورکړي، خو دا ددغو ډلو مېړو د اساس مقرري کومه برخه نه ده. کاره نوکر ټول سواره دي، یوائې هغه قطعه، چې د کابل کوهستان یې تهیه کوي او شمېر یې تر دوو زرو کم دی، له پلیو څخه جوړه ده.

## ایله جاري

ایله جاري هغه ملېشا ده، چې په اضطراري حالاتو کې احضارېږي. داسې ښکاري، چې دغسې مفاهمه موجوده وي، چې هغه شمېر یې چې تهیه کېږي باید د نفوسو د لسمې برخې په اندازه وي، خو دغه شمېر ممکن هېڅ وخت جلب شوی نه وي. له بلې خوا منل شوې، چې پاچا کولای شي د ضرورت په وخت کې تر هغو ډېر شمېر هم احضار کړي. هغه کسان، چې د ایله جاري په توګه خدمت کوي، له ډېرې بېوزلې طبقې څخه دي. دوی ته دغومره اندازه پیسې ورکول کېږي، چې د هغې مودې لپاره دوی په خدمت کې وي، د دوی د ژوند د تامین لپاره بس وي.

دغه پیسې یوائې کله کله له پینځو روپیو نه اوړي او هغه د هر کلي د ملک له لارې ورکول کېږي. دغه لګښت د کلي په ټولو اوسېدونکیو باندې د محصول په نامه حواله کېږي. همسایه ګان او کسبګر، چې ځمکې نه لري هم د هغه په ورکولو مجبور دي. یوائې ملایان او د هغوی په څېر نور کسان له دغسې محصولاتو نه معاف دي. اورېدلي مې دي، چې هغه ځمکوال، چې مالیات ورکوي، ایله جاریانو ته په پیسو ورکولو مجبور نه دي او څنګه، چې کاره نوکر یوائې او یوائې ددغسې ځمکوالو په پیسو احضارېږي، د دوی دغه معافي ممکن سمه وي. څنګه چې دوی ته لږ معاش ورکول کېږي، د خدمت لپاره ددغسې رضاکارانو جلب مشکل دی. دوی نړدې ټول په زور نیول کېږي. له دې لامله ایله جاري یوائې د ښارونو له شاوخوا قومونو څخه او یا د هغو سړکونو له غاړو نه، چې یوځ پرې ګرځي احضارېدلی شي. حکومت له دوی نه څنګه، چې په ډېرو حالاتو کې په یوه ځای کې د ډېرې مودې لپاره یوځای ساتل کېدای نه شي یا له خپلو ځایونه لېرې بیول کېدای نه شي ډېره استفاده نه کوي، د ولایتونو حاکمان زیاتره وخت ایله جاریان غونډوي او هغه په ټولیز ډول هغه یوائېنی پوځ دی، چې دوی په هغو مجبور دي ویسا ولري.

پاچا څو ځله د پېښور ایله جاري په تېره بیا په کشمیر باندې په ټولو یرغلونو کې احضار کړي دي. د کابل ایله جاري هم د نظامي خدمت لپاره بلل شوي دي.

داسې ښکاري، چې ددغو دوو ولایتونو ایله جاري نږدې سره برابر وي او هر یو

Property of ACKU

یې د حالاتو مطابق له څلورو څخه تر شپږو زرو مېږو پورې وي. داسې ښکاري، چې له دوی نه څنګه، چې د نظامي خدمت لپاره کار اخيستل کېږي، په سرک جوړولو او داسې نورو چارو کې هم ترېنه استفاده کېږي. د بېلګې په توګه د کابل ايله جاري يو ځل د تيمور شاه له خوا ښار ته نږدې د يوه نهر د پاکولو لپاره بلل شوي وو.

ايله جاريان نږدې ټول پلي دي، دوی ته د پاچا له خوا معاش هېڅ نه ورکول کېږي، خو يوازې په هغه حال کې ورکول کېږي، چې د جنګ په ميدان کې له درې مياشتو نه ډېر پاتې شي.

داوطلبان يوازې د يوه خاص يرغل لپاره بلل کېږي او کله چې بلل کېږي، پينځه تومانه يا لس پونډه ورکول کېږي او دغه پيسې د يوه يرغل لپاره پوره بس دي. دوی ډېر چانس لري، چې له پوځ سره په دې هيله پاتې شي، چې غنيمت ترلاسه کړي. د هندوستان په يرغلونو کې د پوځ دغه ډول په شمېر کې بيخي ډېر وي په نورو حالاتو کې خلک ان يې له معاش نه د غنيمت په اسره روانېږي.

په باندنيو يرغلونو کې د خلکو له ټوليز پاڅون نه دولسي په نامه استفاده کېدای شي. د قومونو په شرح کې د پوځ دغه ډول ذکر راغلی دی. له هغو قومونو څخه، چې د جنګ ډګر ته نږدې پراته دي، د ټوليز پاڅون هيله کېدای شي. دوی د حکومت تر کومې مقررې لاندې نه وي او د نه ادارې کېدلو له دغسې يوه لوی شمېر نه په کومې ټوليزې حملې کې د ښو انتظار کېدای نه شي، خو که له دوی نه په ښه توګه استفاده وشي، دغسې قوه به بې له ګټې نه وي. مهم پاڅونونه زياره وخت د عامه مقصدونو لپاره شوي او دغه قيامونه له هغو قومونو سره، چې پاڅېدلي وي، مستقيم ارتباط نه لري. په دې ډول په کابل کې د سني او شيعه ترمينځه جنګ کې ټول ګاونډي قومونه په تېره کوهستانيان د خپل مذهب د ملاتړ لپاره جاضر شول. ولسي پوځونه معاش نه لري.

## سرداران او نور افسران

د پوځ ستر افسران سرداران نومېږي. دوی ټل يو څو تنه وي. د شاه شجاع په دوره کې يوازې درې تنه سرداران وو. دغه تلپاتې نظامي رتبه بايد د هغه سردار له مقام نه بېله وشمېرل شي، چې په هر ولايت کې موجوده وي. کله کله يو افسر د سردارانو د سردار په نامه وي او دی د ټولو سردارانو مشر وي. دی هر چېرې، چې وي، د هغه ځای د پوځ قوماندان وي. شاه محمود وزير فتح خان په دغه مقام وياړلی دی.

شاهين، چې باشي يا د اوښانو د توپخانې قوماندان يو ښه لوړ افسر دی، دی بايد بارکزی اوسي.



Property of ACKU

د منظمو پوځونو نږدې ټوله برخه سواره وي. آسونه په دوی پورې اړه لري، نږدې له پينځو سوو پيشخدمتانو پرته بل داسې څوک به نه وي، چې په حکومتي آس سور وي. لويان هم هر يو ځانله پېشخدمتان لري او دوی په دغسې آسونو سپاره وي، چې پخپله په هغو پورې اړه او د دوی په لګښت سمبال شوې وي. دوی د ټول پوځ تر ټولو ښه سواره او تر ټولو ښهٔ مسلح دي. دوی په ټوليز ډول قزلباشان دي.

آسونه نږدې ټول له تارتاري اوزبکو او د آمو پر غاړو د ترکمنو له ملک څخه وي. دغه آسونه په ټوليز ډول واړه، کلک او ګړندي وي، له هغه غرني ملک سره چې له دوی نه يکې کار اخيستل کېږي، ښه روږدي او د اوږدو مزلونو لپاره ښه مساعد دي.

## وسلې او سامانونه:

د درانيو وسلې د فارسيانو غوندې توره او ماشه لرونکې ټوپکې دي. تر نورو څو ممتاز کسان يې ساڼګې (نيزې) هم لري، چې له هغو نه د بريد په وخت کې کار اخلي لکه څنګه چې په هندوستان کې دود ده، دوی د هغو په استعمال کې ښه مهارت نه لري. يو څو کسه د بلته ييزو ټوپکونو خاوندان هم دي. لويان يې په ټوليز ډول توپانچې هم ګرځوي، پخوا په دوی کې تبرونه هم رواج وو، خو اوس هغه له رواجه لوېدلي دي.[1]

---

[1] د درانيو لښکرې لفټننټ مکارت ني (Macartney) چې پخپله د سورويو افسر و، په لاندې ډول بيان کړی. دی د پوپلزيو له لښکرو څخه ګرېږي: د دوی وسلې او جامې د نورو درانيو په څېر دي او هغه دا دي: تورې، چړې، جنګي تبرګي، واړه ماشه يي ټوپکونه. ځينې دغسې (Ulocks) لري، چې کارابين (Carabine) څخه اوږده نه دی، خو يو لوی ميل لري او په ځينو يې ساڼګې (نيزې) تړل شوې وي. دوی اوږدې توپانچې هم ګرځوي، خو له يو څو تنو سره يې ډالونه دي. په ټوليز ډول د دوی ځينې وسلې تر کباړی لاندې ګرځوي، جامې يې له يوه اوږده کميس څخه جوړې دي، چې د هغو له پاسه واسکټ اغوندي او هغه په ټوليز ډول له وريښمينو يا چيټ څخه جوړ وي. له هغه سره د شال يا لونګۍ ملاوستنې هم وي او ددغو ټولو له پاسه يوه اوږده کباړی اغوندي، چې د وليو دپاسه ځړېږي او تر ښنګرو پورې رسېږي. په سر يې په ټوليز ډول شال يا لونګۍ وي، چې د لنګوټي په څېر يې د خولۍ له پاسه تړي. د هوزار (Hussar) له شکل څخه موزې په پښو کوي او هغه د سويانو له پوټکي نه جوړوي. دوی په ټوليز ډول سواره دي او په وړو آسونو ځغلي، چې يواځې ځينې يې تر څوارلسو لاسونو (لوېشتو) او يوه انچ لوړ دي. دغه اسونه ډېر کلک او پياوړي دي او په حېرانونکي ډول اوږده مزلونه وهي، خو څنګه چې دوی هر چېرې چې ځي خپل اسونه په کښتونو کې خوشې کوي، خپل هدف ته تر رسېدو وروسته ډېر تکليف نهويني. دوی قيضه لرونکې واګې استعمالوي، زينونه يې له سپکو لرګيو نه جوړ وي او د کېناستلو ځايونه يې په تجملي ټوکر پوښل شوې او لاندې يې په پومبې نرم شوی وي. دوی يو خو ګير لري، چې هغه په ټوليز ډول تر زين لاندې له نيمڅي نه جوړوي. ځينې مشران يې ډېر قيمتي ډول استعمالوي. دوی د هندوستان تر سورو ډېر لوړ ښکاري، خو خپل اسونه په دومره ښه ډول اداره کولای نه شي او په ځانګړي ډول ممکن د هغو مساوي نه اوسي، خو دوی بايد په لا ډېر شدت حمله



Property of ACKU

درانیان د پلي په توګه هېڅکله خدمت نه کوي، غلامان هم په زیاته اندازه په همدې ډول مسلح وي، خو تر نورو ډېر ماشه ییز ټوپکونه او سانګې لري.

غلزي هم هغه وسلې لري، چې درانیان یې ګرځوي، یو ووړ ډال یې ترې اضافه وي.

ختیځ پښتانه هندي تورې، سپرونه، د څرمنې زغرې، ماشه ییز ټوپکونه او زیاتره وخت سانګې ګرځوي، خو د وروستۍ وسلې استعمال مخ په کمېدو دی. هر سور د خوړو مواد له ځان سره ګرځوي، چې هغه په ډوډۍ، کورتو او د اوړو په یوه لوی تونګ (پتکه) مشتمل وي.

پلي افراد په ټولیز ډول توره، ډال او له رست (Rest) سره ماشه ییز ټوپک لري. د کابل د کوهستان پلي افراد، چې تر ټولو ښه ګڼل کېږي، پلته ییز ټوپک، توپانچه او یوه وړه چړه قبضه ګرځوي، خو توره نه لري. کابل ته نږدې غلزیان، خیبریان او ځینې نور قومونه د تورې پرځای یو ډول چاړه ګرځوي، چې نږدې درې فوټه اوږده وي.

د هرې ډلې مېړونه د مارش په حال کې سره یوځای وي، خو دوی په ټولیز ډول دومره د نظم پروا نه ساتي. کله څه هم یو شمېر ډېر افسران په دې ګومارل شوي دي، چې نظم وساتي. دوی د هندوستان د پوځ په پرتله یواځې یو څو غیر نظامي ملګري له ځان سره بیایي او هغه چې بیایي زیاتره سواره وي.

د خدمت په وخت کې د ښځو او ماشومانو وړل په دوی کې رواج نه لري. کېږدۍ یې سپکې او پنډوکي یې لږ وي او هغه په آسونو، کچرو او اوښانو وړل کېږي. له پوځ سره یو ووړ بازار هم ملګری وي.

داسې ښکاري، چې حکومت د غلې د تهیه کولو یا خپلو پوځیانو ته د ترتیباتو

---

وکړي، څکه چې د دوی اسونه په کمربندونو او یا د قیضې په هغې اوسپنې، چې د اسونو په خولې کې وي، نه مانع کېږي او په نتیجه کې په ډله ییز ډول ډېرې ښېګڼې لري. داسې ښکاري، چې دوی په قطار سره په حمله کولو پوهېږي او په بیړه په مخ ځي. دوی هېڅکله داسې لیدلي نه دي، چې په دوو قطارونو کې حمله وکړي، خو هغه لښکرې یې، چې زموږ له هیئت سره بدرګه وي، په قطعو، قطعو روانې وي او د خپلې ارابې منظمه فاصله یې ساتله. ما دوی په دې ډول ونه لیدل، چې په یوه قطار کې وګرځي، خو دوی خپل مخکینی قطار لږ او ډېر و او هم یې په مخ کې قطار جوړ کړ او خپلې لیکې یې په تنظیم سره او ندې ساتلې، څو دوی په خپلو منځو کې د دسپلین مراعات هېڅ نه کوي. البته د لښ:رو ددغه قطعه د مېړو او اسونو یوه غوره ډله ده او باید ارومرو ورته لارښوونه شوې وي، چې له هیئت سره په پوره تنظیم مزل ووهي، خو په ټولیز ډول داسې ښکاري، چې دوی د هندوستان د لښکرو په څېر نامنظم دي. دوی کم ځانه خو قوي او فعال انسانان دي. ما دوی ولیدل، چې د ستغو ډبریزو غرونو دپاسه په بیړه تلل، چې که هلته داسې پېښه وشوه، چې که کوم اس یوه غلط ګام واخیست، ممکن دوی ټوټه ټوټه شي.



Property of ACKU

د نیولو په اړه کله کله ځان په زحمت کوي او څنګه چې د عسکرو عادات له دغه سیستم سره متوافق کېږي، د مهماتو په دې اړه دوی تر نورو منظمو پوځونو لږ مشکل لري. د پوځونو عادي مارشونه له دولسو څخه تر شپاړس میلو پورې وي.

حکومت کله کله خپلو پوځونو ته غله او په ځینو ځانګړیو مواقعو کې د خوراکي څیزونو د پېرودلو لپاره پیسې ورکوي. پښتني پوځونو ته په خپلو شرقي متصرفاتو کې، چې د هغو اوسېدونکیو د هندوستانیو مطیع خوییونه پیدا کړي، غلې، پروړه، د سون لرګي او هر هغه څه، چې دوی ورته اړوي په زور وړیا اخلي او دغه بې انتظامي ګانې له هغه وخته، چې په حکومت کې ګډوډي راغلې یا کله کله مجازات شوي یا هیڅ نه دي شوي، خو دوی په ټولیز ډول مجبور وي د خیبر په لویدیځو سیمو کې د خپل اړتیا وړ شیان د پیسو په بدل کې ترلاسه کړي. دوی هغه وخت، چې د دښمن په ملک کې وي، دوی ټول د چپاو یا چپاول په نامه، چې یوه ترکي کلمه ده، یا د هغو ځانګړو ځایونو په ضد استوي، چې غواړي په ناڅاپي ډول پرې حمله وکړي یا اوار ملک پرې چور کړي.

دوی په کلابند کولو کې تر ډېرې مودې حصارېږي، دوی له دغه کار سره لکه چې ممکن فکر وشي، ډېر نابلده دي او هغه د دوی د پوځونو د ماهیت او د توپونو د خرابوالي له لامله تر ډېرې مودې دوام کوي. په ټولیزو او لویو نښتو کې د دوی پلان دا وي، چې توره په لاس په ډېر شدت بریده وکړي او په هغه پورې د جنګ برخلیک تړلی وي. داسې ښکاري، چې فارسیان د پلیو له دغسې حملې سره تل مقابله کوي او زیاتره وخت بری د دوی وي. د نادر شاه افشار جنګونه ټول همدغسې وو، د هرات وروستی جنګ هم له همدې ډول څخه و.

په کورنیو جنګونو کې د درانیو سلوک د دوی د نظامي کرکتر په اړه ډېر ټیټ نظر څرګندوي. د دوی پوځونه واړه وي او یوازې کله کله په یوې خوا کې له لسو زرو مېړو څخه اوړي او هغو ته په ټولیز ډول لږ معاش ورکول کېږي او افراد یې نامنونکي وي. بری په دې ټاکل کېږي، چې کوم مشر دښمن ته لاړ شي او ورته تسلیم شي، په دې حال کې د پوځ زیاتره برخه یا د هغه په پله ځي یا تښتي آن کله چې جنګ هم د تورې په زور فیصله کېږي، لږه وینه توییږي او هغه هم د لویو خانانو وي. دوی د جنګ له نتیجې سره ډېر علاقمن دي او عادي عسکر د اصل موضوع هومره پروا نه ساتي.

***

Property of ACKU

# اووم څپرکی

## مذهبي تاسيسات

دغه لاندې ذکر شوې مقامونه او هغه حقوقي منصبونه، چې د قضا او څارندوی (پوليس) تر سرليک لاندې يې ذکر شوي، د ملايانو په لاس کې دي:

ملاباشي، چې د علماوو مجلس ته د ګډون لپاره غوره کېږي او دی د ملايانو او پاچا ترمنځ د مفاهمې يوه وسيله ده، د پاچا امام يا پېش نماز، چې د پاچا امامت کوي. امام پاريکاب، چې په سفرونو يا نورو مواقعو کې له پاچا سره ملګري وي او د هغه عادي امام غايب وي.

پورتنی يې په شاهي کهول پورې تړلي دي او لاندينی يې د لويو ښارونو امامان دي.

شيخ الاسلام: ملايانو ته، چې نقده معاشونه او تقاعدي معاشونه ورکول کېږي، هغو د ټولو اسنادو نقلونه له ده سره پاتې کېږي. دی هر هغه مبلغ، چې په حاکم حواله شوې وي، هغه ته تسليموي او هغو ملايانو ته يې ورکوي، چې حق يې وي.

### د ښار صدر

دی د ټولو هغو مذهبي ځمکو دفتر په لاس کې لري، چې يا پاچا بخښلی وي او يا له شخصي افرادو نه پاتې وي او دی هغه د پاچا په فرمان د هغو د اصلي هدف لپاره تخصيصوي.

د پاچا د جومات امام د جمعې په ورځو او په دواړو اخترونو کې لمونځ ورکوي. د پاچا د جومات دويم امام له پورته ورځو نه پرته په نورو عادي ورځو کې امامت کوي.

خطيب ملا: دی په دې ګومارل شوی دی، چې په اخترونو کې له ښار نه دباندې په عيدګاه کې امامت وکړي.



Property of ACKU

مدرس: هغه ملا دی، چې د خپل علمي مقام له مخې په شاهي جوماتو کې طالبانو ته تدریس کوي او د پاچا له خوا دغه کار ته غوره شوی وي.

د حکومت په تشکیلاتو کې تر دې نږدې وختونو پورې د میرواعظ یا د لوی خطیب د مقام په نامه یو مقام موجود و، خو هغه د وروستي میرواعظ مشهورسید احمد میرواعظ له قیام نه وروسته لغو شوی دی.

له پورتنیو پرته د اطراف او ښارونو په ټولو جوماتونو کې هم امامان شته.

د ښارونو امامانو ته په ودونو، د ښخولو په مراسمو او داسې نورو مواقعو کې فیسونه ورکول کېږي. دوی د خلکو په بخششونو ژوند کوي.

د اطراف ملایانو ته یا د قوم د مشر او یا پخپله د قام له خوا ځمکه ورکول کېږي، خو هغه په هېڅ د حاصلاتو د شمېر په اندازه نه وي، چې دوی ته ورکول کېږي. هغه نور ټول ملایان، چې ذکر یې لومړی وشو یا له پاچا نه معاش اخلي او ځیني یې پر هغو سربېره فیسونه هم لري.

ډېر ملایان، چې په رسمي مقامونو مقرر نه وي یا له پاچا نه معاش اخلي یا د حکومت او یا د افرادو له خوا ورته وقفي ځمکې ورکول کېږي. جوماتونو ته هم ځمکې پرېښودل کېږي او د هغو اداره د هغو ملایانو په لاس کې وي، چې ورپورې تعلق لري.

د شاهي جوماتونو طالبانو ته هره ورځ د پاچا له خوا معاش ورکول کېږي.

* * *

Property of ACKU

# مــل (ضمیمې)

## لومړۍ ضمیمه

# د کابل د سلطنت تاریخ د درانیو د پاچایي له پیل راهیسې

Property of ACKU

## تــاریــخ:

د کابل د سلطنت تاریخ د درانیو د پاچایي له پیل راهیسې د درانیو د تېر تاریخ په اړه ډېر معلومات په لاس کې نه شته. داسې ښکاري، چې دوی د ډېرو سمو روایتونو پر بنسټ[1] چې زه یې په لاس لرم، تر اوولسمې پېړۍ پورې پوره ازاد وو او بیا دوی وروسته له دې، چې د اوزبکو له خوا تر فشار لاندې ونیول شول، موافقه وکړه، چې فارس ته د هغه د حفاظت په بدل باج تادیه کړي. دوی ښايي تر (۱۷۰۸) پورې په همدغه حال پاتې شوې وي. په دغه وخت کې غلزیان، چې تر دغه وخته د فارس تابع وو، د گرجستان د گرگین خان په ضد، چې په کندهار کې د صفویانو اوسنی حاکم یا (بیگلر بیگي) و، پاڅېدل. داسې ښکاري، چې درانیان په دغه وخت کې زیاتره د هرات په نږدې غرونو کې د ابدالیانو په نامه مېشت شوي وو او دمخه یې له غلزیو سره نښتې کړې وې. ابدالیانو پر (۱۷۱٦) کې د عبدالله سدوزي په

[1] دهان وي لیکنې ددغو روایاتو له جملې څخه، دده د پښتنو د فتوحاتو تاریخ ښه په زړه پورې او کره دی او کله کله، د هغو له مخې دمخه دورو باب زموږ توجه ځانته اړوي.

مشري د فارس په ملک ودانګل، د هرات صفوي حاکم ته يې د جنګ په ډګر کې ماتې ورکړه او دغه ښار او هغه ته نږدې ډېر ځايونه يې ونيول. دوی تر هغه وروسته په يوه جنګ کې د شاه محمود غلزي له خوا مغلوب شول، خو څنګه چې دغه پاچا تر هغه وروسته زر فارس لاندې کړ او څنګه، چې دده کورنۍ د خپلې پاچايۍ په لنډې دورې کې د خپلو فتوحاتو په تنظيمولو له عثماني ترکيې سره په جنګونو کې نښتې وه، ابداليان تر ډېرې مودې پورې په خپل حال پاتې شول. عبدالله خان سدوزي له خپلې ماتې وروسته خلع شو او ممکن د زمان خان له خوا (د دولت خان زوی د احمد شاه پلار) مسموم شوی وي. زمان خان د ابداليانو مشري خپله کړه، د فارسيانو يو لښکر يې، چې شمېر يې د دوی تر لښکرو دوه برابره ډېر و، مغلوب کړ او د دغه ملت ټول کوښښونه يې د هرات د نيولو په غرض شنډ کړل. د ابداليانو قوت په دغسې چټکۍ سره وده کړله، چې پر (۱۷۲۲) کې يې مشهد کلا بند کړ، چې نږدې د خراسان په شمال لويديځې پولې کې پروت دی.

تر هغه وروسته يو لړ کړووړې پېښې شوې، چې د هغو په جريان کې ابداليان، چې تر هغو د دوی حکومت دموکراتيک و، ترڅه وخته بېخي بې مشره پاتې شول او د دوی چارې په ډېر غالب احتمال په جرګو فيصله کېدلې، چې هغه به د کورنيو له مشرانو نه جوړه وه. په پای کې په (۱۷۲۸) کې د لومړي ځل لپاره نادر شاه په دوی ودانګل او دوی له ډېرو يرغلونو نه وروسته تسليم شول.

دوی بيا د ذوالفقار خان (زمان خان زوی، د احمد شاه مشر ورور) په مشرۍ پاڅېدل. ذوالفقار په وار وار فراري او په پورته يادو شويو ناارامو وختونو کې د ابداليانو مشر و.

ابداليانو د فارس په ملک بريد وکړ او په يوې نښتې کې يې د نادر افشار ورور ابراهيم ته ماتې ورکړه. څه وخت، چې دوی مشهد کلابند کاوه، پخپله نادر د هغوی مقابلې ته ووت او دوی يې بېرته خپل ملک ته وتمبول. ده د (۱۷۳۱) په سر کې د هرات کلابندي پای ته ورسوله او د لسو مياشتو د ډېر فعال او سخت مقاومت نه وروسته يې دغه ښار فتح کړ. په دغې کلابندۍ کې له ابداليانو سره غلزيو هم مرسته وکړه. نادر د سدوزيو مشران ملتان ته وشړل او د ابداليانو يوه لويه قوه يې مجبوره کړه، چې دده په پوځ کې شامله شي.

د هرات ښار بيا هېڅکله ياغي نه شو، خو ابداليانو د غلزيو او ايماقو په ملګرتيا د څه وخت لپاره د ښار په اطرافو کې جنګ ته دوام ورکړ. نادر وروسته د شپږو کالو په موده کې غلزيان ايل کړل او کندهار يې ونيوه.

ذوالفقار خان او د هغه ورور احمد خان په دغه ښار کې بنديان وو، نادر دوی ازاد

کړل او مازندران ته یې د دوی د خپل یوه قومي لښکر په قوماندانۍ واستول. څنګه چې ابدالیانو په عین وخت کې د هغه په خدمت کې په تېره د عثماني ترکیې په ضد جنګونو کې ښه نوم ګټلی و، نادر دوی ته هغه ځمکې د بخشش په توګه ورکړې، چې دوی یې اوس د تیول (جاګیر) په ډول په تصرف کې لري او دوی یې د هرات له لویدیځ نه د دوی اوسني ملک ته ولېږدول. داسې ښکاري، چې دی له دغه مهال نه وروسته له پښتنو سره ډېر علاقمن شوي وي. دده دغه پلوي د نورو علتونو په ترڅ کې ددې لامل شوه، چې دی د (۱۷۴۷) په جون کې د فارسیانو له خوا ووژل شي. په هغه ورځ، چې دغه پېښه وشوه، د احمد شاه په مشرۍ د پښتنو او اوزبکو ترمنځ له یوې خوا او د فارسیانو ترمنځ له بلې خوا جګړه وشوه. دا څرګنده نه ده، چې چا جنګ پیل کړ او دغې نښتې څه شي فیصله کړل.[۱]

احمد شاه له دغې پېښې نه وروسته د خراسان له ډېرې برخې نه تېر شو او وروسته له دې، چې تر ډېرو سختو استحکاماتو تېر شوي وي، بې له دې چې په هغو یې برید کړی وي، کندهار ته ورسېد.

په دغه وخت کې دده قوم له دوو یا درې زره سورو نه ډېره نه وه، په کندهار کې دده ته ددې پته ولګېده، چې هغه خزانه چې له هندوستان څخه د نادر لپاره استول کېده، درانیو نیولې وه او دده زر په هغې ادعا وکړه. ځینې لویان په لومړي سر کې زړه نازړه وو، چې دغه خزانه هغه ته تسلیم کړي. که څه هم د سدوزیو د مشر په توګه دده دریځ اوس په نظامي قوې سره پیاوړی شوی و، دده د هغوی ځینې سرزوري ووژل او قوم یې تر هغه وروسته له مخالفت نه لاس واخیست.

دی د (۱۷۴۷) په اکتوبر کې په کندهار کې پاچا شو. ویل کېږي، چې د درانیو، قزلباشو، بلوڅو او هزارو لویانو دده په پاچا کېدلو کې ورسره مرسته کړې ده. احمد شاه په دغه وخت کې ډېر ځوان او د یوه معاصر مورخ په قول درویشت کلن و.

احمد شاه ژمی په کندهار کې تېر کړ او د هغه ملک په تنظیمولو پسې شو، چې دمخه یې نیولی و او د راتلونکیو یرغلونو لپاره یې خپل پوځ تنظیماوه. داسې ښکاري، چې دده د حکومت په تنظیمولو کې د فارس د وخت د حکومت طرز په نظر کې نیولی وي. دده د دربار شکلونه، د دولت ستر افسران، د پوځ تنظیم او پاچایي دعوې کټ مټ هغسې دي، چې د نادر شاه وې، خو ددغو پاچایانو ترمنځ توپیر په هغه طرز کې څرګند و، چې احمد شاه مجبور د نادر شاه پلان ته هم د خپل داخلي حکومت په اداري او هم د هغو اقداماتو په ترتیب کې بدلون راولي، چې موخه یې

۱ لیکوال تر دغه ځایه په ټولیزه کې د نردناجي له لیکنو نه، چې ویلیم جوتر ژباړلي، استفاده کړې ده.

Property of ACKU

دتنه او دباندې د قدرت دپرول وو.

## د احمد شاه سیاست

فارسیان له پخوا نه یوه مطلق حکومت ته په تسلیمېدو روږدي او تل خپلو واکمنو ته علاقمن وو. هغه کورنۍ، چې تر ډېرې مودې په دوی حاکمه وه، د پښتنو له خوا نسکوره شوې وه او فارس د سیاسي ژوند له شروع نه د بهرني جغ لاندې په سختۍ سره ایسته‌له. نادر دا خپله دنده وبلله، چې ځان ته د خپل ملک د ژغورندوی صفت وګټي او ځان د خپلو محلي پاچایانو ګټندوی. ده له خپلې شاهي کورنۍ سره د ښېښۍ له لارې ځان نږدې کړ او څه وخت، چې ده تر کافي اندازې د خپل پوځ ملاتړ او د خپلو خلکو احترام ځانته جلب کړ، قانوني پاچايي ونیو او د هغه قدرت یې ځان ته ولېږداوه.

دی په فارس کې یوې تاسیس شوې پاچایي ته په رسېدو کې له کوم سخت مخالفت سره مخامخ نه شو او د خپل پاچا کېدو له لومړنۍ شېې څخه یې وکولای شول، چې د سلطنت له ټول قوت نه په دباندنیو یرغلونو کې استفاده وکړي.

احمد شاه د نادر په خلاف مجبور و په داغسې یوه جګړه مار او ازاد ولس پاچايي جوړه کړي، چې په هیڅ وجه د حکومت له هیڅ شکل سره علاقمن نه و. هغوی چې له دې سره ډېر روږدي وو، چې د پاچا له خوا پرې حکومت وشي. دده د قدرت احساس یوازې په هغو طریقو سره کاوه، چې دوی یوه خارجي دولت ته په محصول ورکولو عادي وو او دوی ددې پرځای، چې داغسې یو واکمن وبللی وي، چې دوی یې تر سیوري لاندې نیولي وي، هغه یې قوي دښمن باله. په داغسې حالت کې دې ته اړ وو، چې د هغه وفادار او علاقمن وي، دوی هیڅکله د یوه ځای او لوی پاچا په مشرۍ یو موټي شوي نه وو او ددې احتمال قوي ښکارېده، چې دوی په خپلواکۍ د برابرۍ د هغې مینې په سبب، چې د دوی په کرکټر کې ډېره څرګنده ده، د یوه خارجي بادار ظلم ته غاړه کېږدي او تر هغه زیات د خپل هېواد د یوه کس هسکېدلو ته په رخه وګوري.

د نادر شاه او احمد شاه د جلوس د شرایطو اختلاف د وروستي په سیاست کې د متوافق تو پیر لامل شو. دده لومړنی هدف دا شو، چې د خپل قوم مینه ځان ته جلب کړي، چې د هغه تلپاتې ملاتړ او په همدې ډول د هغه سمدلاسه مرستې ته یې اړه لرله. د همدغه مقصد لپاره ده د دوی ځمکې د دوی په لاس کې پرېښودلې او له هغوی نه یې بله قرباني ونه غوښتله. خو دا چې د خپلو پوځونو له هغو نظامي قطعاتو سره حاضر اوسي. کوم چې نادر شاه ټاکلي وو. ده د خپل نوي دولت ټول ستر منصبونه د درانیو په سترو کورنیو کې ووېشل او په همدغه طرز یې نوي

Property of ACKU

منصبونه تاسيس کړل. لکه څنګه چې يې تاج په خپل سر ايښی و، ده موروثي مشرانو ته د هغوی امتيازات پر ځای پرېښودل او يوائې کله کله يې د قومي خېلونو په داخلي حکومت کې لاسوهنه کوله او دغه مداخله هم بس دومره وه، چې د پوځ او د عامه امنيت د خوندي ساتلو لپاره ضروري وه او ده دغه چارې تل په موثر ډول ترسره کولې. که څه هم ممکن ده د درانيو ځينو غړيو ته دده د قوم د جلبولو لپاره د خپلو رقيبانو په توګه د رخې او حسد په سترګه کتل.

ده په دې لاره کې ډېر ربړونه وګالل، چې د درانيو له درناوي نه سدوزيو لپاره فايدې ترلاسه کړي.

ده تل د دوی امتيازونه پر ځای وساتل او هغه درناوی يې نافذ وساته، چې د دوی له شان سره وړ وو. داسې کيسې ډېرې اورېدل کېږي، چې ده هغو کسانو ته سخته سزا ورکړې، چې سدوزيو ته يې تاوانونه اړولي، که څه هم هغوی دده پلويان وو.

له غلزيو پرته د نورو قومونو په اړه دده نظر دا و، چې دوی د خپل پاچا په پرتله مينه پيدا کړي، دی په دې هيله و، چې دغه مينه پيدا کول له بهرني جغ نه د دوی د خلاصولو او د خپل واک او د تدريجي او برابر پياوړي کولو له لارې ترسره کړي.

خو د پښتنو په اړه دده اعتدال ممکن يو څه نور لاملونه او محرکات هم لري، ځکه چې ده يا داسې احساس کاوه، چې له خپل ملت سره ډېره کلکه مينه لري او يا يې ددغسې احساس تظاهر کاوه. ده د سرايله قومونو په ضد د حملې نه کولو په اړه ويل، چې دی دې ته حاضر نه دی، چې په خپلو وطنوالو باندې کوم ډول مصيبت حواله کړي.

ده په داخل کې د خپل قدرت د ټينګتيا لپاره تر زياتې اندازې د خپلو باندنيو يرغلونو په تاثير ويسا وکړه. دی په دې فکر و، چې که هغه په مري سره سرته ورسېږي، دده فتوحات به دده نوم هسک کړي او په خپلو فتوحاتو سره به هغسې وسايل ترلاسه کړي، چې په هغو سره پوځ وساتي او پښتانه مشران به په بخششونو او انعامونو ځان ته جلب کړي. د غنيمت ګټلو هيلې به ډېر قومونه دې ته وربولي، چې په ده پسې روان شي. په داسې حال کې، چې ده په اسانۍ سره نه شو کولای هغوی ځان ته په تسليمولو مجبور کړي. له خپل پوځ سره د لويو کسانو بيول به دی په دې برلاسی کړي چې په خپلو قومونو کې د هغوی د پياوړي کېدو يا د نفوذ ساتلو مخه ونيسي او نظامي رسم ته د غاړې ايښودلو عادتونه به دوی ددې لپاره چمتو کړي. چې په داخل کې خپل حکومت ته په ورين تندي تسليم شي. په همدې ډول څنګه چې پوځونه به په پرله پسې ډول خپل پاچا ويني او د موروثي مشرانو



Property of ACKU

تسلیمي به مشاهده کوي، دوی به دا زده کړي، چې دی د خپل ټول ملت سرغندوی او مشر وګڼي او ممکن دی هغسې هیله وکړي لکه، چې پېښو ثابته کړه، چې د هغه ښه ایسیدونکي کړه وړه، زړورتیا، فعالیت، څارنه او نورې نظامي ښېګڼې، چې ده لرلې، د ټولو درجو افسران او د صفوفو غړي په درناوی سره تر تاثیر لاندې راولي او دده پوځیان او پاسوال دده شخصیت ته په قوي ډول جذب کړي.

د پښتنو ملت او د ګاونډیو سلطنتونو حال ددغه پلان د عملي کولو لپاره مساعد وو، په دې چې هغه دده د مقبوضاتو لپاره که څه هم ښه تنظیم شوی نه و، د خوندیتوب لامل کېده او په ګاونډیو باندې یې د هغه د بریدونو لپاره د برې چانس زیاتاوه.

درانیانو له فارسیانو سره د یوه سخت او اوږده جنګ په دوره کې او له نادر شاه سره د یوې لوې نظامي قطعې له لارې په خدمت کولو تجربه او دسپلین حاصل کړی و او هغه ښه نظر، چې دغه لوی قوماندان په دوی لاره، ددې لامل شوی و، چې د دوی روحیه او ویسا اوچته شي. تر دې، چې دوی په رښتیا په ټولې آسیا کې ځانونه د ډېرو ښو عسکرو په څېر ګڼل. له بلې خوا د دوی سیالانو غلزیو د پرله پسې ماتو او مصیبتونو له لامله روحیه بایللې او زړونه یې مات شوي وو. نورو پښتنو د هغې دورې له پېښو څخه، چې په هغه وخت کې حتمي شوې وې، دا زده کړي وو، چې د هندیانو نه کرکه ولري. له ملت څخه د یوه پاچا د هسکېدو لپاره په دغه وخت کې تر هر بل چا فارسیانو ته په ناوړه نظر وګوري، نو په دې ډول دوی دغو کړنو ته ښه چمتو وو.

د باندنیو قدرتونو حال هم په برابره اندازه مساعد و. د هندوستانیو او اوزبکو د امپراتوریو کمزوري له نادر شاه سره په جګړو کې څرګنده او ډېره شوې وه. بلوڅانو هم د نادر شاه له خوا تاوانونه ګاللي وو او ممکن له فارسیانو نه یې په پوره اندازه وېره لرله. چې د خپلو پخوانیو متحدینو یانې پښتنو ته په پوره توګه تابع کېدو سره تسلیم شي نظر دې ته، چې د خپلو نورو ګاونډیو سخت بې رحم حکومت او زورواکي ته د پخوا په څېر غاړه کېږدي. ناصر خان (د بلوچ مشر محبت خان ورور) له نادر شاه سره برمته و او داسې ښکاري، چې دی د احمد شاه لاس ته ورغلی و. هزاره ګان او ایماق هېڅکله ډاروونکي نه وو او د درانیو ملک او مرکز ته د دوی نږدېوالی د هغې وېرې مخه نیوله، چې دوی به د خپلواک کېدو په لور هڅې وکړي.

د فارس برخلیک لا څرګند نه و، خو هغه بې اتفاقي، چې د نادر شاه په کورنۍ کې څرګنده شوې وه، ددغه ملت لاس یې له دې څخه لنډ کړی و، چې په خپلو ګاونډیو ملکونو بریدونه وکړي. وروستیو پېښو وښودله، چې د لویدیځ خراسان



Property of ACKU

مشرانو د فارسیانو له بري سره ډېره علاقه ښکاره نه کړه، خو دې ته تیار وو، چې دغسې یوه قدرت ته غاړه کېږدي، چې تر ټولو ډېر یې ددې توان لاره، چې دوی وځپي او یا یې تر وزرو لاندې ونیسي او دا احتمال موجود و، چې له خپلې لوړتیا څخه په ډېر اعتدال کار واخلي.

## د احمد شاه یرغلونه:

### په هندوستان باندې لومړی یرغل

هغه وخت، چې احمد شاه په ملک نیولو پیل وکړ، حال همدغسې و. د (۱۷۴۸) په پسرلي کې له کندهار نه له دولس زره مېړو سره وخوځېد، چې هغه له درانیو، بلوڅو او نورو څخه متشکل وو. هغه غلزيو ډېر زر ایل کړل او دراني حاکمان یې په هغه اساس پرې مقرر کړل، چې اوس یې هم رعایت کېږي. د غزني هغه حاکم، چې د نادر شاه له خوا مقرر شوی و، د احمد شاه په رسېدو سره وتښتېد، خو ناصر خان چې د کابل او پېښور حاکم و، د لویو مغولو په خوا ټینګ ودرېد، خو دی له کابل څخه له سرسري مقاومت نه وروسته وشړل شو او دی له دې خوا تر هغو د پېښور د پښتني قومونو له خوا تر فشار لاندې نیول شوی و او هغه وخت، چې د احمد شاه ساتونکي نظامي ډله وروررسېده او دی یې دې ته اړ کړ، چې له اباسین نه تېر شي.

احمد شاه په ډېرې چټکۍ سره له اباسین نه تېر شو او هغه یې له اټک او چچ نه هم وشاړه. احمد شاه تر هغه وروسته له پوځ سره د ډهلي په لور وړاندې لاړ او لښکر یې د پېښور په پښتنو سره ډېر شو. د لاهور حاکم، چې د هغه په دغه هوډ خبر و، له ډیلي نه مرسته وغوښته، خو احمد شاه هغه ته د ترتیباتو د نیولو وخت ورنه کړ. په چټکۍ سره له پنجاب نه واوښت، لاهور ته نږدې یې هندوستاني پوځونو ته ماتې ورکړه او دغه ښار ته په بري سره ننوت او د ډهلي په لور یې د تګ ترتیبات ونیول. په همدغه وخت کې د هندوستان امپراتور محمد شاه د خپل زوی او وزیر قمرالدین په قوماندانۍ له احمد شاه دراني سره د مقابلې په غرض یو قوي لښکر واستاوه. دغه پوځ د ستلج سیند ته ورسېده او دغسې ځایونه یې ونیول، چې د سیند ګودرونه یې تر کنټرول لاندې راغلل. احمد شاه، چې د دوی له دریځ نه خبر وو، سمدلاسه پرې دمخه شو او د سیند په یوه بر سر کې له هغه نه تېر شو او په داسې حال کې، چې هندوستان یې شاته پرې ایښی و، د سرهند په لور په بېړه مخکې لاړ (دلته دوی خپل سامانونه او ذخیرې پرې ایښې وې) پخوا له دې، چې دښمن ته یې مرستې رسېدلې وې، هغه یې ونیو.

د هندوستان شاهزاده او وزیر په احمد شاه باندې د برید لپاره سمدلاسه په سرهند مارش وکړ، خو څنګه چې دوی په رسېدو سره بې زړه شوي وو، له خپل هوډ نه

Property of ACKU

واوښتل او دغه ښار ته نږدې يې پوځ ای ونیو. احمد شاه پرې برید وکړ او د پرله پسې ډزو په موده کې، چې څو ورځې یې دوام وکړ، وزیر قمرالدین ووژل شو او د مغولو لښکرو رښتیني قوماندانۍ د هغه زوی (میرمنو) په غاړه ولوېدله. ده په دغسې مهارت جنګ ته دوام ورکړ، چې درانیان مجبور شول، چې لومړی دفاعي حالت غوره کړي او په پای کې د شپې له خوا په بېړه په شا شي.

له هغه وروسته هغه مهال، چې د هندوستان لښکرې مخ په ډیلي روانې وې، امپراتور محمد شاه ومړ او ورور یې، چې په سرهند کې یې قوماندانۍ په غاړه وه، د هغه ځای ونیو. ده صفدر جنګ د وزیر په توګه وګوماره او میرمنو یې د پنجاب په حکومت وټاکه. په داسې حال کې، چې پخپله یې د مرکز په لور خپل مارش ته دوام ورکړ.

همدا چې دغه خبر احمد شاه درانی ته ورسېد، هغه د خپل پوځ د په شا تللو امر وګرځاوه او په خپل معمولي ګړندیتوب سره بېرته مخ په لاهور روان شو. میرمنو، چې خپل ځان د درانی د پوځ په مقابل کې یواځې ولید، احمد شاه درانی ته تسلیم شو. له ډیلي نه میرمنو ته د سملاسي مرستې هیله نه کېده او دی ښایي له دې لامله، چې دده نوي پاچا صفدر جنګ غوره بللی و، خپه شوی وي. میرمنو په دې راضي شو، چې د پنجاب حکومت د احمد شاه په نامه وچلوي او ددغې صوبې منظم عواید هغه ته ورکړي.

د پنجاب چارې، چې په دغه ډول په پوره رضایت تنظیم شوې، احمد شاه بېرته د کندهار په لور مارش وکړ او په لاره کې يې د ډېره غازي خان، ډېره اسماعیل خان، شکارپور او ملتان حکومتونه تنظیم کړل. ممکن په هغه وخت کې سهیلې پښتني قومونو هم د احمد شاه واکمنۍ ته غاړه اېښې وي.

څه وخت، چې احمد شاه کندهار ته ستون شو، ددغه ډېر بوخت کال ژمی باید ارومرو اخر ته رسېدلی وي.

## په خراسان باندې یرغل

احمد شاه د (۱۷۴۹) کال په پسرلي کې د خپلو ملکونو له لوېدیځې برخې نه د پنځه ویشتو زرو نه جوړ یو لښکر راغونډ کړ، لومړی یې په هرات برید وکړ او دغه ښار پینځلس ورځې وروسته تسلیم شو. له هغه وروسته احمد شاه د مشهد په لور روان شو او په لاره کې یې ټول ځایونه ونیول. په هغه وخت کې شاهرخ مېرزا د نادر شاه زوی[1] د مشهد واکمن و، دی د احمد شاه د هرکلي لپاره ووت، احمد شاه دی په عزت ومانه او د خپل ښار او سیمې واکمنۍ یې بېرته ورته پرېښودله.

[1] شاهرخ مېرزا د نادر شاه لمسی و. ژباړن



Property of ACKU

احمد شاه له مشهد نه د نېشاپور په نیت روان شو او شاه پسند خان اسحق زی یې د مازینان او سبزوار په لور واستاوه. نیشاپور سخت ټینګار وکړ او په داسې حال کې، چې احمد شاه هغه کلابند کړی و، ورته خبر ورسېد، چې په مازینان باندې برید ناکام شوی او پوځ یې ماتې کړې ده. اوس نو دی د ځان په مقابل کې له دباندني برید څخه په وېرې کې شو، نو یې پرېکړه وکړه، چې د نېشاپور کار خلاص کړي او امر یې وکړ، چې عسکر دې په زینو په کلا وروخېژي، خو دوی په شاه ووهل شول او ډېر تلفات ورواوښتل. مخکې له دې، چې دی له دغه مصیبت نه په حال راغلی وي، د خراسان د خانانو له خوا له نېشاپور سره د مرستې په مقصد یو لوی پوځ ورسېد او په داسې حال کې، چې احمد شاه له هغو سره په جګړه بوخت و، پخپله د ښار له خوا یو قوي حمله پرې راغله. پای یې دده لپاره ډېر بد شو او دی مجبور شو، چې سملاسه د مشهد په لور او له هغه وروسته د هرات په لور روان شي.

احمد شاه د (۱۷۵۰) په پسرلي کې بیا په نېشاپور برید وکړ او په نیولو یې بریالی شو. ښایي په همدغه وخت کې یې د خراسان هغه ټولې لیرې برخې هم ایل کړې وي، چې په تلپاتې ډول یې په خپلو ملکونو پورې وتړلې.

زما په خیال دراني امپراتورۍ د لویدیځ په لور له نیشاپور نه هغه خوا هیڅ پراخه نه شوه. احمد شاه تر دغه یرغل وروسته هرات ته ستون شو.

په ژمي کې یا د بل کال (۱۷۵۱) په لومړي پسرلي کې احمد شاه بیا مشهد ته په تللو مجبور شو. میر علم خان دقاین خان د مشهد د خزانې په چورولو او د شاهرخ مېرزا په ړندولو او له تخت نه د هغه په کوزولو د یاغي توب بېرغ اوچت کړ. احمد شاه شاهرخ بېرته پر ځای ودراوه او ډېر زر یې قاین ونیو او میر علم خان یې د مرګ پنجو ته وسپاره. په دغه وخت کې د استراباد په مقابل کې هم کوښښ وشو، خو قاجاریانو د هغه دفاع وکړه.

## د ډیلي نیول

د (۱۷۵۲) کال په اوړي کې احمد شاه په پنجاب ورکوز شو او میرمنو یې تابع کړ، چې هغه دده په غیاب کې یاغي شوی و.

احمد شاه د همدغه یرغل په جریان کې کشمیر هم ایل کړ او له ستر مغول څخه یې د ترهون له لارې آن تر ستر هند پورې ټول ملک خپل کړ. احمد شاه له هغه وروسته کندهار ته ستون شو او داسې ښکاري، چې راتلونکي څلور کلونه یې په ارامۍ تېر کړې وي. وراره یې لقمان خان یاغي شو او په همدغه موده کې غلزي پاڅېدل، خو دواړه په اسانۍ سره وځپل شول.

ښایي احمد شاه له همدغې ارامې دورې نه په استفادې سره افغانستان او د هغه



Property of ACKU

نږدې ګاونډي سیمې تنظیم کړې وي.

پر (۱۷۵۶) کې، چې د پنجاب صوبه دار میرمنو مړ شو، د هغه له مړینې وروسته دسیسې او بغاوتونه وشول او په ټولې صوبې کې سخته ګډوډي پیدا شوه. ډیلي مجبور شو د وزیر غازي الدین په مشرۍ پنجاب ته یو لوی پوځ ددې لپاره واستوي، چې هغه بېرته په مغولي قلمرو پورې وتړي. وزیر غازي الدین په اسانۍ په دغه کار بریالی شو او حکومت یې ادینه بیګ ته وسپاره. ادینه بیګ، چې لومړی د شاهنواز خان او بیا د مېرمنو مرستیال و، په دسیسه جوړولو کې یې پوره نوم ګټلی و.

وزیر غازي الدین ددغه کار له ترسره کولو وروسته ډیلي ته ستون شو. احمد شاه ددغه تیری په اوریدو سره له کندهار نه روان شو، له اباسین نه واوښت او ادینه بیګ یې له پنجاب نه وشاړه او نېغ یې د ډیلي په لور مارش وکړ. په دغه ښار کې د وزیر غازي الدین د ظلم له لاسه د مغولي امپراتور د هغه کنټرول ته زړه نازړه غاړه ایښې وه، ډېره ګډوډي پیدا شوې وه. مغولي امپراتور د احمد شاه په مقابل کې له لږ کوښښ نه وروسته تسلیم شو او احمد شاه ډیلي ته ننوت. دغه ښار ددغه فاتح له حرص او د عسکرو د ازادۍ له ناوړې استفادې نه ډېر تاوان ولید.

احمد شاه له هغې وروسته، چې ډېر موده په ډیلي کې پاتې شوی او سردار جهان خان یې د جټانو په مقابل کې واستاوه، دغه سپاه سالار بلم ګړ (Bmllamgor) ونیوه او بیا په داسې حال کې، چې په جټانو مارش وو د مترا (Muttra) په لور روان وو. دغه ښار یې د هندوانو د یوه جشن په جریان کې په ناڅاپه ډول ونیوه. پوځ ښار ته د ننوتلو پر مهال قتل عام جوړ کړ او وروسته ډېر هندوان ونیول شول او مړیې شول. سردار جهان خان وروسته د اګرې په لور مارش وکړ، خو جټانو د هغه دفاع وکړه. درانیانو اوس ټول اوړی په هندوستان کې تېر کړی و او ځکه چې دوی ډېر ناروغ کېدل، احمد شاه لازمه وګڼله، چې خپل ملک ته ستون شي. ده او ده زوی تیمور په ډهلي کې د خپلې استوګنې په موده کې د هندوستان د شاهي کورنۍ له پېغلو سره ودونه وکړل. دغو مېرمنو ته ډېر شته ورکړل شو او د هندوستان امپراتور مجبور شو، چې پنجاب او سرهند شاهزاده تیمور ته وبښي.

احمد شاه مخکې له دې، چې له ډیلي نه ستون شي، د هندوستان وزارت مقام یې د مرمنو یوه ورور ته او د سپاه سالارۍ منصب یې د سهار نیپوري یوه پښتني مشر نجیب الدوله ته ورکړ. وروستي څه وخت، چې احمد شاه د ډیلي په لور روان و، د ستلج غاړې ته نږدې ورسره یوځای شوی و.

احمد شاه د اباسین ختیځ ولایتونه شاهزاده تیمور ته وسپارل او سردار جهان

Property of ACKU

خان یې د نایب په توګه ورسره پرېښود. د دوی پوځ له یو څو درانیو او قزلباشو ساتونکیو او د هغو عسکرو له یوې ډلې نه متشکل وو، چې په همدغه ملک کې نیول شوي وو. احمد شاه ژمی په کندهار کې تېر کړ او زر د هغو ناارامیو په کړارولو مشغول شو، چې په فارس او ترکستان کې پېښې شوې وې، خو ما ونه کړای شول د هغو تفصیلات ترلاسه کړم.

## د مرهټه جنګ:

همدا چې احمد شاه هندوستان شاته پرېښود، غازي الدین خان د مرهټه و له یوه پوځ سره ډیلي ته ستون شو او هغه یې کلابند کړ. نجیب الدوله فرخ اباد ته وتښتېدلی و، چې هغه د مرهټه و په لاس کې و. نجیب الدوله یو څه مدافعې نه وروسته ښار پرېښود او د سهارنپور په لور یې مخه وکړه. نږدې په همدې مهال کې په پنجاب کې سختې ناارامۍ پېښې شوې او ادینه بیګ خان دغو ناآرامیو ته لمن وهله. دی د احمد شاه له رسېدو مخکې تښتېدلی و او له هغه وروسته یې سکان یاغي کېدو لپاره هڅول او په جلندر کې یې دشاهي پوځونو یو ټولی شاته تمبولی و. په همدې ډول ده د پنجاب د ترلاسه کولو لپاره د مرهټه و لښکرې بللې وې، چې هغو نجیب الدوله له ډیلي نه ایستلی و. دا وخت ددغو خلکو یوه قوه د راګوبا (Ragoba) په قوماندانۍ، چې ددغه وخت د پېشوا پلار و د سرهند په لور په مخ روانه وه، په دې حال کې شاهزاده تیمور او سردار جهان خان، چې لا پخوا د سکانو له خوا تر فشار لاندې نیول شوی و او په خپلو هندوستاني پوځونو یې باور نه لاره، امین اباد ته په شا شول. لاهور، چې دوی پرېښود زر د سکانو لاس ته ورغی. مرهټه و هند زر ونیوه او څنګه، چې دوی د لویدیځ په لور خپل مارش ته دوام ورکړ، سردار جهان خان د شاهزاده او خپل پوځ د ساتلو په مقصد له اباسین نه تېر شو. دی په دغسې وارخطایۍ په شا شو، چې هندوستاني پوځ یې پرې خبر نه شو او دده کورنۍ د دښمن لاس ته ورغله، خو هغه بیا وروسته ازاده شوه. مرهټه و، چې تر اوسه ورسره مقابله نه وه شوې، د جېلم یا هیداسپس (Hydaspes) له سیند نه هغه خوا خپلو فتوحاتو ته دوام ورکړ او یو غونډ عسکر یې د ملتان د نیولو لپاره واستاوه، چې په خپل مقصد بریالی شو. شهزاده تیمور د (۱۷۵۸) په نیمایي کې وتښتېد، خو هغه وخت چې احمد شاه هندوستان ته د مارش تیاری نیوه، نصیر خان دبلوچستان خان یاغي شو او د احمد شاه مارش وځنډېده.

## د نصیر خان یاغیتوب:

د بلوچستان تاریخ له دغې دورې نه دمخه ډېر مهم دی، خو داسې ښکاري، چې محبت خان، چې نادر شاه د هغه ځای په حکومت ګومارلی و، مړ شوی او ورور یې



Property of ACKU

حاجي خان د هغه ځای نیولی و. داسې ښکاري، چې ولس له دغه خان نه د هغه د ظلم له لامله اوښتی و او احمد شاه هم ترې په دې خوابدی شوی و، چې هغ د لقمان خان په یاغیتوب کې برخه اخیستې وه. دا یقیني ده، چې دی د احمد شاه له خوا خلع شوی او بندي شوی و او د هغه ورور نصیر خان د هغه پر ځای د بلوچستان حاکم ټاکل شوی و. دا څرګنده نه وه، چې نصیر خان ولې د درانیو له حکومت نه سر غړولی و، خو ده پر (۱۷۵۸) کې خپله خپلواکي اعلان کړې وه. لومړی وزیر شاه ولي خان د هغه د مقابلې لپاره واستول شو، خو دی شال ته نږدې په یوه ځای کې مغلوب شو. له هغه وروسته پخپله احمد شاه په بلوچستان مارش وکړ او هغه یې مجبور کړ، چې د کلات په دیوالونو کې دننه شي او احمد شاه هغه کلابند کړ. ویل شوي، چې د درانیو لویان هیڅ دې ته تیار نه وو، چې د بلوچو مشر دې په ټوله مانا ایل کړی شي (دوی کله چې د خپل پاچا په غضب اخته کېدل د هغه ملک ته یې پناه وړله) له دې امله چې شاه ولي خان په ځانګړې توګه له هغه سره مراوده لرله او هغه یې تشویقاوه، چې ټینګار وکړي او ورته ویل یې، چې ټول دراني لویان په همدغه فکر دي او پاچا ته به د اوږې په شدت سره تاوان واوړي. د کلات کلابندي څلوېښت ورځې دوام وکړ او په دغه مهال د درانیو سورو ته د وښو د لږوالي له لامله ډېر تاوان واوښت.

په هندوستان کې د احمد شاه ناوړه دریځ دی د جنګ د ګړندي پای ته رسېدو لپاره نارام کړی و او څنګه چې نصیر خان د سولې لپاره وړاندیز کړی و، په خبرو اترو پیل وشو او د سولې دغسې یو تړون وشو، چې هغه تراوسه هم د پاچا او بلوچو ترمنځ د اړیکیو بنسټ ګڼل کېږي.

هغه وخت، چې شاهزاده تیمور د په شا تللو خبر احمد شاه ته ورسېد، ده یوه ډله پوځ د نورالدین خان بامیزي په مشرۍ د اباسین هغې غاړې ته واستاوه. دغه وخت ادینه بیګ خان مړ شوی و او د جیلم ختیځ ته ټول پنجاب د مرهټه و لاس ته ورغلی و. خو سکان چې له ډېرې مودې راهیسې د پټو نظامي افرادو په توګه لکه اوسپنه ټینګ شوي وو، په دې پسې شوي وو، چې ټول پنجاب ونیسي او د ادینه بیګ اخلافو له ډیلي سره د تش په نامه اړیکیو په ساتلو یو څه اهمیت ساتلی و. که څه هم ستر مغول په پنجاب کې رښتیني واک هیڅ نه لاره. نورالدین خان په اسانۍ جیلم ته وړاندې ولاړ او هغه سیمه، چې ددغه سیند او اباسین ترمنځ پرته وه، په دغه وخت کې د کاتریانو (Kauters)، ګوګرانو (Guckors)، جوداتو (Jouds) او ددغه ملک د نورو هغو قومونو په لاس کې وه، چې د اسلام دین یې منلی و او درانیو ته متمایل وو. په همدې ډول نورالدین د چناب یا اسي ساینز (Asesines ) سیند



Property of ACKU

تـه پـه رسېدو لـه زیـات مقاومت سره مخامخ شوی نـه و، ځکـه د مرهټـه و اصلي لښکر ډیلي تـه تللي و، خو ده لازمـه ونـه ګڼلـه، چې د پاچا لـه ورتـګ نـه لومړی مخ پـه وړاندې لاړ شي.

د احمـد شـاه ورتـګ د بېلابېلـو لاملونـو لـه املـه د (۱۷۵۹) تـر ژمـي پـورې وځنډېده، پـه دغـه موسم کې دی لـه اباسین نـه تېر شو او د جمو پـه لارې چناب پورې دمخه ولاړ. ده لـه دغـه سیند څخـه د پنجاب پـه شمال کې خپل مارش تـه دوام ورکړ او څومره، چې دی مخکې تلو، مرهټـه پـه شا کېدل. دی سهارنپور تـه نږدې لـه جمنا نـه تېر شو او پـه دغه ښار کې نجیب الدوله او نور روهیله لویان ورسره یوځای شول.

پـه همدغـه وخت کې د مرهټـه لښکرې د داتاپټیـل (Dattapatail) او جنکـوجي سندیا (Junkojee Sindia) پـه قوماندانۍ پـه شاوخوا ځایونو کې پرتې وې، خو چې احمد شاه وړاندې کېده، هغه شاته کېدلې او د دواړو خواوو ترمېنځ پرلـه پسې نښتې تـر هغو روانې وې، چې د مرهټـه و لښکرې ډیلي تـه نږدې شوې. دغـه لښکرې بیـا لـه جمنـا نـه تېرې شوې او ډیلي تـه نږدې باډلي (Baudlee) تـه دمخه شوې، چې هغه ښار وساتي.

پـه باډلي کې دغسې یوه کلکه جګړه وشوه، چې پـه هغې کې مرهټه بیخي مغلوب شول او داتاپټیـل، چې ووژل شو لـه هغـه وروسـتـه د ملهارو او هولکـار (Malhar Row Holkar) پـه قوماندانۍ یوه ډلـه پوځ د مقابلې لپاره واستول شو، چې هغـه د مرهټه وو د دفـاع لپـاره هغـه ځای تـه روان و. د هغه پـه پوځ باندې پـه ناڅاپي ډول برید وشو او پوره مغلوب شو. احمد شاه وروسته ډیلي ونیوه او غازي الدین یې دې تـه اړ کړ، چې د جټانو ملک تـه وتښتي، چې هلتـه د مرهټـه پـاتې لښکرو او هولکار پناه وړې وه. غـازي الـدین د هندوسـتـان امپراتـور دویـم عالمګیر تـازه وژلی و، لـه هغـه وروسـتـه احمـد د دواب د نیولـو لپـاره هڅـه وکړه او آن تـر انوپ ښار پـورې یـې مـارش وکړ. دلتـه یـې د برسات د تېرولـو لپـاره مېنـه وکړه او د هندوستـان وزیـر نـواب شجاع الدوله همدلته ورسره یوځای شو.

## د پاني پت جنګ:

مرهټـه[1] ددغـه موسـم پـه جریـان کـې ډېـرې هلـې ځلـې وکـړې، چـې د خپلـو

---

[1] ددغې دورې پېښې او د پاني پت د جنګ تفصیلات د یوه معاصر مورخ له خوا په غټ روح او د درستوال په جامه کې کښل شوې، چې د اسیایي پلټنو په درېیم ټوک کې په انګرېزي کې راغلي دي زه خپل لوستونکي دغه بیان ته رابولم، خو د هغه ځینې فقرې دغو صحنو د سترو ممثلینو تصویرونه په دغسې وضاحت سره رسم کړي، چې نه شم کولای دلته د هغو له ذکر نه ډډه وکړم. دی لیکي: (( احمد شاه دراني په دغه اوسني کمپ کې د خپل ورتګ له ورځې نه امر کړی و، چې د اردو په وړاندې



Property of ACKU

تلفاتو جبران وکړي او ددغه ملت یو ډېر قوي پوځ د وسواس راو (Wiss wass Rao) په قوماندانۍ، چې هغه د دوی د امپراتورۍ ولیعهد و، وروروسېد. رښتینی قوماندان یې سداسي راو (Sedashi Rao) و او دی ددغه یرغل مصیبت ناکې موضوع په هندوستان کې د بهادر په نامه ډېر مشهور کړی و.

دوی ډیلي کلابند کړ او دغه ښار د درانیو د یوه واړه ټولي له سختې مدافعې نه وروسته تسلیم شو.

احمد شاه په دغه وخت کې له خپل پوځ سره د جمنا د سیند په ښي اړخ کې د سیند له لامله له مرستې کولو نه عاجز شوی و. همدغه لامل هم ددې لامل شوی و، چې دکنه پوري کومک ته، چې د ډیلي شمال ته شپېته میله لیرې پروت و، ورشي. دغه ښار په داسې حال کې، چې درانیو ورته کتل، ونیول شو او احمد شاه د سیند په لور دمخه ولاړ، خو دغه مصیبت شاه دومره زړه تنګی کړ، چې سمدلاسه یې پرېکړه وکړه، چې په هر قیمت چې کېږي، له سیند نه تېر شي او دښمن عمل ته وبولي. دی

---

دې د یوه کوس (Coss) (نږدې یو نیم میله) په واټن کې دې یوه سره وړه کېږدۍ ووهل شي. دی هر سهار لمر خاته دغې خېمې ته وروسته له هغه چې د سهار لمونځ یې ادا کاوه، ورته. په خپل آس سورېده، هلته یې د خپل پوځ هره قطعه کتله، زوی یې شاهزاده تیمور به له څلوېښتو یا پنځوسو سورو سره له ده سره مل و. په همدې ډول ده د دښمن د پوځ سروې کوله او په یوه عبارت ده هر شی پخپله تر نظره تېراوه او هره ورځ یې په معمولي ډول څلوېښت یا پنځوس کسه سور مزل کاوه. ماسپښیني سری وړې خیمې ته ستنېده. کله کله به یې هلته په نظامي قطعاتو کې د غرمې ډوډۍ خوړه او دا دده د هرې ورځې ترتیب و.))

((د شپې له خوا به د پنځو زرو سورو یوه ډله تر هغو، چې کېدای شو د دښمن کمپ ته نږدې کېدله او هلته به یې ټوله شپه په وسله وال ډول تېروله. نورې ټولي نظامي ډلې به د کمپ شاوخوا ګرځېدلې او احمد شاه به د هندوستان لویانو ته ویل، چې تاسې بیده اوسئ، زه به څارنه کوم چې تاسې ته څه ضرر ونه رسېږي او چې رښتیا وویل شي، دده امرونه د تقدیر په څېر منل کېدل او هېڅ چا یوه شېبه هم د هغو عملي کول نه ځالول او هېڅ به زړه نازړه نه وو.))

((هره ورځ به په دواړو خواوو کې پوځونه سره ښکېل کېدل او په لیرې فاصلې کې توپونه وېشتل کېدل او د سورو ډېرې نښتې پېښېدلې. د شپې له خوا به دواړه خواوې بېرته تللې. دغه حال نږدې درې میاشتې دوام وکړ، په دغه مهال کې درې درې څله شدید، خو نیمګړي عملیات ترسره شول. په دې ډول به هره ورځ دغه دوه پوځونه له سهار نه د شپې تر نهو یا لسو بجو پورې سره مخامخ وو، تر دې چې د هندوستان لویان بې صبره شول او له احمد شاه نه یې وغوښتل، چې سمدلاسه د یوه پرېکنده عمل په ترسره کولو ددغې ستومانۍ ته خاتمه ورکړي، خو هغه په پرله پسې دغسې ځواب ورکاوه: دا د جنګ کار دی، چې له هغه سره تاسې روږدي نه یاست، په نورو چارو کې چې مو څه زړه غواړي هغسې کوئ، خو دغه چاره ماته پرېږدئ. په نظامي چارو کې باید بې ځایه بیړه ونه شي، تاسې به ګورئ چې زه دغه موضوع څنګه فیصله کوم او په یوه مناسب وخت کې به په بري سره هغه ته خاتمه ورکوم.))

Property of ACKU

په یو څه تلفاتو سره له سیند نه تېر شو او مرهټه و، چې په هغه سرعت سره د پاچا له خوا د جنګ غوښتنه ولیدله، زړونه یې مات شول او پاني پت ته واوښتل او هلته یې خندقونه وکیندل. دوی ددغه دریغ او له دې لامله، چې ډېر توپونه ورسره وو، له هر راز برید څخه ځانونه په امن وګڼل، خو ددغسې یوه پوځ اندېښنې، چې زیاتره برخه یې سواره وي او له خندقونو دننه په کمپ کې ځای شوي وي، په اسانۍ سره درک کېدای شي او دغه اندېښنې د درانیو په فعالیت سره زیاتېدې او دوی پرله پسې په شدت سره زیار اېسته، چې دښمن ته د خوړو مواد ونه رسېږي، خو مرهټه په همدغه حال کې درې یا څلور میاشتې پاتې شول او ددغه مهال په جریان کې ځینې وړې نښتې روانې وې او د شجاع الدوله په وسیله د سولې لپاره د هغوی له خوا یو څو وړاندیزونه په غیر مستقیم ډول وړاندې شول.

د درانیو پوځ هم د خوړو د موادو د لږوالي له لامله تاوانونه ولیدل، خو د احمد شاه حوصلې، ټینګار او فعالیت دی په دې برلاسی کړ، چې په ډېرو هغو مشکلاتو غلبه وشي، له کومو سره چې دی مخامخ کېده.

هغه اعتماد، چې پوځ په ده لاره او هغه ښه سلوک او اعتدال، چې ده د خپلو هندوستانیو متحدینو په مقابل کې ښوده، دده په کمپ کې د هر راز مخالفت یا نارضایت مخه نیول کېده. په داسې حال کې، چې مرهټه د تلفاتو د زغملو له لامله ډېر ناکرار شوي وو او خطاوې ټولې د دوی قوماندان ته منسوبېدلې.

په پای کې یو لوی کاروان، چې د دواب له سهېل نه د یوه لس زریز پوځ په ملګرتیا د ګووند پنډت (Covinn Pundit) په قوماندانۍ د مرهټه و په لور روان وو، د ډیلي او میروت (Meerut) ترمېنځ د عتیق خان پوپلزي له خوا په ناڅاپي ډول تر تاړاک لاندې راغی او چور شو. بله قطعه، چې له ډیلي نه روانه وه او خزانه یې وړله د درانیو لاس ته ورغله. له هغه وروسته مرهټه دې ته تیار نه وو، چې د جنګ دوام ته غاړه کېږدي، چې نور نو په حقیقت کې ناشونی ګڼل کېده.[1]

نو دوی په دې ډول د (۱۷٦۱) د جنورۍ په اوومه له کمپونو څخه ووتل، چې په درانیو برید وکړي. درانیانو هم وسلې ته لاس کړ او جنګ د ورځې نه یو څه دمخه

[1] د پاني پت معاصر هندي هغه مورخ د نواب شجاع الدوله له خولې لیکي: ((په دغه وروستي سخت ضرورت کې بهاور پخپل لاس یوه لنډه لیکنه ماته وکړه او هغه یې د خپل یوه ډېر باوري خدمتګار په ذریعه راواستوله. د لیکنې کلمات دا وو: (پیاله اوس پوره ډکه شوې او بل څاڅکی پکې ځایېدلی نه شي. که څه شی کېدای شي، ویې کړه یا سمدلاسه په څرګندو الفاظو راته ځواب ووایه. له دې وروسته د لیکلو یا خبر ورکولو لپاره وخت نه وي.) ))



Property of ACKU

پیل شو.[1]

دلته نه ښایي، چې ددغه جنګ تفصیلات بیان شي. د احمد شاه مرکز چې له روهیله وو، د درانیو د پوپلزیو له ډلې او د پاچا د ساتونکیو له نیمې قطعې نه جوړ و، د دښمنانو په توپونو ګډوډ شو، چې د هغو د سورو له خوا پرې اوريدل. دوی له میدان نه نږدې وتښتېدل. سره له دې، چې وزیر شاه ولي خان ډېر زیار واېست له خپل اس نه کوز شو او خپله اداره یې ښکاره کړه، چې غواړي په دنده کې مړ شي. له هغه وروسته په خپله پاچا احتیاطي پوځیان میدان ته ورسول او مرهټه په خپل وار دفع شول. په همدغه وخت کې د درانیو کیڼ اړخ په دوی راتاو شول او نتیجه دا

---

[1] د معاصر هندو مورخ په وینا: د ((نواب هر کاره ګانو خبر راوړ، چې مرهټه له خپلو قطارونو څخه راوځي، توپونه یې په مخ کې دي او پوځونه یې شاته روان دي.
ددغه خبر په اورېدو سره دغه عالي جناب (نواب شجاع الدوله) د احمد شاه کېږدۍ ته ورغی او له خوجه سرایانو نه یې وغوښتل، چې دغه اعلیحضرت ویښ کړي، ځکه چې دی له هغه سره یو اړین کار لري.
شاه نیغ راووت او د خبر په اړه یې پوښتنې وکړې. نواب ورته ځواب ووایه، چې د شرح ور کولو لپاره وخت نه شته، خو له دغه اعلیحضرت نه یې وغوښتل، چې په خپل آس سپور شي او پوځ ته امر وکړي، چې وسله پورته کړي. پاچا په خپل آس سپور شو، اووه اسونه تل دده د کېږدۍ وره ته نږدې زین شوي ولاړ وو او ده په هغې جامې کې، چې په تن یې وه، د خپل کمپ نه دمخه یو نیم کوس فاصله ووهله او چې مخکې تلو، عسکرو ته یې امر کاوه، چې وسلې پورته کړئ.
ده له نواب څخه چې دغه خبر یې ورته راوړی و، پوښتنې وکړې او هغه چې زما (هندي مورخ) نوم اخیسته، پاچا سمدلاسه یو وظیفه لرونکی په اوښ سور راواستاوه، چې ما د هغه حضور ته بوځي او وروسته له دې، چې ما د تعظیم رسم ترسره کړ، هغه له ماڼه د خبر تفصیلات وغوښتل. ما په ځواب کې وویل، چې مرهټه له خپلو قطارونو څخه وتلي دي او همدا چې رڼا خپره شي، برید به وکړي. پوره په همدغه وخت کې وو، چې یوه ډله دراني سواره راغلل، چې په آسونو باندې یې ولجې بار وې، چې دوی هغه ولجې د مرهټه و له کمپ نه ترلاسه کړې وې. دوی وویل، چې مرهټه په تېښته کې وو، پاچا ماته وکتل دوی وویل، چې اوس نو څه وایې؟ ما ورته ځواب ور کړ، چې بس یو لږ څه درنګ وروسته به زما د خبر سموالي او غلطي څرګنده شي. هغه وخت، چې زه ګرېدم، مرهټه چې له خپلو کتارونو څخه نږدې یو نیم کوس رادمخه شوي وو او توپونه یې له ځان نه وړاندې درولي وو، ټولو یو وار په دوی برید وکړ.
پاچا ددغه خبر په اورېدو سره په داسې حال کې، چې په خپل اس سپور و او چلم یې څکاوه، هغه یې خپل نوکر ته ورکړ. په ارامتیا سره یې نواب ته وویل: ستا د نوکر خبر بالکل سم دی، هغه ډېر زر په لوی وزیر، شا پسند خان او نورو پسې سړی ولېږه. نواب شجاع الدوله، چې د هغه پوځ وروسته ولاړ و، د دوړو له امله په دې نه پوهېده، چې څه پېښه ده، خو همدا چې په هغه خای کې د سړیو او اسونو اوارونه ضعیف شول، زه یې د لامل موندلو لپاره هلته واستولم. ماته ښکاره شوه چې وزیر شاه ولی خان د غضب او خواشینی په حال کې و او خپل سړي یې په دې کنځل چې دی یې پرې ایښی و. ده ویل: زموږ هېواد ډېر لیرې دی، کومې خوا ته ځغلئ؟



Property of ACKU

شوه، چې مرهټه په پوره ډول مات شول. د مرهټه جنرال او د دوی د امپراتورۍ ولیعهد او دوی نږدې ټول پوځ یا په جنګ یا په تعقیب کې تباه شول.[1]

دغه جنګ د مرهټه و د قدرت لپاره زیات تاوان واړاوه. دوی په شمالي هندوستان باندې له خپلې نقشې نه سمدلاسه تېر شول او مخکې له دې، چې د یوه نوي قوماندان په مشرۍ[2] او په یوه نوي طرز تشبث وکړي، ډېره موده تېره شوه.

د پاني پت تر سوبې (فتحې) وروسته داسې ښکارېده، چې ګواکې ټول هندوستان د احمد شاه په لاس کې دی، خو دی په خپل هغه پلان ودرېد، چې په لومړي سر کې یې طرحه کړی و او په هغې برخې یې قناعت وکړ، چې مخکې وریرېښودل شوی و او له هغو سره یوځای ده دا اختیار لاره، چې د ملک پاتې برخې هغو لویانو ته وبخښي، چې له ده سره یې مرسته کړې وه او چې کله دا ټولې چارې ترسره شولې. دی د (۱۷۶۱) کال په پسرلي کې کابل ته ستون شو.[3]

احمد شاه ددغه لرې لید (دوربیني) حکمت وروسته څرګند شو، ځکه په داسې حال کې، چې ده نه شو کولای دغسې لیرې یو قلمرو وساتي، کولای شول چې خپل ولایت پنجاب خوندي کړي یا بېرته، چې سکان ښه پیاوړي شوي وو. ددغو خلکو بری دی دې ته اړ کړ، چې د (۱۷۶۲) په پیل کې هندوستان ته ستون شي. په دغه وخت کې ده سکان له اوارو ځغلول او شړل، خو دی پر (۱۷۶۳) کې مجبور شو، چې کندهار ته بېرته وګرځي او دغه ملک د ځو کلونو په اوږدو کې تر هر بل وخت نه ډېر له ګډوډۍ سره مخامخ شو.

پر (۱۷۶۳) کندهار ته د احمد شاه د ستنېدو حالات د ذکر وړ ښکاري. لا په سرهند کې و، چې په کندهار کې یوه پاڅون خبر ورته ورسېد او ځنګه چې د پنجاب سیندونه لا پخوا ډک شوي وو او سره له دې، چې دا د اوړي مني‌ځ و، ده پرېکړه وکړه چې د ستلج د کینې غاړې په لاره او د ملتان د میرې له لارې او له هغه ځایه غزني ته

---

[1] اسانه، نه ده چې په دغسې موقع کې د هرې خوا د قوې اندازه معلومه شي. زما په اند د احمد شاه په پوځ کې څلوېښت زره دده خپل رعیت، دېرش زره روهیله او لس زره هغه عسکر شامل وو، چې د هندوستان په لویانو پورې یې اړه لرله. ده یو څو توپونه او اووه سوه زنبورکه هم لرل، چې په اوښانو وړل کېدل.

د مرهټه وو د لښکرو په اړه په ټولیز ډول ویل کېده، چې دوی درې لکه مېړونه دي. د مرهټه وو لښکرو د شمېر په اړه د اعتبار وړ یواځینی بیان، چې ما لیدلی دی، د آسیایي خبرونو په څېړنو کې دی، چې وایي د دوی سواره اویا زره، پلي عسکر یې پنځلس زره او توپونه یې تر دوو سوو کم نه وو.

[2] جي سیندیا (Mahaji Sindia) چې د هغه پوځ د اروپا په طرز روزل شوی و.

[3] په دغه وخت کې احمد شاه یو استازی (ایلچي) چین ته واستاوه او له ستنېدو وروسته دغه استازي د خپل سفر شرح ولیکله، خو ددغه عجب اثر کومه نسخه ماته په ګوتو نه شوله.



Property of ACKU

روان شي. دده پوځونه، چې له پښتنو، اوزبکو، بلوڅو او نورو څخه جوړ وو، د دغه مارش په لومړي سر کې ډېر زیانونه ولیدل او مخکې له دې، چې ملتان ته ورسېږي، ډېر مېړونه یې جل ووهل. بیا هم دده مصیبتونه تمام نه شول، ځکه هغه وخت چې دی د افغانستان غرونو ته ورسېد، ژمی رسېدلی و او ډېر مېړونه یې له سړو او واوې څخه تلف شول. پاڅون په اسانۍ وځپل شو. یو بل پاڅون د هرات د یوه ایماق مشر درویش علي خان په مشرۍ وشو، خو په دې وخت کې د احمد شاه جسمي روغتیا مخ په خرابېدو شوه او له دغه وخت نه دده په فعالیت کې کمی لیدل کېږي. دده شکایت د مخ له سرطان څخه و. داسې ښکاري، چې دغه ناروغي پر (۱۷۶۴) کې ورته په شدید شکل پېښه شوې وه او دی یې د غرونو (خپل هېواد) خوا ته روان کړی و، خو له دغه یرغل څخه چې په هندوستان باندې دده وروستی یرغل و، کومه تلپاتې گټه ترلاسه نه شوه. هسدا چې احمد شاه هندوستان پرېښود، سکان تر پخوا زیات په ډېر قوت ښکاره شول او د بل کال (۱۷۶۸) تر پایه له جیلم نه تېر شول او د روتاس (Rotess) مشهور حصار یې له درانیو ونیوه. احمد شاه غوښتل، دغه شرمناک حالت پای ته ورسوي، خو په خراسان کې یو بغاوت دده توجه ځانته واړوله، چې د شاهرخ مېرزا د زوی نصرالله مېرزا له خوا شوی و.

د پښتنو په قول جنگ کې له کریم خان زند پرته د فارس نورو ټولو مشرانو برخه اخیستې وه او د هغو ټولو گډ پوځ د احمد شاه له لښکرو سره، چې دهغه د زوی شاهزاده تیمور په قوماندانۍ جنگېده، مقابله وکړه. دواړه خواوې په پوره قوت وجنگېدلې او د احمد شاه د لښکرو په پوره بري سره تمامه شوه. د فارس لښکرو جنگ نتیجه د بلوچو مشر نصیر خان په زړه ورتوب سره یقیني ته شاه پناه ورکړه او د مشهد په ښار کې یې رانوېستل او ځنگه چې په دغه ښار باندې وزې کول، چې د امام رضا مقبره پکې پرته ده، کفر گڼل کېږي، احمد شاه مجبور شو چې د لاندې کولو لپاره یې هغه کلابند کړي. ښار تر څو میاشتو وروسته تسلیم شو، شاهرخ خپله یوه لور شاهزاده تیمور ته واده کړه، موافقه یې وکړه، چې یو ټولی پوځ به د خدمت لپاره احمد شاه ته تهیه کړي.

د مشهد د کلابندۍ په موده کې یو ټولی پوځ د طبس (Tubbus) ښارگوټي د نیولو لپاره واستول شو، چې د درانیو په مقابل کې یې ټینگار کاه. دښار دفاع د علي مردان خان په لاس کې وه، چې د زنگویي (Zengooee) د عرب قوم یو مشر و. د احمد شاه د پوځ قوماندان سردار جهان خان و، چې د هغه یوه برخه د نصیر خان په مشرۍ له بلوڅو نه متشکله وه. د احمد شاه پوځ پوره بریالی شو، علي مردان خان ووژل شو او طبس ونیول شو.

Property of ACKU

## د احمد شاه مرګ او شخصیت

احمد شاه له دغه یرغل نه وروسته کندهار ته ستون شو. هلته دده ناروغي ورو ورو زیاتېده او بهر یې د نورو یرغلونو مخه ونیوله. دی د (۱۷۷۳) په پسرلي کې د اڅکزیو په ملک کې د توبې غرونو ته لاړ، چې د هغه ځای اوړی د کندهار تر اوړي ډېر سوړ دی. دلته دده ناروغي ورو ورو سخته شوه. تر دې چې په مرغه (Murgha) کې د جون د میاشتې په سر کې دخپل عمر په پنځوس کلنۍ کې مړ شو.

داسې ښکاري، چې د احمد شاه شخصیت د هغو شرایطو لپاره ډېر موزون و، چې دی پکې واقع شوی و. دی خپل هوډ او تشبث په دې برلاسی کړ، چې له هغې ګډوډۍ نه ګټه واخلي، چې د نادر شاه له مړینې وروسته پیدا شوې وه او هغه تدبیر او اعتدال، چې ده له خپل ملت سره د تماس له لامله حاصل کړی و، د یوه مېړني او آزاد ولس د اداره کولو لپاره د ده د طبیعي نبوغ له قوي میلان څخه لږ ضروري نه و.

هم دده خپل رعیت او هم هغه ملتونه، چې دی ورسره یا په جنګونو یا اتحادیو کې مخامخ شوی و، دده نظامي زړورتیا او فعالیت په ستاینه یادوي. داسې ښکاري، چې دی په طبیعت کې نرم والی او زړه سواندی ته متمایل و او که څه هم ممکنه نه ده، چې په آسیا کې پاچاهي قدرت بې له څه جنایتونو څخه ترلاسه شي او هغه ممکن وساتل شي، سره له دې هم د ختیځ هېڅ واکمن به دغومره لږې بې رحمۍ او لږې بې عدالتۍ کړې نه وي لکه څومره، چې ده کړې دي.

داسې ښکاري، چې احمد شاه د شخصي کرکټر له نظره بشاش، مینه ناک او د ښه طبیعت خاوند و. په رسمي مواقعو کې یې ښه وقار ساته، خو په نورو وختونو کې به دده کړه وړه ساده او اشنا وو. له درانیو سره به یې د هغه مساوي خوی او اخلاقو رعایت کاوه، چې ده له درانیو مشرانو سره تر دې مخکې، چې د پاچا لقب وګټي، لاره. ده ملایانو او پیرانو ته د سیاست او شخصي میل له نظره په قدر کتل. دی پخپله هم یو مانوي شخص او مصنف و او تل د یوه پیر د شخصیت په ارزو کې و.

د خپلو ملکونو د بېلابېلو برخو په اړه د احمد شاه سیاست په تولیز ډول له پښتنو او بلوڅو سره په روغې جوړې ولاړ و. ده د ملیتونو ترمنځ د توپیر دغه اصل په لومړي سر کې په خلکو باندې او په دویم پړاو کې په مشرانو باندې پلی کړ. په ترکستان کې یې خپل مقبوضات په زور وساتل، خو ددغه ملک تارتاري مشران یې په خپل حال پرېښودل او نرم چلند یې ورسره وکړ. هندوستاني ولایتونه یې یوازې په زور وساتل او د خراسان په اړه یې داسې سیاست غوره کړ، چې د هغه له لامله یې څه مشران ځانته جلب کړل او له نورو څخه یې مرسته ترلاسه کړه. دی دې ته تیار و، چې د هر هغه چا په مقابل کې وسله وکاروي، چې غوښتل یې دده پلانونه



Property of ACKU

شنډ کړي.

لومړی وویل شول، چې احمد شاه عاقلانه کار وکړ، چې نظر دېته، چې یو د وړه امپراتوري یې جوړه کړې وي، د یوې لویې امپراتورۍ بنسټ یې کېښود. دده تر لاس لاندې ملکونه دده د مړینې پر مهال د خراسان له لویدیځ نه تر سرهنده او له امو نه تر سمندره پورې غځېدلي وو او هغه ټول یا په ربښتیاني ډول تصرف شوي وو یا په ځړونونو ترلاسه شوي وو او که چېرې دده پلانونه تعقیب شوي وای، بې له کومه شکه به دغسې یو حکومت په دغې ټولې لویې امپراتورۍ کې زر او په اسانۍ مېنځ ته راغلی وای او دومره به شوي وای، چې خپل استقرار یې خوندي کړی وای.

## د تیمور شاه جلوس

له بده مرغه د احمد شاه د ځای ناستي (خلف) شخصیت د هغه له شخصیت نه ډېر توپیر لاره او دا تر ډېره حده د تیمور شاه د سیاست د طرز له لامله وه، چې د درانیو قدرت لومړی ځای پر ځای ودرېد او بیا مخ په ځوړ شو.

تیمور شاه د (۱۷۴۶) په دسمبر کې په مشهد کې وزېږېد. د پلار په دربار کې وروزل شو او په ډېرو یرغلونو کې له هغه سره ملګری و.

ددغه حال نتیجه دا نه شوه، چې دی د خپلو هېوادوالو سجیه او سلوکونه غوره کړي او داسې ښکاري، چې دی هېڅکله د دوی له ژبې سره پوره اشنا نه و. هغه وخت، چې دی لا ځوانکی و، په پنجاب کې وټاکل شو او له هغه وروسته د هرات نایب الحکومه شو، چې د اوسېدونکیو ډېره برخه یې پارسیوانان دي.[1]

تیمور شاه په هرات کې و، کله چې د احمد شاه ناروغي سخته شوه، دی له هغه ځایه د توبې د غرونو پر لور روان شو، چې خپل پلار مخکې له دې چې مړ شي، ووینې او ممکن کوم وخت چې دغه پېښه کېږي د خپلو ګټو څارنه وکړي. مخکې له دې، چې دی کندهار ته ورسېږي، د پلار له خوا ورته قاطع امرونه ورسېدل، چې خپل حکومت ته بېرته وګرځي او دی زړه نازړه مجبور شو، چې هغه ومني. دغه امرونه وزیر شاه ولي خان ترلاسه کړي وو او ده له سردار جهان خان او نورو درانیو مشرانو سره یوځای دسیسه جوړه کړې وه، چې تیمور پر ځای پرېږدي او پاچایي تخت د شاهزاده سلیمان لپاره وګټي، چې هغه دده زوم و. د احمد شاه له مرګ نه وروسته دراني مشران په کندهار کې سره جرګه شول، چې د هغه خلف وټاکي. وزیر شاه ولي خان د شهزاده سلیمان سپارښتنه وکړه، خو یو ګوند د عبدالله خان پوپلزي په مشرۍ (چې دی د دیوان بیګي ستر دفتر مشر و) د تیمور شاه په خوا ټینګ ودرېد.

[1] له پارسیوانانو څخه په هرات او کندهار کې مراد امامیان دي، نه تاجکان. یا د فارسي ژبې ویونکي یا زردشتیان دي. ژباړن.



Property of ACKU

دغه جرگه له ډېرو بحثونو وروسته بې له دې، چې کومې فیصلې ته رسېدلې وي، خوره شوه او وزیر شاه ولي خان په خپل صلاحیت سلیمان په تخت کښېناوه. عبدالله خان دیوان بیگي او د هغه گوند ځان واېست او خپلې قبیلې یې د تیمور په پلوۍ پاڅولې.

څه وخت، چې دغه خبر تیمور ته ورسېد، دی د خپل حکومت له پوځ سره د کندهار په لور روان شو. له ده سره هغه دراني او ایماق مشران هم ملگري وو، چې دده په خوا ولاړ وو. شاه ولي خان هم کوښښ وکړ، چې خپل پوځ راټول کړي، خو دده کوښښونو نتیجه ورنه کړه، نو دی د تیمور د کمپ په لور روان شو، خو ده ته د هغه د لیدلو اجازه ورنه کړای شوه او سمدلاسه تر محاکمې لاندې ونیول شول او د قتل په تور اعدام شو.

## د تیمور شاه د حکومت طرز

څه وخت، چې تیمور شاه د خپل پلار د سلطنت بې سیاله واکمن شو، د خپلو هوساینې طبیعي میل ته تسلیم شو. د هغه ټول سیاست دغه ټکي ته متوجه شو، چې آرامي خوندي وساتي. داسې ښکاري، چې دی هېڅکله په دې لټه کې نه و، چې په پراخوالي پسې شي او ټول هغه عملیات، چې دی وروسته پکې بوخت شو، یوازې ددې لپاره وو، چې د خپلو ملکونو دفاع وکړي او څنگه چې دی په دې خبرو، چې په درانیو کې یو قوي گوند دده په ضد جوړ شوی او دراني قوم د وزیر په اعدام سخت پارېدلی و. داسې ښکاري، چې ده وروسته هغوی ته تل د بې اعتمادۍ په نظر کتل. ده خپله دغه بې اعتمادي لومړی هغه وخت وښوده، چې د خپلې واکمنۍ مرکز یې له کندهار نه، چې د درانیو د ملک په مېنځ کې پروت و، کابل ته ولېږداوه، چې زیاتره اوسېدونکي یې تاجکان وو او دوی د پښتنو په پاچاهۍ کې تر ټولو ډېر ارام او منونکې رعیت گڼل کېدل.

د هغه د وزیرانو په انتخاب کې هم همدغه میل وښودل شو. د هغه د سلطنت په ټولې مودې کې د هغه لوی مشاوران قاضي فیض الله او لطف علي خان وو، چې لومړنی یې د دولت شاهي د یوه نامعلوم خېل یو ملا او وروستنی یې د لویدیځ خراسان د جام اوسېدونکی و. ده په ټولیز ډول د دولت ستر مقامونه په هغو درانیو کورنیو کې پر ځای پرېښودل، چې احمد شاه ورته ورکړي وو.

د نویو منصبونو په راایستلو او د موجودو مامورانو د دندو په بدلولو یې خپل ټول حکومت د هغو کسانو په لاس کې ورکړ، چې په ده متکي وو.

د هغو ولایتونو حکومتونه، چې ځایي مشرانو ته نه وو پرېښودل شوي، داسې کسانو ته وسپارل شول، چې د لږ اهمیت یا نفوذ خاوندان وو. له دغه ترتیب نه



Property of ACKU

تیمور شاه هیله لرله، چې له بغاوتونو څخه ځان مامون کړي او د خپلو ادارو لپاره په حاضر وخت کې له بې دریغه اطاعت نه ځان ډاډه کړي او په عوایدو باندې پوره کنټرول ولري.

د مملکت مالیاتي چارې ښې تنظیم شوې او د سپما اقتصاد ته پوره پاملرنه وشوه. ده په دغو وسایلو د خپل حکومت د عادي لګښتونو لپاره له نظامي یرغلونو څخه ځان ازاد کړ او په دې برلاسی شو، چې د هر راز ناڅاپي اضطراري پېښې د مخنیوي لپاره پانګه زېرمه کړي.

تیمور شاه په خپل دربار کې دراني مشران وساتل، خو څنګه چې ده په خپل مرکز کې د هغوی پرځونه، نه لرل هغوی په پوره ډول دده په اختیار کې وو او داسې وسایل یې نه لرل، چې حکومت یې ګډوډ کړي.

هغه یوائیني پوځونه، چې هغه تل په خپل دربار کې ساتل، د غلام شاه په نامه د هغه شخصي ساتونکي وو. دوی دومره قوي وو، چې د هېواد نظم یې خوندي ساتلی شو او څنګه چې دوی ټول پارسیوانان او تاجکان وو، له پښتني مشرانو یا خلکو سره یې اړیکې نه لرل او پاچا ته پوره وفادار وو. هغوی ته ښه معاش ورکول کېده، پاچا ډېر تشویقول او دوی ته خپلې دغسې امتیازات ورپه برخه شوي وو، چې هغوی یې له نورو خلکو نه بېل ساتل.

دغه سیاست د موقتي ارامۍ په خوندي ساتلو کې په برابره توګه ښه بریالی و. هغه ولایتونه، چې په نېغه توګه د پاچا تر اداري لاندې وو، ارام پاتې شول او که څه هم د هغه د پاچاهۍ په دوره کې یو څو دسیسې وشوې او د تخت د نیولو لپاره دوو ادعا لرونکیو بغاوتونه وکړل، دوی ټول د پاچا په څارنې سره کشف شول یا دده په ډکې خزانې او یا د قوي ساتونکیو په ذریعه وځپل شول، خو لیرې ولایتونو ورو، ورو د دربار له کنټرول څخه ځانونه ازاد کړل.

د هغه حکومت دننه او دباندې خپل نفوذ او نوم بایلود او هغو دولتونو، چې احمد شاه ته په تسلیمېدو سره مجبور شوي و، خپلې سیمې خوندي او ارامې وساتي، په دې پیل وکړ، چې د درانیو په تاوان د خپلې پراختیا نقشې طرح کړي. دغه ځورتیا د تیمور شاه په وخت کې په ټول قوت سره څرګنده وه، خو د هغې پیل په همدغه وخت کې محسوس کېده او د هغه د اخلافو په دوره کې ښه چټکه شوه.

## د عبدالخالق خان یاغیتوب

د تیمور شاه د سلطنت په دوره کې لومړنۍ مهمه پېښه دده د یوه خپلوان عبدالخالق خان یاغیتوب و، چې ښایي پر (۷۵_۱۷۷۴) کې واقع شوی وي. عبدالخالق خان وکولای شول د درانیو او غلزیو یوه ګډه قوه، چې شمېر یې د پاچا

Property of ACKU

له پوځ نه ډېر و، ټوله کړي، خو د پاچا پوځ د دسپلین له نظره ښه او تجربه لرونکي افسران یې لرل او ښايي دی د مخالفانو له کلک مقاومت سره بریالی شوی وای، خو له ده سره ولاړو مشرانو چې ټاکل شوې وه خپل خپلونه د عبدالخالق په خوا ودروي نېغ پاچا ته ورغلل او د درانیو په کورني جنګ کې دغسې ناځاپې بدلون پرېکنده اغېز لري.

عبدالخالق ماتې وکړه، ونیول شو او ړوند کړای شو او د درانیو د ملک ارامي زر خوندي شوه. له دغه وخته تر (۱۷۸۱) پورې که څه هم په بلخ، خراسان، سیستان او کشمیر کې یو شمېر بغاوتونه، چې د اهمیت او پراختیا له مخې یې توپیر لاره، پېښ شول، خو په ټولو کې یواځې یو بغاوت د یادونې وړ ښکاري، چې هغه دا دی:

## د فیض الله دسیسه

دغه بغاوت پر (۱۷۷۹) کې د څمکنیو د صاحبزاده په مشرۍ وشو. دی یو لوی پیر و او له پاخون نه یې موخه دا وه، چې تیمور شاه ووژل شي او پر ځای یې د هغه ورور شهزاده سلیمان په تخت کېنول شي. لویه وسیله چې ده ددغې موخې لپاره ترېنه کار واخیست، هلته د خلیلو مشر فیض الله خان و، چې د خپل شخصي غچ اخیستلو لپاره په دغې دسیسې کې شامل شو.

فیض الله خان له پاچا نه اجازه واخیسته، چې په پنجاب باندې د برید لپاره یو پوځ تنظیم کړي. دی زر په دې بریالی شو، چې ښه ډېر شمېر پښتانه، په تېره د خیبر له قومونو څخه غونډ کړي. څه وخت، چې ده د دسیسې د عملي کېدو وخت ورسېد، خپل پوځ یې د پېښور په حصار په دې پلمه وخېژاوه، چې غواړي هغه پاچا ته وښیي. همدا چې دی حصار ته ورسېد، د دروازو ساتونکي یې ووژل او په خپلو ټولو پوځونو سره یې په ارګ برید وکړ. تیمور شاه یواځې دومره وخت پیدا کړ، چې د قصر دیوې ماڼۍ پاسني پوړ ته ځان ورسوي او له هغه ځایه خپل دریځ خپلو ساتونکیو ته څرګند کړي. غلام شاه او هغه یو څو درانیان، چې هلته موجود وو، سمدلاسه سره غونډ شول او د فیض الله د سرېو په بې رحمه وژلو یې پیل وکړ. فیض الله او د هغه زوی بندیان شول او وکړول شول، خو بې له دې چې خپل مرستیالان یې ښوولي وي اعدام شول. له هغه وروسته په صاحبزاده باندې سخت شک پیدا شو او پاچا د هغه په جرم باندې تر دې حده قانع شوی و، چې د نیولو امر یې ورکړ، خو د دربار ټولو پښتنو د هغه شفاعت وکړ او نور تحقیق ونه شو.

تیمور شاه پر (۱۷۸۱) کې په خپله د ملتان د بېرته خپلولو په نیت روان شو، چې د هغه ځای د حاکم په ذریعه د سکانو په لاس کې لوېدلی و. ده ملتان ته نږدې یوه بېله قوه د ځان نه دمخه د سکانو د پوځ په مقابل کې واستوله او دغه قوه په



Property of ACKU

ډېره بېره وړاندې، لاړه او ناڅاپه په سکانو ورولوېده او لاندې يې کړل. د ملتان ښار د يو څو ورځو له کلابندۍ نه وروسته ونيول شو او د هغه ځای پوځ ته امر وشو، چې خپل ملک ته ستانه شي، خو څنګه چې د دوی په مېنځ کې دسپلين موجود نه و، وروسته په هغوی برید وشو. ځينې يې لوټ شول، ځينې يې ووژل شول.

## د تالپوريانو ياغيتوب

په همدې وخت کې تالپوريان ياغي شول، چې نتيجه يې د سند د حاکم په شړلو تمامه شوه. تيمور شاه بل کال د مدد خان په قوماندانۍ د ياغيانو په ضد يوه قوه واستوله، چې ټول ولايت يې لاندې کړ.

تالپوريانو خپلې اصلي مېرې ته مخه وکړه او داسې ښکاري، چې هغو نورو اوسېدونکيو يې غرونو او ځنګلونو ته مخه کړه، چې د درانيو له پوځ نه خوندي وي. مدد خان دغه ملک په تورې او د کورونو په سوځولو وران کړ او دده تاړاکونه دومره سخت وو، چې د هغه له يرغل نه وروسته يوه هيبتناکه قحطي راغله. ويل کېږي، چې سند له هغو تاوانونو څخه چې په دغې موقع کې ورپېښ شول، تراوسه هم په حال نه دی راغلی.

په پای کې مدد خان کندهار ته ستون شو او مخلوع حاکم ته يې دغه ولايت بيا په لاس ورکړ، خو دغې آرامتيا ډېر دوام ونه کړ. همدا چې مدد خان بېرته لاړ، تالپوريان بېرته راغلل، حاکم يې وشاړه او ټول سند يې بېرته خپل کړ.

تيمور شاه د سند دبيا لاندې کولو لپاره بيړه ونه کړه او ښايي پر (۱۷۸۶) کال به وي، چې يو بل پوځ يې د احمد خان نورزي په قوماندانۍ هغې خوا ته واستاوه. دغه پوځ ته هغه بل پوځ لږ ووړ و او څرګنده ده، چې قوماندان يې هم دومره پياوړی نه و. تالپوريانو په دغه وخت کې له سند څخه ونه تښتېدل، خپل پوځ يې تنظيم کړ او د احمد خان په مقابل کې ودرېدل. په يوه سنګر کې يې ځان ټينګ کړ، احمد خان ته يې ډېر تاوانونه واړول. تر دې چې هغه مغلوب شو او شکارپور ته په بېرته تللو مجبور شو. سنديانو، چې چې دمخه يې يو استازی تيمور شاه ته استولی و، په دغه وخت کې يې د روغې لپاره ډېر کوښښونه وکړل. د هغو استازي په ډېرې نرمې غاړې تيمور شاه ته داډ ورکړ او د هغه وزيرانو ته يې ډېرې بډې ورکړې او په پای کې تالپوريانو موافقه وکړه، چې پاچا ته د پخوا په اندازه ماليه ورکړي او يو فرمان صادر شو، چې د هغه په موجب د هغوی يو مشر مير فتح علي ددغه ولايت حاکم وټاکل شو.

په کشمير کې د آزاد خان ياغيتوب، د سند او بهاول خان په ضد د يرغلونو په منځ کې د (۱۷۸۸) په پيل کې وځېل شو، خو ددغه کال تر اوړي پورې داسې پېښه



Property of ACKU

ونه شوه، چې د ټول سلطنت لپاره ډېر اهمیت ولري.

## دبخارا له پاچا سره جنګ

د (۱۷۸۸) په اوړي کې له تارتاري اوزبکو سره جنګ وشو. د بخارا پاچا شاه مراد بای (Shah Murad bay) له ډېرې مودې راهیسې د درانیو په ملکونو تېري کاوه. هغه وخت، چې تیمور شاه د بهاولپور په ضد په عملیاتو بوخت و، شاه مراد بای خپل تېری دومره سخت کړ، چې تیمور شاه مجبور شو د خپلو شمالي ولایتونو د دفاع لپاره په پرېکندو اقداماتو لاس پورې کړي. هغه لیک، چې په دغه وخت کې تیمور شاه د بخارا پاچا ته واستاوه، په کابل کې له ډېرو کسانو سره شته دی. دغه لیک د جنګ د دلیلونو په اړه یو ځرګند بیان لري او په هغه وخت کې د تیمور شاه د سیاست په اړه ځرګند نظر ښکاره کوي. په دغه لیک کې لیکل شوي:

((احمد شاه د بخارا له دولت سره تل ښه اړیکې لرل، دا چې تیمور شاه غواړي ورسره هغسې اړیکې ولري او دا چې له څه وخت راهیسې شاه مراد بای د درانیو په امپراتورۍ تېری کوي او تل یې په ګړندي ځواب او نرمو الفاظو د جنګ مخه نیولې، خو تل دې ته ځیر و چې د خپل نظر تکي ترلاسه کړي او دا چې په پای کې مور (یامرو)[1] یې نیولی او د هغه شیعه اوسېدونکي یې ترې ته شړلي او دغه دلیل یې وړاندې کړی، چې غواړي هغوی د اسلام په رښتیني عقیده واړوي.

دا لیک ټینګار کوي، چې هیڅ دولت دې حق نه لري، چې د بل دولت له رعیت سره د هغوی د مذهب له لامله غرض وکړي او وروسته په دغه موقع کې د شاه مراد د مذهبي احساساتو هغه تضاد ته اشاره کوي، چې غواړي په خپلو تېریو تیمور شاه له هغه هوډ نه واړوي، چې هندوستان له هندوانو، یهودیانو، عیسویانو او نورو کافرانو نه پاک کړي او دغه کارد شهر سبز، خوجند او ترکستان خلکو په ضد په جنګ سره هم ترسره کړي، چې دوی بې له کوم شکه سنیان دي. تیمور شاه زیاتوي:

((دغو ملتونو ده ته اسره کړې او دی د هغه چلند له لامله، چې شاه مراد دده په مقابل کې غوره کړی، مجبور دی د هغوی په خوا ودرېږي.))

بیا نو د خپل نیت اعلام کوي، چې غواړي سمدلاسه د ترکستان په لور روان شي او له شاه مراد نه غواړي، چې هغه ته پخپله راشي، چې خپل اختلافات حل کړي.

تیمور شاه د (۱۷۸۹) په پسرلي کې له کابل نه له یوه لښکر سره روان شو، چې خپل رعیت یې شمېر یو لک ګڼي. ده په ورو مزلونو لاره وهله او موخه یې دا وه، چې شاه مراد ته موقع ورکړي، چې ورته وړاندیزونه وکړي. دی د کندوز په لور تګ کې د

[1] اوزبکان یې مور او د پارس خلک یې مرو بولي.

Property of ACKU

یوې لنډې مودې لپاره تم شو. له هغه وروسته د اقچې په لور وخوځېد، چې هغې سیمې ته ډېر نږدې ښارګوټی و، چې د اوزبکو لاس پرې بر شوی و. شاه مراد په کلفت کې له امو نه تېر شو او د هغه پوځونه دده له ټولو ملکونو او توابعو څخه تنظیم شوي وو. ده خپل ورو عمر کوش بیګي له یوې سپکې قوې سره اقچې ته ولېږه. په داسې حال کې، چې د کورغان تپې الله وردي تازه د درانیو د لښکرو د خوړو مواد او وابښه قطع کړل. په اقچه کې یو څو ناغوښوونکي او جزیې عملیات وشول او شاه مراد له کوم جدي مقاومت سره مخامخ شوی نه و، چې پرېکړه یې وکړه، چې ګټه یې په دې کې ده، چې سوله وکړي، نو ده خبرې پیل کړې او هغه یې په دغسې مهارت او تدبیر سره په پوره بري سره پای ته ورسولې، چې ده پکې نوم لاره.

دی په دې ښه پوهېده، چې تیمور شاه زړه نازړه جنګ ته راوتلی دی او په دې به خوښ شي، چې د اوزبکو په ضد د یرغل له ستړیا او خطر نه ځان وساتي. که چېرې دی وکولای شي دغه کار بې له دې، چې خپل نوم او حیثیت وبایلي حاصل کړي، ډېر به خوښ شي، نو ده هغه ته ډېر کریډیټ ورکړ او د بخارا لوی ملایان او روحانیون یې ورواستول، چې د قرآن او ګډې عقیدې په شفاعت یې دلاسا کړي، چې د مسلمانانو له وینو توېولو نه تېر شي او دده د سولې وړاندیز ومني. په دې ډول سوله وشوه او د شاه مراد زوی د تیمور شاه کمپ ته واستول شو، چې هلته یې په ډېر عزت سره هرکلی وشو او زر بېرته رخصت کړای شو. شاه مراد په دغو ټولو مذاکرو کې تیمور شاه ته له حده زیات احترام او تسلیمي وښودله، خو په سولې یې خپلې ټولې سوبې (فتوحات) وساتل. په داسې حال کې، چې تیمور شاه د خپلې لښکرکشۍ په هر هدف کې ناکام پاتې شو، یوازې خپل پاتې ملکونه یې په امن کړل.

تیمور شاه لا کابل ته روان شوی نه و، چې ژمی رارسېدلی و. دی اړ شو چې خپله توپ خانه په بلخ کې پرېږدي او ډېر عسکر یې له هندي قفقاز (هندوکش) نه په اوښتو سره له سړو او اوارې نه هلاک شول.

د برو مومندو مشر ارسلا خان، چې د تیمور شاه په باندنیو یرغلونو کې یې څو ځله ښه نوم ګټلی و، د ترکستان د جنګ پر مهال یاغي شوی و او د پېښور او مرکز ترمېنځ یې لار شکوله.[1]

[1] ارسلا خان په یوه وخت کې مجبور شو خپل پیروان خواره کړي او د اتمانخېلو ملک ته پناه یوسي. ددغه قوم له خوا دده د هر کلي شرح د پښتنو د چلند څرنګوالی په ښه ډول ښيي:



Property of ACKU

بیا وروسته ده خان هغه شاهزاده ته تسلیم کړ، چې په پېښور کې قوماندان و. تیمور شاه بې له دې، چې د هغه د خپلې خوښې تسلیمی ته نظر وکړي یا د هغه شاهزاده د بخښنې شفاعت ومني، امر وکړ چې ارسلا خان او دده قوم دې هغو خلکو ته وسپارل شي، چې ده ورسره سخته دښمني لرله. هغوی دی سمدلاسه وواژه. پښتانه د تیمور شاه دغه چلند ته په ډېر بد نظر گوري.

تیمور شاه د (۱۷۹۳) کال په پسرلي کې د پېښور نه د سفر په اوږدو کې ناروغ شو او د همدغه کال د می په (۲۰مه) په کابل کې مړ شو.

## د زمان شاه د پاچاهۍ اعلان

د تیمور شاه د مړینې په وخت کې[1] د تخت د نیوونکي په اړه هیڅ راز پرېکړه نه وه شوې. ده یخپله کوم ولیعهد نه و ټاکلی، تر ټولو مشر او ډېر نومیالی شاهزاده غایب و. همایون دکندهار او محمود د هرات حاکم و، شاهزاده عباس د پېښور حکمران و، خو چې پلار یې ناروغه شو، دی له هغه سره ملگری شوی و. نور شاهزادگان ټول په کابل کې وو، یوازې فیروزالدین د محمود سکه ورور له هغه سره په هرات کې و.

همدا چې تیمور شاه مړ شو، د شاهزاده زمان د پاچا کېدو لپاره یوه دسیسه جوړه شوه. دسیسه د تیمورشاه د گرانې ملکې له خوا طرح شوه. هغې د بارکزیو مشر سرفراز خان په بري سره وباله، چې په دغې دسیسې کې شریک شي او د هغه په وسیله یې ډېر دراني خانان دځان په خوا کړل.

د شاهي کورنۍ شاهزاده گانو کوښښ وکړ چې عباس پاچا کړي، خو دوی که څه هم قوي روحیه وښودله، خو د لږ مهارت خاوندان وو، دوی په چل ونیول شول. د شاهزاه زمان پلویانو د بالاحصار وروڼه ونیول او دغه شاهزاده د درانیو مشرانو په یوې جرگې کې، چې په بیړه جوړه شوه، پاچا اعلان شو. پاچاهۍ زر اعلان شوه،

هغه وخت چې ارسلا خان د اتمانخېلو د قوم لومړي کلي ته نږدې شو. د کلي مشران په داسې حال کې، چې د پاچا له راتلونکي نارضایت نه په پوره وېره کې ول، له کلي نه ووتل، چې له دغه یاغي سره وگوري. دوی ورته ووېل که دوی هغه ته پناه ورکړي، دوی به مجبور شي له پاچا سره مقابله وکړي او څنگه چې دوی د هغه په مقابل کې ډېر کمزوري دي، پرېکړه یې دا ده چې ده ته پناه ورنه کړي. ارسلا خان زیار ایست، چې د هغوی رحم ځان ته جلب کړي او په داسې حال کې، چې دوی په خبرو کې سره بوخت وو، ارسلا خان د خپلو کالیو یوه برخه په یوې بلې لارې دغه کلي ته ورسوله. څه وخت، چې مشران په دې خبر شول، چې د ارسلا خان سړي د دوی په کلي کې ننوتلي دي، سمدلاسه یې په دې اعتراف وکړ، چې دی نو اوس د دوی تر سیوري لاندې دی. په ډېر عزت یې د هغه هر کلی وکړ او خپل قوم یې د هغه د دفاع لپاره راوباله.

[1] هغه حقایق، چې په وروستیو مخونو کې راغلي دي، ټول د الیگزاندر له تاریخ نه اخیستل شوي دي.



Property of ACKU

ساتونکیو ته انعامونه ورکړل شول او شاهزاده ګان د کابل په بالحصار کې بندیان شول او له دغې شېبې نه شاه زمان په ارامۍ سره په حکومت چلولو پیل وکړ.

د پوځ د ټولولو لپاره وسایل غونډ شول، چې د نوي پاچا واک ټینګ کړي او هغه بغاوتونه وځپي، چې ممکن دده د وروڼو له خوا وشي.

شاه زمان تر ټولو زیات له همایون نه وېرېده، که پاچا د مشر زوی ادعا ته اعتبار ورکول کېدای، نو د پاچايي حق د همایون و. دی د کندهار حکمران هم و، چې د درانیو د ملک په مېنځ کې پروت و، خو دی د خلکو ښه نه ایسیده. ځینو پلویانو یې یواځې پرېښود او د یوه واړه پوځ له خوا چې قوماندان یې شاهزاده شجاع و، مغلوب شو او مجبور شو چې بلوچستان ته پناه یوسي. شاه زمان کندهار ونیو او تر هغه وروسته یې ډېر زر محمود لکه دمخه یې، چې ذکر راغی، د هرات حاکم و، هغه ته تسلیم شو او وروسته شاه زمان د کابل په لور روان شو.

داسې ښکاري همدا چې شاه زمان له خپلو رقیبو وروڼو څخه ځان خوندي کړ، عزم یې وکړ، چې په هندوستان یرغل وکړي. دی په دغه عزم کې هم د ډیلي د شاهي کورنۍ د یوه شاهزاده میرزا اشون بخت له خوا، چې هغه د تیمور شاه په وخت کې کابل ته جلا وطن شوی و او هم د هغو ایلچیانو له خوا تحریک شوی و، چې په دغه وخت کې د ټیپو سلطان له خوا استول شوی و. ټیپو سلطان شاه زمان ته په دې شرط ډېرې پیسې استولې وې، چې دی په انګرېزانو باندې حمله وکړي.

## د ازبکو له خوا د بلخ نیول

شاه زمان د (۱۷۹۳) په دسمبر کې پېښور ته مارش وکړ او موخه یې دا وه، چې سمدلاسه په هندوستان یرغل وکړي، خو ډېر زر له دغه هوډ نه واوښت. شاه زمان په دې عقیده و، چې دده خپل ملکونه په پوره توګه ارام نه دي، چې ده ته اجازه ورکړي، چې په بهرنیو یرغلونو پیل وکړي.

په واقع کې د تیمور شاه له مړینې وروسته ډېر زر په لرو ولایتونو کې ډېرې ګډوډۍ راغلې وې او د حکومت د قدرت ټال او د تخت په سر د دعو لړلید بهرني دښمنان وهڅول او ځان غوښتونکی رعیت یې دې ته وهڅاوه، چې د ډېر اختیار په فکر او کوښښ کې شي.

خو هغه ډېر سخت خطر، چې د ترکستان له خوا ده ته متوجه و، په دغه وخت کې له منځه تللی و. شاه مراد، چې د تیمور شاه په هڅو د آمو په جنوب کې له سوبو څخه منع شوی و، ددغه پاچا تر مړینې وروسته یې ډېر زر په بلخ یرغل وکړ. محمد زمان سپاه منصور[1] د کابل د پاچا حاکم، چې یو ډېر فعال او زړور حاکم و، په یوه

[1] سپاه منصور د قزلباشو یوه پښنه ده. ژباړن

Property of ACKU

سنګر کې د خپل پوځ له زیاتې برخې سره، چې شمېر یې څلورو زرو ته رسېده، بنکېل شو او په یوه نښته کې ونیول شو.

شاه مراد په دې هیله، چې د پاتې پوځ له وارخطایی نه به استفاده وکړي، سمدلاسه د ولایت د مرکز په لور دمخه شو، خو پاتې پوځ دغسې زړورتیا وښوده، چې په دغسې شرایطو کې یواځې کله کله ښودل کېږي. د درانیو لویو مشرانو د بلخ د حاکم له بندي کېدو وروسته حکومتي چارې په خپل لاس کې ونیولې او د کلکتې د دفاع لپاره یې تیاري ونیوه. د بلخ پراخ او وران ښار پرېښودل شو، خو حصار د دښمن له سختو کوښښونو سره سره د دریو یا څلور میاشتو لپاره مقاومت وکړ.

شاه مراد د ښار دلاندې کولو لپاره د نورو کوښښونو په لړ کې په یوه وحشي عمل لاس پورې کړ او هغه دا و، چې حاکم یې تر دېوالونو لاندې راوست او د چونۍ پوځ ته یې ددې انتخاب ورکړ، چې یا په سمدلاسه تسلیمېدو سره خپله ازادي ترلاسه کړي او یا په نه تسلیمېدو د حاکم وژل په خپلو سترګو ووېني. د شاه مراد بده اراده په داسې حال کې، چې د چونۍ لښکرې د حصار د ساتنې لپاره ټینګې ولاړې وې، په وحشیانه توګه د دوی د نظر لاندې عملي شوه.

په پای کې شاه زمان په خراسان کې له خپل بري وروسته کابل ته ورسېد او شاه مراد په دې فکر، چې دی به سمدلاسه د بلخ د خلاصون لپاره روان شي، ایلچیان ورواستول او ورانديز یې وکړ، چې دی به په دغه ولایت باندې له خپلو ادعاګانو نه تېر شي. په دې شرط، چې د هغه تړون رعایت وشي. چې پخوا دده او تیمور شاه ترمېنځ شوی و. شاه زمان، چې په دغه وخت کې په هندوستان باندې د یرغل کولو په فکر کې و، په دې اړه خپل رضایت څرګند کړ او په هغه وخت کې، چې دی پېښور ته رسېده، سوله وشوه.

د (۱۷۹۳) پاتې میاشتې او د (۱۷۹۵) یوه برخه د کشمیر په ایلولو کې تېره شوه، چې د تیمور شاه له مړینې وروسته یاغي شوی و. په همدغې مودې کې د جنوبي ولایتونو چارې هم فیصله شوې، چې پاچا په خپله هغې خوا ته لاړ. په دغې موقع کې یې د سند امیران مجبور کړل، چې دوه میلونه او څلور لکه روپۍ ورکړي، چې په هغو باندې د مالیاتو له درکه پاتې وې. له هغه وروسته شاه زمان کابل ته ستون شو.

## د شاهزاده محمود یاغیتوب:

شاه زمان په مرکز کې د اوږدې مودې لپاره پاتې نه شو، ځکه چې شاهزاده محمود، چې پخوا یواځې د اړتیا له مخې تسلیم شوی و، په دغه وخت کې بیا یاغي شو او پاچا له پېنځلسو زرو عسکرو سره د هغه مقابلې ته روان شو. دوازه په



Property of ACKU

هلمند کې سره مخامخ شول. یوه سخته جګړه وشوه، چې په هغې کې شاه زمان وروسته له هغه، چې نږدې مغلوب شوی و، پوره فاتح وګرځېد. د ایماقو نږدې ټول مشران او د درانیو ډېر لویان ده لاس ته ورغلل، دوی ټول وبخښل شول ازاد شول. محمود د نښتې له میدان څخه په تېښتې بریالی شو او ځان یې روغ رمټ هرات ته ورساوه. پاچا وروسته له دې، چې د فراه د نیولو لپاره یو پوځ ولېږه، کندهار ته ستون شو او له هغه ځایه پېښور ته ورسېد. د هندوستان د لاندې کولو د پروژې د ترسره کولو لپاره یې بیا د یوه لښکر په ټولولو پیل وکړ.

## د بلوچستان پېښې

شاه زمان مخکې له دې، چې له کندهار نه روان شي، شیر محمد خان (د وزیر شاه ولي خان زوی) د بلوچستان د چارو د فیصله کولو لپاره هغې خوا ته استولی و. نصر خان د (۱۷۹۴) په پسرلي کې مړ شوی و او زوی یې میر محمود د هغه پر ځای حاکم شوی و، خو د هغه تربور بهرام خان له هغه سره په جګړې لاس پورې کړی او هغه یې لاندې کړ او ځان یې د بلوچستان د ډېرې برخې حاکم کړی و. د شېر محمد خان هیئت بری ومونډ او بهرام خان یې لاندې کړ او د هغه ټول ټینګ حصارونه یې هغه ته وسپارل او د بلوچستان حکومت یې په ظاهر کې په ټوله مانا اعاده کړ، خو دغه حکومت دغسې یوه ضربه لیدلې وه، چې تراوسه هم په خپلو پښو نه دی ولاړ.

د بلوچستان سهېل لویدیځ قومونه، چې په دې نږدې وختونو کې د نصیر خان له خوا لاندې شوي و، پوره ایل شوي نه و. دوی له دغې موقع نه استفاده وکړه، چې د ګډوډیو له لامله پیدا شوې وه او د تابعیت پرده یې اېسته کړه او میر محمود، چې د هغه روحیه او استعداد ډېر کمزوری دی، هېڅکله په دې بریالی شوی نه دی، چې په هغو باندې له یوې په نامه واکمنې پرته نور څه ولري.

## د شهزاده همایون نیول

په هندوستان باندې د شاه زمان نقشې بیا په هغو تازه ګډوډیو شنډې شوې، چې د هغه د ورور همایون له خوا راولاړې شوې وې. دغه شاهزاده د نصیر خان له خوا تر ځارنې لاندې نیول شوی و، خو دی له بند نه وتښتېد او له یو لړ خطرناکو تشبثاتو وروسته په دې بریالی شو، چې یو نامنظم پوځ برابر کړي، نو بخت په دې برلاسی کړ، چې داسې بری وګټي، چې توقع یې نه کېده. ددې بري نتیجه د کندهار نیول وو، خو شاه زمان زر لویدیځ ته ستون شو. د همایون پوځ دی په میدان یواځې پرېښود او دی په یو څه سختۍ سره غرونو ته وتښتېد.

څه وخت، چې شاه زمان د پېښور په لور روان و، همایون بیا د یوه پوځ سر کې ښکاره شو، خو دی د پاچا د افسرانو له خوا مغلوب شو او له یوې اوږدې نښتې



Property of ACKU

وروسته په لیه (Leia) کې، چې د اباسیند په ختیځ کې پروت دی، ونیول شو او سترګې یې واېستل شوی او ده د ژوند پاتې برخه په بند کې تېره کړه.

د شاه زمان حکومت تر دې دمه پورې نسبتاً په ښه وضع او پوره بري سره دمخه ولاړ. د پاچايي په سر لانجه له منځه لاړه او دده واک په ټول هغه ملک کې، چې له تیمور شاه څخه پاتې شوی و، پر ځای ټینګ شو. پخپله پاچا فعال او متشبث و او داسې ښکارېده، چې دده استعداد ددغو صفتونو په ملګرتیا سره ددې لپاره بسیا و، چې د خپل حکومت تېروتنې سمې کړي او ورانې چارې په هغې لارې بېرته برابرې کړي، چې احمد شاه ورباندې روان و.

## د شاه زمان ځانګړتیا

د هغه په کرکټر کې د ځینو نیمګړتیاوو او د هغه په سیاست کې د ځینو غلطو اصولو سره سرمېره شاه زمان ښايي دغه هیلې ترسره کړې وای، خو که چېرې ده داسې پرېکړه کړې وای، چې په خپله حکومت وکړي، خو ده نالایق مقرب ته د خپل ټول قدرت او دندې په سپارلو سره خپل ځان په یو لړ دغسې جنجالونو کې لتاړ کړ، چې په خپله د هغه او د هغه د ملت د ابادۍ لپاره تباه کوونکي تمام شول.

ښايي د شاه زمان د توجه لومړۍ موخه د هغه د خپل قوم د ملاتړ حاصلول وای، چې په هغه پورې د پاچايي د اصلي پلان ډېر څه تړلي وو. که دی په دغه ټکي کې بريالی شوی وای، دده د هېواد داخلي ارامي په سمدلاسه خوندي شوې وای.

په بهرني سیاست کې دده لومړۍ موخه بایېدا وای، چې خراسان وساتي. په دغه وخت کې د فارس قدرت د یوه فعال پاچا په لاس کې ټینګ شوی و او دغه پاچا ددغه ولایت د فتح کولو لپاره ملا تړلې وه او د شاه زمان له خوا یو څه کوښښ په کار و، چې د هغه د ډېر پرمختګ مخه نیول شوای وای.

په واقع کې دغه ټکي آن دده د ختیځ په لور پرمختګونو لپاره هم اړین و. د احمد شاه له وخت راهیسې هندوستان هغومره ډېر بدلون موندلی و لکه فارس، چې بدلون کړی و او هلته له اوږدو او پرله پسې عملیاتو پرته په بل راز هېڅ څیز لاس ته راتلای نه شو. نور نو په ډیلي کې دومره شتمني نه وې پاتې، چې دغه ښار ته په مارش کولو وارزي او د پنجاب د ایلولو ډېره مطلوبه هیله په لنډ ځغل سره ترسره کېدای نه شوه. د سکانو له خوا د احمد شاه د پلان مخالفت، چې د هغه په رسېدو سره دوی پنجاب پرېښود او د هغه په بېرته تګ سره بېرته ورننوتل، یوازې هغه وخت بې اغېزې کېدای شو، چې دغسې یو پوځ په دغه ملک کې مېشت شوی وای، چې د هغه د ساتلو لپاره پوره وای او دغه اقدام یوازې هغه وخت ترسره کېدای شو، چې لویدیځ سرحد په امن کې وای.



Property of ACKU

کوم هغه پلان، چې شاه زمان اختیار کړی و، نږدې د هغه اپوته و، چې پورته یې په لنډ ډول ذکر وشو. شاه زمان د درانیو او دربار ترمینځ درز پراخ کړ. د خراسان خونډې ساتلو لپاره یې کوم جدي اقدام ونه کړ او د هندوستان د نیولو لپاره د هغه د وخت مخالفت او بې سرشتې کوښښونه یوائې په دې تمام شول، چې دده د هیلې ډېر مطلوب هدف ناکام شي.

دده د ټولو غلطیو منبع د وزارت په مقام د وفادار خان ټاکل او په دغه وزیر باندې د بې اعتراضه اعتماد کول وو.

وفادار خان یو داسې سدوزی و، چې په خپل نرم او له رمزه ډک چال چلند سره یې ورو ورو د پاچا باور ترلاسه کړ او له خپل لوړوالي نه یې د سرفراز خان، د دولت او لښکر او د ټولو لویو افسرانو د قدرت د کمولو لپاره کار اخیست. داسې ښکاري، چې دی د خپل پاچا په تمایل پوره پوهېده او هغه که څه هم مغرور او غیر قابل نفوذ و، په ډېرې اسانۍ سره د غوړه مالانو تر اغېز لاندې راته او سره له دې، چې د فعالیت او تشبث شوقمن و، د چارو د ترکو د تنظیم لپاره یې پوره زغم یا ځیرتیا نه لرله. دی د هغو په مقابل کې، چې ممکن له ده سره یې د برابرۍ هیله کوله، حریص او کرکجن و. له هر هغه چا سره یې بد لرله، چې له ده سره یې په قدرت یا برلاسۍ کې سیالي کولای شوه، خو په جرګې او بحث کې د هغه غرور او اعتماد کله، چې له شخصي خطر سره مخامخ کېده، د هغه له لاره او بې زړه توب سره برابر و دا هغه حال و، چې له هغه تنفر سره یې کرکه زیاتوله. په کوم سره چې، ده ته غیر له هغې نه هم کتل کېدل او تر هغې وروسته دده اعمالو درانیان بېزاره کړل ار څنګه، چې دی د ټولو درانیو بد ایسیده، ده له هر څیز نه په دې لار کې کار واخیست، چې د دغه قوم او پاچا ترمینځ حسد او اختلاف زیات کړي. دده حرص دده تر ځان غوښتنې نه د دولت لپاره لږ مضر نه و. د ولایتونو حکومتونه او نوري اداري په ښکاره توګه دده په ګټه څرخېدلې. د عواېدو کمی چې دده او دده د سرپو د اختلاسونو نتیجه وه، ددغسې پاچا په دوره کې په شدید ډول سره ولیدل شو، چې د هغه عملیات دومره ګران و، لکه چې شاه زمان او ده په هغه نظم او اقتصاد کې هیڅ برخه نه لرله، په کومو کې چې د هغه سلف نوم ایستلی و.

د شاه زمان د سلطنت پاتې برخه په هندوستان باندې دیرغل په هڅو کې تېره شوه او له هغو نه تل د هغو خطرونو د فشار له لامله بېرته کېده، چې ده په لوید یځ کې د هغو په مقابل کې کوم ترتیب نه و نیولی. که چېرې دی پرېښودل شوی وای، چې خپل پلان یې بې له کوم ځنډه عملي کړی وای، د هغه اصلي عیبونه به لا څرګند وای. ده ښایي ډیلي له مرهټه و څخه نیولی وای، خو غنایم به د هغه د یرغل د

Property of ACKU

لګښتونو لپاره پوره نه وای او که چېرې د روهیله و بلنه او د وزیر دشتو د ضبطولو هڅې دې لکهنو ته په دمخه تګ هڅولی وای، هغو پوځونو به له هغه سره مخالفت کړی وای، چې د سر جیمز کریګ (Sir Games Craig) په قوماندانۍ د همدغه مقصد لپاره تنظیم شوی و. د دراني جنګ له طرز نه، چې ده به ترې کار اخیست، له لږ شک سره به نتیجه دا وای، چې په هندوستان باندې دده پروژې شنډې شوې وای.

## په پنجاب باندې یرغل

په پنجاب باندې د شاه زمان لومړی یرغل د (۱۷۹۵) په پای کې پیل شو. دی په اټک کې د ډېرو بېړیو په یوه پله باندې له اباسین نه تېر شو او درې مزله وړاندې حسن ابدال ته دمخه لاړ او له هغه ځایه یې د احمد خان شاهین چې باشي په قوماندانۍ یو لوی پوځ واستاوه، چې روتاس ونیسي. دغه پوځ په خپل مقصد بریالی شو او له هغه سره د پنجاب ډېر ګوکران (Gukeers)، جټان او نور مسلمانان ملګري شول. په داسې حال کې، چې سکان په ډېرې وارخطایۍ غرونو ته وتښتېدل، ځینې یې د بیه یا پیاس (Hyphasis) له سیند نه اخوا لاړل.

## په خراسان د قاجاریانو یرغل

د سکانو وارخطایي بې ځایه وه، ځکه چې شاه زمان ته یوه اوونۍ وروسته په حسن ابدال کې خبر ورسېد، چې د فارس پاچا آغا محمد قاجار د خراسان په لوید یځ باندې یرغل کړی دی. دغه یرغل دی دې ته اړ کړ، چې سمدلاسه د خپلو سیمو دفاع لپاره ستون شي او دغه هوډ په داسې چټکتیا عملي شو، چې له حسن ابدال نه پېښور ته (چې څه دپاسه اووه اویا میله واټن لري) په دوو مزلونو کې ورسېږي. دی د (۱۷۹٦) د جنورۍ په (۳مه) پېښور ته ورسېد.

د قاجاریانو یرغل مشهد ته متوجه و، چې هلته د نادرشاه د کورنۍ په ضد سخت نارضایت لیدل کېده. ددغې سیمې باکفایت حاکم نادر مېرزا دغسې یو پلان طرح کړی و، چې په یوې پخوانۍ موقع کې بریالی شوی و، خو اوس د فارسیانو په رسېدو سره کابل ته وتښتېد. د هغه پلار شاهرخ میرزا د ډېر عمر او ناتوانۍ له امله پر ځای پاتې شو او د فاتح رحم ته یې ځان وسپاره، خو د هغه تسلیمي د آغا محمد زړه نرم نه کړای شو، چې میل یې په اصل طبیعت کې وچ کلک او وحشي و او په هغو ظلمونو سره پارول شوی و، چې په خپله ده او دده کورنۍ د نادرشاه له خوا لیدلي وو. شاهرخ مېرزا د پارسیانو کمپ ته د تنوتلو په وخت کې ونیول شو. دی وکړول شو، چې خپلې خزانې تسلیم کړي او وروسته له ټولو هغو عذابونو نه، چې د هغه د کړوونکي له خوا راوبلل شول. د نادرشاه دغه زوړ او ړوند لمسی د پارسیانو په کمپ کې ووژل شو. له هغه وروسته اغا محمد خان مشهد ته ننوت، د نادرشاه مړستون



Property of ACKU

(قبر) یې وران کړ، ددغه فاتح هډوکي یې واپستل او تهران ته یې واستول. عجیبه ده، چې د نادر شاه ټوله کورنۍ د فارسیانو له خوا ورروسته له دې، چې هغه تر ډېرې مودې پورې د هغه ملت له خوا ساتل شوې وي، چې د هغه له جغ څخه یې خپل ملت آزاد کړی وي، په بې رحمۍ سره ووژل شي او د هغه د مړستون سپکاوی وشي.

څنګه چې مشهد تر اوږدې مودې پورې په کابل وربسا و، دغه برید د شاه زمان د غضب او ویرې ستر لامل شو او داسې ښکاري، چې لومړی دغو احساساتو په هغه باندې اغېزه کړې وه.

دی کابل ته ستون شو، د جنګ لپاره یې تیاری ونیو او اوزبکانو ته یې وړاندیز وکړ، چې د فارسیانو په ضد له ده سره یو شي، خو دده غضب ژر سوړ شو. له اغا محمد څخه ده ته یو هیئت راورسېد او په همدې وخت کې یې هغه ځای خوشې کړ او په دې بریالی شو، چې شاه زمان د خپلو پاتې سیمو په اړه وېره ونه لري او د خپل سپکاوي د غچ اخیستلو فکر له مغزو نه وباسي.

## په هندوستان باندې یرغل

په دغې موقع کې په هندوستان باندې د شاه زمان د یرغلونو حماقت د فارسیانو په نظر تایید شو. آغا محمد قاجار لا په شا تللی نه و، چې شاه زمان د پېښور په نیت روان شو او پنجاب ته یې د تګ لپاره تیاری ونیو. د دېرشو زرو مېړونو پوځ یې غونډ کړ، چې نیمایي یې درانیان وو او د نومبر په پای کې یې د هندوستان په لور مارش وکړ او تر لاهور پورې بې له کوم مقاومت نه دمخه لاړ او د (۱۷۹۷) کال د جنوري په دریمه نېټه دغه ښار ته ننوت.

د هندوستان د لاندې کولو لپاره د شاه زمان ټولیز پلان د احمد شاه د پلان په څېر و. په وار وار یې نظامي ټولګي واستول، چې په سکانو باندې په بېتون ځایونو کې برید وکړي، څاروي یې راولي او غلې دانې یا ترېنه واخلي یا یې وسوځوي. ده په خپله ټول هغه حصارونه ونیول، چې ورته رسېدلی شو او په همدې مهال کې یې د سکانو ټول هغه مشران هڅول، چې غوښتل یې ده ته تسلیم شي. دده پلان تر څه حده دده د سرسختو ملایانو په تلقیناتو د وزیر په شکاوېو او د عسکرو په لوټلو شنډ شو، خو ددغو ټولو نابرابرو شرایطو سره سره دی په دې یو څه بریالی شو، چې سکان وهڅوي، چې له ده سره یوځای شي او د هغو یو څو تنه مشران په لاهور کې دده دربار ته حاضر شول.

د درانیو د لښکرو پرمختګ او د لاهور نیولو خبر په ټول هندوستان کې قوي خوږ جوړ کړ. د مرهټه ضعف، چې ټول پوځونه یې د خپلې بې اتفاقۍ له لامله د سهېل په لور تللي وو، د نواب وزیر د حکومت کمزورتیا او د بغاوت او پاڅون لپاره



Property of ACKU

دده د رعیت د زیاتې برخې تمایل، د مسلمانانو له هغه هڅونې سره، چې د دوی دین باید غالب اوسي او د تیمور کورنی باید بېرته په واک شي، دغه هېواد ددې لپاره تیار کړی و، چې د بې نظمی او بدامنی یو ډگر وگرځي او که پاچا د ډیلي په لور مخ په وړاندې تللی وای، ددغه حالت لپاره به لاره بې له شکه اواره وای.

د چارو دغه حالت د هغو قوتونو له خوا په لومړي سر کې تشخیص شوی و، چې د هغوی سلامتیا تهدید او تر تهدید شوې وه. مرهټه په واقع کې سخت په وېره کې ول او د ځان د خوندي ساتلو لپاره یې لږ ترتیبات نیولي ول. یوازې له خپلو گاونډیو څخه یې مرسته غوښتې وه، خو د برتانیې حکومت سخت اقدامات وکړل او یو غښتلی پوځ یې انوپ شهر ته واستاوه، چې د خپل متحد نواب وزیر سرحد وساتي.

د شاه زمان پلویان هم لاس تر زنې ناست نه و، ددغه پاچا له یرغل سره د مرستې کولو په موخه په ټول هندوستان کې دسیسې روانې شوې، روهیله پښتنو په دې پیل وکړ، چې وسله په لاس سره غونډه شي او هر مسلمان آن د دکن په ډېرو لرو برخو کې په ناکرارۍ سره د اسلام دقهرمان ورتگ ته سترگې په لاره نیولې وې. دغه هیلې او دغه ناکرارۍ د شاه زمان په نه ورتگ سره له منځه لاړې او د هغه د راتلو انتباه تلپاتې وه. یو څو کلونه واوښتل، چې مرهټه د بل احمد شاه د څرگندېدو له وېرې نه ژغورل شول او په (۱۷۹۹) کې فارس ته د برتانوي هیئت د سفر لویه موخه دا وه، چې د شاه زمان د یرغل له خطره د ډېرو کالو لپاره خوندي شي.

## د شهزاده محمود یاغیتوب:

پر (۱۷۹۷) کې د شاه زمان په شاه کېدل دده په خپل هېواد کې د یوه بغاوت د خبر د رسېدلو له لامله و. شاهزاده محمود که څه هم په هرات کې په خپل حکومت پرېښودل شوی و، مخکې له دې چې شاه زمان د هندوستان پر لور روان شوی وي، د یاغي توب لپاره تمایل ښکاره کړی و او د هغه د غیاب په وخت کې یې د شلو زرو مېړو یو پوځ تنظیم کړ، چې زیاتره یې د خراسان له پارسیوانانو څخه جوړ شوی و. که چېرې د پاچا په گړندي ستنېدو سره د هغه مخه نه وای نیول شوې، ممکن محمود په کندهار برید کړی وای.

شاه زمان له کندهار نه د (۱۷۹۷) کال د سپټمبر په (۸مه) د هغه پر ضد روان شو. که څه هم دی د خپلو نامعقولو ترتیباتو له لامله نږدې مغلوب شوی و، خو د هغه بې تدبیرۍ پایلې د شاهزاده محمود د پلویانو په خیانت سره جبران شول. قلیچ خان تیموري د هغه په نامه د هرات حصار ونیو او د ښار دراني حاکم هم له هغه سره ملگری شو. پوځ هم د محمود د مخالفانو په منډه روان شو او محمود، چې له هرې خوا ناهیلی شو، له خپل زوی کامران سره تور شیش ته وتښتېد. شاه زمان

سمدلاسه د هرات ښار ته ننوت، د محمود دوه مشاوران د هغه د یاغیتوب په بدل اعدام شول. خو په نورو ورته کړو لاس پورې نه شو. دغو چارو پاچا د څه وخت لپاره بوخت وساته او همدا، چې ده یوه شېبه وخت موندو، خپل پام یې پنجاب ته واړاوه، خو هلته چې څه وخت دی په لویدیځ کې نښتی و، دریځ ته یې یو څه تاوان رسېدلی و. همدا چې ده پنجاب شا ته پرېښوده، سکان به له خپلو پټو ځایونو ښکته کېدل او له مسلمانانو به یې د هغه ظلم بدل اخیست، چې د دوی د مذهب پیروانو له درانیو نه لیدلی و. دوی آن د ختیځو پښتنو هغه پېنځه زره کسیزه ډله ټوټه ټوټه کړې وه، چې د پاچا د یوه قوماندان په مشرۍ تر جیلم پورې وړاندې تللې وه او هغه وخت، چې پاچا د درېیم ځل لپاره د هندوستان پر لور روان شو، ټول پنجاب له ایل کېدو نه ډېر لرې و. دی له پېښور نه د (۱۷۹۸) د اکتوبر په (۲۵مه) نېټه روان شو او بې له کوم خنډ نه تر لاهور پورې دمخه ولاړ. ده په خپل پلان کې د سکانو پخلا کول شامل کړي وو او د ټولو روایتونو له مخې په دغې لښکرکشۍ کې د پنجاب اوسېدونکي له هېڅ ډول کړاو سره مخامخ نه شول. د سکانو ډېر مشران او ټول مسلمان ځمکوال دده دربار ته حاضر شول او پخوا له دې، چې پاچا بېرته لاړ شي، ټولو مشرانو یا په خپله یا د خپل واستازیو له لارې د هغه درناوی کړی و او په لومړنیو کې د سکانو او سني پاچا رنجیت سنګ هم شامل و.

د (۱۷۹۸) په پای کې پاچا ته خبر ورسېد، چې د فارس پاچا فتح علي شاه په خراسان یرغل کړی دی. نو شاه زمان پېښور ته د ستنېدو لپاره روان شو او د (۱۷۹۹) کال د جنورۍ په (۳۰مه) هلته ورسېد. توپونه یې په جیلم کې د یوه ناڅاپي سیلاو په اثر ضایع شول، خو هغه وروسته د رنجیت سنګ او صاحب سنګه له خوا له ختېو نه وویستل شول او پاچا ته برته ورکړل شول.

شاه زمان په پېښور کې له یو څه تم کېدو وروسته د هرات په نیت روان شو او پرېکړه یې وکړه، چې ټول کال هلته تېر کړي. داسې ښکاري، چې ده په دغه وخت کې د خپلو لویدیځو ملکونو د دفاع لپاره جدي پاملرنه کړې وه. دغه فکر ممکن د فارسیانو په کمپ کې د محمود د حضور او د هغې وېرې په پرتله ده ته پیدا شوې وي، چې د فارسیانو ملاتړ ممکن محمود په دې برلاسی کړی وي، چې هرات بیا ونیسي یا لږ تر لږه په فارسي خراسان کې د هغه د ملکونو په کومې یلې برخې ولکه وکړي، خو ده په هرات کې ډېره موده نه وه تېره کړې، چې ورته خبر ورسېد، چې فتح علي شاه په شا شوی او په خراسان باندې د هغه ټول کوښښونه ناکام شوي دي. له هغه وروسته شاه زمان ډېر زر کندهار ته لاړ او د (۱۷۹۹) په ژمي کې هلته پاتې شو.



Property of ACKU

## پر هرات باندې ناکام برید

شاه زمان په کندهار کې ډېره موده نه وه تېره کړې، چې محمود پر هرات باندې د يوه ناکام برید پیل وکړ. پر (۱۷۹۷) کې د هرات په نیولو سره توشیش ته د محمود د تښتېدو بیان دمخه راغلی. له هغه وروسته دی زر د تهران دربار ته لاړ او هلته دده تود هرکلی وشو.

بل کال د (۱۷۹۸) په پسرلي کې محمود د فارس دربار پرېښود، لومړی کاشان او بیا اصفهان ته لاړ. هلته د (۱۷۹۹) تر پسرلي پورې پاتې شو او له پاچا سره یې د هغه د خراسان په سفر کې ملګرتیا وکړه، چې دمخه یې یادونه وشوه. وروسته له دې، چې پاچا بېرته لاړ، دی په خراسان کې پاتې شو او کوښښ یې وکړ، چې په هرات باندې د برید لپاره ددغه ملک ځینې مشران د مرستې لپاره وهڅوي. دی په تورشیش او طبس کې له ناکامۍ وروسته بریالی شو، چې د قاین او برجند د حاکم مهر علي خان[1] ملاتړ ترلاسه کړي او ددغه مشر له لسو زرو مېړو سره د هرات په ضد روان شو. دی باید او مېړو له برجند نه یوه میاشت وروسته له هغه، چې شاه زمان هرات خوشې کړي، په هغه لور روان شوی وي.

په اسفزار کې دی له هغه پوځ سره مخامخ شو او ماتې یې ورکړه، چې شاهزاده قیصر له هرات نه د هغه په ضد استولی و. هغه بیا دمخه لاړ او هرات یې محاصره کړ. دده عملیات په لومړي سر کې بریالي وو. څرنګه چې د وفادارخان[2] په یوه ماهرانه تدبیر محمود، د مهر علي په اړه بدګومانه کړ، چې دی ګنې له هغو سره خیانت کول غواړي. دغه ډارن شاهزاده ناڅاپه په شپه کې خپل کمپ پرېښود او مهر علي مجبور شو، چې په ډېره بیړه له خپلو مېړو سره خپل ملک ته ستون شي. ده د بېرته تګ پر مهال د هرات او برجند ترمینځ مېړې کې ډېر ربړونه ولیدل.

محمود په همدې وخت کې تارتاري ته وتښتېد او په پای کې د بخارا دربار ته ورسېد. هلته په ورین تندي د هغه ښه هرکلی وشو او د پاچا په یوې ماڼۍ کې تر څه مهاله پاتې شو، ترڅو د شاه زمان یو استازی وروړسېد او په شاه مراد باندې یې نیوکه وکړه، چې دده یوه دښمن ته یې پناه ورکړې او ترې وریې غوښتل، څرنګه چې محمود د خپل واکمن په ضد یاغی شوی دی، باید چې هغه ته یې تسلیم کړي. ویل کېږي، چې استازي ته اجازه شوې وه، چې د محمود د تسلیمولو په بدل کې باید د بخارا پاچا ته د غټ نغدي انعام ژمنه ورکړي. په سمه توګه معلومه نه ده، چې دغه

---

[1] په تاریخ سلطاني کې ددغه مشر نوم امیر علي خان دی. ژباړن

[2] داس سړی وفادار خان نه، بلکې د حاجي کریمداد بامیزي زوی زمان خان دی، چې شاه زمان په هرات کې د خپل زوی شاهزاده قیصر لپاره نایب ټاکلی و. ژباړن



Property of ACKU

غوښتنې په څه ډول واوړېدل شوې؟ خو په دې کې شک نه شته، چې شاه مراد د شاه زمان غوښتنې ته په ډېرو غرورو او نرمو الفاظو ځواب ووایه. ټولیز یقین دا دی، چې نږدې وه محمود شاه زمان ته وسپاري، خو دغه شاهزاده د حج کولو نیت څرګند کړ او په دې ډول یې د ځان د ازادۍ په مسئلې کې د دین په نامه د علماو علاقه په برابره توګه جلب کړه او د هغوی د نفوذ له برکته یې د رخصتۍ اجازه ترلاسه کړه، خو تر هغه یقین ته نژدې روایت دا دی، چې شاه مراد په داسې حال کې چې نه دې ته حاضر و، چې شاه زمان د هغه د رقیب په ساتلو خپه کړي او نه دا چې له خپل یوه مېلمه سره په خیانت کولو سره خپل ځان نام بدی کړي. محمود ته یې د هغې دسیسې نه خبر ورکړ، چې د هغه په ضد روانه وه او ترې وېې غوښتل، چې د هغه له هېواده په وتلو سره ټولې ستونزې لرې کړي.

محمود له بخارا نه خوارزم (یا اورګنج) ته وتښتېد او هلته یې د هغه ځای پاچا ښه هرکلی وکړ. له اورګنج نه بیرته فارس ته لاړ.

## د شېرو لویو خانانو دسیسه

هغه وخت، چې محمود یوځای بل ځای لالهانده او سرګردانه ګرځېده، په کندهار کې یوه پېښه وشوه، چې د هغه په راتلونکي بخت باندې یې سخت غټ اغېز وکړ. د درانیو او قزلباشو شپږو لویو خانانو، چې د وفادار خان له واک او غرور نه په تنګ شوي وو، دسیسه جوړه کړه، چې وزیر ووژني، شاه زمان خلع کړي او پر ځای یې د هغه سکه ورور شجاع الملک پاچا کړي. دسیسه کوونکیو ډېر سره کتل او د احتیاط سره سره، چې دوی د هغه رعایت کاوه، په پای کې وفادار خان پرې بدګومانه شو او خپل ځري (جاسوسان) یې په هغوی پسې کړل، چې له نقشې نه یې خبر شي. تر دې، چې منشي باشي نایب میرزا محمد شریف خان نومېره د دوی پلان لوڅ کړ، چې یوه دسیسه کوونکي هغه ته دا خبر ورکړی و. د دسیسې سترطراحان د بارکزیو مشر سرافراز خان، د الکوزیو مشر محمد عظیم خان او د جوان شیر د پارسي[1] قوي قوم مشر امیر ارسلان خان و. لومړی محمد عظیم خان تر ټولو ډېر خطرناک توطیه ګر ونیول شو. بیا یو افسر د سرافراز خان د نیولو لپاره واستول شو. ددغه خان کور ته په رسېدو سره د سرافراز خان مشر زوی فتح خان (هغه چا چې د درانیو په مسایلو کې تراوسه ډېر لوی نوم ګټلی دی) د هغه هرکلی وکړ. فتح خان بې له دې، چې د بدګومانۍ کومه نخښه وښيي، له دغه افسر نه یې د خپل پلار د نه شته والي له لامله بخښنه وغوښته او اجازه یې وغوښته، چې لاړ شي هغه ته ورغبږ کړي. دی بیا خپل پلار ته لاړ او ورته یې وویل، چې یو افسر یې د نیولو لپاره

[1] د پارسي نه دلته مراد قزلباش دی، نه د پارس اوسېدونکي او د زردشتي مذهب پیروان. ژباړن.

Property of ACKU

راغلی او په هغه هوډ او د وساېلو نه په بې پروایی سره، چې ده پکې نوم ایستلی و، خپل پلار ته وړاندیز وکړ، چې دغه افسر ووژني، ساتونکي یې ونیسي او له کندهار ځخه وتښتي. سرافراز خان د شدت د عمل دغې مشورې ته غوږ ونه نیو او له افسر سره د پاچا حضور ته لاړ. امیر ارسلان خان په دربار کې و، چې د بندي کولو امر یې ورکړ او هغه نور دسیسه کوونکي په خپلو کورونو کې ونیول شول.

بله ورځ دوی ټول د پاچا حضور ته وبلل شول او سرونه یې پرې کړای شول. تر دغو اعدامونو وروسته زر امین الملک او حکومت خان الکوزی هم ووژل شول او په دې ډول د پاچا او د هغه د وزیر دار له توطیه کوونکیو ځخه پوره ورک شو. خو په واقع کې هغه خوابدي چې په دغه خونړي عمل سره پیدا شوه، د دوی خطر یې لا ډېر کړ او له هغې وخت وروسته د بغاوت روحیه، چې د شاه زمان په سقوط تمامه شوه، مخ په قوي کېدو شوه.

## د محمود او فتح خان یو ځای کېدل

د (۱۸۰۰) په پسرلي کې فتح علي شاه قاجار د دویم ځل لپاره پر خراسان برید وکړ. شهزاده محمود له ده سره ملګری و او له هغه سره ژمنه شوې وه، چې د کابل په تخت به کېنول شي. شاه زمان همدا، چې د فارس د پاچا د برید خبر واورېد، د هرات پر لور یې مارش وکړ، اوړی یې هلته تېر کړ او د مني په لومړي سر کې بېرته روان شو او په ټول ممکن سرعت سره د کابل په خوا ولاړ. خپل پوځ یې په معمولي لارې بېرته واستاوه او په خپله له دوو یا درېو زرو غوره عسکرو سره د ایماق له ملک او د هزاره و له ډېرو سختتو غرونو ځخه واوښت. ده اریانوونکي مزلونه ووهل او ځنګه چې هغه لاره، چې ده غوره کړه، سمه نیغه وه، دی خپل مرکز ته په ځه کم دوو اونیو کې ورسېد. په همغه وخت کې چې شاه زمان له هرات نه روان شو، فتح علي شاه له سبزوار نه بېرته ستون شو.

شاهزاده محمود، چې په خراسان کې پرېښودل شو، د فارسیانو له مرستې نه ناهیلی او د دوی له دربار نه پوره بېزار شو او په طبس کې یې واړول. اکرم خان الیزي او دوه یا درې نور دراني مشران، چې ټول ده په بخت کې شریک وو، تر دې وخته له هغه سره ملګري پاتې وو. هېڅ وخت ده راتلونکی دومره تیاره نه معلومېده، لکه دا وخت چې و. خو د فتح خان بارکزي په رسېدو سره ده په مشاورینو کې یوه دغسې نوې ساه وچلېده، چې دی یې دغسې یوه تشبث ته وباله، چې په پای کې یې پاچایي ته ورساوه.

فتح خان د پلار په مړینې سره په ګرشک کې خپلې کلا ته لاړ، خو وروسته د پاچا له ویرې اړ شو، چې هغه پرېږدي. ده په زړه کې د غچ اخیستلو اور بل و او له



Property of ACKU

پاچا او د هغه له وزیر نه یې کرکه کوله او د درانیو په هېواد کې د خلکو د حال او فکر مشاهده بس ددې لپاره پوره وه، چې دده غوندې د تودې وینې یو سړی مصمم کړي، چې د حکومت د نسکورولو لپاره په یو زړور کار لاس پورې کړي.

محمود ته د هغه نصیحت دا و، چې نور نو د باندنیو په مرستې ویسا ونه کړي، بلکې کندهار ته ستون شي او په درانیو داډه اوسي، چې د هغه ملاتړ وکړي. درانیو دغه سپارښتنه باید اورمرو په غېرت سره اورېدلی وي، چې دوی تل له زړورو تشبثاتو سره روږدي او تر ټولو نورو مصیبتونو زیات د جلاوطنی د ژوند زیات نه زغموونکي دي.

محمود له طبس نه یواځې له پینځو سوو سورو سره روان شو، دمېرې له لارې سیستان ته ننوت او د دغه ولایت مرکز جلال آباد ته وړاندې لاړ. د سیستان مشر بهرام خان په ورین تندي د هغه هرکلی وکړ او خپله لور یې شاهزاده کامران ته نکاح کړه. د محمود ملګري، چې د مېرې په اوږدو مزلونو ستومانه شوي وو، په وسلو سمبال کړل او وړاندې ورته وکړ، چې حاضر دی د خپل ولایت په قوې سره د هغه مرسته وکړي، خو ده د فتح خان د پلان له مخې د هغه مرسته ونه منله او محمود د خپلې ډلې له پاتو ملګریو سره د درانیو په ملک کې ننوت.

د محمود مشاور د هغه د خپلو وطنوالو تمایل په ښه شان درک کړی و. درانیان پر محمود ټول شول او په کندهار باندې د یرغل لپاره یې دغسې یو پوځ راغونډ کړ، چې په هغه سره یې وکولای شول له میراخور سره مقابله وکړي، چې هغه د دغه ولایت د حاکمیت لپاره ټاکل شوی و. دغه حاکم تر هغو د ښار د دېوال نه بهر کمپ وهلی و، چې د دښمن د وړو وړو، خو ډېرو حملو په اثر مجبور شو د دېوال دننه لاړ شي.

محمود وروسته په کلابندۍ لاس پورې کړ او پوځ یې د محاصرې تر دوه څلوېښتمې ورځې پورې وار په وار ډېرېده، تر دې چې فتح خان یو داسې پلان جوړ کړ، چې له هغه سره سم دی نږدې په یواځې ځان دننه ننوت او سمدلاسه یې ځان د چونې د قوي مشر عبدالله خان ننګ ته وسپاره. ددغسې پناه راوړلو تاثیر په یو بل ځای کې شرح شوی. دلته یې تاثیر پوره و، عبدالله خان د محمود په خوا ودرېد او میراخور دې ته اړ شو، چې وتښتي او د کندهار وروته د محمود پر مخ پرانستل شول.

## د شاه زمان تېروتنه

په هغه وخت کې، چې دغه پېښې روانې وې او آن وروسته له هغه، چې د هغو د پیل خبرونه ورته رسېدلي وو، شاه زمان په نه ستړي کېدونکې توګه کوښښ کاوه،



Property of ACKU

چې په هندوستان باندې د بل یرغل لپاره تیاری ونیسي. د کندهار له سقوط نه وروسته و، چې شاه زمان دغه وخت پېښور ته رسېدلی و او په خپلې غلطۍ پوه شو. له هغه وروسته په هندوستان باندې له خپلو پلانونو څخه تېر شو او کابل ته ستون شو، خو مخکې له دې چې له پېښور نه روان شوی وي، یو څو بې تدبیره کارونه یې وکړل.

د کشمیر حاکم عبدالله خان الکوزی، چې دربار ته حاضر شوی و، هلته ونیول شو او وکړول شو. په کندهار کې د هغه ورور سیدال خان ددغه خبر په اورېدو سره له خپل ټول الکوزي قوم سره د محمود پلوي اعلان کړه. بله دا چې شاه زمان د میر احمد او میرویس نورزي په مشرتابه له پنځلسو زرو نه جوړ یو پوځ د کشمیر په ضد واستاوه. دغه پوځ، چې باید د محمود د بغاوت د ځپلو لپاره په کار شوی وای، مخکې له دې چې کشمیر ته ورسېږي، د هغه د قوماندان ملا احمد د بې باکۍ له لامله تیت پرک شو.

شاه زمان یو بل نسبتاً قوي پوځ په پېښور کې له شجاع الملک سره پرېښود او داسې ښکارېده، چې دی له ټولیز نارضایت نه خبر نه و او دا یې پټېیلې وه، چې محمود به بې له کوم جدي اقدام نه مغلوب کړي. هغه وخت، چې دی کابل ته ورسېد، د رېښتینې وضعې درک له خوبه وېښ کړ او د هغه د خوندي توب ځای سختې ناارامۍ او خطر ونیو. همدا چې دی د درانیو د مشرانو له ټولیز نارضایت څخه خبر شو، د هغو په منځ کې یې ځان یواځې ځان خوندي نه گاڼه، د خپلو شخصي ساتونکیو شمېر یې دوه برابره کړ او په دربار کې د عادي ښکاره کېدو پر ځای په دې وگومارل شول، چې په پرله پسې ډول د قصر څارنه وکړي. بله دا چې په خپل قوم باندې د پاچا بې باوري په هغو لېوالو کوښښو سره څرگنده شوه، چې شاه زمان د غلزیو د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره کول او دغه احتیاطي تدبیرونه په داسې حال کې وو، چې ناراضه کسان په ځان وېسا کړي. هغوی چې یا بېطرف یا ده ته متمایل وو، له ځانه یې بېزاره کړل.

د وزیر وېره تر هغه لا هم ډېره څرگنده وه او کېدای شي، چې دی د خپل معلوم بې زړه توب له لامله وارخطایي ښکېل کړې وي او دا حال مخکې له دې، چې په پاچا راغلی وي، په ده راغی. دده لیدل تر بل هر وخت زیات گران شول، په چلند کې یې بې باوري پیدا شوه او اضطراب پرې غلبه وکړه او په بیړه یې هوډونه نیول او ټینگ پرې نه درېده. هغه شک، چې دربار د خپل راتلونکي بخت په اړه وښوده، په بیړه د خلکو ترمنځ خور شو او په یوه دغسې خرافاتي ولس کې د شگون او فال نیولو کمی



Property of ACKU

نه و، چې د ځینو سترو بدو پېښو هیلې یې تاییدولې.

شاه زمان له ځینو ناکامو خبرو اترو وروسته له دېرشو زرو مېړو سره د یاغیانو په ضد مارش وکړ. دوه ډلې عسکر یې له خپل پوځ نه دمخه واستول، د مخکینۍ ډلې قوماندان یې احمد خان نورزي و او پاچا زر د هغو شاته وخوځېد او تل یو یا دوه مزلونه وروسته ترېنه پاتې کېده. دغه پلان ممکن د وزیر د ډار له لامله عملي شوی وي. په هر حال دغه پلان په عسکرو کې د خطر احساس اضافه کړ.

احمد خان دومره ډېر زیانونه او سپکاوی لیدلی و، چې په دغه وخت کې یې وغوښتل د هغو بدل له وزیره واخلي او له ده سره دومره بدگوماني پیدا شوې وه، چې مخکې له دې چې دغه مهمه دنده وروسپارل شي، دی د همدغه وزیر له خوا د اعدام لپاره په نخښه شوی و.

سره له دې هم وفادار خان په خپلو سختو شېبو کې احمد خان ته ددغه لوړ مقام او عزت په ورکولو سره هیله لرله، چې په خپله خوا به یې راواړوي. له دې لامله دی د مخکیني پوځ په قوماندانۍ وروسپارل شو، چې د پخوانیو تجربو له مخې په ټولیز ډول د پوځ د ټینګار یا تېښتې پرېکړه په هغه پورې اړه لري.

خو احمد خان مخکې له دې، چې له اصلي پوځ نه جلا شي، پرېکړه کړې وه چې څنګه چلند غوره کړي. لږ تر لږه فتح خان همداسې فکر کاوه او هغه ګامونه، چې فتح خان د هغه د همکارۍ د ترلاسه کولو لپاره واخیستل، که څه هم د هغه له توند کرکټر سره پوره موافق وو، که بل چاته یې نسبت وشي، هېڅ به پرې یقین ونه شي. هغه د احمد خان نورزي ورور عبدالله خان نورزی ونیو او په بند کې یې وغورځاوه او تهدید یې کړ، چې که چېرې د هغه ورور ورته ورنه شي، سمدلاسه به ووژل شي. عبدالله خان له محمود سره په یوه بحراني موقع کې یوځای شوی و او د هغه په وفادارۍ کې هېڅ شک نه و، خو فتح خان د خپل ورور په پرتله د احمد خان په علاقې خبر و او د خپلو اقداماتو د عدالت پروا یې، که په هغو خپل مقصد ته ورسېږي، هېڅ نه کوله. که احمد خان تر دغه وخته په رښتیا زړه نا ړه و، دغې ترټنې اوس ښه ټینګ کړ او کله، چې هغه د محمود له مخکیني پوځ سره په (سري اسپ) کې مخامخ شو، له خپل ټول پوځ سره ورسره یوځای شو.

## د شاه زمان تېښته

د شاه زمان د لښکرو مهمه برخه د شاهزاده ناصر په قوماندانۍ په آب تازي کې، چې له سري اسپ نه ډېر لرې نه و، پرته وه. په همدغه وخت کې هغه ته خبر ورسېد، چې مخکینۍ قواوې یو بل ته نږدې دي او له هغه وروسته ډېر زر سره ونښتلې. ددغه خبر په اورېدو سره هغه ودرېد او سنګرونه یې ونیول. د احمد خان نورزي د



Property of ACKU

تسلیمېدو حقیقت له هغه وروسته ډېر زر څرګند شو، خو په پوځ کې یې هیڅ هیجان پیدا نه کړ. د هغه اغېزه د پاچا په واړه کمپ کې، چې هلته فیصله د وفادار خان تر تاثیر لاندې وه، بل راز وه. هر څه بابېلل شوي وګڼل شول او پاچا په بیړه د کابل پر لور وتښتېد. ممکن د همدغې تېښتې د خبر له لامله و، چې لومړی یې د هغو عسکرو روحیه وګرځوله، چې د شاهزاده ناصر تر قوماندانۍ لاندې وو. دوی ډېر زر دومره سراېله شول، چې شاهزاده ناصر دې ته اړ شو، چې پوځ پرېږدي او د کابل پر لور وتښتي.

ددغه خبر په خورېدو سره په ټول پوځ کې نظم بیخي له منځه لاړ او ښايي وېشل شوي وي.

محمود دوه زره مېړونه د فتح خان په قوماندانۍ سمدلاسه کابل ته واستول او له هغه وروسته په خپله هم پر همغه لور روان شو. په همدې وخت کې شاه زمان خپلې تېښتې ته په ډېرې بیړې دوام ورکړ، تر دې چې په داسې حال کې چې له لوږې او ستومانۍ نه ښه ځپل شوی و، شینوارو ته ورسېد.

## له شاه زمان سره خیانت

په دغه وخت کې وزیر خپل پاچا ته وړاندیز وکړ، چې د دمې لپاره د ملا عاشق په کلا کې، چې د هغه تابع و، تم شي. میراخور ددغه نظر په ضد اعتراض وکړ او وروسته له هغه، چې دده دلایل وانه ورېدل شول، هغوی یې پرېښودل او له ډېرو کړاوونو وروسته پېښور ته په امن ورسېد. پاچا په داسې حال کې، چې وزیر، د هغه دوه ورونه، خان ملا، شاطر باشي او یو مقرب پېش‌خدمت ورسره ملګري ول، د ملا عاشق کلا ته ننوت. ملا عاشق په ډېر ورین تندي د هغوی هرکلی وکړ، خو په همدې مهال یې داسې ترتیبات ونیول، چې د هغوی د تېښتې مخه ونیسي او محمود ته، چې دغه وخت په کابل کې و، د هغوی د نیولو خبر ورکړ.

په همدې وخت کې شاه زمان ته څرګنده شوه، چې دی تر بندیز لاندې نیول شوی او په ټولو وسایلو یې کوښښ وکړ، چې ملا عاشق د بې ننګۍ له داسې کاره واړوي، چې له مېلمه سره به یې خیانت کړی وي. دی هم دده پاچا او هم یې ډېرې فایدې وررسولی وې. کله چې دغه دلایل موثر نه شول، شاه زمان زور ته لاس واچاوه، خو هغه هم ګټه ونه کړه. بیا یې نو ځان خپل قسمت ته وسپاره او وروستي مصیبتونه



Property of ACKU

یې په صبر او ټینګار وزغمل.[1]

د فتح خان یو ورور اسد خان په بیړه د شاه زمان د لاس ته راوړلو لپاره واستول شو او له هغه وروسته یو افسر له یوه جراح سره هم واستول شو، چې د هغه سترګې وباسي. هغوی شاه زمان کابل ته د ورتګ په لار کې ولید او خپل دستوروونه یې په نیزې د هغه د سترګو د څیرولو په اړه ترسره کړل.[2] وروسته دی کابل ته بوتلل شو او هلته په بالاحصار کې بندي شو.

دی د شاه محمود دپاچایی په موده کې بندي پاتې شو، خو د شاه شجاع په پاچا کېدو سره خوشې شو. له هغه وروسته یې نسبتاً په اسانۍ او راحت سره ژوند وکړ. وفادار خان او د هغه وروڼه له نیول کېدو وروسته ډېر ژر اعدام شول.

## د شاه محمود د وزیرانو ځانګړنې

د شاه محمود د جلوس په لومړي سر کې د ملت د ټولو لیکو له خوا په خوښۍ سره استقبال شو. وفادار خان د هېواد لویان د درجو په منظم تنزیلولو او غریب خلک یې په زور د پېسو په ورکولو سره په تنګ کړي وو او دغه ملت په لېوالتیا په دې هیلې کې شو، چې د حکومت په اوښتو سره به دوی ممکن د احمد شاه د وخت برم او شتمنۍ ته ورسېږي یا لږ تر لږه به هغه ارامي خپله کړي، چې دوی د هغه د زوی په دوره کې لرله، خو د شاه محمود کرکټر داسې و، چې د دوی هیلې یې له خاورو اېرو سره برابرې کړې.

شاه محمود لټ، بې پرنسیپه او ډارن وخوت. ده د حکومت په سمون کې دومره لږه برخه واخیسته لکه څومره چې د جنګ په کړاوونو او خطرونو کې درلوده او په داسې حال کې، چې په خپله دده هوسا ینه او امنیت خوندي شول، د خپلو وزیرانو له کړو او د خپلو خلکو له خیر سره بې علاقې پاتې شو.

د دولت چارې ټولې اکرم خان الیزي او فتح خان بارکزي ته وسپارل شوې، لومړني یې د درانیو د اشرافو ټول اوصاف لرل. دی مغرور، د لوړ روح خاوند او سرزوری و، په لګښت کې سپمونکی و، خو کنجوس نه و. له خپل ګوند سره په خپل دریځ کې کلک او په هغو ټکو ټینګ ولاړ و، چې دده په وطنوالو کې معمول وو. فتح

---

[1] شاه زمان د خپل بند په وخت کې کوه نور، چې د نړۍ یو ډېر قیمتي الماس دی، له ځینو نورو جواهرو سره د خونې په دېوال کې پټ کړ، چې د شاه شجاع د جلوس نه وروسته وموندل شول.

[2] د واک ګټلو په لاره کې دغه د وحشت عمل د شاهزاده همایون له ړندېدو سره یو دی، خو په دې توپیر چې د هغه د سترګو ګاټې اېستل شوي وو او د شاه زمان د سترګو ګاټې پرځای وو، خو څېرل شوي وو. ژباړن.



Property of ACKU

خان له دغه وخت نه وروسته د درانیو په تاریخ کې له ډېرو وتلیو او مشهورو کسانو څخه ګڼل کېږي، چې اوس د وزارت په مقام ناست دی او د خپل بې علاقې واکمن په نامه ستر قدرت په لاس کې لري. د شاه محمود د ټوپاني او لنډې بریالۍ دورې پرته دده د ژوند لومړۍ برخه په دسیسو او سرتېرو کارونو کې تېره شوې. کله یې یو یاغي پوځ په داړه ماری حمایه کاوه او کله یې له پاچا سره په حسادت او نازک ملګرتوب ژوند تېراوه. دده خوی هغسې دی، چې توقع کېږي، دغسې شرایطو هغه ته داسې شکل ورکړی دی.

څنګه چې بدمرغیو دی د تابع حال ته راکوز کړی نه دی، روحیه یې ثابته پاتې شوې او فعالیت یې لږ شوی نه دی. ټول په دې اعتراف کوي، چې دی زړور او د لوی استعداد خاوند دی، دده خپل پلویان له ده سره ډېره مینه لري. دی خپلو پیروانو ته د حاتم طایي په څېر سخي دی او هېڅ راز دسپلین په هغوی نه تحمیلوي. څنګه چې دی په هېڅ ډول په کوم پرنسیپ مقید نه دی او له ناځاپي اوښتونو سره روږدی دی، له هرې هغې موقع نه چې قسمت یې په مخ کې ورغورځوي، ګټه اخلي چې خپل پلویان شتمن کړي او د هغوی او خپل جذبات ارام کړي. بې له دې چې انصاف یا عتدال یې په نظر کې نیولی وي. دی که څه هم ډېر سخت شرابي دی، د خپل ګوند ګټې تل په نظر کې لري او که چېرې یې له نظره وغورځوي، د هغه غفلت د هغه د خپلو تصمیمو په ګړندیتوب او د هغه په تعجیل کې د هغه په قوت او پرېکړې جبران کېږي. ویل کېږي، چې په ونه جګ او ښکلی ځوان، خو یو څه ډنګر دی، خوېونه یې نرم او متواضع دي او دده له کړو سره شدید تضاد لري، چې هغه په برابره توګه د شرم، وېرې او د زړه سوي له اغېزې نه پوره خالي دی.

د شاه محمود په دربار کې ډېر نور مشران هم وو، چې هغوی لږ و ډېر هغسې واک لاره، چې یا د دوی له نسب یا لیاقت یا زیاتره له شاهي توجه او له غالب ګوند سره د دوی د علاقې له لامله پیدا شوی و. له دغو نه هر یوه دغې دورې له بې پروایۍ نه په ناوړه استفادې سره کولای شول، بې له کوم قید نه له هغو پرته، چې د هغه د رقیب جذباتو پرې تحمیلول او ټماري وکړي او شخصي دښمنۍ وپالي. له ازادۍ نه ناوړه استفاده په زیاته اندازه په عسکرو کې مروجه وه، چې دربار په هغو اتکا لرله او داسې ښکاري، چې د هغو پرله پسې ناارامیو نه، چې د شاه محمود تر خلع کېدو پورې وپا یېدلې، دده د سلطنت دوره تر یوه منظم حکومت نه زیات د یوه نظامي ماجرا غوښتونکی موقتي برې ته ډېر ورته وي.

Property of ACKU

په دغه وخت کې د شاه محمود حکومت په مرکز کې ښه ځای پر ځای شوی و، خو ولایتونه لا د هغه تر حاکمیت لاندې نه وو راغلي.

هرات د هغه ورو فیروزالدین ته پرېښودل شوی و، چې هغه محمود د پاچا په توګه منلی و، خو په هرات باندې یې دغسې حکم چلاوه لکه خپلواک وي. شمال ختیځ قومونه لا هم د شاه زمان په خوا ولاړ وو، نور ولایتونه بې له دې چې د هېڅ یوه خوا په پلوی یې خپل ملاتړ اعلان کړی وي، ښایي د تخت په سر د لانجې د وروستۍ پرېکړې په انتظار کې وو.

د شاه محمود مهم رقیب، چې پاتې شوی و، شاهزاده شجاع الملک د شاه زمان سکه ورور و. دغه شاهزاده، چې په دغه وخت کې شل کلن و، د ساتونکیو له یوې ډلې سره په پېښور کې پرېښودل شوی و. د شاه زمان کورنۍ او د دولت نېږدې ټول جواهر او نورې شتمنۍ ده ته سپارل شوې وې. له هغې ناڅاپي ویرې وروسته، چې ده د ورور له ماتې پیدا شوې وه، ده وېتېیله، چې ځان پاچا اعلان کړي او له غاصب (شاه محمود) سره د یوې منظمې نښتې لپاره تیاری ونیسي، نو ده له دې امله د پېښور د شاوخوا قومونو په منځ کې ډېرې روپۍ ووېشلې او ډېر زر یې ولیدل، چې د برو درانیو ډېر کسان د هغه تر بیرغ لاندې ټول شوي دي.

داسې ښکاري، چې د دغه اقدام په نتیجه کې د شاه محمود په دربار کې نسبتاً لوی خطر حس شوی وي، دده داعي لا دوخته د حکومت د ټولنیزې کمزورتیا له لامله له محبوبیته لوېدلی و، چې د هېواد ټول خلک یې د درباریانو او عسکرو خپل سرۍ ته پرېښي وو. یوه دسیسه چې د مختارالدوله له خوا د شجاع الملک په پلوۍ جوړه شوې وه، کشف شوه خو دغه دروند سړی ونیول شو او دسیسه شنډه شوه.

د (۱۸۰۱) کال د دسمبر په لسمه شجاع الملک له پېښوره په کابل باندې د حملې لپاره روان شو. ددغو دواړو ښارونو نېږدې نیمایي واټن کې دی د محمود له پوځ سره، چې هغه له دېرو زرو مېړو نه جوړ و او د اشپان په تنګ میدان کې، چې غونډ یو احاطه کړی و او د سره رود سیند یې په مخ کې بهېده، مخامخ شو. له شجاع الملک سره په دغه وخت کې لې تر لږه لس زره میړونه موجود وو، خو دوی ټول بر درانیان وو او که څه هم دوی د خپلو خپلونو له جنګونو سره روږدي وو، له منظم جنګ او د هغه له دسپلین سره نااشنا وو. د جنګ په پیل کې د شجاع الملک پوځ بریالی و، خو دده بر دراني پوځیان له ګډوډۍ نه د خپلې ګټې په امید وو. همدا چې په دې فکر شول، چې بری قطعي شوی له خپلو لیکو څخه ووتل او د پاچایي خزانې په لوټلو یې پیل وکړ، چې شاه شجاع د بې احتیاطۍ له لامله له ځان سره د جنګ میدان ته راوړې وه. فتح خان له دغې موقع نه ګټه واخیسته او د خپلو بارکزیو په

سر کې يې برید وکړ او د شجاع په پوځ کې يې ګډوډي اخر ته ورسوله. په دغه وخت کې د جنګ نتيجه قطعي شوه او شجاع له يو څه ربړونو سره د خيبر غرونو ته وتښتېد، چې هلته د تخت ګټلو او خپلې دعوې لپاره د نويو شېبو انتظار وباسي.

## د غلزيو پاڅون

د شجاع د پوځ په ړنګېدو د هېواد آرامي خوندي نه شوه او له هغه وروسته يو داسې پاڅون وشو، چې نږدې وه نه يوازې د محمود واکمني، بلکې د درانيو د حکومت لپاره مهلک ثابت شي. غلزي د احمد شاه له پاچايي نه وروسته پوره ارام وو او په ظاهر کې له درانيو سره پوره پخلا شوي وو. د دوی د پاچايانو له زوزات سره ډېر ښه چلند کېده او عبدالرحيم خان د دوی د پاچايي کورنۍ د سر سړي ته د شاه زمان له خوا مستمري معاش ورکول کېده. سربېره پر دې هغه د پراخو ميراثو ځمکو څښتن و. له نورو غلزيانو او ښايي له نورو قومونو سره په ګډه يو څه بې عدالتي کېده، خو درانيو هېڅ داسې کار نه و کړی، چې له هغو نه د دوی په ضد د دښمنۍ علامې ځرګندې شي، خو غلزيو له دوی سره پخوانۍ دښمني له ياده نه وه اېستلې او د درانيو د واکمنۍ کمزوري دوی ته ښه موقع په لاس ورکړه، چې خپله خپلواکي بېرته ترلاسه کړي.

دوی د خپل پاڅون نقشه لومړۍ په کابل کې جوړه کړه، چې هلته د دوی ډېر مشران موجود وو. دوی پاچايي تاج عبدالرحيم خان ته ور په سر کړ او دی که څه هم په همدغو وختونو کې د حکومت له خوا پر ظلم شوی و، ددغه پاڅون له خطره په وېره کې و او د هغوی تجويز ته يې زړه نازړه غاړه کېښوده. دغه مشران وروسته د خپلو قومونو د پاڅولو لپاره له کابل نه لاړل او ډېرې جرګې يې سره وکړې، چې په هغو کې يې د عمليا تو پلان جوړ کړ.

يو پوځ په دې وګومارل شو، چې د کندهار د درانيو مخه ونيسي او د غلزيو نور پوځونه کابل ته ځير شول. دغه وروستی پوځ په لومړي سر کې د غزني په مقابل کې وخوځېد. په لار کې يې ډېر واړه حصارونه ونيول او د غزني حاکم ته يې د جنګ په ميدان کې ماتې ورکړه، خو په خپله ښار مقاومت وکړ او غلزي، وروسته له هغه چې د ښار د شاوخوا فصلونه او باغونه يې له منځه وړل، د شلګر او زرمل له لارې په لوګر ننوتل، په لار کې ډېر نور غلزيان له دوی سره په مارش کې ورګډ شول.

د درانيو حکومت ددغو اقداماتو په ضد دومره لږ ځير و، چې يوازې هغه وخت چې دوی غزني ته ورسېدل، پاچا ته د دوی د پاڅون لومړی خبر ورسېد. ممکنه نه ده د هغې سختۍ وارخطايي بيان وشي، چې دغه نابېره پېښې په کابل کې پيدا کړ. حکومت نوی و او د هېواد زياتره برخې ناکراري وې، هغه يو څه پوځ چې پاچا لاره،

Property of ACKU

پېښور ته استول شوی و او له غلام شاه او د درانیو مشرانو له نوکرانو پرته، چې له هغوی سره په دربار کې وو، له ده سره نور هیڅ عسکر موجود نه وو، خو د شمېر دغه لږوالی تر څه حده په هغه اتفاق او چمتوالي سره جبیره شو، چې له دغسې ګډې خطرې څخه پیدا شوی و. درانیو خانانو، د هغوی خپلوانو او آن د هغوی نوکرو وسله پورته کړه او بې له معاش نه د خدمت لپاره حاضر شول. هغوی چې بې وسلې وو د پاچا په وسلو سمبال شول. په دې ډول یوه داسې ډله پوځیان تنظیم شول، چې شمېر یې درې یا څلور زرو ته رسېده.

په دغه وخت کې مختارالدوله له بند نه خوشې شو او د پاچایي پوځ قوماندانې ورته وسپارل شوه. د نومبر په دولسمه دوی له کابل نه وخوځېدل او د غزنې پر لاره روان شول، خو ژر خبر شول چې یاغیان له دغه غاښونو اوښتي دي. دوی هم خپله لار واړوله او سجاوند ته په رسېدو سره د غلزیو له پوځ سره مخامخ شول. د دوی دغه پوځ لږ تر لږه له شلو زرو مېړونه تنظیم شوی و، خو دوی نږدې ټول پلي وو، ټول خراب مسلح وو او ځینو یې له کوتکو پرته نور هیڅ وسلې نه لرلې. تر ډېر کم دسپلین لاندې وو او له هر ډول نظم نه عاري وو. درانیان په درېو لیکو باندې ووېشل شول او په اوښانو باندې بار ګولۍ لرونکې ټوپکونه یې په مخکې ولاړ وو. دوی په دغه ترتیب سره له غلزیو سره د مقابلې لپاره ودرېدل، چې هغوی بې له دې چې د دوی د هغو ډزو پروا ولري، چې په دوی حواله کېدلې، په ډېرې ګډوډۍ سره پرې ودانګل. څه وخت کې، چې له ټوپک لرونکیو اوښانو واوښتل، د درانیو په لیکو یې ډېره سخته حمله وکړه. هغه لیکې، چې د دوی په مخ کې ولاړې وې، دوی ته لاره ورکړه او داسې ښکارېده، چې بری د غلزیو په برخه وي. تر څو د درانیو ځای پر ځای برخو د غلزیو په دواړو دانګل او د هغوی د پرمختګ مخه یې ونیوله او دې ته یې اړ کړل، چې د ځان ساتنې په فکر شي. غلزي که څه هم په دغه برید ټوټه شول، خواره نه شول، بلکې ټول ژرین کلا ته په شا شول، چې هغه د جنګ له میدان نه نږدې په شپږ میلۍ کې د غونډیو د پاسه پرته وه. دا د دوی خپل حصار و. درانیان د لارې تر یوې برخې په دوی پسې لاړل، خو څنګه چې په هغوی یې څه اثر کولای نه شو، له تعقیب نه یې ډډه وکړه.

غلزیو ته په شپه کې ملاتړ ورسېد او بل سباوون دوی له کلا نه ووتل او د کابل په لور یې مارش وکړ او درانیان یې په لږ واټن کې خپل کېنې اړخ ته په شا پرېښودل. دوی شاهي کلي ته، چې له کابل نه یو څو میله لرې پروت دی، د ماښام په لومړي تیاره کې ورسېدل. په داسې حال کې، چې درانیان بې خبره شاته پاتې وو، هغه ټوله ورځ پر ځای پاتې شول. بل سبا دوی د غلزیو له مارشه خبر شول او په ډېرې



Property of ACKU

بیرې او ویرې د امین الملک کلي تـه ورسېدل، چې د ښار او دښمنو د پـوځ تـرمنځ پروت و.

غلزیانو . چې تراوسه پورې یو څه لرل، په شکاونې او زوروهنې یې پیل وکړ. په شپه کې یې شاوخوا کلي د عبدالرحیم خان له کوښښونو سره سره، چې منع کول یې، لوټ کړل او په سبا یې په درانیو باندې د برید لپاره بې له اوامرو او په ظاهر کې یې له ګډ فعالیت نه په مارش پیل وکړ. دوی پوره مات شول او ډېره مرګ ژوبله یې ولیده. ویل کېږي، چې په جنګ او تېښته کې له دوی نه درې زره میړونه ووژل شول او نور یې په خپلو سیمو کې خواره شول. درانیان وروسته کابل ته ستانه شول او هلته یې د دښمن له سرونو نه، چې د جنګ په میدان کې وژل شوي وو، څلی جوړ کړ.

## د غلزیو دویم پاڅون

په دغه وخت کې د زمي پیل د نورو نښتو مخه ونیوله، خو د بل ۱۸۰۲کال په پسرلي کې غلزیان د ښخوا په څېر بیا پاڅېدل، خو دا ځل تر ښخوا منظم وو. دا ځل د غلزیو نږدې ټول خېلونه په جنګ کې شامل شول. ویل کېږي، چې د دوی ټول شمېر پنځوس زرو مېړو ته رسېده. داسې ښکاره شوې وه، چې د عبدالرحیم په مشرۍ به یوه ډله میړونه په کابل باندې د جنوب له خوا او یوه بله همدومره ډله میړونه به د فتح خان بابکرزي په مشرۍ د ختیځ له خوا برید وکړي. په داسې حال کې، چې د لسو زرو مېړو یو پوځ به درانیان په خپلو منځو کې بوخت وساتي، ددغه هر پوځ په مقابل کې یو درانی پوځ ودرېد او درې نښتې وشوې. ټولې نښتې د درانیو په پوره برې پای ته ورسېدې.

په ټولیز ډول ویل کېږي، چې (په خپله دغه رپورټ کې سم وي که ناسم ښېي، چې هېواد په څه حال کې و) دغه درې جنګونه، د شاه شجاع په قوماندانۍ د خیبریانو ماتې او په بلخ کې د اوزبکانو ماتې د (۱۸۰۲) په مارچ کې په یوه ورځ پېښ شول.

له دغې نښتې وروسته د پاچا د پوځ یوه برخه د غلزیو د ملک د لوټلو لپاره واستول شوه او د خپلو دغو عملیاتو په دوره کې یې په ملاشادي کې د (۱۸۰۲) د مۍ په (۱۱مه) د غلزیو یوولس زره کسیز پوځ ته ماتې ورکړه. ددغه قوم له خوا دا وروستۍ مقاومت و.

په دغه نښتې سره د حکومت بې رحمۍ پای ته ورسېدې او وروسته له هغه، چې کراري شوه، غلزیو سره کټ مټ هغسې چلند کېده. لکه څنګه چې د دوی له یاغي کېدو دمخه ورسره کېده.

دمخه وویل شول، چې شاهزاده شجاع په همغه ورځ مغلوب شو، چې غلزیان په

درېو جنګونو کې مات شوي وو او دا چې شاهزاده شجاع له دولسو زرو خيبريانو سره په پېښور باندې وردمخه شو او د دغه ښار منظم پوځ ورسره مقابله وکړه، يوه نښته وشوه، چې په هغې کې خيبريان له درنو تلفاتو سره مات شول او څنګه چې جنګ په اوړي کې وشو، ډېر شمېر مېړونه مخکې له دې، چې خپلو غرونو ته پناه يوسي، مړه شول. شجاع په ډېر کړاو خپل ځان پخواني پټونځي ته لاړ.

## د شاه محمود د حکومت ضعف

اوس نو په ټول هېواد کې پوره کړاري ټينګه شوه، خو حکومت د کمزورتيا په خواشينۍ ورحال کې دوب شو. يوازې يو څو ولايتونه فتح شوي وو. د بلوڅو خانانو او د پښتنو ډېرو قومونو له دې څخه ډډه کړې وه، چې داسې يو ګډوډ حکومت ته غاړه کېږدي او څنګه چې خزانه تشه وه، پاچا د هغو وسايلو له لرلو نه عاجز و، چې د پاچايي واک د اعادې لپاره په کلکو اقداماتو لاس پورې کړي.

فارسيانو د پاچايۍ له ګډود حال نه ګټه اخيستې وه او په يوه يرغل سره يې د ټول فارس خراسان فتح نږدې بشپړه کړې وه. هغه وروستی ځای، چې دوی تر خپلې ولکې لاندې ونيو مشهد و او په دغه ښار کې نادر مېرزا او د نادر شاه د کورنۍ اته دېرش نور غړي ونيول شول. دوی تهران ته يووړل شول او هلته له يوه ماشوم پرته نور ټول ووژل شول.

د فتح علي شاه يو زوی په مشهد کې د فارسي خراسان د حاکم په توګه ځای ونيو او د فارسيانو له خوا د دغه ملک فتح له همدغه وخت نه پيل کېږي. که څه هم تورشيش تر (۱۸۱۰) پورې لاندې شوی نه و او ګومان کوم، چې نادري کلات تراوسه هم آزاد دی. مشهد د (۱۸۰۲) په اوړي کې لاندې شو.

د غلزيو د جنګ په پای کې او د شجاع الملک تر ماتې وروسته حکومت له سملاسي خطرونو څخه ځان خوندي وليد او فرصت يې وموند، چې سرکښ ولايتونه يو ځل بيا لاندې کړي، خو لکه څنګه چې په داسې يوه حکومت کې يې توقع کېږي له باندې څخه خوندي يتوب، په حاکم ګوند کې د مشرانو په تېره د اکرم خان او فتح خان په منځ کې له قوي مخالفت سره ملګری شو. خو وروستی په پای کې د هېواد د سهېل ختيځې سيمې د کړارولو لپاره د يوه پوځ په سر کې واستول شو. دی لومړی پېښور ته لاړ، هلته يې له مشرانو نه په زور پيسې ترلاسه کړې او پنځوس زره روپۍ يې د کشمير له حاکم نه واخيستې. بيا يې د جنوب پر لور د کوهاټ، بنو او دامان له لارې مارش وکړ او چې دې دمخه ته، ماليات يې غونډول. د وزيرو د قوم په ايلولو کې يې ډېره موده تېره کړه او د هغوی د ملک له ټولولو وروسته يې کندهار ته په مارش پيل وکړ، چې د ۱۸۰۳ کال په اوړي کې هلته ورسېد. له هر ملک



Property of ACKU

نه چې تېرېده، د هغه چارې یې تنظیمولې.

د شجاع الملک په غیاب کې په دغې سیمې کې څو مهمې پېښې شوې وې. شجاع الملک له خپلې ماتې وروسته په پېښور کې د فتح خان تر رسېدو پورې د اپریدو د ملک په چوره کې پاتې شوی و. دده پخواني پلویان تر دغه وخته هم ورسره پاتې وو او دی یې لا هم د پاچا په توګه ګاڼه. خو داسې ښکارېده، چې دی د پاچا کېدلو لپاره له ټولو کوښښونو تېر شوی و او نږدې خپل ټول وخت یې په لوستلو او له خپلو نظامي پلویانو او له ځینو هغو علماوو سره، چې له ده سره ملګري وو، په بحثونو تېراوه. پېښور ته د فتح خان راتګ له دغومره لوی پوځ سره په چوره کې دده استوګنه خوندي ونه ساتله او دی دې ته اړ شو، چې نور هم سهېل ته لاړ شي او د کاکړو په غرونو کې پناه ومومي. په دغو غرونو کې د خپلو ګرځېدو ته دوام ورکړ، د ځان او خپلو پلویانو ژوند یې کله د جواهرو په پلورلو او کله د هغو خلکو په مېلمستیاوو سره تامیناوه، چې دی د هغو ملک ته تنوتی و. دی د (۱۸۰۲) کال په ساړه ژمي کې په بلوچستان کې د شال یا د کوټې ښار ته نږدې په همدغه حال کې و. خپل عرض بیګي او ابوالحسین خان یې د خپلو ځینو جواهرو د پلورلو لپاره شال ته واستول، خو په دغسې ځای کې د پیرودونکیو پیدا کول کوم اسان کار نه و. دوی په ستنېدو سره دغه شاهزاده ولید، چې له ډېرې هڅونې نه یې خپل وږي پلویان پرېښي وو او د دوی د لیدو لپاره د هغوی مخې ته ورغی، چې د معاملې له بري نه ځان خبر کړي. څه وخت، چې دی د هغو په ناکامۍ خبر شو، سمدلاسه یې خپل ستر مشاوران د مشورې لپاره وبلل، چې یوه چاره وسنجوي. د بدمرغۍ په دغه سخت حال کې ضبط بیګي ووېل، چې په همغه ورځ شال ته یو لوی کاروان راغلی و او د شجاع له زړه نازړه توب سره سره د هغه د لوټلو لپاره سمدلاسه پرېکړه شوې وه، نو د شاهزاده عسکر له دغه ښارګوټي نه چاپېره شول او سوداګرو، چې د وتلو لار بنده ولیده، خپل مالونه یې هغو ته تسلیم کړل او د دغه شاهزاده په لاسلیک یې سندونه واخیستل، چې په هغو کې په راتلونکي کې د هغو پېسو د بېرته ورکولو ژمنه شوې وه. (شجاع وروسته له خپل جلوس نه ډېرو ته خپلې پیسې ورکړې).

ددغه کاروان د مالونو بیه له درې لکو روپیو نه ډېره وه او نه یوازې ددغه شاهزاده موجودې اړتیاوې یې لرې کړې، بلکې په دې یې برلاسی کړ چې په کندهار باندې د برید لپاره یو پوځ منظم کړي، چې په هغه کې مدد خان د همدغه نامه د یوه پخواني مشر زوی له هغه سره مرسته وکړه، خو دغه کوښښ ددې لپاره ناکام شو، چې عملیات په ګډه ونه شول او شجاع دې ته اړ شو، چې غرونو ته پناه یوسي او هلته دده پوځ زر خور شو.

Property of ACKU

## د خلکو نارضایت

په همدې وخت کې د محمود حکومت په بیړه مخ په ځوړ روان و. د پاچا د کمزورۍ او لټۍ له امله خلک دده له حکومت نه بېزار شوي وو، دده له امرونو نه بې له دې، چې سرغړوونکي څه جزا ووینې، سرغړول کېده او دده مامورانو دومره بې اهمیته شوي وو، چې نه یې شو کولای په مرکز کې عادي کراري خوندي وساتي.

غلام شاه (د پاچا قزلباش ساتونکي)، چې د خپلو نظامي عادتونو تشدد یې له خپلو ذاتي بداخلاقیو سره یوځای کړي و، د ډېرو افراطي افعالو مجرم وو او دوی د کابل په اوسېدونکیو کې سخته خوابدي پیدا کړې وه.

د کابل اوسېدونکي د دوی په ظلم او لوټمارۍ دومره ډېر نه و پارېدلي لکه چې خپل شرافت ته د دوی په سپکاوي سره پارېدلي وو. دغه ګډوډۍ شدیدې شوې او نارضایت، چې په هغو سره پیدا شو، د فتح خان په غیاب او د اکرم خان په مړینې سره نور هم خطرناک شو، چې پاچا یې له خپلو دوو تر ټولو زړورو او قوي وزیرانو څخه بې برخې کړ.

د غلام شاه له کړو نه څو څو ځله شکایتونه وشول، خو شاه محمود هغو ته غوږ ونه نیو، چې د هغو له کړو وړو سره دده علاقې دده ذاتي لټۍ نوره هم پسې زیاته کړه. په داسې حال کې، چې خلک یې بېزاره کړي وو، دی په همدې ډول د خپلو عسکرو له خپه کولو نه چې هغوی یې د خپل واک قوي ملاتړ بلل، وېرېده. د هغوی پلوي دده د رعیت نارضایتي ډېره کړه او داسې لوړ رتبه کسان لږ نه وو، چې غوښتل یې دغې پارېدنې ته لمن ووهي او د هغو له عواقبو نه ګټه واخلي. ددغو کسانو ډېر نومیالي په لومړي سر کې احمد خان نورزي او ګوډ نواب خان وو. دوی د احمد شاه د دربار لویان وو، چې د پخوانیو وختونو د درانیو ښېګڼې او تعصبات یې تمثیلول، خو ددغو ټولو شور او زوربونو رښتیني خوځوونکی مختارالدوله و او دی دغسې یو شخص و، چې په داسې موقع کې د مشرتابه لپاره په بې ساري توګه مناسب و.

## د مختارالدوله شخصیت

ده د اعتدال په جامه کې آن جهاني عزتونو ته په سپک کتلو سره خپل هوسونه او د واک خپلولو لوړې هیلې پټې کړې وې. دی له ډېر وخت راهیسې د نه وزیر کېدلو له امله، چې دغه مقام یې خپل میراثي حق باله، غوسه و او حکومت چې دده له لوړو دعواګانو څخه خبر و، ده ته یې د هغه عزت له ورکولو او په ده له باور کولو څخه ډډه کړې وه، چې دی د خپلو سترو خدمتونو له امله د هغو مستحق و. دی ددغسې صفتونو خاوند و، چې پخپلو وطنوالو کې یې په یقین سره محبوب کاوه.



Property of ACKU

په زړورتیا کې یې نوم لاره او دده د ملت ټول کمالونه په ده کې موجود وو. د پیسو یې هیڅ پروا نه کوله، هغه یې د خپلې موخې لپاره یوائې یوه وسیله ګڼله، له دبدبې او شان او شوکت نه یې بد راتلل.

ده آن د ملنګانو جامې اغوستلې او د هغوی خویونه یې غوره کړي وو او داسې ښکاري، چې په یوه شخص کې د عسکر او سیاستمدار په توګه دغسې معلومې درجې او نوم او دغو اوصافو به دی خپلو وطنوالو ته ډېر محبوب ګرځولی وي. څه وخت، چې دی وزیر و آن ډېر ښکته شخص هم ده ته ورتلای شو، توپیر نه کاوه، چې دی به یا په خپل کور کې یا د باندې و. لکه چې زیاتره وخت به بې له نوکرو کله کله پلی بیرون ووت. دی تل له نورو سره د مرستې لپاره تیار و او که ده خپل مراجعین په خپل زعم او ښه خولتوب سره نه شو قانع کولای، بیا نو ده یوائینی رجوع په وعدو کې وه. بې له دې چې د ترسره کولو پروا یې ولري، ده ډېرې وعدې ورکولې. دی د خپلو دښمنانو په مخ کې د ډېر ښه طبیعت او اعتدال خاوند و او ده خپل دښمنان د هغوی د تېرو ګناهونو له لامله نه یوائې بخښل، بلکې پرېښودل یې، چې مزاحم اوسي. بې له دې، چې هغه وخت، چې ده په قدرت کې وي، ورته جزا ورکړي.

دغو صفتونو ډېر خلک ده پر لور دغسې جذب کړي وو، چې هغوی په اسانۍ سره د هغه د واک خپلولو هڅه، د هغه بې پرنسیپي، د دسیسې لپاره د هغه لېوالتیا او د حیلې او دوه مخۍ لپاره د هغه میلان درک نه کړ. ده په ځانګړې توګه د بغاوت لیاقت درلود، چې په هغه کې یې له مذهب نه هم د یوه رول د ترسره کولو لپاره کار واخیستل شي. دی د خپل پلار وزیر شاه ولي خان په مړینې سره دې ته اړ شوی و، چې بلوچستان ته پناه یوسي او هلته د خپلې جلاوطنۍ دوره په تحصیل کې تېره کړي. تر دې چې ده تر ... ه وخته د پېښور په ملکونو کې د یوه نوي او وتلي ملا په توګه نوم ګټلی و. دی د ډېرو درانیو په پرتله د عبادت په اشکالو کې ډېر بې پروا و، خو له سني مذهب سره یې تل ډېره مینه ښکاره کوله او ممکن لرله یې هم. دی علماو او سپېڅلو کسانو ته په درناوي کې ډېر ټینګ و او سید احمد، چې په خلکو کې په میرواعظ مشهور او په دغو صفتونو متصف و، دده ډېر نږدې ملګری و.

میرواعظ د لوړ استعداد څښتن و او په څو ځله حج کولو او د تقوی او صادقانه ژوند په لرلو یې په کابل کې ډېر لوړ نوم او نفوذ ګټلی و. دده قدرت په هغې آزادۍ سره ټینګ شوی و، چې ده د کابل د دربار د عیبونو په اړه، د اخلاقو د ټولنیز فساد په اړه او د هغه هڅونې په ضد، چې امامیانو ته په ښکاره توګه ورکول کېده، وعظونه کول.

## د مذهبي ډلو نښه

میرواعظ لا پخوا د پاچا دساتونکیو د افراطي اعمالو په ضد شاه محمود ته د رسمي شکایت په کولو سره څرگند شوی و او کېدای شي د ټولیز پاڅون په لومړیو پړاوونو کې د ناراضیانو څرگند مشر وشمېرل شي. ناراضایتونه ښه ډېر شوي وو، چې یوه پېښه ددې لامل شوه، چې هغه په څرگند پاڅون واړوي. دغه پېښه د یوه امامي له خوا د کابل د یوه ځوان وژل و، چې له هغو سره یې جنگ کړی و. خلکو داسې وگڼله، چې دغه پېښه له امامیانو نه د محمود دپلوی له امله پیدا شوې او دوی د یوه شهید په توگه د هغه په جنازې پسې روان وو، چې په دوی د امامیانو د یوې ډلې له خوا ډزې وشوې او دوی مجبور شول له جنازې سره د میرواعظ کور ته لاړ شي. دغه نوي تېري د خلکو پارونه لوړ حد ته ورسوله او دوی د غلام شاه له غیبت نه په استفادې سره، چې هغوی له پاچا سره وو، د هغوی په یوې محلې برید وکړ او هغه یې تر یوه لنډ مقاومت وروسته لوټ کړه.

دغه جنگ په بله ورځ په لا شدت پیل شو. د کابل له ښېږ کروهی نه خلک د سنیانو د ملاتړ لپاره راټول شول او د کوهستان ډېر خلک، چې په پلټه یې ټوپکو وسلوال وو، د هغه ځای د یوه پیر په مشرۍ پاڅېدل.

مختارالدوله او نور دراني مشران په دغه وخت کې ښکاره ولیدل شول، چې خلک یې دې ته بلل، چې د خپل مذهب لپاره وجنگېږي، په داسې حال کې، چې میرواعظ شهیدانو ته د جنت د نعمتونو وعده ورکوله او د برید په مشرانو باندې یې د زمزم د سپېڅلي چیني هغه اوبه شیندلې، چې ده له ځان سره له مکې نه راوړې وې. دواړه خواوې د اوړي د ورځو د گرمۍ د غیر عادي شدت نه پلوپاس کې ستړې، ستومانه شوې او د ماښام په پیل سره د امامیانو په تسلمېدو سره روغه وشوه. دغه اله گوله د جون په څلورمه او پېنځمه (د جوزا ۱۴_۱۵) نېټه پېښه شوه. دواړو خواوو په دغه وخت کې د عملیاتو د موقتي اوربند هیله کوله. پاچا غوښتل فتح خان ته انتظار وباسي، چې له یوه پوځ سره له کندهار نه د کابل په خوا روان و او مختارالدوله شجاع الملک ته په انتظار و، چې د پاچا کولو لپاره یې ورته بلنه ورکړې وه، خو محمود له ډاره مخکې له دې، چې ددغه بحران د حل لپاره یې تیاری نیولی وي، چارې په بیړه پر مخ بوتللې. هغه داسې سوچ وکړ، چې دده سلامتي یوازې د مختارالدوله په نیولو کې ده او هغه مخکې له دې، چې ونیول شي، دده له طرحې نه خبر شو او د جولای په اتمه وتښتېده، خو له تېښتې دمخه یې میرواعظ ته هدایت ورکړ، چې په ښار کې الوگولو ته لمن ووهي. میرواعظ دغه کار ترسره کړ او د خلکو غضب په ډېر مهارت سره د امامیانو پر ځای پاچا ته واړول شو، چې هغوی یې تر



Property of ACKU

وزرو لاندې نیولي وو. دغه اقدامات دومره اغېزمن ثابت شول، چې هغه وخت چې مختارالدوله، له شجاع الملک سره د جولای په (۱۲مه) راوګرځېد، شاه محمود یې د عامه خلکو له خوا په بالاحصار کې کلابند ولید، خو یو هم کابل ته دننه شول. دواړه د ښار دباندې دېره شول، چې له فتح خان سره د مقابلې لپاره پوځ برابر کړي. هغه له اتو زرو یا لسو زرو مېړو سره په دغه وخت کې ښار ته نږدې شوی و، ډېر زر د دواړو خواو ترمنځ یوه نښته وشوه. فتح خان په لومړي سر کې بریالی و، ده د دښمن د پوځ هغه برخه راځملولې وه، چې له ده سره یې په تېغه مقابله کوله او دی د ښار په خوا وړاندې روان و، چې په دغه وخت کې د شجاع په لور یې د یو ستر مشر تېښتې اناوول پوره واړاوه. له ده نه خپله ډله ورو ورو بېرته کېدله، تر دې چې یوازې پاتې شو او دې ته اړ شو، چې د ځان د سلامتۍ لپاره په بېړه وتښتي.

## د شاه شجاع پاچا کېدل

بله ورځ شجاع الملک کابل ته په بري ننوت، مختارالدوله یې ورسره یوه اړخ ته پلی روان و او ډېر نور دراني امیران په هغه پسې تلل. ددې لپاره، چې د رښتیني عقیدې د بري انطباع خوندي وساتل شي، جارچیانو ته چې د پاچا په مخکې روان وو، امر وشو چې د هغه راتګ په سني شعار یانې (چاریار)ویلو ابلاغ کړي، نه په ترکي شکل سره، چې د دربار غوښتنه وه. د بالاحصار وروته د پاچا په نږدې کېدو سره بېرته پرېښودل شول او محمود، چې ترلو پلویانو یې پرېښی و، ځان دې ته وسپاره، چې په ارامۍ سره د بالاحصار لور کوټې ته بوتلل شي، چې هلته شاهزادګان بندیانېږي. د هغه سترګې ونه ایستل شوې، خو شاه شجاع له بده مرغه پوره دلایل لري، چې په خپلې دغې خواخوږۍ ښودلو سره، چې ممکن په هېواد کې یې لومړنی مثال وي، خواشینی اوسي.

## د پاچايي اوضاع

دغه اوښتون که څه هم په هغه وخت کې چارې سمې کړې، خو نتیجه یې دا نه شوه، چې د پاچا قدرت یا د دولت اهمیت اعاده کړي. د نوي پاچا ښه صفتونه که څه هم ددې لپاره پوره وو، چې د یوې ځای پر ځای شوې پاچايي حیثیت وساتي، خو هغه ددغسې ذکاوت او انرجۍ خاوند نه و، چې د حکومت د اعادې لپاره، چې تراوسه په ګډوډۍ او ځورتیا کې ډوب شوی و، لازم وګڼل شي.

له هغه څه نه، چې د محمود د سلطنت په اړه ویل شوي دي، ددې تصور کېدای شي، چې لویان قوي او نامنونکي شوي، پوځ له انضباط نه زړه تورن شوی، حکومت تر ډېر حده د خپل رعیت علاقه له لاسه ورکړې او هم لرې ولایتونو او هم ګاونډیو هېوادونو هغه ډار، چې له درانیانو نه یې لاره، د بې اهمیتۍ په احساس سره، چې



Property of ACKU

سپکاوي ته نږدې و، عوض کړي و. د شاه شجاع د دریځ ځینو شرایطو دده وارخطایي لا ډېره کړې وه او ددې مخه یې نیولې وه، چې حکومت خپل قوت اعاده کړي. پاچا دوه کاله په خپلو ملکونو کې فراري و او په دغې مودې کې یې څو ځله د خپل رقیب د شړلو لپاره کوښښونه کړي وو. په نتیجه کې دی د درانیو او ډېرو نورو مشرانو د احسانونو مرهون و. دا ټول دده په خپل طبیعت سره، چې احسان منلو او تلپاتې علاقې ته متمایل وو، مهم گرځېدلي وو. د مختارالدوله او د هغه د گوند له خوا دده بلنه د نویو مدعیانو ډله پیدا کړې وه، چې ده د هغو خدمتونه نه شو هېرولای او اړ و، چې د هغو قدرت ته په درنه سترگه وگوري. ددې نتیجه دا شوه، چې ټول مقامونه او افتخارات ددې لپاره بس نه وو، چې د پاچا پلویانو ته د جایزې په توگه ورکړل شي او دی اړ و، چې د خپلو تلپاتو عوایدو ډېره برخه هغو کسانو ته د بخښنې په ډول ورکړي، چې نور څه نه وو وررسېدلي. په دې ډول د پېښور نږدې ټول عواید خیبریانو ته د دوی د ملاتړ په لامله ځانگړي شول، په داسې حال کې، چې د دولتي عوایدو ډېره برخه په نورو ځایونو کې درانیو لړیانو ته ورکړ شوه. هغه څه، چې له عوایدو نه پاتې کېدل، د وزیر تر گوتو تېرېدل او همدا چې دده منافع د پاچا له منافعو نه جلا کېدلې، د دولتي عوایدو غټه برخه پخپله دده په لگښت لگېدله.

که پاچا په وزیر باندې پوره باور کړی وای، هغه ناارامي چې وروسته حس شوې، ممکن له سره پېښې شوې نه وای. ددغه وزیر گټه به په دې کې وای، چې د پاچا واک یې ټینگ کړی وای. د شاه شجاع د سلطنت په پیل کې د هغه بري څرگنده کړه، چې ده ددغسې کار لپاره لازمي استعداد او نفوذ لاره خو دداسې پلان لپاره کوم کوښښ ونه شو. پاچا دې ته زړه نه کاوه، چې خپل واک د وزیر گوتو ته وسپاري او د هغه پخوانیو پلویانو، چې سخته هڅه لرله، چې د قدرت خپله برخه ترلاسه کړي، په هغو لومړیو شپېو کې یې د وزیر په پرتله د پاچا حسادت وپاراوه او دې ته یې وهڅاوه، چې د هغه د اقداماتو په مقابل کې عمل وکړي. د پاچا او د هغه د وزیر ترمنځ د همغاړي توب نه شتوالی ددې مخه ونیوله، چې د دوی د گډ دښمن په مقابل کې کوم جدي اقدام وشي، نو هر یو یې دې ته اړ کړ، چې د خپل ځان لپاره د پلویانو د موندلو په موخه د دولت شتمني ولگوي.

د حکومت ددغې کمزورتیا په نتیجه کې هر هغه مشر، چې له دربار نه ناراضی و، ددې قدرت لاره چې مقاومت وکړي او که ناکام شي یا د خپل قوم په منځ کې یا د هېواد په هغې برخې کې، چې د پاچا لاس په اسانۍ سره ورته نه رسېږي، ځان خوندي وساتي او که غوښتل یې چې له دربار سره روغه وکړي، دا هم ورته مشکله نه وه، چې د ځان لپاره بخښنه ترلاسه کړي. دا ځکه چې د پاچا د چارو وضع د هغه

Property of ACKU

قدرت لپاره دا لا هم اړینه کړې وه، چې نظر دې ته چې دښمنانو ته جزا ورکړي، له دوستانو سره روغه وکړي. له جزا نه د معافي دغه داد ددغې دورې بغاوتونو ته یوه ځانګړې ځانګړتیا ورکړه، چې هغه په ډېرو وړو لاملونو وشول او ډېر سطحي وګڼل شول. د دربار له خوا یوې ډېرې وړې پاروني هم د سر سړي د بغاوت پر لور متمایل کولی شول. د یوه یاغي له خوا یو ډېر سپک تېری هم ددې لامل کېدای شو، چې بېرته یې دربار ته ولېږي یا یې د یوه نوي ګوند د جوړولو لپاره وهڅوي او دغه ټول نظر دې ته، چې د یوه داخلي جنګ شکل ولري، د ماشومانو ترمنځ د یوې لوبې بڼه غوره کړې وه.

خو د پاچا او د هغه د وزیر ترمېنځ حسادتونه د شاه شجاع له جلوس نه ډېر وروسته څرګند شول او د هغه د سلطنت پیل ارام او نېکمرغه و.

د نوي پاچا لومړنی کار دا و، چې خپل ورور شاه زمان له بند نه ازاد کړي، بیا ډېر زر ملا عاشق چې له شاه زمان سره یې خیانت کړی و، ونیول شو او د خپلې نمک حرامۍ او خیانت له لامله مجازات شو. دا یوازینی اعدام و، چې د حکومت په بدلون عملي شو. د مختارالدوله د حکومت نور ټول اقدامات د روغې جوړې لپاره وو او ددې لپاره وشول، چې د داخلي جنګونو هغه خاطرې له منځه لاړې شي، چې تر ډېرې مودې یې غلبه درلوده. ده په هغه وخت کې په ډېر قوت او بري سره دې ته ځیر شو. چې یاغي ولایتونه تابع کړي او ټوله امپراتوري خپل پخواني حال ته وګرځوي.

## کندهار ته د پوځ استول

لومړی کندهار ته یو پوځ واستول شو، چې تر دغه وخته د شاهزاده کامران او وزیر فتح خان په لاس کې و. دغه ځای بې له ستونزې ونیول شو او هغه څه، چې ډېر مهم وو، دا وو چې تر هغه وروسته ډېر زر فتح خان ترغیب شو، چې نوي پاچا ته ځان تسلیم کړي.

اوس نو ددغه قوي او فعال شخص د جلب لپاره یوه ډېره ښهٔ موقع ترلاسه شوه، خو له هغې نه استفاده ونه شوه او له هغه وروسته دغسې ناوړې پېښې راغلې، چې د شاه شجاع د سلطنت پاتې دوره یې ناارامه کړه، تر دې چې په پای کې دی هم له تخت نه وشړل شو. له درباره د فتح خان هیلې زیاتې نه وې او د هغه مقام له غوښتلو څخه نه اوښتې، چې دده د پلار په لاس کې و، خو دغه مقام له هغه نه وسپمول شو او دا کار یا د پاچا د بې تدبیرۍ یا د وزیر د حسادت له لامله وشو او فتح خان په دربار کې له یوه لنډ تم نه وروسته هغه په تنفر سره پرېښود او په ګرشک کې خپلې کلا ته لاړ.



Property of ACKU

## د شاهزاده قیصر یاغیتوب

د وزیر فتح خان د نارضایت اغېزې په همغو لومړیو شپېو کې په شدت سره حس شوې، ځکه چې د (۱۸۰۴) په جنوري کې کله، چې پاچا د دېرشو زرو مېړو یو پوځ په پېښور کې غونډ کړ او د کشمیر او سند د حاکمانو په وړولو د خپلو ملکونو د پوره ارامولو په تکل کې و، په کندهار کې د یوه بغاوت خبر ورته ورسېد، چې دې اړ شو له خپلې طرحې نه واوړي. ددغې پېښې له ظهور او پرمختګ نه هغه غیر جدي والي او بې ثباتي ښکاره شي، چې د پښتنو د تېرو داخلي جنګونو ځانګړتیاوې څرګندوي. د کندهار حکومت شاهزاده قیصر (د شاه زمان یوه زوی) ته سپارل شوی و او احمد خان نورزی، چې له شاه زمان نه د هغه تېښته په سني مذهب باندې د هغه د کلکې عقیدې له لاملـه له یاده ایستل شوې وه، د هغه نایب ټاکل شوی و. فتح خان دغسې وسایل ومونډل، چې دغه ځوان شاهزاده ترغیب کړي، چې احمد خان بندي کړي او کوښښ وکړي خپل ځان پاچا کړي، نو احمد خان ونیول شو، خو که څه هم له ده سره ډېر سخت چلند وشو او سپکاوی یې وشو او د هغه د ډېر لوی شخصیت د سپکولو لپاره د پیل په زنځیرونو وتړل شو. همدا چې دغه شاهزاده او وزیر فتح خان د کابل په ضد د خوځېدلو لپاره تیار شول، دوی هغه له بند نه ازاد کړ او د ښار د فاع چارې یې ورو سپارلې.

نتایج یې هغه شول، چې انتظار یې کېده. د احمد خان زوی شاه شجاع ته تسلیم شو او په دغې پېښې سره قیصر ماتې وکړه. په داسې حال کې چې ده په پخپله ددې پروا نه کوله، چې څوک دې پاچا وي؟ یواځې ددې لپاره، چې له قیصر نه خپل کسات واخلي. کندهار یې شاهزاده کامران ته وروسته له هغه، چې هغه یې له فراه نه د هغه د نیولو لپاره وغوښت، تسلیم کړ. پاچا د شاهزاده قیصر له ماتې وروسته یا نېږدې وروسته هوډمن شو، چې خپل ختیځ ملکونه ارام کړي، خو بیا ورته خبر ورسېد، چې قیصر او فتح خان کندهار بېرته ترلاسه کړي او غواړي لښکرې غونډې کړي. بیا دی کندهار ته ستون شو او د هغه په رسېدو سره دغه ښار خوشې شو او قیصر له هغه وروسته ځان ډېر ژر د پاچا زړه سواندی ته وسپاره. دی په ډېر درناوي ومنل شو او بېرته د کندهار په حکومت وټاکل شو. فتح خان چې په دې ډول خپله نقشه ناکامه ولیده، هرات ته لاړ او په داسې حال کې، چې ځان یې د شاهزاده فیروز مقرب او اعتمادي ښوده، هغه یې وهڅاوه، چې د کابل د تخت دعوا وکړي. کله چې فیروز له وسلو سره څرګند شو، شاه شجاع قیصر د یوه پوځ په مشرۍ له هغو سره د مقابلې لپاره ولېږه او په همدې وخت کې یې د سولې وړاندیز وکړ او څنګه چې فیروزالدین په اصل کې یو محتاط شخص و، هغه یې موزون وباله او ویې مانه.

Property of ACKU

په داسې حال کې چې فتح خان له هغه نه مرور شو او بیا ګرشک ته ستون شو.

اوس نو، چې ټول لوېدیځ کرار شو، پاچا او د هغه وزیر د سپټمبر په پای کې له کندهار نه روان شول، لومړني په سند مارش وکړ او د دغه ملک مشران یې اړ کړل، چې نوی حکومت ومني او لس لکه روپۍ ورکړي. پاچا بیا د خپل ختیځ سرحد په لور دمخه ولاړ، ټول ولایتونه یې ارام او تابع کړل. پېښور ته د (۱۸۰۵) په اپریل کې ورسېد او له هغه وروسته یې زر د بخارا د پاچا یو استازی په خپل حضور کې ومانه، چې د هغه اتحاد د بیا نوي کېدو لپاره هلته تللی و، چې دمخه له شاه زمان سره لاس لیک شوی. په همدې وخت کې هغه د بدل د واده خبرې پیل کړې، چې که شاه شجاع د بخارا د پاچا له لور سره واده وکړي او دغه پاچا ته د کابل کومه شهزادګۍ ورکړ شي. استازی په ډېر درناوي سره ومنل شو، خو څنګه چې د درانیو عادت دا نه دی، چې خپلې لورګانې بهرنیو ته په واده ورکړي، د ورانديز د هغې برخې له منل کېدو نه په ډېر ادب سره ډډه وشوه، چې د درانیو کومه لور دې د بخارا پاچا ته واده کړی شي، خو له شاه شجاع سره د دغه پاچا د لور د واده وړاندیز ومنل شو.

## د فتح خان نیول

شاهزاده قیصر په دغه ټول دوران کې د کندهار د حکومت په چلولو کې له پاچا سره خپل خدمت ته په پوره وفادارۍ او لېوالتیا سره دوام ورکړ. ده آن د فتح خان د نیولو لپاره یو پلان هم جوړ کړی و او نږدې یې منلی و، چې د فتح خان په وژلو سره له هغه نه د خپل پلار غچ واخلي، خو فتح خان وروسته له هغه، چې په دغه شاهزاده اغېزه وکړه، چې په خپله یې په زندان کې وګوري، په خپلو خوږو او غوړو کلماتو د خپلو پخوانیو خدمتونو په یادولو او په راتلونکي کې د وفادارۍ په ژمنه ورکولو سره، دی دومره جذب کړ، چې دی یې نه یوازې له بند نه آزاد کړ، بلکې خپلې لومړنۍ اړیکې یې ورسره له سره پیل کړې او بیا د تخت د ګټلو په فکر کې شو.

فتح خان د بند څخه تر خلاصېدو وروسته ګرشک ته لاړ او د خپل دغه مطلوب کار لپاره یې د ترتیباتو په نیولو پیل وکړ، خو همدا چې بېرته کندهار ته ستون شو، ورته معلومه شوه چې شاهزاده قیصر د خوجه محمد خان تر اغېزې لاندې تللی دی. خوجه محمد خان له اشرافو نه یو بل لوی کس و، چې شاهزاده قیصر یې د خپل بغاوت له طرحې څخه اړولی و. فتح خان ددغه خبر په اورېدو سره، چې دده د پلان د شنډولو لامل شوی و او دده تر مشورې نه د بل چا مشوره مرجحه بلل شوې وه، په همغې اندازې له هغو نه لرې ودرېد. خپلې ټولې اړیکې یې له قیصر سره وشلول او په دې پسې شو، چې کندهار شاهزاده کامران ته تسلیم کړي او هغه یې ددغه ښار د نیولو لپاره وباله.



Property of ACKU

## د شاهزاده کامران ماتې

شاهزاده کامران، چې په دغه وخت کې په فراه کې و، سمدلاسه یو پوځ غونډ کړ او عیدگاه ته ورسېد، چې له کندهار نه یو څو میله لرې پروت و.

نږدې و، چې شاهزاده قیصر ښار خوشې کړي، خو په دغه وخت کې دغسې یوه صحنه جوړه شوه، چې آن هغو کسانو ته هم، چې د فتح خان له عجیب او غریب کرکټر سره او د چارو له دغسې ناڅاپي اوښتونو سره اشنا دي او په درانیو کې ډېر معمول دي. په ډېرې سختۍ سره د منلو وړ ښکاري. قیصر له خپلې تېښتې نه مخکې د ماښام پر مهال وغوښتل، چې له فتح خان سره له تګ نه مخکې کتنه وکړي او دغه کتنه د یوې منډه یي ددغسې تیراس (چوترې) دپاسه وشوه. چې شاوخوا یې کوڅې وې او له دغسې سورو کسانو نه ډکې وې، چې د مارش لپاره تیار ولاړ ول. دغه کنفرانس د یو بل په ملامتولو پیل شو.

خو قیصر په داسې حال کې، چې خپل اواز ورو، ورو نرماوه، فتح خان ته ورپه یاد کړه، چې دی یې له مرګ نه بچ کړ او ترې وریې غوښتل، چې اوس د هغه په بدل کې دده په تېښته راضي نه شي. فتح خان نو بیا وروسته د قیصر په پلوۍ د خپلو طرحو یادونه وکړه او له هغې بې التفاتۍ نه یې ګیله وکړه، چې د هغه سلا مشورې ته پاملرنه ونه شوه. قیصر له هغه وروسته دی ډاډه کړ، چې دې ته تیار دی، چې د تل لپاره د هغه سلا مشورې عملي کړي او خپلې خبرې یې په دغسې لوړو (قسمونو) سره پیاوړې کړې، چې فتح خان یې ورهېرداوه او په پای کې یې کینه له زړه نه واېستله او قسم یې وخوړ، چې د هغه په ټولو مصیبتونو کې به له هغه سره ملګری وي.

په بله ورځ شاهزاده قیصر او فتح خان دواړه په ګډه د کامران په ضد ودرېدل او فتح خان له خپل پوځ سره د هغه په مقابل کې دمخه شو او په کامران یې غږ وکړ، چې هغه خپل نظر اړولی دی. هغه یې دې ته وهڅاوه، چې بېرته په تښا لاړ شي. کامران لومړی په دغه نابیره اوښتون هک حېران شو، خو بیا یې ټول حواس پرځای کړل او منفي ځواب یې ورکړ. له هغه وروسته فتح خان بې له دې، چې د نورو پوځونو لپاره انتظار وباسي، په شاهزاده کامران توره په لاس ودانګل او دده دغه نابیره برید اغېز دومره ډېر و، چې د کامران پوځ تیت شو او پخپله دی په ډېر دار د فراه په لور وتښتېد.

اوس نو د فتح خان له خوا د قیصر لپاره د تخت ګټلو پلان بیا له سره ونیول شو، چې په څرګنده دغه شاهزاده ورسره پوره همغږی و، خو خوجه محمد خان د هغه عملي کول په ډېر مهارت سره وځنډول او ددې لپاره، چې بالکل یې شنډ کړي، داسې

Property of ACKU

وسایل به یې نه وي پرېښې، چې په هغو سره جذبات او عقل ویښ پاتې کېږي او آن د دسیسه کوونکیو له خرافاتي عقیدې نه یې استفاده وکړه.

## پر کشمیر یرغل

په همدغه وخت کې پاچا په پېښور کې د کشمیر د لاندې کولو لپاره د یوه یرغل تیاري ونیوه. کشمیر په ټولې امپراتورۍ کې هغه یوائینی ولایت و، چې یاغي شوی و. د هغه حاکم عبدالله خان ددې لپاره، چې له ځانه یرغل بچ کړي، په کندهار کې نالرامیو ته لمن ووهله او دغه حرکت که څه هم اوس پای ته رسېدلی و، عبدالله خان په حاضر وخت کې د هغو اختلافاتو له لامله خوندي پاتې شو، چې د شاه شجاع په خپلو درباریانو کې پیدا شوي وو. د اکرم خان غوره مالیو پاچا په دې راضي کړ، چې وزیر ته د پوځ د قوماندانۍ له ورکولو ډډه وکړي او آن د ځان لپاره یې د هغې د ترلاسه کولو خبرې وکړې. په دغه حال کې وزیر پخپله د ټول یرغل فکر ناموزون وښود او هغه وخت، چې یې د پاچا فکر له خپل فکر سره همغږی ولید، داسې دلیلونه یې وړاندې کړل، چې دغه یرغل بل وخت ته وځنډوي. ددې لپاره ښه موقع په کابل کې په لاس ورغله او همدا چې وزیر نږدې و له پوځ سره په هغه لور حرکت وکړي، پاچا د اکرم خان په نغوته له وزیر نه وغوښتل، چې د پیسو ورکول د خپلې قوماندانۍ د شرط په توګه ومني. په دې ډول پاچا درې لکه روپۍ ترې وغوښتلې، خو په دغه وخت کې د وزیر یوه ګرانه لور مړه شوه او په دغې پېښې دی دومره غمجن شو، چې اعلان یې وکړ، چې د هغې هدیره به هېڅکله خوشې نه کړي او نور به د نړۍ له چارو سره هېڅ غرض ونه کړي. پاچا نو اوس ځان اړ ولید، چې له وزیر نه هیله وکړي، چې خپلې دندې ته دوام ورکړي او په کشمیر باندې د یرغل پلان پلی کړي. هغه هم رښتینی یا ظاهري رضایت وښود او د پیسو د ورکړې خبره بیا پورته نه شوه.

وزیر په پای کې له لسو زرو مېړو سره په خپل مارش پیل وکړ لومړنۍ نښته له ده سره په مظفراباد کې وشوه، چې هلته د کشمیر پوځ د جیلم لوړه ډبرینه غاړه نیولې وه. سره له دې هم ده په څلورو قطعاتو خپله لاره خلاصه کړه او دښمن یې له خپل ځای نه وشاړه. په دغې نښتې کې د ده یو زوی ټپي شو، د کشمیر په لور پاتې لاره د ستغو او سپېرو غرونو په منځ کې زیاتره د اوږدو کمرونو په خوا کې غځېدلې وه. په نتیجه کې د وزیر پرمختګ ورو، ورو او پخوا له دې، چې دی پخپله درې ته ورسېږي، خوراکي مواد یې خلاص شول، خو وزیر خپل پوځ پخپله د هغوی په مصیبت ګاللو زړور کړل. خپلې زېرمې یې هغوی ته ورکړې او ویل کېږي، چې مخکې له دې، چې د خپل پوځ لپاره خواړه پیدا کړي، دوی د لوږې ډېرې سختې



Property of ACKU

تېرې کړې. دده په عسکرو باندې دومره زیاتې سختۍ ورغلې، چې څه وخت دی په هغې تنگۍ درې کې ننوت، چې د هغې په پای کې د دښمن پوځونه پراته وو، ده تر هغو توختـه (پاییدنـه) ونـه شوه کړای، ترڅـو د جنگ چانس تـه ځان وسپاري، چې ممکن ټولې وارخطایي گانې یې لـه منځه وړې وای، نو ده لـه عبدالله خان سره د خبرو ور پرانیست، ټولې سختۍ یې ورتـه پـه ډاگه کړې او عبدالله خان پـه داسې حال کې، چې نـه یې غوښتل هغـه دومره ځواشینی کړي، چې پـه کوم خطرناک عمل لاس پورې کړي. هغو شرطونو تـه غوږ ونیو، چې ده وړاندې کړل او لـه دې سره یې موافقه وکړه، چې د خوړو شیان برابـر کړي. مختارالدولـه غولـوونکې خبـرې پسې اوږدې کـړې، ترڅو یې هغـه گټې ترلاسه کړې، چې ده پـه نظر کې لرلې. بیا یې نو د ټگۍ څادر ایسته کړ او ښکاره سمدلاسه له سره پیل شوې.

خو دواړه پوځونه ترلاسه هم د جیلم پـه سیند سره بېلې وې، پـه پای کې عبدالله خان پـه شپې کې د سیند دپاسه یو پل جوړ کړ او پـه ډېره بیړه تري تېر شو او پـه داسې حال کې، چې وزیـر د هغـه د مقابلې لپاره پوره تیار نـه و، د هغـه شاتـه څرگند شو. د هغـه د پـوځ ډېره برخـه د خوړو پـه موندلو پسې وتلې وه او هغـه وخت دی لومړی پـه دښمن پسې ووت، لـه سلو سورو نـه زیات ملګرتیا ورسره نـه ول، خو وار پـه وار ټول پوځ سره غونډ شو او پـه داسې حال کې، چې وزیر یې پـه سر کې روان و، پـه دغـه وخت کې هغـه ټولی چې ده دمخه استولی و، پـه ډېرې گډوډۍ پـه دښمن ورودانګل. د وزیـر د زوی عطا محمد د بې زړه توب لـه لاملـه راوپرځول شو او عطاء محمد بې لـه دې، چې یـو وار یې هم کړی وي، وتښتېد او بې زړه عسکر یې ورپسې روان شول. دغسې پېښې نږدې ټول پوځ برباد کړی و، خو د هغـه زړورتیا پخپلـه د وزیـر پـه ټینگوالي سره اعاده شوه، چې هغـه خپل مات زړی پوځ پـه ډېرې کرارۍ سره ومنل، د خپل زوی تېښته یې یوې گډې تېروتنې تـه منسوبه وبلله او پـه ډېره بیړه دمخه ولاړ او داسې یې وښوده، چې اوس یې وار راغلی چې لـه خپل یـو تاکتیک څخه کـار واخلي.

ددغـه بریـد اثر تر لومړني بریـد ډېر تـوپیر لاره، ځکـه چې د یـوې سختې تېښتې وروسته چې پـه هغـې کې د وزیـر زړورتیا پوره څرگنـده وه، د کشمیریانو پوځ مغلوب او لـه سیند نـه بېرتـه وتمبول شو. پـل د تښتېدونکیو د ټیل او گڼې گوڼې لـه لامله بند شو، د پوځ زیاتره برخه چې پـه هغو کې پخپلـه عبدالله خان هم شامل و، مجبوره شوه چې لـه سینده پـه لامبو پورې وځي او ډېر یې د فاتحانو لـه خوا یا ووژل شول یا پـه سیند کې ډوب شول.



Property of ACKU

## د عبدالله خان مړینه:

عبدالله خان اوس ځان په حصار کې کلابند کړ او د اوږدې مودې د کلابندۍ لپاره یې تیاری ونیوه. د پاچا پوځونو په پاتې ژمي کې د موسم د سوړوالي او ستړیا له لامله له نورو عملیاتو څخه ډډه وکړه.

د پسرلي په سر کې عملیات له سره پیل شول او دوه میاشتې یې دوام وکړ. په دې وخت کې عبدالله خان ومړ، دی یو ښه زړور او مستعد شخص و، کشمیریان تراوسه هم د هغه نوم په درناوي اخلي. هغه درانیان هم همدغسې نظر لري، چې له ده سره په خدمت کې بوخت ول. دی په دې ډېر ستایل کېږي، چې عادل و او عدالت یې په ښه ډول چلاوه. په سخاوت، په خپلو زړه راښکونکیو کړو وړو او په درانه وقار سره هم ډېر ستایل کېږي. په همدې ډول دی د علم او شعر یو لوی مشوق و. ممکن بل درانی د ټولو د خوښې دغسې کرکټر نه وي لرلای.

د عبدالله خان تر مړینې وروسته تر نورو دوو میاشتو پورې د حصار ساتنه وشوه او له هغه وروسته په دې شرط تسلیم شو، چې د عبدالله خان کورنۍ او د حصار لویان دې مجاز وي، چې یا په کابل، یا پېښور کې بې له کوم مزاحمته ژوند وکړي. ددغو شرطونو رعایت په کلکه وشو او کشمیر پوره د پاچا تر اختیار لاندې راغی.

وزیر د کشمیر له لاندې کولو وروسته یو څو میاشتې نور هم هلته پاتې شو، خو اوس ښایي هغو پېښو ته پاملرنه وشي، چې ددغه یرغل د اوږدې مودې په دوران کې په لویدیځ کې وشوې.

د فتح خان او قیصر ترمنځ روغې زیات دوام ونه کړ. خوجه محمد خان خپل تفوق وساته او فتح خان گرشک ته لاړ، هلته یې یو ځل بیا له کامران سره دسیسې له سره پیل کړې.

لکه څنگه چې یې هیله کېده، قیصر به له هغه چا سره، چې په نورو وختونو کې یې غولولی وي، ددغسې یوه کار په کولو کې لاس یو نه کړي، خو کامران چې په تابیره اوښتونونو کې روزل شوی و او له دې سره روږدی و، چې هرڅه په خطر کې واچوي، په دې کې زړه نازړه نه و، چې په هغې دسیسې کې گډ شي، چې دده لپاره کېده. دی له فتح خان سره بیا ملگری شو او څنگه چې دوی د کندهار په لار روان شول، د پاچایي پوځ یوې برخې ورسره مقابله وکړه او شاهزاده قیصر د بلوچو ملک ته وتښتېد او هلته د پاچا نوي ملاتړ ته منتظر شو.

پاچا په پېښور کې و، چې ددغې ناوړې پېښې خبر ورته ورسېد. بې له کوم څنډ نه یې وزیر له کشمیر نه وغوښت، خو څنگه چې هغه یا نه شو کولای، یا یې نه غوښتل له پاچا سره یوځای شي، دی اړ شو، چې د یاغیانو پر ضد د پوځ

Property of ACKU

قوماندانۍ په خپل لاس کې واخلي.

مخکې له دې، چې دی کندهار ته ورسېږي، د هغه پوځ بیا د کامران له خوا ماتې وکړه او دغه شاهزاده ته د شاهزاده فیروز د زوی ملک قاسم په قوماندانۍ شپږ زره مېړونه له هراته ورسېدل، خو دغه پوځ د فارسیانو د برید په اثر ژر بېرته هرات ته وغوښتل شو، کامران وتښتېد او پاچا له کومې مقابلې پرته کندهار ته ستون شو او فتح خان ډېر ژر په دې راضي شو، چې له پاچا سره ملګری شي.

## په هرات یرغل:

د فارسیانو حمله، چې ملک قاسم د هغې په اثر وغوښتل شو، د فیروزالدین د تجاوزي عمل له لامله تحریک شوی او تر څه وخته پورې تهدید شوی و. سره له دې هم فیروزلالدین ځان دومره خوندي حس کاوه، چې خپل ډېر ښه پوځ یې له کامران سره د مرستې لپاره استولی و او تر هغو، چې فارسیان په ډېر قوت سره ښار ته نږدې شوي وو، د خپلې دفاع لپاره یې تیاری نه وو نیولی. په دغه وخت کې دده پوځ له اووه سوو درانیو او دوه زرو پارسیوانانو جوړ و، خو ډېر زر د ایماقو پېنځه یا شپږ زره مېړونه ورسره یوځای شول، چې هغوی د صوفي اسلام او د یوه اوزبک ملا له خوا، چې هغه ډېره موده په هرات کې اوسېدلی او د ډېر عزت او شتو خاوند و، د فارسیانو او امامیانو په ضد ډېر جوش خروش سره ټول شوي وو.

فیروز له دغه پوځ سره د فارسیانو د مقابلې لپاره مارش وکړ. د فارسیانو لښکرې هم د شمېر له مخې او هم د خپل ماهیت له مخې د فیروز تر پوځ ډېرې لوړې وې. فیروز ددې پر ځای، چې د پل مالان (یا اوچس) (Ochus) د تېرېدو لاره وساتي. په خپلې بې تدبیرۍ یې دغه سیند شاته پرېښود. همدا چې دده پوځ ترې تېر شو، فارسیانو د خپلو پلیو عسکرو یوه ډېره ښه ډله ددغه پله د نیولو لپاره واستوله. سره له دې هم هغو اووه سوه درانیو په ډېرې بیړې په هغوی ورودانګل، د فارسیانو لومړنۍ لیکه، چې له پلیو عسکرو جوړه وه، ماتې وکړه او د سورو مېنځ یې، چې دویمه لیکه یې جوړه کړې وه، بیخي ګډه وډه کړه، خو څنګه چې د هغو شمېر بیخي ډېر و، دوی زر محاصره شول او تر وروستي تن پورې ووژل شول. همدا چې درانیان محاصره شول، ایماق ګډوډ شول او فیروز له دې پرته، چې زیار یې ایستلی وي، وتښتېد، مرګ ژوبله یې بیخي زیاته وه. صوفي اسلام په داسې حال کې، چې د خپلو نوکرانو او د ملایانو او طالبانو د هغې ډلې په سر کې جنګېده، چې له ده سره یې د رضاکارانو په توګه ملګرتوب کړی و، شهید شو. د هغه مړی د فارسیانو په لاس کې ولوېد، چې دوی په ډېرې بې عزتۍ وسوځاوه. تښتېدونکیو هم هومره خلاصون ونه موند، ډېر یې په اوچس کې ډوب شول او پخپله فیروز

Property of ACKU

وروسته له هغه، چې خپل آس یې له منځه لاړ، په ډېر کړاو وتښتېد.

فارسیانو سمدلاسه د ښار په کلابندۍ لاس پورې کړ، خو ملک قاسم په دغه وخت کې د راستنېدو په حال کې و. ایماقو او درانیو د غونډېدو لپاره وخت وموند او فارسیانو فیروز ته د سولې شرطونه وړاندې کړل، چې دغه محتاط شاهزاده ومنل. شرطونه دا وو، چې دی باید پنځوس زره روپۍ ورکړي او خپل یو زوی د هغو د ورکولو لپاره د برمتې په توګه ورکړي او خپله یوه لور په مشهد کې کوم شاهزاده ته واده کړي. ددوی لومړني شرطونه ومنل شول او وروستي یې له نظره وغورځول شول.

د فارسیانو برې په لومړي سر کې په درانیو کې لویه غوغا جوړه کړه او پاچا یو وخت نیت وکړ، چې پخپله هرات ته ولاړ شي او د پښتنو د نامه عزت خوندي کړي، خو د سلطنت دننني چارې په دغه وخت کې په دې ډول وې، چې باندنیو تشبثاتو ته یې اجازه نه ورکوله.

## د پاچا او وزیر ترمنځ اختلافات:

دلته لوی خنډ د پاچا او وزیر ترمنځ د مخالفتونو زیاتېدل وو، چې په بېړه په ډاګه د اړیکیو د شلولو په لور روان وو.

پاچا، چې هر هغه حسد د وزیر د واک په اړه لاره، هغه تر دې وخته په دې تمام شوی و، چې د هغه په نفوذ او استعداد باندې په اتکا سره د هغه درناوی وکړي، خو دی اوس پرېښودل شوی و، چې د خپل وزیر له مشورې او مرستې پرته پخپله یو لوی بغاوت وځپي. ده بری دی دې ته وهڅاوه، چې په خپل ځان تر ډېرې درجې اتکا وکړي او په پای کې د خپل وزیر له هیلو سره مخالفت وکړي او هغو ته آن په سپکه وګوري.

د وزیر نارضایت د هغه د نفوذ د کمېدلو له امله ډېرېده او داسې ګڼل شوې وه، چې دی د هغه زیار بنسټ اېښودونکی و، چې په دغه وخت کې وشو او مرخه یې په تخت باندې د یوه بندي شاهزاده عباس کېنول و. دغه پلان سرته ونه رسېد، خو بې له جدي عواقبو نه ناکام نه شو او هغه دا و، چې په هغې ګډوډۍ کې، چې د هغه له امله پیدا شوه، محمود له بنده وتښتېد. ډېره موده نه وه تېره شوې، چې وزیر له کشمیر څخه راورسېد. هغه ته دا جوته شوه، چې پاچا غواړي له کندهار نه سند ته لاړ شي او دا هغه څه وو، چې ده خپل ټول نفوذ د هغه د ترک کولو په لار کې کارولی و او څنګه چې اوس ده ته څرګنده شوه، چې خپل نفوذ یې په پاچا باندې بایللی دی، پرېکړه یې وکړه چې نور نو وخت ضایع نه کړي او یو داسې شاهزاده په تخت کېنوي، چې دده خبرو ته غوږ ونیسي، نو دی په کابل کې وځنډېد، له شاهزاده قیصر سره یې اړیکې ټینګې کړې او هغه یې دې ته وهڅاوه، چې دده په طرح کې شامل



Property of ACKU

شي.

په همدغه وخت کې پاچا د سند په نیت روان شو او له حاکمانو سره یې دغسې ترتیبات ونیول، چې د هغوی کلک دښمن فتح خان یې دومره ناراض کړ، چې هغه سمدلاسه له خپلو درې زرو مېړو سره، چې دده په قوماندانۍ کې وو، پاچایي پوځ پرېښود.

ددغو پېښو په اوږدو کې یا ممکن د فتح خان له تېښتې لومړی، پاچا ته خبر ورسېد، چې وزیر په کابل کې شاهزاده قیصر د پاچا په توګه اعلان کړی او ډېر وخت لا نه و تېر شوی، چې خبر وروړسېد، چې پېښور هم د یاغیانو په لاس کې لوېدلی دی، ده پېښکړه وکړه، چې په خپله لومړی همدغه ښار ته پاملرنه وکړي او دی په دې بریالی شو، چې د فبرورۍ په پای کې دغه ښار بېرته ترلاسه کړي.

په همدغه وخت کې وزیر او قیصر له یوه پوځ سره، چې ټول شمېر یې دولسو زرو مېړو ته رسېده، ښار ته نږدې ورسېدل او له ناکامو خبرو اترو وروسته دواړه خواوې د (۱۸۰۸) میلادي کال د مارچ پر درېیمې نېټې سره ونښتې.

شاهي پوځ په لومړي سر کې ټوټه ټوټه شو او نږدې وه، چې پاچا د جنګ له ډګره وتښتي، خو په دغه وخت کې وزیر د خپلې ذاتي زړورتیا او د خپل نږدې بري په کتنې سره د یوې ډلې مېړو په سر کې، په بې تدبیرۍ حمله وکړه، د پاچا شاوخوا خانانو ډېر ټینګ مقاومت وکړ او وزیر د عملیاتو پر مهال ولګېد. په دغې پېښې د پاچا عسکر سره ټول شول او د جنګ نتیجه زر ددوی په ګټه پای ته ورسېده.

پاچا پېښور ته په بري ننوت او د وزیر سر وروسته ښاته د سانګې (نیزې) په څوکه کې ټومبلی وړل کېده.

دغه بری په پېښور کې د پاچا چارې په پوره ډول اعاده کړې، خو کشمیر تراوسه هم د عطاء محمد خان د وزیر د زوی تر حاکمیت لاندې د وزیر د ګوند په خوا ټینګ ولاړ و او پاچا د هغو ضروري سختو مشکلاتو له لامله، چې په کابل او کندهار کې څرګند شوي وو، ونه شو کولای د هغه ولایت په ضد په کوم کار لاس پورې کړي.

میرواعظ، چې د پېښور په لور د وزیر د مارش په وخت کې په کابل کې پاتې شوی و، همدا چې د خپل ملګري له ماتې او وژلو نه خبر شو، ټول بندي شهزاده ګان یې له بند نه آزاد کړل او د مرکز د دفاع لپاره یې کلک ترتیباب ونیول. دی د پاچا په رسېدو دې ته اړ شو، چې ښار پرېږدي، له قیصر سره د کوهستان د ملک خوا ته لاړ او هلته یې د څه وخت لپاره د هغه پوځ په مقابل کې ټینګار وکړ، چې پاچا د هغه په ضد استولی و. په پای کې قیصر وهڅول شو، چې تسلیم شي. دی وبخښل شو او پاچا د محمود په ضد مارش وکړ، چې فتح خان ورسره یوځای شوی و او کندهار یې

Property of ACKU

نیولی و. دواړه خواوې د ښار په ختیځ کې سره ونښتلې، محمود مغلوب شو او کندهار د فاتح په لاس کې پرېوت.

پاچا نږدې و، چې د سند په لور مارش وکړي، خو ځنګه چې مخکې له هغه له دغه ولایت نه مالیات ورواستول شول، دی د پېښور خوا ته روان شو او هلته پر (۱۸۰۹) کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه ورسېد. له هغه وروسته ډېر زر د کابل هیئت وروړسېد او وروستۍ پېښې د هغه د جریاناتو په بیان کې راغلي دي.

## د رنجیت سنګ برى[1]

فتح خان د شاه شجاع له تېښتې وروسته هسې چې یې غوښتل، د شاه محمود په ذمه حکومت کاوه. کشمیر یې د رنجیت سنګ په مرسته ونیو او وروسته له هغه یې له دغه مشر سره جنګ وکړ او د هغه له خوا سند ته نږدې مغلوب شو. فتح خان هرات په چل ول له حاجي فیروز نه ونیو او هغه جمله یې شاته وتمبوله، چې د فارسیانو له خوا په دغه ښار شوې وه، خو د اتو کالو له حکومت وروسته دی د شاهزاده کامران د رخې، د نورو اشرافو د حسادت او د محمود د ناشکرۍ قرباني شو. دده مړینه د پاچایي د ټوټه ټوټه کېدو علامه شوه، ورونو یې د خپل قوم او پلویانو په سر کې بغاوت پیل کړ او د محمود واک یوازې سمدلاسه په هرات او هغه په توابعو پورې منحصر شو.

کابل، کندهار، پېښور او ددغو ښارونو شاوخوا سیمې د بېلابېلو ورونو په لاسونو کې پرېوتې او دوی ډېر زر په خپلو منځو کې سره وران شول. درانیان د شرایطو په غوښتنه یا د کندهار، یا د هرات حکمرانانو ته نیمه تابع وګرځېدل، نور قومونه خپلواک شول.

رنجیت سنګ د درانیو د پاچایۍ د زوال په وخت کې د اروپایي افسرانو په وسیله د خپلو پوځونو په تنظیم بوخت و. دغه وضع، چې اوس کله پښتنو ملت یو موټی هم پاتې وای، په هندوستان کې به د پښتني توابعو لپاره خطرناکه ګرځېدلې وه، د دوی د ضعیف حکومت او خلاصو سرحدونو لپاره یې غیر قابل دفاع وګرځاوه. د کشمیر، ملتان، لیه، بر سند او د دامان نږدې برخې یې ونیولې. د کشمیر سهېلي قومونه یې د تابعانو په څېر ایل کړل او له هغې وروسته یې د کابل د حکمران او په پېښور کې د هغه د ورونو ترمنځ له یوې جګړې نه د ځان لپاره ګټه واخیسته، چې پخپله پېښور او تر اباسین ټول اوار ملکونه لاندې کړي. په همدې وخت کې شاه

[1] دغه برخه د ۱۸۳۸ کال د چاپ په کتاب کې د چا له خوا اضافه شوې ده، د الفنستن لیکنه نه ده. ژباړن



Property of ACKU

شجاع د کندهار د نیولو لپاره کامیاب یرغل وکړ.[1]

د سند امپراتور شکارپور ترلاسه کړ، بلخ تش له نامه تابعیت نه ځان ازاد کړ او د بلوچستان مشر دغه تابعیت یوازې تش په نامه وساته.

دوست محمد خان د کابل سردار د یوه عادل او منور حکمران په نامه یاد دی، هم دی او هم په کندهار کې دده وروڼه د کامران کلک دښمنان دي، چې د پلار له مړینې وروسته یې د هرات قبضه په خپل لاس کې نیولې او د سدوزي کورنۍ د دعوی بیرغ یې رپانده ساتلی دی.

د پېښور ښار ته ددغو جنګونو او اوښتونو په موده کې ډېر تاوانونه رسېدلي دي، خو داسې ښکاري چې د هېواد په نورو برخو کې هېڅ راز انحطاط موجود نه دی.

شاه شجاع د هغه یرغل سرېېره، چې په نتیجه کې یې کندهار په موقتي ډول ترلاسه کړ، د خپلو ملکونو په بېلابېلو برخو کې په نورو تشبثاتو بوخت شوی و، خو اوس بیا د برتانیې په لودیانه مقبوضې کې فراري شوی دی. په دغې وقفې کې ده ډېرې افراطي ماجراجویۍ ګانې وکړې او د هغو په اړه یې یوه لیکنه کړې ده. دی یو وخت د رنجیت سنګ له خوا په چل او خیانت ونیول شو او وحشیانه چلند ورسره وشو، چې موخه یې له هغه څخه د مشهور الماس کوه نور ترلاسه کول وو. دغه پېښې او د هغه د ملکې د استعداد او کلکې روحیې له برکته دده خلاصون په افغانستان کې د هغو تازه پېښو یو په زړه پورې لنډیز دی، چې سر الکزاندر برنز (Sir Alexander Baorns) کښلی، چې له هغه او د ښاغلي کانه لي (Conolly) له مفصل بیان څخه دغه لنډه لیکنه اخیستل شوې ده.

ددغو بدبختیو ډېره طبیعي نتیجه د فارس له خوا د پښتنو د خراسان د برخې لاندې کول وو، خو که څه هم د هرات د نیولو لپاره ډېر کوښښونه وشول او که څه هم د فارس پاچا یو دغسې منظم پوځ لري، چې اروپایي افسرانو یې تربیه کوي، خو تراوسه یې په هغې برخې باندې هېڅ اغېز نه دی شوی. داسې ښکاري، چې کامران په سستۍ او عیاشۍ کې د خپل پلار سیال دی، خو دده واک دده د وزیر یار محمد خان په قوت او زړورتیا سره خوندي دی. دغه واک هېڅکله د اوس په څېر له یو ډېر جدي خطر سره مخامخ شوی نه و.

یو کال وشو، چې هرات د فارس د پاچا له خوا کلابند شوی او که څه هم دی د

[1] دا اشاره ممکن هغه ناکام یرغل ته وي، چې مخلوع شاه شجاع پر (۱۸۳۴) کې په کندهار کړی و. ژباړن.



Property of ACKU

وروستي خبر له مخې د هغه په نیولو باندې له ډېرو تلفاتو سره[1] ناکام شوی دی، خو سره له دې هم که د کابل او کندهار حکمرانان دې ته ترغیب شي، چې د ګډ دښمن په ضد یو موټی شي، ممکنه ده چې د هغه ټینګار به سره له دې هم د درانیو د ملک د زیاتې برخې په تسخیر سره ادا شي. داسې پېښه به زموږ د هندوستان د امپراتورۍ په راتلونکي کې یو جدي بدلون راولي او هغه ممکن د اروپا په سیاست کې بې اغېزې پاتې نه شي. اکتوبر ۱۸۳۸

* * *

[1] ویل کېږي، چې په دغسې حملې کې (۱۱) کرنیلان، (۴۵) افسران او (۱۷۵۶۰) تربیه شوي عسکر تلف شوي دي.



Property of ACKU

# دویمه ضمیمه

## د ښاغلي دوري بیان

((ماښام له ډېرو نه جوړېوه مېلمه سرای ته ورسېدم[1] چې شاوخوا یې د فارسي ژبې نظمونه کښل شوي وو. له هغه ځایه اټک ته لاړم، چې له هغه نه یو څه لیرې د ښکلو لوړو غرونو له پاسه پروت دی او لاندې یې یو سیند په ډېرې چټکۍ او شور و ځوږ بهېږي. څنګه چې زه پرې نه ښودل شوم. چې د وره له لارې ننوځم، هغه کلي ته لاړم چې په کینډې خوا کې پروت دی او هلته له شلو تنو نه ډېر پښتانه د ساتونکیو په خونه کې په کټونو ناست وو او یو بېرغ یې دراولی و. دوی دوه یا درې چلمونه لرل، هغه یې څکول او غوږې یې کولې. له سلام وروسته زه هم هلته لاړم، کېناستم او چلم مې وڅکاوه. زه یې وپوښتلم، چې له کوم ځایه راغلی یم؟ ما ځواب ورکړ، چې له بنګال نه راغلی یم او غواړم بغداد شریف او مبارکې مکې ته د حج لپاره لاړ شم. هغه وخت، چې ما ورته وویل، چې زه د انګرېزانو په خدمت کې وم، یوه یې چې چپن اغوستې او یو ښهٔ سور بخن لنګوټی یې په سر کړی و، د رامپور د جنګ په اړه غمجنې خبرې وکړې، ویې ویل انګرېزان په داسې حال کې، چې دزې یې ونه کړې،

---

[1] ما د لومړي ټوک په (۲۶۹) مخ کې لیکلي و، چې ښاغلی دوري (Durie) د خپل سیاحت کیسه لیکلې او ما ورنه پوښتنې وکړې او د هغه ځوابونه مې ولیکل. دلته دده کیسې ذکر کېږي، هغه برخه چې د قومونو په منځ کې راغلې ده، دده په خپل قلم لیکل شوې. یواځې په دې توپیر، چې ما د هغه ګرامر او کله مې د هغه الفاظ سم کړي دي، چې ښاغلي دوري د بېړې له لامله د هغو مفهوم مبهم ښوولی و، خو زیات بدلون مې پکې نه دی راوستی او ښایي د قوسینو د منځ برخې ټولې په خپله د هغه ښاغلي وګڼل شي. هغه برخې، چې ښاغلي دوري پکې د درېیم کس په حیث ذکر شوی یا دده د لیکنې لنډیز دی، یا زما له هغو یادښتونو څخه اخیستل شوی، چې پاس ورته اشاره شوې ده، آن دلته هم د ښاغلي دوري د بیان طرز په ټولیز ډول ساتل شوی دی.

په زیات شمیر تلف شول، خو څه وخت چې یواځې یو څو تنه ترې پاتې شول، بیا یې ډزې وکړې او د هغو په نتیجه کې روهیله په شا شول، ووژل شول او د دوی ټول ملک ونیول شو.

دوی نږدې ټول د څراغ په رڼا کې له خپلو کټونو سره اوار میدان ته ووتل، د اتو بجو په شاوخوا کې یو یې دې ته ځیر شو، چې زه ویډ وم، یو څه وچه ډوډۍ یې راوړه او راته یې وویل، چې ولې مې دمخه د هغې یادونه ونه کړه، چې له ډوډۍ سره یې څه نګولی راوړی وای. سبا له سین نه تېر شوم او د هغه د ډېر ګرندیتوب له لامله مې ډېر کرار ولید.))

ښاغلی دوري بیا د شلورو ورځو تر مزل وروسته پېښور ته ورسېد، یواځې کله کله یې په لاره کې ملګری مونده او په هغو کلیو کې تمېده، چې ورڅخه تېرېده. کله یې له کلیوالو او ځینې وخت یې له نورو لارویو نه ډوډۍ ترلاسه کوله. په پېښور کې خلکو د پاچا د نوکرانو او د درانیو له تاړاکونو څخه شکایتونه کول. ښاغلی دوري تر دې وخته پورې بې له کوم دینار نه سفر کاوه، خو په پېښور کې یوه نایي او نورو کسانو دده لپاره یو څه پیسې ټولې کړې او دی له یوه کاروان سره د کابل پر لور روان شو.

((بله ورځ یو څو هلکانو په داسې حال کې، چې ما چلم څکاوه، په ولي وډبولم، په ټګي سره یې له مانه پیسې واخیستلې)) په همغه ورځ د درانیو یو هلک د همدغو کلیوالو له خوا لوټ شو او درانیان په دې راضي شول، چې هغه ته دې تاوان ورکړ شي. دی (دوري) د خیبر په دره کې دمخه ولاړ او کاروان زیاتره د خیبریانو له خوا د باج اخیستلو لپاره درول کېده او مزاحمت ورسره کېده. ((یو ماښام زموږ کاروان د یوه بوډا پښتانه له خوا، چې یو ډانګ یې په لاس کې و، ودرلو شو. څنګه چې زه ورورسېدم، ورته ورغلم او کوښښ مې وکړ، چې ډانګ ترې واخلم. ده په کاڼو وویشتم او تر ډېرشو ډېر کسان له خواوشا غرونو راکوز شول، خو زه جګ شوم، دوی له څه بحث وروسته پرېښودلم. دغه لاره آن تر لال پورې پورې د سیند په خوا کې ښکته او پورته غځېدلې ده. د کاروان له څو کسانو سره مې د اروپایانو او د انګلیسي هیئت په اړه خبرې وکړې. دوی هغوی ښه ستاېل او له هره حیثه یې ډېر عاقل، ذکي او باانصاف ګڼل)). دلته دی په دې سبب له کاروان نه وګرځول شو، چې د باج تادیه یې په وس کې نه وه، خو بیا له ځینو زایرینو سره ملګری شو او هغوی له مهربانۍ ډک چلند ورسره کاوه او ډوډۍ او مېوه یې ورکړه. دوی د فارس یو لاروی هم له ځان سره واخیست، چې ((هغه په خپلو غورو او د قصیدو په ویلو ښه ساعت تېروونکی و)) دی په دې ډول کابل ته ورسېد، چې له پېښور نه یې دوه اونۍ وخت

ونیو. د لارې ډېرو ملګرو یې داسې ګڼله، چې دی په اصل کې اوزبک دی، یو ځل دوی ته معلومه شوه، چې دی سنت شوی نه دی او یوه مسافر دا خبره وکړه، چې که دده خوښه وي، دی به یې سنت کړي. ښاغلي دوري ونه منله او ویې ویل، چې دغه کار به په کابل کې ترسره کېږي. ((د یوه عیسوي لپاره نه په ښارونو کې څه ډار شته او نه په هغه وخت کې، چې یوه خېل ته ورسېږي او په لارې روان وي. خو څه وخت چې دی لار وهي، کېدای شي ځینې ناپوه کسان ورسره ناوړه چلند وکړي.))

کابل ته په ننوتو سره دی دغسې یوه ځای ته لاړ، چې په څو ملنګانو پورې یې اړه لرله او له هغوی سره یې د اوبو په اېستلو کې تر هغو مرسته وکړه، چې نورو ورته د بس غږ وکړ، ځکه چې دی ستړی شوی و. ((د ملنګانو مشر ماښام راغی او یوه ځوان، چې عاشق شاه نومېده، یوه کس ته بوتلم او هغه یوه وچه ډوډۍ راکړه. د تکیې مخامخ ته د پاچا ماڼۍ پرته وه، چې درې منارونه لري او د هر یوه سر په طلاو ښکلی شوی او دغه ماڼۍ له څو ستنو سره یو ښاپسته پراخ سالون لري. دا ټول په بالاحصار کې وو، چې د یوې غونډۍ د پاسه پراته دي. دغسې دېوال لري، چې ټولې خواوې یې احاطه کړې او د ښار شوربازار ته غځېدلی، چې هلته نانوایان، اشپزان، ښورواپلورونکي، مېوه او سابه پلورونکي، پالوده جوړوونکي، هندو دکانداران او د ساق لرونکیو ښکلو بوټانو پلورونکي اوسي. له دغو بازارونو څخه د لویدیځ پر لور کوڅې وتلې، چې د هندوانو لوړو بنګلو ته غځېدلې او د سوداګرو د استوګنې لپاره یې دوه پوړیز اپارتمانونه سره تښلولي دي. له لاهوري دروازې نه یو لوی سړک د شور بازار پر لور وتلی، هلته یې هغسې ماڼۍ لري لکه چې په پېښور کې چې دي او پاسنی چوک غځېدلی، چې هلته هندو او مسلمان لوی سوداګر د سړک په دواړو غاړو دکانونو کې لیدل کېږي، چې سر یې پوښلی دی. له دې نه چې تېر شې، میدان یا چوک تر سترګو کېږي، چې هلته ډېرې دوه پوړیزې لوړې ودانۍ ابادې دي. د دوی په ښکته خونو کې د بېلابېلو شیانو پلورونکي او کاسبان دي، له دغه چوک نه د نورو بازارونو او دکانونو په لور دوه یا درې کوڅې وتلې دي.

لاروېو او نورو، چې زه په دغه بازار کې لیدلم او څه وخت، چې دوی دې ته ملتفت کېدل، چې زه یو مسافر یم. پیسې یا ډوډۍ یې راکوله، تر دې چې ما دومره پیسې پیدا کړې، چې ډوډۍ، لرګي، مېوه او فالوده پرې وپېرم، چې له پیروي، شربت او واورې نه جوړه ده او ډېره یخه او خوندوره ده. یوه ورځ د یوه ډېر لوړ غره سرته وختلم او هلته مې په یوې میلې کې ګډون وکړ، چې د ملنګانو له خوا جوړه شوې وه. د خلکو ډېر شمېر هلته غونډ شوی و، هغه لارې، چې دغو غرونو ته ختلې وې، ډېرې ښې وې او یو ځای بل ځای د ناستې او دمې لپاره ښه ځایونه لري. خلک به



Property of ACKU

دلته او هلته کېناستل او ددغه ښار په اړه به سره غمېدل او نظرونه یې سره ورکول، چې لاندې پروت دی او زیات شمېر ښکلي باغونه لري او کورونه یې په ختمو ښه اخېړ شوي دي او دوه یا درې پوړه لوړ دي، خو د هندوانو کورونه لا ډېر هسک دي او ډېر لرګي پکې لګېدلي دي. د ښکلیو درو د بې شمېرو غرونو په شاوخوا غاړو کې متوسطې کلاګانې پرتې دي، چې پښتانه پکې اوسي. د ښار اوسېدونکي په اصل کې بېلابېل دي، اصلي اوسېدونکي یې ښه سپین رنګونه لري او اقلیم یې ډېر سوړ دی.، د کابل پښتانه تور، غنم رنګ، زېړ یا سپین بخن دي، خو تر هغو وړاندې د کندهار پر لور دوی ټول سپین رنګي دي، خو سره سپین نه دي او له کندهار نه تر هرات پورې سپین او د شکارپور، ډېره جاتو او نورو په لور تور او غنم رنګي دي. دوی ټول مسلمانان دي، خو د خوراکي موادو هټۍ او هم د ټوکرانو پلورلو ډېر دوکانونه د هندوانو په لاس کې دي. د ښار د لوېدځ او سهېل پر لور سیند بهېږي، چې ډېر ژور نه دی او ښار ته نږدې په دغه لور د لویو غرونو ترمېنځ یو نری سیند وړو او لویو ونو او شنو کروندو سره ډېره ښکلې شوې ده، په لیرو بهېږي. د دواړو غاړو ترمېنځ د سیند دغه برخه د ډول ډول مېوو په فاصلو کې یې ښې ښې کلاګانې پرتې دي.

شل ورځې مې ددغه ملنګ په کور کې په خوښۍ تېرې کړې، چې هلته د بېلابېلو مذهبونو پیروان پرله پسې ځي او راځي، له خپل ذوق سره سم چرس یا چلم څکوي او په بېلابېلو موضوعګانو باندې خبرې کوي. دوی زیاتره د اروپایانو په اړه غږېږي، چې د هغوی په نظر ډېر ذهین دي او کره وړه یې ښه بولي او ستایي یې. که څه هم په ډېرو اړخونو کې یې بې لارې شوي ګڼي. یو نانوایی چې د انګرېزانو په خدمت کې و، له هندوستانه راغی، خو څنګه دده په قول یو ځل ټکول شوی و، خدمت یې پرېښود او د بغداد پر لور روان و. ده ددغو خلکو پر وړاندې، چې شمېر یې ښایسته ډېر و، وویل چې له درانیو او نورو مغولو څخه یې اورېدلي، چې اروپایان د مسلمانانو په څېر ښه خلک دي، خو دوی دده په نظر او ښایي د نورو په نظر کافران ګڼل کېږي.

ډېر خلک دغې تکیې ته راتلل او چلمونه یې څکول. ښاغلي دوري له هغو سره کېناسته او خبرې یې ورسره کولې، ځینو ته به معلومه شوه، چې دی مسلمان نه دی، خو له دغه اړخه به یې له هغه سره غرض نه کاوه. په ښارونو کې ده ته زیاتره د ځري (جاسوس) په نظر کتل کېدل او ځینو لوړو کسانو به ورته ویل، چې څه وخت چې خپل ملک ته بېرته ځې، د دوی د ملک په اړه معلومات ورنه کړې.

«مشر ملنګ له ما څخه هیله وکړه، چې په ټول ساړه موسم کې دده په کور کې



Property of ACKU

پاتې شم او دی به ماته یو پوستین او نور کالي راکړي، خو زه به له دې چې ده ته مې د مخه خبر ورکړی وي، دده له ځایه روان شوم او چې هغه وره ته ورسېدم، چې د کندهار په لور پروت و، یو څه تمباکو مې راونیول او څه وخت، چې بیرون لاړم د ځینو معتبرو مساپرو ځینې کېږدۍ مې ولیدلې، چې د حج په نیت روان وو. څنګه چې دوی د څو ورځو لپاره وځنډېدل، زه تري لاړم. یو پښتون تر قلعه قاضي پورې له ما سره ملګرتیا وکړه او له مانه یې هیله وکړه، چې بغداد ته په رسېدو ده ته دعا وکړم. قلعه قاضي ته په رسېدو سره هغه یو څه ډوډۍ راولېږله او زه په تروږمۍ کې جومات ته لاړم. یو ملا، چې هلته و ماته یې ډوډۍ او شړومبې راکړې.))

((د سبا ورځې په ماښام میدان ته ورسېدم، پورته یوه کلي ته لاړم، هلته مې څو پښتانه ناست ولیدل، چلم مې وغوښت او هغوی تهیه کړ. یوه یې چې ناروغ و، له ما وغوښتل چې د کومې دوا سپارښتنه ورته وکړم؟ ما ورته وویل، چې زه یې نه شم کولای، په دې چې ماته د دوی د ملک او درملو د نومونو په اړه معلومات نه شته. څه وخت چې تیلی څراغ ولګول شو، جومات ته لاړم او هلته ټول د لمانځه په ادا کولو بوخت ول. لمونځ چې خلاص شو، اوګره او شړومبې په لرګینو ښنکو کې د لرګینو ځمڅیو سره تیارې وې. یو څه یې ماته راکړې او څه یې نورو مساپرو ته ورکړې، چې هغوی هم هلته تللي وو. په بله ورځ له دولسو بجو نه د مخه یوه داسې ځای ته ورسېدم، چې هلته مې دوه ـ درې درانیان له خپلو اسونو سره ولیدل. دوی چلم راکړ او په یوائې ځان یې له سفر کولو نه زړه توری کړم. ویل یې چې ځینې پښتانه شته[1] او ممکن بې له کومې خبرې یې یا سر غوڅ کړي یا یې مریی وګرځوي. یو ملنګ، چې په ټک لرونکې لکړه ګرځېده، هلته پېښ شو او نیت یې کړی و، چې له دوو ځوانانو سره بغداد او مکې ته لاړ شي. ما ورته وویل، چې زه هم په هغې خوا روان یم. دوی خوښ شول او له مانه یې وغوښتل، چې په دوی پسې روان اوسم. له دوی سره یو بل ناروغ سړی هم ملګری و، چې غوښتل یې یوه بل نږدې کلي ته لاړ شي. موږ په ګډه د یو لړ کلیو په لور وخوځېدو او څه وخت، چې تیاره ولګېده، ورته ورسېدو او په یو څه کړاو مو اوګره او ډوډۍ وموندله. بله ورځ یو سړی موږ ته راغی او له هغو ځوانانو نه یې یو تن مجبور کړ (دی د هغه د خور له خوا استول شوی و) چې بېرته ښار ته ورسره ستون شي. د ماښام په تیاره کې، چې روان وو هغه ناروغ پاتې شو او موږ هغو کلیو ته ورسېدو، چې په وردګو پښتنو پورې یې اړه لرله. د نویو ایښودل شویو ونو په سیوري کې مو واړول. هغه ګوډ ملنګ له هغه ځوان ملګري سره د کلي درې ـ څلورو کورونو ته لاړ او په جګ اواز یې ډوډۍ وغوښته، چې

[1] دا هغه تاړاکګر غلزي دي، چې د دویم ټوک په () مخ کې یې ذکر شوی دی.



Property of ACKU

ډېر مقدار یې ترلاسه کړه. ده د تمباکو غوښتنه هم وکړه، خو څو کسو ورته وویل، چې دوی یې نه لري. دی په زېږه اوازونو سره وغړېد. بله ورځ مو د ونو لاندې په سیوري کې تېره کړه. د شپې په دولس بجو ګوډ ملنګ یو څو کلاو ته لاړ او په لوړ اواز یې ډوډۍ وغوښته او ډېره یې وموندله. بله ورځ داسې پېښه شوه، چې چلم زموږ په مخ کې پروت ورمات شو. له نېکه مرغه دا د هغه ګوډ ملنګ ګناه وه. نورو کلاو ته په رسېدو سره هغه په لوړ اواز د چلم غوښتنه وکړه، خو هغوی ورته برابر نه کړای شو او ده ورسره په زېږه اواز خبرې وکړې، نږدې وه چې ترک یې کړي، چې په دغه وخت کې یوه چا په ډېر ادب ورته وویل، چې یوه شېبه صبر وکړه، دوی به ورته غوښه او ډوډۍ راوړي. ماښام موږ هر یوه ته یوه کاسه ډېره ښه ښوروا له دوه وچو ډوډیو او له دوه ټوټو غوښو سره راوړل شوه. بله ورځ موږ یو لړ نورو کلاګانو ته ورسېدو، ملنګ دوی په لوړ اواز دې ته اړ کړل، چې چلم، تمباکو او ډوډۍ راوړي. بله ورځ ځینو کلاګانو ته نږدې یو څو ملایان راغلل او د بېلابېلو دیني موضوعاتو په اړه یې خبرې وکړې او له ځوانانو نه یې په کلکه وغوښتل، چې د لمانځه په اړه یو کوچنی فارسي کتاب د یو څو پیسو او اوړو په بدل کې ورته ورکړي. د شپې څه وخت، چې موږ په یوه جومات کې ویده وو، یو څو وسله وال کسان راښکاره شول، شور او ځوږ یې موږ له خوبه ویښ کړو او موږ په څه چل هغه جومات پرېښود او یوه بل جومات ته لاړو.

((بله ورځ څنګه، چې زه ناروغ وم او پښې مې تناکې شوې وې، نه مې شو کولای له هغو نورو دوو سره په داسې حال کې، چې چلم مې په لاس کې و، سفر وکړم. ګوډ ملنګ وغومبېده او په داسې حال کې، چې چلم یې زما له لاسه واخیست، دوی دواړه په بیړه روان شول. زه یو څه دمخه لاړم او څه وخت، چې مې یوه وړه غونډه خونه ولیده، پکې ننوتلم او پکې اوږد وغځېدلم. په داسې حال کې، چې تبې نیولی وم، د ماښام په لومړۍ تیاره کې یو سپور درانی له یوه پلي سره راننوت او چې زه یې ناروغ ولیدلم، رانه یې پوښتنې وکړې او هیله یې څرګنده کړه، چې که زه په پښو نه شم تللی، په آس به مې سپور بوځي. ما ورته وویل، چې زه په هېڅ حال کې د تللو نه یم. دوی راته وویل، هلته د غره په سر یوه چینه ده او د یوې ډېرې پربېړې ډوډۍ نیمایي یې راکړه، چې ما هغه وخت نه شوه خوړلی. د بلې ورځ په سبا هلته چینې ته لاړم او خوراک و څښاک مې وکړ. څه وخت چې یو بل پښتون راغی، د ډوډۍ پاتې ټوټه مې هغه ته ورکړه او زه روضې ته لاړم، چې له هغه ځایه مې د ملنګ تکیې ته مخه وکړه، چې دېوال یې نه لاره. ښکته پرته وه او یوه ښه لویه ویاله یې په منځ کې روانه وه. بیا زه د ښار بازار ته لاړم، چې کوڅې یې ډېرې تنګې او تړلې وې، یو څه

Property of ACKU

پیسې مې پیدا کړې، ډوډۍ، ښوروا او تمباکو مې وپېرودل او بېرته تکیې ته ستون شوم.

هغه ګوډ ملنګ او ځوان لازمه ګڼلې وه، چې بېرته ستانه شي او زه له هندوستاني ملنګ سره چې د حج پر لور روان و، اشنا شوم. دغه ملنګ وویل، چې دی لوټ شوی او له پیسو او څادر نه بې برخې شوی و. له ما سره یې زړه سواندي ښکاره کړه. دی دوه ورځې وروسته له یوه کاروان سره د ښار خوا ته روان شو، خو څنګه چې زما پښې تناکې او ژوبلې شوې وې، زه ورسره تللی نه شوم. د تکیې ملنګ یو اوږد بوډا هندوستانی و، چې د تارتاري یا ترکستاني په ډېرو برخو کې ګرځېدلی او چین ته نږدې تللی و او ډېره موده په غزني کې اوسېدلی و. دی ډېر زړه سواند او مودب و، ډېر کسان دده تکیې ته د چرس یا چلم څښلو لپاره تلل.

د هندوانو کورونه ښه لوړ او له لرګیو جوړ وو. د دوی څو تنه په ما ډېر مهربان وو، هر یوه یې درې_څلور پیسې راکړې، یوه یې یوه جوړه بوټان او درنګه بیستي (خمتا) واسکټ راوباخښه. غزني یو کوچنی ښار دی، چې په دېوال احاطه شوی او په منځ کې یې یو سرپوښلی بازار غځېدلی دی. دلته تر یوې اوونۍ ډېر اوسېدم او بیا دمخه ولاړم. ترڅو ماښام تاني ته ورسېدم. هلته خلک د یوه ناري په اړه سره غږېدل او زه په ترورېمی کې ورته ورسېدم. ناري په خلاصې هوا کې ورکړ شو او تر دېرشو زیات کسان ورته بلل شوي وو. ډوډۍ چې تیاره شوه کوربه مېلمنو ته خبر واستاوه، دوی ټول سره غونډ شول، یو ښه قوي اور یې بل کړی و، چې په هغه یې ځانونه تودول او اتڼ یې کاوه. وروسته بیا ډوډۍ خوړلو لپاره کېناستل، څه وخت چې زه ورسېدم، دوی یو څه وویل او په ورین تندي یې ماته د ډوډۍ خوړلو ست وکړ. لومړی یو تن له کوزې او چلمچي سره د لاس مېنځلو لپاره وګرځېد، وروسته بیا دوی بسم الله وویله او په خوړلو یې پیل وکړ.))

((ناري په لرګینو کاسو کې او ښوروا په خوړلو سره پیل شو. دوی ډوډۍ پکې وړه کړه او څه وخت، چې ښه لمده شوه، په لاسونو یې وخوړه. د لرګیو څمڅې هم راوړل شوې وې، خو د هر یوه لپاره یوه بېله څمڅې نه وه. ښوروا ډېره خوندوره وه او ښه مرچ او مساله یې لرله. د هرو دوو_درېو کسو لپاره یوه کاسه ښوروا راوړل شوې وه، غوښه د مېلمنو په لاسونو کې ورکول کېده، چې دوی هغه د ډوډۍ په کټ کې اېښوده. دوی ښه د زړه خوراک وکړ، هر یوه چې څومره خوړلی شوه، هغومره یې وخوړله. له ډوډۍ وروسته ټولو کوربه ته دعاګانې وکړې او برې یې وغوښت. ما هم همدغسې وکړل، ناري بس همدغه و. له ناري وروسته دوی چلم وڅکاوه، ځینې یې بیا رخصت شول او نور یې پاتې شول. زه په خپله رخصت شوم، مېلمستیا د شپې

Property of ACKU

په نهو بجو پيل شوه او يوولس بجې پای ته ورسېده. رڼا په اور سره خوره وه، ښځو په کېږديو کې ناری وکړ ((ښاغلی دوري نورو مېلمستياو ته هم لاړ، چې لږ و ډېر همدغسې وې، يوائې په دې توپير، چې په ځينو ځايونو کې غوښې د لرگيو په ښنکو کې اېښودل شوي وې، ځينې به يې رخصت شول او نور به يې تر ناوخته پورې په غورو بوخت وو، ځينو به يې سندرې ويلې)).

ښاغلی دوري ليکي، چې ((بله ورځ زه قره باغ او بيا اوبې ته لاړم. وروستي ځای ته ناوخته ورسېدم او کلاگانو ته، چې لاړم ورانې او لوېدلې وې. ټوله شپه مې د سړو او تندو بادونو له لامله ډېر کړاوونه وليدل. سهار وخوځېدم، يوه ودان کلي ته ورسېدم او دوډۍ او چلم راکړل شول. د مقر په لور، چې روان وم، يوه غښتلي ځوان په يوه ډانگ رابانډې بريد وکړ. ورېې پوښتلم او ورېې لټولم آن زما بوټان يې هم په ځير ولټول، خو ځنگه چې يې هېڅ څيز ونه موند، په گونډو شو او په خلاصو لاسونو يې له مانه بخښنه وغوښتله. ما د خير او برکت څه خبرې ورته وکړې او مقر ته لاړم. هلته مې د اوښانو او نورو يو کاروان وليد، دمه مې وکړه، چلم مې وڅکاوه او کلاگانو ته لاړم، خو پوره ډوډۍ مې ترلاسه نه شوه. په دې چې ډېر اوسېدونکي يې نه لرل، خو څه وخت چې بېرته کاروان ته ستون شوم، يوې ښځې زما حال وليد او بيا يې ډېر څه راکړل. بل ماسپښين دوی روان شول، زه هم ورپسې وخوځېدم، ځکه چې زه د دوی په قدم نه شوم تللی. له لارې نه يو ميل زياتې واټن لرې کلاگانو ته مخه کړه. هلته په تياره کې ورسېدم، ځينې کسان مې وليدل، چې د وريالې پر غاړه ناست وو او ورته مې ووېل، چې د ناروغی او ستومانۍ له لامله نه شم کولای کلاگانو ته لاړ شم. يوه د جومات په لور اشاره وکړه او راته يې ووېل، چې ډوډۍ به درته راوړم. زه جومات ته ننوتلم، له يوولسو بجو نه وروسته يو زنگوری د لمانځه د ادا کولو لپاره راغی. زه يې چې وليدلم، بهر ووت او يو څه ډوډۍ يې راته راوړه. څه د پاسه دولس بجې هغه لومړني سړي ته په ياد شوم او د يوې ډېرې پرېړې ډوډۍ نيمه ټوټه يې راته راوړه او ډېرې بخښنې يې راته وغوښتلې. هيله يې وکړه، چې ورته دعا وکړم، چې ايمان يې خطا نه شي. بله ورځ مې هلته تېره کړه او د غوښې، ښوروا او ډوډۍ ناري ته وبلل شوم. بله ورځ بيا د مخه ولاړم، خو ځنگه چې هېڅ يو کلا مې ونه ليدله، نه پوهېدم څه وکړم؟ ومې ليدل، چې يو سړی روان دی، ومې پوښته او هغه ووېل، چې يوه کمپ ته روان يم. دی په چټکی ولاړ، زه يې په پل روان شوم او هلته په تروږمی کې ورسېدم. ډوډۍ، چلم او نيمڅی مې د ملاستې لپاره ترلاسه کړل. هغې ښځې، چې نيمڅی راکړ، زما پښې يې وليدلې، چې تناکې شوې وې. يو څه غوړي يې راکړل، چې په پښو يې ومومښم او توصيه يې راته وکړه، چې څه وخت

Property of ACKU

وځنډېږم. ما هم هماغسې وکړل. یو جنګ پېښ شو، یوه پښتون چې ځوان سړی و، خپله توره واېسته، خو دی ونیول شو او جنګ زر پای ته ورسېد. بیا یو اتڼ وشو او پښتنو په یوې داېرې کې یو بل نیوه او په لوړ غږ یې سندرې ویلې: (وا، وا) یې ګاوه او ځانونه یې تاوول، لاسونه یې پړکول. یو زورور اور بل شوی و البته ماته هم په پوره خوښی بلنه راکړ شوې وه. په کاسو کې غوښه، ډوډۍ او ښوروا راوړل شوه. ((بل سهار مې بیا په سفر پیل وکړ او په کمپونو کې مې واړول. دوه ورځې موروسته مې یو بوډا بلوڅ ملنګ ولید، دواړه یوه کمپ ته لاړو، چې هلته یې له ټولو نه وروسته رابانډې بدلې وویلې او ډوډۍ او شرومبې یې راکړې)).

یو ځل یو څو پښتنو هغه بلوڅ او ښاغلی دوري په دې پلمه، چې غواړې یو کلی ورونیسي، له لارې بې لارې کړل. څه وخت چې یې له یو څو غونډیو واړول، په ډېره ځیرکتیا یې ولوټل او تر هغو یې پرېښودل، چې ځانونه یې ښه باوري کړل، چې کوم ارزښتناک شی ورسره نه شته. هغه بلوڅ یو څو کاغذونه لرل، چې هغوی ورته بېرته ورکړل.

ښاغلی دوري وایي، چې ((یو بل وخت وروسته له دې، چې په یوه خېل کې مو سباناری وکړ، داسې پېښه شوه، چې د شپې په تیاره کې ښکېل شو او په داسې ځای کې وغځېدلو، چې له یوه کمپ نه هومره لرې نه و، څنګه چې تپه تیاره وه او موږ ستړي ستومانه وو، موږ ورته تللی نه شو. یو څو پښتنو، چې زموږ غږونه واورېدل، موږ ته یې ځانونه راورسول. د دوی په مرسته زه هلته لاړم او هلته یې موږ ته ډوډۍ راکړه، اور یې بل کړ او د ملاستې لپاره یې کوڅې راکړل. ملنګ شودې وغوښتلې او هغوی ورته یوه زړه وزه ولوشوله او شودې یې ورته راوړې. بله ورځ، چې یوې ژرندې ته ورسېدو، یو څه اوړه مو ترلاسه کړل او لاړو. په ډېرې ځیرتیا له ځینو له خوا ولټول شوو، د پښو تنهاکو له امله زه وروسته پاتې شوم او یوې بلې ژرندې ته ورسېدم، چې هلته یوه پښتانه له ما سره ډېره ښه وضع وکړه. خپل خېل ته یې بوتلم، زما اوړه یې پاخه کړل او یو پرتوګ یې راوباخښه. ده لاهور او ډیلي لیدلی و او لږه هندي یې زده وه.

بل سهار روان شوم، دوه یا درې ورځې وروسته له هغه، چې په یوه خېل کې مو واړول، کلات ته ورسېدو، چې د یوې غونډۍ دپاسه پروت، خو وران ویجاړ او بې نفوسه دی. څنګه چې ما د خپل زاړه پرتاګه څو زړې ټوټې تر ملا تړلې وې، زیاتره وخت زه لټول کېدم. په خېلونو کې مو اړول. بیا شهر صفا ته ورسېدم، چې وران، ویجاړ او بې نفوسه و. یو ـ دوه ورځې وروسته ترورېمی ښکېل کړو، څنګه چې د سختو سړو بادونو له امله مو خوب نه شو کولای، ټوله شپه مو مزل واهه. په سبایي



Property of ACKU

ګومانه (Gomana) ته ورسېدو، چې یو وران ویجاړ ښاګوټی دی. له هغه ځایه یوې ویالې ته ولاړو، دمه مو وکړه، یو پښتون مو ولید، له سره یو لړ کلاګانو ته لاړو. خلکو له موږ سره ډېره ښهٔ وضع وکړه، خټکي او هندوانې یې راکړل. له هغه ځایه د ماښام د لړو په خورېدو سره کندهار ته ورسېدو او چارسوق ته ورننوتو او وروسته له هغه، چې افضل خان نانوای او اخندزاده او دوه ملنګان یې ولیدل، چې د سړک پر غاړه د اور په خوا کې ناست وو او چلم یې څکاوه، ورته مې سلام واچاوه. دوی وپوښتلم، چې څوک یم؟ ما ورته وویل، چې زه د هندوستان یم او د حج په نیت روان یم. آخندزاده رانه وغوښتل، چې کېنم، چلم یې راکړ او راته یې وویل، چې د هندوستان ملنګان په ټولیز ډول ډېر درانه خلک دي. دوی یو وړ وران جومات راته وښود او زه وروسته له هغه، چې د اور خوا ته کېناستم او چلم مې وڅکاوه، هلته لاړم او له دوې درېو ملنګانو سره ویده شوم.

په سبا هغوی ته لاړم، هغوی په یوه کوټه کې اور بل کړی و، چې یوې خوا ته یې یوه خونه پرته وه. اسلام خان او یو بل خان له یو څو نورو سره هلته حاضر وو، موږ چلم وڅکاوه. زه چارسوق ته لاړم او یو څه ډوډۍ مې واخیسته. له هغه ځایه د ملنګ تکیې ته لاړم او هلته مې ډېر درانیان، نور مغول او پښتانه ولیدل، چې ناست وو او په هغه پراخ بڼ کې یې غوړې کولې او چلم یې څکاوه. ما هم وڅکاوه او یو څه پیسې مې ترلاسه کړې. په چارسوق کې مې ښوروا او ډوډۍ وخوړه او له تمباکو سره بېرته نانوای ته لاړم. له نورو سره د اورغاړې ته کېناستم، چلم مې وڅکاوه، غوړې مې وکړې او د ملاستې لپاره هغه واړه وران جومات ته لاړم.

یو څو ورځې وروسته د نانوای یوه وراره، چې ښه ځوانکی و، د نانوای په هدایت یوه مشوانۍ او د لیکلو څیزونه راته راوړل. له هغو سره یوه آخند ته لاړم، چې د شکارپور په بازار کې یې ځانله یو ښوونځی لاره او د بلوچستان و. له ما سره یې ډېر لطف وکړ. یو وخت داسې پېښه وشوه، چې زه په یوې جګې چوترې ناست وم او مشوانۍ چا غلا کړه. زه اړ شوم، چې اتلس پیسې (نږدې نهه پنسه) د هغه تاوان ورکړم. نږدې دوه میاشتې له یخنۍ نه وربرېدم، خو څنګه چې د شپې زیاته برخه مې په نانوایۍ کې د اور پر غاړه تېروله، ژوند ته مې نسبتاً ارامۍ سره دوام ورکړ. یوه ورځ د یوه زین پلورونکي په دوکان پېښ شوم او هغه ته مې د خپل سفر کیسه وکړه. هغه وروسته له هغه یوه درانه خان ته ولېږلم، چې ښه انسان پالونکی و. ده پوستین راوباخښهٔ، چې په هغه کې څملاستم او ځان مې تود ساته. یوه شپه، چې ډېر ناوخته روان وم، د هندوانو یو څو سپیو په ما حمله وکړه او زما پوستین یې څو ځایه څیرې کړ. ما د هغه په پیوندولو یو څو پیسې ولګولې، بیا مې دلته او هلته د



Property of ACKU

ډېرو خلکو په منغ کې وخت، تېر کړ او دوی زیاتره په ما انګرېزي بدلې ویلې، چې ښکارېده دوی یې ښه خوښول.

((د مسلمانانو، هندوانو، کسبګرو او نورو بېلابېلو دکانونو ته تل پښتانه درانیان یا مغول ځي او دغه دوکانونه تل ډک وي. یوه شپه د یوه هندو په دوکان کې ناست وم، چې واورې په اورېدو پیل وکړ. هندوانو رانه وغوښتل، چې پاتې شم او دوی اور او ډوډۍ راوړه. درې شپې سر په سر سخته واوره واورېدله. درې_ څلور ورځې وروسته هوا صافه شوه او لمر وځلېده. بیا نو ما ځان ډېر ښه حس کړ. هغه وخت، چې اسمان ورېځو تیوه او سړو بادونو په چلېدو پیل کاوه، ما ځان ناروغ او نارام حس کاوه، خو دا چې په اور سره تودېدم، خوښېدم. همدا چې لمر په ځلېدو پیل کاوه. مسلمانان او هندوان د هرې جمعې په ورځ ډلې ډلې زیارتونو او د میلې زړه خوښوونکیو ځایونو ته تلل. په همدې ډول دوی به په نورو ورځو کې ډېرو ښکلیو باغونو، د خوړو ځایونو، نانوایانو، کلچه پلورونکیو، مېوه پلورونکیو، خواړه پلورونکي هټیو، سندرغاړو او نورو ته تلل او لږ و ډېر به د وخت په غوښتنې سره په هغو ګرځېدل. زه څو ځله خوجه خضر، عباس اباد او بابا ولي ته لاړم، چې هر یو یې ونې، ویالې، غونډۍ او غرونه لري او ښه زړه خوښوونکي او منظره لرونکي ځایونه دي. زه یوازې کله کله کورونو ته تلم، شپې_ اوو ځله مې د دوی د ځینو یو څو اپارتمانونه ولیدل، چې په عجب او ډېر پراخ ډول سره جوړ شوي دي. خلکو خپل وخت په خوښۍ او ورین تندي تېراوه او دوی که څه هم جګړه مار دي، یو له بل سره کله کله د دښمنۍ په روحیې جنګ کوي. څو ځله مې ولیدل، چې مسلمانانو له هندوانو او مسلمانانو له مسلمانانو سره ناندرې وهلې. دغه پراخې د خولې جګړه وه، په ځینو کې یې سوکونه وار شول او غېږې ونیول شوې، خو یې له وینې تویولو یا د کوم یوه له مرګ پرته پای ته ورسېدلې. درې_ څلور ځله پښتانه داره ماران، چې نسونه یې لوڅ وو، په کوڅو کې وګرځول شول، دوی د اوښانو په غاړو پورې ځوړند شوي وو او یوه سړي د ډول په وهلو د دوی د جزا لامل وایه. وروسته له هغه دوی د یوې ورځې لپاره په چارسوق کې په دار وځړول شول.))

(( یوه شپه ډېر دمخه د هغه، چې واوره ورېدلې وي، کتل مې چې کورونه او دوکانونه لږ څه رڼا شول. د هغه لامل مې، چې وپوښته راته وویل شول، چې شاه محمود پېښور نیولی او شجاع الملک تښتېدلی دی. له روژې وروسته د اختر په لومړۍ ورځ شاهزاده کامران، چې ځان یې عموماً په خپلې کلا کې ګوښه نیولی و، د ورو له ښي اړخ نه چې د کابل ورو په نامه یادېده، یوه پراخ میدان ته ووت، چې په غرونو سره یې موقعیت ښه کلک و. له ده سره سواره هم ملګري وو او دوی د منډې په



Property of ACKU

حال کې په خپلو پلټنه ییزو توپکونو ډزې کولې. ډېر سړي او ډېرې مخ پټې ښځې ننداري لپاره ورغلي وو. کامران خپلې کلا ته په یوه نږدې ځای کې اړولي وو، چې د وریجو دوه درې لوی دیګونه پاخه شي او خلکو ته ډوډۍ ورکړ شي. زه هم ورغلی وم، همدا چې ومې لیدل، چې څو تنه ووهل شول، زه بېرته ستون شوم. بله ورځ مې د هغه د سورو لیکه ولیده، چې دی یې په سر کې روان و او په ځان ښه غټ او قوي معلوم شو. له دوی سره اوږده بېرغونه او اوږدې سانګې وې او له چارسوق نه تېر شول. دوی د کوم زیارت کولو یا تفریح کولو او هوا خوری نه بېرته ستانه شوي وو. ما په کوڅو کې دوه ـ درې ځله په اوښانو او اسونو سواره سړي، هلکان، ښځې او نجونې د واده په وراګانو کې ولیدلې، چې په اسونو سورې وې. مخ کې او شاته یې ډولونه ډهل او توپکونه یې وېشتل. کله به چې ما شپه په نانوایی یا هغه وران کور کې تېروله، کله کله مې له هغو دوو خانانو څخه یو لیده، چې د شپې یا د ورځې به راته، رباب به یې ترنګاوه او د نانوای په ملګرتیا به یې په ډېر جوش سره سندرې ویلې. په همدې ډول ملنګان او نور هم راتلل. د شپې یا د ورځې به یې سندرې ویلې، غورې یې کولې، خو دوی تل نه راتلل. ما هندوان او هندوی هم، چې نږدې اوسېدلې، ولیدلې چې د شپې به یې ټنګ ټکور په بېلابېلو الاتو سره زیاتره وخت سندرې ویلې. کله کله به د همدغه ځای د سړیو او ښځو مسلمانانو غږونه هم اورېدل کېدل. څه وخت چې به هندوان د مېلو ځایونو ته تلل، دوی به له ټنګ ټکور سره بدلې ویلې یا به یې دواړه نڅا کولو سره یوځای کول. دوی په ښارونو کې څو درم سرایونه (Dharum Seroy) لري، چې هلته زیاتره وخت د عبادت، سوداګری یا ساعت تېری لپاره ځي.))

څه وخت، چې هوا توده شوه، تیروت داس (Teerut Doss) او نور هندوان مې د خپل بېرته تګ له عزم نه خبر کړل. د دوی مشوره دا وه، چې زه پاتې شم او راته یې وویل، چې دوی به له ما سره مرسته وکړي، چې په هغې سره زه د ځان لپاره یو څه وکولای شم، خو څنګه چې زما د تګ نیت ټینګ و، دوی یو څو پیسې راکړې. مسلمانانو هم له یوې روپۍ نه ډېرې راکړې او ما مرچ، ګوړه او وچې وڅکې رانیول او د کابل وره په لور وخوځېدم. زه چې تېرېدم، هغه نانوای مې ناست ولید او ویې غوښتل، چې زه پاتې شم او لاړ نه شم، چې خدای مه کړه ټپي یا مړ نه شم. یو څه موده شوې وه، چې دی وزګار و، خو یو څه سپما یې لرله او هم یې ځینې خپلوان په کوم کسب بوخت وو. دی ښه هوښیار او د ښه نیت خاوند و، خو یوازې کله کله یې لمونځ کاوه. اخندزاده او هغو نورو ملنګانو هیڅ لمونځ نه کاوه او سربېره پر دې یې په روژه کې په خپلې ځالې (پسخانې) کې چلم هم څکاوه)).

Property of ACKU

ښاغلی دوري وروسته له هغې، چې له کندهار نه روان شو، شپږ مزله دمخه ولاړ. په ټولیز ډول د عامه خلکو له خوا کله کله لټول کېده او کله ورته ډوډۍ ورکول کېده. ځینې وخت خانانو، هلکانو او ښځو هم همدغسې چلند ورسره کاوه. دی له دغه ملک نه ډېرې لږې خبرې کوي، په ټولیز ډول دومره گرځېږي، چې په تللو او بېرته راتللو کې له کمپونو سره د ملگرتیا لپاره یې له لویو لارو نه لرې شمال اړخ ته د غرونو په لمنو کې اړول او هلته لکه څنگه چې دی وایي:(( د ستاینې وړ وطن او زړه راښکوونکې لاره)) شته دي.

یوه ورځ، چې دی یوې ژرندې ته لاړ او ورته مشوره ورکړ شوه، چې یو څه وړاندې یوه ځای ته ورشي، چې هلته یو څو واړه خانان اوسېږي ((دوی د یوه ځای په لور اشاره وکړه، چې هلته ونې، ویالې او پالیزونه وو او هلته د دوی له آسونو او نوکرانو سره دوه غوښتلي، په ونه جگ او تکړه ځوان خانان او دوه ملایان (یو یې بوډا سپین ږیری و) ولیدل. دوی په ډېر ادب له ما سره وگړېدل او د چلم څکولو لپاره یې تمباکو راکړل. ښوروا، چې تیاره شوه، بوډا ملا راته غوښه او ښوروا راکړه. خان د غوښې یوه غوټ بوټی او د هغې نه یو څو دقیقې دمخه په تناره کې یوه پخه شوې لویه ډوډۍ راکړې وه. دوی په خپله له خپلې ښوروا او غوښې سره ډوډۍ هیڅ ونه خوړه او چې ناری یې وکړ او چلم یې وڅکاوه، مخه ښه یې وکړه او رخصت شول. زه هم چې په تیاره کې روان وم، یوې ژرندې ته ورسېدم، ژرنده گري یې ور پورې کړ او ماته یې د ننوتلو اجازه رانه کړه او خوښه یې په‌دې کې وه، چې زه یو بل نږدې ځای ته لاړ شم، خو ما ونه منله او په نرمه لهجه او اعتراضناک ډول مې ورسره خبرې پیل کړې او ورته مې وویل، چې زه باید اورمرو د شپې ځای ولرم. په پای کې ما ورته خپل یو گوډی وړاندې کړ، چې هغه واخیسته او ماته یې دغه کړاو راپه برخه کړ، چې ورسره ستون شم. خو ډېر اور یې راته بل کړ. په سبایي ماته د یوه خېل په لور اشاره وکړه. نږدې درې کوسه[1] (Coss) په غرونو کې مې مزل وکړ. یوه لوی خېل ته یې بوتلم، هلته بله ورځ پاتې شوم او ماته په ډېر ورین تندي ډوډۍ، شړومبې او تمباکو راکړل شول. څو تنو یې وویل، چې دوی به د څو ورځو لپاره زما ساعت ډېر ښه تېر کړي، خو سخت وختونه وو. له هغه ځایه بیا یو څه لرې بل خېل ته لاړم، هلته ډېره ښه وضعه راسره وشوه، یو څو ورځې وروسته له یوه خېل نه بل خېل ته لاړم، ترڅو ماښام نانې ته ورسېدم.))

ښاغلی دوري له دغه ځایه غزنې ته لاړ، په لاره کې یې د خپل سفر یو پخوانی ملگری، هغه گوډ ملنگ ولید او هغه ورته وویل، چې دی نږدې بغداد ته رسېدلی او

[1] له یو نیم څخه تر درېو میلو پورې د واټن واحد، چې په هندوستان کې معمول دی. ژباړن.

Property of ACKU

بيا ستون شو.

ښاغلی دوري په غزني کې اته ورځې د يوه ملنګ په تکيه کې پاتې شو، هلته يې ((يو تارتار ملنګ وليد او هغه ورته وويل، چې ده د فارس، سوريې، قسطنطنيې، عربستان او مالتا ډېرو برخو ته سفر کړی دی او په خبرو کې يې د خپل سفر شواهد ورکړل. داسې ښکارېده، چې دی يو ډېر مودب شخص و.))

په غزني کې ده يو تن وليد، چې له څو مسافرانو نه يې يو خر غلا کړی و او درانيو په داسې حال کې، چې لاسونه يې تر شا پورې ورتړلي وو، راوستی و. ښاغلی دوري وايي، چې: ((يوه شپه د حاکم کره لاړم، چې په بالاحصار کې اوسېده. هغه وخت، چې دی له خپلو څو سورو او پليو نوکرانو سره په اس سور راغی، زه ورته وړاندې شوم او مرسته مې ورځنې وغوښتله. هغه زما د اصلي ځای پوښتنه وکړه او ما ورته وويل، چې له هندوستان نه راغلی يم. ده نو بيا په ټوکو وويل، چې ته بايد ماته يو څه شی راکړې، خو ده له مانه وغوښتل چې وځنډېږم او هغه وخت، چې دی بېرته راغی، يوه سواره نوکر يې يو څو پيسې راکړې. زه لاړم، چې د سلطان محمود د مړستون زيارت وکړم. دغه مړستون يوه ګنبدي ډوله مانۍ ده، لوی ور لري، له سپينو مرمرو نه جوړه ده او عربي ليکنې پرې کښل شوي دي. د قرآن يو څو آيتونه هم ورباندې ليکل شوي او ډېر خلک په پرله پسې ډول د هغه زيارت ته ورځي. په حويلۍ پورې يې ترلې ښکلی او ډېرې کوټې هم لري، چې په ښه او عجب ډول ښکلې شوي او څو د پړانګانو او سورو د تېرو تصويرونه پرې د پاسه ايستل شوي دي.))

د غزني نه چې دی روان شو، د شهاب الدين کلي ته ورسېد ((چې هلته ډېرې ښکلې کلاګانې د اوبو رنې وياله او له غرونو لاندې دره کې ډېر اعلی شنه کښتونه ليدل کېدل.)) يو خان مې وليد، چې يو پلته ييز ټوپکړي په لاس کې و او له ما سره په ډېره نرمه لهجه وګړېد او راته يې وويل، چې کابل ته د التمور او للندر په لارو لاړ شه. التمور ته ماښام ورسېدم ((له ما سره ډېره ښه راشه درشه وشوه، له هغه ځايه د هغه نري سيند پر غاړه لاړم، چې د دوو تنګو غرونو ترمنځ ډېر ګړندی روان و. لاندې يې شنه کښتونه او د مېوو پرېمانه ونې ولاړې وې. په تياره کې يوې کلا ته ورسېدم، چې د يوه آخوند وه او دی يو ښه مهربان سړی و.))

دغه لاندې پېښه کابل ته د تلو په لار کې وشوه ((يو ماښام يوه خېل ته ورسېدم، هلته مې وليدل چې يو څو تنه په دغسې يوه ځای کې، چې شاوخوا يې تېږې ايښودل شوې وې (چې دوی په دغه خېل کې ورته جومات وايي) لمونځ کوي. زه هم ورغلم او هغسې څه مې وکړل، لکه دوی چې کول. دوی راته ځير شول او چې

Property of ACKU

څنګه له لمانځه خلاص شوم، ټولو وخندل. په دې چې ما لمونځ سم نه شو کولای. ما ملا ته یو څه عذرونه وړاندې کړل او دې چې د ښه خوی خاوند و، له ما سره یې ښه وضع وکړه او د درملو په اړه یې وپوښتلم. ما دوه ـ درې لمونځ وکړان خلک به چې راتلل راپورې به یې خندل. ما به ورته وویل، چې څه مې چې په وس کې وو، هغه مې وکړل.))

دی په یوه ځای کې، چې للندر نومېږي، د ځینو کلاو ښکلا او پرتم ته حیران پاتې شو، چې د هغو ساری یې هېڅ نه و لیدلی. دی لیکي:(( دغه کلاوې بې سارې وې او ډېره ستونزمنه ده، چې بیان یې وکړم، خو دا چې انځور یې وړاندې کړم. په یوه لوی جومات کې ویده شوم، نورو کلاګانو ته لاړم، سباناری مې وکړ او د یوه هسک غره د پاسه مې یو وړوکی کور ولید، چې دوی د زمان شاه د پای تخت په نامه یاداوه. د سلطان بابر د سپینو تیږو یو وړ جومات له هغه نه دومره لرې پروت نه دی. یوه ورځ زه هلته لاړم، خو د ننوتلو اجازه رانه کړای شوه. له هغوی نه یوه په اس باندې سپور ستنېده، اس یې وځغاستل او هغه ځوړند شو او نور یې مرستې ته ورورسېدل. کابل ته په رسېدو سره یوه درانده سړي مېلمه کړم، ډوډۍ او پلاو یې راته راکړل. د دغه ښار په یوه جومات کې ویده شوم. په سبا یې په لاهوري دروازې کې یوې تکیې ته لاړم، هلته هغوی له مهربانۍ نه ډکه وضع راسره وکړه. هلته تر شلو ورځو ډېر پاتې شوم او د شپې له خوا په جومات کې ویدېدم. که څه هم مشر ملنګ به راته زیاتره ویل، چې په هغې تکیې کې ویده شم. هره ورځ بازار ته تلم، کله کله به مې په ډېرو ښو اسانو باندې لویان سپاره لیدل، چې رنګه جامې او لنګوټې به یې په ځان وو او په داسې حال کې، چې ډېر پلي کسان به یې د مخه تلل، دوی به تېرېدل. کله به، چې دوی په تکیې یا نورو ځایونو کې ګرځېدل، زیاتره به یې زه پوښتلم، چې زه څری (جاسوس) یم. په یوې تکیې کې یو ځیرک سړی په دې پوه شو، چې زه سنت شوی نه وم، خو ده او نورو خپلې خولې چوپې وساتلې. هلته او په جومات کې به د فرنګیانو (اروپایانو) په اړه ځینو سره د بحث کولو په وخت کې ویل کېدل، چې ډېر عادتونه یې د قرآن او له نصوصو سره سمون لري، خو د معقولو شرایطو له لامله معقول ابداعات منځ ته راغلي دي، چې له هغو سره دوی موافقه لري او رضایت پرې ښکاره کوي. یو ماښام، چې مشر ملنګ نه و، نورو ته مې سلام واچاوه او په وتلو مې پیل وکړ. په دغه وخت کې دی راغی او راباندې یې غږ وکړ، زه ورستون شوم او ورته مې وویل، چې زه تلونکی یم او هغه راته دعا وکړه. په تیاره کې بتخاک ته ورسېدم.))

شاغلی دورې له وړو کاروانونو سره د پېښور په لور روان شو. په یو ځل چې له



Property of ACKU

نورو نه وروسته پاتې شوی و، له دغې پېښې سره مخامخ شو:((څه وخت، چې یواځې روان وم، له یوه ځوان پښتانه سره مخامخ شوم، چې یوه لویه پېش قبضه او ماشه یې ټوپک ورسره وو. ورنه مې د گندمک د فاصلې پوښتنه وکړه. هغه وویل، چې د یوه شاهي مزل په اندازه لرې دی او بیا دی لاړ، خو وروسته یې زر نارې کړې، چې زه ودرېږم. ما اطاعت وکړ، له مانه یې وغوښتل، چې غرونو ته ورسره لاړ شم او ویل یې، چې زه جاسوس، جادوگر، کیمیاگر یا د فارس یم. ما ورته وویل، چې زه هندوستانی یم. د پېش قبضې په لاستي یې په کلکه په ورانه ووهلم او څو ځلې یې ټېل وهلم، تر دې چې له مانه وینه وبهېده. ده بیا له مانه بخښنه وغوښته او پېش قبضه یې په تیکې کې دننه کړه.))

((یوه بله ورځ له لویې لارې نه خطا شوم او د غرونو په منځ کې دمخه ولاړم او څو ځلې لاره په مخکې بنده وه. ددې لپاره چې دې ته اړ شوم، چې په لوړو گټو وخېژم او ترېنه کوز شم. شپه مې هلته تېره کړه او د سهار د لسو بجو په شاوخوا کې د یوه غره سوري ته ورسېدم، چې هلته څو پښتانه ناست وو. دوی اوبه، ډوډۍ او چلم راکړل او لنډې خانه یې راته په گوتو کړه، چې ښه هسکه وه.)) له هغه ځای نه دې پېښور ته لاړ او بې له خطرناکو پېښو نه له اباسین نه تېر شو. دغه لاندینی لیکنه د ښاغلي دوري له درېو لیکنو څخه یوه ده، چې ده مخکې له دې، چې زه ورسره وگورم، لیکلې وه. په دغو لیکنو کې دده ټولیز افکار ځای شوي، چې زیاتره یې زما په فکر سم او ځینې وخت د یوه شخص لپاره، چې دغسې ژوند کوي، ډېرې درندې معلومېږي.

((هغه غرنی سیمې، چې د اټک، پېښور، کابل او کندهار په شاوخوا او له کابل نه هغه خوا د بلخ پر لور او له کندهار نه هغه خوا د هرات خوا ته پرتې دي، د خراسان په نامه د پښتنو ملک دی. پښتانه بېل، بېل قومونه او بېل بېل نومونه لري او دوی تر هغو، چې یا په زور یا په پیسو سره پوره ایل نه شي، یو له بل سره مخالف وي. څنگه چې احمد شاه او تیمور شاه پوره نېکمرغه وو، چې لوی پوځونه یې ساتلي وو او په هغو سره یې بهرنی سیمې ونیولې. دوی په خپله خوښه ورته تسلیم شول (که څه هم دغو پاچایانو پوره زور لاره، چې په زیاتې اندازې یې لاندې کړي) او په دغه کار سره یې گټورې بوختیاوې خپلې کړې، خو سره له دې هم څرگنده ده، چې یو زړور منظم پوځ چې د خوړو شیان ولري، دوی ټول په پوره ډول لاندې کولای شي. د گوډ تیمور مغولي نژادو پاچایانو دوی پوره ایل کړي وو او د شاوخوا غرونه نظر دې ته، چې ډاروونکي یا مضر وي، ډېر مساعد وو. درانیان د کندهار په شاوخوا کې اوسي. که څه هم په اوسني وخت کې ډېر یې هلته نه شته. په دغو وختونو کې چې د

Property of ACKU

دوی پاچایان د برتیو سیمو له لاندې کولو نه عاجز دي، د درانیو نوم له برم نه لوېدلی دی او ډېر قومونه مالیات او باجونه، نه ورکوي. د پاچایانو او سردارانو ټول تابعان له درانیو څخه نه دي، که څه هم دوی په همدغه نامه یادېږي. دوی په خپلو سیمو کې له لوټلو سره مینه لري او دا ځکه، چې دوی اوس دومره نېکمرغه نه دي، چې د خپلې توري هیبت په باندنیو ملکونو کې خپور کړي. د احمد شاه او تیمور شاه ملکونه ښۀ پراخ وو او په دغو ملکونو کې دوی ښه شتمن شول، خو دوی له فتح کولو پرته بل فکر نه لري. دوی د زیار او زحمت د ګټو او فنونو له لارې د شتو د ګټلو هیله من نه دي. که څه هم دوی یې سخت لېوال دي، دوی شته د توري په زور غواړي، خو په دغه اړه یو څو ټکي باید په نظر کې ونیول شي. څنګه چې دوی د چا پیرو غونډیو او غرونو په مېنځ کې ایسار او محاط دي او څنګه چې شاوخوا ته یې ډېر او قوي عنعنوي مخالفان پراته دي، چې دوی یې زیاتره وخت لاندې کړي دي. د دوی ملک د یوه ولایت په څېر نیول شوی، دوی هم خپلې وسلې لرې ملکونو ته غځولي دي. داسې فکر کوي، چې د دوی دین تر نورو ادیانو ډېر ښه او ډېر حقیقي دی. په نتیجه کې نور د دوی په فکر په خطا روان او بې لارې دي او هیله کوي، چې په پای کې به د خپل عالي حقانیت له لامله نور ټول لاندې کړي. دوی که څه هم له یو بل سره جنګ کوي او څنګه، چې دوی سني مسلمانان دي (ترکانو، تارتارانو او عربانو په څېر، چې د فارس خلک بې لارې بولي) دوی د دښمنۍ له هغې درجې نه ډډه کوي، چې ممکن په خپله د دوی په نابودۍ او تباهۍ تمامه شي. دا چې دوی فکر کوي د دوی دین تر نورو ډېر ښه دی، بې له شکه دا د دوی خپل قصور نه دی، ځکه چې دوی ته په لومړي سر کې په کلکه ویل شوي، چې همدغسې وګڼي. که څه هم لومړی دوی ممکن دا وغواړي ټول انسانان مسلمانان کړي، خو له همدغو سره د مینې له امله د زغم روحیه دوی ښه فعال کوي، ځکه چې د دوی زیات شمېر په یقین سره ازاد، سخي او زغمونکي دي. د هندوستان ملنګان او نور، چې د دوی ملک ته ځي، په خپلو زحمتونو کې نه ناکامېږي، چې دوی په خطا او عجیبو تصورونو باندې معتقد کړي او دوی پوره ضعیف دي، چې هغوی ته تر زیاتې اندازې اعتبار ورکوي. د دوی په فکر د پنګال خلک پوره جادوګران او اروپایان (چې دوی یې هوښیار، عاقل او عادل بولي) کیمیاګران دي، چې د سرو زرو د جوړولو په فن ښه پوهېږي. څنګه، چې ما زیاتره هغوی ته ویل، چې زه د بنګال یم، دوی له ما نه ډېرې پوښتنې کول او ربړولم یې او داسې یې سوچ کاوه، چې زه به له دغو فنونو سره اشنا اوسم. څنګه چې ما به کلمه طیبه تکراروله او که څه هم زما جامې شکېدلې وې او دوی به زیاتره په ما ددې خیال کاوه، چې زه په خطا روان یم، ځکه چې ما لمونځ نه

Property of ACKU

کاوه. سره له دې هم دوی زما په مسلمانۍ پوره قانع وو او دا خیال یې نه لاره، چې ما په زحمت کړي. یا له ما څخه د اعتدال له حد نه زیاتې پوښتنې وکړي.

مساپر او لاروي که هندوان وي، که مسلمانان، د دوی له ملک نه بې خطره تېرېږي او دوی ورته خواړه ورکوي، خو که له دوی سره کوم ارزښتناک شی وي، هیڅ تېرېدلی نه شي، ځکه چې په دوی کې د حکومتي دسپلین یا تنظیم څرک نه شته. دوی زیاتره څرګندوله، چې څه وخت چې هلته مغولي حکومت موجود و، خلکو ممکن بې له ډار یا خطر نه د ښارونو له لارې په ښکاره طلاوې له ځان سره وړلې.

حکومت اوس د پښتنو په لاس کې دی، دوی ټول د پښتنو بېلابېل قومونه دي او درانیان یې تر ټولو قوي دي. هغه نور قومونه چې په همدغه نامه یادېږي، د ښه چانس په برابرېدو سره په خپله خوښه ورسره یوځای کېږي، ځکه چې د بېلابېلو قومونو مېړونه، چې له فاتحو پاچایانو یا سردارانو سره ملګرتیا کوي، همداسې یادېږي او دوی ټول د خراسان سني پښتانه دي.

د ښارونو ښه ډېره برخه، چې هټیوال، کاسبان او داسې نور دي، پښتانه، نه دي او له نورو نسبونو څخه پیدا دي. په پېښور کې د مسلمانانو یوه ډېره لویه برخه ښايي په یو راز هندوستانۍ ژبه ګړېږي او د پښتنو له جامو او نورو پرته بېلابېلې جامې اغوندي. که څه هم دوی لږ و ډېر په پښتو پوهېږي، د دوکانونو ډېره برخه د هندوانو په لاس کې ده. په همدې ډول ډېر شیعه او پارسیوان بزازان او نور هم پکې شته او د هغو له ډلې څخه ډېر کسان، چې قزلباش نومېږي، د پاچایانو او لویو سردارانو نوکري کوي.

«دغه ملکونه اوس د بېلابېلو پښتنو سردارانو په لاس کې دي، دوی یو تر بله سره مخالف دي. په دې، چې په لومړي سر کې د یرغل کولو یا فتح کولو لپاره شتمني ترلاسه کولی نه شي او که یې کولای شوای، دوی به په خپله رضا او خوښې سره په نېکمرغه مشر او سروال پسې روان وای. دوی زیاتره داسې خبرې کوي، چې انګرېزان غواړي دوی لاندې کړي او ډېر یې په ډاګه وایي، چې اورومړی یې نیسي. ډېر یې داسې وایي، چې نظر دې ته، چې انګرېزان یې په درې یا څلورو زرو مېړو سره لاندې کړي، ښه به دا وي چې سکان یا مرهټه یې په شپږو لکو مېړو لاندې کړي.

د خراسان ملکونه، چې د پښتنو لږ و ډېر بېل بېل غښتلي قومونه پکې اوسي، ټول سنیان دي، په پښتو ګړېږي او بېلابېل سلوکونه یې د خوښې وړ دي. دوی زیاتره وخت د نورو قوي امپراتوریو له خوا د یوه ولایت په توګه نیول شوي دي، خو په دغو قومونو کې هیڅ یو هم په څرګند ډول داسې قوي نه ښکاري، چې هغه نور



Property of ACKU

پوره خپل تابع وګرځوي او کله چې بخت یاري وکړي، دوی په اتفاق سره بې له دې، چې اجباري یې راوبولي، له بریالي قوم سره د خپلې مرستې لاس غځوي. خو دوی په دغو وختونو کې نه کوم اتحاد، نه کوم منظم پوځ، نه کوم حکومتي تنظیم او نه کوم ملي حرکت لري، چې د یوه درانده ملت په توګه وګڼل شي. سره له دې هم دوی په خپل ملک کې په اړونده خېلونو کې ډېر ښه خوښ او منظم دي.))

((دوی هیڅ منظم پوځ نه لري او ټول یې په ښه نظم کې نه دي. دوی نه شي کولای له توپ نه کار واخلي او څنګه چې د کابل او کندهار لارې بې دفاع دي، هر راز خلک لوټل کېږي. که څه هم د لار شاوخوا غرونو ته ورتګ نه کېږي، توري کېږدۍ به په دغه یا هغه ډول درولی کېږي، خو هغه یو بل ته نږدې دي او په ټولیز ډول د ځمکې له څرنګوالي سره سمې دي.))

((د دوی اوړه یا غنم او نور شیان په غونډیو یا انډیو کې ساتل کېږي. دوی یو څه سامانونه او راحتي شیان هم لري. دوی د ډوډۍ پخولو لپاره د اوسپنې یا تیږې تبۍ لري. دوی تنورونه هم لري. دوی په ټولیز ډول ډوډۍ او وریجې له شرومبو، شیدو او کله کله د غوښې له ښوروا سره خوري. دوی د لم واړه ډېره استعمالوي او وزې لري. د دوی ښځې ډوډۍ پخوي، پخلی کوي، اوبه راوړي او داسې نور کارونه کوي. دوی اوبه د څرمنې په ژیو کې راوړي او ساتي.

دوی خوښ او په ځان ښه پټ معلومېدل. دوی د سارانیو مېلمنو ډېر عزت کوي. تمباکو یې خوښ دي، خو هغه وخت چې زه هلته وم دوی ډېر تمباکو نه لرل. کله چې په ډېره کې ناست وي، هر یو یې چلم ته یو یا دوه پوکه ورکوي. کله چې وخت او موسم ښه وي او دوی ډېر څه ولري، په دې خوښېږي، چې خپله مېلمه پالنه څرګنده کړي. څنګه چې په دوی کې د کوم تنظیم منظم څرک نه شته، هیڅ یو کس چې کوم قیمتي څه ورسره وي، له ساتونکي پرته نه شي تېرېدلای. دوی د لمانځه په ادا کولو کې منظم دي. په ښار کې یو څوک کولای شي بې د لمانځه ادا کولو نه هم تېر شي، خو د دوی په خېلونو، سیاه خانو یا تورو کېږدیو او کلاګانو کې هیڅ څوک له پوښتل کېدو نه خلاصېدلی نه شي.

د ښاغلي دوري له هغو دوو پاتې لیکنو څخه یوه یې د پنجاب پر لور دده د سفر په اړه او هغه بله یې سند ته د هغه د سفر شرح وه. دغه وروستی له هغه نه، چې دلته ذکر شوه، ډېره لنډه ده خو له هغې نه یو څو لنډې لیکنې زما په متن کې راوړل شوي دي.

❋ ❋ ❋

Property of ACKU

# دريمه ضميمه

## دځينو ګاونډيو ملکونو بيان

### کافرستان

دوی که څه هم د کابل د پاچا په سيمو کې شامل نه دي، زه ددې کوم عذر نه کوم، چې د کافرو شرح کوم يا د هغو څو حقايقو بيان کوم، چې د بدخشان او قاشقار په اړه مې راټول کړي دي. دا هغه ملکونه دي، چې په اروپا کې يې يوائې نومونه اورېدل کېږي.

دغه لاندې عبارات د هندوستان د نقشې په اړه د رينل (Rennel) له ليکنې نه رااخيستل کېږي:

(( تر دغې ورځې پورې يو خاص قوم په اوسني باجوړ کې اوسي يا لږ تر لږه په نږدې ماضي کې اوسېده او ادعا يې کوله، چې دوی د ځينو هغو کسانو اولاده دي، چې د فاتح (اسکندر) په پوځ پورې اړه لري او هغوی د دوی په فکر د هغه د تېرېدو په وخت کې هلته پاتې شول. ابو الفضل او سوجن رای (Soogun Rae) دواړه دغه روايت بې له کوم اساسي اختلافه راوړي. په واقع کې وروستی اضافه کوي، چې دغه اروپايان (که موږ يې په دغه نامه ياد کړو) په خپلو ګاونډيو باندې هغه لوړوالی تراوسه هم ساتي، چې فکر کېږي د دوی نيکونو په هغه وخت کې لاره، چې دوی هلته مېشت کېدل.[1]

ممکن په اسانۍ سره دا وګڼل شي، چې کابل ته ددغه هيئت د سفر په وخت کې دغه ليکنه مو د ډېرې پاملرنې وړ شوه او موږ لا په پېښور کې ډېر وخت تېر کړی نه

[1] د کرپاتريک (Kirpatrick) لاسي ليکنې، چې د رينل په ليکنه کې نقل شوي دي، ۱۶۲ مخ د ۱۷۹۴ کال چاپ.



Property of ACKU

و، چې د خپل ومقدوني ګاونډیو په اړه مو په پلټنې پیل وکړ. موږ ژر اړ شو د ابوالفضل له هغه نظر نه ډډه وکړو، چې وايي دغه مېشت شوي کسان د یوسفزیو یو خېل دی، خو موږ ته څرګنده شوه، چې دغه کافران چې د باجوړ په شمال کې اوسي، له یونانیانو سره په کرکټر کې ډېر څه ګډ لري. دوی په ښکلا او په اروپايي څېرو لرلو کې نوم لاره، بُتان یې لمانځل، د سپینو زرو په پیالو یا لوښو کې یې شراب څښل، له څوکیو او مېزونو څخه یې کار اخیست او په داسې ژبې ګړېدل، چې د دوی ګاونډیو ته یې پته نه وه.

دا اسانه، نه وه چې د پلټلو هغه حس ارام شي، چې دغې لیکنې وپاراوه، ځکه چې که څه هم ما په هغه لومړي سر کې ددې کلک هوډ وکړ، چې د دوی سیمې ته د څېړنې لپاره یو تن واستوم، خو دا ناممکنه ښکاره شوه، چې ددغه کار د ترسره کولو لپاره دغسې یو وړ شخص موندل شي، چې هغه ددغسې خلکو په ملک کې سفر وکولای شي، چې په هغو کې د مسلمان تر وژلو بل کار ښه نه ګڼل کېده. په پای کې ملا نجیب دغه له خطر نه ډک کار پر غاړه واخیست. دی د ملا بهره مند ورور و، چې لومړی یې یادونه شوې او د خپل ښه استعداد او د پښتني قوي حس په لرلو سره ددغې دندې د ترسره کولو لپاره ښه وړ و. دی له پېښور نه د مې د میاشتې په نیمايي کې روان شو او د پنجکوړې له لارې د کافرو ملک ته ننوت. زموږ هیئت نږدې یوه میاشت وروسته د هندوستان پر لور وخوځېد او په دغه وخت کې موږ ته د هغه په اړه هیڅ معلومات نه وو ترلاسه شوي. تر هغو چې موږ د پښتنو په سیمو کې وو، د هغه د بېرته راتګ زیاته هیله مو په زړه کې تېروله. خو څه وخت چې دویمه میاشت تېره شوه او موږ د پنجاب له نیمايي نه اوښتي وو، په موږ کې د هغه په اړه د ناارامۍ احساس پیدا شو او داسې مو وګڼله، چې دی ښايي کافرانو وژلی وي. د هغه ورور، چې تراوسه له موږ سره مل و، بېرته وګرځېد، چې د هغه څرک معلوم کړي.

ماته له دغه وخته تر څو میاشتو پورې، چې په ډیلي کې وم، د هغه په اړه هیڅ معلومات نه وو او ما دده د بیا لیدلو هیلې له لاسه ورکړې وې، چې په دغه وخت کې دی نابیره زموږ په کمپ کې څرګند شو او دی ددې پر ځای، چې زموږ هیلې په ناهیلۍ واړوي، له خپل ملک نه یې په دغه اوږده سفر پیل کړی و. دی آن تر کامدیشه پورې، چې له بدخشان نه درې مزله دې خوا پروت یو کلی دی، تللی و. ده د هر هغه څه په اړه چې په کافرو پورې یې اړه لرله، پوره معلومات حاصل کړي ول. د دوی د ژبې لغات یې راټول کړي ول او هغو پوښتنو ته یې ځوابونه ترلاسه کړي ول، چې د تګ په وخت کې ورته ورکړ شوي وو. دغه لاندیني بیان په عمده ډول دده

Property of ACKU

په لیکنې ولاړ دی، چې د ښاغلي اروایـن (Irvine) لـه خوا ژباړل شوی، خو څنګه چې ماتـه ددې موقـع پـه لاس شوې وه، چې د مـلا نجیب پـه نـه شتون کې نـور معلومات هم ترلاسه کړم، مـا لـه هغـو نـه کار اخیستی او د مـلا معلومات مې لـه هغـو سره پرتلـه او سم کړي دي.

هغه منابع، چې لـه هغـو نـه مې دغـه زیاتي معلومات ترلاسه کړل، دا دي: یـو ځوان کـافر و، چې ماتـه ددې موقـع پـه لاس راغلـه، چې لـه هغـه نـه پوښتنې وکړم. د ښاغلي اروایـن یو هندو میرزا، چې د کـافرو ملک تـه یې سفر کړی و، د کونړ د سید یـو عامل، چې د دوی پـه سرحدي پولـو کـې یـې ژونـد کـړی و او یـو تـن یوسفزی، چې د دوی سیمې تـه پـه یـو نظامي یرغـل کې تللی و، جغرافیـوي معلومـات د معمـول پـه څېر لـه لیفتیننټ مکارټني (Macartiney) نـه ترلاسه شوي دي.

د کـافرانو ملک د هندوکش د لړی، ډېره برخـه او د بیلوت تـاغ (Beloot Taugh) یـوه برخـه نیسي. شمال ختیځ تـه یې قاشقار، شمال تـه یې بدخشان او شمال لویدیځ تـه یـې کنـدوز پـروت دی. لویـدیځ تـه یـې انـدراب او خوسـت او هـم بلـخ او د کابـل کوهستان پروت دی او هغـه پـه ختیځ کې تر ډېرې فاصلې تر کشمیره غځېدلی، چې په دغې برخې کې یې سرحدي پوله په څرګند ډول ټاکل شوې نه ده.

دغـه ټـول هـسک ملک د واورو لـه ډکـو غرونـو، د جلغوزیـو لـه ګڼـو ځنګلونـو او لـه تنګـو خـو سمسورو درو څخـه جـوړ دی، چې حاصلات یې ډېر انګور دي او دغـه انګور هـم پـه خپـل سر لـوېږي او هـم کـرل کېږي. پـه همدې توګـه دغـه ملک د پـسونو د ډېرو رمـو او د غوایـانو د ډېرو پـادو لپـاره خواړه برابروي او غرونـه یې لـه وزو څخـه ډک دي. حبوبات یې هـم د اهمیت او هـم د مقدار لـه حیثه ښکته دي. ډېر عـام ډولونـه یې غنم او ربدن دي. لارې یـواځې د پلیـو کسانو لپـاره ښې دي، چې زیـاتره لـه سیندونو او ویـالو څخـه تېرېږي. لـه پاسه یې د لرګیـو پلونـه او یـا ځوړنـد پلونـه ایښودل شوي، چې هغـه لـه ریښه لرونکیـو لښتو یـا ځینـو نـورو نرمـو لرګیـو لـه پـرو څخـه جوړ شوي وي. هغـه ټول کلي، چې ماتـه یې بیـان شوي، دغرونو پـه لمنو کې پراتـه دي. پـه دې ډول، چې د یوه کور بـام د بل بـام لپاره، چې دپاسه یې پـروت دی، لاره جوړوي او ویـل کېږي، چې دا طرز پـه ټول ملک کې معمول دی.

ددې ملک درې بایـد ښې ګڼـې وي، د کـاموجي (Coumogee) قـوم لـږ تـر لـږه لـس کلي لري او کامدیش، چې لوی ځای دی، پینځه سوه کورونه لري.

خلک یـې د خپـل ملت لپـاره کـوم ټـولنیز نـوم نـه لـري، هـر قـوم ځانلـه ځـانګړی نـوم لـري، ځکـه چـې دوی ټـول پـه قومونـو وېشل شوي او دغـه وېش د نـسب لـه مخې نـه، بلکې د جغرافیـوي موقعیت لـه مخې دی. پـه هـرې درې کې یـو ځـانګړی قـوم اوسي،



Property of ACKU

مسلمانان دوی ټول د کافرو او ملک یې د کافرستان په نامه یادوي. یوه وېش ته یې سیاه پوش یا تور کافران او بل ته یې سپین پوش یا سپین کافران وایي او دغه نومونه د دوی د جامو له لامله په دوی ایښودل شوي دي.

ټول کافران د خپلو څېرو د سپین والي او ښکلا له لامله مشهور دي، خو د کافرو ډېره لویه برخه د وزو د پوټکي یو ډول توره سدرۍ اغوندي. په داسې حال کې، چې هغه بله برخه یې د سپنسیو سپین واسکټ اغوندي.[1]

په کافرانو کې څو ژبې ویل کېږي، خو په ټولو کې ډېرې کلمې ګډې دي او ټول یې له سانسکرت سره یو راز اړیکې لري. دغه ټولې ژبې یوه ځانګړتیا لري او هغه دا ده، چې د سلګونو پر ځای شلګون حسابوي او دوی د زر عدد (چې دوی یې د پښتو یا دري په نامه یادوي) له څلورو سوو یا شلو شلګونو څخه جوړ دی. دغه ټول حقایق په لغماني یا دیګانۍ ژبې باندې هم پلي کېږي، چې ښکاري د کافري یوه لهجه وي او له دې نه داسې نتیجه اخیستل کېږي، چې لغمانیان یا دیګانان پخوا کافران وو، چې وروسته یې د اسلام دین منلی دی. ګومان کوم د کابل د کوهستان اوسېدونکي هم له همدغه اصل څخه وو. په دې چې مخصوصاً د کوهستان نوم هغه دی، چې په ټولو هغو دلالت کوي، چې په دې وختونو کې مسلمان شوي دي.

د دوی د ژبې اشتقاق له یونانیانو څخه د کافرانو د اصل نسب نظر ردوي او

---

[1] د کافرو ځینو قومونو نومونه دا دي: د لومړنۍ ډلې نومونه د یوه ځوان کافر څوکویي (Tsokooee) له خوا، دویم یې په کامدیش کې د ملا نجیب له خوا او د دریمې یې په کوتان (Kuttaun) کې، چې د باجوړ په سرحدي پولې کې پروت دی، د ډنپت رای (Dhuput Roy) له خوا تهیه شوي دي.

تریګوما (Traiguma)، ګمیر (Gmeer)، کوټار (Kuttaor)، وې لې وانې (Wailee Wanee)، کامه (Cauma)، کوشتي (Cooshteea)، ډینګ (Ding)، (Wauee) او وایي چې مسلمانان یې پونیته (Puneeta) بولي.

کاموجي (Caumojee)، کستوجي (Kistojee) (چې د دوی لوی ښار ګڼل کېږي، مونچي شي Muncheeashee دی)، مندیګل (Moondeegul)، کامتوز (Kamtoze)، چې نیمایي یې د بدخشان او نیمايي یې د لغمان په لور دی، پوروني (Puroonee)، چې د هغوی مرکز کشتوکي Kishtekee دی، تې ني Tewnee، پونوز (Poonooz)، اوش کونګ (Ushhong)، اوم شي (Umshee)، سونتو (Sunno)، کوله مي رووزتورکوما (Koouimee Roose Turkuma) چې کاتوراوګوین ییر (Guinbeer) په هغو پورې اړه لري، نیشا (Nisha)، ای ریت (Eeait) او نور. زه باید زیاته کړم، چې د ملا نجیب په لست کې یو یې پوشاه (Pusha) اصل ګڼل کېږي. بابر یې ذکر کړی دی، چې او اوس هم په کوهستان کې موندل کېږي.

واني دیوزي (Wanee Diwozee)، کټار (Kuttaar)، پونډیکت (Pundeet)، خوستوز (Khoostoze)، کاموزي (Caumozee)، ډي واین (Divine)، څوکویي (Tsokooee) او کونیه (Choonea).



Property of ACKU

پخپله د دوی روایات د دوی د اصل او نسب په اړه موږ ته په څرګند ډول څه مواد نه راکوي. ډېر ټولنیز او یوائیني د اعتبار وړ روایت دا دی، چې دوی د مسلمانانو له خوا د کندهار له شاوخوا نه شړل شوي دي او پخوا له دې، چې دوی خپل اوسني ټاټوبي ته راغلي وي، څو ځلې یو بل ځای ته لېږدېدلي دي. دوی ادعا کوي، چې دوی له څلورو قومونو یاني له کاموز (Camoze)، هلار (Hrler)، سیلار (Silar) او کاموجي (Camojee) نه متشکل ول، چې له هغو نه یې لومړنیو درې قومونو د اسلام دین ومانه او څلورم یې په خپل پخواني اصلي دین ټینګ ودرېد او خپل پلرني ملک یې پرېښود. د دوی دین له هر هغه دین سره، چې زه ورسره اشنا یم، ورته والی نه لري. دوی په یوه خدای ایمان لري، چې د کامدېش کافران یې د امرا (Imra) په نامه او د څو کوړیې کافران یې د داګون (Dagun) په نامه یادوي، خو دوی نور بتان هم لمانځي، چې د دوی په فکر د پخوانیو وختونو لوی کسان وو او هغوی د دوی د عبادت کوونکیو له خوا خدای ته شفیع شوي وو. دغه بتان له تېږو او لرګیو څخه جوړ شوي دي او هغه تل د نارینه و یا ښځو په شکل دي، چې کله کله سواره او ځینې وخت پلي وي. ملا نجیب ددې موقع وموندله، چې د کافرو د خدایانو ټولنیز مزدک (عبادتځي) ته ننوځي.

د کامدیش د کلي په عمومي حجرې کې د لرګیو یو لوی بالښت یا متکا وه، چې د هغه دپاسه یوه لویه څېره ولاړه وه، چې په یوه لاس کې یې سانګه وه او په بل کې یې لکړه وه. دغه بت ددغه کلي د یوه ډېر لوی شخص پلار تمثیل کاوه، چې هغه یې په خپل ژوندانه کې درولی و او دغه امتیاز یې ټول کلي ته د څو مېلمستیاوو په ورکولو ګټلی و. دا یوائیني بېلګه نه وه، چې اشخاص په دغسې دلایلو په خدایانو کې شمېرل شوي وو او د نورو خدایانو په څېر یې لمانځنه کېده. په واقع کې داسې ښکاري، چې کافران د سخاوت او مېلمه پالنې ښېګڼو ته ډېر اهمیت ورکوي. همدا ښېګڼې دي، چې د دوی جنت ته چې دوی یې بری لی بولا (Burryle Boola) بولي، د ننوتلو اجازه ګڼي او معکوسي یاني بدې ګانې بری دوګر بولا (Boory Duggor Boola) یا دوزخ ته د ننوتلو ډېرې یقیني لارې ګڼل کېږي.

په دغسې اسانۍ سره د بُتانو جوړول باید د دوی شمېر هرومرو ډېر کړي، خو ډېر یې باید د دوی خپل قوم ته ځانګړې وي، ځکه چې ددې هیله کېدای نه شي، چې هغوی چې د هغو لمانځنه کوي، د وی په مېلمستیاو کې به یې برخه نه وي اخیستې. په دې ډول داسې ښکاري، چې د کامدېش خدایان د څوکوړیې (Tsokooe) له خدایانو څخه بالکل بېل دي، که څه هم یو خدای په دواړو کې مشترک دی او ممکن نور هم موجود وي، چې هغوی به د کافرو قومونو له بېلېدو څخه دمخه په خدایانو



Property of ACKU

کې شمېرل شوي وي. د کامدېش ستر خدایان یا قهرمانان دا دي:

لومړی: بوګیش (Bugeesh) یا د اوبو خدای، دویم: مانی (Mounee) چې یوش (Yoosh) یا د شر اصل یې له نرې نه شړلی دی. درېیم: مرور (Morrer)، څلورم: اروم (Urrum)، پېنځم: پرسو (Purso)، شپږم: ګیش (Geesh)، اووم: د پاردیک (Paradik)، په نامه اووه ورونه، چې ځانونه یې له طلاوو څخه وو او دا ټول له یوې ولې څخه جوړ شوي وو، اتم: پرون (Purron)، همدغه ډول اووه ورونه. نهم: کومای (Koomy)، چې ملا نجیب یې د ادم ښځه بولي. لسم: دسساني (Dissaunee)، د کیش ښځه. یوولسم: دوهي (Doohee). دولسم: سوري جو (Surijoo)، دیارلسم: نشتي (Nishtee).

د څوکوېي خدایان دا دي: ماندي (Maunde) (دا ممکن ماني Maune وي چې دمخه یې ذکر شوی دی)، مارا ایست (Moraist)، موراسوري (Murrasoore) او اندرجي (Inderjee) چې ممکن د هندو خدای اندر (Inder) یا اندرا (Indra) وي اوجي (Jee) هندوېي لقب یې د نام اخر ته اضافه شوی دی.

د ښاغلي اروایـن Irvine هندو ملګری دون پت رای (Dhun Put Roy) په پوره یقین سره وویل، چې د کافرو بتان د هندو خدای سداشیو (Seddasheo) تمثیلوي او تل درې غاښې سانګه ورسره وي، چې د هغه یوه نخښه ده. ده دا هم وویل، چې دوی خپل ځینې خدایان د شیي ماهادیو (Shee-Mahadeo) په نامه یادول او دوی آن دغه کلمې یو بل ته د سلام په توګه استعمالولې. خو دغه څه له نورو روایتونو سره اړخ نه لګوي او څنګه چې پخپله دون پت رای په دې اعتراف وکړ، چې کافران د غويي غوښه خوري، دا ممکنه نه ده چې دوی دې له هندوانو سره دومره نږدې اړیکې ولري. له ټولو روایتونو سره سم دوی په خپلو بُتانو باندې وینې شیندي، دوی آن د غويو وینې هم پرې شیندي، چې دغه رواج د هندو له مذهب سره هیڅ تړاو نه لري. په همدې ډول دوی ټول په ټولو مذهبي مراسمو کې اور د یوه شرط په توګه لازم ګڼي.

ملا نجیب په دغسې یوې موقع کې په کامدیش کې حاضر و، چې امراته د قربانۍ د اهدا کولو موقع وه. دغه عمل یوه کلي ته نږدې په یوه ځانګړي ځای کې ترسره شو. هلته یوه تورېلې تیږه وه، چې د ملا نجیب له وینا نه ښکاري د هندو مهادیو (Mahadeo) له سمبول سره یې یو څه ورته والی لاره، مخې ته یې اور ولګول شو او د هغه له مېنځ نه اوره، غوړي او اوبه په هغې تیږې باندې واچول شوې. په پای کې یو څاروی قرباني شو او وینه یې د اور له لارې په هغې تیږې باندې وپاشل شوه، د غوښې یوه برخه وسوځول شوه او یوه برخه یې د کشیش مرستیالانو وخوړله، چې شمېر یې ډېرو او له هغه سره یې په دعاګانو او مذهبي اشارو کې

Property of ACKU

ملګرتوب کاوه. د دوی يوه دعا د مسلمانانو د نابودۍ په اړه وه([1]). بتانو ته عبادت

[1] ځينې کسان ښايي ددغه رسم له تفصيل سره مينه ولري. هغه لرګي، چې په دغې قربانۍ کې استعمالېږي، ملا نجيب يې د کاچور (Kauchor) په نامه يادوي او کافران يې د ډون پوټ راى په قول کې سوپوري تهوپ (Kesopooree Thop) بولي.
(( هلته يوه ښغه تيږه پرته وه، چې نږدې څلور فوټه لوړه وه او سور يې د يوه منډلي انسان هومره و. دا امراتا (Imrata ) سپېڅلې تېږه ده، شاته يې د شمال په لور يو دېوال پروت دی.)) دغه ټول د دوی معبد دی. دغه تيږه خدای تمثيلوي، دوی وايي چې ((دا د هغه تمثيل کوي، خو موږ د هغه په څېره نه پوهېږو.)) د امراتا جنوب ته د کاچر (Kauchor) اور سوځي او دا د جلغوزې يو ډول دی، چې په عمومي ډول په شپېلي اچول کېږي، ترڅو ډېر لوګی وکړي. يو کس چې خاص نوم يې مليک (Muleek) دی او لقب يې اوټا (Ota) دی، د اور مخې او شاته عبادت کونکی ليکه درېږي، لومړی اوبه راوړل کېږي، چې دی خپل لاسونه ومينځي، څه يې په ښي لاس کې نيسي او درې ځله يې د اور يا لوګي له لارې په امراتا اچوي او هر ځل سوچ (Sooch) وايي، چې مانا يې خالص دی. بيا نو دی يوه لپه اوبه په قربانۍ شيندي، چې هغه معمولاً کومه وزه يا غوا وي او سوچ وايي. بيا يوه لپه اوبه اخلي او ځينې کلمات تکراروي، چې مانا يې دا ده (ته دغه قرباني منې؟) او دغسې نور. اوبه د قربانۍ په کينې غوږ اچوي، چې هغه مال ته وي. ده (ملا نجيب) دوه قربانۍ وليدلې، چې يوه يې خدايي او بله يې يوه بته ته شوې وه) که څاروي په دغه وخت کې خپل سر اسمان ته واړاوه، هغه د قبولۍ نخښه ګڼل کېږي او د پوره رضايت لامل ګرځي. وروسته د هغه په ښي غوږ کې او په درېيم ځل يې په تندي او څلورم ځل يې په شا اوبه اچوي. هر ځل يو وار سوچ ويل کېږي بيا په داسې وخت کې چې لرګی اچول کېږي، يوه لپه اوړه اخلي او د اوړو له منځ نه يې په تېږه باندې اچوي. دوی دغه اوړه د خدای برخه ګڼي او بيا دواړه لاسونه له غوږيو نه ډکوي او په اور باندې يې اچوي. دا هم د خدای برخه ګڼل کېږي. په دغو مراسمو کې سوچ نه ويل کېږي، خو په دغه وخت کې ملا په لوړ اواز وايي: هی (He) او له هغه وروسته عبادت کوونکي درې ځله هي اومچ (He ummuch) وايي يانې ويې منه! هر ځل دوی دغه په يوه حرکت ادا کوي. دوی خپل ورغوی د خپلو زنګنو په لور غځوي او په هغه وخت کې، چې دوی يې په پراخ حال سره جګوي، هي اومچ وايي. په دغه وخت کې ملا وزه په چاکو وژني او وينه يې په دواړو لاسونو کې نيسي. يو څه يې خوشې کوي، چې په اور باندې ولوېږي او پاتې وينه يې د اور له لارې په امرتان (Imrtan) اچوي (امرتان يو بت يا د بت په صندوق کې دی) او بيا هی اومچ درې ځله ويل کېږي. اوس يې نو سر کينې خوا ته تاووي او په اور باندې يې اچوي، خو هی اومچ نه ويل کېږي. بيا نو شراب په کاسې کې راوړل کېږي او ملا يې يو څه په اور کې اچوي او نور يې د اور له لارې اچول کېږي، خو هی اومچ نه ويل کېږي (غوړي هم له يوې کاسې نه اچول کېږي). په دغه وخت کې خدای ته دعا کوي: ((تبه له موږه ليرې کړه، زموږ غله ډېره کړه او مسلمانان ووژنه. له مرګ نه وروسته موږ په بري لی بولا (Burele Boola) يا جنت کې داخل کړه.)) هی اومچ درې ځله ويل کېږي. بيا نو ملا دمخه کېږي او په خپل مخ کې پوشا (Pusha) يانې هغه څوک دروي، چې پيري نيولی وي. هغه وروسته له هغه چې خپل سر يې لوګي ته وړاندې نيولی وي او په هغه کې يې خوځوي، عابدين هی اومچ په لوړ اواز درې ځله وايي. بيا نو هر سړی د خپل هر لاس ګوتې يوځای په خوله کې دننه کوي او ښکلوي يې. بيا يې په سترګو مښي او په پای کې يې په تندي ږدي. بيا نو دوی ټول رخصتېږي او په



Property of ACKU

نږدې په همدغه توګه ترسره کېږي. دغه عبادتونه کله کله په ازادې هوا کې او کله کله په داسې کورونو کې کېږي، چې امرومه (Imrumma) نومېږي. که څه هم اوږ (چې د یوې ځانګړې ونې له پاڼو څخه لګول کېږي) د دوی په ټولو مذهبي مراسمو کې اړین دی، خو داسې ښکاري چې دوی ددغه عنصر لپاره کوم ځانګړی درناوی نه پر ځای کوي او اور تل نه ساتي.

دوی میراثي روحانیون لري، خو نفوذ یې ډېر نه دی. په همدې ډول په دوی کې ځینې کسان شته، چې د کوم لوړ موجود الهام حاصلولی شي او هغه په دې ډول حاصلوي، چې خپل سرونه د کومې قرباني د لوګي دپاسه نیسي، خو دوی ته هم نور په کوم ځانګړي درناوي قایل نه دي. دوی له کبانو نه کرکه کوي، خو بل هیڅ ځاروی ناولی نه بولي او د پسه غوښه، د غویي غوښه، د یږ غوښه او هر هغه بل شی، چې دوی یې ترلاسه کولای شي، خوري.

دوی که څه هم په هره ورځ، چې وغواړي قرباني کولای شي، سره له دې هم ځینې ټاکلي جشنونه شته، چې د کامدیش په کاموجیانو (Caumojes) کې رواج لري او د ملا نجیب په فکر ممکن هغه عام وي. ځینې یې د یادونې وړ دي، خو یو یې هم له هغه جشن سره ورته نه دی له کوم سره چې زه اشنا یم. یواځې یو یې ورسره ورته دی، چې په هغه کې کافران په یوه بل باندې ایرې شیندي، لکه څنګه چې هندوان دغسې څه په هولي (Hooly) کې کوي.

په جشنونو کې زیاتره وخت قرباني کېږي او تل یکې مېلمستیاوې ورکول کېږي. په یوه جشن کې هلکان د جلغوزیو د یو ډول ونې مشعل[1] لګوي او د یوه

یوه ځای باندې یا غځېږي یا ورباندې کېني. په دغه وخت کې دوی وینه په قرباني اچوي، له هغو سره لږې اوبۀ په اور اچوي او وروسته له هغه، چې یو څه ځوبښ شوی وي، په غوښې یې اچوي.
له هغه وروسته یې نیم اومه پورته کوي او خوري یې، خو که د قربانۍ مال غواوې غوښه یې وېشله کېږي او هر څوک خپله برخه خپل کور ته وړي. ملا په دواړو حالاتو کې دوه برخې اخلي.
د ډوډۍ په وخت کې دوی یو څه شراب څښي، چې یو څه له اوبو سره ګډ شوې وي او هغه څوک یې ورکوي، چې قرباني ورکوي. په دغه وخت کې یې نور هډوکي سوځول کېږي. هغه قرباني، چې د کوم بت په مخ کې کېږي، په همدې ډول وي، خو ملا نجیب دغسې یوه قرباني یواځې هغه وخت ولیدله، چې کومي (Koomy) یانې د هغه بت په مخ کې شوې وه، چې د کلي په جنوب کې چېرته لیرې په یوه سخت هسک ځای کې پروت و. دوی په دې قناعت وکړ، چې دغه شیان د هغه په لور واچوي. دوی قبله نه لري او د بتانو مخونه دشمال په لور نیول او که نه، غوا په وچولي باندې په یوه تیر سره یو وار وهل کېږي او د هغه په ګوزار مري.
مخ یې هرې خوا ته وي، خو ملا نجیب اوس نه شي ویلای، چې په ټولو امرتانانو (Umrtansu) او امروماوو (Umrumas) کې عابدینو خپل مخونه د شمال په لور نیول او که نه.
[1] ښایي شونتی وي. ژباړن



Property of ACKU

بت مخې ته یې وړي او هلته یې غوړزوي او پرېږدي یې چې وسوځي. په بل جشن کې ښځې له کلي بهر ځانونه پټوي او نارینه یې د موندلو په لټه کېږي، ښځې چې څه وخت وموندل شي، په لښتو سره له ځانونو څخه دفاع کوي، خو په پای کې یې سړي تښتوي. ځینو وویل هره ښځه، چې د هر سړي گوتو ته ورغلله، وړل کېږي خو ملا نجیب له حیا نه په دې اړه له نورو پوښتنو څخه ډډه وکړه.

د دوی نور مراسم له دین سره دومره نږدې اړیکې نه لري، د ماشوم د زېږېدنې پر مهال دی له خپلې مور سره د همدغې موخې لپاره له کلي نه بهر وړل کېږي. دوی هلته د څلورویشتو ورځو لپاره پاتې کېږي او په دې ټول محفل کې ښځه ناوې گڼل کېږي. په همدې دول د نورو ښځو لپاره په ځینو وختونو کې، چې د کافرانو په فکر ناولې گڼل کېږي، ورته کورونه شته دي، ماشوم او مور ته یې د څلورویشتو ورځو له تېرېدو وروسته غسل ورکول کېږي او له نڅا او سندرو سره بېرته کور ته بیول کېږي.

هغه وخت، چې هغه ته د هغه د تېرو شویو (اسلافو) نومونه اخیستل کېږي او هغه نوم پرې ایښودل کېږي، چې د هغه په اخیستلو سره په تي رودلو پیل کوي.(۱)

د واده عمر د سړیو لپاره له شلو څخه تر دېرشو او د نجونو لپاره له پینځلسو څخه تر شپاړسو کلونو پورې دی. د واده رسم هغه وخت پیل کېږي، چې هلک غواړي زوم شي، د خپل نظر ناوې ته یو څه ډېر ښه سپینسین کالي، چې د وړیو په مزي ښکلي شوي وي (د پښتنو د ملک صنایع) له څه گالې سره استوي. دی د نجلۍ پلار ته او خپلوانو ته د یوه ناري لپاره هم شیان استوي. دغه شپه په جشن تېرېږي او په بله شپه زوم د خپلې ناوې د راوستلو لپاره ځي، چې هغه په هغو گاڼو او جامو سینگار شوې وي، چې هغه وراستولې وي. پلار د ناوې لپاره د وریښمو دسمال او څه نور پسول او د تن کالي پرې اضافه کوي. یوه غوا او ښایي یوه وینځه هم ورسره کوي. بیا نو ناوې په داسې حال کې وړل کېږي، چې په شا یې یوه کجاوه وي، چې په هغې کې مېوې او جلغوزې او له هغه سره شات (که د کورنۍ په وس کې وي) او د

[1] په کامدیش کې ځانگړي نومونه دا وو: چندلو (Chundloo)، ډیمو (Deemo)، هزار میرک (Hazar meeruk)، بوستي (Bustee) او بودیل (Budeel) په څوکوبې کې د ځینو کسانو نومونه دا وو: گورم باسي (Gurrumbaus)، ازار (Azaur)، د وروناس پران چولا (Doorunauspranchoola)، گمیروک (Gemeruk)، کوتوکي (Kootoke) او دور (Oadoor)، کومور (Kummur) او زور (Zore). د ځینو ښځو نومونه دا وو: میین کي (Meeankee)، جونیلي (Junailee)، مالي دی له ري جینوکي (Mauledaileree Jeenoke)، زوري پوک خوکي (Zoreepuckhoke)، مل کي (Malkee) او ازاري (Azaure) په کتار کې د پینځو کسو نومونه دا وو: ټوتي (Toti)، هوټا (Hota)، گوسپورا (Guspura) او هزار (Huzaur). د یوې ښځې نوم کورمي (Kurmee) و.



Property of ACKU

سپینو زرو یوه پیاله هم وي. ناوې په دغه ډول د خپل میړه کور ته بیول کېږي. په داسې حال کې، چې ټول کلیوال ناڅي او سندرې وايي، یو څو ورځې وروسته د نجلۍ پلار د خپلې لور ولور ترلاسه کوي، چې هغه کله کله شلو غواوو ته رسېږي. ملایان په دغو مراسمو کې هېڅ ګډون نه کوي. ښځې د کور ټول یو ډوله چارې ترسره کوي. دون پت رای لا وایي، چې دوی آن څمکه هم لري. د ډېرو ښځو کول هم رواج لري. د ښځو مخونه هېڅ پټ نه دي، که څه هم د زنا د عمل لپاره جزا شته، خو دومره څوک پسې نه ګرځي. شتمن کافران له خپلو ښځو سربېره مریان او وینځې هم لري. دغه مریان ټول کافران دي، په دې چې دوی له مسلمانانو سره په خپلو جنګونو کې بندیان نیسي. ځینې یې له هغو قومونو سره په هغو جنګونو کې نیول کېږي، چې دوی ورسره په جنګ وي او نور بې له هغو په غلا نیول کېږي، چې دوی ورسره په سوله کې وي، خو د هغوی زیاتره برخه د دوی له خپل قوم څخه وي او دا په دوی کې پوره عام دي، چې قوي کسان د کمزورو خلکو ماشومان نیسي او په مسلمانانو یې پلورې او یا یې د ځان د استفادې لپاره ساتي. یو څوک چې خپل خپلوان باهلې زر مریې ګرځول کېږي، خو له هغو مریانو سره، چې په خپل قوم کې ساتل کېږي، ناوړه چلند نه کېږي. که څه هم دوی د هغې کورنۍ له غړیو سره پوره برابر نه دي، چې دوی ورپورې تړلې وي.

د کافرو د جنازې مراسم د نورو ملتونو له مراسمو سره توپیر لري. څه وخت چې په دوی کې یو څوک مړ شي، هغه ته ډېر ښه کالي وراغوستل کېږي او په یوه کټ باندې ایښودل کېږي. د هغه وسلې د هغه اړخ ته ایښودل کېږي، دا ټول دده د ځینو خپلوانو له خوا وړل کېږي. په داسې حال کې، چې نور یې شاوخوا ناڅي او سندرې وايي او سړي د ټوکو د جنګ یوه ننداره جوړوي، خو ښځې وير کوي. کله کله مړی ښکته ایښودل کېږي او ښځې پرې ژړا او انګولا کوي. په پای کې مړی په تابوت کې ایښودل کېږي او هغه یا په خلاصې فضا کې د ونو تر سیورې لاندې یا په کوم بل ورځای کې ایښودل کېږي. د هر مړي د مراسمو په پای کې یوه میلمستیا ورکول کېږي. په هر کال کې یو ځل د مړي په یاد یو جشن جوړېږي، د هغه د روح لپاره یو څه ډوډۍ په داګه ایښودل کېږي او هیله کېږي، چې روح یې حاضر شي او ډوډۍ وخوري.

پخوا ویل شوي، چې ځینې کسان د هغوی له مرګ نه وروسته د خدایانو مرتبې ته هسک شوي دي. یوه بله لاره هم شته، چې په هغه تر مرګ وروسته نوم ګټل کېږي او هغه دا ده، چې د چا په یاد د یوې لارې په اړخ کې یو ور ودرول شي. دا یو ډېر ساده شکل دی، چې څلور تیرونه او یو څو ګزه ابادي لري او هېڅ کار ترې نه

Property of ACKU

اخیستل کېږي، خو د هغه د بنسټ ایښودونکي په نامه یادېږي او د دغه عزت ګټل هرومرو باید کلي ته په ډېرو ناریو ورکولو ترلاسه شي.

دون پت رای د دعا کولو د مراسمو په اړه یو عجب روایت لري. یو څوک چې له یوه بل چا سره د خوالې کولو لپاره ځي، چې هغه کوم خپلوان له لاسه ورکړی وي، په هغه وخت کې چې کور ته یې ننوځي، خپله خولۍ په ځمکه باندې غورځوي، بیا خپله چړوکۍ باسي او د غم ځپلي کس لاس نیسي، هسکوي یې او خونې ته نږدې د څه وخت لپاره له هغه سره نڅا کوي.

زه د کافرو د حکومت په اړه ډېر څه ویلای نه شم، دا جوته نه ده، چې دوی به منل شوي اداره چیان ولري. که لري یې دوی ډېر واک نه لري او هر څه د شتمنو کسانو په سلا مشورې فیصله کېږي.

داسې ښکاري چې دوی د پښتنو په څېر د غچ اخیستلو رواج لري او زه د دوی د قضایي چارو د ترسره کولو په اړه معلومات نه لرم. دوی ځانله بېل القاب نه لري او د ځان لقب یې د خپلو شتمنو لپاره له پښتنو څخه اخیستي دي. د دوی شته او مال په ټولیز ډول څاروي او مریان دي. په کامدیش کې یو شتمن نږدې اته سوه وزې، درې سوه غوایان او د مریانو اته کورنۍ لري.

د تورو کافرو د وګړیو ټولې جامې د وزو له څلورو پوستکو نه جوړې وي، چې دوه یې ټټرې وي او دوه یې د ورو کورتیو په څېر وي. د دغو پوټکو بهرنۍ خوا اوږده وېښتان لري. پورتنۍ برخې یې لاسونه دوی تر هغو لوڅ سر ګرځوي، چې کوم مسلمان یې نه وي وژلی او له تندي نه پرته نور ټول سر خریي. ممکن د غوږو د پاسه دوه ولونه وېښتان هم پرېږدي. دوی د خپلې پاسنۍ شونډې، غمبورو او غاړې وېښتان هم اخلي، خو څلور یا پینځه انچه اوږده زېنار پر غاړه ګرځوي.

هغه کافران، چې اقتصادي حالت یې ښه دی او هغوی، چې له پښتنو سره نږدې اوسي، له ټټر لاندې کمیس اغوندي او هغه په اوړي کې ممکن د دوی ټوله جامه وي. لکه چې ښځې یې تل پر ځان کې لري. شتمن د وزو پوستکي نه اغوندي، بلکې خمتا یا د تورو وېښتانو د شړۍ کالي کوي. ځینې یې یو ډول سپینسیني شړۍ هم اغوندي، چې په ګاونډي ملک قاشقار کې اوبدل کېږي. دغه شړۍ د سکاټ لینډ د کمپلو په څېر په ځان اچول کېږي. تر ښنګرو پورې ښکته راځي او په یوه ملاوستني سره تړل کېږي. دوی د خمتا پرتګونه هم اغوندي، چې د دوی د کمیسونو په څېر د وړینو تور او سره ګلان پکې اوبدل شوي وي. پرتګونه یې لاندې د پایڅو په برخه کې چاک شوي، چې یو راز څنډه او حاشیه ترېنه جوړه شوې وي. دوی د وړیو جبري یا ممکن د وړیو یو ډول وتاړي هم په پښو کوي او هغه د لینګیو شاوخوا تاووي او

Property of ACKU

اتلان دوزي د سپین پوستکي نه نیمايي ساق لرونکي بوټان په پښو کوي.

د ښځو جامې د سړیو له جامو سره توپیر لري، خو دوی خپل ویښتان چوټۍ کوي او د خپل تندي له پاسه یې تړي. له پاسه یې یوه وړه ټوپۍ په سر کوي، چې د هغه شاوخوا یو وړ لنګوټۍ وي.

دوی د سپینو زرو پسولونه او د غوايي د هډوکو ډېر صدفونه هم لري، پېغلې یې یوه سره پټاره د خپلو سرونو تر شاوخوا تړي. نر او ښځې دواړه لښتي یا والۍ په غوږو، غټرکۍ په غاړو او کړۍ په لاسونو کې لري، چې هغه کله له سپینو زرو او زیاتره وخت د قلعي او د مسو او یا د جستو مخلوط وي. په ویر او غم کې هغه لرې کېږي، هلکان چې ابلوغ شي (د بلوغ مودې ته ورسېږي) په ډېرو مراسمو او د نارېو په ورکولو سره په سړیو کې حسابېږي. د سړیو په جامو کې به اعزازي امتیازات له دې وروسته بیان شي.

د کافرو کورونه زیاتره له لرګیو نه جوړ دي او هغه په ټولیز ډول زېرخانې لري، چې دوی په هغو کې پنیر، غوړي، شراب او سرکه ساتي. په هر کور کې د لرګیو یو څوکۍ وي، چې په دېوال پورې تړلې وي او تیټه شا یې د هغه په لور وي. یو ډول کټګی، چې د ډول په بڼه وي، خو تر دواړو سرونو څخه یې منځنۍ برخه نرۍ وي، هم د دوی په خونو کې رواج لري. دغه ډول مېزونه او تر هغو لوی هم موجود دي.

کافران څه د خپلو جامو له لامله او څه د عادت له مخې د نورو آسیایانو په څېر کېناستلی نه شي او که په ځمکه باندې ناستې ته اړ شي، خپل لینګي د اروپایانو په څېر غځوي. د دوی د خوب ځایونه هم له لرګیو او د څرمنې له قوي تسمو څخه جوړ دي.

د دوی خواړه په عمده ډول وچې ډوډۍ، یو ډول وازدې، له پوډین سره پنیر، کوچ او پۍ دي. دوی غوښه هم خوري، چې نیمه اومه یې خوښوي. د دوی مېوې غوزان، انګور، مڼې، بادام او یو راز ځنګلي منډتې دي. دوی له ډوډۍ مخکې لاسونه مینځي او په ټولیز ډول د یوې دعا په ویلو سره یې پیل کوي.

نر او ښځې ټول تر زیات حد شراب څښي. دوی درې ډوله (سره، سپین او تور) رنګ لري. سربېره پر دې د مربا په څېر ټینګ او ډېر قوي یې هم استعمالوي. دوی شراب د سپینو زرو په لویو پیالو کې هم نګه او هم اوبلن څښي او دغه پیالې د دوی د کورونو ډېر قیمتي شته دي. شراب د ډوډۍ په وخت کې څښي او ورسره نشه کېږي، خو په دغې عیاشۍ سره جګړه مار تربڼه نه جوړېږي.

دوی خورا ډېر مېلمه پالونکي دي، د کلي خلک د یوه مساپر د لیدلو لپاره وځي، پنډوکی یې له هغو کسانو اخلي، چې وړي یې او په ډېرو هرکلیو ویلو سره یې کلي



Property of ACKU

ته دننه کوي. کله چې مېلمه کلي ته ورسېږي، باید د کلي له هر مهم سړي سره وګوري او په هر کاله کې له دې نه په کلکه غوښتل کېږي، چې وخوري او وڅښي.

کافران د بېکارۍ او هوسايۍ لپاره ډېر وخت لري. دوی لږ څه ښکار هم کوي، خو نه هومره چې پښتانه يې کوي. نڅا کول د دوی ډېر لويه ساعت تېري ده، نڅاوې يې په ټولیز ډول ډېرې چټکې دي او دوی خپل غړي ډېر خوځوي. اوږې هسکوي، سرونه خوځوي او خپل د جنګ تبرګي وړاندې وړاندې کوي. د هر منګ سړي او ښځه ناڅي. کله کله په وار سره د سړيو او ښځو يوه کړۍ جوړوي او دوی لاس په لاس د څه وخت لپاره د ټنګ ټکور غږوونکيو شاوخوا ګرځي. وروسته ټول دمخه کېږي او په نڅا کې سره ګډېږي. دوی په ډېر قوت سره ناڅي او ځمکه په ډېر قوت سره دربوي. داريا (چمبه) او شپېلۍ يې د ساز يوازيني الات دي، خو نڅا کوونکي زياتره په اواز سره د هغو ملګرتيا کوي. په ټوليز ډول د دوی ساز ډېر چټک، خو ډول ډول او توند وي.

د دوی يوه ځانګړتيا له مسلمانانو سره د دوی پرله پسې جنګ دی، چې دوی ورڅخه کرکه لري. په واقع کې ډلې ډلې مسلمانان په وار وار د دوی په ملک بريد کوي، چې مريان ومومي. يو نيا دوه ځله دوی د هغو په ضد لويې حملې کړي دي. نږدې دېرش کاله مخکې د دوی پر ضد يو ټوليز جهاد اعلان شوی و. د بدخشان خان، لږ تر لږه د قاشقار يو شاهزاده، د کونړ پادشاه، د باجوړ باز او د يوسفزيو څو خانان په دغه وخت کې سره يو موټی شول او د کافرو د ملک په منځ کې يې سره وليدل، خو دوی له دغه بري سره سره ونه شو کولای د هغوی په ملک کې توختنه (ګرځېدل راګرځېدل) وکړي او د يو څه مرګ ژوبلې وروسته دې ته اړ شول، چې دغه ملک پرېږدي.

د کافرو وسلې د څرمنې له يوې ژۍ سره نږدې د څلورو فوټو يوه اوږده، لينده او د درو (درمو) سپک غشي دي. دغه غشي تېرې څوکې لري، چې دوی يې کله کله په زهرو لړي. دوی په ښي اړخ کې يو ډول عجيبه چړکی او په ښي خوا کې يو تيره چاکو ګرځوي. له هغو سره دوی په ټوليز ډول يوه بک او دونی د پوټکي يو خاص ډول خو لري، چې هغه يو ډېر ښه لګونی دی. دوی ددې ډېل هم کړی دی، چې له خپلو پښتنو ګاونډيو نه د تورو او ناريه وسلو استعمال زده کړي.

دوی کله کله په څرګند ډول په خپلو غليمانو بريد کوي، خو د بريد ډېر معمول طرز يې ناببره او له سنګر نه وي. دوی د شپې له خوا څارنه له ياده باسي او په دې ډول ځانونه له خطرونو سره مخامخوي. دوی زياتره لرې او سخت بريدونه پر غاړه اخلي او څنګه چې دوی ګړندي او سپک دي، ددغه کار لپاره ډېر وړ دي. کله چې پسې واخيستل شي، دوی خپلې لينديې سموي او له هغو نه د ټوپ وهلو د پايې په توګه

Property of ACKU

کار اخلي او له یوې تیږې نه بلې ته حېرانوونکي ټوپونه وهي.

ملا نجیب د کامدیش خلک ولیدل، چې د یوه بل قوم په ضد یې مارش کاوه. دوی، چې په خپل مارش روان وو، د جنګ بدلې یې ویلې، چې په هغو کې یې دغه کلمې اورېدل کېدلې: چیراهي چیراهي مهراچ (Cherahi Cherahi, Mahrach) ده ته جوته شوه، چې دوی په غلیم باندې، چې اماده نه و، بریالي شول. په زوره یې په شپېلۍ وهلو پیل وکړ او سندره یې سر کړه، چې سر یې دا و: اوشرو او وشرو (Ushro oo Ushro) په دغسې مواقعو کې دوی هر بندي وژني، خو د دوی ستر ویاړ په دې کې دی، چې مسلمان ووژني.

یو ځوان کافر تر هغه، چې یې د مسلمان د وژلو لپاره په داسې زړور اقدام پیل نه وي کړی، له ډېرو امتیازونو څخه بې برخې وي او ډېر امتیازونه منځ ته راغلي، چې دی وهڅوي، چې څومره یې له وسه پوره وي، دغه عمل تکرار کړي. د نومي ناټ (Numminaut) په ډرنو نڅاوو کې هر سړی یو راز لنګوټی په سروي، چې په هغه کې د هر هغه مسلمان په مقابل کې یوه اوږده بڼه یا د هغه یوه نخښه ټومبل شوې وي، کوم چې ده وژلی وي. د هغو شرنګانیو شمېر، چې دی یې په دغسې موقع کې تر ملا پورې تړي، په همدغه معیار سره تنظیم شوی وي او هغه کافر ته، چې مسلمان یې نه وي وژلی، اجازه نه شته چې خپل تبرګی په نڅا کې له خپل سر نه هسک کړي. هغوی ته چې مسلمان یې وژلی وي، اشنایان ورځي او مبارکي ورکوي. دوی له هغه وروسته ددې حق ترلاسه کوي، چې د ورېو یوه وړه سره ټوپۍ په سر کړي او هغوی، چې ډېر یې وژلي وي، په خپل ورونو باندې یوه پایه دروي، چې په هغې کې سورې وي او په هرې یوې کې د هر یوه مسلمان په سر چې ده وژلي وي، یوه ستن ږدي. په همدې ډول د هر مسلمان په سر، چې ده ټپي کړی وي، یوه کړۍ ږدي. د مسلمانانو د وژلو په دغسې هڅونې سره ناشونې نه ده، چې کافران به زیاتره وغواړي، چې هغوی بندیان ونیسي. داسې ډېر شوي، چې څه وخت کافران له خپل کلي نه دفاع کوي، بیا په ډېر بري سره جشن جوړوي او هغه بدمرغه بندي په ډېر بد حال وژني یا یې ممکن خپلو بتانو ته قرباني کوي.

خو داسې ښکاري، چې دوی کله کله له مسلمانانو سره سوله یا اورښند هم کوي. د دوی د اتحاد طریقه د دوی د جنګ د طریقې په څېر عجیبه ده. دوی یوه وزه وژني او زړه یې پخوي، نیمایي یې پخپله خوري او پاتې یې مسلمانانو ته ورکوي. بیا دواړه خواوې په نرمه د زړه په برخه په یو بل خوله لګوي او په دې ډول تړون کېږي.

کافران که څه هم د مسلمانانو په کړولو تر دې درجې پورې سخت زړي دي، خو دوی په ټولیز ډول بې خطره، مینه ناک او زړه سواندي دي. دوی که څه هم هېجاني



Property of ACKU

دي، خو په اسانۍ ارامېږي. دوی خوش، خوښ طبعه او خندان دي. په ټوله مانا د مجلس ښاده روحیه لري. دوی آن په مسلمانانو باندې هم څه وخت چې یې د مېلمنو په توګه مني، مهربان وي.

ملا نجیب یو ځل اړ کړای شو، چې د یوه نشه کافر له لارې نه لرې کړای شي، خو دی هېڅکله د هیڅ چا له خوا دده د مذهب له لامله چې دی ددغسې لوړ استعداد خاوند و، ونه ترټل شو او نه یې سپکاوی وشو.

## بدخشان

داسې ښکاري، چې بدخشان که څه هم یو پراخ ملک دی، خو یوه لویه وادي ده، چې د بلخ له ولایت څخه تر بیلوت تاغ (Beloot Taugh) پورې د غرنیو ملکونو په منځ کې پرته ده او هندوکش د پامیر له غرونو سره نښلوي. د هندوکش او بیلوت تاغ په نږدې برخو کې کافران اوسي، چې په نتیجه کې د هغوی ملک په ختیځ او سهېل کې په بدخشان پورې تړلی دی او هغه د پښتنو او قاشقار له کوبس (Cabis) څخه بېلوي. په لویدیځ کې د کندوز، تالقان او حصار آزاد اوزبکان او شمال ته یې د پامیر قرغزان او د شغنان درواز او واخان تاجکان پراته دي. دا ډېر غرني ملکونه دي، چې شمال ته یې یوه ورته سیمه د کوراتیګین Kurrategeen په نامه پرته ده، چې اوسېدونکي یې تاجکان دي او هغه کوکن یا فرانې ته غځېږي. د درواز پاچا خپل نسب لوی سکندر ته منسوب بولي او دده ګاونډیان ددغه دعوا مني. آمو د بدخشان له شمال ختیځ نه راوځي، دننه په شمالي سرحد کې یې بهېږي او بیا هغه له حصار نه بېلوي. د بدخشان داخلي سیمه د کوکچې په سیند خړوبېږي او دغه سیند په امو کې لوېږي. دا یو ښهٔ لوی سیند دی او څنګه چې د فیض اباد په څیر ټیټ نه دی او ډېر لږ ګودرونه لري، د لرګیو څو پلونه پرې جوړ شوي دي. د بیلوت تاغ هغه برخه، چې بدخشان کې پرته ده، اوسپنه، مالګه، سلفر او پرېمانه لاجورد لري، خو د لعلونو هغه مشهور کانونه، چې د فارس شاعرانو یې په وار وار د بدخشان په نامه یادونه کړې، آمو ته نږدې په ټیټو غرونو کې پراته دي او هغه اوس نه رااېستل کېږي.

د بدخشان اواره سیمه او درې زرغونې دي، خو پراخې نه دي. اوسېدونکي یې تاجکان دي او د بدخشیو په نامه یادېږي، خو په لویدیځ کې یې د اوزبکو ډېرې ګرځنده مېنې شته دي. مرکز یې فیض اباد دی، چې د کوکچې پر غاړه یو څه لوی ښارګوټی دی. د بدخشان اوسنی مشر سلطان محمد نومېږي او زما په خیال دی مطلق واک لري. ویل کېږي، چې مالیه یې شپږ لکه روپۍ (نږدې شپېته زره پونډه) ده او پوځ یې له اوو څخه تر لسو زرو مېړو پورې دی. دوی زیاتره په ماشه یې

Property of ACKU

ټوپکونو وسله وال دي او ددغه ټوپک په استعمال کې ښايي دوی ډېر مهارت ولري. کله کله دوی د تالقانو د اوزبکو له خوا ځورول کېږي او په سرحدي ليکو يې کافران بريدونه کوي، خو ډېره موده تېره شوې، چې دوی له کوم لوی جنګ سره مخامخ شوي نه دي. فيض اباد د احمد شاه په وخت کې د هغه د وزير شاه ولي خان له خوا ونيول شو او ټول ملک يې په نامه تابع شو، خو ښايي ده دا حس کړې وي، چې په خپله نه شي کولای دغه ملک وساتي، په دې چې ده د ځينو تاريخي آثارو په اخيستلو قناعت وکړ او ملک يې پرېښود. ددغو آثارو له ډلې نه د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم خرقه مبارکه ده، چې هغه په ګاونډيو ملکونو کې يوه لويه جايزه ګڼل کېده. لکه څنګه چې په اروپا کې فرانسويانو له ايټالويانو څخه مجسمې اخيستې وې.

د قاشقار ملک بايد په ډېرې ځيرتيا له کاشغر نه، چې يارکند ته نږدې په چيني ترکستان کې پروت دی، بېل وګڼل شي. ما زيار ايستی، چې په خپلو نقشو باندې د هغه د توريو په ليکو سره ددغه توپير مراعات وکړم او هغه چې په افغانستان کې ډېر معمول دی، د هغه بېل لپاره ځانګړی کړم. که څه هم ما اورېدلي، چې قاشقار، کاشغر او کاشغار ګډوډ استعمال شوي دي. هغه وخت چې موږ لومړی پېښور ته ورسېدو، د نومونو دغه ورته والی موږ تېر ايستلو. موږ چای پيرود او موږ ته وويل شول، چې هغه له قاشقار (کاشغر، نه په کاروان سره راوړل شوي و او هغو لومړنيو خلکو، چې موږ ورنه د فاصلې په اړه پوښتنې وکړې، وويل چې موږ په اسانۍ سره په دوو اونيو کې قاشقار ته لاړ شو او بېرته به راشو خو ورو، ورو مو په دې اړه تر هغه سم معلومات ترلاسه کړل. موږ ته جوته شوه، چې هغه نږدې قاشقار يو پراخ، خو غرنی او کم نفوسه ملک دی، چې د بدخشان په لوېديځ کې پروت دی او له هغه نه د بېلوت تاغ په واسطه بېلېږي. ووړ تبت يې ختيځ، پامير يې د شمال په لور او د هندوکش لړۍ يې (چې د يوسفزيو له ملک نه يې بېلوي) د سهېل په خوا پراته دي.

دا ملک هسک او سوړ دی، که څه هم ځينې ښارګوټي پکې شته، اوسېدونکي يې زياتره په کېږديو کې اوسي. دوی په هغه ملت پورې اړه لري، چې کوبي (Cobi) نومېږي او د هغو اصل په اړه زه هېڅ معلومات نه لرم، خو دومره پوهېږم چې د دوی نوم د چيني تارتاري له يوې پراخې سيمې سره ورته والی لري. دوی په اوس حال کې مسلمانان دي، چې ګومان کوم د څلورو ووړو مستبدو واکمنو تر لاس لاندې ژوند کوي. لوېديځ لور ته سيمه يې چترال نومېږي او په دغه ملک د بدخشان له خوا بريدونه شوي، خو د بېلوت تاغ او قاشقار په سيند سره يې دفاع شوې ده. د يوسفزيو په لور يې دروش (Droosh) پروت دی، چې د پنجکوړې پښتنو نيولې وو.

Property of ACKU

بل شاهزاده نشين مستوک (Mastooch) نوميږي، چې د هغه او په تېره د هغه د شمال او ختيځ په اړه لږ معلومات په لاس لرو.

ښاغلی مکارټني (Macartany) وايي، چې له پنگوړې نه د قاشقار د ليکو پر غاړه په همدغه نامه يوه دره پورته غځېدلې ده او اوښان پرې تللی شي. دا په هندوکش باندې د تلپاتو واورو په اړه د قاسم د عبارت اريانتيا کموي، چې د يوسفزيو په بيان کې يې يادونه شوې ده.

* * *

Property of ACKU

# څلورمه ضمیمه[۱]

## غرونه او سیندونه

### ۱ـ هندوکش، د لویو واورینو غرونو لړۍ:

ماته تر هر بل ټکي دا ډېر ستونزمنه ده، چې د لویو غرونو او سیندونو ځانګړي نومونه ترلاسه کړم، خو څنګه چې د غرونو دغه لړۍ په شمال لویدیځه خوا کې د هندوکش په نامه یادېږي، زه به یې هم په همدغه نامه یاده کړم. که څه هم دا په حقیقت کې د یو شمېر غرونو له واورو نه ډکه لړۍ ده، خو له یو څه شرحې وروسته به لوستونکي په دې پوه شي، چې ددغو غرونو هغه برخه له کشمیر نه تر دغه غره پورې، چې څلور سوه او څلوېښت جغرافیایي میله کېږي، په همدغه نامه یادېږي.

دغه غرونه له همدغې فاصلې څخه د ختیځ او لویدیځ په لور پراته دي او داسې ښکاري، چې د شمالي عرض البلد په (۳۵) درجو کې له (۳۴) درجو او (۳۰) دقیقو نه (۳۵) درجو ته کېږېږي. داسې ښکاري، چې له دغې ځوکې نه د لویدیځ پر لور ددغې لړۍ هسکوالی لږېږي او ښایي وویل شي، چې د واورینو غرونو لړۍ له همدغه ځایه اخوا د لویدیځ پر لور تمامېږي، ځکه چې له هغو لارو نه چې له کندهاره تر بلخه غځېدلي دي، داسې ښکاري چې هېڅ څوک له دغو واورینو غرونو څخه نه اوړي، بلکې نږدې په دغه عرض البلد کې له هغو غرونو څخه تېرېږي، چې د کابل په څلورو میاشتو کې واوره پرې پرته وي. دا په باوري توګه ددغې لړۍ ادامه ده، خو داسې ښکاري کله چې دوی (لاروي) د هرات او آن د مشهد په لور ځي، د هغو هسکوالی لږېږي، خو یوازې د هرات په برخه کې دغه حال د څه وخت لپاره نه لیدل کېږي. دوی د شمال په لور نه ځي، ځکه چې د بلخ له لارې له فیض اباده تر

---

[۱] دغه جغرافیایي برخه الفنسټن د هیئت د یوه غړي ښاغلي مکارت ني (Macarrtney) له خوا تهیه او لیکل شوې ده. ژباړن

هراته پورې باید دوی که ولاړ شي، په دغو لارو لاړ شي او که دوی د سهېل په لور ځي، نو باید له کابله د کندهار پر لار لاړ شي، نو زه له دې نه داسې نتیجه اخلم، چې د پورته یاد شوي ټکي په شاوخوا کې واورینه لړۍ تمامېږي، خو یوه وړه سلسله په هماغه لور لا دوام کوي او هغه ښايي همدغه لړۍ وګڼل شي یا ونه ګڼل شي. ما په هغې آلې سره چې افقي او عمومي ګوټونه پرې اندازه کېږي یانې (Theodolite) ددغې لړۍ د غرونو ځینې ډېرې لوړې څوکې د اوښتو رااوښتو په نخښو سره وټاکلې او راته جوته شوه، چې د سلو میلو په واټن کې د ځینو څوکو څرګند عرض البلد یوه درجه او ډېرش دقیقې دی، چې نېغ لوړوالی یې (۲۰۴۹۳) فوټه کېږي، خو البته دغه اندازه ددغسې وړې زاویې او دومره اوږده واټن لپاره پوره د اعتبار وړ کېدای نه شي، دلته به یوه ډېره وړه تېروتنه، چې ښايي په دغې آلې ښکاره نه شي، د لوی توپیر لامل وګرځي، خو سره له دې هم دا دومره سمه وه، چې ما د لمر هسکوالی په نظر کې ونیوه او ددغو غرونو عرض البلد له مخې د نقالې[1] (Sexant) له مخې مې ښودلی و. د دوه درجو په حدودو کې راغی، نو واټن به یې ښايي د اعتبار وړ وي، ځکه چې ما د اساس کرښه چې اندازه یې پېنځه څلوېښت میله وه او دا یوه ښه زاویه ګڼل کېږي، په لاس کې لرله.

له کشمیر نه تر هندوکشه ټول هغه سیندونه، چې ددغو غرونو له شمال څخه راوځي، د شمال لویدیځ په خوا بهېږي، یوائې اباسین (Indus) یانې د سند سیند او د کامې سیند (د کونړ سیند) او ټول هغه غرونه، چې د هغو له سهېلي اړخ نه راوځي، جنوبي مسیر لري. دا تر ټولو ډېر قوي ثبوت دی، چې زه یې په دې اړه وړاندې کولای شم، چې دغه لړۍ غرونه ډېر هسک دي او هغه د جون په میاشت او جوزا له ۱۱ د سرطان تر ۹ پورې، چې په پېښور کې د تودوخې اندازه د فارنهایټ (۱۱۲) او (۱۱۳) درجې وه، په واورو تک سپین وو. د تودوخې همدغه اندازه ښکته په جنوب (ملتان) کې د دسمبر او جنورۍ (قوس، جدي او دلو) په میاشتو کې، چې د عرض البلد په ډېرشو درجو، څوارلس دقیقو او ډېرشو ثانیو کې واقع دي، د فارنهایټ (۲۶) درجې او څلور دقیقې وي.

د غرونو دغه ستره لړۍ، چې ما د کشمیر له شمال_ختیځ نه پرې پیل وکړ، دسهېل_ختیځ پر لور پرته ده، چې د پنجاب د سیندونو له سرچینو څخه غځېږي او له کوټ کانګړا (Kotekangra)، بیلاس پور (Bilas poor) او سرینګر څخه تېرېږي او د جمنا (Juimna) او ګنګا (Ganges) له سرچینو څخه اوړي او تر هغه وروسته د دوی مسیر د جنوب پر لور کېږي.

[1] هغه آله، چې په هغې سره د زاویې او درجې له مخې د واټن اندازه لګول کېږي. ژباړن



Property of ACKU

دغه غرونه په خپلو څوکو کې هیڅ راز شنیلي او بوټي نه لري، خو لمنې یې له ځنګلونو څخه ډکې دي، سرونه یې ګرد سره سپېره دي او ډېرې څوکې یې ډېرې هسکې او ډېرې وتلې او ښکلې دي، خو له بده مرغه موږ هغه وخت له پېښوره لاړو، چې هغه په سترګو نه لیدل کېده. که نه موږ به ممکن له جلال آباد نه تر سیرېنیګر پورې ددغو غرونو کوربوالی د اوښتو رااوښتو په نخښو سره په یقیني ډول اندازه کړی وای.

## ۲_ د پامیر د غرونو لړۍ

دغه غرونه که څه هم د هندوکش د غرونو په اندازه هسک نه دي، خو داسې ښکاري چې هغه کېږه، چې دوی پرې پراته دي، تر نورو ډېره لوړه ده، ځکه چې داسې څرګندېږي، چې له هندوکشه د شمال پر لور سفر په ښکاره ډول مخ پورته دی او ددغه حقیقت د اثبات لپاره دغومره بس ده، چې وویل شي، ټول هغه سیندونه، چې له دغې لړۍ غرونو څخه وځي، د جنوب پر لور بهېږي، ترڅو د هندوکش لوړې کچې ته ورسېږي او بیا وروسته له هغه، چې په امو ورګډېږي، د لویدیځ او شمال_لویدیځ پر لور درومي. دغه سیند د هندوکش لوړو ځمکو ته د بلخ په شمال_ختیځ حضرت امام ته رسېږي او دا هغه ټکی دی، چې له دغو غرونو نه یوه درجه د شمال پر لور پراته دي او له هغه وروسته داسې ښکاري، چې د شمال په لور د دوی سیر تمامېږي او کېدای شي، خو څنګه چې هغه سیندونه چې د پامیر له غرونو څخه وځي، چې له هندوکشه وځي، له یوې څخه تر بلې ځمکې درجې پورې د سهېل پر لور روان وي او دواړه برابر ګرندیتوب لري. زما په خیال دا ددې نوی ثبوت دی، چې د پامیر کچه د هندوکش تر کچې ډېره هکسه ده، خو څنګه چې هغه غرونه چې نږدې له لویدیځ، شمال لویدیځ نه تر ختیځ، شمال ختیځ پورې ددغې لړۍ کچې شمال خوا ته پراته دي (او دا له هغو لارو نه ښکاري، چې له بېلابېلو لوړو ټکیو څخه تېرېږي) د یوې ورځې د تېرېدلو مزل دی او د هندوکش غرونه په ډېرو ځایونو کې د دوو ورځو مزل نیسي. دغه وروستۍ کچه ښایي ډېره ستره وګڼل شي، که څه هم هغه غرونه چې په هغې کې پراته دي، تر هغو نورو ټیټ دي. دغه غرونه له بده مرغه د هندوکش د غرونو په څېر په یوه ټولیز نامه نه یادېږي، خو له دغو وروستیو لارو څخه چې د یوې ورځې مزل په موده کې له یوه لوړ غره څخه اوړي او هغه د کال په ډېرې مودې کې په واورو پټ وي او له هغو څخه په بېلابېلو برخو کې دشمال او جنوب پر لور سیندونه بهېږي، زما په فکر ثابتوي چې هغه له اکسو (Aksoo)، د خوجند له جنوب ختیځ نه تر لهه (Leh) پورې یالدک (Ludduck) ته نږدې، چې دلته یې نور زه څه پته نه لرم، یوازې یوه لړۍ غرونه دي.هغه لار چې هغو ته نږدې د

Property of ACKU

هغه عرض البلد په هماغه موازي او هماغه سمت کې تېرېږي، چې ویل کېږي دوی ورسره امتداد لري، په دې ډول دي:

له دروازه د امو پر غاړو کې تر کوکنه (Kokun) پورې، له پېښوره تر یارکنده پورې، چې په دوو لارو کې یو تر بلخه تېرېږي او له یارکنده د لهه (Leh) یا لدک (Ludduck) له لارې تر کشمیر پورې یو له بله تېرېږي او د یارکند او واړه تبت (Littetibet) ترمنځ یو پر بل باندې تېرېږي.

## ۳_ د بدخشان د غرونو لړۍ

د غرونو دغه لړۍ د پامیر او هندوکش د غرونو ترمنځ له شمال، شمال ختیځ نه تر سهیل، سهیل لویدیځه پورې غځېدلې دی. دغه لړۍ غرونه آمو، د کامې یا کامګار (Kamgar) له سیند څخه بېلوي او نه پرېږدي، چې دغه دواړه سیندونه سره یوځای شي او که په مینځ کې یې نه وای هغه به یو له بل سره ګډ پدلای او هغه د هسکو واورینو غرونو څخه چې (پښت خر) نومېږي او دا مو منبع ده، د کامې د سیند د ښي غاړې په اوږدو کې د جنوب او جنوب لویدیځ پر لور (د کامې سیند د ختیځ بدخشان پوله جوړوي) له کافرستان (اوسني نورستان) څخه د جلال اباد په شمال کې د هندوکش تر غرونو پورې له پېښوره تر کابل پورې په لارې درومې او که هغه ناوه موجوده نه وای، چې د سپین غره (د جلال اباد سهېل لویدیځ) او په شمال ک د هندوکش د غرونو ترمنځ پرته ده، دا شایي د غرونو یوه لړۍ وای، چې د هندوکش د غرونو له لړۍ څخه په قایمه زاویه کې تېرېږي، خو څنګه چې د تېرېدو دغه واټن دولس یا څوارلس کاسه (Cossa) دی (هر کاس یو نیم میل دی) هغه بنایي د هماغو غرونو لړۍ وګڼل شي یا ونه ګڼل شي، زه به هغه د سلیمان د غرونو د شرحې پر مهال، چې له جنوب څخه سپین غر د تېرا له غرونو سره په قایمو زاویو کې یوځای کوي، په جلا ډول شرح کړم.

له ټولو څرګندونو څخه داسې ښکاري، چې د بدخشان د غرونو لړۍ د پوره ملاحظې وړ ده او د کال په ډېرو برخو کې په واورو پوښلې وي. د (پښت خر) غر کرې کال په واورو پټ وي او ویل کېږي، چې د واورې ژورتیا یې پنځوس نیزې ده، چې بېخ یې د آمو سرچینه تشکیلوي. د غرونو دغه لړۍ د سپینو زرو، لاجوردو، اوسپنې او انتي مني (Antimong)[1] قیمتي کانونه لري. د یاقوتو (Rubg) کانونه یې له دغې لړۍ نه یو څه لیرې امو ته نږدې پراته دي. له هغه څخه بې شمېره رودونه راوځي، چې په امو او کامې ورګډېږي. داسې ښکاري، چې د امو د کیڼې خوا

[1] انتي مني یو قیمتي عنصر دی، چې کله له نورو موادو سره ګډ شي، ټینګوالی پکې راولي. انګرېزي_پښتو قاموس.



Property of ACKU

په لارو کې کله، چې یو څوک ددغه غره په ډډو کې ځي، د هرې ورځې په سفر کې له دوو_درېو رودونو څخه تېرېږي، چې هر یو یې له پښځلسو نه تر دېرشو او څلوېښتو گزو پورې ارتـه او تـر زنگنو پورې ژور دی. داسې ښکاري، چې د پـامیر او هندوکش ترمنځ ټول ملک د غرونو یوه مجموعه ده، خو دا اسانه وه چې ځینې داسې د کتلو وړ غرونه وموندل شي، چې له هغو نه واړه غرونه په تېنگه زاویه کې غځېږي، د هغوی دغه ډلې او تنگې ناوې تشکیلوي. غرونه یې ښه ځنگلونه لري او د هغوی په بیخونو کې د مېوو بېلابېل ډولونه په ډېر شمېر لیدل کېږي. په همدې ډول د هندوکش د سهیلي خوا غرونه تر شپېتو یا اویا میلو پورې د ورو غرونو پوره غونډ جوړوي. ناوې یې د تېټک له اوازه تر دوو_درېو میلو پورې سوروړې دي، ښه او غني کرنه پکې کېږي او د انگورو، منډتو، انارو او نورو مېوو ډېر مقدار تولیدوي. د غرونو دغه لړۍ چې څومره د سهیل پر لور غځېږي، هغومره یې هسکوالی لږېږي او د پېښور په ناوه کې ډومره ورې شي، چې لوړوالی یې تر اوو_اتو سوو فوټو، نه ډېرېږي.

## ۴_ د تیراه یا خیبر د غرونو لړۍ:

دغه لړۍ د اټک له کلا نه لږ څه ښکته د سیند په ښي غاړه د کلا له خوا نه په مقابل لوري پیلېږي او تر هغو په لوید یځه خوا ځي، چې د سلیمان له غرونو سره د سپین غره په سهیل کې یوځای شي او د کوهاټ او پېښور ناوې سره بېلوي، چې د سلیمان د غرونو لړۍ او سپین غره ته رسېږي، هسکوالی یې ډېرېږي. ما ته داسې ښکاري، چې د غرونو دغه لړۍ د سلیمان له غرونو څخه تېرېږي او تر غزني پورې لا زیات د سهېل پر لور دوام کوي. له دغه غره څخه یو لړ نور غرونه د هغه او د هندوکش ترمنځ د قطب او سهیل پر لور پراته دي او له لوېدیځ لاوې څخه له پېښوره تر کابله په تېنگه زاویه کې غځېږي او د جمرود په برخه کې د پېښور د ناوې لویدیځه پوله جوړوي. له دې ټکي نه، چې هغوی د لویدیځ پر لور دوام کوي، لوړوالی یې ډېرېږي او له پېښوره یې څلور څرگندې لړۍ لیدل کېدای شي، چې یوه یې له بلې نه په جگوالي کې اوړي. له دې نه ښایي داسې څرگنده شي، چې هغه لیرې لړۍ یې یو څه زیاتې هسکې وي. په واقع کې د اقلیم اختلاف دغه ټکی ښه څرگندوي، ځکه چې له پېښوره دوه یا درې مزله هغه خوا اقلیم هغه وخت، چې د تودوخې له لامله د پېښور اقلیم د زغملو وړ نه وي، سوړ او په زړه پورې وي. د تیرا او خیبر غرونه د ښوون په ونو پټ دي، خو ستغ او کلک دي او یوازې په یو څو لارو باندې یې په اسونو سواره کسان تللی شي. په لویدیځ لور کې یې ډېره ښه اوسپنه پیدا کېږي. اورېدلي مې دي، چې د کره باغ د مالگي غرونه د سلیمان له غره سره د

نښلېدو ترحده کېږي.

## ۵_ د سلیمان د غرونو لړی:

د غرونو دغه لړی، د پرې پراخې او نړدې د شمال او جنوب پر لور پرتې دي. کېدای شي وویل شي، چې هغه له سپین غره نه پیلېږي او چې د سهیل پر لور دوام کوي، د پېوار شمال ته د تیرا له غرونو سره نښلي. بیا نو له کانیګرام څخه د سلیمان تر تخت پورې د سهېل ختیځ پر لور غځېږي. له دغه ټکي څخه د هغو هسکوالی لېږي او د جنوري د میاشتې په پای کې ددغه ټکي په سهېلي لور کې واوره نه لیدل کېږي. پخپله تخت له ډېره اسماعیل خان نه، چې شپېته میله لیرې پروت دی، یوه درجه او ډېرش دقیقې کوږوالی لري، چې عمودي جګوالی یې (۱۲۸۳۱) فوټه کېږي. له دغې ټکي څخه د هغو سمت د ملتان تر عرض البلد پورې د سهیل پر لور دی، ځکه چې هغوی له ملتان څخه داسې د لوېدیځ په سهېل کې په سترګو نه راتلل. دلته له لارو څخه داسې ښکاري، چې له سیند څخه په دغه ټکي کې دوی پوره کوږوالی غوره کوي او د شکارپور په برخه کې نه لیدل کېږي، خو له هغو لارو نه چې د سند په سهېل کې د تالپوریانو له ملک نه تېرېږي، داسې ښکاري چې دوی د سیند پر لور بیا کږېږي او تر تاتا (Tatta) پورې د لارې په ښی خوا کې په ټوله لاره کې له شلو څخه تر دېرشو کاسو (Coss) پورې پراته دي، خو ځنګه چې زه په دې بریالی نه شوم، چې د شکارپور سهېل لور ته لار ومومم، چې له هغه نه په لوېدیځه خوا غځېدلی دی. زما لپاره ممکنه نه وه، چې د هغو موقعیت په یقیني ډول وټاکم. له ما سره یوازې د اطلاع راکوونکیو تخمیني واټن موجود و، چې ممکن لس کاسه توپیر ولري. د شمال خوا ته دغه واړه غرونه د ښوون په ونو پټ دي. دغه غرونه ستغ دي او ګړنګونه لري او تر پېچومو یې اوښتل هم ګران دي. د کانیګرام په برخه کې یې ډېره ښه اوسپنه موندل کېږي، چې ښې تورې ترې نه جوړېږي.

له دغو غرونو څخه یو څو واړه ښاخونه د تیرا له غرونو سره موازي د ختیځ پر لور تر سند پورې رسېږي. لومړی ښاخ یې د تیرا سهېل ته د مالګې غرونه دي، چې له سند څخه د کره باغ په حد کې تېرېږي او د جیلم (Jelum) پر غاړو تر جلال پوره غځېدلي دي. دغه غرونه له ټولو هغو غرونو څخه، چې تراوسه یې یادونه شوې ده، په جګوالي کې کم دي، خو هغه لارې چې له هغو نه تېرېږي، ستغې او سختې دي. ټول هغه ملک، چې ددغو غرونو او د تیرا د غرونو په منځ کې پروت دی، د غونډیو یوه مجموعه ده، چې ځینې شتمنې او سمسورې ناوې او درې لري، خو د هغو شمېر لږ دی. ددغو ټیټو غرونو عمومي سمت له شمال لویدځ اتیا درجو څخه د سهیل

Property of ACKU

ختیځ اتیا درجو پورې دوام کوي. نور غرونه د قطب او سهېل پر لور غځېدلي او له دغو غرونو څخه نېږدې د سند په برخه کې اوړي. دوی په لوړوالي کې د مالګې له غرونو سره برابر معلومېدل، دوی دغسې ژورې برخې جوړوي، چې ګرنګ وزمه او کلکې زېږي دي. کومه مالګه، چې له دغو غرونو څخه راوځي، د بلورو په څېر رڼه او دومره کلکه وي، چې د مصرف لپاره یې د غوریو او ښانګونو په شکل جوړوي. ډېر مقدار یې کره باه (کره باغ)، کشمیر او ښکته سند ته وړل کېږي.

هغه بله لړۍ غرونه، چې د سلیمان د غرونو له لوري ښکاره کېږي، د کاتیګورم (کانیګرام) له شمال څخه غځېدلې ده، چې پونیالی (Punnialla) ته دختیځ، سهېل ختیځ په لور دوام کوي. دغه لړۍ غرونه د مالګې له غرونو څخه واړه دي او ممکن اته یا نهه سوه فوټه هسک وي. یوازې یو څو لارې له هغو څخه تېرېږي، چې هغه هم سختې دي. د پونیالي په برخه کې دغه غرونه سپېره دي او شګلن غونډې ښکاري. سهېلي برخه یې نېږدې عمودي ده او په هغو باندې د ختلو په وخت کې د ښوینده لاښونو په نیولو سره غټې ټوټې ترې جلا کېږي، چې یو څه خطر لري.

## هغه واړه غرونه، چې دسلیمان له غرونو نه دسند پر لور مخ په ختیځ پراته دي

هغه غرونو چې د سترو غرونو ختیځې خوا ته له هغو سره موازي پراته دي، د وړو غرونو دوه بېل ګروپونه دي، چې د سند په ختیځو غاړو کې په ځینو ځایونو کې له لسو څخه تر دولسو کاسونو پورې پراخ دي.

هغه، چې سیند ته نېږدې پراته دي، داسې ښکاري چې شګلن ماهیت لري او د پونیالي د غرونو په څېر پوره سپېره دي، خو هغه ناوې چې ددغو غرونو په منځ کې پرتې دي، سمسورې دي او شیراني، ستوریاني او بابړ پکې اوسي او دوی لارویان شکوي او په نتیجه کې یوازې یو څو لارې له هغو نه د لویدیځ پر لور غځېدلي دي. داسې ښکاري، چې دویمه ډله واړه غرونه چې د لویو او وړو غرونو په منځني حد کې پراته دي، په ځنګلونو، په تېره د ښوون په ونو ښه پټ دي. دغه واړه غرونه له لویو غرونو سره په هره برخه کې ملګرتیا کوي. د لویې لړۍ منځنۍ فاصله یې د بېلابېلو ټکو نه د اوښتلو رااوښتلو د نخښو په ذریعه معلومه شوې، چې د سند له غاړو نه شپېته میله وي.

هغه ناوې، چې د هغو په اړه ماته معلومات راکړ شوي، یو څه پراخې دي او له دغو غرونو نه څو خوړونه راوځي، چې له هغو نه د کرنې په چارو کې کار اخیستل کېږي.

## هغه واړه غرونه، چې د سلیمان د غرونو په لویدیځ کې پراته دي

ددغې لړۍ غرونو لویدیځه خوا د کابل ـ پېښور له لویې لارې ښکته، د نصیر خان کلات (میرې کلات) تر عرض البلده پورې د وړو غرونو یوه داسې پوره



Property of ACKU

مجموعه ده، چې په ډېرو برخو کې د طول البلد له دوه نیمو څخه تر درې نیمو درجو پورې پراختیا لري. داسې ښکاري، ډېر مهم یې هغه دي، چې د شمال په لور پراته دي، چې د وزیرو او سلیمان خېلو له ملک څخه تېرېږي او د جنوب پر لور دغو لیرې تر کوتله پورې رسېږي. له دې نه داسې ښکاري، چې دغه غرونه همدا چې مخ په جنوب د کاکړو له ملک نه تېرېږي، هسکوالي یې لږېږي. سره له دې، چې هسکوالی یې بیا هم ډېر دی، ځکه چې دسهېل پر لور ډېر کوتلونه او غاښې پرې لیدل کېږي، خو ممکنه نه ده چې کوم منظم غر دلته موندل شي. هغه، چې د کاکړو له ملک څخه تېرېږي، تر لوېې لارې پورې غځېدلی او له کندهاره د شکارپور تر لویدیځ پورې دوام کوي او له هغه څخه هغه خوا یوه لویه مېره پیل کېږي. هغه د غزني له قطبه نېږدې تر کندهار پورې غځېدلی او چې څومره د لویدیځ پر لور دوام کوي، هغومره یې لوړوالی لږېږي. هغوی له شهرصفا څخه د لویدیځ پر لور کښېږي او د کاکړو له غرونو سره یوځای کېږي، چې په جنوب کې پرېښودل کېږي او هغه په همدې ډول له کندهاره د نصیرخان تر کلات پورې له یوې لار سره نښلي، خو لارې ته نږدې یې هسکوالی ډېر لږ دی.

غواړم دلته د هر یوه بېله بېله یادونه وکړم. که څه هم ممکن وویل شي، چې هغوی د کابل او د هزاره و په لویدیځ کې له وړو غرونو سره یوځای کېږي (ځکه چې له کندهاره د غزني په لاره یوائې د میدان په نامه اواره او یوه وړه ناوه پرته ده) خو څنګه چې د شمال او جنوب واړه غرونه همدا، چې دغې لارې ته نږدې کېږي، په جسامت کې واړه کېږي. دوی ممکن بېل وګڼل شي او دا په دې لامل، چې داسې ښکاري، چې ددغې لارې په اوږدو کې له کوم غره څخه څوک نه اوړي. نو زه به ددغې لارې شمال او د کابل له لویدیځ څخه لومړی د هزاره و په غرونو پیل وکړم، خو لومړی به په ځانګړې توګه د غزني یادونه وکړم، چې په لوړه کچه کې پراته دي او داسې ښکاري، چې هغه د تیرا له غرونو سره یوځای کېږي او د سلیمان له غرونو څخه نږدې په ټینګه زاویه کې تېرېږي. ویل کېږي، چې غزني له کابل نه سوړ دی، که څه هم داسې نه ښکاري، چې د هغه شاوخوا به لوی غرونه پراته وي، خو هغه باید په څرګند ډول تر کابله په لوړه کچه پروت وګڼل شي، ځکه چې داسې ښکاري چې یو لوی رود د غزني د قطب پر لور د میدان او لوګر نه تېرېږي او د کابل او پنجشیر له سیندونو سره یوځای کېږي.

د ترنګ سیند د غزني له لویدیځ او سهېل ـ لویدیځ نه وځي او لویدیځ او سهېل لویدیځ پر لور درومي.

د کرمې سیند د غزني له ختیځ نه وځي او د سند د سهېلي خوا، ختیځ،

Property of ACKU

سهېل_ختیځ لور تعقیبوي.

د ګوملې سیند د هغه له سهېل_ختیځ نه وځي او په هغه لور درومي، نو په دې ډول داسې ښکاري، چې ټول هغه غرونه چې د غزني له شاوخوا څخه وځي. له هغه څخه به ښه درومي او دا د دې لوی ثبوت دی، چې غزني په یوې لوړې کچې پروت دی. داسې ښکاري، چې د غزني لوړه سیمه د لوګر په لویدیځ کې د تیرا د غرونو او سپین غره پر لور په یوې انحنا کې دوام کوي. په همدې ډول داسې هم ښکاري، چې له دغې ناوې څخه له تېرېدلو وروسته د هغې لوېې لارې په اوږدو کې، چې د کابل او کندهار ترمنځ پرته ده او د غزني دشمال_لویدیځ پر لور درومي، یوه بله لوړه کچه موجوده ده، چې په کابل کې د شمال_لویدیځ غره پورې غځېدلې ده.

له ټولو څرګندونو څخه داسې ښکاري، چې ټوله هغه سیمه چې له کابل څخه د هرات تر لویدیځ پورې د دغې لارې په ښې خوا کې پرته ده او د شمال پر لور تر هندوکش پورې رسېږي او فاصله یې په لویدیځ کې درې سوه او شپېته میله او په جنوب او شمال کې له دوو څخه تر درېو درجو پورې ده، د غرونو یوه پوره لړۍ او مجموعه پرته ده، چې په ټولیز ډول یې هسکوالی ډېر دی او دغه ټوله سیمه د آس سپاره لپاره کله کله د تېرېدلو وړ وي، خو په ډېرو ځایونو کې د آس سپاره پرې هېڅ تېرېدلی نه شي. دغه غرونه په ځنګلونو ښه پټ دي او له هغو څخه ډېر رودونه وځي. هغه یو څو ناوې او درې، چې دلته لیدل کېږي، ښې سمسورې دي او د هر راز مېوو ډېر مقدار پکې پیدا کېږي.

## کوهستان، د کابل سیند شمال ته

هغه ټوله سیمه، چې له غوربند څخه د پنجشیر د سیند (چې د اوبو ډېر مقدار برابروي او د کابل سیند ورسره یوځای کېږي) پر غاړه او د دغو دواړو ګډو رودونو په اوږدو کې پرته ده او شمال خوا ته یې د هندوکش د غرونو لړۍ پرته ده. آن د پېښور تر ناوې پورې د وړو غرونو یوه داسې مجموعه ده، چې څومره د کابل له سیند څخه له پورته غرونو سره د یوځای کېدو پر لور درومي، هسکوالی یې کمېږي. دغه غرونه لوړ او سپېره دي، خو داسې ښکاري چې ډېر ځنګلونه لري او اقلیم یې سوړ دی او څومره، چې د سهېل پر لور درومي، هومره ډېر خوړونه له دغو ګډو رودونو سره ګډېږي. چې وروسته د کامې د سیند په نامه یادېږي. کامه له دغو سیندونو سره د هغه د یوځای کېدو په برخه کې د یوه کلي نوم دی. په دغه سیمه کې ځینې تنګې درې جوړې شوي، چې تاجکان پکې اوسي. دغه یو څو ناوې چې دلته شته، ښې ابادې دي او د مېوو ډېر مقدار پکې کېږي، چې مهم یې انګور، منډتې او انار دي، خو په دغه سیمه کې په ټولیز ډول د اسونو ساتنه عملي نه ښکاري.

Property of ACKU

## د سند د ختیځې غاړې غرونه

هغه د مالګې د غرونه سیمه، چې له کره باغه تر جلال پور پورې د جیلم پر غاړه د شمال پر لور په ختیځ سمت کې تېرېږي، غرنۍ ده. (په تېره له اټک نه د جېلم ښارګوټي ته ددغې لوړې لارې شمالي برخه، چې ددغه سیند د کیڼې غاړې له روتاس ګړ (Rotasgurh) نه (اووه کاسه ده) او تر کشمیر پورې ګړنګ وزمه ګروپونو کې غځېدلې او ځومره، چې د شمال پر لور درومي، هغومره یې هسکوالی ډېرېږي. دغه غرونه دومره کړېنده او ګران دي، چې هېڅلاروی کشمیر ته نېغ پرې ختلی نه شي او لاروی په ټولیز ډول د صالح کې سرای (Salih Ke Surai) داېروي لار نیسي، چې په هغې باندې د اټک_کشمیر لویه لار تېرېږي، آن دغه لاره هم ستونزمنه ده، په تېره هغه وخت چې کشمیر ته نږدې کېږي. دلته په دې لار باندې د تېرېدو لپاره یوازې د یوه آس سپور لپاره ځای شته او په دواړو غاړو کې یې غټې نیغې تېږې پرتې دي. په دغه برخه کې څو واړه، خو سپېره غرونه لیدل کېږي. هغه غاښي یې ګران دي، چې له دواب (Doob) نه لاندې د سهېل_لویدیځ پر لور پراته دي او ځینې یې د مالګې له غرونو سره یوځای کېږي. موږ ته ددې فرصت په لاس راغی، چې دغه غرونه او د هغو په منځ کې د ځینو غاښیو ماهیت وړینو.

لومړني نه یې موږ هغه وخت تېرشو، چې اټک مو شاته پرېښود. له هغه ځایه، چې موږ واوښتو، هغه لویدیځ_ختیځ ته نږدې درې میله او له کلاکې سرای (Kalake Surai) نه ډېرش میله لیرې پروت. له دغه ځایه یوه ښه لاره تېره شوې، چې د شاه جهان په امر جوړه شوې. دغه لاره په اوارو تېږو مسطح شوې او د ډېرې برخې حال یې تراوسه هم ښه دی. دغه لړۍ غرونه ټیټ، خو ستغ او ډېریزې او د شمال_ختیځ پېنځه اویا درجو ته د جنوب ختیځ تر اتیا درجو پورې غځېدلې دي. داسې ښکاري، چې دغه ځای یې تر ټولو ټیټ دی. د ختیځ او شمال پر لور د هغو هسکوالی ډېرېږي او ښکاري، چې ستغ او سپېره دي. د غرونو دغه لړۍ د غرونو له دویمې ډلې سره د حسن ابدال په سهېل کې یوځای کېږي او له هغه ځایه وروسته د نیلاب (Nilab) پر لور غځېږي. . هغه ټول د وړو بوټو په ځنګلونو پټ دي.

زه پخپله د همدغه غاښي د ختیځ له لوري وختلم او راته معلومه شوه، چې ډېر کړېند، ډبریز او مشکل دی، سره له دې چې وایي دا تر ټولو اسان غاښی و. ددغو لړۍ غرونو ترمېنځ دغه ټوله سیمه له آره زیاته نااواره ده. په ډېرو برخو کې هسکې ځمکې لري، چې ګړندیو رودونو، لویو ځنګلونو او ژورو درو پرېکړې دي. په ډېرو برخو کې یې خاوره شګلنه ده او دپاسه یې ډېر ښوی کاڼي پراته دي، ځینې سمسور میدانونه هم لري، چې غلې دانې پکې پرېمانه کېږي. خو هغه هم په ډېرو برخو کې



Property of ACKU

په هغو رودونو پرېکړې شوي، چې له غرونو څخه وځي.

د نیلا (Neela) غرونه د غرونو دویمه لړۍ جوړوي، چې د جیلم د پاسه د جلال پور د گاټ (Ghat) یا گودر[1] د شمال، شمال ختیځ په پنځه ویشت میلی کې پروت دی. هغه کوتل، چې د دغو غرونو له پاسه تېرېږي، ډېر ستغ او نږدې پنځه میله اوږد دی او هغه د یوې شیلي په اوږدو کې کېږي. په داسې حال کې، چې په ډېرو ځایونو کې په دواړو غاړو لوړې تېږې نیغې او نږدې پرتې دي، یوه کلا چې د دغه غاښي د سهېل برخې په نږدې نیمایي کې یې د اوتوم سنگه (Ootum Singh) له خوا جوړه شوې ده، په هغې حاکمه ده او دلته له سوداگرو نه محصول اخیستل کېږي. دغه غاښی په طبیعي ډول ډېر مشکل دي او ممکن په اسانۍ سره وساتل شي. زما د معلوماتو له مخې هغه له شاهي لارې څخه، چې له روتاس گړ نه نېغ لاهور_پېښور ته درومي، ډېر اسان دی. موږ له دغه غاښي څخه د سهېل، سهېل ختیځ پر لور څوارلس میله لیرې د تیلا (Tilla) د غرونو له سهېل لوېدیځ برخې ته واوښتلو، چې تر روتاس گړ پورې درومي. د هغو شاوخوا لاره د دغسې یوې گړندي شیلي په مجرا کې غځېدلې ده، چې غاړې یې جگې او ښې کلکې زېږې دي او ښې خوا ته یې داسې ناهواره ځمکه پرته ده، چې آن د مالگې تر غرونو پورې شپږ یا اووه میله پراخه ده. د تیلا په غرونو باندې له اوښتلو وروسته د وړو ټیټو غرونو یوه داسې ټیټه لړۍ پیل کېږي، چې د مالگې له غرونو سره برابره ده او د جیلم په اوږدو کې پراختیا مومي. دغه غرونه د لارې په کیڼې خوا کې یو نیم میل اوږده پراته دي. د مالگې غرونه د جلال پور له گودر څخه یو میل پورته له هغه غره سره په یوې انحنا کې یوځای کېږي او دغه لاره دغې ناوې څخه د هغو له منځه د یوې ستغې او ژورې غاړې په اوږدو کې هماغه گاټ یا گودر ته ځي. د دغې لارې وروستۍ برخه یوې ډېرې گړندۍ شیلي په مجرا کې درومي، چې د هغې ناوې اوبه له ځان سره وړي، چې موږ شاته پرېښودو. د غرونو دغه ټولې لړۍ په شمال ختیځ کې له یوې ډلې وړو ټیټو غرونو سره یوځای کېږي، خو یو یې هم د جیلم له ښار څخه لاندې د جیلم له سیند نه اوړي، خو هغه واړه غرونه هلته ترینه تېرېږي او د بمبر (Bimbar)، جمبو (Jumboo)، نورپور (Nur Poor) او ښکته د بېلاس پور (Bilaspoor) د جنوب له لارې وړاندې درومي. له جمنا نه په فیض اباد او له گنگا نه په هر دوار (Hur dwar) کې تېرېږي. له جیلم څخه د هغو سمت هغومره، چې ممکن دی، جنوب ختیځ ته نږدې دی. هسکوالی یې په شمال کې ورو ورو له واورو نه تر

[1] گاټ هندي کلمه ده او د سیند هغې ټیټې او اوارې برخې ته ویل کېږي، چې هندوان پکې لامبي، کالي پکې وینځي او په اسانه ترینه تېرېږي. ژباړن.



Property of ACKU

دکو غرونو پورې ډېرېږي او داسې ښکاري، چې د منظمو غرونو داسې لړۍ جوړوي، چې له یو بل سره جوړه او موازي غځېدلې، خو دوی په واقع کې د ژورو غرونو غونډې دي، چې څومره د شمال ختیځ پر لور درومي، هسکوالی یې ډېرېږي.

## د واړه تبت لوړه کچه او هغه غرونه، چې شمال لویدیځ پر لور تر یارکنده پورې پراته دي

داسې ښکاري، چې د کشمیر په شمال ختیځ کې له پينځو ورځو مزلونو وروسته مخ پورته تګ په څرګند ډول پيل کېږي، چې د درېو یا څلورو ورځو لپاره ډېره مخ پورته او یا له هغه وروسته تر لیه (Leah) پورې لږ مخ پورته وي. مخ پورته تګ آن تر یوې مورې پورې، چې تبت له یارکند څخه بېلوي، هم دوام کوي او دا حقیقت د هغه رود له لوري څرګندېږي، چې له دغه ټکي څخه راوځي. د غرونو دغه لوړه موړه هغه ده، چې مالیې دمخه یادونه کړې، چې له څو لیرو ټکو څخه تېره شوې او د پامیر یوه برخه جوړوي.

هغه لاره، چې له لیه (Leah) څخه وځي، د دولسو ورځو سفر لپاره په دغې مورې کې تر یارکنده پورې ځي او له لیه څخه د پينځلسو ورځو سفر په موده کې لاروي ترېنه اوړي. په لیه کې دغه رود شاته پرېښودل کېږي او ښایي سرچینه یې یو ډېر لرې ځای وي. د کینهې خوا سیمه هم ډېره غرنۍ، خو بیخي شاړه ده او په دې لامل د هغې د ماهیت په اړه لږ معلومات ترلاسه شول، خو له هغې لارې نه چې له دیر څخه راغلې او ددغې سیمې د جنوبي برخې له لویدیځ نه د ختیځ پر لور غځېدلې، داسې ښکاري چې دغه ټوله لاره بیخي ډېره غرنۍ ده او زما په خیال وروستۍ برخه یې هم همدغسې ده.

اوس به زیار وباسم، چې په سیندونو باندې څه رڼا واچوم. هغه غرونه چې څرګندونه یې په دغه ټولیز بیان کې نه ده شوې، د هرې سیمې د بیان په ترڅ کې به یې یادونه وشي.

## امو:

دغه سیند له خپلې سرچینې نه تر دروازه پورې تر امو نه زیات د پنج په نامه یادېږي. سرچینه یې د پامیر هسکه سیمه ده او له هغې تنګې درې څخه وځي، چې په واخان کې دوه سوه یا درې سوه ګزه سور لري. واخان د پامیر سهېلي پوله ده. دغه تنګه دره له درېو اړخونو جنوب، ختیځ او لویدیځ څخه یوه واورین لوړ غره نیولې، چې (پشت خر) نومېږي. لیدل شوي، چې دغه سیند د کنګل له منځه راوځي، چې ویل کېږي لږ تر لږه څلوېښت نیزې ژور دی. په نتیجه کې دغه سیند



Property of ACKU

ددغه پریړ ګنګل له لامله، چې دپاسه پرې پروت دی، نه لیدل کېږي، خو په دې کې څه شک نه شته، چې سیند د کنګل لاندې دی، ځکه چې داسې نه ښکاري، چې له هغو درېو خواوو نه، چې ذکر یې دمخه وشو، د یوې په خولې کې هم کومه مجرا وي، چې له هغه لارې دغه سیند له کومې بلې سرچینې نه راووځي، نو زه په دې ډول داسې نتیجه اخلم. چې دا د آمو رښتینې سرچینه ده. په هر حال دا د اوبو ډېر زیات مقدار دی. که څه هم ممکن نور هم چېرته وي، چې له کومې لیرې منبع نه به راوځي. دغه سیند په دغې تنګې درې کې د پېنځو کاسونو (Coss) په اوږدوالي مخ په شمال روان دی. په څلور کاسې کې یې سور شل ګزه او تر سینې پورې ژور دی، خو همدا چې له درې نه ووځي او د تنګ په دوران کې نور رودونه له همدغه غر نه ورسره ګډ شي. سور یې پنځوس ګزه او ژورتیا یې د انسان د قد تر نیمایي پورې کېږي.

شیر (یا انسان وژونکی) چې د یوځای کېدو د پورته ټکي په نیمه کاسې کې ورسره یوځا کېږي، د نامه قدر ژور دی او شپېته ګزه سور لري، چې په دې ډول آمو له خپلې سرچینې نه د پېنځو کاسونو په فاصله کې هغه سره نږدې برابر دی او باید د خپل بهیر په دوران کې یې شل کاسه دوسته لوېوالی ښه زیات شي. په تېره بیا چې دا حقیقت په نظر کې ونیول شي، چې په دغې فاصلې کې له کیڼې غاړې نه اووه یا اته واړه رودونه ورسره ګډېږي، چې هغه له زنګانه څخه تر نامه پورې ژور او له لسو څخه تر دېرشو ګزو پورې سورور دي. زما په فکر په دې کې څه شک نه پاتې کېږي، چې هغه په دغه اتصال ټکي کې تر شیره ډېر لوی دی او دا پوره یقیني معلومېږي، چې امو له خپلې سرچینې نه تر زیاتې فاصلې پورې د پنج په نامه یادېږي. دغه ځای دوو کسانو لیدلی او دوی دغه څرګندونه تایید کړې ده او ما همدغه بیان له نورو څخه هم اورېدلی، چې دغه ځای یې پخپله نه دی لیدلی، خو له هغو څخه چې یې لیدلی، اورېدلي دي چې هغه د واخان له درې یا د (پشت خر) له لورې واورین غره څخه راوځي.

له ختیځ او لویدیځ نه څو لارې د شمال پر لور یارکند ته تللي دي، که ددغه سیند سرچینه ډېره لرې وای، له دغو لارو به یوه له هغه نه تېره شوې وای او داسې ښکاري، چې هیڅ یوه له هغه څخه نه ده تېره شوې.

هغه لاره په لویدیځې یا کیڼې خوا کې پرته ده، په شبر باندې چې د شاه جهان له کلا څخه پېنځه کاسه لرې دی، اوښتې او شبر دلته هغه یوازینی د اهمیت وړ رودګی دی، چې د دوو لارو د یوځای کېدو په برخه کې سرې ترینه تېرېږي. هغه لاره چې په ختیځې یا ښي خوا کې غځېدلې او د تاله پشت خر نږدې په څلوېښت کاسې کې په ښي خوا کې اوړي او هغه (پشت خر) په کیڼې خوا کې شاته پرېږدي، داسې

Property of ACKU

ښکاري چې دغه لاره دغه ټکي ته د کاشغر د سیند یا کامې سیند د مجرا په اوږدو کې غځېدلې ده او له غرني لارې سره، چې پښت خر یې ښي خوا ته پرې ایښی د یوځای کېدو تر ټکي پورې لاروي له رودګیو پرته له بل ځه نه تېرېږي. له دې نه داسې څرګندېږي، چې که د پنج سیند سرچینه ډېره لیرې وای، له هغې نه به سړی تېر شوی وای.

زه به دلته د پنج سرچینه پرېږدم او د یو سل او شل میلو لاره به د جنوب، جنوب لویدیځ په خوا د هغه سمت تعقیب کړم، چې هلته هغه په دغسې لوړو غرونو کې ننوځي، چې له لویدیځ، شمال لویدیځ نه د ختیځ، سهېل ختیځ پر لور غځېدلی دی. له دغه ټکي څخه دغه سیند د لویدیځ شمال، لویدیځ سمت تعیینوي او ددغو غرونو په شمالي خوا کې د شغنان، درواز او کوراتیګین (Kurategeen) له ملکونو څخه وځي او بیا د سهېل پر لور دورمي، چې ترڅو هغې لوړې کچې ته ورسېږي، چې په حضرت امام کې له هندوکش نه پراختیا مومي. دغه سیند تر دغه ځایه د درې نیم سوه میلو څخه په زیاتې فاصلې کې د غرونو په منبع کې روان دی او بې شمېره رودونه او خوړونه ورسره ګډېږي. له کینې غاړې نه د هرې ورځې په مزله کې له دوو څخه تر څلورو رودونو پورې ورسره یوځای کېږي، چې هر یو یې له لسو څخه تر دېرشو ګزو پلن او له زنګانه څخه تر نامه پورې ژور دی. سربېره پر هغو دوه ښه لوی سیندونه یانې د سرخ آب یا کوراتیګین او د کوکچې یا بدخشان سیند هم ورسره ګډېږي.

له بده مرغه ما د هغه د کینې غاړې په اوږدو کې له درواز د شاهجهان تر کلا پورې د لارو په اړه معلومات ترلاسه کړي نه دي او په نتیجه کې په دې برلاسی شوی نه یم، هغه رودونه معلوم کړم، چې د شمال له خوا ورګډېږي. دغه رودونه باید له هغو نه، چې یا د جنوب له لوري او یا د بدخشان له لوړو غرونو څخه ورسره یوځای کېږي، لوی او مهم دي، ځکه چې د پامیر لوړه کچه، چې له هغه څخه ډېر لوی سیندونه له لویدیځ څخه د ختیځ پر لور دورمي، له دغې ساحې نه د شمال په خوا بهېږي. ګومان کوم، چې تر هغو ډېر نور رودونه هم باید ورتویي شي، خو څنګه چې د هغو په اړه مې معلومات ترلاسه کړي نه دي، له یادونې څخه یې ډډه کوم.

له حضرت امام نه د آمو د سیند مجرا لویدیځ، شمال لویدیځ ته ده. شمال خوا ته د بخارا پر لور، چې ټول واټن یې دوه نیم سوه میله کېږي، داسې ښکاري چې هغه د هندوکش د لوړې کچې له لامله د یو څه واټن لپاره په دغه سمت تللو ته اړ کېږي او د ډېرې فاصلې لپاره ددغه لوړ غره شمال ته دورمي او په اوار او شګلن میدان باندې روان دی، چې تر میرې نه یو څه ښه دی. له دغه ټکي نه زه اورګنج ته د یوې لارې

په اړه معلومات لرم، چې هغه د سیند پر غاړه و، تللی او څلور سوه میله اوږده ده، چې لږ تر لږه درې سوه میله یې په میرې کې ده او یوائې د هغې په بېلابېلو برخو کې د آس روزونکیو د اوسېدلو یو څو بانډې په سترګو کېږي. داسې ښکاري، چې د هغه په یکنې خوا کې د زیاتې فاصلې په اوږدو کې یو ځنګل دی او لارویان مجبور دي، چې په یوه وخت کې د اتو یا لسو ورځو لپاره خواړه له ځان سره ولري.

په اورګنج کې موږ د امو غاړې وروسته له هغې، چې په کنګل کې پرې تېر شو، تر شا پرېښودلې. اورګنج د امو د سیند یوه ښاخ ته نږدې پروت دی، چې له لوی سیند نه اته کاسه لرې پروت دی. زما خبر راکوونکی له دغه ځای نه د شمال لویدیځ پر لور منزل وکړ او د تربت (Toorbat) او سوګر (Sugger) او لولکان له ښارګوټو نه تېرشو او د ښېوا ښار ته ورسېدو. دغه ښار د نیلوم (Neelum) پر غاړه پروت دی، نږدې د امو قدر ته لوی دی او وروسته له یو څه جریان نه په یوه لوی ډنډ کې تویېږي.

زما په خیال، چې دا د عرب ډنډ دی. ما ته ویل شوي، چې آمو هم په همدغه ډنډ کې تویېږي، خو په دې اړه زما معلومات پوره او باوري نه دي. د امو په اوږدو کې د یوې لارې په اړه ما معلومات ترلاسه کړي، خو څنګه چې داسې اشخاص نه پېژنم، چې هغه تایید کړي، همدارنګه نورې لارې له هغې نه په دې ډول تېرې شوي نه دي، چې لور یې سم کړای شي، نو له یادونې څخه یې تېرېږم.

تر دې ځایه مې، چې د امو سیند د هغه له سرچینې څخه تر اورګنج پورې د نهه نیم سوو میلو په اوږدوې کې شرح کړ. هغه سیندونه به هم په لنډ ډول ذکر کړم، چې له هغه سره یوځای کېږي.

## شیر (یا ادم کش)

دغه سیند په آمو کې د ګډېدو له ټکي نه پینځه کاسه د وړاندې نه دی کتل شوی. په دغه ځای کې یې سور شپېته ګزه او تر نامه پورې ژور، خو دومره ګړندی و، چې یوائې یو څو تنه ترېنه تېرېدلی شول. زما خبر راکوونکی په غوبې سپور ترېنه تېر شو، خو له دغه سیند نه په دغه ډول تېرېدل پوره عام دي او دا له دې لامله، چې غوایان د ګړندیو جریانونو په مقابل کې ښه ټینګار کوي او تر اسونو خپلې پښې ډېرې کلکې لګوي. دده په وینا اس د زورور جریان توان نه لري، هغه غوایان چې ددغې موخې لپاره ترېنه کار اخیستل کېده، ډېر پیاوړي وو او اوږدې بیرې لکۍ یې لرلې.

## کوراتیګین یا سرخاب

دغه سیند د پامیر له غرونو څخه راوځي او له یو سل او اتیا میله واټن وروسته



Property of ACKU

په امو ورګډېږي. دغه ټکی له امو سره د کوکچې د یوځای کېدو له ځای نه دېرش میله پورته پروت دی. کوکچه له ښي خوا نه په امو ګډېږي، له کوراتیګین سره مخکې له دې، چې په امو ورګډ شي، ډېر رودونه یوځای کېږي او دا رودونه د صوفي کن (Suffeekun) او واخیانو په سیندونو سرېږه دي. سرخ آب د کوراتیګین له ملک څخه تېرېږي او له امو سره د یوځای کېدو له ټکي نه لس کاسه پورته د تېرېدلو وړ نه دي او دلته خلک په خیګونو تېرېږي. په دغه ځای کې دغه سیند د یوه پل اطلاع راکوونکي په وینا د کوراتیګین په نامه یادېږي، خو زما په خیال چې د هغه خاص نوم سرخ آب دی. سرخ آب له یوه ډېر غرني ملک څخه تېرېږي.

## د کوکچې یا بدخشان سیند

دغه سیند د بدخشان په غرونو کې د هغه د مرکز فیض اباد له سهېل ختیځ نه د څلور څلوېښت میلی له فاصلې نه راوځي. ددغه ښارګوټي د ختیځې خوا په لس میلی کې دوه نور سیندونه، چې له هغه سره برابر دي، یوځای کېږي او ددغه ښارګوټي ترڅنګه یوځای تېرېږي. په ښار کې د هغه له پاسه یو پل جوړ شوی دی. دا سیند ډېر ګړندی دی او ګودر نه لري. د یو سل او دېرشو میلو په فاصله کې د لویدیځ پر لور ځغلي، ترڅو د خواجه غار د سیمې له پاسه له امو سره په داسې قوت ورګډ شي، چې څپې یې د امو تر مخامخ غاړې پورې رسېږي. دا سیند د خپل جریان په زیاتې فاصلې کې له غرني ملک څخه تېرېږي او د شمال له خوا څو رودونه ورسره یوځای کېږي.

## د اکسورای سیند

دغه سیند د بنګي (Bungee)، غوري او فرخار د رودونو له یوځای کېدو نه جوړېږي، چې د کندوز د قطب لویدیځ په پینځه کاسې کې سره یوځای کېږي. د بنګي او فرخار یو شوی سیند ددغه ښارګوټي له ختیځ او ګوراه (Gorah) او د هغه له لویدیځ څخه تېرېږي. له دغو سیندونو سره نور ډېر بې شمېره رودونه هم یوځای کېږي.

د غور سیند د هندوکش د غرونو له دړو بېلابېلو برخو څخه راوځي، چې ټول یې د کیله ګي (کلاګي) کلي له پاسه سره یوځای کېږي. فاصله یې له سرچینې څخه تر کندوز پورې سل میله ده، چې له هغه وروسته یې نوم په اکسورا بدلېږي. فاصله یې له کندوزه تر امو پورې، چې په هغه کې ورګډېږي، څلوېښت میله ده. د جریان دغه ټول سمت مخ په قطب دی او هغه له حضرت امام نه نږدې اته یا لس کاسه لاندې له امو سره یوځای کېږي. یا د فرخار سیند د فیض اباد په سهېل کې له لوړې کچې یا د وړو غرونو څخه راوځي، چې بدخشان له کافرستان (نورستان) نه بېلوي او د بنګي

Property of ACKU

سیند، چې له هغه سره برابر دی، د تورنک (Turring) له درې نه راوځي. دغه دواړه سیندونه له تالقان نه لس کاسه سره یوځای کېږي. د دوی د جریان واټن د غوري له مجرا سره، چې دمخه یې ذکر وشو، برابره ده. ددغو ټولو سیندونو له یوځای کېدو وروسته باید له هغه نه یو بېله لوی سیند جوړ شوی وي. له یوځای شوي سیند نه تېرېدل شوني نه دي، خو له هر یوه ځانګړې څخه شوني ده. دوی په غرنۍ سیمه کې روان دي، خو دغسې ډېرې سمسورې او ابادې درې لري، چې د مېوو ټول ډولونه پکې په ډېرې پرېمانۍ سره کېږي. له هغو معلوماتو څخه، چې ما د سیمې ددغې برخې په اړه ترلاسه کړي، داسې ښکاري چې دغه درې باید یو پوره شین بڼ اوسي.

## دحصار یا کافرستان سیند

دغه سیند د غرونو له هغې لوړې لړۍ نه راوځي، چې د پامیر د غرونو له سهېل نه بهېږي او بخارا له کوراتیګین نه د ختیځ او لویدیځ په خوا بېلوي. ددغه سیند جریان د سهېل، سهېل لویدیځ پر لور دی. د کوراتیګین له سیمې او حصار نه د شپېتو میلو په جریان کې تېرېږي او له کوراتک (Krratak) سره د ریګر (Regur) له پاسه او له بالاحصار لاندې یوځای کېږي.

کوراتک له هماغو غرونو څخه راوځي او د خپل اتصال تر ټکي د سهېل ـ ختیځ پر لور روان دی. له دغه ټکي وروسته ځینې کسان دغه یو شوي سیندونه د حصار په نامه یاوي، خو زما په خیال چې دا سمه نه ده، ځکه چې باید یوځای شوي سیندونه په هغه نامه یاد شي، چې تر ټولو لوی وي، چې هغه د کافرستان سیند دی او په همدې ډول د هغې لارې په نامه یاد شي، چې له امو سره د اتصال له ټکي نه یو څه پورته ترېنه اوړي او په هماغه نامه یانې کافرستان یادېږي. له حصار نه تر ترمزه، چې تر هغه پورته له امو سره ورګډېږي، اویا میله واټن دی.

## د زرفشان سیند

دغه سیند له هماغسې غرونو څخه، چې همدا اوس یې یادونه وشوه، راوځي، خو د هغو په لویدیځې یا مخامخ خوا کې ددغه سیند یو لوی ښاخ پخوا د شیراز له ښار څخه تېرېده، چې هغه (شیراز) د سمرقند په څلور میلۍ کې پروت دی، خو ډېر کلونه کېږي چې دغه سیند د سمرقند شمال ته له درې کاسې نه د لویدیځ پر لور بهېږي او د شیراز ښارګوټي له هغه راهیسې متروک شوی دی. البته دغه شیراز باید د فارس له شیراز سره یو ونه ګڼل شي.

دغه سیند امو ته تر رسېدو له هر هغه سیند نه، چې تراوسه یاد شوي دي، اوږد دی خو د اوبو اندازه یې ډېره نه ده او له هغه وخت پرته، چې واوره ویلې کېږي، په ټولو ځایونو کې د تېرېدلو وړ وي. د جریان په اوږدې فاصلې کې مخکې له دې،

Property of ACKU

چې بخارا ته ورسېږي، د هغه زیاته برخه جذبېږي او چې بخارا ته ورسېږي، له هغه نه یوه ویاله ګی جوړه شوې وي او د بخارا له لویدیځه دوه مزله وړاندې د خپل جریان له دوه سوه او اتیا میلو څخه وروسته، چې د لویدیځ،سهېل_لویدیځ پر لور روان دی، د امو په سیند ورګډېږي.

## د مرغاب سیند

دغه سیند د هندوکش د ادامې_شمال او د میمنې جنوب ته د هزاره له غرونو څخه راوځي. لومړی د لویدیځ پر لور درومي او د اویا میلو په واټن کې د غرونو په منځ کې بهېږي. بیا د شمال پر لور وړاندې ځي. په دغه ځای کې غرونه شاته پرېږدي او په لوی میرې کې دوه سوه میله فاصله وهي او بیا له آمو سره د بخارا له جنوبه درې مزله وروسته یوځای کېږي، خو دا هغه بیان دی، چې زما خبر راکوونکي یوازې اورېدلي او ښايي سم نه وي. خو د سموالي اټکل یې شته، ځکه چې د امو له کیڼې غاړې څخه دوه مزله وروسته په هغې لارې، چې له بخارا څخه د مور (مرو) له لارې هرات ته غځېدلې ده، له هغه نه سرې تېرېږي او په غالب ګومان هغه له امو سره دغه ټکي ته په نږدې کوم ځای کې ګډېږي. دا هغه معلومات دي، چې ماته هغه سړي راکړي، چې ددغې لارې څرګندونه یې هم کړې ده.

ددغه سیند جریان د هغه له سرچینې نه دوه سوه اویا میله دی، سور یې په ساړه موسم کې له پنځوسو څخه تر اویا ګزو پورې او ژورتیا یې د انسان تر نامه پورې ده.

## سیر دریا

ماته ویل شوي، چې دغه سیند د بخارا د لویدیځ، لویدیځ قطب له نږدې سلو کاسونو وروسته په آمو ورګډېږي، خو دغه معلومات ښايي د باور وړ نه وي او ددغه سیند د مجرا په اړه د پر لې معلومات ترلاسه شوي دي. د هغه د بهېدو لوری لویدیځ_سهېل ته دی او روسي کاروانونه د پینځو یا شپږو ورځو په مزل کې د بخارا له شمال، شمال لویدیځ نه پرې تېرېږي. دغه فاصله ښايي د هغه د مجرا په اړه موږ ته معلومات راکړي. د هغه د کیڼې غاړې په اوږدو کې له خجند څخه تر کوه کن پورې ماته د څلورو مزلونو په اړه معلومات ترلاسه شوي دي. ویل کېږي، چې دغه سیند دلته تر سند اوږد او تر امو لنډ دی.

د کوه کن په حد کې یو رودګی ورسره یوځای کېږي، چې د پامیر د غرونو له سهېل څخه راوځي او د خپل یوځای کېدو تر حده تر اویا میلو پورې د شمال په لوري درومي. په کوه کن کې په دوو ښاخونو بېلېږي او له دغه ښارګوټي څخه د ختیځ او لویدیځ په خوا تېرېږي.

Property of ACKU

## سند:

زه په دې خواشيني يم، چې ددغه سيند د سرچينې په اړه مې زيات معلومات نه دي ترلاسه کړي. که څه هم د هغه ځينې ستر ښاخونه تر ډېر واټن پورې تعقيب شوي دي، خو نه د هغه تر سرچينې پورې. داسې ښکاري، چې دوه ستر ښاخونه يې د (دراس Dras) په ښارګوټي کې له هغه سره يوځای کېږي، چې د يوه کاروان لپاره د کشمير د قطب_ختيځ پر لور د اتو ورځو مزل دی. د يوځای کېدو له بريد (ټکی) نه يو څه پورته له دغو ښاخونو څخه هغه چې په کينڼې خوا کې جاري دی، په سور اوريا ګزه او ډېر ګړندی و.

په دغه حد کې د لرګيو يو پل پرې جوړ شوی او هغه د ختيځ له قطب نه راغلي او وروسته له هغه د ليه (Leh) يا د لدا ښاخ ورسره يوځای کېږي او د لويديځ پر لور درومي. زما د خبر راکوونکي په وينا، ده داسې اورېدلي چې هغه په بولايي (Bullai) کې له اباسين سره يوځای کېږي. زما په خيال دا هماغه مولای (Mullai) دی، چې د اټک له پاسه په سند کې پروت دی او د هغه په اړه ما نورې ځرګندونې هم اورېدلي. ده هم داسې اوزېدلي، چې د هغه تر سرچينې پورې د درېو ورځو مزل دی، خو په دغې ځرګندونې اعتبار نه شي کېدای او دا هغه يوائيني معلومات دي، چې د هغه په اړه ماته په لاس راغلي او دا په يقين سره ښکاري، چې هغه به يوائيني مهمه ځرګندونه وي، نورې ځرګندونې له دې سره موافقې دي، چې ډراس (Dras) د يوه کاروان لپاره د کشمير قطب ختيځ ته د اتو ورځو مزل په واټن لري، خو دغه ځرګندونې د هغه د يوځای کېدو د ټکي په اړه ترڅه حده سره مخالفې دي. يوه کشميري راته ووېيل، چې دغه ښاخونه له ډراس نه دوه مزلونه پورته له دوو نورو ښاخونو سره يوځای شوی او په هغه ځای يا له دراس نه لاندې په دوو ښاخونو بېلېږي، چې ووړ يې د کشمير د سهېل په لور روان دی او د لوی په اړه يې ده هيڅ معلومات نه دي ترلاسه کړي. ده يوائې دومره اورېدلي، چې هغه ته لوی سند ويل کېږي او هغه، چې په کشمير کې له بيدسته (Bedusta) سره ګډېږي، ووړ سند نومېږي.

ماته داسې ښکاري، چې دغه وروستنی ځرګندونه به کمه وي او د هغې د بل ثبوت لپاره زه له دير (Deer) نه، چې د پېښور قطب لويديځ ته پروت دی، پنګوړې ته د يوې لارې په اړه معلومات لرم، چې له کشميره د ختيځ ، قطب ختيځ ته د سهېل ختيځ پورې کوږوالی لري او له دې نه داسې ښکاري، چې لاروي مخکې له دې، چې کشمير ته ورسېږي، د اوو ورځو په مزل کې له سند نه تېرېږي او په دې ډول دغه ټکي بايد په قطب لويديځ کې پروت وي. دغه ځرګندونه له نورو ځرګندونو

Property of ACKU

سره سمون لري او د هغې له مخې کوټ Kote یانې ټکي، چې دوی د کشمیر قطب لویدیځ خوا کې له سند څخه تېرېږي، د دراس نه د سلو میلو په فاصله کې د لویدیځ پر لور پروت دی. دا هغه څرګندونه ده، چې د دغو یو شوېو سیندونو په اړه له لومړنیو څرګندونو سره سمون لري، چې ویل کېږي، هغه د دراس په لویدیځه خوا کې درومي.

په لومړۍ څرګندونه کې دا نه دي ویل شوي، چې له ستر ښاخ نه کوم بل ښاخ بېل شوی دی، خو سړی به له هغه نه په اسانۍ سره تېر شي او له نورو څرګندونو څخه داسې ښکاري، چې د قطب له نورو برخو نه یو سیند روان دی او هغه د جنوب له خوا له دې لامله د (لار Lar) په نامه یادېږي، چې په کشمیر کې له دغسې یوې سیمې نه تېرېږي، چې همدغه یې نوم دی، خو د هغه ځانګړی نوم وړ سند دی، چې ښاغلی فوسټر (Foster) یې هم په همدغه نامه یادوي.

دلداخ ښاخ تر ډېرې فاصلې پورې د سهېل_ختیځ پر لور تعقیب شوی دی. له دغه ښاخ سره یو بل ښاخ روان دی، چې له قطب لویدیځ نه د هغې لارې په اوږدو کې بهېږي، چې په هغې باندې د پینځلسو ورځو په مزل لاروی یارکند ته رسېږي. لکه څنګه، چې دمخه یې یادونه وشوه، زما په حساب دلته هره ورځ یوولس یا دولس میله مزل وهل کېږي او څنګه، چې دغه سفر په غرني ملک کې کېږي، قافله په ټولیز ډول په خپلې مېنې باندې د اړولو حد ته د ورځې یوولسو یا دولسو بجو پر مهال رسېږي او له لمرخاته وروسته بیا روانه شي. دا هم وویل شول، چې هغه باید د ورځې اووه یا اته کاسه مزل ووهي. دوی د پامیر د غرونو له ښي اړخ نه تېرېږي او دغه سیند شاته پرېږدي، چې د اوږدو له مخې په پامیر کې له یوه ډنډ څخه راوځي او څنګه، چې د هغه لوري د سهېلي او ختیځې په خوا دی، ګومان کوم چې هغه له سیککول (Sick kol) نه راوځي، ځکه چې د هغه د جریان لوی او ټول روایتونه له دغه ډنډ سره موافق دي، خو دا یوازې زما خپل اټکل دی.

د لیه (Leh) ښاخ تر هغو زیات تعقیب شوی او هغه قطب لویدیځ ښاخ نه لري، خو تر دراس (Dras) یا کیڼ ښاخ نه وړ دی. داسې ښکاري، چې له لیه Lehانه به تر لداخ پورې یانې (له هغه ځای نه چې د کشمیري شالونو جوړولو لپاره وړۍ واردېږي) لاره د همدغه ښاخ په اوږدو کې د سوداګرو لپاره چې وړۍ واردوي، د پینځه ویشت ورځو لپاره اوږدوي، خو څنګه چې هغه د (ناسکلو دو پسونو سره راوړي او دلته یې بیا سکولي) او همدارنګه څنګه، چې دغه سیمه غرنۍ ده، ښایي دوی په یوه ورځ کې تر لسو میلو زیات مزل ونه شي کولای (ټوله یې دوه نیم سوه میله ده). د هغې فاصله د اټک تر کلا پورې څلور سوه میله او تر سمندره پورې اووه



Property of ACKU

سوه میله کېږي، چې ټوله فاصله یو یې زر او درې سوه پنځوس میله کېږي.

سیند تر توربیلې پورې د لوړو غرونو په منځ کې جاري دی. تور بیله د اټک د کلا نه پورته د ختیځ ـ قطب ختیځ پر لور څلوېښت میله لیرې پرته ده او سیند دلته د چېچ په دره کې ننوځي او تر اټک پورې ښه خپرېږي او بې شمېره واړه ټاپوګان جوړوي. له اټک نه وروسته بیا د غرونو په منځ کې روانېږي او د اټک په سیمه کې دوه سوه او شپېته ګزه سور لري، خو ژور او ګړندی وي. دلته د یوې جنګي کلا ترسره پورې، چې د سیند په یوه اړخ کې پرته وه، جنګېږي او داسې ښکاري، چې هغه به پینځه دېرش یا څلوېښت فوټه جګه وي، خو تر پنځوسو ګزو ډېر نه خپرېږي. بیا په یوه اوار میدان کې ننوځي، چې د اټک په سهېل کې پروت دی او له هغه وروسته د نیلاب په سیمه کې، چې د اټک په سهېل کې پینځه میله لیرې پرته ده، د غرونو په مېنځ کې جریان پیدا کوي او د ژورو غرونو په مېنځ کې تر هره باهه (Harabah) پورې دوام کوي، چې د عرض البلد په (۳۳) درجو او اوو دقیقو او دېرشو ثانیو کې پروت دی او دلته د عیسی خېلو په سمسورې درې کې په څلورو ښاخونو کې ننوځي او بیا د خپل جریان په فاصله کې له غرونو سره هېڅ نه مخامخ کېږي. له داسې سیمې څخه تر میټنډه کوټ (Mitterdan-kot)، چې هلته د پنجاب پینځه واړه سیندونه سره یوځای کېږي. د پنج نود (Panjnud) په نامه یادېږي. د هغه لوري نږدې د سهېل پر لوري دی او له هغه ځای نه یې سمت تر سمندر پورې، چې د سند له ملک نه تېرېږي، د سهېل، سهېل لویدیځ پر لور دی.

موږ له سند څخه د کاهیرې په ګودر (Kaheeree-Ghat) کې، چې د عرض البلد په یو دېرش درجو او اته وېشت دقیقو کې پروت دی، تېر شو. دلته د سند سور په دوو برخو کې د (۱۸۰۹) کال د جنورۍ د غرمې په وخت یو زر او شپږ (۱۰۰۶) او نهه سوه پینځه (۹۰۵) ګزه و. په دغه موسم کې دغه سیند باید تر هر وخت نه زیات لږې اوبه ولري. د یوه ښاخ د ژورې برخې ژورتیا، چې سور یې تر سلو ګزو څخه لږ و، دولس فوټه و. یو پیل، چې قد یې لس نیم فوټه و، په دې اړ نه شو، چې تر سلو ګزو زیاته لامبو ووهي، خو دلته هغه لوی ښاخ تر زیاتې اندازې پورې دوړو ښاخونو په بېلبېلو سره وور شوی و او له هغه سره څنګ په څنګ روان و. هغه یې، چې په ښي غاړې روان و، یواځې په یو څو ځایونو کې د تېرېدلو وړ و او په ډېرو ګودرونو کې یې جالې ګرځېدلې او سور یې دوه سوه ګزه و. موږ په هغه ګودر کې ترېنه تېر شو، چې درې نیم فوټه ژور و او سور یې په ریونده ډول پینځه سوه ګزه و. مخکې له دې، چې موږ د لوی ښاخ کینې غاړې ته ورسېږو، له یو بل نسبتاً لوی ښاخ نه تېر شو، چې سور یې پنځوس ګزه او ژورتیا یې درې فوټه وه. تر دغه ځایه موږ له دوو ورو

Property of ACKU

ښاخونو نه هم تېر شوي وو.

د سیند غاړې ډېرې ښکته دي، یانې دننني غاړې یې که کله کله له شپږو فوټو او په ټولیز ډول له څلورو پینځو فوټو څخه ډېرې شي، خو په باراني موسم کې په ډېرو ځایونو کې له لسو څخه تر دولسو کاسونو پورې خپرېږي. له دې نه دا څرګندېږي، چې لوی ښاخ یې پخوا تر اوو میلو پورې مخ په ختیځ روان و او د لیه بېله په حاضر وخت کې په خپلې پخوانۍ مجرا روانه ده، ځکه چې د محمد راجن Mahomed Ragin په رود کرور (Kuror) یا لالي سان (Laleesan) او په ځینو نورو لیرو برخو کې ددغې بیلې په کیڼې خوا کې لوړې غاړې د هغې نښې نښانې څرګندوي.

دغه اوار ملک او ټاپوګان، چې په تاوده موسم کې تر اوبو لاندې کېږي، تر زیاتې اندازې له غنې تورې ختې نه جوړ دي. په ډېرو ځایونو کې ښه کرنه پکې کېږي او نور ځایونه یې په ځنګلي لوړو بوټو پټ دي. خواریکښان دلته موقتي جونګړې جوړوي او ځمکه کري. د سند مجرا شګې او د هغو په پرتله ختمه لري او داسې ښکاري، چې اوبه یې د ګنګا اوبو ته ورته دي.

شګې یې ډېرې او ښې خوځنده دي او ټاپوګان یې زیاتره د جهاوو (Jhaw د غز ونو یو ډول دی، چې ډېر لوی او د سیندونو پر غاړو کې شنه کېږي) په لوړو ځنګلونو پټ دي. له میټهنډه کوټ نه پنځوس کاسه پورته یانې چېرته، چې د پنجاب سیندونه ورسره یوځای کېږي، هغه ورسره نږدې په موازي ډول روان دی او د اووچ (Ooch) په برخه کې، چې څلوېښت کاسه لوړ پروت دی، د هغو ترمنځ فاصله له لسو میلو څخه زیاته ده. ددغې ساحې مخ د جولای او اګست په میاشتو کې بیخي اوبو نیولی وي او له یو څو کلیو پرته نور ټول یې موقتي دي. داسې ښکاري، چې دغه ټول ملک به له سند نه تر حیدراباد پورې په یوه بڼه وي، خو داسې هم څرګندېږي، چې هلته په یو مقدار غنې ځمکه به له دې، چې وکرل شي، شاړه پرته وي. دا ځمکه په ځنګلي بوټو او ونو پټه ده. له هغو لارو نه، چې د هغه په کیڼې غاړې تر حیدراباد پورې غځېدلي دي، داسې ښکاري چې هلته ډېر ښارګوټي او بې شمېره کلي پراته وي او په ډېرو ځایونو کې به له سیند څخه ډېر کانالونه وېشل شوي وي. دا یو څه عجیبه ده، چې د شمالي ملکونو او سند ترمنځ به کومه سوداګري موجوده وي، خو د ملتان ،بهاولپور او سند ترمنځ سوداګري شته.

اوس غواړم هغه سیندونه شرح کړم، چې په سند ورګډېږي. د کشمیر شمال خوا ته د نوریو ښاخونو شرح دمخه شوې او اوس به د اباسین په څرګندونې پیل وکړم.

Property of ACKU

## اباسین

داسې ښکاري، چې د دغه نامه په اړه به د نظریو اختلاف وي، ځینې داسې فکر کوي، چې هغه لوی ښاخ چې له (دراس) نه راوځي او ما یې دمخه یادونه کړې ده، د اباسین په نامه یادېږي، خو ما بل څه اورېدلي او د داسې لارو په اړه معلومات لرم، چې له پېښور او اټک نه تر یوې سرچینې پورې غځېدلي دي او اورېدلې مې دي، چې د هغه نوم اباسین دی. دا ښایي سمه نه وي، خو د هغه د معکوس حال په اړه شواهد په لاس کې نه لرم او کوم معلومات مې، چې په دې اړه راغونډ کړي، غواړم اوس یې وړاندې کړم.

هغه لاره چې له پېښوره دغه ټکي ته رسېږي، دسوات د سیند په اوږدو کې چې سرچینه یې هماغه غرونه دي، غځېدلې ده. هغه غر، چې اباسین ترېنه راوځي، سنچوکي سور (Son Chukesur) نومېږي، چې له اباسین نه د هغه لور د قطب_ختیځ څلور درجې او دېرش دقیقې دی. دغه سرچینه په دغه حال کې د سر اباسین په نامه یادېږي او دغه غر د هندوکش له واورینې لړۍ څخه دی. لوړوالی یې یوه درجه او دېرش دقیقې دی او اوږدوالی یې له اټک او پېښوره تر دغه ټکي پورې په متقاطعو لارو، چې یوه ښه زاویه تشکیلوي او له کوږوالي سره سمون لري، سل میله ده. هغه لاره، چې له اټک نه پیل کېږي او تر دغه ټکي پورې رسېږي، د ملایي (Mullai) له لارې د سند په ښی غاړه غځېدلې دی. داسې ښکاري، چې د ملایي په سیمه کې له دغه سیند نه څوک تېرېدلای نه شي او د دغه موخې لپاره له وړو بېړیو یا جالو څخه کار اخیستل کېږي. له دغه ځایه د اباسین تر سره پورې څلور لنډ مزلونه لار وهل کېږي. په لومړي مزل کې څوک له سیند تېرېدلی نه شي او دغه حقیقت ما په دې قانع کوي، چې له ملایي نه په دغه مزل کې باید کوم نسبتاً لوی رود له کینې غاړې نه ورسره یوځای شوی وي او دا زما په فکر بېله کوم شک نه د (دراس) ښاخ دی، خو زما خبریال د کینې نه پورته نه دی تلی او په دې اړه څه نه شي ویلای، خو څنګه چې په دغه مزل کې سیند ډېر وړوکی کېږي، زما په فکر پورتنی ښاخ باید له اباسین سره له ملایي نه یو څه پورته یوځای شوی وي.

د همدغه شخص نه ما ته ډېرې لارې هم معلومې شوې، چې وروسته زه خپله پرې لاړم او د هغه بیانونه او فاصلې ما ته پوره سمې ثابتې شوې او زه په دې پوره باور لرم، چې د دغه ټکي په اړه ده معلومات هم سم دي. د شیشه (Sheesha) سیند د دغه واړه غره له شمال نه راوځي، مخ په لویدیځ بهېږي او د کامې له سیند سره ګډېږي. د دغې سیمې په شاوخوا کې غرونه او درې د سرو زرو وړې ټوټې لري. دی (خبر راکوونکي) له دغه ځایه د قطب پر لور لاړ نه شو.



Property of ACKU

## د کامې سیند

ماته دا ممکنه نه شوه، چې ددغه سیند ریښتینی نوم ومومم او گومان کوم، چې کامه د هغه ځانگړی نوم نه دی[1] ځکه چې هغه یوازې له دې لامله کامه یادېږي، چې په همدې نامه یوه کلي ته نږدې د پنجشیر، غوربند او کابل سیند سره یوځای کېږي. دغه کلی جلال اباد ته نږدې د پېښور او کابل په لاره پروت دی. د کامې سیند په شمال کې د کاشغر د سیند په نامه یادېږي او دا له دې لامله، چې دغه سیند د کاشغر له ملک نه تېرېږي. څه وخت چې دغه سیند د پېښور ناوې ته رسېږي، په درېو لویو ښاخونو وېشل کېږي او بیا ټول بېرته سره یوځای کېږي. هر ښاخ یې ځانله نوم لري او هېڅ یو نوم د څلورو مزلونو په اوږدو کې نه پاتې کېږي. تر ټولو لوی او تر ټولو اوږد ښاخ یې د پامیر له لوړو کچو، چې له (پشت خر) نه دومره لیرې نه دي او د آمو سرچینه ده، راوځي او له درېوو سوو اتیا (۳۸۰) میلو فاصلې نه وروسته د اټک له کلا څخه ډېرې میله پورته له سند سره یوځای کېږي.

دغه سیند د خپل جریان په اوږدو کې له څو نسبتاً لویو سیندونو لکه پنجشیر او غوربند سره د کابل قطب ته له چاریکارو نه لاندې یوځای کېږي. وروسته د کابل او لوگر سیندونه په یو څه ښکته برخه کې ورسره گډېږي او هغه د کابل ـ پېښور له لارې د شمال پر لور موازي ځي. د کامې د کلي څنگ ته دغه گډ سیندونه له هغه ښاخ سره یوځای کېږي، چې له قطب نه پرې گډېږي. له دغه ځایه تر پېښور پورې دغه گډ سیندونه تر هر بل نامه ډېر د کامې په نامه یادېږي. د میچنی په سیمه کې د پېښور ناوې ته په ننوتلو سره په درېو سترو ښاخونو وېشل کېږي، چې دولس میله ښکته په دوبندی کې بېرته سره یوځای کېږي.

د هغو ډېر شمالي یا کیڼ ښاخ د پنگوړې او سوات سیندونه، چې دمخه سره یوځای شوي دي، له اشنغر نه دوه کاسه او له دوبندی نه پینځه کاسه او د پېښور له قطب ختیځ نه پینځلس میله پورته دا بل ښاخ له ځان سره یوځای کوي.

له دوبندی څخه ښکته ما دغه ټول سیندونه یوځای شوي ولیدل. داسې ښکارېده، چې هغه درې سوه گزه پلن دی او د گودر په برخه کې کښتۍ پرې گرځېدلې. زه ددغو ټولو ښاخونو د یوه منځنۍ برخې ته د پېښور شمال ته لاړم.

لومړنی یې د آس تر زین پورې ژور او څلور فوټه[2] پلن و، مجرا یې ښه ټینگه وه او په ډېرو ځایونو کې ډېر گړندي روان و او زما آس په زحمت خپلې پښې پر ځای ساتلې شوې، خو دا وخت د می د میاشتې پیل و او یو څه واوره ویلې شوې وه.

[1] مقصد یې د کونړ سیند دی. ژباړن

[2] که څه هم په اصل کې یې پلن والی څلور فوټه ښودل شوی دی، خو غالب گومان داسې دی، چې دغه اندازه پلن والی سم نه دی.



Property of ACKU

له دویم ښاخ نه هم د تېرېدلو په نیت روان شوم، خو په دې کې ناکام شوم. دلته گودرونه شته او په ښه ساړه موسم کې په هغه ځای کې، چې د وړو غرونو ترمنځ بهېږي، په یوه حد کې سرې ترېنه تېرېدلی شي.

د پنجشیر او غوربند سیندونه یو ځه لوی دي، د غوربند سیند د بامیانو له قطب نه د هندوکش له لوړې هسکې برخې څخه او د پنجشیر سیند پنځوس کاسه د هغه د ختیځ نه له هماغه غرونو څخه راوځي، د دوی مجرا د کامې له سیند سره تر یوځای کېدو پورې یو سل او اتیا میله اوږده ده.

د کابل سیند، چې یوائې اته یا لس گزه پلن دی، د کابل په لویدیځ کې د بابا له واورین غره نه راوځي. د کابل ښار په ختیځ کې د غزني او لوگر له سیندونو سره یوځای کېږي، خو زیاتې اوبه یې د کابل او میدان په شاوخوا کې په کرنه لگېږي.

د سوات او پنجکوړې سیندونه له هماغه غره نه راوځي او د هغو سیمو په نامه یادېږي، چې له هغو څخه تېرېږي. د دوی مجراگانې نږدې سره برابرې دي، یو یې له قطب ختیځ او بل یې له قطب لویدیځ نه جریان لري. د پنجکوړې نوم د تل کان متکوني (Talkan Matkunee) په برخه کې د سوات په نامه بدلېږي، چې له هغه نه ښکته دواړه سره یوځای کېږي او د سهېل پر لور د اشنغر په لویدیځه کې د دوو کاسونو په فاصله کې تېرېږي او د کامې له کیڼ ښاخ سره یوځای کېږي، چې دمخه یې یادونه وشوه. د دوی مجرا تر دغه ټکي پورې نږدې نوي میله اوږده ده.

## غـرشین

دا یو خوړ دی او د نامه استحقاق نه لري. دوه فوټه ژور او دېرش گزه پلن دی، اوبه یې ښې روڼې دي، ښیخ یې ښه ټینگ او غاړې یې ستڼې دي. د شمال ختیځ، ختیځ د هغو غرونو په پېنځه ویشت میلۍ کې راوځي، چې تر مظفرآباد پورې اوږده پراته دي. دغه خوړ د سهېل لویدیځ، لویدیځ پر لور تر اتیا میلو پورې روان دی. په پای کې په سند کې له نیلاب څخه پورته په دوه کاسه واټن کې ورتوییږي. په حسن ابدال کې د حسن ابدال، کالاپاني (Kala pawney) او واه (Wah) په نامه درې خوړگي ورسره یوځای کېږي.

## د سوان سیند

دغه سیند له هماغه پورته غرونو څخه یو څه ډېر د ختیځ پر لور راوځي، خو ځانگړی ټکی یې ماته معلوم نه دی. مجرا یې تر هغه ځایه، چې له موکود (Mukud) څخه نهه (۹) کاسه ښکته په سند ورگډېږي، نږدې یو سل او دېرش میله ده. په ساړه موسم کې د هغه مجرا دومره وي، چې له یو فوټ اوبو څخه ډېره نه وي، خو په باراني موسم کې پلن او ډېر گړندی وي. هغه وخت، چې تر څلورو او څلور نیمو



Property of ACKU

فوټو پورې لوړېږي، ممکنه نه ده، چې څوک ترې تېر شي، خو هغه زر لوړېږي او زر ښکته کېږي. موږ په هغه ځای کې ترېنه تېر شو، چې نوډې درې یا درې نیم فوټه ژور و او بیا څو اوښان پکې اوبو یوړل. مجرا یې شګلنه ده او په مجرا کې یې یو څو غټې تېږې شته. ډېرې خوځنده شګې لري او غاړې یې ستغې او ټینګې دي او په ډېرو برخو کې یې له غاړو سره ورې تنګې درې نښتې دي. وروسته له هغه، چې موږ ترېنه تېر شو، یو ځل بیا مست شو او تر ډېرو ورځو پورې شوټې نه وه چې له هغه نه څوک تېر شي.

په دغې دوابه کې د ډېرو سیندونو حال همدغسې وي او څو یې ما لیدلي، چې په نیمه ګرۍ کې تر اوو یا اتو فوټو هسک شوي دي. په داسې حال کې، چې تر هغه دمخه به اوبه پکې هیڅ نه وي او یواځې به وچ مخ ښکته خوړ ته ورته وو.

## د کُرمې سیند

دغه سیند د غزني قطب ختیځ، ختیځ کې د اریوب سهېل_ لویدیځ له دولس میلې څخه راوځي او له دې وروسته، چې د یو سل او پېنځلسو میلو په واټن د ختیځ_ سهېل پر لور درومي، د کاګل والا (Kagul Walla) د سهېل_ ختیځ په درې میلې کې په سند ورګډېږي. په هغه ځای کې، چې موږ ترېنه تېر شو، مجرا یې ښه پلنه وه یانې چارک باندې درې فرلانګه وه[1]، خو مجرا یې وړه وه او له یو فوټ څخه زیاتې اوبه پکې نه وي. مجرا یې شګلنه ده او شګې یې ښې خوځنده دي، ځوړتیا یې ښه ډېره ده او څه وخت، چې واوره ویلې کېږي، دغه سیند باید ډېر ګړندی وي. له هغه څخه د عیسی خېلو ملک ته څو کانالونه ایستل شوي، چې په دغه ځای کې یې د هغه حجم وړوکی کړی دی. په لوکي (Lukkee) کې ګومبیلا (Gombeela) ورسره ګډېږي. له دغه ځایه تر سمندر پورې ما دې څه نه دي اورېدلي، چې په ښې غاړه کې یا د لویدیځ له لورې یا په کیڼې غاړه کې کوم سیند ورسره یوځای شوی دی، یواځې د پنجاب سیندونه له کیڼې خوا نه د میتنده کوټ Mittandakote په برخه کې د یوه سیند په شکل، چې پنج نود (Punjnud) نومېږي، ورسره یوځای کېږي. زه به اوس په دغو سیندونو بېله بېله رڼا واچوم.

## جیلم

د پنجاب په سیندونو کې دا دویمه درجه لوی سیند دی او د بیهوت یا ویډ دسته (Uidhsta) او هایداسپس (Hydaspes) په نومونو هم یادېږي، موږ د جولای په میاشت کې ترېنه تېر شو، خو په هغه وخت کې خپل پوره هسکوالي ته نه و

[1] فرلانګ (Furlong) د یوه میل فاصلې څلورمه برخه ده.



Property of ACKU

رسېدلی. ماته وویل شول، چې د اګست په میاشت کې تر اوو یا اتو فوټو پورې لوړېږي. پلنوالی یې له یوې غاړې نه تر بلې پورې یو میل، یو فرلانګ او پېنځه دېش پرچه (Perches)[1] و. د دغه سیند د ژورې برخې له تېرېدو نه، چې تر دوو سوو یا دوه سوه او پنځوسو ګزو څخه ډېر نه و، د فوټ له مخې په دې اندازه و: ۹_۱۰_۱۱_۱۲_۱۳_۱۴_۱۴_۱۳_۱۲_۱۱_۱۰. ژوره برخه یې د کیڼې غاړې په خوا وه، بیخ یې شګلن و، چې زیاته اندازه خټه هم ورسره ګډه وه، په منځ کې یې ډېر ټاپوګان وو، چې غاړې یې له شګو وې او په خپله ډېره خوځنده شګې لري. کیڼه غاړه یې په ځانګړې توګه ښکته ده او د خپلې پوره څپاندې په وخت کې باید په کیڼې غاړې کې څلور یا پېنځه میله خپور شي.

جیلم د کشمیر د ناوې له سهېل_ختیځ کوټ څخه راوځي، دلته وید دسته نومېږي او د کشمیر له ختیځ نه د دوو ډنډونو له لارې تېرېږي. له دغه ښاره شپږ کاسه لاندې یو وړ سیند ورسره ګډېږي. له دغې درې او غرونو نه د تېرېدو په ترڅ کې ډېرې وړې او لویې شېلې ورسره یوځای کېږي او بیا په بارامولا (Baramoola) ورننوځي. له مظفر اباد نه دوه کاسه ښکته د کیشونګا (Kishunga) سیند د شمال له خوا ورسره یوځای کېږي. تر دغه ځایه پورې نږدې د لویدیځ پر لور روان دی. له دغه ټکي نه وروسته د سهېل پر لور په څرګند ډول کږېږي. دغه سیند جیلم ته نږدې دومره مشهور نه دی، ځکه چې دغه ملک بیخي غرنی دی او یو څو محدود لارویان کله کله په دغه لاره تېرېږي. د جیلم سیند د غرونو په منځ کې د تېرېدو په وخت کې بیخي ګړندی او له سلو نه تر دوو سوو ګزو پورې پلن دی.

ما له جېلم نه تر مظفراباد پورې د دغه د ښي غاړې په اوږدو کې یواځې یوه لاره موندلې او داسې ښکاري، چې په پیل کې به یې ځینې ځایونه په غلطه ښودل شوي وي او ماته دغه موقع په لاس راغله، چې تر ډېرشو کاسو پورې یې سم کړم، خو ګومان کېږي، چې د لارې د پاتې برخې حال به هم همدغسې وي. ویل کېږي چې دغه ټوله لاره څنګه چې د غرونو په منځ کې غځېدلې ده، د یوه پلي لاروي لپاره په ډېر مشکل سره د تېرېدلو وړ ده. له جېلم نه سرې په هیڅ موسم کې تېرېدلی نه شي، که څه هم په ډېرو ځایونو کې همداسې وي، خو سرې او اسونه په پېنځلس یا شل ګزه لامبو وهلو تري تېرېدای شي. دغه سیند د څلور نیم سوه میلو واټن وهلو وروسته د تریمو په ګودر کې (Trimoo Ghat) چې له جهونګ (Jhung) نه لس کاسه ښکته او له ملتان نه پنځوس میله پورته پروت دی، د پنجاب له سیند سره ګډېږي. له دې وروسته په خپل اصلي نامه (جېلم) نه یادېږي.

[1] پرچ Perch پېنځه نیم ګزه فاصله. ژباړن



Property of ACKU

دغه دواړه ګډ سیندونه، چې د چناب (Chunab) یا چونها (Chunha) په نامه یادېږي، فاضل شاه او احمد پورته نږدې شپږ ویشت کاسه ښکته د راوي (Ravee) له سیند سره یوځای کېږي. راوي له ختیځې غاړې نه ورسره یوځای کېږي. دغه ګډ سیندونه بیا له ملتان څخه څلور نیم میله پورته جاري وي او د اوچ (Ooch) تر څلور کاسې پورې خپل نوم ساتي او د شیني بوکري (Sheeneebukree) په برخه کې ګارا (Gharra) یا د بییا (Beyah) یا بیس (Beas) او سوتلې (Sotley) سیندونه د ملتان نه اته پنځوس کاسه او د بهاولپور نه دوه دېرش کاسه ښکته ورسره یوځای کېږي. له دغه ځایه تر میټنا کوټ Mittena kot پورې، چې په سندور تویېږي، دغه پېنځه واړه سیندونه د پنج نود (Panjnud) په ځانګړي نامه یادېږي. پنج نود او سند ددغې فاصلې په اوږدو کې سره جوړه روان وي.

له اوچ نه دغه فاصله اووه کاسه یا لس نیم میله ده. دغه ساحه په تاوده موسم او د اوربښتونو په وخت کې پوره یو مخ اوبه وي او دا ټول د یوه سیند په شکل ښکاري. په هغو نقشو کې، چې پخوا خپرې شوې دي، دا ممکن ددې غلطۍ لامل شي، چې ګاره ګنې له سند سره ګډېږي، نه دا چې له چناب یا د چناب جهلم او راوي له ګډو سیندونو سره یوځای کېږي. ددې لامل دا دی، چې د هغوی اوبه او سند په یو څه فاصله کې له هغو سره د ګاره د یوځای کېدو له ټکي نه پورته یوځای کېږي.

داسې ښکاري، چې د جهلم او سند ترمنځ ددغې دوابې دېر پراخ سور په هغه حد کې دی، چې موږ ترېنه تېر شو یانې په جهلم کې له اټک نه د جلال پور تر ګودر پورې یې افقي فاصله یو سل او څوارلس میله او له ملتان څخه د راج د ګودر په حد کې تر اوډو کوټ (Udoo Kote) پورې (له سند نه اوولس میله وړاندې) درې دېرش میله ده. ددغې دوابې شمالي برخه له (۳۳) درجو څخه پورته غزېږي ده او د سهېل لور ته یې مېره پرته ده. یواځې د سیند غاړې یې تر څو میلو پورې، چې د سیند اوبه پرې خپرېږي، ښه غني دي.

## چناب:

اسې ساینز (Acesines) د پنجاب په سیندونو کې تر ټولو لوی دی. د جولای په یودېرشمه یې د وزیراباد ګودر په حد کې د اوبو له یوې غاړې نه تر بلې غاړې پورې فاصله یو میل، درې فلانګه او شل پرچه وه. ژورتیا یې د جهلم په اندازه، یانې دېره زیاته یې څوارلس فوټه وه، خو جریان یې تر هغې نه په یوه ساعت کې د یو نیم ناټ[1] په اندازه ګړندی و. د جهلم سیند څلور، د چناب سیند پېنځه یا پېنځه نیم فوټه ژور دی. په وچ موسم کې د هغه مجرا له دوه نیم سوه یا درې سوو ګزو څخه

[1] ناټ (Knot) سمندري میل. ژباړن.



Property of ACKU

زیاتېږي. ماته وویل شول: دویمه مجرا یې، چې تر ټولو ډېره سوره وره ده، په ساړه موسم کې وچه وي. د هغې د مېنځ په لور ډېر ټاپوگان او د شگو غاړې جوړې شوي دي او اندازه یې لکه څنگه چې د جېلم معلومه شوې ده ددغو دوو ترمنځ اخیستل شوې وه. ددغو سیندونو حجم په ساړه موسم کې ممکن په اسانۍ سره معلوم شي، ځکه چې ملتان ته نږدې د راج د گودر په برید کې د جېلم، چناب او راوي سیندونه پېنځه سوه گزه سورور او ډېر ژور بېخ یې اوولس فوټه و، خو دغه اندازه یوائې په یوې فاصلې کې وه او منځنۍ اندازه یې ممکن اته یا اته نیم فوټه وي او دغه اندازه دلته داسې ده لکه، چې هېڅ وي.

ښه به دا وي کله د جېلم حجم دوه سوه او ډېرش گزه او ژورتیا یې اته فوټه او د چناب دوه سوه او اویا په اتو کې وگڼل شي او پاتې پېنځه سوه یې د راوي د حجم لپاره ځانگړې شي، ځکه چې زه گومان کوم چې راوي به تر څلورو فوټو زیات ژور او له سلو گزو لږ څه ډېر سورور وي. دا ممکن د دسمبر په میاشت کې د دوی منځنۍ حجم وي. په دغه وخت کې موږ له دغو گډو سیندونو څخه تېر شو او د بارانونو په وخت کې دغه اندازه د دوی له سور او ژورتیا سره سمون کاوه.

زه ددغه حساب له مخې دا منم، چې هرومرو به دغه سیندونه درې نیم یا څلور فوټه هسک شوې وي او په ساړه موسم کې به د دوی د مجر او منځنې مېچ لس یا لس نیم فوټه وي او گومان کوم، چې دغه اندازه به نږدې سمه وي. ما نه دي اورېدلي، چې له غرونو څخه ښکته به دغه سیند گودر ولري، خو د جېلم په څېر له دغه سیند نه هم په هغو حدونو کې سړی په اسانۍ تېرېدای شي، چې غاړې یې ښې ښکته او مجرا یې پراخه وي. په دغو حدونو کې یوائې د سند په منځ کې د لږې فاصلې لپاره په لامبو تېرېدلو ته اړتیا وي. اورېدلي مې دي، چې د راوي، جېلم او چناب له گډو سیندونو له هغه ځای نه یو څه ښکته، چې راوي ورسره یوځای کېږي، اوبه ترینه تېرېدای شي، خو که دا خبره سمه وي، په دغه برخه کې دغه سیند باید ښه خپور شوی وي. د چناب غاړې ښکته او د جېلم په څېر په ځنگلونو پټې خو لرگي یې واړه وي او هغه لرگي، چې په ودانیو او بېړیو جوړولو کې ترې کار اخیستل کېږي او یا اتیا کاسه پورته یانې هلته، چې هغه پړمانه دي، په اوبو کې وړل کېږي. د جلال پور له گودره د وزیر اباد تر گودر پورې ددغې مجرا افقي فاصله څلوېښت میله ده.

دغه ملک بیخي ټیټ دی، خو خاوره یې ښه بډایه ده او زیات یې څړ ځایونه دي.

لاندې د وړو بېړیو او گودرونو د یوه لست یادونه کېږي، چې د جېلم او چناب په لرو او برو برخو کې د هغو گودرونو په ښي او کینې غاړې کې پراته دي. له کوم نه چې موږ تېر شو:

Property of ACKU

په جېلم منګل (Jelm Mungla) کې څلور بېړۍ، په جېلم کې شل، په سیګونیا (Segonia) کې لس، په رسالپور او دادوپور کې پينځه، په جلال پور او د هغه په شاوخوا کې پينځه ويشت، په پنډی دادن خان او شاوخوا کې يې پينځه څلويښت، په احمد اباد او بهيرا (Bhera) کې شل، چې ټولې يې يو سل او څلويښت وړې بېړۍ کېږي. په چناب، وزير اباد او له هغه نه په پورته حد کې د پينځه اويا يا اتيا ميلو په فاصلې کې دولس بېړۍ، په وزيراباد کې درې، په سودرا کې درې په دينامونجه (Deena Monja) کې دوه، په معراج کاکوټ (Maraj Kakot) کې دوه، په نوار کې درې، په کولووال (Kolowal) کې دوه، په جندا بهادرپور کې پينځه، په خلاصک چوني (Kholasak Chunee) کې دوه، په کاني کا چوک کې څلور، په اک نون (Aknoon) کې اووه دي، چې ټولې يې دوه څلويښت بېړۍ کېږي. دغه ټول واټن تر دېرشو کاسو اوږي. له وزيراباده ښکته په رنها خان کې دوه بېړۍ، په سولوکي کې (Sulooke) دوه، په رام نيګر کې يوويشت، په مراد کې څلور، په واڼو کې دوه، په منهاد اباد کې دوه، په بيوټي کاچوک، جلال پور کې څلور، د قادر اباد په ګودر کې شپږ، چې د ټولو بېړيو شمېر يې په دغه پينځه پنځوس کاسې فاصلې کې څلور اتياو ته رسيږي.

له هغو له واورو ډکو غرونو څخه، چې تر ميټهن کاکوټ (Mitten Kakot) پورې تعقيب شوي دي، د چناب د سيند ټول اوږدوالی پينځه سوه او څلويښت ميله کېږي.

## راوي

راوي يا هايدراوټس (Hydraotes) د پنجاب په سيندونو کې تر ټولو کمکی دی، اندازه يې د اګست په دولسمه د اوبو له يوې غاړې نه تر بلې پورې يواځې پينځه سوه او ديارلس ګزه وه. دا هغه وخت و، چې دغه سيند ښه څپاند و. مجرا يې ډېره تنګه ده، ما له هغه نه د تېرېدلو په وخت کې د هغه د ژورتيا د معلومولو دوه اندازې واخيستې، چې دولس فوټه شوه، ښخ يې تر هغو نورو سيندونو ډېر ختين و، چې ممکن پينځمه برخه يې ختې او نورې يې شګې وي. ډېره ژوره مجرا يې ممکن دېرش يا څلويښت ګزه سور ولري، پاتې يې له درېو څخه تر پينځو فوټو پورې وه. په ساړه موسم کې په هر ځای کې سړی ترېنه تېرېدلی شي او ممکن ژورتيا يې دغه وخت تر څلورو فوټو ډېره نه شي. ښې پرېمانه خوځنده شګې لري، غاړې يې ښکته او له ځنګلونو ډکې دي، يواځې يو څو وړې بېړۍ په دغه سيند باندې رڅځي، خو هغه چې پرې ګرځي، هغسې ښې دي لکه د جمنا د سيند، چې دي. په سند، جېلم او چناب کې له يو راز بېړيو څخه کار اخيستل کېږي، چې له لسو څخه تر دولسو آسونو پورې پرې تېرېدای شي.

Property of ACKU

د وزیراباد لـه ګودره د میـانـې تـر ګودر پـورې د راوي فاصلـه پینځـه پنځـوس افقي میلـه ده. دوابـه یـې ښـه غنـي او هـواره ده، خـو کچـه یـې تـر وروستـۍ نـه هسکه ده او خاوره یـې هـومره ډېره غنـي نـه ده. د جریـان اوږدوالـی یـې ښـه ډېر دی، خـو زه پـه دې پوره بـاور نـه لـرم، چـې هغـه فاصلـه بـه سمه وي، کومـه چـې مـا لـه چناب سـره د هغـه د یوځـای کېـدو تـر ټکـي پـورې ورکـړې. دغـه فاصلـه څلور سوه او پنځـوس میلـه ټاکـل شوې ده، خـو لـه هغې لارې نـه چـې لـه کشمیره غځېدلې او لـه کشتوار (Kishtwar) نـه تېره شوې، داسې ښکاري چې لـه یوه لوړ غره نـه کشتوار تـه پـه ټولو سره دغـه لاره پـه ټولـه فاصلـه کې د یـوه سیند پـه اوږدو کې غځېدلې ده، چې لـه بده مرغـه نوم یې زما خبریـال تـه معلوم نه و او داسې ښکاري، چې نور پورتـه د دریو مزلونو پـه حد کې هغه دده پـه ښۍ خوا پرتـه ده. پـه نور پـور کې بـه دې ترینـه تېر شوی وي او هغـه بـه یې پـه خپلې کیڼې خوا کې پرېښې وي. دی پـه خپـل وروستي مزلـه کې چې لـه نور پورتـه یـې بوسـال (Bussal) تـه کـاوه، لـه راوي څخـه تېـر شـو او ده وویـل، چـې دري مزلونـه برتـه د هغـه حجم د یـوه سیند پـه انـدازه و. داسـې ښکاري، چـې همدغـه بـه پـه زیـات احتمـال د راوي سیند وي، خو پـه هغـه حد کې، چې ده دغـه سیند شاتـه پرېښود، دی پـه دې نـه پوهېده، خو څنګه چې ده دغـه سیند خپلې کیڼې خوا تـه پرېښی وي، هغـه بایـد یـا د راوي یـا د بیـاس (Beyas) سیند تـه تللی وي، خو زه ګومـان کوم، چـې هغـه بـه د راوي پر لور تللی وي او هغـه بـه ددغـو دوو مزلونو پـه اوږدو کې پـه غرونو کې کږه شوي او بیـا بـه بېرتـه هغـه حد تـه راغلـی وي، لـه کـوم نـه چې دی ترینـه واوښت، څکـه چې ده پـه وینا د هغـه لـه کیڼې خوا نـه ښۍ لور تـه غځېدلی دی چې دا سمه ده او پـه نتیجـه کې مـا دغـه کوږوالی منلی او تـر راوي پـورې یـا پـه هر صورت د هغې تر ډېر لرې ښاخ پورې غځېدلی دی.

دغـه لاره مـاتـه دا هـم ثـابتوي، چـې چنـاب ددغـه واوریـن لړ غرونو لـه شمالي خوا څخـه نـه راوځـي، څکـه چـې کـه هغـه ترینـه راوتـلای، دغـه لاره بـایـد ارومـرو ترینـه تېـره شوې وای، خو داسې ګڼـل کېږي، چې پـه دغـه سړک بانـدې بـه دا همـاغـه یـواځینۍ لاره وي، چې سمه ده. ښـایي داسـې نـه وي او زه بـه یـې بې لـه شـواهدو یقینـي ونـه ګڼم، کـه څـه هـم زه اوس ډېـر دلیلونـه پـه لاس کـې لـرم، چـې دا بـه سمه وي، څکـه چـې هغـه لـه نورپور نه ښکته له نورو سره سمون لري.

## بیاه یا بیاس:

دغـه سیند، چې د بهیرو وال (Bherowal) پـه ګودر کې انـدازه شـو، سور یـې اووه سوه او پنځـوس ګزه و. ښې غـاړه یـې ډېره هسکه او جریـان یـې ډېر ګړنـدی و. پـه هغـه ورځ، چـې مـوږ وروړسېدو، ښـه څپانـد او پـه خپـل ډېـر قـوت کـې و او دومـره ګړنـدی و،

Property of ACKU

چې بېرې د هغه کینې غاړې ته ونه شوه رسېدلی. ځینو چې کوښښ وکړ، شپږ یا اووه کاسه ښکته یوړلی شوی، خو دغه سیند په بله ورځ له مستۍ نه ولوېد. په ساړه موسم کې په هر حد کې سړی ترینه تېرېدلی شي، خو په بیخ کې خوځنده شګې پرېمانه دي او په دغه موسم کې د هغه په منځ کې ډېر ټاپوګان او د شګو مجراوې جوړې شوې وي.

په دغه ګودر او د هغه په شاوخوا کې پینځه ورې بېرې چلېږي، خو د باراني موسم لپاره هغه بس نه دي. دغه بېرې له اوارو دړو څخه جوړې دي، چې هغه له بېړیو نه ډېرې جالو ته ورته دي. شاوخوا یې هسکې تختې نیول شوي، چې لوړوالی یې یو فوټ دی او څه وخت، چې ډکې شي، له شپږ انچو ډېرې اوبه پکې نه ځایېږي. د سیند پر غاړو ځنګلي بوټي شته، خو ډېر واړه دي.

دغه سیند د ستلوج (Sutluj) له سیند سره د هوراکي (Hurake) کلي ته نږدې له بهیرووال (Bhiroowal) نه اته میله لاندې یوځای کېږي. د یوځای کېدو دغه حد له فیروز پور څخه لرې نه دی او له یوځای کېدو وروسته دغه ګډ سیندونه د بیس (Besa) په نامه او وروسته د ګاړه (Ghara) په نامه یادېږي، خو ما ته ددې پته نه شته چې له کوم ټاکلي ټکي وروسته په دې وروستي نامه یادېږي. پاک پتن (Pak Puttan) ته نږدې د ګوردیان په ګودر کې په ګاړه یادېږي، چې له بهاولپور نه سل کاسه لرې پروت دی. له اوچ (Ooch) نه پورته لکه څنګه چې یې پخوا یادونه وشوه، له چناب سره یوځای کېږي، چې دغه حد له بهاولپور نه دوه دېرش میله او له ملتان نه اته پنځوس میله ښکته پروت دی.

بیاس او ستلوج نږدې یو اندازه حجم لري، خو لومړنی یې لکه چې یو څه لوی وي. د دوی د بهیر اوږدوالی هم د هغوی له واورینې سره نږدې برابر دی، چې د هغوی تر یوځای کېدو پورې یو نیم سل میله اوږد دی او له چناب یا د جیلم، چناب او راوي سره د یوځای کېدو تر بریده دوه سوه او شپېته میله نور هم پرې اضافه کېږي. هغه ته په نږدې غرونو کې پرېمانه لرګي موندل کېږي. له بیګاس ګنګا (Begas Gunga) او بان ګنګا (Ban Gunga) څخه بیاس جوړېږي. لومړنی یې له کوټ ګنګارا (Kote Kangra) نه د سهېل پر لور او وروستی یې د قطب پر لور یو څه د لوېدیځ په خوا تېرېږي او په هریپور کې سره ګډېږي، چې له کلا نه یو مزل لاندې پروت دی. دغې کلا ته نږدې بان ګنګا په اوو ښاخونو کې سره بېلېږي او هر ښاخ یې د کلا په یوه څنګ کې تېرېږي. دلته دوی یو ټاپو جوړوي او له کلا نه ښکته نږدې بېرته سره یو کېږي.

* * *



Property of ACKU

# د خراسان سیندونه

## هیرمند یا هیلمند:

دغه سیند د خراسان په سیندونو کې تر ټولو لوی دی او د کابل په لویدیځ کې له کوه بابا نه راوځي. د جریان لوری یې د هزاره و له ملک نه د سهېل_لویدیځ پر لور دی. بیا د سهېل په لور ځي او د هرات، کندهار له لویې لارې نه د ګرشک په حد کې تېرېږي. دغه ټول واټن دوه سوه او شپېته میله کېږي، له دوه مزلونو پرته دغه ټوله مجرا د ستغو غرونو په منځ کې پرته ده. له ګرشک نه تر هغه حد پورې، چې د سیستان په ډنډ کې تویېږي، سل میله کېږي او په دې ډول ټول واټن یې درې سوه او شپېته میله راځي. په تاوده موسم کې، چې واوره ویلې کېږي، له هغه نه ډېر لوی سیند جوړېږي او د ګرشک په خلکو کې دا یو عام رواج دی، چې د دغه سیند په سواره باندې غشي یا په مچنوغزو ګاټې ولي، خو کله چې سیند په مستۍ راشي، دا کار کېدای نه شي. په ساړه موسم کې نږدې تر نامه پورې ژور او د کامې له سیند سره د اکوړې په حد کې برابر وي. د ګرشک په حد کې دوه وړې بېړۍ شته، خو د کال په زیاته برخه کې له هغه نه سړی تېرېدلی شي او د هغه د بهیر په واټن کې ډېر رودونه ورتویېږي. له ګرشکه څوارلس میله پورته یو داسې خوړ ورسره ګډېږي، چې اوږدوالی یې اتیا میله دی او د هزاره د ملک له سهېل نه د سیاه بند په حد کې راوځي. له ګرشکه پینځه کاسه لاندې د ارغنداب سیند او د ترنک سیند یوه برخه هم ورسره ګډېږي. یو څه ښکته په خانشین کې خاشرود هم ورتویېږي.

## د ارغنداب سیند:

ارغنداب د کندهار د شمال، ختیځ_شمال ته نږدې اتیا میله لیرې د هزاره و له غرونو څخه راوځي. د دغه ښار د قطب او ختیځ له پینځه کاسي واټن څخه تېرېږي او له هیرمند سره له ګرشکه پینځه کاسه ښکته د هغه په کیڼې خوا ورګډېږي. په دغه حد کې دغه سیند یو نیم سل میله واټن وهلی وي. دغه سیند په ساړه موسم کې دوه



Property of ACKU

نیم یا درې فوټه ژور او پنځوس گزه سورور دی، خو په تاوده موسم کې چې واوره ویلې کېږي، د درېو میاشتو لپاره څوک ترې نه شي تېرېدلی، په دې چې هغه ډېر گړندی او تر یو نیم سلو گزو ډېر پلن وي.

## خاشرود:

دغه رود له ساکر (Sakkir) نه، چې د هرات سهېل، ختیځ سهېلي خوا کې نږدې نوي میله لرې پروت دی، راوځي او وروسته له دې، چې یو نیم سل میله لار ووهي، د کوه نشین په حد کې په هیرمند کې د هغه په ښي خوا ورتوېږي. خاشرود تر ارغنداب لږ او تر هیرمند ووړ دی. په ساړه موسم کې د انسان تر ملا پورې، یا نې درې فوټه ژور او پنځوس یا شپېته گزه سورور وي. د واورې د ویلې کېدو په وخت کې ترې څوک نه شي تېرېدلی او خلک د مشکونو یا خیگونو بادوړوچجو له لارې، چې له لرگیو او درو څخه جوړ شوي وي، ترې تېرېږي. سور یې په تاوده موسم کې له یو نیم سل نه تر یو سل او پینځه اویا گزو پورې رسېږي او ډېر گړندی وي. دغه رود هم د کندهار_هرات له لویې لارې نه دلارام ته نږدې په یوه حد کې تېرېږي.

## ترنک:

ترنک یو ووړ سیند دی، له مقر نه راوځي او وروسته له دې، چې د لویدیځ، سهېل_لویدیځ پر لور دوه سوه میله لار ووهي، دوابې ته نږدې د ارغنداب په سیند ورگډېږي، خو په ساړه موسم کې د هغه اوبه د غلامان ته نږدې په هغه اوږده ډنډ کې توییږي، چې دوړي (Doree) نومېږي او د یوه سیند گومان پرې شوی دی. کله چې ترنک څپاند شي، اضافگي اوبه یې په ارغنداب ورتوځي. په ساړه موسم کې تر زنگانه پورې ژور وي او یوائې کله کله د انسان له نامه څخه جگېږي.

## فراه رود:

فراه رود له هیرمند پرته ددغو نورو سیندونو د هر یوه په اندول لوی دی. په ساړه موسم کې د انسان نری ملا ته رسېږي او له پنځوسو نه تر شپېتو گزو پورې سورور وي. په تاوده موسم کې سړی په خیگونو او له درو او دړو څخه د جوړو چو په ذریعه پرې تېرېږي. په دغه موسم کې ډېر گړندی وي. هغه د پرسي (Pursee) له سهېل نه راوځي او له فراه نه پورته او د گوراني (Guranee) نه ښکته د جزییارود (Jzeearod) ورسره یوځای کېږي. وروسته له دې، چې دوه سوه میله مزل ووهي، د سیستان د ډنډ په قطب لویدیځ زاویې کې توییږي. د حیرانۍ ځای دی، چې دومره ډېر سیندونه په دغه ډنډ کې توییږي، بې له دې چې هغه کومه مجرا ولري او ویل کېږي، چې ددغه ډنډ ډېره ارته برخه له دپرشو یا پینځه دېرشو کاسو څخه پراخه نه ده.



Property of ACKU



یو هزاره



Property of ACKU

۴۴۵۹۲

یو تیمینی ایماق

## د پل مالان یا د هرات سیند

دغه سیند د ایماقو له ملک نه د هرات په ختیځه خوا کې اوبې ته نږدې ځای نه راوځي او مخکې له دې، چې هرات ته ورسېږي، درې یا څلور رودګي ورسره یوځای کېږي. دغه سیند په ساړه موسم کې وړوکی وي، خو څه وخت چې واوره ویلې شي، ښۀ لوی سیند ترې جوړېږي. د اوبو ډېره برخه یې د هرات په شاوخوا کې په کرنه لګېږي. دوه یا درې کانالونه ترېنه ایستل شوي او د ښار په څنګ کې تېرېږي. د هرات د سهېل په درې کاسې فاصله کې یو پل پرې ودان شوی. له هغې لارې، چې له مور (مرو) نه تر مشهد پورې غځېدلې، داسې ښکاري چې د هغې په نیمایي کې یو سیند ترېنه تېر شوی دی، چې هغه له کینې نه ښي خوا ته روان دی او تجن (Tejin) نومېږي. له هراته تر مشهد پورې ټولې لارې د شمال په لور د هغه د غاړو په اوږدو کې آن تر کافر کلا (اسلام کلا) پورې درومي، چې له هغه ځایه د شمال یا ښي خوا کې روانې وي. دا لاره له هغې لارې پرته بله نه شي کېدای، چې له هغې بلې لارې نه د مور او مشهد ترمنځ تېره شوې، خو دا چې هغه له ټکي نه په کومه خوا تللې ده، ما ته معلومه نه ده. زما په فکر دغه لاره به د ارووسمت (Arrowsmith) په نقشه کې پوره سمه ښودل شوې وي. داسې ښکاري د ښاغلي فوستر (Foster) لارې به ښاغلي رینل (Rennel) غلطې کړې وي، چې د هغه (فوستر) په اند د سیستان په ډنډ کې له سهېل نه ورګډېږي، خو داسې ښکاري چې کومه شیله، چې فوستر ترېنه تېر شوی او د جنوب پر لور روانه ده، د هرات سیند نه دی، بلکې دغسې یو وړ سیند دی، چې له دغسې وړو غرونو څخه راوځي، چې تر مشهد پورې شمال او جنوب لارې سره بېلوي او باید د سهېل پر لور ورکه شي، ځکه چې له څو روایتونو څخه ښه ښکاري، چې له فراهه تر قاین او تون (Toon) پورې یا له جلال اباد نه تر نهه (Nih) پورې به له فراه رود پرته بل رود نه وي تېر شوی، خو که د هرات سیند د سیستان په ډنډ کې ګډ شوی وای، په هغه حال کې به هرورمرو دواړه لارې ترېنه تېرې شوې وای.[1]

پای

***

[1] نه غواړم هغه څرګندونې دلته راوړم، چې ښاغلي مکارت نې (Macrtney) د میرو په اړه کړې دي. یوه یې زما په شرح کې او هغه بله یې د ښاغلي کینیر Kinnuer د فارس په جغرافیا کې پوره راغلې ده. ددغو میرو له شرحې وروسته د هغو بېلابېلو واکمنیو او ولایتونو تفصیل ذکر شوی، چې په نقشه کې ښودل شوي او هغه ډېر لږ جغرافیایي دي او په دې ډول نه ښایي دلته یې بیا بیان وشي.



Property of ACKU



Property of ACKU

د مونیکولا گنبده



Property of ACKU

٦٦٨

د تاتاري اوزبك يو خواجه


Property of ACKU

٦٦٩

يوغلجي د دوبي په جاموکې



یو یو سفزی

Property of ACKU


Property of ACKU

ددامان يو پښتون



Property of ACKU

یوحمله یاشی‌یه رسمی جاموکی



Property of ACKU



درانی شپانه



Property of ACKU



يو تاجك دكابل د دوبي په جامو کي



Property of CKU

یو چاووس باشی پخچلو رسمی جاموکی



Property of ACKU



یو هند کی د پیښور د ژمی په جامو کی



Property of ACKU



یو دورانی کلیوال له خپلی وسلی سره

د څېړندوی د ارزونې يوه ورځنۍ غونډه او د دوو تاليف څېړنګيو
استاد ذلمي هېوادمل او ډاکتر عبدالروف رفيعي نمانځغونډه
جلال اباد ۱۰/۴/۲۰۱۲ / ۲۲/۱/۱۳۹۱












Property of ACKU

ISBN 978-9936-22-163-5
9 789936 221635 >

چاپچاړي: د دانش خپرندويې ټولنې تخنيكي څانګه _ پېښور
Tel:+92-91-2564513/Email:danish2k2000@yahoo.com
www.danishpress.com